الدر المنضود

علی سنن ابی داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب

صدر مدرس مظاہر العلوم سہارنپور

خصوصیات

1. [illegible]
2. [illegible]
3. [illegible]
4. [illegible]
5. [illegible]
6. [illegible]
7. [illegible]
8. [illegible]
9. [illegible]
10. [illegible]

الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صیب

صدر مدرّس مظاهر العلوم سهارنپور (هند)

مترجمین:

[رفقاء] دار التصنیف والتحقیق

زیر نگرانی

مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

پښتو........................دویم جلد

خصوصیات

① د کتاب په اول کښې د اصول حدیث مفیده مقدمه.
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربي شرحې خلاصه اونجوړ
③ د متن ټولو احادیث ته اعراب ورکول
④ د هر کتاب په اول کښې هغې سره متعلقه ضروری مباحث.
⑤ د هر حدیث تخریج د مصدر، کتاب او رقم په حوالې سره
⑥ د مشکلو لغاتو حل
⑦ په فقهي مباحثو کښې د مذاهبو بیان.
⑧ د فریق مخالف دلائل
⑨ د فریق مخالف د دلائلو ځخه جوابونه
⑩ د مذهب حنفي دلائل او وجوه ترجیح

خورونکی

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

د چهاپ حقوق صرف ناشر سره محفوظ دي

د کتاب نوم: الدرالمنضود فی حل سنن ابی داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمّد عاقل صاحب دامت برکاتہم

زیرنګراني: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

خورونکی: فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

دملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائنده فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موسیٰ مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقویٰ کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه ګردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- ګودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکی

فیصل کتب خانه

مدینه ټاور محله جنګی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب جلد دوم

صفحه	مضمون	شمار
۲۹	باب الْمَرْأَةِ تَغْسِلُ ثَوْبَهَا الَّذِي تَلْبَسُهُ فِي حَيْضِهَا	
۲۹	د ما قبل سره ربط او په ترجمة الباب سره مقصود :	
۳۰	(په دې حديث کښې د غسل ذکر نشته، ددې وجوهات)	
۳۱	د ثوب مشکوک د طهارت طريق :	
۳۳	په حديث الباب کښې دوه اختلافي مسئلې :	
۳۳	(د پليتئ د ازالې دپاره د اوبو تعين)	
۳۳	(په اوبو کښې د طاهر څيز ملاويدلو مسئله)	
۳۳	باب الصَّلاَةِ فِي الثَّوْبِ الَّذِي يُصِيبُ أَهْلَهُ فِيهِ	
۳٤	باب الصَّلاَةِ فِي شُعُرِ النِّسَاءِ	
۳٤	د ممانعت وجه	
۳۵	تشريح سند :	
۳٦	باب فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ	
۳۷	باب الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ	
۳۷	مضمون حديث :	
۳۷	د طرق حديث د اختلاف تشريح او تحقيق :	
۳۸	په دې سلسله کښې د امام ترمذی رحمه الله رائې :	
۳۹	د منی په طهارت او نجاست کښې د فريقينو دلائل :	
٤۰	ابوالفضل ابن حجر او ابو جعفر طحاوی رحمهما الله :	
٤۰	د امام طحاوی رحمه الله د رائې ماحصل :	
٤۱	باب بَوْلِ الصَّبِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ	
٤۱	مذاهب ائمة :	
٤۱	(د ماشوم هلک او جينئ د متيازو په تطهير کښې فرق)	
٤۲	بول صبی او بول صبية کښې وجه د فرق :	
٤۳	(د احنافو په مسلک باندې اشکال)	
٤۳	(د امام طحاوی د طرفه عقلی دليل)	
٤۵	باب الأَرْضِ يُصِيبُهَا الْبَوْلُ	
٤۵	د تطهير ارض د طرقو تفصيل سره د علماء کرامو د اختلاف نه :	
٤٦	د سنن په رواياتو سره د حفر ثبوت :	

شمار	مضمون	صفحه
	د اعرابي په تعيين کښې اقوال :	٤٧
	باب فِي طُهُورِ الأَرْضِ إِذَا يَبِسَتْ	٤٨
	د امام خطابي رحمه الله تاويل او د هغې رد :	٤٩
	باب فِي الأَذَى يُصِيبُ الذَّيْلَ	٥٠
	حديث الباب بالاتفاق تاويل ته محتاج دي :	٥٠
	باب فِي الأَذَى يُصِيبُ النَّعْلَ	٥٢
	د حديث توضيح او د مذاهب ائمة تفصيل :	٥٢
	تشريح سند :	٥٤
	باب الإِعَادَةِ مِنَ النَّجَاسَةِ تَكُونُ فِي الثَّوْبِ	٥٥
	د صحة الصلوة دپاره د طهارة عن النجاسة په شرط کيدو کښې اختلاف :	٥٥
	تاويل حديث على مسلک الجمهور :	٥٦
	باب الْبُصَاقِ يُصِيبُ الثَّوْبَ	٥٦
	حسن اختتام :	٥٧
	كتاب الصلاة	٥٨
	باب الصَّلاَةِ مِنَ الإِسْلاَمِ	٥٨
	البحث الاول	٥٨
	البحث الثاني	٥٨
	البحث الثالث	٥٩
	(د اسرى تاريخ)	٥٩
	البحث الرابع	٦٠
	البحث الخامس	٦٠
	البحث السادس	٦١
	البحث السابع	٦١
	البحث الثامن	٦٢
	تطوعات په شروع کولو سره واجب کيدل او په دې کښې اختلاف دې	٦٤
	يو مشهور اشکال او د هغې جواب	٦٦
	باب فِي الْمَوَاقِيتِ	٦٧
	د مونځونو د وختونو بيان	٦٧
	د مامور به دوه قسمونه	٦٨
	د صلوات خمسه د اوقاتو تفصيل سره د علماء کرامو د اختلاف نه	٦٩

شمار	مضمون	صفحه
	د حديث امامت جبرائيل عليه السلام شرح	۷۰
	د ماښام په وخت کښې د شوافعو د مذهب تحقيق او تفصيل	۷۲
	مضمون حديث	۷۵
	(په اعلم کښې درې احتمالات):	۷۵
	د قول ابوداود تشريح	۷۶
	شرح حديث	۷۸
	د مصنف د کلام تشريح	۷۹
	باب فِي وَقْتِ صَلاَةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَكَيْفَ كَانَ يُصَلِّيهَا	۸۰
	باب دې په بيان د مونځونو د وخت د رسول الله ﷺ اوهغه به څنګه مونځ کولو	
	شرح حديث	۸۱
	نوم قبل العشاء او د حديث بعد العشاء تفصيل	۸۲
	باب فِي وَقْتِ صَلاَةِ الظُّهْرِ	۸۳
	د ماسپخين د مونځ وخت	۸۳
	د امام ترمذى په مسلک شافعي باندې نقد	۸۳
	شرح حديث	۸٤
	د امام خطابي او د سبکى د رائې اختلاف	۸۵
	د شوافعو د طرف نه د حديث الباب توجيهات	۸۷
	د ماسپخين وخت الى مثلين په باره کښې د امام ابوحنيفه دلائل	۸۷
	يو اشكال او د هغې جواب	۸۸
	باب فِي وَقْتِ صَلاَةِ الْعَصْرِ	۸۹
	د مازيګر د مانځه وخت	۸۹
	د جمهورو د حديث نه په تعجيل عصر باندې استدلال او د احنافو د طرف نه جواب	۹۰
	د حديث شرح او طريق استدلال	۹۱
	بابٌ فِي الصَّلوة الْوُسْطى	۹۳
	(د صلوة وسطى مصداق)	۹۳
	په غزوه خندق کښې د فوت شوى مونځ تعداد	۹٤
	بابُ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلاَةِ فَقَدْ أَدْرَكَهَا	۹۶
	د احاديثو تشريح او د احنافو د مسلک تحقيق	۹۷
	د احنافو په توجيه باندې خپله د هغوى د قاعدې د مخالفت اشكال	۹۸
	د حديث شرح	۱۰۰

شمار	مضمون	صفحه
	په حديث کښې دوه بحثونه	١٠٠
	شرح حديث	١٠١
	باب فِي وَقْتِ الْمَغْرِبِ	١٠٢
	شرح حديث	١٠٢
	د مابنام په مستحب وخت کښې د اهل سنت او اهل تشيع اختلاف سره د دلائلو نه	١٠٤
	باب فِي وَقْتِ الْعِشَاءِ الآخِرَةِ	١٠٤
	د ماسخوتن د صفت اخره راوړلو وجه :	١٠٤
	شرح حديث	١٠٥
	د وقت مذکور فی الحديث تعين کښې د ابن حجر مکی او ملا علی قاری اختلاف	١٠٥
	شرح حديث	١٠٧
	تاخير عشاء او د هغې په تقديم کښې د اختلاف علماء حاصل	١٠٧
	باب فِي وَقْتِ الصُّبْحِ	١٠٨
	د حديث په شرح کښې د شارحينو د رائې اختلاف	١٠٨
	د جمهور د حديث نه په تعجيل فجر باندې استدلال او د احنافو د طرف نه د هغې جواب	١٠٩
	په دوه احاديثو کښې تعارض	١٠٩
	د احنافو دليل او د شوافعو د طرف نه د دې تاويل	١١٠
	باب فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ	١١١
	د صلوات خمسه د وختونو تفصيل عند الائمة الاربعة	١١١
	د جمعې په مستحب وخت کښې د علماء کرامو اختلاف	١١٢
	تحقيق صنابحی	١١٣
	د وجوب وتر دليل	١١٣
	(په (کذب ابو محمد) په الفاظو باندې اشکال)	١١٤
	په سند حديث کښې اختلاف دې	١١٥
	د وقت اول فضيلت او په هغې باندې کلام	١١٦
	د افضل الاعمال مصداق او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف	١١٦
	په حديث باندې اشکال او د هغې تاويل	١١٨
	باب إِذَا أَخَّرَ الإِمَامُ الصَّلاَةَ عَنِ الْوَقْتِ	١١٩
	د ترجمة الباب تشريح :	١١٩
	شرح حديث	١٢٠
	د حديث متعلق مسائل فقهية	١٢٠

شمار	مضمون	صفحه
	البحث الاول :	۱۲۰
	البحث الثاني :	۱۲۱
	البحث الثالث :	۱۲۱
	حديث الباب په ظاهره کښې د احنافو خلاف دې	۱۲۱
	مضمون حديث	۱۲۲
	بَابٌ فِي مَنْ نَامَ عَنِ الصَّلَاةِ، أَوْ نَسِيَهَا	۱۲۴
	د واقعة ليلة التعريس په تعدد کښې د علماء کرامو اختلاف	۱۲۴
	د قضاء مونځ د جماعت دپاره اذان او اقامت کښې اختلاف	۱۲۶
	د حديث متعلق مسائل فقهيه او اختلاف د علماء کرامو	۱۲۶
	په دې ميدان کښې د تحويل او انتقال سبب	۱۲۸
	شرح السند	۱۲۸
	په مستدل حنفيه باندې د مصنف نقد او د هغې جواب	۱۲۹
	شرح حديث	۱۳۰
	د حديث تشريح او تاويل	۱۳۱
	د جيش الامراء مصداق	۱۳۲
	واقعة ليلة التعريس او تعليم فعلي	۱۳۷
	بَابٌ فِي بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ	۱۳۷
	د تزيين مساجد حکم	۱۳۸
	شرح حديث	۱۴۳
	په روايت کښې اختصار	۱۴۴
	د مشرکينو قبرونه ورانول	۱۴۵
	شرح السند	۱۴۶
	باب اتِّخَاذِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ	۱۴۶
	د صحيفه سمره اول حديث	۱۴۷
	باب فِي السُّرُجِ فِي الْمَسَاجِدِ	۱۴۸
	باب فِي حَصَى الْمَسْجِدِ	۱۴۸
	باب فِي كَنْسِ الْمَسْجِدِ	۱۵۰
	شرح حديث	۱۵۱
	بعض اشکال او د هغې جواب	۱۵۱
	نسيان د قران کريم حکم	۱۵۲

شمار	مضمون	صفحه
	باب فِي اعْتِزَالِ النِّسَاءِ فِي الْمَسَاجِدِ عَنِ الرِّجَالِ	۱۵۲
	د مصنف رائې او په هغې باندې نقد	۱۵۳
	باب فِيمَا يَقُولُهُ الرَّجُلُ عِنْدَ دُخُولِهِ الْمَسْجِدَ	۱۵٤
	د ادعيه ماثوره اهتمام	۱۵۵
	باب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عِنْدَ دُخُولِ الْمَسْجِدِ	۱۵٦
	د حديث متعلق مباحث خمسه	۱۵٦
	اول بحث :	۱۵٦
	بحث ثاني :	۱۵٦
	بحث ثالث :	۱۵۷
	بحث رابع :	۱۵۷
	بحث خامس :	۱۵۷
	باب فِي فَضْلِ الْقُعُودِ فِي الْمَسْجِدِ	۱۵۸
	اشكال او جواب	۱۵۹
	د اخراج ريح فى المسجد حكم	۱۵۹
	جلوس المحدث فى المسجد	۱٦۰
	باب فِي كَرَاهِيَةِ إِنْشَادِ الضَّالَّةِ فِي الْمَسْجِدِ	۱٦۰
	باب فِي كَرَاهِيَةِ الْبُزَاقِ فِي الْمَسْجِدِ	۱٦۱
	د حديث شرح او د قاضي عياض رحمه الله سخت اختلاف	۱٦۲
	په جانب يمين او جانب يسار كښې د فرق وجه	۱٦٤
	مضمون حديث	۱٦۵
	اسطوانه مخلقه	۱٦۷
	اشكال او جواب	۱٦۸
	باب مَا جَاءَ فِي الْمُشْرِكِ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ	۱٦۹
	په مسئله مترجم بها كښې د ائمه كرامو مذاهب	۱٦۹
	د ابن بطال مالكي د حديث نه استدلال	۱۷۰
	د دې كلام تشريح	۱۷۱
	په يو حديث باندې د مصنف او امام بخاري رحمه الله دوه مختلف ترجمې	۱۷۱
	باب فِي الْمَوَاضِعِ الَّتِي لَا تَجُوزُ فِيهَا الصَّلَاةُ	۱۷۳
	شرح حديث	۱۷٤
	ما يستفاد من الحديث	۱۷۵

شمار	مضمون	صفحه

هغه مواضع چه په هغې کښې مونځ کول منع دی ۱۷۵
باب النَّهْيِ عَنِ الصَّلاَةِ، فِي مَبَارِكِ الإِبِلِ ۱۷۶
باب مَتَى يُؤْمَرُ الْغُلاَمُ بِالصَّلاَةِ ۱۷۷
ايا صبي شرعا مامور بالصلاة دې يا نه؟ ۱۷۷
د حديث الباب نه د شوافعو په خپل مسلک باندې استدلال ۱۷۸
باب بَدْءِ الأَذَانِ ۱۸۰
مباحث سته متعلقه بالاذان ۱۸۰
بحث اول ۱۸۰
بحث ثاني : ۱۸۰
بحث ثالث : ۱۸۱
څلورم بحث : ۱۸۱
د عبدالله بن زيد د حديث مضمون ۱۸۲
د اذان د مشروعيت په باره کښې د بخاری او د سنن په حديث کښې تعارض او د هغې جواب ۱۸۳
غربيه ۱۸۳
د اذان په مشروعيت باندې يو مشهور اشکال او جواب ۱۸۳
رؤيا عمر بن الخطاب ۱۸٤
په خوب باندې د فيصلې يو بل مثال ۱۸٤
بحث خامس : ۱۸۵
بحث سادس : ۱۸۵
د ټولو نه اول د اذان ورکولو سعادت ۱۸۵
باب كَيْفَ الأَذَانُ ۱۸٦
د کلمات اذان تعداد کښې اختلاف ۱۸٦
شرح حديث ۱۸۸
د احاديث الباب تجزيه او په هغې کلام ۱۸۸
د عبدالله بن زيد روايات د قامت په باره کښې ۱۸۸
په اذان کښې د ترجيع بحث ۱۸۹
د شيخ ابن الهمام رائې ۱۸۹
ابتداء په اذان کښې د تکبير په عدد کښې اختلاف دې ۱۹۰
د اذان ابو محذوره واقعه ۱۹۱
د امام طحاوی رحمه الله رائې ۱۹۱

شمار	مضمون	صفحه
	د سحر په اذان کښې د الصلاة خير من النوم متعلق کلام	۱۹۱
	شرح السند	۱۹۶
	احيلت الصلاة ثلاثة احوال	۱۹۹
	د مونځ دويم تغير	۱۹۹
	شرح السند	۲۰۰
	د صوم تغيرات ثلاثه	۲۰۱
	د مونځ دريم تغير	۲۰۳
	د تحويل قبله متعلق دوه بحثونه	۲۰٤
	باب فِي الإِقَامَةِ	۲۰٤
	د ائمه اربعه په نزد د کلمات اقامت تعداد	۲۰۵
	حديث الباب د جمهور دليل دي	۲۰۵
	د حديث الباب خلاف نور روايات	۲۰۵
	د حديث الباب تاويل	۲۰٦
	په تثنيه اقامت کښې د احنافو مزيد دلائل	۲۰٦
	د حديث توجيه	۲۰۷
	باب فِي الرَّجُلِ يُؤَذِّنُ وَيُقِيمُ آخَرُ	۲۰۹
	د سند تحقيق	۲۰۹
	د احنافو د طرف نه د حديث توجيه	۲۱۱
	باب رَفْعِ الصَّوْتِ بِالأَذَانِ	۲۱۱
	شرح حديث	۲۱۱
	د حديث شرح	۲۱۳
	يو اشکال او جواب	۲۱۳
	باب مَا يَجِبُ عَلَى الْمُؤَذِّنِ مِنْ تَعَاهُدِ الْوَقْتِ	۲۱۳
	د امامت او اذان مرتبه	۲۱٤
	باب الأَذَانِ فَوْقَ الْمَنَارَةِ	۲۱۵
	د بلال رضي الله عنه اهتمام کول	۲۱۵
	باب فِي الْمُؤَذِّنِ يَسْتَدِيرُ فِي أَذَانِهِ	۲۱٦
	د حديث مضمون	۲۱٦
	د استدار په سلسله کښې رواياتو کښې اختلاف	۲۱۷
	د تحويل په کيفيت کښې اقوال	۲۱۷

شمار	مضمون	صفحه

باب مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ بَيْنَ الأَذَانِ وَالإِقَامَةِ ۲۱۷
باب مَا يَقُولُ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ ۲۱۸
د اجابت اذان حکم ۲۱۸
د اذان خطبه اجابت ۲۱۹
د وسیلې تفسیر ۲۲۰
شرح حدیث ۲۲۲
یو اشکال او د هغې جواب ۲۲۲
باب مَا يَقُولُ إِذَا سَمِعَ الإِقَامَةَ ۲۲۳
اجابت اقامت کښې اختلاف ۲۲۳
باب مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ عِنْدَ الأَذَانِ ۲۲٤
باب مَا يَقُولُ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ ۲۲٤
باب أَخْذِ الأَجْرِ عَلَى التَّأْذِينِ ۲۲۵
د خپل ځان دپاره د امامت او تولیت طلب ۲۲۵
په استیجار علی الطاعات کښې د علماء کرامو اختلاف ۲۲٦
باب فِي الأَذَانِ قَبْلَ دُخُولِ الْوَقْتِ ۲۰۷
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه ۲۲۷
په حدیث الباب باندې د محدثینو نقد ۲۲۸
د احنافو د طرف نه د دې نقد جواب ۲۲۸
د جمهورو د استدلال رد ۲۲۹
باب الأَذَانِ لِلأَعْمَى ۲۳۰
باب الْخُرُوجِ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ الأَذَانِ ۲۳۱
په مسئلة الباب کښې د اختلاف تفصیل ۲۳۱
د اعاده صلاة متعلق متعدد ابواب او تراجم ۲۳۲
د حدیث الباب محمل د احنافو په نزد ۲۳۲
باب فِي الْمُؤَذِّنِ يَنْتَظِرُ الإِمَامَ ۲۳۲
باب فِي التَّثْوِيبِ ۲۳۳
د تثویب معانی ۲۳۳
د تثویب په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف ۲۳٤
باب فِي الصَّلاَةِ تُقَامُ وَلَمْ يَأْتِ الإِمَامُ يَنْتَظِرُونَهُ قُعُودًا ۲۳٤
دفع تعارض بین الحدیثین ۲۳۵

صفحه	مضمون	شمار
۲۳۵	متی یقوم الناس فی الصف؟	
۲۳۶	متی یکبر الامام للصلوة؟	
۲۳۶	شرح السند	
۲۳۸	د اقامت او تکبیر تحریمه ترمینځه فصل	
۲۳۸	شرح حدیث	
۲٤۰	تکثیر جماعت مطلوب دي	
۲٤۰	باب فِي التَّشْدِيدِ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ	
۲٤۰	د جماعت په حکم کښې د علماء کرامو مذاهب	
۲٤۱	د حدیث نه د جماعت په فرضیت باندې استدلال او د هغې جواب	
۲٤۳	(سنن هدی او سنن زوائد)	
۲٤٤	حدیث تاویل ته محتاج دي	
۲٤٥	د اعمی دپاره د ترک جماعت اجازت	
۲٤٥	الاعذار المسقطة للجماعة	
۲٤٦	باب فِي فَضْلِ صَلاَةِ الْجَمَاعَةِ	
۲٤۷	په کثرت جماعت باندې د فضیلت زیادت	
۲٤۸	شرح حدیث کښې دوه اقوال	
۲٤۸	باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلاَةِ	
۲٤۹	ایا مسجد ته نزدې کور افضل دې یا لرې؟	
۲٥۰	په حدیث الباب کښې یو نوې خبره	
۲٥۰	د بخاری د ترجمة الباب توجیه	
۲٥۱	ذکر ما یستفاد من الحدیث	
۲٥۲	شرح حدیث	
۲٥۳	شرح حدیث کښې دوه اقوال	
۲٥٤	د جماعت د ثواب په باره کښې د روایاتو اختلاف	
۲٥٥	مضمون حدیث	
۲٥٥	باب مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ إِلَى الصَّلاَةِ فِي الظُّلَمِ	
۲٥٦	باب مَا جَاءَ فِي الْهَدْيِ فِي الْمَشْيِ إِلَى الصَّلاَةِ	
۲٥٦	د تشبیک په حکم کښې اختلاف	
۲٥۸	باب فِيمَنْ خَرَجَ يُرِيدُ الصَّلاَةَ فَسُبِقَ بِهَا	
۲٥۸	باب مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسْجِدِ	

شمار	مضمون	صفحه
	په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو مذاهب	۲۵۸
	باب التَّشْدِيدِ فِي ذَلِكَ	۲۶۰
	باب السَّعْيِ إِلَى الصَّلاَةِ	۲۶۱
	مسبوق امام سره اول مونځ رالاندې کوی که اخر	۲۶۲
	باب فِي الْجَمْعِ فِي الْمَسْجِدِ مَرَّتَيْنِ	۲۶۳
	په جماعت ثانيه فی المسجد کښې اختلاف علماء	۲۶۳
	د حديث الباب نه استدلال او د هغې جواب	۲۶٤
	باب فِيمَنْ صَلَّى فِي مَنْزِلِهِ ثُمَّ أَدْرَكَ الْجَمَاعَةَ يُصَلِّي مَعَهُمْ	۲۶٤
	(د حديث الباب نه جوابات)	۲۶۵
	باب إِذَا صَلَّى ثُمَّ أَدْرَكَ جَمَاعَةً أَيُعِيدُ	۲۶۷
	په ترجمة الباب کښې د مصنف غرض	۲۶۷
	باب فِي جِمَاعِ الإِمَامَةِ وَفَضْلِهَا	۲۶۸
	(د جماع لغوی تحقيق)	۲۶۸
	باب فِي كَرَاهِيَةِ التَّدَافُعِ عَلَى الإِمَامَةِ	۲۶۹
	باب مَنْ أَحَقُّ بِالإِمَامَةِ	۲۶۹
	د امامت اوصاف :	۲۶۹
	د جمهورو دليل او په هغې باندې اشكال او جواب :	۲۷۰
	تكمله :	۲۷۱
	امامت صبي او په هغې کښې اختلاف	۲۷۲
	(دحديث الباب جواب)	۲۷۳
	د حديث الباب نه د بعض علماء استدلال	۲۷۵
	باب إِمَامَةِ النِّسَاءِ	۲۷۶
	په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه	۲۷۶
	د حديث مضمون	۲۷۷
	تكمله :	۲۷۷
	باب الرَّجُلِ يَؤُمُّ الْقَوْمَ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ	۲۷۸
	د حديث شرح	۲۷۸
	باب إِمَامَةِ الْبَرِّ وَالْفَاجِرِ	۲۷۸
	د فاسق د امامت مسئله	۲۷۸
	د فاسق د امامت مسئله	۲۷۹

شمار	مضمون	صفحه
	باب إِمَامَةِ الأَعْمَى	۲۷۹
	په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه	۲۷۹
	باب إِمَامَةِ الزَّائِرِ	۲۸۰
	هغه حضرات چاته چه مطلقا تقدم حاصل دي	۲۸۰
	باب الإِمَامِ يَقُومُ مَكَانًا أَرْفَعَ مِنْ مَكَانِ الْقَوْمِ	۲۸۰
	په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو مذاهب	۲۸۰
	د باب په دوه احاديثو کښې تعارض	۲۸۱
	باب إِمَامَةِ مَنْ يُصَلِّي بِقَوْمٍ وَقَدْ صَلَّى تِلْكَ الصَّلاَةَ	۲۸۲
	د صلاة المفترض خلف المتنفل بحث	۲۸۲
	د شوافعو د حديث نه استدلال او د جمهورو د طرف نه جواب	۲۸۳
	د حافظ ابن حجر تاويل	۲۸۳
	د جمهورو مزيد دلائل	۲۸۳
	د معاذ رضي الله عنه په قصه کښې د ماسخوتن او ماښام تعارض	۲۸٤
	باب الإِمَامِ يُصَلِّي مِنْ قُعُودٍ	۲۸٤
	په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه	۲۸٤
	په مسئلة الباب کښې د جمهورو دليل	۲۸۵
	واذا قراء فانصتوا په ثبوت کښې بحث	۲۸۸
	باب الرَّجُلَيْنِ يَؤُمُّ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ كَيْفَ يَقُومَانِ	۲۹۰
	د رسول الله صلى الله عليه وسلم او ام حرام رضي الله عنها ترمينځه د محرميت تعلق	۲۹۰
	په تنفل بالجماعت کښې اختلاف د علماء کرامو	۲۹۱
	په مسئلة الباب کښې اختلاف د علماء کرامو	۲۹۱
	په مسئلة المحاذات کښې د احنافو په دليل باندې کلام	۲۹۲
	د حافظ ابن حجر د کلام رد	۲۹۳
	باب إِذَا كَانُوا ثَلاَثَةً كَيْفَ يَقُومُونَ	۲۹۳
	شرح السند او د ضمير د مرجع تحقيق	۲۹٤
	د بعض مسائل ثابته بالحديث بيان	۲۹۵
	دويمه مسئله	۲۹۵
	مسئله ثالثه افتراش حرير للرجال	۲۹۵
	شرح حديث	۲۹۵
	په مسئلة الباب کښې د جمهورو دليل	۲۹٦

شمار	مضمون	صفحه
	باب الإمَامِ يَنْحَرِفُ بَعْدَ التَّسْلِيمِ	۲۹۷
	د مصنف قائم کړی ترجمو کښې فرق	۲۹۷
	په حديث باندې من حيث الفقه كلام	۲۹۷
	(د انحراف بعضې حکمتونه)	۲۹۸
	باب الإمَامِ يَتَطَوَّعُ فِي مَكَانِهِ	۲۹۹
	باب الإمَامِ يُحْدِثُ بَعْدَ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنْ آخِرِ الرَّكْعَةِ	۲۹۹
	په حديث الباب كښې د احنافو دليل	۳۰۰
	د قعده اخير په حکم کښې اختلاف	۳۰۰
	بابٌ فِي تَحْرِيمِ الصَّلوٰةِ وَتَحْلِيلِهَا	۳۰۰
	باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ الْمَأْمُومُ مِنَ اتِّبَاعِ الإمَامِ	۳۰۱
	تقدم على الامام کښې اختلاف الائمة	۳۰۱
	متابعة امام على وجه المقارنة کیدل پکار یا په طریق د معاقبة	۳۰۱
	په مقارنة مع الامام کښې مذاهب اربعه	۳۰۲
	دلائل فريقين	۳۰۲
	د حضرت گنگوهی توجيه	۳۰۲
	هل السمن من اوصافه ﷺ	۳۰۳
	ايا صحابه كرام توثيق ته محتاج وو؟	۳۰۴
	باب التَّشْدِيدِ فِيمَنْ يَرْفَعُ قَبْلَ الإمَامِ أَوْ يَضَعُ قَبْلَهُ	۳۰۵
	شرح حديث	۳۰۵
	وقوع المسخ فى هذه الامة	۳۰۵
	رفع قبل الامام کښې مذاهب ائمه	۳۰۶
	باب فِيمَنْ يَنْصَرِفُ قَبْلَ الإمَامِ	۳۰۶
	باب جِمَاعِ أَثْوَابِ مَا يُصَلَّى فِيهِ	۳۰۶
	د مونځ دپاره د ستر حکم او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف	۳۰۶
	په مسئله کښې د جمهورو او مالکيانو دليل	۳۰۷
	په حد العورت کښې د علماؤ اختلاف	۳۰۷
	د زنانو په قدمين کښې اختلاف	۳۰۷
	منشاء د اختلاف	۳۰۸
	يوه بله اختلافی مسئله	۳۰۸
	مذاهب ائمه	۳۰۹

شمار	مضمون	صفحه
	باب الرَّجُلِ يَعْقِدُ الثَّوْبَ فِي قَفَاهُ ثُمَّ يُصَلِّي	۳۱۰
	د ثوب واحد اقسام ثلاثه او د هر يو د استعمال طريقه	۳۱۰
	باب الرَّجُلِ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ بَعْضُهُ عَلَى غَيْرِهِ	۳۱۱
	باب فِي الرَّجُلِ يُصَلِّي فِي قَمِيصٍ وَاحِدٍ	۳۱۱
	شرح حديث	۳۱۱
	لو وقع نظر المصلي على عورته	۳۱۲
	باب إِذَا كَانَ الثَّوْبُ ضَيِّقًا يَتَّزِرُ بِهِ	۳۱۲
	مضمون حديث	۳۱۳
	باب الإِسْبَالِ فِي الصَّلاَةِ	۳۱٤
	د اسبال إزار حكم	۳۱٤
	مضمون حديث	۳۱۵
	شرح حديث	۳۱۵
	باب من قال يتزر به اذا كان ضيقا	۳۱٦
	په يو قسم بابونو كښې دفع تكرار	۳۱٦
	د اشتمال اليهود والصماء تفسير	۳۱٦
	باب فِي كَمْ تُصَلِّي الْمَرْأَةُ	۳۱۷
	د قدمين په عورة كيدو باندې استدلال او د احنافو د طرف نه د دې جواب	۳۱۸
	باب الْمَرْأَةِ تُصَلِّي بِغَيْرِ خِمَارٍ	۳۱۸
	(د زنانه بغير د سر پټولو نه د مونځ حكم)	۳۱۹
	(د طلحة الطلحات....وجه تسميه)	۳۱۹
	صلاة الامة مع كشف الراس	۳۱۹
	باب مَا جَاءَ فِي السَّدْلِ فِي الصَّلاَةِ	۳۲۰
	د سدل په تفسير كښې اقوال	۳۲۰
	(د سدل حكم)	۳۲۰
	د سدل په حكم كښې اختلاف	۳۲۱
	اشكال او جواب	۳۲۱
	باب الصَّلاَةِ فِي شُعُرِ النِّسَاءِ	۳۲۲
	باب الرَّجُلِ يُصَلِّي عَاقِصًا شَعْرَهُ	۳۲۲
	د كراهت عقص علت مع اختلاف علماء	۳۲۲
	شرح حديث	۳۲۳

شمار	مضمون	صفحه

باب الصَّلاَةِ فِي النَّعْلِ ۳۲٤
د صلاة في النعل په باره كښې روايات او په هغې كښې د فقهاء كرامو رائي ۳۲٤
مطابقة الحديث للترجمة ۳۲٥
الكلام على الحديث من حيث الفقه ۳۲٦
باب الْمُصَلِّي إِذَا خَلَعَ نَعْلَيْهِ أَيْنَ يَضَعُهُمَا ۳۲۷
وضع نعلين قدام المصلي ۳۲۷
باب الصَّلاَةِ عَلَى الْخُمْرَةِ ۳۲۸
بغير د حائل نه په زمكه باندې سجده او په هغې كښې اختلاف ۳۲۸
باب الصَّلاَةِ عَلَى الْحَصِيرِ ۳۲۹
د ترجمة الباب غرض ۳۲۹
د جامع ترمذي ترجمة الباب ۳۲۹
مضمون حديث ۳۳۰
د رجل ضخم مصداق ۳۳۰
باب الرَّجُلِ يَسْجُدُ عَلَى ثَوْبِهِ ۳۳۱
په حديث كښې يوه اختلافي مسئله ۳۳۱
تفريع أبواب الصفوف ۳۳۲
باب تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ ۳۳۲
شرح حديث ۳۳۳
شرح حديث او د غير مقلدينو د طريقې ترديد ۳۳۳
د صف اول په مصداق كښې اقوال ۳۳٥
تسوية صفوف څه وخت كيدل پكار دي؟ ۳۳٦
شرح حديث ۳۳۷
د تسوية صفوف حكم ۳۳۸
باب الصُّفُوفِ بَيْنَ السَّوَارِي ۳۳۹
صف بين الساريتين كښې د مذاهب ائمه تحقيق ۳۳۹
حكمت منع ۳٤۰
شرح حديث ۳٤۰
د رواياتو تعارض ۳٤۱
الكلام على دلائل الفريقين ۳٤۱
باب مَنْ يُسْتَحَبُّ أَنْ يَلِيَ الإِمَامَ فِي الصَّفِّ وَكَرَاهِيَةِ التَّأَخُّرِ ۳٤۲

شمار	مضمون	صفحه
	د ليلېنې صرفي تحقيق	۳۴۲
	شرح حديث	۳۴۲
	د الاحلام لغوي تحقيق	۳۴۲
	باب مُقَامِ الصِّبْيَانِ مِنَ الصَّفِّ	۳۴۳
	باب صَفِّ النِّسَاءِ وَكَرَاهِيَةِ التَّأَخُّرِ عَنِ الصَّفِّ الأَوَّلِ	۳۴۴
	شرح حديث	۳۴۵
	باب مُقَامِ الإِمَامِ مِنَ الصَّفِّ	۳۴۶
	شرح حديث	۳۴۶
	باب الرَّجُلِ يُصَلِّي وَحْدَهُ خَلْفَ الصَّفِّ	۳۴۶
	باب الرَّجُلِ يَرْكَعُ دُونَ الصَّفِّ	۳۴۷
	تفريع أبواب السترة	۳۴۸
	باب مَا يَسْتُرُ الْمُصَلِّيَ	۳۴۸
	د سترې متعلق لس بحثونه	۳۴۸
	البحث الاول: معنى السترة لغة وشرعا	۳۴۹
	البحث الثانى : حكم السترة	۳۴۹
	البحث الثالث : قدرها طولا	۳۴۹
	البحث الرابع : نفعها لمن	۳۴۹
	البحث الخامس : حريم المصلى	۳۴۹
	البحث السادس : قدر الفاصلة بين المصلى والسترة	۳۵۰
	البحث السابع : الحكمة فيها	۳۵۰
	البحث الثامن : السترة بالراحلة	۳۵۰
	البحث التاسع : السترة بالخط	۳۵۰
	البحث العاشر : درا المار	۳۵۱
	البحث الحادى عشر :	۳۵۱
	البحث الثانى عشر	۳۵۱
	باب الْخَطِّ إِذَا لَمْ يَجِدْ عَصًا	۳۵۳
	باب الصَّلاَةِ إِلَى الرَّاحِلَةِ	۳۵۵
	په دوارو احاديثو کښ رفع تعارض	۳۵۵
	باب إِذَا صَلَّى إِلَى سَارِيَةٍ أَوْ نَحْوِهَا أَيْنَ يَجْعَلُهَا مِنْهُ	۳۵۶
	باب الصَّلاَةِ إِلَى الْمُتَحَدِّثِينَ وَالنِّيَامِ	۳۵۶

شمار	مضمون	صفحه
	باب الدُّنُوِّ مِنَ السُّتْرَةِ	۳۵۷
	باب مَا يُؤْمَرُ الْمُصَلِّي أَنْ يَدْرَأَ عَنِ الْمَمَرِّ بَيْنَ يَدَيْهِ	۳۵۸
	د امام نووی رحمه الله رائې	۳۵۸
	په شرح حديث کښې د شراح حديث او فقهاء کرامو اقوال	۳۵۸
	(آيا په دې صورت کښې قاتل باندې ضمان شته؟)	۳۵۹
	په حديث الباب کښې اختصار او د هغه تشريح	۳۶۰
	باب مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ الْمُرُورِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي	۳۶۱
	د مصلي د درء المار حق کله جوړيږی او تيريدونکي اثم په کوم صورت کښې دې	۳۶۱
	تفريع أبواب ما يقطع الصلاة وما لا تقطعها	۳۶۲
	باب مَا يَقْطَعُ الصَّلاَةَ	۳۶۲
	په مسئلة الباب کښې مذاهب علماء	۳۶۳
	ايا د رسول الله ﷺ د ځان دپاره انتقام اخستل جائز دی؟	۳۶۵
	د اولياؤ په انتقام اخستلو کښې هم مصلحت وی	۳۶۵
	باب سُتْرَةُ الإِمَامِ سُتْرَةُ مَنْ خَلْفَهُ	۳۶۶
	په مسئلة الباب کښې اختلاف علماء او د اختلاف ثمره	۳۶۶
	مطابقة الحديث للترجمة	۳۶۸
	باب مَنْ قَالَ الْمَرْأَةُ لاَ تَقْطَعُ الصَّلاَةَ	۳۶۸
	باب مَنْ قَالَ الْحِمَارُ لاَ يَقْطَعُ الصَّلاَةَ	۳۷۰
	د حديث په شرح کښې د امام بخاری او امام بيهقی رائې	۳۷۱
	باب مَنْ قَالَ الْكَلْبُ لاَ يَقْطَعُ الصَّلاَةَ	۳۷۲
	باب مَنْ قَالَ لاَ يَقْطَعُ الصَّلاَةَ شَيْءٌ	۳۷۲
	ابواب تفريع استفتاح الصلاة	۳۷٤
	د مصنف يو عادت	۳۷٤
	باب رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الصَّلاَةِ	۳۷٤
	د ترجمة الباب غرض	۳۷٤
	د رفع اليدين متعلق مباحث خمسه	۳۷۵
	البحث الاول :	۳۷۵
	په رفع الدين کښې د امام مالک د مذهب تحقيق	۳۷٦
	رفع اليدين د احنافو په نزد خلاف اولی دی يا مکروه؟	۳۷٦
	البحث الثانی : (د رفع اليدين کيفيت)	۳۷۷

شمار	مضمون	صفحه
	د رفع اليدين په وخت تفريق اصابع اولى دي يا ضم	۳۷۸
	البحث الثالث : (رفيع اليدين به تكبير سره متصل وى كه منفصل)	۳۷۸
	البحث الرابع : (لاسونه كوم ځائې پورې اوچتول پكار دى؟)	۳۷۸
	البحث الخامس : په رفع اليدين كښې حكمت څه دې	۳۷۹
	د احنافو په نزد د رفع اليدين نسخ او د مولانا انور شاه كشميرى رائې	۳۸۰
	د رفع اليدين په سلسله كښې د حضرت سهارنپورى رائې	۳۸۰
	د حضرت گنگوهى رائې	۳۸۱
	د صاحب امانى الاحبار تبصره	۳۸۱
	د كوفه علمى مقام او د اهل كوفه په عدم رفع اليدين باندې اتفاق	۳۸۲
	د اهل مكه طرز عمل	۳۸۳
	د رواة رفع د تعدد او تكثر بحث	۳۸٤
	د حضرت شاه صاحب بيان كړې يوه نكته	۳۸٦
	د رفع اليدين په باره كښې د صحيحين روايات	۳۸٦
	الكلام على حديث ابن عمر	۳۸۷
	په حديث ابن عمر رضي الله عنه كښې الاضطراب فى مواضع الرفع	۳۸۷
	الاضطراب من حيث السند	۳۸۸
	د حديث ابن عمر نسخ او په هغې باندې د شوافع نقد	۳۸۸
	د نقد جواب	۳۸۸
	د اثر مجاهد معارضه په اثر طاؤس سره	۳۸۹
	شرح حديث	۳۹۰
	الكلام على حديث وائل بن حجر	۳۹۱
	(د حديث وائل رضي الله عنه نه جواب)	۳۹۲
	(نور جوابونه)	۳۹۲
	(د ابراهيم نخعى رحمه الله قول)	۳۹۳
	(د ابرهيم نخعى رحمه الله په قول باندې د شوافعو نقد)	۳۹۳
	شرح حديث	۳۹٤
	باب افْتِتَاحِ الصَّلاَةِ	۳۹۵
	د ترجمة الباب غرض :	۳۹۵
	د حديث ابى حميد الساعدى تخريج	۳۹٦
	د احنافو د طرف نه د دې حديث جواب	۳۹۷

شمار	مضمون	صفحه

د حدیث ابو حمید انقطاع ۳۹۸
اول قرینه : ۳۹۸
دویمه قرینه : ۳۹۸
دریمه قرینه : ۳۹۸
د حافظ ابن حجررحمه الله د طرف نه جواب انقطاع او زمونږ د طرف نه د هغې رد ۳۹۹
شرح حدیث ٤۰۰
هیئة الجلوس فی التشهد کښې د علماؤ اختلاف ٤۰۰
دلائل الفریقین ٤۰۱
د تورک مختلف شکلونه ٤۰۱
رکوع نه سجدې ته تلو او بیا د سجدې نه پاسیدو په کیفیت کښې اختلاف ٤۰٤
(دریم اختلاف) ٤۰٤
د رفع یدین خلورم حدیث ٤۰٦
حدیث ابن عمر رضي الله عنه بطریق نافع ٤۰۸
باب بلا ترجمة ٤۰۸
د رفع یدین پنځم حدیث، حدیث علی رضي الله عنه ٤۰۹
د حدیث علی رضي الله عنه جوابات ٤۱۰
د امام طحاوی رحمه الله رائې ٤۱۰
د رفع یدین حدیث سادس ٤۱۰
په صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې د رفع الیدین د روایاتو تعداد ٤۱۱
د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حدیث وجه ترجیح ٤۱۱
شرح حدیث ٤۱۲
حدیث ابن مسعود بطریق عبدالله بن ادریس ٤۱۲
د تطبیق فی الرکوع نسخ ٤۱۳
باب مَنْ لَمْ يَذْكُرِ الرَّفْعَ عِنْدَ الرُّكُوعِ ٤۱۳
عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حدیث باندې اعتراضات او د هغې جوابات ٤۱٤
النقد الاول: ٤۱٤
النقد الثانی : ٤۱٥
النقد الثالث : ٤۱٥
النقد الرابع : ٤۱٦
حفظ راوی ته د هغه په کتاب باندې ترجیح ده یا برعکس ٤۱٦

شمار	مضمون	صفحه
	قصة الامام الاوزاعی مع الامام ابی حنیفة	٤١٧
	النقد الخامس :	٤١٧
	النقد السادس :	٤١٨
	النقد السابع :	٤١٩
	د عدم رفع حدیث ثانی، حدیث البراء رضی الله عنه	٤٢٠
	په حدیث البراء باندې د محدثینو کلام او د هغې جواب	٤٢٠
	(دوه اشکالات)	٤٢٠
	(د رومبي اشکال نه جواب)	٤٢٠
	(د دویم اشکال نه جواب)	٤٢١
	په سند کښې یو غلطی او د هغې اصلاح	٤٢١
	په حدیث البراء باندې د حاکم یو نقد او د هغې جواب	٤٢٢
	د عدم رفع د سلسلې مزید نور روایات	٤٢٢
	د عدم رفع په باره کښې احادیث قولیه	٤٢٣
	په حدیث لا ترفع الایدی الا فی سبع مواطن باندې بحث	٤٢٣
	(رومبی اشکال)	٤٢٣
	(دویم اشکال)	٤٢٤
	(دریم اشکال)	٤٢٤
	(څلورم اشکال)	٤٢٤
	(پنځم اشکال)	٤٢٤
	ما لی اراکم رافعی ایدیکم الحدیث باندې بحث	٤٢٥
	(د احنافو په دلیل باندې د امام بخاری رحمه الله اشکال)	٤٢٥
	ختام مسک	٤٢٦
	باب وَضْعِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فِي الصَّلاَةِ	٤٢٦
	مسائل الباب	٤٢٧
	البحث الاول : (وضع یا ارسال؟)	٤٢٧
	البحث الثانی : محل الوضع	٤٢٨
	البحث الثالث : (حکمت وضع)	٤٢٨
	په وضع تحت السرة او الصدر کښې دلائل الفریقین	٤٢٩
	د احنافو دلائل	٤٣٠
	باب مَا يُسْتَفْتَحُ بِهِ الصَّلاَةُ مِنَ الدُّعَاءِ	٤٣١

شمار	مضمون	صفحه
	په دعاء استفتاح کښې اختلاف علماء	٤٣١
	د کوم امام په نزد کومه دعاء استفتاح مختار ده	٤٣١
	یو اشکال او د هغې جواب	٤٣٣
	دعاء فی الصلاة کښې د امام مالک مسلک	٤٣٧
	(تعارض مع تطبیق)	٤٣٨
	د مونځ په حالت کښې حمد عاطس	٤٤٠
	باب مَنْ رَأَى الِاسْتِفْتَاحَ بِسُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ	٤٤١
	تخریج حدیث او په دې باندې کلام	٤٤١
	د باب په اول حدیث د مصنف نقد	٤٤٢
	په حدیث ثانی باندې د مصنف نقد او د هغې جواب	٤٤٢
	باب السَّكْتَةِ عِنْدَ الِافْتِتَاحِ	٤٤٣
	د مونځ په سکتات کښې روایات او د فقهاء کرامو اختلاف	٤٤٤
	شرح حدیث	٤٤٥
	باب مَنْ لَمْ يَرَ الْجَهْرَ بِـ { بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ }	٤٤٦
	المسئلة الاولی : د فاتحې په اول کښې بسم الله وئیل	٤٤٦
	المسئله الثانیه : بسم الله په جهر سره وئیل	٤٤٦
	الکلام علی دلائل الابواب	٤٤٦
	د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت	٤٤٨
	د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت	٤٤٩
	د مصنف د کلام شرح	٤٥٠
	باب مَنْ جَهَرَ بِهَا	٤٥٠
	په حدیث کښې مذکور سوال او جواب او د هر دواړو تشریح	٤٥١
	شرح حدیث مع اشکال او جواب	٤٥٢
	باب تَخْفِيفِ الصَّلَاةِ لِلْأَمْرِ يَحْدُثُ	٤٥٣
	باب مَا جَاءَ فِي نُقْصَانِ الصَّلَاةِ	٤٥٤
	د خشوع فی الصلاة په حکم کښې اختلاف علماء	٤٥٥
	باب فِي تَخْفِيفِ الصَّلَاةِ	٤٥٥
	باب مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي الظُّهْرِ	٤٥٨
	د قراءت فی الصلاة په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف	٤٥٨
	محل قراءت کوم رکعتونه دی	٤٥٨

شمار	مضمون	صفحه
	تطويل القراءة فی الرکعة الاولی کښې اختلاف علماء	۴۶۰
	(دحديث الباب نه جواب)	۴۶۰
	په تطويل اولی کښې حکمت	۴۶۰
	باب تَخْفِيفِ الأُخْرَيَيْنِ	۴۶۱
	په مونځ کښې د فاتحې سره د سورة په ضم کولو کښې اختلاف	۴۶۲
	شرح حديث	۴۶۲
	ضم سورة فی الاخريين	۴۶۳
	(د ضم سورت فی الاخريين د فائدې نه جواب)	۴۶۴
	باب قَدْرِ الْقِرَاءَةِ فِي صَلاَةِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ	۴۶۴
	د قراءت مستحبه په باره کښې د عمر رضي الله عنه اثر	۴۶۴
	په صلوات خمسه کښې قراءت مستحبه عند الائمة الاربعة	۴۶۵
	شرح حديث	۴۶۶
	په سری مونځونو کښې د قراءت ثبوت	۴۶۷
	باب قَدْرِ الْقِرَاءَةِ فِي الْمَغْرِبِ	۴۶۸
	د اخر ما صلی په باره کښې اختلاف روايات	۴۶۸
	ايا د ماښام په مونځ کښې د تطويل قراءة ثبوت دي	۴۶۹
	په مقدار قراءت فی الصلاة کښې د صاحب بدائع رائې	۴۷۰
	باب مَنْ رَأَى التَّخْفِيفَ فِيهَا	۴۷۱
	د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت	۴۷۱
	باب الرَّجُلِ يُعِيدُ سُورَةً وَاحِدَةً فِي الرَّكْعَتَيْنِ	۴۷۲
	باب الْقِرَاءَةِ فِي الْفَجْرِ	۴۷۲
	باب مَنْ تَرَكَ الْقِرَاءَةَ فِي صَلاَتِهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ	۴۷۳
	په رکنية فاتحه کښې اختلاف ائمه	۴۷۳
	حديث د احنافو موافق دي	۴۷۴
	په فاتحه خلف الامام کښې مذاهب ائمه	۴۷۶
	د اقراء بها فی نفسک تشريح	۴۷۶
	(حديث الباب د جمهورو دليل دي)	۴۷۸
	(الجواب الاول)	۴۷۸
	(د سفيان بن عيينه په قول باندې اعتراض)	۴۷۸
	الجواب الثانی :	۴۷۹

شمار	مضمون	صفحه
	(په حدیث کښې د فصاعدا په اضافه باندې د امام بخاری اعتراضات او د هغې جوابات)	۴۷۹
	د فصاعدا د مواضع استعمال اختلاف	۴۸۰
	فاتحه خلف الامام په باره کښې حضرت گنگوهی تقریر	۴۸۱
	من کان له امام فقراءة الامام له قراءة باندې کلام	۴۸۲
	د امام صاحب په سند سره حدیث او د دارقطنی په دې باندې رد	۴۸۲
	په حدیث واذا قراء فانصتوا باندې بحث	۴۸۳
	واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا باندې کلام	۴۸۴
	په دې سلسله کښې اثار صحابه	۴۸۴
	د شوافعو په نزد به مقتدی قراءت خلف الامام کوم وخت کوی	۴۸۶
	باب من كره القراءة بفاتحة الكتاب اذا جهر الامام	۴۸۶
	د ترجمة الباب نه د مصنف غرض	۴۸۶
	د شوافعو د طرف نه د حدیث جواب	۴۸۷
	باب من رأى القراءة اذا لم يجهر الامام بقرائته	۴۸۸
	د شوافعو د طرف نه د دې حدیث جواب	۴۸۹
	باب مَا يُجْزِئُ الأُمِّيَّ وَالأَعْجَمِيَّ مِنَ الْقِرَاءَةِ	۴۹۰
	د باب د ماقبل سره مناسبت	۴۹۰
	مضمون حدیث	۴۹۰
	د حدیث د محمل په تعیین کښې د شارحینو اختلاف	۴۹۱
	د امی په باره کښې مذاهب ائمه	۴۹۲
	باب تَمَامِ التَّكْبِيرِ	۴۹۴
	په مونځ کښې د تکبیرات انتقال مشروعیت او په هغې کښې اختلاف علماء	۴۹۴
	د مصنف د قول تشریح	۴۹۶
	د سند شرح	۴۹۶
	د حدیث تاویل	۴۹۷
	باب كَيْفَ يَضَعُ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ	۴۹۷
	د مالکیانو دلیل	۴۹۸
	باب النُّهُوضِ فِي الْفَرْدِ	۴۹۹
	د جلسه استراحت بحث	۵۰۰
	باب الإِقْعَاءِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ	۵۰۱
	باب مَا يَقُولُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ	۵۰۲

شمار	مضمون	صفحه
	د باب په ترتیب باندې اشکال او جواب	۵۰۲
	شرح حدیث	۵۰٤
	په مسئله ثابته بالحدیث کښې اختلاف	۵۰۵
	شرح حدیث: (د موافقت نه څه مراد دې؟)	۵۰٦
	(آمین ویونکې فرښتې)	۵۰۷
	باب الدُّعَاءِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ	۵۰۷
	په دعاء بین السجدتین کښې مذاهب ائمه	۵۰۷
	باب رَفْعِ النِّسَاءِ إِذَا كُنَّ مَعَ الرِّجَالِ رُءُوسَهُنَّ مِنَ السَّجْدَةِ	۵۰۸
	باب طُولِ الْقِيَامِ مِنَ الرُّكُوعِ وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ	۵۰۸
	د ترجمة الباب تشريح	۵۰۸
	اختلاف نسخ او نسخه صحیحه تحقیق او تنقیح	۵۰۹
	قومه او جلسه بین السجدتین رکن قصیر دی یا رکن طویل	۵۱۱
	(تشریح الحدیث)	۵۱۲
	باب صَلاَةِ مَنْ لاَ يُقِيمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ	۵۱۳
	تعدیل ارکان کښې مذاهب ائمه	۵۱۳
	په تعدیل او طمانیت کښې فرق	۵۱۳
	د جمهور علماء کرامو استدلال او د احنافو د طرف نه جواب	۵۱٤
	شرح حدیث	۵۱۸
	باب قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم "كُلُّ صَلاَةٍ لاَ يُتِمُّهَا صَاحِبُهَا تَتِمُّ مِنْ تَطَوُّعِهِ"	۵۱۹
	شرح حدیث او د زیاد او عبیدالله بن زیاد مختصر حال	۵۲۰
	په دوه متعارض احادیثو کښې تطبیق	۵۲۱
	تفریع ابواب الرکوع و السجود	۵۲۳
	بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ	۵۲۳
	د تطبیق فی الرکوع حکم	۵۲۳
	باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ	۵۲٤
	د مصنف د کلام تشریح :	۵۲۵
	د رکوع او سجدو په تسبیح کښې د وبحمده زیادت :	۵۲۵
	باب فِي الدُّعَاءِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ	۵۲۷
	د قیام اوږدوالې افضل دې یا د رکوع او سجدو زیاتوالې :	۵۲۸
	د امام ابویوسف او اسحاق بن راهویه مسلك :	۵۲۸

شمار	مضمون	صفحه
	(دحديث الباب نه جواب)	۵۲۸
	د حديث شرحه :	۵۲۹
	باب الدُّعَاءِ فِي الصَّلاَةِ	۵۳۱
	د امام احمد رحمه الله د كلام تشريح	۵۳۳
	باب مِقْدَارِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ	۵۳۳
	د تسبيح په عدد كښې د علماؤ اقوال	۵۳٤
	د قوت حافظې يو عجيب مثال	۵۳۵
	باب فِي الرَّجُلِ يُدْرِكُ الإِمَامَ سَاجِدًا كَيْفَ يَصْنَعُ	۵۳٦
	د يوې سجدې فضيلت	۵۳٦
	ادراك ركوع مع الامام سره ادراك ركعت كښې د علماؤ اختلاف	۵۳۷
	باب أَعْضَاءِ السُّجُودِ	۵۳۷
	اشكال او جواب	۵۳۸
	باب السُّجُودِ عَلَى الأَنْفِ وَالْجَبْهَةِ	۵۳۹
	په حديث الباب كښې اختصار دې	۵۳۹
	باب صِفَةِ السُّجُودِ	۵٤۰
	آيا د حضور ﷺ ترخونه د وينبتونه خالي وو	۵٤۲
	په دوو متعارض حديثونو كښې تطبيق	۵٤۳
	(په فخذين كښې به تفريج كيږى يا ضم؟)	۵٤۳
	باب الرُّخْصَةِ فِي ذٰلِكَ لِلضَّرُورَةِ	۵٤۳
	حديث الباب د تيرشوى حديث خلاف دې	۵٤٤
	باب فِي التَّخَصُّرِ وَالإِقْعَاءِ	۵٤٤
	د حديث شرح	۵٤۵
	(د اختصار په تفسير كښې نور اقوال)	۵٤۵
	(د ترک اختصار حكمتونه)	۵٤۵
	باب الْبُكَاءِ فِي الصَّلاَةِ	۵٤٦
	باب كَرَاهِيَةِ الْوَسْوَسَةِ وَحَدِيثِ النَّفْسِ فِي الصَّلاَةِ	۵٤٦
	باب الْفَتْحِ عَلَى الإِمَامِ فِي الصَّلاَةِ	۵٤۷
	د ائمه مذاهب	۵٤۸
	باب النَّهْيِ عَنِ التَّلْقِينِ	۵٤۸
	باب الاِلْتِفَاتِ فِي الصَّلاَةِ	۵٤۹

شمار	مضمون	صفحه
	باب السُّجُودِ عَلَى الأَنْفِ	۵۵۰
	باب النَّظَرِ فِي الصَّلاَةِ	۵۵۰
	الفرق بين الترجمتين	۵۵۰
	د حديث په مضمون کښې د عدم ربط قوی اشکال او ددې جواب	۵۵۱
	(په مونځ کښې آسمان ته د نظر اوچتولو حکم)	۵۵۲
	یو اشکال او جواب	۵۵۳
	باب الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ	۵۵٤
	د حديث مضمون	۵۵٤
	باب الْعَمَلِ فِي الصَّلاَةِ	۵۵۵
	په عمل قليل او كثير کښې فرق	۵۵۵
	د حديث شرح	۵۵٦
	حمل الصبي في الصلوة	۵۵٦
	مذاهب ائمه	۵۵۸
	یو قوی اشکال او د هغې تشريح	۵۵۹
	د حضرت گنگوهی رحمه الله توجيه	۵٦۰
	د حضرت سهارنپوری رحمه الله توجيه	۵٦۰
	باب رَدِّ السَّلاَمِ فِي الصَّلاَةِ	۵٦۰
	مذاهب ائمه	۵٦۱
	د حديث په شرح کښې دوه قوله او د هغې منشاء	۵٦۲
	شرح حديث او مطابقة الحديث للترجمة	۵٦٤
	باب تَشْمِيتِ الْعَاطِسِ فِي الصَّلاَةِ	۵٦۵
	مذاهب علماء	۵٦۵
	د لفظ تشميت تحقيق	۵٦۵
	شرح حديث	۵٦۷
	شرح حديث	۵٦۸
	(ايمان مقلد هم معتبر دې)	۵٦۸

باب المَرْأَةِ تَغْسِلُ ثَوْبَهَا الَّذِي تَلْبَسُهُ فِي حَيْضِهَا

باب دې په بيان د ښځه کښې چې وينځي هغه جامه چې اغوندي يې په حيض کښې

د ما قبل سره ربط او په ترجمة الباب سره مقصود

دلته مصنف رحمه الله د هغه مسائلو او ابوابو مسئله شروع کوی د کوم نه چه فقهاء کرام په باب تطهير الانجاس سره تعبير کوی. د نجاست دوه قسمونه دی حسية او معنوية. يعنی انجاس او احداث، اوسه پورې د اودس او د غسل بيان شروع وو چه د هغې تعلق د احداث سره دې ددې نه چه فارغ شو نو اوس مصنف رحمه الله طهارة عن النجاسات الحسية بيانوی باب فرض الوضوء کښې مونږ دا اختلاف بيان کړې دې چه د صحة صلوة دپاره د طهارت عن الحدث شرط کيدل اجماعی دی او په طهارت عن الخبث کښې اختلاف دې. د جمهورو په نزد د صحة صلوة دپاره دا هم ضروری دی، د مالکيانو په دې کښې اختلاف دې امام شافعی رحمه الله هم په قول قديم کښې د امام مالک رحمه الله سره دې

> [۳۵۷]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَتْنِي أُمُّ الْحَسَنِ يَعْنِي جَدَّةَ أَبِي بَكْرٍ الْعَدَوِيِّ، عَنْ مُعَاذَةَ، قَالَتْ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْحَائِضِ يُصِيبُ ثَوْبَهَا الدَّمُ، قَالَتْ: "تَغْسِلُهُ، فَإِنْ لَمْ يَذْهَبْ أَثَرُهُ فَلْتُغَيِّرْهُ بِشَيْءٍ مِنْ صُفْرَةٍ، قَالَتْ: وَلَقَدْ كُنْتُ أَحِيضُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ حِيَضٍ جَمِيعًا لَا أَغْسِلُ لِي ثَوْبًا".

ترجمه: د معاذة نه روايت دې، وايې چې ما تپوس وکړو د عائشې رضي الله عنها نه د حائضې په باره کښې چې رسيږی جامی د هغې ته وينه، هغې ووېل: وينځی به ئې که چرې د هغې اثر ختم نه شی نو تغير دې ورته ورکړی په څه شی سره د صفرې نه، هغې ووېل: په تحقيق سره وم زه چې حائضه کيدم به د رسول الله ﷺ سره درې حيضونه ټول، نه به وينځله ما خپله جامه.

تشريح: قوله:﴿ قوله سُئِلَتْ عَائِشَةُ - رضى الله عنها - عَنِ الْحَائِضِ يُصِيبُ ثَوْبَهَا الدَّمُ ﴾ د عائشې رضي الله عنها نه تپوس اوکړې شو چه د حائض په کپړه باندې که وينه اولګی نو څۀ به کوی؟ هغوی اوفرمائيل هغه دې وينځی بيا که د وينې اثر يا رنګ باقی پاتې شی نو هغه دې د صفرة په ذريعة زائل کړی، د صفرة نه مراد ورس يا زعفران دی لکه چه په بعض رواياتو کښې ددې تصريح ده

> [۳۵۸]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ نَافِعٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْحَسَنَ يَعْنِي ابْنَ مُسْلِمٍ يَذْكُرُ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ: "مَا كَانَ لِإِحْدَانَا إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ تَحِيضُ فِيهِ، فَإِنْ أَصَابَهُ شَيْءٌ مِنْ دَمٍ بَلَّتْهُ بِرِيقِهَا ثُمَّ قَصَعَتْهُ بِرِيقِهَا".

ترجمه: د مجاهد نه روايت دې هغه وايې چې ونيلی دی عائشې رضي الله عنها نه وو د يوې کسې لپاره زمونږ نه مګر يوه جامه چې مونږ به حائضې کيدو په هغې کښې، که چېرې څه شی به ورته ورسيدو د وينې نه نو هغه به لمده کړه په لاړو بيا به ئې ومږلو په لاړو.

(۱): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۷۹۷۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۵۰/۶)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۰۴ (۱۰۵۲) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الحيض ۱۱ (۳۱۲)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۷۵)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ۱۰۴ (۱۰۵۵) (صحيح)

تشریح: قوله:﴿ قوله فَإِذَا أَصَابَهُ شَيْءٌ مِنْ دَمٍ بَلَّتْهُ بِرِيقِهَا الخ ﴾ سيده عائشه ﷺ فرمائی چه مونږ سره به د حيض په زمانه کښې د اغوستلو دپاره يوه جامه وه هغه به مو د حيض نه د پاکيدلو نه پس اغوستله (د پاکيدلو ذکر په وړاندې روايت کښې راروان دې) هغه فرمائی چه زه دا کپړه وينم پس که په هغې باندې وينه لګيدلې وې نو دا به مې په خپل ريق او د خولې لاړو باندې تر کولو سره مږله په دې حديث کښې صرف د مږلو ذکر دې د هغې نه روستو د غسل ذکر نشته

(په دې حديث کښې د غسل ذکر نشته، ددې وجوهات)

ددې درې وجې کيدې شي.

۱: دا د خولې په لاړو باندې ددې تر کول او مږل په زمانه د حيض کښې وو د انقطاع حيض نه پس نه وو، لهذا د جامې د پاکولو حاجت نشته ځکه چه په دې سره مونځ نه دی کول ېکار

۲: د وينې د مقدار د قليل کيدو په وجه باندې کوم چه شرعا معاف دې

۳: اګر چه په دې روايت کښې د غسل ذکر نشته خو مراد دې د دم معفو مقدار او په دې کښې اختلاف زمونږ په نزد په باب الوضوء من الدم کښې تير شوی دي

[۳۵۹] ()حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا بَكَّارُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَتْنِي جَدَّتِي، قَالَتْ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَسَأَلَتْهَا امْرَأَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ عَنِ الصَّلَاةِ فِي ثَوْبِ الْحَائِضِ، فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: "قَدْ كَانَ يُصِيبُنَا الْحَيْضُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلْبَثُ إِحْدَانَا أَيَّامَ حَيْضِهَا ثُمَّ تَطْهُرُ فَتَنْظُرُ الثَّوْبَ الَّذِي كَانَتْ تَقْلِبُ فِيهِ، فَإِنْ أَصَابَهُ دَمٌ غَسَلْنَاهُ وَصَلَّيْنَا فِيهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ أَصَابَهُ شَيْءٌ تَرَكْنَاهُ، وَلَمْ يَمْنَعْنَا ذَلِكَ مِنْ أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِ، وَأَمَّا الْمُمْتَشِطَةُ، فَكَانَتْ إِحْدَانَا تَكُونُ مُمْتَشِطَةً فَإِذَا اغْتَسَلَتْ لَمْ تَنْقُضْ ذَلِكَ وَلَكِنَّهَا تَحْفِنُ عَلَى رَأْسِهَا ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ، فَإِذَا رَأَتِ الْبَلَلَ فِي أُصُولِ الشَّعْرِ دَلَكَتْهُ ثُمَّ أَفَاضَتْ عَلَى سَائِرِ جَسَدِهَا".

ترجمه: بکار بن يحيی وايي حديث بيان کړې دې ماته زما نيا ويلی دي زه داخل شوم په ام سلمة باندې نو تپوس وکړو د هغې نه يوې ښځې چې د قريشو نه وه په باره د مانځه کښې په جامه د حائضی کښې، نو ام سلمة ورته وويل بيشکه چې رسيدلو به مونږ ته حيض په زمانه د رسول الله ﷺ کښې نو وخت به تېرولو يوې کسې زمونږ نه بيا به پاکه شوه، نو کتله به ئې هغه جامه چې دا به پکې اوريدله، که چيرې به رسيدلی وه ورته وينه نو مونږ به وينځلو او مونځ به مو وکړو په هغې کښې، او که چرې نه به وو رسيدلی هغې ته څه شی نو مونږ به هغه پريخوده او مونږ به دغی نه منع کولو چې مونځ وکړو په هغې کښې، او هر چې ممتشطه وه (کمځو والا) نو وه به يوه کسه زمونږ نه کمځو والا کله چې به ئې غسل کولو نو هغه به ئې نه سپړدلې، لکن اړولې به ئې په خپل سر باندې درې لپې، چې کله به ئې لوندوالی وليدلو په ويخونو د ويختو کښې هغه به ئې ومږلو، بيا به ئې اوبه واړولې په ټول بدن باندې

---

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۹۸) (ضعيف)

[۳۶۰]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: سَمِعْتُ امْرَأَةً تَسْأَلُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ تَصْنَعُ إِحْدَانَا بِثَوْبِهَا إِذَا رَأَتِ الطُّهْرَ، أَتُصَلِّي فِيهِ؟ قَالَ: "تَنْظُرُ، فَإِنْ رَأَتْ فِيهِ دَمًا فَلْتَقْرُصْهُ بِشَيْءٍ مِنْ مَاءٍ، وَلْتَنْضَحْ مَا لَمْ تَرَ وَلْتُصَلِّ فِيهِ".

ترجمه:د اسماء بنت ابی بکر نه روایت دي هغې ویلي دي ما واوریدل د یوې زنانه نه چې تپوس ئې کولو د رسول الله ﷺ نه چې څنګه چل به کوی یوه زمونږ نه په خپله جامه باندې کله چې وینې طهر ایا مونځ به کوی په هغې کې؟ وویل هغه ګورې به که وېې لیده په هغې کی وینه نو ودی توږی په څه شی سره د اوبو نه، او پوګنه دې وکړی که نه ئې وی لیدلی او مونځ دی وکړی په هغې کښې

تشریح: **قوله**:﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ – قوله فَلْتَقْرُصْهُ بِشَيْءٍ مِنْ مَاءٍ وَلْتَنْضَحْ مَا لَمْ تَرَ ﴾ یعنی په کپړه چه کومه وینه لګیدلې ده هغه دې په اوبو باندې مږلو سره وینځی چه د هغې بالکلیة ازالة اوشی، او د جمله ثانیة ﴿ وَلْتَنْضَحْ مَا لَمْ تَرَ ﴾ دوه مطلبونه کیدې شی، یو دا چه دا د ماقبل سره متعلق دې او مطلب دا دې چه د کپړې د وینځلو په وخت دې په هغې باندې اوبه اچوی ترڅو ه اثر د نجاست اونه وینی (لکه چه د کپړې د پاکولو طریقه ده) په دې صورت کښې به ما په معنی د مادام وی.

د ثوب مشکوک د طهارت طریقه :

دویم احتمال دا دې چه دا ما موصوله وی او ددې جملې تعلق د ماقبل سره نشته، او مطلب دا دې چه د حیض د زمانې په کومه جامه کښې چه د وینې اثر لګیدلې دې هغه خو دې باقاعده وینځلې شی، او په کومه جامه کښې چه وینه لګیدلې وی او په نظر نه راځی بلکه صرف شبه ده د ناپاکیدلو نو هغه دې په ځائې د غسل نضح یعنی رش الماء اوکړې شی لکه چه د مالکیانو مذهب دې مالکیان فرمائی د ثوب نجس حکم غسل دې او د ثوب مشکوک د پاکولو طریقه دا ده چه په هغې باندې صرف اوبه اوبهیولې شی

دا روایت په کوم کښې چه ﴿ وَلْتَنْضَحْ مَا لَمْ تَرَ ﴾ مذکور دې د فاطمې بنت المنذر روایت دې د محمد بن اسحق په طریق سره، ددې نه پس مصنف رحمه الله د فاطمې روایت په طریق د هشام بن عروة ذکر کړې دې په هغې کښې دا جمله نشته او هشام بن عروة د محمد بن اسحق نه اثبت او اقوی دې لهذا د هغوی روایت به راجح وی، په دې سره ددې جملې په ثبوت کښې ضعف پیدا شو کومه چه د یوې معنې په اعتبار سره د جمهورو خلاف وه، فزال الاشکال عن مذهب الجمهور.

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۵۷٤۲) (حسن صحيح)

[۳۶۱]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، أَنَّهَا قَالَتْ: سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ، كَيْفَ تَصْنَعُ؟ قَالَ: "إِذَا أَصَابَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضِ، فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِالْمَاءِ ثُمَّ لِتُصَلِّي".

ترجمه: د اسماء بنت ابی بکر نه روایت دې بیشکه هغې ویلی دي. تپوس وکړو یوې ښځې د رسول الله ﷺ نه ویې وئیل: اې د الله رسوله! خبر راکړه ماته یوې کسې زمونږ نه چې کله ورسیږی جامې د هغې ته وینه د حیض نو څه چل به کوي؟ هغه وویل: کله چې ورسیږی یوې کسې ته ستاسو نه وینه د حیض نو هغه دې ومږی او بیا دې پرې اوبه وشیندي، بیا دې مونځ کوي.

[۳۶۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ هِشَامٍ، بِهَذَا الْمَعْنَى، قَالَ: حُتِّيهِ ثُمَّ اقْرُصِيهِ بِالْمَاءِ ثُمَّ انْضَحِيهِ.

ترجمه: حدیث بیان کړې دې یعنی ابن سملة، د هشام نه په هم دی معنی سره، هغه وئیلی دي: ویې مږه، بیا ئې وتوږه په اوبو سره، بیا ئې اووینځه.

[۳۶۳]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ الْقَطَّانَ، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي ثَابِتٌ الْحَدَّادُ، حَدَّثَنِي عَدِيُّ بْنُ دِينَارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أُمَّ قَيْسٍ بِنْتَ مِحْصَنٍ، تَقُولُ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ دَمِ الْحَيْضِ يَكُونُ فِي الثَّوْبِ، قَالَ: "حُكِّيهِ بِضِلْعٍ وَاغْسِلِيهِ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ".

ترجمه: عدی بن دینار وایې چې اوریدلی دی د ام قیس بنت محصن نه چې هغې وئیل: ما تپوس وکړو د رسول الله ﷺ نه په باره د وینې د حیض کښې چې جامه کښې وي، هغه وفرمائیل: هغه وتوږه په یو لرګي سره او ویې وینځه په اوبو او بېره باندې.

تشریح: **قوله**:(قوله حُكِّيهِ بِضِلْعٍ وَاغْسِلِيهِ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ) ضلع په اصل کښې د پښتئ هډوکی ته وائی او دلته ترې نه مراد مطلقا سخت څیز دې چه د هغې په ذریعه د حیض وینه اوکرولې شي.

[۳۶۴]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "قَدْ كَانَ يَكُونُ لِإِحْدَانَا الدِّرْعُ فِيهِ تَحِيضُ، قَدْ تُصِيبُهَا الْجَنَابَةُ، ثُمَّ تَرَى فِيهِ قَطْرَةً مِنْ دَمٍ فَتَقْصَعُهُ بِرِيقِهَا".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روایت دې هغې ویلی دي بیشکه شان دادی چې وو د یوې کسې زمونږ لپاره څادر چې په هغې به حائضه کیده، کله به ورته رسیدلو جنابت، بیا به ئې لیدلو

---

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ٦٣ (٢٢٧)، والحيض ٩ (٣٠٧)، صحيح مسلم/الطهارة ٣٣ (٢٩١)، سنن الترمذي/الطهارة ١٠٤ (١٣٨)، سنن النسائي/الطهارة ١٨٥ (٢٩٤)، والحيض ٢ (٣٥٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٨ (٦٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٤٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة (١٠٣/٢٨)، مسند احمد (٣٤٥/٦، ٣٤٦، ٣٥٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٨٢ (٧٩٩) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٥٧٤٣) (صحيح)

[3]: سنن النسائي/الطهارة ١٨٥ (٢٩٣)، والحيض ٢٦ (٣٩٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١١٨ (٦٢٨)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٥/٦، ٣٥٦)، سنن الدارمي/الطهارة ١٠٤ (١٠٥٩) (صحيح)

[4]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٧٣٨٠) (صحيح)

په هغې کښې يوه قطره د وينې نو هغه به ئې توړله په خپلو لاړو.

په حديث الباب کښې دوه اختلافي مسئلې:

ځان پوهه کړه چه د حديث الباب نه دوه اختلافي مسئلې نورې ثابتيږي،

(د پليتئ د ازالې دپاره د اوبو تعين)

يودا چه د جمهورو په نزد چه پکښې ائمۀ ثلاثه هم دی د ازالهٔ نجاسات دپاره اوبه متعين دی، د اوبو نه علاوه په نورو مائعاتو باندې طهارت نه حاصليږي، او د احنافو په نزد د حدث د ازالې دپاره خو اوبه متعين دی او د خبث د ازالې دپاره د اوبو او نورو مائعاتو استعمال هم جائز دې، امام خطابي رحمه الله فرمائي حديث الباب په دې مسئله کښې د احنافو دليل دې ځکه چه په دې حديث کښې د ريق په ذريعه باندې ازالة النجاسة مذکور دې او که ريق مزيل النجاست او نه منلې شي نو بيا به په سره نور هم تلويث راشي، خطابي وائي جمهور ددې جواب دا ورکولې شي چه د ريق په ذريعه د نجاست ازاله مقصود نه ده بلکه صرف تحليل دم چه روستو په اوبو سره په سهولت باندې پاک شي

(په اوبو کښې د طاهر ځيز ملاويدلو مسئله)

مسئله ثانيه په دې حديث کښې د ماء مخلوط بشئ طاهر ده د هغې په ذريعه ازاله د نجاست جائز ده ځکه چه په دې حديث کښې فرمائي، ﴿ بماء وسدر ﴾ دا مسئله دلته په باب الرجل يغسل راسه بالخطمی کښې په تفصيل تيره شوې ده.

[۳۶۵]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ خَوْلَةَ بِنْتَ يَسَارٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ لَيْسَ لِي إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ وَأَنَا أَحِيضُ فِيهِ، فَكَيْفَ أَصْنَعُ؟ قَالَ: "إِذَا طَهُرْتِ فَاغْسِلِيهِ ثُمَّ صَلِّي فِيهِ، فَقَالَتْ: فَإِنْ لَمْ يَخْرُجِ الدَّمُ، قَالَ: يَكْفِيكِ غَسْلُ الدَّمِ وَلَا يَضُرُّكِ أَثَرُهُ".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې چې بيشکه خوله بنت يسار راغله نبی ﷺ ته نو هغې وويل: اې د الله رسوله! بيشکه نشته زما لپاره مګر يوه جامه او زه حائضه کيږم په هغې کښې نو ځنګه وکړم؟ هغه ووېل: کله چې ته پاکه شې نو هغه وينځه بيا مونځ کوه په هغې کښې. هغې ووېل: که وينه نه وی وتلې؟ هغه وفرمائيل: کافی دی ستا لپاره وينځل د وينې او ضرر نه رسوی تاته اثر د هغې.

(۱۳۴) بَابُ الصَّلَاةِ فِي الثَّوْبِ الَّذِي يُصِيبُ أَهْلَهُ فِيهِ

باب دې په بيان د مونځ په هغه جامه کښې چې د خپل اهل سره مصاحبت وکړي په هغې کښې

[۳۶۶]([2])حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ الْمِصْرِيُّ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ حُدَيْجٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، أَنَّهُ سَأَلَ أُخْتَهُ أُمَّ حَبِيبَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي الثَّوْبِ الَّذِي يُجَامِعُهَا فِيهِ؟ فَقَالَتْ: نَعَمْ، إِذَا لَمْ يَرَ فِيهِ أَذًى".

---

[1]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٤٢٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٤/٢، ٣٨٠) (صحيح)

[2]): سنن النسائي/الطهارة ١٨٦ (٢٩٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨٣ (٥٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٧/٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠٢ (١٤١٥) (صحيح)

ترجمه:د معاوية بن ابى سفيان نه روايت دې، بيشكه هغه تپوس وكړو د خپلې خور ام حبيبه نه چې د نبى ﷺ بى بى ده، ايا وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې كولو په هغه جامه كښې چې مجامعت ئې كولو د هغې سره په هغې كې؟ هغې وويل: آو كله چې به ئې ونه ليدلو په هغې څه شى.

تشريح: **قوله**:(قوله نَعَمْ إِذَا لَمْ يَرَ فِيهِ أَذًى) په بذل كښې ليكلي دى دا حديث په نجاست د منى باندې دلالت كوى، په دې كښې اختلاف زمونږ په نزد په ابواب الغسل كښې باب فيما يفيض الرجل والمراة كښې تير شوې دې هغه دا چه د احناف او مالكيان ددې د نجاست قائل دى او شوافع او حنابله على القول المشهور د طهارت قائل دى، او په دلائلو باندې كلام وړاندې نزدې راروان دې.

(١٣٥) بَابُ الصَّلَاةِ فِي شُعُرِ النِّسَاءِ

باب دې په بيان د جامو د ښځو كښې د مونځ نه كولو

[٣٦٧]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَشْعَثُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي فِي شُعُرِنَا أَوْ فِي لُحُفِنَا"، قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ: شَكَّ أَبِي.

ترجمه:د عائشى رضي الله عنها نه روايت دې هغې ويلى دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې نه كولو زمونږ په هغه جامو كښې چې د بدن سره به متصل وى او يا زمونږ په لحفو كښې وئيلى دى عبيد الله: شک كړى دى زما پلار(معاذ).

تشريح: شعر جمع د شعار ده كوم چه مقابل دې د دثار، هغه جامه كومه چه د بدن سره متصل وى او د هغې نه پورته والا ته دثار وائى خو دلته د شعار نه مراد پورته كپړه ده، لكه څادر، بستره، كمبل وغيره، پس په حديث الباب كښې لفظ د لحف مذكور دې او هم دغه شان امام ترمذى رحمه الله په دې باندې ترجمة باب الصلوة فى لحف النساء تړلې دې، او مطلب دا دې چه د زنانو هغه كپړه كومه چه سړى هم استعمالولې شى، په داسې كپړه كښې سړو له مونځ نه دى كول پكار،

د ممانعت وجه

د دې دوه وجې كيدې شى لكه چه په كوكب الدرى كښې دى، (۱)يو دا چه د زنانو په مزاج كښې د طهارت او نجاست په مسئله كښې احتياط نه وى لهذا سړو له د هغوى له كپړو كښې احتياط كول پكار دى، دويم وجه دا چه په هر ملبوس كښې د لابس بوئى وى نو په داسې صورت كښې د زنانه څادر وغيره اغوستلو سره مونځ كولو كښې د شغل بال ويره ده چه خيال به د هغې طرف ته لاړ شى.

زمصرش بوئے پيراهن شنيدى　　　چرا در چاه كنعانش نه ديدى

خو دا حكم صرف استحبابى دې ددې په جواز كښې هيڅ تردد نشته، هم په دې وجه

[1]): سنن الترمذي/الجمعة ٦٧ (٦٠٠)، سنن النسائي/الزينة ٦١ (٥٣٦٨)، وأعاده المؤلف برقم: ٦٤٥، (تحفة الأشراف: ١٦٢٢١ و ١٧٥٨٩ و ١٩٢٩٦)، ويأتي هذا الحديث عند المؤلف برقم (٦٤٥) (صحيح)

مصنف رحمه الله وړاندې تلو سره دويم باب د رخصت ترلي دي.

[۳٦٨]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ هِشَامٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يُصَلِّي فِي مَلَاحِفِنَا" قَالَ حَمَّادٌ: وَسَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ أَبِي صَدَقَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْهُ، فَلَمْ يُحَدِّثْنِي، وَقَالَ: سَمِعْتُهُ مُنْذُ زَمَانٍ وَلَا أَدْرِي مِمَّنْ سَمِعْتُهُ، وَلَا أَدْرِي أَسَمِعْتُهُ مِنْ ثَبْتٍ أَوْ لَا فَسَلُوا عَنْهُ.

ترجمه:د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ وو چې مونځ ئې نه کولو په ملاحفو زمونږ کښې. وئيلې دی حماد ما اوريدلی دی د ابن ابی صدقة نه هغه وئيلی دي ما تپوس وکړو د محمد نه د دغې حديث نو ماته ئې بيان نه کړو، او ويې وئيل ما اوريدلی دی د يوې زمانې نه، او زه نه پوهيږم چې د چانه مې اوريدلی دي، او زه نه پوهيږم چې ما د ثبت نه اوريدلی او که نه، تپوس وکړی د هغې په باره کښې د بل چانه.

تشريح سند :

قوله:﴿ قَالَ حَمَّادٌ وَسَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ أَبِي صَدَقَةَ الخ ﴾ دا حماد، حماد بن زيد او د سند په راويانو کښې دې هغوی چه پورته کوم سند بيان کړو هغه داسې دې ﴿ عَنْ هِشَامٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ عَائِشَةَ ﴾ حال دا چه د ابن سيرين رحمه الله د عائشې رضي الله عنها نه سماع ثابت نه ده دا خو د خپل بيان کړې شوی روايت منقطع کيدل بيانوی هغوی وائی ما د سعيد بن ابی صدقة نه واوريدل هغوی به وئيل چه ما د محمد بن سيرين نه ددې حديث په باره کښې تپوس کړې وو، خو هغوی ماته زما په سوال باندې حديث بيان نه کړو او عذر ئې ښکاره کړو چه ما دا حديث ډيره زمانه مخکښې اوريدلې وو خو اوس مې په ذهن کښې نشته چه د چا نه مې اوريدلې وو او د چا نه مې چه اوريدلې دې هغه ثقة هم دې او که نه؟

واضحه دې وی چه په دې سند کښې انقطاع د حماد بن زيد د طريق په اعتبار سره ده او ددې نه مخکښې سند کوم چه په غير د طريق د حماد نه دې هغه ددې انقطاع نه سالم او محفوظ دې په هغې کښې د محمد بن سرين او عائشې رضي الله عنها ترمينځه د عبدالله بن شقيق واسطه موجود ده کوم چه ثقة راوی دې، لهذا سند ثاني يعنی د حماد بن زيد د طريق انقطاع د سند اول په حق کښې موثر او قادح نه ده هغه په خپل ځائې محفوظ دې ځکه چه ظاهره ده چه محمد بن سرين باندې د سماع حديث څه موده پس نسيان راغلو په شروع کښې هغوی ته دا سند محفوظ وو نو کوم راوی چه دا سند متصلا ذکر کړې دې بغير د انقطاع نه نو د هغه روايت د شروع د زمانې شو لهذا د هغه قول به حجت وی په هغه سړی باندې کوم چه د هغوی نه روايت کوی په هغوی باندې د نسيان راتلو نه پس يعنی من حفظ عنه به حجت وی په من روی عنه بعد النسيان باندې (كذا في المنهل) او حضرت په بذل کښې د سند ثانی د لاندې کوم چه منقطع دې ليکلې دی ﴿ فلا يثبت هذا الحديث بهذا السند ﴾ او سند اول کوم چه سالم دې د انقطاع نه هغې سره حضرت هيڅ تعرض نه دې فرمائيلې.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٣) (صحيح)

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَٰلِكَ

باب دې په بيان د رخصت کې په ديکښې کې

[۳۶۹]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُبْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الشَّيْبَانِيِّ، سَمِعَهُ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ، يُحَدِّثُهُ، عَنْ مَيْمُونَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى وَعَلَيْهِ مِرْطٌ وَعَلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ مِنْهُ وَهِيَ حَائِضٌ وَهُوَ يُصَلِّي وَهُوَ عَلَيْهِ".

ترجمه:عبد الله بن شداد حديث بيانوی د ميمونې نه، بيشکه نبي ﷺ مونځ وکړو او په هغه باندې لوپټه وه او په بعضو بيبيانو د هغه باندې د هغې نه څه حصه وه او هغه حائضه وه، او هغه مونځ کولو او هغه وربانديې وو.

تشريح: **قوله**:﴿ قوله وَعَلَيْهِ مِرْطٌ وَعَلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ مِنْهُ ﴾ يعنی رسول الله ﷺ مونځ کولو په خوا کښې ورسره يو زوجه محترمه موجود وه، او په رسول الله ﷺ باندې څادر وو د هغې څه حصه د هغوی په بنځه باندې دپاسه وه.

په دې حديث کښې په يو څادر کښې د سړی او ښځې اشتراک په حالت د مانځه کښې خو ثابت شو ددې تصريح نشته چه هغه څادر خپله د هغوی وو يا که د هغوی د ښځې خو د ترجمې د ثبوت دپاره دا اشتراک کافی دې، خو ددې نه پس چه د عائشې ﷞ کوم حديث راروان دې د هغې مضمون هم دا دې په هغې کښې ددې خبرې تصريح ده چه هغه څادر د عائشې ﷞ وو.

[۳۷۰]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، حَدَّثَنَا طَلْحَةُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ وَأَنَا إِلَى جَنْبِهِ وَأَنَا حَائِضٌ وَعَلَيَّ مِرْطٌ لِي وَعَلَيْهِ بَعْضُهُ".

ترجمه:د عائشې ﷞ نه روايت دې، هغې ويلي دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو د شپې او زه د هغه په خوا کښې ومه، او زه حائضه وم او په ما باندې لوپټه وه زما او بعضې حصه ئې په هغه وه.

تشريح: **قوله**:په دې حديث سره په يو څادر کښې د سړی او ښځې اشتراک په حالت د مانځه کښې خو ثابت شو ددې تصريح نشته چه هغه څادر خپله د رسول الله ﷺ وو يا د هغوی د زوجې وو خو د ترجمې د ثبوت دپاره دا اشتراک کافی دې، خو ددې نه پس چه د عائشې ﷞ کوم حديث راروان دې د هغې مضمون هم دا دې او په هغې کښې ددې خبرې تصريح ده چه هغه څادر د عائشې ﷞ وو.

[۱]: سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۳۱ (۶۵۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۶۳)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحيض ۳۰ (۳۳۳)، صحيح مسلم/الصلاة ۵۲ (۵۱۹)، مسند احمد (۲۰۴/۶) (صحيح)

[۲]: صحيح مسلم/الصلاة ۵۲ (۵۱۴)، سنن النسائي/القبلة ۱۷ (۷۶۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۳۱ (۶۵۲)، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۰۴/۶) (صحيح)

بَابُ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ

باب دې په بيان کښې چې جامې ته ورسېږي

[٣٧١]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ، أَنَّهُ كَانَ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَاحْتَلَمَ، فَأَبْصَرَتْهُ جَارِيَةٌ لِعَائِشَةَ وَهُوَ يَغْسِلُ أَثَرَ الْجَنَابَةِ مِنْ ثَوْبِهِ أَوْ يَغْسِلُ ثَوْبَهُ، فَأَخْبَرَتْ عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: "لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَأَنَا أَفْرُكُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْأَعْمَشُ، كَمَا رَوَاهُ الْحَكَمُ.

ترجمه:د همام بن الحارث نه روايت دې، بيشکه هغه وو د عائشې ﷞ سره او محتلم شو، نو وليدلو يوې وينزې د عائشې او هغه وينځلو اثر د جنابت د خپلې جامې نه، او يايې وينځله خپله جامه، نو خبرې ورکړو عائشې ته، هغې وويل: ما ليدلې وو خپل ځان ما به ګروله دا د جامې د رسول الله ﷺ نه.

مضمون حديث:

قوله: ﴿ قوله عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ كَانَ عِنْدَ عَائِشَةَ – رضى الله عنها – فَاحْتَلَمَ الخ ﴾ همام بن الحارث ﷫ يو ځل د عائشې ﷞ کره ميلمه شو هغه ته په شپه کښې احتلام اوشو، چه سحر پاسيدو نو د کپړې نه ئې اثر د نجاست وينځلو، د عائشې ﷞ يوې وينځې په وينځلو باندې اوليدو هغه لاړه او عائشې ﷞ ته ئې ذکر اوکړو، دا روايت په ترمذى کښې هم دې او ددې نه معلوميږى چه دا ځادر د عائشې ﷞ وو او کله چه هغه وينځې هغې ته د ميلمه د وينځلو ذکر اوکړو نو هغې اوفرمائيل ﴿ لم افسد علينا ثوبنا ﴾ يعنى هسې ئې زمونږ کپړه خرابه کړه څه ضرورت وو د وينځلو مطلب دا وو چه د اوچيدلو نه پس به هسې هم ګرولې شوې وې.

[٣٧٢]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُصَلِّي فِيهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَافَقَهُ مُغِيرَةُ، وَأَبُو مَعْشَرٍ، وَوَاصِلٌ.

ترجمه:د عائشې نه روايت دې هغې ويلې دې: وم زه چې توروله مې منى د جامې د رسول الله ﷺ نه نو هغه به مونځ کولو په هغې کښې.

د طرق حديث د اختلاف تشريح او تحقيق:

تشريح: **قوله**:﴿ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَافَقَهُ مُغِيرَةُ وَأَبُو مَعْشَرٍ وَوَاصِلٌ ﴾ حديث الباب مصنف﷫ په دوه طرقو سره ذکر کړې دې په اول سند کښې د ابراهيم نه نقل کونکې حکم وو او په دويم سند کښې حماد بن ابى سليمان، خو په دواړو سندونو کښې فرق دا دې چه د حکم په روايت کښې دا وه چه ابراهيم روايت کوى د همام نه، او د حماد د روايت نه معلوميږى چه ابراهيم روايت کوى د اسود نه، هم ددې په باره کښې مصنف﷫ فرمائى چه بعض راويان د حماد

[١]: صحيح مسلم الطهارة ٣٢ (٢٨٨)، سنن الترمذي الطهارة ٨٥ (١١٦)، سنن النسائي الطهارة ١٨٨ (٢٩٨)، سنن ابن ماجه الطهارة ٨٢ (٥٣٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٦٧، ١٢٥، ١٣٥، ٢١٣، ٢٣٩، ٢٦٣، ٢٨٠) (صحيح)

[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٩٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٢٥، ١٣٢، ٢١٣) (صحيح)

موافقت او متابعت کوی، او هغوی هم دا درې پورته ذکر شوې کسان دی او اعمش د حکم موافقت کړې دې نو ګویا د حماد موافقت متابعت کونکې یو جماعت شو او د حکم متابعت کونکې صرف اعمش شو، په بذل کښې لیکلې دی چه دا سند په دواړو طریقو باندې صحیح او ثابت دې ځکه چه دا ټول راویان حفاظ او ثقات دی کوم چه په اضطراب باندې نه شی محمول کیدې پس د طحاوی په روایت کښې دی ﴿ عن ابراهیم عن الاسود وهمام﴾ او هم دا خبره صاحب منهل هم لیکلې ده، خو زه وایم چه د مصنفؒ په کلام کښې ددې خبرې اشاره ده چه هغوی د حکم د روایت په مقابله کښې د حماد روایت ته کیدې شی چه ترجیح ورکوی، ځکه چه هغوی د حماد متابعت کونکی درې بیان کړل او د حکم په متابعت کښې ئې صرف یو ذکر کړو.

په دې سلسله کښې د امام ترمذیؒ رائې :

او امام ترمذیؒ ددې برعکس کار کړې دې هغوی د اعمش [1] روایت ته ترجیح ورکړې ده د منصور د متابعت د وجې نه.

تنبیه : حدیث الباب په دې ټولو طرقو سره د کومو چه امام ابوداؤد حواله ورکړې ده په صحیح مسلم کښې موجود دې خو په هغې کښې د ضیف محتلم تعین نشته هم دغه شان د ترمذی روایت هم مبهم دې د ابوداؤد په روایت کښې تعین دې چه هغه همام بن الحارث وو، خو امام مسلمؒ ددې حدیث د ذکر کولو نه پس یو بل حدیث ذکر کړې دې چه د هغې مضمون دا دې چه عبدالله بن شهاب الخولانی وائی چه زه یو ځل د عائشیؓ کره میلمه اوم ﴿ فاحتلمت فی ثوبی ﴾، امام نوویؒ دې ته تعرض نه دې کړې، زمونږ حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه دا دواړه قصې بیلې بیلې دی یو د همام بن الحارث او یو د عبدالله بن شهاب الخولانی، دا دې تعارض اونګنړلې شی.

---

[1]) اصل کښې صورت حال دا دې چه امام ترمذیؒ ددې حدیث اولاتخریج په طریق د اعمش سره کړې دې او بیا ئې وراندې تلو سره فرمائیلې دی وهکذا روی عن منصور عن ابراهیم عن همام مثل روایة الاعمش ته او ددې دواړو د روایت په مقابله کښې هغوی صرف د ابومعشر د روایت حواله ورکړې ده او فرمائی وروی ابومشعر هذا الحدیث عن ابراهیم عن الاسود او د ابومعشر ئې څوک هم متابع نه دې ذکر کړې، لهذا د امام ترمذیؒ د علم په اعتبار سره ابومعشر په خپل روایت کښې متفرد شو هم په دې وجه هغوی د ابومعشر روایت ته مرجوح او د هغې مقابل د اعمش روایت ته راجح وئیلې دې، پس فرمائی وحدیث الاعمش اصح لهذا د امام ترمذیؒ د ترجیح د پورته صورت حال په اعتبار سره زمونږ په خیال کښې صحیح ده خو شارحین د ترمذی په دې باندې نقد کوی چه امام ترمذیؒ حدیث الاعمش ته ځنکه اصح اووئیلو. خو زمونږ د پورته تقریر نه دا خبره واضحیږی چه په امام ترمذیؒ باندې نقد صحیح نه دې اګر چه دا خبره فی نفسه په خپل ځائې باندې محقق ده چه په دې دواړو کښې د هر یو متابع په صحیح مسلم او ابوداؤد وغیره کښې موجود دی چه د هغې مقتضی دا ده چه دواړو طریقو ته صحیح اووئیلې شی. کما تقدم من البذل)

(زه دخپلې دې رائې نه رجوع کوم بلکه نقد صحیح دې دامام ترمذی دطرف نه دا عذر پیش کول چه هغه دخپل علم په اعتبار سره فرمائی، مانع عن النقد نه دې، ځکه چه هرعالم کوم څه وائی دخپل علم په اعتبار سره ئې وائی ګنی نو بیا به د تنقید باب مغلق شی. فقط ۱۲۱۸ھ)

[۳۷۲]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ حِسَابٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمٌ يَعْنِي ابْنَ أَخْضَرَ، الْمَعْنَى وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِ سُلَيْمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ يَسَارٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ، تَقُولُ: "إِنَّهَا كَانَتْ تَغْسِلُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: ثُمَّ أَرَى فِيهِ بُقْعَةً أَوْ بُقَعًا".

ترجمه:عائشې ﷺ ويلي دي: بيشکه هغه وه چي وينځل به ئي مني د جامي د رسول الله ﷺ نه. هغې ويلي دي: بيا به ما ليدل په هغې کښي ټاکي او يا ټاکي.

تشريح: **قوله**:﴿ قوله سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ إِنَّهَا كَانَتْ تَغْسِلُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم ﴾ يعني سيده عائشه ﷺ فرمائي چه ما به د رسول الله ﷺ د کپړې نه مني وينځله، او په هغه کپړه کښې به مې يو يا دوه د وينځلو نخښې ليدلې، ظاهره ده چه کله د يوې کپړې څه حصه وينځلې شي نو کوم ځائې چه وينځلې شوې دې هغه ځائې به محسوسيږي ترڅو چه اوچه شوې نه وي اوس که ئې کپړه د يوځائې نه وينځلې وي نو صرف يو نخښه به ئې ښکاره کيږي او که د ډيرو ځايونو نه ئې وينځلې وي نو ډيرې نخښې به ئې محسوسيږي، هغوی هم دا بيانوی چه ﴿ ثُمَّ أَرَى فِيهِ بُقْعَةً أَوْ بُقَعًا ﴾

د مني په طهارت او نجاست کښې د فريقينو دلائل:

ځان پوهه کړه چه په دې حديث او ترجمة الباب کښې د يوې مسئلې اختلافي بحث دې يعنې د منيْ د طهارت او د نجاست اصل مسئله مخکښې تيره شوه خو په دلائلو باندې کلام تراوسه پورې نه دې شوې، کوم حضرات چه د نجاست د مني قائل دی هغوی د غسل د رواياتو نه استدلال کوی او کوم چه د طهارت قائل دی هغوی د روايات فرک نه استدلال کوی، ځکه چه د ثوب مني په باره کښې د غسل او فرک دواړه قسم روايات په کثرت سره راغلي دی هم په دې وجه حضرات محدثين د باب غسل المني او د باب فرک المني بيل بيل بابونه قائموی لکه چه په نسائي وغيره کښې دا ابواب دی، قائلين د طهارت په دې دواړه قسم روايتونو کښې تطبيق داسې کوی چه د غسل روايات په استحباب او تنظيف باندې محمول دی او د فرک په بيان جواز باندې، او د قائلين نجاست د غسل روايات په مني رطب او د فرک روايات په يابس باندې محمول کوی، ځکه چه د هغوی په نزد د طهارت ثوب دپاره د مني ازاله ضروری ده، که تر وی نو په ذريعه د غسل او که اوچه وی نو په طريقه د فرک، ځکه چه د رسول الله ﷺ نه د هغوی په عمر مبارک کښې يو ځل هم نه دی ثابت چه هغوی د منيْ سره بغير د هغې د غسل يا د فرک نه مونځ کړې وی که مني پاکه وې نو کم از کم يو ځل خو به رسول الله ﷺ د بيان جواز دپاره داسې کړې وې، باقي د شوافعو د روايات فرک نه استدلال صحيح نه دې ځکه چه فرک هم د تطهير يو طريقه ده

(): صحيح البخاري/الوضوء ٦٤ (٢٢٩)، ٦٥ (٢٣٢)، صحيح مسلم/الطهارة ٣٢ (٢٨٩)، سنن الترمذي/الطهارة ٨٦ (١١٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٨٧ (٢٩٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٨١ (٥٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٦١٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٢/٦، ٢٣٥) (صحيح)

لکه چه په روایت کښې راځي ﴿ اذا وطئ احدکم بنعله الاذی فان التراب له طهور ﴾ ([1]) څنګه چه په دې حدیث کښې د وطی اذی نه پس حصول طهارت بالتراب نه په طهارت د اذی باندې استدلال صحیح نه دې هم دغه شان د روایات فرک نه په طهارت د منی باندې استدلال صحیح نه دې ځکه چه په دواړو ځایونو کښې غسل نشته یو ځائې کښې فرک دې او بل ځائې کښې په زمکه پورې راښکل دی.

ابوالفضل ابن حجر او ابو جعفر طحاوی رحمهما الله :

امام طحاوی رحمه الله په شرح معاني الاثار کښې د غسل او فرک روایاتو ته یو بل سره داسې تطبیق ورکړې دې، هغه دا چه د غسل روایات په ثیاب صلوة باندې محمول دی او د فرک ثیاب په نوم باندې، په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله په امام طحاوی رحمه الله باندې زوردار نقد کړې دې چه ثوب صلوة هم په فرک او روایات صحیحه سره ثابت دې، خو ددې جواب دا دې چه ماشاء الله حافظ ابن حجر رحمه الله ډیر مصروف او مشغول سړې وو هغوی ته د امام طحاوی رحمه الله د طویل او عریض پوره کلام لوستلو موقع غالبا نه وه ملاؤ شوې، د امام طحاوی رحمه الله عادت دې چه هغوی خپل مقصد او مدعی په تدریج سره ثابتوی، ډیر کرته کلام کولو کولو سره ډیر لرې اوځی او د باب په آخر کښې د هغوی د رائې استقرار معلومیږی، په دې وجه د هغوی د کلام د ابتداء نه بعض وخت کتونکو ته دهوکه راشی پس په ﴿ باب مباشرة الحائض ﴾ کښې هم حافظ رحمه الله هم دغه دهوکه خوړلې ده هغوی په دغه باب کښې د امام طحاوی رحمه الله اول کلام لیدلو سره دا اوګڼرله چه په دې مسئله کښې امام طحاوی رحمه الله د امام محمد رحمه الله قول ته ترجیح ورکوی حال دا چه داسې نه ده د امام طحاوی رحمه الله د آخری کلام نه معلومیږی چه هغوی د امام صاحب قول ته ترجیح وَرکړې ده لکه چه مونږ سره په باب مباشرة الحائض کښې ددې تفصیل تیر شوې دې، هم دغه شان په مسئلة الباب کښې امام طحاوی رحمه الله اولا د ثیاب صلوة او د ثیاب نوم ترمینځه فرق ذکر کړې دې، بیا ئې وړاندې تلو سره خپله خبره پرانستلې ده چه د بعض روایاتو نه په ثیاب صلوة کښې هم فرک ثابت دې.

د امام طحاوی رحمه الله د رائې ماحصل :

د امام طحاوی رحمه الله د کلام خلاصه دا ده چه هغوی فرمائی د قائلین طهارت منی د روایات فرک نه استدلال صحیح نه دې اولا خو په دې وجه چه په روایات صحیحه شهیره کښې د فرک ثبوت په ثیاب صلوة کښې نشته، په ثیاب نوم کښې دې او په حالت د نوم کښې ناپاک کپړه اغوستل جائز دی بیا وړاندې تلو سره فرمائی چه که اومنلې شی چه د فرک ثبوت په ثیاب صلوة کښې هم دې او فی الواقع په بعض روایاتو کښې دې هم، نو بیا به مونږ وایو چه د فرک منی نه په طهارت د منی باندې استدلال صحیح نه دې ځکه چه فرک هم د ازالة نجاست یو طریقه ده لکه چه ﴿ اذا وطئ احدکم بنعله الاذی الحدیث ﴾ نه په طهارت اذی باندې استدلال نه شی کیدې، هم دغه شان د فرک منی نه په طهارت د منی باندې استدلال

[1] ددې حدیث تشریح په باب الرجل یطأ الأذي بنعله کښې راروانه ده.

نه شي کیدې پس حافظ ابن حجر رحمه الله د امام طحاوی رحمه الله صرف اول کلام اولیدلو او آخر کلام ئې نه دې لیدلې چه حافظ صاحب د امام طحاوی رحمه الله د کلام هغه جزء خو واخستلو کوم چه د هغوی په نزد قابل نقد وو او کوم جزء چه رافع د نقد وو هغه ئې پریخودلو، په اصل کښې خبره هم هغه صحیح ښکاره کیږی کومه چه مونږ پورته اوونیله چه د امام طحاوی رحمه الله خو عادت دې د کلام خوږولو او په تدریج سره منزل مقصود ته د رسیدلو او حافظ صاحب د هغوی صرف اول کلام گوری.

دویمه خبره دا ده چه د ثیاب صلوة او ثیاب منام کوم فرق چه امام طحاوی رحمه الله بیان کړې دې هغه بعض مالکیانو مثلا ابن بطال مالکی او قاضی ابوبکر بن العربی هم اختیار کړې دې لکه چه په الفیض السمائی کښې مونږ نقل کړې دې لهذا امام طحاوی رحمه الله په دې رائې کښې متفرد نه شو.

باب بَوْلِ الصَّبِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ

باب دې په بیان د بولو د ماشوم ککې چې جامې ته ورسيږي

کومه مسئله چه مصنف رحمه الله د دې ترجمې نه ثابتول غواړی یعنی د صبی رضیع او د جاریة رضیعه د بول په طریق د تطهیر فرق، هغه مختلف فیه دې.

مذاهب ائمة :

(د ماشوم هلک او جینۍ د متیازو په تطهیر کښې فرق)

پس شوافع او حنابله د ظاهر احادیث د وجې نه فرمائی چه په بول صبی کښې نضح یعنی رش الماء کافی دې او د احنافو او د مالکیانو په قول مشهور کښې په دواړو کښې هیڅ فرق نشته غسل ضروری دې، دریم مذهب دلته د امام اوزاعی دې هغوی فرمائی په دواړو کښې نضح کافی دہ، ولکن لا دلیل علیه، وهذا الاختلاف مالم یطعم فاذا طعم فالغسل متعین عند الکل، هم دغه شان خپله بول صبی او صبیه دواړه د ائمة اربعه په نزد نجس دی، داؤد ظاهری او ابوثور وغیره بعض علماء د بول صبی د طهارت قائل دی، او بعض شارحینو چه په دې کښې د امام شافعی او امام مالک کوم اختلاف نقل کړې دې د هغوی په نزد بول صبی طاهر دې دا نقل غلط دې امام نووی او علامه زرقانی د دې تصریح کړې ده.

احنافو او مالکیان کوم چه د عدم الفرق قائل دی هغوی وائی چه په دې حدیث کښې د لفظ نضح نه مراد غسل او صب الماء دې د نضح معنی د صب الماء راځی پس په یو روایت کښې دی کوم چه امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار کښې ذکر کړې دې (انی لاعرف مدینة ینضح البحر بناحیتها) په دې حدیث کښې د نضح نه مراد بهیدل دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زه یو داسې ښهر پیژنم چه د هغې په یو طرف کښې دریاب بهیږی، وئیلې شوې دی چه دا اشاره ده د قسطنطنیه طرف ته، هم دغه شان د مذی په باره کښې هم لفظ د نضح راغلې دې حال دا چه عند الجمهور د هغې غسل ضروری دې هم دغه شان د دم استحاضه په باره کښې لفظ د نضح مذکور دې کوم چه اوس نزدې دوه درې بابونه مخکښې تیر شو (ولتنضح ما لم تر) حال دا چه د دم حیض غسل بالاتفاق ضروری دې، بلکه

دا چه په صحیح مسلم کښې د بول غلام د تطهیر په سلسله کښې څلور قسمه الفاظ راغلې دی، النضح، الرش، الصب، اتباع الماء، په ټولو روایاتو باندې به عمل هله اوکړې شی چه کله غسل اوموندلې شی

بول صبی او بول صبیة کښې وجه د فرق:

اوس دلته یو سوال پیدا کیږی هغه دا چه هر کله په دواړو کښې غسل ضروری دې او د نضح نه هم مراد غسل دې نو بیا په احادیثو کښې هر یو د بیل بیل فرق سره ولې بیان کړې شوې دی ددې څه وجه ده؟ احناف شارحینو ددې دوه مصلحتونه لیکلې دی، ملا علی قاری رحمه الله لیکی چه د زنانو په مزاج کښې رطوبت او برودت غالب وی چه د هغې په وجه باندې بول صبیة غلیظ او منتن زیاتې وی لهذا ددې ازالې دپاره د مبالغة فی الغسل اجازت دې په خلاف د صبی نه چه د هغه د مزاج د حرارت د وجې نه د هغه بول رقیق زائد وی او په هغې کښې نه دومره بوئې وی لهذا د هغې د ازالې دپاره غسل خفیف کافی دې، او امام طحاوی رحمه الله وجه د فرق دا لیکلې ده چه د زنانه د بولو مخرج چونکه فراخه دې په دې وجه د هغې متیازې چه په کومه کپړه باندې هم غورځیږی نو منتشر کیدو سره به غورځیږی، لهذا ضرورت دې ددې خبرې چه په ښه طریقې سره تتبع کولو باندې په اهتمام سره پاک کړې شی څکه چه په بول جاریة کښې غسل استعمال کړې شوې دې او په بول غلام کښې لفظ نضح، دریمه وجه هغه ده کومه چه د ابن ماجه په روایت کښې ده د امام شافعی رحمه الله نه د هغوی شاګرد رشید ابوالیمان المصری ددې فرق حکمت اوتپوسلو نو هغوی ارشاد اوفرمائیلو وجه ددې دا ده چه بول جاریة پیدا شوې دی د لحم او دم نه او بول د غلام د ماء او طین نه لهذا د دواړو د متیازو د صفت او خاصیت د فرق د وجې نه په حکم کښې هم فرق شو، ددې نه پس امام صاحب د شاګرد نه تپوس اوکړو فهمت؟ شاګرد عرض اوکړو ما فهمتُ. امام صاحب رحمه الله اوفرمائیل خبره دا ده چه د آدم علیه السلام تخلیق د خاورې نه شوې دې او د حوا علیها السلام تخلیق د ادم علیه السلام د پښتئ نه شوې دې، لهذا د بول غلام تخلیق د ماء اوطین نه او د بول انثی د لحم او دم نه شوې دې

[٣٧٤] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ، "أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَجْلَسَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حِجْرِهِ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ".

ترجمه: د ام قیس بنت محصن نه روایت دې، بیشکه هغې راوستلو یو ماشوم د هغې سره چې خوراک ئې نه کولو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته، نو هغه کینولو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله غیږ کښې نو متیازې ئې وکړې په جامه د هغه، نو راویې غوښتلې اوبه نو چنړکاو ئې کړی او ویې نه وینځلو.

(١): صحیح البخاري/الوضوء ٥٩ (٢٢٣)، والطب ١٠ (٥٦٩٣)، صحیح مسلم/الطهارة ٣١ (٢٨٧)، سنن الترمذي/الطهارة ٥٤ (٧١)، سنن النسائي/الطهارة ١٨٩ (٣٠٣)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٧ (٥٢٤)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٤٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ٣٠(١١٠)، مسند احمد (٦/٣٥٥، ٣٥٦)، سنن الدارمي/الطهارة ٦٢ (٧٦٧) (صحیح)

تشريح: قوله: ﴿ قوله عَنْ أَمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ الخ ﴾ په دې کښې دا ده چه د ام قيس بنت محصن رضي الله عنها ولد صغير د رسول الله ﷺ په جامو باندې متيازې اوکړې او د هغې نه په وړاندې روايت کښې راځي چه حسين بن علي رضي الله عنهما د هغوی په غېږ کښې متيازې اوکړې او د هغې نه په وړاندې روايت کښې د راوی د شک سره راځي چه حسن يا حسين په دې دواړو کښې يو کس د هغوی په سينه مبارکه باندې متيازې اوکړې، د حديث شارحينو ليکلې دی د پنځو ماشومانو د رسول الله ﷺ په غېږ کښې متيازې کول ثابت دی، حسن، حسين، عبدالله بن الزبير، ابن ام قيس، سليمان بن هشام او وئيلې شوې دی چه صحيح سليمان بن هاشم دې رضي الله عنهم

قد بال في حجر النبي اطفال :: حسن حسين ابن الزبير بالوا
و كذا سليمان بن هشام :: وابن ام قيس جاء في الختام

(د احنافو په مسلک باندې اشکال)

﴿ قوله: فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ ﴾ په دې حديث کښې د غسل نفی ده، لهذا معلومه شوه چه په احاديث الباب کښې د نضح نه مراد رش دې صب الماء يا غسل مراد نه دې، لهذا د احنافو تاويل صحيح نه دې، جواب دا دې چه ددې لفظ ﴿ ولم يغسله ﴾ په ثبوت کښې کلام دې چه د زهری د طرف نه مدرج دې، دويم جواب دا دې چه د مسلم په يو روايت کښې دی ﴿ ولم يغسله غسلا ﴾ او مفعول مطلق د تاکيد دپاره هم راځي لهذا په روايت کښې د نفس غسل نفی اونشوه بلکه د غسل موکد او د مبالغ فيه نفی ده.

(د امام طحاوی د طرفه عقلی دليل)

امام طحاوی رحمه الله فرمائی د نظر عقل تقاضه هم دا ده چه په دواړو کښې فرق نه دی کيدل پکار، په دې وجه په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه د اکل طعام نه پس د غلام او جارية د دواړو متيازې يو شان دی پس د قياس تقاضه دا ده چه ددې نه مخکښې هم يو شان کيدل پکار دی.

[٣٧٥]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، وَالرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوبةَ المعنى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ قَابُوسَ، عَنْ لُبَابَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ، قَالَتْ: كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حِجْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَالَ عَلَيْهِ، فَقُلْتُ: الْبَسْ ثَوْبًا وَأَعْطِنِي إِزَارَكَ حَتَّى أَغْسِلَهُ، قَالَ: "إِنَّمَا يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْأُنْثَى، وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الذَّكَرِ".

ترجمه: د لبابة بنت الحارث نه روايت دې هغې ويلی دي. وو حسن بن علی رضي الله عنهما په غېږ د رسول الله ﷺ کښې، نو متيازی ئې وکړی په هغه باندې، نو ما وويل: بله جامه واغونده او راکړه ماته ستا دا لنګ چې زه ئې وينځم، هغه وويل: بيشکه وينځلی به شی د بولو د جينئ نه او چنړکاو کولی به شی د بولو د هلک نه.

(): سنن ابن ماجه /الطهارة ٧٧ (٥٢٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣٩) (حسن صحيح)

[٣٧٦]()حَدَّثَنَا مُجَاهِدُ بْنُ مُوسَى، وَعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ الْعَنْبَرِيُّ المعنى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ الْوَلِيدِ، حَدَّثَنِي مُحِلُّ بْنُ خَلِيفَةَ، حَدَّثَنِي أَبُو السَّمْحِ، قَالَ: كُنْتُ أَخْدِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَغْتَسِلَ قَالَ: وَلِّنِي قَفَاكَ، فَأُوَلِّيهِ قَفَايَ فَأَسْتُرُهُ بِهِ، فَأُتِيَ بِحَسَنٍ، أَوْ حُسَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَبَالَ عَلَى صَدْرِهِ، فَجِئْتُ أَغْسِلُهُ، فَقَالَ: "يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْجَارِيَةِ، وَيُرَشُّ مِنْ بَوْلِ الْغُلَامِ"، قَالَ عَبَّاسٌ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْوَلِيدِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ أَبُو الزَّعْرَاءِ، قَالَ هَارُونُ بْنُ تَمِيمٍ عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: الْأَبْوَالُ كُلُّهَا سَوَاءٌ.

ترجمه: ابو السمح ویلی دي: وم زه چې خدمت مې کولو د نبي ﷺ، وو هغه کله چې به ئې اراده وکړه چې غسل وکړی نو وبه ئې وئیل: راوګرځوه ماته خپل څټ. نو ما به ورته څټ وارولو ما به پټ کړو په هغې، پس راوړی شو حسن او حسین ﷠ نو متیازی ئې وکړی په سينه د هغه، زه راغلم چې ويې وينځم نو هغه وويل: وينځلی به شی د متيازو د جينۍ نه، او اوبه به شيندلي شي په متيازو د هلک. وئيلی دی عباس: مونږ ته حديث بيان کړې دې يحيى بن الوليد. وئيلی دی ابوداود: او هغه ابو الزعراء دې، وئيلی دی هارون بن تميم د حسن نه، هغه وايي: متيازې ټولې برابرې دي.

[٣٧٧]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي حَرْبِ بْنِ أَبِي الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْجَارِيَةِ، وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الْغُلَامِ مَا لَمْ يَطْعَمْ".

ترجمه: د علی ﷛ نه روايت دې هغه وايي: وينځلی به شي د متيازو د جينۍ نه او پوګنه به کولی شي د متيازو د هلک نه ترکومه ئې چې خوراک نه وی شروع کړی.

[٣٧٨]()حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي حَرْبِ بْنِ أَبِي الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا لَمْ يَطْعَمْ زَادَ، قَالَ قَتَادَةُ: هَذَا مَا لَمْ يَطْعَمَا الطَّعَامَ، فَإِذَا طَعِمَا غُسِلَا جَمِيعًا.

ترجمه: د علی بن ابی طالب ﷛ نه روايت دې، بيشکه نبي ﷺ فرمائيلی دي: نو ذکر ئې کړه پشان د هغې، الا ذکر ئې نه کړه (مَا لَمْ يَطْعَمْ) وئيلی دی قتادة: دا هله چې نه خوری طعام، کله چې خوراک کوی نو دواړه به وينځلی شي.

[٣٧٩]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أُمِّهِ، أَنَّهَا أَبْصَرَتْ أُمَّ سَلَمَةَ تَصُبُّ الْمَاءَ عَلَى بَوْلِ الْغُلَامِ مَا لَمْ يَطْعَمْ، فَإِذَا طَعِمَ غَسَلَتْهُ، وَكَانَتْ تَغْسِلُ بَوْلَ الْجَارِيَةِ".

ترجمه: حسن بصری د خپلې مور نه روايت کوی چې هغې ام سلمة وليده. چې اوبه ئې اړولې په متيازو د هلک ترکومه ئې چې خوراک نه کوي، کله چې خوراک کوی نو وينځلو به يې، او وه چې وينځلی به ئې متيازې د جينۍ (په دواړو صورتونو کښې).

[1]: سنن النسائي/الطهارة ١٩٠ (٣٠٥)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٧ (٥٢٦)، ١١٣(٦١٣)(تحفة الأشراف: ١٢٠٥١) (صحيح)
[2]: سنن الترمذي/الصلاة ٣١٣ (٦١٠)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٧ (٥٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٠١٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٩٧/١)، (صحيح)
[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠١٣١) (صحيح)
[4]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٨٢٥٦) (صحيح)

باب الأرض يُصِيبُهَا البَوْل

باب دې په بيان د زمکې چې بولي ورته ورسيږي

په دې باب سره مصنف رحمه الله د ناپاکې زمکې د پاکولو طريقه بيانوي.

د تطهير ارض د طرقو تفصيل سره د علماء کرامو د اختلاف نه:

د احنافو په نزد د زمکې د پاکولو درې طريقې دي، اول جفاف، يعنې ناپاکه زمکه په اوچيدو سره خپله پاکيږي، خو په جفاف سره طهارت کامله نه حاصليږي يعنې طاهر کيږي خو مطهر نه وي هم په دې وجه په داسې زمکه باندې مونځ خو کولې شي خو تيمم ترې نه نه شي کولې، طريق ثاني صب الماء چه په زمکه باندې اوبه بهيولو سره هغه پاکه شي خو هر قسمه زمکه په صب الماء سره نه پاکيږي په دې کښې تفصيل دې کوم چه به وړاندې راشي، طريق ثالث د زمکې د پاکولو حفر دې چه زمکه په کنستلو او د ناپاکې خاورې په منتقل کولو سره پاکيږي.

د زمکې په صب الماء سره د پاکيدلو تفصيل دا دې چه زمکه به د دوه حالو نه خالي نه وي، رخوة او صلبة، که رخوة وي نو په اوبه بهيولو سره پاکيږي په وجه د تسفل ماء چه د زمکې د رخوة او نرم کيدو د وجې نه په اوبو سره نجاست ختميږي چه په هغې سره به د هغې پورته حصه پاکه شي، تسفل ماء دلته په منزله د عصر دې، چه څنګه د ناپاکې کپړې د پاکولو په وخت نچوړ کول ضروري دي هم دغه شان دلته تسفل دې کوم چه پخپله کيږي، او که هغه ناپاکه زمکه رخوه نه وي بلکه صلبه او بنجر وي نو بيا ددې دوه صورتونه دي، منحدرة يعنې لوړه ژوره او مستوية يعنې برابره قسم اول په صب الماء سره پاکيږي او د قسم ثاني د تطهير دپاره حفر او نقل تراب ضروري دې داسې زمکه به په صب الماء سره نه پاکيږي څکه چه په داسې زمکه باندې د اوبو بهيدل ګران دي هغه نجاست به هم هلته ولاړ وي يا به کم از کم پوره نه زائل کيږي دا تفصيل هم دغه شان علامه عيني رحمه الله په شرح د بخاري کښې ليکلې دې، او صاحب د بحر الرائق د زمکې يو بل قسم هم ليکلې دې يعنې مجصصه پوخ فرش کوم چه د چونې وغيره نه جوړ وي، ددې تطهير طريقه هغوي دا ليکلې ده چه په دې باندې اوبه واچوئ او دا اومږئ او په کپړه سره ئې اوچه کړئ تردې چه د نجاست اثر زائل شي او د جمهور علماء کرامو په نزد هر قسم زمکه بغير د څه تفصيل نه په صب الماء سره پاکيږي د هغوي په نزد په يوه زمکه کښې هم د حفر حاجت نشته او د احنافو په نزد د بعض زمکو حفر ضروري دې، هم دغه شان جمهور په جفاف سره هم د طهارت د حصول قائل نه دي، او په حديث الباب کښې صب الماء مذکور دې ددې نه استدلال کوي، بلکه امام نووي رحمه الله دا هم ليکلې دي چه دا حديث په امام ابوحنيفه رحمه الله باندې حجت دې او د هغوي خلاف دې څکه چه د هغوي په نزد حفر ضروري دې خو دا د امام صاحب نه يو روايت دې حکاه العيني في شرح البخاري قول مختار نه دې، اصح دا ده چه په دې کښې زمونږ په نزد هغه تفصيل دې کوم چه پورته ذکر شو، پس عيني په شروع کښې دا تفصيل په قال اصحابنا سره ذکر کړې دې.

د سنن په رواياتو سره د حفر ثبوت:

د دې نه پس خان پوهه کړه چه د بول اعرابي والا قصه کښې د صحيحين په حديث کښې د زمکې د پاکولو دپاره صرف د صب الماء ذکر دی، د صحيحين نه علاوه د سنن ابوداؤد په روايت کښې کوم چه هم ددې باب په بل حديث کښې دې، د حفر هم ذکر موجود دې، هم دغه شان طحاوی او دارقطنی کښې هم په بعض رواياتو کښې د حفر ذکر دې، په دې رواياتو کښې بعض مرسل دی او بعض مسند ددې رواياتو په بعض راويانو باندې کلام هم دې، په احنافو باندې شوافع الزام لګوی چه هغوی د صحيحين قوی حديث پريږدی او په دې ضعيف حديث باندې عمل کوی، زمونږ د طرف نه علامه عينیؒ وغيره جواب کړې دې چه مونږ د صحيحين روايت کله ترک کړې دې، د زمکې په بعض حصو کښې د صحيحين په روايت باندې عَمل کوو او په بعض کښې د سنن په روايت باندې، تاسو صرف د صب الماء روايت اخستلې دې او د حفر روايت مو ترک کړې دې، ګويا تاسو د اعمال البعض او د احمال البعض مرتکب شوې.

خو دلته يو اشکال پاتې کيږی چه د سنن په دې رواياتو کښې کوم چه احناف اختياروی صب الماء او حفر الارض دواړه ځيزونه کښې جمع دی نو بيا زمونږ په نزد ددې دواړو ځيزونو جمع کول ضروری کيدل پکار دی خو ددې جواب دا کيدې شی چه دې اعرابي چونکه بول قائما کړې وو نو د اصل متيازو خائې خو حفر کړې شو خو رشاش البول کوم چه به ظاهره ده لرې رسيدلې وی اوس ظاهره ده چه د ټول خائې کنستل ګران وو په دې وجه ددې مواضع په اعتبار سره صب الماء هم اختيار کړې شو، افاد هذا التوجيه مولانا محمد يوسفؒ فی امانی الاحبار.

[٣٨٠]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَابْنُ عَبْدَةَ، فِي آخَرِينَ وهذا لفظ ابن عبدة، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فَصَلَّى، قَالَ ابْنُ عَبْدَةَ: رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا، وَلَا تَرْحَمْ مَعَنَا أَحَدًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقَدْ تَحَجَّرْتَ وَاسِعًا، ثُمَّ لَمْ يَلْبَثْ أَنْ بَالَ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَأَسْرَعَ النَّاسُ إِلَيْهِ، فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "إِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ، صُبُّوا عَلَيْهِ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ، أَوْ قَالَ: ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ".

ترجمه: د ابو هريره ؓ نه روايت دې، چې يو باندچی راغې مسجد ته او رسول الله ﷺ ناست وو نو مونځ ئې وکړو. وئيلی دی ابن عبدة: دوه رکعاته، بيا ئې ووېل: اې الله رحم وکړی په ما باندې او په محمد باندې او رحم مه کوه په هيڅ کس زمونږ سره چې کوم دې، نو نبی ﷺ ووېل: يقينا تا راتنګ کړو فراخه رحمت د الله تعالی، بيا وخت تېر نه شو چې متيازې ئې وکړې په يو طرف د مسجد کښې نو خلقو جلتې وکړه د هغه طرف ته، نبی ﷺ هغوی منع کړل او وې وئيل: بيشکه تاسو لېږلی شوی ئې آسانی کونکې، او نه ئې ياستئ لېږلی شوی

() سنن الترمذي/الطهارة ١١٢ (١٤٧)، سنن النسائي/الطهارة ٤٥ (٥٦)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٧٨ (٥٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٣١٣٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٥٨ (٢٢٠)، صحيح مسلم/الطهارة (٢٧٤، ٢٧٥)، مسند احمد (٢/٢٣٩، ٥٠٣) (صحيح)

سختی کونکي، واړوئ په دې باندې يوه بوکه د اوبو. او يا يې وويل (ذنوبا من ماء).

تشریح: قوله:(قوله عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ أَعْرَابِيًّا دَخَلَ الْمَسْجِدَ) د اعرابی اطلاق په ساکن البادية يعني باندچی، د آبادئ نه په لرې اوسيدونکی باندې کيږی کوم چه ښهر ته د څه ضرورت د وجې نه راځی او ددې ترجمة په (باندچی) کلی وال سره هم کولې شی.

د اعرابی په تعيين کښې اقوال:

د دې اعرابی په تعين او تسمية کښې اقوال مختلف دی، الاقرع بن حابس، عيينة بن حصن، ذوالخويصرة اليمانی يا التميمی دا درې اقوال شو کوم چه عام طور سره شراح حديث ليکی، خو علامه دمنتی په حاشية د ترمذی نفع قوة المغتدی کښې ليکی چه په ذوالخويصرة سره ددې تعين ګران دې ځکه چه هغه سرې راس الخَوَارِج شوې دې او ښکاره خبره ده چه د يو جماعت سردار داسې جاهل او کم عقل نه شی کيدې.

قوله:(لَقَدْ تَحَجَّرْتَ وَاسِعًا) د الله بنده تا خو د الله پاک وسيع رحمت راتنګ کړو د هغه رحمت خو ډير وسيع دې، هغه دا دعاء چه يا الله ما او محمد ﷺ نه علاوه په چا باندې هم رحم مه کوه په ظاهر کښې ددې دپاره کړې وه چه که الله پاک خپل رحمت عام کړی نو د هر يو په حصه کښې به لږ لږ راځی په دې وجه اووې چه خپل ټول رحمت صرف په مونږ دواړو باندې تقسيم کړه

قوله:(قوله وَقَالَ « إِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ) صحابه کرامو ﷺ چه کله هغوی سره د هغه په بولو کولو باندې د سختئ اراده اوکړه نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د يسر معامله کوئ نه د عسر، دلته دا سوال واردېږی چه صحابه کرام چرته مبعوث شوې دی، مبعوث خو رسول الله ﷺ وو، جواب دا دې چه صحابه کرام ﷺ اګر چه مبعوث نه وو خو نائب مبعوث او حق نيابت ادا کونکی خو دی پس هم په دې حيثيت سره هغوی ته مبعوث ونيلې شوې دی يا دې دا تاويل اوکړې شی چه دا صحابه کرام ﷺ چا چه دې اعرابی سره د سختئ معامله کړې وه دا به يو سرية او دسته وه کومه چه به رسول الله ﷺ يو علاقې ته ليږلې وی او اهل سرية به هم هغه وخت واپس شوې وی، او د رسول الله ﷺ عادت شريفه وو چه يو سرية به ئې روانوله نو هغوی ته به ئې هدايت فرمائيلو (يسروا ولا تعسروا) نو دلته هغوی ته مبعوث هم په دې معنی ونيلې شوې دی يعنی د بعث نه مراد بعث الی الدنيا نه دې بلکه الی ناحية وجانب دې کوم چه د سرايا دپاره وی

[٣٨١]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ يَعْنِي ابْنَ حَازِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الْمَلِكِ يَعْنِي ابْنَ عُمَيْرٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْقِلِ بْنِ مُقَرِّنٍ، قَالَ: صَلَّى أَعْرَابِيٌّ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ فِيهِ: وَقَالَ: يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، خُذُوا مَا بَالَ عَلَيْهِ مِنَ التُّرَابِ فَأَلْقُوهُ وَأَهْرِيقُوا عَلَى مَكَانِهِ مَاءً، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ مُرْسَلٌ، ابْنُ مَعْقِلٍ لَمْ يُدْرِكِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د عبد الله بن معقل بن مقرن نه روايت دې هغه ونيلی دي: مونږ وکړو يو اعرابی د

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٩٤٤) (صحيح)

نبي ﷺ سره، په دې قصې سره، هغه ونيلي دي په هغې کښې او وويل نبي ﷺ واخلئ هغه خاوره چې متيازې پرې کړې دي ويې غورځوئ، او د هغې په ځائې باندې اوبه واروئ. ونيلي دي ابوداود: اودا روايت مرسل دابن معقل دی نبي ﷺ ئې نه دی موندلی.

بَابٌ فِي طُهُورِ الْأَرْضِ إِذَا يَبِسَتْ

باب دې په بيان د صفايۍ د ځمکه کې کله چې اوچه شي

[٣٨٢]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عُمَرَ: "كُنْتُ أَبِيتُ فِي الْمَسْجِدِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُنْتُ فَتًى شَابًّا عَزَبًا، وَكَانَتِ الْكِلَابُ تَبُولُ وَتُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ، فَلَمْ يَكُونُوا يَرُشُّونَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ".

ترجمه: وئيلي ابن عمر: وم زه چې شپه مې تېرولې په زمانه د رسول الله ﷺ کښې په مسجد کښې، او وم زه ځلمی ځوان بې واده، او وو سپي چې متيازې ئې کولې او تلل راتلل به په جمات کښې، نه وو هغوی چې شيندل به ئې څه شی په هغې.

تشريح: دا باب سراسر د مذهب حنفيه تائيد او د جمهورو خلاف دې.

قوله:﴿ قَالَ ابْنُ عُمَرَ كُنْتُ أَبِيتُ فِي الْمَسْجِدِ الخ ﴾ سيدنا عبدالله بن عمر ؓ فرمائي زه به په ځوانۍ کښې د وادهٔ نه مخکښې چه کله زه مجرد اوم په مسجد کښې به مې شپه تيروله،(٢) او چونکه په هغه زمانه کښې د مسجد د بندولو دستور نه وو په دې وجه به کله کله سپي مسجد ته راغلل او په هغې کښې به ئې متيازې هم اوکړې او د هغې نه روستو به مسجد د ورځې نه وينځلې کيدو، د ابن عمر ؓ دا حديث په صحيح بخاری کښې هم دې خو په هغې کښې لفظ د ﴿ تبول ﴾ نشته، حافظ وائي چه دا حديث په سند د بخاری سره په غير بخاری کښې هم دې او په هغې کښې لفظ د تبول هم موجود دې، مصنف ؒ په ترجمة الباب او د هغې په حديث سره د طهارة الارض بالجفاف مسئله ثابت کړې ده لکه چه د احنافو مذهب دې.

(سوال) اوس که يو سړې اوائي چه ځمکه په جفاف سره پاکيږي نو بول اعربي في المسجد والا قصه کومه چه په باب سابق کښې تيره شوه، د اوبو د بهيولو څه ضرورت وو؟ جواب دا دې چه دا يو فضول شان اعتراض دې چه هر کله د تطهير الارض دواړه طريقه دي نو بيا په هغې دواړو کښې د يو په اختيارولو کښې څه اعتراض دې، دويم خبره دا ده چه په جفاف سره ځمکه خو پاکيږي خو د رائحه کريهة ازاله او ښه طريقې سره نظافت خو په اوبو باندې کيدې شي، يو خبره بله هم ده چه هغه واقعه د ورځې وه کيدې شي د مانځه وخت نزدې وو په دې وجه تعجيلا د اوبو په ذريعه پاک کړې شوې وی او د بول کلاب قصه د شپې ده دلته په وخت کښې ګنجائش ښکاره دې.

---

(١): صحيح البخاري/الوضوء ٣٣ (١٧٤)، تعليقًا (تحفة الأشراف: ٦٧٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧١/٢) (صحيح)

(٢) که دا واقعه کومه چه بيانولې شي د خوب والا قصې نه مخکښې وی چه د هغې ذکر وړاندې راروان دې نو دا شپه تيرول په اودو دې، او که د خوب نه روستو قصه بيانوی نو بيا دا شپه تيرول په ويخه باندې وو.

د امام خطابی رحمه الله تاویل او د هغې رد :

امام خطابی رحمه الله د حديث الباب توجيه دا کړې ده چه دلته درې افعال مذکور دی ﴿ تبول، تقبل. تدبر ﴾ د في المسجد تعلق د اخيرين سره دې د تبول سره نه دې، بول خو به هغوی خارج مسجد کول خو د هغوی اقبال او ادبار به کله کله په مسجد باندې کيدلو، ددې جواب دا دې چه سپو ته په مسجد کښې اقبال او ادبار مانع نه وی نو د بول نه څه څيز مانع کيدې شی، او بله دا چه په دې معنی کښې غلطی په يو بل اعتبار سره هم ده هغه دا چه هر کله د ﴿ في المسجد ﴾ تعلق د ﴿ تبول ﴾ سره پاتې نه شو نو مطلب دا شو چه په هغه زمانه کښې به سپو متيازې کولې، په دې کښې د هغه زمانې څه تخصيص دې هغه اوس هم کوی، علامه عينی رحمه الله فرمائی صحيح دا ده چه د ظرف تعلق د افعال ثلاثه سره دې، که بول ددې نه مستثنی اومنلې شی او صرف د اقبال او ادبار سره ددې تعلق باقی اومنلې شی نو بيا په دې صورت کښې د رش څه ضرورت وو د کوم چه نفی کولې شی، بيا خو د ﴿ فلم يرشون شيئا من ذلک ﴾ جمله بې معنې شوه.

احنافو سره د طهارة الارض بالجفاف په سلسله کښې يو حديث بل هم دې ﴿ زکوة الارض يبسها ﴾، صاحب هداية خو دې ته مرفوع وئيلې دې، خو د هغې مخرج علامه زيلعی ليکی چه دا حديث مرفوعا ثابت نه دې بلکه په مصنف ابن ابی شيبة کښې د محمد بن علی او محمد بن الحنفية نه خپله د هغوی خپل قول مروی دې، او بعضو دا هم ليکلې دی چه دا د عائشې رضي الله عنها نه موقوفا مروی دې.

فائده : په حديث الباب کښې د ابن عمر رضي الله عنهما په مسجد کښې شپه تيرول مذکور دی هم ددې سره متعلق د بخاری په يو روايت کښې دی ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی چه په شروع کښې به ما په مسجدکښې شپه تيروله،يو شپه ماپه خوب کښې اوليدل چه ګويا دوه ملائکو زه جنهم ته بوتلم﴿ فاذا هي مطوية كطي البئر ﴾ ما اوکتل چه دهغې نه چاپير داسې ديوال اوچت کړې شوې وو لکه د کوهی څلورو وارو طرفونو ته چه وی، ما په هغې کښې دننه څه داسې خلق هم اوليدل کوم چه ما پيژندل، زه ډير اويريدم او ﴿ اعوذ بالله من النار ﴾ وئيل مې شروع کړل په دې کښې يوملائک راته ښکاره شو هغه ماته اووې ويريږه مه، ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی ما د خپل خوب دا قصه خپلې خور حفصه رضي الله عنها ته بيان کړه، حفصه رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دهغې ذکر اوکړو رسول الله صلى الله عليه وسلم دخوب اوريدلو نه پس اوفرمائيل﴿نعم الرجل عبدالله لوكان يصلي من الليل ﴾ بيا وړاندې راوی وائی چه ددې واقعې نه پس به ابن عمر رضي الله عنهما په مسجد کښې د اودهٔ کيدو په ځائې توله شپه په ويخه باندې تيروله، الا قليلا.

....

بَابٌ فِي الْأَذَى يُصِيبُ الذَّيْلَ

باب دې په بيان د ګندګئ کې چې لمن ته ورسیږي

يعنى كه په تلو كښې د كرتې په لمن يا په لنګ پورې د لارې ناپاكي اولګي نو ددې څه حكم دې؟

[۳۸۳]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُمَارَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أُمِّ وَلَدٍ لِإِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، أَنَّهَا سَأَلَتْ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنِّي امْرَأَةٌ أُطِيلُ ذَيْلِي وَأَمْشِي فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ، فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ".

ترجمه:د ام ولده د ابراهيم بن عبد الرحمن بن عوف نه (حميره) روايت دې، بيشكه هغې تپوس وكړو د ام سلمة نه چې بى بى د نبى ﷺ ده هغې وويل: زه يوه ښځه يم چې اوږده لوپټه مې ده، او ګرځم په ګنده ځائې كښې، نو وويل ام سلمة وويل رسول الله ﷺ: پاكوى هغې لره هغه څه چې د دېنه وروسته دې.

تشريح: **قوله**:﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ – قوله عَنْ أُمِّ وَلَدٍ [۲] لِإِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أنها سَأَلَتْ أُمَّ سَلَمَةَ ﴾

د ابراهيم بن عبدالرحمن د ام ولدة نوم حميده ده هغې د ام سلمة نه تپوس اوكړو ﴿ فَقَالَتْ إِنِّي امْرَأَةٌ أُطِيلُ ذَيْلِي وَأَمْشِي فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ ﴾ هغه وائى چه زما عادت دې چه كله زه د كور نه اوځم نو خپله كپړه اوږدوم (يعنى د تغطيه قدمين دپاره) او په كومه لاره باندې چه ځم په هغې كښې ګندګى هم وى، اوس هغه كپړه كومه چه زوړنده وى په نجاست پورې لګيږى.

قوله:﴿ قوله فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ ﴾ د سياق روايت نه په ظاهره داسې معلوميږى لكه چه ام سلمة ﷺ ته ددې جواب د مخكښې نه معلوم وو د رسول الله ﷺ حديث د هغې په علم كښې وو په دې وجه د سوال كونكې په سوال باندې هغې فورا حكم بيان كړو بلكه د رسول الله ﷺ هغه حديث ئې بيان كړو كوم چه د هغې په علم كښې وو چه مسئله او دليل د مسئلې دواړه يو ځائې معلوم شى. (منهل)

حديث الباب بالاتفاق تاويل ته محتاج دې :

ځان پوهه كړه چه كه كپړه په تر نجاست سره ناپاكه شى نو د هغې د تطهير دپاره بالاتفاق غسل ضرورى دې علامه توربشتى رحمه الله په دې باندې د علماء كرامو اجماع نقل كړې ده او په دې حديث كښې رسول الله ﷺ فرمائى ﴿ يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ ﴾ يعنى د زمكې په ناپاكه حصه باندې د تيريدلو نه پس چه كله د زمكې په پاكه حصه باندې تيريږى نو كوم نجاست وغيره

[۱]: سنن الترمذي/الطهارة ۱۰۹ (۱۴۳)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۷۹ (۵۳۱)، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۹۶)، وقد أخرجه: موطا إمام مالك/الطهارة ۴(۱۶)، سنن الدارمي/الطهارة ۶۳ (۷۶۹) (صحيح)

[۲]، وهكذا في رواية مالك في الموطاء وفي رواية الترمذي عن ام ولد لعبدالرحمن بن عوف وقال الترمذي وروي عبدالله بن المبارك بهذا الطريق عن ام ولد لهود بن عبدالرحمن وهو وهم وانما هو عن ام ولد لابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف)

چه په کپړه باندې لګيدلې وی هغه به ددې پاکې خاورې په مرولو سره زائل شی او کپړه به ئې پاکه شی په ظاهر کښې دا حديث د علماء کرامو د اجماع خلاف دې په دې وجه ددې تاويل دا کولې شی چه په حديث کښې لفظ قذر سره نجاست مراد نه دې بلکه طين شارع (د لارې ختې او چقړې وغيره) يا کرکرن څيز لارې، بلغم وغيره مراد دی او په دې صورت کښې هغه جامه په اصل کښې ناپاکه شوې نه ده څکه چه طين شارع معاف دې او په حديث کښې د ﴿ يطهره ﴾ نه مراد ينظفه دې او که دا په نجاست باندې محمول کړې شی نو ددې نه به نجاست يابسه مراد کولې شی نه رطبة، چه دا حديث د اجماع خلاف نه شی، او که څوک په تر نجاست مراد کولو باندې اصرار اوکړی نو وئيلې به شی چه دا حديث ضعيف دې څکه چه ددې په سند کښې ام ولد راويه مجهوله ده.

[۳۸۴]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، قَالَا: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عِيسَى، عَنْ مُوسَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لَنَا طَرِيقًا إِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً، فَكَيْفَ نَفْعَلُ إِذَا مُطِرْنَا؟ قَالَ: "أَلَيْسَ بَعْدَهَا طَرِيقٌ هِيَ أَطْيَبُ مِنْهَا؟". قَالَتْ: قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: فَهَذِهِ بِهَذِهِ".

ترجمه:د موسی بن عبد الله بن يزيد نه روايت دې، هغه روايت کوی د يوې ښځې د بنی عبد الاشهل نه، هغې وئيلی دې: ما عرض اوکړو: اې د الله رسوله! بيشکه زمونږ لاره مسجد ته ګنده ده مونږ به څنګه چل کوو کله چې په مونږ باران اوشي؟ هغه وفرمائيل: ايا نشته وروسته د هغې نه لار چې هغه ښه پاکه وی د دېنه؟ هغه وايې: ما وويل: ولې نشته، هغه وفرمائيل: پس دا د هغې په بدله کښې شوه.

تشريح: **قوله**:﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ – قوله عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ الخ ﴾ دا امراة مجهولة ده خو صحابية ده لهذا هيڅ باک نشته، هغه فرمائی چه ما رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه د کور نه تر لارې پورې زمونږ لاره ګنده ده خصوصا کله چه باران وی نو نور هم مشکل پيښيږی چه د لارې ګندګی وغيره په لمن پورې اينخلی په دې باندې رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو کوم نې چه په تير حديث د ام سلمةؓ کښې فرمائيلې وو، لهذا دلته هم ددې تاويل حاجت دې کوم چه په اول حديث کښې وو، خو په حديث د ام سلمةؓ او ددې امراة اشهلية په حديث کښې فرق دې هغه دا چه په اول حديث کښې خو دا تاويل چليدې شو چه د نجاست نه مراد نجاست يابسه دې خو دلته به دا تاويل نه چليږی څکه چه په دې کښې د باران هم ذکر دې، لهذا دويم تاويل متعين دې.

واضحه دې وی چه ددې قسم يو حديث په باب الرجل يطاء الاذی برجله د لاندې هم تير شوې دې، ﴿ کنا لا نتوضاء من موطئ ﴾ په دواړو کښې فرق دې چه د تير باب تعلق د بدن يعنی رجل سره وو او د زير بحث باب تعلق د ثوب سره دې

(): سنن ابن ماجه/الطهارة ۷۹ (۵۳۳)،(تحفة الأشراف: ۱۸۳۸۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۵/۶) (صحيح)

بَابٌ فِي الْأَذَى يُصِيبُ النَّعْلَ

باب دې په بیان د ګندګۍ کې چې رسیږي پیزار ته

مصنف ﷫ په دې باب کښې دا بیانوی لکه چه په حدیث الباب کښې دی چه که خف یا نعل ته په تلو کښې د لارې نجاست اولګی سرې په هغې باندې تیریدلو سره لاړ شی نو بیا روستو زمکه کومه چه پاکه ده په هغې باندې د رانښکلو د وجې نه به هغه نعل پاک شی، په حدیث کښې د نعل او خف ذکر دې خو فقهاء کرامو ددې دواړو په حکم کښې هر هغه څیز داخل کړې دې کوم چه صیقل یعنی صیقل شده او صفا وی په هغې کښې مسامات نه وی، لکه مرآة (آئینه) توره او ظفر (نوک) وغیره.

[۳۸۵](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ. ح وحَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ مَزْيَدٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي. ح وحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْوَاحِدِ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ الْمَعْنَى، قَالَ: أُنْبِئْتُ أَنَّ سَعِيدَ بْنَ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الْأَذَى، فَإِنَّ التُّرَابَ لَهُ طَهُورٌ".

ترجمه: د اوزاعی نه روایت دې په هم دغه معنی، هغه وویل: خبر راکړې شوی دی ماته بیشکه سعید بن ابی سعید المقبری حدیث بیان کړې دې، د خپل پلار نه، او هغه د ابو هریره نه، بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي: کله چې پیمال کړی یو کس ستاسو نه په خپل پیزار باندې ګندګي، بیشکه خاوره د هغې پاکونکی ده.

د حدیث توضیح او د مذاهب ائمة تفصیل:

قوله: ﴿حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ – أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الأَذَى فَإِنَّ التُّرَابَ لَهُ طَهُورٌ »﴾ په دې کښې اختلاف دې چه د اذی نه څه مراد دې؟ په دې کښې درې اقوال دی،

اول قول: ابوثور، اسحق بن راهویه، اوزاعی، ظاهریة امام احمد فی روایة او د امام شافعی ﷫ په قول قدیم کښې ددې نه مطلق نجاست مراد کوی که یابسه وی او که راطبه وی په هر صورت کښې خف او نعل په دلک سره پاکیږی د غسل حاجت نشته او د ظاهر الفاظ حدیث نه هم ددې تائید کیږی، ابن قدامه ﷫ د امام احمد ﷫ هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده،

دویم قول: په دې کښې د امام مالک ﷫ دې مغوی فرمائی د اذی نه شئ مستقذر یعنی کرکژن څیز یا نجاست یابسه مراد دې، نجاست رطبه په دې کښې داخل نه دې، تر نجاست که خف یا نعل ته اولګي نو د هغې غسل ضروری دې صرف په دلک سره به طهارت نه حاصلیږی، د امام احمد ﷫ دویم روایت(٢) او د امام شافعی ﷫ قول جدید هم دا دې، په

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٣٢٩) (صحيح)

(٢) د امام احمد درېم روایت لکه چه په مغنی کښې دې دا دې چه خف یا نعل باندې که بول و براز اولګی نو بیا خو غسل ضروری دې که ددې دواړو نه علاوه پرې بل څه ناپاک څیز اولګی نو بیا په دې کښې دلک کافی دې)

کتب شافعيه کښې غسل ضروري ليکلې شوې دې،
دريم قول په دې کښې د احنافو دې چه ددې نه نجاست يابسه او هم دغه شان نجاست رطبة متجسده يعنی ذی جرم مراد ده رطبه غير متجسده په دې کښې داخل نه ده نجاست متجسده ته مرئية هم وائی يعنی چه د اوچيدو نه پس هم په نظر راځی لکه براز، او غير مرئية لکه بول چه هغه د اوچيدو نه پس په نظر نه راځی بيا په احنافو کښې او امام صاحب رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله ترمينځه اختلاف دې، د امام صاحب رحمه الله په نزد به په دې قسم نجاست سره پس د جفاف نه په مړلو سره پاکی حاصليږی قبل الجفاف نه ځکه چه د نجاست د اوچيدو نه مخکښې به په مړلو سره نور هم تلويث راځی او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد د جفاف قيد نشته، قبل الجفاف هم په دلک سره پاکی حاصليږی، په درمختار کښې د ابوداؤد د حديث الباب د اطلاق او عموم د وجې نه د امام ابويوسف رحمه الله قول ته ترجيح ورکړې شوې ده، لهذا دا حديث د امام مالک او امام شافعی د قول جديد کوم چه د هغوی په نزد معتبر دې په ظاهره د هغې خلاف شو دا حضرات ددې تاويل دا کوی چه په حديث کښې د اذی نه مراد شئ مستقذر دې يعنی کرکژن څيز، اويا زيات نه زيات نجاست يابسة.
د پورته تفصيل نه معلومه شوه چه په دې مسئله کښې زيات وسعت د ظاهريه او حنابله په قول راجح کښې دې او د مالکيانو او شوافعو په نزد په دې کښې تنګسيا ده، د هغوی په نزد نجاست رطبه مطلقا په دې کښې داخله نه ده ددې غسل ضروری دې او د احنافو په مسلک کښې اعتدال دې د هغوی په نزد د نجاست رطبه يو قسم يعنی متجسده په دې کښې داخل دې دويم قسم يعنی غير متجسده په کښې داخل نه دې.
دسند وضاحت ﴿ عن الاوزاعی المعنی ﴾ دلته درې سندونه جمع شو په اول کښې د مصنف رحمه الله استاذ امام احمد بن حنبل رحمه الله دې ددې نه پس په تحويل اول کښې عباس بن الوليد او په تحويل ثانی کښې محمود بن خالد، او بيا ددې درې واړو استاذ کوم چه په سند کښې ذکر دې هغه ابوالمغيرة وليد بن مزيد، عمر بن عبدالواحد دا درې واړه روايت کوی د امام اوزاعی رحمه الله نه، لهذا امام اوزاعی ملتقی الاسانيد شو، اود ﴿المعنی﴾ مطلب دا دې چه ددې درې دواړو د روايت مضمون يو دې او الفاظ مختلف دی، وړاندې اوزاعی فرمائی ﴿ انبئت ان سعيد بن ابی سعيد المقبری ﴾ يعنی اوزاعی براه راست د سعيد نه نه روايت کوی بلکه بالواسطه، او هغه واسطه کيدې شی چه محمد بن عجلان وی لکه چه د وړاندې سند نه معلوميږی.

[٣٨٦]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ يَعْنِي الصَّنْعَانِيَّ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ،عَنْ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ،عَنْ أَبِيهِ،عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ،قَالَ: إِذَا وَطِئَ الْأَذَى بِخُفَّيْهِ،فَطَهُورُهُمَا التُّرَابُ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٣٢٩) (صحيح)

ترجمه:ابو هريره رضي الله عنه د نبي ﷺ نه روايت کوي په معنی د هغې سره، هغه وئيلی دي: کله چې پيمال کړي ګندګی په خپلو موزو نو پاکونکی د هغې خاوره ده.

[٣٨٧]()حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ عَائِذٍ، حَدَّثَنِي يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ حَمْزَةَ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْوَلِيدِ، أَخْبَرَنِي أَيْضًا سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ.

ترجمه:د عائشې رضي الله عنها نه روايت، هغه روايت کوي د رسول الله ﷺ نه په معنی د هغې سره.

تشريح د سند :

قوله:﴿ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ – قوله عَنِ الأَوْزَاعِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْوَلِيدِ أَخْبَرَنِي أَيْضًا سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ ﴾ د دې سند په شرح کښې درې اقوال دی، اول دا چه، قال، اخبرنی کښې د قال ضمير ابعد يعنی اوزاعی ته راجع دې، مطلب دا دې چه اوزاعی فرمائی په دې حديث کښې زما دوه شيوخ دی، يو محمد بن الوليد، دويم سعيد بن ابی سعيد، څنګه چه ددې حديث خبر ماته محمد بن الوليد راکړو هم دغه شان سعيد بن ابی سعيد هم راکړو، بيا دا دواړه روايت کوی د ﴿ عن القعاع بن حکيم ﴾ دويم قول دا دې چه د قال ضمير اقرب يعنی محمد بن الوليد ته راجع دې او د ايضا تعلق د ﴿ عن القعاع ﴾ سره دې په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه محمد بن الوليد وائی چه ددې حديث خبر راکړو ماته سعيد بن ابی سعيد د قعقاع نه هم، او د هم مطلب دا دې چه ددې نه مخکښې سند کښې محمد بن الوليد چه کله دا حديث د سعيد بن ابی سعيد نه روايت کړې وو نو هلته د سعيد استاذ د هغوی پلار وو، اول سند داسې وو ﴿ عن سعيد بن ابی سعيد عن ابيه ﴾ او په دې دويم سند کښې د سعيد استاذ قعقاع بن حکيم دې، دريم قول د ادې محمد بن الوليد وائی چه ددې حديث خبر ما ته د قعقاع بن حکيم نه سعيد بن ابوسعيد هم راکړې دې، او د هم مطلب دا دې چه د سعيد نه علاوه بل استاذ هم ماته دا حديث د قعقاع نه روايت کړې دې، حاصل دا چه محمد بن الوليد ته دا حديث د قعقاع نه د دوه استاذانو په واسطه رارسيدلې دې، سعيد او غير سعيد.

(**يوبل قول**): حضرت ناظم رحمه الله ددې يوه بله څلورمه معنی هم ليکلې ده هغه داچه د قال ضمير اقرب يعنی محمد بن الوليد طرف ته راجع دې خو د ايضًا تعلق په اخبرنی کښې چه کومه ياء د متکلم ده هغې سره دې، او مطلب دادې چه محمد بن الوليد وائی چه سعيد بن ابی سعيد دا حديث څرنګه چه زما نه علاوه د نورو شاګردانو نه بيان کړې دغسې ئې زمانه هم بيان کړې دې، خودا معنی صرف يو عقلی احتمال دې ځکه چه په دې وئيلو کښې څه خاص فائده نشته، اود حضرت ناظم صاحب نورالله مرقده مقصد هم غالبًا د تشحيذ اذهان دپاره بيانول دی.

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٧٥٦٨) (صحيح)

بَابُ الإِعَادَةِ مِنَ النَّجَاسَةِ تَكُونُ فِي الثَّوْبِ

باب دې په بيان د اعاده دمانځه کښې کې د وجې د نجاست نه چې په جامه کې وي

د صحة الصلوة دپاره د طهارة عن النجاسة په شرط کيدو کښې اختلاف:

يعنى كه يوسړي ته د مانځه د فارغ کيدو نه پس معلومه شي چه د هغه په جامه باندې نجاست دې نو آيا د هغه دپاره د مانځه اعاده ضروري ده؟ دا مسئله زمونږ په نزد په باب فرض الوضوء كښې تيره شوې ده چه د طهارة الثوب عن النجاسة شرط صحة صلوة كيدل د جمهور علماء كرامو او ائمة ثلاثه مذهب دې، د مالكيانو په نزد دلته شرط نه دې د هغوى په نزد دوه روايتونه دي يو دوجوب او دويم د سنيت، او د امام شافعي رحمه الله قول قديم هم عدم اشتراط دې يعنى اختلاف به په دې صورت كښې هم جاري وى كوم چه په دې ترجمة الباب او حديث كښې مذكور دې، پس ابن رسلان ليكي چه په دې صورت كښې د امام مالك او امام شافعي په قول قديم كښې به مونځ صحيح شي د اعادې حاجت نشته، او د امام ابوحنيفه، امام احمد او امام شافعي رحمه الله په قول جديد كښې به مونځ باطل شي، هم دا د جمهور علماء سلف و خلف مذهب دې

حضرت په بذل كښې ددې ترجمې په مطلب كښې يو بل احتمال هم ليكلې دې خو زما په نزد هم دا مطلب اصح دې كوم چه پورته اوليكلې شو.

[۳۸۸]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَتْنَا أُمُّ يُونُسَ بِنْتُ شَدَّادٍ قَالَتْ: حَدَّثَتْنِي حَمَاتِي أُمُّ جَحْدَرٍ الْعَامِرِيَّةُ، أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ عَنْ دَمِ الْحَيْضِ يُصِيبُ الثَّوْبَ، فَقَالَتْ: "كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْنَا شِعَارُنَا وَقَدْ أَلْقَيْنَا فَوْقَهُ كِسَاءً، فَلَمَّا أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ الْكِسَاءَ فَلَبِسَهُ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الْغَدَاةَ ثُمَّ جَلَسَ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذِهِ لُمْعَةٌ مِنْ دَمٍ، فَقَبَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَا يَلِيهَا فَبَعَثَ بِهَا إِلَيَّ مَصْرُورَةً فِي يَدِ الْغُلَامِ، فَقَالَ: اغْسِلِي هَذِهِ وَأَجِفِّيهَا ثُمَّ أَرْسِلِي بِهَا إِلَيَّ، فَدَعَوْتُ بِقَصْعَتِي فَغَسَلْتُهَا ثُمَّ أَجْفَفْتُهَا فَأَحَرْتُهَا إِلَيْهِ، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنِصْفِ النَّهَارِ وَهِيَ عَلَيْهِ".

ترجمه: ام يونس بنت شداد وائي ام جحدر العامرية تپوس وكړو د عائشې نه په باره د وينې د حيض كښې چې ورسېږي جامې ته، نو هغې وويل: وم زه د رسول الله ﷺ سره او په مونږ باندې څادر زمونږ وو، او په تحقيق سره اچولې وو مونږ دپاسه د هغې نه جامه، هركله چې صباح كړو رسول الله ﷺ راواخيستو هغه جامه واېې اغوستله، بيا ووتلو مونځ ئې وكړو د صباح، بيا كيناستلو نو وويل يو سړي: اې د الله رسوله دا يو تاكى دى د وينې، نو راونيولو رسول الله ﷺ په هغه ځائې باندې چې دهغه نزدې وو، نو هغه ئې راولېږلو ماته چې غوټه شوې وو په لاس د هلك كښې، هغه وفرمائيل: دا وينځه او وچ ئې كړه بيا ئې ماته راولېږه. نو ما راوغوښتله خپله كاسه هغه مې وينځلو بيا مې وچ كړو، پس ومې لېږلو هغه ته، نو

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۲۵۰) (ضعيف)

راغلو رسول الله ﷺ په نيمايي د ورځ كښې او هغه شړئ (پير څادر) په هغه باندې وه.

تشريح: قوله: ﴿ قوله يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَذِهِ لُمْعَةٌ مِنْ دَمٍ ﴾ د مضمون د حديث خلاصه دا ده چه يو ځل رسول الله ﷺ د صبا مونځ كولو نه پس ناست وو، او حال دا چه د هغوى په څادر باندې د دم حيض څه اثر وو، په حاضرين مجلس كښې يو سړى د رسول الله ﷺ دې طرف ته توجه راواړوله نو په دې باندې رسول الله ﷺ هغه څادر كوز كړو او په كومه حصه چه د وينې اثر وو هغه ئې بيله كړه او د يو هلک په ذريعه ئې كور ته اوليږله او وې فرمائيل چه دا دې وينځى او د اوچيدلو نه پس ئې راوړه، عائشې ﷞ هغه حصه وينځلو سره اوچه كړه او څادر ئې واپس رسول الله ﷺ ته راوليږلو.

تاويل حديث على مسلک الجمهور:

په دې حديث كښې د اعادة صلوة ذكر نشته چه رسول الله ﷺ دې هغه مونځ دوباره كړې وى، د امام مالک او د امام شافعى د قوله القديم خو دا موافق دې او د جمهور علماء كرامو خلاف دې د هغوى د طرف نه به ددې جواب دا وى چه كيدې شى هغه دم قليل يعنى مقدار معفو وى او د هغې وينځل به صرف د تنظيف دپاره وو. يا به بيا داسې وئيلې شى چه عدم ذكر عدم ته مستلزم نه دې كيدې شى رسول الله ﷺ اعاده كړې وى، والله تعالى اعلم

او د خلع نعلين والا حديث كوم چه وړاندې په باب الصلوة فى النعل كښې راروان دې په هغې كښې هم دا مسئله او اشكال موندلې كيږى خو هلته جمهور دا جواب وركولې شى چه هلته چه په حديث كښې كوم لفظ د قذر مذكور دې د هغې نه شئ مستقذر يعنى كركڼ څيز مراد دې شئ نجس مراد نه دې.

بَابُ الْبُصَاقِ يُصِيبُ الثَّوْبَ

باب: په بيان د لاړو كښې چې جامې ته ورسيږى (نو دې څه حكم دې؟)

يعنى كه په يو جامه باندې لاړې (بلغم، خراشكې) اولگى نو د هغې د وجې نه د هغه كپړې د پاكولو ضرورت شته يا نه؟ علامه عينى او ابن حزم ؒ په طهارت د بزاق باندې د علماء كرامو اجماع نقل كړې ده سوا د سلمان فارسى ﷛ او ابراهيم نخعى ؒ چه د دوى دواړو نه نجاست بزاق منقول دې يعنى لعاب دهن تر څو چه په خوله كښې دى پاک دى او بعد الخروج عن الفم نجس دى. لهذا د جمهورو په نزد د كپړې د پاكولو حاجت نشته او ددې دواړو په نزد شته، دا اختلاف زمونږ په نزد ﴿ باب الرجل يستاک بسواک غيره ﴾ كښې تير شوې دې.

[٣٨٩]([١]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ قَالَ بَزَقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَوْبِهِ وَحَكَّ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ.

[١]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٦١٨، ١٩٤٩٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٣٣ (٤٠٥)، ٣٩ (٤١٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٩٣ (٣٠٩)، سنن ابن ماجه/الصلاة ٦١ (١٠٢٤) (صحيح)

ترجمه:د ابو نضرة نه روايت دې هغه وئيلى دي: لاړې تو کړې رسول الله ﷺ په خپله جامه کښې، او ويې سولولو بعضې د هغې د بعضى سره.

تشريح: **قوله**: ﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ – قوله بَزَقَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– فِي ثَوْبِهِ الخ ﴾ دا واقعه د حالت صلوة ده لکه چه د ابونعيم په روايت کښې ددې تصريح ده مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ ته د توخى وغيره د وجې نه د تهوکلو ضرورت راغلو، په ظاهره به هلته د لاندې تهوکلو موقع نه وه په دې وجه هغوى په خپله کپړه کښې اوکړو، ﴿ وَحَكَّ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ ﴾ او بيا ئې دا جامه اومرله چه دا تهوک په کپړه کښې جذب شى په يو بل حديث کښې رسول الله ﷺ دا طريقه قولاً هم ارشاد فرمائيلې ده چه که په مانځه کښې چاته د لاړو د تهوکلو ضرورت راشى نو هغه داسې هم کولې شى دا قسم روايات به په ابواب المساجد کښې راځى.

دا حديث مرسل دې ځکه چه دلته صحابى مذکور نه دې بلکه دا خبره د رسول الله ﷺ نه ابونضر رحمه الله روايت کوى چه تابعى دې د هغوى نوم په بذل کښې منذر بن مالک بن قطعه ليکلې شوې دې.

[۳۹۰]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ.

ترجمه:انس رضی الله عنه روايت کوى د نبى ﷺ نه په مثل د هغې.

تشريح: **قوله**:﴿ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ – قوله عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– بِمِثْلِهِ ﴾ اول روايت چونکه مرسل وو په دې وجه مصنف رحمه الله ددې روايت مرسله د تقويت دپاره دا روايت مسندة ذکر اوفرمائيلو، دا حديث د انس رضی الله عنه هم په دې سند سره په بخارى کښې هم مذکور دې.

حسن اختتام :

دا د کتاب الطهارة آخرى حديث دې ددې راوى سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه دې، مشهور صحابى خادم رسول الله ﷺ، که الله پاک زمونږ شمير هم په خادمان حديث نبوى کښې اوفرمائى نو د هغه د رحمت نه څه بعيده ده؛ اللهم امين.

وهذا اخر كتاب الطهارة وبه قد تم الجز الاول من الدر المنضود على سنن ابى داؤد،
اللهم اجعله خالصا لوجهک الکريم، والحمد لله اولا واخرا
والصلوة والسلام على نبيه سرمدا ودايما.
۵ /شعبان المعظم ۱۴۱۳هجرى يوم الجمعة المباركة

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٨) (صحيح)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة على سيد المرسلين محمد
واله واصحابه اجمعين اللهم انى احمدك واستعينك

كتاب الصلاة

كتاب دى په بيان د مانځه كې

باب فرض الصَّلاَةِ

باب دې په بيان د فرضيت د مانځه كې

طهارت كوم چه د مانځه په اهم شرطونو كښې دې د هغې د بيان د فارغ كيدو نه پس ددې ځائې نه مصنف مشروط كوم چه مقصود دې هغه بيان فرمائى ددې مقام مناسب څو بحثونه دى چه د هغې په شروع كښې پيژندل مناسب دى.

البحث الاول

د صلاة لغوى معنى كړې شوې دې چه ددې اصل معنى د دعا ده، ﴿ قال تعالى وصل عليهم اى ادع لهم ﴾ او په حديث كښې دى ﴿ وان كان صائما فليصل ﴾ يعنى كه يو سړې روژه دار وى (او څوك هغه ته دعوت وركړى) نو هغه له پكار دى چه د داعى كور ته تلو سره دعا كولو نه پس واپس راشى ددې نه پس عبادت مشهوره نوم كيخودلې شو په دې مناسبت سره چه هغه په دعا مشتمل وى (۲)او وئيلې شوې دى چه لفظ د صلاة مشترك دې دعا تعظيم، رحمت او بركت ترمينځه يعنى د صلاة دا ټولې معنى راځى، او بعض وئيلې دى چه ددې اصل معنى د تعظيم ده او عبادت مخصوصه لره ځكه ورته وئيلې شى چه په دې كښې د الله رب العالمين تعظيم دې.

البحث الثانى

د لفظ صلوة ماخذ اشتقاق، په دې كښې څو اقوال دى، (۱) وئيلې شوې دى چه دا مشتق دې د ﴿ صلة ﴾ نه ځكه چه مونځ بنده لره د الله پاك او د هغه په رحمت سره تړى او نزدې كوى په اصل ئې كښې دا لفظ ﴿ وصلة ﴾ وو، اول په دې كښې قلب مكانى شوې يعنى ﴿وصلة ﴾ صلوه كړو، بيا قاعده اعلال يعنى واو متحرك ماقبل مفتوح موندلې كيدو د وجې نه واو په الف سره بدل كړې شو نو صلوة شو، او دا په واو سره په دې وجه ليكلې شى چه ددې د اصل طرف ته اشاره اوشى، (۲) او وئيلې شوې دى چه دا صلا نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنى ده ﴿ العظم الذى عليه الايتان ﴾ يعنى د كوناټو نه پورته هډوكې، د مونځ په حالت كښې چونكه تحرك صلوين كيږى په دې وجه دې ته صلوة وئيلې شى، (۳) او وئيلې شوې دى چه دا ماخوذ دې د مصلى نه، د اسونو په ميدان كښې چه كوم اس په دويمه درجه كښې وى هغې ته مصلى وئيلې شى او كوم چه د ټولو نه وړاندې وى هغه ته مجلى وئيلې شى او كوم چه په دريمه درجه كښې وى هغه ته مسلى وئيلې شى، چونكه په اركان اسلام كښې د شهادتين نه روستو دويمه درجه د مانځه ده په دې وجه دې ته صلاة اووئيلې شو، (۴) څلورم

قول دا دې چه دا اخستلې شوې دې د ﴿صليت العود على النار ﴾ نه، دا هغه وخت ونيلې شى چه کله د لرګى کوږ والې د اور په ذريعه برابر کړې شى، د مونځ په ذريعه هم چونکه د انسان باطنى کوږ والې لرې کيږى په دې وجه دې ته صلاة ونيلې شى خو په دې اخرى قول باندې امام نووى رحمه الله دا اعتراض کړې دې چه په صلاة کښې لام کلمه واو دې او په ﴿صليت﴾ کښې ياء ده، فکيف يصح الاشتقاق، د اشتقاق دپاره حروف اصليه کښې اشتراک ضرورى دې، خو علماء کرامو دې اعتراض ته غلط ونيلې دې چه په ټولو حروف اصليه کښې اشتراک صرف په اشتقاق صغير کښې شرط دې، په اشتقاق کبير کښې شرط نه دې، د اشتقاق څو قسمونه دى کوم چه په ابتدائى کتاب مراح الارواح کښې او انتهائى په بيضاوى شريف کښې اوکتلې شى.

البحث الثالث

ابتداء د مشروعيت صلاة په دې باندې خو د ټولو اتفاق دې چه ددې مشروعيت د هجرت نه مخکښې د معراج په شپه باندې شوې وو پس امام بخارى باب قائم کړې دې "باب کيف فرضت الصلاة فى الاسراء" د ليلة الاسراء په کال او تاريخ دواړو کښې اختلاف دې، اول ئې د کال اختلاف واورئ.

(د اسرى تاريخ)

امام نووى رحمه الله په شرح د مسلم کښې په دې سلسله کښې درې اقوال ذکر کړې دى.

۱: د نبوت نه پنځلس مياشتې پس، ۲: د نبوت نه پنځه کاله پس،

۳. د هجرت نه يو کال مخکښې،

او حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى کښې په دې سلسله کښې د لسو نه زيات اقوال ليکلې دى، د ټولو نه اول هغه د هجرت نه يو کال مخکښې قول ذکر کړې دې او فرمائى چه هم ددې قائل دې ابن سعد وغيره، او هم په دې باندې جزم کړې دې امام نووى او ابن حزم خو تردې فرمائيلې دى چه په دې باندې د علماء کرامو اجماع ده، حافظ فرمائى چه اجماع نقل کول صحيح نه دى، ځکه چه په دې کښې ډير زيات اختلاف دې او د لسو نه زيات اقوال دى، بيا حافظ هغه اقوال ذکر کړې دى چه په هغې کښې يو د هجرت نه درې کاله مخکښې او يو د هجرت نه پنځه کاله مخکښې، لهذا په دې باندې اجماع نقل کول صحيح نه دى خو د اکثرو قول ورته ونيلې کيدې شى پس علامه قسطلانى رحمه الله هم دا د هجرت نه يو کال مخکښې والا قول اکثرو علماء کرامو ته منسوب کړې دې ددې نه علاوه علامه قسطلانى دوه اقوال نور ليکلې دى د هجرت نه يو کال او پنځه مياشتې مخکښې، او دويم د هجرت نه يو کال او درې مياشتې مخکښې. (يعنى يا اولس مياشتې مخکښې او يا پنځلس)

کوم علماء کرام چه فرمائى چه ليلة الاسراء د هجرت نه يو کال مخکښې نه ده بلکه درې يا پنځه کاله مخکښې شوې ده هغوى ددې وجه دا بيانوى چه روايت دې چه سيده خديجه رضي الله عنها د مونځ د فرضيت نه پس د رسول الله ﷺ سره مونځ کړې دې او د مشهور قول په بنياد د سيده خديجه رضي الله عنها وفات پنځه يا درې کاله مخکښې شوې دې نو دا د هغې مونځ د رسول الله ﷺ

سره هم هغه وخت صحيح كيدې شي چه كله ليلة الاسراء لره د هجرت نه څو كاله مخكښې اومنلې شي، خو حافظ فرمائي چه په دې كښې هم روايات مختلف دي چه خديجه ﷞ د مونځ د فرضيت نه پس د رسول اللهﷺ سره مونځ كړې دې يا نه، كه اومنلې شي چه كړې ئې دې نو كيدې شي چه د صلاة خمسه د فرضيت نه مخكښې چه كوم دوه مونځونه (چه د هغې ذكر په وړاندې بحث كښې راروان دې) به رسول اللهﷺ كول هم هغه مراد وي.

په مياشت او تاريخ كښې دا اختلاف دې ٢٧ ربيع الاخر ٢٧ رجب او د مياشتې په سلسله كښې شوال او په رمضان المبارك كښې هم وئيلې شوې دې، امام نووي﷫ ٢٧ رجب ته راجح وئيلې دی او هم دا مشهور دې د عوامو ترمينځه، ددې نه علاوه په تاريخ كښې نور هم ډير اقوال دی، ٧، ١٣ او ١٧، هم دغه شان په ورځ كښې هم اختلاف دې، ليلة الجمعة، ليلة السبت، ليلة يوم الاثنين، ددې دريم قول په بنياد د رسول اللهﷺ د ولادت ورځ، يوم بعثو يوم معراج، يوم بعثت او يوم وفات ټول متفق كيږي. كذا قيل.

البحث الرابع

آيا د صلوات خمسه د فرضيت نه مخكښې يو مونځ فرض وو؟ وئيلې شوي دی چه او! دوه مونځونه وو، صلوة قبل طلوع الشمس او صلوة قبل غروبها يعنى سحر او مازيګر. بيا وئيلې شوي دی چه دا دواړه مونځونه به رسول اللهﷺ فرضا كول او وئيلې شوي دی چه نفلا او يو قول دا دې چه په شروع كښې هيڅ مونځ نه وو سوا د صلاة الليل نه چه د هغې فرضيت په سورة مزمل كښې ذكر شوې دې چه د هغې حكم صرف د يو كال پورې باقی پاتې شو د هغې نه روستو د امت په حق كښې ددې فرضيت بالاتفاق منسوخ شو سوا د عبيده سلمانی نه چه د هغه د تهجد وجوب منقول دې ﴿ولو قدر حلبة شاة﴾ البته د رسول اللهﷺ په حق كښې اختلاف دې يو جماعت وائي چه د رسول اللهﷺ په حق كښې هم دا حكم منسوخ شو، بله ډله وايي چه د رسول اللهﷺ په حق كښې منسوخ نه وو، د هر دواړو ډلو استدلال د ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ﴾ نه دې، يوې ډلې ﴿نافلة﴾ لره په مشهوره معنى يعنى نفل باندې محمول كړې دې، او دويمې ډلې په لغوی معنى يعنى ﴿فريضة زائدة لک﴾

البحث الخامس

د امامت جبرائيل ﷷ واقعه د ليلة الاسراء په صبا د ماسپخين په وخت پيښه شوې وه او نزول جبرائيل ﷷ د زوال نه روستو شوې وو د فرضيت صلاة نه پس د ټولو نه اول دا مونځ ادا كړې شوې دې هم په دې وجه دې ته صلاة الاولى وئيلې شی او په يو ضعيف روايت كښې دی چه نزول جبرائيل ﷷ د صبا په وخت شوې وو چه كله هغه رسول اللهﷺ په خوب بيدولو نو هغه ئې رابيدار نه كړو، واپس لاړو دا روايت صحيح نه دې، غالبا يو راوی ته په ليلة التعريس او ليلة الاسراء كښې اشتباه راغلې ده، هم دغه شان د نسائی د يو روايت نه معلوميږي چه د امامت جبرائيل ﷷ ابتداء د صلاة فجر نه شوې ده دا هم شاذ او خلاف مشهور دې.

البحث السادس

د مجموع صلوات خمسه فرضيت ددې امت په خصائصو کښې دې، د ماسخوتن نه علاوه باقي څلور مونځونه په امم سابقه کښې متفرق طور موندلې شوې وو او صلاة العشاء صرف ددې امت سره خاص دې، پس حضرت په بذل کښې د طحاوي روايت من حديث عائشة نقل کړې دې چه د سيدنا ادم عليه السلام توبه چه کله د سحر په وخت قبوله شوه نو هغه دوه رکعته اوکړل په دې باندې د سحر مونځ مشروع شو، او حضرت اسحاق يا اسماعيل عليهما السلام (په اختلاف د دوارو روايتونو) فديه د ماسپخين په وخت راغلې وه چه په دې باندې هغه څلور رکعتونه د شکرانې په طور کړی وو هغه وخت د ماسپخين مونځ شروع شو، او سيدنا عزير عليه السلام د اوږد خوب نه سل کاله پس د مازيګر په وخت رابيدار کړې شو په دې باندې هغه څلور رکعتونه ادا کړل د هغه وخت نه د مازيګر مونځ شروع شو، اود سيدنا داود عليه السلام خطاء د مغرب په وخت معاف شوه نو هغه د څلور رکعتونو کولو په نيت باندې اودريدلو خو د سخت غم او ستړې والي د وجې نه په دريم رکعات کيناستلو او څلورم رکعت نې اونکړې شو د هغه وخت نه درې رکعتونه مشروع شو او د ماسخوتن مونځ د ټولو نه مخکښې زمونږ نبي ﷺ او د هغه امت کړې دې.

البحث السابع

د مونځ فرضيت د کتاب، سنت او اجماع نه ثابت دې ﴿ قال الله تعالى : وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ ﴾ (الاية) هم دغه شان ﴿ بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ ﴾ (متفق عليه) او ددې نه علاوه بيشماره آيتونه او احاديث دی کوم سرې چه د فرضيت صلاة منکر وی د هغه په کفر باندې د علماء کرامو اتفاق دې او څوک چه نې د فرضيت د قائل کيدو سره سره صرف عملا پريږدی نو د جمهور علماء چه په هغوی کښې امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله هم دې مسلک دا دې چه هغه فاسق دې او د هغه سزا قتل دې، حدا لا کفرا، او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د هغه سزا تعزير او هميشه قيد کول دی تردې چه توبه اوکړی، او د يو جماعت رائې دا ده چه د مونځ پريخودونکې کافر دې د امام احمد رحمه الله نه هم يو روايت داسې دې او هم دا رائې ده د عبدالله بن مبارک او اسحاق بن راهويه، بل روايت د امام احمد په شان د جمهورو دې، د جمهورو دليل آيت کريمه ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ﴾ دې

شوافعو وغيره د تارک الصلاة په قتل باندې استدلال د ﴿ امرت ان اقاتل الناس حتى يشهدوا ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة ﴾ الحديث (متفق عليه) نه کړې دې، او د احنافو استدلال د ﴿ لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ ﴾ (رواه ابوداود) نه دې او د شوافعو د دليل هغوی دا جواب کوی چه تاسو چه کوم حديث پيش کړې دې په هغې کښې د قتال حکم دې او په قتال او قتل کښې فرق دې،

قتال نوم دي د محاربه بين الجانبين، لهذا مطلب دا شو چه که تارکين صلاة سره د ترک صلاة د وجې نه قتال ته خبره اورسيږي نو ددې اجازت شته لکه څنګه چه صديق اکبر ﷺ د مانعين زکاة سره قتال کړي وو، پس د احنافو مسلک هم دا دې چه د تارک فرض سره قتال اوکړې شي چه کله د هغه طرف نه محاربه بيا موندلې شي

البحث الثامن

اهميت د صلاة، د مونځ د اهميت دپاره خو اول دا تير شوې بحث هم کافي دې چه د علماء اهل سنت والجماعت کښې د يوې ډلې رائې دا ده چه تارک الصلاة کافر دی او د مونځ نه علاوه د بل يو څيز په ترک کښې هم د هغوی دا رائې نه ده، هم دغه شان په ترمذی شريف کتاب الايمان باب ما جاء في ترک الصلاة د لاندې دی: ﴿ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم لاَ يَرَوْنَ شَيْئًا مِنَ الأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلاَةِ ﴾ او هم دغه شان په ابوداود شريف کتاب الخراج کښې يو حديث راروان دې کوم چه د سيدنا جابر ﷺ نه نقل شوې دې هغه فرمائی چه د ثقيف وفد چه کله د اسلام قبلولو دپاره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو د اسلام د بيعت په وخت هغوی څو شرطونه لګولې وو ﴿ أَنْ لاَ يُحْشَرُوا وَلاَ يُعْشَرُوا وَلاَ يُجَبُّوا ﴾ اول شرط دا چه دهغوی نه په جهاد کښې د تلو مطالبه اونه کړې شی، دويمه دا چه زکوة او عشر ترې وصول نه کړې شی دريمه داچه هغوی به رکوع دپاره نه ښکته کيږی يعنی مونځ به نه کوی.نوپه دې باندې نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: ﴿ لَكُمْ أَنْ لاَ تُحْشَرُوا وَلاَ تُعْشَرُوا ﴾ يعنی د جهاد او عشر په باره کښې ستاسو شرط منلې شی خو د دريم شرط په باره کښې ئې اوفرمائيل ﴿ وَلاَ خَيْرَ فِي دِينٍ لَيْسَ فِيهِ رُكُوعٌ ﴾ چه دا شرط منظور نه دې ځکه چه هغه اسلام به څه وی چه په هغې کښې رکوع نه وی او انسان مونځ اونکړی، هم دغه شان په موطاء امام مالک کښې دی چه په کومه شپه يعنی د سحر په مونځ کښې په عمر ﷺ باندې حمله اوکړې شوه او په هغه باندې بيهوشی راغله نو د رابيداريدو نه پس ورته د مونځ دپاره اوونيلې شو نو عمر ﷺ د هغه ويونکی تائيد اوکړو او وې فرمائيل: ﴿ نعم ولا حظ في الاسلام لمن ترک الصلاة ﴾ او ضرور (هم په دې حال کښې مونځ کوو) د هغه سړی په اسلام کښې هيڅ حصه نشته کوم چه مونځ نه کوی، پس هغه هم په دې حالت کښې مونځ کړې دې او حال دا چه وينه بهيدله. رضی الله عنه.

[٣٩١] ([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَمِّهِ أَبِي سُهَيْلِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ سَمِعَ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ؟ قَالَ: لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ، قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِيَامَ شَهْرِ رَمَضَانَ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ، قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّدَقَةَ، قَالَ:

[1]: صحيح البخاري/الإيمان ٣٤ (٤٦)، والصوم ١ (١٨٩١)، والشهادات ٣٦ (٢٦٧٨)، والحيل ٣ (٦٩٥٦)، صحيح مسلم/الإيمان ٢ (١١)، سنن النسائي/الصلاة ٤ (٤٥٩)، والصوم ١ (٢٠٩٢)، الإيمان ٢٣ (٥٠٣١)، (تحفة الأشراف: ٥٠٠٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ٢٥ (٩٤)، مسند احمد (١/١٦٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٨ (١٦٩١) (صحيح)

فَهَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ، فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ: وَاللَّهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ".

ترجمه: طلحة بن عبيد الله ويلى دي: راغي يو سړى رسول الله ﷺ ته د اهل د نجد نه، ببر سر والا، چې اوريدى شو ګونړ ګونړ د اواز د هغه، او نه پوهيده سړي په هغه څه چې هغه ونيل: تردې چې نزدې شو، بيا معلومه شوه چه هغه تپوس کوه د اسلام متعلق، نو وويل رسول الله ﷺ: پنځه مونځونه دې په ورځ او شپه کښې، هغه وويل: ايا شته دى په ما باندې بغير د دېنه؟ وفرمائيل هغه: نه، مګر دا چې ته نفل کوې، او ذکر کړه ورته رسول الله ﷺ روژه د مياشت د رمضان. هغه وويل: ايا شته دى په ما باندې غير د دېنه؟ نه، مګر دا چې ته نفل کوې، هغه وويل: او ذکر کړه ورته رسول الله ﷺ صدقه، هغه وويل: ايا شته دى په ما باندې غير د دېنه؟ هغه ورته وفرمائيل: نه، مګر دا چې ته نفل کوې، روان شو سړى او هغه وئيل: قسم په الله زه به نه زياتوم په دې باندې او نه به کمى کوم، نو وويل رسول الله ﷺ: کامياب شو که رشتيايې ويلى وي.

تشريح: **قوله**:﴿ حدثنا عبدالله بن مسلمه.......... يقول جاء رجل... ﴾ د دې حديث راوى طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه دې کوم چه مشهور صحابى او د عشره مبشره نه دې په جنګ جمل ۳۶ هجرى کښې شهيد شو د مروان په غشى سره.

د دې رجل په باره کښې د اکثرو شارحينو رائې دا ده چه دا د ضمام بن ثعلبه کوم چه د قبيله بنو سعد بن بکر وافد وو لکه چه په صحيحين کښې په يو روايت کښې د هغه د نوم تصريح ده او مونږ سره دلته په ابوداود کښې په ابواب المساجد کښې د ‹باب المشرک يدخل المسجد› لاندې هم راروان دى په هغې کښې د ضمام بن ثعلبه تصريح ده، په بذل او په منهل دواړو کښې هم دا ليکلې شوې دى خو په اوجز کښې په دې باندې تفصيلى کلام کړې دې او ليکلې شوې دى چه د علامه قرطبى رائې ددې خلاف ده هغه فرمائى چه په کوم روايت کښې د ضمام بن ثعلبه تصريح ده هغه روايت او قصه بله ده، د دواړو روايتونو په سياق او سوالاتو کښې کوم چه راتلونکى سړى کړې وو فرق دې، امام مسلم دا دواړه روايتونه په خپل صحيح کښې يو بل ته نژدې ذکر کړې دى، نو اوس چونکه په يو روايت کښې د رجل د نوم تصريح وه په دې وجه ډيرو شارحينو دا خيال اوکړو چه په دې کښې هم د رجل مصداق هم هغه دې او دواړو قصو لره يو ګڼړلو سره ئې د رجل مصداق ضمام منلې دې حالانکه داسې نه وه، حافظ ابن حجر رحمه الله د قرطبى د رائې تائيد فرمائيلې دې لهذا دا بل څوک سړې دې چه د هغه نوم معلوم نه دې

قوله:﴿ من اهل نجد ﴾ نجد وئيلې شى اوچتې زمکې ته او دا نوم دې د بلاد عرب د هغه حصې کومه چه د حجاز او د عراق ترمينځه ده ﴿ يسمع دوىّ صوته ﴾ يعنى د هغه په خدمت کښې يو باندې راغلو چه د هغه وينسته ګډوډ وو او د چا د اواز چه ګنګوسى راتلل او په خبره ئې څوک نه پوهيدل چه څه وائى، (دَوِىّ) هغه اواز دې چه کوم اوريدلې شى خو په مفهوم ئې څوک نه پوهيږى د هغه په خبرو باندې څوک پوهيدل ولې نه ددې وجه شارحينو

ليکلي دي چه هغه نزدې راتلو نه مخکښې تپوس شروع کړې وو نو د لرې والي د وجې نه ئې په خبرو باندې څوک نه پوهيدل، او چه کله نزدې راغلو نو معلومه شوه چه څه تپوس کوي دلته د حضرت شيخ د والد صاحب رائې بله ده هغه دا چه کله يو د معمولي شان واله سړې د يو لوئې سړي په خدمت کښې د څه خبرې دپاره نو کومه خبره چه کول وي هغه په ژبې سره په قلاره قلاره ادا کوي او هغه ځان سره يادوي ددې دپاره راځي چه کومه خبره هلته کول غواړي هغه صحيح اوکړې شي، هم دغه شان دا باندچي هم د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راروان وو کومې کومې خبرې چه هغه د رسول اللهﷺ نه تپوسلې هغه ئې ځان سره يادولې، هم دا مراد دې د (دَوِيّ صَوْتِ) نه په کوم چه صحابه کرام پوهه نه شو.

قوله:﴿ يسال عن الاسلام ﴾ د اسلام نه مراد شرائع د اسلام دي او قرينه په دې باندې د رسول اللهﷺ جواب دې، ځکه چه په جواب کښې حقيقت اسلام يعنی شهادتين مذکور نه دی، يا به دا وئيلې شي چه سوال د حقيقت اسلام نه دې خو د شهادتين ذکر ئې په دې وجه ترک کړو چه سائل په هغې سره دمخکښې نه متصف وو، يادا راوي اختصارا نه وی ذکرکړې والله اعلم

قوله:﴿ خمس صلوات الخ ﴾ په دې حديث کښې وتر نه دې ذکر شوې، شافعيه وغيره ته د استدلال موقع ملاؤ شوه چه وتر واجب نه دی زمونږ د طرف نه دا جواب کيدلې شي چه کيدې شي تردې وخته پورې د وتر وجوب نه وو شوې، يا به دا وئيلې شي چه وتر تابع د ماسخوتن د مانځه دی په دې وجه هغه مستقلا ذکر نه کړې شو او د صلاة عيد په باره کښې به دا وئيلې شي چه دلته فرائض يوميه مذکور دی او صلاة عيد د واجبات سنويه نه دې يعنی هغه کليزې مونځ دې نه روزانه.

تطوعات په شروع کولو سره واجب کيدل او په دې کښې اختلاف دې

قوله:﴿ الا ان تطوع ﴾ دلته يوه مشهوره اختلافی مسئله ده هغه دا چه د نفل شروع کولو نه پس د احنافو او مالکيانو په نزد واجب وی د هغې پوره کول ضروری دی که پوره ئې نه کړی نو قضاء ئې واجب ده، د احنافو په نزد دلته مطلقا او د مالکيانو په نزد په دې صورت کښې چه کله هغه بغير د عذر نه مات کړی او د شافعيه او حنابله په نزد د نفل مونځ حکم کوم چه د شروع کولو نه مخکښې دې هم هغه ئې روستو دې او اتمام ئې واجب نه دې، دا حديث زمونږ دليل دې ځکه چه اصل په استثناء کښې اتصال دې او مستثنی متصل هغه ده کوم چه د ماقبل د جنس نه وی، او دلته په ماقبل کښې د واجبات او فرائضو ذکر دې لهذا معلومه شوه چه نفل د شروع کولو نه پس واجب کيږی، شوافع او حنابله د خپل مسلک په وجه باندې دا استثناء منقطع مني. استثناء منقطع د ماقبل د جنس نه نه وی، لهذا مطلب دا شو چه د صلوات خمسه نه علاوه چه کوم مونځ هم اوکړې شی هغه به واجب نه وی بلکه مستحب به وی، ماقبل کښې د فرض ذکر وو او دلته د مستحب په دې وجه دا استثناء منقطع شوه، زمونږ علماء کرامو وئيلې دی چه اصل په استثناء کښې اتصال دې لهذا هم هغه مراد کيدل پکار دی خو د شوافعو د طرف نه دا وئيلې کيدې شی چه استثناء په اتصال باندې څنګه محمول کيدې شی او حال دا چه رسول اللهﷺ د صلوات خمسه نه علاوه

[a] باندې د تطوع اطلاق فرمائی په دې وجه هغه فرمائی ﴿ الا ان تطوع ﴾ معلومه شوه چه باقی ټول مونځونه تطوع دی، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه استثناء متصل ده او د ﴿ الا ان تطوع ﴾ مطلب دا دې چه ﴿ الا ان تشرع فی التطوع ﴾، نو د تطوع نه مراد په حدیث کښې شروع فی التطوع دې، لهذا دا نه شی وئیلې کیدې چه د صلوات خمسه نه علاوه باقی ټول مونځونه تطوع دی په حدیث کښې هغې ته تطوع وئیلې شوې دې، فلا اشکال، د احنافو او د مالکیانو د مسلک تائید د آیت کریمه ﴿ لا تبطلوا اعمالکم ﴾ نه هم کیږی ځکه چه نفل لره د شروع کولو نه پس که پوره نه کړې شی نو یقینا په هغې کښې ابطال عمل دې چه د هغې نه احتراز ضروری دې، لهذا اتمام واجب شو.

په نفل مونځ کښې اختیار ابتداء او د شروع کولو په اعتبار سره دې چه د هغې د شروع کولو او نه شروع کولو انسان ته اختیار دې، د شروع کولو نه پس یعنی انتهاء اختیار نشته، هم دا اختلاف په صوم تطوع کښې هم دې خو واضحه دې وی چه نفل حج د شروع کولو نه پس بالاتفاق واجب کیږی، دلته شوافع زمونږ سره دی. ﴿ وذکر له رسول الله صلی الله علیه وسلم الصدقة الخ ﴾ راوی ته چونکه د روایت اصل الفاظ یاد نه وو په دې وجه ئې داسې اووې... احتیاطا ئې تعبیر بدل کړو ﴿ قال : لا الا ان تطوع ﴾ په ظاهر کښې معلومیږی چه کلیزې زکاة کوم چه د مال نه ورکولې شی بس هم هغه واجب دې حال دا چه صدقة الفطر او نفقة العیال هم واجب ده، جواب دا دې چه په دې حدیث کښې ذکر د حقوق مالیه اصلیه دې یعنی کوم حق چه براه راست بغیر د واسطې د بل څیز نه د مال سره متعلق وی، پس هغه صرف زکاة دې او صدقة الفطر د مال د حقوق اصلیه نه نه دې بلکه ددې سبب وجوب لکه چه تاسو به په اصول فقه کښې لوستلې وی ﴿ راس یمونه [1] ویلی علیه ﴾ په دې وجه صرف یو نصاب والا سړی ته صدقة الفطر د خپل ذات نه علاوه د ټول عیال د طرف نه ورکول وی، ځکه چه په رؤس کښې تعدد دې ګینې مال یعنی نصاب خو یو دې، د څو کسانو د طرف نه ئې ورکول ولې واجب دی. علی هذا نفقة العیال چه ددې وجوب هم په انسان باندې د عدد رؤوس په توسط سره شوې دې، لهذا دا حقوق او واجبات براه راست یعنی بغیر د واسطې د مال سره متعلق نه دی.

فائده : په دې حدیث کښې د ارکان اسلام د لاندې حج نه دې ذکر کړې شوې په دې کښې څو احتمالات کیدې شی چه تردې وخته پورې حج نه وی فرض شوې یا دا چه فرض شوې خو وی خو د سائل مقصود دا سوال وو چه په ما باندې کوم احکامات فرض دی او هغه سړې به د هغوی نه نه وی چه په چا باندې حج فرض دې په دې وجه رسول الله ﷺ دا بیان او نه فرمائیلو او دا هم وئیلې کیدې شی په طریقه د احتمال عقلی چه کیدې شی د حج فرض کیدل سائل ته د مخکښې نه معلوم وی په دې وجه د هغې د ذکر حاجت رانغلو.

[1] یعنی ذات مکلف

یو مشهور اشکال او د هغې جواب

﴿ والله لا ازید علی هذا ولا انقص ﴾ دلته یو سوال دې هغه دا چه هغه سړی قسم کولو سره اووئیل چه زه به په دې باندې زیادت نه کوم او نه به کمې کوم. ﴿ لا انقص ﴾ وئیل خو صحیح دی خو ﴿ لا ازید ﴾ وائی چه زه به په دې فرضو باندې زیادت نه کوم. ګویا په ترک نوافل باندې قسم خوری اوبیاهم رسول الله ﷺ دهغه په باره کښې فرمائی ﴿ افلح ان صدق ﴾ نو ددې جواب دا دې چه دا سړې د خپل قوم سفیر وو نو مراد د هغه دا دې چه ﴿لا ازید فی الابلاغ ﴾ چه زه به د رسول الله ﷺ په خبره رسولو کښې نه کمې کوم او نه زیادت. په عمل کښې د کمی او زیادت نفی مراد نه ده. یا د زیادت نفی من حیث الاعتقاد والفرضیت ده، یعنی په پنځو مونځونو باندې به د فرض کیدو په حیثیت سره زیادت نه کوم. مثلا د پنځو مونځونو په ځائې باندې شپږ فرض اوګنړم یا د څلورو رکعتو په ځائې پنځه اوکړم داسې به نه کوم، دا خبرې شارحینو کړې دی. او زه په جواب کښې وائم چه د نقصان او زیادت تعلق د شئ محدود معین سره وی او محدود او معین صرف فرائض دی. تطوعات خو محدود نه دی د هغې تعداد خو متعین نه دې په هغې کښې د کمی او زیادت نه کولو څه مطلب. حاصل دا چه ددې نفی تعلق صرف د فرائضو سره دې، د تطوعات سره ددې تعلق نشته، لهذا د نوافلو د نه کولو د اعرابی په کلام کښې بالکل ذکر نشته. فلا اشکال اصلا.

(**تطبیق بین الروایتین**):﴿ افلح ان صدق ﴾ په دې روایت کښې رسول الله ﷺ د هغه فلاح د هغه د صدق سره مقید کړې ده او په یو بل روایت کښې دی ﴿ من سره ان ینظر الی رجل من اهل الجنة فلینظر الی هذا ﴾ یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که څوک جنتی انسان لره لیدل غواړی نو هغه ته دې اوګوری، دلته رسول الله ﷺ دا حکم د هغه د صدق سره نه دې معلق کړې ددې څه وجه ده؟ ددې مختلف جوابات ورکړې شوې دی. ١ : د هغه په موجودګئ کښې رسول الله ﷺ مصلحة او تعلیقا اوفرمائیل ددې دپاره چه په هغه کښې تکبر پیدا نه شی او بیا ئې روستو د هغه د مجلس نه د تلو نه پس بغیر د تعلیق نه او بالجزم د هغه د جنتی کیدو زیرې ورکړو، او دا هم وئیلې شوې دی چه په شروع کښې رسول الله ﷺ ته د هغه د نیت د صداقت علم نه وو په دې وجه ئې دا خبره مقید کړه او روستو ورته د هغه د صدق نیت خبر اوشو نو بیا ئې بغیر د تعلیق نه بیان اوکړو. یو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه یوځائې کښې د جنتی کیدو ذکر دې او یوځائې کښې د فلاح موندلو. جنتی کیدل زیاته خاص خبره نه ده ځکه چه هر مسلمان جنتی دې او فلاح ددې نه اوچته درجه ده په دې وجه ئې هغه د صدق سره معلق کړه ځکه چه فلاح د اوچتې درجې کامیابئ ته وئیلې شی چه په هغې کښې هر قسم امن او وعافیت وی

[٣٩٢]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ الْمَدَنِيُّ، عَنْ أَبِي سُهَيْلٍ نَافِعِ بْنِ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: أَفْلَحَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ، دَخَلَ الْجَنَّةَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ

[١]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٠٠٩) (صحيح)

ترجمه:نافع بن مالک دا حدیث په همدې معنی په خپل اسناد سره ذکر کړی دی، هغه وفرمائیل کامیاب شو زما د ې قسم وی د هغه په پلار که رشتیایې ویلی وی نو جنت ته داخل شو، او زما دې قسم وی د هغه په پلار که رشتیایې ویلی وي

تشریح: **قوله**:﴿ افلح وابیه ان صدق ﴾ دا د باب دویم حدیث دې په اولنی حدیث کښې د ابو سهیل نه روایت کونکې مالک وو او په دې کښې اسماعیل بن جعفر دې. په دې کښې د ﴿ وابیه ﴾ زیادت دې کوم چه په اولنی روایت کښې نشته

(**اشکال**): په دې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ د هغه په پلار قسم اوکړو حال دا چه په پلارانو باندې د قسم کولو نه حدیث کښې منع راغلې ده "لا تحلفوا بابائکم"

(**اول جواب**) جواب دا دې چه ممکنه ده دا واقعه د نهی نه مخکښې وی، او دا هم وئیلې شوې دی چه دلته مضاف محذوف دې یعنی ﴿ ورب ابیه ﴾

(**دویم جواب**) او دا هم وئیلې شوې دی چه ممکنه ده چه کراهت صرف د امت په حق کښې وی د شارع علیه السلام دپاره نه وی،

(**دریم جواب**) او دا هم وئیلې شوې دی چه دا لفظ ﴿ وابیه ﴾ نه دې بلکه ﴿ والله ﴾ وو خو په اصل کښې په لیکلو کښې غلطی اوشوه که هم ددې لفظ دواړه څوکې پورته کړې شی او نقطې حذف کړې شی نو ﴿ والله ﴾ به ترې جوړ شی.

بَابٌ فِي الْمَوَاقِيتِ

باب دې په بیان د وقتونو کښې

د مونځونو د وختونو بیان

مواقیت د میقات جمع ده لکه د میزان جمع موازین، د میقات معنی ده معین وخت کوم چه د یو کار دپاره مقرر کړې شی او د هغې اطلاق په مکان معین باندې هم کیږی کوم چه د څه کار دپاره تجویز کړې شی هم په دې وجه وئیلې شی چه د میقات دوه قسمونه دی، میقات زمانی، میقات مکانی، په کتاب الحج کښې د احرام په بیان کښې چه د کوم مواقیت ذکر راځی هغه میقات مکانی دی یعنی هغه مخصوص ځایونه کوم چه د احرام تړلو دپاره معین کړې شوې دی،اوپه کتاب الصلاة کښې د مواقیت نه میقات زمانی مراد دې، هسې خود مونځ دپاره میقات مکانی هم دی خودهغې نه په مواقیت سره تعبیر نه شی کولې بلکه مساجد سره، پس منصف د مواقیت د بیان نه چه فارغ شی نو بیا به ابواب المساجد بیانوی یعنی دمیقات زمانی نه فارغ کیدو سره به میقات مکانی بیانوی.

مصنف د کتاب الصلاة په شروع کښې د اعرابی حدیث ذکر کړو چه په هغې کښې د صلوات خمسه فرضیت مذکور دې، نو ګویا اولا مصنف د مونځ فرضیت ثابت کړو د هغې نه روستو اوس د مونځ وختونه بیانول غواړی ځکه چه د مونځ اوقات د مونځ سبب وجوب دې، د ماسپښین د مانځه وخت د ماسپښین د مونځ د وجوب سبب دې او د مازیګر د مونځ وخت د صلاة عصر د وجوب سبب دې او هم دغه شان چه په کوم سری باندې د کوم

مونځ وخت راتشي هغه مونځ په هغه باندې په دې وجه واجب نه دې لكه چه وئيلې شوې دى چه په بعض ملكونو كښې د ماسخوتن مونځ وخت نه شى موندلې هلته د غروب او طلوع ترمينځه دومره فاصله نشته چه د ماسخوتن وخت راشى په دې وجه د هغه ځائې د خلقو په حق كښې به د ماسخوتن مونځ فرض نه وى. د مسبب دپاره د سبب تحقق ضرورى دې، غرض دا چه د مونځونو وختونه د هغوى دپاره اسباب دى هم دا خبره مصنف دلته په شروع كښې بيان فرمائيلې ده

فائده امام بخارى رحمه الله او امام نسائى رحمه الله د كتاب الصلاة په شروع كښې د حديث اعرابى په ځائې حديث الاسراء يعنى حديث المعراج ذكر فرمائيلې دې، ځكه چه د مونځ فرضيت په معراج كښې شوې دې او په حديث د معراج كښې د مونځ د فرضيت هم تصريح ده، د امام ابوداود عادت شريفه په دې سنن كښې مختصر مختصر احاديث راوړې دى اووړه احاديث چه په هغې كښې واقعات او قصې ذكر شوې دى هغه په خپل سنن كښې نه ذكر كوى بس خالص او مضبوط احاديث احكام اخلى.

په دې باب كښې مصنف مطلق د اوقات صلاة روايات ذكر فرمائيلې دى چه د هغې تعلق د ټولو مونځونو سره دې او ددې نه روستو بيا وړاندې تلو سره د هر مونځ د وخت دپاره جدا جدا بابونه هم قائم كړې دى.

بيا پوهه شئ چه مصنف په دې باب كښې هغه احاديث ذكر كړې دى اولا حديث امامت جبرائيل عليه السلام د هغې نه روستو يو بل حديث كوم سوال چه د سائل په جواب كښې دې، هغه دا چه يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او د مونځ وختونه ئې د هغه نه اوتپوسل په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ته د دوه ورځو پورې ما سره په مدينه منوره كښې ايسار شه، او بيا رسول الله ﷺ هر يو مونځ د ورځې په اول وخت كښې او په دويمه ورځ هر يو مونځ د هغې په اخر وخت كښې اوكړ ددې دپاره چه د وخت اول او اخر معلوم شى، لكه چه د جبرائيل عليه السلام په امامت كښې هم دغه شان اوشو چه سيدنا جبرائيل عليه السلام هغه ته د ليلة الاسراء په صبا باندې هر يومونځ په خپل اول وخت كښې او په دويمه ورځ باندې هر يو مونځ لره په اخر وخت كښې ښودلې وو، زما عادت دې چه د ټولو مونځونو وختونه سره د علماء كرامو د اختلاف نه ددې باب په شروع كښې بيانوم ددې دپاره چه په راتلونكو احاديثو كښې بصيرت حاصل شى.

د مامور به دوه قسمونه

خان پوهه كړئ چه د مامور به اولا دوه قسمونه دى لكه چه تاسو په اصول فقه كښې لوستلې دى، يو هغه چرته چه وخت ددې مامور به دپاره معيار وى، او يو هغه چرته چه وخت ظرف وى، د وخت د معيار كيدو مطلب دا دې چه ټول وخت د مامور به په ادا كولو كښې خرچ كول ضرورى دى لكه د روژې وخت، د روژې چه كوم وخت معين دې د هغې په پوره وخت كښې موندلې كيدل ضرورى دى، او د وخت ظرف ته د كيدو مطلب دا دې چه هغه وخت پوره د مامور به په ادا كولو كښې خرچ كول ضرورى نه دى بلكه د مامور به د ادا

کولو نه پس وخت بچ شي لکه اوقات صلاة، مثلا د ماسپخين ټول وخت د ماسپخين په مونځ کښې خرچ کول ضروري نه دي.
د هر يو مونځ دوه وختونه دي يو اولني او بل اخر، يعنې د وخت ابتداء او د وخت انتهاء لهذا تاسودمونځونود اوقاتو ابتداء اوانتهاء اوپه هغې کښې دعلماء کرامواختلاف واورئ.

د صلوات خمسه د وختونو تفصيل سره د علماء کرامو د اختلاف نه

د ماسپخين د وخت ابتداء په اتفاق د فقهاء کرامو د زوال نه کيږي، البته د بعض صحابه کرامو نه په دې کښې اختلاف منقول دې او د هغوی په نزد د زوال نه مخکښې شروع کيږي البته په جمعه کښې د امام احمد او اسحاق بن راهويه اختلاف دې ددې دواړوپه نزد د جمعې مونځ قبل الزوال جائز دې او د ماسپخين په ابتدائی وخت کښې د ائمه کرامو اختلاف دې، د جمهور علماء او صاحبين په نزد د يو مثل پورې دې، هم دا يو روايت د امام صاحب نه هم دې او د امام صاحب نه ظاهر الرواية دا دې چه د ماسپخين اخر وخت د مثلين پورې دې، امام مالک او يو طائفه په نزد د يو مثل نه پس د څلورو رکعاتو په اندازه وخت مشترک دې په دې کښې ماسپخين هم کولی شي ادا او مازيګر هم، بعض شوافع او داود ظاهری د يو مثل نه پس د فاصلې قائل دی يعنی د يو مثل نه پس لږ شان وخت داسې دې کوم چه نه د ماسپخين وخت دې او نه د مازيګر، بلکه د مازيګر د وخت ابتداء د يو مثل نه پس لږې شان وقفې نه کيږي خو جمهور علماء کرام نه د اشتراک قائل دی نه فصل، او د مازيګر په اول وخت کښې هم هغه اختلاف دې کوم چه د ماسپخين په اخری وخت کښې دې يعنی جمهور علماء او صاحبين په نزد ددې ابتداء د يو مثل نه کيږي او د امام صاحب په نزد د مثلين نه روستو، او اخری وخت مازيګر عند الائمة الاربعة والجمهور تر غروب پورې، او ابو سعيدی اصطخری په نزد الی مثلين، د مثلين نه پس د هغوی په نزد وخت د قضاء دې، او د بعض په نزد د مازيګر اخری وخت د نمر د زيړې پورې دې، او د ماښام د وخت شروع بالاجماع د غروب شفق نه کيږي، په انتهاء کښې اختلاف دې د احنافو او احنابله په نزد الی غروب الشفق دې. او هم دا يو روايت د امام مالک نه هم دې، او بل روايت ددې دواړو نه دا دې چه "ليس لها الا وقت واحد بقدر الطهارة وثلاث ركعات او خمس ركعات" او د ماسخوتن د مونځ ابتداء بالاجماع د غروب شفق نه وی، په انتهاء کښې اختلاف دې د احنافو او حنابله په نزد تر د فجر د طلوع پورې او د امام شافعي رحمه الله او مالک نه مختلف روايتونه دی، الی ثلث الليل، الی نصف الليل، خو اصح قول ددې دواړو دا دې چه الی ثلث الليل وخت اختيار او استحباب دې او ددې نه روستو د طلوع فجر پورې د جواز وخت او د ابو سعيد اصطخری من الشافعية په نزد الی نصف الليل، او د سحر د مونځ ابتداء بالاتفاق د فجر ثانی يعنی د سحر راختلو د طلوع نه ده او په انتهاء وخت کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد الی طلوع الشمس، او د جمهورو په نزد الی الاسفار د اختيار وخت دې او الی طلوع الشمس د جواز وخت او د ابو سعيد اصطخری (من الشافعية) په نزد الی تبين الاسفار دې، يعنی چه هر کله ښه رڼا اولګی، په دې باندې د هغوی په نزد د فجر وخت ختم شی، دا

پورته ذکر شوې اختلاف علماء فی الاوقات، حضرت شیخ په اوجز کښې او حضرت سهارنپوری په بذل کښې او خپله ما په الفیض السمائی کښې هم دغه شان لیکلې دې په دې کښې زیات اهم او مشهور اختلاف په اخر وخت او اول وخت د مازیګر کښې دې یعنی مثل واحد او د مثلین اختلاف، او دویم اهم اختلاف په اخر وخت د مغرب کښې دې، د شوافع او مالکیانو په یو قول کښې ﴿ لیس لها الا وقت واحد ﴾. ددې ټولو اختلافاتو دلائل ان شاء الله د راروان احادیثو د لاندې راځي

[٣٩٣]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ فُلَانِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَيَّاشِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَّنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ، فَصَلَّى بِيَ الظُّهْرَ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَتْ قَدْرَ الشِّرَاكِ، وَصَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّهُ مِثْلَهُ، وَصَلَّى بِي يَعْنِي الْمَغْرِبَ حِينَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ، وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ، وَصَلَّى بِيَ الْفَجْرَ حِينَ حَرُمَ الطَّعَامُ وَالشَّرَابُ عَلَى الصَّائِمِ، فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ صَلَّى بِيَ الظُّهْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّهُ مِثْلَهُ، وَصَلَّى بِي الْعَصْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّهُ مِثْلَيْهِ، وَصَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ حِينَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ، وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، وَصَلَّى بِيَ الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ، ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، هَذَا وَقْتُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ، وَالْوَقْتُ مَا بَيْنَ هَذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ".

ترجمه:د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې هغه وئیلی دی چې رسول الله ﷺ وېلی دې امامت وکړو ماته جبریل علیه السلام د بیت الله په خوا کښې دوه ځل. مونځ ئې وکړو ماته د ماسپخین کله چې نمر زوال وکړو او وو په اندازه د تسمې، او مونځ ئې وکړو ماته د مازیګر کله چې شو سوری د هغه په مثل د هغه، او مونځ ئې راکړو ماته یعنی د ماښام کله چې روژه ماتوی روژه دار. او مونځ ئې وکړو ماته د ماسخوتن کله چې شفق پټ شو، او مونځ ئې وکړو ماته د صباح کله چې حرام شو طعام او څکاک په روژه دار. کله چې بله ورځ شوه (صباله) مونځ ئې وکړو ماته د ماسپخین کله چې شو سوری د هغه په مثل د هغه، او مونځ ئې وکړو ماته د مازیګر کله چې شو سوری د هغه دوه هغومره، او مونځ ئې وکړو ماته د ماښام کله چې روژه ماتوی روژه دار. او مونځ ئې وکړو ماته د ماسخوتن تر دریمې حصې د شپې پورې، او مونځ ئې وکړو ماته د صباح نو ښه ئې رڼرا کړه، بیا ئې وکتل ماته او وې وئیل اې محمد؛ داوخت د انبیاو دی مخکې ستانه، او وخت په مابین ددې دوارو وقتونو کښې دی

د حدیث امامت جبرائیل علیه السلام شرح

قوله:﴿ عن ابن عباس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم امنی جبریل ﴾ دا د امامت جبرائیل علیه السلام والا حدیث دې چه د هغې ذکر مونږ سره پورته راغلې دی دا حدیث په صحیحین کښې هم دې خو په هغې کښې د وخت تفصیل نه دی ذکر شوې بلکه صرف دا سې دی، ﴿ فصلی ثم صلی ثم صلی ثم صلی ثم صلی خمس صلوات ﴾ په خلاف د ابوداود وغیره سنن کتابونو چه په دې کښې د وختونو تفصیل هم موجود دې، دا د امامت جبرائیل علیه السلام قصه په مکه مکرمه کښې راپیښه شوه یا د معراج د شپې نه پس په راتلونکې ورځ کښې،

---

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ١ (١٤٩)، (تحفة الأشراف: ٦٥١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٣٣، ٣٥٤) (حسن صحیح)

په دې کښې د مونځ ابتداء د ماسپخين نه اوکړې شوه هم په دې وجه باندې ماسپخين ته الصلاة الاولى وئيلې شى، ددې واقعې نه د مونځ اهميت ښکاره کيږى چه د مونځونو اوقات او د ادا کولو طريقه عملى طور بيانولو دپاره الله پاک ددې مقصد دپاره جبرائيلﷺ د اسمان نه راوليږلو، پس جبرائيلﷺ په مسجد حرام کښې د کعبې د دروازې مخې ته رسول اللهﷺ او نورو خلقوته مونځ ورکړو او چونکه د مونځونو په وختونو کښې گنجائش او وسعت دې په دې وجه دا د امامت عمل دوه ورځې اوکړې شو ددې دپاره چه هر يو مونځ په اوله ورځ اول وخت کښې او په دويمه ورځ په اخر وخت کښې کولو سره د مونځ اول وخت او اخر وخت اوخودلې شى

اشکال: دلته يو مشهور اشکال دې هغه دا چه د صلوات خمسه فرضيت د بنى آدم په حق کښې دې د ملائکو په حق کښې نه دې، لهذا په دې امامت کښې حضرت جبرائيلﷺ متنفل او رسول اللهﷺ او صحابه کرام مفترض شو، صلاة المفترض خلف المتنفل د شوافعو او حنابله په نزد جائز دې، د احنافو او مالکيانو په نزد جائز نه دې او هم دا يو روايت د امام احمدﷺ نه هم دې، ددې دوه جوابونه دى يو دا چه د جبرائيلﷺ امامت حقيقة نه وو امام په اصل کښې رسول اللهﷺ وو او جبرائيلﷺ مخامخ د معلم په شان موجود وو چه په اشارو ره ئې هغه پوهه کولو، بل جواب ئې دا دې چه اگر که د صلوات خمسه ملائکه مکلف نه دى خو هغه وخت چونکه جبرائيلﷺ ددې په تعليم مامور من الله تعالى وو په دې وجه فى الوقت دا مونځونه د هغه په حق کښې هم فرض شوې وو، او يو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه چونکه لا تر اوسه پورې د مونځ د تفصيلاتو پوره علم نه وو راغلې په دې وجه باندې هغه د رسول اللهﷺ په حق کښې هم فرض نه وو، او په دې جواب سره يو بل سوال هم حل کيږى چه د صلوات خمسه فرضيت خو د شپې نه شوې وو، نو بيا رسول اللهﷺ د سحر مونځ ولې ادا نه کړو

قوله: ﴿ فصلى بى الظهر حين زالت الشمس وكانت قدر الشراك ﴾ يعنى په اوله ورځ ئې د ماسپخين مونځ ورکړو د نمر د زائل کيدو نه فورا پس. ﴿ وكانت قدر الشراك ﴾ [1] مطلب دا دې چه ظل اصلى د هر يو څيز کوم چه په نصف النهار کښې وى چه کله په هغې کښې شرقى طرف ته اضافه کيدل شروع شى نو بيا د ماسپخين د وخت ابتداء وى. اگر که هغه اضافه د شراک په اندازه وى. شراک (د پيزار تسمه) نه مراد مقدار قليل دې

څان پوهه کړه چه د نصف النهار نه مخکښې د هر يو څيز سورې د مغرب طرف ته وى او عين د نصف نهار په وخت د قدمونو برابر وى او د نمر د اسمان د مينځ نه د لرې کيدو په وخت کوم ته چه زوال وئيلې شى په ظل اصلى کښې د مشرق په طرف اضافه شروع کيږى هم په دې ظل اصلى کښې اضافې سره د ماسپخين د وخت ابتداء کيږى اگر که هغه اضافه

[1]) المراد به نفس الزيادة على الظل الاصلي من غير تقييد بقدر الشراك وهذا اذا كان الظل الاصلي موجودا اذ ذاك هناك اي بمكة، ولو فرض انه لم يكن الظل الاصلي بمكة فحينئذ معني الحديث ظهور الظل بعد ان لم يكن فظهور الظل هو علامة الزوال وعلى التقدير الاول الزيادة في الظل الاصلي هو علامة الزوال، افاده في الكوكب الدري)

په هر څومره قليل مقدار کښې وی، دا دې هم واضحه وی چه په بعض ملکونو کښې (کالحجاز على قولٍ) د نصف النهار په وخت سورې کوم ته چه ظل اصلي وئيلې شی هغه نه شی موندلې، په داسې ملکونو کښې د ماسپخين د وخت ابتداء د نصف النهار په وخت د نصف النهار نه پس ظهور الظل الى جانب الشرق سره کيږی، او چرته چه ظل اصلی موندلې شی هلته د زوال او د ماسپخين د وخت تحقق په ظل اصلی کښې د اضافې نه معلوميږی ﴿وصلى بى العصر حين کان ظله مثله ﴾ يعنى په اوله ورځ د مازيګر مونځ په يو مثل باندې اوکړو دا د صاحبين او جمهورو دليل دې اخر وخت ظهر او اول وخت عصر باره کښې د امام صاحب نه هم دا يو روايت دې، کما تقدم، حضرت ګنګوهي رحمه الله په تقرير ترمذي (الکوکب الدری) کښې هم دې قول ته من حيث الدليل ترجيح ورکړې ده، او د امام صاحب دليل په باب في وقت صلاة الظهر کښې راروان دې. حين غاب الشفق، د ائمه ثلاثه او صاحبين په نزد د شفق نه احمر مراد دې، او د امام صاحب په نزد شفق ابيض چه د هغې تحقق د احمر نه پس وی په دې کښې مشهور اختلاف دې ﴿ فلما کان الغد صلى بى الظهر حين کان ظله مثله ﴾ يعنى د دويمې ورځې د ماسپخين مونځ په يو مثل باندې اوکړو، ددې نه مالکيانو په اشتراک باندې استدلال کړې دې چه د يو مثل نه پس د څلورو رکعتونو په اندازه وخت مشترک دې لکه چه د اوقاتو په بيان کښې تير شو ځکه چه هم په دې حديث کښې ددې نه مخکښې مذکور دې چه اوله ورځ د مازيګر مونځ په يو مثل باندې ورکړو او دلته دا وائی چه په دويمه ورځ باندې ئې د ماسپخين مونځ ئې په يو مثل باندې ورکړو، اوس ظاهره ده چه ددې نه د وخت اشتراک فهم ته راځی د جمهورو د طرف نه ددې جواب دا دې چه اولنې ځائې مراد دې چه د مازيګر مونځ ئې په يو مثل باندې کول شروع کړو او دلته مراد دا دې چه په دويمه ورځ باندې په يو مثل باندې د ماسپخين کول شروع کړو او دلته مراد دا دې چه په دويمه ورځ باندې په يو مثل باندې د ماسپخين مونځ کولو نه پس فارغه شو، يوځائې کښې شروع کول مراد دی او بل ځائې کښې فراغ فلا اشتراک. د جمهورو دليل په عدم اشتراک کښې حديث د مسلم دې کوم چه په دې کتاب کښې هم وړاندې راروان دې، وقت الظهرما لم يحضر العصر معلومه شوه چه د مازيګر وخت راتلو باندې د ماسپخين وخت باقی نه پاتې کيږی.

قوله: "وصلى بى المغرب حين افطر الصائم" دا د شوافعو او مالکيانو د يو قول دليل دې چه د ماښام دپاره بس يو وخت دې هم هغه ابتداء او هم هغه انتهاء يا پنځه رکعتونو په اندازه په دې وجه چه په حديث کښې دی چه هغه د ماښام مونځ دواړه ورځې په يو وخت کښې ادا اوفرمائيلو.

د ماښام په وخت کښې د شوافعو د مذهب تحقيق او تفصيل

امام نووی رحمه الله فرمائی چه د شوافعو په نزد مشهور قول هم دا ده ﴿ ان المغرب ليس لها الا وقت واحد ﴾ هغه فرمائی خو د محققين شافعيه په نزد بل قول راجح دې چه د ماښام وخت د شفق د غروب کيدو پورې دې، لحديث عبدالله بن عمرو بن العاص (عن مسلم وابى داود) وقت صلاة المغرب مالم يسقط ثور الشفق، اوحديث دامامت جبرائيل عليه السلام هغوی درې جوابونه ورکړی دی.

۱ هغه حدیث محمول دې په وخت د اختیار او استحباب باندې.
۲ حدیث د امامت جبرائیل عليه السلام مقدم دې، د مکې مکرمې واقعه ده او دا نور احادیث چه د هغې نه د ماښام په وخت کښې امتداد معلومیږی دا روستو دی یعنی د مدینې او عمل په مؤخر باندې کیږی نه په مقدم باندې.
۳ د وخت د امتداد والا روایات سندا اصح دی د حدیث امامت جبرائیل عليه السلام نه.

قوله: ﴿ فقال يا محمد ﴾ سیدنا جبرائیل عليه السلام د رسول الله ﷺ نوم واخستلو کوم چه د ﴿ لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ﴾ خلاف دې جواب دا دې چه ممکنه ده ملائک ددې حکم مخاطب نه وی، یا به داسې وی چه ددې آیت کریمه نزول به ددې واقعې نه روستو شوې وی او یو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه د محمد ﷺ نه علم مراد نه دې بلکه معنی وصفی مراد ده لکنه خلاف الظاهر.

قوله: ﴿ هذا وقت الانبياء من قبلك ﴾ د "هذا" اشاره د عشاء نه علاوه د باقی مونځونو طرف ته ده ځکه چه د ماسخوتن مونځ ددې امت سره خاص دې او باقی څلور مونځونه په تیرو انبیاء کرامو کښې متفرق طور مونډلې شوې دی نه یوځائې.

پس د صلاة الفجر شروع د ادم عليه السلام نه شوې ده چه کله د سحر په وخت باندې د هغه توبه قبوله شوه نو هغه دوه رکعته د شکرانې په طور ادا کړل او سیدنا اسماعیل عليه السلام یا اسحاق عليه السلام على اختلاف القولين فدیه کومه چه د جنت نه راوړلې شوې وه د ماسپخین په وخت باندې ورکړې شوه د هغې په شکریه کښې هغه څلور رکعتونه ادا کړل هم ددې نه د ماسپخین مونځ مشروع شو او سیدنا عزیر عليه السلام د اوږد خوب نه سل کاله پس د مازیګر په وخت بیدار کړې شو هغه وخت هغه څلور رکعتونه اوکړل هم ددې نه د ماسپخین مونځ مشروع شوه او د سیدنا داود عليه السلام معافی د ماښام په وخت قبوله شوې وه پس هغه د څلورو رکعتونو دپاره اودریدو خو د غم او خفګان په وجه باندې ئې څلورم رکعت اونکړې شو، په دې باندې د ماښام درې رکعتونه مشروع شو، او د ماسخوتن مونځ د ټولو نه مخکښې زمونږ نبی محمد ﷺ اوکړو، دا د یو روایت مضمون دې کوم چه حضرت په بذل کښې د امام طحاوی رحمه الله په حوالې سره نقل فرمائیلې دې.

قوله: والوقت ما بين هذين الوقتين "چونکه د هر یو مونځ دوه وختونه دی یو اول او بل اخر، ددې دوه وختونو کیدل ددې دوه ورځو د امامت د عمل نه ثابت شو، پس د بعض وخت ثبوت د عمل نه او د بعض د قول نه شوې دی

[۳۹٤](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ اللَّيْثِيِّ، أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ كَانَ قَاعِدًا عَلَى الْمِنْبَرِ فَأَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئًا، فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ: أَمَا إِنَّ جِبْرِيلَ عليه السلام قَدْ أَخْبَرَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَقْتِ الصَّلَاةِ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: اعْلَمْ مَا تَقُولُ، فَقَالَ عُرْوَةُ، سَمِعْتُ بَشِيرَ بْنَ أَبِي

(١): م/المساجد ٣١ (٦١٠)، سنن النسائي/المواقيت ١ (٤٩٥)، سنن ابن ماجه/الصلاة ١ (٦٦٨)، (تحفة الأشراف: ٩٩٧٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المواقيت ١ (٥٢١)، وبدء الخلق ٦ (٣٢٢١)، والمغازي ١٢ (٤٠٠٧)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ١(١)، مسند احمد (٤/١٢٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٣ (١٢٢٣) (حسن)

مَسْعُودٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "نَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَنِي بِوَقْتِ الصَّلَاةِ، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ، فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" صَلَّى الظُّهْرَ حِينَ تَزُولُ الشَّمْسُ وَرُبَّمَا أَخَّرَهَا حِينَ يَشْتَدُّ الْحَرُّ، وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ قَبْلَ أَنْ تَدْخُلَهَا الصُّفْرَةُ، فَيَنْصَرِفُ الرَّجُلُ مِنَ الصَّلَاةِ فَيَأْتِي ذَا الْحُلَيْفَةِ قَبْلَ غُرُوبِ الشَّمْسِ وَيُصَلِّي الْمَغْرِبَ حِينَ تَسْقُطُ الشَّمْسُ، وَيُصَلِّي الْعِشَاءَ حِينَ يَسْوَدُّ الْأُفُقُ، وَرُبَّمَا أَخَّرَهَا حَتَّى يَجْتَمِعَ النَّاسُ، وَصَلَّى الصُّبْحَ مَرَّةً بِغَلَسٍ ثُمَّ صَلَّى مَرَّةً أُخْرَى فَأَسْفَرَ بِهَا، ثُمَّ كَانَتْ صَلَاتُهُ بَعْدَ ذَلِكَ التَّغْلِيسَ حَتَّى مَاتَ، وَلَمْ يَعُدْ إِلَى أَنْ يُسْفِرَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الزُّهْرِيِّ مَعْمَرٌ، وَمَالِكٌ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، وَشُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، وَاللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَغَيْرُهُمْ، لَمْ يَذْكُرُوا الْوَقْتَ الَّذِي صَلَّى فِيهِ وَلَمْ يُفَسِّرُوهُ، وَكَذَلِكَ أَيْضًا رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، وَحَبِيبُ بْنُ أَبِي مَرْزُوقٍ، عَنْ عُرْوَةَ، نَحْوَ رِوَايَةِ مَعْمَرٍ وَأَصْحَابِهِ، إِلَّا أَنَّ حَبِيبًا لَمْ يَذْكُرْ بَشِيرًا، وَرَوَى وَهْبُ بْنُ كَيْسَانَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقْتَ الْمَغْرِبِ، قَالَ: ثُمَّ جَاءَهُ لِلْمَغْرِبِ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ يَعْنِي مِنَ الْغَدِ وَقْتًا وَاحِدًا، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ثُمَّ صَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ يَعْنِي مِنَ الْغَدِ وَقْتًا وَاحِدًا، وَكَذَلِكَ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ مِنْ حَدِيثِ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: ابن شهاب خبر ورکړی دی هغه ته، عمر بن عبد العزيز ناست وو په منبر باندې نو وروسته ئې کړو مازيګر څه ، نو هغه ته عروة بن الزبير ووېل. آيا تاته معلومه نه ده چه جبريل عليه السلام خودلي دی محمد ﷺ ته وخت د مانځه . نو عمر بن عبد العزيز ووېل ته چه دا څه وائې سوچ پرې اوکړه، عروة ووېل ما اورېدلی دی د بشير بن ابی مسعود نه هغه وئيل ما اورېدلی دی د ابو مسعود الانصاری نه هغه وئيل ما اورېدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه وئيل راغی جبريل عليه السلام نو زه ئې خبر کړم په وختونو د مانځه باندې نو ما مونځ وکړو د هغه سره. بيا ما مونځ وکړو د هغه سره، بيا ما مونځ وکړو د هغه سره، بيا ما مونځ وکړو د هغه سره، بيا ما مونځ وکړو د هغه سره، شمارل ئې په خپلو ګوتو باندې پنځه مونځونه، نو ما وليدلو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې وکړو د ماسپخين کله چې زوال وکړو نمر، او کله به ئې وروسته کړو کله چې به ګرمي سخته شوه، او ما ليدلو چې مونځ ئې کولو د مازيګر او نمر اوچت وو صفا مخکې د داخليدو د زېړوالی نه، نو انصراف به کولو سړی د مانځه نه تللو به ذو الحليفه ته مخکې د ډوبيدو د نمر نه، او مونځ به ئې کولو د ماښام کله چې به ډوب شو نمر، او مونځ به ئې کولو د ماسخوتن کله چې به توره شوې کنارې، او کله به ئې وروسته کړو تردې چې راجمع شی خلق، او مونځ ئې اوکړو يو ځل په په تياره کښې، بيا ئې مونځ وکړو بل ځل نو رڼرايي کړه په هغې، بيا وو مونځ د هغه وروسته د دغې نه په تياره کښې دې تردې چې وفات شو. او واپس نه شو چې رڼا کړي . وئيلی دی ابوداود روايت کړی دی ددې حديث د زهری نه معمر او د مالک او ابن عيينة او شعيب بن ابی حمزة او ليث بن سعد، او غير د دوی نه هم روايت کړې دې ليکن دوی تولو (په خپل روايت کښې) ددغه وخت ذکرنه دی کړې، دهغه وخت چې مونځ ئې کړی دی په هغې کښې او نه هغوی دهغې تفسير کړې دې. او همدارنګه روايت کړی دی هشام بن عروة او حبيب بن ابی مرزوق د عروة نه پشان د روايت د معمر او د ملګرو د هغه مګر حبيب نه دی ذکر کړی بشير، او

روايت کړی دی وهب بن کيسان د جابر نه او هغه د نبی ﷺ نه هغه وفرمائيل: چه جبرئيل عليه السلام په دويمه ورځ د ماښام په وخت د نمر ډوبيدو نه پس راغې يعنی په دواړه ورځ په يو وخت راغې، ابوداؤد وائی چه ابوهريره هم دغسې د نبی عليه السلام نه نقل کړی دی چه نبی ﷺ وفرمائيل په دويمه ورځ بيا مونځ وکړو ماته جبرائيل عليه السلام د ماښام، (يعنی د صبا ورځې نه په يو وخت کښې)، او همدارنګه روايت شوې دې د عبد الله بن عمرو بن العاص د حديث د حسان بن عطية نه او هغه د عمرو بن شعيب نه او هغه د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه او هغه د نبی ﷺ نه نقل کوی.

مضمون د حديث

قوله: ﴿ حدثنا محمد بن سلمة المرادی.... ان عمر بن عبدالعزيز كان قاعدا على المنبر فاخر العصر شيئا ﴾ مضمون د حديث دا دې چه يو ځل حضرت عمر بن عبد العزيز په منبر باندې ناست وو. ظاهره خبره ده چه په منبر باندې کيناستل د خلقو خطاب يا يا بل څه خاص کار د وجې نه وی هم په دې وجه باندې يوه ورځ اتفاقا د هغه نه د مازيګر په مونځ کښې تاخير اوشو، دا روايت د حديث په نورو کتابونو صحيحين وغيره کښې هم موجود دې خو په هغې کښې په منبر باندې د ناستې تصريح موجود نه ده، د ابوداود دې روايت نه د تاخير د وجې طرف ته اشاره ملاويږی، ګينې شارحينو د خپل خيال مطابق وجوه د تاخير مختلف ليکلې دی، مثلا دا چه هغه د جواز تاخير قائل وو لکه چه د امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې دی، باقی دا خبره متعين ده چه دا تاخير زيات نه وو او معمولی شان وو لکه چه په روايت کښې د لفظ ﴿ شيئا ﴾ نه معلوميږی، هم دغه شان په بعض رواياتو کښې د ﴿ يوما ﴾ لفظ دې لکه چه په بخاری کښې دی چه په هغې کښې اشاره ده دې طرف ته چه د هغه عادت د تاخير نه وو بلکه يوه ورځ د څه وجې نه داسې شوې وو، اګر چه د هغه د خاندان خلق يعنی بنو اميه د تاخير صلاة عادت وو[1]، لکه چه د شروح حديث وغيره نه معلوميږی ترديې چه د حجاج او د هغه امير وليد بن عبد الملک په باره کښې منقول دی چه هغوی خو به مونځونه هم قضاء کول. (کما فی الفيض السمائی)

(په اعلم کښې درې احتمالات)

قوله: ﴿ فقال له : عروة بن الزبير الخ ﴾ حضرت عروه بن زبير رحمه الله مشهور تابعی او د عائشې رضی الله عنها خورئې وو هغه د عمر بن عبد العزيز رحمه الله په دې تاخير باندې نکير اوفرمائيلو او وې فرمائيل چه تاسو ته معلومه نه ده چه سيدنا جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ امامت کولو سره هغه ته د مونځونو وختونه ډير په اهتمام سره تعليم فرمائيلې وو، د امامت ذکر اګر چه د ابوداود په دې روايت کښې نشته خو په مسلم شريف او موطاء امام مالک کښې ذکر دې.

[1] واضحه دې وی چه عمر بن عبد العزيز رحمه الله د اموی خاندان داسې اوچت او بختور شخصيت وو کوم چه د اخلاق حميده او اعمال حسنه په وجه باندې په پوره خاندان کښې ممتاز وو د هغوی زهد او تقوی او بزرګی مشهوره ده د قرن اول مجدد دې، د ابوداود په يو روايت کښې کوم چه به وړاندې راشی سيدنا انس رضی الله عنه فرمائی چه ما د چا مونځ هم د رسول الله ﷺ د مونځ سره زيات مشابه نه دې ليدلې ددې ځوان د مونځ نه)

قوله:﴿ فقال له عمر : اعلم ما تقول ﴾ په دې کښې دوه احتماله دی، اول د ﴿ اعلم ﴾ امر حاضر د ١علم نه او دويم د ﴿ اعلم ﴾ صيغه امر د اعلام نه، دريم احتمال دا دې چه ﴿ اعلم ﴾ صيغه د واحد متکلم، خو دا احتمال غير ظاهر دې، ظاهره هم دا ده چه دا د امر صيغه ده د علم نه يا د اعلام نه که علم وی نو مطلب به دا وی چه ښه په سوچ سره وايه چه څه وائې، ددې وجه دا ده چه عمر بن عبد العزيز رحمه الله ته په اصل کښې د امامت جبرائيل والا حديث په ظاهره کښې د مخکښې نه علم نه وو بلکه د هغه په ذهن کښې د جبرائيل عليه السلام د امام جوړيدو په ظاهره کښې اشکال وو چه مفضول د افضل امام جوړ شې نو دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شان خلاف ده په دې وجه هغه حضرت عروه رحمه الله ته اوفرمائيل چه ښه د سوچ نه پس خبره کوه څه وائې، او که دا د اعلام نه ده نو د اعلام معنی ده د نشاندهی او مراد ددې نه د هغوی دا ده چه ددې خبرې تاسو سند بيان کړئ، پس بيا عروه ددې سند بيان کړو لکه چه په متن کښې مذکور دی﴿ خمس صلوات﴾دا په ترکيب کښې مفعول دې د﴿ صليت﴾ يا د ﴿يحسب﴾ دپاره، يعني شمار ئې کولو رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپلو ګوتو باندې پنځو مونځونو لره.

قوله:﴿ فرايت رسول الله صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ په ماقبل کښې مجملا د پنځو مونځونو ذکر وو بغير د اوقاتو د تعيين نه چه کوم مونځ ئې کوم وخت کښې اوکړو اوس ددې ځائې نه صحابي د وختونو تفصيل بيانوی، مونږ په شروع کښې بيان کړې وه چه امامت جبرائيل والا حديث په صحيحين کښې هم دې خو هلته د وختونو تفصيل نه دې ذکر شوې، د وختونو تفصيل د سنن په روايت کښې دې لکه چه دلته په ابوداود کښې مذکور دی کوم چه راوی ﴿ فرايت ﴾ سره بيانوی. ﴿ يصلي العصر والشمس مرتفعة بيضاء الخ ﴾ په دې به نور کلام ان شاء الله په باب وقت العصر کښې راشی. ﴿ ثم کانت صلاته بعد ذلک التغليس ﴾ په دې باندې به هم کلام ان شاء الله په باب في وقت الصبح کښې راشی، تغليس اولی دې چه د هغې ائمه ثلاثه قائل دی يا رڼرائی کول کوم چه د احنافو په نزد ده.

قوله:﴿ قال ابوداود : روی هذا الحديث عن الزهري الخ ﴾ پورته په سند کښې د ابن شهاب شاګرد او د هغوی نه روايت کولو والا اسامه بن زيد دې د هغوی په روايت کښې د وختونو تفصيل موندلې شی، دلته مصنف رحمه الله فرمائی چه د اسامه نه علاوه د زهری نور شاګردان معمر او مالک او سفيان بن عيينه وغيره چه کله ئې دا د زهری نه نقل کړو نو هغه حضراتو په خپل روايت کښې د وختونو تفصيل نه دې ذکر شوې، ګويا اکثر حضرات نه دی ذکر کړی بس صرف اسامه کړې دی، لهذا په دې حديث کښې د وختونو ذکر ثبوت سندا ضعيف شو په ظاهره هم په دې وجه باندې دا حديث امام بخاری او مسلم په صحيحين کښې نه دې اخستلې.

د قول ابوداود تشريح

قوله:﴿ قال ابوداود : وروی وهب بن کيسان ﴾ د ابوداود رحمه الله په دې قول باندې د پوهيدو دپاره اولا په غور نه واورئ، امام ابوداود رحمه الله په دې باب کښې دوه احاديث ذکر کړې دی، يو حديث جبرائيل عليه السلام کوم چه اوس ذکر کړې شو او دويم د سائل د سوال والا کوم چه اوس

په ﴿ حدثنا ﴾ سره شروع کيږی چه په هغې کښې دا دی چه يو صحابی دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغه د رسول الله ﷺ نه د مونځونو وختونه اوتپوسل نو رسول الله ﷺ هغه ته د بيان په ځائې هغه ځان سره د دوه ورځو پورې په مدينه کښې د اوسيدو حکم اوکړو چه دلته ايساريدو سره اوګوره چه زه کوم مونځ کوم وخت کوم، پس رسول الله ﷺ په اوله ورځ باندې هر يو مونځ په اول وخت کښې او په دويمه ورځ باندې ئې هر مونځ په اخری وخت کښې ادا کړو يعنی هم دا صورت کوم چه د جبرائيل ﷺ په امامت کښې شوې وو خو فرق په دې دواړو روايتونو کښې دا دې چه د امامت جبرائيل ﷺ په حديث کښې په ټولو طرقو کښې دی چه د ماښام مونځ دواړه ورځې په يو وخت کښې اوکړې شو يعنی د غروب شمس نه فورا پس، او د سائل د سوال والا حديث کښې روايات مختلف دی په اکثر کښې د وخت تعدد مذکور دې چه په اوله ورځ باندې هغه د ماښام مونځ د غروب نه فورا پس اوکړو او په دويمه ورځ په اخر وخت کښې او بعض طرق کښې د وخت اتحاد مذکور دې يعنی دواړه ورځې په يو وخت کښې اوکړو، امام بيهقی فرمائی چه دا په ذهن کښې ساتل پکار دی چه دا دواړه احاديث جدا جدا دی يو حديث د امامت جبرائيل ﷺ او دويم د سائل د سوال والا دا دواړه يو ګنړلو سره په اضطراب او احتمال باندې محمول نه کړې شی.

قوله: ﴿ وروی وهب بن كيسان عن جابر ﴾ دې سره مصنف هم دا فرمائی چه دا حديث امامت جبرائيل ﷺ ځنګه چه د ابو مسعود انصاری رضی الله عنه نه روايت شوې دې او په دې ټولو کښې د مغرب په وخت کښې اتحاد مذکور دې.

تنبيه: د مصنف رحمه الله د کلام د سياق نه په ظاهره معلوميږی چه د عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه حديث هم د امامت جبرائيل ﷺ په سلسله کښې دې خو د بيهقی د روايت نه معلوميږی کوم چه حضرت په بذل کښې ذکر کړې دې چه د هغوی حديث د سوال سائل والا حديث دې نه د امامت جبرائيل ﷺ والا، فتامل.

[٣٩٥] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا بَدْرُ بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِي مُوسَى، "أَنَّ سَائِلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ شَيْئًا حَتَّى أَمَرَ بِلَالًا، فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ انْشَقَّ الْفَجْرُ فَصَلَّى حِينَ كَانَ الرَّجُلُ لَا يَعْرِفُ وَجْهَ صَاحِبِهِ، أَوْ أَنَّ الرَّجُلَ لَا يَعْرِفُ مَنْ إِلَى جَنْبِهِ، ثُمَّ أَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الظُّهْرَ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ، حَتَّى قَالَ الْقَائِلُ: انْتَصَفَ النَّهَارُ وَهُوَ أَعْلَمُ، ثُمَّ أَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ بَيْضَاءُ مُرْتَفِعَةٌ، وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ، وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ، فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ صَلَّى الْفَجْرَ وَانْصَرَفَ، فَقُلْنَا: أَطَلَعَتِ الشَّمْسُ؟ فَأَقَامَ الظُّهْرَ فِي وَقْتِ الْعَصْرِ الَّذِي كَانَ قَبْلَهُ، وَصَلَّى الْعَصْرَ وَقَدِ اصْفَرَّتِ الشَّمْسُ، أَوْ قَالَ أَمْسَى، وَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ، وَصَلَّى الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، ثُمَّ قَالَ: أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ؟ الْوَقْتُ فِيمَا بَيْنَ هَذَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي الْمَغْرِبِ بِنَحْوِ هَذَا، قَالَ: ثُمَّ صَلَّى الْعِشَاءَ، قَالَ بَعْضُهُمْ: إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِلَى شَطْرِهِ وَكَذَلِكَ رَوَى ابْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

(١): صحيح مسلم/المساجد ٣١ (٦١٣)، سنن النسائي/المواقيت ١٥ (٥٢٢)، (تحفة الأشراف:٩١٣٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١ (١٥٢)، سنن ابن ماجه/الصلاة ١ (٦٦٧)، مسند احمد (٢٤٩/٥) (صحيح)

ترجمه:د ابو موسی نه روایت دې، یو سائل تپوس وکړو د نبی ﷺ نه هغه ته ئې هېڅ جواب ورنه کړو تردې چې امریې وکړو بلال ته نو اقامت ئې وکړو د سحر مونځ لپاره کله چې صبا وشلیدو، مونځ ئې وکړو په هغه وخت کښې چې نه به پېژندلو سړی مخ د ملګری خپل، او یا سړی نه پیژندلو هغه څوک چې د ده اړخ ته وو، بیا ئې امر وکړو بلال ته نو اقامت ئې وکړو د ماسپخین لپاره کله چې زوال وکړو نمر، تردې چې وئیل به یو ویونکي ورځ نیمه شوه او هغه پوهیده، بیا ئې امر وکړو بلال ته اقامت ئې وکړو د مازیګر لپاره او نمر سپین اوچت وو، او امریې وکړو بلال ته اقامت ئې وکړو د ماښام لپاره کله چې ډوب شو نمر، او امریې وکړو بلال ته اقامت ئې وکړو د ماسخوتن لپاره کله چې ډوب شو شفق، کله چې صبا ورځ شوه مونځ ئې وکړو د سحر او لاړلو، نو مونږ ووېل ایا نمر ختلی دی، بیا ئې اقامت وکړو د ماسپخین لپاره په وخت د دمازیګر هغې کښې چې وو مخکې د دېنه، او مونځ ئې وکړو د مازیګر او یقیناً نمر زیړ شوی وو، او یایې ووېل چې بېګاه شو، او مونځ ئې وکړو دماښام مخکې د ډوبیدو د نمر نه، او مونځ ئې وکړو د ماسخوتن تر دریمې حصې د شپې پورې، بیا ئې ووېل: چېرته دی سائل د وخت د مونځونو نه، وخت په مابین ددې دواړو کښې دی. وئیلی دی ابوداود: روایت کړی دی سلیمان بن موسی د عطاء نه او هغه د جابر نه او هغه د نبی ﷺ نه په ماښام کښې په پشان د دې، هغه وئیلی دي: بیا ئې مونځ وکړو د ماسخوتن. وئیلی دی بعضو د دوی نه: تر دریمې حصې د شپې پورې، او وئیلی دی بعضو: تر یوې حصې د شپې پورې، او همدارنګه روایت کړی دی ابن بریدة د خپل پلار نه او هغه نبی ﷺ نه.

شرح السند

قوله:حدثنا مسدد... ان سائلا سال النبی صلی الله علیه وسلم... دا د باب دویم حدیث دې کوم چه د سائل د سوال سره متعلق دې چه د هغې ذکر مونږ سره پورته راغلې دې.

شرح حدیث

قوله:﴿ حتی قال : القائل انتصف النهار وهو اعلم ﴾ مطلب دا دې چه اوله ورځ رسول الله ﷺ د ماسپخین مونځ د زوال نه فورا پس بالکل په اول وخت کښې ادا کړې وو په داسې وخت کښې او بعض خلقو سره ددې شبهه هم پیدا شوه چه معلومه نه ده د نصف النهار او زوال وخت شو یا نه، ﴿ وهو اعلم ﴾ کښې دوه احتمالات دی یو دا چه ددې نه مراد رسول الله ﷺ دې او مطلب دا دې چه بعض خلقو ته خو بیشک تردد وو په زوال کښې چه شوې دې یا نه خو رسول الله ﷺ ته ښه معلومه وه، چه زوال اوشو، بل احتمال په دې کښې دا دې چه ضمیر وی د قائل طرف ته راجع وی نو په دې صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه بعض ویونکو به وئیل د تعجب په طور چه د ماسپخین وخت شوې دې یا نه خو هغه ویونکی ته معلومه وه چه د مونځ وخت شوې دې، خو د هغه دا وینا چه وخت شوې هم دې یا نه د اظهار تعجیل دپاره وو چه اوګورئ څومره زر ئې کوی، هم دغه شان دې واضحه وی چه مسئله دا ده چه ترڅو پورې انسان ته د مونځ د وخت کیدو یقین نه وی شوې نو د هغه وخته پورې مونځ شروع کول جائز نه دی، او دلته بعض خلقو ته ګویا یو قسم شک وو، خواصل امام

کوم چه ذمه دار وو يعنى رسول الله ﷺ ته د وخت راتلو يقين وو، لهذا هيڅ اشکال نشته مقتديان د امام تابع وى (فاقام الظهر في وقت العصر الذى کان قبله) يعنى په دويمه ورځ باندې رسول الله ﷺ د ماسپخين مونځ هغه وخت ورکړو چه په کوم وخت کښې ئې د مازيګر مونځ کړې وو دا قسم الفاظ مخکښې هم راغلې دى، او دا چه ددې نه مالکيانو په اشتراک وخت باندې استدلال کړې دې او ددې جواب هم هلته تير شوې دې چه يوځائې کښې شروع کول مراد دى او يوځائې کښې فراغت

د مصنف رحمه الله د کلام تشريح

قوله: ﴿ قال ابوداود : روى سليمان بن موسى عن عطاء عن جابر الخ ﴾ پورته چه د ابو موسى اشعرى رضی الله عنه کوم روايت تير شوې دې په هغې کښې د ماښام په وخت کښې اختلاف ذکر شوې وو، يعنى دا چه په اوله ورځ باندې رسول الله ﷺ هغه لره اول وخت او په دويمه ورځ ئې په اخر وخت کښې اوکړو، مصنف فرمائى چه څنګه په دې روايت کښې د وخت تعدد مذکور وو هم دغه شان د جابر رضی الله عنه هغه روايت چه د هغې راوى عطاء بن ابى رباح دې په دې کښې هم داسې ده يعنى تعدد دې د نحو هذا هم دا مطلب دې

تنبيه : دسيدنا جابر رضی الله عنه روايت تعليقا د مصنف په کلام کښې ددې نه تقريبا اته لس کرښې مخکښې هم تيرې شوې دى په دې کښې د جابر رضی الله عنه نه روايت کونکې وهب بن کيسان وو هغه روايت د روايت عطاء عن جابر خلاف دې ځکه چه په دې کښې د اختلاف په ځائې د وخت اتحاد ذکر شوې دې نو حاصل دا شو چه د جابر رضی الله عنه نه روايت کونکى دوه دى يو عطاء او دويم وهب بن کيسان، عطاء د هغوى سره د وخت اختلاف ذکر کړې دې او وهب اتحاد وقت، خو د جابر رضی الله عنه تير روايت د امامت جبرائيل عليه السلام په قصه کښې وو او د جابر رضی الله عنه دا روايت د سائل د سوال والا روايت سره متعلق دې لکه چه د بيهقى په روايت کښې ددې تصريح ده کوم چه حضرت په بذل کښې ذکر کړې دې دا مقام لږ نازک او تحقيق طلب وو کوم چه الحمد لله اوشو ﴿ وکذلک روى ابن بريدة الخ ﴾ يعنى اختلاف في وقت العصر.

[۳۹۶]([1])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، سَمِعَ أَبَا أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "وَقْتُ الظُّهْرِ مَا لَمْ تَحْضُرِ الْعَصْرُ، وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ، وَوَقْتُ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَسْقُطْ فَوْرُ الشَّفَقِ، وَوَقْتُ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ، وَوَقْتُ صَلَاةِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ".

ترجمه: عبد الله بن عمرو د نبى ﷺ نه روايت کوى بيشکه هغه وئيلى دي وخت د ماسپخين تر هغې پورې دى چې مازيګر نه وى حاضر شوى. او وخت د مازيګر تر کومه چې نمر نه وې زيړ شوى، او وخت د ماښام تر کومه چې سوروالى د شفق نه وى ساقط شوى، او وخت د ماسخوتن تر نيمې شپې پورې دى، او وخت د مانځه د صبا تر کومه چې نمر نه وى ختلى.

[1]: صحيح مسلم/المساجد ۳۱ (۶۱۲)، سنن النسائي/المواقيت ۱۴ (۵۲۳)، (تحفة الأشراف: ۸۹۴۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۱۰،۲۱۳،۲۲۳) (صحيح)

تشریح: قوله:حدثنا عبد الله بن معاذ....وقت الظهر ما لم تحضر العصر... معلومه شوه چه د ماسپخين او مازيگر په وخت په څه جزء کښې اشراک نشته چه د هغې مالکيان قائل دی او نه په مينځ کښې فصل دې چه د هغې بعض شوافع قائل دی، فهذا دليل الجمهور "ووقت المغرب ما لم يسقط فور الشفق" او د مغرب وخت هغه وخته پورې باقی وی چه ترڅو د شفق چمک باقی وی، د شفق په مصداق کښې اختلاف مخکښې تیر شوې دې ﴿ ووقت العشاء الی نصف الليل ﴾ د دې نه مراد د اختيار او استحباب وخت دې او د شوافعو او مالکيانو په روايت کښې د ماسخوتن وخت نصف ليل پورې دې، كما تقدم، او د ابو سعيد اصطخری مذهب هم دا دې.

بَاب فِي وَقْتِ صَلَاةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَكَيْفَ كَانَ يُصَلِّيهَا

باب دې په بيان د مونځونو د وقت د نبی صلی الله عليه وسلم کې او هغه به څنګه مونځ کولو

د مونځ په وخت چونکه يوه ابتداء ده او بله انتهاء، په دې وجه مقصود دا بيانول دی چه نبی کريم ﷺ به د وخت په اجزاؤ (حصو) کښې په کوم جزء (حصه) کښې مونځ کولو، دهغوی معمول بيانول مقصود دی.

[٣٩٧]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو وَهُوَ ابْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: سَأَلْنَا جَابِرًا عَنْ وَقْتِ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "كَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، وَالْمَغْرِبَ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، وَالْعِشَاءَ إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ، وَالصُّبْحَ بِغَلَسٍ".

ترجمه:د محمد بن عمرو نه روايت دې چې هغه ځوی د حسن بن علی بن ابی طالب دی، هغه وئيلی دي: مونږ تپوس وکړو د جابر نه د وخت د مانځه د نبی ﷺ هغه ووېل: وو هغه چې مونځ ئې کولو د ماسپخين په غرمه، او د مازيگر مونځ به ئې کولو او نمر به تازه وو، او د ماښام مونځ به ئې کولو کله چې به نمر ډوب شو، او د ماسخوتن مونځ به ئې کولو کله چې به خلک زيات وو تلوار به ئې کولو، او چې کله به کم وو نو تاخير به ئې کولو، او د سحر مونځ به ئې کولو په تياره کښې.

تشریح: قوله: "حدثنا مسلم بن ابراهيم....... كان يصلى الظهر بالهاجرة" رسول الله ﷺ به د ماسپخين مونځ په غرمه يعنی اول وخت کښې کولو دا خو به يا محمول کولې شی په زمانه د شتاء باندې يا به بيان د جواز باندې چه کله به رسول الله ﷺ داسې هم کول او يا هغه منسوخ اومنلې شی، وجه ددې توجيهاتو دا ده ددې دپاره چه دا حديث د حديث الابراد خلاف نه شی، هسې د شوافعو په نزد د ماسپخين مونځ په اول وخت کښې کول اولی دی ددې تفصيل به ان شاء الله په باب وقت الظهر کښې راشی. والعصر والشمس حية... رسول الله ﷺ به د مازيگر مونځ په داسې وخت کښې کولو چه د نمر رنړاګانې يعنی گرمی به تيزه وه، او يا د حيات شمس نه مراد صفاء رنګ دې، ﴿ والصبح بغلس ﴾ غلس وئيلې شی د اخرې

[١]: صحيح البخاري/المواقيت ١٨ (٥٦٠)، ٢١ (٥٦٥)، صحيح مسلم/المساجد ٤٠ (٦٤٦)، سنن النسائي/المواقيت ١٧ (٥٢٨)، (تحفة الأشراف: ٢٦٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٩/٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٢ (١٢٢٢) (صحيح)

شپې تيرې ته چه په هغې کښې د سحر د رڼا ګډون وی د دې مستقل بحث اختلاف وغيره به په باب وقت الصبح کښې راشي.

[۳۹۸]([1]) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، وَيُصَلِّي الْعَصْرَ وَإِنَّ أَحَدَنَا لَيَذْهَبُ إِلَى أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَيَرْجِعُ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، وَنَسِيتُ الْمَغْرِبَ، وَكَانَ لَا يُبَالِي تَأْخِيرَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، قَالَ: ثُمَّ قَالَ: إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ، قَالَ: وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا، وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا، وَكَانَ يُصَلِّي الصُّبْحَ وَمَا يَعْرِفُ أَحَدُنَا جَلِيسَهُ الَّذِي كَانَ يَعْرِفُهُ، وَكَانَ يَقْرَأُ فِيهَا مِنَ السِّتِّينَ إِلَى الْمِائَةِ".

ترجمه: د ابو برزة نه نه روايت دې هغه وايي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو د ماسپخين کله چې به نمر زوال وکړو، او مونځ ئې کولو د مازيګر او بيشکه يو زمونږ نه به تلو هغه لرې خوا د مدينې ته، او بيرته به واپس شو او نمر به تازه وو، (صفا او تيز) او ماښام رانه هېر شو، او وو چې پروا به ئې نه کوله په تاخير د ماسخوتن باندې تر دريمې حصې د شپې پورې. هغه وويل: بيا ئې وفرمائيل: تر نيمې حصې د شپې پورې، هغه وفرمائيل: او وو چې بدېې ګڼړلو خوب مخکې د ماسخوتن نه او خبرې وروسته د هغې نه، او وو چې مونځ ئې کولو د صبا او نه به پيژندلو يو زمونږ نه خپل هغه ملګری چې ده به پيژندلو، او وو چې لوستل به ئې په هغې کښې د شپيتو آيتونو نه تر سلو پورې.

شرح حديث

تشريح: قوله: حدثنا حفص بن عمر.... عن ابی برزة... دا ابو برزه اسلمی رضی الله عنه دې چه نوم ئې نضله بن عبيد دې.

قوله: ﴿ ويصلی العصر وان احدنا ﴾ يعنی رسول الله ﷺ به د مازيګر مونځ په داسې وخت کښې کولو چه سړی به د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نه پس خپل کور ته کوم چه د مدينې په لرې طرف کښې يعنی د ابادئ په اخر کښې هلته لاړو او بيا واپس کيدو سره دوباره د مسجد طرف ته راشي په داسې حال کښې چه د نمر ګرمی او تيزی باقي وی، د ابوداود په دې حديث کښې تلل او راتلل دواړه ذکر شوې دی چه انسان خپل کور ته تلو سره واپس هم راشی او بيا هم په رڼا کښې تيزی باقی وی دا روايت د بخاری شريف د روايت خلاف دې څکه چه په هغې کښې صرف تلل ذکر دی د واپسئ ذکر نشته، مونږ سره چه دلته په امامت جبرائيل عليه السلام کښې کوم روايت تير شوې دې په هغې کښې هم صرف تلل ذکردی دواپسئ ذکر نشته چه دهغې الفاظ دادی: "فينصرف الرجل من الصلاة فياتی ذا الحليفة قبل غروب الشمس" لهذا د ابوداود په دې روايت کښې به تاويل کولې شی هغه دا چه ﴿ ويرجع ﴾ تفسير دې د ﴿ يذهب ﴾ چه د تلو نه مراد کور طرف ته واپسی ده تلل او راتلل دواړه مراد نه دی، يا

[1]: صحيح البخاري/المواقيت ۱۱ (۵٤۱)، ۱۳ (۵٤۷)، ۲۳ (۵٦۸)، ۳۸ (۵۹۸)، صحيح مسلم/المساجد ٤۰ (٦٤۷)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۱ (۱٦۸)، سنن النسائي/المواقيت ۱ (٤۹٦)، ۱٦ (۵۲٦)، ۲۰ (۵۳۱)، الافتتاح ٤۲ (۹٤۹)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۳ (٦۷٤)، ۱۲ (۷۰۱)، (تحفة الأشراف: ۱۱٦۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۲۰، ٤۲۱، ٤۲۳، ٤۲٤، ٤۲۵)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٦ (۱۳۳۸)، ويأتي في الأدب ٤۸۹٤ (صحيح)

به يرجع حال اومنلي شي. اى يذهب راجعا الى المدينة.

نوم قبل العشاء او د حديث بعد العشاء تفصيل

قوله:(وكان يكره النوم قبلها) امام ترمذى فرمائى چه د اكثر اهل علم په نزد نوم قبل العشاء مکروه دي او د بعض په نزد په دې کښې رخصت دي او بعض علماء کرامو صرف په رمضان کښې اجازت ورکړې دې، ابن سيد الناس فرمائى چه بعض حضرات په دې کښې متشدد دی لکه عمر، ابن عمر، ابن عباس او هم دا اختيار کړې دې امام مالک، او بعض په دې کښې گنجائش پريخودلې دې لکه سيدنا علي رضي الله عنه او سيدنا ابوموسى اشعري رضي الله عنه او هم دا مذهب دې د کوفيانو، او امام طحاوي وغيره بعض علماء کرامو د جواز نوم دپاره شرط لګولې دې چه که د بيدارولو دپاره څوک متعين کړى نو بيا جائز دې، امام نووي رحمه الله د امام مالک رحمه الله او شوافعو دواړو مسلک د کراهت ليکلې دې. والحديث بعدها يعنى د ماسخوتن نه روستو خبرې کول به رسول الله ﷺ مکروه ګڼړلې، امام نووي رحمه الله د علماء کرامو د خبرو کولو بعد العشاء په کراهت باندې اتفاق نقل کړې دې مګر دا چه په امر خير کښې وى، د امام سعيد بن المسيب نه نقل دى (لان انام عن العشاء احب الى من اللغو بعدها) چه زه د ماسخوتن د مونځ کولو نه بغير اوده شم د هغې نه زه دا غوره ګڼړم چه د ماسخوتن د مونځ نه روستو فضول خبرې اوکړم، سيدنا عمر رضي الله عنه به په سمر بعد العشاء باندې خلق وهل او فرمائيل به ئې : اسمرا أول الليل ونوما اخره... چه د شپې په شروع کښې خبرې کوئ نو ددې نتيجه په دا شي چه د شپې په اخر کښې به اوده پاتې شئ او تهجد به درنه فوت شي.

خو واضحه دې وى چه علماء کرامو دا کراهت مقيد کړې دې د بيکاره او فضول خبرو پورې، مفيده خبره چه په هغې کښې څه دينى مصلحت وى يا علمى مذاکره وغيره وى هغه په دې کښې داخله نه ده، امام ترمذى په سمر بعد العشاء کښې د علماء کرامو اختلاف نقل کړې دې او دا ئې هم فرمائيلې دى چه د اکثر احاديثو نه رخصت معلوميږى، او هغه ددې سلسلې يو حديث مرفوع هم نقل کړې دې (لا سمرا الا لمصل او مسافر) يعنى کوم سړې د نفلونو کولو دپاره ويخ وى هغه له که خوب ورشى نو د خپل ملګرى سره خبرې کولې شي هم دغه شان مسافر د سفر په حالت کښې د قطع مسافت د سهولت دپاره خبره کولې شي، هم دغه شان په يو روايت کښې مصلى او مسافر سره د عروس هم اضافه ده چه د خپلې ناوې سره د هغه د زړه د خوشحالولو دپاره د سمر بعد العشاء اجازت دې هم دغه شان د رسول الله ﷺ او صديق اکبر دواړو سمر بعد العشاء رواياتو کښې موجود دې، امام بخاري رحمه الله هم باب السمر فى العلم... ترجمه قائم کړې ده، غرض دا چه د منع روايات به غير مفيد او غير ضرورى خبرې سره مقيد کول وى.

قوله:(وكان يصلى الصبح وما يعرف احدنا جليسه الخ) دلته نسخې مختلف دى په بعض نسخو کښې (وما يعرف) دې د حرف نفى سره او په بعض کښې (ويعرف) دې او هم هغه

نسخه زياته صحيح ده چه په هغې کښې حرف نفي نشته ځکه چه هغه د بخاري او مسلم د روايت سره موافق ده، بهرحال مطلب دا دې چه رسول اللهﷺ به د سحر مونځ په داسې وخت کښې کولو چه انسان خپلې خواته سرې اوپيژنی، او د ما نافيه کيدو په صورت کښې ظاهره ده چه په دې کښې به د معرفت نفي وی چه او نه پيژنی، نسخه صحيحه مسلک احناف ته زياته نزدې ده کوم چه په سحر کښې د اسفار قائل دی، او البته د زنانو په باره کښې راغې ﴿ما يعرفن من الغلس ﴾ چه په هغې باندې به کلام مونږ سره ان شاء الله وړاندې راشي، او که دلته نسخه ﴿ما يعرف ﴾ هم صحيح اومنلې شی نو په دواړو نسخو کښې به د تطبيق شکل دا وی چه عدم معرفت به د مونځ شروع کولو په وخت باندې محمول کولې شی او د معرفت روايت به د مونځ نه په فارغ کيدو باندې.

بَابٌ فِي وَقْتِ صَلَاةِ الظُّهْرِ

باب دې په بيان د وقت د ماسپخين کښې

د ماسپخين د مونځ وخت

د يخنۍ په زمانه کښې د ماسپخين په مونځ کښې تعجيل بالاتفاق اولی او افضل دې او په ګرمۍ کښې د جمهور علماء ثلاث چه په هغوی کښې احناف هم دی په نزد تاخير اولی دې، امام شافعي په دې کښې د جمهورو سره نه دې د هغه په نزد په ګرمۍ کښې استحباب تاخير د څو شرطونو سره مقيد دې ۱: اول دا چه شدت حرارت وی. ۲: حرارة البلد . ۳ د جماعت مونځ وی د منفرد دپاره نه. ۴: د لرې نه راتلل يعنی مسجد په فاصله باندې وی د هغې دپاره اوږد مزل کول پکار وی مسجد نزدې نه وی د هغه په نزد په دې څلورو شرطونو کښې يو هم مفقود وی نو بيا تاخير اولی نه ده.

د امام ترمذي په مسلک شافعي باندې نقد

امام ترمذی مسلکا شافعي دی په هيڅ مسئله کښې نې د هغوی خلاف خبره نه ده کړې خو دلته امام شافعيؒ د هغوی په شرطونو باندې هغوی په جامع ترمذی کښې اعتراض کړې دې چه دا شرطونه خلاف حديث دی

[۳۹۹]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كُنْتُ أُصَلِّي الظُّهْرَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَآخُذُ قَبْضَةً مِنَ الْحَصَى لِتَبْرُدَ فِي كَفِّي أَضَعُهَا لِجَبْهَتِي أَسْجُدُ عَلَيْهَا لِشِدَّةِ الْحَرِّ".

ترجمه:د جابر بن عبد الله نه روايت دې هغه ونيلی دې وم زه چې مونځ د ماسپخين مې کولو د رسول اللهﷺ سره نو مابه راخستلو يو موټی د کانړو دې لپاره چې يخ شی زما په ورغوی کښې مابه کيخودل د خپل تندې لپاره چې سجده وکړم په هغې د وجې د شدت د ګرمۍ نه.

(۱): وقد تفرد به أبو داود: (تحفة الأشراف: ۲۲۵۲)، وقد أخرجه: سنن النسائي/التطبيق ۳۳ (۱۰۸۰)، مسند احمد (۳/۳۲۷) (حسن)

تشريح: قوله: حدثنا احمد بن حنبل.... كنت اصلي الظهر... فاخذ قبضة من الحصى الخ... سيدنا جابر ﷜ فرمائي چه کله په ما د رسول الله ﷺ سره ماسپخين مونځ کولو نو په موټي کښې به مې کانړي پټول ددې دپاره چه هغه يخ وي او بيا چه به کله سجدې ته تلم نو په هغه باندې به سجده کولو دپاره هغې لره د سجدې په ځائې باندې کيخودلو د زمکې د ګرمئ نه د بچ کيدو دپاره، امام خطابي ﷫ فرمائي چه ددې حديث نه څو مسئلې معلومې شوې يو دا چه (اخذ قبضة من الحصى) عمل قليل دې کوم چه مفسد صلاة نه دې، دا معلومه شوه چه مصلي دپاره په ثوب ملبوس باندې سجده کول جائز نه دی ځکه چه که جائز وه نو بيا ددې تکلف يعنې تبريد حصی ضرورت نه وې، ځان پوهه کړه چه په ثوب متصل باندې سجده کول د شافعيه په نزد ناجائز او مفسد صلاة دې د احنافو په نزد جائز دې زيات نه زيات مکروه دې، نو خطابي ﷫ ددې حديث نه خپل مسلک ثابتول غواړي، زمونږ د طرف نه جواب دا دې چه د رواياتو نه سجود على ثوب المصلي ثابت دې، خو شوافع د هغه رواياتو تاويل دا کوي چه ددې ثوب نه ثوب متصل او ملبوس مراد نه دې بلکه ثوب منفصل مراد دې، مونږ وايو چه دا خلاف ظاهر دې، صحابه کرامو سره دومره کپړې چرته وې د اغوستلو دپاره جدا د خورولو دپاره جدا، (او لكلكم ثوبان) حديث ياد کړئ.

[۴۰۰] ([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ سَعْدِ بْنِ طَارِقٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ الْأَسْوَدِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، قَالَ: "كَانَتْ قَدْرُ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ أَقْدَامٍ إِلَى خَمْسَةِ أَقْدَامٍ، وَفِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ أَقْدَامٍ إِلَى سَبْعَةِ أَقْدَامٍ".

ترجمه: عبد الله بن مسعود ويلي دي: وه اندازه د مونځ د رسول الله ﷺ په اوړي کښې د درې قدمونو نه واخله تر پنځه قدمونو پورې، او په ژمي کښې د پنځه قدمونو نه واخله تر اوه قدمونو پورې.

شرح حديث

قوله: حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، ....وَفِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ أَقْدَامٍ إِلَى سَبْعَةِ أَقْدَامٍ".

مقصود په دې حديث سره د ماسپخين د مونځ وخت بيانول دی، په اوله زمانه کښې ددې زمانې ګهړئ او ګينټې څو نه وې د وختونو حساب او د هغې معرفت او تعيين په طلوع او غروب او سورې او نمر سره کولې شو،، پس په دې حديث کښې دې صحابي هم د ماسپخين د مونځ وخت لره د سورې په مقدار سره خودلی کړې دې او هغه دا چه رسول الله ﷺ اوائل صيف (د ګرمئ شروع) کښې د ماسپخين مونځ هغه وخت ادا کولو چه کله به سورې د درې قدمو په اندازه وو او د ګرمئ په سختئ کښې به ئې په تاخير سره کولو يعنې کله چه به سورې د پنځو قدمونو په اندازه وو، دا خبره ښکاره ده چه څومره تاخير کيږی نو هومره به سورې اوږديږی.

بيا ځان پوهه کړئ چه د ظل دوه قسمونه دی، ظل اصلي او ظل زائد، عين د نصف النهار

[1] : سنن النسائي/المواقيت ٥ (٥٠٤)، (تحفة الأشراف: ٩١٨٦) (صحيح)

په وخت باندې چه کوم سورې وی هغې ته ظل اصلی وئيلې شی او د زوال شمس نه روستو چه کوم سورې زياتيدل شروع شی هغې ته ظل زائد وئيلې شی، په اصل کښې د تعجيل او تاخير مدار هم په دې ظل زائد باندې دې د هغې زائد کيدل په تاخير باندې دلالت کوی او کم کيدل په تعجيل باندې، خو په دې روايت کښې چه کوم ظل ذکر شوې دې هغه مطلقا دې په هغې کښې زائد ياد اصلی قيد نشته، بلکه مجموعی ظل مراد دې.

لهذا دا به کتلې شی چه په دې حديث کښې چه د سوری کوم مقدار مذکور دې په دې کښې ظل اصلی څومره دې او ظل زائد څومره، بيا به د تعجيل او تاخير صحيح معلومات اوشی، لهذا وړاندې واورئ.

د امام خطابی او د سبکی د رائې اختلاف

په دې کښې د علماء کرام اختلاف دې، د امام خطابی رائې دا ده چه په حجاز مقدس کښې د ګرمئ زمانه کښې ظل اصلی درې قدمو ته نزدې وی لهذا معلومه شوه چه په اول صيف کښې به رسول اللهﷺ مونځ په اول وخت کښې کولو، او بيا روستو به ئې د سختې ګرمئ په زمانه کښې ددوه قدمه تاخير فرمائيلو سره کل په پنځو قدمونو باندې کولو لاجل الابراد.
او ددې بالمقابل تقی الدين سبکی فرمائی لکه چه شارح ابن رسلان د هغه نه نقل کړې دی چه په حجاز کښې د ګرمئ په زمانه کښې د نصف النهار په وخت باندې ظل اصلی مطلقا نه وی، لهذا د هغه ددې قول په وجه باندې د رسول اللهﷺ د درې قدمونو په اندازه سوری باندې مونځ کول دا د تاخير او ابراد دپاره وو او بيا چه به کله ظل اصلی د دوه قدمونو په اندازه شو نو هغه وخت به ئې د پنځو قدمونو په اندازه د ماسپخين مونځ کولو، يعنی ظل زائد به هغه وخت هم درې قدمه وو حاصل دا چه د سبکی په نزد رسول اللهﷺ د ماسپخين مونځ مطلقا په اول صيف واخر صيف کښې په درې قدمه سوری باندې کړې دې او درې قدمه سورې تقريبا نصف مثل وی (څکه چه مشهوره ده چه د انسان قد د هغه د اووه قدمونو په اندازه وی) لهذا ددې مطلب دا شو چه په ګرمئ کښې به رسول اللهﷺ د ماسپخين تقريبا نيم وخت تيرولو سره مونځ کولو (څکه چه مشهور ده چه د انسان قد د هغه د اووه قدمونو برابر وی) لهذا مطلب دا شو چه که په ګرمئ کښې به رسول اللهﷺ د ګرمئ تقريبا نيم وخت تيريدو نه پس مونځ کولو (څکه چه د جمهورو په نزد د ماسپخين وخت په يو مثل باندې راتلو سره ختميږی) او د خطابی د رائې تقاضه کومه چه مونږ پورته بيان کړې ده دا ده چه د ګرمئ په شروع زمانه کښې به هغه د ماسپخين مونځ په اول وخت کښې کولو بغير د ابراد نه او بيا به ئې وړاندې تلو سره د ګرمئ په سخته زمانه کښې صرف د دوه قدمونو د سوری په مقدار تاخير کولو، ددې شارحينو دا اختلاف په دې خبره باندې مبنی دې..... چه په هغوی کښې د يو په نزد په حجاز کښې د ګرمئ په موسم کښې ظل اصلی د نصف النهار په وخت درې قدمه ته نزدې وی او د دويم شارح په نزد بالکل نه وی وهذا غاية التحقيق والتوضيح، لهذا المقام والله ولی المرام وبيده حسن الختام. دا چه څه بيان کړې شو د حديث د جزء اول سره متعلق دی يعنی د ماسپخين مونځ د ګرمئ په زمانه کښې، او د

حديث جزء ثاني کوم چه د شتاء سره متعلق دي او په هغې کښې د شارحينو هيڅ اختلاف نشته، په حجاز مقدس کښې په اول شتاء کښې ظل اصلي په پنځه قدمونو او بيا وړاندې تلو سره اووه قدمه کيږي، په دې وجه د رسول الله ﷺ ماسپخين د يخني په زمانه کښې مطلقا په اول وخت کښې شو او مسئله هم دا ده چه د يخنئ په زمانه کښې ماسپخين بالاتفاق په اول وخت کښې کول اولى دي.

[۴۰۱]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي أَبُو الْحَسَنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو الْحَسَنِ هُوَ مُهَاجِرٌ، قَالَ: سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ وَهْبٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا ذَرٍّ، يَقُولُ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَرَادَ الْمُؤَذِّنُ أَنْ يُؤَذِّنَ الظُّهْرَ، فَقَالَ: أَبْرِدْ، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُؤَذِّنَ، فَقَالَ: أَبْرِدْ، مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا حَتَّى رَأَيْنَا فَيْءَ التُّلُولِ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ، فَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ".

ترجمه:ابو ذر ﷛ وايلي دي: وو مونږ د رسول الله ﷺ سره ږو، نو اراده وکړه مؤذن چې اذان وکړي د ماسپخين، نو ويې وئيل يخ والى وکړه، بيا ئې اراده وکړه چې اذان وکړي نو ويې يخ والى وکړه، دوه ځل او يا درې ځل، تر دې چې مونږ وليدلو سورى د غونډو (وړو غرونو)، بيا ئې ووئيل: بيشکه شدت ګرمئ د ږاس د جهنم نه دى، کله چې ګرمي سخته شي نو يخ والى کوئ په مانځه.

تشريح: **قوله**:﴿ فاراد المؤذن ان يؤذن الظهر فقال : ابرد الخ﴾ دا د سفر واقعه ده سيدنا بلال ﷛ د ماسپخين دپاره د اذان اراده اوکړه نو رسول الله ﷺ د ابراد حکم اوکړو چه اوس ايسار شه د ګرمئ تيزي کميدو ته پريږده، دلته دا سوال دې چه بلال خو د اذان اراده کړې وه نو رسول الله ﷺ ورته د ابراد حکم اوفرمائيلو چه اوس ايسار شه د ګرمئ تيزې کميدو ته پريږده، دلته دا سوال دې چه بلال خو د اذان اراده کړې وه او ابراد يعنى د شدت حرارت نه بچ کيدل د مونځ په اعتبار سره دې نه د اذان، بيا د اذان نه منع ولې اوکړې شوه په دې باندې حافظ ليکى چه اصل کښې د علماء کرامو په دې کښې اختلاف دې چه اذان د وخت دپاره وى يا د مونځ دپاره، او ددې حديث نه تائيد کيږى د هغه چا چه وائى چه د مونځ دپاره دې، کرمانى وائى چه نه اذان خو د وخت دپاره وى خو چونکه په هغه زمانه کښې د حضرات صحابه کرامو عادت دا وو چه د اذان د اوريدو نه پس به ئې جماعت ته حاضريدو کښې وخت نه لګولو په دې وجه په اذان کښې رسول الله ﷺ د ابراد حکم ورکړو ﴿ مرتين او ثلاثا ﴾ سيدنا بلال ﷛ لږ ساعت پس دوباره د اذان ورکولو اراده اوفرمائيله بيا هغه هم دا اوفرمائيل، بيا وړاندې د راوى شک دې چه په دريم ځل باندې هم هغه باندې د ابراد فرمائيلو موقع راغله يا نه.

قوله:﴿ حتى راينا فئ التلول ﴾ تلول جمع د تل ده ددې اطلاق په ډيرکئ باندې کيږى نو مطلب دا شو چه بيا سيدنا بلال ﷛ دومره تاخير اوکړو چه مونږ خلقو ته د ډيرکو سورى په نظر راغلل، ډيرکئ منبطح او منبسط څيز وى يعنى خور او اوږد، او د داسې څيز سورې په

[1]: صحيح البخاري/المواقيت ۹ (۵۳۵)، صحيح مسلم/المساجد ۳۲ (٦١٦)، سنن الترمذي/الصلاة ٦ (١٥٨)، (تحفة الأشراف: ١١٩١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵۵/۵، ۱٦۲، ۱۷٦) (صحيح)

زمكه باندې زر نه پريوځي لكه چه مشاهده ده بلكه ډير روستو وي او د بخاري په يو روايت كښې خو راځي (حتى ساوى الظل التلول) چه د ډيركو سورې خپله د ډيركو برابر شو، ددې نه خو ډير زيات تاخير معلوميږي، كوم چه به يقينا مثلين ته اورسيږي لكه چه د امام ابوحنيفه‌رحمه‌الله مذهب دې او د جمهورو په نزد خو په يو مثل باندې د ماسپخين وخت ختميږي، لهذا دا روايت د ماسپخين په وخت كښې د امام صاحب دليل شو.

د شوافعو د طرف نه د حديث الباب توجيهات

هم په دې وجه حضرات شوافع ددې په تاويل كښې فكر مند دی خصوصا د روايت بخاري په لفظ كښې، پس حافظ ابن حجررحمه‌الله فرمائي چه د مساوات مطلب دا نه دې چه د ډيركو سورې په مقدار كښې د هغې برابر شو يعني مساوات في المقدار مراد نه دې بلكه مساوات في التحقق والظهور مراد دې يعني څنګه چه ډيركئ موجود وې هم دغه شان د هغې سورې هم موندلې كيدو او بل تاويل حافظ دا كړې دې چه دا دې په جمع بين الصلاتين باندې محمول كړې شي ځكه چه دا د سفر واقعه ده، لهذا د رسول الله ﷺ قصد ماسپخين لره په مازيګر كښې كول وو، انتهى كلام الحافظ. اوګورئ حافظ صاحب څه فرمائي! هم په دې وجه خو مونږ ونيلې وو چه دا د امام صاحب دليل دې ګڼې ددې تاويل څه حاجت وو.

د ماسپخين وخت الى مثلين په باره كښې د امام ابوحنيفه دلائل

امام صاحب سره نور هم بعض دلائل دی مثلا هم دا حديث الابراد ځكه چه ابراد د يو مثل نه روستو حاصليږي خصوصا په عربو كښې (كما في تقرير شيخ الهند) او هم دغه شان هغه مشهور حديث كوم چه د مشكاة په اخر كښې باب ثواب هذه الامة د لاندې مذكور دې چه ددې امت مثال د قلت عمل او كثرت اجر په باره كښې د يهود او نصارى په مقابله كښې داسې دې لكه چه يو سړې د كار كولو دپاره مزدور طلب كړي بعض مزدوران كار كوي د سحر نه تر ماسپخين پورې او بعض د ماسپخين نه تر مازيګر پورې او د دوارو دپاره اجرت يو يو دينار تجويز كړي او بعض مزدوران د مازيګر نه تر ماښام پورې راوبلي او د هغوی دپاره اجرت دوه دوه ديناره تجويز كړي نو په دې سره هغه دواړه ډلې د مالک نه خفه شوې چه دا څه خبره ده چه زمونږ د دوارو عمل زيات او اجرت كم او د دريمې ډلې عمل كم او اجرت زائد، ددې نه روستو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د اولو دوارو ډلو مثال يهود او نصارى دی او د دريمې ډلې مثال امت محمديه دې، ددې حديث نه استدلال په دې طريقه دې چه د عمل كمې او د اجرت زيادت هل كيدې شي چه كله د مازيګر وخت د مثلين نه اومنلې شي او كه د يو مثل نه اومنلې شي نو بيا نه دې، ددې جواب بعض د جمهورو د طرف نه دا وركړې دې چه د مازيګر د وخت شروع كه د يو مثل نه اومنلې شي نو بيا هم د مازيګر وخت د ماسپخين نه كم دې.

اګر چه معمولي شان فرق وي جواب دا دې چه دا هيڅ نه دی، دا حديث د امثالو د قبيلې نه دې مثالونه ډير واضح او ښكاره وي داسې باريک فرق په هغې كښې نه چليږي. (فان شدة

الحر من فيح جهنم ﴾ د ګرمئ شدت حرارت د جهنم د وسعت او د هغې د انتشار د وجې نه دې دا حديث بعض علماء کرامو په مجاز تشبيه باندې محمول کړې دې يعنې په دې ځان پوهه کړئ چه د ګرمئ په موسم کښې چه کوم د ګرمئ شدت وی هغه د جهنم د حرارت په شان دې خو ظاهره دا ده چه دا کلام په خپل حقيقت باندې محمول دې، كما قال الحافظ وغيره من الشراح، ځکه چه په يو روايت کښې تصريح ده : اشتكت النار الى ربها فاذن لها بنفسين... د دې نه معلومه شوه چه جهنم چه کله بهر ساه اخلی نو دا ګرمی د هغې نه پيدا کيږی، او ګويا چه کله دننه ساه اخلی نو په دنيا کښې د حرارت په ځائې يخنی پيدا کيږی يا دې دا اووئيلې شی چه د جهنم يوه طبقه زمهرير هم ده چه په هغې کښې سخته يخنی ده، د هغه طبې د ساه په وجه باندې په دنيا کښې يخنی کيږی، هكذا قالوا.

يو اشکال او د هغې جواب

خو دلته يو سوال دا دې چه که د ګرمئ د موسم ګرمی د جهنم د اثر نه ده نو په يو وخت کښې ټول عالم ته محيط کيدل پکار دی دا څه دی چه په يوه زمانه کښې په يو اقليم کښې ګرمی ده او په څه کښې يخنی، جواب دا دې چه هر يو څيز اول خپل مرکز ته رسيږی، بيا د هغه ځائې نه بل ځائې ته رسيږی نو په دنيا کښې د حرارت مرکز نمر دې لهذا د جهنم حرارت چه کله د دنيا طرف ته راځی نو هغه نمر خپل ځان ته راکاږی او نمر چونکه په زمانه واحد کښې بعض مکاناتو ته نزدې او د بعض نه لرې وی نو ددې نمر د قرب او بعد د وجې نه داسې وی چه چرته ګرمی وی او چرته نه وی. ﴿ اذا اشتد الحر فابردوا عن الصلاة ﴾ کوم خلق چه مطلقًا د ابراد قائل نه دې هغوی د حديث الابراد دا تاويل کوی چه برد النهار وئيلې شی اول النهار ته، لهذا د ابردوا معنی دا شوه چه برد الوقت يعنی په اول وخت کښې مونځ کوئ، خو چونکه په حديث کښې ﴿ اذا اشتد الحر ﴾ موجود دې بيا دا تاويل څنګه کيدې شی او هم دغه شان د بلال رضی الله عنه قصه کومه چه پورته تيره شوې ده د هغې نه صفا معلوميږی چه د ابراد نه مراد تاخير دې.

[۴۰۲]()حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، أَنَّ اللَّيْثَ حَدَّثَهُمْ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ، فَأَبْرِدُوا عَنِ الصَّلَاةِ"، قَالَ ابْنُ مَوْهَبٍ: بِالصَّلَاةِ فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ.

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې، بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلی دي: کله چې سخته شی ګرمي نو يخوالی کوئ د مانځه نه. وئيلی دی ابن موهب: په مانځه سره، ځکه شدت د ګرمئ دا د جهنم براس دی.

[1]: صحيح البخاري/المواقيت ۹ (۵۳۶)، صحيح مسلم/المساجد ۳۲ (۶۱۵)، سنن الترمذي/الصلاة ۵ (۱۵۷)، سنن النسائي/المواقيت ٤ (۵۰۱)، سنن ابن ماجه/الصلاة ٤ (۶۷۸)، (تحفة الأشراف: ۱۳۲۲۶، ۱۵۲۳۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/وقوت الصلاة ۷ (۲۸،۲۹)، مسند احمد (۲/۲۲۹، ۲۳۸، ۲۵۶، ۲۶۶، ۳۴۸، ۳۷۷، ۳۹۳، ٤۰۰، ٤۱۱)، سنن الدارمي/الصلاة ١٤ (۱۲٤۳)، الرقاق ۱۱۹ (۲۸۸۷) (صحيح)

[۴۰۳] ([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ "أَنَّ بِلَالًا كَانَ يُؤَذِّنُ الظُّهْرَ إِذَا دَحَضَتِ الشَّمْسُ".

ترجمه: د جابر بن سمرة نه روايت دې بيشكه بلال به اذان كولو د ماسپخين لپاره كله چې به نمر واوړيدو

تشريح: قوله: (أَنَّ بِلَالًا كَانَ يُؤَذِّنُ الظُّهْرَ إِذَا دَحَضَتِ الشَّمْسُ) د (دحض) معنى زلق او خوئيدلو ده مراد دلته د نمر د اسمان د مينځ نه منتقل كيدل او زائل كيدل دى. مطلب دا شو چه هغه به د زوال نه روستو فورا اذان كولو او د مسلم په روايت كښې دى (كان النبى صلى الله عليه وسلم يصلى الظهر اذا دحضت الشمس) امام نووى رحمه الله فرمائى چه ددې نه معلومه شوه چه د ماسپخين په مونځ كښې تقديم او تعجيل مستحب دې، وبه قال الشافعى والجمهور... زه وايم چه په دې مسئله كښې د جمهورو او امام شافعى رحمه الله اختلاف دې نو بيا ئې د جمهور طرف ته نسبت څنګه اوكړو ځكه چه جمهور په يخنئ كښې د تعجيل او په ګرمئ كښې د تاخير قائل دى او د امام شافعى رحمه الله په نزد په ګرمئ كښې هم تعجيل دې الا بشرائط، لهذا د جمهورو د طرف نه به توجيه دا وى، يا خو به دا وئيلې شى چه دوام مراد نه دې بلكه احيانا لبيان الجواز يا داسې اووئيلې شى چه ممكنه ده چه دا د امر بالابراد نه مخكښې واقعه وى، يا په زمن شتاء باندې محمول كړې شى، او علامه عينى ددې جواب دا وركړې دې چه كوم سرې ماسپخين د ابراد سره كوى په هغې باندې هم دا خبره صادق كيږى چه هغه د زوال شمس نه روستو مونځ اوكړو، د عينى مراد دا دې چه دا دې په على الفور باندې محمول نه كړې شى بلكه بعد الفصل د چه د حديث الابراد خلاف نه شى

بَابٌ فِي وَقْتِ صَلَاةِ الْعَصْرِ

باب دې په بيان د مانځه د مازيګر كښې

د مازيګر د مانځه وخت

د جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نزد په عصر كښې تعجيل اولى دې او د احنافو په نزد تاخير (قاله ابن العربى فى شرح الترمذى)

[۴۰۴] ([2]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ بَيْضَاءُ مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ، وَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ".

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې. بيشكه هغه ورته خبر وركړى دى، چه رسول الله

---

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۲۱۴۹)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ۳۳ (۶۱۸)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۳ (۶۷۳)، مسند احمد (۵/۱۰۶) (حسن صحيح)

[2]: صحيح مسلم/المساجد ۳۴ (۶۲۱)، سنن النسائي/المواقيت ۷ (۵۰۸)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۵ (۶۸۲)، (تحفة الأشراف: ۱۵۲۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المواقيت ۱۳ (۵۵۰)، والاعتصام ۱۶ (۷۳۲۹)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ۱ (۱۱)، مسند احمد (۳/۲۲۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۵ (۱۲۴۴) (صحيح)

ﷺ به مونځ کولو د مازیګر او نمر به سپین وو اوچت او تازه وو. او تللو به تلونکی بانډو ته او نمر به اوچت وو

د جمهورو د حدیث نه په تعجیل عصر باندې استدلال او د احنافو د طرف نه جواب

قوله:(حدثنا قتيبة بن سعيد.... ويذهب الذاهب الى العوالي والشمس مرتفعة) یعني په عوالي مدینه کښې اوسیدونکی صحابه کرامو به چه د رسول اللهﷺ د مازیګر مونځ اوکړو او کورونو ته به واپس شو نو هلته د رسیدو نه پس به هم نمر اوچت ولاړ وو او ددې نه په وړاندې روایت کښې راځی چه امام زهری رحمه الله فرمائی چه عوالی د مدینې نه په دوه یا درې میله فاصله باندې واقع دې، په ظاهره کښې ئې مطلب دا دې چه بعض عوالی د مدینې نه دوه یا درې میله فاصله باندې دی او بعض په څلور میله فاصله باندې، لکه چه په بخاری کښې په یو روایت کښې ددې تصریح ده او حافظ د بعض روایاتو په وجه باندې لیکی چه ابعد العوالی په شپږ میله فاصله باندې دی خو ددې روایت په ثبوت کښې د حافظ تردد دې خکه چه د بخاری د روایت خلاف دی، او په مدونه کښې خو د امام مالک نه روایت دې چه ابعد العوالی د درې میلو په فاصله باندې دی، او د بعض روایاتو نه دا هم معلومیږی چه زیات نه زیاته فاصله اته میله ده. (کما فی البذل) اوس د بخاری روایت که مخې ته کیخودلې شی نو د څلورو میلو نه زیاته فاصله نشته نو مطلب دا شو چه رسول اللهﷺ سره به د مازیګر مونځ کونکی خپل کور ته په څلور میله فاصله کښې اورسیدل او بیا به هم د نمر ګرمی، اوچت والې باقی وو ددې نه دا حضرات یعنی جمهور په تعجیل د عصر باندې استدلال کوی او دا د مازیګر وخت د یو مثل نه شروع کیږی، زمونږ د طرف نه ددې جواب په لامع کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د طرف نه نقل کړې شوې دې چه ددې حدیث نه وخت په تعیین باندې استدلال صحیح نه دې خکه چه خلق په خپل چال او رفتار کښې مختلف وی، بعض سریع السیر او بعض بطئ السیر هم دغه شان د عوالی مقدار هم د بعد په اعتبار سره مختلف دې، بعض عوالی په دوه میلو باندې دی او بعض په درې او بعض څلور نو په دې صورت کښې څه استدلال کیدې شی، حضرت شیخ په حاشیه د لامع کښې فرمائی چه زما والد صاحب به فرمائیل چه هغه د خپلې طالب علمئ په زمانه کښې چه کله هغه په نظام الدین کښې وو نو روزانه دوه وخته مونځ کولو نه پس به د هغه ځائې نه مدرسه حسین بخش دهلی ته تلو راتلو او هلته به ئې پیدل تګ راتګ وو هغه فرمائی چه زه به د نظام الدین نه مدرسه حسین بخش ته په نیمه یا پاؤ کم ګهنټه کښې رارسیدم حال دا چه ددې دواړو ځایونو ترمینځه فاصله تقریبا درې نیم میله ده معلومه شوه چه سریع السیر انسان چه د عوالی فاصله تقریبا په ګهنټه کښې برابر کړه نو که د مازیګر مونځ د دوه مثلو نه پس اوکړی شی او بیا په دې باندې مزید نیمه ګهنټه تیره شی نو په ظاهره ارتفاع شمس بیا موندلې شی هم دا خبره په حدیث کښې مذکور ده، کم از کم دومره خو ونیلې کیدې شی چه ددې حدیث مفید تعجیل کیدل متیقن نه دی هم دا خبره امام ابوبکر جصاص رازی هم احکام القران کښې لیکلې دې پس حضرت شیخ په اوجز صفحه ۱۵ کښې لیکی وقال الرزای

في الاحكام لايمكن الوقوف منه على مقدار معلوم من الوقت لانه على المسافة والسرعة في المشي.

[۴۰۵]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: وَالْعَوَالِي عَلَى مِيلَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةٍ، قَالَ: وَأَحْسَبُهُ قَالَ: أَوْ أَرْبَعَةٍ.

ترجمه:زهری ویلی دي عوالي په اندازه د دوه يا درې ميلونو باندې، هغه وئيلی دي ددی حديث راوی معمر وائی زه گمان کوم چه اوئې وئيل أَوْ أَرْبَعَةٍ (يا څلور)

[۴۰۶]()حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ خَيْثَمَةَ، قَالَ: حَيَاتُهَا أَنْ تَجِدَ حَرَّهَا.

ترجمه:د خيثمة نه روايت دې هغه وئيلی دي د ژوند د هغې نه مطلب دا دې چې ته بيا مومې گرمي د هغې.

[۴۰۷]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ عُرْوَةُ: وَلَقَدْ حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ فِي حُجْرَتِهَا قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ".

ترجمه:حديث بيان کړې دې عائشې بيشکه رسو ل الله ﷺ وو چې مونځ ئې کولو د مازيگر او نمر به د هغې په حجره کښې (په زمکه) وو، مخکې د اوړيدو نه (په ديوالونو باندې).

د حديث شرح او طريق استدلال

قوله:﴿ كان يصلى العصر والشمس فى حجرتها قبل ان تظهر ﴾ سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به د مازيگر مونځ کولو په داسې وخت کښې چه رڼرا به د هغوی د حجرې په انګڼ کښې موجود وه مخکښې ددې نه چه رڼرا ديوالونو ته اوخيژی، ﴿ تظهر ﴾ د ظهور نه دې چه د هغې معنی دلته صعود او علو ده، كما فى قوله تعالى ﴿ ومعارج عليها يظهرون ﴾ دا حديث متفق عليه دې..... او په ظاهره کښې په تعجيل عصر باندې دلالت کوی او دا چه د مازيگر وخت د يو مثل نه شروع کيږی ځکه خو رڼرا په حجره کښې دننه وه ګينې د تاخير په صورت کښې کولو سره به رڼرا په کمره کښې دننه ځنکه وه، امام طحاوی رحمه الله په دې باندې فرمائی چه ددې حديث نه په تعجيل باندې استدلال صحيح نه دې ځکه چه د حجرې ديوالونه واړه او چت لاندې وو او د کوم کور ديوالونه واړه واړه او ښکته وی په هغې کښې خو د نمر رڼرا تر مابنامه پورې وی، او د ديوالونو د اوچتيدو په صورت کښې د رڼرا د کور په انګڼ کښې کيدل يقينا تعجيل لره مقتضی دې او دلته د اسې نه وه، الحاصل دا چه ددې حديث نه په تعجيل باندې استدلال د ديوالونو په اوچت والې باندې موقوف دې او داسې ده نه، او هم دا خبره صاحب بدائع هم فرمائيلې ده كما فى الاوجز. په دې باندې جمهورو وئيلې دی چه صرف د ديوالونو ښکته کيدل د تاخير دپاره کافی نه دی چه ترڅو پورې ددې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۳۷۸) (صحيح)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۱۸۶۱۸) (صحيح)

(): صحيح البخاري/المواقيت ۱ (۵۲۲)، ۱۳ (۵۴۴)، والخمس ٤ (۳۱۰۳)، صحيح مسلم/المساجد ۳۱ (۶۱۲)، (تحفة الأشراف: ۱۶۵۹۶)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۶ (۱۰۹)، سنن النسائي/المواقيت ۷ (۵۰۶)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۵ (۶۸۳)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ۱ (۲) (صحيح)

سره بل ځيز بيا نه موندلې شي يعنې اتساع صحن (د انګړ فراخه کيدل) او هغه دلته مفقود دې لکه چه ديوالونه لوړ نه وو هم دغه شان د حجرې انګړ وسيع هم نه وو، فحينئذ لا دلالة فيه على التاخير.

خان پوهه کړئ چه حضرت شيخ په اوجز کښې ليکې چه دا ټول قيل او قال خو په هغه صورت کښې دې چه په حديث کښې د رڼا نه مراد هغه رڼا واخستلې شي کومه چه د چهتونو دپاسه راروانه وی او که ددې نه مراد هغه رڼا واخستلې شی، کومه چه د حجره شريفه د دروازې نه داخليږی ځکه چه باب حجره غربی وه (١) نو بيا ددې ټول بحث حاجت پاتې نه شو او په دې صورت کښې د حديث دلالت په ځائې د تعجيل په تاخير باندې اظهر وی.

[۴۰۸](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ، قَالَ: "قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ، فَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَصْرَ مَا دَامَتِ الشَّمْسُ بَيْضَاءَ نَقِيَّةً".

ترجمه: د علي بن شيبان نه روايت هغه وئيلی دی، مونږ راغلو رسول الله ﷺ ته مدينې ته نو هغه وو چې وروسته کولو به ئې مازيګر ترهغې پورې چې نمر به سپين وو صفا.

تشريح: **قوله**: ﴿عن علي بن شيبان..... فكان يؤخر العصر ما دامت الشمس بيضاء نقية﴾ د علي بن شيبان دا حديث د تاخير عصر په باره کښې صريح دې د احنافو سره نور هم دلائل دی کوم چه په کتب فقهيه او شروح حديث کښې ذکر شوې دی، حضرت هم په بذل کښې دې ځائې ليکلې دی حضرت شيخ په خپلو تصنيفاتو کښې ليکلې دی او په درس کښې به ئې هم فرمائيل چه د احنافو اول نظر په قران کريم باندې وی او د اختلاف روايات په وخت هغه روايت لره اخلی، کوم چه اوفق بالقران وی او د تاخير عصر روايات اوفق بالقران دی ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا﴾ حضرت به فرمائيل چه ددې آيت کريمه مقتضی فی الفجر والعصر دې لکه چه د احنافو مسلک دې، امام محمد رحمه الله په موطاء کښې فرمائی چه د بعض ائمه کرامو نه منقول دی ﴿ انما سمی العصر عصرا لانها تعصر وتؤخر﴾ صاحب منهل د حديث الباب جواب د جمهورو د طرف نه په التعليق الممجد (حاشيه موطاء محمد) نه دا نقل کړې دې چه دا حديث ضعيف دې ځکه چه ددې راوی يزيد بن عبدالرحمن دی کوم چه مجهول دی.

(١) واضحه دې وی چه داهل مدينه قبله دجنوب په طرف ده او د عائشې رضی الله عنها حجره مشرقی طرف ته او مسجد نبوی په مغرب طرف کښې دې، په دغه طرف د حجرې دروازه ده، نوکله چه د حجرې دروازه کهلاؤ وی نود مسجد دطرفه به په حجره شريفه کښې نمر داخليږی.

(٢) تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ١٠٠١٩) (ضعيف)

بَابٌ فِي الصَّلوٰةِ الْوُسْطٰى

باب د صلاة وسطى بيان

[۴۰۹]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ: "حَبَسُونَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطَى صَلَاةِ الْعَصْرِ، مَلَأَ اللَّهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا".

ترجمه:د علی رضی الله عنه نه روایت دې، چه رسول الله ﷺ وویل په ورځ د خندق: دې کافرانو منع کړل مونږ لره د مانځه درمیانه نه چې د مازیګر مونځ دی، الله دې ډک کړی د دوی کورونه او قبرونه د اور نه.

تشریح: **قوله**: ﴿ حدثنا عثمان بن ابی شیبة الخ ﴾ د بذل المجهود په نسخه کښې دې ځائې کښې باب نشته بلکه په دې کښې دا حدیث د باب سابق د لاندې دې، ﴿ عن عبيدة عن على ﴾ دا عبیده بفتح العین دې ددې نه مراد عبیده سلمانی دې، سلمان د یوې قبیلې نوم دې دا د سیدنا علی رضی الله عنه او سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه د مشهور اصحابو نه دی.

﴿ قال يوم الخندق : حبسونا عن صلاة الوسطى صلاة العصر ﴾ غزوه خندق په ذی قعده ۵ هجری کښې پیښه شوې وه او د امام بخاري رائې دا ده چه په شوال ۴ هجری کښې، چونکه په دې غزوه کښې د مدینې نه ګیر چاپیره خندق کنستلې شوې وو ځکه دې ته غزوه خندق وئیلې شی او غزوه احزاب هم دې ته وئیلې شی، ځکه چه د مشرکانو ډیر قبائل چه په هغې کښې د مدینې یهود هم شامل شوې وو په مدینه باندې راختلي وو، د مشرکانو تعداد لس زره او د مسلمانانو تعداد درې زره لیکلې شوې دې ددې باوجود مسلمانانو ته الحمد لله هیڅ نقصان او نه رسیدو، انتهائی تیزه هوا راغله چه هغې د خوراک کټوئ او په نغرو کښې چه کوم اور بلیدو هغه ټول منتشر کړل او ددې نه علاوه نور ځیزونه هم اوموندلې شو چه هغې نه مشرکین پریشانه کیدو سره او تختیدل ، په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه مشرکانو مونږ د صلاة وسطی یعنی صلاة عصر کولو نه منع کړو، (تردې چه هغه قضاء شو).

﴿ ملاء الله بيوتهم وقبورهم نارا ﴾ الله پاک دې د هغوی کورونه د اور نه ډک کړی، اول د احیاء په اعتبار سره او دویم د اموات په اعتبار سره،

(د صلوة وسطى مصداق)

د دې حدیث نه معلومیږی چه د صلاة وسطی مصداق صلاة عصر دې، مسئله مختلف فیه ده په دې کښې تقریبا شل اقوال دی په بذل کښې د علامه عینی رحمه الله په حوالې سره مذکور دی خو زیات معروف په هغې کښې درې دی کوم چه امام ترمذی رحمه الله ذکر کړې دې. ۱: ددې مصداق صلاة العصر دې هم دا د احنافو او حنابله مشهور قول دې هم دې ته امام نووی رحمه الله

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ۹۸ (۲۹۳۱)، والمغازي ۲۹ (۴۱۱۱)، وتفسير البقرة (۴۵۳۳)، والدعوات ۵۸ (۶۳۹۶)، صحيح مسلم/المساجد ۳۵ (۶۲۶)، ۳۶ (۶۲۷)، سنن الترمذي/تفسير البقرة ۴۲ (۲۹۸۴)، سنن النسائي/الصلاة ۱۴ (۴۷۴)، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۳۲)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصلاة ۶ (۶۸۴)، مسند احمد (۸۱/۱، ۸۲، ۱۱۳، ۱۲۲، ۱۲۶، ۱۳۵، ۱۳۷، ۱۴۴، ۱۴۶، ۱۵۰، ۱۵۱، ۱۵۲، ۱۵۳، ۱۵۴)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۸ (۱۲۸۶) (صحيح)

او حافظ ابن حجرﷺ راجح وئيلې دې، امام ترمذيﷺ فرمائي وهو قول اکثر العلماء، په ترمذي کښې د سيدنا سمره بن جندب او سيدنا عبدالله بن مسعود رضى الله عنهما دواړو نه مرفوعا هم دا نقل دی ۲: ددې مصداق صلاة الفجر دې هم ددې قائل دې ابن عباس او ابن عمر او هم دا منقول دی د امام شافعي او امام مالک نه.

۳: ددې مصداق صلاة ظهر دې دا د زيد بن ثابت او عائشېﷺ نه منقول دی، وروایة عن الامام الاعظم، د علماء کرامو په دې کښې هم اختلاف دې چه وسطی وسط په سکون د سين سره په معنى د درميان نه ماخوذ دې يا وسط په فتحې د سين سره په معنى د فضيلت.

په غزوه خندق کښې د فوت شوې مونځونو تعداد

د ابوداود ددې حديث نه معلوميږي چه په غزوه خندق کښې د رسول اللهﷺ يو مونځ يعنى د مازيګر مونځ فوت شو د صحيحين د روايت نه هم دا ثابت دې خو ترمذي او نسائي وغيره د سنن په روايت کښې دواړه قسم دی په بعض کښې صرف د مازيګر د فوت کيدو ذکر دې او په بعض کښې د څلورو مونځونو ماسپخين، مازيګر، ماښام، ماسخوتن، دا ټول مونځونه د ماسخوتن په وخت کښې اوکړې شو د ماسخوتن مونځ هم ځکه چه د معمول نه موخر شوې وو په دې وجه راوی دې ته هم قضاء اووې، دا په ظاهره کښې تعارض دې د يو او څلورو ددې تطبيق په دوه طريقو سره کړې شوې دې، بعض ترجيح طرف ته مائل شوې دی لکه ابن العربي، هغه د صحيحين روايت ته ترجيح ورکولو سره وئيلې دی چه د رسول اللهﷺ صرف د مازيګر مونځ قضاء شوې وو، او د سنن رواياتو ته هغوی ضعيف او منقطع وئيلې دی او بعض جمع بين الروايتين اختيار کړې دې او هم دا رائې د حضرت ګنګوهي په کوکب کښې ده چه دواړه روايتونه صحيح دی چه يوه ورځ داسې اوشوه چه صرف يو مونځ فوت شو او يوه ورځ څلور مونځونه ځکه چه په غزوه خندق کښې مقابله د ډيرو ورځو پورې شوې وه بعض څليرشت ورځې ليکلې دی.

(سوال) يو سوال دلته دا دې چه رسول اللهﷺ په دې موقع باندې صلاة الخوف ولې اونکړو چه د مونځونو قضاء کيدو ته خبره نه وې رسيدلې.

ددې دوه جوابونه ورکړې شوې دی:

(اول جواب) اول دا چه تردې وخته پورې صلاة الخوف نه وو مشروع شوې ځکه چه د صلاة الخوف مشروعيت په يوم عسفان کښې شوې دې (کما هو مصرح فى رواية ابى داود او غزوه عسفان د خندق نه روستو ده،

(دویم جواب) او بل جواب دا دې چه د صلاة الخوف د کولو قدرت ئې هم اونشو د دشمن د غلبې د وجې نه چه کفار د هر طرف نه تاؤ شوې وو.

[۴۱۰]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي يُونُسَ مَوْلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهُ قَالَ: "أَمَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنْ أَكْتُبَ لَهَا مُصْحَفًا، وَقَالَتْ: إِذَا بَلَغْتَ هَذِهِ الْآيَةَ فَآذِنِّي حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى سورة البقرة آية ۲۳۸، فَلَمَّا بَلَغْتُهَا آذَنْتُهَا، فَأَمْلَتْ عَلَيَّ: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَصَلَاةِ الْعَصْرِ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ، ثُمَّ قَالَتْ عَائِشَةُ: سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د ابو يونس نه چې د عائشې ﷺ مولی دی روايت دې، هغه ونيلی دې امر وکړو ماته عائشې چې زه وليکم د هغې لپاره مصحف او ويې ونيل کله چې ورسېږی دې ايت ته نو ماته خبر راکړه (حافظوا على الصلوات و الصلاة الوسطى) کله چې زه ورسيدم هغې ته نو خبر مې کړه، نو ويې لوسته په ما (حافظوا على الصلوات و الصلاة الوسطى و صلاة العصر و قوموا لله قانتين) حفاظت کوئ د مونځونو او د مونځ درميانه او د مازيګر مونځ، او ودرېږئ الله ته عاجزی کونکې، بيا وويل هغې. ما هم داسې اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه

تشريح: **قوله**:(حدثنا القعنبي.... فاملت على حافظوا على الصلوات والصلاة الوسطى وصلاة العصر) (املت) په تشديد د لام سره هم کيدې شی د املال نه او سکون د لام سره هم کيدې شی، د املاء نه مضمون د حديث دا دې چه ابو يونس کوم چه د عائشې ﷺ غلام وو هغه وائی چه ماته عائشې ﷺ حکم اوکړو چه ما د هغه دپاره يو مصحف شريف نقل کړو او دا ئې اوفرمائيل چه کله په ليکلو ليکلو په دې آيت باندې راورسيږې (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى) نو ماته خبر اوکړه نو عائشې ﷺ اوفرمائيل چه داسې اوليکه څنګه چه پورته په روايت کښې تير شو چه په هغې کښې د صلاة وسطى نه پس د صلاة العصر اضافه ده، او هغوی دا هم اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ نه دا آيت داسې واوريدلو. د عائشې ﷺ په دې قرآت کښې دوه احتمالات دی يو دا چه دا عطف د مغايرت دپاره وی بل احتمال دا دې چه د تفسير دپاره وی، د عائشې ﷺ مسلک مخکښې تير شو چه د هغوی په نزد د صلاة وسطى مصداق ظهر دې ددې تقاضه خو هم دا ده چه دا عطف د مغايرت دپاره اومنلې شی، دلته دويمه خبره ده چه عائشې ﷺ چه کومه اضافه اوکړه چه دا هغې د قرآت په طور کړې دې نو دا به بالاتفاق قرآت شاذه وی، ممکنه ده په شروع کښې دا قرآت وی چه د هغې د نسخ علم عائشې ﷺ ته اونشو، او دا هم ممکنه ده چه هغه دا اضافه په طور د تفسير کړې وی او هغې دا لفظ د تفسير په طور بيان اوفرمائيلو، بعض صحابه الفاظ تفسيريه په مصحف کښې د ليکلو د جواز قائل وو کيدی شی دا هم په دې کښې وی

[۴۱۱]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي حَكِيمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الزِّبْرِقَانَ يُحَدِّثُ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ، وَلَمْ يَكُنْ يُصَلِّي صَلَاةً أَشَدَّ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا، فَنَزَلَتْ:

---

[1]: صحيح مسلم/المساجد ۳۶ (۶۲۹)، سنن الترمذي/تفسير البقرة (۲۹۸۲)، سنن النسائي/الصلاة ۱۴ (۴۷۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۰۹)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ۷ (۲۵)، مسند احمد (۷۳/۶) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۷۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۳/۵)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ۷ (۲۷موقوفا) (صحيح)

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى سورة البقرة آية ۲۳۸» وَقَالَ: إِنَّ قَبْلَهَا صَلَاتَيْنِ وَبَعْدَهَا صَلَاتَيْنِ".

ترجمه: د زيد بن ثابت نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو د ماسپخين په ګرمئ کښې، او نه وو چې مونځ ئې کولو داسې مونځ چې سخت وو په ملګرو د رسول الله ﷺ باندې د دېنه، نو نازل شو (حافظوا على الصلوات......) حفاظت کوئ د ټولو مونځونو او د مونځ درمیانه. او هغه وويل: د دېنه مخکې دوه مونځونه دي (ماسخوتن او سحر) او وروسته ترېنه دوه مونځونه دي مازيګر او ماښام.

تشريح: **قوله**:(حدثنا محمد بن المثنى..... عن زيد بن ثابت الخ) سيدنا زيد بن ثابت ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ به ماسپخين د غرمې په وخت او سختې ګرمئ په وخت کښې کولو، هم په دې وجه يومونځ هم ددې نه زيات سخت نه وو، په دې مونځ به هغوی ډير مشقت اوچتولو په دې باندې دا آيت کريمه (حافظوا على الصلوات) نازل شو، د زيد بن ثابت ددې حديث نه معلومه شوه چه د صلاة وسطى مصداق ماسپخين دې.

(وقال : ان قبلها صلاتين وبعدها صلاتين) د حديث دا ټکړه موقوف هم کيدې شي او مرفوع هم، يعنى د(قال) ضمير کيدې شي چه د رسول الله ﷺ طرف راجع وی، کيدې شي چه د صحابي طرف ته راجع وی، د ظهر د صلاة وسطى کيدو وجه تسميه بيانوی هغه دا چه دا درميانه مونځ دې دوه ددې نه مخکښې دی او دوه ترې روستو، خوپه دې باندې اشکال دې چه دا خبره خو په هر مونځ باندې صادق راځي چه کوم مونځ هم واخلئ نو دوه مونځونه به دهغې نه مخکښې وی او دوه به دهغې نه پس وی، ځکه چه ټول پنځه مونځونه دی، جواب دا دې چه د هغه مراد دا دې چه بعض مونځونه د شپې دی او بعض نهاری دی د ماسپخين په مونځ باندې دا خبره صادقه راځي چه ددې نه مخکښې يو مونځ ليلي دې او يو نهاری او هم دغه شان يو دهغې نه روستو ليلي دې او يو نهاری دا خبره په بل مونځ باندې صادق نه راځي.

بَابُ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَهَا

باب چا چه د مونځ يو رکعت بيا موندلو لو هغه ګنوپا پوره مونځ بيا موندلو

د بذل المجهود په نسخه کښې دلته دا باب نشته بلکه په هغې کښې دا ټول احاديث د باب سابق يعنى د باب فى وخت صلاة العصر د لاندې راورلې شوې دی.

[۴۱۲]([1])حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنِي ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْعَصْرِ رَكْعَةً قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ، وَمَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْفَجْرِ رَكْعَةً قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ".

ترجمه: ابو هريره ﷺ وويل: چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: چا چې د مازيګر نه يو رکعت

[1]: صحيح مسلم/المساجد ۳۰ (۶۰۸)، سنن النسائي/المواقيت ۱۰ (۵۱۵)، ۲۸ (۵۵۱)، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۷۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المواقيت ۲۸ (۵۷۹)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۵ (۱۸۶)، سنن النسائي/۱۱ (۵۱۶، ۵۱۷)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۱۱ (۱۱۲۲)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ۱(۵)، مسند احمد (۲/۲۵۴، ۲۶۰، ۲۸۲، ۳۴۸، ۳۹۹، ۴۶۲، ۴۷۴)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۲ (۱۲۵۸) (صحيح)

هم بیاموندلو مخکښې د ډوبیدو د نمر نه نو بیشکه هغه بیاموندلو دمازیګر مونځ، او چا چې بیاموندلو د سحر نه یو رکعت مخکښې د ختلو د نمر نه نو هغه دسحر مونځ بیاموندلو

د احادیثو تشریح او د احنافو د مسلک تحقیق

قوله:(حدثنا الحسن بن ربیع... من ادرک من العصر رکعة قبل ان تغرب الشمس الخ) دا حدیث متفق علیه دې بلکه په ټولو صحاح سته کښې شته ددې حدیث په ظاهره کښې مقتضی دا ده چه که د مازیګر په مونځ کښې نمر پریوځی او هم دغه شان د سحر د مونځ دوران کښې نمر راوخیژی نو دواړه مونځونه صحیح کیدل پکار دی، پس د جمهور او ائمه ثلاثه مذهب هم دا دې، احناف د مازیګر په مانځه کښې خو ددې قائل دی چه هغه به خو صحیح شی خو د سحر د مونځ په باره کښې وائی چه هغه به صحیح نه وی په دې وجه جمهور په احنافو باندې د عمل ببعض الحدیث الزام لګوی چه تاسو په بعض حدیث باندې عمل کوئ او بعض ترک کوئ، احناف ددې جواب دا کوی چه دا الزام په مونږ باندې هغه وخت صحیح کیدې شی چه هر کله د حدیث مفهوم زمونږ په نزد هم هغه وی کوم چه ستاسو په نزد دې، زمونږ په نزد د حدیث هغه مفهوم نه دې "واذ لیس فلیس" د جمهورو په نزد خو د ادراک نه مراد ادراک من حیث الفعل دې یعنی مونځ کول مراد دی، او مونږ وایو چه د ادراک نه مراد ادراک من حیث الوقت والوجوب دې یعنی چا چه د یو رکعت په اندازه د مازیګر یا سحر وخت بیا موندلو هغه وجوب صلاة بیا موندلو د هغه په ذمه باندې دا دواړه مونځونه واجب شو . چه کله صبی په داسې وخت کښې بالغ شی یا کافر په داسې وخت کښې اسلام قبول کړی یا حائض په داسې وخت کښې د حیض نه فارغ کیدو سره طاهره شی چه د یو رکعت په اندازه وخت باقی وی نو په دې ټولو باندې به مونځ واجب وی په خپل خپل وخت کښې دې هغه ادا کړی، د احنافو د طرف نه دا توجیه مشهوره ده کومه چه امام طحاوی رحمه الله اختیار کړې ده (۱)

(اعتراض): که څوک د احنافو نه تپوس اوکړی چه اخر تاسو دا معنی ولې اخلئ حدیث لره د هغې په متبادر معنی باندې ولې نه محمول کوئ

(جواب): ددې یو جواب خو دا دې چه دا حدیث په خپل متبادر او ظاهری معنی باندې د چا په نزد هم محمول نه دې ځکه چه د حدیث د ظاهر تقاضه دا ده چه کوم سړی د سحر یا مازیګر د مونځ یو رکعت اوکړو او په مینځ کښې نمر راوختلو یا غروب شو نو بس هغه مونځ بیا موندلو وراندې ئې د باقی رکعتونو کولو ضرورت نشته، لهذا حدیث بالاجماع مؤول شو په دې وجه مونږ د حدیث هغه معنی واخستله کومه چه پورته ذکر شوه چه دا حدیث د حدیث النهی عن الصلاة عند الطلوع خلاف نه شی او که مونږ هم هغه معنی واخلو

---

(۱) او په کوم روایت کښې چه فقد ادرک الصلاة په ځائې فلیتم صلاته وارد دې لکه چه د بخاری په یو روایت کښې دی یعنی داسې سړی لره پکار دی چه هغه خپل مونځ پوره کړی نو دا روایت د احنافو د توجیه خلاف دی ددې جواب دا دې چه ددې نه مراد (فلیودها علی وجه التمام) یعنی روستو دې خپل مونځ پوره ادا کړی او که هم دا مراد وی چه هم هغه وخت دې پوره کړی نو بیا به مونږ دا وایو چه دا حدیث د احادیث منع عن الصلاة عند الطلوع خلاف دې په محرم او مبیح کښې چه کله تعارض راشی نو محرم ته ترجیح وی)

کومه چه تاسو اخستلي ده نو په دې صورت کښې به واقعي عمل ببعض الحدیث وی، پس ددې جواب زمونږ د طرف نه اهل اصولو دا ورکړې دې چه قاعده دا ده چه د آیات قرانیه د تعارض په وخت حدیث طرف ته او د احادیثو د تعارض په وخت قیاس طرف ته رجوع کولې شي اوس چونکه دا حدیث، د حدیث النهی عن الصلاة خلاف دې نو په دې وجه به مونږ قیاس طرف ته رجوع کوو او د قیاس تقاضه دا ده چه د مازیګر مونځ خو دې صحیح شي او د سحر دې صحیح نه شي نو مونږ په قیاس عمل اوکړو، او قیاس دا دې چه د مونځ سبب د وخت وجوب دې خو وخت پوره نه دې بلکه جزء متصل بالتحریمه، او بله داچه د قاعدې خبره ده چه څنګه سبب وی هم هغه شان دې مسبب وی، که سبب کامل دې نو مسبب به هم علی وجه الکمال ادا کول ضروری وی، اوکه سبب ناقص وی نو مسبب به هم ناقص واجب وی، اوس مونږ ګورو چه د مازیګر د مونځ څه وخت خو کامل دې او څه ناقص، اخر وخت یعنی وخت اصفرار ناقص دې نو کوم سړې چه مازیګر لره د هغې په اخری وخت کښې شروع کړی ظاهره ده چه دلته سبب وجوب ناقص بیا موندلې شو لهذا په هغه سړی باندې مامور به ناقص واجب شو نو په داسې صورت کښې به په اداء ناقص سره بری الذمه شي ددې په مقابله کښې د فجر وخت کامل دې هلته چه کوم سړی د سحر مونځ په اخر وخت کښې شروع کړو نو کوم وخت چه متصل بالتحریمه دې هغه کامل دې لهذا مامور به د هغه په ذمه کامل واجب شو او ګویا هغه په خپل ځان باندې د ادا کامل التزام اوکړو حال دا چه په مینځ کښې د طلوع شمس د وجې نه په مامور به کښې نقصان پیدا شو، لهذا دا سړې به ددې اداء ناقص په ذریعه بری الذمه نه وی.

د احنافو په توجیه باندې خپله د هغوی د قاعدې د مخالفت اشکال

دلته دا اشکال پیدا کیږی چه د احنافو په اصولو کښې دا خبره ده چه نهی فساد منهی عنه لره مستلزم نه ده، النهی عن الافعال الشرعیة یقتضی تقریرها، لهذا صلاة عند الطلوع چه په کوم باندې نهی راغلې ده هغه ستاسو په نزد فاسد کیدل نه دی پکار، خو په پورته ذکر شوی تقریر او تعبیر کښې دا شبه نه عائد کیږی څکه چه مونږ دې مونځ ته فاسد نه وایو بلکه ناقص یا فاسد من حیث الفرض لا مطلقا، پس امام صاحب فرمائی چه د هغه فرض مونځ نه ادا کیږی نفل مونځ کیدې شي او هم دا رائې د امام ابویوسف رحمه الله ده، البته د امام محمد رحمه الله په نزد مونځ فاسد کیږی کما فی معارف السنن عن البدائع ومبسوط السرخسی، هم دغه شان په ایام منهیه کښې روژه اګر چه زمونږ ددې اصول پیش نظر صحیح کیږی خو که د مطلق نذر روژه په ایام منهیه کښې نیسی نو د هغې نه به نه بری کیږی، او که د ایام منهیه سره ئې نذر متعلق وی نو په دې صورت کښې به ئې نذر پوره شي غرض ادا د مامور به د التزام مطابق مکلف کیدل پکار دی.

به پورته ذکر شوی جواب باندې جمهورو دا وئیلې دی چه په حدیث الباب او حدیث النهی عن الصلاة کښې تعارض دې داسې نه ده، حدیث النهی عن الصلاة په نوافل باندې محمول دې او دا حدیث په ادراک فرض باندې، فلا تعارض بین الحدیثین، د ددې جواب حضرت

سهارنپوري په بذل کښې د علامه عيني نه دا نقل کړې دي چه د ليلة التعريس واقعه چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ فرض مونځ قضاء شوې وو په دې موقع باندې رسول الله ﷺ فرض مونځ هم په مکروه وخت کښې نه دې کړې بلکه د هغه ځائې نه تيريدو باندې ئې د ارتفاع شمس نه روستو ئې کړې وو، په روايت کښې راځي (حتى اذا تعالت الشمس الخ) او په يو روايت کښې دي (حتى استقلت الشمس) معلومه شوه چه فرض مونځ هم په اوقات منهيه کښې کول ممنوع دي، جمهور وائي چه د هغه ځائې نه منتقل کيدو سره وړاندې د مونځ کولو وجه دا نه ده کومه چه تاسو بيان کړه بلکه ددې علت هغه دې د کوم تصريح چه په حديث مرفوع کښې ده (ان هذا واد حضر فيه الشيطان) جواب دا دې چه په دواړو علتونو کښې تضاد څه دې د يو فعل متعدد مصالح کيدې شي د يو ذکر دنبي ﷺ په کلام کښې دې او د يو ذکر د صحابي په کلام کښې.

دا ټول تقرير حضرت سهارنپوري په بذل المجهود کښې د علامه عيني د کلام نه نقل کړې دي او په دې باندې حضرت هيڅ اشکال نه دې ظاهر کړې البته حضرت گنګوهي په الکوکب الدري کښې د احنافو توجيهات نه دي قبول کړي خو د هغې په حاشيه کښې حضرت شيخ د فقهاء احنافو خبرې ته خپل ميلان ظاهر فرمائيلي دې، اصل کښې زمونږ فقهاء کرامو تقبل الله مساعيهم د نظر، عقل او قياس په مدد سره ددې احاديث مختلفه ترمينځه توجيه او تطبيق فرمائيلو سره د عمل بالحديث محتاط شکل راويستلي دې نه دا چه د قياس په مقابله کښې ئې يو حديث ترک کړې دی زمونږ په مسلک کښې د احتياط کيدل د مذهب جمهور په نسبت ظاهر دې، دلته يوه خبره پاتې شوه چه په حديث کښې دی چه (من ادرک رکعة) نو که چاته د يو رکعت نه کم ملاؤ شي نو د هغه څه حکم دې، نو دا مسئله مختلف فيه ده احناف فرمائي چه ددې نه مراد بعض صلاة دې د پوره رکعت قيد نشته، پس که د تکبير تحريمه په اندازه وخت بيا مومي نو هم معتبر دې په ذمه به ئې واجب شي، د امام شافعي رحمه الله په دې کښې دوه اقوال دي يو دا چه ما دون الرکعة معتبر نه دې او هم ددې قائل دې امام مالک، او د امام شافعي رحمه الله اصح قول د احنافو په شان دې، گويا دا قيد د مالکيانو په نزد احترازي دې او د احنافو او شوافعو په نزد د مثال په طور

[٤١٣]([1])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ بَعْدَ الظُّهْرِ فَقَامَ يُصَلِّي الْعَصْرَ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ ذَكَرْنَا تَعْجِيلَ الصَّلَاةِ أَوْ ذَكَرَهَا، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِينَ، تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِينَ، تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِينَ، يَجْلِسُ أَحَدُهُمْ حَتَّى إِذَا اصْفَرَّتِ الشَّمْسُ فَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ، أَوْ عَلَى قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ، قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللَّهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا".

ترجمه: د علاء بن عبد الرحمن نه روايت دې بيشکه هغه ووئيل مونږ داخل شو په انس بن مالک باندې وروسته د ماسپخين نه، نو پاڅيدلو مونځ ئې کولو د مازيگر، هر کله چې فارغ شو د مانځه نه، ما ذکر وکړو د تلوار د مونځ او يا هغه پخپله ذکر وکړو، هغه ووئيل:

[1]: صحيح مسلم/المساجد ٣٤ (٦٢٢)، سنن الترمذي/الصلاة ٦ (١٦٠)، سنن النسائي/المواقيت ٨ (٥١٢)، (تحفة الأشراف: ١١٢٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالک/القرآن ١٠(٤٦)، مسند احمد (١٠٢/٣، ١٠٣، ١٤٩، ١٨٥، ٢٤٧) (صحيح)

ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه وئیل: دا د منافقانو مونځ دی، دا د منافقانو مونځ دی، دا د منافقانو مونځ دی، کینې یو کس په تاسو کښې تردې چې زیړ شی نمر نو شی په مینځ د ښکرو د شیطان کښې، او یا په ښکرو د شیطان باندې نو پاځې ووهی څلور ټونګې نه یادوی په کښې الله مګر لږ.

د حدیث شرح

قوله:حدثنا القعنبي دخلنا على انس بن مالک... علاء بن عبدالرحمن فرمائی چه مونږ د سیدنا انس بن مالک ﷺ په خدمت کښې د هغه کور ته لاړو، دا د بصرې واقعه ده چرته چه انس ﷺ مقیم وو، دا حدیث په مسلم کښې هم دې اوپه هغې دا هم دی﴿ وداره بجنب المسجد﴾ چه د هغه کور مسجد ته نزدې وو ﴿بعد الظهر فقام يصلي العصر الخ﴾ یعنی مونږ د ماسپخین مونځ کولو سره د هغوی په خدمت کښې حاضر شو نو زمونږ د رسیدو نه لږ ساعت پس هغه د مازیګر د مونځ کولو دپاره اودریدلو، د مسلم په یو روایت کښې دی چه مونږ د ماسپخین مونځ په مسجد کښې د عمر بن عبدالعزیز ﷺ سره کولو نه پس د سیدنا انس ﷺ په خدمت کښې حاضر شو هغه زمونږ نه تپوس اوکړو چه ایا تاسو د مازیګر مونځ کړې دې مونږ عرض اوکړو چه مونږ اوس د ماسپخین مونځ اوکړو یعنی مازیګر مو لا نه دې کړې نو هغه اوفرمائیل راځئ چه د مازیګر مونځ اوکړو پس مونږ د هغه سره د مازیګر مونځ اوکړو.

قوله:﴿ فلما فرغ من صلاته ذكرنا تعجيل الصلاة او ذكرها ﴾ یعنی د مونځ د فارغ کیدو نه پس مونږ د هغه نه تپوس اوکړو یا بغیر د تپوس نه راته هغه بیان اوکړو (راوی ته په دې کښې شک دې) د مازیګر مونځ دومره زر د کولو په باره کښې ﴿ سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه دا چه د مازیګر مونځ ناوخته کولې شی دا د منافقانو مونځ دې، منافقانو خلقو دا مونځ دومره روستو کړې وی قصدا ئې ناوخته کوی (ځکه چه د منافقت په وجه باندې د ثواب عقیده خو نشته) تردې چه چه کله نمر زیړې شی او مکروه وخت شروع شی نو بیا ئې کوی.

په حدیث کښې دوه بحثونه

د دې حدیث نه دوه خبرې معلومې شوې یو د عمر بن عبدالعزیز د ماسپخین مونځ لږه ناوخته کول او دویم د انس ﷺ د مسجد په ځائې په خپل کور کښې د مازیګر مونځ ادا کول، شارحینو لیکلې دی چه په شروع کښې عمر بن عبدالعزیز ﷺ به هم ناوخته مونځ کولو لکه چه د هغه زمانې امراء چه د بنو امیه نه وو عادت دا وو خو بیا روستو عمر بن عبدالعزیز ﷺ ته چه کله سنت طریقه معلومه شوه نو تقدیم ئې شروع کړو، هم دغه شان ئې لیکلې دی چه دا واقعه د هغوی د دور خلافت نه ده بلکه ددې وخت دا دې چه کله هغه د ولید د طرف نه د مدینې منورې نائب امیر او ګورنر وو او دا په دې وجه چه انس ﷺ د هغه د خلافت زمانه نه ده موندلې بلکه سیدنا انس ﷺ د هغه د خلافت نه اته لس کاله مخکښې فوت شوې وو او د خلافت په زمانه کښې خو د هغه حال انابت الى الله او عبادت کښې

اهتمام او مشغوله کیدل مشهور او معروف دی او دویمه خبره یعنی د انس رضی الله عنه په کور کښې مونځ کول ددې وجه په ظاهره کښې دا ده چه رسول الله ﷺ بعض صحابه کرامو ته ارشاد اوفرمائیله چه که ستاسو د زمانې امراء په مونځ کښې تاخیر کول شروع کړل او مستحب وخت تیریدلو سره کوی نو تاسو داسې کوئ چه خپل مونځ خانله په مستحب وخت کښې اوکړئ او روستو که درته په مسجد کښې د مونځ کولو موقع راشي نو هغه هم اوکړئ، بل مونځ به نفل شي لکه چه دا قسم روایات وړاندې مستقل باب ﴿ اذا اخر الامام الصلاة عن الوقت ﴾ د لاندې راروان دي.

د دې حدیث مناسبت د ترجمة الباب سره بذل المجهود والا نسخې (باب وقت صلاة العصر) سره بالکل ظاهر دې او د دویمې نسخې په اعتبار سره هیڅ مناسبت نشته لهذا د بذل والا نسخه ښه ده.

شرح حدیث

قوله: ﴿ فکانت بین قرنی شیطان ﴾ ترددې چه کله نمر د شیطان د دوه ښکرو ترمینځه دوه ښکرونه یعنی د هغه د سر دواړو جانبینو ترمینځه وی، دا جمله یا خو په خپل حقیقت باندې محمول ده چه شیطان غروب شمس ته نزدې د نمر وړاندې اودریږی ځکه چه هغه وخت د نمر عبادت کونکی د نمر عبادت کوی نو په داسې کولو سره شیطان خپلو کشرانو ته وائی چه اوګورئ زما عبادت شروع دې او دویم قول دا دې چه ددې نه معنی مجازی مراد ده، د شیطان نمر ته د نزدې رسیدو نه مراد عروج او ترقی ده او د شیطان عروج او ترقی په دې وخت کښې دا په دې وجه ده چه ډیر خلق په دې وخت کښې د شیطان د مرضئ مطابق غیر الله یعنی د نمر عبادت کوی.

قوله: ﴿ قام فنقر اربعا ﴾ یعنی منافق انسان غروب شمس ته نزدې د مونځ نیت تړلو سره اودریږی او زر زر څلور ټونګې په زمکه باندې اووهی ددې نه مراد د هغه څلور سجدې دی په هر رکعت کښې دوه سجدې، خو چونکه د هغه سجدې ډیر په سرعت او تندئ سره وی نو په دې وجه دوه سجدې یوځائې کیدو سره د یوې سجدې برابر نه دی هم په دې وجه ئې څلورو اووی.

[۴۱۴] ()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الَّذِي تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ، فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: أُتِرَ، وَاخْتُلِفَ عَلَى أَيُّوبَ فِيهِ، وَقَالَ الزُّهْرِيُّ: عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وُتِرَ.

ترجمه: د ابن عمر نه روایت دې، چه رسول الله ﷺ ویلی دي هغه کس چې دمازیګر مونځ ترېنه فوت شو ګویا هلاک شو اهل او مال د ده ونیلی دی ابوداود او ونیلی دی عبید الله بن عمر (أوتِرَ) هلاک ئې کړو او اختلاف شوی دی په ایوب کښې ، او زهری د سالم نه او

[1]: صحیح البخاري/المواقیت ۱۴ (۵۵۲)، صحیح مسلم/المساجد ۳۵ (۶۲۶)، سنن النسائي/الصلاة ۱۷ (۴۷۹)، (تحفة الأشراف: ۸۳۴۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۱۶ (۱۷۵)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۶ (۶۸۵)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ۵ (۲۱)، مسند احمد (۲/۸، ۱۳، ۲۷، ۴۸، ۶۴، ۷۵، ۷۶، ۱۰۲، ۱۳۴، ۱۴۵، ۱۴۷)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۷ (۱۲۶۷) (صحیح)

هغه د خپل پلار نه او هغه د نبي ﷺ نه، وتر نقل فرمائيلي دي. (وتر).

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا عبدالله بن مسلمه.... الذي تفوته صلاة العصر فكانما وتر اهله وماله... ﴾ ﴿اهله وماله ﴾ په رفع او نصب دواړو سره لوستلې شوې دي، رفع د نائب فاعل کيدو په بناء او نصب مفعول ثاني کيدو باندې او په دې صورت کښې به نائب فاعل د وتر ضمير مستتر وي کوم چه راجع دې الذي طرف ته يعني د مازيګر مونځ فوت کيدل داسې نقصان او خساره ګڼړل پکار دي لکه د مال او اولاد هلاکيدل.

قوله: ﴿ قال ابوداود : وقال عبيد الله بن عمر: أتِرَ﴾ عبيدالله د نافع شاګرد دې په پورته سند کښې د هغه شاګرد مالک راغلې وو نو مطلب دا شو چه د نافع نه مالک د روايت لفظ ﴿وتر﴾ او عبيدالله ترې ﴿ اوتر ﴾ نقل کړې دې ﴿ واختلف على ايوب فيه ﴾ ايوب هم د نافع شاګرد دې او د اختلاف على ايوب مطلب دا دې چه د ايوب اصحاب او د ايوب د شاګردانو نه په روايت کولو کښې مختلف دي بعض د هغوى نه ﴿ وتر ﴾ او بعض ترې ﴿اوتر﴾ نقل کړې دې په اصل کښې دا لفظ ﴿ وتر ﴾ دې خو واو کله په همزه سره بدل کړې شي لکه په وجوه کښې اجوه او ﴿ وقتت ﴾ کښې ﴿ اقتت ﴾، ﴿ وذلک ان ترى ما على الارض الخ ﴾ په حديث کښې د صلاة عصر د فوت کيدو مطلب بيانوي او د امام اوزاعي رائې دا ده چه ددې نه مراد د مستحب وخت فوت کيدل دي چه هغه تيرولو سره په مکروه وخت کښې اوکړې شي، ددې په تفسير کښې دوه قوله نور دي، د مطلق وخت فوت کيدل او مونځ لره قضاء کول يا د جماعت فوت کيدل.

[٤١٥]()حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ: قَالَ أَبُو عَمْرٍو يَعْنِي الْأَوْزَاعِيَّ: وَذَلِكَ أَنْ تَرَى مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الشَّمْسِ صَفْرَاءَ

ترجمه: وئيلي دي ابو عمر يعني اوزاعي: چه د مازيګر د فوت کيدو مطلب دادې چه په زمکه باندې کوم نمر دې هغه تاته زيړ په نظر راشي.

بَابٌ فِي وَقْتِ الْمَغْرِبِ

باب دې په بيان د وقت د ماښام کې

[٤١٦]()حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كُنَّا نُصَلِّي الْمَغْرِبَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَرْمِي، فَيَرَى أَحَدُنَا مَوْضِعَ نَبْلِهِ".

ترجمه: د انس بن مالک نه روايت دې هغه وئيلي دي. وو مونږ چې مونځ به مو کولو د ماښام د نبي ﷺ سره، بيا به مونږ وېشتل کول نو ليدلو به کس زمونږ نه ځائې د غشي خپل.

شرح حديث

قوله: ﴿ حدثنا داود بن شبيب... كنا نصلي المغرب... فيرى احدنا موضع نبله ﴾ يعني مونږ به د

[١]: تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٩٦٥) (ضعيف)

[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٧٤) وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٧٠) (صحيح)

هغه سره د ماښام مونځ په داسې وخت کښې کولو مونځ کولو سره چه کله کور طرف ته واپس شو نو په لاره کښې د مشق په طور باندې نخښنه ترلو دپاره غشي وررولو دپاره راتلل نو هغه وخته پورې دومره رڼا باقي وه چه غشي چرته پريوتلې دې هغه کتلو سره اوچت کړې، په مغرب کښې بالاتفاق تعجيل اولى دې.

[۴۱۷] ()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عِيسَى، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْمَغْرِبَ سَاعَةَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ إِذَا غَابَ حَاجِبُهَا".

ترجمه: د سلمة بن الاكوع نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو نبى ﷺ چې مونځ ئې كولو د ماښام په كوم ساعت كښې چې به ډوب شو نمر، كله چې به ډوب طرف د هغې.

تشريح: **قوله**:﴿ اذا غاب حاجبها ﴾ رسول الله ﷺ د ماښام مونځ دهغې وخت كښې كولو چه كله د نمر پورته سر او غاړه (كومه چه د كتونكو طرف ته وى) د نظرونو نه غائب شوه، حاصل دا چه كله د نمر ستركه پوره غائبه شي نو بيا به رسول الله ﷺ مونځ كولو يعنى د كامل غروب نه پس دا نه ده چه د نمر د غروب په وخت به ئې كولو.

[۴۱۸] ()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ عَلَيْنَا أَبُو أَيُّوبَ غَازِيًا وَعُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ يَوْمَئِذٍ عَلَى مِصْرَ فَأَخَّرَ الْمَغْرِبَ، فَقَامَ إِلَيْهِ أَبُو أَيُّوبَ، فَقَالَ لَهُ: مَا هَذِهِ الصَّلَاةُ يَا عُقْبَةُ؟ فَقَالَ: شُغِلْنَا، قَالَ: أَمَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ، أَوْ قَالَ: عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ إِلَى أَنْ تَشْتَبِكَ النُّجُومُ".

ترجمه: د مرثد بن عبد الله نه روايت دې هغه وئيلي دي: هر كله چې راغې مونږ ته ابو ايوب غازي او عقبة بن عامر په دغه وخت د مصر حاكم وو، نو وروسته ئې كړو مونځ دماښام، نو ورپاخيدلو ابو ايوب، نو وې وئيل هغه ته دا كوم مونځ دى اى عقبة؟ هغه وويل مونږ مشغوله شوى وو، هغه وويل: ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه، هغه به وئيل هميشه به وى زما امت په خير باندې، او يايې وويل: په فطرت، تر كومه چې ئې نه وى وروسته كړى ماښام تردې چې گنړ شي ستوري.

تشريح: **قوله**:﴿ حدلنا عبدالله بن عمر ﴾. مضمون حديث دا دې چه مرثد بن عبد الله المصرى فرمائى چه كله ابو ايوب انصارى په مصر كښې غازيانه او فاتحانه داخل شو، او دا د هغه وخت خبره ده چه كله د مصر امير او گورنر سيدنا امير معاويه رضي الله عنه د طرف نه عقبه بن عامر رضي الله عنه وو، يوه ورځ داسې اوشو چه امير د ماښام مونځ ناوخته اوكړو نو ابو ايوب انصارى رضي الله عنه په ولاړه باندې د تاخير اشكال اوكړو هغه د څه مشغولتيا عذر پيش كړو نو په دې باندې ابو ايوب انصارى رضي الله عنه دا حديث واورولو چه رسول الله ﷺ به فرمائيل چه زما امت به په خير باندې قائم پاتې وى چه ترڅو پورې د ماښام په مونځ كښې تاخير نه كوى. الى ان تشتبک النجوم.... تردې چه كله د پرقيدونكو ستورو هجوم شي.

[1]: صحيح البخاري/المواقيت ۱۸ (۵۶۱)، صحيح مسلم/المساجد ۳۸ (۶۳۶)، سنن الترمذي/الصلاة ۸ (۱۶۴)، سنن ابن ماجه/الصلاة ۷ (۶۸۸)، (تحفة الأشراف: ۴۵۳۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵۴/۴)، دي/الصلاة ۱۶ (۱۲۴۵) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۴۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۷/۴) (حسن صحيح)

د مابنام په مستحب وخت کښې د اهل سنت او اهل تشیع اختلاف سره د دلائلو نه

د مابنام په مانځه کښې بالاتفاق تعجیل مستحب دې البته بعض تابعین د تاخیر قائل ور لکه عطاء، طاؤس، وهب بن منبه او شیعه گان خو دا وائی چه د مابنام وخت نه داخلیږی چه ترڅو پورې اشتباک نجوم نه وی، پورته ذکر شوې حدیث د هغوی د تردید دپاره کافی دی ددې بعض تابعین استدلال د ابو بسره غفاری رضی الله عنه د حدیث نه دې چه د هغې په اخر کښې دی ﴿ ولا صلاة بعد العصر حتی يطلع الشاهد والشاهد النجم ﴾ دا روایت په نسائی شریف کښې دی تردې چه امام نسائی په دې باندې تاخیر المغرب باب تړلې دې، علامه عینی رحمه الله په وئیل چه امام طحاوی رحمه الله ددې جواب دا ورکړې دې چه دا حدیث د هغه احادیث شهیره کثیره متواتره خلاف دې چه په هغې کښې راغلې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د مابنام مونځ د نمر پریوتلو نه پس کولو او د بنده په ذهن کښې ددې حدیث جواب دا دې چه ﴿ حتی يطلع الشاهد ﴾ کښې طلوع شاهد نه مراد دخول لیل دې ځکه چه شپه محل نجوم دې او د دخول لیل تحقق شرعاً غروب سره کیږی پس طلوع نجم کنایه شوه د غروب شمس نه، والله تعالی اعلم بالصواب.

بَابٌ فِي وَقْتِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ

باب دې په بیان د ماسخوتن کې

د ماسخوتن د صفت اخره راوړلو وجه :

د ماسخوتن صفت اخره لکه چه د ترجمة الباب په دواړو احادیثو کښې دی د راوړلو وجه دا ده چه بعض اعراب به ماسخوتن ته عتمه او مابنام ته عشاء وئیلو چه په هغې باندې احادیثو کښې نهی هم راغلې ده لکه چه په بخاری شریف کښې دی او امام بخاری د دواړو په سلسله کښې قائم کړې دی چه مغرب ته عشاء او عشاء ته عتمه او نه وئیلې شی نو چونکه په مغرب باندې د عشاء اطلاق به بعض خلقو کولو په دې وجه عشاء ته عشاء اخره وئیلو ضرورت راغلو ددې دپاره چه هغه د مغرب نه ممتاز شی.

د اصمعی رائې دا ده چه عشاء ته عشاء اخره وئیل مکروه دی ځکه چه دا مشعر دې دې خبرې لره چه مغرب عشاء اول دې حالانکه په حدیث کښې مغرب ته د عشاء وئیلو ممانعت راغلې دې خو په حدیث کښې د عشاء صفت اخره راوړلې شوې دې یا خو د اعراب د اطلاق په اعتبار سره، یا داسې اووئیلې شی چه ممانعت ددې نه دې چه همیشه عشاء ته عتمه او مغرب ته عشاء وئیلې شی، ځائې په ځائې ورکولو کښې هیڅ باک نشته (غلبه اعراب نه نه پکار) هم په لحاظ سره د عشاء صفت اخره راوړلې شوې دې.

[٤١٩] ([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: أَنَا أَعْلَمُ النَّاسِ بِوَقْتِ هَذِهِ الصَّلَاةِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ، "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهَا لِسُقُوطِ الْقَمَرِ لِثَالِثَةٍ".

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ٩ (١٦٥)، سنن النسائي/المواقيت ١٨ (٥٢٩)، (تحفة الأشراف: ١١٦١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٧٠، ٢٧٤)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨ (١٢٤٧) (صحيح)

ترجمه: د نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي: زه پوهه د خلقو نه يم په وخت ددې مونځ باندې، مونځ د ماسخوتن وروستنې، وو رسول الله ﷺ چې کوه به ئې دې لره په وخت د پرېوتو د سپوږمئ د دريمې شپې کښې.

تشريح: **قوله:** حدثنا مسدد.... انا اعلم الناس بوقت هذه الصلاة... ابن رسلان په دې باندې ليکي : وفيه ثناء الرجل على نفسه لمصلحة قبول روايته وانتشار العلم به... يعنى که يو سړې د روايت حديث په وخت باندې په خپل حق کښې څه تعريفي کلمه په دې مصلحت سره اوائي ددې دپاره چه سامعين د هغه روايت لره په توجه سره واوري او قبول کړي نو ددې اجازت دې ځکه چه په دې خپل صفت کښې خپل څه ذاتي مصلحت او نفساني غرض نه دې د خلقو فائدې ته کتلې شي، په بذل کښې ئې د ملا علي قاري نه نقل کړې دی چه ممکنه د هغه دا وينا د اکابر صحابه کرامو د وفات نه پس وی کوم چه د راوی حديث نعمان بن بشير رضي الله عنه نه په علم کښې زيات وو په دې باندې حضرت ليکي او دا هم ممکنه ده چه دا اووئيلې شي چه هغوی دا خبره په دې لحاظ سره فرمائيلې وی چه د ماسخوتن وخت لره د خاص علامت سره د هغوی په نزد بل چاته پته نشته.

شرح حديث

قوله:(يصليها لسقوط القمر لثالثة) د سقوط نه مراد غائب کيدل او د ثالثة نه مراد ليله ثالثه دې يعنى رسول الله ﷺ به د ماسخوتن مونځ هميشه په داسې وخت کښې کولو په کوم وخت چه د مياشتې په دريم تاريخ باندې سپوږمئ د نظر نه غائب کيږی په دې باندې شيخ ابن حجر مکی شافعی شارح مشکاة ليکی چه په دريم تاريخ باندې سپوږمئ عام طور د شفق احمر سره غائبيږی نو معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ معمول د ماسخوتن مونځ لره په اول وخت کښې د کولو وو لکه چه دا مذهب د امام شافعي دې.

د وقت مذكور في الحديث تعين کښې د ابن حجر مکی او ملا علي قاري اختلاف

خو ملا علي قاري حنفي فرمائي چه د شيخ ابن حجر دا خبره خلاف تحقيق ده ځکه چه سپوږمئ پرېوتل د شفق سره سره په دويمه شپه باندې وی نه په دريمه شپه کښې او دا امر شاهد دې چه څوک غواړی هغه دې تجربه اوکړی، د ملا علي قاري رحمه الله د کلام حاصل دا شو چه رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ د غروب شفق نه پس نه کولو بلکه د هغې نه به ئې کافي روستو کولو ، د غروب شفق په وخت خو سپوږمئ په دوئمه شپه کښې غائبيږی نه په دريمه شپه کښې، او دا يقيني خبره ده چه په دريمه شپه کښې ددې نه کافي وخت پس غائب کيږی، او زمونږ حضرت شيخ جمع بين القولين داسې فرمائيلې ده چه دا ممکن ده دا اختلاف د هغوی دواړو د رائې اختلاف په رؤيت باندې مبنی شو د يو کم ديرش د رؤيت کيدو په صورت کښې داسې وې ځنکه چه ابن حجر فرمائی او د ديرش په رؤيت کښې هغه وی ځنګه چه ملا علي قاري وائی، ماته د حضرت دا خبره ډيره خوښه شوه ګينې دا اشکال به وې چه دا حضرات شارحين حديث په امر مشاهد کښې هم مختلف کيږی.

[۴۲۰]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ، فَخَرَجَ إِلَيْنَا حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْ بَعْدَهُ، فَلَا نَدْرِي أَشَيْءٌ شَغَلَهُ أَمْ غَيْرُ ذَلِكَ، فَقَالَ حِينَ خَرَجَ: "أَتَنْتَظِرُونَ هَذِهِ الصَّلَاةَ؟ لَوْلَا أَنْ تَثْقُلَ عَلَى أُمَّتِي لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هَذِهِ السَّاعَةَ، ثُمَّ أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ".

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دي، هغه وئیلی دي: مونږ په خپل ځائې باندې وو یوه شپه چې انتظار مو کولو د رسول الله ﷺ د ماسخوتن د مانځه لپاره نو راووتلو مونږ ته په هغه وخت کښې چې دریمه حصه دشپې تلې وه او د هغې نه وروسته، مونږ نه پوهیدلو چې کوم شی مشغوله کړی دی او یا غیر د دېنه بل څه وو، نو هغه وویل کله چې راووتلو: ایا تاسو انتظار کوئ ددې مونځ، که چرې نه درنیده زما په امت نو ما به مونځ کولو دوی ته په هم دې وخت کښې، بیا ئې امر وکړو مؤذن ته نو اقامت د مانځه ئې وکړو

[۴۲۱]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا حَرِيزٌ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ حُمَيْدٍ السَّكُونِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، يَقُولُ: ارْتَقَبْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْعَتَمَةِ فَأَخَّرَ حَتَّى ظَنَّ الظَّانُّ أَنَّهُ لَيْسَ بِخَارِجٍ، وَالْقَائِلُ مِنَّا يَقُولُ: صَلَّى، فَإِنَّا لَكَذَلِكَ، حَتَّى خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا لَهُ كَمَا قَالُوا، فَقَالَ لَهُمْ: "أَعْتِمُوا بِهَذِهِ الصَّلَاةِ، فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ بِهَا عَلَى سَائِرِ الْأُمَمِ، وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ".

ترجمه: د عاصم بن حمید السکونی نه روایت دي بیشکه هغه اوریدلی دی د معاذ بن جبل نه چې هغه وئیل: مونږ انتظار وکړو د نبی ﷺ په مونځ د ماسخوتن کښې تردې چې ګمان وکړو ګمان کونکی چې هغه نه دی راوتونکی، او یو ویونکې مونږ نه وئیل چه مونځ ئې کړې دې، مونږ هم دغسې وو چې نبی ﷺ راووتلو، پس دوی وویل هغه ته لکه څنګه چې دوی وئیل نو هغه وویل دوی ته: وروسته والی کوئ په دې مونځ، بیشکه تاسو ته فضیلت درکړی شوی دی په ټولو امتونو باندې، او نه دی کړی دا مونځ هیڅ امت مخکې ستاسو نه

مضمون حدیث

قوله:(حدثنا عمرو بن عثمان الخ) د حدیث مضمون دا دې چه سیدنا معاذ رضي الله عنه فرمائی چه مونږ خلق په مسجد کښې کیناستلو، د ماسخوتن د مونځ دپاره مو د رسول الله ﷺ انتظار کولو په رسول الله ﷺ باندې ناوخته شو، د بعض حاضرینو دا خیال وو چه کیدې شی رسول الله ﷺ به تشریف نه راوړی، چا به وئیل چه کیدې شی رسول الله ﷺ مونځ کړې وی الغرض مونږ په دې تردد کښې وو، لږ ساعت پس رسول الله ﷺ تشریف راوړلو صحابه کرامو د هغه نه ددې تاخیر تپوس اوکړو او خپل خیالات ئې ورته ظاهر کړل، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا مونځ تاسو ناوخته کوئ ځکه چه دا مونځ صرف ستاسو خصوصیت دې بل یو امت ته هم دا فریضه نه ورکړې شوې، مطلب دا چه دا مونځ صرف ستاسو دپاره د الله پاک ورکړه ده د هغې په اهتمام کښې چه څومره مشقت برداشت کړې

---

[۱] : ● تخریج: صحیح مسلم/المساجد ۳۹ (۶۳۹)، سنن النسائي/المواقیت ۲۰ (۵۳۸)، (تحفة الأشراف: ۷۶۴۹)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/مواقیت الصلاة ۲۴ (۵۷۱)، مسند احمد (۲/۲۸، ۹۵، ۱۲۶) (صحیح)

[۲] : تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۱۳۱۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۲۳۷) (صحیح)

شي هغه كول پكار دي، او هم په دې اهتمام كښې دا هم داخل ده چه هغه په افضل وخت كښې اوكړې شي ددې نه معلوميږي چه په ماسخوتن كښې تاخير افضل دې.

[٤٢٢]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعَتَمَةِ، فَلَمْ يَخْرُجْ حَتَّى مَضَى نَحْوٌ مِنْ شَطْرِ اللَّيْلِ، فَقَالَ: خُذُوا مَقَاعِدَكُمْ، فَأَخَذْنَا مَقَاعِدَنَا، فَقَالَ: "إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَأَخَذُوا مَضَاجِعَهُمْ، وَإِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ، وَلَوْلَا ضَعْفُ الضَّعِيفِ وَسَقَمُ السَّقِيمِ لَأَخَّرْتُ هَذِهِ الصَّلَاةَ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وئيلي دي مونږ د مونځ اراده اوكړه د رسول الله ﷺ سره مونځ د ماسخوتن نو راونه وتلو تردې چې تيره شوه څه حصه دشپې، هغه وفرمائيل كينئ په خپلو ځايونو، نو مونږ كيناستلو په خپلو ځايونو، هغه وويل بيشكه خلكو مونځ كړى دى، او نيولي ئې دي ځايونه د پريوتلو، او تاسو هميشه په مانځه كښې ئې تر كومه چې تاسو انتظار كوئ د مانځه، او كه چېرته نه وى كمزورتيا د كمزورى او مرض د مريض ما به وروسته كړى وى دا مونځ تر نيمې حصې د شپې پورې.

شرح حديث

قوله: ﴿حدثنا مسدد..... فقال : ان الناس قد صلوا واخذوا مضاجعهم ﴾ صحابه كرام چونكه د مونځ په انتظار كښې د ډير حده پورې ناست وو ځكه رسول الله ﷺ د هغوى د فعل تحسين او د انتظار كونكو همت افزائى فرمائى چه اوګورئ د الله پاك په تاسو باندې انعام دې هم د هغه په توفيق سره تاسو دلته ناست انتظار كوئ كيني نورو خلقو خو خپل مونځونه كړې دى او اوده شوى دى، د هغه خلقو نه ځوک مراد دى يا خو معذور قسم خلق يا زنانه او ماشومان، يا دواړه، يا ممكنه ده چه د نورو مسجدونو والا خلق مراد وى چه هغوى خپل خپل مونځونه كولو نه فارغ شو، هغوى په اول وخت كښې جماعت اوكړو ځكه چه مدينه منوره كښې د مسجد نبوى نه علاوه به نور مسجدونه هم وى ځكه د هغه ځائې والا مراد كيدې شى، والله تعالى اعلم.

تاخير عشاء او د هغې په تقديم كښې د اختلاف علماء حاصل

د احاديث الباب نه د تاخير عشاء فضيلت معلوميږى لكه چه د احنافو مسلک دې او د شوافعو قول مشهور افضليت تعجيل دې د هغه حضراتو وينا دا ده چه د رسول الله ﷺ غالب حال او معمول اكثرى تعجيل عشاء وو او تاخير رسول الله ﷺ احيانا كړې دې د څه عذر او مصلحت د وجې نه، او مونږ دا وايو چه د رسول الله ﷺ احاديث قوليه او ارشادات د تاخير عشاء په فضيلت كښې واضح او صريح دى... او كه دا خبره اومنلې شى چه د رسول الله ﷺ معمول د تعجيل وو نو بيا ددې وجه د مقتديانو د حال رعايت دې چه هغه د خير زمانه وه خلق به په اول وخت كښې جمع كيدل په دې وجه به په تاخير كښې هغوى ته مشقت وو.

---

[١]: سنن النسائي/المواقيت ٢٠ (٥٣٩)، سنن ابن ماجه/الصلاة ٨ (٦٩٣)، (تحفة الأشراف: ٤٣١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٥) (صحيح)

بَابٌ فِي وَقْتِ الصُّبْحِ

باب دې په بيان د وقت د صبا کې

د جمهور علماء او ائمه ثلاث په نزد د سحر په مانځه کښې تعجيل او هغې لره په غلس کښې کول اولی دی، امام ابوحنيفه رحمه الله او د هغوی اصحاب او سفيان ثوری په نزد تاخير او رڼرا کښې کول اولی دی، د امام طحاوی رائې دا ده چه اواخر غلس کښې د مونځ ابتداء کيدو سره په رڼرا کښې انتهاء کيدل پکار دی چه په دواړه قسم روايتونو باندې عمل اوشی او هم دا اختيار کړې وی حافظ ابن قيم رحمه الله.

مصنف په دې باب کښې دوه احاديث راوړې دی، اول حديث په ظاهره د جمهورو موافقت کښې دې او نور د احنافو.

[٤٢٣]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: "إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُصَلِّي الصُّبْحَ، فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ".

ترجمه: ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سحر مونځ کولو نو زنانه به په خپلو څادرونو کښې پټې وې نو د تيرې په وجه به پيژندلې کيدل.

تشريح: **قوله**:(حدثنا القعنبی... فينصرف النساء متلفعات بمروطهن) دا لفظ په دوه قسمه باندې روايت دې (متلففات،د تلفف) نه او (متلفعات،د تلفع) نه چه کوم ماخوذ دې، د لفاع نه مروط، د مرط جمع ده د څادر په معنی کښې.

يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سحر مونځ په داسې وخت کښې کولو چه کله به زنانه د مونځ نه فارغې شوې يا د خپلو کورونو طرف ته واپس کيدلې (د انصراف دا دواړه تفسيرونه کولې شی) په دې حال کښې به هغوی په څادرونو کښې پټې وې د تيرې د وجې نه به نه پيژندلې کيږی. تلفف او تلفع لره اکثر شارحينو يوه معنی ليکلې ده او بعض شارحينو د موطاء په دواړو کښې فرق ليکلې دې هغه دا چه تلفع بغير د سر د پټولو نه نه کيږی تلقف په سر پټولو او نښکاره کولو دواړو سره کيدې شی

د حديث په شرح کښې د شارحينو د رائې اختلاف

د شارحينو په دې کښې اختلاف دې چه (ما يعرفن) کښې د عدم معرفة نه څه مراد دې.(٢)

---

(١): صحيح البخاري/ الصلاة ١٣ (٣٧٢)، المواقيت ٢٧ (٥٧٨)، والأذان ١٦٣ (٨٦٧)، ١٦٥ (٨٧٢)، صحيح مسلم/المساجد ٤٠ (٦٤٥)، سنن الترمذي/الصلاة ٢ (١٥٣)، سنن ابن ماجه/الصلاة ٢ (٦٦٩)، سنن النسائي/المواقيت ٢٤ (٥٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٣١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/وقوت الصلاة ١ (٤)، مسند احمد (٦/٣٣، ٣٦، ١٧٩، ٢٤٨، ٢٥٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠ (١٢٥٢) (صحيح)

(٢) قلت وقد تقدم ويصلي الصبح ويعرف احدنا جليسه واما عدم معرفة الرجال النساء كما في هذا الحديث فلاجل بعدهن عن الرجال في المسجد ولا مدخل للتلفف في عدم المعرفة بل هو بيان الواقع والا فالتلفف مانع عن المعرفة مطلقا ولو كان الوقت وقت الاسفار كما لا يخفي، فالسبب لعدم المعرفة هو وجود شئ من الظلمة مع بعدهن عن الرجال، واما الرجال فكان يعرف بعضهم بعضا فلا يتوهم التعارض بين الحديثين، هذا ما عندي، والله تعالي اعلم)

د اکثر حضراتو رائې دا ده چه د معرفة اعيان نفي مقصود ده يعني دا نه معلوميږي چه دا کومه زنانه ده مثلا زينب يا خديجه، او د امام نووي رحمه الله رائې دا ده چه ددې نه مراد دا دې چه نه معلوميږي چه کوم تصوير او جثه ده د ځا ده د سړي ده يا د زنانه ده، ګويا نفي د معرفة جنس په اعتبار سره ده،حافظ وغيره شارحينو ددې ترديد کړې دې ځکه چه د معرفت تعلق د اعيان سره وي او که مراد هغه وې کوم چه نووي فرمائيلې دي نو په روايت کښې به د معرفت په ځائې لفظ د علم اختيارولې شي يعني (ما يعلمن) [1] امام نووي رحمه الله د خپل قول وجه دا بيان کړې ده چه د معرفت اعيان تحقق خو په ورځ کښې هم مشکل دې. د زنانو په څادرو کښې د ملفوف او مستور کيدو د وجې نه نو بيا په دې کښې غلس لره څه دخل شو خو ددې جواب نور حضرات دا ورکوي چه دا خبره نه چه معرفت عين به په ورځ کښې هم نه وي ځکه چه د زنانه د چال يو خاص هيئت وي چه په هغې سره هغه پيژندلې شي اګر چه په څادر کښې پټه وي، او د علامه باجي رائې لکه چه حافظ په فتح الباري کښې ليکلې دي چه د (ما يعرفن من الغلس) تقاضه دا ده چه هغه زنانه سافرات الوجوه وي (ښکاره مخ) نه متنقبات ځکه چه د نقاب والا زنانه خو د ورځې هم نه شي پيژندلې، نو بيا په دې کښې غلس لره څه دخل شو، حافظ فرمائي چه دا هم هغه د امام نووي والا خبره شوه

د جمهور د حديث نه په تعجيل فجر باندې استدلال او د احنافو د طرف نه د هغې جواب

د دې حديث نه جمهورو په تعجيل فجر باندې استدلال کوي. زمونږ د طرف نه دا جواب کړې شوې دې چه د غلس نه د مسجد غلس مراد دې يعني د مسجد په دننه حصه کښې به تياره وه ځکه چه د مسجد چهت ښکته وو په اصل کښې هغه د يو دالان په شکل وو، لکه چه د مسجد د چهت په باره کښې په رواياتو کښې راځي چه (انما هو عريش) او د انصراف نساء نه مراد انصراف الى البيت نه دې (د کورونو طرف ته تلل) بلکه د مونځ نه فارغ کيدل مراد دي، غرض دا چه په دې حديث کښې چه څه بيان شوې دي هغه د مسجد د داخل سره متعلق دي، د مسجد د انګنړ او د مسجد نه بهر حال نه شي بيانوني

په دوه احاديثو کښې تعارض

ځکه چه د صحيحين په روايت کښې راځي او په ابوداود کښې هم تير شوې دي (وما يعرف احدنا جليسه) چه رسول الله ﷺ به د سحر مونځ په داسې وخت کښې ادا کولو چه انسان خپل خواته سړي اوپيژني، خواته انسان هله پيژندلې شي چه کله په اسفار کښې اوکړې شي، اوس پاتې شوه دا خبره چه په دې حديث کښې خو : معرفت نفي ده "ما يعرفن من الغلس" پس ددې جواب دا دې چه په مسجد کښې زنانه د سړو سره. ځنګ. کيناستلې هغوي خو به د سړو نه په فاصله باندې وې نو هلته نه پيژندل د لرې والي د وجې نه وو په خلاف د

[1] ځکه چه د معرفت استعمال په جزئيات او د علم په کليات کښې کيږي

سړي چه سړي به يو بل لره د نزدې کيدو د وجې نه نه پيژندلو. زما په نزد د علامه باجي رائې زياته صحيح ده اګر چه حافظ هغه رد کړې ده چه هغه زنانه به سافرات الوجوه وې، او مخکښې د موطاء د بعض شارحينو نه نقل شو چه د تلف د مفهوم دپاره د سر پټول ضروري نه دي او که ضروري هم وي لکه چه په مجمع البحار کښې دي ﴿ متلففات اى مغطيات الرؤس والاجساد ﴾ نو صرف د سر پټول ددې په مفهوم کښې داخل ده نه د مخ پټول، د کلام خلاصه دا شوه چه سړو به سړي پيژندل خو سړو به زنانه په دې وجه نه پيژندلې چه هغه ئې جليس نه وو بلکه په فاصله باندې وو، او رڼا هم ښه طريقې سره نه وه راغلې چه انسان خپل جليس لره اوپيژني، هذا ما ظهر لى فى وجه الجمع بين الحديثين والله الموفق.

د احنافو دليل او د شوافعو د طرف نه د دې تاويل

[٤٢٤]()حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَصْبِحُوا بِالصُّبْحِ، فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِأُجُورِكُمْ، أَوْ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ".

ترجمه: د رافع بن خديج نه روايت دې هغه وئيلى دي، وئيلى دي رسول الله ﷺ تاسو په رڼا کښې وکړئ د صبا مونځ ځکه هغه ډېر اوچتونکى دي ستاسو اجرونو لره، او ډېر اوچتونکى دى د اجر.

تشريح: **قوله**:﴿ حدثنا اسحاق بن اسماعيل... اصبحوا بالصبح فانه اعظم لاجوركم ﴾ دا د رافع بن خديج روايت دې کوم چه په مختلف الفاظو سره روايت دې، د نسائى په روايت کښې دى ﴿ اسفروا بالفجر ﴾ او په ترمذى کښې ﴿ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر ﴾ او د نسائى په يو حديث کښې دى ﴿ ما اسفرتم بالصبح فانه اعظم للاجر ﴾ په يو روايت کښې دى ﴿ اسفروا بالصبح فكلما اسفرتم فهو اعظم للاجر ﴾ هم دغه شان د احنافو په دلائلو کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه متفق عليه حديث ﴿ ما رايت النبى صلى الله عليه وسلم صلى صلاة لغير ميقاتها الا صلاتين ﴾ او ددې په اخر کښې دى ﴿ وصلى الفجر قبل ميقاتها ﴾ په مزدلفه کښې د سحر په مانځه کښې تغليس بالاجماع مستحب دې، سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دې ته صلاة قبل الوقت وائى چه د هغې نه صفا معلوميږى چه د حج د زمانې نه علاوه د رسول الله ﷺ معمول د تغليس نه وو، او که تسليم هم کړې شي چه د رسول الله ﷺ عمل تغليس باندې نو بيا روايات قوليه په اسفار باندې دال دى او په قول او فعل کښې د تعارض په وخت قول ته ترجيح وى او ددې نه غوره توجيه دا ده چه کومه اختيار کړې ده امام طحاوى او حافظ ابن القيم رحمهما الله، هغه دا چه د غلس روايات په ابتداء صلاة باندې محمول دى او د اسفار روايات په اختتام صلاة باندې محمول دى لکه چه د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو شان دا وو د سحر په مونځ کښې قراءة طويله ډېر په اطمينان سره، خو شوافع وغيره د اسفار او

[1]): سنن الترمذي/الصلاة ٣ (١٥٤)، سنن النسائي/المواقيت ٢٦ (٥٥٠)، سنن ابن ماجه/الصلاة ٢ (٦٧٢)، تحفة الأشراف(٣٥٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٦٠، ٤/١٤٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٢١ (١٢٥٣) (حسن صحيح)

اصباح د روایت یو جواب دا ورکوي چه ممکنه ده بعض صحابه کرام د اول وخت د فضیلت حاصلولو دپاره په شوق کښې د صبا راختلو نه مخکښې کوي، ځکه چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ اصبحوا بالصبح ﴾ چه دومره تندي مه کوئ پریږدئ چه صبا شي، دا تاویل د هغوی مشهور دې او زمونږ د طرف نه په دې باندې اشکال هم مشهور دې هغه دا چه قبل الوقت خو مونځ صحیح نه دې په دې کښې نه اجر قلیل دې او نه کثیر او په دې حدیث کښې قلت اجر او کثرت اجر لره بیانولې شي، هم دغه شان جمهورو هم یو تاویل کړې دې چه د اسفار روایات په لیالي مقمره (چه په کومو شپو کښې سپوږمۍ رڼرا کوي) باندې محمول دي یعنی چه په کومو تاریخونو کښې سپوږمۍ د سحره پورې روښانه وي چه په دې تاریخونو کښې د احتیاط ضرورت دې په ښه طریقې سره پریږدئ چه صبا شي داسې نه چه د رڼرا په اشتباه کښې د وخت نه مخکښې مونځ اوکړې شي.

بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ

باب دې په بیان د خیال ساتلو کښې په وقت د مونځونو

د صلوات خمسه د وختونو تفصیل عند الائمة الاربعة

په صلوات خمسه کښې د هر یو دپاره جدا جدا باب قائمولو نه پس مصنف رحمه الله داسې جامع باب قائم کړې دې چه د هغې تعلق د ټولو مونځونو سره دې محافظت یعنی نګرانی، یا خو د مونځ سنن او مستحبات او خشوع او خضوع په اعتبار سره مراد دې یا اوقات مستحبه په اعتبار سره چه ټولو مونځونو لره د هغې په اوقات مستحبه کښې د کولو اهتمام کول پکار دی، مناسب معلومیږي چه د صلاة خمسه اوقات مستحبه سره د اختلاف ائمه بیان کړې شي.

ځان پوهه کړئ چه ائمه اربعه په مغرب کښې ددې د تعجیل په استحباب باندې متفق دی او په دې کښې د ائمه کرامو هیڅ اختلاف نشته البته په نورو مونځونو کښې اختلاف دې، په سحر او مازیګر کښې جمهور علماء او ائمه ثلاثه د تعجیل قائل دی، او امام ابوحنیفه رحمه الله د دواړو د تاخیر. او په صلاة ظهر کښې د یخنۍ په زمانه کښې د هغې په تعجیل باندې او په زمانه د ګرمۍ تاخیر باندې د ائمه اربعه اتفاق دې سوا د امام شافعی نه چه د هغه په نزد د ماسپخین تاخیر مقید دې د څلورو شرطونو سره چه د هغې ذکر مخکښې شوې دې، پاتې شو صلاة عشاء نو د هغې په باره کښې اقوال مختلف دی کوم چه مونږ په باب صلاة العشاء کښې ذکر کړې دی او هم دغه شان ﴿ لولا ان اشق علی امتی لامرتهم بالسواک وبتاخیر العشاء ﴾ د حدیث د لاندې هم، حاصل دا چه د احنافو په دې کښې دوه اقوال دی ۱: یو دا چه مطلقا تاخیر اولی دې، ۲. د یخنۍ په زمانه کښې شپې اوږدې وي په هغې کښې تاخیر او د ګرمۍ په زمانه کښې تعجیل، د امام شافعی رحمه الله یو قول د تاخیر عشاء د استحباب دې او مشهور قول د هغوی د اولویة تعجیل دې، د امام مالک هم په دې کښې دواړه اقوال دی... او یو قول د مالکیانو دې چه ددې مدار د خلقو په اجتماع باندې دې که خلق وختی جمع شي نو تعجیل اولی دې ګنې تاخیر، او ابن رسلان د امام احمد رحمه الله نه نقل

کړې دي چه هغه اوفرمائيل : اول الاوقات اعجب الی الا فی الثين صلاة العشاء وصلاة الظهر) د دې نه معلومه شوه چه د امام احمد په نزد هم په عشاء او ظهر کښې تاخير اولی دې او په باتي کښې تعجيل، هم دغه شان امام ترمذی رحمه الله د امام احمد رحمه الله مسلک د تاخير عشاء ليکلې دې.

د جمعې په مستحب وخت کښې د علماء کرامو اختلاف

اوس پاتې شوه مسئله د صلاة جمعه نو په دې سلسله کښې امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې دې (اذا اشتد الحر يوم الجمعة) په دې باندې د بخاری شارحين ليکی چه د امام بخاری رحمه الله ميلان د جمعې په باره کښې د ماسپخين پشان په ابراد کښې مشروعيت طرف ته دې چه څنګه د ګرمئ په زمانه کښې د ماسپخين تاخير اولی دې هم دغه شان د جمعې هم، حضرت شيخ په حاشيه د لامع کښې د جمهور ائمه ثلاثه شوافع، مالکيانو او حنابله مسلک د هغوی د کتابونو نه عدم ابراد نقل کړې دې څکه چه د جمعې په باره کښې په احاديثو کښې د تبکير حکم راغلې دې او ددې دپاره به خلق په اول وخت کښې راجمع کيدل اوس که په دې کښې تاخير اوکړې شی نو خلقو ته به ګرانه شی لهذا جمعه به په ماسپخين باندې نه شی قياس کولې، او د احنافو مذهب په در مختار کښې خو دا ليکلې دې چه جمعه د ماسپخين په شان ده د اصل وخت او مستحب دواړو په اعتبار سره په ګرمئ او يخنئ دواړو کښې، څکه چه جمعه د ماسپخين بدل او د هغې نائب دې، خو د علامه شامی تحقيق ددې خلاف دې چه په جمعه کښې مطلقا تقديم اولی دې. كما هو مسلک الجمهور.

[۴۲۵] (¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ هَارُونَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُطَرِّفٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصُّنَابِحِيِّ، قَالَ: زَعَمَ أَبُو مُحَمَّدٍ أَنَّ الْوِتْرَ وَاجِبٌ، فَقَالَ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ: كَذَبَ أَبُو مُحَمَّدٍ، أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللَّهُ تَعَالَى، مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللَّهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ، وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللَّهِ عَهْدٌ، إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ".

ترجمه: د عبد الله بن الصنابحی نه روايت دې هغه وئيلې دې: چې ګمان کړی دی ابو محمد چې وتر واجب دي، نو ووئيل عبادة بن الصامت: چه دابو محمد خيال غلط دې، زه ګواهی کوم چې ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چې هغه وئيل: پنځه مونځونه دی چې فرض کړی دی الله تعالی، چاچې ښه وکړو اودس د هغې او ويې کړل په خپل وخت کښې او پوره ئې کړه رکوع او خشوع د هغې، وی ده لره په الله باندې ذمه واری چې بخښنه وکړې ده ته، او چا چې ونه کړه نو نشته دده لپاره په الله باندې ذمه واري، که چرې خوښه ئې شوه بخښنه به ورته وکړی او که چېری خوښه ئې شوه نو عذاب به ورته ورکړي.

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۱۰۱)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الصلاة ۶ (۴۶۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹۴(۱۴۰۱)، مسند احمد (۳۱۷/۵) (صحيح)

تحقيق صنابحي

قوله:حدثنا محمد بن حرب..... عند عبدالله بن الصنابحي.... دلته په بعض نسخو کښې په بذل کښې هم عن عبدالله بن الصنابحي دې، د عبدالله او الصنابحي ترمينځه لفظ بن دا بالکل غلط دې او په صحيح نسخو کښې عن عبدالله الصنابحي دې.
خان پوهه کړئ چه د عبدالله الصنابحي په باره کښې د حضرات محدثينو دوه جماعتونه دی يو جماعت چه په هغې کښې امام بخاري دده استاذ علي بن مديني دې او د هغه رائې دا ده چه صحيح ابو عبدالله الصنابحي دې کوم چه کنيت دې د عبدالرحمن بن عسيله او هغه تابعي دې کوم چه د رسول اللهﷺ په زمانه کښې موجود وو، د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د حاضرئ په ارادې سره د خپل وطن نه روان شو خو لا په لاره کښې وو چه رسول اللهﷺ وفات شو، او عبدالله صنابحي لکه چه دلته په متن کښې دی د امام بخاريرحمه الله وغيره په نزد د راوي وهم دې د هغه په نزد ددې نوم صحابي وجود نشته او ددې حضراتو گمان دې چه دا وهم امام مالکرحمه الله ته لګيدلې دې هغوی اولا په موطاء کښې د هغه نوم داسې ذکر کړې دې او بيا هم دغه شان غلط رانقل شو، او دويم جماعت چه په هغوی کښې ابن السکن، امام ترمذي او حافظ ابن حجر وغيره حضرات دی هغوی وائي چه عبدالله الصنابحي صحيح دې او دا صحابي دې (په يو قول) او ابو عبدالله الصنابحي راوي جدا دې کوم چه تابعي دې چه د هغه نوم عبدالرحمن بن عسيله دې امام ترمذيرحمه الله دا خپله رائې د جامع ترمذي بالکل په شروع کښې په اوله صفحه باندې بيان کړې ده، حضرت په بذل کښې د تهذيب التهذيب نه نقل کړې دی چه امام ترمذيرحمه الله فرمائي چه ما ددې راوي په باره کښې د امام بخاريرحمه الله نه تپوس اوکړو نو هغه اوفرمائيل چه ﴿ وهم فيه مالک والصحيح ابو عبدالله ﴾ د دې نه معلومه شوه چه په دې مسئله کښې امام ترمذي د امام بخاري د رائې سره اتفاق نه لري، وله نظائر... امام ترمذي په جامع ترمذي کښې د يو دريم صنابحي هم اعتراف کړې دې خو هغه في الواقع صنابحي نه دې بلکه د هغه نوم صنابح بن الاعر احمسي دې هغه ته صنابحي وئيل غلط دی، نو د ترمذي شريف هم دا مقام حل شو، فالحمد لله.

د وجوب وتر دليل

قوله:﴿ زعم ابو محمد ان الوتر واجب ﴾ ابو محمد يو صحابي دې چه د هغه د نوم په تعيين کښې اختلاف دې په بذل کښې د هغه څو نومونه ذکر کړی دی، قيل مسعود بن اوس وقيل قيس بن عامر وقيل سعد بن اوس، د حديث مضمون دا دې چه يو ځل ابو محمد رضي الله عنه صحابي اوفرمائيل ﴿ الوتر واجب ﴾ نو په دې باندې سيدنا عبادة بن الصامت رضي الله عنه اوفرمائيل ﴿ کذب ابو محمد ﴾ چه ابو محمد غلط وائي ځکه چه ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلې دی چه پنځه مونځونه کوم چه الله پاک فرض کړې دی څوک چه د هغې دپاره اودس کوی او دا مونځونه په خپل وخت کښې په کامل طريقې سره کوی نو د الله پاک د داسې سړی سره عهد يعني کلکه وعده ده چه د هغه مغفرت به کوی او څوک چه داسې اونکړی نو د هغه دپاره به هيڅ

وعده نه غواړي، مغفرت به ئې اوفرمائي او که اوغواړي نو عذاب به ورکړي دا خو تاسو ته معلومه ده چه په وجوب وتر کښې اختلاف دې، امام صاحب دې ته واجب او جمهور او صاحبین ورته سنت وائي، د ابو محمد قول د امام صاحب موافق دې، او سیدنا عبادهﷺ چه د وجوب نفی کړې ده نو هغه د څه صریح حدیث په وجه نه بلکه په خپل اجتهاد سره څکه چه هغه د رسول اللهﷺ نه اوریدلې وو چه مونځونه پنځه فرض دی نو هغه ددې نه د وتر په نه واجب کیدو باندې استدلال کوی، دا استدلال صحیح چرته شو په واجب او فرض کښې خو د زمکې او اسمان فرق دې، فرض مونځونه د امام صاحب په نزد هم پنځه دی او ددې باوجود هغه وتر واجب منی، حضرت شیخ د بذل په حاشیه باندې لیکلې دی چه محمد بن نصر (مشهور محدث) په خپل کتاب قیام اللیل کښې یوه واقعه نقل کړې ده چه یو سړی د امام صاحب خدمت کښې حاضر شو او د هغه نه ئې تپوس اوکړو چه فرض مونځونه څومره دی نو هغه جواب ورکړو چه پنځه دی، سائل ترې تپوس اوکړو چه وتر څه حکم لری؟ هغه ورته اوفرمائیل چه ﴿ هی فریضة ﴾ هغه بیا سوال اوکړو چه فرض مونځونه څومره دی؟ امام صاحب ورته هم هغه جواب ورکړو چه پنځه دی، هغه بیا سوال اوکړو چه وتر څه حکم لری؟ نو هغه ورته اوفرماییل ﴿ فریضة ﴾ هغه حیران شو او په دریم ځل ئې تپوس اوکړو چه فرض مونځونه څو دی؟ امام صاحب هم هغه جواب ورکړو هغه سړې په دې غصه شو او واپس لاړو ﴿ انت لا تحسن الحساب ﴾ چه تاسو ته خو د دوه او دوه څلورو حساب هم نه درځی، د امام صاحب مراد په فریضة سره واجب وو، په فرض او واجب کښې فرق ظاهر دې کوم باندې چه سائل پوهه نه شو هم په دې وجه ئې بار بار تپوس کولو هم دا خبره سیدنا عبادهﷺ ته پیښه شوې وه چه هغه هم د فرض او واجب ترمینځه فرق اونکړو، او ابو محمدﷺ چه دا خبره کړې وه چه ﴿ الوتر واجب ﴾ نو دا قول د صحابی غیر مدرک بالرائې مسئله کښې د کیدو د وجې نه په حکم کښې مرفوع دې او د سیدنا عبادهﷺ خبره د هغه په اجتهاد بناء وه، فالحمد لله علی صحة مذهب ابی حنیفة.

(د (کذب ابو محمد) په الفاظو باندې اشکال)

دلته دا اشکال راځی چه عبادة ﴿ کذب ابو محمد ﴾ څنګه اووې دا کذب خو په عام خبرو کښې هم حرام دې پاتې لا دا چه په دین کښې اووئیلې شی؛ نو اشکال دا دې چه یو صحابی د بل صحابی په باره کښې دومره سخته خبره څنګه اوکړه؟

(جواب) جواب دا دې چه کذب په دوه قسمه دې یو عمدا او یو بغیر عمد، اصل کذب خو هغه دې کوم چه عمدا وی او هغه دلته مراد نه دې کذب بغیر عمد چه د هغې مشهور تعبیر خطاء دې دلته هغه مراد دې او د عربو په محاوره کښې داسې ډیر کیږی چه کذب د خطاء په معنی کښې استعمالوی. یقال کذب سمعی وکذب بصری، یعنی زما نه په کتلو او اوریدلو کښې غلطی اوشوه. قال الله تعالی (ما کذب الفؤاد ما رای)

[۴۲۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ غَنَّامٍ، عَنْ بَعْضِ أُمَّهَاتِهِ، عَنْ أُمِّ فَرْوَةَ، قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "الصَّلَاةُ فِي أَوَّلِ وَقْتِهَا"، قَالَ الْخُزَاعِيُّ فِي حَدِيثِهِ: عَنْ عَمَّةٍ لَهُ يُقَالُ لَهَا: أُمُّ فَرْوَةَ، قَدْ بَايَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ.

ترجمه: د ام فروة نه روايت دې هغې ويلي دي: تپوس وشو د رسول الله ﷺ نه کوم په اعمالو کښې افضل دی؟ هغه وويل: مونځ کول په اولنې وخت کښې، وئيلی دی خزاعی په خپل حديث کښې: د خپلې عمې (ترور) نه چې وئيل کيده هغې ته ام فروة يقيناً هغې بيعت کړې وو د رسول الله ﷺ سره، بيشکه پيغمبر ﷺ نه تپوس شوی وو (يعنی د (سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په ځائې (أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سُئِلَ) دې

تشريح: قوله:(عن القاسم بن غنام عن بعض امهاته عن ام فروة) دا بعض امهات مجهوله ده هيڅ پته ئې نه لګی چه څوک ده او دا ام فروه د قاسم عمه (ترور) ده، وئيلې شوې دی چه دا ام فروه انصاريه ده او وئيلې شوې دی چه دا بنت ابی قحافه ده د ابوبکر صديق خور.

قوله:(قال الخزاعی فی حديثه عن عمة يقال لها ام فروة) الخ... د مصنف دوه استاذان دی، محمد بن عبدالله او عبدالله بن مسلمه، مصنف ددې دواړو سندونو اختلاف بيانوی، پورته چه کوم د سند الفاظ راغلې دی هغه د عبدالله بن مسلمه دې او دا الفاظ د دويم استاذ دی.

په سند حديث کښې اختلاف

ددې کلام په شرح کښې دوه احتمالات دی.

۱ په سند کښې صرف د لفظ عمه اضافه بيانول دی چه د خزاعی په سند کښې د ام فروه صفت عمه کيدل ذکر کړې شوې دی هم دغه شان يو بل صفت هم (قد بايعت النبی صلی الله عليه وسلم) د ام فروه دا دوه صفتونه عبدالله بن مسلمه نه دی ذکر کړی.

۲: احتمال ثانی دا دې چه د خزاعی په روايت کښې د قاسم بن غنام نه پس (عن بعض امهاته) مذکور نه دې بلکه قاسم براه راست د ام فروه نه روايت کوی په دواړو سندونو کښې د واسطې د ذکر او د واسطې د عدم ذکر فرق دې،

ددې حديث دريم سند بل دې کوم چه په مسند احمد کښې دې هغه داسې دې (عن القاسم بن غنام عن جدته الدنيا عن ام فروة) يعنی د قاسم او ام فروه ترمينځه واسطه په ځائې د (عن بعض امهاته)... (عن جدته الدنيا) اوس درې سندونه داسې شو.

۱: (عن القاسم بن غنام عن بعض امهاته عن ام فروه،

۲: عن القاسم بن غنام عن ام فروه،

۳: عن القاسم بن غنام عن جدته الدنيا عن ام فروة)

(): سنن الترمذي/الصلاة ۱۳(۱۷۰)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۴۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۵/۶، ۳۷۴، ۴۴۰) (صحيح)

د وقت اول فضيلت او په هغې باندې کلام

قوله:﴿ اى الاعمال افضل قال الصلاة فى اول وقتها ﴾ د رسول اللهﷺ نه د افضل اعمال په باره کښې تپوس اوشو چه کوم يو دې نو رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه فرض مونځ لره په اول وخت کښې ادا کول. ددې حديث نه جمهور خصوصا شوافعو په خپل مسلک باندې استدلال کړې دې چه تقريبا ټولو مونځونو لره په اول وخت کښې کول اولى دى د مونځونو په مستحب وختونو کښې اختلاف مخکښې تير شو، د احنافو د طرف نه ددې جواب دا دې چه د اول وخت نه مراد د جواز اول وخت نه دې بلکه د استحباب اول وخت دې يعنى د کوم مونځ چه کوم وخت مستحب دې هغه مونځ هم هغه وخت کول او يا دا اوونيلې شى چه دا عام مخصوص عنه البعض دې لهذا د کومو مونځونو په تاخير کښې چه ترغيب راغلې دې هغه ددې نه مستثنى دى هم دغه شان شوافعو د ابن عمر حديث کوم چه امام ترمذى په باب ما جاء فى الوقت الاول من الفضل کښې ذکر کړې دې نه استدلال کړې دې ﴿ الوقت الاول من الصلاة رضوان الله والوقت الاخر عفو الله ﴾ د دې حديث نه معلوميږى چه په مونځ کښې تاخير سراسر تقصير دې خو دا حديث بالاتفاق ضعيف دې ددې په سند کښې يو راوى دې يعقوب بن الوليد د چا چه امام احمد او نورو حفاظ حديث تکذيب کړې دې، امام بيهقىؒ فرمائى چه دا حديث د ټولو طرق په اعتبار سره ضعيف دې.

د افضل الاعمال مصداق او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف

په حديث الباب کښې فرمائيلې شوې دى چه مونځ په خپل اول مستحب وخت کښې کول افضل عمل دې پس د علماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه فرض مونځونه د هغې په وختونو کښې ادا کول په ټولو اعمالو کښې افضل دى، بيا ددې نه روستو د جمهورو رائې دا ده چه په علم دين کښې اشتغال افضل دې، د اشتغال بالنوافل نه. (١)خو په دې کښې اختلاف دې چه اشتغال بالعلم او جهاد کښې کوم يو افضل دې د جمهورو رائې دا ده چه په علم کښې مشغول کيدل افضل دى د جهاد نه او امام احمدؒ فرمائى چه جهاد افضل دې خو اختلاف په نفل جهاد کښې دې او فرض جهاد بالاتفاق د اشتغال علم نه افضل دې، په افضل الاعمال کښې اختلاف او په هغې باندې بحث حضرت شيخ په لامع الدرارى جلد ثانى او د کتاب الجهاد په شروع کښې ليکلې دې هم دغه شان په هغې کښې ليکلې شوې دى چه هغه احاديث کوم چه په فضيلت د علم کښې راغلې دې اکثر دى د هغې نه کوم چه راغلې دى د جهاد په فضيلت کښې.

هم دغه شان دې واضحه وى چه چونکه په بعض احاديثو کښې ايمان ته افضل الاعمال وئيلې شوې دې په دې وجه علماء کرامو ليکلې دى چه په دې احاديثو کښې د اعمال نه مراد اعمال بدنيه دى، په اعمال قلبيه کښې د ټولو نه افضل ايمان او اعمال بدنيه کښې صلاة دې.

---

(١) البته دامام شافعىؒ په نزد اشتغال بالنوافل افضل دې.

[۴۲۷]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عُمَارَةَ بْنِ رُؤَيْبَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: سَأَلَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، فَقَالَ أَخْبِرْنِي مَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ، قَالَ: أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْهُ؟ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، قَالَ: نَعَمْ، كُلَّ ذَلِكَ، يَقُولُ: سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي، فَقَالَ الرَّجُلُ: وَأَنَا سَمِعْتُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ ذَلِكَ".

ترجمه: حدیث بیان کړي دي ابو بکر بن عمارة بن رؤیبة د خپل پلار نه، هغه ونیلی دي تپوس وکړو د هغه نه یو سړي د بصری والو نه هغه وویل خبر راکړه ماته په هغه څه چي تا اوریدلي د رسول الله ﷺ نه، هغه وویل ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چي هغه وئیل نه به داخلیږي اور ته هغه سړی چي مونځ وکړی مخکي د ختلو د نمر نه او مخکي د پریوتلو د نمر نه، هغه وویل ایا تا دا خبره د نبي ﷺ نه آوریدلي ده؟ دري خل (ئي دا جمله اووئیله)، هغه وویل آو، هرځل به ئي وئیل اوریدل کړی دی زما غوږونو او ساتلی دی هغي لره زما زړه، نو وویل او ما اوریدلی دی د نبي ﷺ نه چي وئیل ئي دغه

[۴۲۸]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِي حَرْبِ بْنِ أَبِي الْأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ فَضَالَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ فِيمَا عَلَّمَنِي "وَحَافِظْ عَلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، قَالَ: قُلْتُ: إِنَّ هَذِهِ سَاعَاتٌ لِي فِيهَا أَشْغَالٌ، فَمُرْنِي بِأَمْرٍ جَامِعٍ إِذَا أَنَا فَعَلْتُهُ أَجْزَأَ عَنِّي، فَقَالَ: حَافِظْ عَلَى الْعَصْرَيْنِ، وَمَا كَانَتْ مِنْ لُغَتِنَا، فَقُلْتُ: وَمَا الْعَصْرَانِ؟ فَقَالَ: صَلَاةٌ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، وَصَلَاةٌ قَبْلَ غُرُوبِهَا".

ترجمه: عبد الله بن فضالة د خپل پلار نه روایت کوی هغه وئیلی دي ښودنه کړي ده ماته رسول الله ﷺ، پس وو په هغي کښي چي ماته ئي ښوده کړي ده او حفاظت کوه د پنځو مونځونو. هغه وایي ما وویل دي وختونو کښي زما په دي کښي کارونه دي ماته امر وکړه په یو جامع کار باندي کله چي زه هغه وکړم پوره کیږی زمانه، هغه وفرمائیل حافظت د دوه عصرونو. دا زمونږ په لغت کښي نه وو، نو وویل عَصْرَيْن څه شي دي؟ نبي ﷺ اوفرمائیل (دا دوه مونځونه دی)، ي، مونځ کول مخکي د ختلو د نمر نه او بل مونځ کول مخکي د ډوبیدو د نمر نه.

تشریح: **قوله**:(**حدثنا عمرو بن عون.... وحافظ على الصلوات الخمس قال : قلت: ان هذه ساعات لي فيها اشغال الخ**) د حدیث مضمون دا دي چه فضاله لیثی ؓ فرمائی چه کله زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښي (په ظاهره په اسلام باندي د بیعت کولو دپاره) حاضر شوم نو ماته ئي د احکام دین تعلیم راکړو، او هم دغه شان ئي راته د صلوات خمسه د حفاظت حکم اوفرمائیلو یعنی ټولو مونځونو لره د هغې په وخت کښي کول. هغه په دي باندي عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ دا چه د مونځونو کوم وختونه دی زما نه فارغ نه دی بلکه په دي کښي زه ډیر زیات کارونه کوم، لهذا ماته یو داسي عمل اوښایئ کوم چه زما دپاره کافي

[1]: صحيح مسلم/المساجد ۳۷ (۶۳۴)، سنن النسائي/الصلاة ۱۳ (۴۷۲)، ۲۱ (۴۸۸)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۷۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۱۳۶، ۲۶۱) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۴۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۳۴۴) (صحيح)

شي په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ حافظ على العصرين ﴾ هغه وائي چه زه د عصرين په معنى نه پوهيدم په دې وجه ما تپوس اوکړو چه د عصرين نه څه مراد دې نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د سحر مونځ او د مازيګر مونځ يعنى ته ددې دواړو مونځونو اهتمام کوه.

په حديث باندې اشکال او د هغې تاويل

په دې حديث باندې قوى اشکال دې ځکه چه ددې نه په ظاهره کښې معلوميږى چه د هغه سړى دپاره صرف دوه مونځونه کول کافى دى، ددې علماء کرامو په دوه قسمه تاويل کړې دې، بيهقى فرمائى چه رسول الله ﷺ هغه صحابى ته فرمائيلې وو چه صلوات خمسه لره د هغې د اوقات مستحبه رعايت کولو سره کوه، هغه چه کله عذر پيش کړو چه زما دا اوقات خالى نه دى نو روستو ورته رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ښه کم از کم دوه مونځونو لره په خاص وخت کښې کوئ باقى مونځونو لره چه کله وخت ملاؤ شى وې کړه او دا مطلب نه دې چه صرف دوه مونځونه کول کافى دى، او دويم تاويل ددې حديث دا دې کوم چه علامه سيوطى رحمه الله اختيار کړې دې چه دا د رسول الله ﷺ د خصوصياتو نه ده دا خبره چه هغه د کوم امتى په حق کښې غواړى د هغه په فرائضو کښې تخفيف کولې شى، هم په دې وجه امام سيوطى رحمه الله دا حديث په خپل مشهور تاليف الخصائص الكبرى کښې راوړې دې هغه په دې سلسله کښې د مسند احمد صريح روايت ذکر کړې دې چه په هغې کښې دا دى چه يو سړى د رسول الله ﷺ په لاس باندې اسلام قبول کړو، په دې شرط باندې چه د دوه مونځونو نه علاوه به نور مونځونه نه کوى، نبى عليه السلام د هغه دا شرط قبول کړو والله تعالى اعلم

باقى دا ظاهره ده چه ددې حديث نه د سحر او مازيګر د مونځ ډير اهميت معلوميږى، هم دغه شان د بخارى په يو روايت کښې دى ﴿من صلى البردين دخل الجنة﴾ د بردين نه مراد هم دا دوه مونځونه دى.

[۴۲۹](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَلِيٍّ الْحَنَفِيُّ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، وَأَبَانُ، كِلَاهُمَا عَنْ خُلَيْدٍ الْعَصَرِيِّ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَمْسٌ مَنْ جَاءَ بِهِنَّ مَعَ إِيمَانٍ دَخَلَ الْجَنَّةَ: مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ عَلَى وُضُوئِهِنَّ وَرُكُوعِهِنَّ وَسُجُودِهِنَّ وَمَوَاقِيتِهِنَّ، وَصَامَ رَمَضَانَ، وَحَجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، وَأَعْطَى الزَّكَاةَ طَيِّبَةً بِهَا نَفْسُهُ، وَأَدَّى الْأَمَانَةَ"، قَالُوا: يَا أَبَا الدَّرْدَاءِ، وَمَا أَدَاءُ الْأَمَانَةِ؟ قَالَ: الْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ.

ترجمه: د ابو الدرداء رضى الله عنه نه روايت دې هغه وئيلى دى، وئيلى دى رسول الله ﷺ پنځه شيان دې چا چې راتلل وکړل په هغې باندې د ايمان او يقين سره داخل به شى جنت ته، چا چې حفاظت وکړو د پنځو مونځونو په اودس د دوى او په رکوع د دوى او په سجدې ددې او په وقتونو د دې، او روژه ئې ونيوله د رمضان، او حج ئې وکړو د بيت الله که چيرې طاقت ئې وى هغې ته د لارې، او زکات ئې ورکړو چې خوشحاله وو په هغې باندې د هغه

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٩٣٠) (حسن)

نفس، او ادا ئې کړو امانت. خلقو تپوس اوکړو: اې ابو الدرداء! څه شی دی ادا کول د امانت، هغه ووېل: غسل کول د جنابت نه

[۴۳۰]([1])حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ ضُبَارَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّلِيكِ الْأَلْهَانِيِّ، أَخْبَرَنِي ابْنُ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: قَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ: إِنَّ أَبَا قَتَادَةَ بْنَ رِبْعِيٍّ أَخْبَرَهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنِّي فَرَضْتُ عَلَى أُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَعَهِدْتُ عِنْدِي عَهْدًا أَنَّهُ مَنْ جَاءَ يُحَافِظُ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهُ عِنْدِي".

ترجمه: سعيد بن المسيب وئيلي دي، چې ابو قتادة بن ربعي خبر راکړې دی، هغه وايي، وئيلي دي رسول الله ﷺ، وئيلي دي الله تعالى: بيشکه ما فرض کړي دي ستا په امت باندې پنځه مونځونه او ما وعده کړې ده د ځان سره يوه وعده بيشکه څوک چې راغي ماته چې حفاظت ئې کوه په دې باندې د وخت ددې زه به هغه جنت ته داخلوم، او چا چې حفاظت ونه کړو د هغې نو هغه کس لره وعده نشته زما سره.

بَابُ إِذَا أَخَّرَ الْإِمَامُ الصَّلَاةَ عَنِ الْوَقْتِ

باب دی کله چې وروسته کړی امام مونځ د وقت نه (نو څه کول پکار دی؟)

د ترجمة الباب تشريح:

يعنی که امام مونځ لره د مستحب وخت د تيريدو نه پس په تاخير سره کوی نو خلقو لره څه کول پکار دی، په حديث کښې دا بيان کړې شوی دی چه په داسې صورت کښې انسان له پکار دی چه خپل مونځ چدا او مستحب وخت کښې اوکړی او د هغې نه روستو که په مسجد باندې ورتير شی نو د امام د مخالفت نه د بچ کيدو دپاره دې په مسجد کښې هم په جماعت سره مونځ اوکړی، دا دويم مونځ به نفل شی غرض دا چه په امام باندې دې نکير او د هغه مخالفت دې نه کوی، اصل کښې مونځ ورکول منصب دې د امام المسلمين يا د هغه چا چه هغه ئې متعين کړی، هم دغه شان په اسلامی ملکونو کښې د مسجدونو انتظام د حکومت د طرف نه وی نو د هم دغه شان صورت دپاره په حديث کښې دا حکم فرمائيلې شوې دې، او په ائمه کرامو باندې د اعتراض نه منع کړې شوې ده ددې دپاره چه ملکی نظام صحيح قائم پاتې شی او فتنه جوړه نه شی او که صورت حال دا وی چه د مسجدونو انتظام د امام مقرر کول وغيره اهل محله په خپل اختيار سره کوی لکه چه نن صبا زمونږ په زمانه کښې کيږی نو بيا ظاهره ده چه د هغه دپاره دا حکم نه دې

[۴۳۱]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي عِمْرَانَ يَعْنِي الْجَوْنِيَّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ، كَيْفَ أَنْتَ إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ؟ أَوْ قَالَ: يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ. قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَمَا تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، فَإِنْ أَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ فَصَلِّهَا، فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ".

[1]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩٤ (١٤٠٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٨٢) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/المساجد ٤١ (٦٤٨)، سنن الترمذي/الصلاة ١٥ (١٧٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٥٠ (١٢٥٦)، (تحفة الأشراف: ١١٩٥٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الإمامة ٢ (٧٨٠)، ٥٥ (٨٦٠)، مسند احمد (٥/١٦٨، ١٦٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٥ (١٢٦٤) (صحيح)

ترجمه: ابو ذر ﷛ وئیلی دی، چې ویلی دي ماته رسول الله ﷺ: اې ابو ذر! ستا به څنګه حال کله وی کله چې په تا باندې داسې حاکمان مسلط شی چې وژنی به مونځ لره؟ او یا هغه وفرمائیل: وروسته کوی به مونځ؟ نو ما وویل: اې د الله رسوله! په څه شی باندې حکم کوی ماته، هغه وفرمائیل: مونځ کوه په خپل وخت که تا بیاموندلو د هغوی سره نو هغه هم کوه بیشکه هغه ستا لپاره نفل دی.

تشریح: قوله: ﴿ حدثنا مسدد... یا اباذر کیف انت اذا کانت علیک امراء یمیتون الصلاة الخ ﴾ رسول الله ﷺ ابوذر ﷛ ته هم هغه خبره ارشاد فرمائی کومه چه پورته په ترجمة الباب کښې ذکر ده چه که په تاسو باندې داسې امیران مسلط او مقرر شی، نو تاسو به په دې صورت کښې څه کوئ.

شرح حدیث

قوله: ﴿ یمیتون الصلاة ﴾ په ظاهره کښې نې معنی د قضاء کولو ده خو امام نووی ﷫ لیکی چه ددې نه مراد قضاء کولو نه دی بلکه په غیر مستحب وخت کښې کول مراد دی، هغه دا هم فرمائیلې دی چه د امراء نه د مونځ قضاء کول منقول نه دی خو حافظ ابن حجر او علامه عینی فرمائی چه د اماتة الصلاة ظاهری معنی مونځ قضاء کول دی او د بنو امیه د امیرانو نه د مونځ قضاء کول بلکه ترک کول ثابت دی لکه حجاج بن یوسف او د هغه امیر ولید بن عبدالملک به مونځ قضاء کولو. (کذا فی الفیض السمائی)

قوله: ﴿ قلت یا رسول الله فما تامرلی ﴾ سیدنا ابوذر ﷛ عرض اوکړو چه زه به په داسې وخت کښې څه کوم، رسول الله ﷺ دې باره کښې هغه ته هدایت اوفرمائیلو خو واضحه دې وی چه ابوذر غفاری ﷛ داسې زمانې ته نه دې پاتې شوې هغه د سیدنا عثمان ﷛ په دور خلافت ۳۲ هـ کښې وفات شوې دی، ددې قسم امیرانو دور پورې هغه ژوندې نه دې پاتې شوې ددې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ته دا معلومه وه چه په راتلونکې زمانه کښې به دا قسم امیران پیدا کیږی خو د صحیح وخت تعیین د هغه په علم کښې نه وو، هم دغه شان په احادیث الفتن کښې ډیر څیزونه داسې ذکر شوې دی چه په هغې کښې رسول الله ﷺ پیشن ګوئی کړې ده، خو د صحیح وخت تعیین رسول الله ﷺ هم نه دې کړې څکه چه د غیبو علم رسول الله ﷺ ته نه وو، د کومو څیزونو علم چه الله پاک هغه ته ورکړې وو هغه د رسول الله ﷺ په علم کښې راغلل او د کومو څیزونو خبر چه نه وو ورکړې شوې د هغې نه بې خبره پاتې شو.

قوله: ﴿ فانها لک نافلة ﴾ یعنی دا دویم مونځ کوم چه تا په جماعت سره کړې دې دا به ستا دپاره نفل وی، دلته څو بحثونه اومسائل دی چه په هغې باندې څان پوهه کول ضروری دی.

د حدیث متعلق مسائل فقهیة

البحث الاول:

د اعادة الصلاة روایات څنګه چه مصنف دلته بیان کړی دی ددې په شان روایات وړاندې په ابواب الامامة والجماعة کښې هم راروان دی، دا تکرار ولې دې؟ جواب دا دې چه د اعاده

صلاة نوعيت په دوارو ځايونو کښې مختلف دې وړاندې چه د اعادې کوم روايات راروان دی د هغې نوعيت دا دې چه يو سړی په دې خيال باندې چه په مسجد کښې مونځ شوې دې په خپل کور او خپل منزل کښې منفردا مونځ اوکړو، خو روستو چه کله مسجد ته لاړو نو معلومه شوه چه لا مونځ نه دې شوې، لهذا په دې دواړه قسم رواياتو او ابواب کښې تکرار نشته.

البحث الثاني :

اعاده به د ټولو مونځونو کولې شي يا د بعض نو دا مسئله مختلف فيه ده، د امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد به د ټولو مونځونو اعاده کولې شي البته امام احمد رحمه الله فرمائي چه د ماښام په مونځ کښې دې د يو رکعت اضافه اوکړې شي او د امام مالک رحمه الله په نزد د ماښام نه علاوه د باقي څلورو واړو مونځونو اعاده کولې شي او د احنافو په نزد اصولا اعاده صرف د دوه مونځونو ده ماسپخين او ماسخوتن ځکه چه دا دويم مونځ به نفل وی او نفل مونځ د سحر او مازيګر نه پس مکروه دې او د ماښام د مونځ اعاده په دې وجه نشته چه نفل مونځ ثلاثي نه وی بلکه ثنائي وی يا رباعي وی، د يو رکعت اضافه چه اوکړې شي نو د امام مخالفت لازميږی، لهذا د هغوی په نزد صرف د دوه مونځونو اعاده پاتې شوه.

البحث الثالث :

په دې دواړو مونځونو کښې به کوم يو مونځ فرض وی او کوم نفل، د ائمه ثلاث چه په هغوی کښې احناف هم دی اولنې مونځ فرض او دويم به نفل وی. وعند المالكية احداهما لا على التعيين والتعيين، مفوض الى الله.

هم دغه شان رائې د بعض شوافعو ده چه کوم يو مونځ زيات غوره او کامل وی هغه فرض دې او دويم نفل ﴿ الفرض اكملهما ﴾ او د امام اوزاعي رائې د جمهور د مسلک برعکس ده، اول مونځ نفل دې او دويم فرض، او د شعبي مسلک عجيبه دې چه دواړه به فرض شمارلې شي.

په دې مسئله کښې د جمهور دليل حديث الباب دې ﴿ فانها لک نافلة ﴾ هم دغه شان ددې نه په وړاندې روايت کښې راځي ﴿ واجعل صلاتک معهم سبحة ﴾ چه په جماعت سره چه دې کوم مونځ کړې دې هغه نفل اومنه او د امام اوزاعي دليل په ابواب الجماعة کښې چه کوم روايت راروان دې هلته يو روايت دې ﴿ لكن لک نافلة وهذه مكتوبة ﴾ په دې روايت کښې روستو مونځ ته فرض وئيلې شي، امام نووی رحمه الله او بيهقي رحمه الله ددې جواب دا کړې دې ﴿ هذه رواية شاذة مخالفة للثقات ﴾ او يا به دا وئيلې شي چه ﴿ هذه ﴾ اشاره په ځائې د اقرب د ابعد يعني صلاة اول طرف ته ده.

حديث الباب په ظاهره کښې د احنافو خلاف دې

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهه کړه چه په احاديث الباب کښې مطلقا د اعاده صلاة حکم دې او د احنافو په نزد صرف د دوه مونځونو اعاده کيدې شي کما سبق... لهذا دا روايت د احنافو خلاف دې، جواب ۱: دا کيدې شي چه دا روايات په نهي عن الصلاة في الاوقات المکروهة نه مخکښې وی، جواب ۲: د نفلو ممانعت په هغه اوقاتو کښې هله دې

چه هر کله مونځ کول په خپل اختیار سره وی او دلته چه کوم دویم مونځ نفل کوی شی هغه مصلحة او ضرورة دي والضرورات تبیح المحضورات. (قاله علی القاری رحمه الله) الحمد لله متعلقه مباحث پوره شو.

[۴۳۲]([1])حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ دُحَيْمٌ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي حَسَّانُ يَعْنِي ابْنَ عَطِيَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَابِطٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيِّ، قَالَ: قَدِمَ عَلَيْنَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ الْيَمَنَ رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا، قَالَ: فَسَمِعْتُ تَكْبِيرَهُ مَعَ الْفَجْرِ رَجُلٌ أَجَشُّ الصَّوْتِ، قَالَ: فَأُلْقِيَتْ عَلَيْهِ مَحَبَّتِي، فَمَا فَارَقْتُهُ حَتَّى دَفَنْتُهُ بِالشَّامِ مَيِّتًا، ثُمَّ نَظَرْتُ إِلَى أَفْقَهِ النَّاسِ بَعْدَهُ، فَأَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ فَلَزِمْتُهُ حَتَّى مَاتَ، فَقَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيْفَ بِكُمْ إِذَا أَتَتْ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ يُصَلُّونَ الصَّلَاةَ لِغَيْرِ مِيقَاتِهَا؟ قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: صَلِّ الصَّلَاةَ لِمِيقَاتِهَا، وَاجْعَلْ صَلَاتَكَ مَعَهُمْ سُبْحَةً".

ترجمه: عمرو بن میمون الاَودی ﷺ وائی، چې راغې مونږ ته معاذ بن جبل چې دا قاصد د رسول الله ﷺ وو، هغه وائی: ما واوریده تکبیر دهغه په مونځ د سحر کښې، دا یو سړی وو سخت اواز والا، هغه وایې: ما وغورځولو په هغه باندې خپل محبت زه ترېنه جدا نه شوم ترڅو چې مې هغه دفن کړو په شام کښې، بیا ما وکتل دېر د خلقو ته وروسته د هغه نو زه راغلم ابن مسعود ته د هغه سره وم تردې چې مړ شو، نو ماته وویل رسول الله ﷺ ستاسو به څنګه حال وی کله چې راشی په تاسو باندې داسې حاکمان چې مونځ به کوی بغیر د خپلو وختونو نه. ما وویل: ماته څه حکم کوئ که زه هغوی بیاموندلم ای د الله رسوله! هغه وفرمائیل: مونځ کوه په خپل وخت کښې او وګڼړه خپل مونځ د هغوی سره نفلي.

مضمون حدیث

قوله: حدثنا عبدالرحمن بن ابراهیم... قدم علینا معاذ بن جبل الخ... مضمون حدیث دا دې چه عمرو بن میمون فرمائی چه معاذ بن جبل ﷺ زمونږ خواته یمن ته تشریف راوړلو، د رسول الله ﷺ محبوب سیدنا معاذ ﷺ چه کله د سحر په وخت باندې یمن ته داخلیدو نو لړ په اوچت اواز باندې الله اکبر وئیلو سره داخل شو د هغه دا اواز ما په خپلو غوږونو باندې واوریدو، د سیدنا معاذ ﷺ آواز ډیر تیز وو، هم په دې خپل اواز سره هغه الله اکبر اووې، ددې تکبیر په اواز اوریدلو سره په ما باندې داسې اثر اوشو چه زما په زړه کښې د هغه محبت واقع شو او زه په هغه باندې مئین شوم او همیشه د هغه په صحبت کښې پاتې شوم او د هغه نه کله هم جدا نه شوم تردې چه هغه ما په خپلو لاسونو سره په ملک شام کښې دفن کړو، بیا ما سوچ اوکړو چه دې خو لاړو اوس د یو بل فقیه صحابی صحبت اختیارول پکار دی چه باقی ژوند د هغه سره تیر کړې شی نو ما د صحبت دپاره د عبدالله بن مسعود ﷺ انتخاب اوکړو او زه هغه سره اوم تردې چه هغه هم وفات شو. رضی الله تعالی عنه.

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۹٤۸۷)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/المساجد ۵ (٥٣٤)، سنن النسائي/الإمامة ۲ (۷۸۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵۰ (۱۲۵۵)، مسند أحمد (۱/۳۷۹، ٤٥٥، ٤٥۹) (حسن صحيح)

[۴۳۳] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ بْنِ أَعْيَنَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ أَبِي الْمُثَنَّى، عَنْ ابْنِ أُخْتِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ الْمَعْنَى، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ أَبِي الْمُثَنَّى الْحِمْصِيِّ، عَنْ أَبِي أُبَيٍّ ابْنِ امْرَأَةِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهَا سَتَكُونُ عَلَيْكُمْ بَعْدِي أُمَرَاءُ تَشْغَلُهُمْ أَشْيَاءُ عَنِ الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا حَتَّى يَذْهَبَ وَقْتُهَا، فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُصَلِّي مَعَهُمْ؟ قَالَ: نَعَمْ، إِنْ شِئْتَ، وَقَالَ سُفْيَانُ: إِنْ أَدْرَكْتُهَا مَعَهُمْ أُصَلِّي مَعَهُمْ؟ قَالَ: نَعَمْ، إِنْ شِئْتَ".

ترجمه: د عبادة بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي، چې وئيلي دي رسول الله ﷺ: شان دادې چې وې به په تاسو باندې اميران زمانه وروسته، مشغوله کوی به دوی لره څه شيان د مانځه نه په خپل وخت کښې ترديې چې وخت ئې لاړ شي، نو تاسو مونځ کوئ په خپل وخت کښې. پس ووئيل يو سړي: اې د الله رسوله! ايا زه مونځ کوم د هغوی سره؟ هغه وفرمائيل: آو، که چرې ستا خوښه وي. او وئيلي دي سفيان: که چرې ما هغه ومونډلو د هغوی سره ايا زه وکړم د هغوی سره؟ هغه ووئيل: آو که چرې ستا خوښه وي.

۳: ﴿ حدثنا محمد بن قدامة.... عن ابن اخت عبادة... ﴾ دا غلط دې صحيح هغه دې کوم چه وړاندې راروان دي. عن ابن امرأة عبادة.

[۴۳۴] (²) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو هَاشِمٍ يَعْنِي الزَّعْفَرَانِيَّ، حَدَّثَنِي صَالِحُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَكُونُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ مِنْ بَعْدِي يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ فَهِيَ لَكُمْ وَهِيَ عَلَيْهِمْ فَصَلُّوا مَعَهُمْ مَا صَلَّوْا الْقِبْلَةَ".

ترجمه: د قبيصة بن وقاص نه روايت دې هغه وئيلي دي چې وئيلي دي رسول الله ﷺ وې به په تاسو باندې حاکمان زمانه وروسته چې وروسته کوی به مونځ، دغه به ستاسو لپاره (خير اوبرکت) وي، او دغه به په هغوی باندې وبال وي، مونځ کوئ د دوی سره تر څو چې دوی مونځ کوی قبلې ته

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا ابو الوليد الطيالسي.... فهي لکم ﴾ يعني کوم اميران چه په تاخير سره مونځ کوی نو ستا پکښې هيڅ نقصان نشته بلکه ستا دپاره خو د هغوی سره کول غوره دی (ځکه چه زمونږ د طرف نه تاته هدايت هم دا دې) وهي عليهم او دا د تاخير والا مونځ د هغوی په حق کښې نقصاني دې، ځکه چه د هغوی دا تاخير په خپل اختيار او غفلت سره دې.

قوله: ﴿ فصلوا معهم ما صلوا القبلة ﴾ يعني تاسو د هغه تابعداری کوئ د هغوی سره مونځ کوئ د هغوی خلاف د بغاوت جهنډې مه پورته کوئ ترڅو پورې چه دا اميران د مسلمانانو د قبلې طرف ته مونځ کوی يعنی ترڅو پورې چه په هغوی کښې د اسلام علامات بيا موندلې شي او د دائره اسلام نه خارج نه شي.

¹: سنن ابن ماجه/للصلاة ۱۵۱ (۱۲۵۷)، (تحفة الأشراف: ۵۰۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۵/۵، ۳۲۹) (صحيح)
²: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۷۰) (صحيح)

بَابٌ فِي مَنْ نَامَ عَنِ الصَّلَاةِ، أَوْ نَسِيَهَا

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې اوده شي د مونځ وخت کښې او يا ترې نه هېر شي(نو څه به کوي)

يعنې د مونځ په وخت کښې اوده پاتې شي يا مونځ ترې په خپل وخت کښې کول هير شي. نو په دې صورت کښې څه حکم دې په نسيان يا نوم سره مونځ ساقط کيږي يا نه؟

د واقعة ليلة التعريس په تعدد کښې د علماء کرامو اختلاف

په دې باب کښې مصنف رحمه الله د ليلة التعريس واقعه د متعدد صحابه کرامو په رواياتو او مختلف طرق سره په تفصيل سره ذکر فرمائيلې ده، د حضرات محدثين ترمينځه په دې کښې اختلاف دې چه دا واقعه صرف يو ځل پيښه شوې ده يا ډير کرته، اصيلي يو محدث دې د هغه رائې دا ده چه په دې کښې تعدد نشته صرف يو ځل پيښه شوې ده په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ د غزوه حنين نه واپس کيدو، او اکثر محدثين چه په هغوی کښې قاضي عياض، حافظ ابن حجر او علامه سيوطي رحمهم الله وغيره د تعدد قائل دی، د ابن العربي رائې دا ده چه دا واقعه درې کرته پيښه شوې ده، ظاهرا د احاديثو نه هم تعدد فهم کيږي ځکه چه د بعض رواياتو نه معلوميږي چه دا واقعه د غزوه خيبر په سفر کښې راپيښه شوې وه او په بعض کښې د حديبيه ذکر دې او په بعض طريق کښې د تبوک او په بعض کښې د حنين، او دا ټول روايات په هم دې کتاب سنن ابي داود کښې راروان دی، هم دغه شان په بعض رواياتو کښې دی چه اول بيداريدونکې ابوبکر صديق رضي الله عنه وو او په بعض کښې رسول الله ﷺ وو او په بعض کښې دی چه ذو مخبر صحابي وو، لهذا په واقعه کښې د تعدد تسليم کولو نه بغير جمع بين الروايات گرانه ده.

[٤٣٥](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ فَسَارَ لَيْلَةً حَتَّى إِذَا أَدْرَكَنَا الْكَرَى عَرَّسَ، وَقَالَ لِبِلَالٍ: اكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَ، قَالَ: فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ، فَلَمْ يَسْتَيْقِظِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا بِلَالٌ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى إِذَا ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَهُمُ اسْتِيقَاظًا، فَفَزِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا بِلَالُ، فَقَالَ: أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا، ثُمَّ تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ لَهُمُ الصَّلَاةَ وَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا، فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى، قَالَ: أَقِمِ الصَّلَاةَ لِلذِّكْرَى"، قَالَ يُونُسُ: وَكَانَ ابْنُ شِهَابٍ يَقْرَؤُهَا كَذَلِكَ، قَالَ أَحْمَدُ: قَالَ عَنْبَسَةُ يَعْنِي عَنْ يُونُسَ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ: لِذِكْرِي، قَالَ أَحْمَدُ: الْكَرَى النُّعَاسُ.

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ کله چې واپس شو د غزا د خيبر نه نو مزل ئې وکړو د شپې تردې چې راګير کړلو مونږ لره خوب نو هلته ئې پړاو واچولو، او وېې وئيل بلال ته: څوکيدارې کوه زمونږ، هغه وايي: غالبې شوې په بلال باندې سترګې د هغه، او هغه تکيه لګوله خپلې اوښې ته، رابيدار نه شو نبي ﷺ او نه

---

(١) صحيح مسلم/المساجد ٥٥ (٦٨٠)، سنن ابن ماجه/الصلاة ١٠ (٦٩٧)، (تحفة الأشراف: ١٣٣٢٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/التفسير ٢٠ (٣١٦٣)، سنن النسائي/المواقيت ٥٣ (٦١٩، ٦٢٠)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ٦ (٢٥ مرسلاً) (صحيح)

بلال او نه يو كس د ملګرو د ده غه ترديږ چې ولګېدو په دوی باندې نمر، نو وو رسول الله ﷺ اولنی كس د دوی نه چې رابيدارېږ كېږي، نو ويرېدو رسول الله ﷺ هغه وويل: ای بلال! نو هغه وويل: اخستی وو زما نفس هغه څه چې ستا نفس ئې اخستی وو زما پلار او مور دې د تانه قربان شي ای د الله رسوله! نو هغوی لږې كړلې خپلې سورلېږ لږ شان، بيا اودس وكړو نبي ﷺ او امر ئې وكړو بلال ته د اقامت او د سحر مونځ ئې وكړو د وی ته، هر كله ئې چې مونځ پوره كړو، هغه وويل: د چانه چې مونځ هېر شي نو هغه دې وكړی كله چې ورته ياد شي، بېشكه الله تعالى ويلی دي: (اقم الصلاة لذكري) قائم كړه مونځ په وخت د ياداشت زما كېږي. وئيلی دی يونس: او وو ابن شهاب چې كولو به ئې همدغه رنګه (للذكرى). وئيلی دی احمد: وئيلی دی عنبسة يعنی د يونس په دې حديث كېږي (لِذِكْرِي) وئيلی دی احمد: كری نعاس خوب ته وائي

تشريح: قوله:(حدثنا احمد بن صالح... حتى اذا ادركنا الكرى) او (ادركنا) د جمع متكلم صيغه ده ده بلكه د واحد مذكر صيغه ده او نا ضمير منصوب متصل دې لكه (حدثنا واخبرنا) او (الكرى) په تركيب كېږي فاعل دې د (كرى) تفسير وراندې خپله په كتاب كېږي (نعاس) راروان دې يعنی كله چه مونږ ته خوب راتلو (عرس) تعريس وئيلې شی د مسافر په تلو تلو كېږي د شپې په اخرى حصه كېږي د ارام دپاره نزول كول يعنی په يو منزل باندې پړاؤ اچول، چه د مونځ د وخت نه مخكښې لږ ساعت ارام اوكړی او بيا په نشاط سره مونځ ادا كړې شی هم ددې نوم تعريس دې (وقال لبلال: اكلا لنا الليل) د رسول الله ﷺ معمول وو چه كله به هغه په سفر كېږي يو خائې كېږي تعريس كولو نو د سفر په ملګرو كېږي به ئې يو ويخ پاتې كيدو باندې مامور كړو ددې دپاره چه هغه ويخ پاتې كيدو سره د پوره قافلې حفاظت او نګرانی اوكړی او په صبا كيدو باندې د مونځ دپاره نور خلق بيدار كړی، وراندې دلته په روايت كېږي دی چه سيدنا بلال ﷺ چونكه د بيدار اوسيدو ذمه داری اخستلې وه نو هغه داسې اوكړل چه خپله سورلی ئې كينوله او په هغې باندې تكيه لګولو سره د مشرق طرف ته خپل رخ كولو سره كيناستلو ددې دپاره چه د صبا رڼا كومه چه د مشرق په طرف كېږي ښكاره كيږي هغه د سترګو په وړاندې وی، خو داسې اوشو چه اتفاقی هغه هم اوده شو ترديږ چه صبا راختلو سره د مونځ وخت ختم شو او نمر راوختلو او په دې روايت كېږي دا دی چه د ټولو نه اول رسول الله ﷺ بيدار شو او رسول الله ﷺ بلال ﷺ ته اواز كولو سره اوفرمائيل بلال! صرف دومره ئې اوفرمائيل، مطلب ظاهر وو چه دا تا څه اوكړل، په دې باندې هغه عرض اوكړو چه يا رسول الله! زما مور او پلار دې په تا باندې قربان وی زه هم هغه ذات اوده كړم چا چه تاسو اوده كړی وئ، او د بخاری په روايت كېږي دا هم دی چه رسول الله ﷺ په صريح الفاظو باندې د بلال ﷺ عذر قبول كړو (ان الله قبض ارواحكم حيث شاء وردها عليكم حين شاء) په دې باندې بنده ته د محمود او اياز قصه رايادېږی د ګران قيمت والا جوهر د ماتولو كوم چه اياز د بادشاه سلامت په حكم باندې فورا مات كړې وو او بيا هغوی تپوس اوكړو چه دا تا څه كړې دی نو په دې باندې د آداب شاهی مناسب فوری

عرض اوکړو چه زما نه قصور اوشو معافي غواړم، دا واقعه خلق اګر چه د ایاز په مناقبو کښې شمار کوي خو د بلال ﷺ په طرز عمل کښې چه کوم صداقت او صفائی ده هغه په دې کښې چرته ده کما لا يخفى، هم دا هغه واقعه ده کومه چه د ليلة التعريس په نوم باندې مشهوره ده چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ او پوره قافلې نه د سحر مونځ قضاء شوې وو.

﴿ وامر بلالا فاقام لهم الصلاة ﴾ په دې موقع باندې رسول الله ﷺ د سحر مونځ په جماعت سره ادا اوفرمائيلو د اذان او اقامت په باره کښې روايات مختلف دی په بعض کښې د دواړو ذکر دې لکه چه وړاندې به په روايت کښې راشي او په بعض کښې صرف اقامت لکه چه په دې حديث کښې بله مسئله هم مختلف فيه ده.

د قضاء مونځ په جماعت او اذان او اقامت کښې اختلاف

د احنافو او حنابله په نزد د قضاء شوې مونځونو دپاره اذان او اقامت دواړه مشروع دی او د امام شافعي رحمه الله قول قديم هم دا دې او هم دا د هغه د اصحابو په نزد راجح ده او د هغوی قول جديد دا دې چه د فائته دپاره صرف اقامت دې، اذان نشته، او هم دا مذهب دې د امام مالک، هم دغه شان ددې واقعې نه معلومه شوه چه قضاء مونځ دپاره جماعت مسنون دې لکه چه د جمهورو او ائمه اربعه مذهب دې په دې کښې د ليث بن سعد اختلاف دې، هغوی ددې قائل نه دی، امام بخاری د قضاء مونځ دپاره د جماعت مستقل باب تړلې دې او په هغې کښې ئې هم دا حديث ذکر فرمائيلې دې. ﴿ من نسی صلاة فليصلها اذا ذكرها فان الله تعالى قال: اقم الصلاة للذکری ﴾ يعنی د کوم سړی نه چه مونځ هير شو نو هغه له پکار دی چه کوم وخت ورته مونځ راياد شي هم هغه وخت دې هغه اوکړی ځکه چه الله پاک فرمائيلې دی چه مونځ قائم کړئ د هغې د رايادېدو په وخت.

دلته دوه قرائتونه دی يو ﴿ للذكرى ﴾ په ياء متکلم سره او دويم ﴿ للذکری ﴾، ذکری په اصل کښې مصدر دې او الف لام په دې کښې د مضاف اليه په عوض کښې دې او لام په معنی د وخت دې، لهذا د ﴿ للذكرى ﴾ معنى ﴿ وقت ذكر الصلاة ﴾ شوه چه کوم وخت مونځ راياد شي، دلته په روايت کښې هم دا دويم قرات منقول دې، او هم په دې سره تقريب[1] هم تام کيدې شي، اولنې قرأت دلته نه منطبق کيږی لکه چه ظاهر دې.

د حديث متعلق مسائل فقهيه او اختلاف د علماء کرامو

په دې حديث کښې څو مسئلې دی چه په هغې کښې بعض اوس تيرې شوې او بعض باقی دی. ۱: قضاء الصلاة فی الاوقات المنهية... د ائمه ثلاثه په نزد جائز دې او د احنافو په نزد په دې کښې تفصيل دې چه دا اوقات منهيه په دوه قسمه دی يو هغه چه په هغې کښې مطلقا مونځ کول جائز نه دی نه قضاء او نه نفل هغه درې دی، طلوع، غروب، د استواء وخت او دوه وختونه داسې دی چه په هغې کښې نوافل منع او قضاء مونځ جائز دې، يعنی پس د مازيګر او پس د سحر نه. ۲: دويمه مسئله ترتيب بين الوقتية والفائتة دې پس د ائمه ثلاثه

[1] د دليل په دعوی باندې انطباق.

په نزد دا ترتيب واجب دې چه اول دې قضاء مونځ اوکړي شي د هغې نه روستو وقتيه، د امام شافعي او اهل ظواهر په دې کښې اختلاف دې د هغوی په نزد دا ترتيب واجب نه دې خو د جمهورو په نزد دا ترتيب په کثرت فوائت سره ساقط کيږي او د کثرت په مصداق کښې اختلاف دې، د بعض علماء کرامو په نزد حد قلت د څلورو مونځونو پورې دې که پنځه شي نو هغه کثير دی او د احنافو مسلک دا دې چه پنځو پورې قليل دی ددې نه زيات کثير دی، دغه شان په دې کښې هم اختلاف دې چه د وخت په تنګ والی سره ترتيب ساقط کيږي يا نه، د اکثرو په نزد ساقط کيږي او د مالکيانو په نزد نه البته د نسيان په وجه باندې د ټولو په نزد ساقط کيږي، جمهور علماء کوم چه د ترتيب د وجوب قائل دی هغه په دليل کښې پيش کوی چه رسول الله ﷺ په غزوه خندق کښې څلور مونځونه فوت شوې دی نو رسول الله ﷺ هغه په ترتيب سره ادا فرمائيلي وو، هم دغه شان په يوه بله موقع باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ صلوا كما رايتموني اصلي ﴾ [۳]: دلته يوه مسئله بله ده هغه دا چه حديث الباب خو دا دې ﴿ من نسي صلاة ﴾ خو که څوک قصدا مونځ لره په خپل وخت کښې اونکړي نو په دې صورت کښې هم قضاء واجب ده يا نه، جمهور علماء اربعه وائي چه په دې صورت کښې قضاء په طريق اولی واجب ده، هرکله چه نسيان (هيره) سره مونځ نه ساقطيږي چه دا په اکثرو مسائلو کښې شرعي عذر ګرځولې شوې دې نو بيا عمداً د ترک په صورت کښې خو هيڅ عذر هم نشته په دې کښې به قضاء ولې واجب نه وی او دا وجوب به په طريقه د دلالت النص وی نه په طريقه د قياس، د اهل ظواهر په دې کښې اختلاف دې او د شيخ ابن تيميه ميلان هم دې طرف ته دې هغه فرمائي چه په حديث کښې د نسيان قيد دې لهذا د عمدا ترک په صورت کښې به قضاء واجب نه وی ګويا عمدا ترک کول داسې سخت جرم دې چه د هغې تلافی ممکن نه ده، په منهل کښې ليکی چه بعض صحابه کرام هم ددې قائل وو لکه عمر، عبدالله بن عمر، سعد بن ابی وقاص، ابن مسعود، سلمان فارسی رضی الله عنهم.

[۴۳۶]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَحَوَّلُوا عَنْ مَكَانِكُمُ الَّذِي أَصَابَتْكُمْ فِيهِ الْغَفْلَةُ، قَالَ: فَأَمَرَ بِلَالًا، فَأَذَّنَ وَأَقَامَ وَصَلَّى، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ مَالِكٌ، وَسُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَعْمَرٍ، وَابْنِ إِسْحَاقَ، لم يذكر أحد منهم الأذان في حديث الزهري هذا ولم يسنده منهم أحد، إلا الأوزاعي وأبان العطار عن معمر.

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې په دې حديث کښې هغه وئيلی دي: ويلی دي رسول الله ﷺ: تاسو لګ واوړئ د خپل ځائې هغې نه چې رسيدلی وو تاسو ته په هغې کښې غفلت. هغه وايي: چې امريې وکړو بلال ته اذان ئې وکړو او اقامت ئې وکړو او مونځ ئې وکړو. وئيلی دی ابوداود: روايت کړی دی مالک بن عيينة او اوزاعی او عبد الرزاق د معمر نه او د ابن اسحاق نه، نه دی ذکر کړی هيڅ کس د دوی نه اذان په حديث د زهری کښې چې دا دې، او مسند روايت نه دې کړې د دوی نه هيڅا مګر اوزاعی او ابان العطار د معمر نه.

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۳۳۰۲) (صحيح)

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا موسى بن اسماعيل.... تحولوا عن مكانكم الذى اصابتكم فيه الغفلة ﴾ يعنى رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ددې ميدان نه اوځئ چه په کوم کښې تاسو ته غفلت رسيدلې دې او د مسلم شريف په يو روايت کښې دى ﴿ فان هذا منزل حضرنا فيه الشيطان ﴾ چه دې منزل کښې مونږ ته شيطان راغلو.

د دې ميدان نه د تحويل او انتقال سبب

جمهور علماء کرام دا وائي چه ددې وادئ نه د منتقل کيدو وجه دا وه کومه چه په دې حديث کښې مذکور ده او هغه وجه نه وه کومه چه احناف بيانوى چه د طلوع شمس په وخت باندې قضاء مونځ کول جائز نه دى په دې وجه رسول الله ﷺ وړاندې لاړو، خو مونږ دا وايو چه د يو فعل مختلف مصلحتونه کيدې شى ددې سلسلې د رواياتو الفاظو ته کتل پکار دى، پس په بعض رواياتو کښې دى ﴿ فلما ارتفعت الشمس وابيضت قام فصلى ﴾ (رواه البخارى) او په يو روايت کښې دى (کما فى البيهقى) "فامر بلالا فاذن وصلى رکعتين ثم انتظر حتى استعلت الشمس ثم امره فاقام فصلى بهم ﴾ اوس تاسو په دې الفاظو باندې غور اوکړئ چه کومه خبره مونږ کوو هغه ده يا نه، دا مضمون مونږ د ﴿ من ادرک رکعة من الفجر فقد ادرک الصبح ﴾ د حديث د لاندې بيان کړې دې ﴿ قال فامر بلالا فاذن واقام ﴾ په دې روايت کښې اذان او اقامت دواړه مذکور دى لکه چه د احنافو او حنابله مذهب دې او ددې نه په مخکښې روايت کښې صرف د اقامت ذکر وو.

شرح السند

﴿ قال ابوداود رواه مالک الخ ﴾ مصنف هم ددې اذان او اقامت اختلاف بيانوى چه د زهرى اکثرو شاګردانو په دې روايت کښې د زهرى نه صرف اقامت ذکر کړې دې، لکه مالک، سفيان بن عيينه، اوزاعى، معمر، ابن اسحاق، لهذا راجح په دې روايت کښې د اذان عدم ذکر دې.

واضحه دې وى چه پورته کوم د زهرى روايت تير شوې دې چه په هغې کښې اذان او اقامت دواړه ذکر شوې دى په هغې کښې د ذهرى نه روايت کونکې معمر دې او د معمر نوم مصنف د هغه خلقو سره هم ذکر کړې دې چه د هغوى په روايت کښې د اذان ذکر نشته ددې جواب دا دې چه د معمر روايتونه دوه دى يو کښې د هغه شاګرد ابان دې او په دويم کښې عبدالرزاق، د ابان روايت کوم چه د معمر نه دې په هغې کښې ذکر د اذان شته او د عبدالرزاق په روايت کښې د اذان ذکر نشته هم په دې وجه مصنف ﷫ فرمائى عبدالرزاق عن معمر، ښه ځان پوهه کړه.

﴿ ولم يسنده منهم احد الخ ﴾ د دې ځائې نه بل اختلاف بيانوى هغه دا چه بعض راويان دا حديث مرسلا بغير د ابوهريره ؓ د ذکر نه او بعض مسندا د ابوهريره ؓ د ذکر سره بيانوى او په مسندا روايت کونکو کښې يو معمر دې چه د هغه روايت پورته په متن کښې تير شو، دويم اوزاعى دې.

په مستدل حنفيه باندې د مصنف نقد او د هغې جواب

اصل کښې د مصنف مقصد دا دې چه دا حديث چه په هغې کښې د اقامت سره سره اذان مذکور دې دا ضعيف او مضطرب دې پس اول ئې وئيلې دی چه د زهری اکثر شاگردانو اذان نه دې ذکر کړې او دويم اختلاف دا بيانوی چه دا حديث بعض مرسلا او بعض مسندا ذکر کړې دې، لهذا دا حديث مضطرب شو ددې جواب اصولا زمونږ د طرف نه دا دې چه د حديث رفع د ارسال په مقابله کښې په منزله د زيادت دې او قاعده دا ده چه زيات د ثقه معتبر دې او دا حديث مسندا نقل کونکی چه کوم راويان دی هغه ثقه دی. (قاله الزرقانی) والله تعالی اعلم.

[۴۳۷]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ الْأَنْصَارِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو قَتَادَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ لَهُ، فَمَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِلْتُ مَعَهُ، فَقَالَ: انْظُرْ، فَقُلْتُ: هَذَا رَاكِبٌ، هَذَانِ رَاكِبَانِ، هَؤُلَاءِ ثَلَاثَةٌ، حَتَّى صِرْنَا سَبْعَةً، فَقَالَ: احْفَظُوا عَلَيْنَا صَلَاتَنَا يَعْنِي صَلَاةَ الْفَجْرِ، فَضُرِبَ عَلَى آذَانِهِمْ فَمَا أَيْقَظَهُمْ إِلَّا حَرُّ الشَّمْسِ، فَقَامُوا فَسَارُوا هُنَيَّةً ثُمَّ نَزَلُوا فَتَوَضَّئُوا وَأَذَّنَ بِلَالٌ فَصَلَّوْا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ ثُمَّ صَلَّوْا الْفَجْرَ وَرَكِبُوا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: قَدْ فَرَّطْنَا فِي صَلَاتِنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ لَا تَفْرِيطَ فِي النَّوْمِ، إِنَّمَا التَّفْرِيطُ فِي الْيَقَظَةِ، فَإِذَا سَهَا أَحَدُكُمْ عَنْ صَلَاةٍ، فَلْيُصَلِّهَا حِينَ يَذْكُرُهَا وَمِنَ الْغَدِ لِلْوَقْتِ".

ترجمه: د ابو قتادة نه روايت دې، بيشکه نبی ﷺ وو په يو سفر کښې، نو هغه ميلان وکړو ماهم ورسره ميلان وکړو، هغه وفرمائيل: اوګوره(دا څوک دې) ما ووئيل: دا يو سور دی، دا دوه سواره دې، دغه درې دې، تردې چې مونږ اوه شو، هغه وفرمائيل: خيال وساتئ مونږ زمونږ. يعني د سحر مونځ، نو وټپول شو دوی په غوږونو، دوی رابيدار نه کړل مګر ګرمئ د نمر، نو پاڅيدل او روان شول لګ شانته، بيا ئې پړاو ونېولو اودسونه ئې وکړل او اذان وکړو بلال مونځ وکړو دوی دوه رکعاته د صبا، بيا مونځ وکړو دوی د صبا، نو ووئيل بعضو د دوی نه بعضو نورو ته: مونږ کمی وکړو په خپل مونځ کښې، نو ووئيل نبی ﷺ: بيشکه تفريط په خوب کښې نشته، بيشکه تفريط په ويخوالی کښې دی، کله چې سهوه شي يو کس ستاسو نه د مانځه نه نو هغه دې وکړی کله چې ورته ياد شي او صبا ورځ په خپل وخت کښې.

تشريح: **قوله**: ﴿ حدثنا موسى بن اسماعيل ﴾ تاسو ته به کيدې شی چه ياد وی د کتاب په اوله حصه کښې چه به کله دا قسم سند راتلو نو مونږ بيان کړې وو چه موسی بن اسماعيل چه کله د حماد نه روايت کوی نو اکثر او بيشتر ددې نه حماد بن سلمه مراد وی، موسی بن اسماعيل د حماد بن زيد نه قليل الرواية دې دلته د حماد نه حماد بن زيد مراد دې لکه چه په بعض نسخو کښې ددې تصريح هم ده هسې فی نفسه دا روايت حماد بن سلمه او زيد دواړه مراد دی، کما فی البذل. ﴿ فمال رسول الله صلى الله عليه وسلم وملت معه ﴾ د دې د شرح اګر چه دلته حاجت نشته ځکه چه دا قسم لفظ د ﴿ باب المسح على الخفين ﴾ په روايت کښې

(): سنن ابن ماجه/الصلاة ١٠ (٦٩٨)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٨٩)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ٥٥ (٦٨١)، سنن الترمذي/الصلاة ١٦ (١٧٧)، سنن النسائي/المواقيت ٥٣ (٦١٨)، مسند احمد (٥/٣٠٥) (صحيح)

راغلي دي، چه د هغې الفاظ دا وو ﴿ عدل رسول الله صلى الله عليه وسلم وعدلت معه ﴾ د دې وضاحت مونږ هلته کړې دې

شرح حديث

چه د هغې حاصل دا دې چه په اوله زمانه کښې په اوښانو باندې د ناستو مسافرو چه کومې قافلې وې هغوی به په قطار کښې روانې وې که يو سړی ته به په هغوی کښې د استنجاء وغيره ضرورت راپيښ شو نو هغه به د خپل ضرورت د پوره کولو دپاره د قطار او لاتن نه بهر راوتلو، نور قافلې والا به هم هغه شان روان وو بيا به هغه سړې د خپل ضرورت نه چه فارغ شو نو يا خو به کوشش کولو سره وړاندې تلو سره په هم هغه قافله کښې شامل شو يا که څه ملګری شاته راروان وو نو د هغوی انتظار کولو سره به هم هغوی سره يوځائې شو، پس وړاندې په روايت کښې دی ﴿ قال: انظر فقلت: هذا راكب هذان راكبان الخ ﴾ يعنی رسول الله ﷺ ابو قتاده رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه اوګورئ د شاته نه څه ملګری راروان دی يا نه نو هغوی ورته په غور سره اوکتل، نو هغوی لره د لرې نه په راتلو سره ليدو باندې يو سور په نظر راغلو هغه اووې يا رسول الله ﷺ يو ملګرې راروان دې بيا يو بل په نظر راغلو نو وې وئيل چه اوس راتلونکی دوه شو دغه شان په کيدو کيدو باندې ټول اووه کسان شو، په بذل کښې ددې کلام تشريح داسې کړې ده خو ابن رسلان بل شان کړې ده.[1]

الغرض رسول الله ﷺ هم هغه ځائې کښې د پړاؤ اچولو اراده اوکړه او وې فرمائيل چه د مونځ خيال ساتئ هسې نه اوده پاتې شو ﴿ فضرب على اذانهم الخ ﴾ دا لفظ کنايه ده د خوب نه يعنی هغوی ټول د مانځه په وخت کښې اوده پاتې شو لفظی ترجمه خو ئې دا ده چه د هغوی په غوږونو باندې پرده واچولې شوه چه هغې سره هغوی غوږونو آوازونه نه اورېدل او دا کيفيت د انسان په خوب کښې وی چه د د چا اواز نه اوری هم دغه شان په قران کريم کښې هم دی ﴿ فضربنا على اذانهم في الكهف سنين عددا ﴾، ﴿ فصلوا ركعتي الفجر ﴾ د دې نه معلومه شوه چه د سحر د سنتو قضاء شته، پس د امام محمد او شوافعو وغيره په نزد قضاء مطلقا ده او د شيخين (ابوحنيفه او ابويوسف) په نزد د سحر د سنتو قضاء مستقلا نه ده بلکه تبعا للفرض ده، په منهل کښې دی چه د امام مالک په نزد خو قضاء نشته خو د علماء مالکيه په نزد قضاء شته.

قوله: ﴿ انه لا تفريط في النوم انما التفريط في اليقظة ﴾ د مونځ د قضاء کيدو په بنياد صحابه کرامو افسوس کولو او خپل مينځ کښې ئې اووې چه مونږ نه د مونځ په باره کښې ډير تقصير او کوتاهی اوشوه، په هغې باندې رسول الله ﷺ ددې حضراتو د تسلئ دپاره ارشاد اوفرمائيلو.

[1] شارح ابن رسلان ددې کلام شرح دمسلم د تفصيلی روايت په لحاظ سره داسې نه ده کړې بلکه هغوی ددې معنی داسې بيان کړې ده چه حضور پاک (ص) چونکه په سورلئ باندې سور روان وو، نو هغوی (ص) ته خوب راغې چه ددې په وجه هغوی په سورلئ باندې په ناسته يو طرف ته کوږ شو، لکه چه غورځيږي او دهغوی (ص) خادم ابو قتاده چه دهغوی (ص) سره وو هغه اوفرمائيل چه ما هغوی په خپله څنګل بند کړو چه په دې سره هغوی (ص) په سورلئ باندې نيغ شو.

چه د خوب په حالت کښې تفريط نشته، تفريط د بيدارئ په حالت کښې وي چه سره د انسان د بيداريدو مونځ قضاء کړي او؛ البته د اسباب نوم په اعتبار سره تفريط في النوم کيدې شي مثلا يو سړې د مونځ وخت ته نزدې سملاستو سره ارادةً اوده شي او د يو بيدارونکي هم بندوبست نه کوي په دې صورت کښې يقينا د هغه د طرف نه تفريط بيا موندلې شو هم دغه شان يو سړی ته خپل عادت معلوم دې چه بغير د بل د بيدارولو نه هغه د مونځ په وخت نه شي پاسيدې نو هغه له پکار دی چه د خپل بيداريدو انتظام اوکړي گيني دا به د هغه د طرف نه تفريط وي، ښه ځان پوهه کړئ.

د حديث تشريح او تاويل

﴿ ومن الغد للوقت ﴾ د دې جملې دوه مطلبونه کيدې شي يو هغه کوم چه من حيث الاصول صحيح دې او دويم هغه کوم چه غلط دې صحيح مطلب دا دې چه که يوه ورځ انسان نه په مونځ کښې هيره اوشي يا اوده شي نو چه کوم وخت ورته راياد شي هغه دې فورا اوکړي خو داسې دې نه وي چه صبا د بيا دپاره هم داسې مونځ قضاء کړي بلکه په وراندې ورځ به هغه مونځ لره په وخت باندې کوي، گويا مطلب دا دې چه هره ورځ مونځ قضاء کول نه دي پکار که يوه ورځ اتفاقي قضاء شو نو هيڅ خبره نه ده، او بل مطلب کوم چه غلط دې هغه دا دې چه نن کوم مونځ د قضاء کيدو د وجې نه بې وخته کړې شوې دې په صبا له دا هم په دغه وخت کښې اوکړي، ددې مطلب تائيد د وړاندې روايت نه کيږي چه د هغې الفاظ داسې دی ﴿ فليقض معها مثلها ﴾ خو دا روايت ثانيه وهم دې ددې په سند کښې يو راوی دې خالد بن سمير د هغه نه دا وهم صادر شوې دې هم په دې وجه باندې امام بخاری باب ترلې دې باب من نسی صلاة فليصل اذا ذکر ولا يعيد الا تلک الصلاة... امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې تصريح فرمائيلې ده چه د مونځ اعاده به نه شي کولې، د بخاری شارحين ليکی چه د امام بخاری رحمه الله غرض د ابوداود ددې روايت د رد طرف ته اشاره ده چه په هغې کښې د اعاده صلاة امر دې بلکه د نسائی په يو حديث کښې د عمران بن حصين په روايت دا دی چه بعض صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو : الا نقضيها لوقتها من الغد. چه ايا دا مونځ صبا له دوبلره په دې وخت کښې اونکړو، د بخاری شارحين ليکی چه د امام بخاری غرض د ابوداود دې روايت طرف ته اشاره ده چه په هغې کښې د مونځ د اعادې امر دې بلکه د نسائی په يو حديث کښې د عمران بن حصين په روايت باندې دا دی چه بعض صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو ﴿ الا نقضيها لوقتها من الغد ﴾ چه ايا دا مونځ دوباره صبا هم په دې وخت کښې اونکړو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ لا، ينهاکم الله عن الربا ويأخذ منکم ﴾ نه؛ الله پاک دې د سود نه خو بندگان منع کوي او ستاسو نه دې سود اخلی، هم دغه شان د ابوداود په روايت کښې وړاندې راځی ﴿ فليصلها اذا ذکرها لا کفارة لها الا ذلک ﴾ د دې ټولو نه دا خبره معلومه شوه چه اول مطلب نې صحيح دې، امام خطابی رحمه الله ددې جملې نه پريشانه کيدو سره دا

فرمائیلي وو چه کیدي شی د اعادې حکم د استحباب په طور وی خو دا هم صحیح نه ده اول خو په دې وجه چه نور روایات ددې خلاف دي، دویم په دې وجه چه په اهل علم کښې څوک هم د اعادې د استحباب قائل نه دی.

[۴۳۸]()حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ شَيْبَانَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ سُمَيْرٍ، قَالَ: قَدِمَ عَلَيْنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَبَاحٍ الْأَنْصَارِيُّ مِنَ الْمَدِينَةِ وَكَانَتِ الْأَنْصَارُ تُفَقِّهُهُ، فَحَدَّثَنَا، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيُّ فَارِسُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشَ الْأُمَرَاءِ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فَلَمْ تُوقِظْنَا إِلَّا الشَّمْسُ طَالِعَةً، فَقُمْنَا وَهِلِينَ لِصَلَاتِنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رُوَيْدًا رُوَيْدًا، حَتَّى إِذَا تَعَالَتِ الشَّمْسُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَرْكَعُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيَرْكَعْهُمَا، فَقَامَ مَنْ كَانَ يَرْكَعُهُمَا وَمَنْ لَمْ يَكُنْ يَرْكَعُهُمَا فَرَكَعَهُمَا، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنَادَى بِالصَّلَاةِ فَنُودِيَ بِهَا، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِنَا، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: أَلَا إِنَّا نَحْمَدُ اللَّهَ أَنَّا لَمْ نَكُنْ فِي شَيْءٍ مِنْ أُمُورِ الدُّنْيَا يَشْغَلُنَا عَنْ صَلَاتِنَا، وَلَكِنَّ أَرْوَاحَنَا كَانَتْ بِيَدِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَأَرْسَلَهَا أَنَّى شَاءَ فَمَنْ أَدْرَكَ مِنْكُمْ صَلَاةَ الْغَدَاةِ مِنْ غَدٍ صَالِحًا فَلْيَقْضِ مَعَهَا مِثْلَهَا.

ترجمه: د خالد بن سمیر نه روایت دې هغه وئیلی دي: راغې مونږ ته عبدالله بن رباح الانصاری د مدینې نه چې نسبت د هغه به ئې کولو فقیه ته، نو هغه حدیث بیان کړو مونږ ته ویې وئیل: حدیث بیان کړې دې ماته ابو قتادة الانصاری شهسوار د رسول الله ﷺ، هغه وایې: ولیږلو رسول الله ﷺ لښکر د مسلمانانو (بیا ئې دغه قصه بیان کړه) هغه وایې مونږ راویښ نه کړو مګر نمر چې ختلی وو، مونږ پاڅیدلو ویریدونکی د وجې د مانځه زمونږ نه، نو ووئیل نبی ﷺ: صبر وکړئ صبر وکړئ. تردې چې نمر اوچت شو رسول الله ﷺ ووئیل څوک چې د تاسو نه دوه رکعاته د صبا کوې نو ودې کړې. نو پاڅیدل هغه څوک چې هغه ئې کول او هغه څوک چې نه وو چې دایې کړی وی نو ویې کړل، بیا امر وکړو رسول الله ﷺ چې اذان وکړی شی نو اذان وشو د هغې دپاره، نو پاڅیدلو رسول الله ﷺ مونځ ئې راکړو مونږ ته، هرکله چې فارغ شو ویې وئیل: خبر شئ یقینًا مونږ د الله شکر ادا کوو چې مونږ نه وو په څه شی کښې د کارونو د دنیا نه چې مونږ ئې مشغوله کړی وو د مونځ زمونږ نه، زمونږ روحونه خو د الله په لاس کښې وُو راویې لیږل کله ئې چې خوښه شوه، چا چې ومونده ستاسو نه مونځ د صبا په خپل وخت کښې نو هغه دې قضائی مونځ راوړی د هغې سره پشان د هغې.

تشریح: **قوله:** ﴿ حدثنا علي بن نصر... بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم جيش الامراء بهذه القصة﴾ ای حدث الراوی بهذه القصة... چه راوی دا پوره ته ذکر شوې قصه بیان کړه.

د جیش الامراء مصداق

ځان پوهه کړئ چه د جیش الامراء اطلاق په غزوه موته باندې کیږی کوم چه یو مشهور جنګ دې، په اصل کښې دا یوه سریه وه چه په هغې کښې رسول الله ﷺ شریک نه وو، رسول الله ﷺ ددې سریه امیر زید بن حارثه رضي الله عنه مقرر کړو ﴿ ان اصيب زيد فجعفر وان أصيب

[۱]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۲۰۸۹) (شاذ)

جعفر وان اصیب جعفر فعبدالله بن رواحة ﴾ که زيد بن حارثه شهيد شو نو بيا به امير جعفر بن ابی طالب وی او که هغه هم شهيد شی نو بيا به امير عبدالله بن رواحه رضوان الله عليهم اجمعين وی، پس هم دغه شان اوشو چه پرله پسې دا درې واړه حضرات شهيدان شو او روستو په مشورې سره صحابه کرامو خالد بن الوليد لره امير جوړ کړو، الغرض جيس الامراء د غزوه موته نوم دې چه په هغې کښې رسول اللهﷺ بالاتفاق نه وو شريک شوې او دلته چه په حديث کښې کومه واقعه بيانيږی هغه د ليلة التعريس واقعه ده چه په هغې کښې رسول اللهﷺ شريک وو نو اوس د بعض شارحينو رائې دا ده چه دا لفظ دلته د راوی وهم دې او بعض ددې توجيه دا کړې ده چه ددې نه مراد غزوه خيبر دې او غزوه خيبر ته جيش الامراء په دې وجه وئيلې شوې دې چه په غزوه خيبر کښې يوه ورځ داسې اوشو چه رسول اللهﷺ د څه عذر د وجې نه په قتال کښې شريک نه شو نو په اوله ورځ د رسول اللهﷺ نيابت ابوبکر صديقؓ کړې وو او جهنډه هم د هغه په لاس کښې وه او د هغه نه روستو عمرؓ او بيا رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه صبا له به زه دا جهنډه هغه سړی ته ورکوم کوم چه د الله او رسولﷺ سره محبت کوی او الله او رسولﷺ د هغه سره محبت کوی، پس رسول اللهﷺ په بله ورځ جهنډه سيدنا علیؓ ته ورکړه، حاصل دا دې چه په دې مناسبت سره غزوه خيبر ته هم جيش الامراء وئيلې شی.

﴿ من کان منکم يرکع رکعتي الفجر فليرکعهما ﴾ چه څوک په تاسو کښې د سحر سنت په سفر کښې کوی نو هغه ته پکار دی چه د سحر سنت اوکړی، د رسول اللهﷺ په دې ارشاد باندې ټول خلق د سنت کولو دپاره اودريدل چا چه به کول هغوی هم او چا چه به نه کول هغوی هم.

[۴۳۹]([1]) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ قَبَضَ أَرْوَاحَكُمْ حَيْثُ شَاءَ، وَرَدَّهَا حَيْثُ شَاءَ، قُمْ فَأَذِّنْ بِالصَّلَاةِ. فَقَامُوا فَتَطَهَّرُوا حَتَّى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ، قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ.

ترجمه: د ابو قتادة نه روايت دې په دې حديث کښې هغه وئيلی دی، هغه وفرمائيل: بيشکه الله قبض کړی دی روحونه ستاسو څنګه ئې چې خوښه وه او راوئې لېږل څنګه ئې چې خوښه وه، پاځيږه اذان وکړه د مانځه دپاره. نو ټول پاځيدل اودسونه ئې وکړل، تردې چې نمر راوچت شو پاځيدلو نبی ﷺ مونځ ئې ورکړو خلکو ته.

[۴۴۰]([2]) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْثَرٌ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ: فَتَوَضَّأَ حِينَ ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ فَصَلَّى بِهِمْ.

ترجمه: عبد الله بن ابی قتادة د خپل پلار نه روايت کوې، هغه د نبی ﷺ نه په معنی د هغې سره، هغه وئيلی دې: اودس ئې وکړو کله چې اوچت شو نمر نو مونځ ئې ورکړو دوی ته.

[1]: صحيح البخاري/مواقيت الصلاة ۳۵ (۵۹۵)، سنن النسائي/الإمامة ۴۷ (۸۴۷)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۹۶) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۹۶) (صحيح)

[٤٤١]([1]) حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ وَهُوَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ الْمُغِيرَةِ عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيطٌ، إِنَّمَا التَّفْرِيطُ فِي الْيَقَظَةِ أَنْ تُؤَخِّرَ صَلَاةً حَتَّى يَدْخُلَ وَقْتُ أُخْرَى".

ترجمه: د ابو قتادة نه روايت دې هغه وايي، ويلى دي رسول الله ﷺ: نشته په خوب كښې كمى بيشكه كمى په ويخوالى كښې دى چې ته وروسته كړې مونځ تردې چې د بل مونځ وخت داخل شي.

[٤٤٢]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا، لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذَلِكَ".

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې، بيشكه نبي ﷺ ويلي دي: چا چې هېر كړو مونځ نو ودې كړي هغه كله چې ورته ياد شي، نشته كفاره هغې لره مگر هم دغه.

[٤٤٣]([3]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي مَسِيرٍ لَهُ فَنَامُوا عَنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ، فَاسْتَيْقَظُوا بِحَرِّ الشَّمْسِ، فَارْتَفَعُوا قَلِيلًا حَتَّى اسْتَقَلَّتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ أَمَرَ مُؤَذِّنًا فَأَذَّنَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ، ثُمَّ أَقَامَ ثُمَّ صَلَّى الْفَجْرَ".

ترجمه: د عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دې، چه رسول الله ﷺ په سفر كښې وو په لاره د تلو د هغه كښې نو دوه شول د مونځ د صبا نه، نو راپاڅېدل په گرمئ د نمر باندې، ددې نه پس هغوى لږ لږ لاړل تردې چې نمر ښه پورته شو، بيا ئې امر وكړو مؤذن ته اذان ئې وركړو نو مونځ ئې وكړو دوه ركعاته مخكې د صبا نه، بيا ئې اقامت وكړو، بيا ئې مونځ د سحر وركړو.

[٤٤٤]([4]) حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَهَذَا لَفْظُ عَبَّاسٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ عَيَّاشِ بْنِ عَبَّاسٍ يَعْنِي الْقِتْبَانِيَّ، أَنَّ كُلَيْبَ بْنَ صُبْحٍ حَدَّثَهُمْ، أَنَّ الزِّبْرِقَانَ حَدَّثَهُ، عَنْ عَمِّهِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَنَامَ عَنِ الصُّبْحِ حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ، فَاسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: تَنَحَّوْا عَنْ هَذَا الْمَكَانِ، قَالَ: ثُمَّ أَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ، ثُمَّ تَوَضَّئُوا وَصَلَّوْا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، ثُمَّ أَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلَّى بِهِمْ صَلَاةَ الصُّبْحِ".

ترجمه: د عمرو بن امية الضمير نه روايت دې هغه وئيلى دي: وو مونږ د رسول الله ﷺ سره په بعضو سفرونو د هغه كښې ؤو نو هغه اوده شو په سحر تردې چې نمر راوختلو، نو رابيدار شو رسول الله ﷺ ويې وئيل: روان شئ ددې ځائې نه. بيا ئې امر وكړو بلال ته اذان

---

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ١٦ (١٧٧)، سنن النسائي/المواقيت ٥٣ (٦١٨)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٨٥) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/المساجد ٥٥ (٦٨٤)، سنن الترمذي/الصلاة ١٧ (١٧٨)، سنن النسائي/المواقيت ٥١ (٦١٤)، سنن ابن ماجه/الصلاة ١٠ (٦٩٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٣٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المواقيت ٣٧ (٥٩٧)، مسند احمد (٣/١٠٠، ٢٤٣، ٢٦٦، ٢٦٩، ٢٨٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٦ (١٢٦٥) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٨١٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التيمم ٦ (٣٤٤)، صحيح مسلم/المساجد ٥٥ (٦٨٢) (كلاهما من غير طريق الحسن)، مسند احمد (٤/٤٣١، ٤٤١، ٤٤٤) (صحيح)

[4]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٧٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٩١، ١٣٩) (صحيح)

ئې وکړو، بيا اودس وکړو خلقو او مونځ ئې وکړو دوه رکعاته د سحر (سنت) بيا ئې امر وکړو بلال ته نو اقامت ئې وکړو د مانځه لپاره نو مونځ ئې ورکړو دوی ته د سحر.

[۴۴۵]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا حَرِيزٌ. ح وحَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ، حَدَّثَنَا مُبَشِّرٌ يَعْنِي الْحَلَبِيَّ، حَدَّثَنَا حَرِيزٌ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ ذِي مِخْبَرٍ الْحَبَشِيِّ وَكَانَ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَتَوَضَّأَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُضُوءًا لَمْ يَلْثَ مِنْهُ التُّرَابُ، ثُمَّ أَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ، ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ غَيْرَ عَجِلٍ، ثُمَّ قَالَ لِبِلَالٍ: أَقِمِ الصَّلَاةَ. ثُمَّ صَلَّى الْفَرْضَ وَهُوَ غَيْرُ عَجِلٍ، قَالَ: عَنْ حَجَّاجٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ صُلَيْحٍ، حَدَّثَنِي ذُو مِخْبَرٍ رَجُلٌ مِنَ الْحَبَشَةِ، وَقَالَ عُبَيْدٌ: يَزِيدُ بْنُ صَالِحٍ.

ترجمه: د ذی مخبر الحبشي نه روايت دې، او وو چې د نبی ﷺ خدمت ئې کولو، په دې روايت کښې، هغه وايي: اودس وکړو يعنی نبی ﷺ چې خلط شوې نه وې د هغې سره خاوره، بيا ئې امر وکړو بلال ته نو اذان ئې وکړو، بيا پاڅيدلو نبی ﷺ نو ويې کړل دوه رکعاته بغير د توندئ نه، بيا ئې وويل بلال ته: اقامت وکړه ذ مونځ دپاره، بيا ئې وکړل فرض او هغه په تلوار نه وو. وئيلی دی هغه د حجاج نه او هغه د يزيد بن صُليح نه، چه حديث بيان کړې دې ماته ذو مخبر چې يو سړی دی د حبشې، او وئيلی دی عبيد: چه يزيد بن صالح دې.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا ابراهيم بن الحسن... فتوضاء يعنى النبى صلى الله عليه وسلم وضوءً لم يلث منه التراب ﴾ يعنی رسول الله ﷺ داسې مختصر اودس اوفرمائيلو چه په هغې کښې اوبه ډيرې کمې استعمال کړې شوې په داسې طريقه چه په کوم ځائې باندې کيناستلو سره ئې اودس کړې وو د هغه ځائې خاوره هم په ښه طريقه لونده نه شوه، دا ماخوذ دې د ﴿ لثى يلثى ﴾ په مثل د ﴿ خشى يخشى ﴾ نه چه د هغې معنی لونديدل دی، دا لفظ داسې هم لوستلې شوې دې، د ﴿ لم يلت ﴾ د ثاء په ځائې تاء سره چه د هغې معنی ده ﴿ لم يختلط ﴾ دا ماخوذ دې د ﴿لت السويق بالماء ﴾ نه يعنی ستوان په اوبو کښې ګډول په دې صورت به ترجمه دا وی، داسې اودس چه په هغې سره خاورې د اوبو سره ګډې نه شوې يعنی هغه ځائې خته نه شو، وړاندې په روايت کښې د اذان او اقامت دواړو ذکر دې، دغه شان دا چه رسول الله ﷺ د سحرسنت ډير په اطمينان سره اوکړل. غير عجل.

(يزيد بن صالح) ددې حديث په سند کښې يو راوی راغلې دې يزيد بن صالح، په دې نوم کښې اختلاف دې بعض ورته ابن صالح وائی او بعض يزيد بن صلح او بعض يزيد صليح او بعض يزيد بن صبيح او بعض يزيد بن صبح، په بذل کښې ليکلې دی چه امام بخاری رحمه الله فرمائی چه صحيح په دې کښې ابن صليح دې، هم دغه شان ليکلې دی چه دا راوی مجهول دې.

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۳۵۴۸)، وقد أخرجه: (۹۰/٤) (صحيح)

[٤٤٦]()حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ حَرِيزٍ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ ذِي مِخْبَرٍ ابْنِ أَخِي النَّجَاشِيِّ، فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَأَذَّنَ وَهُوَ غَيْرُ مُلِلٍ.

ترجمه: د ذی مخبر نه روایت دې چې دا د نجاشی وراره وو، په دې خبر کښې، هغه وئیلی دي: اذان ئې وکړو او هغه په تلوار باندې نه وو.

[٤٤٧]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ، سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي عَلْقَمَةَ، سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، قَالَ: أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يَكْلَؤُنَا"، فَقَالَ بِلَالٌ: أَنَا، فَنَامُوا حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ، فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "افْعَلُوا كَمَا كُنْتُمْ تَفْعَلُونَ"، قَالَ: فَفَعَلْنَا، قَالَ: "فَكَذَلِكَ فَافْعَلُوا لِمَنْ نَامَ أَوْ نَسِيَ".

ترجمه: د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دي: مونږ راغلو رسول الله ﷺ سره په زمانه د حدیبیه کښې، نو وویل رسول الله ﷺ: څوک به څوکیداري اوکړی زمونږ. وویل بلال: زه، اوده شول دوی تردې چې نمر راوختلو رابیدار شو نبی ﷺ، هغه وویل: وکړئ لکه څرنګه چې به تاسو کول. هغه وايي: یعنی (د معمول مطابق خپل مونځ اوکړی) نو مونږ وکړل، هغه وفرمائیل: پس همداسې کوئ د هغه چا لپاره چې (په تاسو کښې څوک) اوده شي او یا ترېنه هېر شي.

تشریح: قوله:﴿ حدثنا محمد بن المثنی... من یکلونا فقال بلال : انا ﴾ دا مخکښې هم ذکر شوې دی چه رسول الله ﷺ په لیلة التعریس کښې فرمائیلې وو چه څوک به زمونږ نګرانی کوی نو په دې باندې سیدنا بلال رضي الله عنه اوفرمائیل ﴿ انا ﴾ د بعض مشائخو نه مونږ په دې کښې د عبرت یوه خبره اوریدلې ده هغه دا چه بلال رضي الله عنه په دې موقع باندې ﴿ انا ﴾ وئیلو سره ذمه داری قبوله کړه او ﴿ ان شاء الله ﴾ وغیره ئې هم او نه وئیل، پس بیا هم هغه شان اوشوه چه څه کیدل وو، هم دغه شان واقعه په بخاری کښې د سیدنا سلیمان عليه السلام نه هم نقل ده چه هغه یو ځل اوفرمائیل چه نن شپه به زه خپلو ټولو بیبیانو سره صحبت کوم او بیا به د دې صحبت نه د هرې یوې نه یو یو مجاهد پیدا کیږی، په دې موقع باندې هم هغه نه ان شاء الله هیر شو سره د فرشتې د توجه پیدا کولو، په روایت کښې راځی چه د دې شپې د صحبت نه یو ماشوم هم پیدا نه شو صرف د یوې نه پیدا شو هغه هم ناقص وو، د حضرت ګنګوهی په تقریر کښې دی چه هغه یو ماشوم هم کیدې شی چه په دې وجه باندې پیدا شوې وی چه د ان شاء الله وئیلو اراده به ئې کړې وی ګینې دا به هم نه وې، والله تعالی اعلم.

دا باب الحمد لله پوره شو کوم چه کافی اوږد وو چه په هغې کښې مصنف د ډیرو صحابه کرامو نه ډیر روایات په لیلة التعریس کښې ذکر فرمائیلې وو غالبا د مصنف رجحان په لیلة التعریس کښې د تعدد طرف ته دې، هم دغه شان د مصنف د دې واقعې سره اهتمام او اعتناء معلومیږی ګینې د مصنف عادت د تکثیر درو ایاتو نه دې.

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٥٤٨) (شاذ)

[٢]: سنن النسائي/المواقيت ٥٤ (٦٢٥)، (تحفة الأشراف: ٩٣٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٨٦، ٣٩١، ٤٦٤) (صحيح)

واقعة ليلة التعريس او تعليم فعلى

دلته يو څيز قابل تنبيه دې کوم چه زمونږ حضرت شيخ هم په اهتمام سره بيان فرمائيلې دې هغه دا چه د رسول الله ﷺ بعثت د تعليم قولي او تعليم فعلي يعني عمل مشق (نمونه پيش کولو) دواړو دپاره وو، دا د مونځ د قضاء کيدو واقعه تکويني طور سره په دې وجه راپيښه شوه چه د قضاء مونځ کولو طريقه هم د رسول الله ﷺ په ذريعه عملي طور په مشاهده کښې راشي، پس ددې نه معلومه شوه چه د اداء په شان د قضاء مونځ دپاره هم جماعت مشروع دې هم دغه شان د سحر د سنتو قضاء.... او د قضاء مونځ دپاره د اذان او اقامت مسئله وغيره، رسول الله ﷺ خپله فرمائي ﴿ انى لا انسى ولكن انسى لاسن ﴾ (موطا) چه زه هيروم نه بلکه زما نه هيرولې شي ددې دپاره چه امت ته د نسيان د احکاماتو علم اوشي، پس سهو في الصلاة رسول الله ﷺ ته څو کرته پيښه شوې ده، هم دغه شان دا واقعه د ليلة التعريس هم د اکثرو په نزد دوه درې کرته پيښه شوې ده ګينې د رسول الله ﷺ شان خو ډير اعلى او ارفع دې، د هغه د غلامانو د غلامانو حال دا منقول دې چه په هغوی کښې بعض د څلويښتو کالو پورې د ماسخوتن په اودس د سحر مونځ ادا کړې دې لکه چه د امام صاحب متعلق مشهوره ده او د بعض حضراتو په باره کښې د پنځوس کالو پورې د ماسخوتن په اودس باندې د سحر مونځ کړې دې په دې تعليم فعلي کښې چه کوم کارونه د منصب نبوت خلاف نه وو هغه خپله رسول الله ﷺ ته راپيښ شو مثلا مونځ قضاء کيدل، په مونځ کښې سهو راپيښيدل او د کور په حالاتو کښې د ازواج مطهراتو سره د بعض ناخوښه امورو پيښيدل لکه ترک کلام او هم دغه شان د طلاق واقع کيدل وغيره وغيره او کوم امور چه د منصب نبوت خلاف وو د رسول الله ﷺ نه د هغې صادر کيدل د نبوت د شان خلاف وه نو په داسې امورو کښې د تعليم د تکميل دپاره الله پاک د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو انتخاب اوفرمائيلو، صحابه کرامو په خوشحالئ باندې خپل ځان ددې خدمت دپاره پيش کړو، اګر که په دې کښې صورة د هغوی ذلت ولې نه وی، پس د بعض صحابه کرامو سره د زنا او حد زنا وغيره واقعات راپيښ شو او په دې طريقه باندې ددې مسائلو تکميل اوشو دا حضرات په دې واقعاتو کښې هم کامياب دی.

اجد الملامة فى هواک لذيذة حبا لذكرک فليلمنى اللوم[1]

بَابٌ فِي بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ

باب دې په بيان د جوړولو د جماتونو کښې

په بعض نسخو کښې ددې په ځائې "تفريع ابواب المساجد" د تفريع لفظ مصنف اکثر استعمالوی د تفريع معنی ده تجزيه او تفصيل کوم چه د فرع نه مشتق دې په معنی د څانګې، د ابواب المواقيت نه روستو اوس ددې ځائې نه منصف ابواب المساجد شروع کوی، د ابواب د ماقبل سره مناسبت ظاهر دې هغه دا چه اوس پورې بيان کيدو د مونځ د

[1]) شاعر خپل معشوق ته خطاب کولو سره وائی چه ما خلق ستا په محبت باندې ملامته کوی ماته په دې ملامته کښې خوند ملاويږی ځکه چه ملامته کونکی په وخت د ملامتې د محبوب نوم بار بار اخلی)

وختونو ددې ځائې نه د مونځ ځايونه بيانوی د مسجد لغوی معنی موضع السجود دی او په عرف کښې د هغه ځائې نوم دې کوم چه د عبادت دپاره مخصوص وی.

[۴۴۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي فَزَارَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أُمِرْتُ بِتَشْيِيدِ الْمَسَاجِدِ"، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَتُزَخْرِفُنَّهَا كَمَا زَخْرَفَتِ الْيَهُودُ، وَالنَّصَارَى.

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روايت دې، هغه وايي، وئيلی دی رسول الله ﷺ: ماته حکم نه دی شوی داوچتولو د جماتونو باندې. وئيلی دی ابن عباس: تاسو به ئې ښائسته کوئ لکه څنګه چې ئې ښائسته کوی يهود او نصاری.

تشريح: **قوله**:﴿ حدثنا محمد بن الصباح.... عن يزيد بن الاصم ﴾ دا د ام المومنين سيده ميمونه ﷺ خورئې دې، دې روايت کوی د ابن عباس ﷺ نه، اتفاق ته ګوره چه هغه هم د ميمونې ﷺ خورئې دې ميمونه ددې دواړو (د مور د طرف نه) ترور ده ﴿ ما امرت بتشييد المساجد ﴾ د تشيد دوه معنی دی رفع البناء وتطويله يعنی د کور ابادی اوچتول او دويمه معنی ددې تجصيص البناء ده، شيد په معنی د جص (چونه) نه اخستلې شوې دې يعنی ابادی په چونې سره پخول، د الله پاک قول ﴿ وقصر مشيد ﴾ په تفسير کښې هم دا دوه قولونه دی، ابن رسلان فرمائی چه مشهور په دې حديث کښې اوله معنی ده کما قال النووی وغيره، رسول الله ﷺ فرمائی چه ماته د الله پاک د طرف نه ددې خبرې حکم نه دې کړې شوې چه زه د مسجد ابادی او چته جوړه کړم څکه چه دا اسراف دې خو واضحه دې وی چه عدم امر عدم جواز لره مستلزم نه دې، لهذا په نيک نيتئ سره مثلا د مسجد د تعظيم په نيت سره که اوچت کړې شی نو يقينا جائز به وی، قال ابن عباس لتزخرفنها كما زخرفت اليهود والنصارى... د دې جملې قائل ابن عباس ﷺ دې په دې وجه دا جمله موقوف شوه خو دا داسې موقوف ده چه حکماً مرفوع ده څکه چه دا مضمون د اخبار الغيب د قبيل نه دې کوم چه منصب دې د صاحب رسالت، زخرفه ماخوذ دې د زخرف نه.د زخرف اصل معنی د ذَهَبْ ده لهذا د زخرفه معنی شوه د سرو زرو اوبه ورکول، روستو ددې لفظ استعمال مطلق د تزيين په معنی کښې شروع شو يعنی څنګه چه يهودو او نصاری خپلې عبادت خانې دولی کړې وې هم دغه شان به دا امت هم خپل مسجدونه دولی کوی، علماء کرامو ليکلې دی چه اول من زخرف المساجد ولید بن عبدالملک بن مروان. خو د هغه زمانې صحابه کرامو په دې باندې سکوت کړې دې لاجل خوف الفتنة. -

د تزيين مساجد حکم

شراح حديث حافظ ابن حجر ﷫ وغيره ليکلې دی چه د جمهورو په نزد تزيين المساجد بدعت او مکروه دې او د احنافو په نزد په دې کښې رخصت دې هغوی دې ته جائز وئيلې دی چه هر کله تعظما للمسجد وی نه د فخر او مباهاة په طور، د احنافو مسلک په در

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٦٥٥٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه المساجد والجماعات ٢ (٧٤٠) (صحيح)

مختار کښې دا ليکلي دي چه په تنقيش مساجد کښې هيڅ باک نشته، سوا د مسجد د محراب نه چه د هغې تنقيش مکروه دې، ځکه چه ددې د مخامخ کيدو د وجې نه د مونځ په خشوع کښې فرق راځي، هم دغه شان هغه وړاندې ليکي اگر که نفس تنقيش جائز دې خو تکلف بدقائق النقوش مکروه دي خصوصا په جدار قبله کښې چونکه يو قول دا دې چه د مسجد په چهت کښې جائز دې علامه شامي ليکي چه تنقيش د احنافو په نزد صرف جائز او د لاباس به په درجه کښې دې نه پرې ثواب شته او نه مستحب دې په دې وجه تصدق بالمال اولی دې د مسجد په تزيين کښې د مال خرچ کولو نه، هم دغه شان جواز هم په هغه صورت کښې دې چه کله انسان خپل ذاتي مال خرچ کړي د وقف مال نه داسې کول حرام دی، البته احکام مسجد بالجص (پوخ جوړول) بيشکه جائز دی، ابن المنير چه مشهور شارح حديث دې د هغه رائې هم د جواز تنقيش ده هغه فرمائي چونکه د خلقو عادت چه کله د خپلو کورونو د ډولي کولو وی نو مناسب ده چه مسجدونه هم ډولي اوساتلې شي هغې لره د بې حرمتئ نه د بچ کولو دپاره، پس سيدنا عثمانؓ د خپل خلافت په زمانه کښې مسجد نبوی د نوی سر نه تعمير کړې وو لکه چه وړاندې به په کتاب کښې راشي او په صحيحين کښې هم موجود دی هغه دغه عمارت د چونې په ذريعه پوخ جوړ کړې وو او د رسول اللهﷺ او شيخين په زمانه کښې د هغې ابادی د کچه ښختو او د کجهورو د پانړو وه، صحابه کرامو چه کله د هغه په دې تغيراتو باندې اعتراض اوکړو نو هغه ورته په جواب کښې مرفوع حديث پيش کړو: من بنى لله مسجدا بنى الله له مثله بيتا فى الجنة ﴾ خو عثمانؓ چه کومه اضافه کړې وه نو هغه د احکام بناء د قبيل نه وه تزيين پکښې مقصود بالذات نه وو، شارحينو ليکلي دی چه هغه نقشين کانړی چه د هغې ستنې جوړې کړې شوې وې هغه هغوی ته هم هغه شان جوړې شوې د بعض ولاياتو نه ملاؤ شوې وې خپله ئې هغوی تنقيش نه وو کړې.

فائده: ددې حديث چه کومه حصه په ابن عباسؓ باندې موقوف ده هغه امام بخاریؒ هم تعليقا ذکر کړې ده اگر چه اصل حديث هغه نه دې اخستلې چه د هغې وجه حافظ ابن حجرؒ دا ليکلي ده چه ددې حديث په سند کښې اضطراب دې بعض راويانو دا موصولا او بعض مرسلا ذکر کړې دې، هم دغه شان ځان پوهه کړه چه ﴿ لتزخرفنها ﴾ د لام په فتحې سره دې او دا لام لام القسم دې گويا ابن عباس قسم خوری چه تاسو به ضرور داسې کوئ په دې کښې د علامه طيبي شارح مشکاة وهم پيدا شوې دې چه هغه دا لام لام جاره گڼرلې دې او دا جمله ئې د ماقبل سره متعلق منلې ده او دا قول هغه يو حديث گڼرلې دې او د حديث مطلب ئې دا بيان کړو چه هغه فرمائي چه ماته د مسجدونو د اوچتولو حکم نه دې کړې شوې چه تاسو ددې په ذريعه هغه ډولي او مزين کړئ.

[۴۴۹] ()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، وَقَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ".

[1]: سنن النسائي/المساجد ۲ (۶۹۰)، سنن ابن ماجه/المساجد ۲ (۷۳۹)، (تحفة الأشراف: ۹۵۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۳۴/۳، ۱۷۵، ۲۳۰) (صحيح)

ترجمه: د انس ﷛ نه روايت دې، بيشکه نبي ﷺ ووېل. قيامت به نه قائمېږي تردې چې فخر وکړي خلق په جماتونو کښې.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا محمد بن عبدالله.... وقتادة عن انس ﴾ د قتاده عطف په ابو قلابه باندې دې يعني ايوب دا حديث د ابو قلابه او قتاده دواړو نه روايت کوي او بيا دوی دواړه روايت کوي د انس ﷛ نه ﴿ لا تقوم الساعة حتى يتباهى الناس في المساجد ﴾ يعني د قيامت نه مخکښې ددې خبرې موجود کيدل ضروري دی چه خلق به په خپلو خپلو مسجدونو فخر کوي چه زمونږ مسجد د فلاني قوم د مسجد نه اوچت او ښه دې، ددې حديث متبادر معنی هم دا ده، ددې يو بل مطلب هم کيدې شي چه خلق به په مسجدونو کښې کيناستلو سره د فخر مجلسونه قائموي حال دا چه مسجدونه ددې دپاره نه دی چه په هغې کښې کيناستلو سره د فخر او رياء خبرې اوکړې شي.

[۴۵۰][1] حَدَّثَنَا رَجَاءُ بْنُ الْمُرَجَّى، حَدَّثَنَا أَبُو هَمَّامٍ الدَّلَّالُ مُحَمَّدُ بْنُ مُحَبَّبٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيَاضٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُ أَنْ يَجْعَلَ مَسْجِدَ الطَّائِفِ حَيْثُ كَانَ طَوَاغِيتُهُمْ".

ترجمه: د عثمان بن ابي العاص نه روايت دې، چه نبي ﷺ امر وکړو هغه ته، چې جوړ کړی مسجد د طائف چرته چې به مشرکانو خپل بتان اېښودل.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا رجاء بن المرجي.... ان يجعل مسجد الطائف حيث كان طواغيتهم ﴾ سيدنا عثمان بن ابي العاص ﷛ کوم چه د رسول الله ﷺ د طرف نه د طائف عامل او حاکم وو هغه ته رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه هغه ځائې کښې مسجد جوړ کړی چرته چه مخکښې د کفارو بتان پراته وو يعنی بت خانه ختمه کړی او د هغې په ځائې باندې مسجد تعمير کړی چه په کوم ځائې کښې به د غير الله بندګي کولې شوه هلته اوس د معبود حقيقي بندګي اوکړې شي او د کفر د اثارو خاتمه او د هغوی سپکاوې اوشي، د طاغوت اطلاق په شيطان او بت دواړو باندې کيږي.

[۴۵۱][2] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، وَمُجَاهِدُ بْنُ مُوسَى، وَهُوَ أَتَمُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا نَافِعٌ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ أَخْبَرَهُ "أَنَّ الْمَسْجِدَ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَبْنِيًّا بِاللَّبِنِ وَالْجَرِيدِ، قَالَ مُجَاهِدٌ: وَعُمُدُهُ مِنْ خَشَبِ النَّخْلِ، فَلَمْ يَزِدْ فِيهِ أَبُو بَكْرٍ شَيْئًا، وَزَادَ فِيهِ عُمَرُ: وَبَنَاهُ عَلَى بِنَائِهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّبِنِ وَالْجَرِيدِ وَأَعَادَ عُمُدَهُ، قَالَ مُجَاهِدٌ: عُمُدَهُ خَشَبًا، وَغَيَّرَهُ عُثْمَانُ فَزَادَ فِيهِ زِيَادَةً كَثِيرَةً: وَبَنَى جِدَارَهُ بِالْحِجَارَةِ الْمَنْقُوشَةِ وَالْقَصَّةِ وَجَعَلَ عُمُدَهُ مِنْ حِجَارَةٍ مَنْقُوشَةٍ وَسَقَفَهُ بِالسَّاجِ، قَالَ مُجَاهِدٌ: وَسَقَفَهُ السَّاجَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْقَصَّةُ الْجِصُّ.

ترجمه: عبد الله بن عمر خبر ورکړې دی نافع ته، چې بيشکه جماتونه په زمانه د رسول الله ﷺ کښې وو جوړ شوی او په خختو او پتو د قجورو نه. وئيلی دی مجاهد وائي: او ستنې

---

[1]: سنن ابن ماجه /المساجد والجماعات ۳ (۷۴۳)، (تحفة الأشراف: ۹۷۶۹) (ضعيف)

[2]: صحيح البخاري /الصلاة ۶۲ (۴۴۶)، (تحفة الأشراف: ۷۶۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/ ۱۳۰) (صحيح)

د هغې د لرګو د قجورو نه وې.-زيادت نه دی ابو بکر ﷺ په دې هيڅ شی، او زيادت کړی دی په هغې کښې عمر او جوړې کړو هغه شان چې جوړ وو په زمانه د رسول الله ﷺ کښې په خښتو او د قجورو د ښاخونونه، او دهغې ستنې ئې هم د نوی لرګو نه جوړې کړې،وئيلی دی مجاهد: عُمُدَهُ خَشَبًا (ستنې د هغې لرګی وو). او تغيير ورکړو ورته عثمان زيادت ئې وکړو په هغې ډير زيات، او جوړ ئې کړل ديوال نه د هغې په کانړو سره چې نقشدار وو او د چونې نه، او جوړې ئې کړی ستنې د هغې د کانړو نه چې نقشدار دی او چت د هغې په ساج لرګې. وئيلی دی مجاهد:او چت دهغه ساج وو. وئيلی دی ابوداود: قَصَّةُ الْجِصُّ (قصة چونې ته وائي).

تشريح: قوله:(حدثنا محمد بن يحيى بن فارس.... ان المسجد كان على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم مبنيا باللبن والجريد...) يعنی مسجد نبوی د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د کچه ښختو نه جوړ کړې شوې وو او د هغې چهت د کهجورو د څانګو نه، لکه څنګه چه زمونږ په علاقو کښې دالانونه او چوپالونه جوړولې شی.او د هغې ستنې د کجهورو تنې وې؟ لفظ (عمد) بفتحين او (عمد) بضمتين دواړه قسم نقل دې چه جمع ده (عمود) ده په معنی د ستن، (فلم يزد فيه ابوبكر شيئا) يعنی د صديق اکبر ﷺ په زمانه کښې چه کله د مسجد ابادی زړه شوه نو هغه بغير د څه ترميم او زيادت نه د مخکښې په شان سامان سره ددې دوباره تعمير اوکړو او سيدنا عمر ﷺ چه په خپله زمانه کښې جوړ کړو نو هغه ئې هم په هغه شان سامان سره، خو هغه د مسجد په رقبه کښې تعمير او توسيع هم اوفرمائيله.

قوله: وقال مجاهد: عمده خشبا : د مصنف په سند کښې دوه استاذان دی محمد بن يحيى او مجاهد، د دواړو په الفاظو کښې فرق بيانوی، فرق يا خو دا دې چه يو استاذ ئې لفظ (عمد) لره بضمتين ذکر کړې دې او دويم په بفتحتين، او کيدې شی مراد دا وی چه يو استاذ لفظ (خشبا) وئيلې وی او دويم نه، حضرت سهارنپوری ﷫ په بذل کښې ليکلې دی چه سيدنا عمر ﷺ په مسجد کښې اضافه د قبلې طرف ته کړې وه او په منهل کښې ليکلې دی چه هغه زيادت د مسجد په طول او عرض کښې کړې وو. او بيا صاحب منهل په دې باندې تفصيلی کلام کړې دې (وغيره عثمان) سيدنا عثمان ﷺ نه صرف دا چه په مسجد کښې توسيع اوکړه. بلکه مسجد ئې پوخ تعمير کړو او په پخو ښختو سره او د هغې چهت ئې هم بدل کړو د کهجورو د څانګو په ځائې ئې د هغې تختې د ساګون د لرګی نه جوړې کړې، ساګون يو مشهوره اونه ده کومه چه په هندوستان کښې کيږی ډير اوږد او پير وی چه د هغې پاڼې هم ډير لوئې لوئې وی

(وسقفه با الساج) دا لفظ مجرور او مزيد دواړه کيدې شی (سقفه، سقفه) يو استاذ (بالساج) وئيلې دې په باء جاره سره او دويم بغير د حرف جار نه، د عثمان ﷺ ددې ابادئ ذکر د باب په اولنی حديث کښې تير شوې دې.

[٤٥٢]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ مَسْجِدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ سَوَارِيهِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جُذُوعِ النَّخْلِ، أَعْلَاهُ مُظَلَّلٌ بِجَرِيدِ النَّخْلِ، ثُمَّ إِنَّهَا نَخِرَتْ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ فَبَنَاهَا بِجُذُوعِ النَّخْلِ وَبِجَرِيدِ النَّخْلِ، ثُمَّ إِنَّهَا نَخِرَتْ فِي خِلَافَةِ عُثْمَانَ فَبَنَاهَا بِالْآجُرِّ، فَلَمْ تَزَلْ ثَابِتَةً حَتَّى الْآنَ".

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روایت دې، بیشکه مسجد د نبی ﷺ وې ستې د هغې په زمانه د رسول الله ﷺ کښې د تنو د قجورو نه وې، د بره نه پټ شوې وو په پتو د قجورو باندې، بیا دا زوړ شو په خلافت د ابوبکر کښې نو هغه ئې جوړ کړو په تنو د قجورو باندې او په پتو د قجورو، بیا دا زوړ شو په خلافت د عثمان کښې نو جوړه ئې کړه په خښتو نو همیشه پاتې ده تر اوسه په همدغه حالت(یعنی دحدیث تر وخته پورې).

تشریح: قوله:(حدثنا محمد بن حاتم.... ثم انها نخرت في خلافة عثمان فبناها بالاجر) (اجر) پخه ښخته د (لبن) په مقابله کښې، ددې روایت نه معلومیږی چه د مسجد نبوی ستنو لره سیدنا عثمان ﷺ د پخو ښختو نه جوړ کړې وو، او ددې نه مخکښې تیر شو، (بالحجارة المنقوشة) خو دا روایت د اولنی حدیث په مقابله کښې ضعیف دې ددې په سند کښې عطیه بن سعد العوفی دې کوم چه ضعیف دې، او یا دې دا اووئیلې شی چه بعض ستنې د ښختو او بعض د حجاره منقوشه نه جوړ کړې شوې وو.

[٤٥٣]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ فِي عُلْوِ الْمَدِينَةِ فِي حَيٍّ يُقَالُ لَهُمْ: بَنُو عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، فَأَقَامَ فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى بَنِي النَّجَّارِ فَجَاءُوا مُتَقَلِّدِينَ سُيُوفَهُمْ، فَقَالَ أَنَسٌ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَأَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ، وَمَلَأُ بَنِي النَّجَّارِ حَوْلَهُ حَتَّى أَلْقَى بِفِنَاءِ أَبِي أَيُّوبَ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، وَإِنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَأَرْسَلَ إِلَى بَنِي النَّجَّارِ، فَقَالَ: يَا بَنِي النَّجَّارِ، ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ هَذَا، فَقَالُوا: وَاللَّهِ لَا نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلَّا إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، قَالَ أَنَسٌ: وَكَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ لَكُمْ كَانَتْ فِيهِ قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ وَكَانَتْ فِيهِ خِرَبٌ وَكَانَ فِيهِ نَخْلٌ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ فَنُبِشَتْ، وَبِالْخِرَبِ فَسُوِّيَتْ، وَبِالنَّخْلِ فَقُطِعَ، فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةَ الْمَسْجِدِ وَجَعَلُوا عِضَادَتَيْهِ حِجَارَةً، وَجَعَلُوا يَنْقُلُونَ الصَّخْرَ وَهُمْ يَرْتَجِزُونَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُمْ وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَهْ، فَانْصُرِ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ".

ترجمه: د انس بن مالک ﷺ نه روایت دې هغه وئیلی دي: راغې رسول الله ﷺ مدینې ته نو پراوې واچولو په اوچت خائې د مدینه کښې په یو کلی کښې چې ورته ویلی شی بنو عمرو بن عوف، نو مقیم شو هلته کښې څوارلس شپې، بیا ئې استادی ولیږلو بنی النجار ته نو راغلل چې خپلې تورې ئې راویستلې وې، نو وایې انس: گویا کښې زه گورم رسول الله ﷺ

¹): تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ٧٣٣٥) (ضعيف)

²): صحيح البخاري/الصلاة ٤٨ (٤٢٨)، وفضائل المدينة ١ (١٨٦٨)، وفضائل الأنصار ٤٦ (٣٩٠٦)، صحيح مسلم/المساجد ١ (٥٢٤)، سنن النسائي/المساجد ١٢ (٧٠٣)، سنن ابن ماجه/المساجد ٣ (٧٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٦٩١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٤٢ (٣٥٠)، مسند احمد (١١٨/٣، ١٢٣، ٢١٢، ٢٤٤) (صحيح)

ته د هغه په اوښه باندې، او ابوبکر ورپسې وو، او مشران د بني النجار ګير چاپير د هغه نه وو، تردې چې غولې د ابو يوب ته راغی، او وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو په کوم ځائې کښې چې به د مونځ وخت شو، تردې چه مونځ به ئې کولو د چيلو په شپول (بار) کښې، او هغه امر وکړو په جوړولو د جمات، نو ويې لېږلو بني النجار ته ويې وئيل: اې بني النجارا راخرڅ کړئ په ما باندې خپل دا باغ، هغوی وويل: قسم په الله مونږ نه طلب کوو ستانه قيمت ددې مګر دا مونږ پرېږدو د الله دپاره، وئيلی دی انس: او په هغې کښې چه کوم څه وو زه ئې تاسو ته وايم، وو په هغې کښې قبرونه د مشرکانو، او وو په هغې کښې خراب او کنډر ځايونه، او وې په هغې کښې ووني د کجورو، نو امر وکړو رسول الله ﷺ د قبرونو د مشرکانو،نو هغه راويستل شو، او د کنډراتو او ويرانو ځايونو چې هوار کړې شو، او د کجورود وونو چې پرې کړې شوې، په قطار کښې ئې کيخودل لرګې د کجورو قبلې د جمات قبلې طرف ديوال ته، او جوړې ئې کړې دواړه درشلې د هغې دکانړو نه، او شروع شول چې نقل کول ئې کانړې، او هغوی به اشعار وئيل او نبی ﷺ هم د هغوی سره وو، او هغه به وئيل: (اللَّهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الْآخِرَهْ، فَانْصُرِ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ) ای الله نشته دی خير مګر خير د اخرت مدد وکړی د انصارو او د مهاجرينو.

شرح حديث

قوله:حدثنا مسدد.... فنزل فی علو المدينة.... په علو کښې د عين ضمه او کسره دواړه جائز دی علوم المدينة ته عاليه هم وئيلې شی چه د هغې جمع عوالی راځی او دا د مدينې منورې هغه حصه ده کومه چه د نجد (لوړې) طرف ته ده او د مدينې هغه حصه کومه چه د تهامه د طرف نه چه کوم طرف ته مکه ده هغې ته سافله وئيلې شی، دلته د علو المدينه نه مراد قباء ده کومه چه د عوالی مدينه نه ده، دا د مدينې منورې نه تقريبا درې ميلو په فاصله باندې يوه ابادی ده چه په هغې کښې د انصارو بعض خاندانونه اباد وو د ټولو نه ممتاز د عمرو بن عوف خاندان وو د رسول الله ﷺ نزول په قباء کښې هم د هغوی په نزد شوې وو په اتم تاريخ يا په دولسم بناء بر اختلاف قولين، رسول الله ﷺ مدينې ته د داخليدو دپاره اوچته لاره اختيار کړه، ددې نه علماء کرامو د رسول الله ﷺ او د هغه د دين د اوچت والی نيک فال نيولې دې چه رسول الله ﷺ او د هغه دين به اوچت وی، پس هم دغه شان اوشوه، فالحمد لله علی ذلک.

(فاقام فيهم اربع عشرة يوما) په قباء کښې د هغه د قيام په موده کښې روايات مختلف دی، د بخاری شريف په يو روايت کښې څوارلس ورځې او په يو کښې څليرشت ورځې ذکر شوې دی او دريم قول صرف د څلور ورځې قيام دې ددې تفصيل به ان شاء الله په باب الجمعة فی القری په بحث کښې راشی.

په روایت کښې اختصار

قوله:(ثم ارسل الی بنی النجار) دلته په روایت کښې اختصار دې چه رسول اللهﷺ څو ورځې په قباء کښې قيام فرمائيلو نه پس د جمعې په ورځ باندې د هغه ځائې نه روان شو د مدينې په لاره کښې د بنو سالم محله راڅې هلته رسيدو سره د جمعې وخت شو په دې وجه رسول اللهﷺ په مسجد د بنو سالم کښې جمعه ادا کړه، دا په اسلام کښې د جمعې د ټولو نه اولنې مونځ وو کوم چه د بنو سالم په مسجد کښې رسول اللهﷺ کړې وو، د مونځ نه فارغ کيدو سره رسول اللهﷺ په اوښه باندې سور شو او صديق اکبر رضی الله عنه ئې په ځان پسې په خپله سورلئ باندې کينولو، د هجرت په وخت باندې رسول اللهﷺ او صديق اکبر په جدا جدا سورلئ باندې وو، غالبا دلته رسول اللهﷺ مصلحتا په خلقو باندې د صديق اکبر اوچت شان ظاهرولو دپاره په خپله سورلئ باندې هغه ځان پسې رديف کړو، ددې ځائې نه په روانيدو باندې رسول اللهﷺ خپل يو قاصد بنو نجار ته کوم چه د رسول اللهﷺ ماماخيل وو (ځکه چه د عبدالمطلب مور سلمى هم د هغوى نه وه) ته اوليږل چه د رسول اللهﷺ اراده هم د هغوى خوا کښې د قيام وه، پس هغوى د رسول اللهﷺ د استقبال دپاره وسله راخستلې حاضر شو او د هغه نه ښې او ګس، او وړاندې روستو روان وو، د هر سړى خواهش او درخواست د رسول اللهﷺ نه دا وو چه د رسول اللهﷺ قيام د هغوى سره وى، رسول اللهﷺ به هغوى ته دعا کوله او فرمائيل به ئې چه دا اوښه د الله پاک د طرف نه مامور ده چه چرته کيناستله هم هلته به زما قيام وى، بالاخر د رسول اللهﷺ اوښه په محله د بنو نجار کښې رسيدو سره خپله په هغه مقام باندې اودريده چرته چه اوس مسجد نبوى دې، د سيرت په کتابونو کښې دى چه رسول اللهﷺ د اوښې نه کوز نه شو لږ ساعت پس ناقه خپله پاسيده او د ابو ايوب انصارى رضی الله عنه په دروازه باندې کومه چه مخامخ وه هلته کيناستله هغه وخت رسول اللهﷺ د اوښې نه کوز شو او ابوايوب انصارى رضی الله عنه د رسول اللهﷺ سامان اوچت کړو او کور ته ئې يوړلو، د رسول اللهﷺ طبعى ميلان هم دا وو چه رسول اللهﷺ په څه طريقه په بنو نجار کښې کوز شى کوم چه د عبدالمطلب ماماخيل يعنى د رسول اللهﷺ د نيکه ماما خيل دى، الله پاک د رسول اللهﷺ دا خواهش داسې معجزانه طور پوره اوفرمائيلو چه پخپله ناقه هم هلته تلو سره ايسار شوه ددې دپاره چه نور حضرات کوم چه د رسول اللهﷺ د قيام خواهش مند وو په هغې کښې دې د چا دا تاثر نه وى چه مونږ لره پريخودلو سره ئې فلانى ته ترجيح ورکړه.

قوله:(وکان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى الخ) د مسجد نبوى د ابادئ نه مخکښې به چه کوم ځائې کښې د مونځ وخت راغلو نو رسول اللهﷺ به په (غير مسجد) کښې کولو، چونکه چرته خو اوشا مسجد موجود نه وو په دې وجه رسول اللهﷺ د مسجد د جوړولو او د هغې دپاره د ځائې د اخستلو اراده اوفرمائيله چه د هغې ذکر وړاندې په روايت کښې راروان دې، پس د رسول اللهﷺ اوښه چه په کوم ځائې کښې ناسته وه هغه د بنو نجار د

دوه يتيمانو(١) (مربد) يعني د كهجورو د اوچولو ځائې وو لكه چه په بعض رواياتو كښې دى او د ابوداود په روايت كښې هغې ته حائط وئيلې شى يعنى باغ ممكنه ده هغه باغ وى او بيا د هغې د ورانيدو نه پس هغه مربد جوړ كړې شوې وى، يا بعض حصه باغ وى او بعض حصه مربد ، غرض دا چه رسول اللهﷺ د هغې د زمكې د اخستلو خبرې اترې اوكړې هغه خلقو عرض اوكړو موږ بغير د عوض نه هغه له وركول غواړو ، خو رسول اللهﷺ ددې دپاره تيار نه شو بلكه رسول اللهﷺ هغه په ثمن باندې واخستلو ، په يو روايت كښې دى چه د ثمن مقدار لس ديناره وركړې شوو ظاهره ده چه د اخستلو معامله به دې يتيمانو سره د هغوى د ولى په واسطې سره شوې وى، وراندې په روايت كښې دى چه په دې زمكه كښې د بعض مشركانو قبرونه ووكوم چه ويستلې شو.

د مشركينو قبرونه ورانول

ددې نه معلومه شوه چه د قبور مشركين نبش جائز دى، امام بخارىﷺ هم په دې وجه باندې په دې حديث باندې ﴿هل ينبش قبور المشركين﴾ باب قائم كړې دې او امام ابوداود هم د كتاب الخراج په بالكل اخر كښې يو باب تړلې دې باب نبش القبور العادية چه په هغې كښې د ابو رغال قبر او د هغه د نبش واقعه ذكر كړې دې، شامى كښې هم ددې مسئلې تصريح ده چه د قبور مشركين نبش بلا كراهت جائز دې، ﴿وكانت فيه حرب﴾ حرب په وزن د ﴿كلم﴾ كوم چه جمع د ﴿حربة﴾ په وزن د ﴿كلمة﴾ دې، په معنى د غار، غرض دا چه د مشركانو قبرونه خو ويستلې شو او كوم چه په هغه زمكه كښې غارونه وغيره وو هغه په خاوره باندې هوار كړې شو او كوم چه هلته د كهجورو اونې وې هغه د مسجد دجوړولو په كار كښې استعمال كړې شو.

قوله:﴿فصفف النخل قبلة المسجد﴾ يعنى په مسجد كښې د قبلې طرف ته د كهجورو تنې د ستنو په طور قائم كړې او د مسجد د دروازې په دواړو طرفونو كښې د درشل په طور كانړى اودرولې شو ﴿وهم يرتجزون﴾ چه كله صحابه كرامو د مسجد د تعمير دپاره كانړى اوچتولو سره راوړل نو په ذوق او شوق كښې ئې دا اشعار وئيل ﴿اللهم لا خير الا خير الاخرة﴾ الخ.رجز د شعر يو قسم دې، او وئيلې شوې دى چه دا باقاعده شعر نه وى بلكه هغه د كلام موزون يو قسم دې لكه چه ترانه وى.

[٤٥١](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ مَوْضِعُ الْمَسْجِدِ حَائِطًا لِبَنِي النَّجَّارِ فِيهِ حَرْثٌ وَنَخْلٌ وَقُبُورُ الْمُشْرِكِينَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ثَامِنُونِي بِهِ، فَقَالُوا: لَا نَبْغِي بِهِ ثَمَنًا، فَقُطِعَ النَّخْلُ وَسُوِّيَ الْحَرْثُ وَنُبِشَ قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، وَقَالَ: فَاغْفِرْ مَكَانَ فَانْصُرْ، قَالَ مُوسَى: وَحَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بِنَحْوِهِ، وَكَانَ عَبْدُ الْوَارِثِ يَقُولُ: خَرِبٌ، وَزَعَمَ عَبْدُ الْوَارِثِ أَنَّهُ

(١) چه د هغوى نومونه د يو روايت مطابق سهل او سهيل وو كوم چه د سعد بن زراره په تربيت كښې وو، هسې ددې دواړو په تعيين كښې د علماء رجال اختلاف دې كوم چه ابن الاثير جزرى وغيره ذكر كړې دې، (هامش بذل)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٦٩١) (صحيح)

أَفَادَ حَمَّادًا هَذَا الْحَدِيثَ.

ترجمه: د انس بن مالک ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو خائې د جمات يو باغ د بني النجار په هغې کښې فصل وو او قجورې وې، او قبرونه د مشرکانو، نو ووېل رسول الله ﷺ دا خرڅ کړئ په ما باندې. هغوی ووېل: مونږ نه غواړو په دې باندې پيسې، قطع ئې کړې اونې، او هوارې کړو فصل، او ويې سپړل قبرونه د مشرکانو، او حديث بيان کړو. او ويې وئيل: (فَاغْفِرْ) په ځائې د (فَانْصُرْ)، وئيلي دی موسی: او بيانې پوره حديث بيان کړې دې مونږ ته عبد الوارث پشان د هغې، او وو عبد الوارث چې وئيل به يې: خَرِث، او ګمان کړې دی عبد الوارث، چې هغه بيان کړې دی دا حديث صرف د حماد نه.

تشريح: قوله:﴿ حدثنا موسى بن اسماعيل... وساق الحديث ﴾ د ﴿ ساق ﴾ ضمير حماد بن سلمه طرف ته راجع دې چه د ابو التياح شاګرد دې، ددې نه په مخکښې سند کښې د هغه شاګرد عبدالوارث وو او دا خبره د ياد ساتلو ده چه کله په سند کښې داسې عبارت راشي نو ضمير به هغه سړی طرف ته راجع وی چه کوم نوې راوی په هغه دويم سند کښې راشي او دلته حماد بن سلمه دې، د حماد په روايت کښې ﴿ فانصر الانصار ﴾ په ځائې ﴿ فاغفر الانصار﴾ دې، هم دغه شان په دې دويم روايت کښې په ځائې د لفظ حرب حرث دې (پټې).

شرح السند

قوله:﴿ وزعم عبدالوارث انه افاد حمادا هذا الحديث ﴾ : دې جملې تشريح دا ده چه په دې دويم سند کښې حماد براه راست روايت کوی د ابو التياح نه او په اول سند کښې د ابو التياح نه روايت کونکې عبد الوارث وو او چه د هغې نه دا خبره ثابتيږی چه عبد الوارث او حماد زما نه حاصل کړې وو لهذا حماد د عبدالوارث شاګرد شو نه ملګرې، خو روستو داسې اوشوه چه حماد ترقی کولو سره حديث د خپل استاد الاستاد يعنی ابو التياح نه حاصل کړو په دې وجه حماد دا حديث براه راست د ابو التياح نه روايت کول شروع کړل هم ددې ترقئ نوم علو سند دې.

بَابُ اتِّخَاذِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ

باب دې په بيان د جوړولو د جماتونو کښې په کورونو کښې

[٤٥٥] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ وَأَنْ تُنَظَّفَ وَتُطَيَّبَ".

ترجمه: د عائشې ﷺ نه روايت دې هغې ويلي دي: امر کړې دی رسول الله ﷺ په جوړولو د جماتونو باندې په کورونو کښې، او چې پاک کړی شي او خوشبو کړی شي.

تشريح: قوله:﴿ حدثنا محمد بن العلاء.... امر رسول الله صلى الله عليه وسلم ببناء المساجد في الدور ﴾ دور، د دار جمع ده چه د هغې معنی د بيت او منزل هم راځی او د محلې او قبيلې

(١): سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ٩ (٧٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٨٩١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجمعة ٦٤ (٥٩٤)، مسند احمد (١٢/٥، ٢٧١) (صحيح)

هم، ظاهره دا ده چه دلته دويمه معنی مراد ده، يعنی په هر هر محله کښې مسجدونه جوړول پکار دی ځکه چه که داسې نه وی نو د يوې محلې والا به د بلې محلې والا مسجد ته د مونځ کولو دپاره ځی او د فاصلې د وجې نه به د جماعت د فوت کيدو خطره وی، لهذا د ضرورت موافق په هره هره محله کښې مسجدونه پکار دی او که په حديث کښې د دار نه مخکښې معنی مراد کړې شی نو مطلب به دا وی چه په هر يو کور کښې يو مخصوص ځائې د مونځ دپاره هم کيدل پکار دی، مثلا يوه چبوتره يا چوکئ، انسان چه څنګه په کور کښې د خپل ضرورت نور څيزونه تعمير کوی، غسل خانه، باورچی خانه وغيره، نو د مونځ دپاره ئې هم يوځائې مخصوص کيدل پکار دی کوم چه د مونځ کولو دپاره صفا ستهره اوساتلې شی، خو په دې صورت کښې به د مسجد نه مسجد شرعی مراد نه وی په خلاف د اول صورت چه په هغې کښې مسجد شرعی مراد دې.

د صحيفه سمره اول حديث

[٤٥٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ سَمُرَةَ، حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ سُلَيْمَانَ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ أَبِيهِ سَمُرَةَ، أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى ابْنِهِ، أَمَّا بَعْدُ، "فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا بِالْمَسَاجِدِ أَنْ نَصْنَعَهَا فِي دِيَارِنَا وَنُصْلِحَ صَنْعَتَهَا وَنُطَهِّرَهَا".

ترجمه: خبيب بن سليمان د خپل پلار سليمان نه روايت کوي، او هغه ئې د خپل پلار سمرة نه کوي، چه هغه وليکل خپل ځوی ته: اما بعد: بيشکه رسول الله ﷺ وو چې امرېې کولو مونږ ته په جماتونو باندې چې مونږ ئې جوړ کړو په خپلو کورونو کښې، او د هغې صنعت اصلاح وکړو، او پاک ئې کړو.

تشريح: **قوله**:﴿ حدثنا محمد بن داود... انه كتب الى ابنه اما بعد ﴾ دا حديث خبيب د خپل پلار سليمان نه او سليمان د خپل پلار سمره بن جندب صحابی نه روايت کوی په دې کتاب کښې هم په دې سند سره او هم په دې طرز باندې تول شپږ احاديث شو او په مسند بزار کښې داسې تقريبا سل احاديث دی، په اصل کښې دا يوه صحيفه ده، د صحيفه سمره په نوم سره چه په هغې کښې هغه ډير احاديث راجمع کولو سره خپلو ځامنو ته ليږلې وو، ددې تول احاديث په يو سند سره نقل دی هم په دې وجه هغه سند د صحيفې په شروع کښې اوليکلې شو د صحيفه په شروع کښې د سند سره لفظ د ﴿ اما بعد ﴾ هم دې، اوس چه مصنف ددې صحيفې نه يو حديث اخلی نو په شروع کښې چه کوم سند دې هغه اخلی هم پهدې وجه باندې هر ځائې کښې ددې صحيفې په حديث کښې لفظ د ﴿ اما بعد ﴾ ملاويږی، دا خبره په مقدمة الکتاب کښې هم راغلله د کتابت حديث په بحث کښې، خو دا دې هم واضحه وی چه د محدثينو په نزد دا سند ضعيف شمارلې شی ځکه چه ددې د سند راويان تول مجهول او غير معروف دی، په بذل کښې ليکی قال ابن القطان ما من هؤلاء من يعرف حاله.

[1]: تفرد به أبو داود، مسند احمد (١٧/٥)، (تحفة الأشراف: ٤٦١٦) (صحيح)

بَابٌ فِي السُّرُجِ فِي الْمَسَاجِدِ
باب دي په بيان د ډيوو کښي په جماتونو کښي

په مسجدونو کښي ډيوه بلول، ابن رسلان چه د ابوداود شارح دي ليکي : ﴿ واول من اسرج في المساجد تميم الداري ﴾

[٤٥٧](١)حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ زِيَادِ بْنِ أَبِي سَوْدَةَ، عَنْ مَيْمُونَةَ مَوْلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفْتِنَا فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَقَالَ: "ائْتُوهُ فَصَلُّوا فِيهِ، وَكَانَتِ الْبِلَادُ إِذْ ذَاكَ حَرْبًا، فَإِنْ لَمْ تَأْتُوهُ وَتُصَلُّوا فِيهِ، فَابْعَثُوا بِزَيْتٍ يُسْرَجُ فِي قَنَادِيلِهِ".

ترجمه: د ميموني نه روايت دي، دا د نبي ﷺ آزاده کړې وينځه وه، هغې ويلي دي: اې د الله رسوله! فتوی راکړه مونږ ته په باره د بيت المقدس کښي، هغه وفرمائيل: ورشئ هغې ته او مونځ وکړئ په هغې کښي. او وو ښارونه په هغه وخت کښي چه جنګونه به پکښي کيدل، که تاسو ورته لاړ نه شوئ او مونځ پکښي نشئ کولی، نو ولېږئ ورته تيل چي بلولی شی د هغې په ډيوو کښي.

تشريح: قوله:﴿ قالت : يا رسول الله افتنا في بيت المقدس ﴾ يوې زنانه د هغه نه دا سوال اوکړو چه د بيت المقدس په باره کښي مونږ د حکم شرعی نه خبر کړئ، يعنی دا چه هلته مونږ سفر کولو سره تلي شو او په هغې کښي مونځ وغيره کولی شو يا نه نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه او! هلته ته تلي شي او په هغې کښي مونځ کولي شي وراندې راوی وائی ﴿ وكانت البلاد اذ ذاک حربا ﴾ يعنی تر هغه وخته پورې د اهل اسلام او اهل شام ترمينځه جنګونه کيدل، ملک شام چرته چه بيت المقدس دې مسلمانانو نه وو فتح کړې د يو مسلمان هلته تلل ګران وو هم په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ فان لم تاتوه وتصلوا فيه ﴾ که تاسو هلته تلې نه شئ نو داسې اوکړئ چه په څه ذريعې سره هلته د زيتون تيل اوليږئ کوم چه د بيت المقدس ډيوې او تاخچې روښانه کړی، د دې حديث نه په مسجد کښي د ډيوې د بلولو مشروعيت ثابتيږی،

(**جوماتونو ته تيل ليږل**): هم دغه شان ددې نه په مسجدونو کښي د تيلو د ليږلو اصليت هم ثابت شو لکه چه عام طور سره زنانه مسجدونو ته تيل ليږی، معلومه شوه چه دا بې اصله خبره نه دد

بَابٌ فِي حَصَى الْمَسْجِدِ
باب دي په بيان د کانړو د مسجد کښي

قوله:﴿ حصى ﴾ جمع ده د ﴿ حصاة ﴾، ﴿ الاحجار الصغار ﴾ (کانړی) مطلب دا دې چه په مسجد کښي کانړی غوړولي شی په دې کښي هيڅ باک نشته لکه چه د حديث الباب نه معلوميږی.

[٤٥٨](٢)حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ تَمَّامِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ سُلَيْمٍ الْبَاهِلِيُّ، عَنْ أَبِي الْوَلِيدِ، سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْحَصَى الَّذِي فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: "مُطِرْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأَصْبَحَتِ الْأَرْضُ مُبْتَلَّةً فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَأْتِي بِالْحَصَى فِي ثَوْبِهِ

(١): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩٦ (١٤٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٦٣) (ضعيف)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٥٩٤) (ضعيف)

فَيَبْسُطُهُ تَحْتَهُ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ قَالَ: مَا أَحْسَنَ هَذَا".

ترجمه: ابو الوليد وايي ما تپوس وکړو د ابن عمر نه په باره دګيټو کښې هغه چې په مسجد کښې خواره کړی شوی وو؟ هغه وفرمائيل: باران وشو په مونږ باندې يوه شپه نو ځمکه لمده شوه، نو شروع شو سړی چې راوړل به ئې کانړی په خپله جامه کښې، نو خوروڵ به ئې خپل لاندې، هرکله چې رسول الله ﷺ مونځ پوره کړو ويې وئيل: دا څومره ښه دی.

تشريح: **قوله:**﴿ سالت ابن عمر عن الحصى الذى فى المسجد ﴾ د مسجد نبوی په انګړ کښې کانړی خواره شوي وو، د درو او صفونو خو هغه وخت دستور نه وو ددې په باره کښې يو تابعي د ابن عمر ﷺ نه تپوس اوکړو چه دا چه په مسجد نبوی کښې کانړی خواره دی دا د کله نه خواره دی او ددې څه وجه وه نو هغه ورته جواب ورکړو چه د يو ځل خبره ده چه په مدينه منوره کښې د شپې باران اوشو د مسجد ټول انګړ په اوبو باندې لوند شو نو خلقو داسې اوکړل چه په خپلو لمنو کښې ئې کانړی راوړل او هر سړی د خپل مونځ کولو په ځائې کښې هغه خواره کړل او په هغې کښې ئې مونځ اوکړل ددې دپاره چه کپړې ئې لوندې نه شی، رسول الله ﷺ د مونځ نه په فارغ کيدو باندې چه کله هغه کانړی اوليدل نو وې فرمائيل ﴿ ما احسن هذا ﴾ چه تاسو څه ښه کار اوکړو، غرض دا چه د هغه وخت نه دا کانړی خواره کړې شوي دی، زه وائم چه په ۱۳۹۳ھ کښې چه کله مونږ د حج دپاره حاضر شو نو تر هغه وخته پورې دا د کانړو سلسله قائمه وه په مسجد حرام کښې هم او په مسجد نبوی کښې هم خو په پوره انګړ کښې نه بلکه د هغې په بعضو حصو کښې، ګويا دا قديم يادګار راروان وو، خو څو کلونه پس چه کله مونږ بيا حاضر شو نو مونږ اوکتل چه د هغه ځائې نه هغه کانړی اوچت کړې شوي وو او د هغې په ځائې پوخ فرش خور کړې شوې وو، وجه د هغې دا بيان کړې شوه چه زنانو چه به کله د ځان سره ماشومان په غيږ کښې حرم ته بوتلل نو د ماشومانو نجاست او متيازې وغيره به هغوی په دغه کانړو کښې پټولو په دې وجه د هغه ځائې منتظمينو دغه سلسله ختمه کړه. انا لله وانا اليه راجعون فالى الله المشتكى. د رسول الله ﷺ د زمانې يوه نخښه ختمه شوه.

[۴۵۹] () حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، وَوَكِيعٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، قَالَ: كَانَ يُقَالُ "إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا أَخْرَجَ الْحَصَى مِنَ الْمَسْجِدِ يُنَاشِدُهُ".

ترجمه: د ابو صالح نه روايت دې هغه وئيلی دې: دا به وئيل کيده، سړی چې کله اوباسې کانړی د جمات نه ن سوال ورته کوي.

تشريح: **قوله:**﴿ ان الرجل اذا اخرج الحصى من المسجد يناشده ﴾ که يو سړې د مسجد نه کانړی اوباسې يعنې هغه بهر غورځوی يا ئې اوچتولو سره بهر راوړی نو هغه کانړې ورته سوال کوی چه د الله خاطر اوکړه ته ما دې ځائې نه مه اوباسه، د کانړی دا سوال کول په دې وجه دی چه مسجد پاک او صفا ځائې دې په دې وجه د هغه ځائې نه وتل نه غواړی، ځکه چه

[۱]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۲۸۳۷) (صحيح)

مسجد د رحمت، برکت او عبادت ځائې دي خلق په هغې باندې مونځ کوی او د بهر تلو نه پس به هغه ددې تولو خیزونو نه محروم شی. هم دغه شان دا د کانړو سوال کول کیدې شی په لسان قال او حقيقة وی چه د هغې د کيفيت نه مونږ خبر نه يو، پس د جمهورو سلفو رائې د جمادات او حيوانات د تسبيح په باره کښې هم دا ده چه د هغې ذکر په دې آيت کريمه کښې دې ﴿وان من شئ الا يسبح بحمده﴾ او دا هم احتمال دې چه دا سوال د حال په ژبې سره وی ګویا د کانړو موجوده حالت په مسجد کښې د پريوتلو ددې خبرې مقتضی دې چه هغه دا غواړی چه هغه په کوهی کښې پريخودلې شی اګر چه په ژبې سره هغه هيڅ او نه وئيلې شی، دلته په روايت کښې دی ﴿کان يقال﴾ يعنی صحابه کرامو به خپل مينځ کښې وئيل چه کله يو سړې کانړې د مسجد نه اوباسی نو هغه داسې وائی خو ظاهره خبره دا ده چه صحابه کرام دا خبره په قياس سره خو نه شی کولې هغوی به د رسول الله ﷺ نه اوريدلې وی لهذا دا حديث په مرفوع حکم کښې دې ددې نه وړاندې چه کوم حديث دې په هغې کښې هم د حديث د مرفوع کيدو ذکر دې اګر چه په تردد سره دې

[٤٦٠] (١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي الصَّاغَانِيَّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ شُجَاعُ بْنُ الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، حَدَّثَنَا أَبُو حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ أَبُو بَدْرٍ: أُرَاهُ قَدْ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ الْحَصَاةَ لَتُنَاشِدُ الَّذِي يُخْرِجُهَا مِنَ الْمَسْجِدِ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې، ابو بدر وئيلی دې. زما ګمان دی چې بيشکه هغه مرفوع بيلانکړی دی د نبی ﷺ نه هغه ووئيل بيشکه کانړی سوال کوی هغه کس ته چې اوباسی هغې لره د مسجد نه.

بَابٌ فِي كَنْسِ الْمَسْجِدِ

باب دې په بيان د جارو کولو د مسجد کښې

يعنی په مسجد کښې جارو وهل مکنسه اله کنس يعنی جارو

[٤٦١] (٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْحَكَمِ الْخَزَّازُ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَجِيدِ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُورُ أُمَّتِي حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوبُ أُمَّتِي فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ آيَةٍ أُوتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا".

ترجمه: انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دې وئيلی دی رسول الله ﷺ پيش کړی شو ماته اجرونه د امت زما، تردې چې د غورخول شوی شی په جمات کښې چې اوباسې هغې لره سړی د جمات نه، او پيش کړی شو ماته ګناهونه د امت زما، ما ونه ليدله ګناه چې ډيره غټه ده د يو سورت د قرآن نه او يا ايت چې ياد کړی وې هغه سړی بيا ئې هېر کړی وي.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٨٣٧) (ضعيف)

(٢): سنن الترمذي/فضائل القرآن ١٩ (٢٩١٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٢) (ضعيف)

تشريح: قوله: ﴿ عرضت على اجور امتى حتى القذاة ﴾ اى اجور اعمال امتى... د مضاف په حذف سره او د مسلم په روايت کښې دى ﴿ عرضت على اعمال امتى ﴾ اوس په دواړو کښې هيڅ منافات نشته ځنګه چه اجرونه پيش کيدلى شى هم دغه شان اعمال هم.

شرح حديث

اودعرض نه مراد يا خوعلمى احاطه ده چه دا څيزونه درسول الله ﷺ په علم کښې راوستلې شو، او دا په حقيقت باندې هم محمول کيدې شى په داسې طريقه چه دا اعمال حسنه په ښه صورت کښې پيش کړې شو او اعمال سيئه په ګنده صورت کښې لکه چه د اعمالو په وزن کښې هم يو قول دا دې اوس پاتې شوه دا خبره چه دا عرض کله شوې دې، کيدې شى چه په ليلة المعراج کښې داسې شوې وى يا په بله يوه موقع باندې. والله تعالى اعلم

"حتى القذاة" قذاة هغه خشاک او خځلې (بخرى) ته وئيلې شى کوم چه په سترګو يا د څکلو په يو څيز کښې پريوځى کوم چه ډير معمولى وى، په دې کښې ډيره مبالغه ده مسجدونو لره په صفا کولو کښې. چه کله په دومره لږ څيز کښې ثواب دې نو ددې نه زائد کښې به په طريق اولى وى.

قوله: ﴿ فلم ار ذنبا اعظم من سورة من القران الخ ﴾ يعنى په ما باندې زما د امت ګناهونه هم پيش کړې شو نو ما ددې نه لويه ګناه بله او نه ليده چه يو سړى د قران کريم يو سورت يا آيت ياد کړې وى او بيا ترې هغه هير شوې وى.

بعض اشکال او د هغې جواب

اشکال (۱): دلته دا شبه کيږى چه په دويم حديث کښې اعظم الذنوب شرک بالله منلې شوې دې، پس وارد دې چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو، اى الذنوب اعظم عند الله تعالى... نو هغه اوفرمائيل ﴿ ان تجعل لله ندا وهو خلقک ﴾ د دې مختلف جوابات ورکړې شوې دى، يو دا چه په دې حديث کښې د ټولو ګناهونو نه لوئې ګناهونه مراد نه دى بلکه د صغائرو په نسبت يعنى په صغيره ګناهونو کښې د ټولو نه لوئې دې. يا دا اووئيلې چه مراد دا دې چه نسيان په علم باندې مرتب کيدو والا ګناهونو کښې د ټولو نه لويه ګناه د ټولو نه لويه ګناه د قران کريم هيرول دى، يو بل اشکال دا دې چه نسيان خو په شريعت کښې معاف دې نو بيا په دې باندې مواخذه ولې؟ جواب دا دې چه دوه څيزونه دى يو هيريدل او بل هيرول، دلته دويم مراد دې، او مطلب د ﴿ ثم نسيها ﴾ دا دې چه ﴿ ثم ترکها حتى نسيها ﴾ او يو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه د نسيان نه مراد عدم الايمان بها دې لکه چه ددې آيت کريمه په تفسير کښې وئيلې شوې دى ﴿ کذلک اتتک اياتنا فنسيتها ﴾

نسیان د قرآن کریم حکم

بیا ځان پوهه کړه چه په دې کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې چه نسیان د آیت څنګه دې،[1] په منهل کښې لیکلې دی چه د جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نزد حرام او کبیره ګناه ده، البته د امام مالک په نزد ما تصح به الصلاة نه زائد یادول مستحب دی ابتداء هم او دواما هم، لهذا ددې هیرول د هغه په نزد صرف مکروه دې.

بَابٌ فِي اعْتِزَالِ النِّسَاءِ فِي الْمَسَاجِدِ عَنِ الرِّجَالِ

باب دې په بیان د اعتزال د ښځوکې په جماتونوکې د سړو نه

د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چونکه زنانو په مسجد کښې د سړو سره مونځ کولو، په دې وجه ددې متعلق دا باب دې چه زنانو له پکار دی چه د هغوی د سړو سره اختلاط رانشي

[۴۶۲]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، وَأَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ تَرَكْنَا هَذَا الْبَابَ لِلنِّسَاءِ"، قَالَ نَافِعٌ: فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ ابْنُ عُمَرَ حَتَّى مَاتَ، وَقَالَ غَيْرُ عَبْدِ الْوَارِثِ: قَالَ عُمَرُ: وَهُوَ أَصَحُّ.

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې هغه وئیلی دي: وئیلی دی رسول الله ﷺ: که چرې دا دروازه مونږ ښځو ته پریخوده نو بهتره ده وئیلی دی نافع: نو ابن عمر د هغې نه داخل نه شو تر مرګه پورې، او وئیلی دی (نورو راویانو) بغیر د عبد الوارث نه چه وئیلی دی عمر (یعنی ابن عمر نه بلکه عمر وئیلی دی)، او دا ډیر صحیح دی

تشریح: **قوله**:《 لو ترکنا هذا الباب للنساء 》رسول الله ﷺ د مسجد نبوی د یوې دروازې طرف ته اشاره کولو سره اوفرمائیل چه دا دروازه که مونږ د زنانو دپاره پرېږدو نو څه به ښه وی یعنی په دې دروازې سره مسجد ته راتلل صرف د زنانو دپاره شی سړی خپل تلل راتلل په بله دروازه باندې اوساتی، دې وخت کښې خو په مسجد نبوی کښې څو بابونه دی تقریبا اووه اته به وی، خو ددې حدیث نه معلومیږی چه هغه وخت کم از کم دوه دروازې وې، په منهل کښې لیکلې دی چه د کومې دروازې طرف ته په دې حدیث کښې اشاره ده دا هغه دروازه ده کومه چه د تحویل قبله نه روستو شمالی طرف ته چرته چه بیت المقدس دې پرانستلې شوې وه. ځکه چه اول خو هغه طرف ته قبله وه، اوس چونکه قبله د مکې طرف ته شوه کومه چه د مدینې نه د جنوب په طرف کښې ده نو ددې جانب مقابل په شمال کښې دروازه پرانستلې شوې وه

《 قال نافع الخ 》نافع رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنهما شاګرد فرمائی چه ددې حدیث د اوریدولو نه پس

[1]، دکتاب الصلوة په آخرکښې یویل باب راروان دې: باب التشدید في من حفظ القرآن ثم نسیه،، اودهغې لاندې مصنف رحمه الله دا مرفوع حدیث ذکرکړې دې: مامن امرئ یقرأ القرآن ثم ینساه الا لقي الله یوم القیامة أجزم، په دې باندې حضرت شیخ رحمه الله لیکلی دی چه د شوافعو په نزد د نسیان (هیرولو) نه مراد دادې چه دا په غیب یعنی حفظ باندې نه شی وئیلې اود احنافو په نزد مراد دادې چه دومره ئې هیرکړی چه په کتلو ئې هم نه شی وئیلې، والله تعالی أعلم

[2]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۷۵۸۸)، ویأتي هذا الحديث عند المؤلف برقم (۵۷۱) (صحیح)

ابن عمر تر مرګه پورې کله هم په هغه دروازه باندې مسجد ته نه دې داخل شوې، د ابن عمر رضي الله عنه په باره کښې مشهوره ده چه هغه شديد الاتباع بالسنة وو، ددې نه په طور د مفهوم مخالف دا ذهن ته راځي چه د ابن عمر رضي الله عنه نه علاوه به نور خلق په دغه دروازه داخليدل نو اول خو دا ضروري نه ده، تخصيص ذکري تخصيص حکم لره مستلزم نه دې او که دا اومنو نو کيدې شي چه نور صحابه کرام د مونځ د وختونو نه علاوه په نورو اوقاتو کښې په هغه دروازه باندې داخل شوې وي او دا هم وئيلې کيدې شي چه چونکه د ابن عمر رضي الله عنه نه علاوه نورو صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه په دې سلسله کښې د منع عن الدخول څه صريح ممانعت نه وو اوريدلې په دې وجه به هغوي داخليدل

(وقال غير عبدالوارث : قال عمر : وهو اصح) په دې حديث کښې چه کوم د راويانو اختلاف دې، مصنف هغه بيانوي.

د مصنف رائې او په هغې باندې نقد

هغه دا چه په دې حديث کښې د ايوب دوه شاګردان دي يو عبدالوارث کوم چه په اول سند کښې دې دويم اسماعيل کوم چه په دويم سند کښې راروان دې، اول الذکر دې حديث ته مرفوع وئيلې دې او مؤخر الذکر دې حديث ته موقوف وئيلې دې، مصنف فرمائي چه ددې حديث په عمر باندې موقوف کيدل زيات صحيح دي په نسبت د مرفوع کيدو، ددې نه روستو مصنف هغه نور روايات ذکر کړې دي کوم چه موقوف دي د هغې نه روستو ئې بيا يو بل روايت ذکر کړو : (ان عمر بن الخطاب كان ينهى الخ) د مصنف غرض ددې دوه روايتونو په ذکر کولو سره وقف لره په رفع باندې ترجيح ورکول دي، خو په دې کښې اشکال دې ځکه چه د اسماعيل روايت منقطع دې، د نافع سماع د عمر نه ثابته نه ده، هم دغه شان د عمر د منع کولو نه دا نه لازميږي چه رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمائيلې وي، هم دغه شان عبدالوارث کوم چه دا روايت مرفوعا نقل کوي هغه ثقه دې ددې سند هم متصل دې، فكيف ترجيح الوقف. (من البذل)

[٤٦٣](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ بْنِ أَعْيَنَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، بِمَعْنَاهُ، وَهُوَ أَصَحُّ.

ترجمه: دحضرت نافع رضي الله عنه نه روايت دې چه حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه وئيلي دي په شان د هغه حديث، او هم دا ډير صحيح دي

[٤٦٤](2)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَكْرٌ يَعْنِي ابْنَ مُضَرَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ نَافِعٍ، "أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ يَنْهَى أَنْ يُدْخَلَ مِنْ بَابِ النِّسَاءِ".

ترجمه: د نافع نه روايت دې، بيشکه عمر بن الخطاب وو چې منع به ئې کوله د داخليدو نه د دروازې د ښځو نه

(1): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٧٥٨٨) (صحيح)
(2): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٧٥٨٨) (صحيح)

بَابٌ فِيمَا يَقُولُهُ الرَّجُلُ عِنْدَ دُخُولِهِ الْمَسْجِدَ

باب دې په هغې چې سړی چه وايي په وخت د ننوتلو کې جمات ته

[٤٦٥](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي الدَّرَاوَرْدِيَّ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ سُوَيْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حُمَيْدٍ، أَوْ أَبَا أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيَّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيُسَلِّمْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ لِيَقُلْ: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، فَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ".

ترجمه: د عبد الملک بن سعید بن سوید نه روایت دې هغه وايي چې ما اوریدلی دی د ابو حمید نه او یا د ابو اسید الانصاری نه، هغه به وئیل: وئیلی دی رسول الله ﷺ کله چې داخلیږي یو کس ستاسو نه جمات ته نو سلام دې کوی په نبی ﷺ، بیا دې وايي: (اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، فَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ) ای الله کولاو کړی ماته دروازې د رحمت ستا ، کله چې اوځی نو وايي دي: اې الله زه سوال کوم ستانه د فضل ستا.

تشریح: **قوله**:(سمعت ابا حمید او ابا اسید ﴾ هم دغه شان په شک سره د مسلم په روایت کښې دی، په ظاهره دا شک خپله عبدالملک ته د خان متعلق دې چه ما په دې دواړو کښې د یو نه دا حدیث واوریدلو، او د ابن ماجه په یو روایت کښې صرف ﴿ عن ابی حمید ﴾ او په یو روایت کښې د دواړو نه روایت دې ﴿ عن ابی حمید وابی اسید یقولان﴾ (منهل) دا ابو حمید الساعدی مشهور صحابی دې د هغوی په نوم کښې اختلاف او د ابو اسید نوم مالک بن ربیعه دې، ابو اسید بضم الهمزة مصغرا دې دا هم ساعدی دې، ملا علی قاری رحمه الله لیکی وقیل بفتح الهمزة، احقر وائی چه ﴿ ابو اسید بفتح الهمزة ﴾ بل صحابی دې ﴿ ابو اسید بن ثابت الانصاری ﴾ چه د هغه نوم عبدالله دې او یو بل راوی دې عطاء بن اسید دا هم بفتح الهمزة دې (کذا فی الفیض السمائی)

﴿ اذا دخل احدکم المسجد الخ ﴾ چه کله انسان مسجد ته داخل شی نو اولا دې په رسول الله ﷺ باندې سلام اولیږی او بیا دې دا دعا اوکړی ﴿ اللهم افتح لی ابواب رحمتک ﴾، ابن السنی په روایت د انس رضی الله عنه نقل کړې دی چه رسول الله ﷺ چه به کله مسجد ته داخلیدو نو وئیل به ئې چه ﴿ بسم الله اللهم صل علی محمد ﴾ هم دغه شان چه به کله مسجد ته داخلیدو نو وئیل به ئې ﴿ قال بسم الله اللهم صل علی محمد ﴾ هم دغه شان چه به کله د مسجد نه بهر راوتلو نو داسې به ئې وئیل، د مسند احمد او ابن ماجه یو حدیث چه د فاطمه الزهرا رضی الله عنها نه روایت دې چه کله به رسول الله ﷺ مسجد ته داخلیدو نو ﴿ بسم الله والسلام علی رسول الله اللهم اغفرلی ذنوبي وافتح لي ابواب رحمتک ﴾ به ئې وئیل، او هم دغه شان به ئې د مسجد نه بهر راوتلو باندې هم دغه شان وئیل او په ځائې د ﴿ ابواب رحمتک ﴾ به ئې ﴿ ابواب فضلک ﴾

(1): صحیح مسلم/المسافرین ۱۰ (۷۱۳)، سنن النسائي/المساجد ۳٦ (۷۳۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۹٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ۱۳ (۷۷۲)، مسند احمد (۵/ ٤۲۵) سنن الدارمي/الصلاة ۱۱۵ (۱٤۳٤)، والاستئذان ۵٦ (۷۷۲) (صحیح)

وئيل، هم دغه شان د ابن ماجه په يو روايت کښې دي چه د مسجد نه د بهر راوتلو په وخت باندې په رسول الله ﷺ باندې د سلام ليږلو نه روستو دې دا اولولی ﴿ اللهم اعصمنی من الشيطان الرجيم ﴾

فائده : د دې رواياتو نه معلومه شوه چه خپله به رسول الله ﷺ هم په خپل ځان باندې سلام ليږلو ددې په پاره کښې شارحينو خو دلته څه نه دی ليکلی، په ظاهره ددې دوه وجې کيدې شی. ۱: رسول الله ﷺ به د امت د تعليم دپاره داسې کول ۲ خپله نبی باندې هم په خپل نبوت او رسالت باندې ايمان راوړل واجب دې بلکه د ټولو نه مخکښې نو هم هغه ددې خبرې مکلف وی چه هغه په خپل نبوت باندې ايمان راوړی او په دې باندې يقين اوساتی، علی هذا القياس، نور څيزونه هم په دې کښې راغلل د خپل مقام رسالت تعظيم او تکريم او صلاة او سلام ليږل وغيره او دا په دې وجه باندې چه رسول کښې وصف نبوت او رسالت نه علاوه يو حيثيت بشر او د ابن ادم کيدو دې، نو نبی ددې خپل دويم حيثيت په لحاظ سره د خپل ذات سره هغه معامله کوی کوم چه امتی لره د خپل نبی سره کول پکار دی.

[٤٦٦]()حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ بِشْرِ بْنِ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، قَالَ: لَقِيتُ عُقْبَةَ بْنَ مُسْلِمٍ، فَقُلْتُ لَهُ: بَلَغَنِي أَنَّكَ حُدِّثْتَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّهُ كَانَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ، قَالَ: أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ"، قَالَ: أَقَطْ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ، قَالَ الشَّيْطَانُ: حُفِظَ مِنِّي سَائِرَ الْيَوْمِ.

ترجمه: د عبد الله بن عمرو بن العاص روايت کوی د نبی ﷺ نه، بيشکه هغه به چې کله داخليدو مسجد ته وئيل به يې: پناه نيسم په الله لوی باندې، او په مخ د هغه عزتمند. او په بادشاهئ د هغه چې مخکښې ده، د شيطان رټلی شوی نه. هغه وويل: ايا بس؟ ما وويل: آو، هغه وويل: کله چې ووايې دا، وايې شيطان چې وساتلی شو زمانه ټوله ورځ

تشريح: **قوله**:﴿ فقلت له : بلغنی انک حدثت الخ ﴾ حيوة بن شريح فرمائی چه ما عقبه بن مسلم ته اووې چه ماته دا خبره رارسيدلې ده چه تاسو عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما ته يو حديث مرفوع بيانوی هغه دا چه د رسول الله ﷺ معمول وو چه کله به مسجد کښې داخليدو سره دا دعا کوله (کوم چه په کتاب کښې مذکور ده)، نو هغه ددې تصديق اوکړو، خو هغه ورسره دا هم اوفرمائيل چه ايا تاته بس هم دا حديث در رسيدلې دې؟ ما اووې او! په دې باندې هغه اوفرمائيل چه نه! په دې کښې وړاندې نور هم څه دی هغه دا چه ﴿ فاذا قال : ذلک قال الشيطان الخ ﴾ يعنی کله چه يو سړې مسجد ته داخليدو سره ذکر شوې دعا اووائی نو شيطان وائی چه دا سړې د پوره ورځ دپاره زما نه محفوظ شو.

د ادعيه ماثوره اهتمام

سبحان الله څه بنه دعا ده، لهذا دا دعا مسجد کښې د داخليدو په وخت ضرور وئيل پکار دی بلکه د ټولو ادعيه ماثوره د هغې د معانی او فوائد د استحضار سره هميشه د ياد

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۹۰) (صحيح)

ساتلو او ونیلو اهتمام کول پکار دی.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عِنْدَ دُخُولِ الْمَسْجِدِ

باب دې په بیان د مونځ (تحیة المسجد) کښې په وخت د ننوتلو کښې جمات ته

[۴۶۷] (١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ، فَلْيُصَلِّ سَجْدَتَيْنِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَجْلِسَ".

ترجمه: د ابو قتادة ﷺ نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي: کله چې داخل شی یو کس ستاسو نه مسجد ته نو ودې کړی دوه رکعاته مخکې د کیناستلو نه.

تشریح: **قوله**: إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ: په دې باب او حدیث سره مصنف تحیة المسجد ثابت کړی دی په دې حدیث کښې پنځه مباحث دی.

د حدیث متعلق مباحث خمسه

۱: د تحیة المسجد حکم، ۲: تحیة المسجد د کوم سړی دپاره دی،

۳: په مسجد کښې د داخلیدو نه پس تحیة المسجد کولو نه مخکښې که کینی نو ددې جلوس نه تحیة المسجد فوت کیږی یا نه.

۴: ایا دا مونځ به په اوقات مکروه کښې هم کولې شی یا نه؟

۵: د کومو علماء کرامو په نزد چه تنفل برکعة جائز دې نو ایا د هغوی په نزد به یو رکعت تحیة المسجد ادا کیږی یا نه؟

اول بحث:

تحیة المسجد د جمهورو په نزد مستحب دې او د اهل ظواهر په نزد واجب دې خو ابن حزم په دې کښې د جمهورو سره دې، هغه د سنتیت قائل دې، اهل ظاهر د امر د صیغې نه استدلال کوی او جمهور د حدیث د اعرابی ﴿ هل علي غيرهن؟ قال لا الا ان تطوع ﴾ وغیره احادیثو نه استدلال کړې دې، هم دغه شان په طحاوی کښې یو روایت دې، عبدالله بن بسر صحابی نه چه یو خل د جمعې په ورځ باندې یو سړې مسجد ته داخل شو او د خلقو په ستهونو باندې اوړیدلو سره وړاندې لاړو نو په دې باندې رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائیل ﴿ اجلس فقد اذیت ﴾ حال دا چه هغه لا تر اوسه پورې تحیة المسجد نه وو کړی.

بحث ثانی:

امام مالک رحمه الله فرمائی چه د تحیة المسجد حکم د هغه سړی دپاره دې کوم چه مسجد ته داخل شی د ناستې په قصد باندې، او د کوم سړی اراده چه د کیناستلو نه وی بلکه صرف

(١): صحيح البخاري/الصلاة ٦٠ (٤٤٤)، والتهجد ٢٥ (١١٦٣)، صحيح مسلم/ المسافرين ١١ (٧١٤)، سنن الترمذي/ الصلاة ١١٩ (٣١٦)، سنن النسائي/ المساجد ٣٧ (٧٣١)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ٥٧ (١٠١٣)، (تحفة الأشراف: ١٢١٢٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ قصر الصلاة ١٨(٥٧)، مسند احمد (٥/٢٩٥، ٢٩٦، ٣٠٣)، سنن الدارمي/الصلاة ١١٤ (١٤٣٣) (صحيح)

تیریدل ئې مقصود وی نو د هغه دپاره نشته، په ظاهره کښې هغه دا قید د جلوس لفظ حدیث ﴿ قبل ان یجلس ﴾ نه مستنبط کړې دې، او د جمهور علماء ائمه ثلاث په نزد د تحیة المسجد حکم د هر هغه سړی دپاره دې که مسجد ته د کیناستلو په ارادې سره داخل شوې وی یا هم داسې وی.

بحث ثالث :

د حنابله په نزد جلوس طویل سره فوت کیږی په قصیر سره نه، که عمدا وی او د شوافعو په نزد په جلوس طویل سره، هم دغه شان په جلوس قصیر سره هم که عمدا وی او د احنافو او مالکیانو په نزد مطلقا نه فوت کیږی د کیناستلو نه روستو ئې هم کولې شی.

بحث رابع :

د امام شافعی رحمه الله په نزد اوقات مکروه او غیر مکروهه ټولو کښې به کولی شی د باقی ائمه ثلاث په نزد صرف په اوقات غیر مکروهه کښې، لهذا چه کوم سړې مسجد ته په اوقات منهیه کښې داخل شی نو د هغه دپاره... د تحیة المسجد بدل د الله پاک ذکر دې.

بحث خامس :

د امام شافعی او احمد په نزد اگر چه تنفل برکعة جائز دې خو د هغه په اصل قول کښې تحیة المسجد برکعة کافی نه دې، ځکه چه په حدیث کښې د رکعتین قید ذکر دې.

فائده : د تحیة المسجد د حکم نه مسجد حرام مستثنی دې ځکه چه د هغه مسجد تحیة مونځ نه دې بلکه طواف دې لکه چه فقهاء کرامو ددې خبرې تصریح کړې ده مګر دا چه د یو سړی اراده داخلیدو سره فورا د طواف نه وی بلکه د کیناستلو وی نو هغه له پکار دی چه د کیناستلو نه مخکښې دوه رکعتونه اوکړی.

[٤٦٨] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عُمَيْسٍ عُتْبَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِنَحْوِهِ زَادَ: ثُمَّ لِيَقْعُدْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ، أَوْ لِيَذْهَبْ لِحَاجَتِهِ.

ترجمه: د ابو قتادة نه روایت دې، هغه روایت کوی د نبی ﷺ نه پشان د هم هغه حدیث، پهٔ دی کښې زیادت کړی دی(باقی ص ١٥٥) بیادې کینې وروسته که چېرې ئې خوښه وی او یا دې لاړ شې خپل ضرورت دپاره.

تشریح: **قوله**:﴿ زاد : ثم لیقعد بعد ان شاء ﴾ دا حدیث هم د ابو قتاده رضی الله عنه دې خو د دویم طریق نه مخکښې طریق کښې عامر بن عبدالله نه روایت کونکې مالک وو او په دې کښې د هغه نه روایت کونکې ابو عمیس دې، د ﴿ زاد ﴾ ضمیر هم د هغه طرف ته راجع دې، په دې روایت کښې زیادت دې چه د تحیة المسجد د کولو نه پس که ئې زړه غواړی نو کینی دې یا چه د کوم کار دپاره راغلې دې د هغې دپاره دې لاړ شی، ددې نه په ظاهره کښې د مالکی مذهب تردید کیږی کوم چه دا وائی چه تحیة المسجد د هغه سړی دپاره دې کوم چه مسجد

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢١٢٣) (صحيح)

نه د کیناستلو دپاره راغلي وي.

باب في فَضْلِ الْقُعُودِ فِي الْمَسْجِدِ

باب دې په بيان د فضيلت د کښناستلو کې په مسجد کې

دا باب د قعود فی المسجد د فضيلت په بيان کښې دې، امام بخاري رحمه الله هم دلته دا باب تړلې دې خو هغه په دې کښې يو قيد لګولې دې، من جلس فی المسجد ينتظر الصلاة... فرق دا شو چه د مصنف په رائې کښې د قعود فی المسجد فضيلت مطلقا دې او د امام بخاري د ترجمې نه معلوميږی چه دا فضيلت هغه وخت دې چه کله دا کيناستل د مونځ د انتظار يا د بل يو عبادت دپاره وی، خو مصنف په دې باب کښې دوه روايات ذکر کړې دی، پس د باب د اولنی حديث نه د مطلق جلوس فی المسجد فضيلت معلوم شو خو په دې کښې يو بل قيد دې هغه دا چه ترڅو پورې په هغه ځائې کښې ناست وی چرته چه ئې فرض مونځ کړې دې، او د دويم او دريم حديث نه د هغه جلوس فضيلت معلوميږی کوم چه د انتظار صلاة دپاره وی.

[٤٦٩]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ أَوْ يَقُمْ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلی دي: ملائکې دعاګانې غواړې د يو کس ستاسو لپاره تر کومه چې هغه خپل د مانځه په ځائې کښې وې ترکومه چې ئې خبرې نه وې کړی او يا پاځيدلی نه وي: اې الله ته بخښنه وکړی هغه ته، او اې الله ته ورباندې رحم وکړې.

تشريح: **قوله**.(ما لم يحدث او يقوم) يعنی ملائک د داسې سړی دپاره استغفار هغه وخت کوی چه ترڅو پورې هغه په اودس کښې وی هغه ته بې اودسی نه وی رسيدلې او ترڅو پورې چه هغه د خپل مجلس نه پاسيدلې نه وی،[2] معلومه شوه چه په اودس ماتيدلو سره د ملائکو دعاء منقطع کيږی.

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ٣٤ (١٧٦)، والصلاة ٦١ (٤٤٥)، ٨٧ (٤٧٧)، والأذان ٣٠ (٦٤٧)، ٣٦ (٦٥٩)، والبيوع ٤٩ (٢٠١٣)، وبدء الخلق ٧ (٣٢٢٩)، سنن النسائي/المساجد ٤٠ (٧٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٣٨١٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ٤٩ (٦٤٩)، سنن الترمذي/الصلاة ١٢٩ (٣٣٠)، سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ١٩ (٧٩٩)، موطا امام مالك/ قصر الصلاة ١٨ (٥١)، مسند احمد (٢٦٦/٢، ٢٨٩، ٣١٢، ٣٩٤، ٤١٥، ٤٢١، ٤٨٦، ٥٠٢) (صحيح)

[2]، دغه شان د بخاري په يو روايت کښې د مادام في مجلسه، قيد دې، حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی څنګه چه په لامع کښې دی ښکاره داده چه ټول مسجد په حکم د مجلس کښې دې خاص هغه ځای چرته ئې چه مونځ کړې دې نه دې مراد، د لامع په حاشيه کښې حضرت شيخ رحمه الله د حافظ ابن حجر رحمه الله نه هم دا نقل کړی دی ځکه چه په يو روايت کښې مطلقا د منتظرصلوة باره کښې راغلی دی چه دا په حکم د مونځ کښې دې، لا يزال في الصلوة ما انتظر الصلوة، او په حديث کښې منتظر د صلوة د مونځ کونکی په حکم کښې ګرځولې شوې دې نو دغه شان دا هم ونيلی شی چه د في مجلسه نه مراد مطلق موضع د صلوة دي.

اشکال او جواب

دلته دا اشکال دې چه د ملائکو په استغفار کښې د منتظر صلاة څه تخصیص دې حال دا چه په قران کریم کښې د ملائک حملة العرش په باره کښې دی چه ﴿ ويستغفرون للذين امنوا ﴾ چه د هغې نه معلومیږي چه ملائک د ټولو مومنانو دپاره استغفار کوی، ابن رسلان ددې جواب دا کړې دې چه د حملة العرش دعا کومه چه د ټولو مومنانو دپاره عام وی هغه صرف استغفار دې او د منتظر صلاة دپاره استغفار او دعا د رحمت دواړه دی لکه چه په حدیث کښې ددې تصریح ده. ﴿ اللهم اغفر له اللهم ارحمه ﴾ او په مغفرت او رحمت کښې فرق دې، مغفرت صرف د ګناهونو د معافئ نوم دې او رحمت د مزید لطف او احسان.

[۴۷۰](١)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ، لَا يَمْنَعُهُ أَنْ يَنْقَلِبَ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا الصَّلَاةُ".

ترجمه: د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلی دي: هميشه وی يو کس ستاسو نه په مانځه کښې تر کومه چې هغه مانځه بند کړی وي، نه وی منع کړی هغه لره چې واپس شي خپل اهل ته مګر مونځ.

[۴۷۱](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَزَالُ الْعَبْدُ فِي صَلَاةٍ مَا كَانَ فِي مُصَلَّاهُ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ، تَقُولُ الْمَلَائِكَةُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ، حَتَّى يَنْصَرِفَ أَوْ يُحْدِثَ، فَقِيلَ: مَا يُحْدِثُ؟ قَالَ: يَفْسُو أَوْ يَضْرِطُ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلی دي: هميشه وی بنده په مانځه کښې ترکومه چې د خپل مونځ ځائي کښې وی او د مونځ انتظار کوي، وايي ملائکې: يا الله ته ورته بخښنه وکړي، اى الله ته ورباندې رحم وکړي، تر دې چې لاړ شی او يا بې اودسه شي، وويل شو بې اودسي څه شی دی؟ هغه وفرمائيل: چې فسکئ يا تيز واچوي.

تشريح: **قوله**:﴿ فقيل ما يحدث الخ ﴾ د ابوهريره رضی الله عنه نه چا تپوس اوکړو چه په حديث کښې د ﴿يحدث﴾ نه څه مراد دې نو هغه اوفرمائيل چه د هوا خارج کيدل، او ريح کوم چه بغير د اواز نه وی او ضراط کوم چه د اواز سره وی، راوی د ﴿ يحدث ﴾ معنی په دې وجه اوتپوسله چه د احداث يو بله معنی احداث فی الدين يعنی بدعت هم راځي.

د اخراج ريح فی المسجد حکم

ځان پوهه کړه چه د حديث د ظاهر نه معلوميږی چه اخراج ريح فی المسجد جائز دې، پس امام بخاری رحمه الله په دې حديث باندې "الحدث فی المسجد" باب قائم کړې دی، امام نووی رحمه الله فرمائی چه داسې کول حرام خو نه دی خو مکروه دی، علامه دردير مالکی هم دې ته

(١): صحيح البخاري/الأذان ٣٦ (٦٥٩)، صحيح مسلم/المساجد ٤٩ (٦٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٨٠٧) (صحيح)
(٢): صحيح مسلم/المساجد ٤٩ (٦٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٥١)، مسند احمد (١٥/٢، ٥٢٨) (صحيح)

ممنوع وئيلې دی خو ابن العربی مالکی ورته جائز وئيلې دی او په البحر الرائق کښې دا دی چه زمونږ د مشائخو ددې په کراهت کښې اختلاف دې او علامه شامی ليکلې دی چه يو قول په دې کښې دا دې چه مطلقا جائز دی او اصح دا ده چه د حاجت په وخت جائز دی گينې مکروه

جلوس المحدث فی المسجد

دا خبره خو د حدث في المسجد وه، او بل ځيز دې دلته د جلوس المحدث فی المسجد. پس ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه دا د حديث نه معلوميږی چه حدث اصغر د جلوس فی المسجد د جواز نه مانع نه دې هغه وائی چه بعض علماء کرامو ددې په جواز باندې اجماع نقل کړې ده خو د اجماع نقل صحيح نه دې ځکه چه د سعيد بن المسيب او حسن بصری مذهب دا دې چه جلوس فی المسجد د محدث دپاره جائز نه دې صرف مرور کولې شي

[٤٧٢]()حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي الْعَاتِكَةِ الْأَزْدِيُّ، عَنْ عُمَيْرِ بْنِ هَانِئٍ الْعَنْسِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَتَى الْمَسْجِدَ لِشَيْءٍ فَهُوَ حَظُّهُ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی. وئيلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ځوک چې مسجد ته په څه نيت سره راغې نو هم دا هغه حصه ده

تشريح: **قوله**: (حدثنا هشام بن عمار.... من اتی المسجد لشیء فهو حظه) يعنی کوم سړې چه مسجد ته د کوم غرض دپاره راځی هم هغه ځيز به د هغه په حصه کښې راځی اوس که هغه راتلل مسجد ته د څه دينی غرض دپاره وی نو هغه ته به ثواب ملاويږی او که د څه دنيوی غرض دپاره وی نو ثواب به ئې هم نه وی.

تنبيه: دا خيال دې اونکړې شی چه په دې حديث او مخکښې روايت کښې تعارض دې، د اولنی حديث نه مطلقا د کيناستلو فضيلت معلوميږی او په دې کښې دا دی چه ځوک په کوم نيت سره مسجد ته لاړ شی هغه ته به هم هغه ملاويږی ځکه چه د مخکښې حديث تعلق د هغه سړی د جلوس سره دې کوم چه مسجد ته د مونځ دپاره راغلې وو او بيا هم هلته کيناستلو او دا حديث عام دې که دهغه مسجد ته راتلل په هر څه نيت سره وی، زه وائم چه په ځره کښې دا سې معلوميږی چه کوم سړې مسجد ته د يو دنيوی غرض دپاره لاړ شی، د خپل څه ذاتی کار دپاره نو د هغه دپاره ثواب نشته او کوم سړې چه مسجد ته د مونځ يا د بل څه عبادت په غرض باندې لاړ شی نو ترڅو پورې چه په مسجد کښې وی اگر که پوره وخت ئې په عبادت کښې تير نه شی هغه ته به ددې ثواب ملاويږی. والله تعالی اعلم بالصواب

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ إِنْشَادِ الضَّالَّةِ فِي الْمَسْجِدِ

باب دې په بيان د کراهيت د اعلان کولو لپاره د ورکه شوې شي په مسجد کې

ضاله ورک شوی ځيز. او مشهوره دا ده چه دا خاص دې د حيوان سره او غير حيوان ته (لقط) او (ضائع) وئيلې شی، انشاد کوم چه د باب افعال مصدر دې ددې معنی ده د

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٢٧٩) (حسن)

ورک شوی څیز تعریف کول یعنی دا اعلان کول چه که د چا يو څيز ورک شو نو زمونږ نه دې معلوم کړی، او په مجرد کښې ﴿ نشد ينشد نشدا ونشدانا ﴾ د دې معنی ده ورک شوی څيز له لټول او طلب کول، او بعض وائی چه د ثلاثي مجرد نه دې ددې معنی تعريف او طلب دواړه دی په خلاف د انشاد چه ددې معنی صرف د تعريف ده چونکه د ورک شوی څيز تعريف يا طلب په اوچت اواز سره کيږی کوم چه د مسجد د احترام خلاف دې په دې وجه په حديث کښې ددې ممانعت راغلې دې ترديې چه امام مالک او د بعض علماء کرام په نزد په مسجد کښې د تعليم او تعلم دپاره هم اواز اوچتول مکروه دی خو امام ابوحنيفه رحمه الله دې ته جائز وئيلې دی.

[۴۷۳]([1])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ الْجُشَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ يَعْنِي ابْنَ شُرَيْحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْأَسْوَدِ يَعْنِي مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي أَبُو عَبْدِ اللَّهِ مَوْلَى شَدَّادٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ: لَا أَدَّاهَا اللَّهُ إِلَيْكَ، فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهَذَا".

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه به ويل، چې ما اوريدلی د رسول الله ﷺ نه هغه به فرمائيل: چا چې واوريدل د سړی نه چې اعلان ئې کولو د ورک شی په مسجد کښې نو ودې وايي الله دې پيدا نه کړی تاته ځکه جماتونه نه دې جوړ شوی ددې دپاره.

تشريح: **قوله**:﴿ لا اداها الله اليک ﴾ په دې جمله کښې دوه احتمالات مشهور دی. ۱: دا چه دا يوه جمله ده او مطلب دا دې چه الله پاک دې تاته ستا څيز درنکړی. ۲: دا دوه جملې دی او د حرف ﴿ لا ﴾ مدخول محذوف دې يعنی ﴿ لا تنشد ﴾ او دويم جمله ﴿ اداها الله اليک ﴾ يعنی اول ئې هغه په مسجد کښې د اواز اوچتولو نه منع کړو بيا ئې د هغه دپاره دعا اوکړه چه الله پاک دې ستا څيز تاته درکړی.

﴿ فان المساجد لم تبن لهذا ﴾ يا خو دا هم ددې مقولې نه ده چه دا قوله خبره دې هغه ته اوکړی او دا د حکم مذکور علت دې، دا مطلب نه دې چه دا دې هم ورسره اوائی.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْبُزَاقِ فِي الْمَسْجِدِ

باب دې په بيان د کراهيت د لاړو غورځولو کښې په مسجد کښې

بزاق او بصاق او بساق درې واړه قسمه دې يعنی ماء الفم (لاړې) د خولې نه بهر راتلو نه پس او چه ترڅو پورې هغه په خولې کښې دننه وی نو هغې ته ﴿ ريق ﴾ وئيلې شی، دا ابواب المساجد روان دی نو په دې ابوابو کښې مصنف د مسجد اداب او احکام بيانوی بعض د هغې نه دا دی کوم چه په دې باب کښې ذکر شوې دی.

[1]: صحيح مسلم/المساجد ۱۸ (۵۶۸)، سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ۱۱ (۷۶۷)، (تحفة الأشراف: ۱۵۴۴۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۴۹/۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۱۸ (۱۴۴۱) (صحيح)

[٤٧٤]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، وَشُعْبَةُ، وَأَبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "التَّفْلُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وَكَفَّارَتُهُ أَنْ تُوَارِيَهُ".

ترجمه: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې بیشکه نبی ﷺ ویلی دي لاړې غورځول په مسجد کښې گناه ده او کفاره ئې داده چې هغه خښه کړې شي

تشریح: **قوله**:﴿ حدثنا مسلم بن ابراهيم.... التفل في المسجد خطيئة وكفارته ان تواريه ﴾ یعنی په مسجد کښې تهوکل خطاء ده لهذا داسې نه دی کول پکار خو که اوکړی نو د هغې کفاره پوره کول دا دی چه په خپو سره ئې په خاور کښې پټ کړی. ددې حدیث نه په ظاهره کښې معلومیږی چه تفل فی المسجد مطلقا خطاء ده هم دا رائې د امام نووی رحمه الله ده

د حدیث په شرح د امام نووی رحمه الله او د قاضی عیاض رحمه الله سخت اختلاف

په دې کښې د امام نووی رحمه الله او قاضی عیاض رحمه الله مشهور اختلاف دې، قاضی صاحب دا فرمائی چه تفل فی المسجد هغه وخت خطاء ده چه کله ئې هغه دفن کړې نه وی او که د دفن کولو په ارادې سره په مسجد کښې اوتهوکی نو بیا جائز ده، امام نووی رحمه الله د مسلم په شرح کښې ددې رائې سخت تردید کړې دې چه دا رائې بالکل باطله ده، حافظ ابن حجر رحمه الله ددې اختلاف توضیح داسې کړې دې چه دلته دوه احادیث ذکر شوې دی ﴿ التفل في المسجد خطيئة ﴾ او دویم حدیث ﴿ ليبصق عن يساره او تحت قدمه ﴾ یعنی کوم سړې چه مونځ کوی او د تهوکی د وجې نه ئې بلغم خولې ته راشی نو هغه له پکار دی چه نه خو ښې طرف ته تهوکی او نه مخامخ، بلکه گس طرف یا د قدم د لاندې، دا دویم حدیث په ظاهره کښې عام دې برابره خبره ده که هغه په مسجد کښې مونځ کوی یا د مسجد نه خارج، لهذا په حدیثین کښې تعارض شو، د رفع تعارض شکل امام نووی رحمه الله دا اختیار کړو چه د منع حدیث دې د هغه په عموم باندې اوساتلو، او د جواز والا حدیث ئې خاص کړو ددې صورت سره چه کله د مسجد نه خارج مونځ کوی او قاضی عیاض ددې برعکس کړې دی چه د جواز روایت ئې په خپل عموم باندې کیخودلې دې، او د جواز والا حدیث ئې په خپل عموم باندې ساتلې دې برابره خبره ده که مونځ په مسجد کښې کوی یا د مسجد نه بهر او د منع روایت ئې خاص کړې دې د هغه سړی سره کوم چه په مسجد کښې تهوکلو سره دې هغه دفن نه کړی هسې د حافظ میلان د قاضی عیاض رائې طرف ته دې ځکه چه هغه ددې قسم ډیرو روایاتو حواله کړې ده چه د هغې نه د قاضی عیاض د رائې تائید کیږی او معلومیږی چه تفل فی المسجد هم په هغه وخت کښې خطاء ده چه کله هغه دفن نه کړی. زه وایم چه د باب د دریم حدیث نه هم د قاضی عیاض تائید کیږی ﴿ من دخل هذا المسجد الخ ﴾ یعنی کوم سړې چه مسجد ته داخل شو او په هغې کښې د ضرورت د وجې نه لاړې اوتهوکی نو

---

[1]: حديث مسلم بن إبراهيم عن هشام وأبان تفرد به أبو داود تحفة (١١٣٧، ١٣٨٣)، وحديث مسلم بن إبراهيم عن شعبة، صحيح البخاري/الصلاة ٣٧ (٤١٥)، صحيح مسلم/المساجد ١٣ (٥٥٢)، (تحفة الأشراف: ١٢٥١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجمعة ٤٩ (٥٧٢)، سنن النسائي/المساجد ٣٠ (٧٢٤)، مسند احمد (١٧٣/٣، ٢٣٢، ٢٧٤، ٢٧٧)، سنن الدارمي/الصلاة ١١٦ (١٤٣٥) (صحيح)

هغه له پکار دی چه په خاوره کښې ئې دفن کړی او که هلته د دفن څه شکل نه وی نو د خپلې کپړې په یو ګټ کښې دې اوتهوکی او هغه دې اومږی ددې دپاره چه کپړه ئې جذب کړی.

[٤٧٥]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُوعَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا".

ترجمه: د انس بن مالک ﷛ نه روایت هغه وئیلی دی وئیلی دی رسول الله ﷺ لاړې په جمات کښې ګناه ده او کفاره د هغې ښخول دي

[٤٧٦]([2])حَدَّثَنَا أَبُوكَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: النُّخَاعَةُ فِي الْمَسْجِدِ، فَذَكَرَ مِثْلَهُ.

ترجمه: د انس بن مالک ﷛ نه روایت دې هغه وئیلی دې: فرمائیلی دی رسول الله ﷺ خراشکی (دخولې یا پوزې نه) په جمات کښې تهوکل (ګناه ده). بیا ئې ذکر کړو حدیث پشان دهغې.

[٤٧٧]([3])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُومَوْدُودٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حَدْرَدٍ الْأَسْلَمِيِّ، سَمِعْتُ أَبَاهُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دَخَلَ هَذَا الْمَسْجِدَ فَبَزَقَ فِيهِ أَوْتَنَخَّمَ، فَلْيَحْفِرْ فَلْيَدْفِنْهُ، فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ، فَلْيَبْزُقْ فِي ثَوْبِهِ ثُمَّ لِيَخْرُجْ بِهِ".

ترجمه: ابو هريره ﷛ به وئيل فرمائيلی دې رسول الله ﷺ: څوک چې دې مسجد ته داخل شو او لاړې ئې پکې واچولې، او یایې پکې بلغم واچوله نو کنده دې وباسي او هغه دې ښخ کړي، که داسې نه کوی نو لاړې دې واچوی په جامه کښې بیادې بهر اوباسی

[٤٧٨]([4])حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ طَارِقِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُحَارِبِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَامَ الرَّجُلُ إِلَى الصَّلَاةِ، أَوْإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ، فَلَا يَبْزُقْ أَمَامَهُ وَلَاعَنْ يَمِينِهِ، وَلَكِنْ عَنْ تِلْقَاءِ يَسَارِهِ إِنْ كَانَ فَارِغًا أَوْتَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى ثُمَّ لِيَقُلْ بِهِ".

ترجمه: طارق بن عبد الله المحاربی ويلی دي فرمائيلی دی رسول الله ﷺ کله چې ودرېږی سړی مانځه ته، او یا کله چې مونځ کوی یو کس ستاسو نه، نو لاړې دې نه توکي خپلې مخې ته، او نه ښی طرف ته، لکن ګس طرف ته، که چرې فارغ وو او یا لاندې د ګسې خپې نه، بیا دې ومږی په هغې سره

---

[1]): صحيح مسلم/المساجد ٣٧ (٥٥٢)، سنن الترمذي/الجمعة ٤٩ (٥٧٢)، سنن النسائي/المساجد ٣٠ (٧٢٤)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٨) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٩/٣، ٢٠٩، ٢٣٤) (صحيح)

[3]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٣٥٩٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٣٤ (٤٠٨ و ٤٠٩)، ٣٥ (٤١٠ و ٤١١)، صحيح مسلم/المساجد ١٣ (٥٤٨)، سنن النسائي/المساجد ٣٢ (٧٢٦)، سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ١٠ (٧٢٤)، مسند احمد (٢٦٠/٢، ٣٢٤، ٤٧١، ٥٣٢)، سنن الدارمي/الصلاة ١١٦ (١٤٣٨) (حسن صحيح)

[4]): سنن الترمذي/الجمعة ٤٩ (٥٧١)، سنن النسائي/المساجد ٣٣ (٧٢٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦١ (١٠٢١)، (تحفة الأشراف: ٤٩٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٦/٦) (صحيح)

تشریح: قوله: ﴿ حدثنا هناد بن السری.... فلا یبزق امامه ولا عن یمینه الخ ﴾ یعنی په مانځه کښې که د تهوکلو ضرورت راشي نو نه دې وړاندې لاړې تهوکی چه دې طرف ته قبله ده او نه دې ښی طرف ته تهوکی ځکه چه دا طرف یمین محترم دې او ا ګس طرف ته دې وتهوکی که دې طرف ته خوک مونځ کونکې نه وی.

په جانب یمین او جانب یسار ګښې د فرق وجه

دلته دا سوال راځی چه ګس طرف ته د تهوکلو اجازت ولې دې حال دا چه دې طرف ته هم فرشته ده ددې یو جواب خو دا دې چه د ښی طرف ممانعت د فرشتې د وجې نه نه دې بلکه د هغه ښې طرف فی نفسه اشرف دې او بعض ددې جواب د اورکړې دې چه ملک الیمین کاتب حسنات دې او ملک الیسار کاتب سیئات دې او کاتب حسنات امیر وی په کاتب سیئات باندې، پس په یو روایت کښې دی چه کله انسان ګناه کوی نو ملک الیمین ملک الیسار لره د لږ ساعت دپاره د هغې د کتابت نه منع کړی چه کیدې شی هغه سړې د خپل معصیت نه رجوع اوکړی، او بعض شارحینو دا وجه بیان کړې ده چه مونځ حسنه دې د ښی طرف والا فرشته کاتب حسنات ده هغه په داسې وخت کښې د مونځ طرف ته متوجه کیږی او د کاتب سیئات د عمل دا وخت نه دې هغه به یو طرف ته ناست وی لهذا په ګس طرف ته تهوکلو کښې هیڅ باک نشته، او ددې نه غوره جواب هغه دې کوم چه د طبرانی د روایت نه معلومیږی چه کله انسان مونځ کوی نو د هغه ښی طرف ته یوه فرشته اودریږی او ګس طرف ته ئې قرین یعنی شیطان، ددې نه معلومه شوه چه د ښی طرف ممانعت د کاتب حسنات د وجې نه نه دې بلکه ددې نه علاوه یوه بله فرشته هغه وخت ښی طرف ته وی او د هغې په مقابله کښې ګس طرف ته شیطان.

قوله: ﴿ لم یقل به ﴾ دلته ﴿ یقل ﴾ د ﴿ یفعل ﴾ په معنی کښې دې، رسول الله ﷺ په اشارې سره پوهه کړو چه بیا دې داسې اوکړی یعنی هغه دې په خاوره کښې دفن کړی، عرب خلق قول په مختلفو معنی کښې استعمالوی، ﴿ قال بیده قال برجله ﴾، یعنی په لاس سره ئې اونیولو او په خپو سره روان شو وغیره وغیره.

[٤٧٩] (¹)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَوْمًا إِذْ رَأَى نُخَامَةً فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَتَغَيَّظَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ حَكَّهَا، قَالَ: وَأَحْسَبُهُ قَالَ: فَدَعَا بِزَعْفَرَانٍ فَلَطَّخَهُ بِهِ، وَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ قِبَلَ وَجْهِ أَحَدِكُمْ إِذَا صَلَّى، فَلَا يَبْزُقْ بَيْنَ يَدَيْهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ إِسْمَاعِيلُ، وَعَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، وَمَالِكٌ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ، وَمُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، نَحْوَ حَمَّادٍ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرُوا الزَّعْفَرَانَ، وَرَوَاهُ مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، وَأَثْبَتَ الزَّعْفَرَانَ فِيهِ، وَذَكَرَ يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ الْخَلُوقَ.

¹): صحیح البخاري/الصلاة ٣٣ (٤٠٦)، والأذان ٩٤ (٧٥٣)، والعمل في الصلاة ٢ (١٢١٣)، والأدب ٧٥ (٦١١١)، صحیح مسلم/المساجد ١٣ (٥٤٧)، (تحفة الأشراف: ٧٥١٨)وقد أخرجه: سنن النسائي/المساجد ٣٠ (٧٢٤)، سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ١٠ (٧٢٤)، موطا امام مالك/القبله ٣ (٤)، مسند احمد (٣٢/٢، ٦٦، ٨٣، ٩٦) سنن الدارمي/الصلاة ١١٦ (١٤٣٧) (صحيح)

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي چې يو ځل رسول الله ﷺ خطبه ورکوله ويې ليدله خنړه په مسجد کښې نو غصه شو خلقو ته، بيا ئې وسولوله، هغه وايې: زه گمان کوم چې هغه ووېل: راويې غوختل زعفران هغه پرې وسولولو، او ويې وئيل: بيشکه الله مخاخ د مخ ستاسو د يو کس ته وي کله چې مونځ کوي نو لاړې دې نه توکې مخې خپلې ته. وئيلي دي ابوداود: روايت کړې دې اسماعيل او عبد الوارث د ايوب نه، او ذکر کړې ئې دې زعفران په هغې کښې، او ذکر کړې دې يحيى بن سليم د عبيد الله نه او هغه د نافع نه د خلوق خوشبوئي.

[۴۸۰]()حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُحِبُّ الْعَرَاجِينَ، وَلَا يَزَالُ فِي يَدِهِ مِنْهَا فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ فَرَأَى نُخَامَةً فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَحَكَّهَا ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ مُغْضَبًا، فَقَالَ: "أَيَسُرُّ أَحَدَكُمْ أَنْ يُبْصَقَ فِي وَجْهِهِ، إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَإِنَّمَا يَسْتَقْبِلُ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَالْمَلَكُ عَنْ يَمِينِهِ، فَلَا يَتْفُلْ عَنْ يَمِينِهِ وَلَا فِي قِبْلَتِهِ وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ فَإِنْ عَجِلَ بِهِ أَمْرٌ فَلْيَقُلْ هَكَذَا، وَوَصَفَ لَنَا ابْنُ عَجْلَانَ ذَلِكَ: أَنْ يَتْفُلَ فِي ثَوْبِهِ ثُمَّ يَرُدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دې، بيشکه نبي ﷺ وو چې خوښ ئې وو عراجين (د قجورې ښانگې پورې لرگې) هميشه وو د هغه له لاس کښې د هغې نه، نو داخل شو مسجد ته نو ويې ليدله خنړه په طرف د مسجد کښې نو ويې سولوله، بيا مخامخ شو خلکو ته په غصه، وې فرمائيل: ايا خوشالوي يو کس ستاسو دا چې توکړې خپلې مخې ته؟ بيشکه يو کس ستاسو نه کله چې مخ کړې قبلې ته بيشکه هغه مخ کوي خپل رب ته او فرشته د هغه ښي طرف ته وي، نو نه دې توکي ښي طرف ته، او نه قبلې ته، ودې توکي گس طرف ته، او يا لاندې د خپې نه، که چيرې په تلوار کړې وو ده څه کار نو داسې دې وکړي او صفت بيان کړو مونږ ته ابن عجلان د دغې چې توکړې په خپله جامه باندې، بيا او مږې ديو بل سره.

مضمون حديث

قوله:حدثنا يحيى بن حبيب.... ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يحب العراجين الخ... د حديث مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک کښې د اونې څانگه چوکه ساتل خوښول، چه کله به ئې چرته تشريف اوړلو نو په لاس کښې به ئې چوکه وه، يو ځل رسول الله ﷺ مسجد ته داخل شو نو مخامخ د قبلې په ديوال باندې هغه بلغم لگيدلې اوليدو نو رسول الله ﷺ هغه په همسا باندې ختمه کړه او بيا د غصې په حالت کښې خلقو ته متوجه شو ورانډې د حديث مضمون واضح دې﴿ فان عجل به امر ﴾ يعنی که چاته ناڅاپه د تهوکلو ضرورت راشی نو د خپلې کپړې په په گوټ باندې دې هغه اوتهوکی او بيا دې هغه اومږې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢٧٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٣٤ (٤٠٨، ٤٠٩)، ٣٥ (٤١٠، ٤١١)، ٣٦ (٤١٣)، صحيح مسلم/المساجد ١٣ (٥٥٠)، سنن النسائي/المساجد ٣٢ (٧٢٦)، سنن ابن ماجه/المساجد ١٠ (٧٦١)، مسند احمد (٦/٣، ٢٤، ٥٨، ٨٨، ٩٣) (حسن صحيح)

ددې دپاره چه جذب شي.

دا حديث د بلغم په پاکوالي باندې دلالت کوي لکه چه د جمهور علماء کرامو مسلک دې البته ابراهيم نخعي د بلغم د نجاست قائل دې. (ابن رسلان)

[٤٨٥](١)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْفَضْلِ السِّجِسْتَانِيُّ، وَهِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيَّانِ، بِهَذَا الْحَدِيثِ وهذا لفظ يحيى بن الفضل السجستاني، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ مُجَاهِدٍ أَبُو حَزْرَةَ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَتَيْنَا جَابِرًا يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ فِي مَسْجِدِهِ، فَقَالَ: أَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِنَا هَذَا وَفِي يَدِهِ عُرْجُونُ ابْنِ طَابٍ، فَنَظَرَ فَرَأَى فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ نُخَامَةً فَأَقْبَلَ عَلَيْهَا فَحَتَّهَا بِالْعُرْجُونِ، ثُمَّ قَالَ: "أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يُعْرِضَ اللَّهُ عَنْهُ بِوَجْهِهِ؟ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي فَإِنَّ اللَّهَ قِبَلَ وَجْهِهِ، فَلَا يَبْصُقَنَّ قِبَلَ وَجْهِهِ وَلَا عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَبْزُقْ عَنْ يَسَارِهِ تَحْتَ رِجْلِهِ الْيُسْرَى، فَإِنْ عَجِلَتْ بِهِ بَادِرَةٌ فَلْيَقُلْ بِثَوْبِهِ هَكَذَا، وَوَضَعَهُ عَلَى فِيهِ، ثُمَّ دَلَكَهُ، ثُمَّ قَالَ: أَرُونِي عَبِيرًا، فَقَامَ فَتًى مِنَ الْحَيِّ يَشْتَدُّ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِخَلُوقٍ فِي رَاحَتِهِ، فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَهُ عَلَى رَأْسِ الْعُرْجُونِ ثُمَّ لَطَخَ بِهِ عَلَى أَثَرِ النُّخَامَةِ"، قَالَ جَابِرٌ: فَمِنْ هُنَاكَ جَعَلْتُمُ الْخَلُوقَ فِي مَسَاجِدِكُمْ.

ترجمه: د عبادة بن الوليد بن عبادة بن الصامت نه روايت دې هغه وايي: مونږ راغلو جابر ابن عبد الله ته، او هغه په خپل مسجد کښې وو، هغه ووئيل راغي مونږ ته رسول الله ﷺ زمونږ په دې مسجد کښې، او په لاس د هغه کښې څانګه وه د ابن طاب (د کجورې يو قسم) نه، نو وئې کتل، نو ويې ليدل په قبلې د مسجد کښې خنړه نو مخامخ شو هغې ته، هغه وګرولو په څانګه د کجورې، بيا ئې ووئيل: کوم يو د تاسو نه خوښوی چې الله اعراض وکړی د هغه نه په خپل مخ باندې، بيا ئې ووئيل: بيشکه يو کس ستاسو نه کله چې ودريږی چې مونځ وکړی بيشکه الله مخامخ د هغه مخ ته وي، نو لاړې دی نه توکی مخامخ د مخ خپل ته، او نه ښي طرف ته، بلکه لاړې دې توکړی چپ طرف ته د چپې خپې لاندې، که چرې تلوار وکړو په ده باندې څه تلوار کونکې نو ودې کړی په جامه خپله باندې داسې او هغه کيخوده په خپله خوله بيا ئې ومږله، بيا ئې وفرمائيل ماته وښائې خوشبويي، نو پاڅيدلو يو ځوان د کلی نه چې منډی ئې وهلی خپل اهل ته نو رايې وړه خوشبويي په ورغوی کې، نو هغه واخسته رسول الله ﷺ، ويې چوله په سر د څانګه بيا ئې ورباندې ولړلو هغه اثر د خنړې. وئيلی دی جابر: ددې وجې نه تاسو ګرځوئ خوشبويي په جماتونو خپلو کښې.

تشريح: **قوله**: حدثنا يحيى بن الفضل.... وفي يده عرجون ابن طاب ﴾ عباده وائی چه يو ځل مونږ د جابر ﷺ په خدمت کښې حاضر شو په داسې حال کښې چه هغه په خپل مسجد کښې وو، ددې نه مراد مسجد د بنو سلمه دې چه هغې ته مسجد بني حرام هم وئيلې شي (كما في وفاء الوفاء) نو هغه اوفرمائيل چه يو ځل رسول الله ﷺ زمونږ مسجد ته تشريف راوړلو هغه وخت د هغه په لاس مبارک کښې د ابن طاب يو همسا وه، ابن طاب د کهجورو د يو خاص قسم نوم دې، په اصل کښې په مدينه کښې يو سړې وو چه د هغه طرف ته دا کهجوره منسوب ده، وړاندې د حديث مضمون واضح دې او بيا د حديث په اخر کښې دی ﴿ ثم قال :

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٣٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٦٤) (صحيح)

اروني عبيرا ﴾ يعنې رسول الله ﷺ ددې همسا په ذريعه دا بلغم اول صفا کړو او وې فرمائيل چه که چا سره عبير وی نو هغه راوړئ، د عبير تفسير په زعفران سره کولې شی او بعض ليکی چه دا يو مرکب خوشبوئی ده چه په هغې کښې زعفران هم وی د عبير ذکر د ګلستان په يو شعر کښې هم شته.

بدو گفتم که مشکی یا عبیری که از بوئے دلاویز تو مستم

په دې باندې يو خوان انصاری په منډه منډه باندې کور ته لاړو او په خپل تلی باندې خلوق کوم چه د يوې خوشبوئ نوم دې راوړل نبی ﷺ هغه خوشبوئی د خپلې همسا په سر باندې پورې کړه او هغه ئې د بلغم په ځائې باندې راښکله

قال جابر: فمن هناک جعلتم الخلوق في مساجدکم... يعنې تاسو خلق چه په خپلو مسجدونو کښې کومه خوشبوئی وغيره لګوئ (که لوړې کول وی يا شيندل وی) ددې اصل هم دا د رسول الله ﷺ عمل دې، زه وائم چه امام نسائی په دې باندې مستقل باب تړلې دې ﴿باب تخليق المساجد﴾ او امام ترمذی ﴿تطيب المساجد﴾

اسطوانه مخلقه

د مسجد نبوی په ستنو کښې يوه ستن "الاسطوانه المخلقة" په نوم سره مشهوره ده په ظاهره کښې په دې باندې خاص طور سره خوشبوئی لګولې شی، د مسجد نبوی بعض ستنې داسې دی کومې چه په يو خاص وصف او نوم سره نامداره دی بلکه د هغې نوم ډير خوشخطه ليکلې شوې دې چه د هغې تفصيل په وفاء الوفاء کښې هم دې، الحمد لله مونږ هم ددې اساطين مبارکه زيارت کړې دې.

تنبيه : په دې احاديثو کښې دا دی چه رسول الله ﷺ په خپلې همسا باندې خوشبوئی اولګوله او د نسائی په روايت کښې دی ﴿فقامت امراة﴾ چه يوه زنانه اودريده او هغې دا خوشبوئی اولګوله. د ابن ماجه په روايت کښې هم دغه شان دی. اوس يا خو به دا د واقعاتو په تعدد باندې محمول کولې شی او يا دې داسې اوويلې شی چه د امام ابوداود په روايت کښې د رسول الله ﷺ طرف ته نسبت مجازی دې د آمر کيدو په حيثيت سره (الفيض السمائی)

[٤٨١](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ بَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ الْجُذَامِيِّ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَيْوَانَ، عَنْ أَبِي سَهْلَةَ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ، قَالَ أَحْمَدُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ فَرَغَ: لَا يُصَلِّي لَكُمْ، فَأَرَادَ بَعْدَ ذَلِكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ فَمَنَعُوهُ وَأَخْبَرُوهُ بِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: نَعَمْ، وَحَسِبْتُ أَنَّهُ، قَالَ: إِنَّكَ آذَيْتَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ".

ترجمه: د ابو سهلة السائب بن خلاد نه روايت دې، بيشکه يو سړی امامت وکړو قوم ته، نو لاړې ئې تو کړې قبلې ته، او رسول الله ﷺ ورته کتل، نو وويل رسول الله ﷺ کله چې فارغ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٧٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٥٦) (حسن)

شو دا دې مونځ نه کوي تاسو ته، نو اراده ئې وکړه د دېنه وروسته چې مونځ وکړي دوي ته نو هغوي منع کړو او خبرېې کړو په قول د رسول الله ﷺ، نو ذکر ئې کړه دغه رسول الله ﷺ ته، نو هغه وويل: آو. او زه گمان کوم چې هغه وويل: بيشکه تا ضرر ورسوه الله او د هغه رسول ته.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا احمد بن صالح.... انک اذيت الله ورسوله ﴾ کوم سړي چه د مونځ ورکولو په وخت د قبلې طرف ته لاړې تهوکلي وې نو د هغه په باره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل يقينا تا الله او د هغه رسول ﷺ ته تکليف ورکړو، دا ډېر لوئې وعيد دې د قبلې طرف ته په تهوکلو کښې خاص کر د مونځ په حالت کښې.

اشکال او جواب

دلته يو اشکال دا راځي چه په قران کريم کښې الله او رسول ﷺ ته اذيت ورکونکو ته ملعون في الدنيا والاخره وئيلې شوې دي، او دا سړې مسلمان بلکه صحابي وو، جواب دا دې چه د قران کريم والا وعيد دلته صادق نه راځي ځکه چه په قران کريم کښې د ايذاء نه ايذاء بالقصد مراد ده او دلته په حديث کښې ايذاء خطاء او جهلا مراد ده او دا هم امکان دې چه دا سړې منافق وي بيا خو هيڅ اشکال نشته. (بذل)

[۴۸۲]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا سَعِيدٌ الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي، فَبَزَقَ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى".

ترجمه: د ابو العلاء نه روايت دې، هغه د خپل پلار نه روايت کوي په معنى د هغې سره، هغه زيادت کړې دى: بيا ئې ومږلو په خپل پېزار.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا موسى بن اسماعيل... وهو يصلي فبزق تحت قدمه اليسرى ﴾ د امام نووي رحمه الله د رائې تقاضه دا ده چه ممکنه ده دا واقعه د مسجد نه غير وي او د قاضي عياض رائې ته کتلو سره د تخصيص حاجت نشته.

[۴۸۳]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، بِمَعْنَاهُ، زَادَ: ثُمَّ دَلَكَهُ بِنَعْلِهِ.

ترجمه: د ابو العلاء نه روايت دې، هغه د خپل پلار نه روايت کوي په معنى د هغې سره، هغه زيادت کړې دى: بيا ئې ومږلو په خپل پېزار.

[۴۸۴]([3])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا الْفَرَجُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: رَأَيْتُ وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ بَصَقَ عَلَى الْبُورِيِّ، ثُمَّ مَسَحَهُ بِرِجْلِهِ، فَقِيلَ لَهُ: لِمَ فَعَلْتَ هَذَا؟ قَالَ: "لِأَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ".

---

[1]: صحيح مسلم/المساجد ۱۳ (۵۵۴)، (تحفة الأشراف: ۵۳۴۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي/المساجد ۳۴ (۷۲۸)، مسند احمد (۴/۲۵، ۲۶) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۳۴۸) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۱۷۵۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۴۹۰) (ضعيف)

ترجمه: د ابو سيعد ﷛ نه روايت دې هغه ونيلى دي: ما وليدلو واثلة بن الاسقع ﷛ د دمشق په مسجد کښې لاړې ئې توکرى په پوزى بيا ئې مسح کړى په خپه باندې، هغه ته وويل شول: داسې دى ولې وکړل؟ هغه وويل: بيشکه ما ليدلى وو رسول الله ﷺ چې داسې ئې کړى وو.

تشريح: قوله:﴿ عن ابى سعيد قال : رايت واثلة بن الاسقع ﴾ ابوسعيد فرمائى چه ما واثله ﷛ اوليدو د دمشق په مسجد کښې په مونځ کولو باندې چه اول ئې په درئ باندې لاړې اوتهوکلې او بيا ئې په خپې سره پاکې کړې، هغه ته اوونيلې شو چه دا تاسو څه اوکړل نو هغه جواب ورکړو چه ما د رسول الله ﷺ په داسې کولو باندې ليدلې دې، دا حديث ضعيف دې ځکه چه په دې کښې فرج بن فضاله ضعيف دې او د هغه استاذ ابو سعيد مجهول دې لهذا د مسجد په صف باندې باندې تهوکل جائز نه دى، للحديث الصحيح... التفل فى المسجد خطيئة وكفارتها دفنها... د دفن تحقق په کچه زمکه باندې کيدې شى په فرش يا صف باندې تهوکلو سره به هغې کښې مزيد تلويث لازميږى لهذا دا حديث قابل عمل نه دې

بَابٌ مَا جَاءَ فِي الْمُشْرِكِ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ

باب دې په بيان د هغې کې چې راغلي دي په باره د مشرک کې چې ننوځي مسجد ته

د مشرک داخليدل مسجد ته مختلف فيه دى.

په مسئله مترجم بها کښې د ائمه کرامو مذاهب

صحيح دا ده چه دخول مشرک فى المسجد د احنافو په نزد مطلقا جائز دې برابره خبره ده که کافر حربى وى يا ذمي او کتابى، او ددې بالمقابل د امام مالک ﷫ په نزد مطلقا ناجائز دى او د امام شافعى ﷫ په نزد مسجد حرام ته ناجائز او نورو مسجدونو ته جائز دى او امام احمد ﷫ هم ورته د امام شافعى په شان مسجد حرام ته داخليدل خو ناجائز او د هغې نه علاوه مسجدونو ته داخليدلو کښې د هغه دوه روايتونه دى. ۱: عدم الجواز مطلقا ۲ الجواز باذن الامام، ددې مسئلې تفصيل په امانى الاحبار (ص ۱۹ ج ۱) کښې ذکر شوې دې، زمونږ د فقهاء کرامو د عبارتونو نه معلوميږى چه جواز دخول صرف د ذمى دپاره دې، په کوکب کښې هم دغه شان ليکلې دى، شامى په باب الجزيه کښې د علامه سرخسى ﷫ نه نقل کړې دى چه د احنافو په نزد جواز دخول کښې کتابى او حربى برابر دى او په امانى الاحبار کښې هم داسې دى او د احنافو د طرف نه آيت کريمه ﴿ انما المشركون نجس فلا يقربوا المسجد الحرام ﴾ جواب دا دې چه ددې نه مراد لاجل الحج دې، كما فى الكوكب.

[۴۸۶]()حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، أَنَّهُ

---

۱): صحيح البخاري/العلم ٦ (٦٣)، سنن النسائي/الصيام ١ (٢٠٩٤)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ١٩٤ (١٤٠٢)، (تحفة الأشراف: ٩٠٧)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الإيمان ٣ (١٠)، سنن الترمذي/الزكاة ٢ (٦١٩)، مسند احمد (١٤٣/٣، ١٩٣)، سنن الدارمي/الصلاة ١٤٠ (١٤٧٠) (صحيح)

سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ فَأَنَاخَهُ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَقَلَهُ، ثُمَّ قَالَ: "أَيُّكُمْ مُحَمَّدٌ؟ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئٌ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ، فَقُلْنَا لَهُ: هَذَا الْأَبْيَضُ الْمُتَّكِئُ، فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ: يَا ابْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَدْ أَجَبْتُكَ، فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ: يَا مُحَمَّدُ، إِنِّي سَائِلُكَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ".

ترجمه: د شريک بن عبد الله نه روايت دې بيشکه هغه اوريدلی دی د انس بن مالک ﷺ نه چې وئيل يې: راغې شو يو سړی په اوښ باندې نو هغه ئې چو کړو په مسجد کښې، بيا ئې وتړلو، بيا ئې ووئيل: کوم يو په تاسو کښې محمد دی؟ او رسول الله ﷺ تکيه کړی په مينځ د دوی کښې، مونږ وئيل: دا سپين تکيه کونکی، هغه ته سړی ووئيل: اې د عبد المطلب خويه، نو ووئيل ورته نبی ﷺ ستا خبره مې واؤريدله، نو هغه سړی ووئيل: اې محمد! زه تپوس کوم ستانه، بيا راوی پوره حديث بيان کړو.

تشريح: **قوله**: ﴿ حدثنا عيسى بن حماد... دخل رجل على جمل فاناخه في المسجد ﴾ د دې رجل نه مراد ضمام بن ثعلبه دې، لکه چه په وړاندې روايت کښې ددې تصريح ده او دې د بنو سعد بن بکر د طرف نه د قاصد په شکل راغلې وو د هغه قدوم په ۹ هجری کښې شوې وو، په دې روايت کښې دی ﴿ فاناخه في المسجد ﴾ خو مراد ترې عند باب المسجد دې لکه چه د ابن عباس ﷺ په روايت کښې راروان دی په بعض نورو رواياتو کښې هم ددې تصريح ده.

د ابن بطال مالکی د حديث نه استدلال

لهذا ابن بطال مالکی د مالکيانو د مسلک په وجه باندې د حديث د ظاهر نه چه کوم استدلال کړې دې چه د ماکول اللحم حيواناتو ابوال او ارواث پاک دی ځکه چه اوښ ترخو پوزې په مسجد کښې وی نو د هغه هلته د متيازو وغيره احتمال يقينی دې او رسول الله ﷺ مسجد ته د اوښ داخلولو نه منع نه ده فرمائيلې، دا استدلال صحيح نه دې.

قوله: ﴿ ثم قال ايکم محمد ﴾ په رواياتو کښې راځی چه په شروع کښې به رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په مجلس کښې يوځائې بغير د فرق (او امتياز) نه کيناستلو چه د هغې د وجې نه به نوی راتلونکی سړی د هغه متعلق تپوس کولو. روستو صحابه کرامو د رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو چه که اجازت وی نو مونږ به ستاسو دپاره په مجلس کښې لوړ ځائې جوړ کړو ددې دپاره چه راتلونکو ته د تپوس ضرورت رانشی، رسول الله ﷺ ددې اجازت ورکړو، د ابوداود وغيره په روايت کښې به راشی ﴿ فبنينا له دکانا ﴾ چه مونږ د هغه دپاره يو لوړ ځائې جوړ کړو چه په هغې باندې به رسول الله ﷺ د مجلس په وخت کښې کيناستلو.

قوله: ﴿ فقلنا له هذا الابيض المتکئ ﴾ دا چه تکيه وهلې سپين سړې ناست دې، ضمام بن ثعلبه ته چه کله معلومه شوه چه محمد ﷺ دا دې نو هغه ورنزدې شو او عرض ئې اوکړو ﴿ يا ابن عبدالمطلب ﴾ نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل.

د دې کلام تشريح

﴿ قد اجبتک ﴾ [1] په اصل کښې چه کله يو سړې د چا سره خطاب يا خبره کول غواړې نو د عرب خلقو عادت دې هغه وخت وائي چه ﴿ نعم ﴾ چه د هغې مطلب دا وی چه او! وايه څه وئيل غواړې، خو دلته رسول اللهﷺ د عام طريقې خلاف د ﴿ نعم ﴾ په ځائې ﴿ قد اجبتک ﴾ اوفرمائيل، شارحين ليکی چه دلته ددې اسلوب په بدلولو کښې د ناخوښئ طرف ته اشاره ده ځکه چه ددې لفظ ترجمه دا ده چه او! اورم څه وئيل غواړې، او ناخوښی په دې وجه وه چه څنګه رسول اللهﷺ ته خطاب کول د هغه د شان مناسب وو هغه اعرابی داسې نه وو کړې، پس اول خو په شروع کښې هغه د رسول اللهﷺ نوم واخستلو، دويم رسول اللهﷺ ئې د هغه کافر نيکه عبدالمطلب طرف ته منسوب کړو، (قاله الخطابی) خو په دې باندې اشکال دې چه رسول اللهﷺ خو د غزوه حنين په يوه موقع باندې خپله ځپل انتساب د عبدالمطلب طرف ته کړې وو ﴿ انا النبی لا کذب انا ابن عبدالمطلب ﴾ د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه هغه انتساب ضرورة وو او د هغه مقام مناسب وو ځکه چه د هغې مخاطب کفار او مشرکين وو، چا چه د عبدالمطلب سيادت او وجاهت منلو، په دې وجه رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه زه د هغه سړی ځوئې يم کوم چه تاسو هم پيژنئ.

دا حديث په بخاری او مسلم کښې تفصيلاً ذکر دې چه په هغې کښې دا دی چه هغه سړی رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه اې محمدﷺ زه ستا نه ځو تپوسونه کول غواړم، او ښه په شد مد به ئې کوم لهذا په ما باندې مه خفه کيږه، په دې باندې هغه اوفرمائيل ﴿ سل عما بدالک ﴾ څه چه ستا زړه غواړی تپوس اوکړه، هغه د ټولو نه اول د رسول اللهﷺ د رسالت په باره کښې تپوس اوکړو ﴿ الله ارسلک الی الناس کلهم ﴾ په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ اللهم نعم ﴾ او ددې نه روستو ئې بيا د صلوات خمسه په باره کښې تپوس اوکړو چه ايا الله پاک تاته په شپه او ورځ کښې د پنځو مونځونو کولو حکم کړې دې، په دې باندې هم رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ اللهم نعم ﴾ او بيا ددې نه روستو د زکاة او روژې په باره کښې هم دغه شان تپوس اوکړو، او دغه شان سوال او جواب اوشو او بيا په اخر کښې هغه اووې ﴿ امنت بما جئت به ﴾ د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ظاهر دې چه دلته دخول د مشرک فی المسجد موندلې شوې دې

په يو حديث باندې د مصنف او امام بخاریﷺ دوه مختلف ترجمې

امام بخاری په دې حديث باندې په کتاب العلم کښې يوه بله ترجمه قائم کړې ده ﴿ بالعرض علی

---

[1] دلته دا سوال واردیږی چه رسول اللهﷺ خو لاتر اوسه پورې د هغه اعرابی سره هيڅ قسم خبرې نه دی کړی نو بيا به ﴿ قد اجبتك ﴾ وئيل څنګه صحيح وی؟ ددې يوه توجيه دا کړې شوې ده چه د اجابت نه مراد دلته سماع ده يعنی ان شاء سماع چه او! زه ستا خبره اورم تپوس اوکړه څه تپوس کوې، بله توجيه دا کړې شوې ده چه رسول اللهﷺ لا د هغه سره څه کلام نه وو کړې خو په مجلس کښې حاضر صحابه کرامو د هغه ددې خبرې جواب ورکړو او هغه ته ئې وئيلې وو چه رسول اللهﷺ دا دې، لهذا د صحابه کرامو جواب ورکول ګويا د رسول اللهﷺ جواب ورکول دی،

المحدث ﴾ هغه دا چه د حديث د حاصلولو يوه طريقه دا ده چه شاګرد په خپل استاذ باندې پيش کړي لکه څنګه چه دلته په رسول اللهﷺ باندې څو مضامين د سوال په صورت پيش کړل، رسول اللهﷺ د هغه تصديق او اقرار اوفرمائيلو، بيا هغه مضامين هغه اعرابي خپل قوم ته واوړول، په دې باندې اعرابي شاګرد او رسول اللهﷺ محدث او استاذ شو، د امام بخاري د ترجمې مقتضى دا ده چه سائل په وخت د سوال کافر نه وي بلکه مسلمان وي څکه چه ظاهره ده په روايت حديث کښې عرض صرف د مسلمان معتبر کيدې شي نه د کافر عرض.

د دې نه معلومه شوه چه د امام بخاري او امام ابوداود رائې د هغه سړي په باره کښې مختلف دې، حاصل ددې اختلاف رائې دا دې چه د امام بخاري په نزد ﴿ امنت بما جئت به ﴾ کښې اخبار عن الماضي دې چه ما د مخکښې نه ايمان راوړې دې، او د امام ابوداود په نزد دا اخبار نه دې بلکه په دې سره مقصود انشاء ايمان دې چه زه اوس ايمان راوړم او دا هم ممکنه ده چه داسې اووئيلې شي چه ددې جملې مطلب د امام ابوداودؒ په نزد هم هغه وي کوم چه د امام بخاريؒ په نزد دې، څو د امام ابوداودؒ استدلال ددې حديث نه په دخول مشرک في المسجد باندې دې اعتبار سره دې چه ظاهره ده چه صحابه کرامو ته د هغه سړي اسلام راوړل معلوم نه وو او بيا هم هغوی لره مسجد ته د داخليدو نه منع نه کړو او نه ئې ترې د اسلام په باره کښې څه استفسار اوکړو او رسول اللهﷺ هم د صحابه کرامو په دې طرز عمل باندې سکوت اوفرمائيلو چه ددې نه معلومه شوه چه دخول مشرک في المسجد جائز دې.

[۴۸۷]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ نُوَيْفِعٍ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بَعَثَ بَنُو سَعْدِ بْنِ بَكْرٍ ضِمَامَ بْنَ ثَعْلَبَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدِمَ عَلَيْهِ فَأَنَاخَ بَعِيرَهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَقَلَهُ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ: فَقَالَ: أَيُّكُمُ ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، قَالَ: يَا ابْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د ابن عباس ﷠ نه روايت دې، هغه وئيلي دي: ولېږلو بنو سعد بن بکر ضمام بن ثعلبة رسول اللهﷺ ته، نو ورغی هغه ته چوپې کړه خپله اوښه په دروازه د مسجد کښې، بيا ئې وتړله، بيا مسجد ته داخل شو، نو ذکر ئې کړو پشان د هغې، هغه وئيلي دي: چې هغه وويل: کوم يو په تاسو کښې د عبد المطلب ځوی دی؟ وويل رسول اللهﷺ: زه د عبد المطلب ځوی يم. هغه وويل: اې د عبد المطلب ځويه. او بيائې بيان کړو پوره حديث.

[۴۸۸]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، حَدَّثَنَا رَجُلٌ مِنْ مُزَيْنَةَ وَنَحْنُ عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "الْيَهُودُ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ فِي أَصْحَابِهِ، فَقَالُوا: يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فِي رَجُلٍ وَامْرَأَةٍ زَنَيَا مِنْهُمْ".

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٥٠، ٢٦٤، ٢٦٥) (حسن)

[۲]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٧٩)وياتي هذا الحديث في الأقضية برقم (٣٦٢٤،٣٦٢٥)، وفي الحدود برقم (٤٤٥٠، ٤٤٥١) (ضعيف)

ترجمه: د ابو هريرة ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دي: يهود نبي ﷺ ته راغلل او هغه ناست وو په مسجد کښې د خپلو ملګرو سره، هغوی وويل: اې ابو القاسم! په باره د يو سړي او ښځه کښې چې دواړو زنا کړې وه د دوی نه (يعنی مونږ دې باره کښې راغلي يو نوځه حکم دې؟)

تشريح: قوله:﴿ حدثنا محمد بن يحيى بن فارس الخ ﴾ د ضمام بن ثعلبه ﷺ حديث لره په دوه طريق سره د ذکر کولو نه پس اوس مصنف په دې باب کښې دا دويم حديث راوړی، دا حديث به په کتاب الحدود کښې مفصلا راشي چه په هغې کښې د يو يهودی او يوې يهودئي د زنا قصه ذکر شوې ده دې خلقو به د زنا حکم په شريعت محمديه کښې د معلوم کولو دپاره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وو په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ ناست وو ددې نه معلومه شوه چه د غير مسلم دخول مسجد ته جائز دې او د کافر حربی حکم د حديث اول نه معلوم شو.

بَابٌ فِي الْمَوَاضِعِ الَّتِي لَا تَجُوزُ فِيهَا الصَّلَاةُ

باب دې په بيان د هغه ځايونو کښې چې مونځ پکښې جائز نه دی

د ترجمة الباب په عبارت کښې اختصار دې او مراد دا دې ﴿ في المواضع التى تجوز والتى لا تجوز فيها الصلاة ﴾ لهذا اوس د باب حديث اول د ترجمة الباب سره مطابق شو

[۴۸۹]([1])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "جُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ طَهُورًا وَمَسْجِدًا".

ترجمه: د ابو ذر ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دی، وئيلي دی رسول الله ﷺ: ګرځول شوې ده زما لپاره ځمکه پاکونکې او جمات.

تشريح: قوله:﴿ حدثنا عثمان بن ابي شيبة الخ قوله جعلت لى الارض مسجدا وطهورا ﴾ دا حديث مشهور دې چه په اکثر صحاح سته او په صحيحين کښې موجود دې خو مصنف دا مختصر کړې دې، اصل روايت داسې دې ﴿ أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا وَأُحِلَّتْ لِي الْغَنَائِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً ﴾ د دې حديث نه معلوميږی چه د امت محمديه په حق کښې ټوله زمکه مسجد او د مونځ کولو ځائې دې، په خلاف د تيرو امتونو چه د هغوی دپاره مونځ کول جائز نه وو سوا د خپلو عبادت خانو نه، کنيسه او بيعه، خو دلته اشکال دا دې چه د سيدنا عيسى ﷺ په باره کښې راځي چه هغه به په زمکه کښې سياحت کولو ﴿ كان يسيح في الارض ويصلي حيث ادركته الصلاة ﴾ او چرته چه به د مونځ وخت راغلو هم هلته به ئې مونځ کولو، ددې جواب حافظ ابن حجر او علامه عينى دا ورکړې دی چه دا خصوصيت د تيمم په اعتبار سره دې چه خاوره پاکه کړې شوه، د صلاة په اعتبار سره نه دې، يا داسې اوايه چه خصوصيت ددې دواړو من حيث المجموع دې لا من حيث كل فرد،

[1]: تفرد به ابوداود (تحفة الأشراف: ۱۱۹۶۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۵/۵، ۱۴۷، ۲۴۸، ۲۵۶) (صحيح)

او یا دي دا اوونیلې شي چه خصوصیت خو د هر یو دې خو د امم په لحاظ سره نه د انبیاء کرام په اعتبار سره.

[٤٩٠]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ لَهِيعَةَ وَيَحْيَى بْنُ أَزْهَرَ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ الْمُرَادِيِّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ الْغِفَارِيِّ، أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مَرَّ بِبَابِلَ وَهُوَ يَسِيرُ فَجَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ يُؤَذِّنُ بِصَلَاةِ الْعَصْرِ، فَلَمَّا بَرَزَ مِنْهَا أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: "إِنَّ حَبِيبِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانِي أَنْ أُصَلِّيَ فِي الْمَقْبَرَةِ وَنَهَانِي أَنْ أُصَلِّيَ فِي أَرْضِ بَابِلَ فَإِنَّهَا مَلْعُونَةٌ".

ترجمه: د ابو صالح الغفاری نه روایت دې بیشکه علی رضي الله عنه تېر شو بابل ښهر ته نزدې او هغه روان وو، نو راغې ورته مؤذن چې اذان ئې کولو د مانځه د مازیګر دپاره، هرکله چې تیر شو د هغې نه امرئې وکړو مؤذن ته نو اقامت ئې د مونځ وکړو، هرکله چې فارغ شو وېې وئیل: بیشکه زما حبیب ﷺ زه منع کړې یم چې زه مونځ وکړم په مقبرة کښې، او زه ئې منع کړې یم چې مونځ وکړم په ځمکه د بابل کښې ځکه چه هغه ملعونه ده

[٤٩١]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَزْهَرَ، وَابْنُ لَهِيعَةَ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ الْغِفَارِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، بِمَعْنَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ، قَالَ: فَلَمَّا خَرَجَ مَكَانَ فَلَمَّا بَرَزَ.

ترجمه: ابو صالح الغفاری روایت کوی د علی نه، په معنی د سلیمان بن داود سره، هغه وئیلی دي: فَلَمَّا خَرَجَ په ځائې د فَلَمَّا بَرَزَ باندې.

شرح حدیث

تشریح: قوله: حدثنا سلیمان بن داود.... ان علیا رضی الله عنه مر ببابل وهو یسیر... یعنی سیدنا علی رضي الله عنه په خپل یو سفر کښې په بابل ښهر باندې ورتیر شو، ابن رسلان لیکلې دی چه: لعله فی مسیرة الی البصرة. یعنی د سیدنا علی رضي الله عنه چه کوم سفر د مدینې منورې نه د عراق طرف ته شوې وو[٣]، ځکه چه دا هم هغه د بابل ښهر دې چه د هغې ذکر په قران کریم کښې دې چه د کوم ځائې جادوګر مشهور دی، دا د عراق یو مشهور ښهر دې

سیدنا علی رضي الله عنه هلته مونځ ادا اوفرمائیلو او چه کله په دې ښهر باندې ورتیر شو نو بیا ئې مونځ ادا کړو او بیا ئې ددې وجه بیان کړه ﴿ ان حبیبی صلی الله علیه وسلم نهانی الخ ﴾ چه زه خپل محبوب منع کړې یم په ارض بابل کښې د مونځ کولو نه ځکه چه دا زمکه ملعونه ده. دې زمکې ته ملعونه په ظاهره کښې په دې وجه وئیلې شوې دی چه په دې کښې خسف واقع شوې وو په نمرود بن کنعان باندې کوم چه د خپلې زمانې مشهور بادشاه وو د ابراهیم علیه السلام په زمانه کښې، هغه په دې ښهر کښې یو ډیر اوچت محل جوړ کړې وو ددې دپاره چه په هغې باندې د اسمان والو سره قتال اوکړی، ددې واقعې ذکر مفسرینو د ﴿ قد

[١]: تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٣٢٨) (ضعیف)
[٢]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٣٢٨) (ضعیف)
[٣]، ځکه چه هغه خپله دار الخلافه د مدینې منورې په ځائې عراق جوړه کړې وه لکه چه معاویه رضي الله عنه شام او باقي خلفاء راشدینو مدینې لره)

مكر الذين من قبلهم فاتى الله بنيانهم من القواعد ﴾ د لاندې كړې دي. (منهل)

ما يستفاد من الحديث

د دې حديث نه په ظاهره كښې معلوميږي چه په ارض بابل كښې مونځ كول ممنوع دي، امام خطابي فرمائي چه دا د څه مذهب هم نه دي او د دې حديث په سند كښې مقال دې او صحيح حديث د دې معارض دې يعنې د باب اولني حديث، او يا دې داسې اوونيلې شي چه دا نهي د سيدنا علي رضي الله عنه سره خاص ده لكه چه د ﴿ نهاني ﴾ متكلم د صيغې نه معلوميږي.

[۴۹۲]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَقَالَ مُوسَى فِي حَدِيثِهِ فِيمَا يَحْسَبُ عَمْرٌو: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ، إِلَّا الْحَمَّامَ وَالْمَقْبَرَةَ".

ترجمه: د ابو سعيد نه روايت دې هغه ويلې، چې فرمائيلې دي رسول الله ﷺ او وئيلې دي موسى په خپل حديث كښې چې عمرو ئې ګمان كوي، بيشكه نبي ﷺ ويلې دي: ځمكه ټوله مسجد دې مګر حمام او مقبره نه.

تشريح: **قوله**:﴿ حدثنا موسى بن اسماعيل... الارض كلها مسجد الا الحمام والمقبرة ﴾ صلاة في الحمام يعني في المغتسل عن الجمهور ومنهم الائمة الثلاثة... جائز مع الكراهت دې او وجه د كراهت كونه محلا للنجاسة والشيطان دې، او د امام احمد او ظاهريه په نزد بالكل جائز نه دې، غالبا په دې وجه چه د هغوى په نزد نهي فساد منهي عنه لره مقتضي دې، او صلاة في المقبرة هم مختلف فيه دې، د ظاهريه او حنابله په نزد دا هم مطلقا جائز نه دې، او د امام شافعي رحمه الله په نزد د مقبره منبوشه فرق دې يعنې چه په كومه مقبره كښې قبرونه ګډوډ او منتشر وى، د عظام موتى وغيره ګندګي خوره وى نو په هغې كښې خو ناجائز دې او د كومې مقبرې قبرونه چه برابر وى په هغې كښې مونځ جائز مع الكراهت دې او د امام مالك په نزد په هره مقبرې كښې مونځ جائز دې په دې شرط چه طهارة المكان وى او د احنافو په نزد د مقبره په هغه حصه كښې كومه چه دمونځ دپاره تياره كړې شوې وى كښې بغيرد كراهت نه جائز دې ګينې مكروه دې.

هغه مواضع چه په هغې كښې مونځ كول منع دي

د حمام او مقبرې نه علاوه هم بعض مواضع داسې دى چه په هغې كښې د موځ كولو نه په حديث كښې ممانعت راغلې دې، پس د ترمذي او ابن ماجه په حديث كښې د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت سره داسې دى چه رسول الله ﷺ په اووه ځايونو كښې د مونځ كولو نه منع فرمائيلې دې ﴿ في المزبلة ﴾ د دې ذكر پورته شوې دې، ﴿ وقارعة الطريق ﴾ يعنې د لارې په مينځ ﴿ وفي الحمام ﴾ د دې حكم تير شو، ﴿ ومعاطن الابل ﴾ د دې باب وراندې مستقل راروان دې، ﴿ وفوق ظهر بيت الله ﴾، د امام احمد په نزد د بيت الله په چهت باندې مونځ

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۲۰ (۳۱۷)، سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ٤ (۷٤٥)، (تحفة الأشراف: ٤٤٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۳/۳، ۹٦) (صحيح)

صحيح نه دي، او د احنافو په نزد اگر چه صحيح دي خو د ادب خلاف دي او د امام شافعي ﷫ په نزد په يو شرط سره جائز دي هغه دا چه د بيت الله څه اندازه يعني يو ليشت د مصلى مخې ته وي او كه بالكل نښكاره جهت وي نو په دې صورت كښې صحيح نه دي، ځكه چه په دې صورت كښې به دا (صلاة على البيت) وي، نه الى البيت، او د احنافو په نزد دا قيد نشته ځكه چه د بيت الله حقيقت د هغې عمارت او ابادى نه ده بلكه هغه مخصوص فضاء ده كومه چه د زمكې نه تر اسمان پورې ده، او په مزبله او مجزره كښې د اختلاف څه تصريح ملاؤ نه شوه، په ظاهره كښې د مزبله او مجزره هغه حصه كومه كښې چه مونځ كوى كه نجس نه ده نو مونځ به د قرب نجاست په وجه باندې جائز مع الكراهت وى او كه ځائې ناپاک كوى نو صحيح به نه وى هم دغه شان داخل بيت الله كښې د مونځ صحت مختلف فيه دې، د احنافو او شوافعو په نزد مطلقا صحيح دې، د امام مالک او احمد په نزد فرض صحيح نه دې نفل صحيح دې ځكه چه د رسول الله ﷺ نه په بيت الله كښې دننه صرف نفل مونځ كول ثابت دى او د قياس تقاضه هم دا ده چه صحيح نه وى ځكه چه په بيت الله كښې دننه د مونځ كولو په صورت كښې د كعبې د بعض حصې استدبار لازميږى او د ابن جرير طبرى په نزد په بيت الله كښې دننه مطلقا يو مونځ هم صحيح نه دې. والله تعالى اعلم

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الصَّلَاةِ فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ

باب دې په بيان د منع كې د مانځه نه په ځاى د چوكېدو د اوښانو كې

[۴۹۳] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الرَّازِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ، فَقَالَ: لَا تُصَلُّوا فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ، فَإِنَّهَا مِنَ الشَّيَاطِينِ، وَسُئِلَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، فَقَالَ: صَلُّوا فِيهَا فَإِنَّهَا بَرَكَةٌ".

ترجمه: د براء بن عازب ﷜ نه روايت دې، هغه وئيلى دى چې تپوس وشو د رسول الله ﷺ نه په باره د مانځه كښې په ځائې د چوكيدو د اوښانو كې؟ هغه وفرمائيل: تاسو مونځ مه كوئ په ځائې د چوكيدو د اوښانو كښې ځكه دا د شيطانو نه دي. او سوال تربنه وشو د مانځه په باره كښې په شپول د گډو كې؟ هغه وفرمائيل مونځ كوئ په هغې كښې بيشكه دا بركت دى.

تشريح: مبارک جمع د مبرک ده په وزن د جعفر د اوښانو غوجل چه په هغې كښې هغوى ترلې شوې وى، صلاة فى مبارک الابل د ائمه كرامو په نزد مختلف فيه ده، د احنافو او شوافعو په نزد صحيح دې او د ظاهريه او حنابله په نزد صحيح نه دې. د امام مالک نه دوه روايتونه دى ۱. الاعادة فى الوقت، ۲ الاعادة مطلقا، هم دغه شان چه كوم حضرات د مونځ د فساد قائل دى د هغوى په نزد فساد په هر حال كښې دې كه محل طاهر ولې نه وى، په دې باب كښې مصنف چه كوم حديث راوړې دې هغه بعينه هم په دې سند او متن سره په باب مذكور

(١): انظر حديث رقم: ۱۸۴، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۳، ۱۶۸۶) (صحيح)

کښې سره د شرح تير شوي دي.

بَاب مَتَى يُؤْمَرُ الْغُلَامُ بِالصَّلَاةِ

باب دی، کله به حکم کولی شي هلک ته په مانځه باندې

ماشوم يعنی نابالغ هلک، په لغة کښې ددې اطلاق په څه څه باندې کيږی، دا مختلف فيه دی.(۱)

[۴۹۴](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى يَعْنِي ابْنَ الطَّبَّاعِ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مُرُوا الصَّبِيَّ بِالصَّلَاةِ إِذَا بَلَغَ سَبْعَ سِنِينَ، وَإِذَا بَلَغَ عَشْرَ سِنِينَ فَاضْرِبُوهُ عَلَيْهَا".

ترجمه: عبد الملک بن الربيع بن سبرة د خپل پلار نه روايت کوی او هغه د خپل نيکه نه، هغه وئيلی دي چې فرمائيلی دی نبی ﷺ امر کوئ ماشوم ته په مانځه باندې کله چې ورسيږی اوه کلونو ته، او کله چې ورسيږی لسو ته نو ويې وهئ په هغې باندې

تشريح: **قوله**:حدثنا محمد بن عيسى.... مروا الصبى بالصلاة اذا بلغ سبع سنين... يعنی د ماشوم اولياء پلار، نيکه او وصی وغيره له پکار دی چه کله ماشوم د اووه کالو شی نو که هغه هلک وی يا جينۍ وی نو هغوی ته دې د مونځ کولو حکم کوی، هم دغه شان د مونځ کولو طريقه د هغې ارکان او واجبات وغيره دې هغه ته ښائی، فقهاء کرامو ليکلي دی چه په دې تعليم صلاة کښې که د اجرت د ورکولو ضرورت راشی نو هغه دې د صبی د مال نه ورکړې شی که هغه سره مال وی، گينې د پلار د مال نه او هغه سره هم نه وی نو د ماشوم د مور د مال نه.

اووم کال د تمييز دې عام طور سره د اووه کالو ماشوم مميز شی، هغه ته د نبی او گس وغيره تميز راشی هم په دې وجه د اووه کالو قيد دې او که بالفرض مميز نه وی نو بيا نه، ځکه چه د غير مميز ماشوم مونځ صحيح نه دی.

ايا صبی شرعا مامور بالصلاة دی يا نه؟

صبی نابالغ ته د مونځ حکم د تخلق او اعتياد دپاره دې چه د فرض کيدو نه مخکښې هغه د مونځ سره عادت شی چه کوم کار څومره اهم وی د هغې هومره مخکښې تيارې کولې شی، مور د جينۍ د جهيز دپاره تياری کلونو مخکښې شروع کوی، ماشوم بچې فطرة ته ډير نزدې وی او بيا د عمر د زياتيدو سره د نفس اماره عمل دخل شروع کيږی بيا د زياتيدو نه پس د هغه په قابو کښې راتلل گران شی، وراندې په حديث کښې دی ﴿ واذا بلغ عشر سنين فاضربوه عليها ﴾ چه کله ماشوم د لسو کلونو شی يا ئې لسم کال روان شی (فيه قولان) او هغه مونځ نه کوی نو هغه به وهلې شی، خو د ضرب نه ضرب غير مبرح دې يعنی غير شديد مراد

---

(۱): غلام هلک، ددې اطلاق د فطام نه واخله تر د اووه کاله عمر پورې ماشوم باندې کيږی، او دويم قول ددې چه دا د ولادت نه تر بلوغ پورې، او يو قول دا دې چه ﴿ حد التجاء ﴾ پورې يعنی چه ترڅو پورې ئې گيره راختلې نه وی)

(۲): سنن الترمذي للصلاة ۱۸۲ (۴۰۷)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۴۱ (۱۴۷۱)، (تحفة الأشراف: ۳۸۱۰)، وقد أخرجه: مسند أحمد (۴۰۴/۳) (حسن صحيح)

دي، شارحین لیکی چه د لسو کالو ماشوم قریب البلوغ وی او دغه شان په هغه کښې د ضرب تحمل هم پیدا شی په دې وجه د ضرب حکم ورکړې شوې دې، هم دغه شان دې واضحه وی چه په دې حدیث کښې د امر بالصلاة مخاطب د صبی اولیاء دی خو صبی نه دې ځکه چه هغه غیر مکلف دې، لحدیث : رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ الْمَجْنُونِ الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ حَتَّى يُفِيقَ وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ (رواه ابوداود واحمد) د اکثر علماء کرامو رائې داده چه اولیاء ته دا امر په طریقه د وجوب دې، وقیل للندب، په دې حدیث کښې امر بالصلاة امر مذکور دې او اهل اصول لیکلې دی ﴿ الامر بالامر بالشئ لیس امرا بذلک الشئ ﴾ (١) یعنی یو سړی ته د امر کولو حکم کول دا براه راست هغه سړی ته حکم نه دې یعنی د جمهورو رائې ده لهذا ﴿ مرو الصبی بالصلاة ﴾ نه د صبی مامور من الشارع کیدل نه لازمیږی بلکه هغه مامور من الولی دې، صاحب منهل لیکی چه په دې کښې د مالکیانو اختلاف دې هغوی وائی چه ﴿ الامر بالامر بالشئ امر بذلک الشئ ﴾ لهذا د هغوی په نزد ماشوم د شارع د طرف نه مامور بالصلاة شو خو استحبابا نه چه وجوبا.

د حدیث الباب نه د شوافعو په خپل مسلک باندې استدلال

ځان پوهه کړئ چه امام خطابی کوم چه مسلکا شافعی دې هغه د ﴿ واذا بلغ عشر سنین فاضربوه بها ﴾ نه په دې باندې استدلال کړې دې چه که صبی د بلوغ نه روستو مونځ پریږدی نو هغه ته به ددې نه زیاته سزا ورکولې شی او د ضرب نه زیاته سزا د قتل نه سوا څه کیدې شی، پس د علماء ثلاثه مذهب هم دا دې، او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه د ترک صلاة سزا ضرب او حبس دې قتل ئې جائز نه دې، او د امام صاحب دلیل ﴿ لا یحل دم امرئ مسلم الا باحدی ثلاث ﴾ (الحدیث) په دې حدیث کښې د مسلمان د قتل جواز په دې څیزونو کښې منحصر کړې شوې دې. ١: قصاص، ٢: د محصن زنا کول، ٣: ارتداد.

هم دغه شان د هغوی دا وینا چه د ضرب نه روستو د قتل درجه ده صحیح نه ده، خپله د ضرب مختلف درجات دی، ضرب مبرح او غیر مبرح، هم دغه شان ضرب مع الحبس وبدون الحبس وغیره، هم دغه شان چه کوم ضرب قبل البلوغ وی هغه به تادیبا وی او کوم ضرب چه بعد البلوغ وی، هغه به زجرا او تعزیرا وی کوم چه د مخکښې نه اشد دې لهذا د خطابی وغیره استدلال صحیح نه دې. (٢)

[٤٩٥] (٣) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ يَعْنِي الْيَشْكُرِيَّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ سَوَّارٍ أَبِي حَمْزَةَ قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ سَوَّارُ بْنُ دَاوُدَ أَبُو حَمْزَةَ الْمُزَنِيُّ الصَّيْرَفِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ، وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ".

---

(١) یعنی که یو سړی ته اووئیلې شی چه فلانی ته ددې خبرې امر اوکړه نو په دې صورت کښې دا فلان به د اول سړی د طرف نه مامور نه وی بلکه د مامور د طرف نه به مامور وی، لهذا دا صبی دې د والدینو د طرف نه مامور وی نه د شارع علیه السلام د طرف نه.

(٢) د مونځ پریخودونکی حکم دکتاب الصلوة په شروع کښې هم تیر شوې دې.

(٣): تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ٨٧١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٧/٢) (حسن صحيح)

ترجمه: د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده نه روايت دې هغه وايي، وئيلى دى رسول الله ﷺ امر وکړئ تاسو خپل اولاد ته په مانځه باندې چې دوى د اوه کلونو وي، او وهل ورته ورکړئ په دې باندې چې دوى د لسو کلونو وي، او جداوالى راولئ د دوى په مينځ کښې په خائې د اوده کيدو کښې.

تشريح: **قوله:** ﴿ وفرقوا بينهم في المضاجع ﴾ يعنى کله چه رور او خور د لسو کالو شى نو بيا دې په يوځائې کښې بغير د عورت د ستر نه نه اوده کيږى چه بدن ئې د بدن سره نه مس کيږى که هر يو په جدا کپړه کښې مستور وى نو دا د تفريق دپاره فى الجمله کافى ده اگر چه د يو څادر د لاندې وى، خو اولى دا ده چه د لسو کالو نه پس د هر يو کټ او بستره جدا جدا وى ځکه چه د لسو کالو عمر مظنه شهوت دې، په بذل کښې د مجمع البحار نه هم دا نقل کړې شوې دى او ابن رسلان ﴿ وفرقوا بينهم ﴾ د لاندې ليکى ﴿ اى بين الغلمان فالغلام والجارية بالطريق الاولى ﴾ يعنى که دوه رونړه وى نو بيا هم تفريق کول پکار دى او که رور او خور وى نو بيا به هم تفريق په طريق اولى وى او دا شرح هغه وخت ده چه کله د ﴿ فرقوا ﴾ عطف په ﴿واضربوهم ﴾ باندې اومنلې شى، او دا هم احتمال دې چه د ﴿ فرقوا ﴾ عطف په ﴿ مروا اولادكم﴾ باندې وى نو په دې صورت کښې به د عطف تقاضه دا وى چه دا د تفريق المضاجع حکم د اووه کالو په عمر کښې وى، خو په در مختار وغيره کښې د لسو کالو قول اختيار کړې شوې دې.

[٤٩٦] ()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنِي دَاوُدُ بْنُ سَوَّارٍ الْمُزَنِيُّ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ وَزَادَ: وَإِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ خَادِمَهُ عَبْدَهُ أَوْ أَجِيرَهُ، فَلَا يَنْظُرْ إِلَى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهِمَ وَكِيعٌ فِي اسْمِهِ، وَرَوَى عَنْهُ أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو حَمْزَةَ سَوَّارٌ الصَّيْرَفِيُّ.

ترجمه: داود بن سوار المزنى حديث بيان کړې دې په په اسناد هغې سره او معنى د هغې سره، او زيات کړې ئې دې: کله چې په نکاح ورکړى يو کس ستاسو نه وينځه خپله خپل غلام او يا اجير ته، نو نه دې گورې لاندې د نامه نه او بره د زنگون نه. وئيلى دى ابوداود: وهم کړى دى وکيع په نوم د هغه (داؤد بن مسوار) کښې، او روايت کړې دې د هغه نه ابوداود الطيالسى ددې حديث، هغه وئيلى دې: حديث بيان کړى مونږ ته ابو حمزة سوار الصيرفي.

تشريح: **قوله:** ﴿ واذا زوج احدكم خادمه عبده الخ ﴾ د خادم نه مراد جاريه ده يعنى کله چه مولى د خپلې يوې وينزې واده اوکړى اگر چه هغه ئې د خپل غلام سره ولې نه وى کړې يا د خپل ملازم او مزدور سره، نو د مولى دپاره جائز نه دى چه د هغه وينزې د ستر طرف ته نظر اوکړى، ددې نه معلومه شوه چه د ستر نه علاوه باقى حصې ته کتلې شى او مسئله هم دا ده خو بغير د شهوت نه، شهوت سره کتل غير ستر ته هم جائز نه دى ځکه چه اوس هغه وينزه د واده نه پس په مولى باندې حرامه شوه.

(): انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ٨٧١٧) (حسن)

[۴۹۷]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي مُعَاذُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خُبَيْبٍ الْجُهَنِيُّ، قَالَ: دَخَلْنَا عَلَيْهِ، فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ: مَتَى يُصَلِّي الصَّبِيُّ؟ فَقَالَتْ: كَانَ رَجُلٌ مِنَّا يَذْكُرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "إِذَا عَرَفَ يَمِينَهُ مِنْ شِمَالِهِ، فَمُرُوهُ بِالصَّلَاةِ".

ترجمه: حديث بيان كړې دې معاذ بن عبد الله بن خُبيب الجهني، هغه وئيلى دي: مونږ ورغلو هغه (خبيب جهنى) ته، وويل هغه خپلې ښځې ته چه كله به مونځ كوى ماشوم؟ هغې وويل: وو سړې زمونږ نه چې بيان كوى د رسول الله ﷺ نه بيشكه هغه نه تپوس وشو د دغې په باره كښې، نو هغه وويل: كله چې ئې وپيژندلو ښې لاس د چپ لاس نه نو امر ورته وكړئ په مانځه باندې.

تشريح: **قوله**: ﴿ اذا عرف يمينه من شماله الخ ﴾ يعنى كله چه هغه ماشوم داسې عمر ته اورسيږى چه هغه په ښى او ګس كښې فرق كولې شى نو بيا خو هغه ته د مونځ كولو حكم كول پكار دى، او دا معرفت او تميز چونكه عموما په اووه كالو كښې راځى، په دې وجه په تير حديث كښې اووه كاله اووئيلې شو.

بَابُ بَدْءِ الْأَذَانِ

باب دې په بيان د شروع د اذان كښې

اوس ددې ځائې نه مستقل مضمون شروع كيږى په بخارى او نسائى كښې داسې دى كتاب الاذان او د هغې نه روستو باب بدء الاذان.

دلته شو بحثونه دى چه د هغې په شروع كښې بيانول ډير مفيد دى. ۱: المناسبة بما قبله، ۲: الاذان لغة وشرعا، ۳: متى شرع الاذان، ۴: كيفية المشروعية وما يرد عليه من الايراد والجواب، ۴: حكم الاذان واختلاف العلماء فيه، ۶: حكمة الاذان.

مباحث سته متعلقه بالاذان

بحث اول:

چه كله مصنف د مواقيت الصلاة او مساجد د بيان نه فارغ شو نو اوس د جماعت او اذان بيان شروع كوى، د جماعت د مونځ دپاره چونكه د خلقو د اجتماع ضرورت دې په دې وجه مصنف د ابواب الجماعة نه مخكښې ابواب الاذان بيانوى، ځكه چه اذان د خلقو د جمع كولو ذريعه ده.

بحث ثانى:

د دې لغوى معنى د اعلان او اطلاع ده ﴿ قال الله تعالى: واذان من الله ورسوله ﴾ په اصل كښې دا د ﴿ اذن ﴾ بفتحين نه مشتق دې چه د هغې معنى استماع ده او شرعا اذان وئيلې شى ﴿الاعلام بوقت الصلاة بالفاظ مخصوصة ﴾ يعنى د وخت صلاة په مخصوص الفاظ سره اطلاع وركول.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۱۰) (ضعيف)

بحث ثالث:

د بعض غیر صحاح د روایاتو نه معلومیږي چه د اذان مشروعیت د فرضیت صلاة سره په لیلة الاسراء کښې شوې دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا روایات صحیح نه دی، د صحاح د روایاتو نه دا ثابته ده چه رسول الله ﷺ به په مکه مکرمه کښې اذان باندې د اذان او اقامت نه ادا کولو تردې چه کله هغه مدینې منورې ته هجرت اوکړو نو د هجرت په اول کال خو ئې مسجد نبوی تعمیر کړو د هغې نه روستو ئې د اذان په سلسله کښې مشوره اوشوه او په اول کال د هجرت او وئیلې شوې دی چه په دویم کال باندې اذان مشروع شو.

څلورم بحث:

ځان پوهه کړه چه د اذان د مشروعیت په باره کښې دوه احادیث دی. ۱: حدیث د ابن عمر کوم چه متفق علیه دې او په بخاری او مسلم دواړو کښې دې. ۲: د عبدالله بن زید د خوب والا حدیث چه د هغې تخریج اصحاب السنن امام ابوداود او ترمذی وغیره کړې دې، امام ترمذی په باب بدء الاذان کښې دا دواړه احادیث ذکر کړې دی، امام ابوداود صرف دا حدیث ذکر کړې دې، حافظ ابن حجر فرمائي چه د عبدالله بن زید د حدیث تخریج امام بخاری نه دې کړې، لانه لم یکن علی شرطه.

[۴۹۸] (۱) حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى الْخُتَّلِيُّ، وَزِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، وَحَدِيثُ عَبَّادٍ أَتَمُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، قَالَ زِيَادٌ: أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ، عَنْ أَبِي عُمَيْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عُمُومَةٍ لَهُ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ: "اهْتَمَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلَاةِ كَيْفَ يَجْمَعُ النَّاسَ لَهَا، فَقِيلَ لَهُ: انْصِبْ رَايَةً عِنْدَ حُضُورِ الصَّلَاةِ فَإِذَا رَأَوْهَا آذَنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا، فَلَمْ يُعْجِبْهُ ذَلِكَ، قَالَ: فَذُكِرَ لَهُ الْقُنْعُ يَعْنِي الشَّبُّورَ، وَقَالَ زِيَادٌ: شَبُّورُ الْيَهُودِ فَلَمْ يُعْجِبْهُ ذَلِكَ، وَقَالَ: هُوَ مِنْ أَمْرِ الْيَهُودِ، قَالَ: فَذُكِرَ لَهُ النَّاقُوسُ، فَقَالَ: هُوَ مِنْ أَمْرِ النَّصَارَى، فَانْصَرَفَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ وَهُوَ مُهْتَمٌّ لِهَمِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُرِيَ الْأَذَانَ فِي مَنَامِهِ، قَالَ: فَغَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَبَيْنَ نَائِمٍ وَيَقْظَانَ إِذْ أَتَانِي آتٍ فَأَرَانِي الْأَذَانَ، قَالَ: وَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَدْ رَآهُ قَبْلَ ذَلِكَ فَكَتَمَهُ عِشْرِينَ يَوْمًا، قَالَ: ثُمَّ أَخْبَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُخْبِرَنِي؟ فَقَالَ: سَبَقَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ فَاسْتَحْيَيْتُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا بِلَالُ، قُمْ فَانْظُرْ مَا يَأْمُرُكَ بِهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ فَافْعَلْهُ، قَالَ: فَأَذَّنَ بِلَالٌ، قَالَ أَبُو بِشْرٍ: فَأَخْبَرَنِي أَبُو عُمَيْرٍ، أَنَّ الْأَنْصَارَ تَزْعُمُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ لَوْلَا أَنَّهُ كَانَ يَوْمَئِذٍ مَرِيضًا لَجَعَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤَذِّنًا".

ترجمه: د ابو عمیر بن انس نه روایت دې، هغه روایت کوی د خپل تره نه، هغه وئیلی دي: فکرمند شو نبی ﷺ د مانځه په باره کښې چې خلک څنګه راجمع کړی هغې ته، نو وویل شو هغه ته: یوه جنډه ودروه په وخت د حاضریدلو د مونځ کښې، کله چې ئې خلک ووینې خبر به ورکوی بعضی د دوی نه بعضو ته، نو دا خبره ئې خوښه نه شوه، هغه وایې: ذکر کړی شو هغه ته ښکر، او وئیلی دی زیاد: ښکر د یهودو. نو دایې هم خوښ نه شو، او ویې وئیل: دا د کارونو د یهودو نه دی. هغه وایې: ذکر کړی شو هغه ته ناقوس هغه وفرمائیل: دا د کارونو د نصاراو نه دی، نو لاړلو عبد الله بن زید بن عبد ربه او هغه فکرمند وو د وجې د

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵٦۰٤) (حسن)

فکرمندئ د رسول الله ﷺ نه، بیشکه زه په مابین د خوب او ویخوالی کښې وم، چې راغې ماته یو راتلونکی نو ماته ئې اذان وښودلو، هغه وايي: او وو عمر بن الخطاب ﷺ چې هغه لیدلی وو هغه خوب لره مخکې د دېنه نو هغه پټ وساتلو شل ورځې، هغه وايي: بیا ئې رسول الله صلی الله ﷺ خبر کړو، نو هغه ورته وفرمائیل: ته څه شی منع کړی وی چې ما خبر کړې، هغه وویل: مخکې شو زمانه عبد الله بن زید، نو ما حیاء وکړه، نو وویل رسول الله ﷺ: اې بلاله! پاځېږه او ګوره، په هغه شي چې تاته امر کوی عبد الله بن زید هغه وکړه، هغه وايي: اذان وکړو بلال، وئیلی دی ابو بشر: خبر راکړی دی ماته عُمیر: بیشکه انصار ګمان کوی چې عبد الله بن زید که مریض نه وی په دغه ورځ نو رسول الله ﷺ به مؤذن جوړ کړی وو.

د عبدالله بن زید د حدیث مضمون

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د عبدالله بن زید د حدیث مضمون کوم چه مصنف د باب په شروع کښې بیان کړې دې، هغه فرمائي چه رسول الله ﷺ سره خلقو لره د مونځ دپاره د راجمع کولو فکر پید شو چه هغوی څنګه راجمع کړې شی بعض صحابه کرامو مشوره ورکړه د جهنډې د اودرولو چه د مونځ وخت شی نو یوه جهنډه دې اودرولې شی چه خلق هغې ته کتلو سره یو بل ته خبر ورکړی او بعض هغه ته د شبور (۱) مشوره ورکړه کوم چه د ښکر په شکل یو څیز وی چه د هغې په ذریعې سره اواز اوچتولې شی، او بعض ورته د ناقوس مشوره ورکړه کوم چه یو خاص قسم لرګي وی یو وړوکې وی او بل لوئې وی، لوئې ته ناقوس (ټلې) او وړوکی ته وبیل (د لرګی سټک) وئیلې شی چه یو بل لره راواچولې شی نو د هغې نه اواز پیدا کیږی، رسول الله ﷺ دا دواړه مشورې رد کړې، د یهودو او نصاری د مشابهت د وجې نه.

قوله:﴿ فانصرف عبدالله بن زید بن عبد ربه وهو مهتم الخ ﴾ دا مجلس هم دغه شان بغیر د فیصلې نه برخاست شو او په اهل مجلس کښې د ټولو زیات فکرمند عبدالله بن زید پاسیدو ﴿ فاری الاذان فی منامه ﴾ الله پاک هغه ته ددې اهتمام او فکر په وجه باندې دا دولت نصیب کړو چه په خوکښې هغه ته اذان اوښودلې شو چه د هغې خبر هغه رسول الله ﷺ ته ورکړه په دې باندې هغه د اذان د مشروعیت فیصله اوکړه او بلال ﷺ ته ئې حکم اوکړو "یا بلال قم فانظر ما یامرک به عبدالله بن زید".

او حدیث د ابن عمر ﷺ کوم چه په بخاری شریف کښې دې د هغې مضمون دا دې چه د اذان د مشروعیت نه مخکښې به رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره کوله نو بعض ورته د ناقوس مشوره ورکړه او بعض ورته د قرن یهود، دا مشوره روانه وه چه سیدنا عمر ﷺ په مجلس کښې اووې ﴿ اولا تبعثون رجلا ینادی بالصلاة فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم یا بلال قم فناد بالصلاة ﴾.

(۱) د حضرت شیخ په تقریر کښې دی چه شبور د یهودیانو په باجو کښې یوه باجه ده د هغې صورت داسې وی لکه چه په چمیارانو کښې د واده ښادئ په موقع باندې یو اوږد عنق باجه استعمالولې شی کوم نه چه بیګل وئیلې شی. ۱۲)

د اذان د مشروعیت په باره کښې د بخاری او د سنن په حدیث کښې تعارض او د هغې جواب

دا حدیث په ظاهره کښې د اول حدیث خلاف دې ځکه چه دې نه معلومیږی چه د اذان مشروعیت د سیدنا عمر رضی الله عنه په رائې باندې شوې وو اوس په دې دواړو احادیثو کښې تعارض پیدا شو، امام نووی رحمه الله د مسلم په شرح کښې د قاضی عیاض نه دا تاویل نقل کړې دې چه د عمر رضی الله عنه په کلام کښې د نداء مصداق اذا معهود نه دې بلکه مطلق نداء بالصلاة مراد دې ﴿ الصلاة جامعة ﴾ وغیره الفاظ کوم چه د اذان د مشروعیت نه مخکښې وئیلې شو، دویم جواب دا هم ورکړې شوې دې کوم چه حافظ په فتح الباری کښې او علامه سندهی په حاشیه د نسائی کښې نقل کړې دې چه داسې اووئیلې شی چه د ابن عمر رضی الله عنه په حدیث کښې حذف او اختصار واقع شوې دې چه د هغې په وجه باندې د مقصود په فهم کیدو کښې خلل واقع شو او هغه اختصار په دې کښې داسې اوشو چه کوم وخت دا مجلس بغیر د څه فیصلې نه برخاست شو نو د هغې نه روستو عبدالله بن زید خوب اولیدو او بیا ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې خپل خوب بیان کړو چه په هغې باندې عمر رضی الله عنه اوفرمائیل : اولا تبعثون رجلا ینادی بالصلاة. په دې صورت کښې به د عمر رضی الله عنه د کلام نه نداء معهود مراد وی.

غریبه

امام ترمذی رحمه الله چه کله په حدیث د ابن عمر رضی الله عنه باندې د صحت حکم اولګولو نو په دې باندې قاضی ابوبکر بن العربی د ترمذی په شرح کښې اشکال اوکړو "وعجب لابی عیسی کیف حکم علیه بالصحة الخ" په امام ترمذی تعجب دې چه هغه په دې حدیث باندې څنګه د صحت حکم لګولې دې او حال دا چه دا د عبدالله بن زید د مشهور حدیث خلاف دې، په دې باندې شیخ احمد شاکر د ترمذی په حاشیه باندې لیکی : "ولعل القاضی نسی ان الحدیث فی الصحیحین" یعنی ایا د ابن العربی په ذهن کښې دا خبره نشته چه دا حدیث صرف په ترمذی کښې نه دې بلکه دا خو متفق علیه حدیث دې، الغرض د ابن عربی رائې دا ده چه حدیث د ابن عمر صحیح نه دې، په ظاهره احمد شاکر صحیح وئیلې دی چه د ابن العربی په ذهن کښې به دا نه وه چه دا حدیث په بخاری کښې هم شته ګینې هغه به داسې جرأت نه کولې. والله تعالی اعلم

د اذان په مشروعیت باندې یو مشهور اشکال او جواب

ځان پوهه کړه چه د اذان د مشروعیت په دې کیفیت باندې اشکال دې چه د غیر نبی خوب حجت نه دې نو بیا پرې دلته د یو حکم شرعی بنیاد څنګه کیخودلې شو؟ ددې مشهور جواب دا دې چه ممکنه ده ددې خوب سره وحی مقارن شوې وی، پس په مصنف د عبدالرزاق او د مراسیل ابی داود په یو روایت کښې دی چه سیدنا عمر رضی الله عنه چه کله په خوب کښې اذان اولیدو نو هغه ددې خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړه ﴿ فوجد الوحی قد ورد

بذلک﴾ نو عمر ﷺ ته معلومه شوه چه په دې سلسله کښې په رسول الله ﷺ باندې وحی نازله شوې ده، او زه ددې جواب دا ورکوم چه په سنن ابی داود او ترمذی کښې دا دی چه رسول الله ﷺ د عبدالله بن زید په خوب اوریدلو سره اوفرمائیل چه ﴿ انها لرؤیا حق ﴾ چه ستا دا خوب حق دې، او د هغې نه پس رسول الله ﷺ په بلال ﷺ باندې اذان اوکړو، لهذا اوس هغه خوب د نبی د تصدیق د وجې نه حجت شرعیه جوړ شو، اوس ددې حیثیت صرف د یو خوب پاتې نه شو، اوس وراندې په دې کښې دوه احتماله کیدې شی دا تصدیق به رسول الله ﷺ په خپل اجتهاد سره کړې وی ځکه چه رسول الله ﷺ ته د جمهور علماء کرامو په نزد د اجتهاد حق وو، او دا هم ممکنه ده چه دا تصدیق ئې د وحی په ذریعه کړې وی.

رؤیا عمر بن الخطاب

هم دغه شان دې دا هم واضحه وی چه د اذان په باره کښې چه ځنګه خوب عبدالله بن زید اولیدو هم دغه شان ځنګه چه په وړاندې روایت کښې راځی، سیدنا عمر ﷺ هم لیدلې وو بلکه هغه د عبدالله بن زید نه شل ورځې مخکښې لیدلې وو خو هغه ددې ذکر رسول الله ﷺ ته نه وو کړې بیا چه څو ورځې پس د عبدالله بن زید په خوب باندې رسول الله ﷺ سیدنا بلال ﷺ باندې اذان اوکړو او د هغې اواز عمر ﷺ ته اورسیدو نو په دې باندې هغه ته خپل زړو خوب رایاد شو او په منډه منډه د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو او خپل خوب ئې هم رسول الله ﷺ ته ذکر کړو خو رسول الله ﷺ د اذان د مشروعیت فیصله د عبدالله بن زید په خوب باندې کړې وه.

د حدیث د شروح نه معلومیږی چه ددې دوارو صحابه کرامو نه علاوه نورو بعض صحابه کرامو هم د اذان په باره کښې خوب لیدلې دې، پس د طبرانی په یو روایت کښې د ابوبکر صدیق ﷺ د خوب ذکر دې او امام غزالی ﷺ لیکلې دی چه په دې سلسله کښې د لسو نه زیات صحابه کرامو خوب لیدلې دې، خو حافظ ابن حجر ﷺ فرمائی ﴿ لم یثبت شئ من ذلک الا ما جاء من قصة عمر ﴾

په خوب باندې د فیصلې یو بل مثال

دلته یو سوال دا هم کیدې شی چه ایا د اذان نه علاوه هم یو څیز داسې شته چه د هغې فیصله رسول الله ﷺ په خوب باندې کړې وی؟ نو جواب دا دې چه ددې یو بل مثال زمونږ په ذهن کښې شته، په نسائی شریف ج ۱ ص ۱۹۸ کښې د زید بن ثابت ﷺ یو روایت دې چه رسول الله ﷺ ددې خبرې حکم فرمائیلې وو چه د فرض مونځ نه پس درې دیرش کرته سبحان الله، درې دیرش کرته الحمد لله او څلور دیرش کرته الله اکبر لولئ، نو یو انصاری صحابی په خوب کښې اولیدل چه یو ویونکې ورته وائی چه ایا تاته رسول الله ﷺ ددې مذکوره ورد د وئیلو حکم کړې دې نو هغه اووې چه او! نو ویونکی ورته اووې چه د درې کلماتو په ځائې څلور لوله او په دې کښې تهلیل ﴿ لا اله الا الله ﴾ هم شامل کړه او ددې اذکارو عدد ئې د درې دیرش په ځائې پنځویشت کرته کړه نو هغه صحابی سحر د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د خپل خوب تذکره اوکړه په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل

﴿اجعلوها كذلك﴾ چه هم دغه شان کوه.

بحث خامس:

اذان د جمهور او ائمه ثلاثه او هم دغه شان د احنافو په قول باندې راجحه دا ده چه سنت مؤکده دې، د احنافو په نزد دویم قول د وجوب دې، بله دا چه فقهاء کرامو لیکلي دی چه اذان اگر چه سنت مؤکده دې واجب نه دې خو د شعائر اسلام نه دې لهذا که د یو علاقې خلق ددې په ترک باندې اتفاق اوکړی نو امام به ورسره قتال کوی، او د داود ظاهری، اوزاعی او عطاء رحمة الله علیهم په نزد فرض دې، عطاء ددې هم قائل دې چه که یو سړې بغیر د اذان نه مونځ اوکړی نو په هغه باندې ئې اعاده واجب ده، دغه شان اذان د احنافو او حنابله په نزد د منفرد دپاره مستحب دې او د شوافعو او مالکیانو په نزد هم قول راجح کښې او په دې کښې یو قول دا دې ﴿لا يستحب لانه لاستدعاء الجماعة، وقيل يستحب لمن يرجو حضورا لجماعة والا فلا﴾.

بحث سادس:

امام نووی رحمه الله فرمائی چه علماء کرامو د اذان په حکمت کښې څلور څیزونه ذکر کړي دی.
۱: په دې کښې د شعائر اسلام او کلمة التوحید اظهار دې. ۲: د دخول وخت صلاة اطلاع.
۳: د مکان صلاة ښودنه، ۴: د مونځ باجماعت دپاره دعوت، هم دغه شان علماء کرامو لیکلي دی چه اذان د خپل اختصار او قلت الفاظ باوجود امهات مسائل د دین په اهم بنیادی مسائلو باندې مشتمل وو.

قوله: ﴿حدثنا عباد بن موسى الخ...﴾ د دې حدیث په ډیرو اجزاء باندې کلام پورته په ابتدائی مباحثو په ضمن کښې راغلي دې. ﴿فقال يا رسول الله انى لبين نائم ويقظان﴾ عبدالله بن زید خپل خوب بیان فرمائی چه یا رسول الله ﷺ زه د خوب او بیدارئ ترمینځه حالت کښې اوم، شارحین لیکی چه ددې نه مراد نوم خفیف دې چه تردې وخته پورې ماته ډیر خوب نه وو راغلي، او حضرت شیخ په اوجز کښې لیکی چه زما په نزد زیات غوره هغه خبره ده کومه چه علامه سیوطی اختیار کړې ده ﴿وهى الحالة التى تعترى ارباب الاحوال، والصحابة رؤس ارباب الاحوال﴾ یعنی ددې نه هغه حالت مراد دې کوم چه ارباب باطن او اهل کشوف ته پیښیږی یعنی دا خوب نه وو بلکه د بیدارئ د حالت مکاشفه وه

قوله: ﴿اذ اتانى ات فارانى الاذان﴾ د دې خوب تفصیل د راروان باب په رومبی حدیث کښې راروان دې ﴿فكتمه عشرين يوما﴾ یعنی د عبدالله بن زید نه اول قسم خوب سیدنا عمر رضی الله عنه هم لیدلي دې ددې ذکر مونږ سره مخکښې تیر شوې دې ﴿فاستحيت﴾ په ظاهره کښې عمر رضی الله عنه ته چه کله خپل خوب رایاد شو نو فورا ئې رسول الله ﷺ ته بیان نه کړو څکه چه په مجلس کښې د عبدالله بن زید په خوب باندې خبره روانه وه، عمر رضی الله عنه ته هغه وخت خپل خوب بیانولو سره شرم ورغلو په دې وجه هغوی ددې ذکر رسول الله ﷺ ته روستو اوکړو

د ټولو نه اول د اذان ورکولو سعادت

قوله:﴿ يا بلال قم ﴾ د مشروعیت اذان اعزاز اگر چه د عبدالله بن زید سره دې نو د ټولو نه مخکښې د اذان ورکولو سعادت د سیدنا بلال رضي الله عنه په حصه کښې راغلو ځکه چه هغه ددې نه مخکښې په مکه مکرمه کښې د اسلام قبلولو په سزا کښې په ګرمه شګه باندې د کانړو د بوجهه د لاندې د احد احد اوازونه اوچت کړې وو.

قوله:﴿ لولا انه كان يومئذ مريضا الخ ﴾ عبدالله بن زید د انصارو نه دی، د انصارو خواهش وو چه څنګه د اذان د مشروعیت سعادت زمونږ د قبیلې یو فرد ته حاصل شوې وو هم دغه شان د اذان کولو فضیلت هم هغوی ته حاصل شی، خو الله پاک ته داسې منظوره نه وه په دې وجه انصار ددې دپاره عذر بیانوی هغه دا چه عبدالله بن زید دواړه مریض وو د ضعف د وجې نه، اواز نه شی اوچتولې په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم اذان په بلال حبشی رضي الله عنه باندې ورکړو ځکه چه د هغه اواز اوچت وو پس وړاندې په روایت کښې دی چه ﴿ فانه اندى صوتا منك ﴾

دلته په دې روایت کښې خو دومره ده چه وړاندې ﴿ باب الرجل يؤذن ويقيم اخر ﴾ کښې ددې روایت تکمله راروانه ده، هغه دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سیدنا بلال رضي الله عنه ته د اذان ورکولو حکم اوکړو نو په دې باندې عبدالله بن زید رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه اذان ما کتلې وو، ما دا غوښتل چه د اذان ورکولو عمل هم زما نه اخستلې شوې وې په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ﴿ فاقم انت ﴾ چه هم ته اقامت کوه.

باب كَيْفَ الأَذَانُ

باب دی کیفیت د اذان کښې

د دې باب نه د مصنف مقصود د اذان الفاظ او په هغې کښې چه کوم د روایاتو اختلاف دې هغه بیانول دی.

د کلمات اذان تعداد کښې اختلاف

ځان پوهه کړه چه د اذان په کلماتو کښې دوه ځایه اختلاف دې، یو د اذان په شروع کښې د تکبیر متعلق چه هغه څو کرته دې، دویم د شهادتین په باره کښې چه په دې کښې ترجیع شته یا نه، په اوله مسئله کښې صرف د امام مالک اختلاف دې د هغه په نزد د اذان په شروع کښې الله اکبر صرف دوه کرته دې او د باقی ائمه ثلاثه په نزد څلور کرته، او په مسئله ثانیه یعنی ترجیع کښې دوه امامان یو طرف ته دی او دوه بل طرف ته، شوافع او مالکیان د ترجیع قائل دی، احناف او حنابله نه دی، د احنافو او حنابله په نزد د اذان کلمات پنځلس دی او د شوافعو په نزد نولس دی او د مالکیانو په نزد اولس دی، شوافع او مالکیان اگر چه دواړه ډلې د ترجیع قائل دی خو د مالکیانو په نزد چونکه په شروع کښې تکبیر صرف دوه کرته دې په دې وجه د هغوی په نزد د اذان کلمات اولس دی.

هم دغه شان ځان پوهه کړه چه د اقامت باب اگر چه وړاندې مستقلا راروان دې خو په احادیث الباب کښې چونکه د اذان سره اقامت هم مذکور دې په دې وجه په اقامت کښې چه د ائمه کرامو کوم اختلاف دې هغه هم که دلته معلوم شی نو غوره ده، په دلائلو باندې کلام خو به هلته راشی، دلته صرف دومره ځان پوهه کول پکار دی چه جمهور ائمه ثلاث د

اقامت د افراد قائل دی چه کلمات اقامة یو یو ځل اوونیلي شي، او احناف د جفت اقامت قائل دی، د هغوی په نزد د اذان په شان اقامت هم شفعا شفعا دي.

[۴۹۹]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَنْصُورٍ الطُّوسِيُّ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ التَّيْمِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: "لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوسِ يُعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهِ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ، طَافَ بِي وَأَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ نَاقُوسًا فِي يَدِهِ، فَقُلْتُ: يَا عَبْدَ اللَّهِ، أَتَبِيعُ النَّاقُوسَ؟ قَالَ: وَمَا تَصْنَعُ بِهِ؟ فَقُلْتُ: نَدْعُو بِهِ إِلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكَ؟ فَقُلْتُ لَهُ: بَلَى، قَالَ: فَقَالَ: تَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، قَالَ: ثُمَّ اسْتَأْخَرَ عَنِّي غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ قَالَ: وَتَقُولُ إِذَا أَقَمْتَ الصَّلَاةَ: اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَلَمَّا أَصْبَحْتُ، أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا رَأَيْتُ، فَقَالَ: إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ فَأَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَأَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهِ فَإِنَّهُ أَنْدَى صَوْتًا مِنْكَ، فَقُمْتُ مَعَ بِلَالٍ فَجَعَلْتُ أُلْقِيهِ عَلَيْهِ وَيُؤَذِّنُ بِهِ، قَالَ: فَسَمِعَ ذَلِكَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ، وَيَقُولُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَقَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ مَا رَأَى، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَلِلَّهِ الْحَمْدُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَكَذَا رِوَايَةُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، وقَالَ فِيهِ ابْنُ إِسْحَاقَ: عَنْ الزُّهْرِيِّ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، وقَالَ مَعْمَرٌ، وَيُونُسُ: عَنْ الزُّهْرِيِّ فِيهِ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، لَمْ يُثَنِّيَا.

ترجمه: حديث بيان کړي دې عبد الله بن زيد ، هغه وئيلى دي: هرکله چې امر وکړو رسول الله ﷺ په ناقوس چې جوړ کړی شي، او وهلی کېږی لپاره د جمع کولو خلقو د مانځه دپاره، يو سړی طواف وکړو په ما (يعني راغي ماته) او زه اوده وم، او د هغه په لاس کښې ناقوس وو، ما ورته ووېل: اې د الله بنده دا ناقوس خرڅوې؟ هغه ووېل: په هغې باندې څه کوې؟ ما ورته ووېل: خلک راغوارو په هغې سره مانځه ته، هغه ووېل: ايا زه تاته د دې نه غوره شی ونه ښايم؟ ما ووېل: ولې نه، هغه وايې: چې هغه راته ووېل: چې ته ووايه! الله اکبر الله اکبر، الله اکبر الله اکبر، اشهدُ ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهدُ ان محمدًا رسول الله، اشهدُ ان محمد رسول الله، حي على الصلاة، حي على الصلاة، حي على الفلاح حي على الفلاح، الله اکبر الله اکبر، لا اله الا الله. هرکله چې سحر شو راغلم رسول الله ﷺ ته، نو هغه ته خبر ورکړو په هغه څه چې ما ليدلی وو، هغه وفرمائيل: بيشکه دا حق خوب دی ان شاء الله، پاڅېږه د بلال سره وښايه هغه ته څه چې دې ليدلی دي، نو هغه دې اذان کوی په هغې سره، بيشکه هغه ستانه په اواز کښې اوچت دی. زه پاڅيدم د بلال سره ما ښودلې هغې ته، او هغه اذان کولو په هغې سره، هغه وايي: عمر دغه واوريدې او هغه په خپل کور کښې وو راخکلويې خپل څادر، او وئيل يې: قسم په هغه ذات چې ته ئې رالېږلی ئې ای د الله رسوله! بيشکه ما ليدلی دی په خوب

(): سنن الترمذي/الصلاة ٢٥ (١٨٩)، سنن ابن ماجه/الأذان ١ (٧٠٦)، (تحفة الأشراف: ٥٣٠٩)، مسند احمد (٤٢/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٣ (١٢٢٤) (صحيح)

کښې پښان د هغې چې هغه لیدلی دی، نو وویل رسول الله ﷺ: د الله حمد دی. وئیلی دی ابوداود: دارنګه دی روایت دې د زهری د سعید بن المسیب نه او هغه د عبد الله بن زید نه، او هغه وئیلی دې: په دې کښې اسحاق روایت کوی د زهری نه داسې: الله اکبر الله اکبر، او وئیلی دی معمر او یونس د زهری نه په هغې کښې: الله اکبر الله اکبر او تثنیه ئې نه کړل

تشریح: قوله: (حدثنا محمد بن منصور...حدثنی ابی عبدالله بن زید)... دلته د راوی عبدالله بن زید خوئی محمد دې هغه د خپل پلار عبدالله بن زید نه روایت کوی، لهذا د (ابی) نه مراد (والدی) دې، دا کنیت نه دې بلکه دا یاء د متکلم ده په ترکیب کښې مبدل منه ده او وړاندې عبدالله بن زید بدل واقع شوې دې، یعنی بیان اوکړو ماته زما والد صاحب عبدالله بن زید.

شرح حدیث

(لما امر رسول الله صلى الله عليه وسلم بالناقوس الخ) ظاهره دا ده چه لفظ (امر) صیغه د مجهول ده، او مطلب دا دې چه کله رسول الله ﷺ ته د ناقوس مشوره ورکړې شوه او دا احتمال هم دې چه لفظ په صیغه د معروف وی خو په دې باندې به اشکال دا وی چه رسول الله ﷺ د ناقوس جوړولو حکم چرته ورکړې وو، وئیلې به شی چه مراد د امر نه اراده د امر ده، کیدې شی چه رسول الله ﷺ د ناقوس اراده فرمائیلې وی، په دې بناء چه نصاری د یهودو په نسبت باندې مسلمانانو ته زیات نزدې دی. (قال الله تعالى : وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُمْ مَوَدَّةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَى)

د احادیث الباب تجزیه او په هغې کلام

په دې باب کښې مصنف اولا د عبدالله بن زید ﷺ حدیث په دوه طریقو سره راوړې دې، دواړه طریقې د ترجیع نه خالی دی بلکه د عبدالله بن زید د حدیث ټولې طریقې د ترجیع نه خالی دی، خو د هغه د حدیث په دې طریق کښې افراد اقامت ذکر شوې دې کوم چه د احنافو خلاف دې، دویم دا چه مصنف حدیث د ابومحذوره ﷺ په ډیرو طرقو سره ذکر کړې دې، چه په هغې کښې د ترجیع ثبوت دې لکه چه د شوافعو او مالکیانو مسلک دې خو په دې حدیث کښې د افراد اقامت په ځائې تثنیه اقامت دې لکه چه د احناف مسلک دې.

د عبدالله بن زید روایات د اقامت په باره کښې

هم دغه شان ځان پوهه کړه چه د عبدالله بن زید حدیث د اقامت په باره کښې مختلف دې د هغې په بعض طرق کښې افراد اقامت دې لکه چه د باب په اول حدیث کښې دی، او بعض طرق ئې په تثنیه اقامت باندې دلالت کوی لکه چه ددې باب په حدیث نمبر ۸ کښې د ابن ابی لیلی په روایت کښې راځی (احيلت الصلاة ثلاثة احوال) پس په دې روایت کښې دی (فقام على المسجد فاذن ثم قعد قعدة ثم قام فقال مثلها) په دې روایت کښې اقامت د اذان په شان شمار کړې شوې دې او اذان بالاتفاق تثنیه دې، حاصل دا چه په دې سلسله کښې اصل عبدالله بن زید دې د هغه په یو روایت کښې هم ترجیع نشته، البته د اقامت په باره کښې د هغه روایات دواړه قسمه دی، د اقامت په باره کښې به دلائلو باندې کلام په وړاندې باب

کښې راغې، دلته د اذان متعلق خبره کيږي

په اذان کښې د ترجيع بحث

زمونږ علماء کرامو ليکلي دی چه د ملک منزل من السماء په اذان کښې هم ترجيع نشته، هم دغه شان د سعد قرظ مؤذن د مسجد قباء په اذان کښې هم ترجيع نشه، او د ټولو نه لويه خبره دا چه د سيد المؤذنين سيدنا بلال ﷺ په اذان کښې هم ترجيع نشته[1]، شوافع حضرات د ابومحذوره ﷺ د حديث نه استدلال کوی چه د هغې تقريبا په ټولو طرق کښې ترجيع موجود دي، دې باره کښې زمونږ صاحب هدايه فرمائی چه ﴿ وما رواه کان تعليما فظنه ترجيعا ﴾ د دې وضاحت وړاندې د حديث ابومحذوره ﷺ د لاندې راروان دې، هغه حضرات د ابومحذوره ﷺ د حديث نه ترجيع ثابتوی، پس امام نووی ﷺ فرمائی چه حديث د ابومحذوره ﷺ د عبدالله بن زيد د حديث نه متاخر دې ځکه چه د ابو محذوره ﷺ د اذان قصه د هجرت په اتم کال باندې پيښه شوې ده او د عبدالله بن زيد حديث ابتداء د امر دې ددې جواب حضرت په بذل المجهود کښې دا ورکړې دې چه چا د امام احمد بن حنبل ﷺ نه هم دا سوال اوکړو چه ايا حديث د ابومحذوره ﷺ د عبدالله بن زيد ﷺ د حديث نه متاخر نه دې؟ هغه ورته سمدستی جواب ورکړو چه : اليس قد رجع رسول الله صلى الله عليه وسلم الى المدينة فاقر بلالا على اذان عبدالله بن زيد؟ يعنی اګر چه دا صحيح ده چه د ابومحذوره ﷺ حديث د عبدالله بن زيد د حديث نه مؤخر دې خو دا سوچ خو اوکړئ چه د ابومحذوره ﷺ د اذان واقعه نه پس ايا رسول الله ﷺ د خپل سفر نه په واپس کيدو باندې مدينې ته واپس شوې نه وو، او هلته تلو سره ئې بيا هم هغه د بلال ﷺ اذان کوم چه د عبدالله بن زيد د اذان مطابق وو هغه ئې برقرار او نه ساتلو، نو بيا اوښايئ کړئ چه کوم اذان موخر شو.

د شيخ ابن الهمام رائې

او شيخ ابن الهمام د حديث ابو محذوره ﷺ يو بل جواب کړې دې چه د طبرانی په يو روايت کښې د ابومحذوره ﷺ په حديث کښې ترجيع نشته، لهذا حديث د ابومحذوره ﷺ مضطرب شو په خلاف د حديث د عبدالله بن زيد چه د هغې په يو طريق کښې هم ترجيع نشته

قوله: ﴿ قال ابوداود : هکذا رواية الزهری الخ ﴾ مصنف فرمائی چه د عبدالله بن زيد د حديث دوه طريق دی ۱ : يو محمد بن ابراهيم عن محمد بن عبدالله بن زيد (کما تقدم)، او ۲ دويم طريق زهری عن سعيد بن المسيب وقال : فيه ابن اسحاق عن الزهری الخ... مصنف د محمد بن ابراهيم او د زهری په روايت کښې چه کوم فرق دې هغه بيانوی

---

[1]) په دې باندې ونيلې شوې دی چه د طبرانی په يو روايت کښې د بلال ﷺ په روايت کښې ترجيع موجود ده، زمونږ د طرف نه دا جواب ورکړې شوې دې چه د طبرانی په رواياتو کښې حديث ابومحذوره ﷺ هم د ترجيع نه خالی دې، ماهو جوابکم فهو جوابنا)

ابتداء په اذان کښې د تکبير په عدد کښې اختلاف دې

هغه دا چه د محمد بن ابراهيم په روايت کښې ترييع تکبير دې (د اذان په شروع کښې الله اکبر څلور کرته دې) او د زهري په روايت کښې د هغه شاګردان مختلف دی ابن اسحاق د زهري نه څلور کرته الله اکبر او معمر او يونس د هغه نه الله اکبر صرف دوه کرته نقل کړې دې، زه وائم چه دغه شان په حديث د ابو محذوره ﷺ کښې هم روايات مختلف دی د هغې په بعض طرق کښې تکبير څلور کرته دې او په بعض کښې دوه کرته، او پورته ذکر شوې دی چه مالکيان د دوه کرتو قائل دی. ﴿ لم يثنيا ﴾ معمر او يونس د زهري نه لفظ د الله اکبر په تثنيه سره نه دې ذکر کړې بلکه په افراد سره، دلته دا اشکال دې چه معمر او يونس خو الله اکبر دوه کرته ذکر کړې دې بيا د تثنيه نفي څنګه صحيح شوه، جواب دا دې چه دوه کرته الله اکبر يوځائې کيدو سره يو شمارلې کيږي، څکه چه په يو ساه باندې دوه کرته وئيلې شي.

[۵۰۰](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِي سُنَّةَ الْأَذَانِ، قَالَ: فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِي، وَقَالَ: "تَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، تَرْفَعُ بِهَا صَوْتَكَ، ثُمَّ تَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ، ثُمَّ تَرْفَعُ صَوْتَكَ بِالشَّهَادَةِ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، فَإِنْ كَانَ صَلَاةُ الصُّبْحِ، قُلْتَ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ".

ترجمه: د ابو محذوره نه روايت دې هغه وئيلی دی، ما ووېل ای د الله رسوله! مونږ ته سنت اذان راوښايه؟ هغه وايي: مسح ئې کړو مخکې حصه د سر زما، او ويې وئيل: ته به داسې وايې: الله اکبر الله اکبر، الله اکبر الله اکبر، ته به اوچتوی په دې باندې خپل اواز، اشهدُ ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهدُ ان محمدًا رسول الله، اشهدُ ان محمد رسول الله، ته به ښکته کوی اواز خپل، بيا به اوچتوی خپل اواز په شهادت باندې، اشهدُ ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهدُ ان محمدًا رسول الله، اشهدُ ان محمد رسول الله، حي على الصلاة، حي على الصلاة، حي على الفلاح حي على الفلاح، الله اکبر الله اکبر، لا اله الا الله. که چرې د سحر اذان وو ته به داسې وی: الصلاة خير من النوم، الصلاة خير من النوم، الله اکبر الله اکبر، لا اله الا الله.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا مسدد... عن ابيه عن جده ﴾ د ﴿ ابيه ﴾ نه مراد عبد الملک بن ابی محذوره دې، او د جد نه مراد ابومحذوره ﷺ دې، دا د باب دويم حديث دې د ابومحذوره والا چه په هغې کښې ترجيع ده، مصنف دا مختصرا ذکر کړې دې.

(١): صحيح مسلم/الصلاة ٣ (٣٧٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٦ (١٩١)، سنن النسائي/الأذان ٣ (٦٣٠)، ٤ (٦٣١)، سنن ابن ماجه/الأذان ٢ (٧٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٢١٦٩)، مسند احمد (٣/٤٠٨، ٤٠٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٧ (١٢٣٢) (صحيح)

د اذان ابو محذوره واقعه

تفصيلي روايت په نسائ شريف کښې دې هغه دې اوکتلې شی، هم دغه شان د دارقطنی په یو روایت کښې هم تفصیل دې کوم چه حضرت په بذل کښې ذکر کړې دې، چه د هغې مضمون دا دې، ابو محذوره رضی الله عنه فرمائی چه کله رسول الله ﷺ د فتح مکه نه روستو حنين ته روان شو نو مونږ لس خوانان هلکان د اهل مکه نه په هغه پسې شاته روان شو هغه فرمائی چه زمونږ ملاقات رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو سره په لاره کښې هغه وخت اوشو چه کله هغوی د حنين نه واپس کیدل، چه د هغې صورت داسې جوړ شو چه په لاره کښې په یوځائې کښې د رسول الله ﷺ مؤذن اذان ورکړو چه د هغې اواز مونږ د لرې نه واوریدلو تر دې وخته پورې چونکه مونږ د اسلام نه اعراض کولو، په دې وجه مونږ ټولو هلکانو هم د هغه مؤذن د اذان نقل شروع کړو (د ټوقو په طور) زمونږ د اذان اواز رسول الله ﷺ ته اورسیدو رسول الله ﷺ په مونږ پسې څه کسان راوليږل چه مونږ اونیسی، نو مونږ د هغه په خدمت کښې حاضر کړې شو، هغه رانه تپوس اوکړو چه په تاسو کښې هغه هلک څوک دې د چا اواز چه ما اوریدلې وو او د هغه اواز د ټولو نه زیات اوچت وو، نو زما ملګرو ورته زما په باره کښې اشاره اوکړه او د هغوی اشاره کول صحیح وو، رسول الله ﷺ زما ټول ملګرې خو پريخودل او زه ئې ایسار کړم او ماته ئې اوفرمائیل چه اوس زما په وړاندې اذان اوکړه، دغه وخت کښې زما په نزد د هغه نه څوک هم مکروه او مبغوض نه وو، زه د هغه مخکښې اودريدم او اذان کول مې شروع کړل، د کلمات اذان القاء خپله رسول الله ﷺ په ما باندې کوله په دې روایت کښې بیا دا دی چه رسول الله ﷺ د شهادتين القاء په هغه باندې مکرر اوکړه.

د امام طحاوی رحمه الله رائې

امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه کیدې شی ابومحذوره رضی الله عنه چه کله شهادتين ته رسیدلې وی نو هغه ئې کما حقه په شد او مد سره نه وی وئیلی په دې وجه به ئې رسول الله ﷺ مکرر کړې وی. زه وائم چه ددې وجه ظاهره ده چه یا خو ئې تر دې وخته پورې اسلام نه وو قبول کړې لکه چه د روایات د ظاهری الفاظو نه معلومیږی،[۱] یا کم از کم اسلام د هغوی په زړونو کښې راسخ نه وو، په حدیث د ابو مخذوره رضی الله عنه باندې کلام د وړاندې باب په اول حدیث کښې تیر شوې دې

د سحر په اذان کښې د الصلاة خیر من النوم متعلق کلام

قوله: ﴿ فان کان صلاة الصبح قلت : الصلاة خیر من النوم ﴾ د دې نه معلومه شوه چه د سحر په اذان کښې ددې لفظ زیادت مرفوعا ثابت دې، ائمه ثلاثه چه په هغې کښې احناف هم دی د

---

[۱]) خو د بعض روایتونو نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ ابو محذوره رضی الله عنه ته په اذان کښې اول شهادتين لږ په قلاره اواز باندې د وئیلو خپله فرمائیلي وو او بیا دوباره په اوچت اواز سره، ددې توجیه هم دا ده چه په شروع کښې ورته رسول الله ﷺ شهادتين لره سرا د لوستلو حکم اوفرمائیلو او د ایمان او توحید طرف ته راوستلو دپاره ئې په دویم ځل جهراً د اذان په نیت سره.

هغوی په نزد د سحر په اذان کښې ددې زیادت مستحب دې او د امام شافعي رحمه الله قول قدیم هم دا دې او هم هغه د هغوی په نزد مفتی به دی، او د هغه په قول جدید کښې غیر مستحب دی بعض علماء کرامو لکه ابن قدامه حنبلی او شیخ ابن حجر مکی په دې کښې د احنافو اختلاف هم لیکلې دې چه د هغوی په نزد هم دا غیر مستحب دې خو دا صحیح نه دې. ملاعلی قاري رحمه الله ددې په رد کښې فرمائی ﴿لان ذلک نشاء من قلة الاطلاع علی مذهبنا﴾

دا پورته ذکر شو چه ددې جملې ثبوت مرفوعا دې، او د موطاء امام مالک د روایت نه معلومیږی چه مرفوعا نه دې بلکه د عمر رضي الله عنه د زمانې نه دې، پس امام مالک رحمه الله په مؤطاء کښې بلاغا روایت کړې دی، چه یو ځل د عمر رضي الله عنه مؤذن هغه ته د سحر د مونځ د خبر دپاره لاړو ﴿ فوجده نائما فقال الصلاة خیر من النوم فامره عمر یجعلها فی نداء الصبح ﴾ حضرت شیخ په اوجز کښې فرمائی چه په دې کښې اشکال دا دې چه ددې کلمې د سحر په اذان کښې کیدل د روایت مرفوعه نه ثابت دی، لهذا دا وئیل خو ګران دی چه عمر رضي الله عنه ته به ددې علم نه وی ځکه چه علماء کرامو ددې توجیه دا کړې ده چه د عمر رضي الله عنه مراد دا دې چه ددې کلمې محل صرف د سحر اذان دې نه د امیر په دروازه وئیل، ګویا هغوی په دې خبره باندې نکیر اوفرمائیلو چه د امیر په دروازه باندې تلو سره دا اووئیلې شی او وې فرمائیل چه دا صرف د سحر په اذان کښې وایه، او شاه ولی الله صاحب رحمه الله د موطاء په شرح مصفی کښې لیکی چه کیدې شی د عمر رضي الله عنه مؤذن دا د سحر په اذان کښې وئیل ترک کړې وی، او روستو ئې وئیلو په دې باندې سیدنا عمر رضي الله عنه هغه ته اوفرمائیل چه دا د اذان په وخت کښې وایه. (الفیض السمائی)

[۵۰۱] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ السَّائِبِ، أَخْبَرَنِي أَبِي، وَأُمُّ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ، عَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَ هَذَا الْخَبَرِ، وَفِيهِ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ فِي الْأُولَى مِنَ الصُّبْحِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ مُسَدَّدٍ أَبْيَنُ، قَالَ فِيهِ: قَالَ: وَعَلَّمَنِي الْإِقَامَةَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَإِذَا أَقَمْتَ الصَّلَاةَ، فَقُلْهَا مَرَّتَيْنِ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، أَسَمِعْتَ؟ قَالَ: فَكَانَ أَبُو مَحْذُورَةَ لَا يَجُزُّ نَاصِيَتَهُ وَلَا يَفْرُقُهَا، لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ عَلَيْهَا.

ابو محذورة رضي الله عنه روایت کوی د نبی صلی الله علیه وسلم نه په شان ددې خبر، او په هغې کښې دا هم دی: الصلاة خیر من النوم (دوه ځل) په اولنې کښې د سحر (یعنی په اذان کې) وئیلی دی ابوداود فرمائی او حدیث د مسدد ډیر واضح دی، هغه وئیلی دی په هغې کې هغه وایې او وې ښودلو ماته اقامت دوه دوه ځل. اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، او وئیلی دی عبد الرزاق: او کله چې ته اقامت کوی نو وایه دوه ځل: قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة، ایا تا واوریدل؟ هغه وایې: وو ابو محذورة نه به ئې کټ کول ویښته د تندی خپل، او نه به ئې

پکې لاره کوله، ځکه چه نبی ﷺ په هغې مسح کړې وه.

قوله:(حدثنا الحسن بن علي... في الاولى من الصبح) او په بعض نسخو کښې دی (في الاول) يعنی (الصلاة خير من النوم) دې د سحر په اذان اول اووئيلې شی، اذان ته د اقامت په اعتبار سره اذان اول اووئيلې شو نو ګويا اقامت اذان ثانی دې.

قوله:(قال ابوداود : وحديث مسدد ابين) دا حديث د حسن بن علي دې او د حديث مسدد نه مراد ددې نه مخکښې حديث دې، حديث د مسدد د حديث حسن بن علي نه د اذان د الفاظو په اعتبار سره زيات واضح دې. په هغې کښې د اذان ټول الفاظ بالتفصيل مذکور دی اګر چه په حديث د مسدد کښې يو کمې دې هغه دا چه په هغې کښې اقامت نه دې ذکر شوې په خلاف د حديث حسن بن علي چه په هغې کښې د اقامت اضافه ده کومه چه مصنف وړاندې بيانوی(قال فيه وعلمني الاقامة مرتين)دااقامت ذکر صرف د حسن بن علي په روايت کښې دې.

قوله:(قال ابوداود : وقال عبدالرزاق ..) په دې حديث کښې د ابن جريج نه روايت کونکی دوه کسان دی، ابو عاصم او عبدالرزاق، مصنف ددې دواړو فرق بيانول غواړی، هغه دا چه د ابو عاصم بيان کړې شوې اقامت کښې لفظ (قد قامت الصلاة) نشته، په خلاف د عبدالرزاق چه د هغه په روايت کښې دا لفظ مذکور دې. (اسمعت) دا په دوه طريقو سره لوستلې شوې دې، د مجرد نه به په دې صورت کښې همزه د استفهام دپاره وی چه رسول الله ﷺ د ابومحذوره رضي الله عنه نه تپوس کوی، يا يو استاذ د خپل شاګرد نه چه تا د روايت الفاظ واوريدل؟ او دا هم امکان دې چه دا د اسماع نه وی نو په دې صورت کښې به همزه وصلی وی او مطلب به دا وی چه کله تا د اقامت کلمات اووئيل نو تا جماعت ته واورول، او د اقامت حق دې ادا کړو. او دا ممکنه ده چه دا مطلب ئې وی چه د اقامت الفاظ دومره په زور سره اووئيلې شی چه هغه حاضرين واوری زيات په زور سره نه

خان پوهه کړه چه د حديث ابومخذوره رضي الله عنه د اقامت کلمات دوه دوه دی لکه چه د احنافو مسلک دې، نو دا که په حديث د ترجيع کښې د شوافعو دليل دې نو په اقامت کښې د احنافو دليل دې، د اقامت په سلسله کښې کلام به ان شاء الله د هغې په باب کښې راشي.

[۵۰۲]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، وَسَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، وَحَجَّاجٌ، وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا عَامِرٌ الْأَحْوَلُ، حَدَّثَنِي مَكْحُولٌ، أَنَّ ابْنَ مُحَيْرِيزٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَبَا مَحْذُورَةَ حَدَّثَهُ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْأَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً، وَالْإِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً، الْأَذَانُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَالْإِقَامَةُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ"، كَذَا فِي كِتَابِهِ فِي حَدِيثِ أَبِي مَحْذُورَةَ.

[1]: انظر حديث رقم: ۵۰۰، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۶۹) (حسن صحيح)

ترجمه: ابو محذورة حدیث بیان کړې دې، بیشکه نبی ﷺ هغه ته اذان ښودلی دې نولس ۱۹ کلمې، او اقامت ئې ورته اولس ۱۷ کلمې ښودلی دی، اذان دادې: اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، او اقامت دادې: اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ. همداسې د هغه په کتاب کښې دې په حدیث د ابو محذوره کښې.

تشریح: قوله: ﴿ حدثنا الحسن بن علي... ان ابن محيريز حدثه ان ابا محذورة حدثه ﴾ د ابن محیریز نوم عبدالله دې، حدیث د ابومحذوره د هغه نه کله عبدالله بن محیریز روایت کوی لکه چه دلته دی او کله د هغه خوئې عبدالملک بن ابی محذوره روایت کوی لکه چه وړاندې به راشي، عبدالله بن محیریز ئې هم د خوئي په شان دې ځکه چه هغه یتیم وو او د ابو محذوره رضی الله عنه په تربیت کښې پاتې شوې دې، دا خبره په دې وجه بیانولې شی چه دا به مو وړاندې په کار راځی.

قوله: ﴿ كذا في كتابه في حديث ابي محذوره ﴾ د ﴿ كتابه ﴾ ضمیر د همام راوی طرف ته راجع دې، په سند کښې د همام ډیر شاګردان تیر شوې دی، عفان او سعید او حجاج، دا ټول خلق دا وائی چه ځنګه دا حدیث مونږ ته همام د خپل حفظ نه بیان کړو هم دغه شان د هغه په کتاب کښې هم موجود دی، ددې خبرې ضرورت په دې وجه راپیښ شو چه د همام توثیق او تضعیف کښې د علماء کرامو اختلاف دې، بعض ورته ثقه وائی او بعض غیر ثقه، او بعض وائی چه هغه سئ الحفظ دې او کوم روایت چه د خپلې حافظې نه بیان کړی نو هغه ضعیف دې او که د کتاب نه ئې بیان کړی نو صحیح دې، په دې وجه د همام شاګردانو دا خبره واضحه کړه چه ځنګه هغه دا حدیث مونږ ته حفظا بیان کړې وو هم هغه شان د هغه په کتاب کښې هم موجود وو، په دې حدیث د ابو محذوره رضی الله عنه چه په کوم باندې کلام شروع دې، د اذان په شروع کښې تکبیر څلور کرته دې او وړاندې بعض روایات داسې راروان دی چه په هغې کښې تکبیر صرف دوه کرته دې.

[۵۰۳] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ يَعْنِي عَبْدَ الْعَزِيزِ، عَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ، عَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ، قَالَ: أَلْقَى عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّأْذِينَ هُوَ بِنَفْسِهِ، فَقَالَ: "قُلِ: اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، قَالَ: ثُمَّ ارْجِعْ فَمُدَّ مِنْ صَوْتِكَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا

¹): انظر حديث رقم: ۵۰۰، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۶۹) (صحيح)

اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ".

ترجمه: د ابو محذورة رضي الله عنه نه روايت دي، هغه وايي: وښودلو ماته رسول الله ﷺ اذان کول هغه پخپله، هغه وفرمائيل: ته وايه! اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ – دوه دوه خل – بيا ئې وويل: بيا راواپس شه اوږد کړه خپل اواز، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ٠

[٥٠٤](١)حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ جَدِّي عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ أَبِي مَحْذُورَةَ، يَذْكُرُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا مَحْذُورَةَ، يَقُولُ: "أَلْقَى عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَذَانَ حَرْفًا حَرْفًا اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: وَكَانَ يَقُولُ فِي الْفَجْرِ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ".

ترجمه: ابو محذورة رضي الله عنه به وئيل: وښودلو ماته رسول الله ﷺ اذان يو يو حرف. اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ. اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ٠ هغه وايي: وو چې وئيل به ئې د سحر په اذان کې «الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ»

[٥٠٥](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادٌ يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ عُمَرَ يَعْنِي الْجُمَحِيَّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَيْرِيزٍ الْجُمَحِيِّ، عَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْأَذَانَ، يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَ أَذَانِ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ، وَمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَفِي حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ دِينَارٍ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ أَبِي مَحْذُورَةَ، قُلْتُ: حَدِّثْنِي عَنْ أَذَانِ أَبِيكَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ، فَقَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، قَطْ، وَكَذَلِكَ حَدِيثُ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ ابْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ، عَنْ عَمِّهِ، عَنْ جَدِّهِ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: ثُمَّ تَرْجِعُ فَتَرْفَعُ صَوْتَكَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ.

ترجمه. د ابو محذورة رضي الله عنه نه روايت دي، بيشکه رسول الله ﷺ ورته ښودلی وو اذان، هغه به وئيل. الله اکبر الله اکبر، اشهدُ ان لا اله الا الله، اشهدُ ان لا اله الا الله، بيا ئې ذکر کړو پشان د

(١): انظر حديث رقم: ٥٠٠، (تحفة الأشراف: ١٢١٦٩) (صحيح)

(٢): انظر حديث رقم: ٥٠٠، (تحفة الأشراف: ١٢١٦٩) (صحيح) څلور خله د الله اکبر وئيلو خبره صحيح ده وَكَذَلِكَ حَدِيثُ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنِ ابْنِ أَبِي مَحْذُورَةَ عَنْ عَمِّهِ عَنْ جَدِّهِ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: ثُمَّ تَرْجِعُ فَتَرْفَعُ صَوْتَكَ اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ (منكر)

اذان د ابن جریج باندې، د عبد العزیز بن عبد الملک نه، او پښان د معنی د هغې. وئیلی دی ابوداود او په حدیث د مالک بن دینار کښې، هغه وایي: ما تپوس وکړو د ابو محذورة نه، ما وویل حدیث بیان کړه ماته د اذان د ستا د پلار، چې د رسول الله ﷺ نه ئې نقل کوي. هغه ذکر کړل، وېې وئیل: الله اکبر الله اکبر، بس، او همدارنګه حدیث د جعفر بن سلیمان دی د ابن ابی محذورة نه، او هغه د خپل تره نه او هغه د نیکه نه، مګر هغه دا ویلی دي: چې ته به بیا واپس شې او اواز به اوچت کړې، الله اکبر، الله اکبر.

تشریح: قوله: ﴿ حدثنا محمد بن داود الاسکندرانی... یقول الله اکبر الله اکبر ﴾ په دې کښې تکبیر صرف دوه کرته دې، فقال : الله اکبر الله اکبر قط.. دا ﴿ قط ﴾ د سکون طاء سره دې، په دې روایت کښې هم تکبیر صرف دوه کرته دې. ﴿ عن ابی محذورة عن عمه عن جده ﴾

شرح السند

د سند دا ټکړه موجب اشکال دې ځکه چه په دې کښې دا دی چه د ابومحذوره رضي الله عنه خوئې روایت کوی د خپل تره نه، د ابومحذوره رضي الله عنه د خوئې نوم عبدالملک دې او د هغه د حقیقی تره نوم انیس دې کوم چه د ابو محذوره رضي الله عنه رور دې، د هغه اسلام ثابت نه دې ﴿ قتل یوم بدر کافرا ﴾، هم دغه شان وړاندې ﴿ عن جده ﴾ راروان دې، یعنی ﴿ عم عبدالملک دجد عبدالملک﴾ نه روایت کوی او جد عبدالملک یعنی د ابومحذوره رضي الله عنه پلار چه د هغه نوم معیر دې د هغه هم اسلام ثابت نه دې هم په دې وجه د سند توجیه کړې شوې ده هغه دا چه د ابن ابی محذوره نه مراد ابن ابن ابی محذوره دې یعنی د ابو محذوره پلار چه د هغه نوم معیر دې د هغه هم اسلام ثابت نه دې هم په دې وجه د سند توجیه کړې شوې ده هغه دا چه د ابن ابی محذوره نه مراد ابن ابن ابی محذوره نمسې چه د هغه نوم عبدالعزیز بن عبدالملک دې او د ﴿ عمه ﴾ نه مراد عبدالعزیز مجازی تره دې، یعنی عبدالله بن محیریز لکه چه مخکښې تیر شو چه هغه د ابو محذوره په منزله د خوئی دې، حاصل دا چه عبدالعزیز بن عبدالملک روایت کوی د خپل تره عبدالله بن محیریز نه او عبدالله بن محریز روایت کوی، یعنی ابو محذوره.

او یا دا اووئیلې شی چه ابن ابی محذوره نه مراد ابن ابن ابن ابی محذوره دې یعنی ابراهیم بن اسماعیل بن عبدالملک بن ابی محذوره (چه د هغې ذکر پورته په سند کښې راغلې دې) او هغه روایت کوی د خپل تره عبدالعزیز نه او عبدالعزیز د خپل نیکه ابومحذوره نه.

[۵۰۶] (١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: أُحِيلَتِ الصَّلَاةُ ثَلَاثَةَ أَحْوَالٍ، قَالَ: وَحَدَّثَنَا أَصْحَابُنَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَقَدْ أَعْجَبَنِي أَنْ تَكُونَ صَلَاةُ الْمُسْلِمِينَ، أَوْ قَالَ: الْمُؤْمِنِينَ وَاحِدَةً، حَتَّى لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَبُثَّ رِجَالًا فِي الدُّورِ يُنَادُونَ النَّاسَ بِحِينِ الصَّلَاةِ، وَحَتَّى هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رِجَالًا يَقُومُونَ عَلَى الْآطَامِ يُنَادُونَ الْمُسْلِمِينَ بِحِينِ الصَّلَاةِ حَتَّى نَقَسُوا أَوْ كَادُوا أَنْ يَنْقُسُوا، قَالَ: فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَمَّا رَجَعْتُ لِمَا رَأَيْتُ مِنَ اهْتِمَامِكَ، رَأَيْتُ رَجُلًا كَأَنَّ عَلَيْهِ ثَوْبَيْنِ أَخْضَرَيْنِ

(١): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١١٣٤٤، ١٥٦٣٧، ١٨٩٧٢)، مسند احمد (٥/٢٣٣، ٢٤٦) (صحيح)

فَقَامَ عَلَى الْمَسْجِدِ فَأَذَّنَ ثُمَّ قَعَدَ قَعْدَةً ثُمَّ قَامَ، فَقَالَ مِثْلَهَا، إِلَّا أَنَّهُ يَقُولُ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، وَلَوْلَا أَنْ يَقُولَ النَّاسُ، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: أَنْ تَقُولُوا، لَقُلْتُ: إِنِّي كُنْتُ يَقْظَانَ غَيْرَ نَائِمٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: لَقَدْ أَرَاكَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرًا، وَلَمْ يَقُلْ عَمْرٌو: لَقَدْ أَرَاكَ اللَّهُ خَيْرًا، فَمُرْ بِلَالًا فَلْيُؤَذِّنْ، قَالَ: فَقَالَ عُمَرُ: أَمَا إِنِّي قَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ الَّذِي رَأَى وَلَكِنِّي لَمَّا سُبِقْتُ اسْتَحْيَيْتُ، قَالَ: وَحَدَّثَنَا أَصْحَابُنَا، قَالَ: وَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا جَاءَ يَسْأَلُ فَيُخْبَرُ بِمَا سُبِقَ مِنْ صَلَاتِهِ وَإِنَّهُمْ قَامُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ قَائِمٍ وَرَاكِعٍ وَقَاعِدٍ وَمُصَلٍّ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: قَالَ عَمْرٌو: وَحَدَّثَنِي بِهَا حُصَيْنٌ، عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى حَتَّى جَاءَ مُعَاذٌ، قَالَ شُعْبَةُ: وَقَدْ سَمِعْتُهَا مِنْ حُصَيْنٍ، فَقَالَ: لَا أَرَاهُ عَلَى حَالٍ إِلَى قَوْلِهِ كَذَلِكَ فَافْعَلُوا، قَالَ أَبُو دَاوُد: ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ مَرْزُوقٍ، قَالَ: فَجَاءَ مُعَاذٌ فَأَشَارُوا إِلَيْهِ، قَالَ شُعْبَةُ: وَهَذِهِ سَمِعْتُهَا مِنْ حُصَيْنٍ، قَالَ: فَقَالَ مُعَاذٌ: لَا أَرَاهُ عَلَى حَالٍ إِلَّا كُنْتُ عَلَيْهَا. قَالَ: فَقَالَ: إِنَّ مُعَاذًا قَدْ سَنَّ لَكُمْ سُنَّةً كَذَلِكَ فَافْعَلُوا، قَالَ: وَحَدَّثَنَا أَصْحَابُنَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ أَمَرَهُمْ بِصِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، ثُمَّ أُنْزِلَ رَمَضَانُ، وَكَانُوا قَوْمًا لَمْ يَتَعَوَّدُوا الصِّيَامَ وَكَانَ الصِّيَامُ عَلَيْهِمْ شَدِيدًا، فَكَانَ مَنْ لَمْ يَصُمْ أَطْعَمَ مِسْكِينًا، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ سورة البقرة آية ۱۸۵ فَكَانَتِ الرُّخْصَةُ لِلْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ فَأُمِرُوا بِالصِّيَامِ، قَالَ: وَحَدَّثَنَا أَصْحَابُنَا، قَالَ: وَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَفْطَرَ فَنَامَ قَبْلَ أَنْ يَأْكُلَ لَمْ يَأْكُلْ حَتَّى يُصْبِحَ، قَالَ: فَجَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَأَرَادَ امْرَأَتَهُ، فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ نِمْتُ، فَظَنَّ أَنَّهَا تَعْتَلُّ فَأَتَاهَا، فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَرَادَ الطَّعَامَ، فَقَالُوا: حَتَّى نُسَخِّنَ لَكَ شَيْئًا، فَنَامَ، فَلَمَّا أَصْبَحُوا أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةُ: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ سورة البقرة آية ۱۸۷.

ترجمه: عمرو بن مرة وايي: ما اوريدلي دي د ابن ابی ليلی نه، هغه وئيلی دي: بدل کړې شوې دی په مانځه کښې درې تبديلۍ، هغه وايي: او حديث بيان کړې دې اصحابو زمونږ، بيشکه رسول الله ﷺ ويلی دي: په تعجب کښې اچولی دی ما لره دې خبرې چې شی مونږ د مسلمانانو په جماعت سره، تردې چې ما قصد وکړو چې خواره کړم سړی په کورونو کښې چې اواز وکړی خلقو ته په وخت د مانځه، او تردې چې ما قصد وکړو چې امر وکړم څه سړو ته چې ودرېږی په اوچتو ځايونو چې اواز وکړی هغوی مسلمانانو ته په وخت د مانځه، تردې چې هغوی ناقوس ووهلو اويا نزدې وو چې ناقوس ووهي چه په دې کښې راغی يو سړی د انصارو نه، هغه ووېل: ای د الله رسوله! بيشکه زه چې کله واپس شوم، د وجې د اهتمام ستا نه ما وليدو يو سړی ګويا چې په هغه باندې دوه شنې جامې دې، ودريدو د جمات سره اذان ئې وکړو، بيا کيناستلو لږ شانته، بيا پاڅيدلو پس ويې وئيله په مثل د هغې، مګر هغه دا وويله: قد قامت الصلاة، او که چرې نه وی دا خبره چې راته وبه وايي خلق دروغجن، (وئيلی دی ابن المثنی أن تقولوا: يعنی چه تاسو به راته دروغجن اووايئ) نو ما به ويلی وی بيشکه زه بيدار وم اوده نه وم، پس ووېل رسول الله ﷺ: بيشکه وښودلو تاته الله عز وجل ښه خوب. او نه دې ويلی عمرو (لقد اراک الله خیرًا). نو امر وکړه بلال ته هغه دې اذان وکړي. هغه وايي: پس ووېل عمر: هر چې زه يم ما ليدلی دی پشان د هغې چې ده ليدلی دی، لکن زه چې کله مسبوق شوم نو حياء مې وکړه، هغه وايي: او حديث بيان کړې دې ملګرو زمونږ. هغه وايي: او وو سړی کله چې به راغې تپوس به ئې کولو نو خبرولی به شو په هغې سره چې د ده نه به تېر شوی وو د مانځه د هغه نه، او دوی به ولاړ وو د رسول الله ﷺ څوک ولاړ څوک په رکوع کښې او څوک ناست او څوک مونږ کونکی د

رسول الله ﷺ سره. ونیلی دی ابن المثنی ونیلی دی عمرو: او بیان کړی دی ماته په دې سره حصین د ابن ابی لیلی نه تردې چې راغې معاذ، ونیلی دی شعبة: یقینا ما اوریدلی دی هغې لره د حصین نه، پس هغه وویل: زه ګمان نه کوم په هغه په یو حال باندې، ترد قول د هغه پورې چې همداسې کوئ. ونیلی دی ابوداود: بیا ما رجوع وکړه حدیث د عمرو بن مرزوق ته، هغه وایي: راغې معاذ، نو هغوی اشاره وکړه هغه ته، ونیلی دی شعبة: او دا مې اوریدلې ده د حصین نه، هغه وایي: پس وویل معاذ: زه چه په کوم حال کښې تاسو اووینم هم هغه به کوم (یعنی راتلو سره به په مونځ کښې شریکیږم)، هغه وایي: چې هغه وویل: بیشکه معاذ جوړه ئې کړه تاسو لره یوه طریقه همداسې کوئ. هغه وایي: او حدیث بیان کړې دې مونږ اصحابو زمونږ بیشکه رسول الله ﷺ چې هر کله مدینې ته راغې امرېې وکړو دوی ته په روژه باندې د دریو ورځو، بیا نازل شو رمضان، او وو دوی یو قوم چې د روژې سره عادت نه وو، او وه روژه په دوی باندې سخته پس وو هغه څوک چې روژه به ئې نه نیوله نو طعام د یو مسکین به ئې ورکولو نو نازل شو دا ایت (فمن شهدَ منکم الشهرَ فلیصمهُ) چا چې میاشت د روژې ولیده نو روژه دې ونیسي. نو رخصت د مریض او مسافر لپاره شو، نو امر ورته وشو په روژه نیولو. هغه وایي: او حدیث بیان کړې دې مونږ ته ملګرو زمونږ: هغوی وایي: او وو به سړی کله چې به ئې روژه ماتی وکړو او اوده به شو مخکې د خوراک نه نو خوراک به ئې نه کولو تر صبا پورې، هغه وایي: راغې عمر بن الخطاب اراده ئې د خپلې ښځې لره، هغې ورته وویل: بیشکه زه اوده شوې وم نو ګمان ئې وکړو چې هغه ورته بهانه کوی نو کوروالی ئې وکړو د هغې سره. پس راغې یو سړی د انصارو نه اراده ئې د طعام وه، هغوی ورته وویل: صبر وکړه چې ګرم کړو ستا لپاره څه شی، نو هغه اوده شو، هرکله چې دوی صبا کړو نو نازل شو په هغه باندې دا ایت (احل لکم لیلة الصیام الرفث الی نسائکم) حلال کړی شو ستاسو لپاره په شپه د روژه کښې کوروالی ستاسو د بیبیانو سره.

تشریح: قوله: (حدثنا عمرو بن مرزوق) د ابو محذوره ﷺ د روایاتو سلسله ختمه شوه، اوس مصنف حدیث ثالث عبدالرحمن بن ابی لیلی حدیث بیانوی چه د هغې په شروع کښې (احلت الصلاة ثلاثة احوال) کوم چه هغه د ډیرو صحابه کرامو نه بغیر د نوم د تصریح نه روایت کوی، پس هغه فرمائی (وحدثنا اصحابنا ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الخ) د اصحابنا مراد صحابه کرام دی څکه چه د طحاوی او ترمذی په روایت کښې اصحابنا په ځائې اصحاب محمد دې، لهذا دا حدیث مسند شو نه مرسل،[1] او ا که اصحابنا نه د ابن

[1] په اصل کښې دا حدیث په تشنیة الاقامة کښې د احنافو دلیل دې څکه چه په دې کښې یو لفظ راروان دې (ثم قعد قعدة ثم قال فقال مثلها) په دې کښې اقامت ته د اذان سره تشبیه ورکړې شوې ده، لهذا څنګه چه د اذان په کلماتو کښې تکرار دې هم دغه شان به اقامت کښې هم اوشو. جمهور وائي چه دا حدیث مرسل دې ددې جواب پورته راغلې دې چه د اصحاب نه مراد صحابه دی هغه دویم اشکال دا کړې دې چه دا حدیث منقطع دې، جواب دا دې چه وراندې انقطاع ده نو صرف په بعض طرق کښې (وهو روایة ابن ابي ليلي عن عبدالله بن زيد او عند معاذ بن جبل (كما سياتي قريبا) واما رواية ابن ابي ليلي عن اصحاب محمد كما في رواية الطحاوي والترمذي وغيرهما فلا انقطاع فان عبدالرحمن بن ابي ليلي ادرك مائة وعشرين صحابيا)

ابی لیلی اصحاب مراد وی نو بیشکه دا حدیث به مرسل وې ځکه چه دا خپله تابعی دې او ظاهره ده چه د هغه ملګری به هم تابعی وی.

احيلت الصلاة ثلاثة احوال

اوس تاسو ددې حديث په مفهوم باندې ځان پوهه کړئ، ابن ابی لیلی فرمائی چه په مانځه کښې درې تغیرات پیدا شو او د هغې نه په وړاندې روایت کښې دا هم راځی ﴿ واحيلت الصيام ثلاثة احوال ﴾ یعنی درې قسم تغیرات په صیام کښې اوشو، د مونځ اوله حصه تغیر مشروعیت اذان او اقامت دې، چه په شرع کښې مونځ بغیر د اذان او اقامت نه کیدلو او بیا د صحابه کرامو مشوره او د عبدالله بن زید رضی الله عنه د خوب نه روستو د مونځ دپاره اذان او اقامت مشروع شو، بل تغيير وړاندې راروان دې د صلاة مسبوق په باره کښې ﴿ ولولا ان يقول الناس الخ ﴾ عبدالله بن زید فرمائی چه که ماته د خلقو د اعتراضاتو او ګنګسو ویره نه وې نو ما به وئیل چه ما په خوب کښې اذان نه دې لیدلې بلکه فی الواقع د بیدارئ په حالت کښې مې لیدلې دې، تاسو ته به یاد وی چه د دې نه په وړاندې روایتونو کښې به راتلل ﴿انی لبین نائم ويقظان ﴾ په دې باندې کلام هلته تیر شو

د مونځ دويم تغير

قوله:﴿ وحدثنا اصحابنا ﴾ د دې ځائې د مونځ تغیر بیانوی هغه دا چه په ابتداء کښې د مسبوق د مونځ پوره کولو طریق هغه نه ده، جواب دې بلکه دا وه چه کوم سړې به مسجد ته رسیدلې وې نو هغه مدرکین په اشاره سره داسې بیانوی چه یو رکعت شو یا دوه. نو ددې د معلومیدو نه پس هغه هغه دا کول د په امام پسې نیت ترلو سره اول زر زر خپل فوت شوې رکعت کولو وې چه کله هغه پوره شو نو بیا به ئې باقی مونځ د امام سره د هغه موافق کولو. په دې صورت کښې به د ټولو مونځ د مدرک او مسبوق په یوځائې پوره کیدو. خو په شروع کښې په د جماعت کیفیت دا وو چه په یو وخت کښې څوک په قیام کښې دې څوک په رکوع کښې دې او څوک په سجود کښې، او څوک د امام سره د هغه موافق کونکی والا، هم دا خبره راوی کوی. ﴿ من بين قائم وراكع وقاعد ومصل مع رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾

قوله:﴿ حتى جاء معاذ ﴾ غرض دا چه د مسبوق د مونځ کیفیت داسې روان وو کوم چه پورته ذکر شو، د یوې ورځې خبره ده چه معاذ رضی الله عنه اتفاقاً مسبوق شو، چه کله هغه مسجد ته داخل شو نو مونځ کونکو د مخکښې په شان هغه هم په اشارې سره پوهه کړو خو هغه اوفرمائیل ﴿ لا اراه على حال الا كنت عليها ﴾ چه زه امام په کوم حال باندې بیا مومم هم په هغې باندې به یم یعنی خپل فوت شوې رکعت به اول نه کوم. پس هغه په جماعت کښې شریکیدو سره د امام سره د هغه موافق مونځ اوکړو او د امام د فارغ کیدو نه پس ئې خپل باقی مونځ پوره کړو او سلام ئې وارولو، ظاهره ده چه سیدنا معاذ رضی الله عنه داسې کار په خپل اجتهاد سره اوکړو چه د هغې رسول الله صلی الله علیه وسلم تصویب اوفرمائیلو او وې فرمائیل ﴿ ان معاذ قد سن لكم سنة كذلك فافعلوا ﴾ یعنی معاذ رضی الله عنه ستاسو دپاره ښه طریقه راویستلې ده لهذا هم دغه شان کوئ.

شرح السند

قوله:﴿ قال ابن المثنى قال عمرو : وحدثني بها حصين عن ابن ابي ليلى ﴾... مصنف ذكر شوې حديث په دوه سندونو سره روايت كوى په اول سند كښې د هغه استاذ عمرو بن مرزوق دې او په دويم سند كښې كوم چه د حاء تحويل نه شروع شوې دې، استاذ ابن المثنى دې او عمرو بن مره د دواړو سندونو مشترک راوى دې، په ﴿ قال ابن المثنى ﴾ سره مصنف چه كوم د راويانو اختلاف بيانوى چه ددې تعلق زما په نزد تغير ثانى كوم چه د صلاة مسبوق سره متعلق دې ددې سره،(١) اختلاف مصنف دا بيان كړې دې چه د ابن المثنى په روايت كښې دى چه عمرو بن مره وائى چه څنګه دا روايت ما براه راست د ابن ابى ليلى نه اوريدلې دې هم دغه شان په واسطه د حصين بن ابى ليلى نه مې هم اوريدلې دې، په بذل كښې ددې عبارت هم دا مطلب ليكلې دې، او دا هم احتمال دې چه د عمرو بن مره مراد دا وى چه ددې حديث اوله حصه يعنى تغير اول خو ما د ابن ابى ليلى نه براه راست اوريدلې دې (لكه چه پورته په سند كښې ذكر شو) او د حديث دويمه حصه ما د هغه نه په واسطه د حصين اوريدلې دې ﴿ حتى جاء معاذ ﴾ د دې تعلق د ماقبل عبارت ﴿ كان الرجل اذا جاء يسال ﴾ سره دې

قوله:﴿ قال شعبة : وقد سمعتها من حصين ﴾ پورته په سند كښې اوګورئ تاسو ته به معلومه شى چه شعبه شاګرد دې د عمرو بن مره، نو دلته شعبه دا وائى چه د شروع حصه خو ما د عمرو بن مره نه اوريدلې وه. او دا دويمه حصه په حديث كښې ما چه څنګه د عمرو بن مره نه اوريدلې وه هم دغه شان مې د عمرو بن مره د استاذ نه هم واوريده، ددې عبارت په مطلب كښې هم دوه احتمالات جارى كيږى كوم چه مخكښې بيان كړې شوې دى، يعنى دا چه دا حصه ما صرف د حسين نه واوريده او د عمرو بن مره نه نه. والله تعالى اعلم.

قوله:﴿ ثم رجعت الى حديث عمرو بن مرزوق ﴾ په اصل كښې مصنف د شروع نه خپل استاذ عمرو بن مرزوق د حديث الفاظ رانقل كوى، په مينځ كښې په طور د جمله معترضه د ابن المثنى په روايت كښې چه كوم د راويانو اختلاف وو هغه ئې بيان كړې وو په دې وجه مصنف فرمائى چه اوس زه د خپل استاذ عمرو بن مرزوق د روايت الفاظ نقل كوم.

قوله:﴿ قال شعبة : وهذه سمعتها من حصين ﴾ د ﴿ هذه ﴾ اشاره د جمله سابقه ﴿ فاشار اليه ﴾

---

(١) وفي بعض التقارير هكذا، قوله قال ابن المثني قال عمرو الخ... زما په نزد ددې خاني نه مصنف رحمه الله چه كوم د طرق اختلاف بيان كړې دې د هغې تعلق د پوره حديث سره نه دې بلكه صرف د تغيير ثانى سره دې كوم چه د صلاة مسبوق په باره كښې دې د هغې سره دې، پس د ابن المثنى د بيان مطابق دا حديث عمرو بن مره څنګه چه د ابن ابى ليلى نه روايت كوى هم دغه شان په واسطه د حسين هم د ابن ابى ليلى نه روايت كوى، وراندې تلو سره شعبه هم داسې وائى چه دا حديث ما چه څنګه عمرو بن مره نه اوريدلې دې هم دغه شان مې د خپل شيخ الشيخ حصين نه هم اوريدلې دې او احتمال هم دا دې چه مطلب دا وى چه عمرو وائى چه دا روايت ما صرف د حصين نه واوريدلوو د ابن ابى ليلى نه نه، وهكذا قال شعبة والله اعلم والمختار في البذل المعني الاول، عمرو بن مرزوق د طرق دا اختلاف نه دې بيان كړې صرف د يوې جملې په باره كښې ئې د شعبه قول نقل كړې دې چه دا ما د عمرو بن مره.نه نه دې اوريدلې صرف د حصين نه مې اوريدلې دې)

طرف ته ده، شعبه فرمائي چه دا جمله ما صرف د حصين نه اوريدلې ده د خپل دويم استاذ عمرو بن مره نه نه، ددې كتاب دا مقام د مشكل ځايونونه دې كوم چه الحمد لله حل شو، خبره د ا ده چه په دې كتاب كښې چه مصنف د راويانو كوم اختلاف بيانوى چه د هغې په شروع كښې كله ﴿ قال ابوداود ﴾ ليكي او كله نه، دا مواقع او د هغې حل په دې كتاب كښې خاص اهميت لرى، كوم چه نن صبا د طالبانو او مدرسينو ترمينځه ﴿ قال ابوداود ﴾ په عنوان سره مشهور دي، هغوى وائى چه په دې كتاب كښې په ﴿ قال ابوداود ﴾ باندې ځان پوهه كول ډير ضروري دي.

قوله: ﴿ وحدثنا اصحابنا الخ ﴾ د دې ځائې نه راوى د روژې متعلق تغيرات ثلاثه بيانوى، حال دا چه د مونځ لا يو تغير باقي دي، ددې نه معلومه شوه چه په دې روايت كښې اختصار دي، هغه دريم تغير په وړاندې روايت كښې راروان دي.

د صوم تغيرات ثلاثه

د صوم تغيرات ثلاثه دا دى. ١: چه كله مدينې ته تشريف راوړلو نو هغه وخت په هره مياشت كښې درې روژې او صوم عاشوراء فرض شوه (د صوم عاشوراء ذكر په وړاندې روايت كښې را روان دې) څو ورځې پس په دې حكم كښې تغير او تبديلي واقع شوه او د رمضان نزول اوشو يعنې صيام رمضان مشروع شو نو اولنې دا تغير واقع شو چه هر مياشت د درې روژو په ځائې په كال كښې د رمضان ديرش روژې فرض شوې خو په دې طريقه چه په روژه باندې د قدرت باوجود هر سرى ته اختيار دې كه هغه روژه نيسي يا د هغې په ځائې فديه ادا كړى، څو ورځې پس په دې حكم كښې هم تغير واقع شو او آيت كريمه ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ﴾ نازل شو او د ﴿ فيه ﴾ حكم صرف مريض او مسافر دپاره باقي پاتې شو او د مستطيع دپاره صوم متعين شو، دا دويم تغير شو، يعنې په رخصت افطار كښې د تعميم نه پس تخصيص، بيا دريم تغير دا اوشو چه په شروع كښې دا حكم وو چه صائم به د افطار كولونه پس د اوده كيدو نه مخكښې مخكښې خوراك، څكاك او جماع كولې شى او كه ستړگې نې ورغلې او اوده شو نو د هغې نه پس كه بيدار شو نو خوراك څكاك او جماع ناجائز وه، ډيره زمانه داسې وه خو بيا په دې كښې تغير پيدا شو داسې چه، يو ځل عمر رضي الله عنه د شپې په وخت كښې د خپلې بى بى سره د صحبت اراده اوفرمائيله هغې اووې چه زه خو اوده شوې اوم، د عمر رضي الله عنه خيال راغلو چه هسې بهانه جوړوى خكه چه د هغې عادت دا قسم وو په دې وجه هغه ورسره صحبت اوكړو.

بله واقعه دا راپيښه شوه چه يو انصارى صحابى چه د هغه نوم صرمه بن قيس رضي الله عنه دې كوم چه زميندار قسم سړې وو هغه به د رمضان په مياشت كښې څو تولو ورځ په پټى كښې وو، د روژې په حالت كښې به نې د محنت او مشقت كار كولو او مابنام كښې چه كله كور ته راغلو، او د روژې د ماتولو وخت شو نو هغوى د كور د خلقو نه خوراك طلب كړو ﴿ فقالوا حتى نسخن لك شيئا ﴾ د كور خلقو ورته اووې چه لږ ايسار شئ ستاسو دپاره دوډئ گرموو، په دومره وخت كښې چه هغه خوراك گرميدو په دې كښې د هغه ستړگې ورغلې،

د کور خلقو چه کله خوراک گرم کړو او هغه ئې راوړلو نو وې کتل چه د هغه سترګې ورغلې دی، اوس خوراک نه شی کولې، د خوار د ضعف د وجې نه بد حال شو نو ددې دوه واقعاتو نه روستو دا آيت کريمه نازل شو ﴿ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ ﴾ او هم ددې په اخر کښې دی ﴿ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ﴾ او ددې آيت کريمه په نزول سره سابقه حکم منسوخ شو او د رمضان په شپو کښې مطلقا د خوراک څکاک او جماع اجازت اوشو، دا د روژې دريم تغير شو.

[۵۰۷]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، عَنْ أَبِي دَاوُدَ. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ الْمَسْعُودِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: أُحِيلَتِ الصَّلَاةُ ثَلَاثَةَ أَحْوَالٍ، وَأُحِيلَ الصِّيَامُ ثَلَاثَةَ أَحْوَالٍ، وَسَاقَ نَصْرٌ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، وَاقْتَصَّ ابْنُ الْمُثَنَّى مِنْهُ قِصَّةَ صَلَاتِهِمْ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ قَطْ، قَالَ: الْحَالُ الثَّالِثُ "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَصَلَّى يَعْنِي نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ ثَلَاثَةَ عَشَرَ شَهْرًا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى هَذِهِ الْآيَةَ: قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ سورة البقرة آية ١٤٤، فَوَجَّهَهُ اللَّهُ تَعَالَى إِلَى الْكَعْبَةِ، وَتَمَّ حَدِيثُهُ، وَسَمَّى نَصْرٌ صَاحِبَ الرُّؤْيَا، قَالَ: فَجَاءَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، وَقَالَ فِيهِ: فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ مَرَّتَيْنِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ مَرَّتَيْنِ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، ثُمَّ أَمْهَلَ هُنَيَّةً ثُمَّ قَامَ، فَقَالَ مِثْلَهَا، إِلَّا أَنَّهُ، قَالَ: زَادَ بَعْدَ مَا قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقِّنْهَا بِلَالًا، فَأَذَّنَ بِهَا بِلَالٌ، وَقَالَ فِي الصَّوْمِ: قَالَ: فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُومُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَيَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ إِلَى قَوْلِهِ طَعَامُ مِسْكِينٍ سورة البقرة آية ١٨٣-١٨٤، فَكَانَ مَنْ شَاءَ أَنْ يَصُومَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَنْ يُفْطِرَ وَيُطْعِمَ كُلَّ يَوْمٍ مِسْكِينًا أَجْزَأَهُ ذَلِكَ وَهَذَا حَوْلٌ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ إِلَى أَيَّامٍ أُخَرَ سورة البقرة آية ١٨٥ فَثَبَتَ الصِّيَامُ عَلَى مَنْ شَهِدَ الشَّهْرَ، وَعَلَى الْمُسَافِرِ أَنْ يَقْضِيَ، وَثَبَتَ الطَّعَامُ لِلشَّيْخِ الْكَبِيرِ وَالْعَجُوزِ اللَّذَيْنِ لَا يَسْتَطِيعَانِ الصَّوْمَ، وَجَاءَ صِرْمَةُ وَقَدْ عَمِلَ يَوْمَهُ"، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د معاذ بن جبل نه روايت دې، هغه وئيلى دى تغير ورکړې شوى دى مونځ ته درې تغيرات. او تغير ورکړې شوى دى روژې ته درې تغيرات، او بيان کړى دى نصر حديث لره تول، او لړې کړې ده ابن المثنى د هغې نه قصه د مونځ د مونځ د دوى په طرف د بيت المقدس بس، هغه وايې دريم حال دادى چې بيشکه رسول الله ﷺ راغې مدينې ته نو مونځ ئې وکړو (يعنې طرف د بيت المقدس ته) ديارلس مياشتې، نو نازل کړو الله تعالى دا ايت (بيشکه وينو مونږ اوړيدل رااوړيدل د مخ ستا طرف د اسمان ته، خامخا مونږ به اړوو تالره داسې قبلې ته چې ته خوښوې هغې لره، نو واړوه مخ خپل طرف د مسجد حرام ته، او په کوم ځائې کښې چې تاسو ئې نو واړوئ مخونه خپل) نو مخامخ کړو هغه لره الله قبلې ته، او پوره شو حديث د هغه. او مسمى کړو نصر بن مهاجر خاوند د خوب، هغه وئيلى دي: راغې عبد الله بن زيد چې دا يو سړى دى د انصارو نه، او هغه وئيلى دى په هغې کښې: مخ

() تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٣٤٤، ١٥٦٢٧، ١٨٩٧٢) (صحيح)

ئي كړو قبلې ته، ويې وئيل: الله اكبر الله اكبر، الله اكبر الله اكبر، اشهدُ ان لا اله الا الله اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدًا رسول الله اشهدُ ان محمدًا رسول الله، حي على الصلاة دوه ځل، حي على الفلاح دوه ځل، الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله. بيا ئي صبر وكړو لګ شانته، بيا پاځيدلو ويې وئيل په مثل د هغې، مګر هغه دا هم وويل: زيات ئي كړو پس د هغې نه چې هغه وويل: حي على الفلاح، قد قامت الصلاة، قد قامت الصلاة، هغه وئيلي دي: چې وويل رسول الله ﷺ ددې تلقين وكړه بلال ته، نو اذان وكړو په هغې سره بلال، او ويلي ئي دي په روژه كښې: هغه وويل: بيشكه رسول الله ﷺ وو چې روژه ئي نيوله درې ورځې د هرې مياشت نه او روژه ئي نيوله د عاشوراء، نو نازل كړو الله تعالى (فرض شوې ده په تاسو باندې روژه لكه څرنګه چې فرض شوې وه په هغو خلقو چې ستاسو نه مخكې وو). دى قول د الله پورې (طعام مسكين) پس د چا چې خوښه وى روژه دې ونيسي، او د چا چې خوښه وى روژه افطار دې كوى او طعام دې وركوى هره ورځ يو مسكين ته نو كافي ده هغه لره دا، پس د يو تغير وو، نو نازل كړو الله تعالى (مياشت د رمضان هغه ده چې نازل شوى دى په هغې كښې قرآن) تر (ايام اخر) پورې، نو لازم شوه روژه په هغه چا چې حاضر وې مياشت د روژى ته، او په مسافر باندې قضايي ده، او ثابت شو طعام د شيخ كبير او بوډئ هغه چې طاقت نه لرى دواړه د روژې (يعنى فديه به وركوى). او راغي صرمة ﷺ چې كاريې كړى وو تږوله ورځ. او بيان ئي كړو حديث (تر آخره پورې).

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا محمد بن المثنى... عن ابن ابى ليلى عن معاذ بن جبل ﴾ تر اوسه پورې په سندونو كښې راروان دى چه ابن ابى ليلى فرمائى ﴿ حدثنا اصحابنا ﴾ چه د هغې نه مراد صحابه كرام وو لكه چه مخكښې تير شو او دا روايت متعين د يو صحابى معاذ بن جبل ﷺ نه دې خو د محدثينو په نزد ابن ابى ليلى د معاذ نه د سماع نه ثابتيدو په وجه باندې روايت منقطع دې.

قوله: ﴿ الحال الثالث ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قدم المدينة فصلى يعنى نحو بيت المقدس ثلاثة عشر شهرا ﴾ د مونځ په تغيرات ثلاثه كښې كوم چه تغير ثالث په تير روايت كښې پاتې شوې وو، هغه دا دې.

د مونځ دريم تغير

رسول الله ﷺ چه كله هجرت كولو سره مدينې منورې ته تشريف يوړلو نو تر ديارلسو مياشتو پورې ئې د بيت المقدس طرف ته مونځ كولو خو د هغه خواهش وو چه د هغه قبله هم هغه وى كومه چه د هغه د نيكه ابراهيم عليه السلام وه لكه چه په دې آيت كښې ددې ذكر دې ﴿ قد نرى تقلب وجهك فى السماء ﴾ (الاية) پس د هغه د خواهش مطابق د ذكر شوې حديث نه پس د قبلې تحويل اوشو او وې فرمائيل ﴿ فول وجهك شطر المسجد الحرام ﴾ وئيلې شوې دى چه تحويل قبله اول نسخ وقع فى شريعة.

د تحويل قبله متعلق دوه بحثونه

ځان پوهه کړه چه دلته دوه بحثونه دي، بحث اول، تحويل قبله د هجرت نه څومره موده پس په دې کښې روايات مختلف دي، د بخاري په روايت کښې ﴿ ستة عشر شهرا ﴾ او ﴿ سبعة عشر شهرا ﴾ مذكور دې، او د ابو عوانه په روايت کښې شپاړس مياشتې دې او په مسند احمد کښې اولس مياشتې دې، او په ابن ماجه کښې، اتلس مياشتې دې او د ابوداود په دې روايت کښې دياړلس مياشتې دې ددې نه علاوه هم روايات دي، د رسول اللهﷺ قدوم مبارک مدينې منورې ته بالاتفاق د ربيع الاول په مياشت کښې اوشو او تحويل قبله د صحيح او مشهور قول په بناء باندې په رجب ۲ هجرى کښې اوشو، اوس که ابتداء او انتهاء دواړه مستقل شمار کړې شي نو اولس مياشتې جوړيږي او که دواړه يوځائې کولو سره يو کړې شي نو شپاړس مياشتې جوړيږي، په ظاهره کښې هم ددې پيش نظر د بخاري په روايت کښې شپاړس يا اولس مياشتې راغلې دې.

بحث ثاني : نبى كريم ﷺ د هجرت نه مخکښې په مکه مکرمه کښې کوم طرف ته استقبال فرمائيلو د بيت الله طرف ته يا د بيت المقدس طرف ته نو په دې کښې درې اقوال دي.

۱: په مکه کښې نبى كريم ﷺ په مونځ کښې د بيت الله استقبال کولو تردې چه هغه هجرت اوفرمائيلو.

۲: هغه په مکه مکرمه کښې په شروع کښې دکعبې استقبال فرمائيلو او بيا دمکې په قيام کښې ﴿ قبل الهجرة ﴾ د استقبال بيت المقدس مامور شو.

۳: هغه به په مکه مکرمه کښې د بيت المقدس استقبال کولو خو په داسې طريقه چه بيت الله ئې هم مخې ته وی، على القولين الاولين د قبلې په باره کښې تعدد نسخ منل وی لکه چه مشهور دی، او په قول ثالث باندې به په نسخ قبله کښې تعدد نه وی، څه احکامات داسې دی چه په هغې کښې تعدد نسخ شوې دې،او هغه څلور دی چه د هغې تعيين په باب الوضوء مما مست النار کښې تير شوې دې.

بَابٌ فِي الْإِقَامَةِ

باب دې په بيان د اقامت کښې

اقامت د فقهاء په اصطلاح کښې د هغه الفاظ مخصوصه نوم دې، کوم چه د اعلام حاضرين دپاره وئيلې شي.

[٥٠٨]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ عَطِيَّةَ، ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، جَمِيعًا عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "أُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوتِرَ الْإِقَامَةَ"، زَادَ حَمَّادٌ فِي حَدِيثِهِ: إِلَّا الْإِقَامَةَ.

١): صحيح البخاري/الأذان ١ (٦٠٣)، ٢ (٦٠٥)، ٣ (٦٠٦)، صحيح مسلم/الصلاة ٢ (٣٧٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٧ (١٩٣)، سنن النسائي/الأذان ٢ (٦٢٨)، سنن ابن ماجه/الأذان ٦ (٧٣٠)، (تحفة الأشراف: ٩٤٣)، مسند احمد (٣/١٠٣، ١٨٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٦ (١٢٣٠، ١٢٣١) (صحيح)

ترجمه: د انس ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دي: امر وشو بلال ته چې جفت کړي اذان او وتر کړي اقامت. زيادت کړي دی حماد په خپل حديث کښې لفظ د الا الاقامة.

تشريح: **قوله**: ﴿ حدثنا سليمان بن حرب... جميعا عن ايوب ﴾ مصنف دوه سندونه ذکر کړي دی، اولنې سند په سماک باندې پاتې شو او دويم په وهيب باندې او دا دواړه روايت کوی، د ايوب سختياني نه، ايوب ملتقى السندين دې، د ابو قلابه نوم عبدالله بن زيد دې.

قوله:﴿ امر بلال ان يشفع الاذان ويوتر الاقامة ﴾ يعني بلال ﷺ په دې خبره باندې مامور وو چه کلمات اذان شفعا شفعا اوائي او کلمات اقامة مفرد يعني يو يو ځل اوائي.

قوله:﴿ زاد حماد في حديثه : الا الاقامة ﴾ د دې لفظ زيادت د سماک په روايت کښې دې د وهيب په روايت کښې نشته ددې نه روستو تاسو په دې ځان پوهه کړئ چه مونږ سره دا مخکښې تير شو چه ائمه ثلاثه په اقامة کښې د ايتار قائل دی او احناف د تثنيه.

د ائمه اربعه په نزد د کلمات اقامت تعداد

د احنافو په نزد د اقامت کلمات اولس دی او د اذان کلمات د هغوی په نزد پنځلس دی د لفظ ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ د وجې نه. دوه اضافي شو او امام شافعي او احمد په نزد ددې ټول کلمات يولس دی، تکبير په شروع او اخر دواړو ځايونو کښې دوه کرته دې هم دغه شان لفظ ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ دوه کرته او باقي ټول کلمات يو يو ځل دې، او د امام مالک په نزد کلمات اقامت لس دی د هغوی په نزد لفظ ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ هم يو ځل دې، هغه وائي چه په روايت کښې ﴿ الا الاقامة ﴾ د ايوب سختياني د طرف نه مدرج .ې.

حديث الباب د جمهور دليل دې

دا پورته حديث متفق عليه دې او په دې لحاظ سره ډير قوی دې او په افراد اقامة کښې د جمهورو مستدل دې. علامه شوکاني فرمائي چه د افراد اقامت احاديث اگر چه زيات صحيح دی په دې وجه چه هغه په صحيحين کښې دی خو احاديث تثنيه په يو زيادت باندې مشتمل دی لهذا د هغې طرف ته مصير او رجوع لازم ده. (كذا في البذل)

د حديث الباب خلاف نور روايات

د دې نه روستو تاسو په دې ځان پوهه کړئ چه د اقامت بلال په باره کښې روايات حديثيه مختلف دی، په صحيحين کښې خو ايتار راغلي دې خو د احاديثو په نورو کتابونو کښې د هغه په اقامت کښې هم تثنيه ثابت ده، پس حاکم او بيهقي (في الخلافيات) او طحاوی د سويد بن غفله نه روايت کړې دې چه ﴿ ان بلالا يثنى الاذان ويثنى الاقامة ﴾ خو حاکم په دې کښې د انقطاع دعوی کړې ده په دې باندې حافظ فرمائي چه د طحاوی په روايت کښې د سماع تصريح ده، سويد بن غفله وائي ﴿ سمعت بلالا ﴾ لهذا د انقطاع اشکال مرتفع شو هم دغه شان د طبراني په يو روايت کښې وارد دی. اگر چه ضعيف دې ﴿ عن بلال انه كان يجعل الاذان والاقامة مثنى مثنى ﴾ اوس چه کوم صورت حال دې چه ددې رواياتو نه د اقامة بلال

مثنی کيدل معلوميږی نو بيا به د ﴿ امر بلال ان يوتر الاقامة ﴾ تاويل کولې شی ددې دپاره چه په رواياتو کښې تعارض رانشی.

د حديث الباب تاويل

د احنافو د طرف نه يو تاويل دا کولې شی لکه چه په شامی کښې دی چه د ايتار نه مراد ايتار الصوت دې يعنی دوه کلمات په يوه ساه باندې ادا کول او د هغې په حدر سره لوستل، په خلاف د اذان چه په هغې کښې ترسيل دې په قلاره قلاره باندې هر کلمې لره مستقل ساه کښې ادا کول، او حضرت شيخ به ددې حديث داسې تاويل کولو چه زما په نزد ددې تعلق د هر يو اذان سره نه دې بلکه صرف د سحر د اذان سره دې، د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به د سحر اذان دوه کرته کيدلو، يو د شپې په اخر کښې د تهجد دپاره او دويم د صبح صادق نه پس د مونځ دپاره، يو ځل به بلال کولو او يو ځل ابن ام مکتوم نو په دې حديث کښې اوونيلې شو چه اذان خو دې شفعا اوونيلې شی خو اقامت صرف يو کرت، د کلمات اقامت ايتار مراد نه دې.

په تثنيه اقامت کښې د احنافو مزيد دلائل

هم دغه شان د احنافو دليل د عبدالله بن زيد رضي الله عنه حديث دې ځکه چه د هغې د بعض طرق نه د اقامت مثنی کيدل معلوميږی،[1] جمهورو په دې باندې دا اعتراض کړې دې چه د عبدالله بن زيد حديث منقطع دې، جواب دا دې چه انقطاع ددې په بعض طرق کښې ده په ټولو کښې نه، په دې باندې تنبيه مونږ سره مخکښې هم تيره شوې ده. هم دغه شان امام ترمذی دا په دواړو طرقو سره ذکر کړې دې او طريق متصل ته ئې اصح وئيلې دې،[2] او دويم دليل د سويد بن غفله رضي الله عنه حديث دې ﴿ ان بلالا كان يثنى الاذان ويثنى الاقامة ﴾ دا حديث هم مونږ سره وړاندې تير شو، هم دغه شان حديث د ابو محذوره رضي الله عنه پس ابن حجر ليکی حديث ابی محذوره فی تثنية الاقامة مشهور.

په بذل المجهود کښې حافظ ابن القيم رحمه الله نقل کړې دی حاصل د اختلاف دا دې چه امام شافعی رحمه الله اذان ابو محذوره او اقامت بلال اختيار کړې دې او امام ابوحنيفه رحمه الله ددې برعکس يعنی اذان بلال او اقامت ابو محذوره رضي الله عنه لره خو زه وايم چه مونږ ته دا خبره تسليم نه ده چه احنافو د بلال رضي الله عنه اذان واخستلو او اقامت بلال ئې وانخستلو، بلکه مونږ وايو چه احنافو د بلال اذان او اقامت دواړه اخستلې دی لکه چه اوس مونږ پورته دا ثابته کړه، او دا حديث الباب مؤول دې، مولانا عبدالحئ صاحب فرمائی قال النخعی اول من نقص الاقامة معاوية وقيل بنو امية. يعنی دا د امراء بنو اميه حرکت دې چه هغوی اقامت ناقص

---

[1] ليکن صحيح دا هم دې چه دهغوی د حديث په بعضې طرق کښې افراد د اقامت دې.

[2] هغوی اول د روايت تخريج په طريقه د منقطع کړې دې: عن عبد الرحمن بن ابی ليلی عن عبدالله بن زيد قال كان الاذان رسول الله (ص) شفعا شفعا فی الاذان والاقامة، بيا وريسې د اختلاف طرق لاندې فرمائی: وقال شعبة عن عمرو بن مرة عن عبدالرحمن بن ابی ليلی قال حدثنا اصحاب رسول الله (ص) ان عبدالله بن زيد رأی الاذان فی المنام وهذا اصح من حديث ابن ابی ليلی، وعبدالرحمن بن ابی ليلی لم يسمع من عبدالله بن زيد.

کړو او د هغې کلمات به ئې پوره نه وئيل

[۵۰۹]() حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، مِثْلَ حَدِيثِ وُهَيْبٍ، قَالَ إِسْمَاعِيلُ: فَحَدَّثْتُ بِهِ أَيُّوبَ، فَقَالَ: إِلَّا الْإِقَامَةَ.

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې پشان د حديث د وهيب، وئيلى دى اسماعيل: ما دا بيان وکړو ايوب ته، هغه ووئيل «الا الاقامة» مګر اقامت نه

تشريح: **قوله**: ﴿ حدثنا حميد بن مسعدة... قال اسماعيل فحدثت به ايوب فقال : الا الاقامة ﴾ په اول سند کښې د ابو قلابه نه روايت کونکې ايوب وو او په دې کښې د هغه نه روايت کونکې خالد حذاء دې، اسماعيل فرمائى چه دا حديث ماته په شروع کښې د خالد نه رارسيدلې وو بيا دا حديث د هغه عديل ايوب ته واورولو نو هغه په دې حديث کښې د ﴿الاقامة﴾ اضافه اوکړه.

د امام مالک رحمه الله په نزد په لفظ د ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ کښې هم افراد دې لکه چه تير شو، هغه فرمائى چه ددې استثناء سره ايوب متفرد دې لهذا ددې حديث په ثبوت کښې تردد دې

[۵۱۰]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، سَمِعْتُ أَبَا جَعْفَرٍ يُحَدِّثُ، عَنْ مُسْلِمٍ أَبِي الْمُثَنَّى، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "إِنَّمَا كَانَ الْأَذَانُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، وَالْإِقَامَةُ مَرَّةً مَرَّةً، غَيْرَ أَنَّهُ، يَقُولُ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، فَإِذَا سَمِعْنَا الْإِقَامَةَ تَوَضَّأْنَا ثُمَّ خَرَجْنَا إِلَى الصَّلَاةِ"، قَالَ شُعْبَةُ: لَمْ أَسْمَعْ مِنْ أَبِي جَعْفَرٍ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ.

ترجمه: د ابن عمر نه روايت دې هغه وئيلى دې: بيشکه وو اذان په زمانه د رسول الله ﷺ دوه دوه ځله، او اقامت يو يو ځل، مګر هغه به وئيل: قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة کله چې به مونږ اقامت واوريدلو اودس به مو وکړو، بيا به ووتلو مونځ ته. وئيلى دى شعبة: ما د ابو جعفر نه نه دى اوريدلى غير ددې حديث نه.

تشريح: **قوله**: ﴿ حدثنا محمد بن بشار..... سمعت ابا جعفر يحدث عن مسلم ﴾ د ابو جعفر نوم محمد بن ابراهيم بن مسلم دې د هغه ثقاهت د علماء کرامو ترمينځه مختلف فيه دې دا حديث هغه د خپل پلار مسلم نه روايت کوى ﴿ فاذا سمعنا الاقامة توضانا ثم خرجنا الى الصلاة ﴾ دا روايت د ابن عمر رضي الله عنه دې چه په دې کښې هغه فرمائى چه کله زمونږ په غوږ کښې د اقامت اواز پريوتلو نو مونږ به زر پاسيدو او اودس به مو اوکړو او د مونځ دپاره به لاړو.

د حديث توجيه

دلته دا شک راځى چه کله د جماعت په اوديدو سره اودس کولې شى که مسبوق نه وى نو کم از کم تکبير اولى به خو فوت شى() او دا ويونکې صحابى دې چه مونږ به داسې کول،

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۴۳) (صحيح)

(): سنن النسائي/الأذان ۲ (۶۲۹)، ۲۸ (۶۶۹)، (تحفة الأشراف: ۷۴۵۵)، مسند احمد (۸۷/۲) (حسن)

() زمونږ حضرت شيخ به د رفع يدين په بحث کښې فرمائيل چه د شوافعو په دې سلسله کښې انتهائى معروف او مشهور مستدل د ابن عمر حديث دې او د احنافو دليل د عدم رفع د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث دې کوم چه په کبار صحابه کرامو کښې دې او د رسول الله ﷺ د ارشاد.....۹۶

په دې باندې شارح ابن رسلان فرمائي يعنى فى بعض الاوقات او بعض الصحابة يعنى دا مطلب نه دې چه ټولو صحابه کرامو به دومره ناوخته کولو بلکه په هغوى کښې بعض، هم دغه شان احيانا (کله کله) نه دائما، د ابن رسلان په دې کلام سره په شبهه کښې کمې راغلو، او زما په ذهن کښې دا خبره راځي چه ددې کلام قائل ابن عمر رضي الله عنه دې کوم چه د عمر په اعتبار سره په صغار صحابه کرامو دې، د غزوه خندق والا کال د هغه د بلوغ کال دې او ظاهره ده چه د هجرت په شروع کښې به د هغه عمر يولس دولس کاله وو، هم دغه شان د هغه نور ملګرى کوم چه به د هغوى همزولى وى د هغوى په باره کښې دا خبره کولې شي، او د حضرت ګنګوهى رحمه الله په تقرير کښې يو بل تاويل کړې شوې دې هغه دا چه ﴿ فاذا سمعنا الاقامة ﴾ د دې شرط جزاء خو ﴿ توضانا ﴾ نه ده بلکه ﴿ خرجنا الى الصلاة ﴾ دې او په مينځ کښې خو ﴿ توضانا ﴾ جمله حاليه ده او د عبارت تقدير داسې دې ﴿ فاذا سمعنا الاقامة وقد توضانا خرجنا الى الصلاة ﴾ يعنى کله چه به مونږ د اقامت اواز اوريدو او حال دا چه مخکښې به مو اودس کړې وو نو فورى به د مانځه دپاره لاړو او حضرت د بذل په حاشيه کښې ليکلي دى چه مولانا عبدالحئ صاحب په سعايه کښې د ابوداود روايت نقل کړې دې خو د هغه الفاظ د ﴿ توضانا ﴾ په ځائې ﴿ توخينا اى تهيّانا ﴾ دى يعنى کله چه به مونږ د اقامت اواز واوريدو نو د مانځه دپاره به فورا تيار شو.

[۵۱۱]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ يَعْنِي الْعَقَدِيَّ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ مُؤَذِّنِ مَسْجِدِ الْعُرْيَانِ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْمُثَنَّى مُؤَذِّنَ مَسْجِدِ الْأَكْبَرِ يَقُولُ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: مونږ ته حديث بيان کړې دې شعبة د ابو جعفر نه چې مؤذن د مسجد العُريان دې هغه وئيلى دي: ما اوريدلى دى د ابو المثنى نه مؤذن د مسجد اکبر هغه به وئيل: ما اوريدلى دى د ابن عمر نه، او بيان ئې کړو هم دا حديث.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا محمد بن يحيى.... عن ابى جعفر مؤذن مسجد العريان ﴾ دا هم هغه ابوجعفر دې کوم چه په وړاندې سند کښې راغلې وو دلته د هغه يو صفت زائد موجود دې ﴿ مؤذن مسجد العريان ﴾ او په بعض کتب حديث (طحاوى) کښې داسې دى ﴿ عن ابى جعفر الفراء ﴾ خو بعض علماء کرام فرمائي چه ابو جعفر الفراء جدا راوى دې او ابو جعفر مؤذن د مسجد العريان جدا راوى دې والله اعلم

په بذل کښې ليکلي دى چه مسجد عريان کيدې شى چه د کوفې مسجد وى او ابن رسلان فرمائي چه کيدې شى دا مسجد په بصره کښې وى ځکه چه ابو جعفر راوى بصرى

ـه مبارک ﴿ ليلينى منکم اولوا الاحلام والنهى ﴾ مصداق دې. ظاهره ده چه هغه به په وړاندې صف کښې وى او ابن عمر رضي الله عنه د ځان په باره کښې ځيله فرمايى چه زه او زما ملګرى به د اقامت اواز اوريدلو سره د اودس دپاره پاسيدو اوس ظاهره ده چه هغه به په مونځ کښې په روستو صفونو کښې وى نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مانځه د کيفيت په باره کښې به وړاندې صف والا ذير خبر وى يا روستو صف والا؟.

(): انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۷۴۵۵) (حسن)

دي، هم دغه شان ابن رسلان فرمائي ﴿ العريان ضد الكاسى ﴾ يعني بربنډ... بس ددې نه وړاندې هغه هيڅ نه دی ليکلی، غالبا ددې ترجمه دا شوه، مسجد الفقراء والمساکين، لکه چه زمونږ په عرف کښې هم غريب بنده ته اوړې او په تن بربنډ وائی.

تنبيه : په نسائی کښې ﴿ باب التثويب فی اذان الفجر ﴾ کښې يو عبارت دې، وليس بابی جعفر الفراء، په دې باندې په ﴿ الفيض السمائی ﴾ کښې لږ شان کلام دې ځوک چه کتل غواړی هلته دې اوګوری د مقام د مناسبت د وجې نه پرې مونږ تنبيه کړې ده.

﴿ مؤذن مسجد الاكبر ﴾ ليکلي دی چه په کوفه کښې يو مسجد دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُؤَذِّنُ وَيُقِيمُ آخَرُ

باب دې په بيان د سړي كې چې اذان وكړي او اقامت بل وكړي

اذان يو اوکړی او بل اقامت دا مسئله اختلافی ده، د امام شافعی او امام احمد په نزد داسې کول مکروه دی، د امام مالک رحمه الله په نزد مطلقا مباح دی او د احنافو په نزد بغير د کراهت نه جائز ده په دې شرط چه مؤذن په دې باندې راضی وی، ګينې مکروه دې.

[۵۱۲]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: "أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَذَانِ أَشْيَاءَ لَمْ يَصْنَعْ مِنْهَا شَيْئًا، قَالَ: فَأُرِيَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ الْأَذَانَ فِي الْمَنَامِ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ: أَلْقِهِ عَلَى بِلَالٍ، فَأَلْقَاهُ عَلَيْهِ فَأَذَّنَ بِلَالٌ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: أَنَا رَأَيْتُهُ وَأَنَا كُنْتُ أُرِيدُهُ، قَالَ: فَأَقِمْ أَنْتَ".

ترجمه: د عبد الله بن زيد نه روايت دې هغه وئيلی دی، اراده وکړه نبی ﷺ په خبرولو د خلقو کښې د څه شيانو (مثلا ناقوس وغيره)، هيڅ شی ئې هم ونه کړل د هغې نه، هغه وئيلی دي وښودلی شو عبد الله بن زيد ته اذان په خوب کښې نو راغې نبی ﷺ ته خبرې ورته وکړو، هغه ووېل: دا وښايه بلال ته، ويې ښودلی هغه ته نو اذان وکړو بلال، نو ووئيل عبد الله چه ما ليدلې وو هغه (خوب دا اذان) نو زه غوارم چې اذان وکړم. نبی ﷺ وفرمائيل: پس ته اقامت وکړه.

د سند تحقيق

قوله: ﴿ حدثنا عثمان بن ابی شيبة قوله عن محمد بن عبدالله عن عمه عبدالله بن زيد ﴾

دا محمد، د عبدالله بن زيد بن عبد ربه رضي الله عنه خوئې دې، لهذا په سند کښې په ځائې د ﴿ عن عمه ﴾ ﴿ عن ابيه ﴾ کيدل پکار وو([2]) لکه چه ظاهره ده. لهذا دا د يو راوی وهم دې او ددې نه په وړاندې سند کښې داسې دی ﴿ سمعت عبدالله بن محمد قال كان جدی عبدالله بن زيد ﴾ د دې نه معلوميږی چه راوی محمد بن عبدالله نه دې بلکه د هغه خوئې عبد الله بن محمد دې يعنی د عبدالله بن زيد نمسې.

---

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۵۳۱۰)، مسند احمد (۴۲/۴) (ضعيف)

[2]: دا زمونږ د سند په اعتبار سره دې ګينې د حافظ تحقيق وړاندې راروان دې چه دلته من جده کيدل پکار وو) ۱۲ منه

د حافظ ابن حجرﷺ په تحقیق کښې هم دا خبره صحیح ده، د باب ددې اولنی حدیث مضمون واضح دې، ددې حدیث نه معلومیږی چه اقامت غیر مؤذن کولې شی.

[۵۱۳]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ الْقَوَارِيرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُحَمَّدٍ، قَالَ: كَانَ جَدِّي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ يُحَدِّثُ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَأَقَامَ جَدِّي.

ترجمه: عبد الله بن محمد ویلی دي: وو نیکه زما عبد الله بن زید چې بیانولویې دا حدیث، هغه وئیلی دي: اقامت وکړو نیکه زما.

[۵۱٤]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ غَانِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ يَعْنِي الْأَفْرِيقِيَّ، أَنَّهُ سَمِعَ زِيَادَ بْنَ نُعَيْمٍ الْحَضْرَمِيَّ، أَنَّهُ سَمِعَ زِيَادَ بْنَ الْحَارِثِ الصُّدَائِيَّ، قَالَ: "لَمَّا كَانَ أَوَّلُ أَذَانِ الصُّبْحِ، أَمَرَنِي يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَذَّنْتُ، فَجَعَلْتُ أَقُولُ: أُقِيمُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَجَعَلَ يَنْظُرُ إِلَى نَاحِيَةِ الْمَشْرِقِ إِلَى الْفَجْرِ، فَيَقُولُ: لَا، حَتَّى إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ، نَزَلَ فَبَرَزَ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَيَّ وَقَدْ تَلَاحَقَ أَصْحَابُهُ يَعْنِي فَتَوَضَّأَ، فَأَرَادَ بِلَالٌ أَنْ يُقِيمَ، فَقَالَ لَهُ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَخَا صُدَاءٍ هُوَ أَذَّنَ، وَمَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيمُ، قَالَ: فَأَقَمْتُ".

ترجمه: زیاد بن الصدائی ویلی دي: هرکله چې وخت شو داولنی اذان د سحر امر وکړو ماته نبی ﷺ ما اذان وکړو، نو مابه وئیل: زه اقامت وکړم ای د الله رسوله! هغه به کتل طرف د مشرق ته د صبا رڼا ته، هغه به وئیل: نه، تردې چې صبا به راوختلو، د سورلئ نه به راکخته شو صحراء ته به (قضاء حاجت دپاره) لاړو، بیا به راغلو ماته، یقینًا ملګری (صحابه) به راغلی وو (یعنی نبی ﷺ اودس اوکړو) نو اراده وکړه بلال چې اقامت وکړی نو نبی ﷺ ورته وویل: بیشکه صدائی رور اذان کړې دې او چا چې اذان وکړو هغه به اقامت هم کوي. هغه وایي: پس ما اقامت وکړو.

تشریح: **قوله:** ﴿ حدثنا عبدالله بن مسلمة ﴾ د حدیث مضمون دا دې، زیاد بن الحارث صدائی فرمائی (کوم چه د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښې وو) چه کله د سحر د اذان اولنې وخت شو نو ماته ئې د اذان کولو دپاره اوفرمائیل پس ما اذان اوکړو او رسول الله ﷺ ته مې عرض اوکړو چه اقامت به هم زه کوم، رسول الله ﷺ روان وو او د اسمان مشرقی غاړو ته ئې کتل او ماته ئې فرمائیل چه لا اوس نه تردې چه صبا ښه روښانه شی نو هغه د سورلئ نه راکوز شو او د استنجاء دپاره ئې تشریف یوړلو په دې کښې د هغه د سفر ټول ملګری هم راجمع شو کوم چه لږ شاته پاتې شوې وو، اوس چه کله جماعت اودریدلو نو بلال ﷺ د اقامت د کولو اراده اوکړه په دې باندې ئې هغوی ته اوفرمائیل ﴿ ان اخا صداءٍ هو اذن ومن اذن فهو یقیم ﴾ چه رجل صدائی اذان کړې دې، لهذا هم هغه به اقامت کوی، زیاد بن الحارث چونکه صدائی دې ځکه رسول الله ﷺ هغه ته ﴿ اخو الصداء ﴾ اوفرمائیل یعنی قبیله صداء والا سړې، پس اقامت هم هغه اوکړو.

---

[۱]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۶۵۳) (ضعیف)

[۲]: سنن الترمذي/الصلاة ۳۲ (۱۹۹)، سنن ابن ماجه/الأذان ۳ (۷۱۷)، (تحفة الأشراف: ۳۶۵۳)، مسند احمد (۱۶۹/٤) (ضعیف)

د احنافو د طرف نه د حديث توجيه

د دې حديث نه شوافع او حنابله استدلال کوی چه د بل سړی اقامت کول مکروه دی، زمونږ د طرف نه جواب دا دې چه د ﴿ تاذی ﴾ په شکل کښې د کراهت قائل مونږ هم يو او دلته هم دغه شکل وو، بله دا چه دا حديث ضعيف دې ﴿ کما قال الترمذی فی جامعه ﴾ ځکه چه ددې په سند کښې عبدالرحمن بن زياد الافريقی دې کوم چه د اکثر محدثينو په نزد ضعيف دی، خو که دا اوونيلې شی چه دا حديث د مالکيانو خلاف دې ځکه چه هغوی مطلقا د اباحت قائل دی، بل دليل د احنافو دا دې، روايت دې چه ډير کرته به عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه اذان کولو او بلال رضي الله عنه به اقامت کولو او کله به ددې برعکس معامله وه چه بلال رضي الله عنه به اذان کولو او ابن ام مکتوم رضي الله عنه به اقامت.

بَابُ رَفْعِ الصَّوْتِ بِالْأَذَانِ

باب دې په بيان د اوچتولو د اواز سره په اذان کښې

[۵۱۵] ()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهُ مَدَى صَوْتِهِ وَيَشْهَدُ لَهُ كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ، وَشَاهِدُ الصَّلَاةِ يُكْتَبُ لَهُ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ صَلَاةً وَيُكَفَّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې، هغه روايت کوی د نبی ﷺ نه هغه وئيلی دي مؤذن ته بښنه کېږی تر کوم ځائې چې ئې اواز رسېږي، او ګواهی کوی د هغه لپاره هر لوند او وچ څيز، او ليکلی شی لپاره د حاضريدونکی مانځه ته د پنځه ويشت مونځونو ثواب، او کفاره کېږی د هغه نه هغه چې د دواړو په مينځ کښې دي.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا حفص بن عمر... عن موسى بن ابى عائشة ﴾ په بعض نسخو کښې موسی بن ابی عثمان دې، حضرت په بذل کښې ليکلي دی چه دويم صحيح دې او هم دغه شان په نسخه مجتبائيه کښې دی او په نسائی او ابن ماجه کښې هم.

شرح حديث

قوله: ﴿ قال : المؤذن يغفر له مدى صوته ﴾ د اذان اواز چه چرته رسيږی هم د هغې برابر مؤذن ته بخښنه کولې شی لهذا هغه لره خپل اواز زيات نه زيات اوچتول پکار دی ددې دپاره چه د هغې برابر هغه ته بخښنه اوشی، د هغې برابر مغفرت نه مراد مغفرت تامه دې په طريقه د مبالغه فرمائی، بل مطلب ئې دا ليکلې دې چه که د مؤذن معاصی اجسام فرض کړې شی او ددې نه دا ټول ځائې د زمکې ډک شی چه د کوم ځائې پورې د هغه اواز ځی نو هغوی ټول هغه ته معاف کولې شی، د کوم ځائې پورې چه د اذان اواز ځی د زمکې په هغه حصه باندې چه مؤذن کوم ګناهونه کړې وی هغه ټول به معاف کولې شی، د اذان اواز چه چرته رسيږی په هغه حصه کښې چه څومره خلق اباد دی د مؤذن په شفاعت باندې به هغوی ټولو ته

[1]: سنن النسائي/الأذان ١٤ (٦٤٦)، سنن ابن ماجه/الأذان ٥ (٧٢٤)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٦٦)، مسند احمد (٢/٢٩، ٤٥٨) (صحيح)

بخښنه کولې شي، ﴿ يغفر ﴾ په معنی د ﴿ يستغفر ﴾ دې، د مؤذن اواز چه چرته رسيږی د هغه ځائې پورې چه څومره څيزونه دی هغه ټول د مؤذن دپاره استغفار (د مغفرت دعا) کوی ﴿ويشهد له كل رطب ويابس ﴾ د کوم ځائې پورې چه د اذان اواز رسيږی د زمکې په هغه حصه کښې چه څومره هم جسم نامي جن وانس او اشجار او جمادات دی، هغه ټول به د هغه په حق کښې د قيامت په ورځ باندې ګواهی ورکوی يعنی د هغه د ايمان يا د هغه ددې عمل خير، او دا ګواهی په خپل حقيقت باندې محمول کيدې شی چه الله پاک هغه ټولو څيزونو ته ګويائی ورکړی، او په مجاز باندې هم، دواړه اقوال مشهور دی يو صورت کښې ګواهی په ژبه او په دويم صورت کښې به بلسان حال وی. بلسان قال[1] په دې وجه چه الله پاک په دې خبره باندې قادر دې چه په دې ټولو څيزونو کښې حيات او د نطق قدرت پيدا کړی او بلسان حال داسې چه علماء کرامو ليکلې دی چه ټول کائنات او موجودات بلسان حال د خپل خالق د جلال او علو شان سره ناطق دی. ﴿ وشاهد الصلاة يكتب له ﴾ د جماعت په مونځ کښې د حاضريدونکی دپاره د پنځويشت مونځونو ثواب ليکلې شی او د دوه مونځونو ترمينځه ګناهونه معاف کولې شي.

[٥١٦]([2])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا نُودِيَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ وَلَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ، فَإِذَا قُضِيَ النِّدَاءُ أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ، حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ حَتَّى يَخْطُرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ، وَيَقُولُ: اذْكُرْ كَذَا اذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى يَضِلَّ الرَّجُلُ أَنْ يَدْرِيَ كَمْ صَلَّى".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ ويلی دي: کله چې اذان وشی مانځه لپاره تختی شيطان او د هغه تېزونه اچوی چې اذان وانه وري، کله چې اذان پوره شی نو راشی تردې چې کله اقامت کېږی د مانځه لپاره نو بيا لاړ شي، تردی چې اقامت ختم شی نو راشی تردې چې حائل شي په مابين د سړی او د نفس د هغه کښې او وايي: ياد کړه فلانی شی ياد کړه فلانی شی هغه شيان چې ده ته ياد نه وو، تردې چې سړی پوهه نه شی چې څومره مونځ ئې وکړو

تشريح: قوله:﴿ حدثنا القعنبي... اذا نودي بالصلاة ادبر الشيطان وله ضراط ﴾ چه کله [illegible]ن کولې شی (کوم چه د مونځ دپاره اعلان دی) نو د هغه ځائې نه شيطان تختی او تېزونه اچ[illegible] ددې دپاره چه د اذان اواز وانوری، او يا دا مطلب دې چه دومره لرې اوتختی چرته چ[illegible] اذان اواز نه رسيږی.

---

[1] صاحب منهل ليکی صحيح دا ده چه بيشکه جمادات، نباتات او حيوانات دپاره علم او ادر[illegible] هم دغه شان تسبيح او تقديس ثابت دې، كما يعلم من قوله تعالي ﴿وان منها لما يهبط من خشية الله﴾ وقوا ﴿وان من شيء يسبح بحمده ﴾، قال النووي: وهذا مذهب أهل السنة ويدل عليه قضية كلام الذئب والبقر وغيرهما)

[2]: صحيح البخاري/الأذان ٤ (٦٠٨)، سنن النسائي/الأذان ٣٠ (٦٧١)، (تحفة الأشراف: ١٣٨١٨)، موطا امام مالك/الـ[illegible] (١)، مسند احمد (٢/٣١٣، ٤٦٠، ٥٢٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ٨ (٣٨٩)، سنن الترمذي/الصلاة ١٧٥ (٣٩٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٥ (١٢١٧)، ويأتي برقم (١٠٣٠) (صحيح)

د حديث شرح

د دې حديث په شرح کښې دوه اقوال دی. ۱: په حقيقت باندې محمول دې، ۲: ضرط به فلان د قبيل نه دې يعنی کله چه څوک په چا پورې توقې کوی نو هغه وخت عرب خلق وائی (ضرط به فلان) چه هغه په فلانی سرې پورې توقې اوکړې په دې صورت کښې به (ضراط) په خپل حقيقت باندې محمول نه وی بلکه ددې نه مراد به استهزاء وی چه په اذان پورې توقې کول دی، او که په حقيقت باندې محمول شی نو هم صحيح ده، ځکه چه شيطان جسم دې خوراک څکاک هم کوی، په حقيقت باندې د محمول کيدو په صورت کښې احتمال دې چه هغه داسې قصداً کوی چه د اذان اواز وانوری که د اذان په وخت باندې د تنګ تکور څه اواز شروع شی نو ظاهره ده چه د اذان اواز به نه اوری او دا هم احتمال دې چه بغير د قصد نه داسې اوشی د منډو وهلو د وجې نه.

قوله:(فاذا قضی النداء اقبل) د اذان په پوره کيدو باندې بيا راشی او چه کله تثويب کولې شی نو بيا تختی د هغې په پوره کيدو باندې بيا راشی او په مونځ کونکو کښې وسوسې اچوی، او کله کله مختلف خبرې هغوی ته په مانځه کښې وريادوی.

يو اشکال او جواب

دلته يو مشهور طالبعلمانه سوال دې چه شيطان د اذان نه خو دومره ويريږی او تختی او مونځ کوم چه اصل مقصود دې چه په هغې کښې د قران کريم تلاوت وی د هغې نه ولې په ويرې سره نه تختی؟ ددې جواب مونږ د استاذانو نه اوريدلې دې چه دا د تاثير بالخاصه د قبيل نه دی، الله پاک په څيزونو کښې اثار او خواص کيخودلی دی د هر يو څيز يو تاثير وی. الله پاک په اذان کښې دا تاثير پيدا کړی دې چه ددې نه شيطان ويريږی، هم په دې وجه باندې علماء کرامو ليکلې دی چه په کوم کور کښې د جناتو اثر وی هلته دې په کثرت سره اذان اوکړې شی ددې دپاره چه هغوی اوتختی، الحاصل دا تاثير بالخاصه دې. لهذا ددې نه دې په قران کريم باندې د اذان د افضليت شبهه اونکړې شی، او ددې يوه وجه دا هم کيدې شی چه د مؤذن په باره کښې دا راغلې دی چه کوم څيز هم د هغه اواز اوری هغه به د قيامت په ورځ باندې د مؤذن په حق کښې ګواهی ورکوی او ظاهره خبره ده چه شيطان ګواه جوريدل نه غواړی په دې وجه هغه داسې کوی.

بَاب مَا يَجِبُ عَلَى الْمُؤَذِّنِ مِنْ تَعَاهُدِ الْوَقْتِ

باب دې بيان د هغې کښې چې لازم دی په مؤذن باندې د خيال ساتلو د وقت

تعاهد يعنی اهتمام او نګرانی او د هغې خيال ساتل

[۵۱۷]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْإِمَامُ ضَامِنٌ وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ، اللَّهُمَّ أَرْشِدِ الْأَئِمَّةَ وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِينَ".

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲٤۲۹)، مسند احمد (۲/۲۳۲، ۲۸۲، ٤۱۹، ٥۲٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۳۹(۲۰۷) (صحيح)

ترجمه: د ابو هريرة ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دی چې وئيلي دی رسول الله صلی الله وسلم امام ضامن دی او مؤذن امانتدار دی، ای الله ته هدايت وکړی امامانو ته او بخښنه وکړی مؤذنينو ته۔

تشريح: **قوله**:﴿ الامام ضامن والمؤذن مؤتمن ﴾ يعني امام د خپلو مقتديانو د مونځ د صحت او فساد ذمه دار دې، هغه د مقتديانو مونځ راتينګ کړې دې د مقتديانو مونځ د هغه د مونځ تابع دې، ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه ضمان دلته د غرامت او تاوان په معنی کښې نه دې بلکه ددې نه مراد صرف حفظ او رعايت دې او بعض شارحينو ليکلې دی چه امام متکفل وی د مقتديانو د مونځونو د امورو، پس د هغوی د طرف نه د قرآت متحمل وی (دا د هغه خلقو په نزد دې کوم چه د قرأت خلف الامام قائل نه دی) خصوصا د مسبوق په حق کښې، هم دغه شان سنن او مستحبات او عدد رکعات.

قوله:﴿ اللهم ارشد الائمة واغفر للمؤذنين ﴾ د مسجدونو امامانو او مؤذنينو ته رسول الله ﷺ دعا کوی، د ائمه کرامو دپاره ئې دا دعا کړې ده چه هغوی ته د رشد وهدايت اعلی مقام ورکړه، او د مؤذنينو دپاره ئې د بخښنې او مغفرت دعا فرمائيلې ده، د ائمه کرامو په حق کښې دعا د هغوی د شان موافق رشد او هدايت اوفرمائيله او د مؤذنينو په حق کښې د هغوی مناسب يعنی د هغوی د خطايانو معافی، ځکه چه مؤذن اوچت ځائې ته ختلو سره اذان ورکوی، کيدې شی چه بې محله د هغه نظر پريوځی يا ددې په شان بل څه قسم کمې او کوتاهی ترې اوشی.

د امامت او اذان مرتبه

د دې نه معلومه شوه چه امامت افضل دې د اذان نه لکه چه د احنافو او شوافعو د يو جماعت مسلک دې.(١) امام شافعی رحمه الله په کتاب الام کښې تصريح فرمائيلې ده، د اذان د افضليت، او ابن قدامه ليکی چه د امام احمد رحمه الله نه په دې کښې دوه روايتونه دی، او وئيلې شوې دی چه دواړه برابر دی او يو قول دا دې چه که انسان ته په خپل ځان باندې د حقوق امامت د ادا کولو اعتماد وی نو د هغوی په حق کښې امامت افضل دې ګينې اذان، دلته دا اشکال راځی چه د خليفه ثانی سيدنا عمر ﷺ نه نقل دی ﴿ لولا الخلافة لاذنت ﴾ که دا د خلافت ذمه داری په ما نه وې نو ما به اذان کولو ، ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه د هغوی مراد دا دې چه ﴿ لاذنت ای مع الامامة ﴾، او دا مطلب نه دې چه امامت به مې پريخودلې وې او اذان به مې کولو. (طحطاوی).

---

(١) ځکه چه دامام ذمه داری زياتې او اوچتې دی هغه د مونځ د بعضې ارکانو متکفل وی په خلاف د مؤذن، چه هغه صرف د مونځ د وختونو متکفل وی او بله داچه امام د رسول الله (ص) خليفه دې او مؤذن خليفه دبلال دې، خو شارح ابن رسلان ددې حديث نه د اذان په افضليت باندې استدلال کړې دې او وئيلی ئې دی چه امين افضل وی د ضمين نه، ليکن ددې جواب دادې چه دا قاعده کليه نه ده بلکه کتلې به شی چه دا ضمين د کوم قسم کارونو ضامن دې که هغه څيزونه اهم وی لکه څنګه چه دلته په امامت کښې، نو بيا به هم دا افضل وی.

[۵۱۸]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: نُبِّئْتُ عَنْ أَبِي صَالِحٍ، قَالَ: وَلَا أُرَانِي إِلَّا قَدْ سَمِعْتُهُ مِنْهُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ.

ترجمه: دابوهريرة ﷺ نه روايت دي هغه وايي چي وئيلي دي رسول الله ﷺ، پشان دهغه حديث.

بَابُ الْأَذَانِ فَوْقَ الْمَنَارَةِ

باب دي په بيان د اذان کښي دپاسه د منارې نه

مناره او منار هغه اوچتي ابادئ ته وئيلې شي چه کوم په مسجد کښي د اذان دپاره جوړولې شي، په اصل کښې دا مَنْوَرَه وو يعني موضع النور يعنى د رڼړا ځائې او دا رڼړا به د مسافرو دپاره په لوړو ځايونو بانديې کولې شوه دې ته ميدنه هم وئيلې شي.

د ترجمة الباب غرض دا دې چه اذان په اوچت ځائې بانديې کيدل پکار دى، د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په مسجد کښې دا مينار متعارف نه وو، په دې باب کښې مصنف يو حديث ذکر کړې دې، د حديث مضمون دا دې چه يوه صحابيه (نامعلوم الاسم) فرمائى چه د مسجد نبوى نه چه چاپيره کوم کورونه وو په هغې کښې زما کور د ټولو نه اوچت وو په دې وجه به بلال ﷺ د سحر اذان د هغې په چهت بانديې ادا کولو ـ ـ ـ

[۵۱۹]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي النَّجَّارِ، قَالَتْ: "كَانَ بَيْتِي مِنْ أَطْوَلِ بَيْتٍ حَوْلَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ بِلَالٌ يُؤَذِّنُ عَلَيْهِ الْفَجْرَ، فَيَأْتِي بِسَحَرٍ فَيَجْلِسُ عَلَى الْبَيْتِ يَنْظُرُ إِلَى الْفَجْرِ، فَإِذَا رَآهُ تَمَطَّى، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَحْمَدُكَ وَأَسْتَعِينُكَ عَلَى قُرَيْشٍ أَنْ يُقِيمُوا دِينَكَ، قَالَتْ: ثُمَّ يُؤَذِّنُ" قَالَتْ: وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُهُ كَانَ تَرَكَهَا لَيْلَةً وَاحِدَةً تَعْنِي هَذِهِ الْكَلِمَاتِ.

ترجمه: عروة بن الزبير روايت کوى د يوې ښځي د بنو النجار نه هغې ويلى دي وو کور زما د اوچتو کورونو نه کوم چي گرد چاپير د جمات نه وو، او وو بلال چي اذان به ئې کولو په هغې بانديې د سحر، راتلو به سحر کيناستلو به په کور(چَت) بانديې، کتل به ئې صبا ته، کله چي به ئې وليدلو صبا صادق، نو ستوماني به ئې ويستله، بيا هغه وفرمائيل: اې الله زه ستا حمد وايم او ستا نه مدد غواړم په قريشو چي قائم کړى ستا دين هغې وويل: بيا به ئې اذان وکړو، هغې وويل قسم په الله ماته پته نشته چي هغه دا يوه شپه هم پريخودى وي، مطلب ئې دا کلمات دي.

د بلال ﷺ اهتمام کول

د مخکښې نه به ئې ځان هلته رسولو او د صبح صادق په انتظار کښې به ناست وو چه کله به د سحر رڼړا ښکاره شوه نو بيا به اودريدو او ستوماني به ئې ويستله او بيا به ئې د اذان نه مخکښې دا کلمات لوستل ﴿ اللهم انى احمدک واستعينک على قريش الخ ﴾ د هغې نه روستو به ئې بيا اذان کولو، هغه په قسم سره وائى چه بلال ﷺ کله هم دا کلمات د اذان نه مخکښې نه دى ترک کړى، دا څيز قابل عبرت دې ددې نه دې اندازه اولگولې شي چه د هغه دا عمل د

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٤٢٩) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٧٨) (حسن)

اذان په کوم درد او فکر سره وو، همیشه د اذان نه مخکښې د قریشو دپاره چه د رسول الله ﷺ قبیله ده د هدایت دعا کول چه هغوی په څه طریقې ددې دین دپاره اودرېږي.

د ډیرې مودې نه زما دا معمول دې چه د سبق د شروع کولو نه مخکښې د بلال رضي الله عنه والا کلمات ﴿اللهم انی احمدک واستعینک علی الدرس﴾ لولم.

بَابٌ فِي الْمُؤَذِّنِ يَسْتَدِيرُ فِي أَذَانِهِ

باب دی بیان د مؤذن کښې چې تاوېږي په اذان کښې

په اذان کښې د ﴿ حیعلتین ﴾ په وخت کښې کوم چه کوم ښی او ګس طرف ته مؤذن تاوېږي هغه بیانوی، په دې کښې هم مصنف رحمه الله یو حدیث ذکر کړې دې. چه د هغې مضمون دا دې:

[۵۲۰]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا قَيْسٌ يَعْنِي ابْنَ الرَّبِيعِ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، جَمِيعًا عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ، فَخَرَجَ بِلَالٌ فَأَذَّنَ، فَكُنْتُ أَتَتَبَّعُ فَمَهُ هَاهُنَا وَهَاهُنَا، قَالَ: ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ بُرُودٌ يَمَانِيَةٌ قِطْرِيٌّ، وَقَالَ مُوسَى: قَالَ: رَأَيْتُ بِلَالًا خَرَجَ إِلَى الْأَبْطَحِ فَأَذَّنَ، فَلَمَّا بَلَغَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، لَوَى عُنُقَهُ يَمِينًا وَشِمَالًا وَلَمْ يَسْتَدِرْ، ثُمَّ دَخَلَ فَأَخْرَجَ الْعَنَزَةَ" وَسَاقَ حَدِيثَهُ.

ترجمه: عون بن ابی جحیفة د خپل پلار نه روایت کوي، هغه وئیلی دي. زه راغلم نبی ﷺ ته په مکه کښې او هغه په څپنه سره کښې د څرمي نه، راووتلو بلال نو اذان ئې وکړو او وم زه چې ورپسې وم د هغه خوله پسې دې طرف ته او هغه طرف ته. هغه وایې: بیا راووتلو رسول الله ﷺ او په هغه باندې جوړه وه سره، څادرونه یمنی قطري. او وئیلی دی موسی: وایې هغه: ما ولیدلو بلال چې راووتلو ابطح ته نو اذان ئې وکړو هرکله چې ورسیدو حی علی الصلاة او حی علی الفلاح ته نو تاو ئې کړو څټ خپل ښي او چپ طرف ته. او تول تاو نه شو، بیا داخل شو خیمې ته راویې وېستله عنزة او بیان کړو راوی آخر پورې حدیث.

د حدیث مضمون

ابوجحیفه رضي الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې مکې ته حاضر شوم نو هغه دغه وخت د څرمنې په یوه سره خیمه کښې ناست وو (د سفر واقعه ده)، د خیمې نه سیدنا بلال رضي الله عنه بهر راووتلو او راغلو اذان ئې اوکړو نو ما د هغه مخ ته کتل دې طرف ته او هغه طرف ته یعنی چه کله به ئې په حیعلتین کښې ښی او ګس طرف ته مخ تاوهلو نو ما د هغه دې عمل ته کتل او خپله مې هم د هغه په تابعدارئ کښې داسې کول، بیا رسول الله ﷺ خپله هم د خیمې نه بهر تشریف راوړلو دې وخت کښې د هغه په بدن مبارک باندې سره کربښو والا یمنی جوړه وه، د مقام قطر.

﴿ثم دخل فاخرج العنزة﴾ بیا سیدنا بلال رضي الله عنه د خیمې نه یوه وړه نیزه راوړله د سترې قائمولو دپاره، د حدیث الباب نه معلومه شوه چه ﴿حی علی الصلاة﴾ او ﴿حی علی الفلاح﴾

[1]: صحیح مسلم/الصلاة ٤٧ (٥٠٣)، سنن الترمذي/الصلاة ٣٠ (١٩٧)، سنن النسائي/الأذان ١٣ (٦٤٤)، والزينة ١٢٣ (٥٣٨٠)، (تحفة الأشراف: ١١٨٠٦، ١١٨١٧)، مسند احمد (٤/٣٠٨)، سنن الدارمي/الصلاة ٨ (١٢٣٤)، وقد أخرجه صحيح البخاري/الأذان ١٥ (٦٣٤)، سنن ابن ماجه/الأذان ٣ (٧١١) (صحيح)

په وخت باندې ښي او ګس طرف ته التفات کول پکار دي.

د نفس التفات خو ټول قائل دي سوا د ابن سيرين چه هغه دې ته مکروه وائي، خو اختلاف په استدار کښې دې يعني بالکل تاويدل.

د استدار په سلسله کښې رواياتو کښې اختلاف

اصل کښې په دې سلسله کښې روايات مختلف دي په بعض کښې اثبات دې او په بعض کښې نفي، اوس يا خو دې دا اووئيلې شي چه د اثبات روايات صرف په تحويل راس باندې محمول دي او د نفي په استدار بجميع البدن باندې، او يوه بله توجيه دا هم ده چه د اثبات روايات دې محمول کړې شي په عند الضرورت باندې او د نفي روايات محمول کړې شي په عند عدم الحاجة باندې، يعني که بغير د سينې تاوهلو نه کار اوشي او مقصود حاصل شي نو بيا خو به هلته د سينې تاوهلو حاجت نه وي ځکه چه د هغې کهړکئ به مؤذن ته نزدې وي او اواز به د بهر طرف ته اورسيږي، او که مناره وسيع وي نو په دې صورت کښې به چونکه ددې کهړکئ په فاصله باندې وي په دې وجه به هلته د ګرځيدو ضرورت راپيښيږي ددې دپاره چه اواز ئې بهر لاړ شي فقهاء کرامو ئې هم دا تفصيل ليکلې دې بيا ځان پوهه کړه چه په دې حديث کښې دي ﴿ لوى عنقه يمينا وشمالا ﴾

د تحويل په کيفيت کښې اقوال

امام نووي رحمه الله ليکي چه د تحويل په کيفيت کښې درې اقوال دي. ۱: اول دا چه ﴿ حي على الصلاة ﴾ سره دې مخ ښي طرف ته واړوي او دوه کرته دې هغه اوائي، ثانيا دې خپل مخ ګس طرف ته واړوي او دوه کرته دې ﴿ حي على الفلاح ﴾ وائي. ۲: اول دې يو ځل ﴿ حي على الصلاة ﴾ ښي طرف ته وئيلو سره مخ د قبلې طرف ته واړوي او بيا دې په دويم ځل باندې داسې اوکړي، په دويم ځل دې ګس طرف ته مخ واړوي او ﴿ حي على الفلاح ﴾ دې اوائي بيا دې مخ د قبلې طرف ته راولي او دوباره دې هم دغه شان اوکړي. ۳: اولا دې خپل مخ ښي طرف ته واړوي او يو ځل دې دا کلمه اوائي او بيا دې ګس طرف ته واړوي او هم دا کلمات دې بيا وائي، چه د دواړو طرفونو په حصې کښې دا دواړه کلمات راشي. هم دغه شان امام نووي رحمه الله ليکلې دي چه زمونږ په نزد اوله طريقه اصح ده، او زه وايم چه د احنافو په نزد دويمه طريقه مختار ده.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ

باب دې په هغې کښې چې راغلي دي په دعاء کښې په مينځ د اذان او اقامت کښې

[۵۲۱] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زَيْدٍ الْعَمِّيِّ، عَنْ أَبِي إِيَاسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُرَدُّ الدُّعَاءُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ".

(١): سنن الترمذي/الصلاة ٤٤ (٢١٢)، الدعوات ١٢٩ (٣٥٩٤، ٣٥٩٥)، سنن النسائي/اليوم الليلة (٦٨، ٦٩، ٧٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٩/٣) (صحيح)

ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دی، چې وئیلی دی رسول الله ﷺ: نه رد کېږي دعاء په مینځ د اذان او اقامت کښې.

تشریح: د اذان او اقامت ترمینځه وخت ډېر مبارک او د قبولیت دې په هغې کښې دعا نه رد کېږي لکه چه په حدیث کښې راغلې دی. ﴿لا يرد الدعاء بين الاذان والاقامة﴾ د دې په مطلب کښې بذل کښې دوه احتمالات لیکلې دی.

۱: د اذان دوران کښې دعا نه رد کېږي یعنی د اذان د شروع نه د اذان ختمیدو پورې او هم دغه شان د اقامت دوران.

۲ داذان د شروع کیدو نه تر داقامت د انتهاء پورې په دې پوره وخت کښې دعا نه رد کېږي،

۳: دریم مطلب ئې دا هم کیدې شی چه د اذان د ختمیدو نه پس تر د اقامت د شروع کولو پورې چه کوم درمیانی وخت دې په هغې کښې دعا نه رد کېږي، د اول احتمال تائید د هغه روایت نه کیږي کوم چه علامه زرقانی د دیلمی نه نقل کړې دې چه د هغې الفاظ دا دی ﴿وحين يؤذن المؤذن حتى يسكت﴾

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ

باب دې په بیان د هغې څکي چې ویلی شي کله چې واوري مؤذن (اذان)

[۵۲۲] ([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ".

ترجمه: د ابو سعید الخدری رضي الله عنه نه روایت دې بیشکه رسو ل الله ﷺ ویلی دي کله چې تاسو اذان واورئ نو (ووایی تاسو) پشان د هغې چې مؤذن ئې وایي.

تشریح: قوله: ﴿ اذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما يقول المؤذن ﴾ په دې حدیث کښې د اذان د اجابت حکم کړې شوې دې ([2])

د اجابت اذان حکم

د اجابت دوه قسمونه دی، اجابة بالقول اجابة بالاقدام، اجابة بالقول د جمهورو علماء کرامو په نزد مستحب دې او د مشائخ حنفیه په دې کښې دوه قوله دی څنګه چه په شامی کښې دی، وجوب او استحباب خو راجح عدم وجوب دې څکه چه متون ددې د ذکر نه خالی دی. وقيل الواجب الاجابة بالاقدام. بلکه زه وائم چه د اجابت بالاقدام واجب کیدل خو ظاهر دی، البته اجابت بالقول د اهل ظواهر په نزد واجب دې او امام طحاوی رحمه الله هم د بعض سلفو نه ددې وجوب نقل کړې دې

---

[1]): صحيح البخاري/الأذان ۷ (٦١١)، صحيح مسلم/الصلاة ۷ (۳۸۳)، سنن الترمذي/الصلاة ٤٠ (۲۰۸)، سنن النسائي/الأذان ۳۳ (٦٧٤)، سنن ابن ماجه/الأذان ٤ (۷۲۰)، (تحفة الأشراف: ٤١٥٠)، موطا امام مالك/الصلاة ١(٢)، مسند احمد (٦/٣، ٥٣، ٧٨)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠ (١٢٣٧) (صحيح)

[2]) ابن رسلان لیکی چه د ظاهر الحدیث نه معلومیږی چه اجابة اذان موقوف دې په سماع باندې لهذا که یو سړې مؤذن د لرې نه اوینی او د هغه اواز نه اوری، د لری والی د وجې نه یا د کنړېدو د وجې نه نو په هغه باندې د اذان اجابت نشته).

جمهور علماء کرامو په عدم وجوب باندې د مسلم روايت پيش کړې دې چه رسول اللهﷺ د يو مؤذن اذان واوريدو چه کله هغه ﴿ الله اکبر ﴾ اووې نو وې فرمائيل ﴿ على الفطرة ﴾ او چه کله شهادتين ته اورسيدو نو وې فرمائيل ﴿ خرج من النار ﴾ او په روايت کښې د اجابة اذان ذکر نشته ددې نه معلومه شوه چه اجابة اذان واجب نه دې.

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه په دې روايت کښې خو ﴿ مثل ما يقول المؤذن ﴾ دې چه د هغې نه معلوميږي چه ﴿ حى على الصلاة ﴾ او ﴿ حى على الفلاح ﴾ هم دغه شان اووئيلې شي او په بعض رواياتو کښې ددې تصريح هم ده. خو ددې باب په اخرى حديث کښې ددې خبرې تصريح ده چه د ﴿ حيعلة ﴾ په وخت کښې ﴿ حوقله ﴾ يعنى ﴿ لا حول ولا قوة الا بالله ﴾ اووئيلې شي او د مسلم په يو روايت کښې هم ددې تصريح ده او هم دا د جمهورو په نزد مختار قول دې، ددې وجه دا ده چه په حيعله کښې اگر چه دا لفظ اووئيلې شي نو د استهزاء شبهه به وى او زمونږ د بعض مشائخو رائې دا ده چه دواړه جمع کول اولى دى ددې دپاره چه په دواړو قسم روايتونو باندې عمل اوشى او ﴿ حىَ على الصلاة والفلاح ﴾ کښې دې خپل نفس ته د خطاب نيت اوکړى.

د اذان خطبه اجابت

دلته يوه خبره پاتې شوه او هغه دا چه د اذان خطبه هم اجابت مستحب دې يا نه، په در مختار کښې ليکلې شوې دى چه ﴿ لا يجب ﴾ او علامه شامى ليکى. ﴿ يجب بقلبه عند الامام وبعد الفراغ عند محمد ولا يرد مطلقا عند ابى يوسف، وهو الصحيح ﴾

[٥٢٣]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ ابْنِ لَهِيعَةَ، وَحَيْوَةَ، وَسَعِيدِ بْنِ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لِيَ الْوَسِيلَةَ، فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ تَعَالَى، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ اللَّهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ، حَلَّتْ عَلَيْهِ الشَّفَاعَةُ".

ترجمه: د عبد الله بن عمرو بن العاص نه روايت دې، بيشکه هغه اوريدلى دى د رسول اللهﷺ نه چې هغه وئيل: کله چې واورئ تاسو مؤذن لره نو وايئ تاسو پشان د هغې چې مؤذن ئې وائى، بيا درود وايئ په ما باندې، بيشکه هغه څوک چې درود وايي په ما باندې نو رحمت ليږى الله په هغه باندې لس ځل، بيا سوال وکړئ د الله عز و جل نه زما لپاره د وسيلې، بيشکه دا يوه منزله ده په جنت کښې چې مناسب نه ده مگر د يو بنده لپاره د الله د بندګانو نه، او زما اميد دى چې هغه به زه يم، چا چې زما لپاره سوال د وسيلى وکړو نو زما شفاعت ورته واجب شو.

تشريح: قوله: ﴿ صلوا على فانه من صلى على صلاة صلى الله عليه بها عشرا ﴾ دا حديث د

[1]): صحيح مسلم/الصلاة ٧ (٣٨٤)، سنن الترمذي/المناقب ١ (٣٦١٤)، سنن النسائي/الأذان ٣٧ (٦٧٩)، (تحفة الأشراف: ٨٨٧١)، مسند احمد (١٦٨/٢) (صحيح)

مخکښې نه زيات جامع دې په دې کښې د اجابت اذان نه علاوه د اذان نه روستو صلاة او سلام او د دعاې وسيله تلقين هم ذکر دې. [۱]

(اشکال) په دې روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوک په ما باندې يو ځل درود وائی نو الله پاک په هغه باندې لس کرته رحمت کوی، اشکال دا دې چه په دې کښې د صلاة څه خصوصيت دې دټولو نيکو دپاره هم داقاعده ده﴿ من جاء بالحسنة فله عشر امثالها﴾

(جواب) د دې جواب ابن العربی دا ورکړې دې چه اشکال په هغه صورت کښې وو چه که په حديث کښې دا وو چه يو ځل درود ليږلو والا ته د لس درود ليږلو ثواب ملاويږی، بلکه په حديث کښې دی چه يو ځل صلاة ليږلو باندې الله پاک لس صلوات نازلوی، د الله پاک خو يو صلاة د بنده د صلاة نه بدرجها افضل او اکمل دې پاتې لا لس درود.

او حافظ عراقی رحمه الله دا جواب کړې دې چه د الله پاک د طرف نه لس صلوات نه علاوه د لسو درجاتو اوچتيدل او د لس ګناهونو معاف کيدل دې نه علاوه دی، لکه چه په بعض رواياتو کښې راغلي دی.

د وسيلې تفسير

قوله:﴿ فانها منزلة فی الجنة ﴾ په دې حديث کښې د وسيلې تفسير کړې شوې دې چه هغه د جنت يوه خاص درجه ده کوم چه د ټولو درجاتو نه اعلی دې، او وئيلې شوې دی چه د وسيلې نه مراد شفاعت کبری د کوم چه به د قيامت په ورځ باندې رسول الله ﷺ ته حاصل وی، او يو قول دا دې چه ﴿ اعلی عليين ﴾ کښې دوه قبې دی په يو کښې به رسول الله ﷺ استوګنه اختيار وی او په بل کښې به ابراهيم عليه السلام.

قوله:﴿ وارجو ان اکون انا هو ﴾ دا خبره رسول الله ﷺ يا خو هغه وخت اوفرمائيله چه ترڅو رسول الله ﷺ ته دې باره کښې وحی نه وه نازله شوې چه دا هم د هغه حق دې، او کيدې شی چه د وحی نه روستو ئې فرمائيلې وی تواضعا، ﴿ قوله حلت عليه الشفاعة ﴾ شارحينو ليکلې دی چه ﴿ حلت ﴾ په معنی د ﴿ وجبت ﴾ دې[۲] او ﴿ علی ﴾ د لام په معنی دې ﴿ ای وجبت له ﴾ لکه چه د طحاوی په روايت کښې دی، يا داسې اووئيلې شی چه دا ﴿حلت ﴾ د حلول نه دې چه د هغې معنی د نزول ده يعنی په هغه باندې زما شفاعت نازليږی او واقع کيږی

[۱]) ابن رسلان فرمائی چه ددې نه معلومه شوه چه المراد الصلاة من السلام جائز دې يعنی صرف صلاة بغير د سلام نه، خو امام نووی رحمه الله په کتاب الاذکار کښې ليکلې دی چه دا مکروه ده، زه وائم چه امام مسلم هم د مسلم په خطبه کښې صرف صلاة بغير د سلام نه ذکر فرمائيلې دې په دې باندې هم امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې اعتراض کړې دې خو نورو حضراتو د امام نووی رحمه الله په قول رد کړې دې چه د جمهورو په نزد دا کار بغير د کراهت نه جائز دې)

[۲]) ولی بعض التقارير هکذا، د حلت معنی حلال نه ده خکه چه حرام کله وو، چه اوس حلال شو خو زه وائم چه حلال په خپله معنی کښې هم اخستلې شی هغه په داسې طريقه چه ددې معنی استحقاق ده، چه شفاعت خو به مونږ کوو خو تاسو به خپل ځان کښې استحقاق پيدا کړئ. نمک حرامی مه کوئ او ددې معنی تائيد د هغه رواياتو نه کيدې شی چه په هغې کښې په ترک صلاة باندې وعيدونه راغلې دی او داسې سړی ته بخيل وئيلې شوې دې)

[۵۲۴]()حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ حُيَيٍّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي الْحُبُلِيَّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ الْمُؤَذِّنِينَ يَفْضُلُونَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قُلْ كَمَا يَقُولُونَ، فَإِذَا انْتَهَيْتَ فَسَلْ تُعْطَهْ".

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روايت دي بيشكه يو سړي وويل: اې د الله رسوله! بيشکه مؤذنين غوره کېږي په مونږ، نو وويل رسول الله ﷺ: ته وايه څنګه چې هغوی وائی، کله چې ته فارغ شې نو سوال کوه ته درکول کېږي به.

تشريح: **قوله**: ﴿ قل كما يقولون ﴾ د دې حديث نه د اجابت اذان ډېر فضيلت معلومېږي او دا چه د اجابت اذان په وجه باندې انسان تقريبا د اذان ثواب حاصلوی، او د اذان کولو ثواب ظاهر دي چه ډېر لوئې دې لهذا د اجابة اذان اهتمام پکار دی، والله الموفق.

[۵۲۵]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ الْحُكَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ: وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ".

ترجمه: د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دې، هغه روايت کوی د رسو الله ﷺ نه هغه فرمائيلی دي: هغه څوک چې ووايي کله چې واوری مؤذن لره: او زه هم ګواهي کوم چې نشته مستحق د عبادت مګر الله دی يواځې شريک نه لري، او زه ګواهي کوم چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی، زه راضي يم په الله باندې د حيثيته د رب او په محمد باندې د حيثيته د رسول او په اسلام باندې د حيثيته د دين نه. نو هغه ته به بخښنه وشي

تشريح: **قوله**:﴿ من قال : حين يسمع المؤذن وانا اشهد الخ ﴾ د دې حديث شرح کښې دوه اقوال دی. يو دا چه څه دلته مذکور دی دا به د اذان په ختميدو باندې ونيلی شی، او دويم قول دا دې چه د اذان ترمينځه چه کله مؤذن شهادتين ته اورسيږی نو بيا دې دا اووائی په بذل کښې ئې احتمال ثانی اختيار کړې دې او نور شارحينو دواړه اقوال ليکلو سره قول اول ته ترجيح ورکړې ده ځکه چه که په مينځ کښې ونيل مراد وی نو د اذان د بعض کلماتو په اجابت کښې به خلل واقع شي.

[۵۲۶]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ، قَالَ: وَأَنَا وَأَنَا".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ وو کله چې به ئې د مؤذن اواز واوريدو نو تشهد به ئې ويلو، هغه به ونيل او زه هم، او زه هم په دې ګواه يم.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۵٤)، مسند احمد (۱۷۲/۲) (حسن صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الصلاة ۷ (۳۸٦)، سنن الترمذي/الصلاة ٤۲ (۲۱۰)، سنن النسائي/الأذان ۳۸ (٦۸۰)، سنن ابن ماجه/الأذان ٤ (۷۲۱)، (تحفة الأشراف: ۳۸۷۷)، مسند احمد (۱۸۱/۱) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۷۱۲۲) (صحيح)

شرح حدیث

قوله:﴿ قال : وانا وانا ﴾ د اولنی ﴿ انا ﴾ تعلق د اول تشهد یعنی ﴿ اشهد ان لا اله الا الله ﴾ سره دې او د دویم ﴿ انا ﴾ تعلق د ﴿ محمد رسول الله ﴾ سره دې، د عبارت تقدیر به داسې وی ﴿أنت تشهد ان لا اله الا الله وأنا اشهد ان لا اله الا الله ، انت تشهد ان محمد رسول الله وأنا أشهد ان محمد رسول الله ﴾ غرض دا چه د ﴿ أنا ﴾ خبر محذوف دې دا خو په هغه صورت کښې دې چه کله په حدیث کښې د ﴿ یتشهد ﴾ نه شهادتین مراد وی او که د ﴿ یتشهد ﴾ نه مراد ﴿ یؤذن﴾ وی نو دا هم محتمل دې او په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه په پوره اذان کښې د اول نه اخر پورې د مؤذن په جواب کښې ﴿ وانا ﴾ ئې فرمائیل، چه کله هغه ﴿ الله اکبر ﴾ اووې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل یعنی ﴿ وانا اقول الله اکبر وهکذا الی اخر الاذان ﴾

یو اشکال او د هغې جواب

د دې نه پس خان پوهه کړئ چه دلته دا سوال راځی چه د حدیث د ظاهر نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ صرف په لفظ د ﴿ انا ﴾ باندې اکتفاء اوفرمائیله، پوره کلمات ئې په ژبې سره ادا نه کړل،(١) خو دا صورت د ﴿ قولوا مثل ما یقول ﴾ خلاف دې نو اوس یا خو به دا وئیلې شی چه دا واقعه ﴿ قولوا مثل ما یقول المؤذن ﴾ نه مخکښې ده یا دا اووئیلې شی چه په ﴿ قولوا مثل ما یقول ﴾ کښې امر د وجوب دپاره نه دې او یا دا اووئیلې شی چه کیدې شی چه رسول الله ﷺ خو پوره کلمه ادا کړې وی یعنی ﴿ وانا اقول الله اکبر وانا اقول اشهد ان لا اله الا الله الی اخر الاذان ﴾، خو راوی پوره نه دې نقل کړې خو دې احتمال ته شارحینو بعید وئیلې دې، ددې تولو د لیکلو نه روستو د بخاری شریف یو روایت په کتاب الجمعه کښې د نظر نه تیر شو کوم چه د سیدنا معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنه نه نقل دې چه د هغې نه دا خبره صراحة معلومیږی چه رسول الله ﷺ د شهادتین په جواب کښې خو صرف ﴿ وانا ﴾ اوفرمائیل او په باقی کلماتو کښې ئې پوره الفاظ په ژبې سره ادا کړل

[٥٢٧](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَهْضَمٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسَافٍ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، فَإِذَا قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَإِذَا قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مِنْ قَلْبِهِ، دَخَلَ الْجَنَّةَ".

---

(١) پس ابن حبان په دې حدیث باندې باب قائم کړې دې باب اباحة الاقتصار للمرأ عند سماعة الاذان علی قوله وانا وانا

(٢): صحیح مسلم بالصلاة ٧ (٣٨٥)، سنن النسائي بالیوم واللیلة (٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٤٧٥) (صحیح)

ترجمه: د عمر بن الخطاب ﷺ نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ ويلى دي: کله چي ووايي مؤذن: الله اکبر الله اکبر، نو او دى وايي يو کس ستاسو نه: الله اکبر الله اکبر، کله چي هغه ووايي: اشهد ان لا اله الا الله، هغه دې ووايي: اشهد ان لا اله الا الله، کله چي هغه ووايي: اشهدُ ان محمدًا رسول الله، هغه دې ووائي: اشهد ان محمدًا رسول الله، بيا هغه ووايي: حي على الصلاة، نو هغه دې وايي: لا حولَ و لا قوةَ الا بالله، بيا دې ووايي: حي على الفلاح، هغه ووايي: لا حولَ و لا قوةَ الا بالله، بيا هغه ووايي: الله اکبر الله اکبر، هغه دې هم ووايي: الله اکبر الله اکبر، بيا چه هغه ووايي: لا اله الا الله هغه دې هم ووايي: لا اله الا الله، د زړه نه نو داخل به شي جنت ته.

تشريح: **قوله:**(قوله دخل الجنة) معلومه شوه چه د اجابة اذان جزاء جنت دې.

بَابٌ مَا يَقُولُ إِذَا سَمِعَ الإِقَامَةَ

باب دى، په بيان د هغې څه چي وايي به يې چي کله اقامت واوري

[۵۲۸]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَابِتٍ، حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَوْ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّ بِلَالًا أَخَذَ فِي الْإِقَامَةِ، فَلَمَّا أَنْ، قَالَ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَقَامَهَا اللهُ وَأَدَامَهَا"، وَقَالَ فِي سَائِرِ الْإِقَامَةِ كَنَحْوِ حَدِيثِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْأَذَانِ.

ترجمه: د ابو امامة نه روايت دې او د بعضو اصحابو د نبي ﷺ نه، بيشکه بلال شروع کړو اقامت، هرکله ئې چي وې وئيل قد قامت الصلاة وويل نبي ﷺ: (اقامها الله و ادامها) الله دې قائم او دائم کړي، او هغه وويل: په ټول اقامت کښې پشان د حديث د عمر ﷺ په اذان کښې.

تشريح: د حديث الباب نه اجابت اقامة مستفاد کيږي او دا چه (قد قامت الصلاة) کښې ددې په ځائې (اقامها الله وادامها) اوئيلې شي، ملا علي قاري رحمه الله ليکي چه (واجعلني من صالحي اهلها) زيادت هم په دې کښې مشهور دې.

اجابت اقامت کښې اختلاف

صاحب منهل ليکي چه د حکايت اقامت شوافع او حنابله قائل دي او مالکيان د اجابت اقامت قائل نه دي، خو دا حديث د هغوی خلاف دې اګر چه حديث ضعيف دې د محمد بن ثابت د وجې نه کوم چه ضعيف دی او د شهر بن حوشب د وجې نه چه د هغه عدالت مختلف فيه دې، خو په فضائل اعمال کښې په ضعيف باندې عمل کيږي زه وايم چه د احنافو په نزد هم په دې کښې دوه اقوال دي پس په در مختار کښې ليکلي دي (ويجيب الاقامة كالاذان وقيل لا) او که د اقامت جواب نه ورکوي نو بيا به څه کوي؟ په شامي کښې ليکلي دي (ولا باس ان يشغل بالدعاء)

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٤٨٨٨) (ضعيف)

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ عِنْدَ الأَذَانِ

باب دې په بيان د هغې کې چې راغلې دې په دعاء کې په وخت د اذان کې

[٥٢٩] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، إِلَّا حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

ترجمه: د جابر بن عبد الله نه روايت دې هغه وئيلى دى، چې وئيلى دى رسول الله ﷺ: هغه څوک چې ووايي کله چې اذان واوري: (اى الله رب ددې پوره دعوت، او د مونځ قائميدونکې، ورکړې محمد ته وسيله او فضيلت، او اورسوې هغه مقام محمود ته هغه چې تا ورسره وعده کړې ده، مګر واجبيږي هغه لپاره شفاعت په ورځ د قيامت کښې.

تشريح: د اذان نه روستو دعا مشهوره ده لکه چه په کتاب کښې مذکور دى، د دعا الفاظ کوم چه په حديث الباب کښې منقول دى بعينه هم دغه شان په بخارى کښې هم دى او په دې کښې هم ﴿ والدرجة الرفيعة ﴾ نشته، حافظ ابن حجر په تلخيص الحبير او علامه سخاوى په مقاصد حسنه کښې ليکلې دى چه دا زيادت ثابت نه دى، خو د ابن السنى د عمل اليوم والليلة چه مونږ سره کومه مطبوعه نسخه ده په هغې کښې دا زيادت موجود دې،(٢) په سنن نسائى کښې دا زيادت نه دې موندلې شوې حال دا چه سند د دواړو يو دې. (الفيض السمائى)

فائده : مولانا يوسف بنورى رحمه الله په معارف السنن کښې ليکلې دى چه حضرت شاه ولى الله صاحب په حجة الله البالغة کښې دا زيادت ذکر کړې دې وهو مثبت في النقل، هغه ليکى چه په نورو رواياتو کښې ددې قسم مضمون موندلې شى هم دغه شان هغه ليکى چه ددې دعا په اخر کښې د الفاظو شرح په بذل کښې ذکر ده، د دعا ابتداء ﴿ اللهم رب هذه الدعوة التامة ﴾ نه ده چه د هغې نه معلوميږى چه اذان ډير لوئې دعوت او تبليغ دې، او په دې کښې څه شک دې.

بَابُ مَا يَقُولُ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ

باب دې په بيان د هغې چې وايي به يې په وخت د اذان د ماښام کې

[٥٣٠] (٣) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ إِهَابٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْوَلِيدِ الْعَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ مَعْنٍ، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ أَبِي كَثِيرٍ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُولَ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ: اللَّهُمَّ إِنَّ هَذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ وَأَصْوَاتُ دُعَاتِكَ فَاغْفِرْ لِي".

---

(١): صحيح البخاري/الأذان ٨ (٦١٤)، تفسير الإسراء ١١ (٤٧١٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٤٣ (٢١١)، سنن النسائي/الأذان ٣٨ (٦٨١)، سنن ابن ماجه/الأذان ٤ (٧٢٢)، (تحفة الأشراف: ٣٠٤٦)، مسند احمد (٣٥٤/٣) (صحيح)

(٢) وليست هذه الزيادة في النسخة التي حققها وعلق عليها عبد الرحمن الكوثر نجل الشيخ مولانا محمد عاشق الهي البرني، ويستفاد من تعليقه ان هذه الزيادة ليست في النسخة الهندية، نعم توجد في النسخة الحيدر بادية)

(٣): سنن الترمذي/الدعوات ١٢٧ (٣٥٨٩)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٤٦) (ضعيف)

ترجمه: د ام سلمة نه روایت دې هغې ویلې دي: ماته رسول الله ﷺ راوښوده چې زه وایم په وخت د اذان د ماښام کښې (ای الله بیشکه دا مخامخ کیدل د شپې ستا دې، او تلل د ورځ ستا دې، او اوازونه د داعیانو ستا دې) ماته بخښنه وکړې.

تشریح: خاص د ماښام د اذان په وخت دعا په حدیث الباب کښې ذکر ده، ملا علی قاری رحمه الله لیکې چه دا دعا د سحر د اذان په وخت منقول نه ده خو هم په دې باندې قیاس کولو سره وئیلې کیدې شي چه هر کله د ماښام د اذان په وخت ﴿ اللهم هذا اقبال لیلک وادبار نهارک ﴾ وئیلې شي نو ددې بالمقابل د سحر د اذان په وخت دې دا اووئیلې شي : ﴿ اللهم هذا ادبار لیلک واقبال نهارک الی اخره ﴾ خو د شیخ ابن حجر مکی رائې دا نه ده هغه وائي چه د امور توقیفی دی په دې کښې قیاس نه چلیږي، خو ملا علی قاری دا خبره رد کړې ده

بَابُ أَخْذِ الأَجْرِ عَلَى التَّأْذِينِ

باب دې په بیان دا خستلو د اجرت سکې په اذان باندې

[۵۳۱] (1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا سَعِيدٌ الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، قَالَ: قُلْتُ: وَقَالَ مُوسَى فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: إِنَّ عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اجْعَلْنِي إِمَامَ قَوْمِي، قَالَ: "أَنْتَ إِمَامُهُمْ وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا".

ترجمه: وئیلې دی موسی بیشکه عثمان بن ابی العاص وئیلې دی، ای د الله رسوله! ما وګرځوه امام د خپل قوم، هغه وایې: ته د هغوی امام شوې خیال ساته د کمزورو د هغوی، ونیسه مؤذن او نه دې اخلي مزدوري په خپل اذان.

تشریح: **قوله**:﴿ ان عثمان بن ابی العاص قال یا رسول الله ﴾ دا عثمان بن ابی العاص طائفی دې د وفد ثقیف سره په یکم هجری کښې د هغه ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وو، د ده روایت په ابواب المساجد کښې د تولو نه وړاندې باب کښې تیر شوې دې چه په هغې کښې دی ﴿ امره ان یجعل مسجد الطائف حیث کان طواغیتهم ﴾ هغه رسول الله ﷺ د طائف عامل جوړ کړې وو هغه رسول الله ﷺ ته درخواست کړې وو چه ما د خپل قوم امام جوړ کړئ نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل ﴿ انت امامهم ﴾ او صحیح ده، ما ته د هغوی امام جوړ کړې، د هغه د قوم مصداق اهل طائف دی.

د خپل ځان دپاره د امامت او تولیت طلب

په دې حدیث کښې د هغه صحابی د طرف نه د امامت طلب موندلې شوې دې چونکه هغه د خپل قوم دحال نه زیات خبر وو په ظاهره باندې هغوی خپل تولیت او امامت کښې د هغوی خیر او مصلحت ګنړلې وی، په دې وجه ئې د رسول الله ﷺ نه دا خیز طلب کړو، ابن رسلان لیکی چه ددې نه معلومه شوه چه امامت طلب کول او طلب باندې هغه ته ورکول دا مناسب ده او طلب کولو والا واقعی د هغې اهل وی، زما په ذهن کښې یوه بله خبره هم ده چه هغه د

(1): سنن النسائي/الأذان ٣٢ (٦٧٣)، سنن ابن ماجه/الأذان ٣ (٩٨٧)، (تحفة الأشراف: ٩٧٧٠)، مسند احمد (٢١٧/٤)، وقد اخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ٣٧ (٤٦٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٤١ (٢٠٩) (صحيح)

سر نه د عهدې په طلب کولو کښې مخکښې شوې نه دې بلکه څنګه چه هغه د رسول الله ﷺ نه خپل قوم ته د مونځ ورکولو اجازت طلب کړو او هغه ورته بغير د څه وخت اړولو نه اجازت ورکړو د خصوصيت مقام د وجې نه ګينې حقيقت دا دې چه رسول الله ﷺ به د عهدې طلب ګول نه خوښول او نه به ئې چاته په طلب باندې څه عهده ورکوله ﴿ واقتد باضعفهم ﴾ يعنى په مونځ کونکو کښې چه څوک زيات ضعيف او کمزورې وی د هغوی د اقتداء لحاظ سره مونځ ورکوه، لهذا نه خو دې ډير اوږد مونځ ورکړې شى او نه دې ډير مختصر، او نه په تيزئ سره، ځکه چه کمزورې انسان په رکوع او سجده کښې وخت اخلى هغوی ته په زيات اختصار او جلتئ کښې هم وخت لګى، او دويم مطلب ددې خبرې دا هم کيدې شى چه اګر چه ته مونږ ستا د قوم امام جوړ کړې ئې خو ددې باوجود په خپلو مقتديانو کښې د بوډاګانو او مشرانو د تعظيم او تکريم خيال ساته او په هغوی پسې شاته څه او په هغوی باندې پيش قدمى مه کوه، په يو روايت کښې راځى چه الله پاک د سپين ګيری مسلمان نه حياء کوی، هم دغه شان په يو روايت کښې دی چه ﴿ ان من اجلال الله اکرام ذى الشيبة المسلم ﴾ چه د بوډا سړی تعظيم ګويا د الله تعظيم دې، د ﴿ اضعف ﴾ په تفسير کښې دوه اقوال دی، د قوت بدنيه په اعتبار سره ضعيف او کمزورې او دويم تفسير ئې دې ﴿ اکثرهم خشوعا وتذللا لله تعالى ﴾.

قوله: ﴿ واتخذ مؤذنا لا ياخذ على اذانه اجرا ﴾ د حديث دا حصه د ترجمة الباب سره متعلق ده.

په استيجار على الطاعات کښې د علماء کرامو اختلاف

مسئله مختلف فيه ده هسې طاعة مجرده مثلا د قران کريم په تلاوت باندې اجرت اخستل خو د چا په نزد هم جائز نه دی[1] البته د ضرورت په څيزونو کښې اختلاف دې، د امام مالک په نزد په اذان، اقامت او تعليم القران وغيره امور دينيه باندې اجرت اخستل جائز دی، د شوافعو اصح قول هم دا دې او د احنافو او حنابله په نزد جائز نه دې، خو متاخرين احنافو ضرورة استيجار على الطاعات جائز کړې دې، په کوکب الدرى کښې ليکى چه په تراويح کښې د قران کريم په قرأت باندې اجرت اخستل جائز نه دی، هم دغه شان ايصال ثواب للميت باندې د ختم قران اجرت هم جائز نه دې، ځکه چه طاعات باندې اخذ اجرت له متاخرينو د دينى ضرورت او مصلحت په بناء جائز کړې دې او دلته هيڅ ضرورت او مجبورى نشته ځکه چه په تراويح کښې ختم قران هيڅ ضرورى نه دې، غير حافظ هم بغير د اجرت نه تراويح ورکولې شى او په عرف الشذى کښې ليکى چه په فتاوى قاضى خان کښې دی چه په زړه زمانه کښې په اسلامى حکومت او علماء کرامو کښې د مؤذنينو دپاره د بيت المال نه وظائف مقرر وو په خلاف ددې زمانې، لهذا په اذان وغيره باندې اجرت جائز دې او په دې کښې د مذهب نه خروج هم نشته په خلاف د صاحب هدايه

[1]) په دې کښې زمونږ د بعض فقهاء کرامو نه خطائى شوې ده چه هغوی په تلاوت مجرد او تعليم قران کښې فرق نه دې کړې هم دا وجه ده چه روستو علماء کرامو ته په دې باندې د تنبيه ضرورت راغلو. ينظر لشرح عقود رسم المفتى ۱۲)

چه د هغه د کلام نه معلومیږی چه په جواز باندې کلام د مذهب نه خروج دې، صاحب عرف الشذی فرمائی چه زیاته قابل اعتماد خبره د قاضیخان ده، ددې نه پس ځان پوهه کړه چه په دې مسئله کښې د حدیث الباب نه د احنافو تائید کیږی، هم دغه شان د احنافو استدلال د هغه روایت نه دې کوم چه په ابوداود کښې په کتاب الاجارة باب کسب المعلم د لاندې راځی، عبادة بن الصامت ﷺ بعض اهل الصفه ته د قران کریم تعلیم ورکړو هغوی هغه ته په دې باندې یو غشی او لینده ورکول اوغوښتل. عباده ددې اجازت د رسول الله ﷺ نه اوغوښتلو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه که د اور لینده په غاړه کښې اچول غواړې نو هغه قبول کړه،(۱) د دې په مقابله کښې شوافعو د ابو سعید خدری ﷺ (۲) د واقعې نه استدلال کړې دې، هغه دا چه هغه یو ځل په یو لړم خوړلی باندې سورة فاتحه درې کرته لوستلو سره دم کړه چه په هغې سره هغه روغ شو نو هغه د هغه خلقو نه ددې معقول اجرت واخستلو دیرش بیزې، دا قصه هم په ابوداود کتاب الاجارة کښې موجود ده. خو دا استدلال صحیح نه دې ځکه چه دا خو د دم او علاج او دوایئ د قبیل نه دی نه د تعلیم د قبیل نه، او د اخذ الاجر علی الرقیة مونږ هم قائل یو هم په دې وجه باندې امام ابوداود په دې باندې باب قائم کړې دې، باب اجر الطبیب، هم دغه شان په عرف الشذی کښې لیکی چه ختم قران او ختم بخاری که د خپل څه دنیوی غرض دپاره وی نو بیا خو پرې اجرت اخستل جائز دی البته که ختم د دین د امورو دپاره وی لکه ایصال ثواب وغیره نو بیا اجرت اخستل جائز نه دی.

بَابٌ فِي الأَذَانِ قَبْلَ دُخُولِ الْوَقْتِ

باب دې په بیان د اذان کولو کې مخکې د داخلیدو د وقت نه

اذان چونکه د مانځه د وخت د خبر ورکولو نوم دې په دې وجه قبل دخول وخت جائز کیدل نه دی پکار او مسئله هم دا ده.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه

پس د علماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه د سحر نه علاوه په یو وخت کښې هم اذان قبل الوقت جائز نه دې، البته په صلاة فجر کښې اختلاف دې، د امام ابوحنیفه او محمد رائې خو په دې کښې هم دا ده چه دا ناجائز دې، البته د ائمه ثلاثه او ابویوسف په نزد د سحر اذان د صبا راختلو نه مخکښې د شپې په اخری شپږمه حصه کښې ورکول جائز دی.

[۵۳۲](۳) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَدَاوُدُ بْنُ شَبِيبٍ المعنى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ بِلَالًا أَذَّنَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ، فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْجِعَ فَيُنَادِيَ: أَلَا إِنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ أَلَا إِنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ، زَادَ مُوسَى: فَرَجَعَ فَنَادَى: أَلَا إِنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا الْحَدِيثُ لَمْ يَرْوِهِ عَنْ

---

[1]) د حدیث الفاظ دا دی: ان کنت تحب ان تطوق طوقا من النار فاقبلها)

[2]) ابن العربی د مالکیانو د طرف نه ددې حدیث نه استدلال کړې دې: ما ترکت بعد نفقة نسائي ومؤنة عاملي فهو صدقة)

[3]): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۷۵۸۷) (صحيح)

أَيُّوبَ إِلَّا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ.

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روايت دې، بيشکه بلال ﷺ اذان وکړو مخکې د ختلو د صبا نه، نو نبي ﷺ ورته امر وکړو چې واپس شي او اذان وکړي: بيشکه بنده اوده شوی وو، بيشکه بنده اوده شوی وو. زيادت کړی دی مسلم: واپس شو هغه او اواز ئې وکړو: خبردار بيشکه بنده اوده شوی وو. وئيلی دی ابوداود: او دا حديث نه دی روايت کړی د ايوب نه مګر حماد بن سلمة.

تشريح: **قوله**: ﴿ عن ابن عمر ان بلالا اذن قبل طلوع الفجر الخ ﴾ يعنی بلال ﷺ يو ځل د صبا راختلو نه مخکښې اذان ورکړو نو رسول الله ﷺ هغه ته حکم اوکړو چه واپس شه او اعلان اوکړه ﴿ الا ان العبد قد نام ﴾ د نوم نه مراد دلته غفلت او خطاء ده چه زما نه غلطی اوشوه او اذان مې د صبا راختلو نه مخکښې اوکړو، يا دې نوم په خپل حقيقت باندې محمول کړې شی چه زما بې وخته سترګې ورغلې وې، په بيداريدو باندې په دې سوچ چه چرته ناوخته شوې نه وی د وخت نه مخکښې مې اذان اوکړو، دا حديث د احنافو واضح دليل دې.

په حديث الباب باندې د محدثينو نقد

خو محدثين حضرات دا روايت صحيح نه منی چه په هغوی کښې امام احمد، ابو حاتم رازی، امام بخاری، علی بن المدينی، امام ترمذی او خپله مصنف شامل دی، ددې حضراتو نقد په دې حديث باندې دا دې کوم چه مصنف بيان کړې دې. ﴿ قال ابوداود: وهذا الحديث لم يروه عن ايوب الا حماد بن سلمة ﴾ د نقد حاصل دا دې چه دا حديث مرفوعا ثابت نه دې بلکه موقوف دې يعنی دا واقعه د رسول الله ﷺ د زمانې نه ده بلکه د عمر ﷺ د زمانې ده چه د هغه يو مؤذن وو چه د هغه نوم مسروح وو يا مسعود وو چه هغه يو ځل د وخت نه مخکښې د سحر اذان اوکړو نو په دې باندې ورته عمر ﷺ فرمائيلې وو چه لاړ شه او اعلان اوکړه ﴿ الا ان العبد قد نام ﴾ پس دا واقعه هم دغه شان مصنف ددې باب په دويم حديث کښې بيان کړې ده او فرمائی ﴿ وهذا اصح من ذاک ﴾

امام ترمذی ﷫ په جامع ترمذی کښې ليکلې دی چه په صحيح حديث کښې راغلې دی ﴿ ان بلالا يؤذن بليل فكلوا واشربوا حتى يؤذن ابن ام مكتوم ﴾ دا حديث متفق عليه دې په دې کښې دا خبره بيان کړې شوې ده چه بلال ﷺ د شپې په اخر کښې د صبا راختلو نه مخکښې اذان کوی، روژه دار دې د هغه په اذان باندې خوراک څکاک نه بندوی چه ترڅو ابن ام مکتوم بل اذان نه وی کړې او چه کله هغه اذان اوکړی نو په هغې باندې خوراک څکاک پريږدئ، په دې صحيح حديث کښې رسول الله ﷺ خپله فرمائی چه بلال د شپې اذان کوی، نو بيا د ابن عمر ﷺ روايت څنګه صحيح کيدې شی.

د احنافو د طرف نه د دې نقد جواب

زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه بلال او ابن ام مکتوم به په نمبر نمبر باندې اذان کولو يعنی کله به د تهجد دپاره اذان بلال کولو، او دويم اذان به ابن ام مکتوم او کله ددې برعکس

چه د تهجد دپاره به ابن ام مکتوم او د سحر دپاره به اذان بلال کولو کوم چه د صبا راختلو نه پس پکار وو خو هغه د غلطئ د وجې نه د صبا راختلو نه مخکښې اوکړو په دې وجه اعلان ته ضرورت راغلو لهذا په دوارو احادیثو کښې هیڅ تعارض پاتې نه شو او خبره بالکل صفا او واضحه شوه. فالحمد لله علی ذلک. د دې نه علاوه ددې دوه جوابونه نور دی. ۱: دا خو صحیح ده چه د رسول الله ﷺ په اخر زمانه کښې به د سحر په وخت دوه اذانونه کیدل خو دا د هیڅ صحیح حدیث نه ثابته ندی چه د هجرت د ابتداء نه تر اخره پورې به همیشه هم داسې کیدل، ممکنه ده چه په شروع کښې یو اذان کیدلو د صبا راختلو نه روستو او یوه ورځ په غلطئ سره هغه د وخت نه مخکښې اذان اوکړو چه په هغې باندې تنبیه اوکړې شوه. ۲: ممکنه ده چه بلال رضی الله عنه د مقرر وخت نه ډیر مخکښې اذان کړې وی په دې وجه تنبیه اوکړې شوه، که دا توجیهات اونکړې شی بلکه هم دا اوونیلې شی چه دا واقعه د عمر رضی الله عنه د زمانې ده او د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به اذان قبل الوقت کیدلو نو دا اشکال به راشی چه هر کله عمر رضی الله عنه ته دا معلومه وه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به همیشه قبل الوقت اذان کیدلو نو بیا پرې هغه دوباره اذان ولې اوکړو دا ئې غیر معتبر ولې کړو، لهذا خیر هم په دې کښې دې چه دا واقعه مرفوع اومنلې شی ددې توجیه دې اوکړې شی. والله اعلم

د جمهورو د استدلال رد

د دې نه روستو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه جمهور علماء کرام کوم چه د وخت نه مخکښې د اذان د جواز قائل دی هغه پورته ذکر شوې حدیث ﴿ ان بلالا یؤذن بلیل ﴾ نه استدلال کوی چه اوګورئ سیدنا بلال رضی الله عنه د سحر راختلو نه مخکښې اذان کولو، زمونږ علماء کرامو ئې جواب کړې دې چه دا خو غور اوکړئ چه هغه اولنې اذان به د څه دپاره کیدلو یا د سحر د مونځ دپاره به کیدلو یا د بل څه غرض دپاره ددې تصریح خپله په روایاتو کښې موجود ده ﴿ لیوقظ نائمکم ویرد قائمکم ﴾ یعنی دا اولنې اذان به په دې وجه کیدلو چه کوم خلق د اول نه بیدار دی او تهجد کوی هغوی لږ شان ارام اوکړی او څوک چه تر اوسه پورې اوده وو هغوی بیدار یدو سره څو رکعتونه تهجد اوکړی، بیا دا وئیل څنګه صحیح کیدې شی چه د سحر اذان د وخت نه مخکښې جائز دې ځکه چه اول خو دا خبره ددې تصریح خلاف ده، دویم په دې وجه که اومنلې شی چه دا به د سحر د مانځه دپاره کیدلو نو کله به په هغې باندې اکتفاء کولې شوه، اخر دا څه خبره ده چه همیشه به د صبا راختلو نه پس دویم اذان کیدلو، معلومه شوه چه هغه اول اذان به نه د سحر د مونځ دپاره کیدلو او نه د هغه دپاره کافی وو

[۵۳۳] (۱) حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ، أَخْبَرَنَا نَافِعٌ، عَنْ مُؤَذِّنٍ لِعُمَرَ يُقَالُ لَهُ: مَسْرُوحٌ، أَذَّنَ قَبْلَ الصُّبْحِ فَأَمَرَهُ عُمَرُ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَقَدْ رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ أَوْ غَيْرِهِ، أَنَّ مُؤَذِّنًا لِعُمَرَ يُقَالُ لَهُ: مَسْرُوحٌ أَوْ غَيْرُهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَرَوَاهُ الدَّرَاوَرْدِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ لِعُمَرَ مُؤَذِّنٌ يُقَالُ لَهُ: مَسْعُودٌ، وَذَكَرَ نَحْوَهُ. وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ ذَاكَ

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۷۵۸۷) (صحيح)

ترجمه: خبر راکړی دی مونږ ته نافع د مؤذن د عمر نه چې ورته مسروح، اذان ئې وکړو مخکې د صبا نه نو عمر ورته امر وکړو، بیائی دمخکښې حدیث پشان ذکر کړو. وئیلی دی ابوداود: په تحقیق سره نقل کړې دی دې لره حماد بن زید د عبید الله بن عمر نه او هغه د نافع نه او یا د بل چانه، د عمر رضی الله عنه مؤذن چې مسروح وو یا بل څوک وو. وئیلی دی ابوداود: نقل کړی دی دې لره دَرَاوَردی د عبید الله نه او هغه د نافع نه او هغه د ابن عمر نه، هغه وائی چه د عمر یو مؤذن وو چه دهغه نوم مسعود وو، بیا ئې دهغې په شان بیان کړو او دا دهغې نه زیات صحیح دی.

تشریح: **قوله**: ﴿ لا تؤذن حتی یستبین لک الفجر الخ ﴾ دا حدیث هم د احنافو دلیل دې په دې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته فرمائی چه د سحر اذان هغه وخته پورې مه کوه چه ترڅو پورې صبا ښه روښانه نه شی او هغه خپل دواړه لاسونه عرضا خواره کړل یعنی ترڅو پورې چه د سحر رڼړا د اسمان په غاړو باندې عرضا ظاهر شی تر هغه وخته پورې دې د سحر اذان اونکړې شی، د صبا راختلو علامت دا دې چه هغه په افق کښې عرضا وی او خوریږی او د صبح کاذب ظهور په اسمان کښې طولا وی او بیا لږ ساعت پس هغه رڼړا غائبه شی، د ابوداود په بعض نسخو کښې یو زیادت دې. ﴿ قال ابوداود : شداد لم یدرک بلالا ﴾ مصنف په دې حدیث باندې نقد فرمائی چه دا منقطع دې، شداد کوم چه د سند راوی دې د هغه سماع د بلال نه ثابته نه ده، ابن رسلان ددې حدیث په باره کښې وائی چه زمونږ اصحابو دا په اقامت باندې محمول کړې دې، عجیبه خبره دا ده چه اذان په اقامت باندې محمول کوی، په بذل المجهود کښې حضرت د مصنف ابن ابی شیبة نه د عائشې رضی الله عنها حدیث نقل کړې دې ﴿ ما کانوا یؤذنون حتی ینفجر الفجر ﴾ دا حدیث مرسل یا منقطع نه دې بلکه مسند او صحیح دې.

بَابُ الْأَذَانِ لِلْأَعْمَى

باب دې په بیان د اذان کولو لپاره د ړوند

په اذان اعمی کښې د احنافو درې اقوال دی، جائز دې بغیر د کراهت نه صرح به الشامی، مکروه دې ذکر فی المحیط، خلاف اولی دې ذکره صاحب البدائع، او د امام شافعی مذهب کما قال النووی دا دې چه که د اعمی سره بصیر وی کوم چه د هغه رهنمائی اوکړی نو بیا مکروه نه دی لکه چه د ابن ام مکتوم سره به بلال وو ګینې مکروه دې، په منهل کښې د ابن عبدالبر مالکی نه هم هغه نقل کړې دې، کوم چه امام نووی رحمه الله فرمائی

[۵۳۵](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ كَانَ مُؤَذِّنًا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ أَعْمَى".

ترجمه: د عائشی رضی الله عنها نه روایت دی: بیشکه ابن ام مکتوم د رسول الله ﷺ مؤذن وو او هغه ړوند وو.

(١): صحيح مسلم/الصلاة ٥ (٣٨١)، (تحفة الأشراف: ١٦٩٠٧) (صحيح)

تشريح: ابن ام مکتوم کوم چه د مسجد نبوی مؤذن وو د هغوی په نوم کښې اختلاف دې، (قيل عبدالله، قيل عمرو) او ابن ام مکتوم دهغه مور ده چه د هغې نوم عاتکه دې، دا د مهاجرين اولين نه وو، چا چا چه د رسول الله ﷺ نه مخکښې مدينې ته هجرت کړې وو، په رواياتو کښې راځي چه رسول الله ﷺ د غزواتو د سفر په وخت هغه ديارلس کرته د خپل ځان نه روستو د مونځونو نائب جوړ کړې دې او هم دا هغه صحابی دې چه د چا په باره کښې (عبس وتولی) آيتونه نازل شوې دی رضی الله تعالی عنه.

بَابُ الْخُرُوجِ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ الأَذَانِ

باب دې په بيان د وتلو کښې د جماعت نه وروسته د اذان نه

[۵۳۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْمُهَاجِرِ، عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ رَجُلٌ حِينَ أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِلْعَصْرِ، فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: "أَمَّا هَذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د ابو الشعثاء نه روايت دې، هغه وئيلی دي: وو مونږ د ابوهريره رضی الله عنه په مسجد کښې نو ووتلو يو سړی کله چې اذان وکړو مؤذن د مازيګر، نو ووئيل ابو هريرة: هر چې دا سړی دی بيشکه نافرمانی ئې وکړه د ابو القاسم ﷺ.

تشريح: **قوله:** (کنا مع ابی هريرة فی المسجد فخرج رجل حين اذن المؤذن للعصر) يعنی يو سړې کوم چه د مخکښې نه په مسجد کښې وو د اذان د شروع کيدو نه پس د مسجد نه بهر لاړو نو په دې باندې ابوهريره رضی الله عنه اوفرمائيل چه دې سړی د رسول الله ﷺ نافرمانی اوکړه، لفظ (اما) د تفصيل دپاره راځي، د تفصيل دپاره کم از کم دوه څيزونه کيدل پکار دی او دلته په عبارت کښې صرف يوه خبره ذکر شوې ده لهذا ددې مقابل به محذوف منلې شی يعنی (اما من لبث فی المسجد فقد اطاع ابا القاسم) او ددې مقابل جزء ثانی په روايت کښې مذکور دې، د ابن ماجه وغيره په بعض روايتونو کښې د اذان نه روستو د مسجد نه وتونکو ته منافقان وئيلې شوې دی خو په هغه روايت کښې ددې خبرې تصريح ده چه هغه بغير د څه حاجت نه وتلې وی او بيا ئې د واپسئ هم څه اراده نه وی، هم دغه شان فقهاء کرامو نور هم بعض څيزونه مستثنی کړې دی، مثلا هغه سړې په بل مسجد کښې امامت يا اذان يا د جماعت د نظم ذمه دار وی د هغه دپاره خروج جائز دې

په مسئلة الباب کښې د اختلاف تفصيل

د دې تفصيل نه پس يو بل تفصيل باندې ځان پوهه کړئ کوم چه د ائمه کرامو ترمينځه اختلافی دې، هغه دا چه خارج من المسجد بعد الاذان په درې قسمه دې. ۱: (من لم يصل) چا چه تر اوسه پورې مونځ نه دې کړې. ۲: (من صلی منفردا) چا چه مونځ منفردا کړې دې،

(): صحيح مسلم/المساجد ٤٥ (٦٥٥)، سنن الترمذي/الصلاة ٣٦ (٢٠٤)، سنن النسائي/الأذان ٤٠ (٦٨٥)، سنن ابن ماجه/الأذان ٧ (٧٣٣)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٧٧)، مسند احمد (٢/١٠، ٤١٦، ٤١٧، ٥٠٦، ٥٣٧)، سنن الدارمي/الصلاة ١٢ (١٢٤١) (صحيح)

۳: من صلى بجماعة هغه سړې چا چه باجماعت مونځ کړې وی، اوس د هر يو حکم واورئ، د احنافو په نزد دا ممانعت صرف د اول قسم دپاره دې، د ﴿ قسمين اخرين ﴾ دپاره نه دې، البته که د سړی په مسجد کښې د موجود کيدو په وخت اقامت صلاة هم شروع شی نو بيا به د مونځ کولو نه پس هم د مسجد نه خروج کول مکروه وی، خو صرف په ماسپخين او ماسخوتن کښې ځکه چه ددې دوه مونځونو نه روستو نفل مونځ کول جائز دی او په باقی درې مونځونو کښې نه، په سحر او مازيگر کښې په دې وجه نه چه په دې دوه وختونو کښې نفل کول مکروه دی او په مابنام کښې په دې وجه نه چه د نفلو درې رکعتونه نه وی. دا مذهب خو شو د احنافو، او د شوافعو او مالکيانو په نزد د کراهة خروج حکم قسم اول او ثانی دواړو دپاره دې او د امام احمد رحمه الله په نزد دا حکم اول د ثانی او ثالث درې واړو دپاره دې، بل اختلاف دلته دا دې چه د اعاده په شکل کښې د شوافعو او حنابله په نزد اعاده به د ټولو مونځونو وی، البته امام احمد رحمه الله فرمائی چه په مابنام کښې دې د يو رکعت اضافه اوکړی او د امام مالک رحمه الله په نزد اعاده د مابنام نه علاوه د باقی څلورو مونځونو ده.

د اعاده صلاة متعلق متعدد ابواب او تراجم

هم دغه شان د اعاده صلاة مسئله يو بل نوع په ابواب المواقيت کښې په باب ﴿ باب اذا اخر الامام الصلاة عن الوقت ﴾ د لاندې هم تير شوې دې هم دغه شان وړاندې هم راروان دې ﴿ باب من صلى فى منزله ثم ادرک الجماعة ﴾ لهذا ددې مسئلې متعلق به څه کلام هلته هم راشی هغه درې واړه مواقع هم په ذهن کښې ساتل پکار دی او د هر ځائې د مسئلې نوعيت هم.

د حديث الباب محمل د احنافو په نزد

د پورته ذکر شوې مذاهب ائمه په وجه به دا وئيلې شی چه حديث الباب د احنافو په نزد (چونکه ددې تعلق د مازيگر سره دې) به په هغه سړی باندې محمول کولې شی چا چه مونځ نه وی کړې، او د نورو ائمه کرامو په نزد عام دې يعنی اگر مونځ ئې کړې وی، ځکه چه حديث په ظاهره مطلق دې، او احناف دا وائی چه حديث لره په مطلق منلو کښې په دې حديث او په احاديث النهى عن الصلاة بعد العصر کښې تعارض راځی په دې وجه دا مقيد منل ضروری دی او که دا مطلق اومنلې شی نو بيا به د حديث جواب دا وی چه قاعده دا ده چه کله په محرم او مبيح کښې تعارض راشی نو محرم ته به ترجيح وی.

بَابٌ فِي الْمُؤَذِّنِ يَنْتَظِرُ الإِمَامَ

باب دې په بيان د مؤذن کښې چې انتظار کوې د امام

[۵۳۷] ( ) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ بِلَالٌ يُؤَذِّنُ ثُمَّ يُمْهِلُ، فَإِذَا رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ خَرَجَ، أَقَامَ الصَّلَاةَ".

[۱]: سنن الترمذي/الصلاة ۳٤ (۲۰۲)، (تحفة الأشراف: ۲۱۳۷)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ۲۹ (۶۰۶)، مسند احمد (۵/۷۷، ۷۸، ۹۵، ۱۰٤، ۱۰۵) (صحيح)

ترجمه: د جابر بن سمرة نه روايت دې هغه وئيلی دي: وو بلال چې اذان به ئې کولو، بيا به ئې انتظار کولو، کله چې به ئې نبی ﷺ وليدلو چې راووتلونو اقامت به ئې وکړو دمانځه دپاره.

تشريح: امام ترمذی ددې مقصد دپاره داسې ترجمه قائم کړې ده، باب ما جاء ان الامام احق بالاقامة. او ددې د لاندې هغه حديث هم هغه ذکر کړې دې کوم چه امام ابوداود دلته راوړې دې، مطلب دا دې چه مؤذن لره د اذان کولو خو پوره اختيار دې چه کله وخت راشی نو اودې کړی خو په اقامت کښې به هغه د امام انتظار کوی، چه کله امام د مونځ کولو دپاره مسجد ته داخل شی نو بيا هغه لره اقامت کول پکار دی، پس په حديث الباب کښې دی چه بلال رضي الله عنه به د اذان کولو نه روستو ايساريدو بيا چه به ئې کله رسول الله ﷺ اوليدو چه هغه مسجد ته تشريف راوړی نو بيا به ئې اقامت کولو، مسئله اجماعی ده د چا هم په کښې اختلاف نشته.
امام ترمذی رحمه الله فرمائی: قال بعض اهل العلم ان المؤذن املک بالاذان والامام املک بالاقامة. چه په اذان کولو کښې خو مؤذن ته اختيار دې او د اقامت مدار په امام باندې دې، د ترمذی په شرح کښې ليکی چه دا د يو حديث مرفوع الفاظ دی چه د هغې راوی ابوهريره رضي الله عنه دې دا ابن عدی په خپل کتاب کښې روايت کړې دې. كذا فی بلوغ المرام للحافظ.

بَابٌ فِي التَّثْوِيبِ

باب دې په بيان د تثويب کښې (اواز کول د مانځه دپاره)

(لغوی تحقيق): د تثويب په مأخذ اشتقاق کښې دوه قوله دی، وئيلې شوې دی چه دا د ثوب نه مشتق دې چه د هغې اصل دا دې چه کله يو فرياد کونکې سرې چغې وهی او فرياد کوی نو هغه خپله کپړه اوچتوی او خوزوی ئې لکه چه جهنډه خوزولې شی ددې دپاره چه خلق د هغه طرف ته متوجه شی، بل قول دا دې چه دا د ﴿ ثاب يثوب ﴾ نه ماخوذ دې چه د هغې معنی ده رجوع کول په تثويب کښې هم چونکه رجوع الی الاعلان وی په دې وجه دې ته تثويب وئيلې شی.

د تثويب معانی

د شريعت په عرف کښې د تثويب اطلاق په درې معانی باندې کيږی، ۱: اقامت، لکه چه اوس نزدې په حديث کښې تير شو چه په هغې کښې د ﴿ ضراط الشيطان ﴾ ذکر دې حتی اذا ثوب بالصلاة ادبر. ۲: د سحر په آذان کښې ﴿ الصلاة خير من النوم ﴾ وئيل، ۳: د اذان او اقامت ترمينځه خلق مونځ طرف ته دوباره متوجه کول که د قول په ذريعه وی لکه ﴿ حی علی الصلاة، حی علی الصلاة ﴾ وغيره الفاظ، يا د فعل په ذريعه لکه ﴿ تنحنح ﴾ يا دروازه ټکول، او د مصنف مراد په ترجمة الباب کښې دا دريمه معنی ده.

[۵۳۸] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى الْقَتَّاتُ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ، فَثَوَّبَ رَجُلٌ فِي الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ، قَالَ: "اخْرُجْ بِنَا فَإِنَّ هَذِهِ بِدْعَةٌ".

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۳۹۵) (حسن)

ترجمه: د مجاهد نه روايت دې هغه وئيلي دي: ومړ زه د ابن عمر سره نو تثويب وکړو يو سړي د ماسپخين او يا د ماز يگر دپاره دراوي شک دی، ابن عمر ووېل: اوکاږه مونږ يقيناً دا خو بدعت دی.

تشريح: قوله: ﴿عن مجاهد قال : كنت مع ابن عمر فثوب رجل الخ﴾ ابن عمر ﷺ يو مسجد ته د مونځ دپاره لاړو د ماسپخين يا د ماز يگر وخت وو، په مسجد کښې کيناستلو يو سړي تثويب اوکړو نو د ابن عمر ﷺ نه برداشت او نه شو او هغه خپل شاگرد مجاهد ته اووې چه ما دې مسجد نه بوځه دلته بدعت کيږي، ما بوځه ئې په دې وجه اووې چه هغه په اخرئ عمر کښې نابينا شوې وو.

د تثويب په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف

د تثويب بالمعنى الثالث جمهور علماء کرام قائل نه دی هغوی دا بدعت منی، پس امام ترمذی ﷺ فرمائی ﴿ هذا هو التثويب الذى كرهه اهل العلم واحدثه (الناس) بعد النبى صلى الله عليه وسلم ﴾ او احناف ددې قائل دی خو صرف د سحر په مونځ کښې (قاله محمد فى الجامع الصغير) او په هدايه کښې ليکلي دی چه متقدمين احناف خو دا خاص کوی د سحر د مونځ سره ځکه چه هغه د نوم او غفلت وخت دې خو متاخرينو په باقی مونځونو کښې هم ددې اجازت ورکړې دې، لظهور التكاسل فى الامور الدينية... البته په متقدمينو کښې د امام ابويوسف ﷺ رائې دا ده چه تثويب د فجر په مونځ کښې خو على العموم عوام او خواص د ټولو دپاره او په باقی مونځونو کښې هغوی ددې اجازت ورکړې دې صرف د خواص دپاره لکه اميران او قضاة او مفتيان کرام ځکه چه دا حضرات په امور مسلمين کښې مشغول وی. (زيلعى شرح الكنز)

دا اختلاف او تفصيل متعلق وو په تثويب بالمعنى الثالث پورې، او تثويب بالمعنى الاول او والثانى تثويب قديم ته وئيلې شی او دواړه خو ټول منی، البته تثويب بالمعنى الثانى کښې لږ شان اختلاف دې هغه دا چه جمهور علماء ائمه ثلاث نو ددې د استحباب قائل دی او د امام شافعی قول قديم هم دا دې او هم دا خبره د هغوی په نزد مفتی به ده او قول جديد کښې هغه ددې نه انکار کړې دې.

بَابٌ فِي الصَّلَاةِ تُقَامُ وَلَمْ يَأْتِ الإِمَامُ يَنْتَظِرُونَهُ قُعُودًا

باب دې په بيان د مانځه کښې چې ودرولی شی او امام له وی راغلی خلق يې انتظار کوی په ناسته

يعنی که د مونځ دپاره اقامت شروع شی او حال دا وی چه امام لا مسجد ته نه وی رارسيدلې نو مقتديانو لره پکار دی چه نه اودريږی بلکه د امام انتظار دې په ناسته باندې اوکړی. دا مسئله اجماعی دې خو دلته دا اشکال دې چه د اقامت خو قاعده دا ده چه هغه دې صرف د امام په راتلو باندې اوکړې شی لکه چه د تير باب په حديث جابر کښې تير شوې دی، لهذا دا ترجمة الباب د هغې خلاف شو، جواب دا دې چه مصنف دا ترجمه د ظاهر الفاظ حديث مطابق ترلې ده ځکه چه په حديث الباب کښې هم دغه شان دې لهذا

اصل اشکال په حديث باندې شو چه د هغې جواب اوس راروان دې

[۵۳۹]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي "، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَكَذَا رَوَاهُ أَيُّوبُ، وَحَجَّاجٌ الصَّوَّافُ، عَنْ يَحْيَى، وَهِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيَّ يَحْيَى، وَرَوَاهُ مُعَاوِيَةُ بْنُ سَلَّامٍ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى، وَقَالَا فِيهِ: حَتَّى تَرَوْنِي وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ.

ترجمه: عبد الله بن ابی قتادة د خپل پلار نه روايت کوی او هغه د نبی ﷺ نه، هغه وفرمائيل: کله چې اقامت وشی د مانځه لپاره نو مه پاڅئ ترديې چې ما وينئ. ونيلی دی ابوداود. داسې روايت کړی دی ايوب او حجاج الصواف د يحيی او هشام الدستوائی نه، هغه وايي: وليکل ماته يحيی، او روايت کړی دی ددې معاوية بن سلام او علی بن المبارک د يحيی نه، او هغوی دواړو ويلی دي: ترديې چې ما وينئ او لازم دی په تاسو باندې اطمينان.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا مسلم بن ابراهيم... اذا اقيمت الصلاة فلا تقوموا حتی ترونی ﴾ د حديث مطلب واضح دې دا حديث هم دغه شان په بخاری شريف کښې هم دې، دلته اشکال هم هغه دې کوم چه پورته مذکور شو.

دفع تعارض بين الحديثين

د دې اشکال جواب علماء کرامو دا ورکړې دې چه دسيدنا بلال رضی الله عنه نظر به په حجره شريفه باندې وو، هغه به په غور سره رسول الله ﷺ ته کتل او چه کله به هغوی راوليدو چه رسول الله ﷺ مسجد ته د راتلو دپاره د خپل ځائې نه را روان شو نو سيدنا بلال رضی الله عنه به فورا اقامت شروع کړو حال دا چه تر اوسه پورې به ټول د مسجد خلقو رسول الله ﷺ نه وو ليدلې، نو د هغه خلقو په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه کله تاسو خلق مسجد ته راورسيږئ نو هغه وخته پورې مه اودريږئ. فارتفع التعارض من البين.

ترجمة الباب او د حديث تشريح وغيره خو اوشوه خو دلته اوس يوه مسئله بله باقی ده بلکه دوه، اول دا چه مقتديان به مونځ ته کله اودريږی، د اقامت په شروع کښې يا د پوره کيدو نه روستو، او بله مسئله دا ده ﴿ متی يکبر الامام للتحريمة؟ ﴾ دواړه مسئلې مختلف فيه دی

متی يقوم الناس فی الصف؟

په اوله مسئله کښې تفصيل دا دې چه د امام شافعی او امام ابويوسف رائې دا ده چه ﴿يقومون بعد الفراغ من الاقامة ﴾ د امام مالک او اکثر علماء کرامو رائې دا ده چه مقتديانو لره د اقامت په شروع کښې اودريدل پکار دی (نن صبا زمونږ عمل هم په دې دې) او د امام احمد رحمه الله په نزديک ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ باندې اودريدل پکار دی او د امام ابوحنيفه او امام محمد په نزد ﴿ حی علی الصلاة ﴾ باندې، او دا ټول تفصيل په هغه صورت کښې دې

(): صحيح البخاري/الأذان ۲۲ (۶۳۷)، ۲۳ (۶۳۸)، والجمعة ۱۸ (۹۰۹)، صحيح مسلم/المساجد ۲۹ (۶۰۴)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۹۸ (۵۹۲)، سنن النسائي/الأذان ٤۲ (۶۸۸)، والإمامة ۱۲ (۷۹۱)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۰۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۳۰٤، ۳۰۷، ۳۰۸)، سنن الدارمي/الصلاة ٤۷ (۱۲۹۶) (صحيح)

چه کله امام د مخکښې نه په مسجد کښې وی او که بالفرض هغه وخته پورې امام مسجد ته نه وی رارسیدلې نو بیا ددې حکم په ترجمة الباب کښې راغلې دې.

متى يكبر الامام للصلوة؟

او په مسئله ثانیه کښې اختلاف دا دې چه جمهور علماء ائمه ثلاث او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد امام له پکار دی چه هغه مونځ د اقامت په پوره کیدو باندې شروع کړی او د امام ابوحنیفه او امام محمد په نزد ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ باندې مونځ شروع کول پکار دی، دا اختلاف حضرت سهارنپوری په بذل کښې او امام نووی په شرح د مسلم کښې لیکلې دی : ﴿ قال ابوداود: هكذا رواه ايوب الخ ﴾ پورته په سند کښې د یحیی نه روایت کونکې ابان دې هغه دا حدیث لره د یحیی نه په طریقه د عنعنه روایت کوی، مصنف فرمائی چه ایوب او حجاج هم د یحیی نه داسې روایت کړې دې او د یحیی یو دریم شاګرد هشام دستوائی دې هغه دا د یحیی نه داسې نه روایت کوی بلکه په طریق د کتابت، پس هغه ﴿ كتب الى يحيى ﴾، او روایت په طریق د کتابت ظاهرا مقتضی دا ده چه ﴿ انه لم يسمعه منه ﴾، هم دغه شان ځان پوهه کړه چه د هشام دستوائی لفظ مرفوع دې بناء په مبتدا کیدو باندې او جمله ﴿ قال كتب الى يحيى ﴾ د دې خبر دې.

[۵۴۰]([1])حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عِيسَى، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ يَحْيَى، بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ، قَالَ: حَتَّى تَرَوْنِي قَدْ خَرَجْتُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرْ قَدْ خَرَجْتُ إِلَّا مَعْمَرٌ، وَرَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَعْمَرٍ، لَمْ يَقُلْ فِيهِ: قَدْ خَرَجْتُ.

ترجمه: د یحیی نه روایت دې د مخکښې حدیث د سند پشان، هغه وئیلی دي: تردې چې ما وینئ چي زه راووتلم. وئیلی دی ابوداود: نه دی ذکر کړی لفظ د (قَدْ خَرَجْتُ) مګر معمر، او نقل کړی دی ابن عیینة د معمر نه هغه پکې هم (قَدْ خَرَجْتُ) نه دی ذکر کړی.

[۵۴۱]([2])حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ: قَالَ أَبُو عَمْرٍو. ح وحَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ تُقَامُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَأْخُذُ النَّاسُ مَقَامَهُمْ قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دې بیشکه مونځ به ودرولی شو د رسول الله ﷺ لپاره (یعنی تکبیر به اوشو)، نو د رسول الله ﷺ د راتلو په وخت به خلقو خپل ځایونه نیول مخکې د دینه چې ځائې اونیسی (کیني) رسول الله ﷺ.

شرح السند

قوله:﴿ حدثنا محمود بن خالد الخ ﴾ دا سند خو تشریح ته محتاج دې مصنف دوه سندونه بیان کړل، یو د حاء تحویل نه مخکښې یو ددې نه روستو، په سند اول کښې د مصنف استاذ محمود بن خالد دې او سند ثانی کښې داؤد بن رشید، او د دوی دواړو استاذ ولید بن مسلم دې او د ولید استاذ اوزاعی دې چه د هغه کنیت ابو عمرو دې، دلته دا سوال دې

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۰۶) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: ۲۳۵، (تحفة الأشراف: ۱۵۲۰۰) (صحيح)

چه په دې سند کښې حاء د تحويل ته څه حاجت دې د مصنف دوه استاذان دی، محمود او داؤد، دا دواړه روايت کوی د وليد نه او وليد روايت کوی د اوزاعی نه، لهذا سند به ئې داسې بيان کړې وې ﴿ حدثنا محمود بن خالد وداؤد بن رشيد قالا حدثنا الوليد عن الاوزاعی ﴾ جواب دا دې چه د تحويل وجه فرق تعبير دې د مصنف مخکښې استاذ محمود بن خالد دا د اوزاعی نه تعبير کړې دې، هم دغه شان يو ﴿ قال عمرو ﴾ اووئې او بل ﴿ عن الاوزاعی ﴾. مصنف بعض وخت صرف د تعبير د فرق د وجې نه حاء د تحويل راوړې، دا د غايت اهتمام خبره ده، زمونږ ددې تشريح نه دا هم معلومه شوه چه دلته په سند کښې ملتقی السندين وليد بن مسلم دی.

قوله:﴿ ان الصلاة كانت تقام لرسول الله صلى الله عليه وسلم فياخذ الناس مقامهم الخ ﴾ د دې حديث نه مستفاد کيږی چه تسوية الصفوف د اقامت په وخت کيدل پکار دی، چه کوم وخت اقامت شروع شو هغه وخت ټول خلق پاسی او صفونه برابر کړی. ﴿ قبل ان ياخذ النبي صلى الله عليه وسلم ﴾ مخکښې ددې نه چه رسول الله ﷺ د خپل مونځ کولو ځائې ته اورسی، په ظاهره کښې هغه په خپل مقام باندې روستو ځکه رارسيدلی وو چه هغه به په تعديل صفوف کښې مشغول وو، پس په رواياتو کښې راځی چه رسول الله ﷺ به خلق د اوګو نه نيول او وړاندې روستو به ئې صف برابرولو، هذا ما عندی والله تعالى اعلم. او يا دې دا اووئيلې شی چه اقامت خو به د رسول الله ﷺ مسجد کښې قدم کيخودلو سره شروع کيدو او هم هغه وخت به ټول مقتديان اودريدل او په خپل خپل ځائې به برابر شو، رسول الله ﷺ ته به خپل ځائې ته رسيدو کښې وخت لګيدو.

[۵۴۲]()حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ حُمَيْدٍ، قَالَ: سَأَلْتُ ثَابِتًا الْبُنَانِيَّ عَنِ الرَّجُلِ يَتَكَلَّمُ بَعْدَ مَا تُقَامُ الصَّلَاةُ، فَحَدَّثَنِي، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَعَرَضَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَحَبَسَهُ بَعْدَ مَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ".

ترجمه: د حميد رحمه الله نه روايت دې هغه وئيلی دې: ما تپوس وکړو د ثابت البنانی نه په باره د يو سړی کښې چې خبرې کوی پس د اقامت نه نو ماته ئې حديث بيان کړو د انس رضي الله عنه نه، هغه وئيلی دې: ودرولی شو مونځ نو راغې رسول الله ﷺ ته يو سړی د هغه سره حصار شو ورروسته د اقامت نه.

تشريح: قوله:﴿ سالت ثابتا البنانی عن الرجل يتكلم بعد ما تقام الصلاة الخ ﴾ د سوال حاصل دا دې چه د اقامت او تکبير تحريمه ترمينځه د فصل ګنجائش شته يا نه په دې باندې ثابت بنانی يوه واقعه بيان کړې ده چه يو ځل په داسې حال کښې چه اقامت شوې وو يو سړې د رسول الله ﷺ په وړاندې اودريدو او د يو مسئلې په باره کښې ئې ورسره ډير ساعته پورې خبرې کولې.

(): صحيح البخاري/الأذان ۲۷ (٦٤٢)، ۲۸ (٦٤٣)، والاستئذان ٤٨ (٦٢٩٢)، (تحفة الأشراف: ۳۹۵)، وقد اخرجه: صحيح مسلم/الحيض ۳۳ (۳۷٦)، سنن النسائي/الإمامة ۱۳ (۷۹۲)، مسند احمد (۱۰۱/۳، ۱۱٤، ۱۸۲) (صحيح)

د اقامت او تکبير تحريمه ترمينځه فصل

مسئله دا ده چه د اقامت صلاة او مونځ شروع کولو ترمينځه بغير د حاجت او ضرورت نه فصل مکروه دې که ضرورت وی نو جائز ده هم دا مذهب د احنافو دې او هم دا د جمهورو، بعض شوافع شارحينو وئيلې دی چه دا حديث د احنافو خلاف دې د هغوی په نزد دلته د اقامت نه فورا پس مونځ شروع کول واجب دی خو په بذل کښې ليکلې دی چه دا زمونږ د بعض فقهاء کرامو قول دې، قول راجح نه دې، لهذا حديث زمونږ خلاف نه دې، باقی دا صحيح ده لکه چه مخکښې تير شو چه د طرفينو رائې دا ده چه په ﴿ قد قامت الصلاة ﴾ باندې امام لره مونځ شروع کول پکار دی او جمهور دا وائی چه د دومره تندئ ضرورت نشته، بلکه بعد الفراغ عن الاقامة.

[۵۴۳]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ سُوَيْدِ بْنِ مَنْجُوفٍ السَّدُوسِيُّ، حَدَّثَنَا عَوْنُ بْنُ كَهْمَسٍ، عَنْ أَبِيهِ كَهْمَسٍ، قَالَ: قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ بِمِنًى وَالْإِمَامُ لَمْ يَخْرُجْ فَقَعَدَ بَعْضُنَا، فَقَالَ لِي شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ: مَا يُقْعِدُكَ؟ قُلْتُ: ابْنُ بُرَيْدَةَ قَالَ: هَذَا السُّمُودُ؟ فَقَالَ لِي الشَّيْخُ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْسَجَةَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: كُنَّا نَقُومُ فِي الصُّفُوفِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَوِيلًا قَبْلَ أَنْ يُكَبِّرَ، قَالَ: وَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الَّذِينَ يَلُونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ، وَمَا مِنْ خُطْوَةٍ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ خُطْوَةٍ يَمْشِيهَا يَصِلُ بِهَا صَفًّا".

ترجمه: د کهمس نه روايت دې هغه وئيلی دی چې مونږ ودريدلو مانځهٔ په منی کښې او امام نه وو راوتلی نو کيناستل بعضی زمونږ نه، نو ووېل ماته يو شيخ د کوفې: ته څه شی کينولې؟ ما ووېل: ابنُ بريدة، هغه ووېل دا سمود دی (انتظار لپاره د راوتلو د امام) ووېل ماته هغه شيخ: حديث بيان کړی دې ماته عبد الرحمن بن عوسجة د براء بن عازب نه هغه وئيلی دې: وو مونږ چې ودريدلو به په صفونو کښې په زمانه د رسول الله ﷺ کښې ډير مخکې د تکبير نه، هغه وايي: چې هغه وفرمائيل: بيشکه الله او د هغه ملائک رحمتونه لېږی په هغه کسانو چې نژدې وی اولنو صفونو ته، او نه دی هېڅ يو قدم چې الله ته ډير خوښ دی د دېنه چې سړی ئې ږدی او صفت ته پرې ځان رسوي.

شرح حديث

قوله: قمنا الى الصلاة بمنى والامام لم يخرج فقعد بعضنا... د حديث مضمون دا دې چه کهمس وائی چه يو ځل مونږ مسجد منی ته د مونځ دپاره لاړو نو مونږ هلته د مونځ دپاره اودريدو حال دا چه امام صاحب لا مسجد ته نه وو راغلې نو چه کله مونږ اوليدل چه لا امام صاحب نه دې راغلې نو مونږ په ځائې ددې چه په ولاړه د هغه انتظار اوکړو کيناستو ﴿ کهمس ﴾ وائی چه ماته د اهل کوفه يو شيخ اووې چه ته ولې کيناستلې، ما ورته اووئيل چه ابن بريده نه ماته دا خبره رارسيدلې ده چه د امام انتظار په ولاړه باندې کول سمود دې، د سمود معنی ده سينه راويستلو سره اودريدل، روايت دې چه يو ځل د علی رضی الله عنه په زمانه کښې خلقو په مسجد کښې د هغه انتظار کولو سره اودريدل، چه کله علی رضی الله عنه تشريف

() تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۷۷۷) (ضعيف)

راوړلو نو هغه خلقو لره په ولاړ ليدو باندې اوفرمائيل ﴿ ما لي اراكم سامدين ﴾ د کهمس خبره اوريدلو سره د اهل کوفه شيخ د هغه رد کولو سره يو حديث واوړولو چه د هغې مضمون دا دې.

سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه فرمائي چه بعض وخت به مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د ډير وخته پورې په صفونو کښې ولاړ وو د امام د تکبير تحريمه په انتظار کښې، د شيخ اهل کوفه دا خبره فضول شان ده ددې نه د کهمس د قول ترديد بالکل نه کيږي ځکه چه دلته خو خبره په دې باندې ده چه د امام د خروج نه مخکښې دې د هغه انتظار په ناسته باندې اوکړې شي، او شيخ کوفي چه کوم حديث بيان کړې دې په هغې کښې اګر چه تر ډير ساعته پورې د اودريدو ذکر دې خو د خروج الامام نه مخکښې نه پس د خروج نه، لکه چه د کلام د سياق نه معلوميږي.

[۵۴۴] (1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَجِيٌّ فِي جَانِبِ الْمَسْجِدِ، فَمَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ حَتَّى نَامَ الْقَوْمُ".

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي. قائم کړې شو مونځ او رسول الله ﷺ د چاسره خبرې کولې په طرف د مسجد کښې، مانځه ته ونه دريدو تردې چې قوم اوده شو

تشريح: قوله: ﴿ اقيمت الصلاة ورسول الله صلى الله عليه وسلم نجي في جانب المسجد فما قام الى الصلاة ﴾ يعنى يو ځل چه کله د مونځ دپاره اقامت شوې وۆ هغه د مسجد په يو اړخ کښې د يو صاحب سره د ډير ساعته پورې پټې خبرې کولې تردې چه بعض خلقو ته خوب هم ورغلو، معلومه شوه چه د اقامت او تحريمه ترمينځه د څه خاص ضرورت د وجې نه خصوصا چه کله څه ديني ضرورت وي فصل کولې شي، خو دا خبره جدا ده چه که فصل زائد وي نو مسئله دا ده چه د اقامت اعاده پکار ده.

[۵۴۵] (2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِسْحَاقَ الْجَوْهَرِيُّ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُقَامُ الصَّلَاةُ فِي الْمَسْجِدِ، إِذَا رَآهُمْ قَلِيلًا جَلَسَ لَمْ يُصَلِّ، وَإِذَا رَآهُمْ جَمَاعَةً صَلَّى".

ترجمه: د سالم ابو النصر نه روايت دې هغه وئيلي دي. وو رسول الله ﷺ کله چې به مونځ ودرولې شو او هغوى به لږ وو نو کيناستلو به مونځ به ئې نه شروع کولو، او چې کله به ئې وليدل راجمع شوى نو مونځ به ئې شروع وکړو.

تشريح: قوله: ﴿ اذا راهم قليلا جلس ﴾ يعنى د اقامت د کيدو نه روستو به که رسول الله ﷺ دا محسوس کړه چه لا ټول مونځ کونکي نه دي رارسيدلي نو لږ ساعت کيناستلو سره به ئې د هغوى انتظار کولو، معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د زمانې مونځ د تنديْ مونځ نه وو لکه چه زمونږ حضرت شيخ به فرمائيل.

(1): صحيح البخاري/الأذان ۲۷ (۶۴۲)، صحيح مسلم/الحيض ۳۳ (۳۷۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۵) (صحيح)
(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۳۴، ۱۸۶۶۸) (ضعيف)

تکثیر جماعت مطلوب دی

بلکه مونځ کونکو ته به کتلي شو، معلومه شوه چه تکثير جماعت مطلوب دي احناف چه دسحر په مونځ کښې د اسفار قائل دی ددې يوه وجه دا هم ده چه په غلس کښې تقليل جماعت دي.

[٥٤٦]([1])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِسْحَاقَ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، مِثْلَ ذَلِكَ.

ترجمه: د علي رضي الله عنه نه روايت دې په مثل د هغې.

بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ

باب دې په بيان د سختئ کې په پريخودلو د جمعې باندې

د جماعت په سلسله کښې بعض روايات خو داسې دی چه د هغې ددې په ظاهره کښې وجوب مستفاد کيږي او بعض داسې دی کوم چه صرف ددې په فضيلت باندې دلالت کوي او د هغې نه په ظاهره کښې عدم وجوب معلوميږي، هم په دې اعتبار سره مصنف د جماعت په باره کښې دوه بابونه قائم کړي دی، په اول باب کښې ئې د اول نوع روايات راوړي دی، او په دويم باب کښې ئې دويم قسم روايات.

د جماعت په حکم کښې د علماء کرامو مذاهب

د جماعت په حکم کښې د علماء کرامو مختلف مذاهب دی، د امام احمد رحمه الله په نزد فرض عين دې او هم دا مذهب دې د عطاء او اوزاعي، او د ظاهريه په نزد د فرض کيدو سره سره د صحت صلاة دپاره شرط هم دې، او د جمهور علماء ثلاثه په نزد سنت مؤکده دې او د بعض شوافعو او مالکيانو، او په احنافو کښې د امام طحاوي او امام کرخي په نزد فرض کفايه دې، امام نووي رحمه الله هم دا فرمائي ﴿ المختار انها فرض كفاية ﴾ او د بعض فقهاء کرامو رائې دا ده چه د پوره ښهر په اعتبار سره فرض على الكفاية دې او د هر يو مسجد په اعتبار سره سنت او د هر يو سړي په لحاظ سره مستحب.

[٥٤٧]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، حَدَّثَنَا السَّائِبُ بْنُ حُبَيْشٍ، عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيِّ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ، فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ، فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ"، قَالَ زَائِدَةُ: قَالَ السَّائِبُ: يَعْنِي بِالْجَمَاعَةِ: الصَّلَاةَ فِي الْجَمَاعَةِ.

ترجمه: د ابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وئيلي دي: ما اوريدلي دی د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه چې هغه به وئيل: نشته دی درې کسان په کلي کښې او نه په بانده کښې، او نه قائميږي په دوی کښې مونځ مگر مسلط کيږي په دوی باندې شيطان، لازم دی په تا باندې جمع کول، بيشکه شرمخ هغه چيلئ خوري کومه چې خانله وي. وئيلي دی زائدة: وئيلي دی سائب: چې

[1]: انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٠٠٣٣٤، ١٨٦٦٨) (ضعيف)

[2]: سنن النسائي/الإمامة ٤٨ (٨٤٨)، مسند احمد (١٩٦٧٥، ٤٤٦٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٦٧) (حسن)

مراد ئې په جماعت سره مونځ کول دی د جمعې سره.
تشريح: قوله:﴿ ما من ثلاثة في قرية ولا بدو الخ ﴾ که په يو کلي او ځنګل کښې درې کسان موجود دی او هغه په جماعت سره مونځ نه ادا کوی نو په هغوی باندې د شيطان غلبه وی، وړاندې په روايت کښې دی چه جماعت لازم اونيسئ ځکه چه ليوه هغه بيزه خوری، کومه چه د خپل کنډک او شپونکی نه لرې وی ﴿ قال السائب : يعني بالجماعة الصلاة في الجماعة ﴾ سائب کوم چه د حديث راوی دې هغه فرمائی چه په حديث کښې د جماعت نه مراد د جماعت مونځ دې، دا تفسير په دې وجه چه بعض وخت د جماعت نه جماعت اهل حق په اعتبار د عقائدو مراد وی کوم چه په عقائدو کښې متفق وی، سائب وائی چه دلته په حديث کښې هغه مراد نه دې.

[٥٤٨] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَتُقَامَ، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، ثُمَّ أَنْطَلِقَ مَعِي بِرِجَالٍ مَعَهُمْ حُزَمٌ مِنْ حَطَبٍ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْهَدُونَ الصَّلَاةَ، فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ بِالنَّارِ".

ترجمه: د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی، وئيلی دی رسول الله ﷺ: يقينًا ما قصد وکړو چې امر وکړم په مونځ باندې او هغه ودرولی شي، بيا امر وکړم يو سړی ته چې مونځ وکړی خلقو ته، بيا بوځم د ځان سره سړی او د هغوی سره ګېډی وی د لرګو هغه قوم ته چې مانځه ته نه حاضريږي، چې وسوزوم د هغوی کورونه په اور باندې

تشريح: قوله:﴿ لقد هممت ان امر بالصلاة فتقام الخ ﴾ فرمائی چه زه کله اراده کوم ددې خبرې چه د مونځ کولو حکم ورکړم يعنی خلقو ته اوايم چه تاسو په مسجد کښې مونځ کوئ او بيا د څو کسانو سره لرګی يوسم او د هغه خلقو کورونو ته اورسيږم کوم چه د مونځ دپاره مسجد ته نه راځی او بيا هغوی سره د اهل وعيال اوسيزم، دا د ترک جماعت په باره کښې سخت وعيد دې.

د حديث نه د جماعت په فرضيت باندې استدلال او د هغې جواب

د دې نه بعض علماء کرامو د جماعت په فرضيت باندې استدلال کړې دې چه دومره لوئې وعيد صرف د ترک سنت په وجه باندې نه شی کيدې، او بعض علماء کرامو دا په منافقانو باندې محمول کړې دې ځکه چه وړاندې په حديث کښې راځی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به د جماعت د مونځ نه څوک هم روستو نه پاتې کيدو سوا د هغه سړی نه چه هغه به منافق وو او منافقت ئې ښکاره وی، بلکه د هغه زمانې د خلقو عام حال دا وو چه که يو سړې به د څه مرض وغيره د وجې نه مسجد ته په تلو باندې قادر نه وو نو د دوه کسانو په اوږو باندې ئې لاس اچولو او مسجد ته به ئې ځان رسولو، خو د بعض رواياتو نه

(١): سنن ابن ماجه/المساجد ١٧ (٧٩١)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ١ (٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٢٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ٢٩ (٦٤٤)، ٣٤ (٦٥٧)، والخصومات ٥ (٢٤٢٠)، والأحكام ٥٢ (٧٢٢٤)، صحيح مسلم/المساجد ٤٢ (٦٥١)، سنن الترمذي/الصلاة ٤٨ (٢١٧)، سنن النسائي/الإمامة ٤٩ (٨٤٩)، مسند احمد (٢/٢٤٤، ٣٧٦، ٤٨٩، ٥٣١)، سنن الدارمي/الصلاة ٥٤ (١٣١٠) (صحيح)

معلومیږي چه دا وعید د منافقانو سره خاص نه دی، ځکه چه په دې روایت کښې دی چه د هغه خلقو کورونه اوسیزم، کوم چه په کورونو کښې مونځ کوی، ظاهره ده چه منافق په کور کښې کله مونځ کوی هغوی که مونځ کولې نو په مسجد کښې به ئې کړې وې د خلقو د ښودنې دپاره، او یو جواب دا ورکړې شوې دې چه دا د زجر او توبیخ د قبیل نه دې په دې سره ویرول مقصود دی د کلام حقیقت مراد نه دې، او بعض وائی چه خپله دا حدیث په دې خبره باندې دلالت کوی چه جماعت واجب نه دې ځکه چه که د جماعت مونځ واجب وې نو د جماعت په پریخودلو باندې به د خلقو کورونو ته ولې تلو، خو دا خبره صحیح نه ده ځکه چه د احکاماتو تبلیغ او د هغې تکمیل د رسول الله ﷺ منصبي فرض وو او هم دغه شان به د هغه دا ورتلل د جماعت د معاملاتو د تکمیل دپاره وو، هسې هم هغه اراده داسې کړې ده چه څو کسان د ځان سره بوځی نو هر کله چه خلق ورسره وی نو بیا هغوی سره جماعت کولې شی، یو جواب دا هم کړې شوې دې چه هغه خو صرف اراده ظاهر کړې ده په هغې باندې عمل خو ئې نه دې کړې خو دا خبره کمزورې ده ځکه چه رسول الله ﷺ صرف د هغه کار اراده کولې شی چه په هغې باندې عمل کول هم جائز وی.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه شارحینو لیکلي دی چه د دوه کسانو نه علاوه د یو مسلمان د مال او سامان سیزل جائز نه دی بلکه ددې په عدم جواز باندې اتفاق دې خو د دوو په باره کښې اختلاف دې، یو هغه کوم چه په دې حدیث کښې ذکر دې یعنی مستخلف عن الجماعة، دویم هغه چه د هغه ذکر په کتاب الجهاد کښې د مغانم د لاندې راځی یعنی غال (په مال غنیمت کښې غلول کونکې) خو د جمهورو په نزد په دې کښې هم تحریق متاع جائز نه دې البته امام احمد د تحریق متاع غال قائل دې، زه وائم چه د متخلف عن الجماعة په باره کښې د تحریق متاع د جواز قائل څوک دې؟ دا زما په علم کښې نشته.

[٥٤٩] (١) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمَلِيحِ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ الْأَصَمِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ فِتْيَتِي فَيَجْمَعُوا حُزَمًا مِنْ حَطَبٍ، ثُمَّ آتِيَ قَوْمًا يُصَلُّونَ فِي بُيُوتِهِمْ لَيْسَتْ بِهِمْ عِلَّةٌ فَأُحَرِّقَهَا عَلَيْهِمْ"، قُلْتُ لِيَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ: يَا أَبَا عَوْفٍ، الْجُمُعَةَ عَنَى أَوْ غَيْرَهَا، قَالَ: صُمَّتَا أُذُنَايَ إِنْ لَمْ أَكُنْ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَأْثُرُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا ذَكَرَ جُمُعَةً وَلَا غَيْرَهَا.

ترجمه: ابو هریرة رضی الله عنه به وئیل: چې وئیلی دی رسول الله ﷺ: بیشکه ما قصد وکړو چې امر وکړم خپلو ځوانانو ته چې راجمع کړی ګیډی د لرګو، بیا راشم داسې قوم ته چې مونځ کوی په کورونو کښې چې څه علت ورته نه وی او کورونه ئې وسوزوم، ما وویل: یزید بن الاصم ته: اې ابو عوف! جمعه ئې مراد وه او که عام جماعت؟ هغه وویل: کاڼه دې شی زما غوږونه که ما نه وې اوریدلی د ابو هریرة نه چې نقل کړی ئې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، هغهٔ نهٔ جمعه ذکر کړې ده او نهٔ غیر د جمعې نه.

تشریح: قوله: (یا ابا عوف الجمعة عنی او غیرها) دا وعید شدید اوریدلو سره شاګرد د استاد نه تپوس اوکړو چه ایا د جمعې مونځ مراد دې؟ په دې باندې ورته استاذ اووې چه (صمتا

(١) صحيح مسلم/المساجد ٤٢ (٦٥١)، سنن الترمذي/الطهارة ٤٨ (٢٧١)، (تحفة الأشراف: ١٤٨١٩) (صحيح)

اذناي الخ ﴾ چه زما غوږونه دې کاڼره شي که ما په دې حديث کښې د مطلق مونځ ذکر نه وی اوريدلې يعنى ما د مطلق مونځ په باره کښې دا حديث اوريدلې دې زما استاذ د جمعې وغيره هيڅ تخصيص نه دې کړې، زه وايم خو د مسلم شريف په يو روايت کښې د جمعې قيد دې چه د هغې الفاظ دا دی : ﴿ انه قال لقوم يتخلفون عن الجمعة ﴾ امام نووی رحمه الله ددې په شرح کښې ليکی چه په بعض رواياتو کښې د ماسخوتن د مونځ ذکر دې او په بعض کښې د جمعې د مونځ او په بعض رواياتو کښې مطلق صلاة راغلې دې هغه فرمائی : وكله صحيح لا منافاة بين ذلک.

[۵۵۰]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبَّادٍ الْأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "حَافِظُوا عَلَى هَؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ، فَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى، وَإِنَّ اللَّهَ شَرَعَ لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُنَنَ الْهُدَى، وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ بَيِّنُ النِّفَاقِ، وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ، وَمَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَلَهُ مَسْجِدٌ فِي بَيْتِهِ، وَلَوْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ وَتَرَكْتُمْ مَسَاجِدَكُمْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَفَرْتُمْ".

ترجمه: د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دي: تاسو حفاظت کوئ د دی مونځونو پنځو، کوم ځائې کښې چې ددې لپاره اذان کېږي، ځکه دا د سنتو د هدايت نه دي، او الله تعالى مشروع کړی دی د خپل نبی لپاره سنت د هدايت، او مونږ به ليدل چې نه به وروسته کيدلو ددې نه مگر ښکاره منافق، او مونږ به ليدل چې بيشکه يوسړی به راخکلی شو په مينځ د دوه سړو کښې تردې چې په مانځه کښې به ودرولی شو، او تاسو نه يو کس هم داسې نشته مگر د هغه مسجد ته وی په کور کښې، که چرې تاسو مونځ شروع کړو په خپلو کورونو کښې او جماتونه مو پريخودل نو تاسو د نبی سنت پريخودل، او که تاسو د نبی سنت پريخودل نو کافر به شئ.

تشريح: **قوله**:﴿ حافظوا على هؤلاء الصلوات الخمس حيث ينادى بهن ﴾ يعنی دا پنځه مونځونه په اهتمام سره هغه ځائې کښې کوئ چرته چه ددې دپاره اذان کولې شي او ظاهره ده چه اذان په مسجد کښې ورکولې شي چه د مسجد جماعت ته خاص اهميت حاصل دې، وراندې روايت کښې دی چه د جماعت مونځ د سنن هدی نه دې،

(سنن هدی او سنن زوائد)

د سنن دوه قسمونه دی، سنن هدی، سنن زوائد، چه د کومو څيزونو صدور د هغه صلی الله عليه وسلم نه د عادت په طور وی هغې ته سنن زوائد وئيلې شي، او کوم کار چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د عبادت په طور اوکړل هغې ته سنن هدی وئيلې شي، هغې ته سنن هدی په دې وجه وئيلې شي چه ددې ترک ضلالت او گمراهی ده په خلاف د اول قسم.

(): صحيح مسلم/المساجد ۴۴ (۶۵۴) بلفظ: «ضللتم»، سنن النسائي/الإمامة ۵۰ (۸۵۰)، (تحفة الأشراف: ۹۵۰۲)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ۱۴ (۷۸۱)، مسند احمد (۱/۳۸۲، ۴۱۴) (صحيح)

قوله: ﴿ ولو تركتم سنة نبيكم صلى الله عليه وسلم لكفرتم ﴾ دا فرمائي چه كه تاسو مونځونه د مسجد په ځائي په كورونو كښې كوئ نو د سنتو تارک به جوړ شئ او چه كله د سنتو تارک جوړ شئ نو كافر به شئ.

حديث تاويل ته محتاج دې

يا خو داسې اوونيلې شي چه د كفر نه مراد مطلق ضلالت او ګمراهي ده، لكه چه د مسلم په روايت كښې دي ﴿ لضللتم ﴾ او كه د كفر نه مراد كفر واخستلې شي نو مراد به دا وي چه د ترک سنت په وبال كښې په قلاره قلاره نور سنتونه به هم پاتې كيږي او بيا ددې په نحوست سره واجبات او فرائض پاتې كيږي، او بيا وړاندې خطره ددې ده چه چرته بالكليه د اسلام نه بهر نه شي، حاصل ددې تاويل دا دې چه د كفر نه كفر بالفعل مراد نه دې بلكه بالقوة هم هغه كوم ته چه مفضي الى الكفر نه هم تعبير كولې شي، د صوفياء مقوله مشهوره ده ﴿ من تهاون بالاداب عوقب بحرمان السنن ومن تهاون بالسنن عوقب بحرمان الواجبات ومن تهاون بالواجبات عوقب بحرمان الفرائض ومن تهاون بالفرائض ﴾ د دې نه وړاندې څه دي؟ هغه ظاهر ده كوم چه په حديث كښې مذكور دي.

[۵۵۱]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ أَبِي جَنَابٍ، عَنْ مَغْرَاءَ الْعَبْدِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ، قَالُوا: وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ، لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِي صَلَّى". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى عَنْ مَغْرَاءَ أَبُو إِسْحَاقَ.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې هغه وئيلې دي، وئيلي دي رسول الله ﷺ چې واوريدلو اذان كونكي لره منع نه كړو هغه لره عذر. هغوی وويل: عذر څه شي دی؟ هغه وفرمائيل: ويره او مرض، نو قبول به نه كړې شي د هغه نه مونځ هغه مونځ چې دی كړې دی. وئيلي دي ابوداود: روايت كړې دی د مغراء نه ابو اسحاق.

[۵۵۲]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ، عَنِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي رَجُلٌ ضَرِيرُ الْبَصَرِ، شَاسِعُ الدَّارِ، وَلِي قَائِدٌ لَا يُلَائِمُنِي، فَهَلْ لِي رُخْصَةٌ أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِي؟ قَالَ: هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: لَا أَجِدُ لَكَ رُخْصَةً".

ترجمه: د ابن ام مكتوم رضي الله عنه نه روايت دې، بيشكه هغه تپوس وكړو د نبي ﷺ نه، هغه وويل: اې د الله رسوله! بيشكه زه يو سړی يم ړوند كور مې لرې دی، او زما راهنما شته خو زما سره مناسب نه دی، نو ايا شته دی ماله رخصت چې زه مونځ وكړم په كور كې؟ هغه ورته وفرمائيل: ايا ته اذان اورې؟ هغه ﷺ وويل: آو، هغه وويل: زه نه بيا موخم تالره رخصت.

تشريح: قوله: ﴿ عن ابن ام مكتوم انه سال النبي صلى الله عليه وسلم الخ ﴾ ابن ام مكتوم رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې عرض اوكړو چه زه نابينا يم او كور مې د مسجد نه په فاصله باندې دې او كوم چه زما قائد دې (لاس نيولو والا) هغه زما پوره پوره موافقت نه كوي، نو

[1]: سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ۱۷ (۷۹۳)، (تحفة الأشراف: ۵۵۶۰) (صحيح)
[2]: سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ۱۷ (۷۵۲)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۸۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الإمامة ۵۰ (۸۵۱)، مسند احمد (۴۲۳/۳) (حسن صحيح)

ایا زما دپاره ددې خبرې رخصت او اجازت شته چه زه مونځ په خپل کور کښې اوکړم، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه ایا ته د اذان اواز اورې نو هغه عرض اوکړو چه او جی! رسول اللهﷺ اوفرمائيل بيا ستا دپاره هيڅ گنجائش نشته.

د اعمى دپاره د ترك جماعت اجازت

دلته يو اشكال دې او هغه دا چه عمى (ړوند والي) شرعا عذر دې كما فى قوله تعالى ﴿ ليس على الاعمى حرج ﴾ نو رسول اللهﷺ هغه ته اجازت ولې ورنكړو، حال دا چه يو بل صحابى چه د هغه نوم عتبان بن مالک دې هغه هم رسول اللهﷺ ته هم دا قسم عذرونه بيان كړې وو او په كور كښې ئې ترې د مونځ كولو اجازت طلب كړې وو او هغه ته رسول اللهﷺ اجازت وركړې وو چه د هغه قصه په مسلم (ص ۲۳۳) كښې مذكور ده ددې ډير جوابونه وركړې شوې دى. ۱: دا واقعه د آيت عذر د نزول نه مخكښې ده.

۲: واقعة حال لا عموم لها د قبيل نه ده يعنى دا هم دې صحابى سره مخصوص ده.

۳: د رسول اللهﷺ مراد په نفى رخصت سره نفى جواز نه دې بلكه مقصود د احراز افضليت نفى ده، يعنى د هغه صحابى مقصود دا وو چه د خپلو عذرونو په وجه باندې د مسجد جماعت ترک كړم نو څونكه دا ترک كول د عذر په وجه باندې وو نو ايا په دې صورت كښې به بغير د جماعت نه د جماعت فضيلت حاصليږى يا نه، رسول اللهﷺ ورته انكار اوفرمائيلو، دا اخرى جواب امام نووىؒ د مسلم په شرح كښې اختيار كړې دې.

هم دغه شان پوهه شه چه جماعت كه فرض اومنلې شى كما عند الحنابلة او كه سنت مؤكده كما عند الجمهور د دې ترک بغير د عذر نه د چا په نزد جائز نه دې، په اول قول باندې په ترک معصيت لازميږى كوم چه به د عذر د وجې نه ساقط شى او على القول الثانى د عذر د وجې نه به كراهت ساقط شى، خو د جماعت فضيلت او د هغې ثواب به ورته بهرحال نه حاصليږى، نقله ابن رسلان عن النووى.

خپله ابن رسلان دا ليكى چه كه يو سړې هميشه په جماعت سره د مونځ كولو عادى وى او بيا د څه عذر د وجې نه او نه كړى شى نو هغه وخت هغه ته د جماعت ثواب حاصليدل پكار دى. والله اعلم

الاعذار المسقطة للجماعة

هم دغه شان خان پوهه كړئ چه فقهاء كرامو دا عذرونه كوم چه مسقط جماعت دى شمار كړې دى([1]) يو د هغې نه ړوند هم دې، په بذل كښې ليكى چه كه د اعمٰى دپاره څوک قائد نه وى نو دا به بالاتفاق عذر وى، او كه د هغه دپاره قائد وى نو په دې صورت كښې د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دې، د امام صاحب په نزد په دې صورت كښې به هم عذر وى او د صاحبين په نزد نه دې.

[1]) علامه شامى شل عذرونه شمار كړې دى او هغه ټول ئې په نظم كښې جمع كړې دى او حضرت شيخ دا نظم په حاشيه د لامع كښې نقل كړې دې)

[٥٥٣]() حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ، قَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ الْمَدِينَةَ كَثِيرَةُ الْهَوَامِّ وَالسِّبَاعِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، فَحَيَّ هَلًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ الْقَاسِمُ الْجَرْمِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، لَيْسَ فِي حَدِيثِهِ: حَيَّ هَلًا.

ترجمه: د ابن ام مکتوم نه روایت دې هغه وویل: اې د الله رسوله! بیشکه مدینه د ډیرو حشراتو ماتونکو ځناورو والا ده، وفرمائیل نبی ﷺ: ته اوری حی علی الصلاة حی علی الفلاح؟ نو رازه په جلتئ سره. وئیلی دی ابوداود: او همداسې روایت کړی دی قاسم الجرمی د سفیان نه د هغه په حدیث کښې (حی هلا) الفاظ نشته دی.

بَابٌ فِي فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ
باب دې په بيان د فضيلت د جمعې په مونځ کې

[٥٥٤]() حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَصِيرٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا الصُّبْحَ، فَقَالَ: "أَشَاهِدٌ فُلَانٌ؟ قَالُوا: لَا، قَالَ: أَشَاهِدٌ فُلَانٌ؟ قَالُوا: لَا، قَالَ: إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِينَ، وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَيْتُمُوهُمَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ، وَإِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلَى مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ، وَلَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيلَتُهُ لَابْتَدَرْتُمُوهُ، وَإِنَّ صَلَاةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ وَحْدَهُ، وَصَلَاتُهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ، وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى".

ترجمه: د ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دې، هغه وئیلی دي: مونځ وکړو مونږ ته رسول الله ﷺ یوه ورځ د سحر، نو هغه وویل: ایا فلانکی حاضر دی، هغوی وویل: نه، بیا هغه وویل: ایا فلانی حاضر دی، هغوی وویل: نه، هغه وفرمائیل: بیشکه دا دواړه مونځونه ډېر درانه مونځونه دی په منافقانو، او که چیرې پوهیدئ تاسو په هغه څه چې په دې کښې دې نو تاسو به راتلل کړی وی دېته اګر که په خاپورو وی، او بیشکه اولنی صف پشان د صف د ملائکو دی که چېرې تاسو ته پته وه د هغې د فضیلت نو تاسو به مخکښوالی کړی وی هغې ته، او بیشکه مونځ د سړی د سړی سره ډیر پاکېزه دی د مونځ د هغه نه یواځې، او مونځ د هغه د دوه سړو سره ډیر پاکیزه دی د مونځ د هغه نه د یو سړی سره، او هغه مونځ چې کسان پکې زیات وی الله ته ډیر غوره دی.

تشریح: **قوله**: ﴿ ان هاتین الصلاتین ﴾ واقعه خو د سحر د مونځ ده خو رسول الله ﷺ د تثنیه صیغه استعمال اوفرمائیله، اوس په دې کښې دوه احتماله دی، یو دا چه ددې نه مراد د سحر او ماسخوتن مونځ دې، ځکه چه دا دواړه وختونه داسې دی کوم چه د خوب او غفلت دی، یو د خوب د ابتداء په وخت او یو د انتهاء نوم، او یا دا اووئیلې شی چه د صلاتین نه مراد د سحر د مونځ دوه رکعتونه دی، یا صلاة فجر او سنت فجر مراد دې، اول احتمال زیات ظاهر دې بلکه د صحیحین په یو روایت کښې د ماسخوتن او د سحر تصریح ده. ﴿ ولو تعلمون ما فیهما ﴾ د کلام د سیاق تقاضه دا ده چه د خطاب په ځائې د غائب په صیغه

(): سنن النسائي/الإمامة ٥٠ (٨٥٢)، (تحفة الأشراف: ١٠٧٨٧) (صحيح)
(): سنن النسائي/الإمامة ٤٥ (٨٤٤)، ق الصلاة ١٧ (٧٩٠)، (تحفة الأشراف: ٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٩/٥، ١٤١) (حسن)

﴿يعلمون﴾ سره وي، اوس يا خو دې دا اووئيلې شي چه منافقان خو مراد دی، ځکه چه کلام هم د هغوی په باره کښې دې، مومنين او مخاطبين لره شاملولو دپاره د خطاب صيغه راوړله، او يا دا اووئيلې شي چه په دې عدول عن الغيبة الى الخطاب کښې دې طرف ته اشاره ده چه د منافقانو نه ددې ځيز توقع کمه ده.

﴿ولو حبوا﴾ د ماشومانو په شان په خړپوسو باندې تلل، يا په کناتو توليدل لکه چه بعض وخت ماشوم داسې ځی، خو دلته دا دويمه معنی مراد نه ده ځکه چه وړاندې په حديث کښې د ﴿على الركب﴾ قيد دې. ﴿وان الصف الاول على مثل صف الملائكة﴾ د صف اول مرتبه او فضيلت بيانولې شي چه هغه د ملائکو د صف په شان دې لکه چه د ملائکو صف په اسمان کښې اوچتې مرتبې والا دې د قرب رحمان د وجې نه، هم دغه شان د انسانانو د مونځ اولنې صف دې، د امام د قرب په اعتبار سره ﴿وان صلاة الرجل مع الرجل ازكى من صلاته وحده﴾ ﴿ازكى﴾ يعنی اکثر ثوابا دا د زکاة نه ماخوذ دې په معنی د کثرت او زيادت، يعنی د يواځې مونځ کولو نه د هغه مونځ ثواب ډير زيات دې کوم چه صرف يو سړی لره شاملولو سره اوکړې شی، او يو سره د کولو په مقابله کښې دوه سړو سره د کولو ثواب ددې نه زائد دې. وهكذا.

غرض دا دې چه تعداد څومره زياتيږی هومره به افضليت او ثواب زيات وی.

په کثرت جماعت باندې د فضيلت زيادت

د جمهورو علماء کرامو رائې دا ده چه د جماعت په کثرت باندې ثواب زياتيږی، خو علامه شعرانی په دې کښې د مالکيانو اختلاف ليکلې دې د هغوی په نزد د منفرد د مونځ په مقابله کښې چه د جماعت د مونځ کوم ثواب راغلې دې هغه به ورته په هر حال کښې ملاويږی، د جماعت کثرة او قلت ته په دې کښې هيڅ دخل نشته ځکه چه په حديث کښې مطلق راغلې دی ﴿صلاة الرجل فى الجماعة تعدل خمسا وعشرين﴾ اوس که هغه جماعت کثير وی يا قليل وی، ابن رسلان د هغوی د طرف نه هم دا ليکلې دی، خو حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې ليکی چه په دې مسئله کښې د مالکيانو اختلاف کوم چه شارحينو ليکلې دې دا ماته د هغوی په کتابونو کښې ملاؤ نه شو، بلکه د مالکيانو په کتابونو کښې تصريح ده د کثرت جماعت په افضليت باندې.

[٥٥٥](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي سَهْلٍ يَعْنِي عُثْمَانَ بْنَ حَكِيمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ، كَانَ كَقِيَامِ نِصْفِ لَيْلَةٍ، وَمَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ، كَانَ كَقِيَامِ لَيْلَةٍ".

ترجمه: د عثمان بن عفان ﷺ روايت دې هغه ويلې، چې فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: چا چې د ماسخوتن مونځ په د جمعی سره وکړه داسې دی لکه قيام د نيمی شپې، او چا چې

[1]: صحيح مسلم/المساجد ٤٦ (٦٥٦)، سنن الترمذي/الصلاة ٥١ (٢٢١)، (تحفة الأشراف: ٩٨٢٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ٢ (٧)، مسند احمد (١/٥٨، ٦٨) (صحيح)

مونځ وکړو د ماسخوتن او د سحر په جمع باندې داسې دی لکه قيام د ټولې شپې.

تشريح: قوله:﴿ ومن صلى العشاء والفجر فى جماعة كان كقيام ليلة ﴾ هم دا لفظ د ترمذي په روايت کښې دې، يعنې کوم انسان چه د ماسخوتن مونځ په جماعت سره اوکړی نو هغه ته د نيمې شپې د قيام او عبادت ثواب ملاويږی، او څوک چه د ماسخوتن او سحر دواړو مونځونه په جماعت سره اوکړی نو هغه ته د پوره شپې د قيام ثواب ملاويږی په دې صورت کښې د دواړو مونځونو ثواب برابر شو، او د مسلم شريف د روايت الفاظ ددې نه لږ شان مختلف دی، په هغې کښې داسې دی چه ﴿ من صلى العشاء فى جماعة كان كقيام نصف ليلة ومن صلى الفجر فى جماعة كان كقيام ليلة ﴾

شرح حديث کښې دوه اقوال

په دې کښې په جمله ثانيه کښې صرف فجر مذکور دې چه په هغې کښې دوه احتماله دی چه د ماسخوتن او سحر دواړو مجموعه مراد وی، دويم دا چه ددې نه صرف د سحر مونځ مراد وی، په دې دويم صورت کښې د فجر د مونځ ثواب د ماسخوتن د مونځ په مقابله کښې دوچند کيږی، خو د ابوداود او ترمذي د روايت نه د اول احتمال تائيد کيږی لهذا هم دا احتمال به راجح وی بلکه متعين، خو د امام ابن خزيمه رحمه الله رائې ددې په خلاف ده[1] هغه دويم احتمال اختيار کړې دې په دې وجه هغه د فجر دپاره مستقل ترجمه قائم کړې ده.

بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د فضيلت د پيدل تلوکې مانځه ته

[٥٥٦] ([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْأَبْعَدُ فَالْأَبْعَدُ مِنَ الْمَسْجِدِ، أَعْظَمُ أَجْرًا".

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي، هغه فرمائيلی دي: د ېر لرې بيا ورپسې لرې د جمات نه ډېر اوچت دی په اعتبار د اجر سره

تشريح: قوله:﴿ الابعد فالابعد من المسجد اعظم اجرا ﴾ يعنې د کوم سړی کور چه د مسجد نه څومره لرې وی، دومره به ئې ثواب زائد وی، څکه چه وړاندې په حديث کښې دی، مسجد ته تلونکی دپاره په هر قدم باندې يوه درجه اوچتيږی او يوه خطاء ئې معاف کيږی، او يو بل روايت کوم چه په مسلم او ترمذي وغيره کښې دې چه په هغې کښې دا دی ﴿ الا ادلكم على ما يمحو الله به الخطايا ويرفع به الدرجات ﴾ او په دې کښې دی چه ﴿ وكثرة الخطاء الى المساجد ﴾ د دې دواړو احاديثو نه د مشى الى الصلاة فضيلت معلوميږی لکه چه مصنف ترجمه قائم کړې ده هم دغه شان يو بل حديث مشهور دې چه يو خل قبيله بنو سلمه کوم چه د مدينې په اطرافو کښې اوسيدل د هغه ځائې نه منتقل کيدو سره د مسجد نبوی په قرب

---

[1] او د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی چه ددې بالمقابل ابن عبد البر بسنده عن عثمان دا مرفوع روايت نقل کړې دې: ﴿ صلاة العشاء في جماعة تعدل قيام ليلة وصلاة الفجر في جماعة تعدل قيام نصف ليلة ﴾ (ابن رسلان)

[2] تخريج: سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ١٥ (٧٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٣٥٩٧)، وقد أخرجه: حم (٢/٣٥١، ٤٢٨) (صحيح)

کښې د سکونت اختیارولو اراده اوکړه نو هغه ﷺ اوفرمائیل ﴿ الا تحتسبون اثارکم ﴾ [1] دا لفظ خو د بخاری دي او د مسلم الفاظ دا دی ﴿ دیارکم تکتب اثارکم ﴾ یعنی رسول الله ﷺ د منتقل کیدو نه منع کړل او مصلحت ئې دا بیان اوفرمائیلو چه د لرې راتلو په صورت کښې هغه فضیلت دې کوم چه د نزدې اوسیدو په صورت کښې نه دې حاصل، یعنی کثرة اقدام.

ایا مسجد ته نزدې کور افضل دې یا لرې؟

خو ددې نه دا نه لازمیږی چه د مسجد نه لرې کور دې افضل وی د نزدې نه، ځکه چه دا دواړه ځیزونه جدا جدا دی، په هر یو قدم باندې نیکی ملاویدل بیله خبره ده او د کور مسجد ته نزدې کیدل دا د هغه مکان دپاره موجب شرف دې پس په یو روایت کښې دی ﴿شؤم الدار بعده عن المسجد ﴾ او هم دغه شان په جمع الفوائد کښې د مسند احمد یو روایت مرفوعه نقل دې ﴿ فضل الدار القریبة من المسجد علی الدار الشاسعة کفضل الغازی علی القاعد ﴾ اګر چه دا حدیث ضعیف دې، حافظ ابن حجر د بنو سلمه والا حدیث د لاندې لیکی چه ددې نه د ﴿ سکنی بقرب المسجد ﴾ استحباب معلومیږی خو که بل یو مصلحت یا عارض وی نو بیا جدا خبره ده، لکه چه د بنو سلمه په منتقل کیدو کښې دا مصلحت وو چه اطراف مدینه د ابادئ نه خالی نه شی او د مدینې حفاظت اوکړې شی هم په دې وجه باندې رسول الله ﷺ هغوی ته د مسجد خواته د راتلو مشوره ورنکړه، صحیح او تحقیقی خبره خو دا ده چه بعض علماء لکه ابن العماد وغیره محدثینو ددې احادیثو په وجه باندې دا وئیلې دی چه دار بعیده افضل دې د دار قریبه نه.

[۵۵۷] ([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، أَنَّ أَبَا عُثْمَانَ حَدَّثَهُ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: "كَانَ رَجُلٌ لَا أَعْلَمُ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ مِمَّنْ يُصَلِّي الْقِبْلَةَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ أَبْعَدَ مَنْزِلًا مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْ ذَلِكَ الرَّجُلِ وَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ صَلَاةٌ فِي الْمَسْجِدِ، فَقُلْتُ: لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِي الرَّمْضَاءِ وَالظُّلْمَةِ، فَقَالَ: مَا أُحِبُّ أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ، فَنُمِيَ الْحَدِيثُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَهُ عَنْ قَوْلِهِ ذَلِكَ فَقَالَ: أَرَدْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ يُكْتَبَ لِي إِقْبَالِي إِلَى الْمَسْجِدِ وَرُجُوعِي إِلَى أَهْلِي إِذَا رَجَعْتُ، فَقَالَ: أَعْطَاكَ اللهُ ذَلِكَ كُلَّهُ، أَنْطَاكَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا احْتَسَبْتَ كُلَّهُ أَجْمَعَ".

ترجمه: د ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دي وو یو سړی د خلقو نه چې د مدینې والا وو ماته پته نشته چې په مونځ کونکو کښې د هغه نه د چا کور لرې وی د مسجد نه، او وو چې نه فوت کیده د هغه نه مونځ د جماعت، نو ما ووېل که چېرته دې خر واخلې سورلې پرې کوې په ګرمئ کښې او په تیاره کښې، نو هغه سړی ووېل زه نه خوښوم چې زما کور دې د مسجد خواته شي، نو رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسیده، نو تپوس ئې وکړو د هغه سړی نه د قول د هغه، هغه ووېل زما اراده دا وه ای د الله رسوله چې ولیکل شی زما لپاره زما راتلل مسجد ته او زما تلل خپل اهل ته، هغه ﷺ وفرمائیل الله دې درکړی تالره تول

---

[1] امام بخاری په دې باندې باب تړلې دې احتساب الاثار
[2] : صحیح مسلم/المساجد ۴۹ (۶۶۳)، سنن ابن ماجه/المساجد والجماعات ۱۶ (۷۸۳)، (تحفة الأشراف: ۶۴)، وقد اخرجه: سنن الدارمي/الصلاة ۶۰ (۱۳۲۱) (صحیح)

هغه چې ته ئې اجر حسابوي.

تشريح: قوله: ﴿عن ابی بن کعب قال : کان رجل لا اعلم احدا من الناس... ابعد منزلا من المسجد من ذلک الرجل الخ ﴾ د حديث مضمون دا دې چه سيدنا ابی بن کعبؓ فرمائی چه په اهل مدينه کښې يو داسې سړې وو چه د هغه کور د مسجد نبوی نه په څومره فاصله باندې وو زما په علم کښې د چا کور هم دومره لرې ه وو، هغه به د خپل کور نه روزانه مسجد ته پيدل راتلو خو د هغې باوجود به د هغه نه يو جماعت هم نه فوت کيدلو (زه د هغه په حال خفه شوم) نو ما هغه ته اووې چه که ته يو خر واخلې چه په هغې باندې سوريدو سره د خپل کور نه مسجد ته څې راځې نو هغه زما خبره اوريدو سره اووې: ﴿ ما احب ان منزلی الی جنب المسجد ﴾ چه زما دا خبره خوښه نه ده چه زما کور د مسجد برابر دې، د هغه صحابی خو مطلب دا وو چه زما هم دا خوښه ده چه زه د مونځ دپاره د لرې نه راشم، خو ظاهره الفاظ د هغه موهم وو چه هغه د مسجد نبوی قرب نه غواړی. ﴿ فنمی الحديث الی رسول الله صلی الله عليه وسلم ﴾ پس د هغه دا خبره رسول اللهﷺ ته اورسيده په دې باندې هغه صحابی لره راغوښتلو سره تپوس اوکړو چه تا دا خبره څنگه اوکړه په دې باندې هغه عرض اوکړو ﴿اردت يا رسول الله صلی الله عليه وسلم ان يکتب لی اقبالی الی المسجد ورجوعی الی اهلی ﴾ يا رسول اللهﷺ زه غواړم چه زما دا قدمونه د مسجد پورې او بيا په واپسئ باندې د مسجد نه تر کوره پورې اوليکلې شی، په دې باندې رسول اللهﷺ ډير خوشحاله شو او وې فرمائيل: الله پاک دې تاته ستا د نيت او اميد موافق پوره پوره اجر او ثواب درکړی.

په حديث الباب کښې يو نوې خبره

د هغه صحابی د کلام نه معلوميږی چه د هغه ذهن بلکه په نيت کښې دا وه چه هغوی ته مسجد ته د تلو او د هغه څاې نه د کور طرف ته واپس کيدو دواړو ثواب په هر قدم باندې ملاؤ شی، هغهﷺ د هغوی دپاره دعا اوفرمائيله چه الله پاک دې تا ته ستا د نيت مطابق پوره پوره اجر درکړی لهذا د هغه صحابی په حق کښې خو دا متعين دې چه ان شاء الله هغوی ته مسجد ته د تلو راتلو، د دواړو ثواب به ورته ملاويږی، خو ددې سلسلې د احاديث نه صراحة صرف مسجد ته د تلو ثواب معلوميږی د واپسئ نه، البته د غازی په باره کښې راځی ﴿ قفلة کغزوة ﴾.

د بخاری د ترجمة الباب توجيه

حضرت شيخ يوه خاص خبره اوفرمائيله هغه دا چه امام بخاریؒ هم د خپل ترجمة الباب نه د ابوداود دې حديث طرف ته اشاره اوفرمائيله هغه په داسې طور چه امام بخاریؒ يو ترجمه قائم کړه "باب من خرج الی المسجد وراح" حال دا چه ددې باب د لاندې هغه حديث راوړې دې په دې کښې لفظ ﴿ خرج ﴾ نشته بلکه داسې ده ﴿ من غدا الی المسجد او راح ﴾ خو دلته دا سوال پيدا کيږی چه امام بخاریؒ د ترجمة الباب لفظ ولې بدلوی، په دې باندې حافظ فرمائی چه امام بخاری اشاره اوکړه ددې خبرې طرف ته چه په حديث کښې

لفظ ﴿ غدا ﴾ نه مراد مطلق ذهاب او خروج دې، په سحر کښې تلل مراد نه دی، او د ﴿ راح ﴾ نه مراد رجوع ده، لهذا د امام بخاری په ترجمه کښې مسجد طرف ته تلل او د مسجد نه واپسی دواړه مراد دی.

په دې باندې حضرت شیخ اوفرمائیل چه ګویا د امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب نه د ابوداود دې حدیث د ابی بن کعب رضی الله عنه طرف ته اشاره کړې ده چه په هغې کښې تلل او راتلل دواړه مذکور دی. والله تعالی اعلم

[۵۵۸]()حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْقَاسِمِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ، وَمَنْ خَرَجَ إِلَى تَسْبِيحِ الضُّحَى لَا يَنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ، وَصَلَاةٌ عَلَى أَثَرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ".

ترجمه: د ابو امامة رضی الله عنه نه روایت دې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دي: څوک چې ووتلو د خپل کور نه په حالت د اودس کښې فرض مونځ ته د هغه اجر پشان د اجر د محرم حاجی دی، او هغه څوک چې ووتلو نفلو د څاښت ته نه وی سترې کړی هغه لره مګر هم دې، نو د هغه اجر پشان د اجر د عمرې والا دی، او مونځ کول وروسته د بل مونځ نه چې په مینځ کښې ئې لغوه اوبې هوده کار نه وی کړی نو دا لیکلې شی په علیین کښې.

تشریح: **قوله**:﴿ من خرج من بیته متطهرا الی صلاة مکتوبة فاجره کاجر الحاج المحرم ﴾ کوم سړې چه د خپل کور نه اودس کولو سره د فرض مونځ دپاره مسجد ته لاړ شی نو ددې ثواب د هغه سړی ثواب برابر دې کوم چه د کور نه احرام تړلو سره د حج دپاره لاړو، احرام د صحة حج دپاره هم دغه شان شرط دې لکه چه طهارت د مونځ دپاره شرط دې، د تقابل تقاضه دا ده چه د محرم نه مراد محرم من دویرة اهله وی.

ذکر ما یستفاد من الحدیث

د دې حدیث نه دوه خبرې معلومې شوې، یو دا چه د کور نه اودس کولو سره د مونځ دپاره تلل د فضیلت سبب دې، بله خبره دا معلومه شوه چه تقدیم الاحرام افضل دې په میقات باندې احرام تړلو سره، دا دویمه مسئله مختلف فیه ده، دظاهریه په نزد تقدیم الاحرام علی المواقیت بالکل جائز نه دې، او د ائمه اربعه په نزد جائز دې، خو په افضلیت کښې اختلاف دې، د احنافو او شوافعو په نزد تقدیم افضل دې او د مالکیانو او حنابله په نزد د میقات نه احرام تړل دا فعل تسهیلا للامة وو، هسې د امام شافعی په دې کښې دوه قوله دی خو په ترجیح کښې اختلاف دې، رافعی د تقدیم قول ته ترجیح ورکړې ده، او امام نووی د عدم تقدیم قول ته، وراندې په حدیث کښې د صلاة الضحی فضیلت ذکر شوې دې او دا چه د هغې ثواب د عمرې برابر دې، صلاة الضحی زیات نه زیات سنت دې لهذا دا وئیلې کیدې شی چه په دې حدیث کښې اشاره ده د عمرې د سنت کیدو طرف ته، مسئله

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۸۹۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۶۳/۵، ۲۶۸) (حسن)

اختلافي ده، د امام شافعي او امام احمد په نزد عمره واجب ده او د امام مالک په نزد سنت، د احنافو په دې کښې دوه قوله دي وجوب او سنتيت.

قوله: (وصلاة على اثر صلاة لا لغوبينهما كتاب في عليين) د يو مونځ نه روستو بل مونځ داسې کول چه د دواړو ترمينځه څه لغو حرکت قول يا فعل نه وی، د الله پاک په نزد مقبول دې په عليين کښې ليکلې شی.

شرح حديث

د عليين نه مراد د نيکو اعمالو دفتر دې چه په هغې کښې د ابرار او صالحينو اعمال ليکلې شی، د صاحب منهل د کلام نه معلوميږی چه مکتوب في عليين کيدل د بل مونځ په باره کښې وئيلې شی يعنی د کوم مونځ په باره کښې چه دوه صفات اوموندلې شی، اول دا چه هغه على اثر الصلاة وی، دويم دا چه په مينځ کښې ئې څه لغو کار نه وی، خو زه وائم چه دا د دواړو مونځونو په باره کښې وئيلې شی، چه کوم سړې دوه مونځونه په داسې طريقه اوکړې چه د هغې ترمينځه څه لغو حرکت اونکړی نو دا دواړه مونځونه د الله پاک په نزد مقبول دی.

د دې نه معلومه شوه چه د عمل صالح نه روستو او د هغې نه هم مخکښې لغو حرکت او معصيت نه احتراز ددې عمل صالح په حق کښې باعث قبول او موجب حفاظت دې.

[۵۵۹]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُومُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ، وَصَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً، وَذَلِكَ بِأَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ وَأَتَى الْمَسْجِدَ لَا يُرِيدُ إِلَّا الصَّلَاةَ وَلَا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ، لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ حَتَّى يَدْخُلَ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَ فِي صَلَاةٍ مَا كَانَتِ الصَّلَاةُ هِيَ تَحْبِسُهُ، وَالْمَلَائِكَةُ يُصَلُّونَ عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، وَيَقُولُونَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ، اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ، مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ أَوْ يُحْدِثْ فِيهِ".

ترجمه: د ابو هريرة ﷺ نه روايت دې هغه وئيلى دى، چې فرمائيلى دى رسول الله ﷺ د سړی مونځ د جمعې سره زياتېږی د هغه په مونځ باندې چې په کور کښې وی او په بازار کښې وی په پنځه وېشت درجو، او دا ځکه چې بيشکه يو کس ستاسو نه کله چې اودس وکړی او ښائسته اودس وکړی او مسجد ته راشی اراده ئې نه وی مگر مونځ، او نه وی رااوچت کړی ده لره مگر مونځ، نه اخلی يو قدم مگر اوچتوی ده لره په هغې يوه درجه او لرې کوی د هغه نه يوه گناه، تردې چې مسجد ته داخل شی کله چې مسجد ته داخل شی نو د ا په مانځه کښې حساب دی، ترکومه چې مانځه دا بند کړی وي، او ملائکې د رحمت دعاگانې کوی يو کس ستاسو ته ترکومه چې په هغه مجلس کښې وی په کوم کی ئې چې

[1]: صحيح مسلم/المساجد ٤٩ (٦٤٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٤٧ (٣٣٠)، سنن النسائي/الإمامة ٤٢ (٨٣٩)، سنن ابن ماجه/المساجد ١٦ (٧٨٦)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ١ (١، ٢)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٠٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٨٧ (٤٧٧)، مسند احمد (٢/٢٥٢، ٢٦٤، ٢٦٦، ٢٧٣، ٣٢٨، ٣٩٦، ٤٥٤، ٤٧٣، ٤٧٥، ٤٨٥، ٤٨٦، ٥٢٠، ٥٢٥، ٥٢٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٥٦ (١٣١٢، ١٣١٣) (صحيح)

مونځ کړی دی، او وايي: اې الله ته ورته بخښنه وکړي، اې الله ته وربانديې رحم وکړي، اې الله ته ئې توبه قبوله کړه، ترکومه چې ئې چاته ضرر نه وی رسولی او یا ئې اودس نه وی مات شوی

تشریح: قوله: ﴿ صلاة الرجل في جماعة تزيد[1] على صلاته في بيته وصلاته في سوقه ﴾ په دې حدیث کښې د جماعت د مونځ فضیلت بیان کړې شوې دې د منفرد په مونځ باندې، چه کوم مونځ په کور یا بازار کښې اوکړی شی، د جماعت په مونځ کښې ددې نه پنځویشت چنده ثواب لری، د صلاة في السوق په تفسیر کښې اختلاف دې، د اکثر شارحینو رائې دا ده چه ددې نه هغه مونځ مراد دې کوم چه په بازار کښې منفردا اوکړی شی، او ابن التين کوم چه په مشهور شارحینو کښې دې هغه وائی چه ددې نه د بازار د جماعت والا مونځ مراد دې ﴿ لان السوق ماوى الشياطين كما جاء في الحديث ﴾، خو امام نووي رحمه الله دا خبره رد کړې ده.

فائده : د جماعت فضیلت د مسجد سره خاص دې یا عام ﴿ولو صلى في بيته؟ ﴾ حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکلي دی چه په کبیری شرح منیه کښې دی چه که فرض مونځ جماعت سره په کور کښې اوکړی نو د جماعت ثواب خو به حاصل شی خو د مسجد فضیلت حاصل نه شو، او در مختار او طحطاوی علی المراقی کښې دی چه جماعت سنت مؤکده دې او وراندې تلو سره لیکی. ﴿ في مسجد او في غيره ﴾ (چه د هغې نه په ظاهره معلومه شوه چه د مسجد نه خارج جماعت کولو سره سنت ادا کیږی) خو د حافظ ابن حجر میلان په فتح الباری کښې دې طرف ته دې چه تضعیف مذکور فی الحدیث د مسجد سره خاص دې.

﴿ وذلك بان احدكم اذا توضا فاحسن الوضوء واتى المسجد الخ ﴾ یعنی دا ثواب مذکور په دې وجه ملاویږی چه کله په تاسو کښې یو سړې اودس اوکړی او په ښه طریقه اودس کوی او د اودس کولو نه پس بیا مسجد ته اورسیږی حال دا چه د هغه اراده د مونځ نه علاوه نوره هیڅ نه وی ﴿ ولا ينهزه الا الصلاة ﴾ او هغه ئې صرف د مونځ دپاره اودرولې وو نو داسې سړې چه کوم قدم هم اوچتوی مسجد طرف ته نو ددې په ذریعه د هغه یوه درجه اوچتولې شی او یوه خطاء معاف کولې شی.

شرح حديث کښې دوه اشکال

خان پوهه کړئ چه په دې حدیث کښې د جماعت د مونځ په باره کښې دوه څیزونه مذکور دی، په شروع حدیث کښې یعنی پنځویشت درجې ثواب ملاویدل، او په اخر حدیث کښې یعنی په هر قدم باندې ئې درجه اوچتیږی او د خطاء معاف کیدل، د بخاری بعض شارحین چه په هغوی کښې علامه کرمانی هم دې او هم دغه شان حضرت گنگوهی هم د هغوی رائې دا ده چه دا چه په اخر حدیث کښې قیدونه ذکر کړې شوې دی، د کور نه اودس کولو سره

---

[1] په بعض روایاتو کښې لفظ د تعدل دې چه د هغې معنی برابر ده او په بعض کښې تزید او تضاعف راغلي دې، بعض شارحینو تول په یوه معنی باندې محمول کړي دې او بعض د تضاعف معنی دا لیکلې ده چه د جماعت د مونځ ثواب پنځویشت کرته پورې ﴿ المضاعف ﴾ یعنی دوچند کیږی نو په دې صورت کښې د یو مونځ ثواب درې کروړه او پنځه دیرش لاکهه څلور پنځوس زره څلور سوه او دوه دیرش کیږی.)

وتل وغيره وغيره ددې تعلق د هغه ثواب سره دې کوم چه د حديث په اخر کښې ذکر شوې دې او هغه ثواب کوم چه په اول حديث کښې ذکر شوې دې هغه مطلق دې ددې قيدونو ددې سره هيڅ تعلق نشته، لهذا ددې حضراتو په نزد ﴿ وذلک بان ﴾ کښې حرف باء د الصاق دپاره ده سببيه نه ده، او ددې بالمقابل د بعض شارحينو رائې دا ده چه دا باء سببيه ده او ددې تعلق د ماقبل سره دې او مطلب دا دې چه په اول حديث کښې چه کوم ثواب ذکر شوې دې هغه ددې قيدونو سره مقيد دې لهذا که دا قيود بيا موندلې شي نو بيا خو به تضعيف مذکور حاصل وی ګينې نه، زما په خيال اول قول زيات صحيح دې او ددې قيدونو تعلق صرف د هغه ثواب سره دې کوم چه د حديث په اخر کښې ذکر کړې شوې دې ځکه چه اکثر په احاديثو کښې پنځويشت چنده ثواب سره دا قيدونه نه دی ذکر شوی.

د جماعت د ثواب په باره کښې د رواياتو اختلاف

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د جماعت د ثواب په باره کښې روايات په دوه قسمه دي، اکثر په رواياتو کښې ﴿ بخمس وعشرين درجة ﴾ مذکور دې او حديث د ابن عمر کوم چه بخاری روايت کړې دې په هغې کښې ﴿ بسبع وعشرين درجة ﴾ ذکر شوې دې، جمع بين الروايتين مختلف طور کړې شوې ده. ۱: ذکر القليل لا ينفی الکثير... يا داسې اوايئ چه مفهوم العدد غير معتبر. ۲: چونکه د الله پاک انعام او فضل په دې امت باندې زيات دې په دې وجه رسول الله ﷺ ته په شروع کښې د پنځويشت درجاتو علم ورکړې شو نو رسول الله ﷺ د هغې خبر ورکړو، او روستو ورته د اويشتو درجاتو علم اوشو نو امت ته ئې د هغې خبر ورکړو. ۳: دا په اجر کښې د کمی او زيادت اختلاف د مونځ کونکو يا د هغوی د مونځ د احوالو په اختلاف باندې محمول دې يعنی د بعض مصلين په حق کښې پنځويشت او د بعض په حق کښې اويشت درجې ثواب دې د خشوع او خضوع د کمی او زيادت د وجې نه، يا د مونځونو د اختلاف د وجې نه، يعنی په بعض مونځونو کښې لکه ماز يګر، سحر يا ماسخوتن او په سحر يا جهری مونځونو کښې اويشت درجې ثواب دې او په باقی کښې پنځويشت درجې دې، دا درې جوابونه امام نووی رحمه الله ذکر فرمائيلي دی او حافظ ابن حجر تقريبا لس وجوه جمع بيان کړې دی يو د هغې نه دا دې چه دا اختلاف د مسجد د قرب او بعد په اعتبار سره دې، يا د مسجد او خارج مسجد د وجې نه، او يا به دا فرق محمول کولې شی منتظر صلاة او غير منتظر صلاة باندې، يا مسبوق او مدرک باندې، يا کثرت جماعت او قلت جماعت باندې، او راجح د حفاظو په نزد دا ده چه دا فرق دې محمول کړې شی په جهريه او سريه باندې.

[۵٦۰](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الصَّلَاةُ فِي جَمَاعَةٍ تَعْدِلُ خَمْسًا وَعِشْرِينَ صَلَاةً، فَإِذَا صَلَّاهَا فِي فَلَاةٍ فَأَتَمَّ رُكُوعَهَا وَسُجُودَهَا بَلَغَتْ خَمْسِينَ صَلَاةً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ:

(1): سنن ابن ماجه/المساجد ١٦ (٧٨٨)، مسند احمد (٣/٥٥) (كلهم إلى قوله: «خمسا وعشرين صلاة»)، (تحفة الأشراف: ٤١٥٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ٣٠ (٦٤٦) (صحيح)

صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْفَلَاةِ تُضَاعَفُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي الْجَمَاعَةِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دي، هغه وئيلي دي، چې فرمائيلي دي رسول الله ﷺ د جمعې مونځ برابريږي د ځانله پنځه ويشت مونځونو سره، کله چې وکړي هغې له په دشته کښې پوره ئي کړه رکوع او سجده د هغې نو هغه رسيږي پنځوسو مونځونو ته. وئيلي دي ابوداود: وئيلي دي عبد الواحد بن زياد په دې حديث کښې: مونځ د سړي په دشته کښې دوچند کيږي د هغه په مونځ باندې د جمعې سره. او بيان ئي کړو حديث.

تشريح: قوله: ﴿ فَإِذَا صَلَّاهَا فِي فَلَاةٍ فَأَتَمَّ رُكُوعَهَا وَسُجُودَهَا بَلَغَتْ خَمْسِينَ صَلَاةً ﴾ د حديث مضمون دا دې چه د جماعت يو مونځ د پنځوس مونځونو برابر دې.

مضمون حديث

او څوک چه مونځ په ځنګل کښې اوکړي په ښه طريقې سره رکوع او سجده کولو سره نو د هغه مونځ د پنځوس مونځونو برابر دې، په دې جزء ثاني يعنی اختلاف فی الفلاة کښې دواړه احتمالات دی، منفردا کوی يا جماعة، بعض شارحين دې طرف ته تلې دی او بعض هغه طرف ته، د حضرت سهارنپوري ميلان د منفردا کولو طرف ته دې، چه کوم سړې په ځنګل کښې چه د خوف او دهشت ځائې وی يواځې د مونځ فريضې لره د اتمام رکوع وسجود په اهتمام سره اوکړي نو هغه ته به د پنځوس مونځونو ثواب ملاويږي. ګويا د ځنګل دا مونځ د جماعت د مونځ نه هم زيات شو. ﴿ قال ابوداود : صلاة الرجل فی الفلاة تضاعف علی صلاته فی الجماعة ﴾ په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه د صلاة فی فلاة نه مراد منفردا کول دی، د تقابل تقاضه هم دا ده.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ فِي الظُّلَمِ[1]

باب دې په بيان د تلو کې ما نځه ته په تياره کې

[۵۶۱] [2] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ الْحَدَّادُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ أَبُو سُلَيْمَانَ الْكَحَّالُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ بُرَيْدَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "بَشِّرِ الْمَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

ترجمه: بريدة رضي الله عنه د نبي ﷺ نه روايت کوی هغه وئيلي دي. زيری ورکړه تلونکو ته په تياره کښې مسجد ته په پوره نور سره په ورځ د قيامت کښې.

تشريح: (الدر المنضود کښې او بعض درسی نسخو کښې دلته د باب دا عنوان موجود نه دې بلکه دا حديث په باب سابق کښې ذکر کړې شوې دې ابو عمار عبد المالک)

قوله: ﴿ بشر المشائين فی الظلم الخ ﴾ په تيرو کښې د مسجد طرف ته په کثرت سره تلونکو ته د قيامت په ورځ باندې د کامل نور زيرې ورکړه، د اعمالو بدله د الله پاک د طرف نه د

---

[1]) په بعضو نسخوکښې دلته د باب عنوان نشته اوبه دې باب کښې موجوده حديث ئې ماقبل باب کښې ذکرکړې دې، ليکن د بيروت په نسخه کښې دلته باب موجود دې په دې وجه اوليکلې شو.

[2]): سنن الترمذي/الصلاة ٥٣ (٢٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٩٤٦) (صحيح)

هغه اعمالو مناسب وی، پس په تیاره کښې د مسجدونو طرف ته د تلونکو بدله په رڼا سره ورکړې شوه.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْهَدْيِ فِي الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ

باب دې په بیان د هغې کې چې راغلی دی په ارام سره تلو کې مانځه ته

مسجد طرف ته د مونځ دپاره تلل چونکه عبادت دې په دې وجه هغه هم په یو خاص انداز سره کیدل پکار دی په سکون او وقار سره، په هغې کښې یو داسې هیئت اختیارول کوم چه په غفلت او بې توجه کیدو باندې دلالت اوکړی مناسب نه ده مثلا مانځه ته د تلو په وخت تشبیک کول، د یو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کښې ننباسل، دا یو فضول او لغو حرکت دې، هم په دې وجه ترې حدیث کښې منع کړې شوې ده.

[٥٦٢]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، أَنَّ عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ عَمْرٍو حَدَّثَهُمْ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَعْدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، حَدَّثَنِي أَبُو ثُمَامَةَ الْحَنَّاطُ، أَنَّ كَعْبَ بْنَ عُجْرَةَ أَدْرَكَهُ وَهُوَ يُرِيدُ الْمَسْجِدَ، أَدْرَكَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ، قَالَ: فَوَجَدَنِي وَأَنَا مُشَبِّكٌ بِيَدَيَّ فَنَهَانِي عَنْ ذَلِكَ، وَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يُشَبِّكَنَّ يَدَيْهِ فَإِنَّهُ فِي صَلَاةٍ".

ترجمه: حدیث بیان کړې دې مونږ ته ثمامة الحناط بیشکه کعب بن عجرة بیاموندلو هغه لره او هغه روان وو مسجد ته، بیاموندلو یو د دواړو ملګری خپل، هغه وایي: زه ئې بیاموندلم چې خپل د لاسونو ګوتې یو بل کښې سره ورکړې وې، نو زه ئې منع کړم د دغې نه، او ویې وئیل: بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي: کله چې اودس کوی یو ستاسو نه ښائسته اودس وکړی بیا اوځی قصد کونکی مسجد ته نو تشبیک دې نه کوی د لاسونو خپلو، بیشکه دا د مانځه په حالت کښې دې.

د تشبیک په حکم کښې اختلاف

قوله:﴿ ثم خرج عامدا الى المسجد فلا يشبكن يديه ﴾ د تشبیک په حکم کښې اختلاف دې، د بعض صحابه او تابعین لکه ابن عمر رضي الله عنهما او سالم رحمه الله په نزد مطلقا جائز دې تردې چه د مونځ په حالت کښې هم، او د امام مالک او ابراهیم نخعی په نزد کراهت خاص دې د مونځ د حالت سره، او د جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نزد کراهت د صلاة سره مختص نه دې، بلکه د ﴿ من يمشي الى الصلاة ﴾ او منتظر الصلاة ټولو په حق کښې مکروه دې، البته د کراهت درجات متفاوت دی، خاص د صلاة په حالت کښې به کراهت شدید وی، او کوم سړې چه په مسجد کښې ناست منتظر صلاة دې د هغه په حق کښې به کراهت ددې نه کم وی، او څوک چه د مونځ دپاره مسجد ته روان دې د هغه په حق کښې به کراهت نور هم کم وی.

اول خو تشبیک فعل عبث دې او مونځ کونکی لره د فعل عبث نه ځان ساتل پکار دی، دویم دا چه علماء کرامو دا هم لیکلې دی چه دا د تشبیک کیفیت اختلاف او مناقشه لره مشعر دې.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١١١٩)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٦٧ (٣٨٦)، مسند احمد (٤/٢٤١)، سنن الدارمي/الصلاة ١٢١ (١٤٤٤) (صحيح)

[٥٦٣]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُعَاذِ بْنِ عَبَّادٍ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ مَعْبَدِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، قَالَ: حَضَرَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ الْمَوْتُ، فَقَالَ: إِنِّي مُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا مَا أُحَدِّثُكُمُوهُ إِلَّا احْتِسَابًا، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ لَمْ يَرْفَعْ قَدَمَهُ الْيُمْنَى، إِلَّا كَتَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ حَسَنَةً، وَلَمْ يَضَعْ قَدَمَهُ الْيُسْرَى، إِلَّا حَطَّ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهُ سَيِّئَةً، فَلْيُقَرِّبْ أَحَدُكُمْ أَوْ لِيُبَعِّدْ، فَإِنْ أَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلَّى فِي جَمَاعَةٍ غُفِرَ لَهُ، فَإِنْ أَتَى الْمَسْجِدَ وَقَدْ صَلَّوْا بَعْضًا وَبَقِيَ بَعْضٌ صَلَّى مَا أَدْرَكَ وَأَتَمَّ مَا بَقِيَ كَانَ كَذَلِكَ، فَإِنْ أَتَى الْمَسْجِدَ وَقَدْ صَلَّوْا فَأَتَمَّ الصَّلَاةَ كَانَ كَذَلِكَ".

ترجمه: د سعيد بن المسيب نه روايت دې هغه وئيلي دی چې راغي مرګ يو سړی ته د انصارو نه، هغه ووېل زه تاسو ته بيانوم يو حديث، تاسو ته ئې نه بيانوم مګر د وجې د ثواب حسابولو نه، ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه به وئيل کله چې اودس وکړی يو ستاسو نه ښائسته اودس وکړي، بيا اوځی مانځه ته نه اوچتوی خپله ښي خپه مګر ليکي ورله الله پاک يوه نيکي، او نه ږدي چپه خپه مګر کموی الله عز وجل د هغه يوه ګناه، نو که نزدې وی يو کس ستاسو نه او يا لرې وی، که چرې راشي جمات ته مونځ وکړی د جمعې سره نو بخښنه وشی هغه ته، که چرې راشي جمات ته او خلقو بعضې مونځ کړی وی او بعضې پاتې وی نو کوم ئې چې ګير کړو هغه وکړی او پوره کړی باقي، نو همدغسې به وي، که چرې جمات ته راغي او خلقو مونځ کړې وو نو پوره ئې کړو مونځ نو همدغسې به وي (يعني بخښنه به ئې اوشی).

تشريح: **قوله**:﴿ فليقرب احدكم او ليعد ﴾ يا خو د قدمونو په باره کښې وئيلې شی چه تاسو ته اختيار دې، که نزدې نزدې يئ ږدئ يا لرې لرې، ظاهره ده چه د نزدې نزدې کيخودلو په صورت کښې به قدمونه واړه وی او په تعداد کښې به زيات وی، او د لرې کيخودلو په صورت کښې به د هغې په تعداد کښې کمې راځی چه هغې سره به په ثواب کښې هم نقصان وی نو ګويا د تقريب اقدام ترغيب ورکول مقصود دی تخيير مقصود نه دې، او دويم مطلب ددې حديث دا هم کيدې شی چه اشاره ده دار قريبه او دار بعيده طرف ته، که غواړې نو دا اختيار کړه يا هغه، د دار قريبه او بعيده د افضليت بحث اوس نزدې تير شوې دې.

قوله:﴿ فان اتى المسجد وقد صلوا الخ ﴾ د حديث حاصل دا دې چه کوم سړې د کور نه په اهتمام سره په اودس کښې اوځی نو په هر ښی قدم باندې يوه نيکی او ګس قدم باندې د يوې ګناه معافی کولې شی. بيا که مسجد ته رسيدو سره جماعت سره مونځ ادا کړی نو ددې مغفرت کولې شی او که پوره مونځ ورته په جماعت سره ملاؤ نه شو بلکه مسبوق شو يا ئې ټول بغير د جماعت نه اوکړو نو بيا به هم ورته اجر ملاويږی، په ظاهره دا په هغه صورت کښې ده کومه چه په حديث کښې مذکور ده چه انسان د کور نه په اهتمام سره په اودس کښې اوځی او اراده ئې صرف د مونځ وی او اتفاقی مونځ شوې وی. والله تعالی اعلم

چه هر کله په حديث کښې راغلل چه په دې صورت کښې ورته الله پاک د جماعت ثواب ورکوی نو بيا په دې کښې تامل او شک نه دې پکار، علامه سندی هم د نسائی په

(): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٥٥٨٣) (صحيح)

حاشيه باندې دا خبره ليکلې ده او دا چه څوک دې خلاف وائي هغه معتبر نه ده، وړاندې په مستقل باب کښې دا مضمون راروان دې.

بَاب فِيمَنْ خَرَجَ يُرِيدُ الصَّلَاةَ فَسُبِقَ بِهَا

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې اراده لري د مونځ او د هغه څه حصه فوت شوه

[٥٦٤] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ طَحْلَاءَ، عَنْ مُحْصِنِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَوْفِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا، أَعْطَاهُ اللَّهُ جَلَّ وَعَزَّ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا وَحَضَرَهَا لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أَجْرِهِمْ شَيْئًا".

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ نه روايت دې هغه ويلي، چې فرمائيلي دی رسول الله ﷺ: چا چې اودس وکړو او ښائسته اودس ئې وکړو، بيا لاړلو بيا ئې موندل خلک چې مونځ ئې کړی دی وربه کړی ورته الله تعالى پشان د اجر د هغه چا چې مونځ ته حاضر شوی دی او نه به کموی دا کار د دوی د اجر نه هيڅ شی.

بَاب مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسْجِدِ

باب دې په بيان د تلو د ښځو کښې مسجد ته

[٥٦٥] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ، وَلَكِنْ لِيَخْرُجْنَ وَهُنَّ تَفِلَاتٌ".

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ ويلی دي: تاسو مه منع کوئ بندګانې د الله د جماتونو د الله نه، لکن ودې وځي او دوی دې پټې وی په پرونو کښې.

تشريح: **قوله**: ﴿ ولكن ليخرجن وهن تفلات ﴾ يعنى زنانه مسجد ته د مونځ دپاره تلې شي خو هغوی له پکار دی چه په داسې حال کښې لاړې شي چه هغوی ساده حالت کښې وی ډول او زينت کښې دې نه ځی، د رسول الله ﷺ په زمانه کښې زنانه د مانځه دپاره مسجد ته تلې د رسول الله ﷺ د طرف نه اجازت وو، خو هغه د خير زمانه وه روستو فقهاء کرامو دا د څو قيودو سره مقيد کړې دې. ۱: بشرط عدم الاختلاط بين الرجال والنساء، ۲: عدم التزين، ۳: عدم التطيب ۴: عدم خوف الفتنة (نووی). خپله سيده عائشه ﷞ فرمائی لکه چه وړاندې په متن کښې راځی چه که رسول الله ﷺ د زنانو موجوده حالت ليدلې وې نو هغوی به ئې د مسجد نه منع کړې وې.

په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو مذاهب

بهرحال د ائمه ثلاثه په نزد اوس مسئله دا ده چه د هغوی په نزد خروج د عجائز (بوډئ زنانه) سره خاص دې د ځوانې په حق کښې مکروه دې او د حنابله په نزد اعتبار خائيست او بدرنګ والی لره دې. پس د هغوی په نزد د جميله خروج د مونځ دپاره مکروه او د غير

(١): سنن النسائي/الإمامة ٥٢ (٨٥٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٨٠) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٠١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٣٨، ٤٧٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٥٧ (١٣١٥) (حسن صحيح)

جميله دپاره جائز دي، بيا د عجوز دپاره جواز د صاحبين په نزد خو په ټولو مونځونو کښې دې، او د امام صاحب په نزد صرف د ورځې په مونځونو ماسپخين او مازيګر کښې دې او په صلوات ليليه کښې د عجوز دپاره هم اجازت نشته.

[۵۶۶](¹) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ".

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې هغه وئيلى دى، چې فرمائيلى دى رسول الله ﷺ: تاسو مه منع کوئ بندګانې د الله د جماتونو د الله نه.

[۵۶۷](²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا الْعَوَّامُ بْنُ حَوْشَبٍ، حَدَّثَنِي حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَمْنَعُوا نِسَاءَكُمُ الْمَسَاجِدَ وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ".

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې هغه وايي، چې فرمائيلى دى رسول الله ﷺ: تاسو مه منع کوئ خپلې زنانه د جماتونو نه، او کورونه د دوى ډير غوره دى دوى لره (چه په خپلو کورونو کښې مونځ اوکړي).

[۵۶۸](³) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ائْذَنُوا لِلنِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِاللَّيْلِ، فَقَالَ ابْنٌ لَهُ: وَاللَّهِ لَا نَأْذَنُ لَهُنَّ فَيَتَّخِذْنَهُ دَغَلًا، وَاللَّهِ لَا نَأْذَنُ لَهُنَّ، قَالَ: فَسَبَّهُ وَغَضِبَ، وَقَالَ: أَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ائْذَنُوا لَهُنَّ، وَتَقُولُ: لَا نَأْذَنُ لَهُنَّ".

ترجمه: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وئيلى دى، چې رسول الله ﷺ ويلى دي: اجازت وکړئ ښځو ته جماتونو ته دشپې. نو وويل يو ځوى هغه ته: قسم په الله مونږ به اجازت نه ورکوو دوى ته، دوى به جوړه کړي دا بهانه، قسم په الله مونږ به اجازت نه کوو هغوى ته، هغه وايي: بدې ردې ئې ورته اووئيلې او غصه شو، او ويې وئيل: زه وايم چې وئيلى دى رسول الله ﷺ چې اجازت ورته وکړئ، او ته وايې چې اجازت ورته نه کوو.

تشريح: **قوله:** (فقال ابن له) د هغه نوم بلال دې يا واقد. لکه چه د مسلم شريف په روايت کښې دى (فيتخذنه دغلا) هغه به دا د فساد ذريعه جوړوى، د ځوئې په کلام کښې چونکه صورة د حديث معارضه بيا مونډلې شوه په دې وجه ابن عمر رضي الله عنهما د هغوى نه دومره ناراضه شو، د مسند احمد په روايت کښې دى (فما كلمه عبد الله حتى مات) دغل هغه ګورې اونې ته وئيلې سي چه په هغې کښې غل ډاکو پټ کينى.

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۵۸۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ۱۶۶ (۹۰۰)، والنكاح ۱۱۶ (۵۲۳۸)، صحيح مسلم/الصلاة ۳۰ (۴۴۲)، سنن النسائي/المساجد ۱۵ (۷۰۵)، سنن ابن ماجه/المقدمة ۲ (۱۶)، موطا امام مالك/القبلة ۶ (۱۲)، مسند احمد (۱۶/۲، ۳۶، ۴۳، ۳۹، ۹۰، ۱۲۷، ۱۴۰، ۱۴۳، ۱۴۵، ۱۵۱)، سنن الدارمي/الصلاة ۵۷ (۱۳۱۴) (صحيح)

(²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۶۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۷۶/۲) (صحيح)

(³): صحيح البخاري/الجمعة ۱۳ (۸۹۹)، صحيح مسلم/الصلاة ۳۰ (۴۴۲)، سنن الترمذي/الصلاة ۴۸ (۵۷۰)، (تحفة الأشراف: ۷۳۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۶/۲، ۴۳، ۴۹، ۹۸، ۱۲۷، ۱۴۳، ۱۴۵) (صحيح)

بَابُ التَّشْدِيدِ فِي ذَلِكَ

باب دې په بيان د تشديد (سختي کولو) په دغې کې

[٥٦٩] (١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "لَوْ أَدْرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ، لَمَنَعَهُنَّ الْمَسْجِدَ كَمَا مُنِعَهُ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ"، قَالَ يَحْيَى: فَقُلْتُ لِعَمْرَةَ: أَمُنِعَهُ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ؟ قَالَتْ: نَعَمْ.

ترجمه: عائشې چې د نبي ﷺ بي بي ده هغې ويلي دي: که چرې موندلې وې رسول الله ﷺ هغه چې جوړ کړي دي ښځو نو دوی به ئې د مسجد نه منع کړې وې لکه څنګه چې ښځې د بنی اسرائيلو منع کړی شوې وې. وئيلي دي يحيی: ما وويل عمره ته: آيا منع کړې شوې وې ښځې د بني اسرائيلو لره؟ هغې وويل: او.

[٥٧٠] (٢) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَاصِمٍ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُوَرِّقٍ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا، وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا".

ترجمه: عبد الله بن مسعود ﷺ روايت کوی د نبي ﷺ نه هغه فرمائيلي دي: مونځ د ښځې په کوټه کښې ډېر غوره دی د مونځ د هغې نه په حجره د هغې کښې، او مونځ د هغې په هغه پټ ځائې د هغې کښې ډېر غوره دی د مونځ د هغې نه په کوټه د هغې کښې.

تشريح: (په الدر المنضود کښې او په بعض درسي نسخو کښې دلته د باب دا عنوان موجود نه دې بلکه دا احاديث په باب سابق کښې ذکر کړې شوې دي. ابو عمار عبدالمالک)

قوله: ﴿ صلاة المرأة في بيتها افضل الخ ﴾ د زنانه مونځ کول د کمرې په ګوټ کښې غوره دی د کمرې په انګنړ کښې د کولو نه، او وړه کوټه کښې لوستل غوره دی په لويه کوټه کښې د کولو نه، مخدع په لويه کمره کښې دننه چه کومه مختصر شان کمره وی چه په هغې کښې د کور قيمتي څيزونه ږدی.

[٥٧١] (٣) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ تَرَكْنَا هَذَا الْبَابَ لِلنِّسَاءِ"، قَالَ نَافِعٌ: فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ ابْنُ عُمَرَ حَتَّى مَاتَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: وَهَذَا أَصَحُّ.

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روايت دې هغه وايي چې وئيلي دي رسول الله ﷺ: ښه به وو که چرې مونږ دا دروازه ښځو لپاره پريخودې وی. وئيلي دي نافع: ابن عمر داخل نه شو د هغې نه تردې چې مړ شو. وئيلي دي ابوداود: نقل کړی دی دې لره اسماعيل بن ابراهيم د ايوب او هغه د نافع نه، هغه وئيلي دي: وويل عمر: او هم دا صحيح ده.

---

١): صحيح البخاري/الأذان ١٦٣ (٨٦٩)، صحيح مسلم/الصلاة ٣٠ (٤٤٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٣٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القبلة ٦ (١٥)، مسند احمد (٩١/٦، ١٩٣، ٢٣٥، ٢٣٢) (صحيح)

٢): سنن الترمذي/الرضاع ١٨ (١١٧٣ ببعضه)، (تحفة الأشراف: ٩٥٢٩) (صحيح)

٣): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٧٥٨٨) (صحيح)

بَابُ السَّعْيِ إِلَى الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د كوشش كې مانځه ته

[۵۷۲] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ وَأْتُوهَا تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا قَالَ الزُّبَيْدِيُّ، وَابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، وَمَعْمَرٌ، وَشُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ: وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا، وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَحْدَهُ، فَاقْضُوا، وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو: عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، فَأَتِمُّوا، وَابْنُ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو قَتَادَةَ، وَأَنَسٌ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كُلُّهُمْ، قَالُوا: فَأَتِمُّوا.

ترجمه: بيشكه ابوهريرة ﷺ وئيلي دی، چې ما اوريدلي دی د رسول الله ﷺ نه، هغه به وئيل: كله چې ودريږی مونځ تاسو په جلتئ سره مه راځي، تاسو راشئ چې تاسو عادی روان ئې، او په تاسو باندې اطمينان لازم دی كوم مونځ چې مو بيامونډلو هغه وكړئ او كوم مونځ چې درنه فوت شو نو هغه پوره كړئ، وئيلي دی ابوداود همداسې وئيلي دی زبيدی او ابن ابی ذئب او ابراهيم بن سعد او معمر او شعيب بن ابی حمزة د زهری نه، او هغه چې فوت شو د تاسو نه نو هغه پوره كړئ، او وئيلي دی ابن عيينة يواځې د زهری نه (فاقضوا) پوره كړئ، او وئيلي دی محمد بن عمرو د ابو سلمة نه او هغه د ابو هريرة او جعفر بن ربيعة نه، او هغوی د اعرج نه او هغه د ابو هريرة نه (فأتموا) پوره كړئ، او ابن مسعود د نبی ﷺ نه، او ابو قتادة او انس د نبی ﷺ نه ټولو وئيلي دی (فأتموا) پوره كړئ

تشريح: قوله: (اذا اقيمت الصلاة فلا تاتوها تسعون الخ) چه كله مونځ اودريږی نو تاسو د هغې طرف ته منډې مه وهئ، بلكه سكون او وقار سره راځئ، ددې وجه په دويم حديث كښې بيان شوې ده چه د مونځ طرف ته تلونكې د مانځه په حكم كښې دې، لهذا منډه وهل فضول دی، او هم دغه شان د مسجد د احترام هم خلاف دی، په دې حديث كښې د سعی ممانعت دې، د سعی معنی د عمل او كوشش هم راځی (فاسعوا الى ذكر الله وذروا البيع، وان ليس للانسان الا ما سعى) دا معنی دلته نه ده مراد، د سعی معنی د منډې وهلو هم راځی (وجاء رجل من اقصى المدينة يسعى) هم ددې نفی دلته مقصود ده، كه جماعت اودريدلو نو څه به كوی په دې كښې درې اقوال دی كوم چه امام ترمذی بيان كړې دی

۱ په قلاره منډه پكار دی خو دا قول د حديث خلاف دې ۲ يسرع المشى، تيز رفتار دې ځی د وقار رعايت كولو سره ۳ بغير د اسراع نه دې په اطمينان سره په خپل عام چال ځی، په دې كښې راجح دويم قول دې چه په هغې كښې د جانبين رعايت دې

¹): صحيح مسلم/المساجد ۲۸ (۶۰۲)، (تحفة الأشراف: ۱۳۳۷۱، ۱۵۳۲۳)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ۱۸ (۹۰۸)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۳۲ (۳۲۷)، سنن ابن ماجه/المساجد ۱٤ (۷۷۵)، موطا امام مالك/الصلاة ۱ (٤)، مسند احمد (۲/۲۷۰، ۲۸۲، ۳۱۸، ۳۸۷، ٤۲۷، ٤۵۲، ٤۶۰، ٤۷۳، ٤۸۹، ۵۲۹، ۵۳۲، ۵۳۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۵۹ (۱۳۱۹) (حسن صحيح)

﴿ فما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاتموا ﴾ خومره مونځ چه د امام سره ملاؤ شي هغه د امام سره اوکړه او چه کومه حصه د مونځ فوت شي هغه روستو پوره کړئ.

﴿ قال ابوداود كذا قال الزبيدى الخ ﴾ د زهري نه روايت کونکي ډير دی اکثرو ﴿فاتموا﴾ ونيلي دي او ابن عيينه ﴿ فاقضوا ﴾ ونيلي دي، دا خو په ظاهره صرف لفظي اختلاف دي خو في الواقع يو اهم فقهي اختلاف په دې باندې متفرع دې.

مسبوق امام سره اول مونځ رالاندې کوی که اخر

هغه دا چه مسبوق چه کوم مونځ د امام سره کوی هغه د هغه اول مونځ دې يا اخری، يعنی د امام خو ظاهر دې اخر صلاة دې اوس دده د تابع کيدو په حيثيت سره د مسبوق هم اخری مونځ دې يا د هغه اول صلاة دې.

د امام شافعي او امام احمد په نزد دا د هغه اول مونځ دې، د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نزد اخر مونځ دې، د اختلاف ثمره به دا وی چه که د امام سره په څلورو کښې دوه رکعتونه ملاؤ شوي دی نو د امام شافعي او احمد په نزد دا سړې د امام د فارغ کيدو نه پس چه کوم دوه رکعتونه کوی په هغې کښې به صرف سورة فاتحه لولی ځکه چه د هغه دا شفعه اخيره ده چه په هغې کښې سورت نه شي ضم کولې، او د شيخين (ابوحنيفه وابويوسف) په نزد به په دې دواړو رکعتونو کښې قرأت کامله يعنی فاتحه سره سورت ضم کوی ځکه چه دا د هغه شفعه اولی ده.

د امام شافعي رحمه الله استدلال د ﴿ فاتموا ﴾ نه دې، د اتمام تعلق د ما بقی سره وی يا داسې اوايه چه د څيز اتمام د هغې په اخر کښې وی، معلومه شوه چه ددې سړی د مونځ اخری حصه پاتې شوه، او د شيخينو استدلال د ﴿ فاقضوا ﴾ نه دې د قضاء تعلق د ﴿ ما سبق وما مضى ﴾ سره دې. معلومه شوه چه د هغه د مونځ د شروع حصه پاتې شوې ده، اخری حصه مونځ خو هغه د امام سره اوکړو د امام د فارغ کيدو نه پس اوس به هغه د خپلې شروع مونځ کوی، او په شفعه اولی کښې قرأت مکمل کيږی، دريم قول دلته د امام مالک او امام محمد دې، هغه فرمائی چه په افعالو کښې به اتمام وی او په قرأت کښې قضاء، اوس ددې دپاره يو مثال داسې پکار دې چه په هغې کښې درې واړه مذاهب مخې ته راشی هغه دا دې چه د يو سړی نه د امام سره صرف يو رکعت ملاؤ شو. اوس دا سړې د امام د فارغ کيدو نه پس، د شوافعو او حنابله په نزد يو رکعت کولو نه پس د تشهد دپاره قعده کوی او صرف هم په دې رکعت کښې به قرأت پوره کوی د هغه سړی اولنئ شفعه پوره شوه، اوس دا سړې به په باقی دوه رکعتونو کښې صرف فاتحه لولی، او د شيخين په نزد به دا سړې مسلسل دوه رکعتونه کولو نه پس کينی او په دواړو کښې به قرأت کامله کوی، او د امام مالک او امام محمد رحمه الله په نزد د اتمام والو پشان به يو رکعت کولو نه پس کينی چه په هغې کښې به قرأت پوره کيږی او د هغې نه په روستو رکعت کښې به هم قرأت کامله کوی ځنګه چه د شيخينو په نزد کوی.

زمونږ عمل هم په دې قول باندې دې مفتی به قول هم دا دې، دا اختلاف مذاهب په

بذل المجهود کښې د علامه عيني په حوالې سره هم دغه شان ذکر کړې شوې دی، خو ابن قدامه چه په مغنی کښې کوم مذاهب ذکر کړې دی هغه ددې نه لږ شان مختلف دی. (افاده الشيخ في الاوجز)

[۵۷۳]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "ائْتُوا الصَّلَاةَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَصَلُّوا مَا أَدْرَكْتُمْ وَاقْضُوا مَا سَبَقَكُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا قَالَ ابْنُ سِيرِينَ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَلْيَقْضِ، وَكَذَا قَالَ أَبُو رَافِعٍ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبُو ذَرٍّ رَوَى عَنْهُ، فَأَتِمُّوا وَاقْضُوا، وَاخْتُلِفَ عَنْهُ.

ترجمه: ابو هريرة رضي الله عنه روايت کوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هغه فرمائيلی دي: راشئ مانځه ته په داسې حال کښې چې تاسو ته وقار وي، نو وکړئ هغه مو چې بيامونډلو او پوره کړئ هغه چې درنه تير شوی دی. وئيلی دی ابوداود: او همداسې روايت کړې دې ابن سيرين د ابو هريرة نه (و ليقض) او همدارنګه وئيلی دی ابو رافع: روايت دې د ابوهريرة نه، او د ابوذر نه (فأتموا، واقضوا) دواړه نقل دی او اختلاف شوې دې دهغه نه (يعنی د ابوذر دطرفه په دې لفظ کښې اختلاف شوې دې).

بَابٌ فِي الْجَمْعِ فِي الْمَسْجِدِ مَرَّتَيْنِ

باب دې په بيان د جمع کې په مسجد کې دوه ځل

دا باب د تکرار جماعت فی المسجد په باره کښې دې.

په جماعت ثانيه فی المسجد کښې اختلاف علماء

مسئله مختلف فيه ده، د امام احمد او اسحاق بن راهويه په نزد جائز دې، د جمهور علماء او ائمه ثلاثه باقيه په نزد مکروه دې. (ذکره الشعراني في الميزان ومثله في العيني) امام ترمذی هم، د امام احمد او امام اسحاق د جواز مذهب او د امام شافعي او امام مالک مسلک د عدم تکرار جماعت ليکلې دې خو دا کراهت د محلې په مسجد کښې دې چه په هغې کښې امام او مؤذن مقرر وی په مسجد شارع کښې بالاتفاق جائز دی، هم دغه شان زمونږ بعض فقهاء کرامو ليکلې دی چه کراهة په هغه صورت کښې دې چه کله باقاعده اذان او اقامت سره جماعت ثانيه اوکړې شی او بغير د اذان او اقامت نه جائز دې خو صحيح او مفتی به قول زمونږ په نزد دلته مطلقا کراهت دې، د حضرت اقدس ګنګوهی رحمه الله په دې مسئله باندې يو مستقل تاليف دې په فارسئ کښې، القطوف الدانية في تحقيق الجماعة الثانية. د هغې بعض اهل حديثو رد هم ليکلې دې.

[۵۷۴]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصَرَ رَجُلًا يُصَلِّي وَحْدَهُ، فَقَالَ: "أَلَا رَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلَى هَذَا فَيُصَلِّيَ مَعَهُ".

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٤٩٥٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٢/٢، ٣٨٦) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ٥٠ (٢٢٠)، (تحفة الأشراف: ٤٢٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٤/٣، ٨٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٨ (١٤٠٨) (صحيح)

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دي، بيشکه رسول الله ﷺ وليدلو يو سړی چې مونځ ئې کولو يواځې، نو هغه وفرمائيل: ايا نشته يو سړی چې صدقه وکړی په ده باندې، چې مونځ وکړی د هغه سره

تشريح: **قوله**:﴿ عن ابی سعيد الخدری ان رسول الله صلی الله عليه وسلم الخ ﴾ يو سړې رسول الله ﷺ اوليدو چه هغه په مسجد کښې يواځې مونځ کولو. جماعت شوې وو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په تاسو کښې څوک داسې شته چه په دې سړی باندې صدقه اوکړی يعنی د هغه په ثواب کښې اضافه اوکړی؟ د ترمذی په روايت کښې دی چه ﴿ فقام رجل فصلی معه ﴾ او په مصنف ابن ابی شيبة کښې دی چه هغه سړې چا چه د هغه سره مونځ کړې وو ابوبکر صديق رضي الله عنه وو.

د حديث الباب نه استدلال او د هغې جواب

د مجوزينو استدلال ددې حديث نه دې، زمونږ د طرف نه دا جواب ورکړې شوې دې چه په دې کښې جماعت ثانيه د فرض مونځ والا چرته موندلې شوې دې په دې کښې فرض مونځ کونکې څو صرف يو سړې دې، دويم سړې متنفل دې ددې نه علاوه دويمه خبره دا ده چه د احاديثو په ذخيره کښې د جماعت ثانيه په سلسله کښې صرف دا يوه واقعه ملاويږی، حال دا چه په دې کښې عموم بلوی ده، مسجد نبوی مرکزی مسجد وو هلته راتلونکی په کثرت سره راتلل، سرايا او لښکرې به د خپلو سفرونو نه واپس راتلې، که جماعت ثانيه جائز يا مستحب وې نو يقينا ډير په کثرت سره به دې ته ضرورت راتلو او دلته صرف يو روايت دې هغه هم داسې چه په دعوی باندې منطبق کيږی نه، بلکه دا چه که د جماعت ثانيه دروازه پرانستلې شی نو يقينا دا به د تقليل جماعت باعث وی، او جماعت کوم چه د شعائر اسلام نه دې چه په هغې کښې د مسلمانانو اجتماع مقصود ده هغه به فوت شی، خلق به په مونځ کښې سستی کول شروع کړی، په خپلو خپلو کارونو کښې به اولګی څکه چه په ذهن کښې په ئې دا وی چه خپل جماعت به خانله اوکړی.

د رسول الله ﷺ نه جماعت ثانيه د مسجد نه خارج ثابت دې، روايت مشهور دې په بذل المجهود کښې مذکور دې [۱] په دې باندې اهل حديث اشکالات کوی کوم چه د جولا د جالې نه هم زيات کمزوری دی په تحفة الاحوذی شرح ترمذی کښې ذکر دی.

باب فِيمَنْ صَلَّى فِي مَنْزِلِهِ ثُمَّ أَدْرَكَ الْجَمَاعَةَ يُصَلِّي مَعَهُمْ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې مونځ وکړي په کور کې بيا مونځې جمع او مونځ وکړي د هغوی سره

که يو سړې په کور کښې منفردا مونځ اوکړی بيا ورته مسجد ته تلو سره معلومه شی چه لا مونځ نه دې شوې نو داسې سړی لره لکه چه په حديث الباب کښې دی دوباره مونځ په جماعت سره کول پکار دی.

---

[۱] هغه دا چه يو خل رسول الله ﷺ د يو قوم خپل مينځ کښې د مصالحت دپاره تشريف يوړلو چه کله واپس راغلو نو وې کتل چه په مسجد کښې مونځ شوې دې ﴿ فرجع الي منزله فجمع اهله وصلي ﴾

د اعاده صلاة روايات او باب مخکښې هم تير شوي دي، متعلقه مسائل هلته تير شوي دی، په پورته ذکر شوي صورت کښې د شافعيه او حنابله په نزد د پنځو وارو مونځونو اعاده شته،[1] د مالکيانو په نزد (الا المغرب) او د احنافو په نزد صرف د ماسپخين او ماسخوتن دوارو مونځونو اعاده کيدې شي.

(د حديث الباب نه جوابات)

دا حديث په ظاهره کښې د احناف خلاف دې ددې ډير جوابونه کړې شوې دی.

۱: احاديث النهى عن النفل بعد العصر والفجر اقوى.

۲: مقدمة على الاباحة،

۳: محمول على ما قبل النهى،

۴: په بعض کتب حديث کښې لکه په مسند ابى حنيفه او كتاب الاثار لمحمد نه معلوميږى چه دا واقعه د سحر د مونځ نه ده بلکه د ماسپخين د مونځ ده،

۵: پنځم جواب دا دې چه رسول الله ﷺ د هغه دوارو کسانو نه تپوس اوکړو چه تاسو دواړه مونځ کښې ولې شامل نه شوئ نو هغوی ورته جواب ورکړو چه مونږ مونځ کړې وو، د هغوى ددې جواب نه په ظاهره کښې معلوميږى چه د مونځ کولو نه پس بيا د هغې اعاده مطلقا نشته، حال دا چه مسئله دا نه ده بلکه په مونځونو کښې اعاده بالاتفاق مستحب ده په دې وجه هغه اوفرمائيل چه داسې خو نه ده چه يو ځل د مونځ کولو نه پس بيا اعاده بالکل شته نه بلکه اعاده شته، يعنى د قاعدې او ضابطې مطابق، او د قاعدې تقاضه دا ده چه د اوقات نهى نه علاوه کښې دې اعاده وى چه يو ځل د مونځ کولو نه پس بيا اعاده نشته بلکه اعاده شته، يعنى د قاعدې او ضابطې مطابق، او د قاعدې تقاضه دا ده چه د اوقات نهى نه علاوه کښې اعاده پکار ده په اوقات نهى کښې اعاده نه ده پکار(افاده فى الكوكب) او شپږم جواب دا دې چه د دارقطنى په روايت کښې تصريح ده د فجر او مغرب د عدم اعادې او هم په دې حکم کښې دې مازيگر هم، والله تعالى اعلم.

[۵۷۵](2)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي يَعْلَى بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ غُلَامٌ شَابٌّ، فَلَمَّا صَلَّى إِذَا رَجُلَانِ لَمْ يُصَلِّيَا فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَدَعَا بِهِمَا فَجِيءَ بِهِمَا تُرْعَدُ فَرَائِصُهُمَا، فَقَالَ: "مَا مَنَعَكُمَا أَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا؟" قَالَا: قَدْ صَلَّيْنَا فِي رِحَالِنَا، فَقَالَ: لَا تَفْعَلُوا إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فِي رَحْلِهِ ثُمَّ أَدْرَكَ الْإِمَامَ وَلَمْ يُصَلِّ فَلْيُصَلِّ مَعَهُ، فَإِنَّهَا لَهُ نَافِلَةٌ".

[1] مشهوره خو هم دا ده خو په الشرح الكبير (للحنابلة) کښې داسې دي چه که يو سړى مونځ کړې وى که منفردا وى يا جماعت سره او د هغه په موجودګۍ کښې په مسجد کښې اقامت شروع شي نو د داسې سړي دپاره اعاده مستحب ده بغير د مغرب نه ولې المغرب روايتان احداهما يستحب ويشفعها بالرابعة، والثانية لا. او که هغه د اقامة صلاة په وخت د مسجد نه خارج وى نو په دې صورت کښې دې هغه په اوقات نهى کښې مسجد ته نه داخليږى او غير اوقات نهى کښې مونځ کول مستحب دى.

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ٤٩ (٢١٩)، سنن النسائي/الامامة ٥٤ (٨٥٩)، (تحفة الأشراف: ١١٨٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٠/٤، ١٦١)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٧(١٤٠٧) (صحيح)

ترجمه: جابر بن یزید بن الاسود د خپل پلار نه روایت کوي، بیشکه هغه مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره او هغه هلک وو ځوان، هر کله چې ئې مونځ وکړو نو دوه سړي وو په ګوټ د جمات کښې چې مونځ ئې نه وو کړی، نو هغه دواړه ئې راوغوښتل رپیدل اړخونه د هغوی، هغه ورته وفرمائیل: تاسو څه شی منع کړئ چې مونځ وکړئ مونږ سره؟ دواړو وویل: مونږ په کورونو خپلو کښې مونځ کړی وو، هغه ورته وفرمائیل: داسې مه کوئ، کله چې یو کس د ستاسو نه مونځ وکړي په کور خپل بیا امام ته راشي په داسې حال کښې چه امام مونځ نه وي کړي، نو مونځ دې وکړي د هغه سره بیشکه دا به د هغه نفل شي.

[۵۷۶]()حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ بِمِنًى، بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: د جابر بن یزید نه روایت دې هغه روایت کوی د خپل پلار نه، هغه وایې: ما مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره د صباح په منی کښې، په معنی د هغه حدیث سره.

[۵۷۷]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ نُوحِ بْنِ صَعْصَعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: "جِئْتُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ فَجَلَسْتُ وَلَمْ أَدْخُلْ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: فَانْصَرَفَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى يَزِيدَ جَالِسًا، فَقَالَ: أَلَمْ تُسْلِمْ يَا يَزِيدُ؟ قَالَ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ أَسْلَمْتُ، قَالَ: فَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَدْخُلَ مَعَ النَّاسِ فِي صَلَاتِهِمْ؟ قَالَ: إِنِّي كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِي مَنْزِلِي، وَأَنَا أَحْسَبُ أَنْ قَدْ صَلَّيْتُمْ، فَقَالَ: إِذَا جِئْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَوَجَدْتَ النَّاسَ فَصَلِّ مَعَهُمْ، وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً وَهَذِهِ مَكْتُوبَةٌ".

ترجمه: د یزید بن عامر نه روایت دې هغه وئیلی دي: زه راغلم او نبی ﷺ په مانځه کښې وو نو زه کیناستلم او د هغوی سره مانځه کښې شریک نه شوم، هغه وایې: راغي مونږ ته رسول الله ﷺ وبی لیدلو یزید ناست، هغه وویل: ایا تا اسلام نه دی راوړی ای یزیده! هغه وویل: ولې نه ای د الله رسوله ما اسلام راوړی دی، هغه وفرمائیل: ته څه شی منع کړی چې د خلقو سره مانځه کښې شریک شي؟ هغه وویل: بیشکه ما مونځ کړی وو په خپل کور کښې او زما دا ګمان وو چې تاسو به مونځ کړی وي، هغه وفرمائیل: کله چې ته راشې مانځه ته او تا وموندل خلق نو مونځ وکړه د هغوی سره، او که چرې تا مونځ کړی وو نو دا شي به هغه نفل او دا به فرض شي.

تشریح: **قوله**:﴿ تکن لک نافلة وهذه مکتوبة ﴾ دا د امام اوزاعی دلیل دې چه اولنې مونځ به نفل شمارلې شی او دویم فرض، ددې جواب مونږ سره په تیر باب کښې تیر شوې دې (ابواب المواقیت کښې).

قوله:﴿ فذلک له سهم جمع ﴾ یعنی ددې سړی دپاره د دواړو مونځونو مجموعه ثواب دې (یو د فرض او بل د نفل) او یو قول ددې په شرح (۳) کښې دا دې چه د جمع نه مراد جیش او

---

(۱): انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۱۱۸۲۲) (صحيح)

(۲): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۱۸۳۱) (ضعيف)

(۳) دلته د بذل المجهود په عبارت کښې تحریف شوې دې، صحیح عبارت داسې دې (وقيل اراد بالجمع الجيش اي كسهم الجيش من الغنيمة)

لښکر دي ای له سهم کسهم الجیش،، یعنی د یرلوئي سهم د غنیمت ورته حاصل شو.

[۵۷۸]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى ابْنِ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ بُكَيْرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَفِيفَ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْمُسَيَّبِ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ، أَنَّهُ سَأَلَ أَبَا أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ، فَقَالَ: يُصَلِّي أَحَدُنَا فِي مَنْزِلِهِ الصَّلَاةَ ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ وَتُقَامُ الصَّلَاةُ، فَأُصَلِّي مَعَهُمْ فَأَجِدُ فِي نَفْسِي مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا، فَقَالَ أَبُو أَيُّوبَ: سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "ذَلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ".

ترجمه: یو سړی د ابو ایوب الانصاری نه تپوس وکړو، ویې وئیل: یو کس زمونږ نه مونځ وکړی په خپل کور کښې بیا راشی جمات ته او مونځ ودرولی شی نو زه مونځ وکړم د هغوی سره، زه وینم په خپل نفس کښې د دېنه څه شی، نو وویل ابو ایوب: مونږ تپوس کړی وو د دغې په باره کښې د رسول الله ﷺ نه، هغه وفرمائیل: دا د هغه لپاره حصه د جمعې ده (یعنی دوباره په مونځ کښې شریکیدل هم ثواب دې).

بَابُ إِذَا صَلَّى ثُمَّ أَدْرَكَ جَمَاعَةً أَيُعِيدُ

باب دی، کله چې مونځ د جمع سره وکړي بیا بله جمع ومومي ایا واپس به یې کوي

[۵۷۹]()حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ يَعْنِي مَوْلَى مَيْمُونَةَ، قَالَ: أَتَيْتُ ابْنَ عُمَرَ عَلَى الْبَلَاطِ وَهُمْ يُصَلُّونَ، فَقُلْتُ: أَلَا تُصَلِّي مَعَهُمْ؟ قَالَ: قَدْ صَلَّيْتُ، إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تُصَلُّوا صَلَاةً فِي يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ".

ترجمه: سلیمان بن یسار چې مولی د میموني دی هغه وایې: زه راغلم ابن عمر ته په بلاط کښې او هغوی مونځ کولو، نو ما وویل: ایا تا د هغوی سره مونځ نه کوي، هغه وفرمائیل: بیشکه ما مونځ کړی دی، ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چې هغه به وئیل: تاسو مونځ مه کوئ یو مونځ په یوه ورځ کښې دوه ځل.

تشریح: قوله: لَا تُصَلُّوا صَلَاةً فِي يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ: دا حدیث د تیرشوی باب د روایاتو خلاف دې چه په هغې کښې د مونځ دوباره کولو ذکردې.

په ترجمة الباب کښې د مصنف غرض

مصنف د ترجمة الباب په ذریعه جمع بین الروایتین فرمائیلې دی هغه دا چه باب سابق والا روایات د هغه سړی په حق کښې دی چا چه اولا مونځ منفردا کړې وی، او کوم سړی چه په جماعت سره مونځ کړې وی اوس هغه لره دوباره مونځ کول نه دی پکار (فاندفع التعارض من البین) دا تطبیق د جمهورو د مسلک مطابق خو دې خو د امام احمد د مسلک خلاف دې ځکه چه د هغه مسلک مخکښې تیر شو چه کوم سړی مونځ کړې وی اګر چه په جماعت سره وی او د هغه په وړاندې په مسجد کښې مونځ کیږی نو د هغې اعاده مستحب ده.

لهذا د امام احمد رحمه الله په نزد به د ددې حدیث مطلب دا وی چه په یو ورځ کښې دې یو مونځ دوه کرته د فرض په نیت سره اونکړې شی، لهذا د دفع تعارض شکل د جمهورو په

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۵۰۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ۳(۱۱) (ضعیف)
(۲): سنن النسائي/الإمامة ۵۶ (۸۶۱)، (تحفة الأشراف: ۷۰۹۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۹، ۴۱) (حسن صحیح)

نزد جدا دې او د امام احمدرحمه الله په نزد جدا دې.

باب في جماع الإمامة وفضلها

باب دې په بيان د ابوابو د امامت کې او د هغې په فضيلت کې

(د جماع لغوی تحقيق)

﴿ جماع ﴾ په وزن د کتاب او په وزن د رمان دواړه صحيح دی، جماع په معنی د جامع، د امام مالک رحمه الله عادت شريفه دې چه هغه په مؤطاء کښې لفظ جامع سره باب ترې، جامع الصلاة، جامع البيوع، نو ګويا د جماع الامامة مطلب دا شو، د امامت د احکامو او مسائلو متعلق د ابوابو مجموعه يعنی ددې ځائې نه ابواب الامامة شروع کيږی او د امام بخاری رحمه الله طرز دا دې چه هغه کله د ابواب سره ترجمه قائموی، ابواب التهجد، ابواب المساجد هغه لفظ ابواب جمع لره د کتاب په معنی کښې استعمالوی ځکه چه کتاب هم په ډيرو بابونو باندې مشتمل وی، د امام ابوداودرحمه الله عادت د لفظ تفريع د استعمال هم دې تفريع افتتاح الصلاة، تفريع په معنی د تجزيه او تفصيل فروع په معنی د جزئيات او مسائل، د فقهاء کرامو تعبير دې، او يا په دې ځان پوهه کړئ چه د هر يو مصنف په ذهن کښې د ابواب او مضامين يو خاص ترتيب وی چه د هغې په لحاظ وئيلې کيدې شی چه راتلونکی ابواب په تيرو شوو ابوابو باندې متفرع کيږی هم په دې وجه باندې مصنف کله کله د باب په شروع کښې لفظ تفريع راوړی.

[٥٨٠]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَرْمَلَةَ، عَنْ أَبِي عَلِيٍّ الْهَمْدَانِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ أَمَّ النَّاسَ فَأَصَابَ الْوَقْتَ فَلَهُ وَلَهُمْ، وَمَنِ انْتَقَصَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعَلَيْهِ وَلَا عَلَيْهِمْ".

ترجمه: عقبة بن عامر وايې ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه به وئيل: چا چې امامت وکړو خلقو ته او ورسيدو وخت ته نو د هغه ثواب هم دې او د قوم فائده هم ده، او چا چې نقصان وکړو په دې کښې د څه شی نو په هغه باندې ګناه ده نه په قوم باندې

تشريح: **قوله**.﴿ من ام الناس فاصاب الوقت الخ ﴾ څوک چه د خلقو امامت کوی او په صحيح وخت باندې هغوی ته مونځ ورکړی نو دا د هغه په حق کښې هم بهتره ده او د مقتديانو په حق کښې هم، او څوک چه ددې خلاف کوی بې وخته مونځ کوی نو په دې کښې د مقتديانو هيڅ نقصان نشته ددې وبال هم په هغه امام باندې دې.

(): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٧ (٩٨٣)، (تحفة الأشراف: ٩٩١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٥/٤، ١٥٤، ١٥٦) (حسن صحيح)

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ التَّدَافُعِ عَلَى الإِمَامَةِ

باب دي په كراهيت د غورځولو د امامت كې د ځان نه

[٥٨١]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبَّادٍ الأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ، حَدَّثَتْنِي طَلْحَةُ أُمُّ غُرَابٍ، عَنْ عَقِيلَةَ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ مَوْلَاةٍ لَهُمْ، عَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ الْحُرِّ أُخْتِ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ الْفَزَارِيِّ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ: أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا يَجِدُونَ إِمَامًا يُصَلِّي بِهِمْ".

ترجمه: خور د خرشة بن الحر الفزاري وئيلي دي، چي ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه هغه به وئيل بيشكه د نښو د قيامت نه دا خبره چي ديكه كوي به اهل د مسجد امامت له، نه به بياموخې امام چي دوی ته مونځ وكړي.

تشريح: قوله: ﴿ ان من اشراط الساعة الخ ﴾ د قيامت د علاماتو نه دا ده چه خلق به امامت د ځانه لرې كوي، هر يو به د مونځ وركولو نه ځان ساتي، د جهالت د غلبې د وجې نه، يا داسې ترجمه اوكړئ چه ديكه به وركوی يو سړې بل ته د مسجد يا محراب طرف ته ددې دپاره چه هغه بل مونځ وركړي، دا دواړه مطلبونه خو نژدې نژدې دي يو دريم مطلب دا هم كيدې شی چه خلق به خپل مينځ كښې د اختلافاتو په وجه باندې امام د امامت نه لرې كوی يو به وائي مونږ وريسې مونځ نه كوو، بل به وائی مونږ وريسې مونځ نه كوو، خپل مينځ كښې د اختلاف د وجې نه.

بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالإِمَامَةِ

باب دی چې څوک ډير حقدار د امامت دی

د امامت اوصاف:

د امامت دپاره چه د كومو صفاتو ضرورت دې هغه ډير دي. قرأت، علم، ورع او تقوی، عمر (كبير السن كيدل) قدم في الهجرة (قديم الهجرة كيدل) په دې ټولو كښې زياته ترجيح قرأت او علم ته ده، لهذا ددې دواړو صفتونو والا ته به په نورو صفاتو والا باندې ترجيح وركولې شی، خو خبله په دې دواړو كښې چاته ترجيح ده؟ دا مسئله مختلف فيه ده، د جمهورو په نزد ترجيح علم ته ده په قرأت باندې، او د امام احمد او ابويوسف په نزد ددې برعكس ده، د هغوی په نزد قاری په عالم باندې مقدم دي

[٥٨٢]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ رَجَاءٍ، سَمِعْتُ أَوْسَ بْنَ ضَمْعَجٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللَّهِ وَأَقْدَمُهُمْ قِرَاءَةً، فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً، فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَكْبَرُهُمْ سِنًّا، وَلَا يُؤَمُّ الرَّجُلُ فِي بَيْتِهِ وَلَا فِي سُلْطَانِهِ وَلَا يُجْلَسُ عَلَى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ"، قَالَ شُعْبَةُ: فَقُلْتُ لِإِسْمَاعِيلَ: مَا تَكْرِمَتُهُ؟ قَالَ: فِرَاشُهُ.

---

[1]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٨ (٩٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨١/٦) (ضعيف)

[2]: صحيح مسلم/المساجد ٥٣ (٦٧٣)، سنن الترمذي/الصلاة ٦٢ (٢٣٥)، سنن النسائي/الإمامة ٣، (٧٨١)، ٦ (٧٨٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٦ (٩٨٠)، (تحفة الأشراف: ٩٩٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٨/٤، ١٢١، ١٢٢) (صحيح)

ترجمه: د ابو مسعود البدری نه روایت دې هغه وئیلی دی، چې وئیلی دی رسول الله ﷺ: امامت به کوی د قوم د پر بنه لوستونکی د الله د کتاب، او مخکې د دوی نه په قرأت کښې، که چرې وو دوی په قرأت کښې برابر نو امامت دې وکړی د دوی هغه کس چې مخکې دی په هجرت کښې، که چرې وو دی په هجرت کښې برابر، نو امامت دې وکړی د دوی مشر د دوی نه په عمر کښې، او امامت دې نه کوې سړی په کور د هغه کښې او نه په بادشاهئ د هغه کښې، اونه به کېنې په ځائې دعزت د هغه مګر په اجازت دهغه سره. شعبه وائی ما اسماعیل نه تپوس اوکړو چه تکرمه (دعزت ځائې) نه څه مراددی؟ نوهغوی اووئیل دهغه بستره.

تشریح: **قوله**: (یؤم القوم اقرؤهم لکتاب الله) دا د امام احمد او ابویوسف دلیل دې.

د جمهورو دلیل او په هغې باندې اشکال او جواب :

د جمهورو دلیل د امامت ابی بکر قصه ده چه هغه اعلم الصحابة وو، هم دا وجه ده چه ابو سعید خدری ؓ په یوه موقع باندې فرمائیلې وو لکه چه په بخاری کښې دی (وکان ابوبکر اعلمنا) که تقدیم اقراء ته وو نو هغه ابی بن کعب وو، او د حدیث الباب جواب جمهور دا ورکوی چه د هغه زمانې اقراء به اعلم وو ځکه چه هغه حضراتو به قران کریم تفقه او د فهم معنی سره لوستلو اوس چه به هر څومره لوئې حافظ او قاری وی هومره به لوئې عالم وی، او دلیل عقلی دا دې چه قرأت صرف یو رکن صلاة دې او د علم طرف ته ټول ارکان صلاة محتاج دی.

دلته دوه اشکالات دی، اول دا چه ممکنه ده تقدیم ابی بکر په دې حیثیت سره نه وی چه هغه اعلم وو[۱] بلکه د یو خاص مصلحت د وجې نه یعنی اشاره ده استخلاف طرفته (چه زما نه روستو دې هغه خلیفه جوړ کړې شی) بل اشکال دا دې چه که د هغه زمانې (اقراء) به (اعلم) وو نو بیا ئې وراندې په حدیث کښې د (اقراء) مقابل (اعلم) ولې جوړ کړې دې (فان کانوا فی القراءة سواء فاعلمهم بالسنة) د دې جواب حضرت ګنګوهی دا ورکړې دې کما فی الحل المفهم چه دلته د اقراء مقابل مطلق اعلم نه دې بلکه اعلم بالسنة نو ګویا اقراء ته خو علم بالقران حاصل دې او ددې په مقابل کښې ئې په حدیث کښې اعلم بالسنة ذکر کړو، الحاصل په حدیث کښې مطلقا په اعلم او اقراء کښې تقابل نه دې ظاهر کړې شوې، نو اوس ترتیب دا شو چه د اعلم بالقران نه روستو درجه ده د اعلم بالسنة، دریم اشکال د جمهورو په مسلک باندې دا کړې شوې دې چه که دا اومنلې شی چه د هغه زمانې اقراء به اعلم وو نو لازم به شی چه ابی بن کعب دې اعلم وی ځکه چه هغه اقراء وو ددې جواب دا کیدې شی چه د جمهورو مراد دا دې چه بالعموم په هغه زمانه کښې اقراء اعلم وو، که د یو نیم په هغې کښې استثناء اوشی نو هیڅ باک نشته، ځکه چه مهشوره ده "ما من عام الا قد خص منه البعض". (دویم جواب ددې دا کیدې شی چه د اقراء دوه مطلبونه دی ۱: اکثرهم

---

[۱] ددې جواب دا کیدې شی چه په دوارو مصلحتونو کښې څه منافات دې، د مونځ امام هم هغه وی کوم چه خلیفه وی او کیدې شی چه استخلاف هم په دې وجه وی چه هم هغه اعلم وو. والله اعلم)

حفظا، یعنی چاته چه د قران کریم زیات مقدار یاد وی مثلا یو ته صرف پنځه پارې یادې دی هغه صرف پنځه لوستلې دی او بل لس پارې لوستلې دی او ددې پارو حافظ دې. ۲: بل مطلب ئې دا دې چه "اتقنهم حفظا" یعنی چاته چه ښه یاد وی پس دلته په حدیث الباب کښې اوله معنی مراد ده او د ابی بن کعب په باره کښې چه راغی چه هغه اقراء وو، هلته دویمه معنی مراد ده، د اول معنی په لحاظ سره هغه اقراء نه وو ځکه چه ابوبکر او ډیر صحابه کرام ظاهره ده چه د پوره قران کریم حافظان وو په دې کښې د ابی بن کعب هیڅ تخصیص نشته، هذا ما عندی والله اعلم)

تکمله:

بعض حضرات داسې دی چه هغوی ته علی الاطلاق ترجیح حاصله ده که هغه اعلم یا اقراء وی یا نه وی هو الاول السلطان ثم نائبه ثم القاضی ثم صاحب البیت، ثم الاعلم ثم الاقراء. هم دغه شان ځان پوهه کړئ چه د باب په اول حدیث کښې اختصار واقع شوې دې په دې کښې د ﴿ اقراء ﴾ نه روستو ﴿ اقدمهم هجرة ﴾ ذکر کړې شوې دې حال دا چه د ﴿ اقراء ﴾ نه روستو ﴿ اعلم بالسنة ﴾ کیدل پکار وو لکه چه په بل حدیث کښې را روان دی.

[۵۸۳]() حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ وَلَا يَؤُمُّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ قَالَ أَبُو دَاوُد وَكَذَا قَالَ يَحْيَى الْقَطَّانُ، عَنْ شُعْبَةَ، أَقْدَمُهُمْ قِرَاءَةً.

ترجمه: حدیث بیان کړې دې مونږ ته شعبة په دې حدیث سره هغه وئیلی دي. او امامت دې نه کوی سړی سړی ته د هغه په بادشاهئ کښې. وئیلی دی ابوداود: او همدارنګه وئیلی دی یحیی القطان، روایت کوی د شعبه نه (اقدمهم قراءة).

[۵۸٤]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ رَجَاءٍ، عَنْ أَوْسِ بْنِ ضَمْعَجٍ الْحَضْرَمِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ، فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً، وَلَمْ يَقُلْ: فَأَقْدَمُهُمْ قِرَاءَةً، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: وَلَا تَقْعُدْ عَلَى تَكْرِمَةِ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ.

ترجمه: اوس بن ضمعج الحضرمی وئیلی دی، ما اوریدلی دی د ابو مسعود نه هغه روایت کوی د نبی ﷺ نه ددې حدیث، هغه وویل: که چرې وو دوی برابر په قرأت کښې نو بیا به اعلم بالسنة امامت کوې، که چرې په سنتو کښې برابر وو نو بیا به اقدم فی الهجرة وي. او هغه ونه وئیل: چې مخکې وی په قرأت کښې. وئیلی دی ابوداود: نقل کړی دی هغې لره حجاج بن ارطاة د اسماعیل نه هغه وئیلی دي. او مه کینه په ځائې د عزت د هیچا مګر په اذن د هغه.

تشریح: قوله: ﴿ ولا یؤم الرجل فی بیته ولا فی سلطانه ولا یجلس علی تکرمته الا باذنه ﴾ د چا کور ته تلو سره میلمه له پکار دی چه د صاحب خانه امام دې جوړ نه شی هم دغه شان دې د چا په

[۱]: انظر ما قبله. (تحفة الأشراف: ۹۹۷٦) (صحیح)

[۲]: انظر ما قبله. (تحفة الأشراف: ۹۹۷٦) (صحیح)

محل سلطنت او حکومت کښې يعنی د محلې د امير په موجودګئ کښې بل چاته د امامت حق نه رسيږی، او نه د چا کور ته تلو سره صدر مقام او د هغه په مسند باندې کيناستل پکار دی، الا باذنه د دې استثناء تعلق د اکثر شارحينو په نزد د تمام سره دې او د اسحاق بن راهويه په نزد اول ددې نه مستثنی دې، يعنی ﴿ لا يؤم الرجل فی بيته ﴾ سره ددې تعلق نشته، د اسحاق په نزد د يو ميلمه دپاره د صاحب خانه د اجازت نه پس هم جائز نه دی. (كذا قال الترمذی فی جامعه)

[۵۸۵]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلَمَةَ، قَالَ: كُنَّا بِحَاضِرٍ يَمُرُّ بِنَا النَّاسُ إِذَا أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانُوا إِذَا رَجَعُوا مَرُّوا بِنَا فَأَخْبَرُونَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كَذَا وَكَذَا، وَكُنْتُ غُلَامًا حَافِظًا فَحَفِظْتُ مِنْ ذَلِكَ قُرْآنًا كَثِيرًا، فَانْطَلَقَ أَبِي وَافِدًا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَفَرٍ مِنْ قَوْمِهِ فَعَلَّمَهُمُ الصَّلَاةَ، فَقَالَ: "يَؤُمُّكُمْ أَقْرَؤُكُمْ" وَكُنْتُ أَقْرَأَهُمْ لِمَا كُنْتُ أَحْفَظُ، فَقَدَّمُونِي فَكُنْتُ أَؤُمُّهُمْ وَعَلَيَّ بُرْدَةٌ لِي صَغِيرَةٌ صَفْرَاءُ فَكُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَكَشَّفَتْ عَنِّي، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ النِّسَاءِ: وَارُوا عَنَّا عَوْرَةَ قَارِئِكُمْ، فَاشْتَرَوْا لِي قَمِيصًا عُمَانِيًّا فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحِي بِهِ، فَكُنْتُ أَؤُمُّهُمْ وَأَنَا ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ أَوْ ثَمَانِ سِنِينَ.

ترجمه: د عمرو بن سلمة نه روايت دې هغه وايي: وو مونږ په حاضر کښې چې تېريدل به په مونږ باندې خلک کله چې به راتلل نبی ﷺ ته، نو وو چې کله به واپس کيدل نو تېريدل به په مونږ، مونږ ته به ئې خبر راکولو چې رسول الله ﷺ داسې داسې وويل، او زه هلک وم حافظ، ما ياد کړی وو د قرآن ډېره حصه، لاړلو زما پلار د وفد په شکل رسول الله ﷺ ته سره د څه نفرو د خپل قوم نه، نو ويې ښودلو هغوی ته مونځ، نو هغه وفرمائيل: امامت دې وکړی ستاسو ډېر قاری ستاسو نه. او وم زه ډېر قاری په دوی کښې ددې وجې نه چې ما يادولو، نو زه ئې مخکې کړم نو وم زه چې ما امتی کوله دوی ته او په ما باندې زما يو څادر وو ورکوټی زېړ، وم زه چې کله به مې سجده وکړه هغه به لرې شو مانه، نو ووئيله يوې زنانه د زنانو نه: پټ کړئ زمونږ نه عورت د قاری ستاسو، هغوی واخستو زما لپاره يو قميص عماني، زه نه يم خوشحاله شوی په هيڅ شی باندې وروسته د اسلام نه پشان د خوشحالئ زما په دې باندې، او ما به امامتی کوله د دوی او زه د اوه کالويا د اتو کالو وم.

تشريح: **قوله**: ﴿ عن عمرو بن سلمة قال : كنا بحاضر ﴾ دا سلمه بکسر اللام دې.

امامت صبی او په هغې کښې اختلاف

په دې حديث کښې د امامت صبی فی الفرض مسئله ذکر شوې ده. کوم چه د امام شافعی په نزد جائز دې، د جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نزد جائز نه دې ځکه چه صبی متنفل دې او صلاة المفترض خلف المتنفل جائز نه دې، ځکه چه په حديث کښې ﴿ الامام ضامن ﴾، يعنی د امام مونځ په اعتبار صحت او فساد متضمن وی د مقتدی مونځ لره، او ظاهره ده چه څيز خپل مادون لره متضمن کيدې شی ما فوق لره متضمن نه شی کيدې، لهذا فرض مونځ خو

(): صحيح البخاري/المغازي ۵۳ (۴۳۰۲)، سنن النسائي/الأذان ۸ (۶۳۷)، والقبلة ۱۶ (۷۶۸)، والإمامة ۱۱ (۷۹۰)، (تحفة الأشراف: ۴۵۶۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۷۵/۳، ۲۹/۵، ۷۱) (صحيح)

نفل ته متمضن کيدې شي خو ددې برعکس نه شي کيدې.(۱)

(دحديث الباب جواب)

او ددې حديث جواب دا دې چه دې خلقو داسې په خپل اجتهاد سره کړې دی او ظاهره دا ده چه ددې خبر هم رسول الله ﷺ ته نه دې شوې، ځکه چه رسول الله ﷺ خو دا فرمائيلې وو چه ﴿ يؤمكم اقرؤكم ﴾ او خطاب ئې حاضرينو ته وو کوم چه رجال بالغين وو، هغوی داسې اوکړل چه په پوره خاندان کښې چه د هغوی کوم ﴿ اقراء ﴾ وو هغه ئې واخستلو اگر چه هغه صبي ولې نه وو، او د اکابر صحابه کرامو نه هم ددې خلاف منقول دې ﴿ فعن ابن عباس لا يؤم الغلام حتى يحتلم وعن ابن مسعود لا يؤم الغلام الذى لا تجب عليه الحدود ﴾ رواهما الاثرم فى سننه. كذا فى البذل. بله خبره دا ده چه په دې حديث کښې دا دی چه عمرو بن سلمه چه به کوم ځادر کښې مونځ ورکولو هغه ﴿ موصلة ﴾ (پيوندونه والا) وو.

﴿ فيهما فتق ﴾ يعنی هغه شليدلې وو چه د هغې په وجه باندې به ئې کوناتې ښکاره شو، نو ايا د کشف عورت سره مونځ جائز کيدې شی؟ ظاهره دا ده چه دا هم د هغوی په اجتهاد باندې بناء ده، په مغنی کښې ليکلې دی چه ﴿ كان احمد يضعف هذا الحديث وفى البذل قال الخطابى كان الحسن يضعف حديث عمرو بن سلمة ﴾ امام ابوداود هم ددې په سند کښې د راويانو اختلاف او اضطراب بيان کړې دې، عن عمرو بن سلمة نه پس بعض راويانو د عن ابيه اضافه کړې ده او بعض نه ده کړې ﴿ وارو عنا عورة قارئكم ﴾ چه د قاری صاحب او امام صاحب عورت خو زمونږ نه پټ کړئ.

[۵۸۶](۲) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الأَحْوَلُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلَمَةَ، بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَكُنْتُ أَؤُمُّهُمْ فِي بُرْدَةٍ مُوَصَّلَةٍ فِيهَا فَتْقٌ، فَكُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ خَرَجَتِ اسْتِي.

ترجمه: د عمرو بن سلمة نه نقل دې دا حديث، هغه وايي: زه وم چې امامت مې کولو د دوی په يو ځادر کښې چې جوخت وو په هغې کښې سوری وو، کله چې به ما سجده وکړه نو وبه وتلو کوناتې زما (خلقو ته به ښکاره شو).

[۵۸۷](۳) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرِ بْنِ حَبِيبٍ الْجَرْمِيِّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُمْ وَفَدُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَرَادُوا أَنْ يَنْصَرِفُوا، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، "مَنْ يَؤُمُّنَا؟" قَالَ: "أَكْثَرُكُمْ جَمْعًا لِلْقُرْآنِ، أَوْ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ"، قَالَ: فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ مِنَ الْقَوْمِ جَمَعَ مَا جَمَعْتُهُ، قَالَ: فَقَدَّمُونِي وَأَنَا غُلَامٌ وَعَلَيَّ شَمْلَةٌ لِي فَمَا شَهِدْتُ مَجْمَعًا مِنْ جَرْمٍ إِلَّا كُنْتُ إِمَامَهُمْ، وَكُنْتُ أُصَلِّي عَلَى جَنَائِزِهِمْ إِلَى يَوْمِي هَذَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ مِسْعَرِ بْنِ حَبِيبٍ الْجَرْمِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلَمَةَ، قَالَ: لَمَّا وَفَدَ قَوْمِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقُلْ: عَنْ أَبِيهِ.

---

(۱) دلته دا سوال کيدې شي چه څنگه څيز خپل ما فوق لره متضمن نه شي کيدې هم دغه شان مساوی لره هم متضمن نه شي کيدې لکه دوه برابر گلاسونه په يو بل کښې نه شي راتلې. لهذا د مفترض په اقتداء کښې د مفترض اقتداء هم صحيح کيدل نه دی پکار. جواب دا دې چه دا شکل ترې د اجماع علماء د وجې نه مستثنی دې.

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۴۵٦۵) (صحيح)

(۳): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۴۵٦۵) (صحيح)

ترجمه: عمرو بن سلمة د خپل پلار نه روایت کوي بیشکه دوی په وفد کښې لاړل رسول الله ﷺ ته، هرکله چې دوی اراده د واپسئ وکړه هغوی ووئیل اې د الله رسوله څوک به امامت کوی مونږ ته، هغه وفرمائیل په تاسو کښې ډېر جمع کونکی قرآن لره او یا اخستونکی قرآن لره هغه وایي په قوم کښې هېڅوک نه وو چې جمع کړی ئې وو څومره چې ما جمع کړی وو، هغه وایي زه ئې مخکښې کړم او زه هلک وم او ما څادر نه لنګ وهلې وو، ما نه دې کتلې کوم تولګی د قبیله جرم نه، مګر زه به د هغوی امام وم، او ما به مونځ کولو د هغوی په جنازو باندې تر نن ورځ پورې وئیلی دی ابوداود او نقل کړی دی هغې لره یزید بن هارون د مسعر نه بن حبیب الجرمی نه او هغه د عمرو بن سلمة نه هغه وئیلی دي هرکله چې زما قوم لاړلو رسول الله ﷺ ته، هغه عن أبیه نه دی ویلی

[۵۸۸]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا أَنَسٌ يَعْنِي ابْنَ عِيَاضٍ. ح وحَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ خَالِدٍ الْجُهَنِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْأَوَّلُونَ نَزَلُوا الْعُصْبَةَ قَبْلَ مَقْدَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَكَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَكَانَ أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا"، زَادَ الْهَيْثَمُ: وَفِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ.

ترجمه: د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دي بیشکه هغه وئیلی دي هرکله چې راغلل اولنی مهاجرین هغوی اباد شول په عصبه کښې، مخکښې د راتلو د نبی ﷺ نه، نو امامت به کولو هغوی ته سالم چې مولی د ابو حذیفه دی، او وو هغه ډېر زیات په اعتبار د قرآن سره زیادت کړی دی هیثم: او په هغوی کښې عمر بن الخطاب او ابو سلمة بن عبد الاسد هم وو

تشریح: **قوله:**﴿ عن ابن عمر انه قال : لما قدم المهاجرون الاولون الخ ﴾ عصبه قباء ته نزدې د یو ځائې نوم دې، په دې حدیث کښې یو صحابی چه د هغه نوم سالم بن معقل دې کوم چه د قراء صحابه کرامو نه وو د هغوی په باره کښې دا دی چه هغه په مقام عصبه کښې چه کوم مهاجرین مقیم شوي وو چه په هغوی کښې عمر رضی الله عنه هم وو هغوی ته به ئې مونځ ورکولو، په ظاهره کښې به ئې په دې وجه باندې امامت کولو چه په هغوی تولو کښې هغه اقرأ (ښه لوستونکې د قرآن) وو. لهذا دا حدیث د امام احمد او ابویوسف دلیل شو چه اقراء ته په اعلم باندې ترجیح ده، د جمهورو د طرف نه ددې جواب دا کیدې شی چه زمونږ استدلال د فعل رسول ﷺ نه دې (یعنی تقدیم ابی بکر) او دا فعل دې د بعض صحابه کرامو، ا دا هم ممکنه ده چه عمر رضی الله عنه د څه عذر د وجې نه مونځ نه وی ورکړې والله اعلم

[۵۸۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ. ح وحَدَّثَنَا مَسْلَمَةُ بْنُ مُحَمَّدٍ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ أَوْ لِصَاحِبٍ لَهُ: "إِنَّا

[1]: صحيح البخاري/الأذان ٥٤ (٦٩٢)، (تحفة الأشراف: ٧٨٠٠، ٨٠٠٧) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأذان ١٧ (٦٢٨)، ٣٥ (٦٥٨)، ٤٩ (٦٨٥)، ١٤٠ (٨١٩)، والجهاد ٤٢ (٢٨٤٨)، والأدب ٢٧ (٦٠٠٨)، وأخبار الآحاد ١ (٧٢٤٦)، صحيح مسلم/المساجد ٥٣ (٦٧٤)، سنن الترمذي/الصلاة ٣٧ (٢٠٥)، سنن النسائي/الأذان ٧ (٦٣٥)، ٨ (٦٣٦)، ٢٩ (٦٧٠)، والإمامة ٤ (٧٨٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٦ (٩٧٩)، (تحفة الأشراف: ١١١٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٣٦، ٥/٥٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٤٢ (١٢٨٨) (صحيح)

حَضَرَتِ الصَّلَاةُ، فَأَذِّنَا ثُمَّ أَقِيمَا ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا سِنًّا". وَفِي حَدِيثِ مَسْلَمَةَ، قَالَ: وَكُنَّا يَوْمَئِذٍ مُتَقَارِبَيْنِ فِي الْعِلْمِ، وَقَالَ فِي حَدِيثِ إِسْمَاعِيلَ: قَالَ خَالِدٌ: قُلْتُ لِأَبِي قِلَابَةَ: فَأَيْنَ الْقُرْآنُ؟ قَالَ: إِنَّهُمَا كَانَا مُتَقَارِبَيْنِ.

ترجمه: د مالک بن الحویرث ﷺ نه روایت دي، بیشکه نبي ﷺ وویل هغه ته او یا د هغه ملګري ته: کله چې دمونځ وخت شي نو اذان وکړئ او بیا اقامت وکړئ، بیا دې امامت وکړي ستاسو دواړو نه مشر په تاسو کښې. او په حدیث د مسلمة کښې دي هغه وایي: او وو مونږ په دغه وخت کښې دواړه برابر په علم کښې، او هغه وئیلی دی په حدیث اسماعیل کښې: وئیلی دی خالد: ما وویل ابو قلابة ته: قرآن څه شو؟ هغه وویل: هغه دواړه (قرآن باندې پوهیدلو کښې) نزدې وو (یعنی برابر وو).

تشریح: **قوله**:﴿ اذا حضرت الصلاة فاذنا ﴾ رسول الله ﷺ مالک بن الحویرث ﷺ او د هغوی د سفر ملګرو ته چه کله هغوی د مدینې نه رخصت کیدل اوفرمائیل څو ورځې د قیام او تعلیم د حصول نه پس چه د هغې قصه په بخاری شریف کښې ده، چه په لاره کښې په جماعت سره مونځونه کولو سره تلل، باقاعده اذان او اقامت سره، د تثنیه صیغه دلته د تخییر دپاره ده چه په تاسو دواړو کښې چه څوک غواړی هغه دې اذان اوکړی او اقامت، البته امامت دې په تاسو کښې هغه څوک اوکړی چه مشر وی.

د حدیث الباب نه د بعض علماء استدلال

ابو الحسن بن القصار ددې نه استدلال کړې دې په دې خبره باندې چه په سفر کښې که دوه کسان وی نو دواړه دې اذان اوکړی، دا د هغه شاذ قول دې، د مسلک جمهور او قیاس خلاف دې، هغوی د حدیث د ظاهر په وجه باندې داسې وئیلي دی، جمهورو د تثنیه د صیغې یوه توجیه دا کړې ده چه مراد دا دې چه یو دې اذان اوکړی، او دویم دې د هغه اجابت اوکړی، بله دا چه بعض وخت داسې کیږی چه عرب خلق تثنیه او جمع وئیلو سره واحد مراد اخلی لکه په دې دوه مثالونو کښې.

قوله:﴿ یا حرسی اضربا عنقه ﴾ قاضی جلاد ته وائی چه ددې مجرم سټ اووهه او د تثنیه صیغه استعمالوی هم دغه شان وئیلې شی ﴿ فلان قتله بنو تمیم ﴾ د قتل نسبت پوره قبیلې طرفته اوکړې شو حالانکه قاتل صرف یو سړې دې

قوله:﴿ فاین القران ﴾ یعنی نبي ﷺ د امامت دپاره د تقدیم اکبر حکم فرمائیلې دې، د تقدیم اقراء حکم ئې ولې نه دې فرمائیلې، جواب دا ورکړې شوې دې چه هغوی دواړه په حفظ قران کښې برابر وو

[۵۹۰]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عِيسَى الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ خِيَارُكُمْ، وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّاؤُكُمْ".

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روایت دې هغه وئیلی دي چې فرمائیلی دی رسول الله ﷺ: اذان دې وکړي ستاسو لپاره غوره په تاسو کښې، اوامامت دې وکړې تاسو ته قاریان ستاسو.

(): سنن ابن ماجه/الأذان ٥ (٧٢٦)، (تحفة الأشراف: ٦٠٣٩) (ضعيف)

باب إمامة النساء

باب دې په بيان د امامت د زنانو کښې

د زنانو مستقل خپل جدا جماعت سره مونځ کول.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه

دا د شوافعو او حنابله په نزد مستحب دې، د احنافو او مالکيانو په نزد مکروه دې قاله الشعرانی فی الميزان. او په مغنی کښې ليکلې دی چه د امام احمد رحمه الله نه په دې کښې دوه روايتونه دی، استحباب او عدم استحباب، او زمونږ د بعض فقهاء کرامو د کلام نه معلوميږی چه که زنانه بهر وتلو سره جماعت کوی نو بيا خو دې مکروه او که په کور کښې جماعت کوی نو جائز دې.

د بعض رواياتو نه د زنانو جماعت ثابت دې ابن الهمام د مستدرک او کتاب الاثار لمحمد نه هغه روايات نقل کړې دی، زمونږ فقهاء کرامو هغه منسوخ منلې دی کما فی البدائع، وغيره ابن الهمام په نسخ باندې اوږد کلام کړې دې او نسخ خو ئې اول منلې نه ده او فرمائی که نسخ اومنلې شی نو نسخ د سنية کراهت تحريميه لره مقتضی نه ده بلکه عدم استحباب او خلاف اولی لره، اوس پاتې شوه دا چه ناسخ څه دې، ناسخ هغه مشهور حديث دې چه د هغې تخريج ابوداود او ابن خزيمه کړې دې. ﴿ صلاة المرأة فی بيتها افضل من صلاتها فی حجرتها وصلاتها فی مخدعها افضل من صلاتها فی بيتها ﴾ ظاهره ده چه مخدع ډير مختصر ځائې وی او د جماعت د پاره وسيع ځائې پکار دې.

[۵۹۱]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جُمَيْعٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي جَدَّتِي، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَلَّادٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ أُمِّ وَرَقَةَ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَوْفَلٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا غَزَا بَدْرًا، قَالَتْ: قُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ائْذَنْ لِي فِي الْغَزْوِ مَعَكَ أُمَرِّضُ مَرْضَاكُمْ، لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَرْزُقَنِي شَهَادَةً، قَالَ: "قَرِّي فِي بَيْتِكِ، فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَرْزُقُكِ الشَّهَادَةَ"، قَالَ: فَكَانَتْ تُسَمَّى الشَّهِيدَةُ، قَالَ: وَكَانَتْ قَدْ قَرَأَتِ الْقُرْآنَ، فَاسْتَأْذَنَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَتَّخِذَ فِي دَارِهَا مُؤَذِّنًا، فَأَذِنَ لَهَا"، قَالَ: وَكَانَتْ قَدْ دَبَّرَتْ غُلَامًا لَهَا وَجَارِيَةً، فَقَامَا إِلَيْهَا بِاللَّيْلِ فَغَمَّاهَا بِقَطِيفَةٍ لَهَا حَتَّى مَاتَتْ وَذَهَبَا، فَأَصْبَحَ عُمَرُ فَقَامَ فِي النَّاسِ، فَقَالَ: مَنْ كَانَ عِنْدَهُ مِنْ هَذَيْنِ عِلْمٌ أَوْ مَنْ رَآهُمَا فَلْيَجِئْ بِهِمَا، فَأَمَرَ بِهِمَا فَصُلِبَا فَكَانَا أَوَّلَ مَصْلُوبٍ بِالْمَدِينَةِ.

ترجمه: د ام ورقة بنت عبد الله بن نوفل الانصارية نه روايت دې، بيشکه نبی ﷺ چې هرکله د بدر غزا وکړه، هغه وايي: ما ورېل هغه ته: اې د الله رسوله! ماته اجازت وکړه په غزا کولو کښې ستا سره زه به علاج کوم د مريضانو ستاسو، کيدی شی چې الله ماته شهادت رانصيب کړي، هغه وفرمائيل: کينه په خپل کور کښې بيشکه الله پاک به تاته شهادت درکړي. هغه وايي: نو هغه وه چې مسمی کولې به شوه په شهيدی سره، هغه وايي: او وه هغه چې قرآن ئې حفظ کړې وو نو اجازت ئې طلب کړو د رسول الله ﷺ نه چې ونيسی په خپل کور کښې مؤذن، نو اجازت ئې ورته وکړو، هغه وايي: او وه هغه چې مدبر کړی ئې وو

() تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٨٣٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٠٥) (حسن)

يو غلام چې د هغې وو او يوه وينزه، نو هغوى دواړو دشپې هغه په يوه كمبله كښې بنده كړه، تردې چې مړه شوه او دواړه وتختيدل، نو سحر له عمر په خلقو كښې پاخيدو او ويې وئيل: د چاسره چې د هغو دواړو په باره كښې معلومات وى او يا چا ليدلى وى نو دواړه دې راولى، نو امر ئې وكړو په سولئ كولو د دواړو باندې، نو شول دواړه اولني په دار شوى په مدينه كښې.

د حديث مضمون

تشريح: قوله:(عن ام ورقة بنت عبدالله بن نوفل الخ) ام ورقه بنت نوفل د رسول الله ﷺ نه هغه وخت چه كله هغه جنګ بدر ته تشريف اوړلو درخواست اوكړو چه ما هم د ځان سره بوځه ددې دپاره چه زه هلته د مريضانو خيال اوساتم او د زخميانو پټئ كوم كيدې شى چه الله پاک ماته هم د شهادت درجه رانصيب كړى، رسول الله ﷺ هغې ته اوفرمائيل چه ته په خپل كور كښې اوسيږه، ممكنه ده چه الله پاک به تاته په خپل كور كښې شهادت درنصيب كړى، دا د قران كريم حافظه هم وه په دې وجه هغې رسول الله ﷺ ته درخواست اوكړو چه زه دا غواړم چه په كور كښې د زنانو د جماعت امامت اوكړم او د مؤذن د ساتلو اجازت ئې هم اوغوښتلو، رسول الله ﷺ هغې ته ددې اجازت وركړو، وړاندې په روايت كښې راوى وائى چه ما د هغې مؤذن ليدلې دې چه هغه يو بوډا سړې وو، هم دغه شان په روايت كښې دى چه د هغه زنانه يو غلام او يوه وينزه وه هغې دا دواړه مدبر جوړ كړې وو (مدبر د مولى د مرګ په انتظار وى) هغوى دواړو دا حركت اوكړو چه يوه شپه هغوى دواړه د هغې په مرئ غلې شو چه په هغې سره هغه وفات شوه، دا د عمر ؓ د زمانې خبره ده نو هغه په معلومولو باندې دواړه په صولئ كړل. ددې حديث او د بعض نور قسم رواياتو نه شوافعو د جماعت النساء په استحباب باندې استدلال كړې دې، ددې بحث د باب په شروع كښې تير شوې دې.

تكمله :

ځان پوهه كړه چه د شوافعو وغيره اختلاف په امامة النساء للنساء كښې دې، او امامة النساء للرجال په اتفاق د ائمه اربعه جائز نه دې، لحديث اخروهن من حيث اخرهن الله... اخرجه ابن ماجة من حديث جابر مرفوعا وروى عن ابن مسعود موقوفا. البته د بعض علماء كرامو لكه مزنى، ابوثور، طبرى او داؤد ظاهرى په نزد امامة النساء للرجال جائز دې. (ابن رسلان، ابن قدامة، منهل)

[۵۹۲](١)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ حَمَّادٍ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ الْوَلِيدِ بْنِ جُمَيْعٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَلَّادٍ، عَنْ أُمِّ وَرَقَةَ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ، قَالَ: وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُورُهَا فِي بَيْتِهَا، وَجَعَلَ لَهَا مُؤَذِّنًا يُؤَذِّنُ لَهَا، وَأَمَرَهَا أَنْ تَؤُمَّ أَهْلَ دَارِهَا، قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: فَأَنَا رَأَيْتُ مُؤَذِّنَهَا شَيْخًا كَبِيرًا.

ترجمه: د ام ورقة نه روايت دې ددې حديث، او اولنى ډېر پوره دى، هغه وئيلى دي: او وو رسول الله ﷺ چې د هغې ملاقات به ئې كولو د هغې په كور كښې او ګرځولى ئې وو د هغې لپاره مؤذن چې اذان به ئې كولو د هغې دپاره، او امرئې ورته كړى وو چې امامت كوه د خپل كور والا. وئيلى دى عبد الرحمن: ما ليدلى وو مؤذن د هغې چې وو ډير بوډا.

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٣٦٤) (حسن)

بَابُ الرَّجُلِ يَؤُمُّ الْقَوْمَ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ

باب دې په بيان د سړي کښې چې امامت د يو قوم کوي او هغوی هغه بد ګڼي

[۵۹۳]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ غَانِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ عَبْدٍ الْمَعَافِرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَقُولُ: "ثَلَاثَةٌ لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُمْ صَلَاةً: مَنْ تَقَدَّمَ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، وَرَجُلٌ أَتَى الصَّلَاةَ دِبَارًا وَالدِّبَارُ أَنْ يَأْتِيَهَا بَعْدَ أَنْ تَفُوتَهُ، وَرَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَهُ".

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ وو چې وئيل به يې: درې کسان دي چې الله د هغوی مونځ نه قبلوي، څوک چې يو قوم ته مخکې شو او هغوی ده له بد ګڼرونکې وو، او هغه سړی چې مونځ کوی په حالت د دبار کښې. او دبار دادی چې دايې وکړی وروسته د فوت کيدو نه، او بل سړی دی چې د ازاد شده نه غلام جوړوي.

د حديث شرح

په حديث الباب کښې دی چه د درې کسانو مونځ قبول نه دې هغه درې سړی دا دی:

۱: يو هغه سړې کوم چه د خلقو امامت کوی حال دا چه هغوی ئې امامت نه خوښوی. ۲: هغه سړې چه مونځ ډير ناوخته کوی ترديې چه هغه قضاء کړی يا جماعت فوت کړی. ۳: کوم سړې چه د ازاد نه غلام جوړ کړی يعنی يو مسافر ازاد سړې راونيسی او هغه ته اوائی چه ته زما اخستلې شوې غلام ئې، يا مطلب دا دې چه خپل غلام لره د ازادولو نه پس د هغه نه هم دغه شان خدمت اخلی څنګه چه ئې مخکښې اخستلو، يعنی په زبردستئ باندې، يا دا چه غلام لره ازادولو سره د هغه ازادول پټ کړی او خدمت وغيره ترې اخلی.

﴿ وهم له كارهون ﴾ د لاندې شارحينو ليکلې دی چه د ديندارو خلقو د کراهت په اعتبار سره، د دنيادارو کراهت معتبر نه دې، بله دا چه اکثريت ته به کتلې شی چه د اکثر خلقو خيال څه دې، د يو دوه کسانو ناخوښئ لره به هم اعتبار نه وی.

بَابُ إِمَامَةِ الْبَرِّ وَالْفَاجِرِ

باب دې په بيان د امامت د نيک او د فاجر کښې

د فاسق د امامت مسئله

د فاسق د امامت مسئله مختلف فيه ده، د فاسق دوه قسمونه دی من حيث الاعتقاد لکه مبتدع الداعي الى بدعة او فاسق من حيث الافعال، د امام مالک رحمه الله په نزد مطلقا د دواړو قسمو امامت فاسد دې (۲) مونځ به صحيح نه وی. او د امام احمد رحمه الله په نزد د اول قسم

---

(۱): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٣ (٩٧٠)، (تحفة الأشراف: ٨٩٠٣) (ضعيف)

(۲) پس د امام مالک رحمه الله په حالاتو کښې ليکلې دی چه په شروع کښې خو به هغه مسجد نبوی ته د فرض مونځونو دپاره تشريف اوړلو او په مسجد کښې به کيناستلو هم، په جنازو کښې به ئې شرکت هم کولو، بيا ئې په قلار قلاره مسجد ته راتلل بالکل پريخودل، د پنځويشتو کالو پورې ئې په مسجد کښې مونځ اونکړو، حضرت شيخ په مقدمه د اوجز کښې ليکی چه په ظاهره کښې د امام مالک مسلک دا وو چه صلاة خلف الفاسق صحيح نه دې ممکنه ده چه د مسجد مونځ ئې په دې قسم خبرو باندې پريخودلې وی.

امامت خو فاسد دې او په قسم ثاني کښې د هغوی دوه روايتونه دي يو د جواز او بل د عدم جواز، او د احنافو او شوافعو په نزد دواړه صحيح دي مع الكراهة (حاشيه لامع ص ۱۶۹) او علامه شعراني ليکلي دي چه د امام مالک رحمه الله مذهب او د امام احمد مشهور قول دا دې چه د فاسق فسق که په تاويل سره وي نو بيا خو د مونځ اعاده في الوقت ضروري ده يعني بعد الوقت د اعاده کولو حاجت نشته او که هغه فاسق بلا تاويل دې نو اعاده مطلقا واجب ده.

[۵۹۴]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الصَّلَاةُ الْمَكْتُوبَةُ وَاجِبَةٌ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي چې فرمائيلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرض مونځ لازم دي وروسته د هر مسلمان نه نيک وي او کا فاجر وي، اګر که مرتکب د کبائرو وي.

د فاسق د امامت مسئله

خو ځان پوهه کړه چه حديث الباب بجميع طرقه ضعيف دې، كما قال الحافظ ابن حجر، او ددې حديث بالمقابل يو بل حديث دې ﴿ لايؤمنكم ذو جرئة في دينه ﴾ خو دا حديث ضعيف دې. په سبل السلام (شرح بلوغ المرام) کښې ليکلي دي چه کله په احاديثو کښې تعارض پيدا شو نو مونږ به اصل طرف ته رجوع کوو او اصل دا دې چه من صحت صلاة صحت امامة.

بَابُ إِمَامَةِ الْأَعْمَى

باب دې په بيان د امامت د ړوند کې

[۵۹۵]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَنْبَرِيُّ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَخْلَفَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمَى".

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه نبي صلى الله عليه وسلم خليفه ئې جوړ کړو ابن ام مکتوم چې امامت ئې کولو خلقو ته او هغه ړوند وو.

تشريح: **قوله:** ﴿ ان النبي صلى الله عليه وسلم استخلف ابن ام مكتوم ﴾ وئيلې شوي دي چه هغه ئې دوه کرته خپل نائب جوړ کړې دې په ټولو امورو کښې او وئيلې شوي دي چه صرف په امامت صلاة کښې، او يو قول دا دې چه هغه ئې ديارلس کرته خپل نائب جوړ کړې دې يعنې کله چه به ئې غزواتو ته تشريف اوړلو

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه

د شوافعو په نزد اعمى او بصير په دې مسئله کښې برابر دي ځکه چه په اعمى کښې که دا وصف دې چه هغه په مبصرات کښې نه مشغوليږي نو په بصير کښې دويم صفت دې چه هغه نجاست ته کتلو سره د هغې نه په ښه طريقې سره بچ کيدلې شي، او د جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نزد د بصير امامت افضل دې د امامت اعمى نه ځکه چه بصير اقدر دې د اجتناب

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۴۶۱۹) (ضعيف)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۲/۳) (حسن صحيح)

عن النجاسة نه او په استقبال قبله باندې، ملا علی قاری لیکی چه امامت اعمیٰ زمونږ په نزد هغه وخت مکروه دې چه کله داسې بصیر موجود وی کوم چه په علم کښې د اعمیٰ نه زیات یا د هغه برابر وی، ګینې نه، ددې تولو خبرو په خلاف د ابو اسحاق مروزی او امام غزالی په نزد د ړوند امامت افضل دې د بصیر د امامت نه ځکه چه د اعمیٰ مونځ اقرب الی الخشوع دې په نسبت د بصیر چه هغه په مبصرات کښې مشغول کیږی. (کذا فی البذل والمنهل)

بَابُ إِمَامَةِ الزَّائِرِ

باب دې په بیان د امامت د ملاقات کونکې کې

[۵۹۶] (1) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ بُدَيْلٍ، حَدَّثَنِي أَبُو عَطِيَّةَ مَوْلًى مِنَّا، قَالَ: كَانَ مَالِكُ بْنُ حُوَيْرِثٍ يَأْتِينَا إِلَى مُصَلَّانَا هَذَا فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَقُلْنَا لَهُ: تَقَدَّمْ فَصَلِّهْ، فَقَالَ لَنَا: قَدِّمُوا رَجُلًا مِنْكُمْ يُصَلِّي بِكُمْ، وَسَأُحَدِّثُكُمْ لِمَ لَا أُصَلِّي بِكُمْ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلَا يَؤُمَّهُمْ وَلْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ".

ترجمه: حدیث بیان کړې دې ابو عطیة، چې مولی دی زمونږ نه، هغه وئیلی دي: وو مالک بن حویرث راتللو به زمونږ دې مصلی ته، نو قائم شو مونځ نو مونږ وویل هغه ته: ته مخکې شه او مونځ ورکړه، هغه وویل مونږ ته: مخکې کړئ یو سړی ستاسو نه چې مونځ درته درکړي، او زه به تاسو ته حدیث بیان کړم چې زه تاسو ته ولې مونځ نه کوم، ما اوریدلی د رسول الله ﷺ نه هغه به وئیل: چا چې ملاقات وکړو د یو قوم نو د هغوی امامت دې نه کوي، او امامت دې وکړی یو سړی د هغوی نه

هغه حضرات چاته چه مطلقا تقدم حاصل دې

په دې مسئله کښې اسحاق بن راهویه متشدد دې د هغه په نزد د میلمه امامت کوروالو (یعنی صاحب البیت) ته جائز نه دې اګر چه هغه اجازت ورکړی دا مخکښې تیر شو چه بعض کسان داسې دی چه هغوی ته حق تقدم حاصل دې اګر چه اعلم او اقراء نه هم وی، یو د هغوی نه صاحب البیت هم دې.

بَابُ الْإِمَامِ يَقُومُ مَكَانًا أَرْفَعَ مِنْ مَكَانِ الْقَوْمِ

باب دی، چې امام ودریږي په اوچت ځای کې د ځای د قوم نه

په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو مذاهب

د امام ارتفاع په مقتدی باندې د ائمه اربعه په نزد مکروه ده، البته د مسئلې په قیود او تفصیلاتو کښې اختلاف دې، د حنابله په نزد مطلقا مکروه دې او د شوافعو او مالکیانو په نزد که ارتفاع ضرورة وی نو جائز دې، مثلا د تعلیم د ضرورت په وجه باندې، لکه چه د صحیحین په روایاتو کښې دی چه یو ځل هغه په منبر باندې اودریدو سره خلقو ته مونځ ورکړو، قیام او رکوع ئې په منبر باندې اوکړه او د سجدو دپاره به لاندې راکوزیدو (لم

(1): سنن الترمذي/الصلاة ۱۴۸ (۳۵۶)، سنن النسائي/الإمامة ۹ (۷۸۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۸۶)، وقد أخرجه: مسند أحمد (۳/۴۳۶)، (صحيح)

قال انما فعلت هذا لتاتموا بي ولتعلموا صلاتي ﴾ حنابله وائي چه دا ارتفاع صرف يو درجه د منبر په اندازه وه او په ارتفاع يسير کښې هيڅ باک نشته، مزيد اختلاف په دې کښې دا دې چه مالکيان وائي چه که امام يا مقتدي په لوړ ځائې باندې د تکبر د وجې نه اودرېږي نو فاسد به شي.

د احنافو په نزد کراهت هغه وخت دې چه کله صرف امام يا صرف مقتدي په اوچت ځائې باندې ولاړ وي او که د امام سره بعض مقتديان هم وي نو بيا کراهت مرتفع کيږي، هم دغه شان په قدر ارتفاع کښې هم زمونږ په نزد څو اقوال دي، د ابويوسف په نزد بقدر اقامة الرجل، وعند الطحاوي ما زاد على القامة، بقدر ذراع، ما يقع به الامتياز وهو الراجح.

او که ددې برعکس وي يعنې مقتدي اوچت ولاړ وي او امام په لاندې ځائې کښې نو د احنافو او شوافعو په نزد دا هم مکروه دي او د حنابله او مالکيانو په نزد مکروه نه دي. (کذا في المنهل)

[۵۹۷]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سِنَانٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ الْفُرَاتِ أَبُو مَسْعُودٍ الرَّازِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَعْلَى، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هَمَّامٍ، أَنَّ حُذَيْفَةَ أَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ عَلَى دُكَّانٍ، فَأَخَذَ أَبُو مَسْعُودٍ بِقَمِيصِهِ فَجَبَذَهُ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ، قَالَ: "أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّهُمْ كَانُوا يُنْهَوْنَ عَنْ ذَلِكَ؟"، قَالَ: بَلَى، قَدْ ذَكَرْتُ حِينَ مَدَدْتَنِي.

ترجمه: د همام نه روايت دې چې حذيفة امامت وکړو په مدائن کښې بره په دکان، نو ابو مسعود دهغه قميص ونيولو او راخکلو ئې، هرکله چې د مانځه نه فارغ شو هغه ووېل: آيا تاته پته نشته چې دوی به منع کوله ددې نه؟ هغه وفرمائيل: ولې نه، بيشکه ماته ياد شو کله چې تا زه راخکلم.

تشريح: **قوله:** ﴿ ان حذيفة ام بالمدائن على دكان الخ ﴾ د مدائن نه مدائن کسرى مراد دې کوم چه په بغداد کښې دې کوم چه د اکاسره (د کسرى جمع) دار الحکومت وو، د جمع په صيغې سره ئې نوم په دې وجه کيخودلې شوې دې چه هغه ډير لوئې ښهر وو، د دکان نه اوچت ځائې مراد دې.

د باب په دوه احاديثو کښې تعارض

د حديث مضمون واضح دې او د هغې نه وراندې روايت داسې دې چه عمار امامت اوکړو او سيدنا حذيفه ﷺ جبذ اوکړو، اوس يا خو دې په تعدد واقعه باندې محمول کړې شي، او يا به دا وئيلې شي چه راتلونکې حديث ضعيف دې په هغې کښې يو راوي مجهول دې.

[۵۹۸]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو خَالِدٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ، حَدَّثَنِي رَجُلٌ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ بِالْمَدَائِنِ فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَتَقَدَّمَ عَمَّارٌ وَقَامَ عَلَى دُكَّانٍ يُصَلِّي وَالنَّاسُ أَسْفَلَ مِنْهُ، فَتَقَدَّمَ حُذَيْفَةُ فَأَخَذَ عَلَى يَدَيْهِ فَاتَّبَعَهُ عَمَّارٌ حَتَّى أَنْزَلَهُ حُذَيْفَةُ، فَلَمَّا فَرَغَ عَمَّارٌ مِنْ صَلَاتِهِ، قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: أَلَمْ تَسْمَعْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا أَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فَلَا يَقُمْ فِي مَكَانٍ أَرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ"، أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ، قَالَ عَمَّارٌ: لِذَلِكَ اتَّبَعْتُكَ حِينَ أَخَذْتَ عَلَى يَدَيَّ.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۳۸۸) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۳۹۶) (حسن)

ترجمه: عدی بن ثابت انصاری وائی چه ماته یو سړی بیان کړل چه هغه د عمار بن یاسر رضی الله عنه سره په مدائن کښې وو چه د مونځ دپاره اقامت اوشو نو عمار مخکښې شو اوپه یوه دېه (موره اوچت ځائې) باندې اودریدو مونځ ئې ورکړو، اوخلق دهغه نه لاندې وو، په دې لیدلو سره حذیفه رضی الله عنه ورمخکښې شو او د عمار بن یاسر دواړه لاسونه ئې اونیول او شاته (روسته) ئې راوستلو، عمار بن یاسر هم راشاته شو تردې چه حذیفه هغه لاندې راکوز کړو، کله چه عمار دځپل مونځ نه فارغ شو نو حذیفه هغه ته اووئیل: آیا تا د رسول الله ﷺ نه دا فرمان نه دې آوریدلې چه کله یوکس د یو قوم امامت کوی نو دهغوی نه دې اوچت ځائې کښې نه اودریږی؟ عمار رضی الله عنه اووئیل: هم په دې وجه خو چه کله تا زما لاس اونیولو نو زه هم تا سره رالاندې شوم.

بَابُ إِمَامَةِ مَنْ يُصَلِّي بِقَوْمٍ وَقَدْ صَلَّى تِلْكَ الصَّلَاةَ

باب دې په بیان د امامت دهغه چا کښې چې هغه مونځ یو قوم ته ورکړې چې هغه یې کړې وي

[۵۹۹] (۱) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مِقْسَمٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، "أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ كَانَ يُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ تِلْكَ الصَّلَاةَ".

ترجمه: د جابر بن عبد الله نه روایت دې، بیشکه معاذ بن جبل مونځ وکړو د رسول الله سره د ماسخوتن. بیا به راتلو خپل قومته نو کولو به ئې هغوی ته همدغه مونځ.

[۶۰۰] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "إِنَّ مُعَاذًا كَانَ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَرْجِعُ فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ".

ترجمه: جابر بن عبد الله به وئیل: بیشکه معاذ وو چې مونځ به ئې کولو د رسول الله ﷺ سره، بیا به واپس تلو او امامت به ئې کولو خپل قوم ته.

د صلاة المفترض خلف المتنفل بحث

د داؤد ظاهری او امام شافعی رحمه الله په نزد صلاة المفترض خلف المتنفل جائز دې، هم دا یو روایت د امام احمد دې، او د احنافو، مالکیانو او حنابله په مشهور قول کښې دا جائز نه دی، هم دغه شان صلاة الظهر خلف من یصلی العصر وعکسه،

په دې کښې هم دا اختلاف دې، د شوافع په نزد جائز دې او د ائمه ثلاثه په نزد جائز نه دې، او دریمه مسئله دا ده ﴿ صلاة المتنفل خلف المفترض ﴾ دا د جمهور علماء کرامو په نزد جائز دې د مالکیانو په نزد دا هم جائز نه دې (کذا فی الفیض السمائی ص ۲۷۴ ج ۱)

جمهور د حدیث الباب یعنی دقصهٔ صلاة معاذ نه کوم چه په صحیحین کښې هم مذکور دې جواب دا ورکوی چه ددې نه استدلال صحیح نه دې، ممکنه ده چه هغه په رسول

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۳۹۱)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ۶۰ (۷۰۰)، والأدب ۷۴ (۶۱۰۶)، صحيح مسلم/الصلاة ۳۶ (۴۶۵)، سنن النسائي/الإمامة ۳۹ (۸۳۲)، ۴۱ (۸۳۶)، والافتتاح ۶۳ (۹۸۵)، ۷۰ (۹۹۸)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۴۸ (۹۸۶)، مسند احمد (۳/۲۹۹، ۳۰۸، ۳۶۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۶۵ (۱۳۳۳)، ويأتي برقم: (۷۹۰) (حسن صحيح)

(۲): صحيح مسلم/الصلاة (۳۶ (۴۶۵)، سنن النسائي/الإمامة ۴۱ (۸۳۶)، (تحفة الأشراف: ۲۵۳۴) (صحيح)

الله ﷺ پسې د نفلو نیت کولو. اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال.

د شوافعو د حدیث نه استدلال او د جمهورو د طرف نه جواب

شوافع وائی چه مصنف عبدالرزاق، طحاوی، دارقطنی په روایت کښې په طریق د ابن جریج عن عمرو بن دینار تصریح ده. ﴿ وهی له تطوع ولهم فریضة ﴾ امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه دا واقعه د معاذ، سفیان بن عیینه ډیره په احسن طریقې سره روایت کړې ده په هغې کښې خو دا زیادت نشته کوم چه ابن جریج روایت کوی، پس ظاهره دا ده چه دا لفظ مدرج دې د ابن جریج د طرف نه او یا کیدې شی چه د هغوی د شیخ د طرف نه یا زیات نه زیات دا وئیلې کیدې شې چه واقعی دا خبره به معاذ رضی الله عنه کړې وی، نو بیا هم دا زیادت موقوف پاتې شو، مرفوعاً ددې ثبوت نشته، برابره خبره ده که هغه د خپل طرف نه کول، اوس که رسول الله ﷺ ددې تقریر فرمائیلې وې نو بیا هم صحیح وه او دلته صورت حال ددې برعکس دې یعنی رسول الله ﷺ ته چه کله علم اوشو چه هغه خپل خائې کښې هم مونځ ورکوی او اوږد مونځ ورکوی نو په دې باندې ئې اوفرمائیل ﴿ یا معاذ اما ان تصلی معی واما ان تخفف عن قومک ﴾ یا خو ما سره مونځ کوه یا بل صورت دا دې چه خپل قوم ته مونځ ورکوه خو خفیف او مختصر، په دې حدیث کښې گویا نبی ﷺ په دواړو ځایونو کښې د مونځ کولو نه منع کړو. فکیف الاستدلال.

د حافظ ابن حجر تاویل

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې جواب دا کړې دې چه د رسول الله ﷺ مراد دا نه دې چه صرف په یوځائې کښې مونځ کوه بلکه په اصل کښې د تطویل صلاة نه منع کول دی او مطلب دا دې چه یا خو صرف ما سره کوه ﴿ ای ان لم تخفف عن قومک ﴾ (که مختصر مونځ نه شې ورکولې) واما ان تخفف عن قومک ای وتصلی معی ﴾ او که مختصر مونځ ورکولې شې خپل قوم ته نو بیا ئې ما سره هم کولې شې،

علامه عینی د حافظ صاحب د اشکالاتو جوابات ورکړې دی دا ټوله مناظره حضرت په بذل المجهود کښې ذکر فرمائیلې ده، د حافظ دا وینا چه ﴿ ان لم تخفف عن قومک ﴾ صحیح نه ده ځکه چه ددې څه مطلب دې چه که ته تخفیف نه شې کولې، د نه شې کولې څه معنی؟ ایا هغه په تخفیف باندې قادر نه وو، او بیا د ائمه په مقتدیانو تخفیف کول خو مامور به من الشارع دې په هغې کښې تعلیق څنگه صحیح دې

د جمهورو مزید دلائل

د احنافو بلکه جمهورو سره نور هم دلائل دی، مثلاً د صلاة الخوف مشروعیت چه که صلاة المفترض خلف المتنفل جائز وې نو بیا د صلاة الخوف د طریقې جاری کولو څه حاجت وو په کوم امام پسې چه خلق مونځ کول غواړی هغه دې یو جماعت ته پوره مونځ یو ځل ورکړی او په دویم ځل دې دویم جماعت ته ورکړی، هم دغه شان حدیث مرفوع ﴿ انما جعل الامام لیؤتم به، لا تختلفوا علی المتکم ﴾ او د نیت د اختلاف نه نور اختلاف څه کیدې

شی، شوافع وائی چه د ائتمام او اقتداء تعلق د ظاهری اقتداء سره دی چه په ظاهر کښې د هغه سره اوسه، ﴿ اذا رکع فارکعوا، اذا سجد فاسجدوا ﴾ وغیره وغیره د نیتونو اتحاد او اتفاق په دې کښې داخل نه دې.

﴿ ان معاذا بن جبل کان یصلی مع رسول الله صلی الله علیه وسلم العشاء ﴾ د سیدنا معاذ دا قصه د صحیحین د روایت مطابق د ماسخوتن د مونځ ده، دلته په ابوداود کښې هم ماسخوتن دې.

د معاذ ﷜ په قصه کښې د ماسخوتن او ماښام تعارض

خو وړاندې تلو سره په ابواب القرأت کښې په یو روایت کښې په ځائې د ماسخوتن د ماښام لفظ راغلې دې هم دغه شان د نسائی په روایت کښې هم ماسخوتن او په یو کښې ماښام مذکور دې، د حضرت ګنګوهی او حضرت سهارنپوری رائې دا ده چه په تعدد واقعه باندې محمول کول صحیح نه دی ځکه چه د سیدنا معاذ ﷜ په شان جلیل القدر صحابی نه دا بعیده ده چه یو ځل د تنبیه کولو نه پس بیا هم داسې اوکړی او بیا ورته دوباره د تنبیه ضرورت راشی، لهذا ماسخوتن صحیح دې لکه چه مشهور دی، خو د حافظ میلان د تعدد واقعه طرف ته دې ځکه چه د رجل معتزل په نوم کښې هم روایات مختلف دی درې نومونه په روایاتو کښې راځی، حرام بن ملحان، حزم بن ابی کعب، سلیم، ددې نه د تعداد تائید کیږی، په تعدد باندې چه کوم اشکال راځی ددې جواب علامه سندی د نسائی په حاشیه کښې دا ورکړې دې چه داسې اوونیلې شی چه په اول ځل واقعه پیښه شوه نو د هغې شکایت تر اوسه پورې رسول الله ﷺ ته نه وو رسیدلې چه بیا په دویم ځل باندې بل مونځ کښې هم داسې صورت راپیښ شو نو د دواړو واقعاتو شکایت هغه ته یوځائې اورسیدو چه په هغې باندې رسول الله ﷺ معاذ ﷜ راطلب کړو او هغه ته ئې تنبیه اوکړه. والله تعالی اعلم

بَابُ الإِمَامِ يُصَلِّي مِنْ قُعُودٍ

باب دې په بیان د امام کښې چې مونځ ورکوی په ناسته

لفظ ﴿ من ﴾ زائد دې او په بعض نسخو کښې دی ﴿ باب اذا صلی الامام قاعدا ﴾ امام که د عذر د وجې نه مونځ په ناسته ورکوی نو مقتدی به ئې څنګه کوی.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه

مسئله مختلف فیه ده، جمهور علماء کرام فرمائی چه مقتدیان به ئې قائما کوی چه د هغوی هیڅ عذر نشته، د امام احمد او اسحاق بن راهویه په نزد به مقتدیان هم په ناسته مونځ کوی، په دې قعود کښې به هغوی د امام موافقت کوی او د امام مالک مسلک دا دې چه د قاعدا مونځ ورکونکی امامت جائز نه دې غیر معذور دې د هغه اقتداء قائمًا هم نه کوی، او په احنافو کښې د امام محمد مسلک هم دا دې لهذا په دې مسئله کښې درې اقوال شو، یو د جمهورو، بل د امام احمد وغیره، او دریم د امام مالک او محمد او د امام مالک دلیل دا دې چه هغه اوفرمائیل ﴿ لا یؤم احد بعدی جالسا ﴾ خو دا حدیث مرسل دې کوم چه جمهور په تنزیه باندې محمول کوی، او د امام احمد دلیل حدیث الباب دې چه د هغې جواب زمونږ د طرف نه وړاندې راځی.

[۶۰۱]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا فَصُرِعَ عَنْهُ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ، فَصَلَّى صَلَاةً مِنَ الصَّلَوَاتِ وَهُوَ قَاعِدٌ وَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا، وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَعُونَ".

ترجمه: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دي، بيشکه رسول الله ﷺ سور شو په اس نو وغورځيده د هغې نه نو زخمي شو ښي اړخ د هغه، نو هغه ورکړو يو مونځ د مونځونو نه په ناسته، او مونږ وکړو مونځ وروسته د هغه نه په ناسته، هرکله چې فارغ شو، نو وې وئيل: بيشکه ګرځولی شوی دی امام چې هغه پسې اقتدائ وشي، کله چې هغه مونځ کوی په ولاړه نو مونځ کوئ په ولاړه، او چې کله رکوع کوي نو تاسو هم رکوع کوئ، او چې کله اوچت شي نو تاسو هم اوچت شئ، او چې کله هغه ووايي سمع الله لمن حمده نو تاسو وايئ ربنا و لک الحمد، او چې کله هغه مونځ کوي په ناسته نو تاسو ټول په ناسته مونځ کوئ.

تشريح: **قوله**:﴿ عن انس بن مالک ان رسول الله صلى الله عليه وسلم رکب فرسا فصرع عنه فجحش شقه الايمن ﴾ يعنى يو ځل رسول الله ﷺ په اس باندې سور وو د هغې نه راپريوتلو نو هغې سره ئې ښي طرف متاثر شو.

په دې روايت کښې ﴿ شقه الايمن ﴾ مذکور دي، او په يو روايت کښې ﴿ فجحشت ساقه او کتفه ﴾ او په يو روايت کښې ﴿ فانفکت قدمه ﴾ دي، حافظ فرمائي ﴿ لا منافاة بينهما لاحتمال وقوع الامرين ﴾ يعنې ښي طرف ئې هم متاثر شو او په قدم مبارک کښې ئې درد هم پيدا شو، دا واقعه په ذى الحجه ۵ هجرى کښې پيښه شوې وه په دې موقعه باندې رسول الله ﷺ دير مونځونه په ناسته ورکړل او صحابه کرامو ته ئې هم خپل ځان سره جالسا د مونځ کولو حکم اوکړو.

په مسئلة الباب کښې د جمهورو دليل

هم دا حديث د حنابله مستدل دې ددې جواب تاسو په مشکاة المصابيح کښې لوستلې دې، صاحب مشکاة د بعض علماء کرامو نه ددې جواب دا نقل کړې دې چه دا حديث منسوخ دي او دا واقعه د شروع شروع ده او د مرض الوفات واقعه چه په هغې کښې رسول الله ﷺ په ناسته باندې مونځ ورکړو او صحابه کرامو په هغه پسې په ولاړه مونځ اوکړو هغه ددې دپاره ناسخ دې

﴿ وانما يوخذ بالاخر من فعل رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ او حنابله د مرض الوفات يو جواب خو دا کوی چه په دې روايت کښې سخت اختلاف دې په دې خبره کښې چه په دې قصه کښې امام څوک دې ابوبکر رضی الله عنه يا خپله رسول الله ﷺ، لهذا ددې نه استدلال صحيح

[1]: صحيح البخاري/الصلاة ۱۸ (۳۷۸)، والأذان ۵۱ (۶۸۹)، ۸۲ (۷۳۲)، ۱۲۸ (۸۰۵)، وتقصير الصلاة ۱۷ (۱۱۱۴)، صحيح مسلم/الصلاة ۱۹ (۴۱۱)، سنن النسائي/الامامة ۱۶ (۷۹۵)، ۴۰ (۸۳۳)، والتطبيق ۲۲ (۱۰۶۲)، (تحفة الأشراف: ۱۵۲۹)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۱۵۵ (۳۶۱)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۴۴ (۱۲۳۸)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ۵ (۱۶)، مسند احمد (۳/۱۱۰، ۱۶۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۴۴ (۱۲۹۱) (صحيح)

نه دي، بل جواب هغوی دا ورکړې دی چه ددې مسئلې دوه صورتونه دی، يو دا چه امام د عذر د وجې نه په شروع کښې مونځ په ناسته باندې ورکړی، په دې صورت کښې حکم خو دا دی چه مقتدی دې هم په ناسته باندې اوکړی، بل صورت دا دې چه امام د مونځ ابتدا خو اوکړی په ولاړه باندې خو روستو د څه عذر د وجې نه هغه په ناسته باندې اوکړې شی، نو په دې صورت کښې مقتدی لره ناسته نه ده پکار لکه چه په مرض الوفات کښې شوې دی چه په شروع کښې امام صديق اکبر ﷛ وو چا چه په ولاړه باندې مونځ ورکولو، روستو رسول الله ﷺ مسجد ته تشريف راوړلو چه په هغې باندې صديق اکبر ﷛ شاته شو او رسول الله ﷺ د هغه په ځائې امام شو نو ګويا داسې اوګنړئ چه امام ته په مينځ کښې عذر راپيښ شو، لهذا ددې نه معلومه شوه په مينځ کښې د څه عذر راپيښيدو حکم جدا دې، ددې په جواب کښې جمهور دا وئيلې شی چه دا خو تاسو د حديث توجيه خالص د خپل مسلک مطابق اوکړه، د حديث رخ مو خپل طرف ته کړو

امام ترمذی ﷫ په دې مسئله کښې دوه بابونه جدا جدا قائم کړې دی، يو د مذهب حنابله د اثبات دپاره څنګه چه مصنف قائم فرمائيلې دې، دويم باب د جمهورو د مسلک ثابتولو دپاره قائم کړې دې او په هغې کښې د مرض الوفات والا مونځ قصه په مختلف رواياتو سره ذکر کړې ده خو امام ابوداود نه خو د جمهورو د مسلک دپاره باب قائم کړې دې او نه ئې مستقل باب قائم کړې او نه ئې د جمهورو دليل ذکر کړې دې، امام خطابی ددې کتاب په شرح معالم السنن کښې په دې باندې د تعجب اظهار کړې دې، چه دلته مصنف د خپل عادت خلاف صرف د يوې ډلې دليل ذکر فرمائيلې دې او د جمهور دليل ته ئې تعرض نه دې کړې، حال دا چه دا کتاب په امهات سنن کښې دې او ډير جامع کتاب دې، معلومه نه ده چه مصنف ته څه ذهول اوشو؟ والله تعالى اعلم

فائده اولی : زمونږ د شيخ رائې لکه چه د کتاب په مقدمه کښې هم تير شوې دی چه امام ابوداود حنبلی دې، د حنابله دلائل نسبة زيات بيانوی، مصنف چه دلته کوم طرز اختيار کړې دی د هغې نه د حضرت شيخ د رائې تائيد کيږی

[۶۰۲] (١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، وَوَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: رَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا بِالْمَدِينَةِ فَصَرَعَهُ عَلَى جِذْمِ نَخْلَةٍ فَانْفَكَّتْ قَدَمُهُ، فَأَتَيْنَاهُ نَعُودُهُ فَوَجَدْنَاهُ فِي مَشْرُبَةٍ لِعَائِشَةَ يُسَبِّحُ جَالِسًا، قَالَ: فَقُمْنَا خَلْفَهُ فَسَكَتَ عَنَّا، ثُمَّ أَتَيْنَاهُ مَرَّةً أُخْرَى نَعُودُهُ، فَصَلَّى الْمَكْتُوبَةَ جَالِسًا، فَقُمْنَا خَلْفَهُ فَأَشَارَ إِلَيْنَا فَقَعَدْنَا، قَالَ: فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى الْإِمَامُ جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا، وَإِذَا صَلَّى الْإِمَامُ قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا، وَلَا تَفْعَلُوا كَمَا يَفْعَلُ أَهْلُ فَارِسَ بِعُظَمَائِهَا".

ترجمه: د جابر رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی سور شو رسول الله ﷺ په اس باندې په مدينه کښې، نو هغه ئې وغورځولو په تنه د کجورې نو خپه ئې وخته، مونږ راغلو د هغه عيادت مو کولو، مونږ هغه وليدلو په بالاخانه د عائشې کښې چې نفل ئې کول په

(١): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤٤ (١٢٤٠)، الطب ١١ (٣٤٨٥)، (تحفة الأشراف: ٢٣١٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ١٩ (٤١١)، سنن النسائي/الإفتتاح ٢٠٧ (١٢٠١)، مسند أحمد (٣٣٤/٣) (صحيح)

ناسته، هغه وايي: نو مونږ ودريدو وروسته د هغه نه نو هغه چپ شو زمونږ نه، بيا راغلو مونږ هغه ته بل ځل، مونږ د هغه بيمار پرسي کوله، فرض مونځ ئې وکړو په ناسته، نو مونږ ودريدو وروسته د هغه نه نو اشاره ئې وکړه مونږ ته، نو مونږ کيناستلو، هغه وايي: هر کله چې ئې مونځ پوره کړو هغه وفرمائيل: کله چې امام په ناسته مونځ کوی نو تاسو هم په ناسته مونځ کوئ، او کله چې امام په ولاړه مونځ کوی نو تاسو هم په ولاړه مونځ کوئ، تاسو داسې مه کوئ لکه څنګه چې د فارس والا کوی د خپلو سردارانو سره (چه دهغوی سرداران ناست وی او نورخلق ئې ولاړ وی).

فائده ثانيه : ﴿ واذا صلى جالسا فصلوا جلوسا ﴾ کښې تاويل دا کړې شوې دې چه دا مطلب نه دې چه کله امام په ناسته باندې مونځ کوی نو تاسو هم په ناسته باندې ټول مونځ کوئ، بلکه مطلب دا دې چه ﴿ اذا جلس فاجلسوا ﴾ چه کله امام د تشهد دپاره کينی نو تاسو هم کينئ، کما قال اذا کبر فکبروا واذا رکع فارکعوا، خو دا جواب بس هم دغه شان دې چه د مفصل رواياتو خلاف دې خو د بعض رواياتود الفاظو نه ددې جملې څه نه څه تائيد هم کيږی، په دې وجه فرمائی ﴿ ولا تفعلوا کما يفعل اهل فارس بعظمائها ﴾ لهذا کيدې شی چه بعض صحابه کرام د تشهد په حالت کښې د کيناستلو په ځائې ادبا او تعظيما اودريدلې وی، په دې باندې رسول الله ﷺ منع کړل چه داسې زما دپاره مه اودريږئ څنګه چه اهل فارس د خپلو مشرانو تعظيم کښې اودريږی.

[۶۰۳]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ المعنى، عَنْ وُهَيْبٍ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَلَا تُكَبِّرُوا حَتَّى يُكَبِّرَ، وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَلَا تَرْكَعُوا حَتَّى يَرْكَعَ، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، قَالَ مُسْلِمٌ: وَلَكَ الْحَمْدُ، وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا وَلَا تَسْجُدُوا حَتَّى يَسْجُدَ، وَإِذَا صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا، وَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا أَجْمَعُونَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، أَفْهَمَنِي بَعْضُ أَصْحَابِنَا، عَنْ سُلَيْمَانَ.

ترجمه: د ابو هريرة ؓ نه روايت دې هغه وئيلی دی، وئيلی دی رسول الله ﷺ: بيشکه ګرځولی شوی دی امام چې اقتداء وشی د هغه پسې، کله چې هغه تکبير ووايي نو تاسو هم تکبير کوئ، او تاسو تکبير مه کوئ ترڅو چې هغه تکبير وکړي، او کله چې هغه رکوع وکړی نو تاسو هم رکوع وکړئ، او رکوع مه کوی تردې چې هغه رکوع وکړي، او کله چې سمع الله لمن حمده ووايی نو تاسو وايي: اللهم ربنا لکَ الحمد . وئيلی دی مسلم: و لکَ الحمد . او چې کله سجده وکړی نو تاسو هم سجده وکړئ، او سجده مه کوئ ترڅو چې هغه سجده وکړي، او کله چې مونځ کوی په ولاړه نو تاسو هم مونځ کوئ په ولاړه، او کله چې هغه مونځ کوی په ناسته نو مونځ وکړئ تاسو ټول په ناسته. وئيلی دی ابوداود: اللهم ربنا لکَ الحمد زه پوهه کړی يم بعضو ملګرو زمونږ د سليمان نه.

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۲۸۸۲)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ۲۰ (۴۱۷)، سنن النسائي/الافتتاح ۳۰ (۹۲۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳ (۸۴۶)، ۱۴۴ (۱۲۳۸)، مسند احمد (۲/۳۷۶، ۴۲۰) (صحيح)

[۶۰۴](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ آدَمَ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، بِهَذَا الْخَبَرِ، زَادَ: وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذِهِ الزِّيَادَةُ وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا، لَيْسَتْ بِمَحْفُوظَةٍ الْوَهْمُ عِنْدَنَا مِنْ أَبِي خَالِدٍ.

ترجمه: د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، هغه روايت کوی د نبی ﷺ نه هغه فرمائيلی دی: بيشکه گرخولی شوی دی امام چې هغه پسې اقتداء وشي. په دې حديث کښې، هغه زيادت کړی دی: او چې کله قرأت لولي نو چپ شئ. وئيلی دی ابوداود: او دا زيادت (و اذا قرء فانصتوا) دا محفوظ نه دی او دا زيادت زمونږ په نزد د ابو خالد نه دی.

تشريح: قوله:﴿ زاد واذا قرء فانصتوا قال ابوداود : وهذه الزيادة.... ليست بمحفوظة ﴾ د زاد ضمير په بذل او منهل کښې د ابو خالد طرف ته راجع کړې شوې دې کوم چه د ابن عجلان شاگرد دې، او د مصنف د کلام نه هم دا معلوميږي، خو په عون المعبود کښې د ﴿ زاد ﴾ فاعل زيد بن اسلم ليکلې دې، په ظاهره کښې ددې وجه دا ده چه دلته په سند کښې د زيد بن اسلم مقابل خو موجود دې يعنی مصعب بن محمد لکه چه پورته په سند کښې دی، دا دواړه يعنی مصعب او زيد بن اسلم د ابو صالح شاگردان دی، او د ابو خالد مقابل دلته په سند کښې موجود نه دې، خو په ظاهره وجه هم هغه ده کوم چه په بذل او منهل کښې ده. والله تعالی اعلم

واذا قرء فانصتوا په ثبوت کښې بحث

د دې نه پس خان پوهه کړئ چه ددې کتاب شارح حافظ منذری د امام ابوداود تنقيد نه دې تسليم کړې، او دا ئې وئيلې دی چه ابو خالد الاحمر چه د هغه نوم سليمان بن حيان دې دا د صحيحين راوی دې شيخين د هغه د روايت تخريج کړې دې، بالکل ثقه راوی دې او د ثقه زيادت معتبر وی اگر چه هغه متفرد وی، او دلته خو تفرد هم نشته بلکه محمد بن سعيد انصاری د ابو خالد متابعت کړې دې لکه چه په نسائی (ص ۱۴۶) کښې روايت موجود دې لهذا دا زيادت صحيح او ثابت دې.

خان پوهه کړئ چه ﴿ واذا قرأ فانصتوا ﴾ په دې کتاب کښې وراندې په باب التشهد کښې هم راروان دې، خو هغه حديث د ابو موسی اشعری رضی الله عنه دې او دلته چه کوم حديث دې هغه د ابوهريره رضی الله عنه دې، هلته هم مصنف په دې لفظ باندې کلام کړې دې او دې ته ئې غير محفوظ وئيلې دې او فرمائی: ﴿ لم يجئ به الا سليمان التيمی ﴾

امام مسلم رحمه الله په صحيح مسلم کښې د ابو موسی اشعری رضی الله عنه حديث چه په هغې کښې دا زيادت موجود دې تخريج کړې دې، د امام مسلم يو شاگرد هم په دې لفظ باندې د تردد اظهار اوکړو او هغه تردد هم دا کيدې شو چه په دې زيادت سره سليمان تيمی متفرد دې نو په دې باندې امام مسلم رحمه الله اوفرمائيل: ﴿ اتريد احفظ من سليمان ﴾ يعنی که سليمان تيمی په دې سره متفرد دې نو په دې کښې څه حرج دې هغه خو ډير ثقه او حافظ حديث

(1): سنن النسائي/الإفتتاح ۳۰(۹۲۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳ (۸٤٦)، (تحفة الأشراف: ۱۲۳۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٤۲۰) (صحيح)

دي، ددې نه روستو هم دې سائل د امام مسلم نه تپوس اوکړو چه دا الفاظ په حديث ابوهريره رضي الله عنه کښې هم دی نو ايا هغه هم ستا په نزد صحيح دې، هغه اوفرمائيل چه او: صحيح دې، سائل ورته اووې بيا تاسو په کتاب کښې د هغې تخريج ولې نه دې کړې نو هغه اوفرمائيل ﴿ ليس كل شئ عند صحيح وضعت ههنا، وانما وضعت ههنا ما اجمعوا عليه ﴾ چه دا ضروری نه ده چه کوم حديث زما په نزد صحيح وی هغه دې زه دلته ذکر کړم، زه په دې ځېل صحيح کښې هغه احاديث راوړم چه د هغې په صحت باندې د مشائخو اجماع شوې وی، دا ټول عبارت په صحيح مسلم کښې په متن کښې موجود دې، ددې نه معلومه شوه چه د ابو موسی اشعری رضي الله عنه حديث چه په هغې کښې دا زيادت موجود دې هغه په قول د امام مسلم بالاجماع صحيح دې. ځو دا په ذهن کښې ساتئ چه د امام مسلم مراد په اجماع سره د څو مخصوص مشائخو اجماع ده، حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې ﴿ واذا قرأ فانصتوا ﴾ د ډيرو صحابه کرامو د رواياتو نه د کتابونو د حوالې سره په يو درځن طرق سره ثابت کړې دې او په اخر کښې دی چه په دې طرق کښې بعض صحيح او بعض ضعيف دی، که دا ټول طرق هم ضعيف وې نو په تعدد سره به ئې انجبار شوې وې، پاتې لا دا چه بعض طرق پکښې صحيح هم دی، دا ټول بحث او مضمون د قرأت خلف الامام متعلق دې کوم چه قابل حفظ دې، هلته به مو په کار راشي، دلته به بحث په حديث الباب کښې د کيدو د وجې نه بې محل او د وخت نه مخکښې اوشو.

[۶۰۵](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهِ وَهُوَ جَالِسٌ، فَصَلَّى وَرَاءَهُ قَوْمٌ قِيَامًا فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَنِ اجْلِسُوا، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا، وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا".

ترجمه: عائشه دا بی بی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ده هغې ويلی دي: مونځ وکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځېل کور کښې او هغه ناست وو، مونځ وکړو وروسته د هغه نه يو قوم په ولاړه، نو اشاره ئې ورته وکړه چې کينئ، هرکله چې فارغ شو هغه وويل بيشکه ګرځولی شوی دی امام چې اقتداء وشی په هغه پسې کله چې هغه رکوع کوی نو تاسو هم رکوع کوئ، او کله چې هغه سر اوچت کړی نو تاسو هم سر اوچت کړئ، او کله چې هغه مونځ کوې په ناسته نو تاسو هم په ناسته مونځ کوئ.

[۶۰۶](٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الْمَعْنَى، أَنَّ اللَّيْثَ حَدَّثَهُمْ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ وَهُوَ قَاعِدٌ وَأَبُو بَكْرٍ يُكَبِّرُ يُسْمِعُ النَّاسَ تَكْبِيرَهُ، ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ.

(١): صحيح البخاري/الأذان ٥١ (٦٨٨)، وتقصير الصلاة ١٧ (١١١٣)، ٢٠ (١١١٩)، (تحفة الأشراف: ١٧١٥٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ١٩ (٤١٢)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ١٤٤ (١٢٣٧)، موطا امام مالك/ صلاة الجماعة ٥ (١٧)، مسند أحمد (١١٤/٦، ١٦٩) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الصلاة ١٩ (٤١٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٠٧ (١٢٠١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤٥ (١٢٤٠)، (تحفة الأشراف: ٢٩٠٧)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٣٣٤/٣) (صحيح)

ترجمه: د جابر رضی الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دي: چه کله بیمار شو نبی ﷺ نو مونږ مونځ وکړو وروسته د هغه نه او هغه ناست وو او ابوبکر تکبیر ویلو چې خلقو ته واوروی تکبیر د هغه، بیا ئې بیان کړو پوره حدیث.

[۶۰۷] ( )حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا زَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ الْحُبَابِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ صَالِحٍ، حَدَّثَنِي حُصَيْنٌ مِنْ وَلَدِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ، أَنَّهُ كَانَ يَؤُمُّهُمْ، قَالَ: فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ إِمَامَنَا مَرِيضٌ، فَقَالَ: "إِذَا صَلَّى قَاعِدًا فَصَلُّوا قُعُودًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ.

ترجمه: د أسيد بن حضير نه روايت دي، بيشكه هغه امامت كولو هغوى ته، هغه وايي: راغې رسول الله ﷺ چې بيمار پرسى ئې كوله د هغه، نو هغوى وويل: اې د الله رسوله بيشكه زمونږ امام مريض دى، هغه وفرمائيل: كله چې هغه مونځ كوى په ناسته نو تاسو هم په ناسته مونځ كوئ. وئيلى دى ابوداود: دا حديث متصل نه دى.

بَابُ الرَّجُلَيْنِ يَؤُمُّ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ كَيْفَ يَقُومَانِ

باب دې په بيان د دوه سړوكې چې يو يكې امامت د بل كوي نو څنګه به ودريږي

[۶۰۸] ( )حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ فَأَتَوْهُ بِسَمْنٍ وَتَمْرٍ، فَقَالَ: رُدُّوا هَذَا فِي وِعَائِهِ وَهَذَا فِي سِقَائِهِ فَإِنِّي صَائِمٌ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ تَطَوُّعًا، فَقَامَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ وَأُمُّ حَرَامٍ خَلْفَنَا، قَالَ ثَابِتٌ: وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ: أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ عَلَى بِسَاطٍ".

ترجمه: د انس رضی الله عنه نه روايت دي، بيشكه رسول الله ﷺ راغې ام حرام ته هغوى ورته كجورې او غوړې راوړل، هغه وفرمائيل: واپس كړئ دا په خپل لوښي كښې او دا په خپل سقاء (لوښي) كښې بيشكه زه روژه يم. بيا پاڅيدلو مونځ ئې وكړو مونږ ته دوه ركعاته نفل، ودريدلې ام سليم او ام حرام وروسته زمونږ نه، وئيلى دى ثابت: ماته علم نشته مګر ددې خبرې چې هغه وئيلى دي: زه ئې ودرولم خپل ښي طرف ته په فرش باندې.

تشريح: **قوله:** ﴿ ان رسول الله صلى الله عليه وسلم دخل على ام حرام ﴾ د ام حرام رضی الله عنها د سيدنا رضی الله عنه خاله ده يعنى د ام سليم رضی الله عنها خور ده، په قباء كښې اوسيدله، په روياتو كښې راځى چه كله به رسول الله ﷺ قباء تشريف اوړلو نو هلته به هم ورښكاره كيدو، هلته د رسول الله ﷺ خوراک كول، قيلوله كول، تفلية الراس [3] (په سركښې سپږې كتل) وغيره هر څه ثابت دى، اوس دلته سوال دا دې چه دا په څه وجه باندې وو.

د رسول الله ﷺ او ام حرام رضی الله عنها ترمينځه د محرميت بحث

نو بعض علماء كرامو خو د محرميت دعوى كړې ده، پس امام نووى رحمه الله فرمائي ﴿ اتفقوا

[1]: تفرد به ابو داود (تحفة الأشراف: ۱۵۲) (صحيح)

[2]: تفرد به ابو داود (تحفة الأشراف: ۳۷۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ۷۸ (۷۲۷)، صحيح مسلم/المساجد ۴۸ (۱۴۹۹)، سنن النسائي/الإمامة ۲۰ (۸۰۴)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۴۵ (۹۷۵)، مسند احمد (۳/۱۶۰، ۱۸۴، ۲۰۴، ۲۳۹، ۲۴۲، ۲۴۸) (صحيح)

[3] ، كما سيأتي في كتاب الجهاد باب في ركوب البحر في الغزو، من حديث انس كان رسول الله (ص) اذا ذهب الي قباء يدخل علي ام حرام بنت ملحان فدخل عليها يومًا فاطعمته وجلست تفلي رأسه

على انها كانت محرما له صلى الله عليه وسلم واختلفوا في كيفية ذلک ﴾ نو بعض وائي چه دا ئې رضاعي ترور وه، بعض وائي چه د هغه رضاعي مور وه، او بعض ئې نسبتي تعلق هم قائم کړې دې. قال ابن رسلان وكانت احدى خالاته من ا لرضاعة، قال ابن وهب وقال غيره بل خالته لابيه او لجده ﴾ او ددې په مقابله کښې علامه دمياطي په مبالغې سره رد کړې دې د هغه خلقو څوک چه د محرميت د تعلق قائل دی، ابن العربي رحمه الله فرمائي چه کوم علماء د محرميت تعلق نه مني هغوی وائي چه رسول الله ﷺ معصوم وو ﴿ يملک اربه عن زوجته فكيف عن غيرها ﴾ يعني رسول الله ﷺ په خپل نفس باندې پوره پوره قابو لرلو، لهذا دا يعني د اجنبيه سره د خلوت جواز د رسول الله ﷺ سره خاص دې، اګر چه قاضي عياض ددې قائل نه دی ﴿ الخصوصيات لا تثبت بالاحتمالات ﴾ خو د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې هم دا ده چه دا د رسول الله ﷺ خصوصيت دې.

قوله:﴿ ردو هذا في وعائه وهذا في سقائه ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کهجورې خو په تهيلۍ کښې واچوئ او په تهيلۍ کښې چه کوم غوړي يا ګڼ دی هغه د کجهورو په لوښي کښې واړوئ، په ظاهره کښې د لوښي د بدلولو مصلحت دا دې چه کهجورې په بند خيز کښې کيخودلې شي څکه چه په هوا سره هغې کښې چينجي پيدا کيږي، او دا هم احتمال دې چه هغوی دواړه څيزونه لږ لږ راويستلو سره د رسول الله ﷺ مخې ته کيخودلې وی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل د راويستلو ضرورت نشته بلکه هر يو خپل لوښي ته واپس کړئ څکه چه زما روژه ده.

قوله:﴿ ثم قام فصلى بنا ركعتين ﴾ رسول الله ﷺ د ام حرام په کور کښې مونځ اوکړو چه د هغې په کور کښې رزق او خير او برکت پيدا شي، څکه چه مونځ رزق لره راکاږي بلکه بعض علماء کرامو ليکلي دی چه مونځ د هر يو منزل تحيه ده.

په تنفل بالجماعت کښې اختلاف د علماء کرامو

په دې حديث کښې د تنفل بالجماعت ثبوت دې، کوم چه د امام شافعي او امام احمد په نزد مطلقاً جائز دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد د مختصر شان جماعت په غير مشهور ځائې کښې جائز دې او هم دغه شان د احنافو په نزد هم خو صرف د دوه مقتديانو سره او که د امام نه علاوه درې کسان وی نو په دې کښې زمونږ په نزد دوه قوله دی، او که د امام نه علاوه څلور وی نو بغير د خلاف نه مکروه دې (الفيض السمائي ص ۲۶۸)

په مسئلة الباب کښې اختلاف د علماء کرامو

قوله: ﴿ اقامني عن يمينه ﴾ د دې نه معلومه شوه چه که مقتدي يو وی نو هغه به د امام ښي طرف ته اودريږي، د ائمه اربعه مذهب هم دا دې، خو که ګس طرف ته اودريږي نو هم د ائمه ثلاثه په نزد جائز ده، په خلاف د امام احمد چه د هغه په نزد به ګس طرف ته کيدو سره مونځ فاسد کيږي، او د ابراهيم نخعي رائې دا ده چه که مقتدي يو وي نو په امام پسې دې شاته اودريږي، که رکوع ته تلو پورې بل څوک شامل شو خو صحيح ده ګينې وراندې د امام سره

يوځائې شي او هغه سره دې برابر اودريږي، دريم مذهب دلته د سعيد بن المسيب دې چه يو مقتدي لره خلف الامام اودريدل پكار دي. (نقله الشعراني في الميزان)

[۶۰۹]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُخْتَارِ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّهُ وَامْرَأَةً مِنْهُمْ، فَجَعَلَهُ عَنْ يَمِينِهِ وَالْمَرْأَةَ خَلْفَ ذَلِكَ".

ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې، بيشكه رسول الله ﷺ: امامت وكړو انس ته او يوې ښځې ته د دوى نه،نوهغه ئې وگرځولو خپل ښي طرف ته او ښځه ئې وروسته د هغه نه كړه

تشريح: **قوله**:(فجعله عن يمينه والمرأة خلف ذلك) د دې حديث نه معلومه شوه چه د زنانه مقام په صف كښې شاته دې اگر چه هغه يواځې ولې نه وي، مسئله متفق عليه ده، خو اختلاف په دې كښې دې چه كه زنانه د سړي برابر يا د هغه نه وړاندې اودريږي نو څه حكم دې، د جمهورو په نزد به ئې مونځ فاسد نه وي او د احنافو په نزد د قياس حكم خو هم دا دې خو د هغوى په نزد استحسانا د سړي مونځ فاسديږي، په دې شرط چه امام د زنانه د امامت نيت كړې وي او كه هغه نيت نه وي كړې نو د سړي مونځ صحيح او د زنانه مونځ به فاسد شي، دې مسئلې ته مسئلة المحاذاة وئيلې شي په دې كښې د جمهورو او احنافو اختلاف مشهور دې.

په مسئلة المحاذات كښې د احنافو په دليل باندې كلام

د احنافو تائيد د حديث الباب نه هم كيږي چه رسول الله ﷺ ام سليم لره سره د يواځې كيدو نه شاته اودروله حال دا چه انفراد خلف الصف د اكثرو علماء كرامو په نزد مكروه دې، او د امام احمد په نزد مفسد صلاة دې، دويم دليل د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث موقوف دې، كوم چه د غير مدرك بالرائې كيدو د وجې نه مرفوع دې (اخروهن من حيث اخرهن الله رواه الطبراني، قال ابن دقيق العيد انه حديث صحيح قاله القاري في النقاية) (كذا في البذل) معلومه شوه چه د سړي مقام تقدم دې او د زنانه مقام تاخر، كه سړې خپل ځان سره برابر زنانه ته د مونځ دپاره ځائې وركړي نو ددې معنى دا شوه چه هغه خپل مقام ترک كړو، او خپل مقام لره ترک كول ډيره لويه او بنيادي غلطي ده معمولي څيز نه دې، په دې وجه به د سړي مونځ فاسد شي، حافظ ابن حجر رحمه الله د احنافو په مسلک باندې د تعجب اظهار كړې دې چه دا داسې كمزورې خبره ده چه د هغې د جواب هم حاجت نشته خو وړاندې فرمائي چه د سړي مقام تقدم على المرأة دې خو ددې په خلاف كولو سره دا څنگه ضروري ده چه د هغه مونځ دې فاسد شي، هغه وائي چه گوره په ثوب مغصوب كښې مونځ كول ممنوع دى د هغې كوزول واجب دى خو كه يو سړې هم په هغې كښې مونځ اوكړي نو بالاتفاق ئې مونځ صحيح كيږي زيات نه زيات به مكروه وي دلته هم داسې كيدل پكار دي.

() صحيح مسلم المساجد ۴۸ (۶۶۰)، سنن النسائي الإمامة ۲۰ (۸۰۴)، سنن ابن ماجه إقامة الصلاة ۴۴ (۹۷۵)، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۹۴، ۲۵۸، ۲۶۱) (صحيح)

د حافظ ابن حجر د کلام رد

خو د حافظ دا قياس مع الفارق دي ځکه چه مونږ پورته اووئيل چه ترک د مقام يو بنيادي او اساسي غلطي ده لهذا د هغې حکم هم د هغې مطابق مناسب او سخت کيدل پکار دي کما لا يخفى، علامه عيني رحمه الله فرمائي چه که دې قائل (ابن حجر) د احنافو د مقال ادراک کړې وې نو هغه به دا نه وئيل کوم چه هغه اووې، په دې کښې ئې قصور د خپل فهم دې، او حضرت سهارنپوري رحمه الله فرمائي چه حافظ د ثوب مغصوب والا مثال خو پيش کړو، او دا مثال ئې ولې پيش نه کړو چه ګوره د امام مقام خو تقدم على المقتدى دې، اوس که امام خپله شاته شي او مقتدي د ځان نه مخکښې کړي نو مونځ به ئې فاسد وي يا نه؟

[۶۱۰]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ فَأَطْلَقَ الْقِرْبَةَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ أَوْكَأَ الْقِرْبَةَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ، فَقُمْتُ فَتَوَضَّأْتُ كَمَا تَوَضَّأَ ثُمَّ جِئْتُ، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَنِي بِيَمِينِهِ فَأَدَارَنِي مِنْ وَرَائِهِ فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ".

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وئيلي دي: زه ويده شوم په کور د خالې زما کښې چې ميمونه ده: نو ودريدو رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې نو کولاويې کړه مشکيزه نو اودس ئې وکړو، بيا ئې بنده کړه مشکيزه، بيا ودريدو مانځه ته، نو زه پاڅيدم اودس مې وکړو ځنګه چې هغه اودس کړى وو، بيا زه راغلم د هغه شاته ودريدم، زه ئې په ښي لاس ونيولم نو راتاويې کړم د وروستو نه ويې درولم خپل ښي خوا ته، نو ما مونځ وکړه د هغه سره.

[۶۱۱]([2])حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فَأَخَذَ بِرَأْسِي أَوْ بِذُؤَابَتِي فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه روايت دې، په دې قصه کښې هغه وايي: ويې نيولو سر زما او يا ئې دا ووئيل: وېښته زما، زه ئې ودرولم خپل ښي طرف ته.

بَابُ إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً كَيْفَ يَقُومُونَ

باب دې په بيان د دې کې چې درې کسان وي نو څنګه به ودريږي

[۶۱۲]([3])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ جَدَّتَهُ

---

[1]): صحيح مسلم/المسافرين ۲۶ (۷۶۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٤ (۹۷۳)، (تحفة الأشراف: ۵۹۰۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العلم ٤۱ (۱۱۷)، والأذان ۵۷ (۶۹۷)، ۵۹ (۶۹۹)، ۷۹ (۷۲۸)، واللباس ۷۱ (۵۹۱۹)، سنن النسائي/الغسل ۲۹ (٤٤۳)، الإمامة ۲۲ (۸۰۷)، وقيام الليل ۹ (۱۶۲۱)، مسند احمد (۱/۲۱۵، ۲۵۲، ۲۵۸، ۲۸۷، ۳٤۱، ۳٤۷، ۳۵٤، ۳۵۷، ۳۶۰، ۳۶۵)، سنن الدارمي/الصلاة ٤۳ (۱۲۹۰) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/اللباس ۷۱ (۵۹۱۹)، (تحفة الأشراف: ۵٤۵۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۱۵، ۲۸۷) (صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الصلاة ۲۰ (۳۸۰)، والأذان ۷۸ (۷۲۷)، ۱۶۱ (۸۶۰)، ۱۶٤ (۸۷۱)، ۱۶۷ (۸۷٤)، صحيح مسلم/المساجد ٤۸ (۶۵۸)، سنن الترمذي/الصلاة ۵۹ (۲۳٤)، سنن النسائي/المساجد ٤۳ (۷۳۸)، والإمامة ۱۹ (۸۰۲)، ۶۲ (۸۷۰)، (تحفة الأشراف: ۱۹۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۹ (۳۱)، مسند احمد (۳/۱۳۱، ۱٤۵، ۱٤۹، ۱۶٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۶۱ (۱۳۲٤)، (صحيح)

مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ فَأَكَلَ مِنْهُ، ثُمَّ قَالَ: قُومُوا فَلأُصَلِّيَ لَكُمْ، قَالَ أَنَسٌ: فَقُمْتُ إِلَى حَصِيرٍ لَنَا قَدِ اسْوَدَّ مِنْ طُولِ مَا لُبِسَ فَنَضَحْتُهُ بِمَاءٍ، فَقَامَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَفَفْتُ أَنَا وَالْيَتِيمُ وَرَاءَهُ وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا فَصَلَّى لَنَا رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د انس بن مالک ؓ نه روايت دي، بيشکه نيا د هغه مليکې دعوت ورکړی وو رسول الله ﷺ ته د دوډئ لپاره چې هغې تياره کړې وه نو خوراک ئې وکړو د هغې نه، بيا ئې ووېل: پاڅېږئ چې زه تاسو ته مونځ وکړم. وئيلی دی انس: نو زه پاڅېدم زمونږ يو پوږ وو چې تور شوې وو د وجې د ډېر وخت نه استعمالولو نه، نو هغه چنړکاو کړو په اوبو سره، نو ودرېدو په هغې باندې رسول الله ﷺ او صف جوړ کړو ما او زما رور يتيم وروسته د هغه نه، او بوډئ وروسته زمونږ نه وه، نو مونځ ئې وکړو مونږ ته دوه رکعاته، بيا لاړلو رسول الله ﷺ.

که يو امام او دوه مقتديان وی نو د جمهورو په نزد د هغوی مقام خلف الامام دې، او د عبدالله بن مسعود ؓ په نزد به ښی او ګس طرف ته اودرېږی، د امام ابويوسف رحمه الله نه هم دا نقل دی، د جمهورو دليل حديث الباب دې چه په هغې کښې انس او يتيم په رسول الله ﷺ پسې شاته اودريدل او ام سليم په هغوی پسې شاته.

شرح السند او د ضمير د مرجع تحقيق

﴿ ان جدته مليكة ﴾...د ﴿ جدته ﴾ په ضمير کښې شارحينو دوه احتماله ليکلي دی، يا خو دا ضمير د اقرب طرف ته راجع دې يعنی انس بن مالک يا د ابعد طرف ته يعنی اسحاق بن عبدالله کوم چه دا حديث د سيدنا انس ؓ نه روايت کوی، په اصل کښې دې کښې اختلاف دې چه مليکه ام سليم يعنی د سيدنا انس ؓ د مور نوم دې که د ام سليم د مور نوم دې، يعنی د انس ؓ د نيا، ابن عبدالبر او امام نووی وغيره اول قول اختيار کړې دې او ابن سعد او ابن منده دويم قول لره.

هم دغه شان دا هم پيژندل ضروری دی چه اسحاق بن عبدالله کوم چه په سند کښې مذکور دې هغه د انس ؓ وراره دې، ځکه چه عبدالله بن ابی طلحه د انس ؓ اخيافی (په مور کښې شريک) رور دې، لهذ انس د اسحاق تره شو، پس که مليکه د ام سليم (د انس د مور) نوم دې نو بيا خو به دا ضمير ضرور د اسحاق طرف ته راجع وی ځکه چه د تره مور د وراره نيا وی او که دويم قول اختيار کړې شی چه مليکه د ام سليم د مور نوم دې نو په دې صورت کښې به ضمير د اقرب يعنی انس ؓ طرف ته راجع وی. او د جده نه مراد به د هغه د مور د طرف نه نيا وی نه د پلار د طرف نه، دا چه مونږ وئيلی وو چه اسحاق د انس د اخيافی رور خوئې ددې وضاحت دا دې چه د انس ؓ مور ام سليم مخکښې د انس ؓ د پلار مالک په نکاح کښې وه د هغه د وفات کيدو نه پس هغې سره ابو طلحه نکاح اوکړه چه د هغې نه عبدالله بن ابی طلحه پيدا شو، لهذا عبدالله بن ابی طلحه د انس ؓ اخيافی رور شو.

قوله:﴿ فقمت الى حصير لنا قد اسود من طول ما لبس فنضحته بماء ﴾ يعنی داسې درئ چه د ډير استعمال د وجې نه توره شوې وه، انس ؓ فرمائی چه ما په هغې باندې اوبه واړولې چه د

هغې نه دوره او خيرې لرې شي او يا دا چه هغه نرمه شي او يا په دې وجه چه په طهارت کښې به ئې شک وو، او هغه شک ختم شی، عام شارحينو اول او دويم احتمال اختيار کړې دې او قاضی عياض مالکی احتمال ثالث لره.

د بعض مسائل ثابته بالحديث بيان

اصل کښې د مالکيانو مذهب دا دې چه د کوم څيز نجاست مشکوک وی د هغې د پاکوالی دپاره نضح کافی ده او قاضی عياض چونکه مالکی دې په دې وجه هغه دا اختيار کړې دې، دا اختلافی مسئله مشهوره ده کيدې شی چه په کتاب الطهارة کښې چرته تيره شوې ده.[1]

دويمه مسئله

دلته په حديث کښې لفظ لبس لره د افتراش په معنی کښې اخستلې دې، په دې سره مالکيانو يوې بلې مسئلې باندې استدلال کړې دې چه که يو سړې د عدم لبس قسم اوخوری او بيا هغه هغې کپړې لره خورولو سره په هغې باندې کينی نو هغه به حانث شی، جمهور ددې قائل دی چه د قسم مدار په عرف باندې دې او په عرف کښې د لبس استعمال په افتراش باندې نه کيږی، او دلته چه په حديث کښې چه لبس په افتراش باندې محمول کړې شوې دې نو هغه د قرينې د وجې نه. (قاله ابن رسلان)

مسئله ثالثه افتراش حرير للرجال

خان پوهه کړه چه دلته يوه بله اختلافی مسئله ده هغه دا چه د جمهورو په نزد د رجال په حق کښې چه څنګه لبس حرير جائز نه دې هم دغه شان افتراش حرير هم جائز نه دې، په دې کښې د امام ابوحنيفهؒ اختلاف دې، د هغوی په نزد د سړی دپاره افتراش حرير جائز دې څکه چه په حديث کښې د لبس ممانعت دې د افتراش نه، حافظ ابن حجرؒ په دې حديث سره د امام صاحب د مذهب ترديد کړې دې څکه چه په حديث کښې لبس لره د افتراش په ځائې باندې استعمال کړې شوې دې، علامه عينیؒ ددې جواب دا ورکړې دې چه په دې حديث کښې لبس دې ﴿ لبست الثوب ﴾ والا لبس نه دې مراد بلکه دا ماخوذ دې د عربو د قول ﴿ لبست امراة ﴾ چه د هغې معنی ده د تمتع، يعنی تمتعت بها زمانا، لهذا دلته حديث کښې لبس په معنی د تمتع دې او د اغوستلو په معنی کښې نه دې، لهذ ددې حديث نه د امام صاحب د قول په خلاف استدلال صحيح نه دې. (عمدة القاری شرح بخاری)

شرح حديث

قوله: ﴿ وصففت انا واليتيم ورائه والعجوز من ورائنا ﴾ انسؓ فرمائی چه زه او يو ماشوم په رسول اللهﷺ پسې شاته اودريدو او مليکه په مونږ پسې شاته، د يتيم اطلاق په نابالغ ماشوم باندې کيږی که هغه مميز وی يا غير مميز. خو دلته ترې ماشوم مراد دې څکه چه دغير مميز مونځ صحيح نه دې، شارحينو ددې ماشوم نوم ضميره بن ابی ضميره ليکلې دې

[1] د ثوب مصلی د تطهير متعلق په يو باب کښې ولتنضح مالم تر د لاندې تيره شوې ده.

او د ابو ضمیره نوم سعد دې، په دې وجه باندې په بعض شروح حدیث کښې د دې یتیم نوم ضمیره بن سعد لیکلې شوې دې، د ضمیره د پلار سعد شمیر اهل رجال د رسول الله ﷺ په غلامانو کښې کړې دې، او ملا علی قاری رحمه الله جدا یوه خبره لیکلې ده چه یتیم د انس د رور نوم دې. والله تعالی اعلم

د دې حدیث نه د انس رضي الله عنه د کور د خلقو زهد او قناعت معلومیږي ځکه خو ئې رسول الله ﷺ باندې په زړې درئ باندې د مونځ امامت اوکړو.

﴿ فصلى لنا ركعتين ثم انصرف ﴾ په دې واقعه کښې رسول الله ﷺ خوراک اول اوکړو او د مونځ دوه رکعتونه ئې روستو کړې دی، او د عتبان بن مالک چه کومه مشهوره قصه ده په صحیح مسلم وغیره کښې هلته په ترتیب کښې د دې برعکس ده چه د هغې وجه په ظاهره کښې دا ده چه هلته د رسول الله ﷺ مقصود د هغوی کور ته په تلو سره مونځ کول وو او دلته هغه د خوراک د دعوت دپاره تشریف راوړلو.

[۶۱۳]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ هَارُونَ بْنِ عنترة، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: اسْتَأْذَنَ عَلْقَمَةُ، وَالْأَسْوَدُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ وَقَدْ كُنَّا أَطَلْنَا الْقُعُودَ عَلَى بَابِهِ، فَخَرَجَتِ الْجَارِيَةُ فَاسْتَأْذَنَتْ لَهُمَا فَأَذِنَ لَهُمَا، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى بَيْنِي وَبَيْنَهُ، ثُمَّ قَالَ: "هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ".

ترجمه: عبد الرحمن بن الاسود روایت کوی د خپل پلار نه، هغه وئیلی دي: اجازت وغوښتلو علقمة او اسود د عبد الله نه، او وو مونږ چې اوږد انتظار مو کړی وو د هغه په دروازه کښې، نو راووتله وینزه نو طلب د اجازت ئې وکړو د هغو دوارو لپاره نو اجازت ئې وکړو دوارو ته، بیا پاڅیدلو مونځ ئې وکړو زما د هغه په مینځ کښې، بیا ئې وویل: داسې ما لیدلی وو رسول الله ﷺ چې کړی ئې وو.

تشریح: **قوله:﴿ استاذن علقمة والاسود [٢] على عبدالله وقد كنا اطلنا القعود على بابه فخرجت الجارية ﴾** علقمه او اسود کوم چه د عبدالله بن مسعود مشهور شاګردان دی هغوی وائی چه یو ځل مونږ د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په دروازه باندې اجازت طلب کړو چه هلته مونږ د ډیر ساعته پورې ناست وو، ډیر ساعت پس د دننه نه یوه وینزه راغله او هغې مونږ په دروازه باندې ناست اولیدو نو هغه لاړه او د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه ئې اجازت طلب کړو، په اجازت ملاویدو باندې مونږ دننه داخل شو هغه مونږ خپل ښی او ګس طرف ته اودرولو او مونځ ئې راکړو او بیا ئې اوفرمائیل چه ما رسول الله ﷺ هم په دې طریقه باندې مونځ کونکې لیدلې دې.

په مسئلة الباب کښې د جمهورو دلیل

دا روایت د جمهورو خلاف دې، د جمهورو استدلال د تیر شوی روایت ﴿ وصففت انا

[١]): سنن النسائي/المساجد ٢٧ (٧٢٠)، والإمامة ١٨ (٨٠٠)، والتطبيق ١ (١٠٣٠)، (تحفة الأشراف: ٩١٧٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ٥ (١١٩١)، مسند احمد (٤٢٤/١، ٤٥١، ٤٥٥، ٤٥٩) (صحيح)

[٢]) دلته متکلم چونکه اسود دې په دې وجه حق خبره دا ده چه داسې ئې وئیلې وې: استاذنت انا وعلقمة خو هغه د خپل ځان نه په غائب سره تعبیر اوکړو)

والبتيم) والا حديث نه دې او دا حديث موقوف دې او دا چه دلته کوم روايت مذکور دې (هکذا رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم) (چه هغې سره دا حديث مرفوع کيږي) دا زيادت په اکثر رواياتو کښې موجود نه دې او که دا زيادت اومنلې شي نو دا به وئيلې شي چه ممکنه ده د خانې د تنګ والى د وجې نه به داسې کړې شوې وي، او خپله د ابن مسعود رضي الله عنه د فعل په باره کښې هم ابن سيرين هم دا توجيه کړې ده.

باب الإمام ينحرف بعد التسليم

باب دې په بيان دانحراف (تاويدو) د امام کې پس د سلام نه

د مصنف قائم کړې ترجمو کښې فرق

هم ددې قسم يو باب د ابواب الجمعة نه لږ شان مخکښې راروان دې، (کيف الانصراف من الصلاة) د دوارو مضمون او مفهوم په ظاهره کښې يو دې لهذا دا تکرار شو خو في الواقع تکرار نه دې، ځکه چه دلته د انحراف نه مراد تحول الى القوم دې يعنى د امام د خپل مونځ نه فارغ کيدو نه پس د قبلې دطرف نه مخ اړولو سره کيناستل، وراندې چه کوم باب راروان دې هلته د انصراف نه مراد انصراف الى البيت يا انصراف الى موضع الحاجت دې يعنى د مونځ نه فارغ کيدو نه پس د مصلى نه پاسيدل، لهذا د دوارو بابونو مفهوم مختلف شو.

[٦١٤]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي يَعْلَى بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا انْصَرَفَ انْحَرَفَ".

ترجمه: جابر بن يزيد بن الاسود روايت کوي د خپل پلار نه، هغه وئيلى دي: ما مونځ وکړو وروسته د رسول الله ﷺ نه وو چې کله به فارغ شو نو تاو به شو د خپل حالت نه.

تشريح: **قوله:**(صليت خلف رسول الله صلى الله عليه وسلم فكان اذا انصرف انحرف) يعنى رسول الله ﷺ چه به کله سلام وارولو نو د هغه عادت مبارک دا وو چه په خپله مصلى باندې به ئې رخ بدل کړو او ښي يا ګس طرف ته مخ کولو سره به کيناستلو خو اکثر به ئې انحراف ښي طرف ته وو او کله ګس طرف ته هم، هم په دې وجه لکه وراندې حديث کښې راځي چه صحابه کرامو به په صف کښې ښي طرف ته اودريدل خوښول ددې دپاره چه د مخ مبارک زيارت اوکړي.

په حديث باندې من حيث الفقه کلام

اوس دا چه د فقهاء کرامو رائې په دې کښې څه ده؟ بعض شارحينو د جمهورو مسلک دا ليکلې دې چه د هغوى په نزد انحراف الى اليمين او د احنافو په نزد الى اليسار اولى دې خو صحيح دا ده چه احناف دا وائې چه د يو طرف التزام دې نه کوي کله دې ښي طرف ته او کله دې ګس طرف اختيار کړي.

---

[١]: سنن الترمذي/الصلاة ٥١ (٢١٩)، الإمامة ٥٤ (٨٥٧)، (تحفة الأشراف: ١١٨٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٥/٥، ٢٧٩) (صحيح)

(د انحراف بعضې حکمتونه)

په دې انحراف کښې څه حکمت دې، د شارحينو د کلام نه معلوميږي چه يو حکمت په دې کښې ﴿ ازالة الاشتباه فی حق الجائی ﴾ دې چه که د مونځ نه فارغ کيدو نه پس هم امام د مقتديانو په شان قبلې طرف ته مخ کولو سره ناست وی نو نوی راتلونکو ته دا اشتباه کيدې شی چه مونځ لا ختم شوې نه دې او خلق په قعده کښې دی، او بل حکمت په دې کښې الاحتراز عن الاستدبار القوم دې، د خلقو طرف ته شا کولو نه ځان ساتل، دلته يو سوال دا دې چه امام لره د مونځ کولو نه پس په خپل ځائې کښې کيناستل پکار دی يا نه؟ نو فقهاء کرامو ليکلې دی خصوصا صاحب بدائع چه د کومو مونځونو نه روستو سنت دی د هغې نه پس دې امام نه کينی ددې دپاره چه په سنتو کښې تاخير رانشی او په باقی مونځونو کښې اختيار دې. (۱)

دا کلام خو ددې باب سره متعلق دې او هغه باب کوم چه وړاندې راروان دې ﴿ کيف الانصراف من الصلاة ﴾ يعنی د مصلی نه پاسيدو سره به امام چرته ځی ښی طرف ته يا ګس طرف ته، نو ددې جواب دا دې چه دا د موضع حاجت تابع دې چه چرته د هغه حاجت تړلې شوې وی او په کوم کښې چه هغه خپل سهولت ګنړی هغه طرف ته دې لاړ شی، مثلا د امام منزل يا د هغه حجره که ښی طرف ته وی نو ښی طرف ته دې لاړ شی او که ګس طرف ته وی نو هغه طرف ته دې لاړ شی، او يو صورت دا هم کيدې شی چه تحول الی القوم کوم چه په دې باب کښې مذکور دې هغه هم د موضع حاجت تابع اومنلې شی چه که د امام حجره ښی طرف ته وی نو ښی طرف ته دې مخ کولو سره کينی او که د امام حجره ګس طرف ته وی نو هغه طرف ته رخ کولو سره کينی ددې دپاره چه د پاسيدو په وخت ګرځيدلو ته ضرورت رانشی، حضرت شيخ په حاشيه د لامع کښې هم دغه شان ليکلې دی.

[۶۱۵](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ الْبَرَاءِ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ، فَيُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د براء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دې: وو مونږ چې کله به مو مونځ کولو وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نو دا به مو خوښوله چې د هغه ښی طرف ته ودريږو، ځکه چې مونږ ته به ئې مخ رااړولو.

---

(۱) هم دا وجه ده چه تاسو ګورئ چه عام طور ائمه د مازيګر او د سحر د مونځ نه روستو په خپله مصلی باندې کيناستلو سره تسبيح فاطمه وغيره لولی، خو دا په ذهن کښې ساتئ چه تسبيح فاطمه صرف ددې دوه مونځونو سره خاص نه دې بلکه د ټولو مونځونو نه پس ئې د لوستلو ترغيب راغلې دې لهذا په باقی مونځونو کښې د سنتو نه روستو لوستل پکار دی.

(۲): صحيح مسلم/المسافرين ۸ (۷۰۹)، سنن النسائي/الإمامة ۳۴ (۸۲۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۵۵ (۱۰۰۶)، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۹)، وقد أخرجه: (۴/۲۹۰، ۳۰۴) (صحيح)

باب الإمام يتطوع في مكانه

باب دې په بيان د امام کې چې نفل کوي په خپل ځای

[۶۱۶]()حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُصَلِّي الْإِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ حَتَّى يَتَحَوَّلَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ لَمْ يُدْرِكِ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ.

ترجمه: د مغيرة بن شعبة نه روايت دې هغه وئيلی دی، وئيلی دی رسول الله ﷺ: مونځ دې نه کوی امام په هغه ځائې کښې چې مونځ ئې کړی وی په هغې تردې چې بل طرف ته واوړي.
وئيلی دی ابوداود: عطاء الخراسانی مغيرة بن شعبة نه دی موندلی (دا حديث منقطع دې).

تشريح: قوله: ﴿ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لا يصل الامام في الموضع الذى صلى فيه حتى يتحول ﴾ د دې حديث نه معلومه شوه چه امام لره د فرض په محل کښې سنت يا نفل نه دی کول پکار، على هذا القياس په دې کښې مقتدی هم دې، پس په ابواب التشهد کښې يو باب راروان دې : باب في الرجل يتطوع في مكانه الذى صلى فيه المكتوبة... او په دې کښې مصنف د ابوهريره ﷺ حديث مرفوع ﴿ ايعجز احدكم ان يتقدم او يتاخر الخ ﴾ ذکر کړې دې په دې حديث کښې د امام قيد نشته بلکه عام دې، په دې وجه د جمهورو په نزد دا حکم هم عام دې لکه چه په عينى شرح بخاری کښې دی، هم دغه شان په دې کښې دی چه د ابن عمر ﷺ په نزد کراهت صرف د امام دپاره دې د غير امام په حق کښې د هغوی په نزد هيڅ باک نشته، او په بذل المجهود کښې د بدائع نه د امام په حق کښې خو کراهت ليکلې شوې دې او د مقتدی په حق کښې هغه فرمائی چه په دې کښې زمونږ د مشائخو اختلاف دې بعض وائی چه د هغه په حق کښې هيڅ حرج نشته، د امام د خپل ځائې نه لرې کيدل د اشتباه د ازالې دپاره کافی دی، او د امام محمد نه منقول دی چه د قوم په حق کښې هم دا مستحب ده چه هغه صفونو لره ماتولو سره متفرق شی ددې دپاره چه اشتباه کلی طور سره د لرې کتونکی په حق کښې هم مرتفع شی.
واضحه دې وی چه شارحينو ددې انتقال مکانی حکمت د ازاله اشتباه نه علاوه استکثار شهود هم ليکلې دې.

باب الإمام يحدث بعد ما يرفع رأسه من آخر الركعة

باب دې په بيان د امام کې چې بې اودسه شی پس د اوچتولو د سر له د اخري رکعت نه

په بعض نسخو کښې دلته د من اخر الركعة اضافه هم ده، يعنی امام د اخری رکعت د کولو نه پس که بې اودسه شی نو ددې څه حکم دې؟ مونځ به صحيح وی يا نه؟ په ترجمة الباب کښې خو اګر چه د اخری رکعت د سجود ذکر دې خو مراد دا دې چه د اخری رکعت سجود او د هغې نه روستو قعده نه فارغ شوې وی لکه چه په حديث الباب کښې ذکر دی.

(): سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۲۰۳ (۱۴۲۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۱۷) (صحيح)

[۶۱۷]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَافِعٍ، وَبَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَضَى الْإِمَامُ الصَّلَاةَ وَقَعَدَ فَأَحْدَثَ قَبْلَ أَنْ يَتَكَلَّمَ، فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ، وَمَنْ كَانَ خَلْفَهُ مِمَّنْ أَتَمَّ الصَّلَاةَ".

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روايت دي، بيشكه رسول الله ﷺ ويلي دي: كله چې پوره كړي امام مونځ او كيناستلو نو بې اودسه شو مخكې د خبرو كولو نه، يعنې د سلام نه مخكښې بې اودسه شو نو د هغه مونځ پوره شو، او د هغه چا هم چې د امام نه وروسته دي چې مونځونه ئې پوره كړي وي (او دچا مونځ چه نه وي پوره بلكه څه حصه مونځ ورته پاتې وي د هغوى مونځ به فاسد شي).

په حديث الباب كښې د احنافو دليل

قوله: ﴿ اذا قضى الامام الصلاة وقعد فاحدث قبل ان يتكلم فقد تمت صلاته ﴾ د دې حديث نه معلوميږي چه د مونځ په اركانو كښې اخرى ركن قعده قدر التشهد دې، لهذا معلومه شوه چه سلام فرض نه دې، مسئله مختلف فيه ده، د كتب الطهارة په شروع كښې د مفتاح الصلاة الطهور وتحريمها التكبير وتحليلها التسليم" د لاندې تير شوې دې، د ائمه ثلاث په نزد فرض دې او د احنافو په نزد نه دې، لهذا دا حديث د احنافو دليل شو، جمهور ددې جواب دا وركوى چه دا حديث ضعيف دې د عبدالرحمن بن زياد افريقى د وجې نه، جواب دا دې چه د عبدالرحمن ضعف مختلف فيه دې، ډير ائمه كرامو د هغې توثيق كړې دې، په دلائلو باندې كلام د پورته ذكر شوې حديث د لاندې هم تير شوې دې.

د قعده اخير په حكم كښې اختلاف

دا اختلاف خو د سلام په باره كښې دې او قعده اخيره كښې هم لږ شان اختلاف دې، هغه دا چه عند الجمهور ومنهم الحنفية والشافعية والحنابلة فرض ده او د مالكيانو په نزد فرض نه ده، كما في الانوار الساطعه.

بَابٌ فِي تَحْرِيمِ الصَّلَوةِ وَتَحْلِيلِهَا

باب د مونځ د تحريم او تحليل متعلق

[۶۱۸]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ ابْنِ عَقِيلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ".

ترجمه: د علی رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلى دى چې فرمائيلى دى رسول الله ﷺ: چابې د مونځ پاكوالى دى، او تحريم د هغې تكبير دى، او حلالونكى د هغې سلام دى.

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۸۸ (۴۰۸)، (تحفة الأشراف: ۸۶۱۰) (ضعيف)

[2]: سنن الترمذي/الطهارة ۳ (۳)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۳ (۲۷۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۶۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲۳/۱)، سنن الدارمي/الطهارة ۲۱ (۷۱۳) (حسن صحيح)

تشریح: په دې باندې تفصیلي کلام په باب فرض الوضوء د لاندې تیر شوې دې.

باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ الْمَأْمُومُ مِنَ اتِّبَاعِ الإِمَامِ

باب دې په بیان د هغې څې چې امر کولی شي په هغې سره مقتدي ته د تابعداری د امام نه

په دې باب کښې مصنف دوه قسمه روایات ذکر کړي دی پس په اول حدیث کښې د تقدیم علی الامام ممانعت دې او په باقی روایاتو کښې د تاخیر عن الامام ثبوت دې.

د تقدم علي الامام په ممنوع کیدو کښې خو هیڅ اختلاف نشته[1] خو تاخر عن الامام مسئله مختلف فیه او تفصیل طلب ده اول تاسو د تقدم په باره کښې د علماء کرامو مذاهب اوګورئ.

تقدم علی الامام کښې اختلاف الائمة

پس څان پوهه کړئ چه دلته درې څیزونه دی، تحریمه، سلام، بقیه ارکان رکوع او سجود وغیره، یعنی تحریمه کښې تقدم علی الامام باتفاق ائمه اربعه مفسد صلاة دې، او په ثانی یعنی سلام کښې تقدم علی الامام صرف د ائمه ثلاثه په نزد مفسد دې، د احنافو په نزد نه دې بلکه مکروه دې او قسم ثالث یعنی بقیه ارکان، پس په دې کښې تقدم علی الامام د ائمه اربعه په نزد مفسد نه دې مکروه دې، البته د اهل ظواهر په نزد او هم دا یو روایت د امام احمد رحمه الله هم دې چه مفسد دې.

متابعة امام علی وجه المقارنة پکار دې یا په طریق د معاقبة

او بله مسئله یعنی تاخر عن الامام کوم چه د باب په دویم حدیث کښې مذکور دې په دې کښې اختلاف دې، امام شافعی او امام احمد خو د متابعة علی وجه المعاقبة قائل دی په ټولو ارکانو کښې ددې بالمقابل د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد متابعة علی وجه المقارنة افضل دې په ټولو ارکانو کښې تردې چه په تحریمه کښې هم، خو په تحریمه کښې د صاحبینو اختلاف دې په بدائع کښې لیکلي دی چه د امام ابویوسف رحمه الله نه په مقارنة فی التحریمه کښې دوه روایتونه دی، فی روایة یجوز وفی روایة لا یجوز، او د امام محمد په نزد اګر چه جائز دې خو مع الاساءة د تحریمه نه علاوه په باقی افعالو کښې صاحبین فرمائی په دې کښې دوه قوله دی کما فی الشامی، بعض فقهاء کرامو لیکلي دی چه په دې کښې د امام صاحب سره دی چه مقارنت افضل دې او بعض وائی چه هغوی په دې کښې د جمهورو سره دی یعنی تاخر اولی دې، پاتې شو مسلک د امام مالک پس د هغوی په نزد په تحریمه او تسلیمه کښې خو تاخر عن الامام متعین دې او په باقی ارکان کښې د هغوی دوه قوله دی، اولویة مقارنة او اولویة تاخر.

---

[1] ، التقدم علي الامام في التحريمة مبطل عند الائمة الاربعة، واما التقدم في السلام فعند الجمهور مبطل كالتقدم في التحريمة وعندنا حرام غير مبطل، والتقدم في بقية الاركان حرام غير مبطل عند الائمة الاربعة. نعم في رواية لاحمد مبطل، واما المقارنة في التحريمة فمستحب عند الامام ومفسد عند الائمة الثلاثة وكذا في رواية عند الصاحبين وقيل خلافهما مع الامام ابي حنيفة في الفضيلة لا في الجواز واما المقارنة في السلام فمبطل عند المالكية، ومكروهة عند الشافعية والحنابلة وكذا هي مكروهة عند الجمهور في بقية الاركان (من اماني الاحبار ولامع الدراري).

په مقارنة مع الامام کښې مذاهب اربعه

ددې نه پس پوهه شئ چه جمهور علماء ائمه ثلاثه په تحريمه کښې خو د تأخر د وجوب قائل دی تردې چه مقارنة فی التحريمة ددوی په نزد مفسد د صلاة دې او په تسليم کښې مقارنة دامام شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد خو صرف مکروه دې او د امام مالک رحمه الله په نزد په دې کښې هم مفسد دې، لکه چه په لامع الدراری کښې د مختصر خليل نه نقل کړی دی او د تحريمه او تسليمه نه علاوه په نورو ارکانو کښې د امام شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد مقارنه خلاف اولی ده، او د امام مالک رحمه الله په دې کښې دوه روايتونه دی كما فی امانی الاحبار (ص ۲۸۵ ج ۳) عن القاضی عياض، اول دا چه مقارنه اولی ده كما عند الحنفية، او د مقارنه مطلب دادې چه کله امام رکوع ته تلل شروع کړی نو ددې نه پس فوراً مقتدی هم شروع کړی، او دويم قول د امام مالک رحمه الله دادې چه تأخر اولی دې (كما عند الشافعية والحنابلة) يعنی کله چه امام سجدې ته اورسيږی مقتدی دې تلل شروع کړی لکه څنګه چه د باب په دويم حديث يعنی حديث البراء کښې دی. (دا احاديث د ډير تتبع (تلاش) نه پس اوليکلې شو) (من الامالی والاوجز واللامع)

دلائل فريقين

دا حضرات د حرف فاء نه استدلال کوی چه په حديث کښې دی ﴿ اذا ركع فاركعوا واذا سجد فاسجدوا ﴾ او فاء د تعقيب دپاره راځی، زمونږ علماء کرامو ددې جواب کړې دې (كما فی فيض الباری) چه فاء تعقيب بلا مهلت دپاره ده لهذا د مقتدی شروع فی الرکوع د امام د شروع فی الرکوع نه پس د تعقيب دپاره کافی ده او د امام صاحب مراد هم د مقارنت نه هم دا دې چه د امام په شروع کولو سره دې مقتدی فورا شروع کړی.

خو زه دا وائم چه په کومو رواياتو کښې حرف فاء ده د هغې جواب خو به اوشی خو د براء په حديث کښې خو تصريح ده ددې خبرې چه ترڅو پورې رسول الله ﷺ سجدې ته نه وو رسيدلې تر هغه وخته پورې به مونږ رکوع ته تلل نه شروع کول

د حضرت ګنګوهی توجيه

د دې جواب ماته د حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقرير ترمذی الكوكب الدری کښې ملاؤ شو هغه دا چه اصل ضابطه د امام د تابعداریٔ خو هغه ده کومه چه په متعدد روايات قوليه کښې راغلې ده ﴿ اذا ركع فاركعوا واذا سجد فاسجدوا ﴾ او دا چه د براء په حديث کښې مذکور ده تاخر عن الامام دا صورت د يو عارض د وجې نه راپيښ شوې دې هغه دا چه په اخر زمانه کښې چه کله د حضور ﷺ په حرکت او انتقال کښې سست والې راغلو او هغه سرعت پاتې نه شو کوم چه مخکښې وو او بعض ځوانان صحابه کرام د خپلې تيزیٔ او سرعت په وجه باندې قومه او سجده کښې د امام نه مخکښې رسيدل (يا د رسيدو خطره شوه) نو په دې باندې هغه تنبيه اوفرمائيله، ددې تنبيه نه پس دا خلق اويريدل او زيات احتياط ئې شروع کړو او چه ترڅو پورې به امام سجدې ته نه وو تلې نو تر هغه وخته پورې به په قومه کښې

وو، دا دې ددې معاقبة وجه، د رسول اللهﷺ د طرف نه دا حکم نه وو، والله تعالى اعلم بالصواب. په فتح الملهم کښې هم اجمالا هم ددې توجيه طرف ته اشاره ده چه دا په زمانه د ضُعف باندې محمول دې.

[۶۱۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُبَادِرُونِي بِرُكُوعٍ وَلَا بِسُجُودٍ، فَإِنَّهُ مَهْمَا أَسْبِقْكُمْ بِهِ إِذَا رَكَعْتُ تُدْرِكُونِي بِهِ إِذَا رَفَعْتُ إِنِّي قَدْ بَدَّنْتُ".

ترجمه: د معاوية بن ابى سفيان نه روايت دې هغه وئيلى دى، چې فرمائيلي دى رسول اللهﷺ: تاسو مه مخکې کېږئ زمانه په رکوع سره، او نه په سجده سره، بيشکه زه چې تاسو نه څومره هم مخکې شم کله چې زه رکوع کوم نو ما موندلى شئ په هغې کښې کله چې زه سر اوچتوم، بيشکه زه غټ شوى يم.

تشريح: قوله:(انى قد بدنت) دا په تشديد او تخفيف دواړو سره لوستلې شوې دې، د تشديد په صورت کښې ددې معنى د بوډاتوب ده چه اوس زه بوډا شوې يم او د تخفيف په صورت (بدن، يبدن، بدنا) د باب نصر نه، او (بدن يبدن بدانة) د باب کرم نه چه د هغې معنى د سمن او کثرت لحم دې.

هل السمن من اوصافهﷺ

خو اکثر علماء کرامو تشديد له ترجيح ورکړې ده ځکه چه سمن (خورب والې) د رسول اللهﷺ د صفاتو نه نه دې، خو يو روايت په ابوداود کښې وراندې راروان دې، باب الرجل يعتمد فى الصلاة على عصا... چه د هغې نه صفا معلومېږى [عربى ص۳۱۹ چه د رسول اللهﷺ بدن مبارک په اخر کښې خورب شوې وو، خو ددې جواب دا کيدې شى چه په بوډاتوب کښې بدن کښې سستى پيدا شى چه په هغې کښې غوښه خوره شى په خلاف د ځوانئ چه په دې زمانه کښې غوښه يو بل پورې پيوست او متماسک وى نو ممکنه ده چه راوى هم په دې وجه باندې داسې وئيلې وى.

[۶۲۰]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ الْخَطْمِيَّ يَخْطُبُ النَّاسَ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ وَهُوَ غَيْرُ كَذُوبٍ، "أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا رَفَعُوا رُءُوسَهُمْ مِنَ الرُّكُوعِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامُوا قِيَامًا، فَإِذَا رَأَوْهُ قَدْ سَجَدَ سَجَدُوا".

ترجمه: د ابو اسحاق نه روايت دې هغه وايې ما اوريدلى دى د عبد الله بن يزيد الخطمى نه، چې خطبه ئې ويله، هغه وويل: حديث بيان کړې دې مونږ ته براء او هغه درغژن نه دى، دوى وو کله چې به ئې خپل سرونه اوچت کړل د رکوع نه د رسول اللهﷺ سره نو وبه دريدل په اودريدلو سره، کله چې به هغوى وليدلو چې سجده ئې وکړه نو دوى به هم سجده وکړه.

[1]: سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۴۱ (۹۶۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۳۶)، وقد أخرجه: حم(۹۲/۴، ۹۸)، سنن الدارمي/الطهارة ۷۲ (۷۸۲) (حسن صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأذان ۵۲ (۶۹۰)، ۹۱ (۷۴۷)، ۱۳۳ (۸۱۱)، صحيح مسلم/الصلاة ۳۹ (۴۷۴)، سنن الترمذي/الصلاة ۹۳ (۲۸۱)، سنن النسائي/الإمامة ۳۸ (۸۳۰)، مسند احمد (۲۹۲/۴، ۳۰۰، ۳۰۴)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۲) (صحيح)

آیا صحابه کرام توثیق ته محتاج وو؟

قوله: ﴿ حدثنا البراء وهو غیر کذوب ﴾ دا لفظ د شارحین حدیث په نزد محل غور او توجیه ته محتاج جوړ شوي دي ځکه چه ﴿ الصحابة کلهم عدول یحتاجون الی التوثیق ﴾ ځکه چه ټول علماء رجال په کتب اسماء رجال کښې د یو صحابی په ترجمه کښې هم ﴿ وهو ثقة ﴾ کله هم نه لیکی، او غیر صحابی که هر څومره لوئې محدث او فقیه وی هغوی لره محتاج توثیق ګڼړی چه څه کلام کول غواړی هغه کوی په دې وجه د امام یحیی بن معین رائې خو دا ده چه د ﴿ هو ﴾ ضمیر مرجع خو براء رضی الله عنه نه دې بلکه د هغه نه لاندې راوی یعنی عبدالله بن یزید دې، خو په دې باندې دا اشکال دې چه عبدالله بن یزید خو خپله صحابی دې، ددې جواب دا دې چه عبدالله بن یزید داسې مشهور صحابی دې، د صغار صحابه کرامو نه دې بلکه بعض خو د هغه صحبت نه تسلیموی خپله یحیی بن معین په هغوی کښې دې، او د اکثر شارحینو رائې دا ده.چه ضمیر د براء طرف ته راجع دې خو د راوی مقصود په دې سره د براء تعدیل او توثیق نه دې بلکه مقصود تقویة حدیث دې چه اوګوره! حدیث بالکل صحیح دې او دا هم داسې ده لکه چه بعض وخت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی ﴿ سمعت خلیل الصادق المصدوق صلی الله علیه وسلم ﴾ ځکه چه ظاهره ده چه دلته راوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق نه کوی بلکه دا د حدیث تقویت دې، زما په ذهن کښې یوه بله خبره هم ده هغه دا کیدې شی چه په دې کښې تعریض مقصود دې په بعض مخاطبینو باندې، یعنی کیدې شی چه د بعض سامعینو عمل د حدیث په مضمون باندې نه وی او هغوی ددې خلاف د مخکښې نه کوی په دې وجه دا وئیلې شی چه ﴿ وهو غیر کذوب ﴾، ګورئ! براء دروغ خو نه وائی.

[۶۲۱] (١) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَهَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ المعنى، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبَانَ بْنِ تَغْلِبَ، قَالَ زُهَيْرٌ: حَدَّثَنَا الْكُوفِيُّونَ أَبَانُ وَغَيْرُهُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: "كُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا يَحْنُو أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَرَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ".

ترجمه: د براء رضی الله عنه نه روایت دې، هغه وئیلی دې: وو موږ چې مونځ مو کولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره، نه به کړوله هیڅوا زموږ نه شا خپله تردې چې نبی صلی الله علیه وسلم به ئې ولیدلو چې رکوع ئې وکړه.

[۶۲۲] (٢) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ يَعْنِي الْفَزَارِيَّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ، يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ: حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ، "أَنَّهُمْ كَانُوا يُصَلُّونَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا رَكَعَ رَكَعُوا، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، لَمْ نَزَلْ قِيَامًا حَتَّى يَرَوْهُ قَدْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ بِالْأَرْضِ ثُمَّ يَتَّبِعُونَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: محارب بن دثار وئیلی دی، ما اوریدلی دی د عبد الله بن یزید نه هغه به وئیل په منبر، حدیث بیان کړی دې ماته براء: چې هغوی به مونځ کولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کله چې به هغه رکوع وکړه نو دوی به هم رکوع وکړه، او چې کله به ئې سمع الله لمن حمده ووئیله نو

١): صحيح مسلم/الصلاة ٣٩ (٤٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٤) (صحيح)

٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٧٣) (صحيح)

مونږ به ولاړ وو، تردې چې هغوی به ولیدلو چې تندی ئې په ځمکه کښې کیخوده، بیا به د نبی ﷺ پسې شول.

بَابُ التَّشْدِيدِ فِيمَنْ يَرْفَعُ قَبْلَ الإِمَامِ أَوْ يَضَعُ قَبْلَهُ

باب دې په بیان د تشدید کې د هغه چا لپاره چې اوچتېږي مخکې د امام نه او ښکته کېږي مخکې د امام نه

[۶۲۲] (۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَا يَخْشَى أَوْ أَلَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ وَالْإِمَامُ سَاجِدٌ أَنْ يُحَوِّلَ اللَّهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ صُورَتَهُ صُورَةَ حِمَارٍ".

ترجمه: د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دی، چې فرمائیلی دی رسول الله ﷺ: ایا نه وېرېږي یو کس ستاسو نه کله چې اوچت کړي خپل سر او امام په سجده کښې وی چې وبه ګرځوی الله سر د هغه سر د خره، او شکل د هغه، شکل د خره.

تشریح: **قوله**:﴿ اما یخشی او الا یخشی احدکم اذا رفع راسه والامام ساجد الخ ﴾ په دې حدیث کښې په تقدم علی الامام باندې سخت وعید دې او دا چه داسې سړی لره د خپل صورت او شکل د مسخ کولو نه ویره کول پکار دی. ان یحول الله راسه راس حمار.

شرح حدیث

شارحینو په دې کښې دوه احتماله لیکلې دی، یا ددې نه مسخ حسی مراد ده، د شکل او صورت په قبیح شکل او صورت کښې بدلیدل، یا مسخ معنوی لکه چه حمار په بلادت کښې مشهور دې، خو ظاهره دا ده چه دا په خپل ظاهر باندې محمول دې ځکه چه د ابن حبان په روایت کښې د راس حمار په ځائې راس کلب دې، بله دا چه که مقصود تشبیه وې د حمار سره نو لفظ مستقبل به نه استعمالیدلې بلکه داسې به وئیلې شو فراسه راس حمار، ځکه چه د حماقت او بلادت کار خو هغه فی الحال کوی نه دا چه راروان وخت کښې به ئې کوی، که پوهیدې چه په دې رکوع او سجده کښې د مخکښې کیدو څه فائده؟ او حال دا چه سلام به د امام سره اړوی نو په مینځ کښې تندئ نه څه حاجت دې؟

وقوع المسخ فی هذه الامة

او په دې امت کښې د مسخ وقوع د بعض احادیثو نه صراحة ثابته ده (ذکر الحدیث فی البذل) هم دغه شان د ابوداود په یو روایت کښې دی چه زما په امت کښې چه کوم خلق مکذبین بالقدر وی (قدریه) په هغوی کښې به خسف او مسخ واقع کیږی، خو د مشکاة د بعض شارحینو د کلام نه معلومیږی چه په دې امت کښې به مسخ نه واقع کیږی، نو اول خو دا د یو روایت نه هم ثابته نه ده، او که اومنلې شی نو د عموم مسخ نفی کیدلې شی چه

(۱): صحیح البخاري/الأذان ۵۳ (۶۹۱)، صحیح مسلم/الصلاة ۲۵ (۴۲۷)، (تحفة الأشراف: ۱۴۳۸۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۲۹۲ (۵۸۲)، سنن النسائي/الإمامة ۳۸ (۸۲۹)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۴۱ (۹۶۱)، مسند احمد (۲/۲۶۰، ۲۷۱، ۴۲۵، ۴۵۴، ۴۵۶، ۴۶۹، ۴۷۲، ۵۰۴)، سنن الدارمي/الصلاة ۷۲ (۱۳۵۵) (صحیح)

بالعموم په مسخ نه وي، د خاص خاص جماعتونو په باره کښې خو د مسخ ثبوت په احاديثو کښې موجود دې.

رفع قبل الامام کښې مذاهب ائمه

ځان پوهه کړه چه رفع قبل الامام حرام ده خو د جمهورو په نزد به مونځ صحيح شي او ظاهريه وائي چه مونځ به فاسد شي او هم دا يو روايت د امام احمد نه دې او عبدالله بن عمر هم ددې قائل دې. (بذل)

بَابٌ فِيمَنْ يَنْصَرِفُ قَبْلَ الإِمَامِ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې واپس کيږي مخکښې د امام نه

[۶۲۴] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ بُغَيْلٍ الْمُرْهِبِيُّ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَضَّهُمْ عَلَى الصَّلَاةِ وَنَهَاهُمْ أَنْ يَنْصَرِفُوا قَبْلَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ".

ترجمه: د انس ﷺ نه روايت دې، بيشکه نبي ﷺ تېزې ورکړه دوی ته په مونځ، او منع ئې کړل د تلو نه مخکښې د تلو د هغه نه (د نبي ﷺ نه).

تشريح: قوله: ﴿ ونهاهم ان ينصرفوا قبل انصرافه من الصلاة ﴾ په دې کښې ډير احتمالات دی، د امام د سلام نه مخکښې دې مقتدی سلام نه اړوی، يا د انصراف نه مراد انصراف عن المسجد دې چه مقتدی دې د امام نه مخکښې د مسجد نه بهر نه ځی. ﴿ لئلا يختلط الرجال بالنساء ﴾ په دې سلسله کښې به يو مستقل باب وراندې راشی د ابواب الجمعة نه مخکښې "باب انصراف النساء قبل الرجال من الصلاة" ويمکن ان يکون المراد النهی عن قيام المسبوق قبل سلام الامام.

بَابُ جِمَاعِ أَثْوَابِ مَا يُصَلِّى فِيهِ

باب دې په بيان د بابونو د هغه جامو کښې چې مونځ پکښې کولی شي

دا لوئې استيشن راغلو، ددې ځائې نه نور قسم بابونه شروع کيږی، په لفظ جماع کښې دوه لغتونه دی، په کسرې د جيم او په تخفيف د ميم سره په وزن د کتاب، او په ضم د جيم او تشديد سره په وزن د رمان، دا د جامع يا مجموع په معنی کښې دې يعنی د ثوب مصلی سره متعلق د ابوابو مجموعه، يا د ثواب مصلی سره متعلق يو جامع باب.

د مونځ دپاره د ستر حکم او په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف

ځان پوهه کړئ چه د جمهورو په نزد او د ائمه ثلاثه په نزد د عورت پټول د صحت صلاة دپاره شرط دې، ﴿ قال تعالى : يا بنى ادم خذوا زينتكم عند كل مسجد ﴾ د زينت نه مرد ما يستر العورة دې او د مسجد نه مراد صلاة دې يعنی د هر يو مونځ په وخت باندې ځيل لباس اختيار کړئ بغير د لباس او ستر عورت نه مونځ مه کوئ، په دې کښې د مالکيانو اختلاف دې دوه اقوال پکښې دی، الاول ستر العورة شرط عند القدرة والذكر، كه قدرت نه وی يا ئې

(¹): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۵۸۱)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ۲۵ (۴۲۷)، سنن النسائي/السهو ۱۰۲ (۱۳۶۴)، مسند احمد (۳/۱۰۲، ۱۲۶، ۱۵۴، ۲۴۰)، سنن الدارمي/الصلاة ۷۲ (۱۳۵۶) (صحيح)

خیال نه وی نو معاف دې، دویم قول د هغوی دا دې چه اگر چه د ستر پټول فی نفسه فرض دی خو د مونځ د صحت دپاره شرط نه دی، لهذا ددې په ترک سره به گناهگار وی او مونځ به صحیح شی، خو قول مختار د متاخرین مالکیانو په نزد د ستر عورت شرط کیدل دی د جمهور د مذهب مطابق. (رحمة الامة)

په مسئله کښې د جمهورو او مالکیانو دلیل

ابن قدامه په مغنی کښې د مالکیانو د طرف نه دلیل دا لیکلې دې چه د ستر عورت واجب کیدل د مونځ سره خاص نه دی بلکه په هر حال کښې دی، لهذا د صحت صلاة دپاره به شرط نه وی، لکه په قبضه کړې شوی کور کښې کول چه د هغې نه ځان ساتل د صحت صلاة دپاره شرط نه دې ځکه چه د غصب نه بچ کیدل په هر حال کښې ضروری دی د صلاة سره خاص نه دی او د جمهورو دلیل هغوی ﴿ لا یقبل الله صلاة حائض الا بخمار ﴾ او د سلمه بن الاکوع حدیث کوم چه په کتاب کښې راروان دې ﴿وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ ﴾ ذکر کړې دې.

په حد العورت کښې د علماؤ اختلاف

د دې مقام مناسب یوه مسئله بله بیانول ضروری دی او هغه دا چه د عورت حد د کوم چه پټول ضروری دی هغه څه دې، پس امام بخاری رحمه الله هم دلته د ثوب مصلی ابواب ذکر کړې دی هلته یو باب "باب ما یستر من العورة" هم ذکر کړې دې.

پس ځان پوهه کړئ چه د ظاهریه په نزد د عورة مصداق صرف سوئتین دې یعنی قبل او دبر د باقی بدن ستر ضروری نه دې، هم دا یو روایت د امام احمد دې کما فی المغنی (ج ۱ ص ۵۷۸) او د ائمه ثلاثه په نزد د سړی د عورت حد ما بین السرة والرکبة دې، او د احنافو په نزد من السرة الی الرکبة په داسې طریقه چه ﴿ سرة ﴾ د عورة د حد نه خارج او رکبه په دې کښې داخله ده، په خلاف د ائمه ثلاثه چه د هغوی په نزد رکبه هم د حد عورت نه خارج ده، شیخ المشائخ حضرت شاه ولی الله صاحب د بخاری په تراجم کښې د امام مالک مذهب تقریبا د اهل ظواهر په شان لیکلې دې او دا چه فخذین د هغوی په نزد په حد عورت کښې داخل نه دی، خو دا د هغه یو قول دې.

اوس پاتې شوه مسئله د زنانه چه د هغې حد څه دې، پس پوهه شه چه د جمهورو په نزد په ﴿امة ﴾ او ﴿ حرة ﴾ کښې فرق دې، د وینزې عورت د سړی په شان دې او د سړی حکم وراندې تیر شو، الا الظاهریة وهم لا یفرقون فی ذلک بین الحرة والامة. او د ازادې زنانه عورت پوره بدن دې البته د بعض اندامونو استثناء شته لکه مخ او دواړه لاسونه، د اول استثناء خو د ائمه اربعه په نزد متفق علیه ده او د کفین استثناء د احنافو او شوافعو او مالکیانو ترمینځه ده، د حنابله په دې کښې دوه روایتونه دی په یو کښې استثناء ده او په یو کښې نشته کما فی المغنی.

د زنانو په قدمین کښې اختلاف

او د قدمین استثناء د ائمه ثلاثه په نزد نشته، د هغوی په نزد قدمین د عورت په حد کښې

داخل دی، د احنافو په دې کښې دوه روايتونه دی خو په هدايه او در مختار کښې عورت نه کيدل اصح منلې شوې دی، ([1]) او دريم روايت هغه دې کوم چه په شامی کښې دې چه قدمين عورت دې د مانځه نه بهر، نه په مانځه کښې.

منشاء د اختلاف

په اصل کښې دا اختلاف مبنی دې د آيت کريمه (ولا يبدين زينتهن الا ما ظهر منها) په تفسير باندې، په آيت کښې د زينت نه مراد مواضع د زينت دی، بيا د زينت په مواضع ظاهره کښې اختلاف دې بعضو وجه (مخ) او کفين (دواړه ورغوی يعنی لاسونه) گرځولی د ی، چه کحل (رانجه) د مخ زينت دې او خاتم (گوتمه) د کف زينت دې، او بعضو په دې کښې قدمين هم داخل کړی دی ځکه چه په خپو کښې هم گوتمه اچولې شی چه هغې ته فتحنه (پازيب) وائی، نو گويا د زينت ظاهره مصداق درې څيزونه شو، کحل (رانجه)، خاتم (گتمه) او فتحنه (پازيب)، او مراد ددې ځايونه دی.

يوه بله اختلافی مسئله

دلته يوه مسئله بله ده او هغه دا چه د امام شافعی رحمه الله په نزد د عورت انکشاف په مانځه کښې مطلقا مفسد صلاة دې او د احنافو او حنابله په نزد انکشاف يسير معاف دې کما فی المغنی. او د يسير مصداق زمونږ فقهاء کرامو ما دون ربع العضو ليکلې دې لهذا د اندام څلورمه حصه مکمل ښکاره کيدو سره به مفسد وی.

[۶۲۵] ([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوَلِكُلِّكُمْ ثَوْبَانِ؟".

ترجمه: د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دې، بيشکه د رسول الله ﷺ نه تپوس وشو په باره د مونځ کولو کښې په يوه جامه کښې، نو ووېل نبی ﷺ: ايا په تاسو کښې د هر سړی دوه جامې دې.

تشريح: **قوله**:(اولکلکم ثوبان) رسول الله ﷺ د صلاة فی ثواب واحد په باره کښې سوال کړې شوې دې چه په هغې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ايا په تاسو کښې هر يو سره دوه دوه کپړې دی، مطلب دا دې چه په ثواب واحد کښې مونځ جائز دې.

صلاة فی ثوب احد په اتفاق د ائمه اربعه جائز دې، بعض صحابه کرام لکه د ابن مسعود نه ددې ممانعت منقول دې، پس د مصنف عبدالرزق په روايت کښې دی چه يو ځل د ابی بن کعب رضی الله عنه او ابن مسعود رضی الله عنه په دې مسئله کښې اختلاف پيدا شو، سيدنا ابی رضی الله عنه فرمائيل چه (لا باس به) او ابن مسعود رضی الله عنه فرمائيل چه (انما کان ذلک اذا کان الناس لا يجدون ثيابا فاما اذا وجدوها فالصلاة فی ثوبين)، سيدنا عمر رضی الله عنه هلته ناست وو هغه اوفرمائيل

---

[1]) حضرت شيخ په بذل کښې ليکی : قلت ويظهر من هامش الهداية عکسه فتامل)

[2]): صحيح البخاري/الصلاة ٤ (٣٥٨)، صحيح مسلم/الصلاة ٥٢ (٥١٥)، سنن النسائي/القبلة ١٤ (٧٦٤)، (تحفة الأشراف: ١٣٢٣١)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٩ (١٠٤٧)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ٩ (٣٠)، مسند احمد (٢/٢٣٠، ٢٣٩، ٢٨٥، ٣٤٥، ٤٩٥، ٤٩٨، ٤٩٩، ٥٠١)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٩ (١٤١٠) (صحيح)

﴿الصواب ما قال ابی لا ما قال ابن مسعود ﴾ (منهل) هم دغه شان د ابن مسعود ﷛ نه نقل دی چه په ثوب واحد کښې مونځ نه دی کول پکار ﴿ وان كان اوسع من السماء ﴾ (هامش کوکب) خو په دې باندې اجماع ده چه صلاة فی ثوبين افضل دې او د رسول الله ﷺ په ثوب واحد کښې مونځ کول کله خو به د کپړې د نه کيدو د وجې نه وو او کله به ئې باوجود د کيدو نه د بيان جواز دپاره، اصل په دې کښې دا دې چه مونځ په معتاد او مناسب جامه او هيئت کښې کول پکار دی، چه په کومه جامه او هيئت کښې چه انسان د لويو خلقو سره ملاويدل او مجامع کښې شرکت نه خوښوی داسې هيئت په مونځ کښې هم اختيارول پکار نه دی، پس فقهاء کرامو ثياب بذله (په خيرنو او ګډو وډو) کښې مونځ کولو ته مکروه وئيلې دی.

[٦٢٦]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُصَلِّ أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ".

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ نه روايت دې، هغه وئيلی دی، فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: مونځ دې نه کوی يو کس ستاسو نه په يوه جامه کښې چې نه وی د هغه په اوږو باندې د هغې نه څه شی.

تشريح: **قوله**:﴿ لا يصل احدكم فی الثوب الواحد ليس علی منکبيه منه شئ ﴾ د دې نه معلومه شوه چه انسان که په ثوب واحد کښې مونځ اوکړی نو هغه دې داسې استعمالوی چه د بدن پورته حصه هم پټه وی د لنګ په شان دې په بدن پورې دې نه تړی، دا هم هغه معتاد او مناسب هيئت والا خبره ده کومه چه مونږ پورته بيان کړې ده خو دا هم هغه وخت ده چه کله په دې کپړه کښې ددې ګنجائش وی، او که هغه زيات وړوکې وی نو بيا يقينا د بدن په مينځ کښې به هغه تړلې شی.

مذاهب ائمه

د جمهور علماء کرامو په نزد دا نهی د تنزيه دپاره ده وعند احمد ﴿ للتحريم ﴾، يو قول د هغوی دا دې چه په دې صورت کښې به مونځ صحيح نه وی، بل قول د هغوی دا دې چه مونځ خو به صحيح شی، خو ګناهګار به وی.

[٦٢٧]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، الْمَعْنَى عَنْ هِشَامِ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فِي ثَوْبٍ، فَلْيُخَالِفْ بِطَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ".

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ نه روايت دې، هغه وئيلی دی، فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: کله چې مونځ کوی يو کس ستاسو نه په يوه جامه کښې تاو دې کړی دواړه طرفونه د هغې په غاړه کښې.

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ٥٢ (٥١٦)، سنن النسائي/القبلة ١٨ (٧٧٠)، (تحفة الأشراف: ١٣٦٧٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٥ (٣٥٩)، مسند احمد (٢/٢٤٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٩ (١٤١١) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصلاة ٥ (٣٦٠)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٥٥، ٢٦٦، ٤٢٧، ٥٢٠) (صحيح)

[۶۲۸]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُلْتَحِفًا مُخَالِفًا بَيْنَ طَرَفَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْهِ".

ترجمه: د عمرو بن سلمة ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دي ما وليدلو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو په يوه جامه کښې مشتمل په هغه او تاو کړيې وو دواړه طرفونه د هغې په اوږو خپلو باندې.

[۶۲۹]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مُلَازِمُ بْنُ عَمْرٍو الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَدْرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَدِمْنَا عَلَى نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَ رَجُلٌ، فَقَالَ: "يَا نَبِيَّ اللَّهِ، مَا تَرَى فِي الصَّلَاةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ؟ قَالَ: فَأَطْلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِزَارَهُ طَارَقَ بِهِ رِدَاءَهُ فَاشْتَمَلَ بِهِمَا، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى بِنَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أَنْ قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ: أَوَكُلُّكُمْ يَجِدُ ثَوْبَيْنِ؟".

ترجمه: قيس بن طلق د خپل پلار نه روايت کوي، هغه وئيلي دي، مونږ راغلو نبی ﷺ ته نو راغي يو سړی ويې وئيل: اې د الله نبی! ستا څه خيال دی د مونځ کولو باره کښې په يوه جامه کښې، هغه وايي: ايله کړو رسول الله ﷺ خپل لنګ جوړه ئې کړو د خپل څادر سره، نو هغه راواچولې په ځان، بيا پاځيدلو مونځ وکړو مونږ ته نبی ﷺ، هرکله چې ئې مونځ پوره کړو هغه وويل: ايا هر يو په تاسو کښې بياموخي دوه جامې؟ (يعنی هرچا سره دوه جامې کيدل ضروری نه دی نوبيا په يوه جامه کښې به مونځ ولې صحيح نه وی).

بَابُ الرَّجُلِ يَعْقِدُ الثَّوْبَ فِي قَفَاهُ ثُمَّ يُصَلِّي

باب دې په بيان د سړي کښې چې تړي جامه په خپل څټ کښې او بيا مونځ کوي

[۶۳۰]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: "لَقَدْ رَأَيْتُ الرِّجَالَ عَاقِدِي أُزُرِهِمْ فِي أَعْنَاقِهِمْ مِنْ ضِيقِ الْأُزُرِ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ كَأَمْثَالِ الصِّبْيَانِ، فَقَالَ قَائِلٌ: يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، لَا تَرْفَعْنَ رُءُوسَكُنَّ حَتَّى يَرْفَعَ الرِّجَالُ".

ترجمه: د سهل بن سعد نه روايت دې هغه وئيلي دي بيشکه ما ليدلي وو سړي چې تړلي ئې وو خپل لنګونه په څټونو کښې د وجې د تنګوالی نه وروسته د رسول الله ﷺ نه په مانځه کښې پشان د ماشومانو، نو وويل يو ويونکي: اې ټولګی د ښځو تاسو خپل سرونه مه اوچتوئ تردې چې سړی ئې اوچت کړي

د ثوب واحد اقسام ثلاثه او د هر يو د استعمال طريقه

ځان پوهه کړه چه ثوب واحد چه په هغې کښې انسان مونځ کوی د هغې درې قسمونه دی، ضيق، وسيع، اوسع، که ضيق دې نو په حديث کښې د هغې طريق استعمال اتزار دې يعنی

---

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ۵۲ (۵۱۷)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۴۲ (۳۳۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۸۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ۴ (۳۵۵)، سنن النسائي/القبلة ۱۴(۷۶۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۶۹ (۱۰۴۹)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ۹ (۲۹)، مسند احمد (۲۶/۴، ۲۷) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۰۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲/۴) (صحيح)

[3]: صحيح البخاري/الصلاة ۶ (۳۶۲)، والأذان ۱۳۶ (۸۱۴)، والعمل في الصلاة ۱۴ (۱۲۱۵)، صحيح مسلم/الصلاة ۲۹ (۴۴۱)، سنن النسائي/القبلة ۱۶ (۷۶۷)، (تحفة الأشراف: ۴۶۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۳۱/۵) (صحيح)

لنګ اود پاجامې په شان دا د بدن په مينځ کښې ترل پکار دی، او که وسيع دې نو په ځانې د مينځ کښې ترلو نه سته نه نزدې راوستلو سره غوټه ورکول لکه چه په دې ترجمه کښې ذکر شوې دی، او د قسم ثالث يعنی اوسع حکم دا دې چه دا دې استعمال کړې شي په مخالفة بين الطرفين سره لکه چه په حديث کښې ذکر شوې دی. يعنی ددې کپړې ښي پلو دې په ګس طرف باندې او ګس پلو دې په ښئ اوګه باندې واچولې شی. مخالفة بين الطرفين هم په هغه څادر کښې کيدې شی کوم چه زيات وسيع وی. او کوم چه کم وسيع وی په هغې کښې به غوټه لګوی. په سټ باندې. او د زيات وړوکوالی په صورت کښې به د بدن په وسط کښې ترلې شی. د مصنف په تراجم ابواب او ددې سلسلې د احاديثو نه هم دا تفصيل مستفاد کيږی

بَابُ الرَّجُلِ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ بَعْضُهُ عَلَى غَيْرِهِ

باب دې په بيان د سړي کې چې مونځ کوي په يوه جامه کې بعضې حصه يې په بل پرته وي

[۶۳۱] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ بَعْضُهُ عَلَيَّ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې ويلی دي بيشکه نبی صلی ا لله عليه وسلم مونځ وکړو په يوه جامه کښې او بعضې حصه په ما پرته وه

تشريح: په دې باب کښې مصنف چه کوم حديث ذکر کړې دې هغه باب الصلاة فی شعر النساء کښې تير شوې دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُصَلِّي فِي قَمِيصٍ وَاحِدٍ

باب دې په بيان د سړي کې چې مونځ کوي په يو قميص کې

[۶۳۲] (²) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي رَجُلٌ أَصِيدُ، "أَفَأُصَلِّي فِي الْقَمِيصِ الْوَاحِدِ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ".

ترجمه: د سلمة بن الاکوع نه روايت دې هغه ونيلی دي ما تپوس وکړو ای د الله رسوله! زه ښکار کونکی سړی يم. آيا زه مونځ وکړم په يو قميص کې؟ هغه وفرمائيل آو، او ويې تړه اګر که په غنه باندې وي

تشريح: په ثوب واحد کښې د مونځ کولو دوه صورتونه دی. يا خو به هغه کپړه د څادر د قسم نه وی. يا د قميص په شکل کښې. دا دويم صورت دلته بيانولې شی

شرح حديث

قوله: ﴿ يا رسول الله صلی الله عليه وسلم انی رجل اصيد فاصلی فی القميص الواحد ﴾ سلمه بن الاکوع رضي الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه زه اکثر د ښکار دپاره ځم او د ښکاری دپاره

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۷۱)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ۵۱ (۵۱٤)، سنن النسائي/القبلة ۱۷ (۷۶۹)، سنن ابن ماجه/الطهارة ۱۳۱ (۶۵۲)، مسند احمد (۲۰٤/۶) (صحيح)

²): سنن النسائي/القبلة ۱۵ (۷۶۶)، (تحفة الأشراف: ٤۵۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤۹/٤، ٥٤) (حسن)

د څادر او لنګ سنبهالول د منډو د وجې نه ګران وي، نو ايا په يو قميص کښې مونځ اوکړم (قميص چونکه سنبهالولو ته ضرورت نه وي په دې وجه په دې کښې سهولت دې خصوصا د ښکار کونکي دپاره) په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿ نعم وازرره ولو بشوكة ﴾ چه او کوه، خو د هغه قميص ګريوان تړه اګر که په ازغي سره ولې نه وي، ځکه چه ګريوان که پرانستلې وو نو په رکوع کښې يا په بل څه حالت کښې په خپل عورت باندې د نظر پريوتلو امکان دې ﴿ وازر ﴾ د امر صيغه ده د زرر يزر د باب نصر نه وئيلې شي تړلو ته چه د هغې جمع ازرار راځي، په حديث کښې لفظ د ﴿ اصيد ﴾ مذکور دې په ظاهره کښې دا د واحد متکلم صيغه ده په وزن د ﴿ ابيع ﴾، او وئيلې شوې دی چه لفظ ﴿ اصيد ﴾ دې په وزن د ﴿ احمر ﴾، چه د هغې معنی ده هغه سړې چه د هغه په سټ کښې څه تکليف وي چه د هغې په وجه باندې هغې ته حرکت ورکول او التفات کول ګران وي.

لو وقع نظر المصلي على عورته

په دې حديث کښې د ګريوان د تړلو حکم ورکړې شوې دې ددې وجه دا بيان کړې شوې ده چه په عورت باندې نظر پريوځي دا مسئله مختلف فيه ده.

د امام شافعي او احمد په نزد د مصلي نظر په خپل ستر باندې پريوتلو سره مونځ فاسد کيږي او د مالکيانو په دې کښې اختلاف دې، زمونږ په نزد هم دې کښې دوه اقوال دی خو راجح عدم فساد دې (من هامش البذل) د دې حديث نه ابن قدامه د صحة صلاة دپاره د ستر عورت په شرط کيدو باندې استدلال کړې دې. كما تقدم

[۶۳۲] ()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي حَوْمَلٍ الْعَامِرِيِّ، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا قَالَ، وَالصَّوَابُ: أَبُو حَرْمَلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَمَّنَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ فِي قَمِيصٍ لَيْسَ عَلَيْهِ رِدَاءٌ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي قَمِيصٍ".

ترجمه: د ابو حومل نه روايت دې، وئيلي دی ابوداود: دارنګه ويلي دي: او صحيح ابو حرمل دی، هغه روايت کوی د محمد بن عبد الرحمن بن ابی بکر نه او هغه ئې د خپل پلار نه کوي، هغه وايي: امامت وکړو مونږ ته جابر بن عبد الله په يو قميص کښې چې نه وو په هغه باندې څادر، هرکله چې فارغ شو هغه ووېل: ما ليدلی وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو په يو قميص کښې.

بَابُ إِذَا كَانَ الثَّوْبُ ضَيِّقًا يَتَّزِرُ بِهِ

باب دی، کله چې جامه تنګه وي نو لنګ دې تړېنه ووهي

د ثوب ضيق حکم زمونږ په کلام کښې مخکښې تير شو، او دا چه ثواب واحد چه په هغې کښې مونځ کولې شی د هغې درې قسمونه دی تفصيل مخکښې تير شو.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۳۷۹)، وقد أخرجه: وقد ورد بلفظ: «ثوب واحد» عند: صحيح البخاري/الصلاة ۳ (۳۵۳)، صحيح مسلم/الصلاة ۵۲ (۵۱۸)، مسند احمد (۲۹۳/۳، ۲۹۴) (ضعيف)

[۶۲۴] (١) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، وَيَحْيَى بْنُ الْفَضْلِ السِّجِسْتَانِيُّ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَاتِمٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ مُجَاهِدٍ أَبُو حَزْرَةَ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: أَتَيْنَا جَابِرًا يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "سِرْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ، فَقَامَ يُصَلِّي وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ ذَهَبْتُ أُخَالِفُ بَيْنَ طَرَفَيْهَا فَلَمْ تَبْلُغْ لِي، وَكَانَتْ لَهَا ذَبَاذِبُ فَنَكَّسْتُهَا ثُمَّ خَالَفْتُ بَيْنَ طَرَفَيْهَا ثُمَّ تَوَاقَصْتُ عَلَيْهَا لَا تَسْقُطُ، ثُمَّ جِئْتُ حَتَّى قُمْتُ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي حَتَّى أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ، فَجَاءَ ابْنُ صَخْرٍ حَتَّى قَامَ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَنَا بِيَدَيْهِ جَمِيعًا حَتَّى أَقَامَنَا خَلْفَهُ، قَالَ: وَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمُقُنِي وَأَنَا لَا أَشْعُرُ، ثُمَّ فَطِنْتُ بِهِ فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنْ أَتَّزِرَ بِهَا، فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يَا جَابِرُ، قَالَ: قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: إِذَا كَانَ وَاسِعًا فَخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ، وَإِذَا كَانَ ضَيِّقًا فَاشْدُدْهُ عَلَى حِقْوِكَ".

ترجمه: عبادة بن الصامت وايي چي مونږ راغلو جابر بن عبد الله ته، هغه وئيلي دي، زه لاړم د نبی ﷺ سره په يوه غزا کښې، نو پاڅيدلو چي مونځ ئې کولو، او په ما باندې يو څادر وو زه شروع شوم چي راتاوول مې دواړه طرفونه د هغې نو هغه ونه رسيدل ماته، او د هغې څونډې وو ما هغه جامه نسکوره کړه بيا مې دواړه طرفونه د هغې راتاو کړل، بيا ورکوږ شوم په هغې چي ونه غورځېږي، بيا راغلم تردې چي ودريدم ګس طرف د رسول الله ﷺ ته، نو ويې نيولو زما لاس او راتاويې کړم تردې چي زه ئې ودرولم ښي طرف ته، راغې ابن صخر تردې چي د هغه چپ طرف ته ودريدو نو مونږې ونيولو په دواړو لاسونو باندې، تردې چي مونږ ئې شاته ودرولو، هغه وايي: او شروع شو رسول الله ﷺ چي کتل ئې ماته او زه نه پوهيدم، بيا پوهه شوم، اشاره ئې وکړه ماته چي زه لنګ ووهم، هرکله چي فارغ شو رسول الله ﷺ هغه وويل: اې جابره ما وويل: حاضر يم اى د الله رسوله! هغه وفرمائيل: کله چي کولاو وي نو تاو کړه دواړه طرفونه د هغې، او چي کله تنګ وي نو ويې تړه په خپل دوډې باندې.

مضمون حديث

قوله:《 قال الينا جابرا يعنى ابن عبدالله قال : سرت معى النبى صلى الله عليه وسلم فى غزوة الخ 》 د دې غزوه نه مراد غزوه بواط ده لکه چه د مسلم په روايت کښې تصريح ده، سيدنا جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د بعض سفرونو ذکر کوی، حديث ډير اوږد دې کوم چه د مسلم شريف د جلد ثانی په اخر کښې دې مصنف د هغې دلته يوه ټکړه ذکر کړې ده چه د هغې مضمون دا دې، رسول الله ﷺ مونځ کولو ما سوچ اوکړو چه زه هم ورپسې شاته نيت اوتړم، ما سره صرف يو څادر وو چه د هغې اغوستلو سره به ما مونځ کولو ما هغه د مخالفة بين الطرفين سره اغوستل اوغوښتل خو هغه وانغوستلې شو. په هغه څادر کښې يو طرف ته د جال په شان حصه وه هغه ارخ ئې لاندې طرف ته وو په دې وجه ما هغه څادر تاؤ کړو چه هغه لاندې طرف ئې پورته راشي او هغه جالی داره حصه پورته طرف ته شي او د هغې په وجه باندې ماته د څادر په سنبهالی کښې څه مدد ملاؤ شي، پس ما هغه څادر د مخکښې په شان د

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۳۶۰)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ۲۶ (۱۷۸۸)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٤ (۹۷۳)، مسند احمد (۳۵۱/۳) (صحيح)

مخالفة بين الطرفين سره واچولو او هغه چال به پورته راغلي وو او د هغې په ذريعه ما د هغه څادر سرونه د خپلې زنې لاندې کړل ددې دپاره چه هغه څادر پرې نه اوځي، بيا مې هم په دې حالت کښې په رسول الله ﷺ پسې شاته نيت اوتړلو، رسول الله ﷺ زما لاس اونيولو او زه ئې د ګس نه ښي طرف ته راواړولم، لږ ساعت پس زما ملګرې (چه د هغه نوم جبار بن صخر دې لکه چه د مسلم په روايت کښې دی) هغه هم راغلو او په رسول الله ﷺ پسې ئې شاته نيت اوتړلو، رسول الله ﷺ مونږ دواړه په خپلو لاسونو مبارکو سره شاته ديکه کړو، او رسول الله ﷺ ماته په مونځ کښې مسلسل کتل خو زه د هغه په اشاره باندې متوجه نه شم، لږ ساعت پس زه پوهه شوم چه هغه ماته په اشارې سره څه حکم کوی، او هغه اشاره دا وه چه چونکه دا څادر وړوکي دې او په دې کښې د مخالفة بين الطرفين ګنجائش نشته لهذا دا د خپل بدن په مينځ باندې اوتړه، او بيا د مونځ نه فارغ کيدو باندې ئې هم دا خبره په ژبې سره ارشاد اوفرمائيله.

باب الإسبال في الصلاة

باب دې په بيان د اسبال کې (پرتوګ د ګيټو نه لاندې) په مانځه کې

د اسبال لغوی معنی پرده وغيره سسته پريخودل دی، او دلته مراد دا دې چه قميص يا ازار د ګيټو نه لاندې کول کوم چه د سړو دپاره ممنوع دې.

د اسبال ازار حکم

علماء کرامو ليکلي دی چه که دا د خيلاء د وجې نه وی نو بيا حرام دې او که هم داسې د بې توجه کيدو يا غفلت د وجې نه وی نو بيا مکروه دې، او که د څه عذر او مجبورئ د وجې نه وی نو بيا مکروه هم نه دې، لکه چه د صديق اکبر ﷛ په باره کښې راځي چه هغه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه زما لنګ لاندې کيږی نو هغه ورته اوفرمائيل چه ستا دا فعل د خيلاء د وجې نه نه دې، په لامع کښې چرته ليکلي دی چه ابوبکر صديق ﷛ د بدن نه مانده وو او خيټه ئې دننه وه په دې وجه به د هغه لنګ پخپله لاندې شو، او ددې بالمقابل د علي ﷛ بدن دروند او د هغه خيټه بهر راوتلې وه په دې وجه به ئې لنګ ښکته کيدو، بهرحال په داسې شکل کښې هيڅ کراهت نشته

[٦٣٨](١)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّي مُسْبِلًا إِزَارَهُ إِذْ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ"، فَذَهَبَ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ جَاءَ، ثُمَّ قَالَ: اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ، فَذَهَبَ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ ثُمَّ سَكَتَّ عَنْهُ؟ فَقَالَ: إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ، وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ إِزَارَهُ".

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ نه روايت دې، هغه وئيلي دي يو سړی وو چې مونځ ئې کولو لنګ ئې خکته وو، وويل هغه ته رسول الله ﷺ لاړ شه اودس وکړه لاړلو اودس ئې وکړو، بيا راغلو، لاړ شه اودس وکړه لاړلو اودس ئې وکړو بيا راغلو، نو يو سړی ورته وويل اې د

(١): تفرد به أبو داود، وأعاده في اللباس (رقم: ٤٠٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٤١) (ضعيف)

الله رسوله' څه دې تالره چې امر دې ورته وکړو په اودس، بيا چوپ شولو د هغه نه، وې فرمائيل: ده مونځ کولو او لنګ ئې خکته وو او بيشکه الله تعالى نه قبلوې مونځ د سړې چې لنګ ئې خکته وې.

مضمون حديث

قوله:﴿ بينما رجل يصلي مسبلا ازاره الخ ﴾ يو سړي د اسبال ازار سره مونځ کولو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه لاړ شه اودس اوکړه، هغه لاړو او اودس ئې اوکړو، رسول الله ﷺ ورته دوباره حکم اوکړو چه لاړ شه او دوباره اودس اوکړه، هغه دوباره اودس اوکړو، يو سړي عرض اوکړو چه تاسو هغه ته د اودس کولو حکم ولې اوکړو؟ هغه ددې وجه دا بيان اوفرمائيله چه د اسبال ازار په حالت کښې الله پاک ته د انسان مونځ نه قبليږي.
اسبال ازار چونکه بعض وخت د تکبر په بناء باندې وی کومه چه يو باطنی ګندګی ده ځکه رسول الله ﷺ هغه ته د طهارة الظاهر حکم اوفرمائيلو ددې دپاره چه د هغې په اثر سره طهارت باطن حاصل شي ځکه چه الله پاک د ظاهر او باطن ترمينځه يو خاص قسم جوړ ساتلي دې، او دوباره به ئې هغه ته د اودس کولو حکم په دې وجه ورکړې وی چه په اول ځل به مقصود ښه طريقې سره نه وی حاصل شوې.

[٦٣٧]()حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ أَبِي عَوَانَةَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ أَسْبَلَ إِزَارَهُ فِي صَلَاتِهِ خُيَلَاءَ، فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي حِلٍّ وَلَا حَرَامٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا جَمَاعَةٌ، عَنْ عَاصِمٍ، مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ مَسْعُودٍ، مِنْهُمْ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَأَبُو الْأَحْوَصِ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ.

ترجمه: د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وئيلي دی، ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه به وئيل: چا چې خکته کړو خپل لنګ په مانځه خپل کښې د وجې د کبر نه نو نه دی د الله د طرف نه په حل او حرمت کښې. وئيل دی ابوداود: روايت کړی دی ددې يو جماعت د عاصم نه په موقوفيت ددې سره په ابن مسعود باندې، بعضې د دوی نه حماد بن سلمة دی او حماد بن زيد دی او ابو الاحوص دی، او ابو معاوية دی.

تشريح: قوله: ﴿ فليس من الله في حل ولا حرام ﴾ يعنی کوم سړي چه په مونځ کښې (د تکبر د وجې نه) اسبال ازار کوی د هغه حال دا دې کوم چه په حديث کښې مذکور دې.

شرح حديث

د جملې په مطلب کښې د شارحينو مختلف اقوال دی.

۱: دا ماخوذ دې د عربو د قول ﴿فلان لا ينفع للحلال ولا للحرام﴾ يعنی فلانې سړې ناکاره او بيکاره دې د خلقو په نزد د هغه هيڅ عزت نشته او نه د هغه يو فعل قابل اعتبار دې،

۲: او يا ئې دا مطلب دې چه دا سړې نه خو يو جائز او حلال کار کوی او نه د الله پاک په نزد د هغه څه احترام دې،

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٩٣٧٩) (صحيح)

۳: يا ئې دا مطلب دې چه د هغه سړي دپاره نه جنت حلال دې او نه جهنم حرام،
۴: او يا دا مطلب دې چه دا سړې د الله پاک په نزد داسې دې چه هغه ته نه د حلال خبر او پرواه شته او نه د حرام.

باب من قال يتزر به اذا كان ضيقا

باب: څوک چه وائي چه کپړه وړه وي نو د لنګ په شان ترل پکار دي

په دې قسم بابونو کښې دفع تکرار

دا باب په ظاهره مکرر دې هم ددې په شان باب مخکښې تير شو، حضرت په بذل کښې ددې جواب دا ليکلې دې چه په تير شوي حديث کښې ﴿ فاشدده على حقوك ﴾ لفظ راغلي دي، صريح لفظ اتزار هلته نه وو اګر چه معنى د دواړو يوه ده نو ګويا مصنف د الفاظ حديث اتباع او رعايت کښې داسې کړې دي، خو صاحب منهل ددې سره هيڅ تعرض نه دې کړې، يو جواب دا کيدې شي چه په حديث الباب کښې دا مذکور دي چه که انسان سره يوه کپړه وي نو د هغې نه اتزار کول پکار دي، په حديث کښې د ثوب واحد په حق کښې مطلقاً د اتزار وئيلي شوې دي حال دا چه دا حکم په هغه صورت کښې دې چه کله هغه کپړه وړه او تنګه وي، په دې وجه مصنف د حديث د مقيد کولو دپاره په هغې باندې دا ترجمه قائم کړې ده نو ګويا دا ترجمه شارحه شوه،(١) د بخاري شريف هم په بعض تراجم کښې په بعض صورتونو کښې هم دا توجيه کولې شي چه دا ترجمه شارحه ده.

[٦٣٥]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْقَالَ: قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: "إِذَا كَانَ لِأَحَدِكُمْ ثَوْبَانِ فَلْيُصَلِّ فِيهِمَا، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ فَلْيَتَّزِرْ بِهِ وَلَا يَشْتَمِلِ اشْتِمَالَ الْيَهُودِ".

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روايت دې، هغه وئيلي دي، چې فرمائيلي دي رسول الله ﷺ: يا هغه ووېل: چې وئيلي دي عمر رضى الله عنه: کله چې وې يو ستاسو لپاره دوه جامې نو مونځ دې کوي په هغې کښې که چرې نه وې مګر يوه جامه نو لنګ دې ووهي، او اشتمال دې نه کوي پشان د اشتمال د يهودو.

د اشتمال اليهود والصماء تفسير

قوله: ﴿ ولا يشتمل اشتمال اليهود ﴾ او د يهودو په شان دې څادر نه راتولوي، اشتمال يهود دا دې چه څادر داسې په خپل بدن باندې راتول کړي د پورته نه لاندې چه د لاسونو بهر راوتل ئې ګران شي، په دې کښې د تشبه باليهود نه علاوه د ضرر رسيدو ويره هم ده، که غورځيږي نو خپل ځان به څنګه بچ کوي، دغه شان به ئې د ضرري حيوان نه بچ کيدل هم

(١) په دې توجيه باندې دا اشکال کيدې شي چه که د مصنف مقصود شرح حديث وي نو هغه حديث به ئې هم د تير باب د لاندې راوړې وې هغې سره به هم د شرح حديث فائده حاصله شوې وه، اللهم ﴿الا ان يقال﴾ چه د اهتمام په قصد ئې ددې دپاره مستقل باب ترلې دې.

(٢): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٧٥٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٨/٢) (صحيح)

ګران وی ځکه چه دواړه لاسونه خو ئې دننه دی، او هم دا تفصيل د اشتمال الصماء هم کړې شوې دې، د بخاری شريف په يو روايت کښې دی ﴿ نهی رسول الله صلی الله عليه وسلم عن اشتمال الصماء ﴾ په اصل کښې دا د ﴿ الصخرة الصماء ﴾ نه اخستلې شوې دې، هغه مضبوط کاڼړې چه په هغې کښې منفذ او سورې نه وی، او بعض علماء کرامو د اشتمال الصماء تفسير دا کړې دې چه يوه کپړه دې داسې واچوی چه د هغې د راټولولو نه پس د هغې يو سر اوچت کړی او په اوږه دې واچوی، په دې صورت کښې د کشف عورت احتمال دی.

[٦٣٦]( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ الذُّهْلِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ يَحْيَى بْنُ وَاضِحٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُنِيبِ عُبَيْدُ اللَّهِ الْعَتَكِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُصَلِّيَ فِي لِحَافٍ لَا يَتَوَشَّحُ بِهِ وَالْآخَرُ أَنْ تُصَلِّيَ فِي سَرَاوِيلَ وَلَيْسَ عَلَيْكَ رِدَاءٌ".

ترجمه: عبد الله بن بريدة روايت کوی د خپل پلار نه، هغه وئيلی دي: منع کړې ده رسول الله ﷺ چې مونځ وکړی په لحاف کښې او ځان نه پټوې په هغې، او بل دا چې ته مونځ وکړی په پرتوګ کښې او په تا باندې څادر نه وې.

بَابٌ فِي كَمْ تُصَلِّي الْمَرْأَةُ

باب دی، په څو جامو کښې به ښځه مونځ کوی

[٦٣٩]( )حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ قُنْفُذٍ، عَنْ أُمِّهِ، أَنَّهَا سَأَلَتْ أُمَّ سَلَمَةَ: مَاذَا تُصَلِّي فِيهِ الْمَرْأَةُ مِنَ الثِّيَابِ؟ فَقَالَتْ: "تُصَلِّي فِي الْخِمَارِ وَالدِّرْعِ السَّابِغِ الَّذِي يُغَيِّبُ ظُهُورَ قَدَمَيْهَا".

ترجمه: محمد بن زيد بن قنفذ روايت کوې د خپلې مور نه، بيشکه هغې تپوس وکړو د ام سلمة نه، هغه څو جامې دی چې ښځه پکې مونځ کوې، هغې ووئيل: مونځ به کوې په لوپټه کښې او په قميص اوږد کښې هغه چې د خپو شاګانې پټوې.

تشريح: د جمهورو په نزد د زنانه دپاره د مونځ په جامو کښې د دوه کپړو کيدل واجب دی، خمار او قميص (٣) لکه چه په حديث الباب کښې دی، خمار د سر پټولو او قميص د باقی بدن پټولو دپاره، خو جمهور دا وائی چه مقصود د ټول بدن ستر دې فلو حصل بثوب واحد وسيع جاز. هم دا د ائمه اربعه مذهب دې، وقيل لا بد من ثلاث، وقيل لا بد من اربع، خمار، قميص، ازار، ملحفه، اخری دواړه اقوال د عطاء او ابن سيرين نه نقل دی، ابن قدامه ليکی چه د زنانو دپاره مستحب (د شافعی او احمد په نزد) دا ده چه په درې کپړو کښې مونځ اوکړی، خمار، درع، جلباب يعنی څادر په قميص باندې دپاسه اچولو دپاره.

﴿ والدرع السابغ الذی يغيب ظهور قدميها ﴾ د دې حديث نه معلومه شوه چه د زنانه قدمين د عورت په حد کښې داخل دی لکه چه د ائمه ثلاثه مذهب دې.

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٨٧) (حسن)
[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٢٩١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ١٠(٣٦) (ضعيف موقوف)
[٣]، د قميص نه اوږده کرته مراد ده لاندې پورې (عربی کرته).

د قدمین په عورة ګڼلو باندې استدلال او د احنافو د طرف نه د دې جواب

خو د احنافو د اصح قول خلاف دې، جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې ددې په سند کښې احمد راوی دې د هغه په باره کښې امام ذهبی فرمائی (لا تعرف)، هم دغه شان ددې حدیث په سند کښې اضطراب دې کوم چه مصنف خپله وړاندې بیان کړې دې، او دا چه اکثر راویانو دا حدیث د ام سلمه ﷞ نه موقوفًا او بعض مرفوعا روایت کړې دې لهذا په حدیث کښې ضعف پیدا شو.

[٦٤٠]()حَدَّثَنَا مُجَاهِدُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ دِينَارٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّهَا سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتُصَلِّي الْمَرْأَةُ فِي دِرْعٍ وَخِمَارٍ لَيْسَ عَلَيْهَا إِزَارٌ؟ قَالَ: إِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغًا يُغَطِّي ظُهُورَ قَدَمَيْهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَبَكْرُ بْنُ مُضَرَ، وَحَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، وَابْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، لَمْ يَذْكُرْ أَحَدٌ مِنْهُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَصَرُوا بِهِ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

ترجمه: د ام سلمة ﷞ نه روایت دې، بیشکه هغې تپوس وکړو د رسول الله ﷺ نه، آیا ښځه به مونځ کوې په قمیص او لوپټه کښې چې لنګ ورسره نه وي؟ هغه وفرمائیل: کله چې وې قمیص اوږد پټوې شاکاني د قدمونو. وئیلی دی ابوداود: روایت کړی دی ددې حدیث مالک بن انس او بکر بن مضر او حفص بن غیاث او اسماعیل بن جعفر، او وهب بن ابی ذئب، او ابن اسحاق د محمد بن زید نه، او هغه د خپلې مور نه، او هغې د ام سلمة نه، یو هم نبی ﷺ نه دی ذکر کړی، دوی دا حدیث موقوف کړې دې په ام سلمة باندې.

بَابُ الْمَرْأَةِ تُصَلِّي بِغَيْرِ خِمَارٍ

باب دی چې ښځه مونځ کوي بغیر د څادر نه

[٦٤١]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ الْحَارِثِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَقْبَلُ اللَّهُ صَلَاةَ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ سَعِيدٌ يَعْنِي ابْنَ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د عائشې ﷞ نه روایت دې، هغه روایت کوی د نبی ﷺ نه، بیشکه هغه وئیلی دي: نه قبلوی الله تعالی مونځ د حائضې (بالغې) مګر د څادر سره وئیلی دی ابوداود نقل کړی دی دې لره سعید یعنی ابن ابی عروبة د قتادة نه او هغه د حسن نه او هغه د نبی ﷺ نه.

[٦٤٢]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، أَنَّ عَائِشَةَ نَزَلَتْ عَلَى صَفِيَّةَ أُمِّ طَلْحَةَ الطَّلَحَاتِ فَرَأَتْ بَنَاتٍ لَهَا، فَقَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ وَفِي حُجْرَتِي جَارِيَةٌ فَأَلْقَى لِي حَقْوَهُ، وَقَالَ لِي: "شُقِّيهِ بِشُقَّتَيْنِ، فَأَعْطِي هَذِهِ نِصْفًا وَالْفَتَاةَ الَّتِي عِنْدَ أُمِّ سَلَمَةَ نِصْفًا، فَإِنِّي لَا أُرَاهَا إِلَّا قَدْ حَاضَتْ، أَوْ لَا أُرَاهُمَا إِلَّا قَدْ حَاضَتَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ هِشَامٌ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ.

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٨٢٩١) (ضعيف)

(٢): سنن الترمذي/الصلاة ١٦٠ (٣٧٧)، سنن ابن ماجه/الطهارة ١٣٢ (٦٥٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٤٦)، وقد أخرجه: مسند أحمد (٦/١٥٠، ٢١٨، ٢٥٩) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٥٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٩٦، ٢٣٨) (ضعيف)

ترجمه: د محمد بن سيرين نه روايت دې بيشکه عائشه راغله صفية ته چې مور د طلحة الطلحات ده نو ويې ليدلې لورګانې د هغې، نو هغې وويل: بيشکه رسول الله ﷺ راغې او زما په کوټه کښې يوه جينۍ وه، نو راوېې غورځولو ماته خپل لنګ او وېې وئيل ماته: دا دوه ځانې کړه نيم دې له ورکړه او نيم هغه جنۍ له ورکړه چې د ام سلمة سره ده، بيشکه زه نه وينم هغه مګر دا چې بالغه ده، او يا زه نه وينم هغوی دواړو لره مګر چې بالغې دې. وئيلی دی ابوداود: همداسې روايت کړی دی هشام هم د ابن سيرين نه.

(د زنانه بغير د سر پټولو نه د مونځ حکم)

د ازادې زنانه مونځ بغير د خمار نه يعنی بغير د سر پټولو نه بالاتفاق فاسد دې، خو په دې کښې اختلاف دې چه که مقدار يسير ښکاره شی نو بيا به څه حکم وی؟ نو دا مخکښې تير شو چه د امام شافعي رحمه الله په نزد به په داسې صورت کښې مونځ فاسد نه وی، پس امام ترمذي رحمه الله د حديث الباب د لاندې فرمائی: ﴿ والعمل عليه عند اهل العلم ان المرأة اذا ادركت فصلت وشئ من شعرها مکشوف لا تجوز صلاتها وهو قول الشافعي ﴾ او د احنافو او حنابله په نزد مقدار يسير (ما دون الربع) معاف دې.

(د طلحة الطلحات....وجه تسميه)

﴿ ان عائشة نزلت على صفية ام طلحة الطلحات ﴾ دا د صفيه صفت دې يعنی هغه صفيه کومه چه د طلحة الطلحات مور ده، د طلحة الطلحات نه مراد طلحه بن عبد الله بن خلف دې، هغې ته طلحة الطلحات ولې وئيلې شی؟ ددې لقب کيدو په وجه کښې مختلف اقوال دی، يو قول هغه دې کوم چه د اصمعی نه منقول دې چه طلحه نومی څو رجال دی کوم چه په جود او سخاوت کښې معروف دی، او د هر يو جدا لقب دې هغه دا دی، طلحه بن عبيد الله التيمی، د هغه لقب الفياض دې، طلحه بن عمر بن عبيد الله، دا په طلحه الجواد سره معروف دې، طلحه بن عبد الله بن عوف الزهری دا په طلحة الندی سره معروف دې، طلحه بن الحسن بن علی هغه ته طلحة الخير وئيلې شی. او پنځم دا دې چه څه دلته مذکور دی هغوی ته طلحة الطلحات وئيلې شی ځکه دا په هغوی ټولو کښې زيات سخی وو، او يوه بله وجه ددې دا بيان کړې شوې ده چه د هغه په نيکونو کښې د ډيرو نومونه طلحه وو

﴿ فرات بنات لها فقالت : الخ ﴾ مضمون حديث دا دې چه يو ځل عائشه رضي الله عنها د صفيه رضي الله عنها کره لاړه (هلته ئې د هغې جينکۍ سرتور سر اوليدې) نو په دې ورته عائشې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د زمانې يوه قصه بيان کړه هغه دا چه يو ځل رسول الله ﷺ زما حجرې ته تشريف راوړلو هلته هغه يوه وينزه اوليده چه د هغې سر ښکاره وو نو رسول الله ﷺ د عائشې رضي الله عنها طرف ته يو لنګ ور ګزار کړو او وې فرمائيل دا دوه ټکړې کړه او يو ترې دې وينزې ته ورکړه او يو هغه وينزې ته اوليږه کومه چه د ام سلمه رضي الله عنها کره اوسيږی ځکه چه زما اندازه دا ده چه دا دواړه د بلوغ حد ته رسيدلې دی لهذا اوس هغوی لره سر پټول پکار دی.

صلاة الامة مع كشف الراس

خان پوهه کړه چه مسئله دا ده، د وينزې ستر تور سر مونځ کول جائز دی د هغې په حق کښې

د سر پټول واجب نه دی، په مغنی کښې ليکلي دی ﴿لا نعلم احدا خالف فی هذا الا الحسن﴾ د جمهورو دليل هغوی دا ليکلي دي چه يو ځل عمر ﷺ يوه وينزه لوپټه په سره اوليده، نو وې فرمائيل ﴿اکشفی راسک ولا تشبهی بالحرائر﴾ او دلته چه رسول الله ﷺ د ستر د پټولو اوفرمائيل نو کيدې شی چه هغه جينئ حره وی يا د احتياط او تعلم ادب دپاره ئې داسې کړې وی.

د وينزې او ازادې زنانه د عورت حد سره د اختلاف نه مخکښې په تفصيل سره تير شو.

بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د سدل کې په مانځه کې

د سدل په تفسير کښې اقوال

دلته دوه ځيزونه دی، د سدل تفسير او بل د هغې حکم، ددې ډير تفسيرونه کړې شوې دی، ارسال الثوب وجره خيلاء، يعنی قميص او ازار لره زيات اوږدول چه هغې ته اسبال هم وئيلې شی چه د هغې باب وړاندې تير شوې دې، او يو تفسير دا کړې شوې دې کوم چه په اشتمال اليهود کښې تير شوې دې چه څادر داسې اچول چه دواړه لاسونه هم پکښې بند شی، او معروف تفسير ددې دا دې چه د څادر يا رومال مينځ په سر يا په اوږو باندې واچولې شی او بيا هغه هم داسې پريږدی بغير د ضم طرفين نه (يعنی هغه نه تاوهی)[1] علامه سيوطی ﷫ هم دې تفسير ته راجع وئيلې دې، صاحب هدايه، صاحب مغنی او امام بيهقی هم دا معنی اختيار کړې ده.

(د سدل حکم)

دا د جمهورو په نزد مکروه دې، د امام ابوحنيفه او امام احمد په نزد خو صرف په مونځ کښې منع دې کما فی البذل عن الخطابی والبدائع وکذا فی الشامی، او د امام شافعی ﷫ په نزد مطلقا صلاة او خارج از صلاة، او د امام مالک ﷫ په نزد په دې کښې مطلقا کراهت نشته لکه چه ابن العربی دا نقل کړې دې، هم دا مذهب دې د عطاء او حسن او ابن سيرين وغيره، ابن رسلان فرمائی چه د امام احمد په نزد کراهت هغه وخت دې چه کله د مونځ کونکی په بدن باندې صرف يوه کپړه وی، او که يو سړې په قميص باندې سدل اوکړی ﴿فلا باس به﴾ او نور حضرات دا وائی چه سدل که په قميص وغيره باندې دې نو بيا خو کراهت د تشبه باليهود د وجې نه دې او که بغير د قميص نه وی نو لاحتمال کشف العورة.

---

[1] مظاهر ... ن کښې ليکلي دی چه سدل دا دې چه کپړه په سر يا په اوږو باندې واچوی او دواړه طرفين د هغې زوړند وی يعنی د ځان نه ئې راتاو نه کړی، پس دا منع دې مطلق ځکه چه دا د تکبر شان دې او په مونځ کښې ډير بد دې او عرب به د پټکی په پلو سره ترڅو چه په هغې سره به ئې خوله پټه شوه، ددې نه ئې هم منع فرمائيلې ده ځکه چه په دې سره قرات په ښه طريقې سره نه شی ادا کيدې او سجده نه پوره کيږی، او څوک چه اسويلې اوکړی يا اګرمې اوکړی او د هغه د خولې نه بدبوئی راځی نو هغه لره په مانځه کښې د خولې پټول مستحب دی په لاس سره)

[۶۴۳]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ ذَكْوَانَ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَحْوَلِ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ إِبْرَاهِيمُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ، وَأَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عِسْلٌ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ.

ترجمه: د ابو هريرة ﷺ نه روايت دې بېشکه رسول الله ﷺ منع کړې ده د سدل نه په مانځه کښې (سدل دېته وايې چې جامه په سر واچوي او طرفونه ئې لاندې اويزان وي) او د دېنه چې سړی خپله خوله پټه کړي. وئيلی دی ابوداود: نقل کړی دی دې حديث لره عِسْل د عطاء نه او هغه د ابو هريرة نه، بېشکه نبي ﷺ منع کړې ده د سدل نه په مانځه کښې.

د سدل په حکم کښې اختلاف

قوله:﴿ نهى عن السدل فى الصلاة وان يغطى الرجل فاه ﴾ د مونځ په حالت کښې د خلې پټول مکروه دی، يعنی ددې حديث په بناء باندې او ځکه چه هغه د قرأت او اذکار نه مانع دې، هم دغه شان په دې کښې تشبه بالمجوس دې ﴿ فانهم يتلمثون فى عبادتهم النار ﴾ يهود د اتش پرستئ په وخت په خپله خوله باندې کپړه تړي، لهذا د يخنئ په زمانه کښې دې په کمبل يا څادر د اچولو په وخت باندې خپله خوله نه پټوئ، هم دغه شان دې د سر په رومال يا پټکی سره هم نه کوی، ددې خيال ساتل پکار دی.

[۶۴۴]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى بْنِ الطَّبَّاعِ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: "أَكْثَرُ مَا رَأَيْتُ عَطَاءً يُصَلِّي سَادِلًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا يُضَعِّفُ ذَلِكَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د ابن جريج نه روايت دې هغه وئيلي دي: اکثر چې ما عطاء ليدلی دی نو مونځ به ئې کولو په حالت د سدل کښې. وئيلی دی ابوداود: او دا ضعيف کوی هغه حديث.

تشريح: **قوله**:﴿ عن ابن جريج قال : اكثر ما رايت عطاء يصلى سادلا ﴾ دا مخکښې تير شو چه عطاء د هغه علماء کرامو نه دې چه د هغه په نزد سدل مکروه نه دې ﴿ قال ابوداود : رواه عسل عن عطاء الخ ﴾ په حديث سابق يعنی د باب د اول حديث دا دويم طريق دې، مصنف هم دا بيانول غواړی چه ددې حديث يو سند دا هم دې خو اول سند ددې دويم نه غوره دې ځکه چه عسل ضعيف راوی دې.

اشکال او جواب

دلته دا اشکال دې چه عطاء د حديث الباب راوی دې چه په دې کښې د سدل فى الصلاة ممانعت دې نو هغه ددې حديث خلاف ولې کوی، نو ددې جواب دا کيدې شي چه د هغوی په نزد د سدل کراهت د ثوب واحد په صورت کښې وی، او که سدل په قميص يا ازار باندې وی نو بيا به کراهت نه وی، لکه چه د امام احمد ﷫ په نزد دی، لهذا کيدې شي چه هغه

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۴۱۷۸)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۱۶۱ (۳۷۸)، مسند احمد (۲/۲۹۵، ۳۴۵)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۰۴ (۱۴۱۹) (حسن)
[2]): تفرد به أبو داود (صحيح)

سدل په قمیص یا ازار باندې کوی، او امام بیهقی ددې توجیه دا کړې ده ﴿ وکانه نسی الحدیث او حمله علی ان ذلک انما لا یجوز للخیلاء وکان لا یفعله خیلاء ﴾ یعني یا خو د هغه نه دا حدیث هیرشو او یا د هغه په نزد د حدیث محمل هغه سدل دې کوم چه د تکبر د وجې نه وی

بَابُ الصَّلَاةِ فِي شُعُرِ النِّسَاءِ

باب دې په بیان د مونځ کې په جامو د ښځو کې

[۶۴۵] (١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الأَشْعَثُ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ سِيرِينَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي فِي شُعُرِنَا أَوْ لُحُفِنَا"، قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ: شَكَّ أَبِي.

ترجمه: د عائشي رضي الله عنها نه روایت دې هغې ویلی دي. وو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مونځ ئې نه کولو زمونږ په جامو کښې او نه زمونږ په لحفو کښې. وئیلی دی عبید الله شک کړی دی زما پلار

بَابُ الرَّجُلِ يُصَلِّي عَاقِصًا شَعْرَهُ

باب دې په بیان د سړي کې چې مونځ کوي او وېښته یې غوټه کړي وي

د عقص معنی دا ده چه انسان خپل ویښته په خائې د ارسال شاته هغه اوتړی څنګه چه ئې زنانه تړی.

د کراهت عقص علت مع اختلاف علماء

دا د جمهور علماء ثلاثه په نزد مطلقا مکروه دي او د امام مالک په نزد کراهت په هغه صورت کښې دي چه کوم عقص د مونځ نه مخکښې د مونځ په نیت سره اوکړی، او که د مخکښې نه وی نو بیا خو هیڅ باک نشته، خو دا کراهت فی حق الرجال دې د زنانو په حق کښې نشته څکه چه د هغوی ویښته واجب الستر دی، او د سړو په حق کښې کراهت په دې وجه دې چه په دې صورت کښې ویښته د سجدې نه محروم کول دی، که د انسان د سجدې سره د هغه ویښته هم په زمکه واقع شی نو څه ښه ده، په مصنف ابن ابی شیبه کښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اثر نقل دې چه کله انسان سجده کوی نو د هغه ویښته هم سجده کوی، او د هر ویښته په بدله کښې ورته اجر ملاویږی. (منهل) هم دغه شان په کتاب الطهارة کښې حدیث تیر شوې دې ﴿ کنا لا نتوضاء من موطئ ولا نکف شعرا ولا ثوبا ﴾ او وړاندې به هم یو حدیث راشی ﴿ امرت ان اسجد علی سبعة اراب لا اکف شعرا ولا ثوبا ﴾ عند الجمهور په عقص کښې صرف کراهت دې او د حسن بصری نه په دې کښې د مونځ اعاده منقول ده

[۶۴۶] (٢) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي عِمْرَانُ بْنُ مُوسَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ رَأَى أَبَا رَافِعٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ عَلَيْهِمَا السَّلَام وَهُوَ يُصَلِّي قَائِمًا وَقَدْ غَرَزَ ضَفْرَهُ فِي قَفَاهُ، فَحَلَّهَا أَبُو رَافِعٍ، فَالْتَفَتَ حَسَنٌ إِلَيْهِ مُغْضَبًا، فَقَالَ أَبُو رَافِعٍ: "أَقْبِلْ

(١): انظر حدیث رقم: ٣٦٧، (تحفة الأشراف: ١٦٢٢١، ١٧٥٨٩، ١٩٢٩٦) (صحیح)

(٢): سنن الترمذي/الصلاة ١٧٠ (٣٨٤)، (تحفة الأشراف: ١٢٠٣٠)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٧ (١٠٤٢)، مسند احمد (٦/٨، ٣٩١)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠٥ (١٤٢٠) (حسن)

عَلَى صَلَاتِكَ وَلَا تَغْضَبْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ذَلِكَ كِفْلُ الشَّيْطَانِ"، يَعْنِي: مَقْعَدَ الشَّيْطَانِ يَعْنِي: مَغْرِزَ ضَفْرِهِ.

ترجمه: د سعيد بن ابی سعيد المقبری نه روايت دې هغه حديث بيانوی د خپل پلار نه، بيشکه هغه ليدلی وو ابو رافع چې مولی د نبی ﷺ دی، تېر شو په حسن بن علی رضي الله عنهما باندې او هغه مونځ کولو چې ولاړ وو، او په تحقيق سره هغه خښته کړې وه کمڅئ په خپل څټ کښې نو ابو رافع هغه کهلاو کړه، نو حسن ورته په غصه وکتل نو وويل ابو رافع: توجه دې مانځه ته کړه او مه غصه کېږه بيشکه ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه به وئيل دغه د شيطان حصه ده. يعنی ځائې د کيناستو د شيطان دی مطلب ئې ځائې د ښخولو د کمڅئ دی.

تشريح: قوله: ﴿ وقد غرز ضفره ﴾ "ضفر" په مضمتين سره د ويښتو کمسئ، د ضفيرة جمع، يا دا ضفر بالفتح مصدر دې د مضفور په معنی کښې ګوند لګيدلی شوی ويښته، يعنی د خپلو ويښتو کمسئ ئې ګوند کړې وې په خپل سټ باندې.

شرح حديث

قوله: ﴿ يقول ذلک کفل الشيطان ﴾ د ﴿ ذلک ﴾ اشاره د ﴿ غرز الشعر ﴾ طرف ته ده، يعنی دا د ويښتو جمع کول د سر نه شاته د شيطان حصه ده، يعنی د شيطان د کيناستلو ځائې ﴿ مقعد الشيطان ﴾ د کفل تفسير دې او وړاندې ﴿ مغرز ضفره ﴾ دا د ذلک د اسم اشاره تفسير دې، د مغرز د ښخولو ځائې يعنی هغه ځائې کوم چه د شيطان د کيناستلو دې دا جوړه د هغه کرسئ ده.

[٦٤٧] ([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، أَنَّ بُكَيْرًا، حَدَّثَهُ أَنَّ كُرَيْبًا مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَأَى عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الْحَارِثِ يُصَلِّي وَرَأْسُهُ مَعْقُوصٌ مِنْ وَرَائِهِ، فَقَامَ وَرَاءَهُ فَجَعَلَ يَحُلُّهُ وَأَقَرَّ لَهُ الْآخَرُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، فَقَالَ: مَا لَكَ وَرَأْسِي؟ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّمَا مَثَلُ هَذَا مَثَلُ الَّذِي يُصَلِّي وَهُوَ مَكْتُوفٌ".

ترجمه: بيشکه عبد الله بن عباس وليدلو عبد الله بن الحارث چې مونځ ئې کولو او سرېې ترلی وو د شا اړخ نه، نو عبدالله بن عباس ودريدو وروسته د هغه او شروع شو چې کولاوولو يې کمسئ دهغه، او هغه بل (عبدالله بن حارث) ورته چپ ولاړ وو، هرکله چې فارغ شو راغې ابن عباس ته، هغه وويل څه دی تالره او زما سر لره، هغه ورته وويل ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چې هغه به وئيل بيشکه ددې مثال داسې دی لکه د چا لاسونه چې وروستو سره ترلی شوی وې.

تشريح: قوله: ﴿ انما مثل هذا مثل الذی يصلی وهو مکتوف ﴾ مکتوف هغه سړی چه د هغه د واړه لاسونه شاته ترلې شوې وی کوم سړې چه په دې حالت کښې مونځ کوی نو ظاهره ده چه د

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ٤٤ (٤٩٢)، سنن النسائي/التطبيق ٥٧ (١١١٥)، (تحفة الأشراف: ٦٣٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٤/١)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠٥ (١٤٢١) (صحيح)

هغه لاسونه سجده اونکړي شي، هم دغه شان چه کوم سړي د ویښتو جوړه تړلو سره مونځ کوی د هغه ویښته به هم سجده اونکړي شي، تشبیه په دې لحاظ سره ده.

بَابُ الصَّلَاةِ فِي النَّعْلِ

باب دې په بيان د مانځه کې په پيزار کې

[۶۴۸]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنِ ابْنِ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي يَوْمَ الْفَتْحِ وَوَضَعَ نَعْلَيْهِ عَنْ يَسَارِهِ".

ترجمه: د عبد الله بن السائب نه روایت دې، هغه وئیلی دی، ما لیدلی وو نبی ﷺ چې مونځ ني کولو په ورځ د فتح مکه او کیخودلی ئې وو خپل پیزار خپل چپ طرف ته.

د صلاة في النعل په باره کښې روايات او په هغې کښې د فقهاء کرامو رائې

په دې باب کښې مصنف روایات قولیه او فعلیه دواړه قسم ذکر کړی دی، پس د باب په اخری حدیث کښې ﴿ يصلى حافيا ومتنعلا ﴾ او د باب په یو حدیث کښې دی ﴿ خالفوا اليهود فانهم لا يصلون في نعالهم ولا خفافهم ﴾ اکثر علماء کرامو دا امر په رخصت اباحت باندې محمول کړې دې او ددې تائید د مرسل عبدالرحمن بن ابی لیلی نه کیږی کوم چه په مصنف ابن ابی شیبه کښې دی چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ قال من شاء ان يصلى في نعليه فليصل فيهما ومن شاء ان يخلع فليخلع ﴾ د دې نه معلومه شوه چه صلاة في النعل کښې امر د اباحت دپاره دې، امام نووی او قاضی عیاض وغیره حضراتو دا په اباحت باندې محمول کړې دې، خو کیدې شی چه کوم سړې د مخالفت اهل کتاب په نیت سره د حدیث په وجه باندې په نعلین کښې مونځ اوکړی نو په دې نیت به ورته فضیلت ملاؤ شی پس په در مختار کښې دی ﴿وصلاته فيهما افضل ﴾... علامه شامی لیکی : اى في النعل والخف الطاهرين افضل مخالفة لليهود. وراندې بیا هغه ددې نور تفصیل لیکلې دې او یو قول د صلاة في النعل په باره کښې د سوء ادب هم لیکلې دې، او حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې لیکلې دی چه د صلاة في النعل امر په حدیث کښې د مخالفت یهود په وجه باندې دې او مونږ په هندوستان کښې نصاری وینو چه په پیزار کښې مونځ کوی (د بذل د تالیف په وخت په هند کښې د نصاری حکومت وو) لهذا د مخالفت تقاضه دا ده چه دلته دې پیزار ویستلو سره مونځ اوکړې شی، په منهل کښې ئې د ﴿ خالفوا اليهود ﴾ د لاندې لیکلې دی چه یهودو به صلاة في النعال د تعظیم صلاة منافی ګنړلو، دویم دا چه هغوی به داسې د موسی علیه السلام په اتباع کښې کول حيث قيل له ﴿ فاخلع نعليك انك بالواد المقدس طوى ﴾ لهذا رسول الله ﷺ خپل امت د تشبه باليهود نه منع کړو.

() سنن النسائي الافتتاح ۷۶ (۱۰۰۸)، والقبلة ۲۵ (۷۷۷)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲۰۵ (۱۴۳۱)، (تحفة الأشراف: ۵۳۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۱۱/۳) (صحيح)

[٦٤٩] ([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَأَبُو عَاصِمٍ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ سُفْيَانَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُسَيَّبِ الْعَابِدِيُّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: "صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ بِمَكَّةَ فَاسْتَفْتَحَ سُورَةَ الْمُؤْمِنِينَ، حَتَّى إِذَا جَاءَ ذِكْرُ مُوسَى، وَهَارُونَ، أَوْ ذِكْرُ مُوسَى، وَعِيسَى، ابْنُ عَبَّادٍ يَشُكُّ أَوِ اخْتَلَفُوا، أَخَذَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْلَةٌ فَحَذَفَ فَرَكَعَ"، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ السَّائِبِ حَاضِرٌ لِذَلِكَ.

ترجمه: د عبد الله بن السائب نه روايت دې، هغه وئيلي دي: مونږ وكړو مونځ ته رسول الله ﷺ په مكه كښې نو شروع ئې كړو سورة المؤمنون تردې چې ذكر د موسى او هارون ته ورسيدو، او يا ذكر د موسى، او عيسى ته يعنى محمد بن عباد شک كوى او يا اختلاف كوي (دعباد شيوخ د نبى ﷺ نه په روايت كولو كښې)، نو ونيولو توخې رسول الله ﷺ لره، نو قرأت ئې بس كړو نو ركوع ئې وكړه. او عبد الله بن السائب حاضر وو د پته.

مطابقة الحديث للترجمة

قوله: ﴿ حدثنا الحسن بن على الخ ﴾ په دې حديث كښې د صلاة فى النعل نفيا او اثباتا هيڅ ذكر نشته لهذا د حديث د ترجمة الباب سره هيڅ مطابقت رانغلو، جواب دا دې چه دا حديث او د باب اولنې حديث دواړه يو دى، راوى اختصار كړې دې، لهذا په اول حديث كښې ذكر راتلل كافى دې.

قوله: ﴿ ابن عباد يشک او اختلفوا ﴾ ابن جريج فرمائى چه د روايت په الفاظو كښې شک يا خو زما استاذ محمد بن عباد ته شوې دې، د ابن عباد چه كوم كوم شمير استاذان ذكر دى دا اختلاف د هغوى د طرف نه دې، بعض ﴿ جاء ذكر موسى وهارون ﴾ وئيلې دې او بعض ﴿ ذكر موسى وعيسى ﴾.

[٦٥٠] ([2]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي نَعَامَةَ السَّعْدِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهِ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ الْقَوْمُ أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ، قَالَ: مَا حَمَلَكُمْ عَلَى إِلْقَاءِ نِعَالِكُمْ؟ قَالُوا: رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ فَأَلْقَيْنَا نِعَالَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام أَتَانِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّ فِيهِمَا قَذَرًا، أَوْ قَالَ: أَذًى، وَقَالَ: إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلْيَنْظُرْ، فَإِنْ رَأَى فِي نَعْلَيْهِ قَذَرًا أَوْ أَذًى فَلْيَمْسَحْهُ وَلْيُصَلِّ فِيهِمَا".

ترجمه: د ابو سعيد الخدرى ﷺ نه روايت دې هغه وئيلى دى، رسول الله ﷺ مونځ كولو خپلو صحابو ته، ويستل هغه دواړه پيزار خپل كيخودې هغه خپل چپ طرف ته، كله چې دا كار قوم وليدلو نو خپل پيزارئې ويستلو، هركله چې رسول الله ﷺ مونځ پوره كړو، هغه وفرمائيل: تاسو باندې څه شى باعث شو په ويستلو د پيزار ستاسو هغوى ووېل: مونږ ته

[1]: صحيح البخاري/الأذان ١٠٦ (٧٧٤ تعليقا)، صحيح مسلم/الصلاة ٣٥ (٤٥٥)، سنن النسائي/الافتتاح ٧٦ (١٠٠٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥ (٨٢٠)، (تحفة الأشراف: ٥٣١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤١١) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٤٣٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٠، ٩٢)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠٣ (١٤١٨)، (صحيح)

وليدي چې تا ويستل پيزار خپل، نو مونږ خپل پيزار ويستل، نو وويل رسول الله ﷺ بيشکه جبريل عليه السلام راغې ماته نو زه ئې خبر کړم چې په دې کښې گندگي ده. او يايې وويل چې دې کښې اذی ده. هغه وفرمائيل کله چې راشي يو کس ستاسو نه مسجد ته نو ودې گوري که چرې ووينې هغه په خپل پيزار کښې گندگي نو هغه دې اومږي او مونځ دې وکړي په هغې دواړو کښې.

تشريح: قوله: ﴿ ان جبريل عليه السلام أتاني فاخبرني ان فيهما قذرا ﴾ د ﴿ قذرا ﴾ په تفسير کښې دوه احتماله دي، يا خو ددې نه نجاست مراد دې يا مستقذر څيز يعني د کوم نه چه طبيعت کرکه کوی لکه لاړې او بلغم وغيره

الكلام على الحديث من حيث الفقه

د مالکيانو د مسلک په رڼرا کښې خو هيڅ اشکال نشته چه د هغوی په نزد طهارة عن النجاسة الحسية شرط صلاة نه دې[1] او هم دا قول قديم دې د امام شافعي رحمه الله او د هغوی قول جديد او د جمهور علماء سلفا وخلفا په نزد د نجاست نه طهارت د مانځه د صحت دپاره شرط دې، ابن رسلان فرمائي چه د جمهورو د طرف نه ددې دوه جوابونه دي، يو دا چه د قذر نه مراد غير نجاست دې يعني شئ مستقذر او بل جواب دا چه نجاست قليله کوم چه معفو عنه دې، هغه مراد دې، د کتاب الطهارة په اخير کښې هم دا مسئله تيره شوې ده او صاحب منهل دا ليکلي دی چه د حنابله قول اشهر دا دې چه که مونځ کونکی د مونځ ترمينځه په خپله کپړه باندې د نجاست علم راشي بيا هغه ددې د معلوميدو نه پس فورا په عمل قليل سره زائل کړی نو مونځ به صحيح شي. والا بطلت

[٦٥١](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، حَدَّثَنِي بَكْرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا، قَالَ: فِيهِمَا خَبَثٌ، قَالَ: فِي الْمَوْضِعَيْنِ خَبَثًا.

ترجمه: حديث بيان کړي دې قتادة، هغه وايي ماته حديث بيان کړي دې بکر بن عبد الله د نبی ﷺ نه په دې سره، هغه وايي په دې دواړو کښې خَبَثٌ دې. ويې وئيل په دواړو ځايونو کښې: خَبَثًا.

[٦٥٢](٣)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ هِلَالِ بْنِ مَيْمُونٍ الرَّمْلِيِّ، عَنْ يَعْلَى بْنِ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ".

ترجمه: يعلى بن شداد بن اوس د خپل پلار نه روايت کوي، هغه وئيلي دي، وئيلي دی رسول الله ﷺ مخالفت وکړئ د يهوديانو بېشک هغوی مونځ نه کوی په خپلو پيزارونو کښې او نه په موزو کښې.

[1] ولي رحمة الامة، والاصح عند المالكية ان صلي عالمًا بها اي بالنجاسة لا تصح وان جاهلًا او ناسيًا صحت، والرواية الاخرى عندهم لصحة مطلقًا واخرى عدم الصحة مطلقًا مثل الجمهور.

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٣٦٢) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٨٣٠) (صحيح)

[۶۵۳]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا وَمُنْتَعِلًا".

ترجمه: عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده روایت کوی هغه وئیلی دي ما ولیدلو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو سره د پیزار نه او بغیر د پیزار نه

بَابُ الْمُصَلِّي إِذَا خَلَعَ نَعْلَيْهِ أَيْنَ يَضَعُهُمَا

باب دی مونځ کونکی چې کله پیزار اوکاږي نوکوم ځای کې به یې ږدي

[۶۵۴]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ رُسْتُمَ أَبُو عَامِرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلَا يَضَعْ نَعْلَيْهِ عَنْ يَمِينِهِ وَلَا عَنْ يَسَارِهِ فَتَكُونَ عَنْ يَمِينِ غَيْرِهِ، إِلَّا أَنْ لَا يَكُونَ عَنْ يَسَارِهِ أَحَدٌ، وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ".

ترجمه: د ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دي بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي کله چې مونځ کوی یو کس ستاسو نه نو نه دي ږدي خپل پیزار ښي طرف ته او نه چپ طرف ته نو شي به ښي طرف دبل چاته، مګردا چې چپ طرف ته ئې بل څوک نه وي، ږدي دې په مابین د خپو کښې

تشریح: **قوله**: ﴿ ولیضعهما بین رجلیه ﴾ د ﴿ بین الرجلین ﴾ نه مراد یا خو هغه خاص فرجه ده کومه چه د قدمین ترمینځه وی یا د هغه نه وړاندې کوندو ته مخامخ (کذا فی البذل) او په منهل کښې دی ﴿ والمراد یضعهما امام القدمین فیکونان بین الساقین حال الجلوس والسجود، ویحتمل ان المراد ان یجعلهما تحت صدره وقبل مکان سجوده، د دې نه په وړاندې حدیث کښې تیر شوې دی چه ښی طرف ته دې نه ږدی ځکه چه جهت یمین محترم او قابل تعظیم دې او دا ئې نه دی فرمائیلې چه شاته دې اوساتی ځکه چه د وړاندې صف والا خلف، د شاته صف والا قدام به اوشی که شاته څوک مونځ کوی، یا به د احتمال سرقه د ویرې نه خشوع فوت شي. (کذا فی البذل عن القاری)

وضع نعلین قدام المصلی

علی هذا القیاس مخامخ طرف ته د ږدلو هم په حدیث کښې ذکر نشته او دلته شارحینو هم ددې سره څه تعرض نه دې کړې، البته په بذل المجهود کښې د کتاب اللباس د یو حدیث د لاندې لیکلې دی

﴿ من السنة اذا جلس الرجل ان یخلع نعلیه ویضعهما بجنبه "فان جهة الیمین والقبلة یتنزهان عن النعل لما یطرا علیه غالبا من النجاسة ﴾

[۶۵۵]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، وَشُعَيْبُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَخَلَعَ نَعْلَيْهِ فَلَا يُؤْذِ بِهِمَا أَحَدًا، لِيَجْعَلْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ، أَوْ لِيُصَلِّ فِيهِمَا".

(): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٦ (١٠٣٨)، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٤/٢) (حسن صحيح)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٨٥٥) (حسن صحيح)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٣٣١) (صحيح)

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه روايت كوي د رسول الله ﷺ نه هغه فرمائيلي دي: كله چې مونځ كوي يو كس ستاسو نه او وهستل خپل پيزار نو ضرر دې نه وركوي په هغې باندې كاوندې ته، ږدې دې مابين د دوارو خپو كښې، او يا دې پكې مونځ وكړي.

باب الصَّلاةِ عَلَى الْخُمْرَةِ

باب دې په بيان د مانځه كښې په مصلى باندې

[٦٥٦]([1])حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ، حَدَّثَتْنِي مَيْمُونَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَأَنَا حِذَاءَهُ وَأَنَا حَائِضٌ وَرُبَّمَا أَصَابَنِي ثَوْبُهُ إِذَا سَجَدَ وَكَانَ يُصَلِّي عَلَى الْخُمْرَةِ".

ترجمه: حديث بيان كړې دې ميمونې هغې ويلي دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ به ئې كولو او زه به برابر د هغه وم او زه به حائضه وم، او كله به ماته د هغه جامه هم راورسيده، او وو چې مونځ ئې كولو په مصلى باندې.

تشريح: قوله: ﴿ خمرة ﴾ هغه وړې بوريځ ته وئيلې شي چه په هغې باندې انسان لاس كيخودلو سره صرف سجده اوكړې شي او حصير ددې نه لږ لونې وي چه په هغې باندې يو سړې مونځ اوكړې شي، چه د هغې باب به وړاندې راشي، د رسول الله ﷺ نه په خمره او حصير باندې مونځ كول ثابت دي او هم دغه شان د څرمنې په مصلى باندې هم چه د هغې ذكر په حديث الباب كښې هم شته، د جمهور علماء كرامو هم دا مذهب دې.

بغير د حائل نه په زمكه باندې سجده او په هغې كښې اختلاف

په دې كښې شک نشته بغير د واسطې نه په زمكه باندې سجده كول بغير د حائل نه افضل دي، پس منقول دي چه د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله دپاره به خاوره راوړلې شوه هغه به هغه په دريځ دپاسه كيخودله او په هغې باندې به ئې سجده كوله، علماء كرامو ليكلي دي چه هغه به په ظاهره كښې د ډيرې خشوع او تواضع د وجې نه كول نه دا چه هغه به دا ضروري ګنړل (بلكه زمونږ فقهاء كرام خو فرمائي چه ما ينبت من الارض هم د زمكې په حكم كښې دي) خو د جمهور علماء كرامو په نزد بالواسطه په زمكه باندې سجده كولو كښې هيڅ كراهت نشته برابره خبره ده كه هغه څيز د نباتات د قسم نه نۀ وي په هغې باندې سجده كول مكروه دي پس د مالكيانو نه هم داسې منقول دي ([2]) لكه چه په مدونه كښې دي، او د بعض علماء كرامو رائې دا ده لكه سعيد بن المسيب او ابن سيرين او عروه بن الزبير چه د زمكې نه په

---

[1]: صحيح البخاري/الحيض ٣٠ (٣٣٣)، والصلاة ١٩ (٣٧٩)، ٢١ (٣٨١)، صحيح مسلم/المساجد ٤٨ (٥١٣)، سنن النسائي/المساجد ٤٤ (٧٣٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٠ (٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣٠، ٣٣٥، ٣٣٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠١ (١٤١٣) (صحيح)

[2]) ولي الشرح الكبير ص ٢٥٢: كره سجود علي ثوب او بساط لم يعد للفرش مسجد لا علي حصير لا رفاهية فيها وترك السجود علي الحصير احسن ١٢٥ منه، معلومه شوه چه په مسجد كښې مصلى خوررولو سره مونځ كول د مالكيانو په نزد مكروه دي او په معمولي شان بوريه باندې مونځ كولو كښې هيڅ باک نشته، ډېر قيمتي پوزكې (دريځ) دې نه وي. منه ١٢)

علاوه باندې سجده کول مطلقا مکروه دي او شيعه ګان خو دا وائي چه په غير د زمکې نه سجده جائز نه ده.

باب الصَّلاَةِ عَلَى الْحَصِيرِ

باب دي په بيان د مونځ کې په پوزي باندي

د خمره او حصير فرق په اول باب کښې تير شوې دې دا دواړه د جنس الارض او د نباتات د قبيل نه دي لهذا په دوه مستقل ترجمه قائم کولو کښې هيڅ خاص فائده په نظر نه راځي.

د ترجمة الباب غرض

حضرت شيخ يوه خبره ليکلې ده هغه دا چه کيدې شي په دې ترجمې سره غرض د مصنف ابن ابی شيبه روايت طرف ته اشاره وی او په هغې باندې رد وی، پس په هغې کښې دی چه د عائشې ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه ايا رسول اللهﷺ به پوزکی باندې مونځ کولو او حال دا چه د الله پاک ارشاد دې ﴿ وجعلنا جهنم للكافرين حصيرا ﴾ نو په دې باندې هغه اوفرمائيل ﴿ لا ما كان يصلي عليها ﴾ د دې دواړو ترجمو د غرض په سلسله کښې دا هم وئيلې کيدې شی چه په بعض رواياتو کښې په خاورو باندې د سجدې کولو حکم راغلې دې پس د مسند احمد په روايت کښې دی چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ترب وجهک يا رباح﴾ چه په خاوره باندې سجده کوه، چه ددې نه په ظاهره معلوميږی چه په غير د تراب نه سجده جائز نه ده، خو حافظ عراقی فرمائي چه په دې سره د هغه غرض سجود على التراب نه دې، ﴿ بل الغرض منه تمكين الجبهة من الارض ﴾ يعنی خپل تندې په زمکه باندې ښه طريقې سره ږده، ممکنه ده چه هغه افلح اوليدو چه هغه خپل تندی لږ په ښه طريقې سره نه ږدی په دې وجه ئې هغه ته داسې اوفرمائيل.

د جامع ترمذي ترجمة الباب

امام ترمذیؒ په دې سلسله کښې يوه دريمه ترجمه هم قائم فرمائيلې ده، باب ما جاء في الصلاة البسط... بسط د بساط جمع ده کوم چه د څادر او قالين په معنی کښې دې کوم چه د جنس الارض يعنی از قسم نباتات نه دې په خلاف د خمره او حصير، په دې ترجمه کښې البته خاص فائده دا ده چه د تيرو مذاهبو د کتلو نه دا معلوميږی چه بعض علماء کرامو د جنس الارض او د غير جنس الارض فرق کړې دې او د شيعه ګانو په نزد خو ارض يا د جنس الارض نه علاوه په يو څيز باندې هم سجده جائز نه ده.

[٦٥٧]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي رَجُلٌ ضَخْمٌ وَكَانَ ضَخْمًا لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ، وَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا وَدَعَاهُ إِلَى بَيْتِهِ فَصَلِّ، حَتَّى أَرَاكَ كَيْفَ تُصَلِّي فَأَقْتَدِيَ بِكَ، فَنَضَحُوا لَهُ طَرَفَ حَصِيرٍ كَانَ لَهُمْ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ"، قَالَ فُلَانُ بْنُ الْجَارُودِ، لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَكَانَ يُصَلِّي الضُّحَى؟ قَالَ: لَمْ أَرَهُ صَلَّى إِلَّا يَوْمَئِذٍ.

[1]: صحيح البخاري/الأذان ٤١ (٦٧٠)، (تحفة الأشراف: ٢٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٣٠، ١٣١، ١٨٤، ٢٩١) (صحيح)

ترجمه: د انس بن مالک ﷺ نه روايت دې، هغه وئيلى دى، چې اووئيلې يو سړى د انصارو نه، اى د الله رسوله! بيشکه زه سړى يم غټ او خپل غټ والى په وجه زه نشم کولى چې تاسره مونځ وکړم، او دودئ ئې ورله تياره کړه او خپل کور ته ئې راوغوښتلو، نو ورته ئې اووئيل چې مونځ وکړه چې زه دې وينم چې ته څنګه مونځ کوى زه به اقتداء وکړم تا پسې نو هغوى چنړکاو کړو يو طرف د پوړ د هغه لپاره چې دا وو د هغوى، نو مونځ ئې وکړو دوه رکعاته. وويل فلان بن الجارود انس بن مالک ته: ايا هغه به د څاښت مونځ کولو؟ هغه وويل: ما نه دې ليدلى رسول الله ﷺ مګر په دغه ورځ.

مضمون حديث

قوله:﴿ قال رجل من الانصار : يا رسول الله! انى رجل ضخم ﴾ د حديث مضمون دا دې چه يو انصارى سړى هغه ته عرض اوکړو چه زما بدن دروند دې مسجد ته بار بار تلل راتلل زما دپاره ګران دى زه دا غوارم چه ته زما کور ته تشريف راوړې او هلته زما په کور کښې يوځائې کښې مونځ اوکړې او زه به تا په ښه طريقې سره وينم چه څنګه مونځ کوى، او بس بيا د هغې نه پس د مسجد په ځائې به هم هلته مونځ کوم او هغه د هغه (ﷺ) دپاره خوراک هم تيار کړو پس هغه د هغوى درخواست قبول کړو او يوه ورځ د چاشت په وخت کښې ئې د هغه کور ته تشريف راوړلو او هلته تلو سره ئې مونځ اوکړو.

په دې حديث کښې هغه صحابى رسول الله ﷺ ته په مسجد کښې د مونځ کولو شرکت عذر د خپل بدن ضخامت بيان کړو، په دې باندې ابن رسلان ليکى چه ددې حديث نه معلومه شوه چه د ترک جماعت په عذرونو کښې سمن مفرط هم دې او ابن حبان په دې حديث باندې هم دا ترجمه قائم کړې ده.

د رجل ضخم مصداق

د دې نه پس خان پوهه کړئ چه په مسلم شريف کښې هم ددې قسم يوه واقعه د عتبان بن مالک انصارى ﷺ هم مذکور ده، حافظ فرمائى چه کيدې شى دا واقعه هم دهغه وى او ددې رجل ضخم نه مراد هم هغه وى خو ددې تصريح ماته چرته ملاؤ نه شوه بلکه د ابن ماجه د روايت نه معلوميږى چه دا سړې د انس ﷺ په ترونو کښې وو او عتبان، د انس تره نه دې، البته مجازا ورته تره وئيلې کيدې شى د قبيلې د يو والى د وجې نه.

﴿ قال فلان بن الجارود ﴾ په بذل کښې ليکلې دى چه کيدې شى چه دا عبدالحميد بن المنذرى بن الجاردو دې.

[٦٥٨]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْمُثَنَّى بْنُ سَعِيدٍ الذَّارِعُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَزُورُ أُمَّ سُلَيْمٍ فَتُدْرِكُهُ الصَّلَاةُ أَحْيَانًا فَيُصَلِّي عَلَى بِسَاطٍ لَنَا وَهُوَ حَصِيرٌ نَنْضَحُهُ بِالْمَاءِ".

---

[1]): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٣٣٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٢٠ (٣٨٠)، والأذان ٧٨ (٧٢٧)، ١٦١ (٨٦٠)، ١٦٤ (٨٧١)، ١٦٧ (٨٧٤)، صحيح مسلم/المساجد ٤٨ (٥١٣)، سنن الترمذي/الصلاة ٥٩ (٢٣١)، سنن النسائي/المساجد ٤٣ (٧٣٨)، والإمامة ١٩ (٨٠٢)، ٦٢ (٨٧٠)، موطا امام مالك/الصلاة ٩ (٣١)، مسند احمد (١٣١/٣، ١٤٥، ١٤٩، ١٦٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٦١ (١٣٢٤) (صحيح)

ترجمه: د انس بن مالک ﷛ نه روايت بيشکه نبی ﷺ وو چې ملاقات به ئې کولو د ام سليم نو کله به پرې د مانځه وخت راغې نو مونځ به ئې کولو په يو فرش زمونږ باندې. او هغه پوړ وو چې مونږ څنړکاو کوه په اوبو سره

[٦٥٩]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ بِمَعْنَى الإِسْنَادِ وَالْحَدِيثِ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي عَوْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عَلَى الْحَصِيرِ وَالْفَرْوَةِ الْمَدْبُوغَةِ".

ترجمه: د مغيرة بن شعبة نه روايت دې هغه وئيلي دی، وو رسو ل الله ﷺ چې مونځ به ئې کولو په پوړ باندې او په څرمن رنګ شوې باندې.

تشريح: قوله: (يُصَلِّي عَلَى الْحَصِيرِ وَالْفَرْوَةِ الْمَدْبُوغَةِ) رنګ کړې شوې څرمن يعنی د څرمنې مصلی

بَابُ الرَّجُلِ يَسْجُدُ عَلَى ثَوْبِهِ

باب دې په بيان د سړي کې چې سجده کوي په خپله جامه

[٦٦٠]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا غَالِبٌ الْقَطَّانُ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ، فَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَحَدُنَا أَنْ يُمَكِّنَ وَجْهَهُ مِنَ الْأَرْضِ بَسَطَ ثَوْبَهُ فَسَجَدَ عَلَيْهِ".

ترجمه: د انس بن مالک ﷛ نه روايت دې، هغه وئيلي دي وو مونږ چې مونځ به مو کولو د رسول الله ﷺ سره په سخته ګرمئ کښې، کله چې به طاقت نه لرلو يو کس زمونږ نه چې خپل مخ په ځمکې کيدې نو خوره به ئې کړه خپله جامه په هغې به ئې سجده وکړه

تشريح: قوله: (بسط ثوبه فسجد عليه) دا مخکښې هم تير شوې دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په مسجد نبوی کښې پوزې (درئ) وغيره د څه فرش خورولو دستور نه وو بلکه په ټول مسجد کښې کانړی خواره وو چه د هغې قصه هم په ابواب المساجد کښې تير شوې دې، په دې حديث کښې صحابی فرمائی چه د سختې ګرمئ په زمانه کښې چه به کله مونږ د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو چه کله به ورته د ګرمئ د وجې نه په زمکه باندې تندې پړدل ګران شو نو مونځ کونکی به په سجده کښې خپل څادر خور کړو او په هغې به ئې سجده اوکړه

په حديث کښې يوه اختلافي مسئله

د شوافعو په نزد چونکه د مصلی په خپل ثوب ملبوس باندې سجده کول جائز نه دی په دې وجه هغه دا حديث په ثوب منفصل باندې محمول کړې دې، احناف بلکه جمهورو(٣) ته د دې د مقيد کولو حاجت نشته د هغوی په نزد دا په ثوب متصل باندې هم جائز دې. بلکه ظاهره

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٥٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٤/٤) (ضعيف)

(٢): صحيح البخاري/الصلاة ٢٣ (٣٨٥)، والمواقيت ١١ (٥٤٢)، والعمل في الصلاة ٩ (١٢٠٨)، صحيح مسلم/المساجد ٣٣ (٦٢٠)، سنن الترمذي/الجمعة ٥٨ (٥٨٤)، سنن النسائي/ الكبرى التطبيق ٥٧ (٧٠٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٤ (١٠٣٣)، (تحفة الأشراف: ٢٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٠/٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٨٢ (١٣٧٦) (صحيح)

(٣) ابوحنيفه، مالک او احمد (في رواية) ابن رسلان)

دا ده (۱) چه په حديث کښې هم دا ثوب متصل مراد دې او مطلب دا دې چه سجدې ته د تلو په وخت خپل څادر يا د قميص لمن خورولو سره په هغې باندې سجده کوله مستقل کپړه خورول مراد نه دی د هغه خلقو سره دومره وسعت چرته وو. ﴿ او لکلکم ثوبان ﴾ د دې دپاره شاهد عدل دې.

تفريع أبواب الصفوف

د صف جوړولو ابواب (احکام او مسائل)

باب تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ

باب دې په بيان د برابرولو د صفونو کښې

په بعض نسخو کښې عبارت داسې دې ﴿ تفريع ابواب الصفوف ﴾، د ﴿تسوية الصفوف ﴾ په باره کښې علامه عيني ليکی : ﴿ هو اعتدال القائمين وسد الخلل ﴾ يعنی نيغ او برابر اودريدل بغير د تقدم او تاخر نه او د صف په مينځ کښې فراخی نه پريخودل بلکه يوځائې اودريدل د ﴿تسوية الصفوف ﴾ حکم سره د ائمه کرامو د اختلاف نه وړاندې په يو حديث کښې راروان دی.

[٦٦١](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، قَالَ: سَأَلْتُ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشَ عَنْ حَدِيثِ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ فِي الصُّفُوفِ الْمُقَدَّمَةِ، فَحَدَّثَنَا عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ تَمِيمِ بْنِ طَرَفَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ؟ قُلْنَا: وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهِمْ؟ قَالَ: يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْمُقَدَّمَةَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ".

ترجمه: جابر بن سمرة وئيلی دی، چې فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: ايا تاسو صف نه جوړوئ لکه څنګه چې ملائکی صف جوړوی په نزد د رب جل و عز، مونږ ووېل: ملائکی څنګه صف جوړوی په نزد د رب؟ هغه وفرمائيل: دوی پوره کوی اولنې صفونه او جوختېږی په صف کښې.

تشريح: **قوله**:﴿ الا تصفون كما تصف الملائكة عند ربهم ﴾ دا ﴿ عند ربهم ﴾ څنګه دې الله پاک ددې په حقيقت باندې پوهيږی ځکه چه الله پاک د مکان نه منزه دې او يا په حذف د مضاف دې ای عند عرش ربهم يا عند عبادة ربهم، هم دغه شان ددې نه معلومه شوه چه فرشتې هم صف جوړولو سره عبادت کوی بلکه دا خو د قران کريم نه هم ثابته ده ﴿ والصافات صفا ﴾ په دې حديث کښې دی چه ملائک اولنی صفونه پوره کولو سره بيا روستو صف جوړوی، هم دغه شان په صف کښې يوځائې اودريږی وئيلې شی ﴿ رص البناء اذا الصق بعضه ببعض ﴾ يعنی څنګه چه د ديوال په رده خيژولو کښې ښختې يو بل پسې جختې کيخودلې شی

---

(۱) لان المتبادر من الاضافة الثوب المتصل بالمصلي ويؤيده ما رواه ابن ابي شيبة عن عكرمة عن ابن عباس ان النبي صلي الله عليه وسلم صلي في ثوب واحد يتقي بفضوله حر الارض وبردها. منهل)

(۲): صحيح مسلم/الصلاة ۲۷ (۴۳۰)، سنن النسائي/الإمامة ۲۸ (۸۱۷)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۵۰ (۹۹۲)، (تحفة الأشراف: ۲۱۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۱۰۱،۱۰۶) (صحيح)

[٦٦٢]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ الْجُدَلِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، يَقُولُ: أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النَّاسِ بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: "أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ثَلَاثًا، وَاللَّهِ لَتُقِيمُنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ"، قَالَ: فَرَأَيْتُ الرَّجُلَ يَلْزَقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ وَرُكْبَتَهُ بِرُكْبَةِ صَاحِبِهِ وَكَعْبَهُ بِكَعْبِهِ.

ترجمه: ابو القاسم الجدلي وايي ما اوريدلي دي د نعمان بن بشير نه هغه به وئيل: رسول الله ﷺ خلقو ته مخامخ شو او ويې وئيل: نيغ کړئ خپل صفونه. درې ځل، قسم په الله! خامخا به تاسو برابروئ صفونه خپل او يا به مخالفت واچوی الله ستاسو په زړونو کښې. هغه وايي: ما به ليده سړی لره چې جوختوله به ئې اوږده خپله اوږی د خپل ملګری سره، او زنګون خپل د زنګون د ملګری خپل سره او ګيټئ خپله د ګيټئ د هغه سره.

شرح حديث

قوله:(والله لتقيمن صفوفكم او ليخالفن الله بين قلوبكم) د مخالفت بين القلوب معنی خو ظاهره ده خپل مينځ کښې اختلاف او نزاع.

او ددې وجه دا ده چه الله پاک د ظاهر او باطن ترمينځه يو خاص مناسبت او ربط کيخودلې دې چه هغې سره د يو اثر په بل باندې پريوځی نو هر کله چه د صفونو په ظاهر کښې کوږوالي وی نو د هغې په وجه باندې باطن هم کږيږی يعنی په زړونو کښې نفرت او دشمنی، علماء کرامو ليکلي دی، الظاهر عنوان الباطن، چه ظاهری حالت د باطنی حالت خبر ورکوی، وراندې په روايت کښې د (بين قلوبكم) په ځائې (بين وجوهكم) راروان دې او هم دا د صحيحين په روايت کښې دی، بيا په دې کښې د شارحينو دوه قوله دی، چه د وجوه نه مراد صفات دی نو بيا خو به دا دواړه احاديث تقريبا يو شان معنی والا شی او بل قول دا دې چه د وجوه نه ظاهری شکل او صورت مراد دې، په دې صورت کښې به دا وعيد شی د مسخ لکه د رفع راس الامام په باره کښې اول وعيد تير شوې دې، او مطلب به دا وی چه مخ شاته طرف ته اړول، چه د وراندې په ځائې شاته طرف ته اوګرځولې شی. والعياذ بالله تعالى منه.

شرح حديث او د غير مقلدينو د طريقې ترديد

قوله:(وركبته بركبة صاحبه وكعبه بكعبه) دلته ئې په کعب کښې (بكعب صاحبه) نه دی فرمائيلې لکه چه پورته ئې اوفرمائيل (بمنكب صاحبه وركبته بركبة صاحبه) لهذا دا چه کومه د غير مقلدينو طريقه ده چه هر مونځ کونکې کعب د بل مونځ کونکی د کعب سره يوځائې کوی، ددې حديث خلاف ده، خو عام طور سره د شراح حديث د کلام نه معلوميږی چه د (كعبه بكعبه) نه مراد هم دا دې يعنی (بكعب صاحبه) او د بخاری په يو روايت غير مرفوعه کښې ه دغه شان دی (قال النعمان بن بشير رايت الرجل منا يلزق كعبه بكعب صاحبه) بهرحال که د کعب نه مراد هم کعب وی نو بيا به ددې نه مراد حقيقت الصاق نه وی ځکه چه حقيقی الصاق بغير د تکلف نه نه شی کيدې او په دې سره به داسې هيئت پيدا شی کوم چه د مونځ

(١): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١١٦١٦) (صحيح)

د هيئت خلاف دي لهذا ددې نه قرب او محاذات مراد دي. كذا فى لامع الدرارى)

قوله:(قال الحافظ المراد بذلک المبالغة فى تعديل الصف وسد خلله) زه وائم چه خپلې ګيتئ لره د ملګرى د ګيتئ سره يوځائي كولو په صورت كښې سد خلل نشته ځكه چه په دې صورت كښې اګر چه خواته خالى ځائې خو ختم شى خو د مصلى په خپلو خپو كښې به د فرجې اضافه اوشى نو بيا سد خلل چرته شو كوم چه مقصود دې بلكه دا خو به ايقاع خلل وى. والله الموفق

[٦٦٣]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، يَقُولُ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّينَا فِي الصُّفُوفِ كَمَا يُقَوَّمُ الْقِدْحُ، حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنْ قَدْ أَخَذْنَا ذَلِكَ عَنْهُ وَفَقِهْنَا أَقْبَلَ ذَاتَ يَوْمٍ بِوَجْهِهِ إِذَا رَجُلٌ مُنْتَبِذٌ بِصَدْرِهِ، فَقَالَ: "لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ".

ترجمه: سماک بن حرب وايي چې ما اوريدلى دى د نعمان بن بشير نه هغه به وئيل: وو نبى ﷺ چې مونږ به ئې برابرولو په صفونو كښې لكه څرنګه چې برابرولى شى غشى، تردې چې كله هغه ګمان وكړو چې مونږ دا خبره زده كړه د هغه نه، او مونږ پوهه شو نو رامخامخ شو يوه ورځ ناڅاپه يو سړى وو چې وښتونكى وو سينې خپلې لره، هغه وفرمائيل برابر كړئ خپل صفونه او يا به مخالفت واچوې الله ستاسو په مينځ كښې

تشريح: **قوله:**(يسوينا فى الصفوف كما يقوم القدح) (قدح) بفتحين په معنى د پياله نه دې مراد دا په كسرې د قاف او د دال په سكون سره دې د غشى دسته لكه چه د چاقو دسته وى، هغه ډير برابر او هوار تراشلې شى، مطلب ظاهر دې چه څنګه هغه برابرولې شى هم دغه شان به رسول الله ﷺ صفونه برابرول.

د حديث مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ مونږ ته د صفونو د برابرولو تر ډيرې مودې پورې تعليم او تلقين راكولو، تردې چه كله هغه پوهه شو چه اوس مونږ په دې باندې عمل شروع كړو نو بيا رسول الله ﷺ ددې متعلق هدايت پريخودلو په دې خيال چه ضرورت پاتې نه شو خو ددې نه روستو بيا هغه يوه ورځ اوليدل چه د يو سړى سينه په صف كښې وړاندې راوتلې ده نو بيا رسول الله ﷺ هغه وعيد بيان كړو كوم چه وړاندې په حديث كښې ذكر شوې دې

[٦٦٤]()حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، وَأَبُو عَاصِمِ بْنُ جَوَّاسٍ الْحَنَفِيُّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ طَلْحَةَ الْيَامِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْسَجَةَ، عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّلُ الصَّفَّ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَى نَاحِيَةٍ يَمْسَحُ صُدُورَنَا وَمَنَاكِبَنَا، وَيَقُولُ: لَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ، وَكَانَ يَقُولُ: إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصُّفُوفِ الْأُوَلِ".

ترجمه: د براء بن عازب ﷺ نه روايت دې هغه وئيلى دى، وو رسو ل الله ﷺ د صف مينځ

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ٢٨ (٤٣٦)، سنن الترمذي/الصلاة ٥٥ (٢٢٧)، سنن النسائي/الإمامة ٢٥ (٨١١)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٥٠ (٩٩٢)، (تحفة الأشراف: ١١٦٢٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٠/٤، ٢٧١، ٢٧٢، ٢٧٦، ٢٧٧) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/الأذان ١٤ (٦٤٧)، والإمامة ٢٥ (٨١٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٥١ (٩٩٣)، مسند احمد (٢٨٤/٤، ٢٨٥، ٢٩٧، ٢٩٨، ٢٩٩، ٣٠٤)، دي/الصلاة ٤٩ (١٢٩٩) (صحيح)

کښې به ننوتلو د یو طرف نه بل طرف ته، برابرولې به ئې سینې او اوږې زمونږ او وئیل به یې تاسو اختلاف مه کوئ مختلف به شی ستاسو زړونه، او وو چې وئیل به یې بیشکه الله او د هغه ملائک رحمتونه لیږی په اولنی صف والا باندې.

تشریح: قوله: ﴿ یتخلل الصف من ناحیة الی ناحیة ﴾ یعنی رسول الله ﷺ به د صفونو د برابرولو دپاره هغې کښې داخل شو او بنی او ګس طرف نه به ئې د خلقو اوږې او سینه برابروله او وړاندې روستو کولو سره به ئې صفونه برابرول او په ژبې سره به ئې دا فرمائیل ﴿ لا تختلفوا فتختلف قلوبکم ﴾... یصلون علی الصفوف الاول... اول په ضمې د الف او فتحې د واو سره د ﴿ اول ﴾ جمع ده، یعنی الله او د هغه ملائک درود لیږی، په وړاندې صف والو باندې، په لفظ جمع راوړلو سره اشاره ده، الاول فالاول طرف ته، ګویا اول صف ته فضیلت حاصل دې په ثانی باندې، او ثانی ته په ثالث باندې، وهکذا.

د صف اول په مصداق کښې اقوال

ځان پوهه کړه چه د صف اول په مصداق کښې د علماء کرامو اختلاف دې، امام بخاری ددې دپاره مستقل ترجمه قائم کړې ده. "باب الصف الاول" د دې په مصداق کښې درې اقوال دی.

۱: اول صف هغه دې کوم چه د امام سره متصل وی مطلقا برابره خبره ده که هغه صف کامل وی یا ناقص لکه د مقصوره اول صف.

۲: امام ته نزدې والا هغه صف کوم چه کامل وی، لهذا چه کوم صف په امام پسې شاته مقصوره کښې وی ددې قول په بناء به هغه صف اول نه وی د ناقص کیدو د وجې نه بلکه د مقصوره نه بهر کوم ړومبې اولنې صف وی هغه به ددې مصداق وی.

۳: او دریم قول دا دې ﴿ من سبق الی الصلاة ولو صلی اخر الصفوف ﴾ یعنی کوم سړې چه اول مسجد ته لاړ شی برابره خبره ده که مونځ په هر یو صف کښې اوکړی هم هغه د صف اول مصداق دې.

امام نووی رحمه الله فرمائی چه قول اول صحیح او مختار دې، والقولان اخیران غلط. او په شامی کښې د قول اول لیکلو نه پس قول ثانی لیکلو سره فرمائی وبه اخذ الفقیه ابو اللیث توسعة علی الامة کیلا تفوتهم الفضیلة. اهـ

[۶۶۵] (۱) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا حَاتِمٌ يَعْنِي ابْنَ أَبِي صَغِيرَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا إِذَا قُمْنَا لِلصَّلَاةِ، فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ".

ترجمه: د سماک نه روایت دې، هغه وئیلی ما اوریدلی دی د نعمان بن بشیر نه، هغه وئیلی دې وو رسول الله ﷺ چې برابرولو به ئې مونږ کله چې به مونږ ودریدلو مانځه ته کله چې به مونږ برابر شو نو تکبیر به ئې وویلو.

(۱): انظر حدیث رقم: ۶۶۳، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۲۰) (صحیح)

تشریح: قوله: ﴿ كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يسوى صفوفنا اذا قمنا للصلاة ﴾ يعنی رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه هغه وخت برابرول چه کله به مونږ د مونځ دپاره اودریدلو.

تسویهٔ صفوف څه وخت کیدل پکار دی؟

په دې باندې ابن رسلان شافعی لیکی چه قیام الی الصلاة د اقامت نه پس وی لهذا تسویة الصفوف به په طریق اولی د اقامت نه روستو وی (۱) او هم دا مشهوره خبره ده او زمونږ بعض اصحاب دې طرف ته تلې دی چه تسویهٔ صفوف د اقامت په اواخر کښې کیدل پکار دی ددې دپاره چه د اقامت د پوره کیدو سره سره مونځ شروع شی، وهو خلاف النص، او دا مسئله چه مقتدی به د مونځ دپاره کله اودریږی هغه زمونږ په نزد سره د ائمه کرامو د اختلاف په باب في الصلاة تقام ولم يات الامام الخ د لاندې تیر شوې دې. ﴿ فاذا استوينا كبر ﴾ امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه د عمر رضی الله عنه په باره کښې دی چه هغه یو سړې د صفونو د برابرولو دپاره مقرر کړې وو او مونځ به ئې تر هغه وخته پورې نه شروع کولو چه ترڅو پورې به هغه سړی خبر نه ورکولو چه صفونه برابر شو، هم دغه شان هغه لیکی چه هم دغه شان د علی او عثمان رضی الله عنهم اجمعین نه روایت دی چه دې دواړو حضراتو به هم ددې اهتمام فرمائیلو او په ژبې سره به ئې هم فرمائیل چه ﴿ استووا ﴾، تسویه صفوف کوم وخت پکار دی په دې باندې تفصیلی کلام په العل المفهم ص ۱۳۷ کښې موجود دې هلته دې اوکتلې شی، په هغې کښې لیکلې دی چه امام محمد په موطاء کښې فرمائی چه کله مؤذن ﴿ حی علی الفلاح ﴾ ته اورسیږی نو ټول خلق دې اودریږی او صف بندی او تسویة الصفوف دې اوکړی. وهو قول ابی حنیفة.

قوله: وسدوا الخلل: خلل په معنی د فرجة سره، ددې جمع خلال ده پشان د جبل او جبال.

[٦٦٦](۲)حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْغَافِقِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ. ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، وَحَدِيثُ ابْنِ وَهْبٍ أَتَمُّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي الزَّاهِرِيَّةِ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ قُتَيْبَةُ: عَنْ أَبِي الزَّاهِرِيَّةِ، عَنْ أَبِي شَجَرَةَ، لَمْ يَذْكُرْ ابْنَ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَقِيمُوا الصُّفُوفَ وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ وَلِينُوا بِأَيْدِي إِخْوَانِكُمْ، لَمْ يَقُلْ عِيسَى: بِأَيْدِي إِخْوَانِكُمْ، وَلَا تَذَرُوا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ، وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللَّهُ وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللَّهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو شَجَرَةَ كَثِيرُ بْنُ مُرَّةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَمَعْنَى وَلِينُوا بِأَيْدِي إِخْوَانِكُمْ: إِذَا جَاءَ رَجُلٌ إِلَى الصَّفِّ فَذَهَبَ يَدْخُلُ فِيهِ فَيَنْبَغِي أَنْ يُلِينَ لَهُ كُلُّ رَجُلٍ مَنْكِبَيْهِ حَتَّى يَدْخُلَ فِي الصَّفِّ.

ترجمه: د ابو شجرة نه روایت دې. نه دی ذکر کړی ابن عمر رضی الله عنه چه بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي: ودروئ صفونه او برابرې کړئ اوږې او بند کړئ خالیګاه او نرم شئ په لاسونو د ورونړو خپلو کښې. عیسی ندی ویلی (بأيدي اخوانكم) او مه پریږدئ لارې د شیطانانو دپاره، او چا چې پیوست کړو صف الله به ئې پیوست کړي، او چا چې پریکړو صف الله به

(۱) او د احنافو مذهب به دې کښې وړاندې راروان دې.

(۲) سنن النسائي/الإمامة ۳۱ (۸۲۰)، (تحفة الأشراف: ۷۳۸۰، ۱۹۳۳۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۷/۲) (صحيح)

نې پرې کړې. وئيلی دی ابوداود: ابو شجرة کثير بن مرة دی. وئيلی دی ابوداود: معنی د و لِينُوا بأيدي اخوانکم داده: چې کله يو سړې راشي او صف ته داخلېږې نو مناسب دې هر سړی لره چې هر سړی ورته اوږې نرمې کړی تردې چې صف کښې داخل شي.

شرح حديث

قوله:﴿ الخلل ﴾ خلل په معنی د فرجه ددې جمع خلال ده لکه جبل او جبال.

قوله:﴿ ومن وصل صفا وصله الله ﴾ کوم چه صف يوځائې کړی الله پاک به هغه د خپل رحمت سره يوځائې کړی، د يوځائې کولو يو صورت دا دې چه په مينځ کښې که چرته خلل وی نو هغه ختم کړی يا وړاندې صف ناقص وی په هغې کښې د يو يا دوه سړو گنجائش وی نو هغه پوره کړی. ﴿ومن قطع صفا قطعه الله ﴾ د قطع صف يو صورت دا دې چه يو سړې کوم چه په مانځه کښې شريک نه دې هغه د صف په مينځ کښې ناست وی يا يو سړې په صف کښې د گنجائش کيدو باوجود په دې کښې د داخليدو والا منع کړی. (افاده السندی).

[٦٦٧]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "رُصُّوا صُفُوفَكُمْ وَقَارِبُوا بَيْنَهَا وَحَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الْحَذَفُ".

ترجمه: د انس بن مالک ﷺ روايت دې، هغه روايت کوی د رسو ل الله ﷺ نه هغه فرمائيلی دي: جوخت کړئ خپل صفونه او نزدې والی راولئ په هغې کښې، او مخامخ کړئ څټونه، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کښې دی زه وينم شيطان چې ننوځی د خاليگاه د صف نه گويا چې هغه گډورکی دی.

تشريح: قوله:﴿ وحاذوا بالاعناق ﴾ او ددې نه مخکښې تير شو چه ﴿ حاذوا بين المناکب ﴾ يعنی د مونځ کونکو د اوږو او ستونو ترمينځه محاذات پکار دی چه وړاندې روستو نه وی، او د ﴿ حاذوا بالاعناق ﴾ بل مطلب دا هم کيدې شی چه ټول مونځ کونکی په هوار ځائې باندې اودريږی او په هغه ځائې کښې لاندې باندې نه وی چه بعض په لوړ ځائې ولاړ وی او بعض په ښکته ﴿ کانها الحذف ﴾ حذف جمع د ﴿ حذفة ﴾ ده، د حجاز بيزه کومه چه توره او وړه شان وی، د مشکاة په روايت کښې ئې د ﴿ حذف ﴾ تفسير داسې کړې دې يعنی ﴿ اولاد الضان من الصغار ﴾

[٦٦٨]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَوُّوا صُفُوفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ".

ترجمه: انس ﷺ وئيلی دی، چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: برابر کړئ خپل صفونه ځکه

[1]: سنن النسائي/الإمامة ٢٨ (٨١٦)، (تحفة الأشراف: ١١٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٠/٣، ٢٨٣) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأذان ٧٤ (٧٢٣)، صحيح مسلم/الصلاة ٢٨ (٤٣٣)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٥٠ (٩٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٤٣)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الإمامة ٢٧ (٨١٢)، مسند احمد (١٧٧/٣، ١٧٩، ٢٥٤، ٢٧٤، ٢٧٩، ٢٩١)، سنن الدارمي/الصلاة ٤٨ (١٢٩٨) (صحيح)

برابرول د صفونو د پوره والی د مانځه نه دی.

تشریح: قوله: فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ،، ای من کمال الصلوة: د مونځ کمال په صفونو برابرولو کښې دې.

د تسویة صفوف حکم

د دې نه معلومه شوه چه تسویه د مستحبات نه دې ځکه چه د یو څیز تمامیت عرفا د هغه څیز د حقیقت نه خارج منلې شی او هم دا مذهب دې د جمهور علماء کرامو او د بخاری په یو روایت کښې دی ﴿ من اقامة الصلاة ﴾ د دې نه ابن حزم استدلال کړې دې چه تسویه فرض ده ځکه چه اقامت صلاة فرض دې، ددې جواب د نورو روایاتو پیش نظر دا کیدې شی چه تسویة الصف د اقامة الصلاة علی وجه الکمال د قبیل نه دې نفس اقامة صلاة مراد نه دی.

[٦٦٩]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ ثَابِتِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ السَّائِبِ صَاحِبِ الْمَقْصُورَةِ، قَالَ: صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَوْمًا، فَقَالَ: هَلْ تَدْرِي لِمَ صُنِعَ هَذَا الْعُودُ؟ فَقُلْتُ: لَا وَاللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَهُ عَلَيْهِ، فَيَقُولُ: "اسْتَوُوا وَعَدِّلُوا صُفُوفَكُمْ".

ترجمه: د محمد بن مسلم بن السائب نه روایت دې چې خاوند مقصوری دی، هغه وئیلی دي: ما مونځ وکړو د انس ﷺ خوا ته یوه ورځ، هغه وویل: ایا ته پوهېږې دا لرګی ولې کیخودلي دې، ما وویل: نه قسم په الله، هغه وویل: وو رسول الله ﷺ کیخودلو به ئې خپل لاس په هغې او وئیل به یې: برابر شئ او برابر کړئ خپل صفونه.

تشریح: قوله:﴿ هل تدری لم صنع هذا العود ﴾ په مسجد نبوی کښې د امام د مونځ ځائې ته نزدې یو لرګې ښخ کړې شوې وو، چه په هغې باندې به رسول الله ﷺ لاس کیخودلو یا خو به هغه په دیوال کښې وو د کونټئ په شان یا به په زمکه کښې ښخ وو، والله تعالی اعلم، د دې تفصیل په الحل المفهم (١١٦) کښې شته، په هغې کښې لیکلي دی چه د حضرت ګنګوهی په یو تقریر کښې دی چه دا لرګې د رسول الله ﷺ مصلي ته نزدې ښخ کړې شوې وو، رسول الله ﷺ به د وعظ په وخت په هغې لاس ږدلو او تکیه به ئې پرې وهله.

[٦٧٠]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الْأَسْوَدِ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَنَسٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ أَخَذَهُ بِيَمِينِهِ ثُمَّ الْتَفَتَ، فَقَالَ: اعْتَدِلُوا سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، ثُمَّ أَخَذَهُ بِيَسَارِهِ، فَقَالَ: اعْتَدِلُوا سَوُّوا صُفُوفَكُمْ.

ترجمه: د انس ﷺ نه روایت دې ددې حدیث هغه وئیلی دي: بیشکه رسول الله ﷺ وو کله چې به ودریدلو مانځه ته هغه به ئې ونیولو په ښي لاس سره بیا به ئې وکتل، وبه ئې وئیل: برابر شئ، برابر کړئ خپل صفونه. بیا به ئې هغه ونیول د چپ لاس نه، هغه به وویل: تاسو برابر شئ او برابر کړئ تاسو صفونه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٤/٣) (ضعيف)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٤٧٤) (ضعيف)

[٦٧١]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ يَعْنِي ابْنَ عَطَاءٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ، فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ".

ترجمه: د انس بن مالک ﷺ نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ ويلى دي: پوره کړئ مخکنى صف، بيا هغه چې ورپسې دى، کوم کمې چې دې هغه دې په وروستني صف کښې شي.

[٦٧٢]()حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ يَحْيَى بْنِ ثَوْبَانَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمِّي عُمَارَةُ بْنُ ثَوْبَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خِيَارُكُمْ أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: جَعْفَرُ بْنُ يَحْيَى مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ.

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روايت دې، هغه وئيلى دى، فرمائيلى دى رسول الله ﷺ: په تاسو کښې غوره هغه دى چې د هرې نرمې وې اوږې د هغه په مانځه کښې. وئيلى دى ابوداود: جعفر بن يحيى د مکې والاو نه دى.

تشريح: **قوله**:﴿ خيارکم الينکم مناکب فى الصلاة ﴾ په تاسو کښې د ټولو نه غوره هغه دې کوم چه په مونځ کښې د اوږو په اعتبار سره نرم وى، ددې نه مراد انقياد او اطاعت دې يعنى صفونه برابرولو والا سړې که څوک د اوږو نه اونيسى او څوک مخکښې روستو کوى نو د هغه په حق کښې نرم شى او ضد اونکړى، هم دا معنى ددې مقام مناسب ده، او بل مطلب ئې دا ليکلې دې چه ددې نه مراد خشوع او سکون او طمانيت دې.

بَابُ الصُّفُوفِ بَيْنَ السَّوَارِي

باب دې په بيان د صفونو کې په مينځ د ستنو کې

دلته دوه بحثونه دى اول د صلاة بين الساريتين حکم او په هغې کښې اختلاف د علماء کرامو او دويم د منع کولو حکمت.

صف بين الساريتين کښې د مذاهب ائمه تحقيق

اول بحث : امام ترمذى ﷫ په ائمه کرامو کښې صرف د امام احمد او اسحاق مسلک دا ليکلې دې چه د هغوى په نزد صف بين الساريتين مکروه دې خو د صف تعلق خو د مقتديانو سره وى او د امام او منفرد دپاره خو صف نه وى نو گويا دا کراهت د هغوى په نزد صرف د مقتديانو په حق کښې شو، او د باقى ائمه کرامو د مذاهبو په باره کښې دا دى چه ابن سيد الناس فرمائى : هغه ليکى چه د امام احمد نه علاوه د ائمه ثلاثه په نزد د مقتدى په حق کښې هم جائز دې، او امام نووى ﷫ د مسلم په شرح (١٩٧) کښې د شوافعو مسلک د جواز ليکلې دې (٣) خو د امام مالک په باره کښې ئې دا ليکلې دى چه د هغه په دې کښې دواړه قوله دى کراهت او عدم کراهت، خو ابن العربى مالکى د مقتدى په حق

(١): سنن النسائي/الإمامة ٣٠(٨١٩)، (تحفة الأشراف: ١١٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٢/٣، ٢١٥، ٢٣٣) (صحيح)
(٢): تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ٥٩٣٦) (صحيح)
(٣) په ظاهره کښې خو صحيح هم دا ده څه چه امام نووى ﷫ ليکلې دى ځکه چه هغه خپله شافعى دې خو صاحب منهل د شوافعو مسلک کراهت في حق المقتدى ليکلې دې.

کښې صرف د کراهت قول نقل کړې دې، زه وايم چونکه د مالکيانو په دې کښې دوه قوله دي. (کما قال النووی) په دې وجه د هغوی دا يو قول ابن العربی او دويم قول ابن سيد الناس نقل کړې دې، نو اوس حاصل دا شو چه د مقتدی په حق کښې قيام بين الساريتين د حنابله په نزد مکروه او د احنافو او شوافع په نزد غير مکروه،(١) او د مالکيانو په نزد دواړه اقوال دي کراهت او عدم کراهت.

حکمت منع

بحث ثانی : د دې منع په حکمت کښې د شارحينو درې اقوال دی، اول دا چه په دې کښې قطع صفوف لازميږی، دويم قول دا چه دا ما بين الساريتين موضع النعال دې، او دريم قول دا دې چه ﴿ انه مصلی الجن من المومنين ﴾ چه دا د مسلمانانو جناتو د مونځ کولو ځائې دې، خو ابن سيد الناس قول اول ته ترجيح ورکړې ده او د قول ثانی په باره کښې ليکی چه ﴿ انه محدث ﴾ يعنی د ساريتين ترمينځه د پيزار ږدلو رواج د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وو، دا بدعت او روستو رواج دې لهذا دا علت منل صحيح نه دی.

[٦٧٣](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ هَانِئٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ مَحْمُودٍ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَدُفِعْنَا إِلَى السَّوَارِي فَتَقَدَّمْنَا وَتَأَخَّرْنَا، فَقَالَ أَنَسٌ: "كُنَّا نَتَّقِي هَذَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: عبد الحميد بن محمود وايې چې ما مونځ وکړو د انس بن مالک سره د جمعې په ورځ، نو مونږ دېکه کړی شو ستنو ته، نو مخکې او وروسته شو. نو وويل انس: وو مونږ چې ځان به مو بچ کولو د دېنه په زمانه د رسول الله ﷺ کښې.

شرح حديث

قوله:﴿ صليت مع انس بن مالک يوم الجمعة الی السواری فتقدمنا وتاخرنا ﴾ ما د انس بن مالک ﷺ سره د جمعې مونځ اوکړو، د ترمذی او د نسائی د روايت نه معلوميږی چه دا مونځ په يو امير پسې شاته کړې شوې وو، خپله انس ﷺ امام نه وو، پس د هجوم په وجه باندې مونږ ستنو طرف ته واپس کړې شو خو په مونږ کښې بعض په وړاندې صفونو کښې او بعض په شاته صفونو کښې شامل شو يعنی د قيام بين الساريتين نه د بچ کيدلو د پاره.

(١) تنبيه : عموما د شارحينو د کلام نه او هم دغه شان د بذل المجهود نه معلوميږی چه د امام او منفرد په حق کښې په جواز باندې اتفاق دې، خو په معارف السنن کښې د احنافو د مسلک په باره کښې ابن عابدين او ابن الهمام نه د امام په حق کښې قيام بين الساريتين مکروه ليکلې شوې دې او د مقتدی په حق کښې هغه ليکی ﴿ واما المقتدي فلم يذكر حكمه في كتبنا ﴾ خو په بذل المجهود کښې په حواله د مبسوط للسرخسی د مقتدی په حق کښې د عدم کراهت تصريح نقل ده.

(٢): سنن الترمذي/الصلاة ٥٥ (٢٢٩)، سنن النسائي/الإمامة ٣٣ (٨٢٢)، (تحفة الأشراف: ٩٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣١/٣) (صحيح)

د رواياتو تعارض

د دې روايت نه معلوميږي چه دې خلقو د ساريتين ترمينځه مونځ نه دې کړې، حال دا چه د ترمذی او نسائی په روايت کښې ددې خلاف موجود دې، ﴿ فصلينا بين الساريتين ﴾ ددې يو جواب خو دا کيدې شی چه کومو بعضو ته ځائې ملاؤ شوې وو هغوی شاته او مخکښې صفونو ته لاړل او چاته چه ځايونه نه وو ملاؤ شوې هغوی د ساريتين ترمينځه مونځ اوکړو لهذا دا د راويانو اختصار دې، او يا دې دا په تعدد د واقعه باندې محمول کړې شی او په کوکب کښې ئې ددې جواب دا ورکړې دې چه د ﴿ تقدمنا وتاخرنا ﴾ نه مراد په وړاندې او روستو صفونو کښې شامليدل نه دی بلکه ددې ستنو ترمينځه مونځ کول مراد دی ځکه چه د مسجد نبوی اساطين مستوی نه وو، په هغې کښې څه کوږوالې وو هم په دې وجه باندې د هغوی ترمينځه د مونځ کونکو صف برابر پاتې نه شو، هم دا مراد دې د تقدم او تاخر نه، په دې صورت کښې به د دواړو روايتونو مفهوم متحد شی.

قوله: ﴿ فقال انس: كنا نتقى هذا على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ د دې حديث نه د صلاة بين الساريتين مطلقا کراهت معلوميږي چه په ائمه کرامو کښې د چا مذهب هم نه دې، خو دلته يو بل روايت دې چه د کوم امام ترمذیؒ حواله ورکړې ده ﴿ وفى الباب عن قرة بن اياس المزنى ﴾ دا حديث په ابن ماجه کښې دې چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ كنا ننهى ان نصف بين السوارى على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ونطرد عنها طردا ﴾

الكلام على دلائل الفريقين

په دې حديث کښې ممانعت د مطلق صلاة نه دې بلکه د صف د قائمولو دې او د صف تعلق د مقتديانو سره وی، لهذا حديث انس کوم چه مطلق دې هغه به ددې حديث سره مقيد کولې شی، لهذا داسې به د مقتدی په حق کښې کراهت ثابت شی، لکه چه د حنابله وغيره مذهب دې، ددې جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه حديث د انسؓ صحيح دې، كما قال الترمذى، خو هغه مطلق دې [۱] د مطلق کراهت خو څوک هم قائل نه دی او د کوم روايت نه چه ددې تقييد کولې شی هغه ضعيف دې په دې کښې هارون بن مسلم راوی ضعيف او مجهول دې لهذا په کراهت باندې استدلال تام نه دې، هم دغه شان د صحيحين په روايت کښې د رسول اللهﷺ صلاة بين الساريتين کول په بيت الله شريف کښې ثابت دی او د صحيحين روايت اگر چه د منفرد په حق کښې دې خو غير منفرد به په منفرد باندې قياس کولې شی، حضرت فرمائی چه په مبسوط للسرخسی کښې تصريح ده ددې خبرې چه ﴿ اصطفاف بين الاسطوانتين ﴾ مکروه نه دې، ﴿ لانه صف فى حق كل فريق وان لم يكن طويلا ﴾

---

[۱] په دې باندې زما دا کلام دې چه دا حديث به مطلق په هغه صورت کښې وی چه د ﴿ كنا نتقى هذا ﴾ اشاره د صلاة الى الساريتين طرف ته اومنلې شی، او که ددې مشار اليه ﴿ الصف ﴾ بين الساريتين اومنلې شی لکه چه د کلام د سياق تقاضه ده نو بيا به دا حديث مطلق نه وی او د تقييد دپاره به د ابن ماجه د روايت طرف ته هم حاجت نه وی، فتامل فانه دقيق)

بَابُ مَنْ يُسْتَحَبُّ أَنْ يَلِيَ الإِمَامَ فِي الصَّفِّ وَكَرَاهِيَةِ التَّأَخُّرِ

باب دی په بیان د دې چې چاله مستحب دي چې نزدې وي امام ته په صف کې او کراهيت د وروسته والي

[۶۷۴] (۱) حَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنِي سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الأَحْلاَمِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ".

ترجمه: د ابو مسعود نه روايت دې هغه وېلي، چې فرمائيلي دی رسول الله ﷺ: نزدې دې شی ماته په تاسو کښې خاوند د عقلونو، بيا هغه کسان چې دوی ته نزدې وي، بيا هغه کسان چې دوی ته نزدې وي.

د حديث تشريح:

د ليلني صرفی تحقيق:

قوله: ﴿ ليلنی منکم اولوا الاحلام والنهی ﴾ دا لفظ د ولی نه دې چه د هغې معنی ده نزدې او په شروع کښې لام، لام امر دې او نون مشدد، او د مسلم په روايت کښې بغير د ياء نه دې ﴿ليلنی ﴾ په دې صورت کښې په نون مخفف وی کوم ته چه نون وقايه وئيلې شی او په بعض رواياتو کښې باوجود د ياء نه ﴿ ليلنی ﴾ ياء ثانی په سکون او تخفيف نون سره دې خو دا د قواعدو خلاف په دې وجه دې چه دا لام لام امر دې کوم چه جازم دې او په حالت د جزم کښې د حرف علت سقوط ضروری دې، ملا علی قاری ددې تاويل کړې دې چه دا ياء دلته د اشباع د کسرې د وجې نه ده، يا په اصل کلمه باندې د تنبيه دپاره راوړلې شوې ده. کما فی قراءة انه من يتقی ويصبر.

د الاحلام لغوی تحقيق

قوله: ﴿ الاحلام ﴾ يا خو د ﴿ حلم ﴾ بالکسر جمع ده، چه د هغې نه مراد عقل او پوهه ده، يا ﴿حلم ﴾ بضم الحاء چه د هغې معنی د خوب ده، خو دلته ترې مراد بلوغ دې، په اول صورت کښې به د احلام نه مراد عقلاء وی او په دويم صورت کښې به بلغاء، والنهی د نهية جمع ده په معنی د عقل، يعنی عقلاء په اول صورت کښې به ﴿ اولو الاحلام والنهی ﴾ د دواړو مصداق يو وی يعنی عقلاء په دې صورت کښې به دا عبارت ﴿ والفی قولها کذبا ومينا ﴾ د قبيل نه وی يعنی تغاير فی اللفظ لره د تغاير فی المعنی حکم ورکولو سره عطف راوړل، او په دويم صورت کښې به د معنی تکرار وی بلکه د اول نه مراد بلغاء او د ثانی نه مراد عقلاء دی.

قوله: ﴿ ثم الذين يلونهم ﴾ يعنی بيا چه څوک هغوی ته نزدې وی، د عقل يا بلوغ په اعتبار سره دهغې نه کم درجه وی لکه مراهقين بيا چه څوک هغوی ته نزدې وی لکه صبيان مميزين يا په اعتبار د عقل د هغې نه د کمې درجې وی، او وئيلې شوې دی چه ددې نه مراد ﴿ نساء ﴾

---

(۱): صحيح مسلم/الصلاة ۲۸ (۴۳۲)، سنن النسائي/الإمامة ۲۳ (۸۰۸)، ۲۶ (۸۱۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۴۵ (۹۷۶)، (تحفة الأشراف: ۹۹۹۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۱۲۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۵۱ (۱۳۰۲) (صحيح)

دی وقیل ﴿ خنالی ﴾ او د صفونو ترتیب د فقهاء کرامو په نزد داسې دې، صفوف الرجال، ثم الصبيان ثم الخنالى ثم النساء ﴾

[٦٧٥]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ أَبِي مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ، وَزَادَ: وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ.

ترجمه: د عبد الله نه روایت دې، هغه روایت کوی د نبی ﷺ نه په مثل د هغې، او زیادت ئې کړی دی. او تاسو اختلاف مه کوئ مختلف به شي ستاسو زړونه، او ځان وساتئ د چغو د بازارونو نه.

تشريح: **قوله:**﴿ وإياكم وهيشات الأسواق﴾ د ﴿ هيشة ﴾ معنی د اواز اوچتول او اختلاط دواړه راځی یعنی په مسجدونو کښې شور مه کوئ لکه چه په بازاراونو کښې وی، یا د ترتیب مذکور خلاف مه کوئ ځنګه چه په بازارونو او دکانونو باندې د خلقو ترمینځه څه ترتیب نه وی تول په یوځائې باندې روان وی، دویمه معنی د مقام زیاته مناسب ده ځکه چه په حدیث کښې ترتیب بیانولې شي.

[٦٧٦]( )حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى مَيَامِنِ الصُّفُوفِ".

ترجمه: د عائشي رضي الله عنها نه روایت دې هغې وئیلی دی، چې فرمانیلی دی رسول الله ﷺ بیشکه الله او د هغه ملائک رحمتونه لیږی په ښې طرفونو د صفونو باندې

بَابُ مُقَامِ الصِّبْيَانِ مِنَ الصَّفِّ

باب دې په بیان د ځای د ماشوما نوکې د صف نه

[٦٧٧]( )حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ شَاذَانَ، حَدَّثَنَا عَيَّاشٌ الرَّقَّامُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا قُرَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا بُدَيْلٌ، حَدَّثَنَا شَهْرُ بْنُ حَوْشَبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو مَالِكٍ الْأَشْعَرِيُّ: أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِصَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: "فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَفَّ الرِّجَالَ وَصَفَّ خَلْفَهُمُ الْغِلْمَانَ ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ، فَذَكَرَ صَلَاتَهُ، ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا صَلَاةُ"، قَالَ عَبْدُ الْأَعْلَى: لَا أَحْسَبُهُ إِلَّا قَالَ: صَلَاةُ أُمَّتِي.

ترجمه: ابو مالک الاشعری وئیلی دې ایا زه بیان نه کړم تاسو ته مونځ د نبی ﷺ، هغه وویل: مونځ ئې ودرولو، او صف ئې کړل سړی او صف ئې کړل وروسته د هغوی نه هلکان، بیا ئې مونځ وکړو هغوی ته، ذکریې کړو مونځ د هغه بیا ئې وویل دارنګه مونځ دی. وئیلی دی عبد الاعلی زه ګمان نه کوم مګر دا چې هغه وویل مونځ د امت زما

( ): صحيح مسلم/الصلاة ٢٨ (٤٣٢)، سنن الترمذي/الصلاة ٥٤ (٢٢٨)، (تحفة الأشراف: ٩٤١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٥٧/١)، سنن الدارمي/الصلاة ٥١ (١٣٠٣) (صحيح)

( ): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥٥ (١٠٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٧/٦، ٨٩، ١٦٠)، (حسن) بلفظ: «على الذين يصلون الصفوف».

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢١٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤١/٥، ٣٤٣، ٣٤٤) (ضعيف)

تشریح: د جمهور علماء کرامو او اکثر شوافعو په نزد د صبیان دپاره مستقل صف پکار دی په سړو پسې شاته، د امام مالک او بعض شوافعو په دې کښې اختلاف دې هغه داسې وائی (يقف كل صبی بین رجلین لیتعلموا منهم الصلاة (وكذا فی المیزان للشعرانی) په حدیث الباب کښې د جمهورو د مسلک تائید دې او صاحب منهل مالکی لیکلې دی چه که صبی یو وی نو د سړو سره دې اودریږی په شاته صف کښې دې ځانله نه اودریږی.[1]

بَاب صَفِّ النِّسَاءِ وَكَرَاهِيَةِ التَّأَخُّرِ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ

باب دې په بیان د صف د زنانوکې او کراهیت د وروستوالي د اولني صف نه

[٦٧٨](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّاءَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا وَشَرُّهَا آخِرُهَا وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا".

ترجمه: د ابو هریرة رضی الله عنه نه رویت دی، هغه وئیلی دی، چې فرمائیلی دی رسول الله ﷺ: بهترین صف د سړو اولنی دی او بدترین ئې اخیرنی دی، او غوره د صفونو د ښځو نه اخیرنی دی او بدترین ئې اولنی دی.

تشریح: قوله: (خير صفوف الرجال اولها وشرها اخرها) ابن العربی فرمائی:

۱: دا په دې وجه چه په دې کښې سبقت الی الخیر دې،

۲: دویم په دې وجه چه مقدم مسجد افضل دې د موخر مسجد نه،

۳: دریم دا چه په دې کښې د امام قرب دې. (وخير صفوف النساء اخرها وشرها اولها) ځکه چه په اول صورت کښې د سړو سره قرب دې او په دویم صورت کښې د هغوی نه بُعد (لرې والې) دې، هم دغه شان سړی په تقدم مامور دی او زنانه د تاخر او احتجاب.

[٦٧٩](۳)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللَّهُ فِي النَّارِ".

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها نه روایت دې، هغې وئیلی دی، چې فرمائیلی دی رسول الله ﷺ همیشه دی یو قوم چې وروسته والی کوی د اول صف نه تردې چې الله ئې وروسته کړی په اور کښې.

تشریح: قوله: (لا يزال قوم يتاخرون عن الصف الاول حتى يوخرهم الله فى النار) یعنی بعض خلق

---

[1]) او د امام احمد رحمه الله مذهب هغوی دا لیکلې دې چه صبی لره د سړو سره په امام پسې شاته اودریدل نه دی پکار، د عمر رضی الله عنه نه هم روایت دې چه که هغه به یو ماشوم په صف کښې اولیدو نو هغه به ئې لرې کولو، په ظاهره کښې به مراد دا وی چه هغه به ئې په روستو صف کښېباودرولو.

[2]): صحيح مسلم/الصلاة ٢٨ (٤٤٠)، سنن الترمذي/الصلاة ٥٢ (٢٢٤)، سنن النسائي/الإمامة ٣٢ (٨٢١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥٢ (١٠٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٢٦٣٧، ١٢٥٨٩، ١٢٥٩٦، ١٢٧٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٧، ٣٣٦، ٣٤٠، ٣٦٦، ٤٨٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٥٢ (١٣٠٤) (صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٧٧٨٦) (صحيح)

په اول صف نه شاته پاتې کيدو د وجې نه او د هغې د اهتمام د ترک کولو په وجه باندې اخر يعني د انجام په لحاظ سره جهنم کښې داخل کړې شي، يا به ئې الله پاک د جهنم نه روستو راوباسي.
مطلب دا دې چه هميشه اول صف پريخودل او مسجد ته ناوخته تلل د داسې قبائحو د ارتکاب سبب جوړيدې شي کوم چه مفضی الی النار وی، نه دا چه صرف د صف اول په ترک باندې انسان د اور مستحق کيږي.

[٦٨٠]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَشْهَبِ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا، فَقَالَ لَهُمْ: "تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي، وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ، وَلَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدری رضی الله عنه نه روايت دې، بيشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وليده په خپلو ملګرو کښې وروستوالی، نو ويې وئيل هغوی ته: مخکې شئ ماپسې اقتداء وکړئ، او اقتداء دې وکړی تاسو پسې هغه خوک چې تاسو نه وروسته دې، او هميشه يو قوم وروسته والی کوی تردې چې الله تعالی ئې وروسته کړي.

شرح حديث

قوله:﴿ رای فی اصحابه تاخرا فقال لهم : تقدموا فاتموا بی ولياتم بکم من بعدکم ﴾ ([2]) يعني وړاندې کيدو سره په اول صف کښې د مونځ کولو کوشش کوئ ددې دپاره چه زما مونځ ته کتلو سره اتباع اوکړې شئ او بيا شاته صف والا تاسو ته کتلو سره ستاسو اتباع اوکړی يعني ستاسو د وجې نه هغه زما تابعداری اوکړې شی، او دا مطلب هم کيدې شی چه تاسو په ښه طريقه باندې زما تابعداری کوئ ددې دپاره چه روستو راتلونکی (تابعين) ستاسو تابعداری اوکړی (ذکر المعنيين القاری فی المرقاة) او امام شعبی رحمه الله ددې حديث نه په يوه بله مسئله کښې استدلال کړې دې يعني د اقتداء بالماموم جواز، چه وړاندې صف والا به د امام د اقتداء نيت کوی او شاته صف والا دې د وړاندې صف والو د اقتداء نيت اوکړی، او د علامه عينی رحمه الله رائې دا ده چه هم دې طرف ته د امام بخاری رحمه الله ميلان هم دې، ځکه چه هغه په دې باندې ترجمه قائم کړې ده ﴿ باب الرجل ياتم بالامام وياتم الناس بالماموم ﴾ خو دا ضروری نه ده چه د امام بخاری رحمه الله مراد دې هم دا وی کوم چه شعبی خيال کوی. بلکه د بخاری په نزد هم د حديث محمل هم هغه وی کوم چه جمهورو اختيار کړې دې، د حضرت ګنګوهی رائې په لامع کښې هم دا ده.

[1]): صحيح مسلم/الصلاة ٢٨ (٤٣٨)، سنن النسائي/الإمامة ١٧ (٧٩٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٥ (٩٧٨)، (تحفة الأشراف: ٤٣٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩/٣، ٣٤، ٥٤) (صحيح)

[2]) ملا علی قاری رحمه الله ليکلي دی چه د تاخر نه مراد تاخر عن الصف الاول او تاخر عن العلم دواړه کيدې شی، فعلي الاول معناه ليصف العلماء في الصف الاول وليقف من دونهم في الصف الثاني فان الصف الثاني يقتدون بالصف الاول ظاهرا لا حكما وعلي الثاني المعني ليتعلم كلكم مني احكام الشريعة ويتعلم التابعون منكم وهكذا قرنا بعد قرن ﴾

باب مُقَامِ الإِمَامِ مِنَ الصَّفِّ

باب دې په بيان د ځای د دريدو د امام کې د صف نه

يعنى امام لره په صف کښې چرته اودريدل پکار دی، په نورو الفاظو د امام د قيام د ځائې د مقتديانو د صف سره څه نسبت پکار دی، پس د حديث نه معلومه شوه چه هغه نسبت د تنصيف پکار دې چه امام داسې اودريږی چه د هغه نه شاته د مقتديانو صف د هغه ښى او ګس طرف ته برابر وی.لکه چه فرمائی: وسطوا الامام.

[٦٨١](¹)حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ بَشِيرِ بْنِ خَلَّادٍ، عَنْ أُمِّهِ، أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ فَسَمِعَتْهُ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَسِّطُوا الْإِمَامَ وَسُدُّوا الْخَلَلَ".

ترجمه: حديث بيان کړې دې ابو هريرة، هغه وئيلی دی، چې فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: مينځ کښې کړئ امام او خاليګاه بند کړئ.

شرح حديث

پس فرمائی ﴿ وسطوا الامام ﴾ يعنى امام په مينځ کښې ساتئ، او دا هله کيدې شی چه کله مقتديان دواړو طرفونو ته برابر وی او په دې صورت کښې به دا لفظ ﴿ وسط ﴾ د سين په سکون سره وی، او بعض وائی چه دا ﴿ وسط ﴾ بفتح السين دې چه د هغې معنى افضل ده. ﴿وکذلک جعلناکم امة وسطا ﴾ ويقال ﴿ فلان وسط القوم ای خيرهم ﴾ لهذا د حديث معنى شوه ﴿اجعلوا امامکم خيرکم ﴾، يعنى څوک چه په تاسو کښې افضل وی هغه خپل امام اوګرځوئ، او بعض وائی چه دا حديث د زنانو په حق کښې دې پس د زنانو په امامت کښې هم داسې وی چه هغه په مينځ کښې اودريږی، هم دغه شان امام ابويوسف رحمه الله هم په خپل مسلک باندې استدلال کوی چه که مقتديان دوه وی نو ښى او ګس طرف ته دې اودريږی. (من هامش البذل)

باب الرَّجُلِ يُصَلِّي وَحْدَهُ خَلْفَ الصَّفِّ

باب دې په بيان د سړي کې چې مونځ کوي ځانله وروسته د صف نه

[٦٨٢](²)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَحَفْصُ بْنُ عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ وَابِصَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ"، قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ: الصَّلَاةَ.

ترجمه: د وابصة نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ وليدلو يو سړی چې مونځ ئې کولو وروسته دصف نه ځانله نو امرئې ورته وکړو چې بيائې وکړه.وئيلی دی سليمان بن حرب: مونځ.

تشريح: قوله:﴿ ان رسول الله صلى الله عليه وسلم رای رجلا يصلی خلف الصف وحده فامره ان يعيد﴾ انفراد خلف الصف د جمهورو په نزد مکروه دې، او د امام احمد او امام اسحاق بن

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٦٠٠) (ضعيف)

²): سنن الترمذي/الصلاة ٥٨ (٢٣٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥٤ (١٠٠٤)، (تحفة الأشراف: ١١٧٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد ٤/٢٢٧، ٢٢٨، سنن الدارمي/الصلاة ٦١ (١٣٢٣) (صحيح)

راهویه په نزد مفسد صلاة دي، لهذا د جمهورو په نزد به د اعادې حکم په طریقه د استحباب وي او د حنابله په نزد په طریقه د وجوب شو[1] او د جمهورو مستقل دلیل په وړاندې باب کښې راروان دې، دلته سوال دا دې چه اخر یواځې سړې به څه کوي؟ جواب دا دې چه یو کس دې راکاږي، د احنافو او شوافعو مذهب هم دا دې ځکه چه د طبراني په یو روایت کښې یو زیادت دې ﴿ هلا دخلت في الصف او جررت احدا ﴾ لکنها ضعيفة. مالک او احمد د جر قائل نه دی هم دغه شان مفتی به قول زمونږ په نزد هم دا دې چه جذب دې نه کوی ځکه چه په دې کښې د بد لګیدو او فتنې ویره ده. لقلة العلم بالمسائل.

بَابُ الرَّجُلِ يَرْكَعُ دُونَ الصَّفِّ

باب دې په بیان د سړي ځکې چې رکوع ځکوي اخوا د صفن نه

[٦٨٣]([2])حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، أَنَّ يَزِيدَ بْنَ زُرَيْعٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ زِيَادٍ الْأَعْلَمِ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ، أَنَّ أَبَا بَكْرَةَ حَدَّثَ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَنَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاكِعٌ، قَالَ: فَرَكَعْتُ دُونَ الصَّفِّ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "زَادَكَ اللَّهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ".

ترجمه: حدیث بیان کړې دې حسن، بیشکه ابابکرة حدیث بیان کړې دې، بیشکه هغه ننوتلو مسجد ته او د الله نبی ﷺ په رکوع کښې وو، هغه وایي: ما رکوع وکړه اخوا د صف نه نو ووېل نبي ﷺ: زیات دې کړی الله تعالی تالره حرص او داسې مه کوه.

تشریح: دا باب د ماقبل سره مربوط دې، مسئله او اختلاف په مخکښې باب کښې تیر شو، په دې باب کښې مصنف د ابوبکره رضي الله عنه حدیث ذکر کړې دې چه د هغې مضمون دا دې چه یوه ورځ هغه مسجد ته د مونځ دپاره داخل شو او جماعت ولاړ وو او رسول الله ﷺ په رکوع کښې وو نو هغه سوچ اوکړو چه که ما صف ته د رسیدو نه پس د مونځ نیت اوتړلو نو دا رکعت به رانه لاړ شي په دې وجه هغه صف ته د رسیدو نه مخکښې نیت اوتړو او د رکوع په هیئت کښې تلوسره په صف کښې شامل شو. رسول الله ﷺ د مونځ نه د فارغ کیدو نه پس اوفرمائیل: ﴿ زادک الله حرصا ولا تعد ﴾ ګویا د هغه د عزم او جذبې تحسین ئې اوفرمائیلو چه د نیکئ د حاصلولو حرص خو دې مبارک شه خو چونکه دا صورت کوم چه تا اختیار کړې دې دا د قاعدې خلاف دې په دې وجه بیا داسې مه کوه، دا حدیث د جمهور دلیل دې په پورته ذکر شوې مسئله کښې، ځکه چه دلته هم د تحریمه په وخت انفراد خلف الصف بیا موندلې شو، ابن حبان کوم چه یو مشهور محدث دې هغه په دې مسئله کښې د حنابله سره دې، خو هغه دا خاص صورت د مسئلې نه مستثنی کړې دې هم ددې حدیث په وجه باندې.

[1]) ابن الهمام هم دا خبره لیکلې ده او زمونږ د بعض فقهاء کرامو په نزد اعاده صلاة ته واجب هم لیکلې ده ځکه چه انفراد خلف الصف مکروه تحریمی دې ﴿ ولجاب عنه صاحب البدائع بوجه اخر حيث قال وامره بالاعادة شاذ ولو صح فمحمول على انه كان بينه وبين الصف ما يمنع الاقتداء وفي الحديث ما يدل على ذلك لانه قال في ناحية من الارض. اهـ د هغوی د کلام نه هم معلومیږی چه امر د وجوب دپاره دې.

[2]): صحيح البخاري/الأذان ١١٤ (٧٨٣)، سنن النسائي/الإمامة ٦٣ (٨٧٢)، (تحفة الأشراف: ١١٦٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩/٥، ٤٢، ٤٥، ٤٦، ٥٠) (صحيح)

[۶۸۴]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا زِيَادٌ الْأَعْلَمُ، عَنِ الْحَسَنِ، أَنَّ أَبَا بَكْرَةَ جَاءَ وَرَسُولُ اللَّهِ رَاكِعٌ فَرَكَعَ دُونَ الصَّفِّ ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّفِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ، قَالَ: أَيُّكُمُ الَّذِي رَكَعَ دُونَ الصَّفِّ ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّفِّ؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: أَنَا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "زَادَكَ اللَّهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: زِيَادٌ الْأَعْلَمُ زِيَادُ بْنُ فُلَانِ بْنِ قُرَّةَ وَهُوَ ابْنُ خَالَةِ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ.

ترجمه: بیشکه ابوبکرة راغي او رسول الله ﷺ په رکوع کښې وو، نو هغه رکوع وکړه اخوا د صف نه بیا لاړلو صف ته، هرکله چې نبی ﷺ مونځ خلاص کړو، نو ویې وئیل: کوم یو په تاسو کښې رکوع وکړه اخوا د صف نه بیا لاړلو صف ته؟ ابوبکرة وویل: ما، نو نبی ﷺ وویل: الله دې ستا حرص زیات کړي، بیا داسې مه کوه. وئیلی دی ابوداود: زیاد الاعلم هغه زیاد بن فُلان بن قرة دی او هغه خوی د خاله د یونس بن عبید دی.

تشریح: **قوله**: ﴿ ولا تعد ﴾ دا لفظ درې طریقو سره لوستلې شوې دې. ﴿ لا تعد ﴾ صیغة النهی من العود، ﴿ لا تعد ﴾ د دال په ضمې سره، صیغة النهی من العود یعنی د بیا دپاره داسې په منډه مه راځه، لا تعد صیغة النهی من الاعادة ای لا تعد تلک الصلاة.

فائده: د حدیث الباب راوی ابوبکره ﷺ دې چه د هغه نوم نفیع بن الحارث دې، دا طائفی دې، صحابه کرامو چه کله د طائف د قلعه محاصره اوکړه نو هغه ددې قلعه د چهت نه رسئ رازوړندولو سره په هغې باندې لاندې راغلې وو او په مسلمانانو کښې شامل شوې وو، ﴿بکره ﴾ رسئ ته وائی هم دا د هغه د کنیت وجه ده.

تفریع أبواب السترة

د سُترې باره کښې ابواب (احکام ومسائل)

بَابُ مَا يَسْتُرُ الْمُصَلِّي

باب دې په بیان د هغې کې چې ستره جوړیږي د مصلي دپاره

د دې ځائې نه ابواب السترہ شروع کیږی، د سترې متعلق مصنف ډیر ابواب قائم کړې دی، د سترې په باره کښې ډیر بابونه او مسائل دی چه د هغې په شروع کښې پیژندل ضروری دی، د حضرت شیخ په تقریر ابوداود السعی المحمود کښې دی چه صاحب د البحر الرائق د سترې متعلق تقریبا اولس بحثونه او مسائل ذکر کړې دی، امام ابوداود د هغې نه څو بیان کړې دی او هم دا خبره حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې هم لیکلې ده.

د سترې متعلق لس بحثونه

۱: معنی السترة لغة وشرعا، ۲: حکم السترة، ۳: قدرها طولا،
۴: نفعها لمن، ۵: حریم المصلی، ۶: قدر الفاصلة بین المصلی والسترة،
۷: الحکمة فیها، ۸: السترة بالراحلة، ۹: السترة بالخط، ۱۰: درا المار.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۵۹) (صحیح)

البحث الاول: معنی السترة لغة وشرعا

السترة في الاصل "ما يستر به مطلقا لم غلب على ما ينصب قدام المصلي (طحطاوی) یعنی مطلق هغه څيز چه د هغې په ذريعه د دوه څيزونو ترمينځه پرده راشي، او د فقهاء كرامو په عرف كښې هغه څيز ته وئيلې شي كوم چه د مونځ كونكی مخې ته قائم كړې شي د تيريدونكو نه د حيلولت دپاره

البحث الثانی : حكم السترة

سُتره قائمول د ائمه اربعه په نزد سنت ده، ابن العربی د امام احمد مذهب د وجوب ستره نقل كړې دې، حضرت شيخ په اوجز كښې ليكی چه دا صحيح نه ده بلكه هغه په دې كښې د جمهورو سره دې

البحث الثالث : قدرها طولا

د سترې مقدار په اوږدوالی او پلن والی كم از كم يو ذراع دې، په حديث كښې راځی (مثل مؤخرة الرحل واما عرضا فقيل ينبغي ان يكون في غلظ اصبع)

البحث الرابع : نفعها لمن

د سترې فائده او نفع وئيلې شوی دی چه د مونځ كونكی طرف ته راجع ده ددې دپاره چه د مونځ خشوع زائل نه شی، كه ستره ئې قائم نه كړه نو د خلقو د تيريدو د وجې نه به خشوع ضائع شی (ولئلا يحتاج الى الدرء) يعنی تيريدونكی ته د لرې كولو ضرورت راپيښ نه شی، بل قول دا دې چه د هغې نفع تيريدونكی طرف ته عائد ده ځكه چه اوس به هغه په تيريدو سره گناهگار نه وی خو په دواړو فائدو كښې منافات څه دې، لهذا دا به اووئيلې شی چه په ستره كښې دا دواړه قسم فائدې دی.

البحث الخامس حريم المصلی

د حريم مصلی مطلب دا دې چه د مونځ كونكی مخې ته هغه حصه چه د هغې تيريدل د ستره نه كيدو په صورت كښې ممنوع دې، د جمهور علماء كرامو په نزد دا د درې ذراع په اندازه دې كوم چه تقريبا د مصلی د محل قيام نه د موضع سجود پورې دې، لهذا دهغې د وراء نه په تيريدل ناجائز وی، او د احنافو په نزد په يو روايت كښې په اندازه د دوه صفونو دې او يو روايت په اندازه د درې صفونو دې، دا خو شو په اعتبار د صحراء يعنی بنكاره ميدان كښې، او په مسجد كښې دننه د مونځ كونكی مخې ته تيريدل خو مطلقا جائز نه دی، گويا ټول مسجد حريم مصلی دې كه هغه مسجد وړوكې وی يا لوئې وی، او وئيلې شوې دی چه په دواړو كښې فرق دې، په مسجد صغير كښې خو مرور مطلقا ممنوع دې او مسجد كبير د صحراء په حكم كښې دې، يو قول په حريم مصلی كښې بل دې كوم چه شيخ ابن الهمام او صاحب بدائع اختيار كړې دې يعنی "منتهى بصر المصلي لو صلى صلاة الخاشعين" يعنی خشوع او خضوع سره د مونځ كولو په صورت كښې بغير د قصد نه د زمكې د كومې حصې پورې چه په نظر راځی هغه حصه حريم مصلی دې، لهذا په دومره حصه كښې نه شی تيريدې.

البحث السادس : قدر الفاصلة بين المصلى والسترة

په دې سلسله کښې وړاندې باب راروان دې، "باب الدنو من السترة" د مصلی او سترې ترمينځه فاصله کم نه کم غوره ده ددې دپاره چه لاره تنګه نه شي او تيريدونکی په تکليف نه شي، بهرحال په دې سلسله کښې دوه احاديث راغلي دی يو هغه کوم چه په دې باب کښې ذکر شوې دې ﴿ كان بين مقام النبي صلى الله عليه وسلم وبين القبلة ممر عنز ﴾ يعنی د بيزې د تيريدو په اندازه فاصله، چه په کوم ځائې کښې بيزه تيريدې شی، او بل حديث دا دې چه رسول الله ﷺ په کعبه کښې مونځ ادا اوفرمائيلو ﴿ وبينه وبين القبلة ثلثة اذرع ﴾ يعنی د رسول الله ﷺ او د قبلې د ديوال ترمينځه د درې ذراع فاصله وه او ممر العنز په قدر د يو ذراع وی، په ظاهره دې دواړو کښې تخالف دې چه د هغې دوه جوابونه دی، اول دا چه رومبې روايت په حالت د سجود باندې محمول دې يعنی موضع سجود او د سترې ترمينځه په قدر د يو ذراع فاصله وی، او بل روايت کښې محل قيام او د سترې ترمينځه فاصله مراد ده، دويم جواب ددې هغه دې کوم چه داؤدی ورکړې دې چه کم از کم فاصله په قدر د ممر شاة دې او زيات نه زيات درې ذراع.

البحث السابع : الحكمة فيها

په ستره قائم کولو کښې حکمت "قيل هي كف البصر عما وراءها وجمع الخاطر بربط الخيال بها" يعنی يو څيز لره د مخامخ کولو نه بغير په ښکاره ميدان کښې په مونځ کولو سره نظر په يو ځائې باندې نه ايساريږی، او چه کله يو خاص نااشنا شان څيز مخامخ وی نو په هغې باندې ايساريږی نو هم په دې وجه باندې ستره قائمولې شی ددې دپاره چه نظر او خيال مجتمع وی، هم دغه شان بل حکمت په دې کښې "اعلام موضع السجود" يعنی حريم مصلی کوم چه موضع السجود دې د هغې په نخښه کول دی چه په هغې کښې څوک تير نه شي.

البحث الثامن : السترة بالراحلة

ابن رسلان ليکی چه د امام شافعی رحمه الله په نزد صلاة الى الدابه مکروه دې او هغه حديث په ضرورت باندې محمول کړې دې او د ضرورت په وخت جائز دې هم دغه شان د مالکيانو په نزد دابه لره ستره جوړول خلاف مستحب دی (صرح به الدسوقي) او د احناف او حنابله په نزد په دې کښې هيڅ باک نشته كما في الاوجز ددې سلسلې مزيد فوائد په باب الصلاة الى الراحلة کښې راځی.

البحث التاسع : السترة بالخط

د دې باب ددې نه روستو متصلا راروان دې هغه دا چه که د سترې دپاره يو څيز ملاؤ نه شي نو څه به کوی؟ په يو حديث کښې دی کوم چه وړاندې راروان دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ فليخطط خطا ﴾ چه خپلې مخې ته دې په زمکه باندې کرښه راکاږی، هم ددې حديث په بناء باندې امام احمد د ستره بالخط قائل دې، اګر چه حديث ضعيف دې او خپله د امام احمد رحمه الله نه نقل دی "حديث الخط ضعيف" خو ددې باوجود ددې قائل دې، امام

مالک د سترة بالخط قائل دي، د امام شافعي په دې کښې دوه اقوال دی، او د احنافو په نزد مشهوره خو هم دا ده چه خط لره اعتبار نشته ځکه چه هغه د لرې نه په نظر نه راځي او د سترې چه کومه فائده ده يعنی اعلام موضع السجود هغه په دې سره نه حاصليږي خو نور فوائد ترې حاصليدې شی، کف البصر عما ورائها وغيره، بيا په دې کښې دا اختلاف دې چه که خط راښکلې شی نو څنګه به وی؟ په دې کښې دوه اقوال دی، عرضا مثل الهلال والمحراب وقيل طولا.

البحث العاشر : درا المار

د مونځ کونکی د هغه مخې ته تيريدونکی لره اودرول د لاس په اشارې سره او بالتسبيح د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاث په نزد مستحب دي او د احنافو مسلک هم په ظاهره کښې هم دا دې لکه چه د هدايه شرح وقايه وغيره کتابونو نه معلوميږی، په موطاء د امام محمد کښې هم دا ليکلي دی ويدراء المار... خو په در مختار کښې ليکلي دی چه درء المار د رخصت درجه ده افضل او عزيمت ترک درء دي او په بدائع کښې ليکلي دی چه بعض مشائخو درء ته رخصت وئيلي دي او عدم درء ته ئې افضل.

ددې نه معلومه شوه چه د درمختار والاقول دبعض مشائخونه منقول دې "تلک عشرة کاملة"

البحث الحادی عشر :

يوه مسئله بله رایاده شوه چه په مسجد حرام کښې د سترې حاجت شته يا نه، پس امام بخاری رحمه الله هم ددې متعلق باب قائم فرمائيلي دې،باب السترة بمكة وغيرها،، او امام ابوداؤد دې سره متعلق باب په کتاب الحج کښې قائم کړې دې چه دهغې الفاظ دادی: باب في مکة،، او ددې باب لاندې مصنف د مطلب بن ابی وداعه حديث ذکرکړې دې چه هغوی نبی ﷺ اوليده چه په مسجد حرام کښې ئې مونځ کولو.﴿ والناس يمرون بين يديه ليس بينه وبين الكعبة سترة ﴾ امام ابوداود رحمه الله چونکه حنبلی دې په دې وجه هغه دا ثابته کړې ده چه په مکه کښې د سترې حاجت نشته، د حنابله راجح قول هم دا دې، او د جمهور علماء کرامو په نزد په دې مسئله کښې مکه وغيره مکه برابر دی، يو قول د احنافو په نزد دا هم دې چه په مسجد حرام کښې دې د مونځ کونکی مخې ته تيريدونکي منع نه کړې شی، او دا ئې هم ليکلي دی چه چونکه مسجد کبير د صحراء په حکم کښې دې لهذا په مسجد حرام کښې د موضع سجود نه جدا تيريدلې شی، دا يولس بحثونه شو احد عشر کوکبا.

البحث الثانی عشر

د سترې په مسائلو کښې يوه بله مسئله رایاده شوه چه د هغې دپاره مصنف ډير وړاندې تلو سره باب قائم کړې دې "باب سترة الامام سترة لمن خلفه" جمهور علماء ثلاث خو هم ددې قائل دې چه کومه ستره د امام دپاره دې هم هغه د قوم دپاره ده د مالکيانو په دې کښې اختلاف دې کوم چه به مونږ هم په دې باب کښې بيانوو، اوس دا دولس مسائل شو. وبعثنا منهم اثني عشر نقيبا.

[۶۸۵]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جَعَلْتَ بَيْنَ يَدَيْكَ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلَا يَضُرُّكَ مَنْ مَرَّ بَيْنَ يَدَيْكَ".

ترجمه: د طلحة بن عبيد الله نه روايت دې هغه وئيلي دي، چې فرمائيلي دى رسول الله ﷺ: كله چې تا كيخوده مخې خپلې ته په شان د لرګي د پالان نو نقصان نشي رسولي تاته هغه څوک چې ستا په مخه كښې تيريږي.

تشريح: **قوله**:﴿ اذا جعلت بين يديک مثل موخرة الرحل ﴾ په مؤخرة كښې درې لغات نور دي ﴿مؤخَّرَة، مؤخَرَه، آخِرَه ﴾ د كجاوې په شاته حصه كښې يو لرګي راوتلي وى، يستند اليه الراكب چه هغې ته سورتكيه لګوى دا د يوذراع په اندازه وى او وئيلي شوي دي چه يو ثلث كم يو ذراع.

[۶۸۶]( ) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ "آخِرَةُ الرَّحْلِ ذِرَاعٌ فَمَا فَوْقَهُ".

ترجمه: د عطاء نه روايت دې هغه وئيلي دي: وروستنى (لرګى) د پالان هغه ګز دى او يا د ګز نه زيات.

[۶۸۷]( ) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيدِ أَمَرَ بِالْحَرْبَةِ فَتُوضَعُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّي إِلَيْهَا وَالنَّاسُ وَرَاءَهُ، وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السَّفَرِ، فَمِنْ ثَمَّ اتَّخَذَهَا الْأُمَرَاءُ".

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روايت دې، بيشكه رسول الله ﷺ وو كله چې به وتلو په ورځ د اختر نو امر به ئې وكړو په نيزه باندې كيخودلى به شوه د هغه په مخكې نو مونځ به ئې كولو هغې ته، او خلک به د هغه شاته وو، او وو چې كول به ئې دا په سفر كښې د دې نه وجې نه عادت جوړ كړو دې لره اميرانو.

تشريح: عطاء فرمائى چه د پالان شاته لرګي د يو ذراع (لاس) برابر يا د هغې نه لږ شان زيات وى.

قوله: ﴿ ثم اتخذها الامراء ﴾ د حديث مضمون دا دې چه رسول اللهﷺ به كله په يو سفر باندې تلو نو خان سره به ئې يوه حربه او په ورانديې روايت كښې عنزه راروانه ده، يعنى وړه نيزه به ئې خان سره ساتله ددې دپاره چه د مونځ په وخت د سترې په كار راشي او ددې نه علاوه ترې نور كارونه هم اخستلې كيدې شو، بيا وړاندې راوى وائى چه چونكه د رسول اللهﷺ معمول د نيزې خان سره د ساتلو وو، هم په دې وجه روستو اميرانو هم دا طرز اختيار كړو، هغوى به هم خان سره په سفر كښې حربه ساتله.

[۱]: صحيح مسلم/الصلاة ۴۷ (۴۹۹)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۳۸ (۳۳۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۶ (۹۴۰)، (تحفة الأشراف: ۵۰۱۱) وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۶۱، ۱۶۲) (صحيح)

[۲]: تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۰۶۳) (صحيح)

[۳]: صحيح البخاري/الصلاة ۹۰ (۴۹۴)، والعيدين ۱۳ (۹۷۲)، ۱۴ (۹۷۳)، صحيح مسلم/الصلاة ۴۷ (۵۰۱)، تحفة الأشراف (۷۹۴۰)، وقد أخرجه: سنن النسائي/العيدين ۹ (۱۵۶۶)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ۱۶۴ (۱۳۰۵)، مسند احمد (۲/۹۸، ۱۴۲، ۱۴۵، ۱۵۱)، سنن الدارمي/ الصلاة ۱۲۴ (۱۴۵۰) (صحيح)

[۶۸۸]([1])حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِمْ بِالْبَطْحَاءِ وَبَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ يَمُرُّ خَلْفَ الْعَنَزَةِ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ".

ترجمه: ابو جحیفة د خپل پلار نه روایت کوي، بیشکه نبي ﷺ مونځ وکړو په بطحاء کښې او مخې د هغه ته نیزه وه د ماسپخین دوه رکعاته او د مازیګر دوه رکعاته، تیریدل به اخوا د نېزې نه ښځه او خر.

باب الخط إذا لم يجد عصا

باب دې په بیان د خط کښې کله چې امسا نه وي

د دې سره متعلق کلام په شروع کښې راغلي دي

[۶۸۹]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ، حَدَّثَنِي أَبُو عَمْرِو بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حُرَيْثٍ، أَنَّهُ سَمِعَ جَدَّهُ حُرَيْثًا يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئًا، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيَنْصِبْ عَصًا، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ عَصًا فَلْيَخْطُطْ خَطًّا ثُمَّ لَا يَضُرُّهُ مَا مَرَّ أَمَامَهُ".

ترجمه: د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دې، بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي: هرکله چې مونځ کوي یو کس ستاسو نه نو رږدې دې مخامخ د مخ خپل ته څه شی، که څه شی پیدا نه کړی نو امسا دې ودروې، او که امسا ورسره نه وه نو خط دې راکاږي، بیا ضرر نشي رسولی هغه ته هغه څه چې د ده مخې ته تیرېږي.

تشریح: **قوله**:﴿ حدثني ابو عمرو بن محمد بن حريث ﴾ د دې حدیث په سند کښې دا راوی مجهول دې، او وړاندې په سند کښې ددې په ځائې ابو محمد بن عمرو حریث راروان دي ګویا د هغه نوم هم متعین نه دی.

[۶۹۰]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَلِيٌّ يَعْنِي ابْنَ الْمَدِينِيِّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِي مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ جَدِّهِ حُرَيْثٍ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عُذْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَذَكَرَ حَدِيثَ الْخَطِّ، قَالَ سُفْيَانُ: لَمْ نَجِدْ شَيْئًا نَشُدُّ بِهِ هَذَا الْحَدِيثَ وَلَمْ يَجِئْ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، قَالَ: قُلْتُ لِسُفْيَانَ: إِنَّهُمْ يَخْتَلِفُونَ فِيهِ فَتَفَكَّرَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: مَا أَحْفَظُ إِلَّا أَبَا مُحَمَّدِ بْنَ عَمْرٍو، قَالَ سُفْيَانُ: قَدِمَ هَاهُنَا رَجُلٌ بَعْدَ مَا مَاتَ إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ فَطَلَبَ هَذَا الشَّيْخَ أَبَا مُحَمَّدٍ حَتَّى وَجَدَهُ فَسَأَلَهُ عَنْهُ فَخَلَطَ عَلَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد، سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ سُئِلَ عَنْ وَصْفِ الْخَطِّ غَيْرَ مَرَّةٍ، فَقَالَ: هَكَذَا عَرْضًا مِثْلَ الْهِلَالِ، قَالَ أَبُو دَاوُد، وسَمِعْتُ مُسَدَّدًا، قَالَ: قَالَ ابْنُ دَاوُدَ: الْخَطُّ بِالطُّولِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ وَصَفَ الْخَطَّ غير مرة، فقال هكذا يعني بالعرض حورا دورا مثل الهلال، يعني منعطفا.

---

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ٤٠ (١٨٧)، والصلاة ١٧ (٣٧٦)، ٩٣ (٤٩٥)، ٩٤ (٤٩٩)، والمناقب ٢٣ (٣٥٥٣)، واللباس ٣ (٥٧٨٦)، ٤٢ (٥٨٥٩)، (تحفة الأشراف: ١١٨١٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ٤٧ (٢٥٠)، سنن الترمذي/الصلاة ٣٢ (١٩٧)، سنن النسائي/الطهارة ١٠٣ (١٣٧)، والأذان ١٣ (٦٤٤)، والزينة ١٢٣ (٥٣٨٠)، سنن ابن ماجه/الأذان ٣ (٧١١)، مسند احمد (٣٠٨/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٨ (١٣٣٥)، ١٢٤ (١٤٤٩) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٣٦ (٩٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٢٤٠)، وقد أخرجه: حم(٢٤٩/٢، ٢٥٤، ٢٦٦) (ضعيف)

[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٢٤٠) (ضعيف)

ترجمه: د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دې، هغه وئیلی دی، ذکر ئې کړو حدیث د خط، وئیلی دی سفیان: مونږ هیڅ دلیل پیدا نه کړو چې دا حدیث ورباندې مضبوط کړو. او نه دی راغلی دا مګر د همدې سند سره، هغه وئیلی دی ما وویل سفیان ته: دوی (محدثین) خو په ده (ابومحمد) کښې اختلاف کوي،نو هغه یو ساعت فکر وکړو، بیا ئې وویل: ماته یاد نه دی مګر ابو محمد بن عمرو، وویل سفیان: دلته یو سړی راغې پس د هغې نه چې اسماعیل بن امیة مړ شوی وو، نو هغه شیخ ابو محمد طلب کړو تردې چې هغه ئې پیدا کړو نو تپوس ئې وکړو د هغه نه د هغې په باره کښې، نو خلط راغې په هغه باندې. وئیلی دی ابوداود: او ما اوریدلی دی د احمد بن حنبل نه چې د هغه نه تپوس وشو د کیفیت د خط څو ځل، هغه وویل: داسې په پلنو باندې پشان د نوې سپوږمې. وئیلی دی ابوداود: ما اوریدلی دی د مسدد نه هغه وئیلی دي: چې وویل ابن داود: خط به اوږد وي. وئیلی دی ابوداود: ما اوریدلی دی د احمد بن حنبل نه چې کیفیت د خط ئې بیانولو ډیر ځل، هغه وویل: داسې یعنی په پلنور ګرد راتاو پشان د سپوږمۍ یعنی راکوږ.

تشریح: **قوله**:(لم نجد شیئا نشد به هذا الحدیث) یعنی ددې حدیث بل سند هم نشته چه په هغې سره دا قوی شوې وي.

قوله: (قدم هاهنا رجل بعد ما مات اسماعیل بن امیة الخ) سفیان بن عیینه فرمائی چه د اسماعیل بن امیه د وفات نه پس دلته یو سړې راغلو د پورته ذکر شوی راوی ابو عمرو بن محمد د تحقیق او معلومات دپاره، پس د هغه سړی د هغه سره ملاقات اوشو هغه سړی د هغه نه ددې حدیث په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه دا حدیث بیان نه کړې شو، معلومیږی چه هغه ته څه اشتباه پیدا شوې ده، د سفیان د بیان کړې شوې قصې نه معلومیږی چه د ابو عمرو شاګرد یعنی د اسماعیل بن امیه وفات د استاذ په ژوند کښې شوې دی.

[٦٩١]( )حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ شَرِيكًا صَلَّى بِنَا فِي جَنَازَةِ الْعَصْرِ، فَوَضَعَ قَلَنْسُوَتَهُ بَيْنَ يَدَيْهِ" يَعْنِي فِي فَرِيضَةٍ حَضَرَتْ.

ترجمه: سفیان بن عیینة وایي چې ما شریک ولیدلو: مونځ ئې وکړو په جنازه کښې د مازیګر په وخت کښې، نو کیخوده هغه خپله ټوپۍ خپلې مخې ته. یعنی په هغه فرضی مونځ کښې چې حاضر شو.

تشریح: **قوله**:(رایت شریکا صلی بنا فی جنازة العصر فوضع قلنسوته الخ) سفیان بن عیینه فرمائی چه ما شریک اولیدو چه هغه یو ځل په یوه جنازه کښې د شرکت دپاره تشریف راوړلو نو هغه مونږ ته د مازیګر مونځ راکړو او په دې کښې هغه زمونږ امامت اوکړو نو هغه د مونځ نه مخکښې داسې اوکړل چه د سترې دپاره یو څیز نه وو نو د ځان نه ئې وړاندې خپله ټوپۍ کیخودله او د هغې نه ئې د سترې کار واخستلو، غالبا لوړه شان ټوپۍ به وی، لکه چه زمونږ په ماشوموالی کښې به د ترکی ټوپۍ په نوم باندې په بازارونو کښې

---

[1]: تفرد به أبو داود (صحیح)

لوړي غونډۍ ټوپۍ ملاويدې، په دې باندې ابن رسلان شارح ابوداود ليکي چه هم په دې وجه به بعض صوفياء اوږده ټوپۍ په سر کوله ددې دپاره چه د ضرورت په وخت ترې د سترې کار هم واخستلې شي.

بَابُ الصَّلاَةِ إِلَى الرَّاحِلَةِ

باب دې په بيان د مونځ کې سورلۍ ته

په دې کښې اختلاف او مذاهب ائمه په ابتدائي بحثونو کښې تير شو ، څه خبرې پاتې شوې هغه دلته واورئ، د سيدنا ابن عمر رضي الله عنه په باره کښې روايت دې په مصنف د عبدالرزاق کښې چه هغه به صلاة الى البعير مکروه ګڼړلو مګر دا چه په هغې باندې رحل (کجاوه) وي، علماء کرامو ليکلي دي چه کيدې شي ددې وجه دا وي چه د اوښ په شا باندې د کجاوې کيدو په صورت کښې به هغه اقرب الى السکون وي په په نسبت د بربنډ کيدو ، د امام شافعي رحمه الله مسلک وړاندې تير شوې دې چه هغه د صلاة الى الدابه د کراهت قائل وو ، دغه شان ترې دا هم منقول دي چه د زنانه نه دې هم ستره جوړه نه کړې شي، په دې باندې امام نووي رحمه الله فرمائي "اما قوله في المرأة فظاهر انه ربما شغلت ذهنه" خو صلاة الى الدابة خو د صحيحين د روايت نه ثابت دې، هغه فرمائي چه کيدې شي امام شافعي رحمه الله ته دا حديث نه وي رسيدلې او د هغه وصيت دې چه ﴿ اذا صح الحديث فهو ملهبي ﴾ (منهل) هم دغه شان صاحب منهل په استتار بالحيوان کښې د مالکيانو د مسلک تفصيل ليکلي دې هغه دا چه که حيوان غير ماکول اللحم وي نو د هغه ستره جوړول مکروه دي، او که ماکول اللحم وي نو که هغه مربوط وي نو بيا خو د هغې طرف ته مونځ بغير د کراهت نه جائز دې ګينې مکروه دي.

[۶۹۲]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَوَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، وَابْنُ أَبِي خَلَفٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ عُثْمَانُ، حَدَّثَنَا أَبُوخَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي إِلَى بَعِيرٍ".

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې، بيشکه نبي صلى الله عليه وسلم وو چې مونځ ئې کولو سورلۍ ته.

تشريح: **قوله**:﴿ کان يصلى الى البعير ﴾ او په ترجمة الباب کښې لفظ راحله دې، راحله هغه اوښې ته وئيلې شي کومه چه د سورلۍ قابله وي څکه چه هر يو اوښ يا اوښه د سورلۍ قابله نه وي، راحله هم هغې ته وئيلې شي کومه چه د سورلۍ قابله وي په خلاف د بعير چه هغه عام دې په سفر کښې که د سورلۍ قابل وي يا نه وي، هم دغه شان بعير ذکر او انثى دواړو ته شامل دې او په راحله کښې دواړه اقوال دي د بعض په نزد هغه د انثى سره خاص دې او بعض دا هم عام ګرځي دې (کذا في العيني ومجمع البحار)

په دواړو احاديثو کښې رفع تعارض

دلته دا سوال دې چه په حديث کښې په معاطن ابل کښې د مونځ کولو نه منع راغلې ده او صلاة الى الراحلة په ظاهره کښې ددې خلاف ده، جواب دا دې چه معاطن خاص هغه ځائې

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ۴۷ (۵۰۲)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۴۹ (۳۵۲)، (تحفة الأشراف: ۷۹۰۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ۵۰ (۴۳۰)، مسند احمد (۲/۱۰۶، ۱۲۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۳۶ (۱۴۵۲) (صحيح)

ته وئيلې شي چرته چه اوښان اوسيږي او ترلې کيږي او چرته چه بدبوئي او ګند پروت وي او بعض وائي چه د اصحاب الابل عادت وي چه هغه په معاطن ابل کښې د اوښانو شاته کيناستلو سره قضاء حاجت کوي، غرض دا چه هغه علت دلته مفقود دې، چه په صفا ستهره ځائې کښې اوښ کيني او ته د هغه طرف ته مونځ اوکړې دې کښې څه بدي ده؟

بَابٌ إِذَا صَلَّى إِلَى سَارِيَةٍ أَوْ نَحْوِهَا أَيْنَ يَجْعَلُهَا مِنْهُ

باب دی، کله چې مونځ کوي ستنې ته او په مثل د دېته کوم ځای کښې به ږدې د خپل ځان نه

[٦٩٣] (١) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ الْوَلِيدُ بْنُ كَامِلٍ عَنِ الْمُهَلَّبِ بْنِ حُجْرٍ الْبَهْرَانِيِّ، عَنْ ضُبَاعَةَ بِنْتِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهَا، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي إِلَى عُودٍ وَلَا عَمُودٍ وَلَا شَجَرَةٍ إِلَّا جَعَلَهُ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ وَلَا يَصْمُدُ لَهُ صَمْدًا".

ترجمه: د مقداد بن الاسود نه روايت دې هغه وئيلي دي: ما نه دی ليدلی رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو لرګي ته او نه ستنې ته او نه ونې ته مګر هغه به ئې ګرځوله خپل ښي وروځې ته او چپې وروځې ته او مخامخ به ورته نه ودريدو.

تشريح: **قوله**: په حديث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ به چه کله يو لرګی، ستن يا اونه ستره جوړولو سره مونځ کولو نو هغه به ئې بالکل خپلې مخې ته نه ږدلو بلکه خپل لږ شان ښي طرف ته يا ګس طرف ته به ئې ږدلو ﴿ولا يصمد له صمدا﴾ او د هغې قصد به ئې نه کولو په قصد کولو سره، يعنی هغه به ئې بالکل خپلې مخې ته نه راوستلو ددې دپاره چه دا خيال اونکړې شي چه په عبادت کښې هم ددې قصد کولې شي، او تشبه بعبدة الاصنام لازم نه شي.

بَابُ الصَّلَاةِ إِلَى الْمُتَحَدِّثِينَ وَالنِّيَامِ

باب دې په بيان د مانځه کښې خبرې کونکواو اودو ته

[٦٩٤] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَيْمَنَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ، عَمَّنْ حَدَّثَهُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، قَالَ: قُلْتُ لَهُ يَعْنِي لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُصَلُّوا خَلْفَ النَّائِمِ وَلَا الْمُتَحَدِّثِ".

ترجمه: د محمد بن کعب القرظی نه روايت دې هغه وئيلي دی ما وويل هغه ته. يعنی عمربن عبد العزيز ته، ماته حديث بيان کړې دې عبد الله بن عباس، بيشکه نبی ﷺ ويلی دي: تاسو مونځ مه کوئ وروسته د اوده نه او د هغه کس نه چې خبرې کوي.

تشريح: **قوله**: ﴿ نيام ﴾ د ﴿ نائم ﴾ جمع، صلاة الى النائم په امامانو کښې د امام مالک په نزد مکروه دي، د مجاهد او طاؤس مذهب هم دا دې، ځکه چه کيدې شي د اوده کيدونکی د طرف نه د خوب په حالت کښې د يو داسې ځيز صدور اوشي چه په هغې سره د مصلي خيال منتشر شي، هم دغه شان د حديث الباب نه هغوی دا استدلال کړې دې، خو دا حديث بالاتفاق ضعيف دې، ددې په سند کښې يو مجهول راوی دې چه د هغه نوم هشام بن زياد

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٥٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٦) (ضعيف)

(٢): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٠ (٩٥٩)، (تحفة الأشراف: ٦٤٤٨) (حسن)

دي او هغه متروک دي، د جمهورو دليل هغه حديث دې چه په هغې کښې عائشه ﷞ فرمائی چه رسول الله ﷺ به د شپې مونځ کولو ﴿ وانا معترضة بينه وبين القبلة اعتراض الجنازة ﴾ دويم جزء د ترجمې صلاة الى المتحدث دې، په منهل کښې ليکلي دی چه دا د امام شافعي او امام احمد په نزد مکروه دی او د نورو علماء کرامو په نزد جائز دی، او د اختلاف هغه وخت دې چه کله خشوع نه زائله کيږی ګيني بالاتفاق مکروه دې، په مغنی کښې ئې هم صلاة الى المتحدث ته مکروه ونيلي دی يعنی عند احمد او صلاة الى النائم کښې هغوی د روايت اختلاف ذکر کړې دې.

بَابُ الدُّنُوِّ مِنَ السُّتْرَةِ

باب دې په بيان د نزدې والي څکې سترې ته

په دې باندې تفصيلي کلام په شروع کښې تير شوې دې.

[۶۹۵]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَحَامِدُ بْنُ يَحْيَى، وَابْنُ السَّرْحِ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى سُتْرَةٍ فَلْيَدْنُ مِنْهَا لَا يَقْطَعِ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلَاتَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ وَاقِدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ صَفْوَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَوْ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَهْلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ بَعْضُهُمْ: عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَاخْتُلِفَ فِي إِسْنَادِهِ.

ترجمه: سهل بن ابی حثمة خپل روايت نبی ﷺ ته رسوی هغه وايي: کله چې مونځ کوی يو کس ستاسو نه نو نزدې دې شی هغې ته چې قطع نه کړی په ده باندې شيطان مونځ دده. وئيلی دی ابوداود: روايت کړی دی واقد بن محمد د صفوان نه او هغه د محمد بن سهل نه او هغه د خپل پلار نه او هغه د محمد بن سهل نه او هغه د نبی ﷺ نه، وئيلی دی بعضو د دوی نه د نافع بن جبير نه، او هغه د سهل بن سعد نه او اختلاف شوی دی په اسناد د هغې کښې.

تشريح: **قوله**: ﴿ عن محمد بن سهل عن ابيه او عن محمد بن سهل عن النبی صلی الله عليه وسلم ﴾ په اول صورت کښې به روايت متصل وی ځکه چه دا سهل، سهل بن ابی حثمه دې کوم چه صحابی دې، او په دويم صورت کښې ﴿ عن ابيه ﴾ نه کيدو په صورت کښې به روايت مرسل وی ځکه چه محمد بن سهل تابعی دې

[۶۹۶]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، وَالنُّفَيْلِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ سَهْلٍ، قَالَ: "وَكَانَ بَيْنَ مَقَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ مَمَرُّ عَنْزٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْخَبَرُ لِلنُّفَيْلِيِّ.

ترجمه: د سهل نه روايت دې هغه وئيلی دي او وو په مابين د اودريدلو د نبی ﷺ او قبله کښې ځائې د تيريدلو د چيلي. وئيلی دی ابوداود الْخَبَرُ لِلنُّفَيْلِيِّ.

[1]: سنن النسائي/القبلة ٥ (٧٤٩)، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤) (صحيح)
[2]: صحيح البخاري/الصلاة ٩١ (٤٩٦)، والاعتصام ١٥ (٧٣٣٤)، صحيح مسلم/الصلاة ٤٧ (٥٠٨)، (تحفة الأشراف: ٤٧٠٧) (صحيح)

باب مَا يُؤْمَرُ الْمُصَلِّي أَنْ يَدْرَأَ عَنِ الْمَمَرِّ بَيْنَ يَدَيْهِ

باب دې په بيان د هغې کې چې ديکه کوي به مونځ کوونکی د تيريدو نه خپلې مخې ته

دې باره کښې مذاهب ائمه په شروع کښې تيرشوي دی د ظاهريه په نزد درا «ديکه» واجب ده.

[۶۹۷]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَلَا يَدَعْ أَحَدًا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلْيَدْرَأْهُ مَا اسْتَطَاعَ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ".

ترجمه: د ابوسعيد الخدری ﷛ نه روايت دې هغه وئيلی دي: بيشکه رسول الله ﷺ ويلی دي: کله چې يو تن په تاسو کښې مونځ کوی نو نه دې پرېږدی هيڅ کس چې تېر شی د هغه مخې ته، هغه دې بند کړی خومره چې ئې طاقت وي، که چرې هغه انکار وکړو نو جنګ دې ورسره وکړی بيشکه هغه بيا شيطان دی.

د امام نووی ﷫ رائې

قوله:﴿ وليدراه ما استطاع فان ابى فليقاتله فانه شيطان ﴾ امام نووی ﷫ ليکی چه زمونږ په نزد دفع المار مندوب دې واجب نه دې وړاندې فرمائی چه ابتداء به ئې دفع کوی باسهل الوجوه او که نه منی نو باشد الوجوه به ئې دفع کوی اګر چه په دې کښې قتل ته خبره ولې او نه رسيږی ځکه چه دا خو ګويا د دفع الصائل د قبيل نه دې او چونکه ددې مقاتلې شريعت اجازت ورکړې دې په دې وجه د هلاکت په صورت کښې به پرې ضمان هم نه وی.

خان پوهه کړه چه په دې حديث کښې دوه څيزونه مذکور دی درء المار او دويم څيز مقاتله د در المار حکم په ابتدائی مباحث کښې تير شوې دې.

په شرح حديث کښې د شراح حديث او فقهاء کرامو اقوال

او امر ثانی يعنی مقاتله نو بعض شوافع لکه امام نووی ﷫ دا مقاتله په حقيقت باندې محمول کول سره دې ته جائز وئيلې ده کما سبق، خو قاضی عياض وغيره شراح حديث په دې باندې اجماع نقل کړې ده چه د درء المار دپاره تلل او عمل کثير جائز نه دې ځکه چه دا خو د تيريدونکی نه هم زيات د مونځ په حق کښې سخت او مضر دې او د اقبال علی الصلاة د قاعدې خلاف دې او ظاهره ده چه قتال بغير د عمل کثير نه کيدې نه شی په دې وجه دا حديث محتاج دې تاويل ته، پس علامه قرطبی ﷫ فرمائی چه په حديث کښې د قتال نه مراد مبالغه فی الدفع ده چه که په اشارې وغيره سره منع نه شی نو نوره سختی دې هم اوکړی «مثلا ديکه دې ورکړی» او ابن عبدالبر فرمائی چه د رسول الله ﷺ دا ارشاد په طور د تغليظ دې فی الواقع د قتال اجازت مقصود نه دې، او علامه باجی فرمائی چه د قتال نه

---

[۱]: صحيح مسلم/الصلاة ۴۸ (۵۰۵)، سنن النسائي/القبلة ۸ (۷۵۸)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۳۹ (۹۵۴)، (تحفة الأشراف: ۴۱۱۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۱۰(۳۳)، مسند احمد (۳/۳۴، ۴۳، ۴۴، ۴۹، ۵۷، ۹۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۲۵ (۱۴۵۱) (صحيح)

مراد لعن دې، قتال لغة او شرعا هم د لعن په معنی کښې راځی قال تعالی ﴿ قاتلهم الله انی یؤفکون﴾ علامه زیلعی رحمه الله هم دا فرمائی چه د قتال نه مراد دلته بد دعا ده.(١) او علامه شامی رحمه الله فرمائی چه دا حدیث منسوخ دې دا د هغه وخت خبره ده چه کله عمل کثیر په مونځ کښې جائز وو، او یو قول دا دې، مراد دا دې چه د مونځ نه روستو دې ددې خبر واخلی.

(آیا په دې صورت کښې قاتل باندې ضمان شته؟)

بیا بل اختلاف دلته دا دې چه که چا د هغه سره قتال اوکړو او هغه هلاک شو نو په دې صورت کښې به ضمان وی یا به نه وی، حضرت شیخ په اوجز کښې لیکی چه ددې حکم د حنابله په کتابونو کښې ماته ملاؤ نه شو.﴿ لا ضمان علیه عند الشافعیة وعلیه الدیة عند المالکیة﴾ او د احنافو په نزد د قاعدې مطابق قصاص یا دیت به واجب وی.

قوله: ﴿ فانما هو شیطان ﴾ یعنی سرکش او شریر، عارف بالله ابن ابی جمره په دې باندې فرمائی چه ددې نه معلومه شوه چه په حدیث کښې د قتال نه مراد مدافعة لطیفه دې نه حقیقت قتال ځکه چه د شیطان سره چه کومه مقابله وی هغه په لاس خپو او وسلې سره نه وی بلکه په استعاذه او تسمیه وغیره سره وی. (منهل)

[٦٩٨](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيُصَلِّ إِلَى سُتْرَةٍ وَلْيَدْنُ مِنْهَا ثُمَّ سَاقَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: د ابو سعید الخدری رضی الله عنه روایت دې، هغه وائی، وئیلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم: کله چې مونځ کوی یو کس ستاسو نه نو مونځ دې کوی ستری ته او نزدې دې شي هغې ته بیا ئې بیان کړه معنی د هغې حدیث چه تیر شو.

[٦٩٩](٣)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، أَخْبَرَنَا مَسَرَّةُ بْنُ مَعْبَدٍ اللَّخْمِيُّ لَقِيتُهُ بِالْكُوفَةِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو عُبَيْدٍ حَاجِبُ سُلَيْمَانَ، قَالَ: رَأَيْتُ عَطَاءَ بْنَ يَزِيدَ اللَّيْثِيَّ قَائِمًا يُصَلِّي، فَذَهَبْتُ أَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَرَدَّنِي، ثُمَّ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ لَا يَحُولَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قِبْلَتِهِ أَحَدٌ فَلْيَفْعَلْ".

ترجمه: حدیث بیان کړې دې ابو عبید چې دا حاجب د سلیمان وو، هغه وئیلی دی ما ولیدلو عطاء بن زید اللیثی ولاړ په مانځه زه د هغه په مخکې تیریدم نو زه ئې واپس کړم، بیا ئې وویل: ماته حدیث بیان کړې دې ابو سعید الخدری رضی الله عنه. بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دې: د چا چې طاقت وی ستاسو نه ددې چې څوک لاړ نه شی د هغه او د قبلی په مینځ کښې نو داسې دی وکړي.

١) ددې تائید د هغه حدیث نه کیږی کوم چه یو دوه بابه روستو رارون دې، اللهم لقطع الره ١٢)
٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤١١٧) (حسن صحيح)
٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤١٥٩) (حسن صحيح)

[۷۰۰]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ الْمُغِيرَةِ، عَنْ حُمَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ هِلَالٍ، قَالَ قَالَ أَبُو صَالِحٍ: أُحَدِّثُكَ عَمَّا رَأَيْتُ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ وَسَمِعْتُهُ مِنْهُ، دَخَلَ أَبُو سَعِيدٍ عَلَى مَرْوَانَ، فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْ فِي نَحْرِهِ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ الشَّيْطَانُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: يَمُرُّ الرَّجُلُ يَتَبَخْتَرُ بَيْنَ يَدَيَّ وَأَنَا أُصَلِّي فَأَمْنَعُهُ وَيَمُرُّ الضَّعِيفُ فَلَا أَمْنَعُهُ.

ترجمه: داخل شو ابو سعید په مروان، هغه وویل ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه به وئیل کله چې مونځ کوی یو کس ستاسو نه داسې شی ته چې هغه ئې پټوی د خلقو نه او تیر یدلو یو کس د هغه په مخ کښې نو هغه دې ووهی په سینه کښې. که چرې انکاری وکړو نو جنګ دې ورسره وکړی بیشکه هغه شیطان دی

تشریح: **قوله**:﴿ عن حمید یعنی ابن هلال قال : قال ابو صالح : احدثک عما رایت من ابی سعید وسمعته منه الخ ﴾ ابو صالح، حمید ته اووې چه زه تاته هغه قصه بیانوم کومه ما د ابو سعید خدری ﷺ نه لیدلې ده او هغه حدیث هم تاته بیانوم کوم چه ما د هغه نه اوریدلې دی، ګویا دوه څیزونه درته بیانوم یوه خو هغه واقعه کومه چه د یو سړی د ابو سعید خدری ﷺ سره پیښه شوې وه او ابو صالح هغه لیدلې وه، او دویم هغه قولی حدیث کوم چه هغه د ابو سعید خدری ﷺ نه اوریدلې وو، پس وړاندې اول خو هغه واقعه بیانوی، او هغه واقعه دا ده چه یو ځل ابو سعید خدری ﷺ د مروان عدالت ته اورسیدو او هلته تلو سره ئې هغه ته اووې چه ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل ﴿ اذا صلی احدکم الی شئ یستره من الناس فاراد احد ان یجتاز بین یدیه فلیدفع فی نحره الخ ﴾ چه کله په تاسو کښې څوک ستره قائمه کړې وی او د هغې طرف ته مونځ کوی او بیا یو سړې د هغه او د سترې ترمینځه تیریږی نو هغه دې په سینه کښې اووهی او که هغه بیا هم نه منع کیږی نو په ښه طریقه دې د هغه مقابله اوکړی

په حدیث الباب کښې اختصار او د هغې تشریح

مصنف ﷫ چه دلته کوم حدیث ذکر کړې دې په دې کښې اختصار دې، پوره قصه په مسلم شریف کښې مذکور ده او هغه دا ده چه یو ځل ابو سعید خدری ﷺ مونځ کولو نو یو ځوان هلک د هغه مخې ته تیریدل غوښتل نو هغه ورته یو ځل دیکه ورکړه، هغه بیا د تیریدلو اراده اوکړه نو دې ځل ورته هغه د مخکښې نه هم تیزه دیکه ورکړه، په دې باندې هغه ځوان مروان ته شکایت یوړلو، نو په دې کښې ابوسعید خدری ﷺ هم هلته راورسیدو، مروان ترې تپوس اوکړو چه تا د هغه سره داسې معامله ولې اوکړه، په دې باندې ورته هغه دا روایت واورولو (کذا فی البذل) زه وایم چه ددې واقعې څه حصه خو بابونه روستو په ابوداود کښې هم راروانه ده، مصنف حدیث دوه ټکړې کړو یوه حصه ئې دلته او یوه حصه ئې وړاندې بیان کړه، په صحیحین کښې پوره قصه په یو ځل ذکر ده

(): صحیح البخاري/الصلاة ۱۰۰ (۵۰۹)، صحیح مسلم/الصلاة ٤٨ (۵۰۵)، (تحفة الأشراف: ٤٠٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٦۳) (صحیح)

بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ الْمُرُورِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي

باب دي په بيان د هغې څيز چې منع کولی شي د هغې نه د تيريدلو نه مخې د مونځ کونکي ته

او د امام بخاري رحمه الله ترجمه ده "باب اثم المار بين يدى المصلى"

[۷۰۱]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ خَالِدٍ الْجُهَنِيَّ أَرْسَلَهُ إِلَى أَبِي جُهَيْمٍ يَسْأَلُهُ مَاذَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي، فَقَالَ أَبُو جُهَيْمٍ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ، لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ"، قَالَ أَبُو النَّضْرِ: لَا أَدْرِي قَالَ: أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً.

ترجمه: زيد بن خالد الجهني بو کس ولیږلو ابو جهيم ته تپوس ئې ترینه کول چې د رسول الله ﷺ نه ئې څه اوريدلی دی په باره د تيريدلو کښې مخې د مونځ کونکی ته، نو ابو جهيم ووېل: چې رسول الله ﷺ ویلی دي: که چیری پوهه شی تیریدونکی مخې د مونځ کونکی ته چې څومره ګناه ده د ده نو وو به دا چې ودريږي څلويښت غوره به وی ده د دینه چې تیر شی مخې د هغه ته، وئيلی دی ابو النضر: زه نه پوهيږم چې هغه څلويښت ورځې ووئيلې او که مياشتي او که کلونه.

تشريح: قوله:(ارسله الى ابى جهيم) دا هم هغه ابو الجهيم دې چه د هغه روايت په ابواب التيمم کښې تير شوې دې او يو راوی ابو الجهم دې، په دې باندې کلام هم هلته تير شوې دې (لو يعلم المار بين يدى المصلى ما ذا عليه) که د مونځ کونکی مخې ته تيريدونکی ته علم اوشی چه د هغه په تيريدو کښې څومره ګناه او اخروی نقصان دې نو هغه به څلويښت کاله اودريدو ته په تيريدو باندې ترجيح ورکړی، په مسند بزار کښې (اربعين خريفا) دې، او د ابن ماجه په روايت کښې (مائة عام) مذکور دې دا دې تعارض او نه ګڼړلي شی څکه چه مشهور دې چه مفهوم عدد معتبر نه دې

د مصلی د درء المار حق څله جوړيږي او تيريدونکي اثم په کوم صورت کښې دې

په دې حديث کښې منع عن المرور مطلقا ذکر شوې ده او په تير شوی باب کښې د ابو سعيد خدری رضي الله عنه په حديث کښې د يصلى الى السترة قيد دې چه يو سړې ستره قائمولو سره د هغې طرف ته مونځ کوی، ابن رسلان دا مطلق په مقيد باندې محمول کړې دې او حضرت هم په بذل المجهود کښې هم دغه شان کړې دی او ليکلي ئې دی چه د سترې نه قائمولو په صورت کښې ئې حق دفع نشته خو په شامی کښې د بحر وغيره نه اطلاق نقل کړې دې چه مصلی تيريدونکي دفع کولې شی که ستره ئې وی يا نه وی خو تيريدونکي د مصلی او سترې ترمينځه تيريږی

خان پوهه کړه چه دلته دوه څيزونه دی مصلی ته د دفع کولو حق بل د تيريدونکی اثم کيدل،

(): صحيح البخاري/الصلاة ۱۰۱ (۵۱۰)، صحيح مسلم/الصلاة ۴۸ (۵۰۷)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۳۹ (۳۳۶)، سنن النسائي/القبلة ۸ (۷۵۷)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۷ (۹۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۸۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ قصر الصلاة ۱۰ (۳۴)، مسند احمد (۱۶۹/۴)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۳۰ (۱۴۵۶) (صحيح)

د اول په باره کښې خو د شامی نه نقل دی چه په دې کښې اطلاق دې او د دويم په باره کښې هم په شامی کښې عموم ليکلې دې ﴿ ومفاده الم المار وان لم تكن سترة ﴾ خو په دويمه مسئله کښې تفصيل دې لکه چه په شروح حديث او کتب فقه کښې ذکر دی، خپله علامه شامی په دې کښې څلور صورتونه ذکر کړې دی، چه د هغې خلاصه دا ده چه د ستره نه کيدو په صورت کښې به د ګناه مدار په تعدی باندې وی که تعدی د جانبين د طرف نه وی نو دواړه به ګناهګار وی او که د يو طرف نه نو صرف هم هغه به ګناهګار وی او که د يو طرف نه هم نه وی نو يو به هم ګناهګار نه وی، مثلا سړې بغير د سترې نه په داسې ځائې کښې مونځ کوی کوم چه د خلقو د تيريدو ځائې دې او د تيريدونکی دپاره بله لاره هم شته نو په دې صورت کښې به دواړه ګناهګار وی او که مصلی په محل د مرور کښې ولاړ نه وی خو د تيريدونکی دپاره اتفاقی د تيريدو بله لاره نه وی سوا ددې نه نو په دې صورت کښې به هم هغه ګناهګار نه وی.

تفريع أبواب ما يقطع الصلاة وما لا تقطعها

دهغه څيزونو تفصيل، چه کوموسره مونځ ماتيږی اوکوموسره نه ماتيږی

بَابُ مَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ

باب: بيان دهغې څيزونوچې مونځ ماتوي

د ابوابو په ترتيب کښې نقطه:

په ظاهره د ابواب السترة سلسله ختمه شوه حال دا چه اوس يو باب وړاندې راروان دې هغه هم د سترې سره متعلق دې لهذا د مصنف دپاره مناسب وه چه د سترې چه کوم يو باب اوس باقی پاتې شوې دې هغه ئې اول ذکرکړې دې، خو د هغې توجيه دا کيدې شی چه موجوده باب هم د سترې سره متعلق دې ځکه چه ددې باب د حديث مضمون دا دې چه د مصلی مخکښې که ستره قائم نه وی نو په داسې صورت کښې د مرأة، حمار او کلب اسود تيريدلو ته قاطع صلاة ونيلې شوې دې، لهذا معلومه شوه چه مونځ کونکی لره خپلې مخې ته ستره قائمول پکار دی ددې دپاره چه د هغه مونځ د هغه څيزونو په تيريدو سره خراب نه شی.

[۷۰۲]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ، وَابْنُ كَثِيرٍ الْمَعْنَى، أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ الْمُغِيرَةِ أَخْبَرَهُمْ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ حَفْصٌ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقْطَعُ صَلَاةَ الرَّجُلِ، وَقَالَا: عَنْ سُلَيْمَانَ، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: يَقْطَعُ صَلَاةَ الرَّجُلِ إِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ يَدَيْهِ قِيدُ آخِرَةِ الرَّحْلِ الْحِمَارُ وَالْكَلْبُ الْأَسْوَدُ وَالْمَرْأَةُ، فَقُلْتُ: مَا بَالُ الْأَسْوَدِ مِنَ الْأَحْمَرِ مِنَ الْأَصْفَرِ مِنَ الْأَبْيَضِ؟ فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا سَأَلْتَنِي، فَقَالَ: الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ شَيْطَانٌ".

ترجمه: د ابو ذر نه روايت دې چې حفص وئيلی دی، هغه وايی چې رسول الله ﷺ ويلی دي:

[۱]: صحيح مسلم/الصلاة ۵۰ (۵۱۰)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۴۱ (۳۳۸)، سنن النسائي/القبلة ۷ (۷۵۱)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۸(۹۵۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۹۳۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۹/۵، ۱۵۱، ۱۵۵، ۱۶۰، ۱۶۱)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۲۸ (۱۴۵۴) (صحيح)

قطع کوی مونځ د سړی لره. او هغه وئیلی دي: د سلیمان نه، چې وئیلی دی ابوذر: قطع کوی مونځ د سړی لره چې نه وی مخې د هغه ته په اندازه د وروستني لرګی د پالان، خر او تور سپی او ښځه، نو ما وویل: څه دی حال د تور سپي د سور نه او د زیړ نه او د سپین نه. هغه وویل: اې د ورور ځویه ما تپوس وکړو د رسول الله ﷺ نه څنګه چې تا زمانه تپوس وکړو، نو هغه وفرمائیل: تور سپی شیطان دی.

په مسئلة الباب کښې مذاهب علماء

د دې نه روستو پوهه شئ چه حسن بصری او ابو الاحوص «د ابن مسعود شاګرد» او د امام احمد او ظاهریه په نزد ددې درې واړو ځیزونو مرور مفسد صلاة دې، او یو روایت د امام احمد دا دې چه دا حکم صرف د کلب اسود دې او په زنانه او خر کښې هغوی توقف کړې دې، د اسحاق بن راهویه په نزد هم صرف کلب اسود قاطع صلاة دې، د امام احمد د سړی او خر په معامله کښې د توقف وجه دا لیکلې ده چه د حمار په سلسله کښې د ابن عباس رضی الله عنهما حدیث ددې خلاف راروان دې چه په هغې کښې مصنف وړاندې مستقل باب قائم کړې دې، هم دغه شان د زنانه په باره کښې هم د عائشې رضی الله عنها حدیث ددې خلاف راروان دې په دې باندې هم مصنف وړاندې مستقل ترجمه قائم کړې ده، جمهور فرمائی چه په دې احادیثو کښې د قطع نه مراد قطع خشوع ده او امام طحاوی رحمه الله ددې په ځائې مسلک نسخ اختیار کړې ده چه د قطع صلاة والا روایات منسوخ دی او ناسخ د ابوسعید خدری رضی الله عنه حدیث دې کوم چه وړاندې په کتاب کښې راروان دې ﴿ لا یقطع الصلاة شئ ﴾.

قوله: ﴿ الکلب الاسود شیطان ﴾ بعض دا په ظاهر باندې محمول کړې دې چه شیطان ډیر کرته د کلب اسود په شکل کښې متشکل کیږی او بعض وائی چه د شیطان استعمال د شریر او سرکش معنی کښې هم اکثر وی او چونکه کلب اسود زیات شری او ضرری وی په دې وجه د هغه نه په شیطان سره تعبیر اوکړې شو.

قوله:﴿ والخنزیر والیهودی والمجوسی ﴾ د ابوداود په بعض نسخو کښې دلته یو زیادت دې چه د هغې خلاصه ده چه امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث کښې د اشیاء ثلاثه نه علاوه نور چه کوم زیات ځیزونه مذکور دی، ذکر د خنزیر او یهودی او مجوسی دا د یو راوی وهم دې، او د مصنف خیال دا دې چه هغه ابن ابی سمینه دې چه د هغه نوم محمد بن اسماعیل دې یعنی د مصنف استاذ

[۷۰۳]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ زَيْدٍ يُحَدِّثُ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَفَعَهُ شُعْبَةُ قَالَ: "يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ الْحَائِضُ وَالْكَلْبُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَفَهُ سَعِيدٌ، وَهِشَامٌ، وَهَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: د ابن عباس نه روایت دې هغه وئیلی دي: قطع کوی مونځ لره ښځه بالغه او سپی. وئیلی دی ابوداود: موقوف کړی دی دې لره سعید او هشام او همام د قتادة نه، او هغه د جابر بن زید نه په ابن عباس باندې.

(): سنن النسائي/القبلة ۷ (۷۵۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۸ (۹۴۹)، مسند احمد (۱/۳۴۷)، (تحفة الأشراف: ۵۳۷۹) (صحيح)

[٧٠٤]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاذٌ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَحْسَبُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى غَيْرِ سُتْرَةٍ، فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْخِنْزِيرُ وَالْيَهُودِيُّ وَالْمَجُوسِيُّ وَالْمَرْأَةُ، وَيُجْزِءُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: فِي نَفْسِي مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ شَيْءٌ، كُنْتُ أُذَاكِرُ بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَغَيْرَهُ، فَلَمْ أَرَ أَحَدًا جَاءَ بِهِ عَنْ هِشَامٍ وَلَا يَعْرِفُهُ، وَلَمْ أَرَ أَحَدًا يُحَدِّثُ بِهِ عَنْ هِشَامٍ، وَأَحْسَبُ الْوَهْمَ مِنَ ابْنِ أَبِي سَمِينَةَ يَعْنِي مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ الْبَصْرِيَّ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، وَالْمُنْكَرُ فِيهِ ذِكْرُ الْمَجُوسِيِّ، وَفِيهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ، وَذِكْرُ الْخِنْزِيرِ، وَفِيهِ نَكَارَةٌ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَلَمْ أَسْمَعْ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي سَمِينَةَ، وَأَحْسَبُهُ وَهِمَ لِأَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُنَا مِنْ حِفْظِهِ.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي هغه وئيلي دي زه ګمان کوم چې روايت کوي د رسول الله ﷺ نه هغه وئيلي دي: کله چې مونځ کوي يو کس ستاسو نه بغير د سترى نه بيشکه مونځ د هغه لره قطع کوي سپي او خر او خنزير او يهودي او مجوسي او ښځه، او کافي کيږي د ده نه چې کله تيريږي مخې د ده ته وېشتل د کاڼي. وئيلي دي ابوداود: زما په زړه کښې ددې حديث نه څه شبه شته، ما به مذاکره کوله ددې حديث د ابراهيم او دهغه نه علاوه بل چاسره هم، خوبل کس مې بيا نه موندلو چه هغه دا حديث د هشام نه روايت کوي او نه ئې هغه پېژندلو، او ما يو کس هم نه وو ليدلى چې بيان ئې کولو د هشام نه، او زه ګمان کوم د وهم د ابن ابى سمينة يعني محمد بن اسماعيل البصري نه چې دا غلام د بني هاشمو دى، او منکر په دې کښې ذکر کول د مجوسي دي، او په دې کښې په داندازه د وېشتلو د کاڼي دى، او ذکر کول د خنزير دى، او په دې کښې نکارت دى. وئيلي دي ابوداود: ما نه دى اوريدلى دا حديث مګر د محمد بن اسماعيل بن ابى سَمينة نه، او زما ګمان دى چې وهم کړى دى هغه ځکه هغه به حديث بيانولو مونږ ته د خپل حفظ نه.

﴿ على قذفة بحجر ﴾ د کاڼي د ويشتلو د فاصلې په قدر، ددې مقدار بعض شارحينو درې ذراع ليکلي دى، د حريم مصلى په باره کښې اختلاف او تفصيل زمونږ په ابتدائى مباحث کښې تير شوي دي.

[٧٠٥]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ مَوْلًى لِيَزِيدَ بْنِ نِمْرَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ نِمْرَانَ، قَالَ: رَأَيْتُ رَجُلًا بِتَبُوكَ مُقْعَدًا، فَقَالَ: مَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عَلَى حِمَارٍ وَهُوَ يُصَلِّي، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ اقْطَعْ أَثَرَهُ"، فَمَا مَشَيْتُ عَلَيْهَا بَعْدُ.

ترجمه: د يزيد بن نمران نه روايت دې هغه وئيلي دي ما وليدلو يو سړى چې تبوک کښې چې کينولى شوى وو (د مرض نه) نو هغه ووئيل زه تېر شوم مخې د نبى ﷺ نه او زه سور وم په خر باندې او هغه مونځ کولو، هغه وفرمائيل يا الله ته دده اثر ختم کړې. زه بيا لاړ نه شوم په هغې باندې وروسته.

تشريح: **قوله**: ﴿ اللهم اقطع اثره فما مشيت عليها بعد ﴾ يزيد بن نمران وائي چه ما په تبوک کښې يو داسې سړې اوليدو کوم چه شل يعني د تلو نه معذور وو، ما د هغه نه ددې سبب

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٤٥) (ضعيف)

[2]: تفرد به ابو داود (تحفة الأشراف: ١٥٦٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٦٤، ٥/٣٧٦) (ضعيف)

اوتپوسلو نو هغه راته اووې چه يو ځل رسول الله ﷺ مونځ کولو او زه په خر باندې سور اوم او هم په دې حال کښې د هغه وړاندې تير شوم نو هغه وخت ماته رسول الله ﷺ (په ظاهره باندې مونځ کښې) د اوفرمائيل ﴿ اللهم اقطع اثره ﴾ يا الله د هغه د قدم نخښې ختمې کړې، د هغې نه روستو زه په زمکه باندې د تلو قابل پاتې نه شوم. هم دغه شان يو روايت ددې نه روستو راځي خو د دواړو احاديثو سند کښې ضعيف او مجهول راويان دی، په اول حديث کښې د يزيدبن نمران مولی مجهول دې، او په دويم سند کښې سعيد او د هغه پلار غزوان

آيا د رسول الله ﷺ د ځان دپاره انتقام اخستل ثابت دی؟

په دې حديث کښې د يو سړي په غلط حرکت باندې د رسول الله ﷺ د هغه خلاف خيرې کول ثابت دی خو دا حديث ضعيف دې، هم دغه شان دا عين ممکن ده چه په دې کښې خپله د هغه سړي خير ملحوظ وو، هم دغه شان وړاندې په ابوداود کتاب الديات کښې يو حديث راروان دې چه په هغې کښې دا دی چه يو سړې چه د هغه نوم محلم بن جثامه ليثي دې، هغه د اسلام په ابتداء کښې يو ناحقه قتل کړې وو، د رسول الله ﷺ په خدمت کښې چه کله دا مقدمه راغله نو په ډک محفل کښې ئې اوفرمائيل ﴿ اللهم لا تغفر لمحلم ﴾

(د اولياؤ په انتقام اخستلو کښې هم مصلحت وی)

بعض وخت چه صالحين او اولياء د چا نه خپل انتقام اخلي يا څه سخته کلمه اوائی نو په دې کښې هم مصلحت وی، حضرت شيخ په دې باندې يوه قصه بيان کړه [1] چه يو بزرګ په لاره باندې روان وو ورسره خادمان هم وو په لاره کښې مخامخ يو بهنګی (خاکروب) را روان وو چه هغه سره د نجاست يوه ټوکرئ هم وه، چه کله هغه د هغه بزرګ په خوا کښې تيره شوه نو هغه بد بخت په تلو تلو کښې څه نجاست په هغه بزرګ هم راګزار کړو او په تيزه سره وړاندې لاړه، دې بزرګ خپل يو خادم ته اوفرمائيل چه ورشه او دا زر يوه سپيړه اووهه، هغه سوچ کښې پريوتلو، په دې کښې هغه زنانه په زمکه باندې راپريوتله او ختمه شوه، دې بزرګ په هغه خپل خادم باندې د عتاب او غصې اظهار اوکړو چه دا هم تا وژلې ده، بيا ئې اوفرمائيل خبره دا ده چه کله هغې ماته دا ضرر راکړو نو ما اوکتل چه د الله پاک غضب په جوش کښې راغلو نو ما سوچ اوکړو چه زر ترې زه انتقام واخلم ددې دپاره چه هغه د الله پاک د انتقام نه بچ شي خو تا په وهلو کښې تاخير اوکړو په دې وجه د پورته نه انتقام راغلو

[٧٠٦] ([2]) حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ يَعْنِي الْمَذْحِجِيَّ، حَدَّثَنَا أَبُو حَيْوَةَ، عَنْ سَعِيدٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ زَادَ، قَالَ: قَطَعَ صَلاَتَنَا قَطَعَ اللَّهُ أَثَرَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ أَبُو مُسْهِرٍ، عَنْ سَعِيدٍ، قَالَ فِيهِ: قَطَعَ صَلاَتَنَا.

ترجمه: د سعيد رحمه الله نه روايت دې په اسناد او معنی د هغه حديث، په دې حديث کښې هغه زيادت کړې دې او ويلی ئې دي الله دې قطع کړی اثر د هغه. وئيلی دی ابوداود: او روايت کړی دی ابو مسهر د سعيد نه. ويلی هغه په هغې کښې قطع ئې کړو مونځ زمونږ.

[1]) دا واقعه د حضرت شيخ په مطبوعه ملفوظات کښې هم په صفحه ۲۸ باندې ذکر ده.
[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٨٤) (ضعيف)

[۷۰۷]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ. ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مُعَاوِيَةُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ غَزْوَانَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ نَزَلَ بِتَبُوكَ وَهُوَ حَاجٌّ، فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُقْعَدٍ فَسَأَلَهُ عَنْ أَمْرِهِ، فَقَالَ لَهُ: سَأُحَدِّثُكَ حَدِيثًا فَلَا تُحَدِّثْ بِهِ مَا سَمِعْتَ أَنِّي حَيٌّ، "إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ بِتَبُوكَ إِلَى نَخْلَةٍ، فَقَالَ: هَذِهِ قِبْلَتُنَا، ثُمَّ صَلَّى إِلَيْهَا، فَأَقْبَلْتُ وَأَنَا غُلَامٌ أَسْعَى حَتَّى مَرَرْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا، فَقَالَ: قَطَعَ صَلَاتَنَا قَطَعَ اللَّهُ أَثَرَهُ"، فَمَا قُمْتُ عَلَيْهَا إِلَى يَوْمِي هَذَا.

ترجمه: د سعيد بن غزوان نه روايت دې هغه روايت کوی د خپل پلار نه، بيشکه هغه راغې تبوک ته او هغه حج کونکی وو، ناڅاپه هغه وليدو يو سړی چې کينولی شوی وو، نو تپوس ئې وکړو د هغه د کار هغه ووئيل: زه به تاته يوه خبره بيان کړم دا به خلقو ته نه وايې ترڅو چې زه ژوندی يم، بيشکه رسول الله ﷺ تشريف راوړو تبوک ته يوې کجورې ته هغه وفرمائيل: دا زمونږ ستره ده، بيا ئې مونځ وکړو هغې ته او زه راغلم حال دا دی چې زه هلک وم منډې مې وهلې تردې چې زه تېر شوم د هغه او د هغه د سترې په مينځ کښې، نو هغه ووئيل: پرېې کړو زمونږ مونځ الله دې د هغه اثر پرې کړې. زه پاڅيدلی نه يم په دې باندې د نن ورځې پورې.

بَابُ سُتْرَةُ الْإِمَامِ سُتْرَةُ مَنْ خَلْفَهُ

باب دی، ستره د امام ستره د هغه چا ده چې د امام نه وروسته دي

په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه د جماعت په مونځ کښې د امام دپاره ستره قائمول کافی دی د قوم دپاره د مستقل ستره قائمولو حاجت نشته، خو اختلاف په دې کښې دې چه ولې؟ ائمه ثلاثه خو فرمائي چه د امام چه کومه ستره ده هم هغه د مقتديانو ستره ده، لکه چه په ترجمة الباب کښې ذکر دی، او د مالکيانو په دې کښې دوه اقوال دی يو د جمهورو په مثل او دويم قول کوم چه د هغوی په نزد زيات معتمد دې هغه دا دې چه د امام ستره خو خپله د امام دپاره ده او د قوم ستره امام دې.

په مسئلة الباب کښې اختلاف علماء او د اختلاف ثمره

د ثمره اختلاف د اوريدو نه مخکښې په يوه خبره باندې ځان پوهه کړئ هغه دا چه د شروح حديث نه زه په دې باندې پوهه شوې يم چه هغه مرور ممنوع دې کوم چه براه راست د مصلی او د هغه د سترې ترمينځه وی، او که د مصلی او د سترې تر مينځه يو څيز حائل وی نو بيا د مصلی مخې ته تيريدل ممنوع نه دی، لهذا د امام مخې ته تيريدل خو به بالاتفاق ممنوع وی ځکه چه د امام او د هغه د سترې ترمينځه يو څيز حائل نه دې، او د اول صف په وړاندې تيريدل به د جمهورو په نزد جائز وی ځکه چه د مصلی او د ستره ترمينځه دلته امام حائل دې، خو د مالکيانو په نزد به جائز نه وی، د هغوی په نزد به د مصلی او ستره ترمينځه تيريدل لازميږی ځکه چه د اول صف ستره خپله امام دې دا ثمره د اختلاف علامه دردير مالکی او صاحب منهل هم ليکلې ده.

---

[۱]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٥٦٥٦) (ضعيف)

او حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کښې او علامه سندي په حاشيه د بخاري کښې د ثمره اختلاف د لاندې ليکلې دی چه مرور على الامام څنګه چه د امام په حق کښې مضر دې هم دغه شان د جمهورو په نزد د مقتدي په حق کښې به هم مضر وی [1] ځکه چه د دوارو ستره يوه ده، لهذا دا مرور به د هر دوارو په حق کښې مضر وی، په خلاف د مالکيانو چه د هغوی په نزد مرور على الامام به صرف د امام په حق کښې مضر وی.

تنبيه: په عيني شرح بخاري کښې په بيان تفريع کښې قلب واقع شوې دې، هغه دا ليکلې دی چه مرور على الامام په مسلک د جمهورو باندې به صرف د امام په حق کښې مضر وی او د مالکيانو په نزد به د دوارو په حق کښې مضر وی.

[۷۰۸]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ الْغَازِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "هَبَطْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثَنِيَّةِ أَذَاخِرَ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ يَعْنِي فَصَلَّى إِلَى جِدَارٍ، فَاتَّخَذَهُ قِبْلَةً وَنَحْنُ خَلْفَهُ، فَجَاءَتْ بَهْمَةٌ تَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا زَالَ يُدَارِئُهَا حَتَّى لَصَقَ بَطْنَهُ بِالْجِدَارِ وَمَرَّتْ مِنْ وَرَائِهِ"، أَوْ كَمَا قَالَ مُسَدَّدٌ.

ترجمه: عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده نه روايت دې هغه وئيلې دي. مونږ خکته شو د رسول الله ﷺ سره د غونډۍ د اذخر نه، نو د مانځه وخت راغې. يعنې مونځ ئې وکړو ديوال ته. نو هغه ئې ستره ونيوه او مونږ ترېنه وروسته وو، راغله يوه بهيمه چې تېرېدله مخې د هغه ته هميشه وو پيغمبر چې هغه ئې دفع کوله تردې چې پيوسته ئې کړه خېټه خپله د ديوال سره، او هغه تېره شوه اخوا د ديوال نه. او يا چې څنګه وئيلي دی مسدد.

تشريح: **قوله**:﴿ هبطنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم من ثنية اذاخر ﴾ ثنية اذاخر د مديني او مکې ترمينځه د يوځائې نوم دې د مدينې په نسبت مکې ته زيات نزدې دې ﴿ فصلى الى جدار ﴾ جدار وئيلې شی د پټی نه چاپيره مختصر شان ديوال ته چه کوم ته پناهی وئيلې شی، د حديث مضمون دا دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په ثنية اذاخر په لاره باندې تيريدو چه د مونځ وخت شو نو رسول الله ﷺ د يو پټی ديوال ته اودريدو سره مونځ ورکړو يعنی هغه ديوال ئې ستره کړو، مونږ په هغه پسې شاته اودريدو نو د يوې بيزې بچې راغلو کوم چه د رسول الله ﷺ مخې ته تيريدل غوښتل نو رسول الله ﷺ هغه لرې کولو او وراندې کيدو تردې چه د رسول الله ﷺ خيټه د هغه ديوال سره اولګيده، الغرض رسول الله ﷺ هغه خپلې مخې ته تيريدو ته پرينخودلو نو هغه د رسول الله ﷺ يا د ديوال نه شاته تير شو.

[۷۰۹]([3])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَحَفْصُ بْنُ عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْجَزَّارِ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي، فَذَهَبَ جَدْيٌ يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَتَّقِيهِ".

---

[1]) په دې تفريع باندې به دا منلې شی چه مرور بين المصلى وسترته مطلقا ممنوع دې اګر چه د دې دوارو ترمينځه يو څيز حائل وی ۱۲ منه)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۱۱ الف)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۶/۲) (حسن صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٥٤٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۹(۹۵۳)، مسند احمد (۲۹۱/۱، ۳٤۱) (صحيح)

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ وو چې مونځ ئې کولو نو راغې بچې د چيلۍ چې تيريدلو مخې د هغه ته نو هغه شروع شو چې ځان ئې ترېنه بچ کولو.

مطابقة الحديث للترجمة

د دې حديث نه معلومه شوه چه د امام ستره د قوم ستره ده، قوم ته د جدا سترې حاجت نشته، ځکه چه په دې حديث کښې د امام د سترې خو ذکر دې او د قوم د سترې پکښې هيڅ ذکر او ثبوت نشته، او دويمه خبره دا هم معلومه شوه چه خپله امام د قوم ستره نه ده لکه چه مالکيان فرمائي ځکه چه رسول الله ﷺ هغه بيزه خپله مخې ته په تيريدو پرېنخودله او د هغې پرواه ئې اونکړه چه د قوم مخې ته تيره شي، حال دا چه که امام خپله د قوم ستره وې نو بيا به د صف اول نه د بيزې تيريدل د قوم دپاره مضر وې.

بَابُ مَنْ قَالَ الْمَرْأَةُ لَا تَقْطَعُ الصَّلَاةَ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې هغه ويلي دي ښځه مونځ نه قطع کوي

په دې باب کښې مصنف د عائشې رضي الله عنها هغه مشهور حديث ذکر فرمائيلې دې کوم چه په صحيحين کښې هم دې، هغه فرمائي چه زه به په حجره شريفه کښې د رسول الله ﷺ مخې نه ملاسته اوم چه کله به هغه د شپې د تهجدو مونځ کولو، ددې نه معلومه شوه چه د زنانه د مصلي مخې ته سملاستل هم چه قاطع صلاة نه دی حال دا چه په دې کښې د فتنې ويره زياته ده نو د هغې مرور به په طريقه اولی قاطع صلاة نه وی، کوم خلق چه د قطع قائل دی هغوی ددې مختلف جوابات ورکوی، يو دا چه دا واقعة حال لا عموم لها د قبيل نه ده ګويا دا د رسول الله ﷺ خصوصيت دې، يا دا چه د قطع روايات مطلق دی او د عائشې رضي الله عنها دا حديث مقيد دې په زوجې سره، او بعض د اعتراض او مرور فرق کړې دې چه مخامخ کيدل قاطع نه دی مرور قاطع دې.

[۷۱۰] (۱) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، قَالَ شُعْبَةُ: أَحْسَبُهَا قَالَتْ: وَأَنَا حَائِضٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ وَعَطَاءٌ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ، وَهِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، وَعِرَاكُ بْنُ مَالِكٍ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ، وَهِشَامٌ، كُلُّهُمْ عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ وَإِبْرَاهِيمُ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبُو الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، وَالْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَأَبُو سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، لَمْ يَذْكُرُوا: وَأَنَا حَائِضٌ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې ويلي دي: وم زه په مابين د نبي ﷺ او قبلې د هغه کښې. وئيلي دی شعبة: زه ګمان کوم په هغې چې وئيلي دی هغې: او زه حائضه وم. وئيلي دی ابوداود: نقل کړی دی دې لره زهری او عطاء او ابوبکر بن حفص، او هشام بن عروة، او عراک بن مالک او ابو الاسود او تميم بن سلمة ټول روايت کړی دی د عروة نه، هغه د

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٦۳٤۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ۱۹ (۳۸۲)، ۲۱ (۳۸۳)، ۱۰۳ (۵۱۲)، ۱۰٤ (۵۱۳)، والوتر ۳ (۹۹۷)، والعمل في الصلاة ۱۰ (۱۲۰۹)، صحيح مسلم/الصلاة ۵۱ (۵۱۲)، والمسافرين ۱۷ (۱۳۵)، سنن النسائي/القبلة ۱۰ (۷٦۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤۰ (۹۵٦)، موطا امام مالک/صلاة الليل ۱ (۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۲۷ (۱٤۵۳)، مسند احمد (٦/۹٤، ۹۸، ۱۷٦) (صحيح) دون قوله: وأنا حائض

عائشې نه. او ابراهیم روایت کړی دی د اسود نه او هغه د عائشې نه. او ابو الضحی د مسروق نه او هغه د عائشې نه. او قاسم بن محمد او ابو سلمة د عائشې نه نه دی ذکر دا قول: (وَأَنَا حَائِضٌ).

[۷۱۱](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي صَلَاتَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَهِيَ مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ رَاقِدَةً عَلَى الْفِرَاشِ الَّذِي يَرْقُدُ عَلَيْهِ، حَتَّى إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوتِرَ أَيْقَظَهَا فَأَوْتَرَتْ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ وو چې مونځ ئې دشپې او هغه په پلنو اوده وه په مابین د نبی ﷺ او قبله کښې په فرش باندې هغه فرش چې هغه به پرې اوده کیدلو، تردې چې اراده به وکړه هغه د وترو کولو نو عائشه به ئې راویخه کړه نو هغې به هم وتر کول.

[۷۱۲](۲)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ الْقَاسِمَ يُحَدِّثُ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: بِئْسَمَا عَدَلْتُمُونَا بِالْحِمَارِ وَالْكَلْبِ، "لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ يُصَلِّي وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ غَمَزَ رِجْلِي فَضَمَمْتُهَا إِلَيَّ ثُمَّ يَسْجُدُ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې هغې ویلې دي: ډیر بد دی هغه شی چې تاسو ورسره مونږ برابر کړی یو د خره او د سپي سره، بیشکه ما لیدلی وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو او زه په پلنو پرته ومه د هغه په مخه کښې چې کله به ئې اراده د سجدې وکړه نو وبه ئې سکونډله خپه زما نو مابه راجوخته کړه خانته، بیا به ئې سجده وکړه.

تشریح: قوله:﴿عن عائشة قالت : بئسما عدلتمونا بالحمار والكلب ﴾ کوم خلق چه مرور مرأة قاطع صلاة منی، عائشه رضي الله عنها د هغوی نه ګیله کوی چه تاسو مونږ د خرو او سپو سره برابر کړو.

[۷۱۳](۳)حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ النَّضْرِ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "كُنْتُ أَكُونُ نَائِمَةً وَرِجْلَايَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ ضَرَبَ رِجْلَيَّ فَقَبَضْتُهُمَا فَسَجَدَ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې هغې ویلې دي: وم زه چې اوده به وم او زما خپې به د رسول الله ﷺ مخې ته وې او هغه به مونځ کولو دشپې، کله چې به هغه اراده وکړه د سجدې کولو نو زما خپه به ئې ووهله نو مابه راټوله کړه هغه به سجده وکړه.

تشریح: قوله:﴿ ورجلاي بين يدي رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ رسول الله ﷺ به چه په حجره شریفه کښې د شپې کوم وخت کښې تهجد کول نو عائشه رضي الله عنها فرمائی چه هغه وخت زما خپې د رسول الله ﷺ مخکښې د سجدې په ځائې کښې وې، چه کله به رسول الله ﷺ سجدې ته اورسیدو نو زما خپې به ئې زور کړې بیا به ما خپلې خپې راټولې کړې، دلته په

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۹۰۲، ۱۶۳۳۳) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۳۷) (صحيح)
(۳): صحيح البخاري/الصلاة ۱۹ (۳۸۲)، العمل في الصلاة ۱۰ (۱۲۰۹)، صحيح مسلم/الصلاة ۵۱ (۵۱۲)، سنن النسائي/القبلة ۱۰ (۷۶۰)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۴۸، ۲۲۵) (صحيح)

ظاهره کښې د بې ادبئ شبهه ده، جواب دا دې چه اول خو حجره شريفه تنګه وه، دويمه دا چه عائشه ﷞ د رسول الله ﷺ زوجه محترمه ده، په زوجين کښې کمال الفت او محبت او بې تکلفي پکار ده. دا د ادب خلاف نه ده، بله دا چه په هغه زمانه کښې به د شپې ډيوې روښانه نه وې په حجره کښې به تياره وه، پس په بعض رواياتو کښې خپله عائشه ﷞ فرمائي ﴿ البيوت يومئذ ليس فيها مصابيح ﴾ لهذا د بې ادبئ هيئت نه شو.

[۷۱٤]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ ح قَالَ أَبُو دَاوُد، حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "كُنْتُ أَنَامُ وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ فِي قِبْلَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيُصَلِّي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَمَامَهُ، إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوتِرَ، زَادَ عُثْمَانُ: غَمَزَنِي ثُمَّ اتَّفَقَا، فَقَالَ: تَنَحَّيْ".

ترجمه: تشريح: د عائشې ﷞ نه روايت دې هغې ويلي دي: زه به اوده کيدم په پلنو په قبله د رسول الله ﷺ کښې، مونځ به کولو رسول الله ﷺ او زه به د هغه مخې ته وم کله چې به هغه د وترو کولو اراده وکړه. زيادت کړې دی عثمان او قعنبي: چې زه (عائشه) به ئې وسکوندلم. بيا دواړه سره متفق شوی دی هغه به وويل: غاړې ته شه.

تشريح: قوله:﴿ فقال : تنحى ﴾ دا د واحد مونث حاضر امر صيغه ده يعنې يو طرف ته شه، او مطلب دا دې چه يو طرف ته کيدو سره د وتر مونځ اوکړه لکه چه په بعض نورو رواياتو کښې دی چه رسول الله ﷺ به د تهجدو د مونځ نه د سلام اړولو نه پس چه کله د وتر اراده فرمائيله نو هغه به ئې هم بيداره کړه چه هغه هم وتر اوکړي، په اولنو رواياتو کښې چه کوم غمز رجل ذکر شوې دې هغه خو د مونځ په حالت کښې دې او دا د مونځ نه د فارغ کيدو نه پس دی ګيني په مونځ کښې کلام چرته جائز دې.

بَابُ مَنْ قَالَ الْحِمَارُ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ

باب دې په بيان د هغه چا کې چې هغه ويلي دي چې خر مونځ نه قطع کوي

[۷۱۵]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جِئْتُ عَلَى حِمَارٍ ح وحَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى أَتَانٍ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الِاحْتِلَامَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ بِمِنًى، فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ فَنَزَلْتُ فَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ وَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ أَحَدٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا لَفْظُ الْقَعْنَبِيِّ وَهُوَ أَتَمُّ، قَالَ مَالِكٌ: وَأَنَا أَرَى ذَلِكَ وَاسِعًا إِذَا قَامَتِ الصَّلَاةُ.

ترجمه: د ابن عباس ﷠ نه روايت دې هغه وئيلي دي: زه راغلم په خر باندې، او په بل سند باندې د ابن عباس نه روايت دې هغه وئيلي دي: زه راغلم سور په خره باندې او زه په دغه

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٧٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٢/٦) (حسن صحيح)

[2]: صحيح البخاري/العلم ١٨ (٧٦)، والصلاة ٩٠ (٤٩٣)، والأذان ١٦١ (٨٦١)، وجزاء الصيد ٢٥ (١٨٥٧)، والمغازي ٧٧ (٤٤١٢)، صحيح مسلم/الصلاة ٤٧ (٥٠٤)، سنن الترمذي/الصلاة ١٤٠ (٣٣٧)، سنن النسائي/القبلة ٧ (٧٥٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٣٨ (٩٤٧)، (تحفة الأشراف: ٥٨٣٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ١١(٣٨)، مسند احمد (٢١٩/١، ٢٦٤، ٣٣٧، ٣٦٥)، سنن الدارمي/الصلاة ١٢٩(١٤٥٥) (صحيح)

وخت کښې رسيدلی وم احتلام ته او رسول الله ﷺ خلکو ته مونځ کولو په منی کښې. نو زه تېر شوم مخې د بعضې حصې د صف ته، زه ښکته شوم خره مې ايله کړه چې خوراک وکړی او په صف کښې شريک شوم، يو کس هم دا بده ونه ګڼړله. وئيلی دی ابوداود: دا لفظ د قعنبی دی اوددا اتم دی، وئيلی دی مالک: او زه په دې کښې وسعت وينم کله چې مونځ ودرولی شي.

تشريح: قوله: ﴿ يصلي بالناس بمنى ﴾ د بخاری په روايت کښې هم دغه شان دی، او د مسلم په يو روايت کښې د ﴿ بمنى ﴾ په ځائې ﴿ بعرفة ﴾ دې، د امام نووی رحمه الله رائې د تعدد واقعه ده، او حافظ فرمائي چه مخرج د حديث په اتحاد سره تعدد خلاف اصل دې بلکه دا به وئيلي شي چه دويم روايت شاذ دې.

د حديث په شرح کښې د امام بخاری او امام بيهقي رائې

د بخاری په يو روايت کښې دلته يو زيادت دې ﴿ الى غير جدار ﴾ يعنی رسول الله ﷺ په منی کښې مونځ کولو بغير د څه د يوال او سترې نه، ددې جملې امام بيهقي رحمه الله هم دا مطلب اخستلې دې، پس هغه په دې باندې ترجمه قائم کړې ده ﴿ باب الصلاة الى غير سترة ﴾ او د امام بخاری ترجمه ددې خلاف ده ﴿ باب سترة الامام لمن خلفه ﴾ لهذا ددې ترجمې په وجه باندې به د حديث مطلب دا وی چه د جدار نه علاوه د يو بل څيز ستره جوړه کړې شي نو په هغې کښې هيڅ باک نشته.

قوله: ﴿ فمررت بين يدى بعض الصف ﴾ د دې نه دوه خبرې معلومې شوې اول دا چه د مقتدی په وړاندې تيريدو کښې هيڅ باک نشته، د امام او د هغه د سترې ترمينځه تيريدل مضر دی، دويم دا چه مرور حمار قاطع نه دې. ﴿ قال مالك : وانا ارى ذلك واسعا اذا قامت الصلاة ﴾ د دې جملې چه کومه شرح په بذل کښې ليکلې شوې ده يعنی د مرور قاطع صلاة نه کيدل په دې کښې تسامح ده، په دې مطلب کښې ﴿ اذا اقامت الصلاة ﴾ په ظاهره کښې بې جوړه دې او صحيح مطلب ددې دا دې چه د مونځ د شروع کيدو نه پس په صف کښې د شامليدو دپاره د صفونو نه شاته که څه لاره نه وی نو د صف نه وړاندې تيريدې شی، ددې مطلب تعيين خپله د مؤطاء امام مالک نه کيږی، ابن رسلان او صاحب منهل هم دا مطلب ليکلی دې.

[۷۱۶]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْجَزَّارِ، عَنْ أَبِي الصَّهْبَاءِ، قَالَ: تَذَاكَرْنَا مَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ، فَقَالَ: "جِئْتُ أَنَا وَغُلَامٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عَلَى حِمَارٍ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، فَنَزَلَ وَنَزَلْتُ وَتَرَكْنَا الْحِمَارَ أَمَامَ الصَّفِّ فَمَا بَالَاهُ، وَجَاءَتْ جَارِيَتَانِ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَدَخَلَتَا بَيْنَ الصَّفِّ فَمَا بَالَى ذَلِكَ".

ترجمه: د ابو الصهباء نه روايت دې هغه وئيلی دی، مونږ مذاکره کوله د هغه شيانو چې کوم مونځ قطع کوی د ابن عباس په خوا کښې، هغه ووېل: زه او يو هلک د بنی عبد المطلب راغلو په خر باندې او رسول الله ﷺ مونځ کولو، نو مونږ دواړه راښکته شو او مونږ خر پريخودلو د صف مخې ته، نو هغه هيڅ پروا ونه کړه، او راغلې دوه جينکۍ د بنی عبد

[1]: سنن النسائي /القبلة ۷ (۷۵۵)، (تحفة الأشراف: ۵۶۸۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳۵/۱) (صحيح)

المطلب نه دواړه په صف کښې ننوتلې نو هغه هېڅ پروا پرې ونه کړه.

[۷۱۷]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَدَاوُدُ بْنُ مِخْرَاقٍ الْفِرْيَابِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: فَجَاءَتْ جَارِيَتَانِ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ اقْتَتَلَتَا فَأَخَذَهُمَا، قَالَ عُثْمَانُ: فَفَرَّعَ بَيْنَهُمَا، وَقَالَ دَاوُدُ: فَنَزَعَ إِحْدَاهُمَا عَنِ الْأُخْرَى فَمَا بَالَى ذَلِكَ.

ترجمه: د منصور نه روايت دې ددې حديث په اسناد د هغې سره هغه ووېل نو راغلې دوه جينکۍ د بنی عبد المطلب نه، نو دواړه ئې ونيولې، وئيلی دی عثمان دواړه ئې جدا کړې او وئيلی دی داود: لرې ئې کړه يوه د بلې نه، نو هغه پروا ونه کړه.

بَابُ مَنْ قَالَ الْكَلْبُ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ

باب دې په بيان د هغه چاکې چې وايي سپی مونځ نه قطع کوي

په شروع کښې مصنف يو حديث ذکر کړې وو چه په هغې د درې څيزونو قاطع صلاة کيدل مذکور وو، زنانه، خر او سپې، مصنف په دې درې واړو باندې جدا جدا بابونه تړلو سره ددې قاطع نه کيدل ثابت کړل.

[۷۱۸]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَبَّاسِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي بَادِيَةٍ لَنَا وَمَعَهُ عَبَّاسٌ فَصَلَّى فِي صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ وَحِمَارَةٌ لَنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَمَا بَالَى ذَلِكَ".

ترجمه: د فضل بن عباس نه روايت دې هغه وئيلی دي: راغي مونږ ته رسول الله ﷺ او مونږ زمونږ په بانډه کښې وو او د هغه سره عباس وو. مونځ ئې وکړو په صحراء کښې چې د هغه مخې ته ستره نه وه او زمونږ خره او سپۍ دواړو لوبې کولې د هغه مخې ته نو هېڅ پروايي ونه کړه په هغې.

بَابُ مَنْ قَالَ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ

باب دې په بيان د هغه چاکې چې وايي: مونځ لره نه قطع کوي هېڅ شی

په اخره کښې ئې ددې سلسلې يو داسې باب راوړلو کوم چه دې ټولو قسمونو ته عام او جامع دې.

[۷۱۹]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ أَبِي الْوَدَّاكِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ، وَادْرَءُوا مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ".

ترجمه: د ابو سعيد نه روايت دې هغه وئيلی دی، چې فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: نه قطع کوی مونځ لره هېڅ شی، لرې کړئ (دفع کړئ) څومره چې ستاسو طاقت وی بېشک هغه شيطان دی.

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٦٨٧) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/القبلة ٧ (٧٥٤)، (تحفة الأشراف: ١١٠٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢١١، ٢١٢) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٩٨٩) (ضعيف)

[۷۲۰]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا مُجَالِدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَدَّاكِ، قَالَ: مَرَّ شَابٌّ مِنْ قُرَيْشٍ بَيْنَ يَدَيْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَهُوَ يُصَلِّي فَدَفَعَهُ، ثُمَّ عَادَ فَدَفَعَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: إِنَّ الصَّلَاةَ لَا يَقْطَعُهَا شَيْءٌ، وَلَكِنْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ادْرَءُوا مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِذَا تَنَازَعَ الْخَبَرَانِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُظِرَ إِلَى مَا عَمِلَ بِهِ أَصْحَابُهُ مِنْ بَعْدِهِ.

ترجمه: د ابو الوداک نه روایت دې هغه وئیلی دي: چې تېر شو یو ځوان د قریشو نه مخې د ابو سعید الخدری ته او هغه مونځ کولو نو هغه دفع کړو بیا راغې بیا ئې دفع کړو تر دې خلو پورې، هرکله چې هغه فارغ شو نو ویې وئیل: بیشکه مونځ لره نه قطع کوی هېڅ شی، لکن رسول الله ﷺ وئیلی دي: تاسو دفع کوئ څومره چې ستاسو طاقت وی بیشکه هغه شیطان دی. وئیلی دی ابوداود: کله چې تنازع راشی په مابین د دوه خبرینو کښې نو کتل به شی عمل د صحابو ته وروسته د هغه نه.

تشریح: قوله: ﴿ مر شاب من قریش بین یدی ابی سعید الخدری ﴾ دا هم هغه حدیث دې د کوم چه څه حصه مخکښې په "باب ما یؤمر المصلی ان یدراء" د لاندې تیره شوې ده، مصنف ددې څه حصه هلته ذکر کړه اوڅه دلته، پوره روایت په بخاری ص۷۳ او مسلم ص۱۹۷ کښې موجود دې.

قوله: ﴿ قال ابوداود : اذا تنازع الخبران عن رسول الله صلی الله علیه وسلم نظر الی ما عمل به اصحابه ﴾ (۲) مصنف دا یوه اصولی خبره بیان کړې ده چه په کومه مسئله کښې احادیث مرفوعه متعارض وی نو هلته اثار صحابه او د هغوی طرز عمل ته کتل پکار دی، حضرت په بذل کښې لیکی چه په عمل صحابه کښې د نظر کولو نه معلومیږی چه بعض هغه صحابه کرام کوم چه د قطع صلاة راویان دی لکه ابن عباس، ابن عمر، عائشه، دا حضرات خپله ددې ځیزونو په مرور سره د قطع قائل نه دی، پس د بیهقی او طحاوی په یو روایت کښې دی چه د ابن عباس نه مسئله اوتپوسلې شوه چه زنانه، خر او سپې قاطع صلاة دی؟ نو هغه جواب ورکړو ﴿ الیه یصعد الکلم الطیب والعمل الصالح یرفعه ﴾ یعنی مونځ یو عمل صالح دې چه فرشتې ئې پورته اسمان ته اوړی ایا دا ځیزونه اسمان ته د اوړلو نه مانع کیدې شی؟ هم دغه شان د ابن عمر ﷺ نه هم د عدم قطع صلاة فتوی منقول ده، هم دغه شان د سیدنا عائشه ﷺ نه د زنانه د غیر قاطع کیدو روایت موجود دې، وراندې حضرت فرمائی چه ددې نه علاوه چه د ډیرو صحابه کرامو نه د قطع صلاة روایات موجود دی د هغې نه دا نه لازمیږی چه د هغوی مذهب دې ضرور د قطع صلاة وی بلکه د قطع صلاة نه مراد به د هغوی قطع خشوع وی لکه چه جمهور علماء کرام فرمائی، والله اعلم بالصواب. دې ځائې ته رارسیدو سره د بذل المجهود اولنې جلد پوره شو

اللهم تقبل منا کما تقبلت من عبادک الصالحین واجعله خالصا لوجهک الکریم

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۹۸۹) (ضعیف)

(۲) بالکل هم ددې په شان عبارت مصنف په دې کتاب کښې دوه ځایه نور راوړې دې مثلا په کتاب الحج کښې د صید محرم روایات مختلفه د لاندې، باب لحم الصید للمحرم کښې فرمائی: قال ابوداود واذا تنازع الخبران عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ینظر بما اخذ به اصحابه)

ابواب تفريع استفتاح الصلاة
د مونځ شروع کولو احکام

د مصنف يو عادت

ما مخکښې دا خبره بيان کړې ده چه مصنف لفظ تفريع په کثرت سره استعمالوی، د هر يو مصنف يو خاص ادا او طرز تعبير وی
څنګه چه په ليکلو کښې مضامين مرتب وی هم دغه شان د هر يو مصنف په ذهن کښې د ابواب او مضامين يو خاص ترتيب د مخکښې نه موجود وی چه د هغې مطابق هغه تصنيف ليکی نو د تفريع مطلب دا شو چه د مصنف د ذهنی ترتيب په اعتبار سره (بلکه خارجی هم) راتلونکی ابواب په تيرو ابوابو باندې متفرع کيږی او يا داسې او وايئ چه تفريع ماخوذ دې د فرع نه چه د هغې جمع فروع راځی، فروع وئيلې شی مسائل جزئيه ته، وئيلې شی ﴿ فرعت من هذا الاصل مسائل ای استخرجت ﴾ نو مطلب دا شو چه د افتتاح الصلاة نه تر د اختتام صلاة پورې د مسائلو استخراج يعنی د احاديث نبويه نه، صرف ددې تخصيص نه بلکه د مصنف مقصد د ټولو ابوابو او کتب نه استخراج وفروع ومسائل دې.
استفتاح صلاة يعنی مونځ شروع کول، ددې ځائې نه د مونځ د داخلی څيزونو بيان شروع کيږی او اوسه پورې د مونځ متعلق د هغه احکاماتو بيان وو کوم چه خارجی دی.
اوس ددې ځائې نه مصنف د مونځ مکمل طريقه د شروع نه تر انتهاء پورې د تکبير تحريمه نه تر سلام پورې په راتلونکو ابواب کښې بيانول غواړی، د مونځ ددې مکمل کيفيت بيان له فقهاء کرامو بلکه اکثر محدثين مصنفين هم په باب صفة الصلاة سره تعبير کوی.

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ
باب دې په بيان رفع اليدينو کې په مانځه کې

پورته عنوان يعنی "ابواب تفريع استفتاح الصلاة" دا عنوان د کلی په درجه کښې دې، او دا باب او راتلونکی ابواب ددې کلی جزئيات دی، بنه ځان پوهه کړئ.

د ترجمة الباب غرض

بنه ځان پوهه کړئ چه په ترجمة الباب کښې رفع اليدين مطلقا ذکر کړې شوې دی دا ئې نه ده ظاهر کړې چه کوم رفع اليدين، د ترتيب تقاضه خو دا ده چه مقصود بالبيان صرف رفع اليدين عند التحريمه وی ځکه چه د رفع اليدين نه فارغ کيدو سره مصنف وړاندې د دعاء استفتاح باب قائم کړې دې، خو چونکه ددې باب په احاديثو کښې رفع عند الرکوع وغيره هم ذکر ده، په دې وجه مصنف د رفع اليدين ټول مواضع په يوځائې بيان کړې دی، هم په دې وجه ئې د دعاء استفتاح د باب نه مخکښې د عدم رفع عند الرکوع باب قائم کړې دې، ددې نه معلومه شوه چه د مصنف مراد د رفع نه رفع عند التحريمه والرکوع وغيره ټول دی.

د رفع الیدین متعلق مباحث خمسه

اوس تاسو د رفع الیدین متعلق احکام او مسائل واورئ کوم چه پنځه دی
۱ مواضع الرفع: په مانځه کښې رفع څو ځایونو کښې ده
۲ کیفیة الرفع: یعنی د رفع یدین طریقه.
۳ وقت الرفع: رفع یدین د تحریمه نه مخکښې پکار دی یا ددې سره.
۴ منتهی الرفع: لاسونه به د کوم ځائې پورې اوچتولې شی
۵ حکم الرفع: د رفع یدین حکمتونه او مصلحتونه

البحث الاول

په مونځ کښې رفع الیدین کوم کوم ځائې کښې کولې شی. الموضع الاول عند التحریمه د دې د سنتیت جمهور علماء کرام قائل دی په شرح مهذب کښې ددې په استحباب باندې د امت اجماع نقل کړې ده خو د ابن حزم په نزد دا رفع فرض ده بغیر ددې نه به مونځ صحیح نه وی وهو روایة عن الاوزاعی، خو د امام مالک رحمه الله یو روایت د عدم استحباب دې او علامه باجی د ډیرو مالکیانو نه هم عدم استحباب نقل کړې دې خو په کتب مالکیه کښې د استحباب تصریح ده لهذا صحیح هم دا ده، او بعض علماء کرامو د فرقه زیدیه نه ددې رفع عدم جواز نقل کړې دې، ونیلې شوې دی چه دا نقل صحیح نه دې، الحاصل د ائمه ثلاثه په نزد دا رفع سنت ده او هم دا قول اصح د امام مالک هم دې، او د ابن حزم او اوزاعی په نزد فرض ده، الموضع الثانی، رفع یدین عند الرکوع یعنی رکوع ته د تلو په وخت او د هغې نه د پاسیدو په وخت، ددې د سنتیت د صحابه کرامو یو جماعت قائل دی لکه ابن عمر، جابر بن عبدالله، ابوهریره، انس، ابن عباس، عبدالله بن الزبیر وغیرهم قاله الترمذی فی جامعه، هم دغه شان هغه فرمائی : ومن التابعین الحسن البصری وعطاء وطاؤس ومجاهد ونافع وسالم وسعید بن جبیر وغیرهم، او په ائمه کرامو کښې امام شافعی، احمد او اسحاق به راهویه قائل دی.

د دې بالمقابل امام ابوحنیفه، سفیان ثوری، ابراهیم نخعی، ابن ابی لیلی او د صحابه کرامو او د تابعینو یو جماعت ددې رفع د عدم استحباب قائل دی. لکه عبدالله بن مسعود، جابر بن سمرة، براء بن عازب، عبدالله بن عمر (بذل من العینی) هم دغه شان امام طحاوی رحمه الله د عمر رضی الله عنه عمل هم د ترک رفع ثابت کړې دې، ابن بطال مالکی رحمه الله هم د عمر رضی الله عنه عمل د ترک رفع ثابت کړې دې (حاشیة فیض الباری ص ۴۵۷، ج ۲) هم دغه شان امام طحاوی رحمه الله د علی رضی الله عنه عمل هم عدم رفع ثابت کړې دې، مولانا بدر عالم صاحب په دې باندې بحث کولو سره فرمائی چه که ددې دواړو (عمر او علی) نه رفع ثابت وې نو امام ترمذی به د هغوی نومونه ضرور په قائلین رفع کښې ذکر کړې وې.

د قائلین رفع د لاندې امام ترمذی رحمه الله فرمائی . وبه یقول غیر واحد من اهل العلم من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم والتابعین وهو قول سفیان واهل الکوفة. او صاحب بدائع د ابن عباس

ﷺ نه د عشره مبشره عمل هم عدم رفع نقل کړې دې (۱)(خو هغه ددې سند نه دې بیان کړې).

په رفع الیدین کښې د امام مالک د مذهب تحقیق

او د امام مالک نه په دې کښې دوه روایتونه دی، د ابن القاسم په روایت سره عدم رفع دې او د ابن وهب او اشهب په روایت کښې استحباب رفع دې، خو په الشرح الکبیر کښې علامه دردیر رحمه الله صرف د عند التحریمه د رفع استحباب ذکر کړې دې او د رفع عند الرکوع عدم استحباب، دا الشرح الکبیر د مختصر خلیل شرح ده او مختصر خلیل د فقه مالکیه یو مشهور او معتبر متن دې، هم دغه شان امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې د احنافو د مذهب لیکلو نه پس لیکی : وهو اشهر الروایات عن مالک. هم دغه شان علامه ابن رشد مالکی په بدایة المجتهد کښې لیکلې دی چه د امام مالک د عمل اهل مدینه په وجه باندې عدم رفع ته ترجیح ورکړې ده، او په مدونه کښې خپله د امام مالک نه منقول دی (کما فی الفیض السمائی ص ۲۸٤) رفع الیدین ضعیف الا فی الافتتاح خو د شرح حدیث د کتلو نه معلومیږی چه د فریق مقابل کوشش دا دې چه دا ثابت کړی چه د امام مالک په نزد رفع الیدین عند الرکوع کښې قول راجح د استحباب دې، پس علامه زرقانی فرمائی چه ابن عبدالحکم وئیلې دی چه د امام مالک رحمه الله نه عدم رفع چا هم نه ده نقل کړې سوا د ابن القاسم نه، علامه انور شاه کشمیری رحمه الله په نیل الفرقد کښې فرمائی چه علامه عینی په مبانی الاخبار کښې لیکی چه : وروی الشافعی عن مالک انه کان لا یرفع یدیه... لهذا ابن القاسم په خپل روایت کښې متفرد نه دې بلکه امام شافعی رحمه الله هم ددې راوی دې.

رفع الیدین د احنافو په نزد خلاف اولی دی یا مکروه؟

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه په دې کښې اختلاف دې چه دا رفع الیدین عند الرکوع خلاف اولی دی یا مکروه، طحطاوی علی المراقی کښې دې ته مکروه وئیلې دی او په یو بل ځائې کښې په مراقی الفلاح کښې هم، او په فیض الباری کښې شاه صاحب د کبیری شرح منیه او صاحب بدائع نه هم کراهت نقل کړې دې، او بل قول د احنافو په دې کښې دا دې چه دا صرف خلاف اولی دې، امام ابوبکر جصاص رازی هم دا قول اختیار کړې دې لکه چه په فیض الباری کښې دی، او هم دا شاه صاحب او حضرت اقدس گنگوهی اختیار کړې دې،

(۱) ددې په خلاف امام بیهقی رحمه الله د حاکم نه نقل کړې دی چه په دې سنت یعنی د رفع یدین په روایت باندې عشره مبشره متفق دی، او په دې باندې امام بیهقی رحمه الله فرمائی: وهو کما قال. یعنی حاکم چه څه فرمائیلې دی هم دغه شان ده. علامه زیلعی په نصب الرایه کښې د ابن دقیق العید نه نقل کوی چه د حاکم د عشره مبشره په روایت باندې جزم کول څه غوره خبره نه ده او هغه فرمائی: ولعله لا یصح عن جملة العشرة. یعنی د لسو واړو نه ددې ثبوت مشکل دی، او علامه فیروز آبادی خو حد کړې دې هغه په سفر السعادة کښې د رفع الیدین فی المواضع الثلاثة متعلق فرمائی چه د عشره مبشره نه روایت دې چه رسول الله ﷺ هم په دې کیفیت باندې د عمر مبارک د اخره پورې مونځ کولو. زمونږ علماء فرمائی چه داسې یو حدیث هم ثابت نه دې پاتې لا دا چه د عشره مبشره روایت وی. (امانی الاحبار ص ۱۹۰، ج ۳، وفیض الباری ص ۲۵۹ ج ۲)

كما في الكوكب الدري.

الموضع الثالث رفع اليدين عند السجود، په ائمه اربعه كښې څوک هم ددې د استحباب قائل نه دی، البته د امام احمد يو روايت كوم چه د هغه نه ميمونی نقل كړې دې د استحباب دې، هم دغه شان په شوافعو كښې ابن المنذر او ابو علی طبری او بعض اهل حديث هم د استحباب قائل دی هم دغه شان ابن حزم هم ددې قائل دې بلكه في كل رفع وخفض.

الموضع الرابع : رفع عند القيام من الركعتين... يعنی د رومبی تشهد نه د پاسيدو په وخت، د امام مالک او امام شافعی په يو قول كښې دا رفع مستحب ده، امام نووی رحمه الله فرمائی او هم دا قول صواب دې، خو حضرت شيخ فرمائی چه اكثر متون شافعيه ددې د ذكر نه خالی دی، هم دغه شان د مالكيانو او حنابله په متون كښې هم ددې ذكر نشته، لهذا د امام نووی رحمه الله دا فرمائيل چه دلته د رفع اليدين والا قول صحيح دې محل نظر دې، حضرت شيخ په اوجز المسالک كښې فرمائی چه په ظاهره امام نووی داسې مجبورا اوكړل د اشكال نه د بچ كيدو دپاره [1]، هم دغه شان ابن دقيق العيد فرمائی چه د امام شافعی رحمه الله د نظر تقاضه دا كيدل پكار دی چه دلته رفع اليدين مستحب شی څنګه چه هغه د رفع عند الركوع وبعد الركوع قائل دې څكه چه دليل د ټولو يو دې يعنی حديث د ابن عمر رضي الله عنهما، چه د هغې په بعض طرق كښې په صحيح بخاری وغيره كښې دا رفع مذكور ده، هم دغه شان هغه فرمائی چه دې ته د امام شافعی رحمه الله مذهب په دې وجه وئيل چه د هغه نه منقول دی ﴿ اذا صح الحديث فهو مذهبي ﴾ په دې كښې نظر دې، حافظ فرمائی چه په ظاهره كښې د نظر وجه دا ده چه د امام شافعی رحمه الله ددې وصيت د عمل محل هغه صورت دې چه كله دا معلومه شی چه امام شافعی رحمه الله ته به دا روايت نه وی رسيدلې، او هر كله چه دا معلومه شی چه حديث خو هغه ته رسيدلې وو خو د څه وجې نه هغه قبول نه كړو نو بيا دا صورت ددې وصيت محل نه دې او دلته معامله محتمل ده (مونږ نه شو وئيلې چه امام شافعی رحمه الله ددې زيادت نه خبر شوې وو يا نه) هم دغه شان دا رفع اختيار كړې ده امام بيهقی، ابن خزيمه او امام بخاری وغيرهم، پس امام بخاری په دې باندې په صحيح بخاری كښې مستقل باب ترلې دې باب رفع اليدين اذا قام من الركعتين.

البحث الثاني : (د رفع اليدين كيفيت)

د رفع اليدين په كيفيت كښې څو اقوال دی په منهل كښې ئې څلور صورتونه ليكلې دی:

۱: يرفعهما ناشرا اصابعه مستقبلا بباطن كفيه القبلة... يعنی لاسونه به پورته اوچت كړی په داسې حالت كښې چه چه د كفين باطن (د لاس تلی) به ئې د قبلې طرف ته وی، او د ګوتو سرونه به ئې د اسمان طرف ته وی.

۲: دويمه طريقه هم دا ده خو بس دومره فرق دې چه د ګوتو سوكې ئې د قبلې طرف ته وی.

[1]) چه هر كله په صحيح بخاری كښې د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت كښې دا رفع مذكور ده نو بيا تاسو ددې قائل ولې نه يئ؟.

۳: او دریمه طریقه دا ده چه لاسونه داسې اوچت کړی چه بطون کفین ئې د اسمان طرف ته وی او ظهور کفین ئې د زمکې طرفته وی.
۴: او څلورمه طریقه د دریمې برعکس ده یعنی بطون کفین الی الارض او ظهور کفین الی السماء او دا کیفیات علامه عینی هم په شرح بخاری کښې ذکر کړې دی، اولنې کیفیت هغوی د امام طحاوی رحمه الله طرف ته منسوب کړې دې. (الفیض السمائی ص ۲۸۵)

د رفع الیدین په وخت تفریق اصابع اولی دې یا ضم

اوس دا چه د رفع الیدین په وخت تفریق اصابع اولی دې یا ضم؟ نو په مغنی کښې لیکی چه ﴿ یستحب ضم الاصابع ﴾ (عند احمد) وقال الشافعی السنة التفریج، او د احنافو په نزد په خپل حال پریخودل اولی دی، نه دې بالقصد ضم کوی او نه دې تفریق، البته په رکوع کښې تفریج اولی دې او په سجود کښې ضم، امام ترمذی رحمه الله په دې مسئله باندې مستقل باب تړلې دې: باب فی نشر الاصابع عند التکبیر.

البحث الثالث: (رفع الیدین به تکبیر سره متصل وی که منفصل)

رفع الیدین کله کول پکار دی د تکبیر نه مخکښې یا د هغې سره سره؟ د شوافعو او مالکیه ؤ په نزد راجح قول مقارنت دې کما قال الزرقانی، او د حنابله په نزد هم دغه قول دې روایةً واحدةً. او د فقهاء احنافو په دې کښې اختلاف دې، صاحب بدائع او صاحب محیط مقارنت اختیار کړې دې چه د تکبیر سره سره دې رفع الیدین اوکړی، او په هدایه کښې تقدیم رفع مذکور دې، اول دې رفع الیدین اوکړی او بیا تکبیر، صاحب بحر او در مختار هم دا اختیار کړې دې.

البحث الرابع: (لاسونه کوم ځائې پورې اوچتول پکار دی؟)

رفع الیدین د کوم ځائې پورې پکار دی، مشهوره دا ده چه د ائمه ثلاثه په نزد حذا المنکبین او د احنافو په نزد حذاء الاذنین، خو د کتب مالکیه نه معلومیږی چه دلته هم حذا الاذنین اولی دې، او د حنابله مذهب په مغنی کښې تخییر الی المنکبین او الاذنین لیکلې دې، شیخ ابن الهمام فرمائی چه دا اختلاف صرف لفظی دې ځکه چه د حذا المنکبین مطلب دا دې چه کفین د منکبین مقابل وی او اطراف اصابع د اذنین مقابل، هم دغه شان ملا علی قاری د امام شافعی نه نقل کړې دی چه کله هغه مصر ته داخل شو نو د هغه نه ددې متعلق تپوس اوشو نو هغه ورته دا پورته ذکر شوې تفصیل بیان اوفرمائیلو چه کفین حذاء المنکبین او ابهامین الی شحمة الاذنین او اطرافع اصابع الی فروع الاذنین، ځکه چه په یو حدیث کښې الی المنکبین راغلې دې او په یو کښې الی الاذنین او په بعض کښې الی فروع الاذنین. یعنی د غوږونو پورته حصه، لهذا په درې وارو روایاتو کښې تطبیق اوشو. او د زنانه په باره کښې مشهوره ده چه په دې مسئله کښې د زنانه او د سړی د فرق قائل صرف احناف دی، انها ترفع الی الثدین، خو احناف په دې کښې متفرد نه دی، په اوجز کښې لیکلې دی چه د

امام احمدؒ نه په دې کښې دوه روايتونه دی، ﴿ ترفع قليلا ﴾ او بل روايت دا دې چه د زنانه په حق کښې رفع اليدين مشروع نه دی.

البحث الخامس : په رفع اليدين کښې حکمت څه دې

حضرت شيخ په اوجز کښې لس حکمتونه ذکر کړې دی.

۱: نفي الكبرياء عن غير الله تعالى... يعنى د الله اکبر په ذريعه د الله پاک دپاره قولا لوئي والي ثابتولې شی او فعلا يعنى د لاس په اشارې سره د غير الله نه د لوئي والى نفى کولې شی،

۲: وقيل اعلام الاصم... کونړ سړې خو به د امام تکبير وانوری خو رفع اليدين ته کتلو سره به پوهه شی چه مونځ شروع شو دا دوه حکمتونه صاحب هدايه بيان کړې دی.

۳: قيل اشارة الى طرح الدنيا الوراء والاقبال بكلية الى الله تعالى. يعنى په دې سره دنيا لره شاته د ګزارلو طرف ته اشاره ده او دا چه زه پوره طريقې سره د الله پاک طرف ته متوجه کيږم.

۴: ﴿ الاستلام ﴾ يعنى د انقياد او تسليم طرف ته اشاره ده چه مونږ ستا خبره منو.

۵: "استعظام ما دخل فيه" يعنى رفع اليدين فعل تعظيمى دې او په دې سره مقصود د مونځ د عظمت اظهار دې.

۶: "استعظاما لله تعالى" د الله پاک د عظمت اظهار...

۷: رفع الحجاب بين العبد والمعبود والساجد والمسجود... يعنى د رفع حجاب طرف ته اشاره ده چه الله پاک حجابات لرې کولو سره په خپل دربار کښې قرب او حضور نصيب کړی.

۸: "الاستقبال بجميع البدن" د ارسال يدين په صورت کښې د لاسونو استقبال نه کيږی نو رفع اليدين په دې وجه کولې شی ددې دپاره چه د باقى بدن سره په لاسونو سره هم استقبال اوشی.

۹: اشارة الى تمام القيام... يعنى د الله پاک په وړاندې پوره بدن سره قيام کول، او يو حکمت دا بيانولې شی چه په مکه کښې به بعض کفار قريش هم په ترخ کښې بتان نيولو سره د مسلمانانو په مانځه کښې اودريدل،

۱۰: واصنامهم تحت اباطهم... نو د رفع اليدين حکم ورکړې شو د اسقاط اصنام دپاره.

اوس پاتې شوه مسئله د دلائلو نو په دې معركة الاراء مسئله کښې دلائل دواړو ډلو سره موجود دی او د هر يو په مستدلات باندې فردا فردا بحث او کلام هم شته، په صحاح سته کښې مجموعى حيثيت سره دواړه قسم روايات موجود دی، په سنن اربعه کښې دواړه قسم او په صحيحين کښې صرف د رفع روايات موجود دی، اخرى عمل د رسول اللهﷺ په دې کښې څه دې رفع يا عدم رفع، صريحا ددې ثبوت مشکل دې، البته په سنن بيهقى کښې د ابن عمرؓ د حديث په بعض طرق کښې دا زيادت دې ﴿ فما زالت تلک صلاته حتى لقى الله ﴾ چه د هغې نه معلوميږی چه په اخرى عمر کښې د رسول اللهﷺ فعل رفع اليدين وو، خو بعض محققينو دې زيادت ته غير ثابت وئيلې دې چه دا ضعيف بلکه موضوع دې.(۱)

(۱) ددې حديث په سند کښې عصمة بن محمد انصارى دی، قال ابو حاتم ليس بالقوي، وقال ٥٦

د احنافو په نزد د رفع اليدين نسخ او د مولانا انور شاه کشميري رائې

خو رفع اليدين په نفس ثبوت کښې د يو حنفي عالم هم تردد نشته بلکه دا حضرات د بقاء رفع او د هغې د دوام انکار کوي يعني دا منسوخ گنړي، هم دا رائې د امام طحاوي، شيخ ابن الهمام او زمونږ په مشائخو کښې د حضرت گنگوهي، حضرت شيخ الهند، حضرت سهارنپوري، صاحب بذل المجهود وغيرهم ده.

البته مولانا انور شاه کشميري د نسخ قائل نه دې هغه فرمائي رفع او ترک رفع دواړه د رسول اللهﷺ او صحابه کرامو نه په تواتر سره ثابت ده، د رفع اليدين تواتر عملا او اسنادا دواړو طريقو سره دې او د عدم رفع تواتر عملا او طبقة دې،(١) لهذا په دې کښې يو ته هم منسوخ نه شي وئيلې کيدې، هم دغه شان هغه فرمائي چه دا اختلاف صرف د افضليت او اولويت دې، د احنافو په نزد عدم رفع اولى ده او د شوافعو په نزد رفع، د جواز او عدم جواز او کراهت او عدم کراهت اختلاف نه دې، هغه فرمائي چه دا خبره ماته د امام ابوبکر جصاص په کلام کښې ملاؤ شوه، د امام کرخي په شان ائمهؒ هغه په شاگردانو کښې دی لهذا د هغه مرتبه د شارح منيه او صاحب بدائع نه هم اوچته ده چا چه رفع اليدين ته عند الاحناف مکروه وئيلې دی، شاه صاحب دا هم ليکلې دی چه ددې نه پس زما د طبيعت نه د احاديث ثابته في الرفع بوجه کوز شو. فاسترحت حيث تخلصت رقبتي من الاحاديث الثابتة في الرفع.

د رفع اليدين په سلسله کښې د حضرت سهارنپوري رائې

حضرت سهارنپوريؒ په بذل المجهود کښې د دواړو ډلو په دلائلو باندې د بحث او تحقيق کولو نه پس فرمائي چه ددې ټولو تفصيلاتو نه معلوميږي چه د رسول اللهﷺ نه رفع اليدين ثابت دی خو د يو حديث نه هم ددې دوام او دا چه رسول اللهﷺ په خپل اخري عمر کښې هم رفع اليدين کړې دی ثابت نه دی، هم دغه شان د هغه نه ترک رفع هم ثابت ده، اوس قائلين رفع خو دا وائي چه چونکه رفع اليدين سنت مؤکده نه وو، په دې وجه به رسول اللهﷺ کله کول او کله به ئې نه کول، د وجوب د ويرې نه، لهذا دا رفع سنت غير مؤکده ده.

او مانعين رفع دا وائي چه د رسول اللهﷺ نه رفع او ترک رفع دواړه ثابت دی هم دغه شان د صحابه کرامو نه هم دواړه ثابت دی، اوس کتل دا دی چه د کومو صحابه کرامو نه ترک رفع ثابت ده د هغې څه وجه ده؟ دا خو کيدې نه شي چه رفع اليدين دې ددې حضراتو په علم کښې نه وی راغلې څکه چه رفع اليدين ډير ښکاره څيز دې، امر مشاهد دې ددې د پټ

له ....يحيي كذاب يضع الحديث، وقال العقيلي يحدث بالبواطيل عن الثقات وقال الدارقطني متروك. او ددې حديث په بل طريق کښې عبدالرحمن بن قريش الهروي دې، حافظ ذهبي په ميزان الاعتدال کښې هغه نه متهم بوضع الحديث وئيلې دې (بذل المجهود)

(١) د تواتر طبقة مطلب دا دې چه په هره زمانه کښې راتلونکې خلقو د خپلې زمانې خلقو نه کتلو سره دا اختيار کړې دې، هم ددې نه په توارث سره هم تعبير کيدې شی، ددې مدار په مشاهده او تعامل باندې دې، په سند او روايت باندې نه.

پاتې کيدو سوال هم نه پيدا کيږي او دا هم نه شو وئيلې چه هغوی به دا سهوا او نسيانا پريخودلې وی ځکه چه بعض صحابه کرام مثلا ابن عمر خو د اتباع رسول ﷺ په معامله کښې دومره حريص او کوشش کونکې وو، او د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په باره کښې خو دا ټول منی چه هغه به رفع اليدين نه کول نو ددې ترک ددې نه علاوه څه وجه کيدې شی چه دې حضراتو به دا منسوخ ګڼرلو.

د حضرت ګنګوهی رائې

او په الکوکب الدری کښې حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه کوم صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه روستو رفع اليدين کول په ظاهره هغوی د استصحاب حال نه کار اخستلې دې او کوم حضراتو چه ترک رفع کوله د هغوی د عمل بنياد استصحاب حال خو نه شی کيدې ځکه چه د رسول الله ﷺ نه د رفع يدين ثبوت ډير مشهور او معروف وو بلکه د هغوی د علم په وجه باندې د علم زيادت دې چه هغوی ته مزيد د يوې خبرې علم وو يعنی دا چه رسول الله ﷺ د رفع اليدين کولو نه پس په اخر کښې دا ترک کړې وو، لهذا مانعين رفع مثبت شو هغوی يو امر زائد لره ثابتوی يعنی ترک رفع او رفع الرفع، او قائلين رفع ددې منکر دی، لهذا هغوی نافی شو، المثبت اولی من النافی. لهذا دا چه مشهوره ده چه قائلين رفع مثبت او تارکين رفع نافی دی صحيح نه ده.

د صاحب امانی الاحبار تبصره

حضرت مولانا محمد يوسف صاحب په امانی الاحبار کښې فرمائي، امام طحاوی په شرح معانی الاثار کښې د عمر بن الخطاب، علی بن ابی طالب، عبدالله بن عمر، عبدالله بن مسعود رضی الله عنهم عمل ترک رفع ثابت کړې دې، هم دغه شان په بيهقی کښې بسند جيد د ابوبکر صديق رضی الله عنه عدم رفع روايت کړې شوې ده (ګويا د خلفاء ثلاثه ابوبکر، عمر او علی عمل هم ترک رفع شو) او امام ترمذی رحمه الله په باب رفع اليدين کښې د ابن عمر رضی الله عنه د حديث د لاندې فرمائی: وَبِهَذَا يَقُولُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مِنْهُمُ ابْنُ عُمَرَ وَجَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَأَبُو هُرَيْرَةَ وَأَنَسٌ وَابْنُ عَبَّاسٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ وَغَيْرُهُمْ وَمِنَ التَّابِعِينَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ وَعَطَاءٌ وَطَاوُسٌ وَمُجَاهِدٌ وَنَافِعٌ وَسَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَغَيْرُهُمْ. او بيا د عدم رفع په سلسله کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حديث ذکر کولو نه پس ليکی: وَبِهِ يَقُولُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَالتَّابِعِينَ. وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَأَهْلِ الْكُوفَةِ. اوګورئ امام ترمذی د رفع يدين په باره کښې د بعض الصحابه والتابعين لفظ استعمال کړې دې او په عدم رفع کښې د غير واحد لفظ استعمال کړې دې کوم چه سراسر په کثرت باندې دلالت کوی،(۱) او د اهل کوفه طرف ته ئې هم عدم رفع منسوب کړې

---

(۱) صاحب د امانی الاحبار فرمائی او ددې په مقابله کښې امام بخاری جزء رفع اليدين کښې داسې اوګرل چه خپل تصنيف کښې ئې د هغه صحابه کرامو شمير کوم چه قائل بالرفع وو دومره اوږد کړو چه ټول کتاب ئې د هغې نه ډک کړو او د عدم رفع د لاندې ئې صرف يو نوم د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ذکر کړو ګويا هغه په عدم رفع کښې متفرد دې، بلکه دا چه هغه د کومو صحابه کرامو نومونه......۹۶

ده چه د هغې نه جميع اهل کوفه مراد دی، پس ابن عبدالبر په کتاب الاستذکار کښې د محمد بن نصر المروزی نه نقل کړې دی چه زمونږ په علم کښې داسې يو ښهر نشته چه د هغې ټول اوسيدونکی ترک رفع کوی سوا د کوفې نه.

د دې نه چه يو طرف ته د اهل کوفه عدم رفع باندې متفق کيدل معلوميږی نو دا هم ترې معلوميږی چه په نورو ښهرونو کښې به هم ترک رفع کيدله خو دا ټول خلق په دې باندې متفق نه وو، او دا دې هم واضحه وی چه دا محمد بن نصر زبردست عالم وو او د مذاهب صحابه وعلماء نه ډير زيات خبر وو.

خطيب بغدادی او ابن حبان د هغه په باره کښې ليکی: كان من اعلم الناس باختلاف الصحابة ومن بعدهم فى الاحكام. الغرض د محمد بن نصر شهادت دې چه ټول اهل کوفه په عدم رفع باندې متفق وو او په نورو ښهرونو کښې رفع او عدم رفع دواړه وه.

فائده: مولانا بدر عالم ميرتهی په حاشيه د فيض الباری کښې ليکی، چه امام ترمذی په قائلين د رفع کښې چه د کومو صحابه کرامو نومونه ذکر کړې دی په هغوی کښې ئې ابن عمر خو ذکر کړو خو د هغه والد عمر بن الخطاب ئې ذکر نه کړو، هم دغه شان ئې علی هم ذکر نه کړو، که د امام ترمذی په نزد د هغوی نه رفع يدين ثابت وې نو بيا دا دواړه د ذکر کولو زيات مستحق وو، د امام طحاوی رحمه الله تحقيق دا دې چه دا دواړه حضراتو به رفع اليدين نه کول او بيهقی وغيره په دې باندې مصر دی چه رفع به ئې کوله، البته د ابوبکر صديق په باره کښې ښه طريقې سره تحقيق اونشو چه هغه به رفع کوله يا ترک رفع د هغه نه دواړه منقول دی.

د کوفه علمی مقام او د اهل کوفه په عدم رفع اليدين باندې اتفاق

د دې سره سره تاسو د کوفې علمی مرتبه او منزلت هم په ذهن کښې اوساتئ کومه چه د علی رضی الله عنه دار الخلافه وه، او امام نووی رحمه الله دې ته دار الفضل والفضلاء سره ياده کړې ده، او صاحب قاموس هغې ته "قبة الاسلام ودار هجرة المسلمين" ليکی، د سيدنا علی رضی الله عنه اکثر فيصلې هم په کوفه کښې صادر شوې دی، حضرت شاه ولی الله صاحب په حجة الله البالغة کښې فرمائی: "كان اغلب قضاياه بالكوفة"

کوفې ته د صحابه کرامو راتلل او قيام هم په کثرت سره منقول دې، ابو بشير دولابی په کتاب الاسماء والکنی کښې ليکی: نزل الكوفة الف وخمسون رجلا من اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم واربعة وعشرون من اهل البدر. او د فن رجال امام ابو الحسن عجلی خو په خپل

له...... په قائلين رفع کښې په سند سره ذکر کړې دی د هغوی اقوال په مواضع رفع کښې مختلف دی، پس د بعض نه صرف په دوه ځايونو کښې رفع منقول ده، عند الافتتاح وعند الركوع، او د بعض نه عند الافتتاح وعند الرفع من الركوع... او بعض عند الافتتاح وعند الركوع وعند الرفع من الركوع او د بعض نه عند السجود او بعض بين السجدتين او د بعض نه رفع عند القيام من الركعتين او د بعض نه في كل رفع وخفض على هذا القياس، د کوم غير صحابه او تابعينو چه هغه نومونه ذکر کړې دی د هغوی هم دغه حال دې. امانى الاحبار شرح معانى الآثار کښې مولانا محمد يوسف صاحب هغه ټول روايات ذکر کړې دی.

تاريخ کښې ددې نه هم زيات يو نيم زر ليکلې دی ﴿ نزل الکوفة الف وخمس مائة من الصحابة﴾ د فيض الباري محشى د فتح القدير په حواله ليکی چه قرقيسه کومه چه د کوفې يوه قريه (ښاريه) ده هغې ته د شپږ سوه صحابه کرامو راتلل او نزول ثابت دې، چه هر کله د کوفې د يو مختصر شان کلی دا حال دې نو هم ددې نه د پوره ښهر اندازه لګيدلې شي، صاحب د امانی الاحبار ليکی چه خليفه ثانی سيدنا عمر ﷺ په خپل دور خلافت کښې عبدالله بن مسعود ﷺ خو خاص طور سره په کوفه کښې معلم او وزير ليږلې وو هم دغه شان ئې عمار بن ياسر هم امير ليږلې وو، او د طبقات ابن سعد نه معلوميږی چه په کوفه کښې د خلفاء اربعه اصحاب په کثرت سره موجود وو، هسې هم کوفه د عمر ﷺ په زمانه کښې معسکر (د اسلامی فوجونو مرکز) وو، په کثرت سره به صحابه کرام هلته تلل راتلل او د غزواتو دپاره به تلل.

الغرض اهل کوفه د عدم رفع طريقه حاصله کړې وه، د عمر ﷺ د زمانې نه تر د علی ﷺ د زمانې پورې د هغه صحابه کرامو په واسطې سره کوم چه په کوفه کښې موجود وو (چه د هغوی سربراه عبدالله بن مسعود ﷺ وو) او د هغه صحابه کرامو کوم چه هلته راتلل او په غزواتو کښې وتل د هغوی تعداد په زرګونو دې.

هم دغه شان د اهل مدينه طرز عمل هم ترک رفع وو چه په هغې باندې امام مالک د خپل مسلک بنياد کيخودلې دې، لکه چه مشهور او معروف دی او ابن رشد وغيره شارحين حديث ددې تصريح کړې ده او هم دا قول زمونږ امام ابوحنيفه او د هغه اصحابو اختيار کړې دې.

د اهل مکه طرز عمل

مولانا انور شاه کشميری ﷫ فرمائی چه په صحابه کرامو کښې به عبدالله بن زبير ﷺ رفع يدين کول، د چا چه مستقل قيام په مکه مکرمه کښې وو هم په دې وجه به اهل مکه هم رفع اليدين کول او چونکه د امام شافعی قيام هم په مکه کښې وو نو په دې وجه هغه د خپل مسلک بنياد د اهل مکه په عمل باندې کيخودلو

زه وايم چه دا دې هم واضحه وی چه عبدالله بن زبير ﷺ به صرف په مواضع ثلاثه کښې په رفع يدين باندې اکتفاء نه کوله بلکه رفع عند السجود او رفع عند القيام من الرکعتين به ئې هم کوله، پس وراندې په ابوداود کښې يو روايت راروان دې چه د هغې مضمون دا دې، ميمون مکی فرمائی چه يو ځل ما عبدالله بن زبير په مانځه باندې اوليدو نو هغه بار بار رفع يدين کول، عند التحريمه، عند الرکوع، عند السجود او عند القيام من الرکعتين... هغه فرمائی چه ما دا منظر اوليدو نو د عبدالله بن عباس ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او هغه ته مې عرض اوکړو چه ما نن عبدالله بن زبير په داسې کار کولو باندې اوليدو چه ما پرې ددې نه مخکښې څوک نه دی ليدلی يعنی هم دا بار بار رفع يدين، نو په دې باندې ابن عباس ﷺ اوفرمائيل چه که ته د رسول الله ﷺ تابعداری کول غواړې نو ته هم داسې مونځ کوه، ددې نه معلومه شوه چه عبدالله بن زبير او عبدالله بن عباس د رفع عند

السجود هم قائل وو چه د هغې جمهور قائل نه دی، هم دغه شان د میمون مکی د کلام نه معلومیږی چه اهل مکه به هم رفع الیدین نه کول، اګر چه دا احتمال هم شته چه د هغه مراد د مواضع ثلاثه د زائد نفی کول وی خو ابن عباس ﷺ خو دې ته هم سنت وائی، دا دې هم واضحه وی چه د عبدالله بن الزبیر او عبدالله بن عباس نه د مواضع رفع په سلسله کښې روایاتو کښې مزید اختلاف دې، د بعض نه معلومیږی چه هغه به رفع صرف په دوه ځایونو کښې کوله عند الافتتاح، وعند رفع الراس من الرکوع، او په بعض کښې په مواضع ثلاثه کښې.

د رواة رفع د تعدد او تکثر بحث (۱)

حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې فرمائی، امام بیهقی رحمه الله د امام بخاری رحمه الله نه نقل کړې دی چه هغه په جزء رفع الیدین کښې فرمائی چه د اولس صحابه کرامو نه نقل دی چه هغوی به رفع الیدین کول او بیا هغوی بالتفصیل هغه روایات ذکر کړې دی، او علامه شوکانی(اهل حدیث) په نیل الاوطار کښې د رفع الیدین روایات پنځویشت شمار کړې دې خو په داسې طریقه چه صرف د ابو حمید ساعدی ﷺ روایت ئې د یولسو احادیثو قائم مقام ګرځولې دې، ځکه چه هغه دا خپل حدیث په خپل مجلس کښې لسو صحابه

---

(۱) دا خبره په ظاهره کښې بدیهی ده چه د رفع الیدین راویان په نسبت د ترک رفع زیات دی، پس امام ترمذی په باب رفع الیدین کښې د حدیث ابن عمر د تخریج نه روستو فرمائی ﴿وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَوَائِلِ بْنِ حُجْرٍ وَمَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ وَأَنَسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي حُمَيْدٍ وَأَبِي أُسَيْدٍ وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ وَمُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ وَأَبِي قَتَادَةَ وَأَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ وَجَابِرٍ وَعُمَيْرٍ اللَّيْثِيِّ﴾ دا ټول څوارلس راویان شو او پنځلسم ابن عمر، او د عدم رفع په سلسله کښې امام ترمذی د عبدالله بن مسعود ﷺ د تخریج نه روستو فرمائی ﴿وَفِي الْبَابِ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ﴾ صرف یو نوم ئې ذکر کړې دې.

مختصر طور ددې دوه حلونه دی، یو هغه کوم چه مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائیلې دې چه د رفع الیدین تواتر عملا او اسنادا دواړو طریقو سره دې او د عدم رفع تواتر عملا او طبقة کوم ته چه توارث ونیلې شی، یعنی تعامل امت د عمر ﷺ د زمانې نه تردې زمانې پورې تعامل. بل جواب هغه دې کوم چه به زمونږ استاد محترم استاذ الاساتذه حضرت مولانا اسعد الله صاحب د ابوداود په سبق کښې د رفع الیدین والاحدیث په شروح کښې بیان فرمائیلې وو هغه دا چه که د یوې خبرې دوه سوه کسان دعوی کوی او یو سړې راشی او د دوه ګواهانو په موجودګئ کښې د هغوی خلاف ګواهی ورکړی نو د هغه دوه سوه کسانو دعوی به ضائع لاړه شی، استاذ موصوف انتهائی ذکی ظریف الطبع، یو جید عالم او د خپلې زمانې رئیس المناظرین وو، رفع الله مراتبه. د دې جواب حاصل هم هغه دې کوم چه امام طحاوی او زمونږ مشائخ فرمائی چه رفع الیدین منسوخ دی، فرض کړئ چه د دوه سوه احادیثو نه د رفع الیدین ثبوت دې نو ددې د نسخ دپاره دا ضروری نه ده چه دوه سوه روایات دې راوړلې شی بلکه یو صحیح حدیث چه راشی نو هم ټول منسوخ کولې شی، لکه چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښې هغه ته د مشرکینو د بتانو په کثرت (او د هغوی په تکلیفونو) باندې د صبر تلقین د اویا نه په زیاتو آیتونو کښې کړې شوې دې او بیا د هجرة نه روستو یو آیت نازل شو او د قتال اجازت ورکړې شو، چه هغې سره ټول آیتونه منسوخ شو، او دلته په دې مسئله کښې که دا اومنلې شی چه یو صاف او صریح حدیث د نسخ موجود نه دې نو کم از کم دومره خبره ضرور ده چه مجموعه روایات مخې ته ردلو نه قرائن وادلة علی النسخ موندلې شی، مثلا رفع عند السجود چه په ائمه اربعه کښې ددې څوک هم قائل نه دی حال دا چه د کتب صحاح په روایاتو کښې ددې ثبوت شته، هم دغه شان هغه صحابه کرام چه د هغوی نه د رفع الیدین روایات مرفوعه منقول دی خو د هغوی روستو ددې خلاف عمل کول ددې ترک ثابتوی او ددې نه انکار کول مکابره ده.

کرامو ته پيش کړو چه په هغې باندې لسو واړو سکوت اوفرمائيلو يا ئې تصديق کړې وو (علی اختلاف الروايتين) نو ګويا د ابو حميد ساعدی رضی الله عنه د حديث نه علاوه صرف څوارلس روايات دی څوارلس او يولس پنځويشت شو

زمونږ حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې په دې ټولو رواياتو باندې فردا فردا کلام کړې دې کوم چه د بذل المجهود تقريبا په دوه صفحاتو باندې راغلې دې، ددې رواياتو نه پنځه روايات ۱: حديث ابن عمر، ۲ حديث وائل بن حجر، ۳ حديث ابوهريره، ۴. حديث علی، ۵ حديث مالک بن الحويرث او شپږم حديث د ابو حميد ساعدی کوم چه په قول د شوکانی يولس احاديث شمارلې شی. دا ټول وړاندې په ابوداود کښې راروان دی، لهذا مونږ به په دې ټولو باندې کلام په خپل خپل ځائې کښې کوو. خو د حضرت د بيان کړې رواياتو جواب خو دا دې باقی ددې نه علاوه چه شوافع کومې اوچتې اوچتې دعوې کوی چه مونږ سره دومره روايات دی. مثلا حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې ليکی چه زمونږ شيخ حافظ عراقی فرمائی چه د رواة رفع تعداد زمونږ د لټون او تتبع مطابق پنځوس کسانو ته رسيږی. او هم دغه شان صاحب د سفر السعادة چه ليکلې دی چه د رفع اليدين په ثبوت کښې روايات او اثار څلورو سوو ته رسيدلې دی، نو مونږ د هغه صحابه کرامو د نومونو او رواياتو او د هغې د سندونو نه خبر نه يو چه د هغې په باره کښې څه اووئيلې شو.

او مولانا انور شاه کشميری فرمائی چه د څلورو سوو رواياتو والا خبره خو باطل او بې اصله ده، او د عراقی والا پنځوس صحابه کرامو تتبع مونږ اوکړه نو په هغې کښې بعض خو داسې دی چه د هغوی نه رفع اليدين صرف په افتتاح کښې منقول دی، يعنی په مواضع رفع کښې د هغوی روايات مختلف او مضطرب دی.

او امام بيهقی د رواة رفع تعداد ثلاثين ليکلې دې، او ورسره ئې دا اعتراف هم کړې دې چه د اسانيد صحيحه نه صرف پنځلس روايات ثابت دی. او ابن عبدالبر په الاستذکار کښې د ديرويشتو (۲۳) رواياتو حواله ورکړې ده. شاه صاحب فرمائی که صرف په مواضع ثلاثه کښې د رفع يدين قائل صحابه کرام اوګڼلې شی نو تقريبا دولس دی، او که فی کل رفع وخفض هم واخستلې شی نو بيشکه تعداد به ددې نه زيات شی

پاتې شوه مسئله د احاديث مرفوعه نو هغه د تحقيق نه پس صرف پنځه پاتې کيږی ۱ حديث ابن عمر، ۲ حديث علی، ۳ حديث مالک بن الحويرث. ۴ حديث وائل بن حجر، ۵ حديث د ابو حميد ساعدی او ۶ حديث د جابر، هغه فرمائی چه تقريبا دومره تعداد د احاديثو بل طرف ته (ترک رفع) کښې هم موجود دې، بيا وړاندې حضرت شاه صاحب فرمائی چه زما په نزد ترک رفع که هغه عملا وی يا تصديقا ددې حضرات صحابه نه ثابت ده، عمر، علی، ابن مسعود، ابوهريره، ابن عمر، براء بن عازب، کعب به عجره رضی الله عنهم. دا حضرات خو د نوم د تصريح او تعيين سره دی، او د دوی نه علاوه هغه ټول صحابه کرام کوم چه په کوفه کښې مقيم وو چه د هغوی تعداد د سوونو نه هم زيات دې

هغوی ټول به هم په دې شمیر کښې اچولې شی، ځکه چه په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه ټول اهل کوفه په عدم رفع باندې متفق وو.

د حضرت شاه صاحب بیان کړې یوه نکته

حضرت شاه صاحب یوه خبره بله لیکلې ده چه اصل کښې روایات درې قسمه دی، ناطق بالرفع، ناطق بعدم الرفع او ساکت. اول بیشکه زائد دی د ثانی نه خو قسم ثالث که په قسم ثانی کښې شامل کړې شی نو بیا به معامله برعکس شی او کیدل هم دغه شان پکار دی ځکه چه ﴿ السکوت فی محل البیان یفید الحصر ﴾، کوم راویان چه د رسول الله ﷺ د مونځ پوره کیفیت بیانوی، او صرف د افتتاح الصلاة په وخت د رفع الیدین ذکر کوی نو ظاهره ده چه ددې مقتضی به په باقی مواضع کښې عدم رفع منلې شی، ددې ابتدائی مباحث او تمهید نه روستو اوس مونږ په احادیث الباب باندې کلام کوو، د باب د ټولو نه اول حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما دې.

[۷۲۱] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ وَبَعْدَ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، وَقَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً: وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ وَأَكْثَرُ مَا كَانَ يَقُولُ: وَبَعْدَ مَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَلَا يَرْفَعُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ".

ترجمه: سالم روایت کوی د خپل پلار نه هغه وئیلی دی ما ولیدلو رسول الله ﷺ چې کله به هغه د مونځ شروع کوله لاسونه به ئې اوچت کړل تردې چې برابر به ئې کړل د اوږو سره، او چې کله به ئې اراده د رکوع وکړه او پس د سر اوچتولو نه د رکوع نه. او وئیلی دی سفیان یو ځل: او چې کله به ئې سر اوچت کړو او کثر به ئې وئیل: او پس د هغې نه چې سر اوچت کړی د رکوع نه. او لاسونه به ئې نه اوچتول د دواړه سجدو مینځ کښې.

تشریح: **قوله**: ﴿ حدثنا احمد بن محمد بن حنبل الخ ﴾ د ټولو نه اول مصنف د رفع الیدین په سلسله کښې د ابن عمر رضی الله عنهما حدیث ذکر کړې دې ددې نه روستو ئې د ځلورو پنځو نورو صحابه کرامو روایات هم په دې سلسله کښې ذکر فرمائیلې دی.

د رفع الیدین په باره کښې د صحیحین روایات

خو امام ترمذی رحمه الله د رفع الیدین په باب کښې صرف هم دا د ابن عمر رضی الله عنهما یو حدیث ذکر کړې دې، او امام بخاری د رفع الیدین په سلسله کښې حدیث ابن عمر، حدیث مالک بن الحویرث صرف دوه احادیث بیان کړی دی، او امام مسلم د رفع الیدین په باب کښې صرف هم دا دوه روایات ذکر کړې دی کوم چه امام بخاری ذکر کړې دی، البته هغه د باب وضع الیمنی علی الیسری د لاندې د وائل بن حجر حدیث ذکر کړې دې چه په هغې کښې رفع الیدین

(¹): صحیح البخاري/الأذان ۸۳ (۷۳۵)، ۸٤ (۷۳٦)، ۸۵ (۷۳۸)، ۸٦ (۷۳۹)، صحیح مسلم/الصلاة ۹ (۳۹۰)، سنن الترمذي/الصلاة ۷٦ (۲۵۵، ۲۵٦)، سنن النسائي/الافتتاح ۱ (۸۷۵)، ۸٦ (۱۰۳٦)، والتطبیق ۱۹ (۱۰۵۸)، ۲۱ (۱۰٦۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵ (۸۵۸)، موطا امام مالك/الصلاة ٤ (۱٦)، مسند احمد (۲/۸، ۱۸، ٤٤، ٤۵، ٤۷، ٦۲، ۱۰۰، ۱٤۷)، سنن الدارمي/الصلاة ٤۱ (۱۲۸۵)، ۷۱ (۱۳٤۷)، (تحفة الأشراف: ٦۸۱٦، ٦۸٤۱) (صحیح)

في المواضع الثلاثة مذكور دی، په صحيحين کښې يو روايت هم داسې نشته چه په هغې کښې رفع عند السجود ذکر وی بلکه د هغې نفی موجود ده، البته په بخاری کښې د ابن عمر ﷺ د حديث په يو طريق کښې رفع عند القيام من الرکعتين هم ذکر ده.

الکلام علی حديث ابن عمر

د دې حضرات مصنفينو د طرز عمل نه معلوميږی چه د رفع اليدين په سلسله کښې زيات اهم روايت د هغوی په نزد حديث د ابن عمر دې او په دويمه درجه کښې د مالک بن الحويرث حديث ([1]) هم په دې وجه د بخاری شيخ علی بن المدينی د حديث ابن عمر د ذکر کولو نه پس فرمائی (کما فی البذل) چه زما په نزد دا حديث په ټوله دنيا باندې حجت دې چه څوک هم دا واوری نو د هغه دپاره ضروری ده چه په دې باندې عمل اوکړی ځکه چه ددې په سند کښې هيڅ کلام او تردد نشته، احناف وائی چه ددې حديث په يو طريق کښې څلورم ځائې کښې هم رفع يدين مذکور دې، په صحيح بخاری کښې يعنی عند القيام من الرکعتين... حقيقت دا دې چه په ائمه اربعه کښې څوک هم ددې قائل نه دې لکه چه د هغوی د کتب فقيه نه معلوميږی، هسې په وينا خو د حديث شارحين د اعتراض نه د بچ کيدو دپاره وائی چه امام شافعی ﷺ هم ددې قائل دې کما فعل الامام النووی لکه چه په مباحثه ابتدائيه کښې تفصيل سره تير شوې دی دلته د هغې د اعادې حاجت نشته.

په حديث ابن عمر ﷺ کښې الاضطراب فی مواضع الرفع

د صحيحين نه علاوه د سنن په کتابونو کښې په حديث ابن عمر کښې د مواضع رفع په اعتبار سره سخت ترين اختلاف او اضطراب دې، پس د ابوداود په هغه اولنی روايت کښې کوم چه په طريق د سفيان عن الزهری دې، رفع يدين درې ځايونو کښې راغلې دی، او ددې نه روستو دا حديث په طريق د زبيدی عن الزهری راروان دې په هغې کښې خو په اولنی رکعت کښې رفع اليدين درې ځايه ذکر دی.

قوله: (عند الافتتاح، قبل الرکوع وبعد الرکوع) خو په رکعت ثانيه کښې رفع يدين صرف د رکوع نه روستو ذکر شوې دې، د رکوع نه مخکښې نه، هم دغه شان د څو احاديثو نه پس بيا حديث د ابن عمر راروان دې، په طريق د نافع عن ابن عمر، په دې کښې رفع يدين صرف دوه ځايه دې، عند الافتتاح او بعد الرکوع او د نافع په يو بل طريق کښې کوم چه وړاندې را روان دې رفع يدين څلور ځايه ذکر شوې دې په هغې کښې رفع عند القيام من الرکعتين هم ده، او دا رفع خو د صحيح بخاری په يو طريق کښې هم موجود ده، کما تقدم. هم دغه شان ددې حديث په بعض طرق کښې عند الطبرانی رفع عند السجود هم ذکر شوې ده، او د بخاری په روايت کښې ددې نفی ده، لهذا دا حديث من حيث المتن مضطرب دې.

[1]) خو د موجوده دور اهل حديث هم دې حديث ته زيات اهميت ورکونکی په نظر راځي او ددې وجه غالبا دا ده چه په حديث د ابن عمر باندې اشکالات زيات کولې شی، نو هغوی خپل عافيت هم په دې کښې ګنړی)

الاضطراب من حيث السند

هم دغه شان دا حديث د سند په اعتبار سره هم مضطرب دې خکه چه ددې حديث دوه طرق دى سالم عن ابن عمر، او دويم طريق نافع عن ابن عمر، سالم دا روايت مرفوعا نقل كوى د باب اولني حديث هم په دې طريق باندې دې، او نافع ئې موقوفا نقل كوى، بيا د نافع په شاګردانو كښې هم اختلاف دې بعض دا د نافع نه موقوفا او بعض مرفوعا ذكر كوى، دا حديث د ابن عمر په طريق د نافع هم وړاندې هم ددې باب په اخر كښې راروان دې، بيا د محدثينو په دې كښې اختلاف دې چه په طريق د نافع كښې رفع ته ترجيح ده يا وقف ته، امام ابوداود وقف ته ترجيح وركوى (كما ياتى فى المتن) او امام بخارى رحمه الله رفع ته اصح وائى، الحاصل ددې حديث يو جواب خو دا شو چه دا سندا او متنا مضطرب دې

د حديث ابن عمر نسخ او په هغې باندې د شوافعو نقد

دويم جواب ددې هغه دې كوم چه امام طحاوى او د هغه تابعدارو اختيار كړې دې چه ابن عمر رضي الله عنه اګر چه د رسول الله ﷺ عمل رفع يدين نقل كړې دې خو خپله د هغه عمل د رسول الله ﷺ نه روستو عدم رفع دې. د راوى عمل چه د مروى (خپل بيان كړى روايت) خلاف دليل نسخ دې، د ابن عمر نه ددې عمل نقل كونكې د هغه خپل شاګرد مجاهد دې، دا د مجاهد اثر امام طحاوى په خپل سند سره ذكر فرمائيلې دې، علامه عينى فرمائى چه ددې سند على شرط الشيخين دې، هم دغه شان ددې اثر مجاهد تخريج ابن ابى شيبه هم كړې دې هم په دې سند سره، د بعض مصنفين په كلام كښې قول مجاهد داسې منقول دې (بذل المجهود ص ٨) صحبت ابن عمر عشر سنين. مجاهد فرمائى چه زه د ابن عمر سره لس كاله پاتې شوې يم، ما هغه سوا د موضع اول نه په رفع يدين كولو باندې نه دې ليدلې، حقيقت دا دې چه ددې اثر مجاهد نه روستو د ابن عمر د حديث مرفوع كوم چه په رفع يدين كښې دې بالكل ختميږى او دا د مجاهد اثر يعنى د ابن عمر حديث موقوف اوس د احنافو يو مستقل دليل شو د حديث ابن مسعود په شان

د دې حضراتو نقد په دې روايت باندې دا دې چه ددې په سند كښې ابوبكر بن عياش دې (وقد اختلط فى اخره) په اخره كښې د هغه حافظه كمزورې شوې وه.

د نقد جواب

جواب دا دې چه ابوبكر بن عياش د صحيحين بلكه د صحاح سته راوى دې، امام مسلم د هغه روايت په مقدمه كښې اخستلې دې او امام بخارى د هغه روايات خو خايونو كښې اخستلې دى، د اختلاط والا خبرې جواب دا دې چه د (من اختلط فى اخره) دپاره اهل اصول دا ضابطه ليكلې ده چه د هغه روايت قبل الاختلاط معتبر دې بعد الاختلاط معتبر نه دې، او دلته دا ظاهره ده چه دا روايت د قبل الاختلاط والا دې خكه چه دا روايت د هغه نه نقل كونكې احمد بن يونس دې كوم چه د هغه په قدماء اصحاب كښې دې، د ابوبكر بن عياش روايت د احمد بن يونس په طريق سره امام بخارى رحمه الله هم په كتاب

التفسير كښې اخستلې دي، نو بيا څه اشکال باقي پاتې شو؟
هم دغه شان د مجاهد متابعت کړې دې عبد العزيز بن حکيم لکه چه په موطاء امام محمد کښې دي.

د اثر مجاهد معارضه په اثر طاؤس سره

دې حضراتو د ډير غور نه روستو د مجاهد د اثر دا جواب کړې دې چه د مجاهد دويم شاګرد طاؤس فرمائی چه ما ابن عمر په رفع اليدين کولو باندې ليدلې دې، امام طحاوی په دې باندې فرمائی چه زه هم ددې روايت نه خبر يم او ددې توجيه ډيره اسانه ده او هغه دا چه ممکنه ده ابن عمر په شروع کښې رفع اليدين کول قبل تحقيق النسخ عنده. او بيا ئې روستو رفع اليدين پريخودل، امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه دا توجيه ضروری ده ځکه چه د صحت نقل باوجود که ددې قسم تعارض توجيه حضرات محدثين نه کولې نو معلومه نه ده چه څومره احاديث او روايات به ساقط الاعتبار شوې وې، او ددې اثر طاؤس يو جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې وې دې چه د طاؤس نه ددې اثر نقل کولو والا ابن جريج دې او هغه اګرچه ثقه دې خو مدلس دې قبيح التدليس کما قال الدارقطني.

او هغه دا روايت د طاؤس نه په صيغه د عن سره روايت کوی او د مدلس عنعنه معتبر نه ده، د يو منصف دپاره د حديث ابن عمر دا جوابات ډير کافی دی، واخلئ چه کوم حديث په ټوله دنيا باندې حجت وو هغه صفا شو.

[۷۲۲](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا الزُّبَيْدِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى تَكُونَ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ، وَهُمَا كَذَلِكَ فَيَرْكَعُ، ثُمَّ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْفَعَ صُلْبَهُ رَفَعَهُمَا حَتَّى تَكُونَ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي السُّجُودِ وَيَرْفَعُهُمَا فِي كُلِّ تَكْبِيرَةٍ يُكَبِّرُهَا قَبْلَ الرُّكُوعِ حَتَّى تَنْقَضِيَ صَلَاتُهُ".

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې، هغه وئيلې دي: وو رسول الله ﷺ کله چې به ودريدلو مانځه ته نو دواړه لاسونه به ئې اوچت کړل برابر د اوږو خپلو، بيا به ئې تکبير وکړو او هغه دواړه به همدغسې وو، بيا چې به ئې کله اراده وکړه چې ملا اوچته کړی نو اوچت به ئې کړل دواړه تردې چې شول به برابر د اوږو، بيا به ئې وويل: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، (واوريدلو الله د هغه چا چې حمد ئې وويلو د هغه)، او نه به ئې اوچتول دواړه لاسونه په سجده، او اوچتول به ئې په هر تکبير کښې چې به ئې ويلو مخکې د رکوع نه، تردې چې پوره به شو مونځ د هغه.

[۷۲۳](²)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ الْجُشَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: كُنْتُ غُلَامًا لَا أَعْقِلُ صَلَاةَ أَبِي، قَالَ: فَحَدَّثَنِي وَائِلُ بْنُ عَلْقَمَةَ، عَنْ

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٨١٦، ٦٩٢٨) (صحيح)

²): صحيح مسلم/الصلاة ١٥ (٤٠١)، (تحفة الأشراف: ١١٧٧٤، ١١٧٨٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الافتتاح ١١ (٨٩٠)، الافتتاح ١٣٩ (١١٠٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٣ (٨١٠)، مسند احمد (٤/٣١٧، ٣١٨)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٥ (١٢١٧)، ٩٢ (١٣٩٧) (وليس عند أحد ذكر رفع اليدين مع الرفع من السجود) (صحيح)

أَبِي وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ، قَالَ: ثُمَّ الْتَحَفَ ثُمَّ أَخَذَ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ وَأَدْخَلَ يَدَيْهِ فِي ثَوْبِهِ، قَالَ: فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ أَخْرَجَ يَدَيْهِ ثُمَّ رَفَعَهُمَا، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ سَجَدَ وَوَضَعَ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ أَيْضًا رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ"، قَالَ مُحَمَّدٌ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلْحَسَنِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، فَقَالَ: هِيَ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَعَلَهُ مَنْ فَعَلَهُ وَتَرَكَهُ مَنْ تَرَكَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ هَمَّامٌ، عَنْ ابْنِ جُحَادَةَ، لَمْ يَذْكُرِ الرَّفْعَ مَعَ الرَّفْعِ مِنَ السُّجُودِ.

ترجمه: د ابو وایل بن حجر نه روایت دې هغه فرمائیلی دی چې ما مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره وو هغه: چې کله به ئې تکبیر کولو نو دواړه لاسونه به ئې اوچت کړل، هغه وایي: بیا به ئې لاسونه پټ کړل، بیا به ئې چپ لاس په ښي لاس سره ونیولو او داخل به ئې کړو په جامه کښې، چې کله به ئې اراده وکړه د رکوع نو راوبه ئې وېستل دواړه لاسونه بیا به ئې اوچت کړل، او چې کله به ئې اراده وه چې سر اوچت کړی د رکوع نه دواړه لاسونه به ئې اوچت کړل او کیخودلو به ئې مخ خپل د دواړو ورغوو په مینځ، او چې کله به ئې سر د سجدې نه اوچت کړو همدارنګه به ئې لاسونه اوچت کړل تردې چې فارغ به شو د مانځه نه. وئیلی دی محمد: ما دا ذکر کړو حسن بن ابی الحسن ته هغه وویل: دا د رسول الله ﷺ مونځ دی وکړو دې لره چا چې وکړو او پریخودو دې لره چا چې پریخودو. وئیلی دی ابوداود: ددې حدیث روایت همام کړی دی د ابن جحادة نه ذکر کړی ئې نه دی رفع د لاسونه په وخت د رفع د سر کښې د سجدې نه.

شرح حدیث

قوله: ﴿ حدثنا عبید الله بن عمر بن میسرة الجشمي الخ ﴾ عبدالجبار فرمائی چه زه خو وړوکې او کم عمره اوم د خپل والد صاحب په مونځ باندې ښه طریقې سره نه پوهیدم، زما مشر رور علقمه بن وائل ماته بیان اوکړو، وراندې د حدیث مضمون واضح دې عن ابی وائل کښې وائل بدل واقع شوی دې د ابی نه، لفظ ابی مبدل منه دې یعنې زما رور بیان اوکړو زما د والد وائل بن حجر ﷺ نه، او په سند کښې چه کوم وائل بن علقمه ذکر دې دا غلط دې، په دې نوم کښې د یو راوی نه قلب واقع شوې دې، صحیح علقمه بن وائل دې، عبدالجبار او علقمه دواړه خپل مینځ کښې رونړه دی، عبدالجبار کشر او علقمه مشر، هم په دې وجه هغوی وائی چه اګر چه ما خپل پلار په مونځ کولو باندې لیدلې خو دې خو زه هغه وخت ډیر وړوکې اوم ددې قابل نه اوم چه د هغه د مونځ کیفیت بیان کړې شم، په دې وجه هغه د خپل مشر رور علقمه په واسطې سره نقل کوی.

تنبیه : د ابوداود ددې روایت نه معلومیږی چه عبدالجبار د خپل پلار وائل ﷺ په ژوند کښې موجود وو اګر چه وړوکې وو، هم په دې وجه حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی چه ددې نه د محدثینو د یو جماعت رائې غلطه ثابتیږی، لکه یحیی بن معین، ابن حبان، علی بن مدینی او امام بخاری وغیره، ددې حضراتو نه نقل دی چه د عبدالجبار پیدائش د وائل بن حجر ﷺ د وفات نه روستو شوې وو او عبدالجبار د خپل پلار د وفات په وخت باندې د مور په خیټه کښې د حمل په صورت کښې وو، خو دې روایت دا ثابته کړه چه دا رائې غلطه

( ).۵۰

الكلام علی حديث وائل بن حجر

[۷۲۴]( )حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ النَّخَعِيِّ، عَنْ عَبْدِ الْجَبَّارِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ وَحَاذَى بِإِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ".

ترجمه: عبد الجبار بن وائلؒ د خپل پلار نه روايت کوی هغه وئيلی دی، بيشکه هغه وليدلو نبی ﷺ کله چې پاڅيدلو مانځه ته نو لاسونه ئې اوچت کړل ترديې چې شو هغه دواړه برابر د اوږو او برابری ئې کړی غټې ګوتې د غوږونو سره، بيا ئې تکبير وکړو.

[۷۲۵]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ وَائِلٍ، حَدَّثَنِي أَهْلُ بَيْتِي، عَنْ أَبِي، أَنَّهُ حَدَّثَهُمْ، أَنَّهُ "رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرَةِ".

ترجمه: عبد الجبار بن وائل وايی چې حديث بيان کړی ماته اهل بيت زما، زما د پلار نه، بيشکه هغه دوی ته حديث بيان کړې دې، چې يقيناً هغه رسول الله ﷺ ليدلی دی چې لاسونه ئې اوچت کړل سره د تکبير نه.

[۷۲۶]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: قُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُصَلِّي، قَالَ: "فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَكَبَّرَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى حَاذَتَا أُذُنَيْهِ، ثُمَّ أَخَذَ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ رَفَعَهُمَا مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا مِثْلَ ذَلِكَ، فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَ رَأْسَهُ بِذَلِكَ الْمَنْزِلِ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ، ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى وَحَدَّ مِرْفَقَهُ الْأَيْمَنَ عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ وَحَلَّقَ حَلْقَةً، وَرَأَيْتُهُ يَقُولُ هَكَذَا: وَحَلَّقَ بِشْرٌ الْإِبْهَامَ وَالْوُسْطَى وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ".

ترجمه: د وائل بن حجر نه روايت دې هغه وئيلی دي: ما ووېل زه به خامخا ګورم مانځه د رسول الله ﷺ چې هغه څنګه مونځ کوي، هغه وايي پاڅيدلو رسول الله ﷺ مخ ئې کړو قبلې ته او تکبير ئې ووېلو نو دواړه لاسونه ئې اوچت کړل ترديې چې برابريې کړل دواړه د غوږونو سره، بيا ئې ونيولو چپ لاس په ښي لاس سره، کله ئې چې اراده وکړه د رکوع کولو نو دواړه اوچت کړل پشان د هغې، بيا ئې کيخودل لاسونه په زنګونانو باندې، کله چې ئې سر اوچت کړو د رکوع نه نو دواړه لاسونه ئې اوچت کړل پشان د هغې، هرکله چې ئې سجده

[1] حضرت په بذل کښې ددې حضرات محدثين د طرف نه وکالت کولو سره فرمائيلې دی چه ممکنه ده چه (لا اعقل) معنی (لا احفظ) وی، اي لا احفظ صلاة ابي لاني ولدت بعد موت ابي فكيف يمكن ان اعقل واحفظ صلاة ابي فالاستدلال بهذا الكلام علي انه ولد في حيات ابيه ضعيف) ليکن زه وائم چه لا اعقل د لا احفظ په معنی کښې اخستلو سره کارنه چليږی ځکه چه کنت غلاماً به څه کوې ددې نه خو صفا معلوميږی چه دا پيدا شوي وو.

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۶۱) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۹۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۶/۴) (صحيح)

[4]: سنن النسائي/ الافتتاح ۱۱ (۸۹۰)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ۳ (۸۱۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۶/۴، ۳۱۷، ۳۱۸، ۳۱۹) (صحيح) ويأتي هذا الحديث عند المؤلف برقم (۹۵۷)

وکړه نو کيخودلو سر خپل په همدغه خاني په مينځ د لاسونو کښې، بيا کيناستلو خوره ئې کړه خپله ښپه خپه او کيخودلو چپ لاس په ورون چپ باندې، او لرې ئې کړه څنګل د ورون نبي نه، او راغونډې ئې کړې دواړه ګوتې او حلقه ئې جوړه کړه. او ما وليدلو چې هغه به ونيل داسې، او حلقه جوړه کړه بشر د ابهامي او وسطى نه او اشاره ئې اوکړه په سبابه سره.

[۷۲۷]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ فِيهِ: ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرَى وَالرُّسْغِ وَالسَّاعِدِ. وَقَالَ فِيهِ: ثُمَّ جِئْتُ بَعْدَ ذَلِكَ فِي زَمَانٍ فِيهِ بَرْدٌ شَدِيدٌ فَرَأَيْتُ النَّاسَ عَلَيْهِمْ جُلُّ الثِّيَابِ تَحَرَّكُ أَيْدِيهِمْ تَحْتَ الثِّيَابِ

ترجمه: د عاصم بن کليب نه روايت دې په اسناد او معنى د هغه سره، هغه ونيلى دى په هغې کې: بيا ئې کيخودلو خپل ښي لاس په شا د ورغوى چپ باندې او مروند او بازو باندې، او هغه ونيلي دى په هغې کښې: بيا زه راغلم وروسته د هغې نه په داسې زمانه کښې سخته يخني يکې وه ما وليدل خلک چې هغوى باندې غټې جامې وې، خوزول به ئې لاسونه لاندې د جامو نه.

تشريح: دا د وائل بن حجر ﷛ حديث دې، علامه شوکاني ﷫ دا حديث سنن ثلاثه ابو داود نسائي، ابن ماجه طرف ته منسوب کړې دې، حال دا چه دا روايت په صحيح مسلم کښې هم موجود دې، پس علامه زيلعي ددې نسبت د مسلم طرف ته کړې ده، امام مسلم دا حديث په ﴿باب وضع اليمنى على اليسرى﴾ کښې راوړې دې.

(د حديث وائل ﷛ نه جواب)

په دې حديث باندې زمونږ د طرف نه دا نقد کړې شوې دې چه په دې کښې اختلاف او اضطراب دې، مصنف دا په دوه طريقو سره ذکر کړې دې، په طريق د عبدالجبار او په طريق د عاصم بن کليب عن ابيه، او بيا دا په هر يو طريق کښې ډير روايات دى، په بعض طرق کښې انقطاع ده او په بعض کښې مجهول راويان هم دى، هم دغه شان ددې په يو طريق کښې رفع عند السجود هم شته، ددې ټولو څيزونو په تفصيل سره حضرت په بذل کښې ذکر فرمائيلې دى، غالبا هم په دې وجوه سره امام بخاري ﷫ ددې تخريج کړې دې.

خو واقعه دا ده چه د مجموع طرق په لحاظ سره دا حديث صحيح او ثابت دې او د مواضع رفع په اعتبار سره هم په دې کښې زيات اضطراب نشته، په خلاف د حديث ابن عمر چه په هغې کښې سخت اضطراب دې.

(نور جوابونه)

لهذا د حديث وائل جواب زمونږ د طرف نه يو خو دا شو چه ددې په بعض طرق کښې رفع عند السجود مذکور ده، او بل جواب دا دې چه زمونږ په نزد دا د حديث عبدالله بن مسعود ﷛ په مقابله کښې مرجوح دې، ځکه چه د وائل بن حجر ﷛ راتلل د حضرموت نه مدينې منورې ته صرف يو دوه کرته ثابت دې، امام بخاري ﷫ د ډير کوشش نه پس دوه

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۸۱) (صحيح)

کرته ثابت کړې دي، د بهر ملک وو، د بهر اوسیدونکي په طول صحبت سره نه دی مشرف شوی، په خلاف د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه کوم چه د سابقین اولین او کبار بدریانو نه دې په حفاظ صحابه کرامو کښې د هغه شمیر دې، ابن سعد په طبقات کښې من کان یفتی بالمدینة کښې د هغه شمار کړې دې او تر شلو کالو پورې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سفرا او حضرا ملګرې وو، په محدثینو کښې د یو لوئې جماعت رائې دا ده کومه چه قاضی ابوبکر او ابن عبدالبر وغیره نقل کړې ده چه د صحابی کیدو دپاره اوږد صحبت کیدل ضروری دی او ظاهره ده چه دا ځیز وائل بن حجر رضي الله عنه ته حاصل نه وو.

(د ابراهیم نخعی رحمه الله قول)

په طحاوی شریف کښې دی چه یو سړی د ابراهیم نخعي په وړاندې د وائل بن حجر رضي الله عنه حدیث پیش کړو نو هغه اوفرمائیل چه که وائل رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل په رفع لیدلې دې نو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه پنځوس کرته په عدم رفع باندې لیدلې دې ﴿ ان کان وائل راه مرة یفعل ذلک فقد راه عبدالله خمسین مرة لا یفعل ذلک ﴾

(د ابرهیم نخعی رحمه الله په قول باندې د شوافعو نقد)

په دې باندې امام بخاری رحمه الله وغیره علماء شافعیه یو داسې اشکال کړې دې کوم چه د تعجب باعث دې هغه دا چه د ابراهیم نخعي څه حیثیت دې د وائل بن حجر رضي الله عنه صحابی په مقابله کښې چه د هغه په قول سره د وائل د حدیث مرفوع معارضه اوکړې شي؟ جواب ظاهر دې چه د ابراهیم نخعي په قول سره د حدیث مرفوع معارضه نه شي کولې بلکه د وائل بن حجر رضي الله عنه د روایت په مقابله کښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت پیش کولې شي، او په دې کښې دوه رائې نشته چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په علم او فضل کښې په وائل باندې فائق دې، او دویم جواب هغه کلی جواب دې کوم چه د ټولو احادیث رفع زمونږ د طرف نه ورکولې شي چه د رفع یدین د ثبوت نه زمونږ انکار نشته او نه کیدې شي خبره او بحث د رفع په دوام او بقاء کښې دې، د ابن عمر نه چه د رفع سره سره د عدم رفع کوم روایات منقول او ثابت دی د هغې انکار دیانة ممکن نه دې او بل طرف ته د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه د عدم رفع د روایت سره سره عملا د هغه نه د ترک رفع په ثبوت باندې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې

قوله: ﴿ فلما سجد وضع راسه بذلک المنزل من بین یدیه ﴾ د سجدې کیفیت بیانوی او دا چه په سجده کښې ئې لاسونه چرته وو، پس دا ئې بیان کړه چه په سجده کښې ئې سر د دواړو لاسونو ترمینځه وو چه د هغې نه معلومه شوه چه د سجدې په حالت کښې یدین د اذنین په محاذات کښې پکار دی، چه کوم وخت کښې د رفع یدین په وخت باندې وی. بذلک المنزل هم دا مطلب دې.

قوله: ﴿ فوضع یده الیسری علی فخذه الیسری وحد مرفقه الایمن علی فخذه الیمنی ﴾ په تشهد کښې کیفیت جلوس بیانوی چه په التحیات باندې کیناستلو نو ګس لاس ئې په ګس پتون

کیخودلو، اوس وراندې خو دا وئیل پکار وو، او ښې لاس ئې په ښي پتون باندې کیخودلو خو راوی هغه داسې بیانوی څنگه چه وراندې په عبارت کښې ذکر دی: ﴿ وحد مرفقه الایمن الخ ﴾

شرح حدیث

ظاهره دا ده چه دا واو عاطفه دې او حد په تشدید د دال سره فعل ماضی دې، د حد معنی منع او فصل ده، ترجمه به دا وی چه د ښی لاس څنگل ئې د پتون نه جدا اوساتله په داسې حال کښې چه هغه لاس ئې په ښی پتون باندې وو، زه وائم چه کله هم زه په دې خبره باندې پوهه نه شوم چه څنگل لره د پتون نه جدا ساتلو کښې د ښی طرف تخصیص ولې اوکړې شو، حال دا چه د گس لاس څنگل هم د پتون نه جدا وی، او یو احتمال ئې ددې لفظ په شرح کښې دا لیکلې دې چه په لفظ او حد کښې واو اصلی دې، او دا فعل ماضی ده د توحید نه، مطلب به په دې صورت کښې هم هغه وی یعنی جدا ساتل، او دریم احتمال دا لیکلې شوې دې چه په ﴿ وحد ﴾ کښې واؤ عاطفه دې، او حد فعل ماضی نه دې بلکه اسم دې د غاړې په معنی کښې او د هغې عطف په ﴿ یده الیسری ﴾ باندې، د عبارت تقدیر به دا وی ﴿ووضع حد مرفقه الایمن علی فخذه الیمنی ﴾ لفظ حد به منصوب وی بناء بر مفعولیت کوم چه مضاف کیږی د مابعد طرف ته، ترجمه به دا شی کیخودلو گس لاس لره ﴿ فخذ یسری ﴾ باندې کیخودلو او د مرفق ایمن په فخذ یمنی باندې، خو د احتمال ثالث په ظاهره صحیح نه دې ځکه چه وضع المرفق علی الفخذ د بل یو روایت نه هم ثابت نه دې او نه د یو فقیه مذهب دې.

[۷۲۸]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِيَالَ أُذُنَيْهِ، قَالَ: ثُمَّ أَتَيْتُهُمْ فَرَأَيْتُهُمْ يَرْفَعُونَ أَيْدِيَهُمْ إِلَى صُدُورِهِمْ فِي افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ وَعَلَيْهِمْ بَرَانِسُ وَأَكْسِيَةٌ".

ترجمه: د وائل بن حجر نه روایت دې هغه وئیلی دي. ما ولیدلو نبی ﷺ کله چې هغه افتتاح د مانځه وکړه لاسونه ئې اوچت کړل برابر د غوږونو سره، هغه وئیلی دي. بیا زه راغلم دوی ته ما ولیدل چې اوچتول ئې خپل لاسونه سینو پورې په افتتاح د مانځه کښې او هغوی چوغې او کمبلې اغوستې وې.

تشریح: قوله:﴿ ثم اتیتهم فرایتهم یرفعون ایدیهم الی صدورهم ﴾ د دې نه معلومه شوه چه د هغه اول ځل راتلل د گرمئ په زمانه کښې شوې وو، هغه وخت صحابه کرامو رفع یدین د غوږونو پورې کول، دوباره چه کله راغلل نو هغه وخت صحابه کرامو رفع یدین په څادرو کښې دننه تر سینې پورې کول، خو دا د بعض صحابه کرامو طرز عمل وو، ددې نه وړاندې هم د وائل په روایت کښې راغلل چه رسول الله ﷺ د څادر نه لاس راویستلو سره هله به ئې اوچتولو، لهذا مسنون طریقه هم هغه ده.

(): سنن النسائي/السهو ۳۱(۱۲٦٦)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۸۳) (صحيح)

د دې حديث نه صفا معلومه شوه چه وائل بن حجر رضي الله عنه د بهر اوسيدونکې وو.[1] مديني منورې ته د هغه راتلل دا په دويم ځل وو

بَابُ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د افتتاح د مانځه کې

د ترجمة الباب غرض:

په بعض نسخو کښې دا ترجمة الباب نشته، که نه وی نو د هيڅ بيان حاجت نشته، او که وی لکه چه زمونږ په نسخه کښې دی نو بيا به وئيلې شی چه ددې نه مخکښې باب رفع اليدين وو، او د بعض علماء کرامو په نزد رفع يدين قبل التحريمه وی او د مونځ ابتداء او افتتاح في الواقع د تکبير تحريمه نه کيږی نه د رفع يدين نه، په دې وجه دا ترجمه راوړل صحيح شو، ګويا رفع يدين عند التحريمه لره د ثابتولو نه پس د هغې د مابعد عمل لره بيانوی چه د هغې نه مونځ شروع کيږی او هغه دې تکبير تحريمه خو ددې باب چه کوم اولنې حديث دې هغه د تير شوی حديث يو طريق دې د وائل بن حجر حديث، لهذا غوره دا وه چه راتلونکې حديث د باب سابق د لاندې وې او دا د ابو حميد ساعدي رضي الله عنه د حديث نه شروع کړې شوې وې کوم چه زمونږ په نسخه کښې د اول حديث نه روستو دې.

[۷۲۹]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الشِّتَاءِ، فَرَأَيْتُ أَصْحَابَهُ يَرْفَعُونَ أَيْدِيَهُمْ فِي ثِيَابِهِمْ فِي الصَّلَاةِ".

ترجمه: د وائل بن حجر رضي الله عنه نه روايت هغه وئيلې دي: زه راغلم نبي صلى الله عليه وسلم ته په ژمی کښې نو ما وليدل ملګری د هغه چې اوچتول ئې لاسونه خپل په څادرونو کښې په مانځه کښې

[۷۳۰]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ، ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، وَهَذَا حَدِيثُ أَحْمَدَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حُمَيْدٍ السَّاعِدِيَّ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ أَبُو قَتَادَةَ، قَالَ أَبُو حُمَيْدٍ: أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: فَلِمَ فَوَاللَّهِ؟ مَا كُنْتَ بِأَكْثَرِنَا لَهُ تَبَعًا وَلَا أَقْدَمِنَا لَهُ صُحْبَةً، قَالَ: بَلَى، قَالُوا: فَاعْرِضْ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حَتَّى يَقِرَّ كُلُّ عَظْمٍ فِي مَوْضِعِهِ مُعْتَدِلًا، ثُمَّ يَقْرَأُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ، ثُمَّ يَرْكَعُ وَيَضَعُ رَاحَتَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، ثُمَّ يَعْتَدِلُ فَلَا يَصُبُّ رَأْسَهُ وَلَا يُقْنِعُ، ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، فَيَقُولُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ مُعْتَدِلًا، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَهْوِي إِلَى الْأَرْضِ فَيُجَافِي يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ، ثُمَّ

---

[1]) دا خبره ډيره محسوسيږی چه په صحيحين کښې د رفع اليدين په ثبوت کښې تول دوه يا درې احاديث دی چه په هغې کښې دوه راويان د بهر اوسيدونکی او دبل وطن دی.

[2]): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١١٧٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٦/٤) (صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الأذان ١٤٥ (٨٢٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٧٨ (٣٠٤)، سنن النسائي/التطبيق ٦ (١٠٤٠)، والسهو ٢ (١١٨٢)، ٢٩ (١٢٣٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٥ (١٠٦١)، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٤/٥) سنن الدارمي/الصلاة ٧٠ (١٣٤٦) (كلهم مختصراً من سياق المؤلف، وليس عند البخاري ذكر رفع اليدين ما سوى عند التحريمة) (صحيح)

يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ إِذَا سَجَدَ وَيَسْجُدُ، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، وَيَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا حَتَّى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ إِلَى مَوْضِعِهِ، ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، ثُمَّ يَصْنَعُ ذَلِكَ فِي بَقِيَّةِ صَلَاتِهِ حَتَّى إِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِي فِيهَا التَّسْلِيمُ أَخَّرَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَقَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ"، قَالُوا: صَدَقْتَ، هَكَذَا كَانَ يُصَلِّي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: محمد بن عمرو بن عطاء وئيلى دى چې ما اوريدلى دى د ابو حميد الساعدى نه چې وو د لسو کسانو سره د صحابو د رسول الله ﷺ سره، بعضى د هغوى نه قتادة وو، وئيلى دى ابو حميد: زه ستاسو نه ډير پوهه يم په مانځه د رسول الله ﷺ باندې، هغوى ووېل: ولې؟ قسم په الله ته زمونږ نه د هغه ډير تابعدار نه وې، او نه زمونږ نه مخکې وې په صحبت د هغه کښې. هغه ووېل: همداسې ده، هغوى ووېل پيش کړه، هغه ووېل: وو رسول الله ﷺ چې کله به پاځيدلو مانځه ته نو اوچتول به ئې دواړه لاسونه تردې چې برابر به ئې کړل د اوږو سره، بيا به ئې تکبير ويلو تردې چې قرارى ونيسى هريو هډوکى په خپل ځائې کښې برابر، بيا به ئې قرأت کولو، بيا به ئې تکبير کولو نو اوچتول به ئې دواړه لاسونه تردې چې برابر به ئې کړل د اوږو سره، بيا به ئې رکوع وکړه او دواړه ورغوى ئې په زنګونانو باندې کيخودل، بيا به معتدل شو نه به ئې سر اوچتولو او نه به ئې ښکته کولو، بيا به ئې سر اوچت کړو، او وئيل به ئې سمع الله لمن حمده، بيا به ئې لاسونه اوچت کړل تردې چې د اوږو سره به ئې برابر کړل، بيا به ئې ويلو الله اکبر بيا ښکته کيدلو ځمکې ته نو لرى به ئې ساتل لاسونه د تشو خپلو نه، بيا به ئې سر اوچت کړو او راغونډه به ئې کړه چپه خپه نو کيناستلو به په هغې، او کولاوولى به ئې ګوتې د خپو چې کله به ئې سجده کوله، او سجده ئې وکړه او وئيل به يې: الله اکبر، او اوچتولو به ئې سر او راغونډوله به ئې خپه چپه نو کيناستلو به په هغې، تردې چې واپس به شو هر هډوکى خپل ځائې ته، بيا به ئې کولو په وروستنئ کښې پشان د هغې، بيا چې به کله هغه پاځيدلو د دوه رکعاتو نه نو تکبير به ئې ويلو او اوچت به ئې کړل دواړه لاسونه تردې چې برابر به ئې کړل د اوږو سره لکه څنګه چې ئې تکبير ويلو په وخت د افتتاح د مانځه کښې، بيا به ئې کولو دغسې په باقى مونځ کښې تردې چې وو به رکعات هغه چې په هغې کښې به سلام وو، وروسته به ئې کړه خپه چپه او کيناستلو په حالت د تورک کښې په چپ طرف. هغوى ووېل: تا رشتيا ووېل داسې به مونځ کولو رسول الله ﷺ.

د حديث ابى حميد الساعدى تخريج

قوله: ﴿ حدثنا احمد بن حنبل الخ ﴾ دا د رفع اليدين د سلسلې د دريم صحابى حديث دې، دا د سنن اربعه او مسند احمد روايت دې، امام بخارى رحمه الله ددې صرف د شروع حصه ذکر کړې ده او عام طور سره شارحينو ددې نسبت د نسائى طرف ته نه دې کړې، حال دا چه دا حديث په هغې کښې هم دې امام نسائى هم ددې په ابواب السهو کښې مختصراً تخريج کړې دې، او په دې کښې صرف رفع عند القيام من الركعتين مذكور دې، هم دا هغه حديث دې کوم چه علامه

شوکانی لس بلکه يولس احاديث شمار کړي دي لکه چه په ابتدائی بحثونو کښې تير شوي دي، زه په خپل سبق کښې وايم چه ګورئ! چه کله مونږ ددې حديث جواب کوو او په دې باندې کلام کوو نو صرف د يوحديث به جواب نه کوو بلکه هغه به د يولسو احاديثو جواب وي.

د احنافو د طرف نه د دې حديث جوابات

په دې حديث باندې زمونږ د طرف نه ډير نقدونه کړي شوي دي کوم چه حضرت سهارنپوري رحمه الله په بذل کښې مختصرا او مولانا محمد يوسف صاحب رحمه الله په اماني الاحبار کښې تفصيل سره ذکر فرمائيلي دي، په بذل کښې په دې باندې دوه ځايونو کښې کلام دې يو خو دلته د حديث د لاندې او يو باب د رفع اليدين د لاندې چرته چه حضرات فريقين په دلائل باندې کلام فرمائيلي دي، هغه نقد دا دی

۱: ددې حديث په سند کښې عبدالحميد بن جعفر دې کوم چه ضعيف دې، يحيی بن سعيد د هغه تضعيف کړې دې.

۲: په دې حديث کښې رفع عند القيام من الرکعتين مذکور دی چه د هغې جمهور قائل نه دی.

۳: په دې حديث کښې دې حيثيت سره اختلاف او اضطراب دې چه بعض راويانو په قعده اخيره کښې تورک ذکر کړې دې، او بعض نه دې ذکر کړې، او د هغې په بعض طرق کښې په ځائې د تورک فی الجلسة الاخيره... تورک فی الجلوس بين السجدتين مذکور دې.

۴: دا حديث ابو حميد ساعدی رضي الله عنه د لسو صحابه کرامو په موجودګۍ کښې بيان فرمائيلې وو، او هم په دې وجه دا حضرات وايي چه دا حديث د لسو احاديثو قائم مقام دې.

خو دا به د لسو احاديثو قائم مقام هله وي، چه کله دا ټول حضرات ددې تصديق اوکړي، حال دا چه امام طحاوی رحمه الله فرمائي چه ددې حديث په اخير کښې ﴿ قالوا صدقت ﴾ صرف د ابو عاصم په روايت کښې دی د هغه نه علاوه چا هم دا جمله نه ده نقل کړې، الغرض ددې صحابه کرامو تصديق هم کمزورې پاتې شو، نو بيا به دا حديث د لسو احاديثو قائم مقام څنګه شي؟ زه عرض کوم چه ددې حديث د سياق تقاضه هم دا ده چه ددې صحابه کرامو د طرف نه تصديق نه دی پکار ځکه چه ابو حميد ساعدی رضي الله عنه په خپل مجلس کښې د هغه لس صحابه کرامو په وړاندې په شروع کښې دا خبره فرمائيلې وه بلکه دعوی ئې کړې وه چه زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مونځ کيفيت او تفصيل نه څومره خبره يم په تاسو کښې څوک هم دومره واقف نه دې، سامعينو په دې باندې اشکال هم اوکړو چه دا څنګه؟ نه ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحبت کښې زمونږ نه زيات ئې او نه د هغه په تابعدارۍ کښې، هغه اووې چه ددې باوجود هم هغه خبره ده کومه چه زه کوم، هغوی ورته اووې چه ښه تاسو هغه تفصيل بيان کړئ پس هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مونځ تفصيل من اوله الی اخره بيان کړو، په دې باندې مونږ دا وايو چه د ابو حميد ساعدی رضي الله عنه دعوی د اعلميت به هم هغه وخت صحيح وي، چه ټول تفصيل سامعينو ته معلوم وي او د نه معلوميدو تقاضه دا ده چه د ټول تفصيل اوريدلو نه پس د حاضرينو د طرف نه تصديق اونشو، ځکه چه تصديق بغير د علم سابق نه نه شی کيدې ځکه چه په حديث د جبرائيل عليه السلام کښې راځی ﴿ فعجبنا يسأله ويصدقه ﴾ نتيجه دا راوتله چه په دې

حديث کښې قالوا صدقت نشته، او في الواقع اکثر رواياتو کښې شته هم نه، کما قاله الطحاوی... نو بيا ددې حديث نه د استدلال څه نوعيت پاتې شو چه د هغې په اوريدلو باندې ټول خاموش شو،(١) پس ددې خو يو حديث کيدل هم ګران شو پاتې لا دا چه لس شو.

د حديث ابو حميد انقطاع

۵: يو بل قوی اشکال ددې حديث په سند باندې کوم چه امام طحاوی او د هغه متبعينو بيان کړې دې چه په دې کښې انقطاع ده، د محمد بن عمرو بن عطاء او ابو حميد ساعدی ترمينځه، چه د هغې درې قرينې دی.

اول قرينه:

دا چه دا روايت د محمد بن عمرو نه څنګه چه عبدالحميد بن جعفر روايت کوی، کوم چه دلته د ابوداود په سند کښې موجود دې هم دغه شان دا عطاف بن خالد هم د محمد بن عمرو نه روايت کوی خو عطاف د محمد بن عمرو او ابو حميد ترمينځه د (رجل مبهم) واسطه ذکر کړې ده،(عن محمد بن عمرو بن عطاء عن رجل عن ابی حميد الساعدی)

دويمه قرينه:

دا دې چه وړاندې خپله په کتاب کښې د عيسى بن عبدالله په روايت کښې ددې دواړو ترمينځه دعباس بن سهل واسطه موجود ده.(عن محمدبن عطاء عن عباس بن سهل عن ابی حميد)

دريمه قرينه:

دا ده چه په دې لس صحابه کرامو کښې يو ابوقتاده رضي الله عنه هم دې حال دا چه محمد بن عمرو د هغه زمانه نه ده موندلې، د هغه وفات د محمد بن عمرو د ولادت نه مخکښې شوې وو، ابو قتاده رضي الله عنه د على رضي الله عنه په زمانه کښې په ۳۸ هجری کښې وفات شوې دې، سيدنا على رضي الله عنه په هغه باندې جنازه کړې ده، حافظ ابن حجر په التلخيص الحبير کښې دا خبره تسليم کړې ده، او د محمد بن عمرو بن عطاء پيدائش ۴۰ هجری کښې دې چه د هغې مطلب دا شو چه د شاګرد پيدائش د استاذ د وفات نه دوه کاله پس شوې دې بيا هغه د هغه نه روايت څنګه کولې شی ضرور به دا روايت منقطع وی.

دا چه مونږ اووې چه د محمد بن عمرو پيدائش په ۴۰ هجری کښې دې هغه څکه چه مشهور د علماء الرجال په نزد دا دې چه د هغوی وفات ۱۲۰ هجری کښې د اتيا کالو په عمر، د شپږ شلې نه د اتيا د وضع کولو نه پس څلويښت باقی پاتې کيږی په دې حساب سره په ۴۰ هجری کښې د هغه پيدائش شوې دې يعنی د ابوقتاده د وفات نه دوه کاله پس، دا ټوله جرح امام المحدثين ابو جعفر طحاوی په شرح معانی الاثار کښې بيان فرمائيلې ده.

---

(١) که څوک اوائی چه سکوت دليل د تسليم دې او هغوی ته دا تفصيل معلوم وو نو بيا به مونږ تپوس کوو چه هغه د اعلميت دعوی چرته لاړه او دې خلقو په ابو حميد باندې اعتراض ولې اونکړو چه تاسو خو اوفرمائيل چه زه اعلم يم خو دا هر څه خو مونږ ته هم معلوم دی)

د حافظ ابن حجرﷺ د طرف نه جواب انقطاع او زمونږ د طرف نه د هغې رد

د دې انقطاع نه د خلاصئ شکل حافظ ابن حجرﷺ په فتح الباري کښې دا اختيار کړې دې چه کيدې شی د ابو قتاده د عمر په باره کښې د ۵۴ هجری قول زيات صحيح وی لکه چه هغه د واقدی رائې ده، حافظ ابن حجر التلخيص الحبير کښې فرمائيلې دی چه قول راجح د ابو قتادهؓ په وفات کښې ۳۸ هجری ده لکه چه د ابن سعد رائې ده، او بيا وړاندې په فتح الباري کښې حافظ ليکی چه کيدې شی چه د محمد بن عمرو چه کومه د عمر موده بيانولې شی يعنی اتيا کاله هغه صحيح نه وی بلکه د هغه عمر ددې نه زيات وی، مثلا پنځه اتيا کاله وی نو اوس په شپږ شلې کښې د پنځه اتيا وضع کولو نه پس پنځه ديرش باقی پاتې شی نو په دې لحاظ سره به د شاګرد د پيدائش کال ۳۵ هجری وی نه څلويښت) هم دغه شان وړاندې ليکی چه دا هم ممکنه ده چه په دې لس صحابه کرامو کښې ابو قتادهؓ شامل نه وی، او په کوم روايت کښې چه د هغه تسميه راغلې ده هغه غلط وی، اوګورئ حافظ صاحب دا څه وائی د حمايت هم يو حد وی، ابن عبدالبر او ابن القطان او ابن سعد د واقدی شاګردان او خپله د حافظ ابن حجر رائې په التلخيص الحبير کښې د ابو قتاده د وفات په باره کښې ۳۸ هجری ده، دويم قول د ۵۴ هجری دې کوم ته چه بيهقی ترجيح ورکړې ده، پاتې شوې دوه قرينې نو په هغې کښې عطاف بن خالد والا روايت جواب حافظ په التلخيص الحبير کښې ورکړې دې چه محمد بن عمرو دوه دی، محمد بن عمرو بن عطاء او محمد بن عمرو بن علقمه، عطاف بن خالد چه د کوم محمد بن عمرو نه روايت کوی هغه محمد بن عمرو بن علقمه دې د هغه په روايت کښې واسطه واقعی موجود ده او کوم روايت چه بغير د واسطې نه دې په هغې کښې د محمد بن عمرو بن عطاء دې، دا روايت بغير د واسطې نه دې، لهذا دا دواړه سندونه جدا جدا دی په يو کښې هم انقطاع نشته، ددې جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه دا تفريق صحيح نه دې، د عطاف بن خالد په روايت کښې هم محمد بن عمرو بن عطاء دې لکه چه د طحاوی په روايت کښې تصريح ده، او د عيسی بن عبدالله والا روايت جواب حافظ په فتح الباري کښې دا کړې دې هغه مزيد فی متصل الاسانيد د قبيل نه دې[1] په دې باندې علامه عينی فرمائی چه کوم د مزيد فی متصل الاسانيد دپاره شرط دا دې چه د اصل راوی سماع ثابته وی د خپل مروی عنه نه، او دلته داسې نه ده ځکه چه شعبی کوم چه ددې فن امام دې د چا نفی چه نفی ده او اثبات اثبات، هغه فرمايی چه د محمد بن عمرو سماع د ابو قتاده نه ثابت نه ده، نو هر کله چه د اصل راوی (محمد بن عمرو) سماع د مروی عنه (ابو قتاده) نه ثابت نه ده نو بيا د واسطې والا روايت مزيد فی متصل الاسانيد څنګه کيدې شی، والله الموفق وهو الهادی الی سواء السبيل.

---

[1] بعض وخت يو سند بغير د واسطې نه متصل وی بيا د يو لفظ د زيادت د وجې نه کوم چه په اصل روايت کښې نه وو، په بل روايت کښې دی او هغه زيادت هم دې راوی ته د چا په واسطه رسيدلې دې، نو هلته د واسطې اضافه راځی حال دا چه هغه سند فی نفسه بغير د واسطې نه هم متصل وی)

تردي خانې پورې په حديث د ابو حميد ساعدي رضي الله عنه باندې د اشکال او جواب بحث پوره شو په قول د علامه شوکاني رحمه الله چه دا حديث د لسو احاديثو قائم مقام وو، لهذا دا اعتراضات او جوابات هم په يو حديث باندې نه دی بلکه ستاسو په لس وارو احاديثو باندې دی

شرح حديث

قوله:(فلا يصب راسه ولا يقنع) د رکوع په حالت کښې به ئې نه خپل سر ښکته کولو او نه به ئې اوچتولو، فقهاء کرامو ليکلې دی چه په رکوع کښې کوناټی، ملا او سر درې وارو برابر کول پکار دی ملا يا سر به نه ډير ښکته کوی او نه به ئې ډير اوچت ساتی

قوله:(ويفتخ اصابع رجليه) دا د فتخ نه دې په خاء منقوطه سره چه د هغې معنی نرم او مائل کولو ده، يعنی د سجدې په حالت کښې د خپو د ګوتو رخ واپس کولو سره د قبلې طرف ته راړول (ويثنى رجله اليسرى فيقعد عليها) يعنی په اول رکعت کښې به د سجده ثانيه نه روستو کيناستلو دې ته جلسه استراحت وئيلې شی، په جلسه استراحت باندې مصنف روستو مستقل ترجمه قائم کړې ده، په باب النهوض فى الفرد کښې، په دې باندې به کلام هم هلته راځی (حتى اذا كانت السجدة التى فيها التسليم اخر رجله اليسرى وقعد متوركا على شقه الايسر) هم ددې نوم تورک دې، افتراش خو دا دې چه ګسه خپه خوره کړی او په هغې باندې کينی، او په تورک کښې دا وی چه په ګسه خپه باندې د کيناستلو په ځائې هغه ښی طرف ته اوباسی او کوناټی په زمکه باندې کيخودلې شی

په هيئة الجلوس فى التشهد کښې د علماؤ اختلاف

په جلوس فى التشهد کښې افتراش اولی دې يا تورک، مسئله مختلف فيه ده، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مطلقا افتراش دې او د امام مالک رحمه الله په نزد مطلقا تورک. او د امام شافعی او امام احمد په نزد په قعده اولی او اخره کښې فرق دې په قعده اولی کښې افتراش اولی دې او په قعده اخرې کښې تورک،[1] کوم مونځونه چه د دوه تشهدو والا دی په هغې کښې خو به داسې وی، او په کوم مونځ کښې چه صرف يو تشهد وی لکه صلاة جمعه او صلاة فجر، په هغې کښې به د امام شافعی په نزد يو تورک وی او د امام احمد په نزد نشته، لهذا د امام شافعي په نزد تورک مطلقا په قعده اخيره کښې وی اګر چه قعده ثانيه نه وی. او د امام احمد رحمه الله په نزد د دويم قيد دې، که په يو مونځ کښې يوه قعده وی نو په هغې کښې به نه وی.

[1] بعض فقهاء کرامو ليکلې دی چه د امام شافعی رحمه الله په نزد د تورک سبب جلوس دې نو ګويا اصل افتراش شو خو چونکه په افتراش کښې لږ شان مشقت وی، ځکه چه مختصر په قعده کښې نود طويل قعده کښې تورک اختيار کړې شوې دې، او د امام احمد په نزد منشاء تورک تمييز بين القعدة الاولى والاخيره دې، ددې دپاره چه مسجد ته روستو راتلونکی ته خپله معلومه شی چه امام په قعده اولی کښې دې يا اخيره کښې او په کومو مونځونو کښې چه صرف يوه قعده ده هلته د تمييز ضرورت نه وی)

دلائل الفريقين

د شوافعو دليل په دې مسئله كښې د ابوحميد ساعدي رضي الله عنه حديث دې او د احنافو دپاره ډير احاديث دی، اول د عائشې رضي الله عنها كوم چه په مسلم، ابوداود او مسند احمد كښې روايت دې، بل د وائل بن حجر رضي الله عنه حديث كوم چه په ابوداود، نسائي او مسند احمد كښې دې، او دريم د رفاعه بن رافع حديث يعنى حديث المسئ فى الصلاة په دې ټولو احاديثو كښې مطلقا افتراش مذكور دې هم دا خبره احنافو اختيار كړې ده. ﴿لكن هذا عند نافى الرجال واما المراة فتقعد متوركة﴾ ځكه چه په دې كښې تستر زيات دې كوم چه د زنانه د حال مناسب دې.

[۷۳۱](۱)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ يَعْنِي ابْنَ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو الْعَامِرِيِّ، قَالَ: كُنْتُ فِي مَجْلِسٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَذَاكَرُوا صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ أَبُو حُمَيْدٍ: فَذَكَرَ بَعْضَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ: فَإِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ كَفَّيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ وَفَرَّجَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ غَيْرَ مُقْنِعٍ رَأْسَهُ وَلَا صَافِحٍ بِخَدِّهِ، وَقَالَ: فَإِذَا قَعَدَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَعَدَ عَلَى بَطْنِ قَدَمِهِ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْيُمْنَى، فَإِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ أَفْضَى بِوَرِكِهِ الْيُسْرَى إِلَى الْأَرْضِ وَأَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَاحِدَةٍ.

ترجمه: محمد بن عمرو العامری وايي: زه په يو مجلس كښې د صحابو د رسول الله ﷺ، نو هغوى مذاكره وكړه د مونځ د رسول الله ﷺ، وئيلى دى ابو حيمد: ذكر ئې كړو بعضې حصه ددې حديث، هغه ووئيل: كله چې به هغه ركوع وكړه مضبوط به ئې كړل خپل ورغوى د زنګونانو سره او كولاو به ئې كړې ګوتې د لاسونو، بيا به ئې خكته كړه شا خپله چې بره ئې اونه ساتلو سر خپل، او نه ئې مخ اخوا ديخوا واړولو، او هغه ووئيل: كله چې به كيناستلو په دوه ركعاتو كيناستلو به په خيټه د چپې خپې او ودروله به ئې ښې خپه، كله چې به شو په څلورم ركعات كښې نزدې به ئې كړو خپل چپ كوناټى ځمكې ته او وېستلى به ئې دواړه خپې يو طرف ته.

د تورك مختلف شكلونه

قوله:﴿ واخرج قدميه من ناحية واحدة ﴾ د روايت نه معلوميږي چه د تورك دوه طريقې دى يو دا چه ګسه خپه خوروله سره ښى طرف ته ويستلې شى او ښئ خپه ولاړه اودرولې شى، د بخارى د ابو حميد ساعدى په حديث كښې هم دغه شان مذكور دى، او بله طريقه هغه ده كومه چه دلته په حديث كښې ذكر شوې ده چه ښئ خپه دې هم خوره كړې شى، او يوه دريمه طريقه د تورك بله ده كومه چه د مسلم شريف په روايت كښې ذكر شوې ده هغه دا چه ښئ خپه دې ګس طرف ته د راويستلو په ځائې هغه په ښى پتون او پنډئ په مينځ كښې ګيره كړې شى، د تورك په باره كښې مختلف روايات او د هغې متعدد شكلونه ډير په تفصيل سره په الحل المفهم كښې بيان كړې شوې دى.

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۹۷) (صحيح)

[۷۳۲]([1])حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيِّ، وَيَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، نَحْوَ هَذَا، قَالَ: فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا، وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِهِ الْقِبْلَةَ.

ترجمه: د محمد بن عمرو بن عطاء نه روايت دي په مثل ددي هغه وئيلي دي: كله چې به ئې سجده وكړه كيخودل به ئې دواړه لاسونه چې خواره به نه وو او نه به راغونډ وو، او مخامخ به ئې كړې ګوتې خپلې قبلې ته.

[۷۳۳]([2])حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ، حَدَّثَنِي زُهَيْرٌ أَبُو خَيْثَمَةَ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الْحُرِّ، حَدَّثَنِي عِيسَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ أَحَدِ بَنِي مَالِكٍ، عَنْ عَبَّاسٍ، أَوْ عَيَّاشِ بْنِ سَهْلٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّهُ كَانَ فِي مَجْلِسٍ فِيهِ أَبُوهُ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي الْمَجْلِسِ أَبُو هُرَيْرَةَ وَأَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ، وَأَبُو أُسَيْدٍ، بِهَذَا الْخَبَرِ يَزِيدُ أَوْ يَنْقُصُ، قَالَ فِيهِ: ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ يَعْنِي مِنَ الرُّكُوعِ، فَقَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ فَسَجَدَ فَانْتَصَبَ عَلَى كَفَّيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ وَصُدُورِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، ثُمَّ كَبَّرَ فَجَلَسَ فَتَوَرَّكَ وَنَصَبَ قَدَمَهُ الْأُخْرَى، ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ، ثُمَّ كَبَّرَ فَقَامَ وَلَمْ يَتَوَرَّكْ، ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ: ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ حَتَّى إِذَا هُوَ أَرَادَ أَنْ يَنْهَضَ لِلْقِيَامِ قَامَ بِتَكْبِيرَةٍ، ثُمَّ رَكَعَ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ، وَلَمْ يَذْكُرِ التَّوَرُّكَ فِي التَّشَهُّدِ.

ترجمه: د عباس او يا عياش بن سهل الساعدي نه روايت دې بيشكه هغه وو په يو مجلس كښې چې په هغې كښې د هغه پلار وو او وو د صحابو د نبي ﷺ نه، او په مجلس كښې ابو هريرة او ابو حميد الساعدي وو. او ابو أسيد په دې خبر كښې زيادت او نقصان كولو هغه وئيلي دي په هغې كښې: بيا ئې اوچت كړو سر خپل يعني د ركوع نه هغه ووئيل: واوريدل الله د هغه چا چې د هغه حمد ئې ووئيلو، اى الله زمونږ ربه تالره حمد دى. او لاسونه ئې اوچت كړل، بيا ئې ووئيل: الله اكبر نو سجده ئې وكړه ودريدلو په ورغوو باندې او په زنګونانو باندې او په سينو قدمونو او هغه په سجده كښې وو. بيا ئې تكبير ووئيلو كيناستلو د تورک په شكل او ويې درولو بله خپه، بيا ئې تكبير وكړو او سجده ئې وكړه، بيا ئې تكبير ووئيلو او پاڅيدلو او تورک ئې ونه كړو، بيا ئې حديث بيان كړو، هغه وايي: بيا كيناستلو وروسته د دوه ركعاتونو نه تردې چې كله هغه اراده وكړه چې پاڅيږي قيام ته پاڅيدلو د تكبير سره، بيا ئې وكړل دوه وروستني ركعاتونه او ذكر ئې نه كړو تورک په تشهد كښې.

[۷۳۴]([3])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، أَخْبَرَنِي فُلَيْحٌ، حَدَّثَنِي عَبَّاسُ بْنُ سَهْلٍ، قَالَ: اجْتَمَعَ أَبُو حُمَيْدٍ، وَأَبُو أُسَيْدٍ، وَسَهْلُ بْنُ سَعْدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَذَكَرُوا صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ أَبُو حُمَيْدٍ: أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ بَعْضَ هَذَا، قَالَ: ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهُ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا وَوَتَّرَ يَدَيْهِ فَتَجَافَى عَنْ جَنْبَيْهِ، قَالَ: ثُمَّ سَجَدَ فَأَمْكَنَ أَنْفَهُ وَجَبْهَتَهُ وَنَحَّى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ حَتَّى رَجَعَ كُلُّ عَظْمٍ فِي مَوْضِعِهِ حَتَّى فَرَغَ، ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۹۷) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ۷۸ (۲۶۰)، ۸۶ (۲۷۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵ (۸۶۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۹۲) (ضعيف)

[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۹۲) (صحيح)

الْيُسْرَى وَأَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنَى عَلَى قِبْلَتِهِ وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى وَكَفَّهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي حَكِيمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ الْعَبَّاسِ بْنِ سَهْلٍ، لَمْ يَذْكُرِ التَّوَرُّكَ، وَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ فُلَيْحٍ، وَذَكَرَ الْحَسَنُ بْنُ الْحُرِّ نَحْوَ جِلْسَةِ حَدِيثِ فُلَيْحٍ، وَعُتْبَةَ.

ترجمه: حديث بيان کړې دې ماته عباس بن سهل هغه وئيلي دي: راجمع شول ابو حميد او ابو أسيد او سهل بن سعد او محمد بن مسلمة، هغوی ذکر کړو مونځ د رسول الله ﷺ، وئيله ابو حميد: زه د تاسو نه ښه پوهه يم په مانځه د رسول الله ﷺ باندې، نو ذکر ئې کړو بعضې د هغې نه، هغه ووئيل: بيا ئې ر کوع وکړه نو کيخودل ئې لاسونه خپل په زنګونانو باندې ګويا چې هغه نيوونکې دی د دواړو، او کاږه ئې کړل لاسونه او جدا ئې اوساتل د اړخونو نه، هغه وايي: بيا ئې سجده وکړه نو کيخوده هغه پوزه خپله او تندی خپل او جدايي کړل دواړه لاسونه د اړخونو خپلو نه او کيخودل هغه ورغوی خپل برابر د اوږو، بيا ئې سر اوچت کړو تردې چې واپس شو هريو هډوکی خپل ځائې ته تردې چې فارغ شو، بيا کيناستلو او خوره ئې کړه خپله چپه خپه او مخامخ ئې کړه سبنه د ښي خپې قبلې ته او کيخودلو هغه ورغوی ښې په خپل ښې زنګون باندې، او ورغوی چپ په زنګون چپ باندې. او اشاره ئې وکړه په خپله ګوته. وئيلی دی ابوداود: ددې حديث روايت عتبة بن الحکم کړی دی د عبد الله بن عيسی نه او هغه د عباس بن سهل نه، دوی نه دی ذکر کړی تورک، البته عتبه ذکر کړی ئې دی پشان د حديث د فليح، او ذکر کړی دی حسن بن الحر پشان د جلسې د حديث د فليح او عتبة.

تشريح: قوله:﴿ وهو ساجد ثم کبر فجلس فتورک ونصب قدمه الاخرى ﴾ دا تورک بين السجدتين دې.

قوله:﴿ فوضع يديه على رکبتيه الخ ﴾ د رکوع هيئت بيانولې شی چه د رکوع په حالت کښې يدين لره په رکبتين باندې ډير په مضبوطيا سره کيږدی لکه چه په لاسونه ئې په کونډو باندې کيخودلې وی ﴿ ووتر يديه ﴾ دا د وتر نه اخستلې شوې دې، ليندې ته وئيلې شی يعنی د رکوع په حالت کښې به دواړه لاسونه بالکل نيغ ساتی لکه څنګه چه د ليندې مزې وی، ددې دپاره چه دواړه لاسونه د غيږ نه جدا وی، او که هغه سست پريخودلې شی نو لاسونه به د اړخونو سره اولګی

[۷۳۵] (¹) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي عُتْبَةُ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عِيسَى، عَنْ الْعَبَّاسِ بْنِ سَهْلٍ السَّاعِدِيِّ، عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: وَإِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهُ عَلَى شَيْءٍ مِنْ فَخِذَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ، سَمِعْتُ عَبَّاسَ بْنَ سَهْلٍ يُحَدِّثُ فَلَمْ أَحْفَظْهُ فَحَدَّثَنِيهِ أُرَاهُ ذَكَرَ عِيسَى بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلٍ، قَالَ: حَضَرْتُ أَبَا حُمَيْدٍ السَّاعِدِيَّ بِهَذَا الْحَدِيثِ.

ترجمه: د ابو حميد نه روايت دې ددې حديث هغه وئيلی دي او چې کله به ئې سجده وکړه کولاو والی به ئې راوستو په مابين د ورنونو کښې چې نه به ئې باروله خيټه خپله په ورنونو باندې وئيلی دی ابوداود نقل کړی دی ابن المبارک، هغه وئيلی دی حديث بيان کړې دې مونږ ته فليح، ما اوريدلی دی د عباس بن سهل نه، هغه حديث بيان کړو ما ياد نه کړو ماته

¹: انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۱۱۸۹۲) (ضعيف)

هغه حديث بيان كړو، زه گمان كوم چې ذكريې كړو عيسى بن عبد الله، بيشكه هغه اوريدلى دى د عباس بن سهل نه، هغه وايي: زه حاضر شوم ابو حميد الساعدى ته په دې حديث سره.

تشريح: قوله: ﴿ واذا سجد فرج بين فخذيه ﴾ په باب صفة السجود كښې ددې خلاف راځي په هغې كښې داسې دى ﴿ وليضم فخذيه ﴾ چونكه ددې تعلق د صفة سجود سره دې په دې وجه دې باندې به كلام هم هلته راځي.

ركوع نه سجدې ته تلو او يا د سجدې نه پاسيدو په كيفيت كښې اختلاف

قوله: ﴿ فلما سجد وقعتا ركبتاه الى الارض قبل ان تقع كفاه ﴾ د ركوع نه د پاسيدو نه پس سجدې ته د تلو مسنون طريقه د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد هم دا ده كومه چه دلته ذكر شوې ده يعنى سجدې ته د تلو په وخت به اول دواړه گونډې په زمكه باندې كيږدى او بيا دواړه لاسونه، په دې كښې د امام مالک او امام اوزاعى اختلاف دې د هغه په نزد ددې برعكس دې چه سجدې ته د تلو په وخت دې اول په زمكه باندې دواړه لاسونه كيږدى روستو گونډې، څنگه چه دا اختلاف سجدې ته په تلو كښې دې هم دغه شان د سجدې نه په پاسيدو كښې دې، جمهور وائى چه د سجدې نه پاسيدو په وخت به اول د زمكې نه دواړه لاسونه اوچتيږى او روستو ركبتين، د مالكيانو په نزد دې وخت هم برعكس دې چه اول گونډې اوچتې كړى او روستو لاسونه، سجدې ته د تلو او د هغې نه د اوچتيدلو دا كيفيت وړاندې په يو حديث كښې راروان دې چه په هغې باندې مصنف ترجمه قائم كړې ده ﴿ باب كيف يضع ركبتيه قبل يديه ﴾ د وائل بن حجر رضي الله عنه حديث دې چه د هغې الفاظ دا دى ﴿ رايت النبى صلى الله عليه وسلم اذا سجد وضع ركبتيه قبل يديه واذا نهض رفع يديه قبل ركبتيه ﴾ دا هم هغه كيفيت دې كوم چه جمهورو او ائمه ثلاثه اختيار كړې دې، د امام مالک رحمه الله دليل هم په دې راتلونكى باب كښې روستو راروان دې د هغې انتظار اوكړئ.

(دوېم اختلاف)

دلته يو دوېم اختلاف دې او هغه دې چه د سجدې نه د سر اوچتولو نه پس د اودريدو په وخت به د لاسونو اعتماد په ركبتين باندې وى يا په زمكه باندې، د احنافو او حنابله په نزد د گونډو په زور اودريدل سنت دى، او د امام شافعى رحمه الله په نزد په زمكه باندې اعتماد كولو سره پاسيدل سنت دى، ددې مسئلې ذكر وړاندې په حديث الباب كښې داسې راروان دې ﴿واذا نهض نهض على ركبتيه واعتمد على فخذه ﴾ دا د احنافو او حنابله دليل دې او د مالكيانو په نزد چونكه د سجدې نه د سر اوچتولو په وخت د زمكې نه لاس نه شى اوچتولې د هغه په نزد د شروع نه تر اخره پورې لاس په زمكه باندې وى، لهذا د هغه په مسلک كښې دا سوال هم نه پيدا كيږى چه د اودريدو په وخت ﴿ اعتماد اليدين على الارض ﴾ وى يا ﴿ على الركبتين ﴾، د هغه په نزد خو لاسونه د اول نه اخر پورې په زمكه باندې وى، هم دغه شان حضرت شيخ په حاشيه د لامع كښې په مذاهب ائمه باندې بحث كولو سره فرمائيلې دى چه د مالكيانو نه

دلته د سجدې نه د اوچتيدو په وخت اعتماد علي الارض سنت مستقله نه دی، بعض شارحينو چونکه په دې دريمه مسئله کښې د امام شافعي رحمه الله سره امام مالک هم ذکر کړې دې په دې وجه مونږ دهغې وضاحت اوکړو، ددې مسئلې اختلاف په تجزيه سره بيانول او پوهيدل زيات اسان دی کينې کوم شارحين حديث چه دا دواړه مسئلې جدا جدا نه دی بيان کړې د هغوی په مضمون کښې خلط راغلې دې (١) او په دې اختلاف باندې پوهيدل ګران شو، کما يظهر بالرجوع الى الشروع، والله سبحانه تعالى اعلم بالصواب. د دې مسئلې څه اندازه وضاحت حضرت شيخ رحمه الله په حاشيه د لامع (٣٢٩) کښې فرمائيلې دې.

[٧٣٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ، عَنْ عَبْدِ الْجَبَّارِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَلَمَّا سَجَدَ وَقَعَتَا رُكْبَتَاهُ إِلَى الْأَرْضِ قَبْلَ أَنْ تَقَعَ كَفَّاهُ، قَالَ: فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَ جَبْهَتَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ وَجَافَى عَنْ إِبْطَيْهِ، قَالَ حَجَّاجٌ، وَقَالَ هَمَّامٌ وَحَدَّثَنَا شَقِيقٌ، حَدَّثَنِي عَاصِمُ بْنُ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمِثْلِ هَذَا، وَفِي حَدِيثِ أَحَدِهِمَا وَأَكْبَرُ عِلْمِي أَنَّهُ حَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، وَإِذَا نَهَضَ نَهَضَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَاعْتَمَدَ عَلَى فَخِذِهِ.

ترجمه: د عبد الجبار بن وائل نه روايت دې، هغه روايت کړی دی د خپل پلار نه، او هغه د نبی ﷺ نه په دې حديث کښې، کله چې هغه سجده وکړه واقع شول زنګونان د هغه په ځمکه باندې مخکې د واقع کيدو د ورغوو نه، هغه وئيلی دي: هرکله چې ئې سجده وکړه کيخوده هغه تندی خپل په مينځ د ورغوو کښې او لرې ئې کړل د تخرګونو نه. وئيلی دی حجاج: وئيلی دی همام: او حديث بيان کړې دې مونږ ته شقيق، حديث بيان کړې دې ماته عاصم بن کليب او هغه ته خپل پلار، او هغه ته نبی ﷺ په مثل د دې، او په حديث د يو ددې دواړو کښې او زما ډير علم دادی چې هغه حديث د محمد بن جُحادة دی. او چې کله به هغه پاځيدلو نو پاځيدلو به په زنګونانو باندې او تکيه به ئې کوله په ورنونو باندې.

تشريح: قوله:﴿ وفي حديث احدهما واكبر علمي انه في حديث محمد بن جحادة ﴾ دا د همام مقوله ده، د همام په دې حديث کښې دوه استاذان دی، محمد بن جُحاده او شقيق، نو همام دا وايي چه هغه زيادت کوم چه زه وړاندې ذکر کوم په دې دواړو کښې د يو حديث دې او ظن غالب دا دې چه د محمد بن جُحاده په حديث کښې دی "حدثنا عبد المالک بن شعيب بن الليث الخ"

(١) پس په راتلونکې باب کښې به حديث وائل چه د هغې الفاظ مونږ پورته ليکلې دی او دا ئې د جمهورو د مسلک مطابق وئيلې دی، ددې په باره کښې حضرت په بذل المجهود کښې ليکلې دی ﴿وبه قال ابو حنيفه وخالفه الشافعي ﴾ حال دا چه د نورو شارحينو د کلام نه معلوميږی چه دا حديث د جمهورو د مسلک مطابق دې، د شوافع د مسلک خلاف نه دې، او زمونږ رائې هم دا ده ځکه چه په دې حديث کښې اوله مسئله يعنې د سجدې نه د سر اوچتولو په وخت کښې چه کوم کيفيت پکار دې هغه ئې بيان کړې دې، او په دې کښې د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد هم دا دې چه رفع اليدين قبل الرکبتين پکار دی کوم چه ډيرو شارحينو ليکلې دې، او بيا روستو شوافع، د احنافو او حنابله نه جدا شو يعنې د سجدې نه د پاسيدو په وخت په دې کښې چونکه د امام شافعي په نزد په ځمکه باندې اعتماد سنت دې، په دې وجه کوندې د لاسونو نه مخکښې پاسيږی او د امام مالک رحمه الله په نزد دلته خو لاس د شروع نه تر د اخيره پورې په ځمکه وی، فتدبر وتشکر)

(٢): تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ١١٧٦٢) (ضعيف)

[٧٣٧]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ فِطْرٍ، عَنْ عَبْدِ الْجَبَّارِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ إِبْهَامَيْهِ فِي الصَّلَاةِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ".

ترجمه: عبد الجبار بن وائل روايت كوي د خپل پلار نه، هغه وئيلي دي: ما وليدلو رسول الله ﷺ چې اوچتولی ئې خپلې غتې ګوتې په مانځه كښې نرمو د غوږونو ته.

[٧٣٨]( ) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ لِلصَّلَاةِ جَعَلَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا رَكَعَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَإِذَا رَفَعَ لِلسُّجُودِ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې، بيشكه هغه وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چې كله به ئې تكبير وكړو د مانځه لپاره وبه ئې ګرځول خپل دواړه لاسونه برابر د اوږو، او چې كله به ئې ركوع وكړه كول به ئې په مثل د هغې، او چې كله به ئې اوچت كړو د سجدې لپاره كول به ئې پشان د هغې، او چې كله به پاڅيدلو د دوه ركعاتو نه نو كول به ئې په مثل د هغې.

د رفع يدين څلورم حديث

دا د رفع اليدين په سلسله كښې د څلورم صحابي ابوهريره رضي الله عنه حديث دې په دې كښې رفع يدين في المواضع الأربعة ذكر شوې دې، يو رفع عند القيام من الركعتين دې ددې په سند كښې يحيى بن ايوب راوى دې كوم چه متكلم فيه دې، هم دغه شان په دې كښې ابن جريج دې كوم چه مدلس دې او په عن سره روايت كوي، ﴿ حدثنا قتيبة بن سعيد ﴾ دا هم هغه د ميمون مكى والا حديث دې چه په هغې باندې زمونږ په نزد كلام په مباحث ابتدائيه كښې تير شوې دې.

[٧٣٩]( ) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي هُبَيْرَةَ، عَنْ مَيْمُونٍ الْمَكِّيِّ، أَنَّهُ رَأَى عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَصَلَّى بِهِمْ، يُشِيرُ بِكَفَّيْهِ حِينَ يَقُومُ وَحِينَ يَرْكَعُ وَحِينَ يَسْجُدُ وَحِينَ يَنْهَضُ لِلْقِيَامِ فَيَقُومُ فَيُشِيرُ بِيَدَيْهِ، فَانْطَلَقْتُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، فَقُلْتُ: إِنِّي رَأَيْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ صَلَّى صَلَاةً لَمْ أَرَ أَحَدًا يُصَلِّيهَا، فَوَصَفْتُ لَهُ هَذِهِ الْإِشَارَةَ، فَقَالَ: "إِنْ أَحْبَبْتَ أَنْ تَنْظُرَ إِلَى صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاقْتَدِ بِصَلَاةِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ".

ترجمه: د ميمون المكى نه روايت دې بيشكه هغه وليدلو عبد الله بن الزبير او مونځ ئې وكړو دوى ته چې اشاره ئې كوله په خپلو لاسونو كله چې به پاڅيدلو او چې كله به ئې ركوع كوله او چې كله به ئې سجده كوله او چې كله به پاڅيدلو قيام ته، نو پاڅيدلو او اشاره به ئې كوله په لاسونو باندې. زه لاړم ابن عباس ته ما ورته ووئيل: ما ليدلى دى ابن الزبير ويې كړو يو مونځ ما نه دى ليدلى هيڅوک چې كړې ئې دى هغې لره نو ما ورته بيان كړه دغه اشاره هغه ووئيل كه چېرته ستا خوښه وى چې ته اوګورې مونځ د رسول الله ﷺ ته، نو اقتداء وكړه د مونځ په عبد الله بن الزبير پسې.

( ): سنن النسائي/الافتتاح ٥(٨٨٣)، (تحفة الأشراف: ١١٧٥٩) (ضعيف)
( ): صحيح البخاري/الأذان ١١٧ (٧٨٩)، صحيح مسلم/الصلاة ١٠ (٣٩٢)، سنن الترمذي/الصلاة ٦٣ (٢٣٩)، سنن النسائي/الافتتاح ١٨٠ (١١٥١)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٧٠، ٤٥٤) (ضعيف)
( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٥٠٩) (صحيح)

[٧٤٠](١)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ كَثِيرٍ يَعْنِي السَّعْدِيَّ، قَالَ: "صَلَّى إِلَى جَنْبِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ طَاوُسٍ فِي مَسْجِدِ الْخَيْفِ فَكَانَ إِذَا سَجَدَ السَّجْدَةَ الْأُولَى فَرَفَعَ رَأْسَهُ مِنْهَا رَفَعَ يَدَيْهِ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ، فَأَنْكَرْتُ ذَلِكَ، فَقُلْتُ لِوُهَيْبِ بْنِ خَالِدٍ، فَقَالَ لَهُ وُهَيْبُ بْنُ خَالِدٍ: تَصْنَعُ شَيْئًا لَمْ أَرَ أَحَدًا يَصْنَعُهُ، فَقَالَ ابْنُ طَاوُسٍ: رَأَيْتُ أَبِي يَصْنَعُهُ، وَقَالَ أَبِي: رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَصْنَعُهُ، وَلَا أَعْلَمُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُهُ".

ترجمه: حديث بيان كړي دي مونږ ته نضر بن كثير يعنى السعدي، هغه وئيلى دي. مونځ وكړو زما اړخ ته عبد الله بن طاوس په مسجد خيف كښې، نو وو هغه چې كله به ئې سجده وكړه اولنئ نو اوچت ئې كړو سر خپل د هغې نه او اوچت ئې كړل لاسونه برابر د مخ خپل نو ما نااشنا وګڼړه دغه، ما وويل وهيب بن خالد ته. نو هغه وويل هغه ته. وهيب بن خالده! ته يو شي كوې ما هېڅوک نه دى ليدلى چې كولو ئې، نو وويل ابن طاوس. ما خپل ليدلى وو چې كولويي، او وويل زما پلار: ما ليدلى وو ابن عباس چې كولو ئې، او ما ته علم نشته مګر دا چې هغه وئيل: وو نبى ﷺ چې كولو يې.

[٧٤١](٢)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّهُ كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ"، وَيَرْفَعُ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: الصَّحِيحُ قَوْلُ ابْنِ عُمَرَ لَيْسَ بِمَرْفُوعٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى بَقِيَّةُ أَوَّلَهُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، وَأَسْنَدَهُ وَرَوَاهُ الثَّقَفِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ وَأَوْقَفَهُ عَلَى ابْنِ عُمَرَ، قَالَ فِيهِ: وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ يَرْفَعُهُمَا إِلَى ثَدْيَيْهِ، وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَمَالِكٌ، وَأَيُّوبُ، وَابْنُ جُرَيْجٍ مَوْقُوفًا، وَأَسْنَدَهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ وَحْدَهُ، عَنْ أَيُّوبَ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَيُّوبُ، وَمَالِكٌ الرَّفْعَ: إِذَا قَامَ مِنَ السَّجْدَتَيْنِ، وَذَكَرَهُ اللَّيْثُ فِي حَدِيثِهِ، قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ فِيهِ: قُلْتُ لِنَافِعٍ: أَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَجْعَلُ الْأُولَى أَرْفَعَهُنَّ؟ قَالَ: لَا سَوَاءً، قُلْتُ: أَشِرْ لِي؟ فَأَشَارَ إِلَى الثَّدْيَيْنِ أَوْ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ.

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې بيشكه هغه وو چې كله به داخل شو په مانځه كښې تكبير به ئې وپلو او لاسونه به ئې اوچتول او چې كله به ئې ركوع كوله، او چې كله به ئې وويل سمع الله لمن حمده، او چې كله به پاڅيدلو د دوه ركعاتو نه نو لاسونه به ئې اوچت كړل، او مرفوع كوى دغه رسول الله ﷺ ته. وئيلى دى ابوداود صحيح داده چې قول د ابن عمر مرفوع نه دى. وئيلى دى ابوداود او روايت كړى دى بقيه اول ددې حديث د عبيد الله نه او مسند كړى ئې دى، او نقل كړى دى ثقفي د عبيد الله نه او موقوف كړى دى ابن عمر، هغه وئيلى دى په هغې كښې او چې كله به پاڅيدلو د دوه ركعاتو نه نو اوچتول به ئې تر سينې پوري. او همدا صحيح ده وئيلى دى ابوداود او نقل كړى دى ابن سعد او مالک او ايوب او ابن جريج موقوف، او مسند ذكر كړى دى حماد بن سلمه يواځې د ايوب نه، او نه دى ذكر كړى ايوب او مالک رفع چې كله به پاڅيدلو د دوه سجدو نه. او ذكر كړى دى ليث په خپل حديث كښې، وئيلى دى ابن جريج په هغې كې. ما وويل نافع ته ايا وو ابن مر چې

(١): سنن النسائي/الافتتاح ١٧٧ (١١٤٧)، (تحفة الأشراف: ٥٧١٩) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الأذان ٨٣ (٧٣٩)، (تحفة الأشراف: ٨٠١٧، ٨٣٩٦) (صحيح)

کرځولو به ئې اولنۍ اوچت؟ هغه ووېل: نه برابر، ما ووېل ماته اشاره وکړه نو هغه اشاره وکړه ثډيينو ته او يا لاندې د هغې نه.

حديث ابن عمر رضي الله عنه بطريق نافع

قوله:(حدثنا نصر بن علي اخبرنا عبد الاعلى) دا د ابن عمر هغه دويم حديث دې کوم چه په طريق د نافع دې، بالکل په شروع کښې چه مرفوعا راغلې وو هغه په طريق د سالم وو او دا موقوف دې، بيا د نافع په شاګردانو کښې هم اختلاف دې بعض دا حديث د نافع نه مرفوعا او بعض موقوفا روايت کوی، پس د مصنف د بيان مطابق ليث بن سعد، مالک بن انس، ايو سختيانی، ابن جريج، دا ټول ئې د نافع نه موقوفا روايت کوی، د نافع يو شاګرد بل دې عبيدالله د هغه روايت مختلف دې، د عبيدالله د شاګردانو اختلاف دې، پس عبدالاعلى دا حديث د عبيدالله نه مرفوعا او عبدالوهاب الثقفی موقوفا نقل کړې دې، امام بخاری رحمه الله په صحيح بخاری کښې د عبدالاعلى روايت اخستلې دې، او ددې په تائيد کښې حماد بن سلمه عن ايوب عن نافع روايت پيش کړې شوې دې ځکه چه حماد هم دا د ايوب نه مرفوعا روايت کړې دې، د امام ابوداود رحمه الله د کلام نه معلومېږی چه د ايوب سختيانی ټول شاګردان دا حديث موقوفا روايت کوی، سوا د حماد نه چه هغه دا روايت د ايوب نه مرفوعا نقل کړې دې.

الغرض د امام ابوداود په نزد د نافع د روايت موقوف کيدل اصح دی په نسبت د مرفوع کيدو، او د امام بخاری رحمه الله رائې ددې برعکس ده، خو د امام ابوداود رائې د کثرت متابعات د وجې نه زياته قوی معلومېږی.

[٧٤٢]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، "أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا ابْتَدَأَ الصَّلَاةَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا دُونَ ذَلِكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرْ رَفَعَهُمَا دُونَ ذَلِكَ أَحَدٌ غَيْرُ مَالِكٍ فِيمَا أَعْلَمُ.

ترجمه: د نافع نه روايت دې، بيشکه عبد الله بن عمر وو چې کله به ئې شروع کولو مونځ نو اوچتول به ئې لاسونه برابر د اوږو، او چې کله به ئې اوچت کړو سر خپل د رکوع نه نو دواړه به ئې اوچتول کم د هغې نه. وئيلی دی ابوداود: نه دی ذکر کړی هغه «رفعهما دون ذلک» هيچا بغير د مالک نه ځو مره چې ماته پته ده.

باب بلا ترجمة

په بعض نسخو کښې ترجمة الباب مذکور دې، باب من ذکر انه يرفع يديه اذا قام من الثنتين يعنی رفع عند القيام من الرکعتين، د اول تشهدنه د پاسيدو په وخت باندې رفع يدين کول،

[٧٤٣]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ

[1]: انظر حديث رقم: (٧٢١)، (تحفة الأشراف: ٨٠١٧، ٨٣٩٦) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٤١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٥/٢)، البخاري في رفع اليدين (٢٥)(صحيح)

وَرَفَعَ يَدَيْهِ".

ترجمه: د ابن عمر ﷠ نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چې کله به پاڅيدلو د دوه رکعاتو نه تکبير به ئې وويلو او لاسونه به ئې اوچت کړل.

تشريح: مصنف په دې باب کښې اولا د ابن عمر ﷠ حديث ذکر کړو چه په هغې باندې کلام زمونږ د طرف نه په شروع کښې راغلې دې، او دويم ئې د علی ﷠ حديث ذکر کړو (عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله عليه وسلم انه کان اذا قام الی الصلاة المکتوبة ...الخ)

[٧٤٤]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْهَاشِمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَيَصْنَعُ مِثْلَ ذَلِكَ إِذَا قَضَى قِرَاءَتَهُ وَأَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ، وَيَصْنَعُهُ إِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ، وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ صَلَاتِهِ وَهُوَ قَاعِدٌ، وَإِذَا قَامَ مِنَ السَّجْدَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ كَذَلِكَ وَكَبَّرَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد فِي حَدِيثِ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ حِينَ وَصَفَ صَلَاةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ.

ترجمه: علی بن ابی طالب ﷠ روايت کوی د رسول الله ﷺ نه بيشکه هغه وو چې کله به پاسيدلو فرض مونځ ته نو تکبير به ئې وويلو اولاسونه به ئې اوچت کړل برابر د اوږو، او کول به ئې داسې چې کله به ئې خپل قرأت پوره کړو او اراده د رکوع به ئې وکړه، او کول به ئې چې کله به اوچت شو د رکوع نه، او نه به ئې اوچتول لاسونه په هيڅ ځائې د مانځه کښې په داسې حال کښې چې هغه به ناست وو، او چې کله به ودريدو د دوه سجدو نه نو اوچت ئې کړل لاسونه همدغه رنګ او تکبير به ئې ويلو. وئيلی دی ابوداود په حديث د ابو حميد الساعدی کښې چې کله ئې طريقه بيانوله د مونځ د نبی ﷺ کله چې به هغه پاڅيدلو د دوه رکعاتو نه تکبير به ئې ويلو او لاسونه به ئې اوچت کړل تردې چې برابر به ئې کړل د اوږو سره لکه څرنګه چې به ئې تکبير ويلو په وخت د افتتاح د مانځه کښې

د رفع يدين پنځم حديث، حديث علی ﷠

په دې حديث کښې د مواضع ثلاثه نه علاوه رفع عند القيام من السجدتين ذکر شوې دې چه د هغې په ائمه اربعه کښې څوک هم قائل نه دی، دا ډير قوی اشکال دې هم په دې وجه اکثر محدثين ددې تاويل کوی چه د سجدتين نه مراد رکعتين دې، البته خطابی دا تاويل نه دې کړې هغه سجدتين په خپله معنی کښې ساتلو سره اشکال کړې دې (لا اعلم احدا من الفقهاء قال به)، ابن رسلان وئيلې دی چه د سجدتين نه مراد رکعتين دی، او خطابی په طرق حديث باندې خبر نه شو ګينې هغه به دا په رکعتين باندې محمول کړې وې

( ): صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٧١)، سنن الترمذي/الدعوات ٣٢ (٣٤٢١، ٣٤٢٢، ٣٤٢٣)، سنن النسائي/الافتتاح ١٧(٨٩٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٥(٨٦٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٤(١٦)، مسند احمد (٩٣/١) سنن الدارمي/الصلاة ٣٣ (١٢٧٤) (حسن صحيح)

د حديث علي رضي الله عنه جوابات

بهرحال د قائلين رفع په نزد دا لفظ موجب خلجان وتشويش دي، چه د هغې تاويل باندې هغوى مجبور دى ګینې دا حديث به د هغوى خلاف وي، بل جواب دا دې چه ددې حديث په سند کښې عبدالرحمن بن ابى الزناد دې کوم چه ضعيف دې ﴿ قال ابو حاتم لا يحتج به ﴾ په تقريب التهذيب کښې ليکلي دى صدوق تغير حفظه لما قدم بغداد، دريم جواب هغه دې کوم چه ابن التركمانى د سنن بيهقى په حاشيه الجوهر النقى فى الرد على البيهقى کښې وركړې دې چه دا حديث د موسى بن عقبه نه ابن جريج د ابن ابى الزناد خلاف روايت كړې دې.

پس د هغه په روايت کښې ركوع ته د تلو په وخت او د ركوع نه د پاسيدو په وخت رفع يدين مذكور نه دې، حال دا چه ابن جريج د ابن ابى الزناد نه ډير اوچت دې.

د امام طحاوي رحمه الله رائې

او ځلورم جواب ددې حديث هغه دې كوم چه امام طحاوي رحمه الله اختيار كړې دې هغه د علي رضي الله عنه ددې حديث معارضه كړې ده د علي رضي الله عنه د هغه روايت فعلى سره كوم چه عاصم بن كليب روايت كوى د خپل پلار نه ﴿ ان عليا كان يرفع يديه في اول تكبيرة من الصلاة ثم لا يرفع ﴾ امام طحاوي رحمه الله فرمائي چه هر كله علي رضي الله عنه خپله د رفع اليدين والا حديث مرفوع راوى دې او بيا ددې خلاف عمل كوى نو دا سراسر د نسخ دليل دې ځكه چه دا ممكنه نه ده چه علي رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم په رفع اليدين كولو باندې وينى او بيا بغير د علم بالنسخ نه ترک كړى.

قوله: ﴿ قال ابوداود فى حديث ابى حميد الساعدى الخ ﴾ مصنف فرمائي چه په حديث د علي رضي الله عنه کښې د سجدتين نه مراد ركعتين دى لكه چه د ابو حميد په روايت کښې ددې تصريح ده خو مونږ وايو چه ايا په ډيرو احاديثو کښې رفع عند السجود نه ده ذكر شوې؟ ايا په ټولو ځايونو کښې به تاسو داسې كوئ او په كومو رواياتو کښې چه دواړه ذكر شوې دى هلته به څه كيږى.

د رفع يدين حديث سادس

[۷۴۵]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ نَصْرِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِذَا كَبَّرَ وَإِذَا رَكَعَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ حَتَّى يَبْلُغَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ".

ترجمه: د مالک بن الحويرث نه روايت دې نه روايت دې هغه وئيلى دى، ما وليدلو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې اوچتول ئې لاسونه خپل چې كله به ئې تكبير وكړو او چې كله به ئې ركوع وكړه، او چې كله به ئې سر اوچت كړو د ركوع نه تردې چې وبه ئې رسول دواړه څوكو د غوږونو ته.

۱): صحيح مسلم/الصلاة ۹ (۳۹۱)، سنن النسائي/الافتتاح ٤ (۸۸۱)، ۸۵ (۱۰۲۵)، التطبيق ۱۸(۱۰۵۷)، ۳٦ (۱۰۸٦)، ۸٤ (۱۱٤٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵ (۸۵۹)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۸٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ۸٤ (۷۳۷)، مسند احمد (۳/٤٣٦، ٤٣٧، ۵/۵۳)، سنن الدارمي/الصلاة ٤۱ (۱۲۸٦) (صحيح)

تشريح: قوله: ﴿ واذا رفع راسه من الركوع حتى يبلغ بهما فروع اذنيه ﴾ دا د رفع يدين د سلسلې شپږم حديث دې، ددې تخريج امام بخاري او امام مسلم هم کړې دې، امام بخاري‌رحمه الله خو په صحيح بخاری کښې د رفع اليدين په باره کښې صرف دوه احاديث بيان کړې دی يو حديث د ابن عمر او بل حديث د مالک بن الحويرث، او امام مسلم‌رحمه الله ددې دواړو نه علاوه يو دريم روايت هم ذکر کړې دې، حديث د وائل بن حجر رضي الله عنه هغه تول درې روايتونه ذکر کړې دی.

په صحيح بخاری او صحيح مسلم کښې د رفع اليدين د رواياتو تعداد

هم ددې نه اندازه اولګوئ چه د امام بخاري‌رحمه الله په نزد د رفع اليدين په سلسله کښې صحيح او قابل اعتماد صرف دوه احاديث دی،او د امام مسلم په نزد درې، د حديث ابن عمر حال خو مخکښې معلوم شوې دې چه په هغې کښې سخت اضطراب او اختلاف دې سندا هم او متنا هم، او دويم حديث دا د مالک بن الحويرث رضي الله عنه دې په دې کښې اګر چه سخت اختلاف خو نشته خو شته په دې کښې هم، ځکه چه ددې حديث په بعض طرق کښې د نسائي په نزد رفع عند السجود موجود ده چه د هغې څوک هم قائل نه دی.

مالک بن الحويرث رضي الله عنه د بنو ليث په وفد کښې د هجرت په نهم کال باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو، په داسې حالت کښې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د غزوه تبوک تياری کوله، په بخاری شريف کښې دی چه هغه په مدينه منوره کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې شل ورځې قيام اوکړو او د هغې نه روستو ئې بصرې ته تشريف يوړلو تردې چه هم هلته وفات شو.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث وجه د ترجيح

اوس تاسو اوګورئ چه قيام خو ئې په مدينه منوره کښې شل ورځې وو، اخر د بهر سړې وو او بهر ته لاړو او هم دا حال د دريم صحابي وائل بن حجر رضي الله عنه دې لکه چه د هغه د روايت د لاندې مونږ ليکلې دی او بل طرف ته تاسو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته اوګورئ کوم چه قديم الاسلام او د کبار مهاجرين والبدريين نه دې، په جنګ بدر او په تولو جنګونو کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره شريک شوې دې صاحب سِرّ رسول الله صلى الله عليه وسلم او صاحب السواک والنعلين والمطهرة د هغه القاب دی. شلو کالو پورې سفرا او حضرا د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په باره کښې اوفرمائيل ﴿ رضيت لامتي ما رضي لها ابن ام عبد وسخطت لها ما سخط لها ابن ام عبد ﴾ سيدنا عمر رضي الله عنه هغه د کوفې قاضي او معلم جوړ کړې وو او د هغه خائې د بيت المال خزانچي، خلفاء راشدين د هغه نه احاديث روايت کوی، اوس تاسو ته اختيار دې چه تاسو د يو داسې صحابي روايت اخلئ کوم چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې صرف شل ورځې پاتې شوې وی او که د داسې صحابي کوم چه تر شلو کالو پورې مسلسل په خدمت کښې حاضر وو.

نحن بما عندنا وانت بما عندک راض والرای مختلف

اوګوري امام بخاري رحمه الله په جزء رفع اليدين کښې که هر څومره روايات راجمع کړي وي خو هغه په صحيح بخاري کښې د خپل ځان سره صرف دوه رواياتو ته د صحت حق ادا کړو او هغه ئې ذکر کړل، او امام مسلم په دې باندې د يو حديث اضافه فرمائي.

[٧٤٦]() حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَرْوَانَ، حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ الْمَعْنَى، عَنْ عِمْرَانَ، عَنْ لَاحِقٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ "لَوْ كُنْتُ قُدَّامَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَأَيْتُ إِبْطَيْهِ"، زَادَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، قَالَ: يَقُولُ لَاحِقٌ: أَلَا تَرَى أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ، وَلَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَكُونَ قُدَّامَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ وَزَادَ مُوسَى بْنُ مَرْوَانَ الرَّقِّيُّ يَعْنِي: إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ.

ترجمه: د بشير بن نهيک نه روايت دې هغه وئيلي دي، چې وئيلي دي ابوهريرة: که چرې وم زه مخې د نبي ﷺ ته نو ما به خامخا ليدلې وو تخرګونه د هغه. زيادت کړې دی عبيد الله بن معاذ، هغه به وئيل چې دا لَاحِقٌ دې، ايا ته نه ګورې چې هغه په مانځه کښې دې او طاقت نه لرې چې د رسول الله ﷺ مخې ته شي، او زيادت کړې دی موسى بن مروان الرقي، يعنی کله چې به ئې تکبير وکړو نو لاسونه به ئې اوچت کړل.

شرح حديث

قوله:(قال ابوهريره لو كنت قدام النبى صلى الله عليه وسلم لرايت ابطيه) يعنی رسول الله ﷺ به د تکبير تحريمه په وخت لاس ښه طريقې سره اوچتولو په داسې طريقه چه که يو سړې نبي ﷺ ته مخامخ اودريږي او د رفع په وخت د هغه نظر په نبي ﷺ باندې وی نو هغه سړې د هغه ترخونو ته کتلې شي، مګر څونکه د مونځ په حالت کښې مقتدی د امام نه وړاندې کيدې نه شي نوځکه (لو كنت) وائي.

قوله:(وزاد موسى يعني اذا كبر رفع يديه) د مصنف استاذ په اول سند کښې ابن معاذ دې، او دويم سند کوم چه د حاء تحويل نه روستو دې په هغې کښې موسی بن مروان دې، نو مصنف وائی د موسی په روايت کښې دا زيادت "يعنی اذا كبر رفع يديه" او دا تشريح په ظاهره کښې د ابوهريره رضي الله عنه نه لاندې راوی بشر بن نهيک د طرف نه ده، بشير بن نهيک د ابوهريره رضي الله عنه د بيان کړی روايت توضيح کوی، چه د ابوهريره رضي الله عنه مراد دا دې.

حديث ابن مسعود بطريق عبدالله بن ادريس

[٧٤٧]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: "عَلَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ، فَكَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، فَلَمَّا رَكَعَ طَبَّقَ يَدَيْهِ بَيْنَ رُكْبَتَيْهِ"، قَالَ: فَبَلَغَ ذَلِكَ سَعْدًا، فَقَالَ: صَدَقَ أَخِي، قَدْ كُنَّا نَفْعَلُ هَذَا ثُمَّ أُمِرْنَا بِهَذَا، يَعْنِي الْإِمْسَاكَ عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ.

ترجمه: وئيلي دی عبد الله اوښودلو مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ او تکبيريې وکړو او لاسونه ئې اوچت کړل، چې کله ئې رکوع وکړه نو لاسونه ئې جوخت کړل په مابين د

---

[1]: سنن النسائي/التطبيق ٥١ (١١٠٨)، (تحفة الأشراف: ١٢٢١٥) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/التطبيق ١ (١٠٣٦)، (تحفة الأشراف: ٣٩٠٧، ٩٤٦٩) (صحيح)

زنګونانو کښې. هغه ووېل: دا خبره ورسيده سعد بن ابي وقاص ته، هغه ووېل: رشتيا ووېلي دې زما ورور، يقينا وو مونږ چې مونږ به روميې داسې کول بيا ئې راته حکم وکړو په دې، يعني: نېول د زنګونانو.

تشريح: دا د باب رفع اليدين اخرى حديث دې، خو په دې کښې رفع اليدين عند الرکوع نشته څکه چه دا د عبدالله بن مسعود ﷜ حديث دې، ، او د هغه په يو روايت کښې هم د تکبير تحريمه نه علاوه رفع اليدين نشته، بيا مصنف دا روايت په دې باب کښې دلته ولې راوړې دې، شارحينو ددې سره هيڅ قسم تعرض نه دې لرلې، د بنده خيال دا دې چه مقصد په ظاهره کښې دا دې چه اوس ددې نه پس متصلا عدم رفع اليدين باب راروان دې چه په هغې کښې مصنف د عبدالله بن مسعود ﷜ حديث راوړې دې، په دې حديث کښې د فريق مخالف د طرف نه چه کوم اعتراضات دی په هغې کښې يو اعتراض دا دې چه په دې حديث کښې سفيان ثوری ته وهم راغلې دې، اصل حديث داسې نه دې څنګه چه هغه بيان کړې دې بلکه صحيح هغه دې کوم چه ابن ادريس د عاصم بن کليب نه بيانوی، پس دا حديث کوم چه مصنف دلته په دې باب کښې راوړې دې هغه د ابن ادريس په طريق سره دې او په هغې کښې د عدم رفع اليدين صرف تطبيق فى الرکوع مذکور دې، لهذا د عبدالله بن مسعود ﷜ کوم حديث چه احناف پيش کوی هغه بالکل غلط دې [1] اوس دا چه د مصنف رائې په دې کښې څه ده نو ممکنه ده چه مصنف هم دې طرف ته اشاره کوی چه اصل روايت خو د ابن ادريس دې خو ظاهره دا ده چه مصنف دا وئيل غواړی چه دا دواړه احاديث مستقل او جدا جدا دی، د سفيان روايت ته وهم وئيل غلط دی. والله تعالى اعلم ۱۲

د تطبيق فى الرکوع نسخ

د دې نه پس په دې خان پوهه کړئ چه تطبيق عند الرکوع د جمهورو په نزد منسوخ دې، خو ابن مسعود ﷜ به کولو هم دغه شان په مصنف ابن ابي شيبه کښې د مصنف نه تخيير منقول دې، هغه فرمائی چه مصلی ته اختيار دې، په رکوع کښې که وضع الايدی على الرکب کوی يا تطبيق، ددې نه معلوميږی چه هغه هم د جواز تطبيق قائل وو (كذا فى البذل عن العينى) لهذا دا چه اهل حديث وائی چه ممکنه ده د ابن مسعود ﷜ نه به رفع اليدين هير شوې وی څنګه چه ترې تطبيق هير شوې وو سراسر غلط دې، اوګورئ د علی ﷜ نه هم تخيير منقول دې.

بَابُ مَنْ لَمْ يَذْكُرِ الرَّفْعَ عِنْدَ الرُّكُوعِ

باب دې په بيان د هغه چا کښې چې نه يې دی ذکر کړی رفع اليدين په وخت د رکوع کښې

[٧٤٨] [2] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمٍ يَعْنِي ابْنَ كُلَيْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ: "أَلَا أُصَلِّي بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ:

---

[1] د اعتراض جواب او د هغې تحقيق په راروان باب کښې په تفصيل سره راځي. ۱۲

[2] : سنن الترمذي/الصلاة ٧٩ (٢٥٧)، سنن النسائي/الافتتاح ٨٧ (١٠٢٧)، التطبيق ٢٠ (١٠٥٩)، (تحفة الأشراف: ٩٤٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٨٨، ٤٤١)، وقد أخرجه البخاري في رفع اليدين (٣٢) (صحيح)

فَصَلّٰى، فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا مَرَّةً"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هٰذَا حَدِيثٌ مُخْتَصَرٌ مِنْ حَدِيثٍ طَوِيلٍ وَلَيْسَ هُوَ بِصَحِيحٍ عَلٰى هٰذَا اللَّفْظِ.

ترجمه: د علقمة نه روايت دې هغه وئيلى دى، چې وئيلى دى عبد الله بن مسعود: ايا زه تاسو ته ونه كړم مونځ د رسول الله ﷺ هغه وويل: نو مونځ ئې وكړو او لاسونه ئې اوچت نه كړل مګر يو ځل. وئيلى دى ابوداود: دا حديث مختصر كړې شوې دې د اوږد نه او دا په دې الفاظو سره صحيح نه دى.

تشريح: **قوله**: ﴿ الا اصلى بكم صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ د دې حديث تخريج د مصنف نه علاوه امام ترمذى او امام نسائى دواړو كړې دې، هم دغه شان دا روايت په مسند احمد، طحاوى شريف، سنن بيهقى او مصنف ابن ابى شيبة كښې دى، امام نسائى خو ددې تخريج مكرر په دوه بابونو كښې كړې دې او په دواړو باندې ئې د ترک رفع باب قائم كړې دې.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حديث باندې اعتراضات او د هغې جوابات

په دې حديث باندې د فريق مخالف نه ډير اعتراضات كړې شوې دى، كوم چه مونږ ترتيب وار سره د جواب نه ذكر كوو، والله التوفيق

النقد الاول:

امام ترمذى، جامع ترمذى كښې فرمائى: قال عبدالله بن المبارک قد ثبت حديث من يرفع وذكر حديث الزهرى عن سالم عن ابيه، ولم يثبت حديث ابن مسعود ان النبى صلى الله عليه وسلم لم يرفع الا فى اول مرة. زمونږ د طرف نه ددې درې جوابونه وركړې شوې دى، حضرت ګنګوهى په كوكب كښې جواب كړې دى چه دا جرح مبهم ده، فلا يعتبر. هم په دې وجه باندې امام ترمذى رحمه الله هم دې طرف ته التفات نه دې كړې او د حديث ابن مسعود رضي الله عنه تحسين ئې فرمائيلې دې. دويم جواب هغه دې كوم چه علامه شوق نيموى وغيره علماء احناف د كلام نه معلوميږى، هغه دا چه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه دوه قسم روايتونه روايت شوې دى يو روايت د هغه نه د رواية الفعل د قبيل نه دې كوم چه مرفوع صريح دې ﴿ ان النبى صلى الله عليه وسلم لم يرفع يديه الا مرة ﴾ او دويم روايت د هغه نه په طور د حكاية الفعل دې چه د هغې الفاظ دا دى ﴿ الا اصلى بكم صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: فصلى فلم يرفع يديه الا فى اول مرة ﴾ دا مرفوع حكمى دې، امام ابوداود، ترمذى او نسائى دا حديث داسې روايت كړې دې نو د عبدالله بن مبارک نقد په مرفوع صريح باندې دې په دې دويم روايت باندې نشته، ځكه چه دويم روايت عبدالله بن مبارک خپله روايت كوى د سفيان نه لكه چه د نسائى په روايت كښې دى. بيا چه كوم حديث هغه خپله روايت كوى هغه دې ته غير ثابت ځنګه وئيلې شى، دې خبرې طرف ته اشاره د امام ترمذى رحمه الله د كلام نه هم مستفاد كيږى، ځكه چه امام ترمذى رحمه الله د عبدالله بن مبارک نقد چه په كوم حديث باندې نقل كړې دې دهغې الفاظ هغوى دا نقل كړې دى چه د هغې په اعتبار سره هغه مرفوع صريح دې او بيا

وړاندې تلو سره امام ترمذی د عبدالله بن مسعود ﷺ هغه حديث ذکر فرمائيلي دې، کوم چه مرفوع حکمی دې او دهغې په باره کښې فرمائی چه حديث ابن مسعود ﷺ حديث حسن، په دې صورت کښې امام ترمذیﷺ او د عبدالله بن مبارک په قول کښې به تخالف هم نه وی، او دريم جواب ددې دا دې کوم چه ابن دقيق العيد مالكى ثم الشافعى د خپل کتاب "الامام فی احاديث الاحکام" کښې ورکړې دې چه ددې حديث د عبدالله بن مبارک په نزد ثابت نه کيدل، زمونږ ددې په سند کښې نظر کولو نه مانع نه دې، مونږ گورو چه ددې حديث مدار په عاصم بن کليب باندې دې او يحيى بن معين ئې توثيق کړې دې، زه وائم چه عاصم بن کليب سنن اربعه او د مسلم په راويانو کښې دی لکه چه په الکاشف کښې دی، او د تقريب التهذيب او خلاصه نه معلوميږی چه د هغوی روايت امام بخاریﷺ تعليقا اخستلې دې، هم دغه شان د علی بن المدينی رائې د هغوی په باره کښې دا ده چه که عاصم متفرد نه وی نو حجت دې، او دلته هغه متفرد نه دې بلکه د هغه متابعت په دارقطنی او بيهقی وغيره کښې موجود دې.

النقد الثاني :

حافظ منذری فرمائی چه ﴿ لم يسمع عبدالرحمن بن علقمة ﴾ لهذ د حديث په سند کښې انقطاع ده ددې جواب ابن دقيق العيد دا ورکوی "هذا النقد عن رجل مجهول وقد تتبعت هذا القائل فلم اجده" چه دا اشکال د يو مجهول سړی د طرف نه دې مونږ ته ددې د قائل پته نشته چه څوک دې، هم دغه شان دا سند ابن ابی حاتم په مراسيل کښې نه دې ذکر کړې، که سماع ثابت نه وې نو هغه به ضرور په داسې مراسيل کښې ذکر کړې وې، او البته کتاب الجرح والتعديل کښې ذکر کړې دې، او هلته ليکلې دی چه عبدالرحمن بن الاسود عائشهﷺ په وړوکوالی کښې ليدلې وه، او د هغې نه ئې هيڅ نه دی اوريدلی، بيا وړاندې ليکی ﴿ وروی عن ابيه وعلقمة ﴾ او دا ئې نه دی وئيلی ﴿ مرسلا ﴾

ابن دقيق العيد فرمائی چه په سماع کښې څه تردد دې او د عبدالرحمن او ابراهيم النخعی همزولې دې او د ابراهيم نخعی سماع د علقمه نه بالاتفاق ثابت ده او د ټولو باوجود دا دې چه خطيب بغدادی په کتاب المتفق والمفترق کښې د عبدالرحمن په ترجمه کښې تصريح کړې ده، انه سمع اباه وعلقمة.

النقد الثالث :

يحيى القطان په کتاب الوهم والايهام کښې ليکلې دی چه امام ترمذی د ابن مبارک نه اګر چه نقل کړې دی چه دا حديث د وکيع صحيح نه دې، خو زما په نزد صحيح دې په دې کښې قابل اشکال څيز په وکيع باندې د ﴿ ثم لا يعود ﴾ زيادت دې، او دارقطنی هم ددې قسم خبره ليکلې ده، او امام احمدﷺ هم زمونږ د طرف نه دا جواب کړې دې چه وکيع په دې کښې متفرد نه دې بلکه ددې متابعت ئې کړې دې په دې کښې ابن المبارک عند النسائی او معاويه او خالد بن عمرو او ابوحذيفه درې واړو د سنن ابی داود په روايت کښې.

النقد الرابع

امام بخاري او ابو حاتم رازي په دې حديث باندې دا اعتراض کړې دې چه په دې حديث کښې سفيان ثوري ته وهم راغلې دې، اصل حديث هغه دې کوم چه عبدالله بن ادريس نقل کړې دې د عاصم بن کليب نه، دا دواړه ابن ادريس او ثوري د عاصم شاګردان دی، سفيان ثوري دا حديث د هغه نه بل شان روايت کوی او عبدالله بن ادريس بل شان، د ابن ادريس والا روايت هم هغه دې کوم چه مونږ سره د باب سابق بالکل اخر کښې تير شو چه د هغې په باره کښې مونږ وئيلې وو چه مصنف دا حديث دلته د سفيان ثوريؒ د روايت د تقابل دپاره راوړې دې، او په دې حديث کښې د عدم رفع اليدين هيڅ ذکر نشته بلکه تطبيق فی الرکوع مذکور دې چه د هغې عبدالله بن مسعودؓ قائل وو

حفظ راوي ته د هغه په کتاب باندې ترجيح ده يا برعکس

او د حديث ابن ادريس وجه ترجيح امام بخاريؒ دا بيان فرمائيلې دې ﴿ انه عن کتاب والکتاب احفظ ﴾ چه د ابن ادريس والا حديث د کتاب ابن ادريس مطابق دې [1] او سفيان ثوري ئې د خپل حفظ نه بيانوی، لهذا ما فی الکتاب ته به په ما فی الحفظ باندې ترجيح وی، ددې جواب زمونږ د طرف نه دا کړې شوې دې چه اول خو دا صحيح نه ده چه ﴿ الکتاب احفظ﴾ بلکه د جمهور اهل اصول مسلک دا دې چه "حفظ الرجل مقدم علی کتابه اذا سمع من فم الشيخ" يعنی که د يو راوی حفظ او کتاب کښې تخالف وی نو په دې صورت کښې به ما فی الحفظ مقدم وی په ما فی الکتاب باندې په دې شرط چه هغه د خپل شيخ نه بالمشافه اوريدلې وی او د حفظ بناء په کتاب باندې نه وی، او که اومنلې شی چه کتاب ته په حفظ باندې ترجيح وی، نو خپل کتاب ته به په خپل حفظ باندې ترجيح وی نه د بل يو راوی په حفظ باندې، بيا د ابن ادريس کتاب ته د ثوري په حفظ باندې ترجيح څنګه کيدې شی، فيا للعجب! او بيا دا کتل پکار دی چه د سفيان ثوري مقام څه دې، هغه د ابن ادريس نه اوچت دې، دغه شان په دې هم نه پوهيږو چه آخر د ابن ادريس د روايت د سفيان ثوري د روايت سره تقابل ولې کولې شی حال دا چه د دواړو مضمون مختلف دې، ايا دا دواړه مستقل جدا جدا احاديث نه شی کيدې چه د ترجيح سوال هم پيدا نه شی، او که بيا دواړه احاديث متحد ساتئ نو د سفيان ثوري حديث ته ترجيح ورکول پکار دی د ابن ادريس په حديث باندې، ايا د امين بالجهر په مسئله کښې د شعبه او سفيان ثوري په اختلاف کښې تاسو د سفيان ثوري روايت ته د شعبه په روايت باندې ترجيح نه ده ورکړې؟ حال دا چه شعبه خپله د سفيان برابر دې هلته خو امام بيهقی وغيره فرمائيلې وو چه د ټولو علماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه کله په سفيان او شعبه کښې اختلاف وی نو فالقول قول سفيان، نو هر کله چه د شعبه په مقابله کښې د سفيان روايت ته ترجيح ورکولې شی نو د ابن ادريس په

[1] يحيی بن ادم وائی چه ما د ابن ادريس کتاب اوليدو نو په هغې کښې مې دا روايت هم دغه شان بيا موندلو.

مقابله کښې خو په طريق اولی ورکول پکار دی.
او ددې يو جواب هغه دې کوم چه علامه زيلعي اختيار کړې دی هغه دا چه امام بخاري او امام ابو حاتم رازی فرمائی چه په دې کښې سفيان ته وهم راغلې دې، او بل طرف ته ابن القطان فرمائی چه دا حديث خو صحيح دې خو وکيع ته په دې کښې وهم شوې دې، اوس به د چا خبره منلې شی د ناقدين په قول کښې خپله تعارض دې، کوم چه د تساقط سبب دې، لهذا اصل حديث طرف ته به رجوع کولې شی، او هغه صحيح دې لوروده عن الثقات، ځکه چه ددې حديث ټول راويان سوا د عاصم بن کليب نه د صحيحين راويان دی او عاصم احد الصحيحين يعنی د مسلم راوی دې.

قصة الامام الاوزاعي مع الامام ابي حنيفة

هم دغه شان ددې حديث يو بل سند دې چه هغې سره دې ته مزيد تقويت ملاويږی او هغه په دې قصه کښې ملاويږی کومه چه د امام اوزاعی د امام ابوحنيفه سره پيښه شوې وه، قصه مشهوره ده کومه چه علامه ابن الهمام په فتح القدير کښې ذکر کړې ده، او په امانی الاحبار کښې مولانا محمد يوسف صاحب د جامع مسانيد الامام په حوالې سره نقل کړې ده، هغه دا چه يو ځل امام صاحب د امام اوزاعی سره په مکه مکرمه دار الحناطين کښې جمع شو، امام اوزاعی د امام صاحب نه تپوس اوکړو چه تاسو رفع اليدين ولې نه کوئ؟ امام صاحب اوفرمائيل، ځکه چه دا د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دی، په دې باندې اوزاعی اوفرمائيل: ﴿ وکيف لم يصح وقد حدثنی الزهری عن سالم عن ابيه ان رسول الله صلی الله عليه وسلم الحديث ﴾ په دې باندې امام صاحب اوفرمائيل ﴿حدثنا حماد عن ابراهيم عن علقمه عن الاسود عن عبد الله بن مسعود ﴾ د امام اوزاعی د نقد حاصل دا دې چه زه چه کوم حديث پيش کوم يعنی حديث ابن عمر د هغې سند عالی دې، په هغې کښې زما او د صحابی ترمينځه صرف دوه واسطې دی او ته چه کوم حديث پيش کوې د هغې سند سافل دې په هغې کښې درې واسطې دی، په دې باندې امام صاحب اوفرمائيل چه زما د سند راويان افقه دی ستا د سند د راويانو نه، پس حماد افقه دې د زهری نه، ابراهيم نخعی افقه دې د سالم نه او علقمه د ابن عمر نه کم نه دې ﴿ من حيث الفقه ﴾ اگر چه د ابن عمر درجه د صحبت د وجې نه اوچته ده ﴿ وعبدالله عبدالله ﴾ او د عبد الله بن مسعود به څه وائې! د هغه فضيلت بيان ته محتاج نه دې.

النقد الخامس :

د علامه شوکانی وغيره بعض متاخرين اهل حديث د طرف نه دا اشکال کولې شی چه دې حديث ته امام ابوداود وغيره هم غير صحيح وئيلې دې پس په بعض نسخو کښې دی ﴿قال ابوداود هذا حديث مختصر من حديث طويل وليس هو بصحيح علی هذا اللفظ علی هذا المعنی ﴾ د دې په باره کښې عرض دا دې چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې ليکی چه دا عبارت نه خو په يوه نسخه هنديه مطبوعه کښې شته او نه په نسخه مصريه کښې، صرف د نسخه مجتبائيه په حاشيه باندې ليکلې شوې دې، لهذا ددې عبارت د مصنف د طرف نه په

کیدو کښې قوی شک دې، ظاهره ده چه دا عبارت مدسوس دې چه په دې کښې د کوم خائې نه دسیسه (دهوکه) شوې ده،او که دا ثابت اومنلې شی نو دا به ونیلې شی چه د مصنف غرض د صحت اصطلاحی نفی ده کوم چه د حدیث د حسن کیدو منافی نه دې، حدیث صحیح او حسن دواړه متقابل قسمونه دی، پس امام ترمذی هم ددې حدیث تحسین کړې دې، حضرت خو په بذل کښې هم دا لیکلي دی، زه وائم چه د امام ابوداود ددې تضعیف ذکر ماته په متقدمینو لکه د امام بیهقی او حافظ ابن حجر وغیره په کلام کښې ملاؤ نه شو، که د هغه حضراتو په نسخه کښې عبارت وې نو ظاهره ده چه هغوی به هم دا کلام نقل کړې وې، حضرت چه دا لیکلې دی چه د صحت اصطلاحیه نفی ده ددې ډیرو علماء کرامو تصریح کړې ده چه په احادیث د احکام او سنن کښې چه کله (لیس بصحیح) ونیلې شی نو په دې سره مقصود د صحت اصطلاحیه نفی وی، البته په کتب موضوعات کښې چه کله دا لفظ ونیلې شی نو ددې نه بې اصل او باطل کیدل مراد وی خو زما خیال دا دې چه د امام ابوداود ددې عبارت د نقد حاصل هم هغه دې کوم چه امام بخاری او ابو حاتم کړې دې، چه اصل حدیث هغه دې کوم چه ابن ادریس روایت کړې دې، او غالبا مصنف د ابن ادریس حدیث ته د سفیان ثوری د روایت نه مخکښې د تیر شوی باب په اخر کښې هم په دې وجه ذکر کړې دې، خو اصل جواب هم دا دې چه دا عبارت الحاقی دې، د مصنف د طرف نه معلومیږی، ددې یوه قرینه دا هم ده چه وړاندې تلو سره مصنف دا حدیث په بل طریق سره ذکر کوی، چه په هغې کښې دې حدیث لره د سفیان نه روایت کونکې د وکیع نه علاوه نور راویان دی، معاویه، خالد بن عمرو او ابوحذیفه، که دا دعوی د عدم صحت د مصنف د طرف نه وې نو حدیث لره په طریق اخر سره د راوړلو څه معنی؟ پس صحیح ان شاء الله هم دا ده چه دا حدیث د امام ابوداود، ترمذی او نسائی درې واړو په نزد صحیح او ثابت دې، امام نسائی په دې حدیث باندې هیڅ قسم کلام نه دې کړې او د هغه عادت مستمره دې چه کوم حدیث د هغه په نزد خطاء وی په هغې باندې تنبیه کوی.

النقد السادس:

امام بیهقی د حاکم نه چه صاحب د مستدرک دې نقل کوی چه ددې حدیث په سند کښې عاصم بن کلیب ضعیف دې، په صحیحین کښې د هغه نه چا هم روایت نه دې کړې، علامه زیلعی په نصب الرایه کښې ددې جواب د ابن دقیق العید نه دا نقل کړې دې چه د حاکم دا خبره صحیح نه ده، امام مسلمؒ د هغه د حدیث تخریج کړې دې، پس د سیدنا علیؓ حدیث کوم چه د (هدی) په باره کښې دې، نور هم ددې نه علاوه د نورو روایاتو په سند کښې عاصم بن کلیب دې، دویم دا چه دا کله ضروری ده چه د هر ثقه راوی روایت دې په صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې موجود وی، هغه خپله په خپل مستدرک کښې د ډیرو داسې راویانو نه روایت راوړې دې چه د هغوی یو روایت هم په صحیحین کښې په یو کښې هم نشته، او د هغې باوجود هغه سند ته علی شرط الشیخین وائی.

بس صحیح صورتحال دا دې چه ددې حدیث د سند ټول راویان بیشکه ثقه او د صحیحین

راویان دی او د عاصم بن کلیب روایت امام بخاری رحمه الله په تعلیقات کښې اخستلې دې په امانی الاحبار کښې د عاصم توثیق د ډیرو ائمه حدیث نه نقل کړې دې او په اخر کښې د علی بن المدینی دا رائې چه عاصم که په کوم روایت کښې متفرد وی نو هغه حجت نه دې، او دلته هغه په دې حدیث کښې متفرد نه دې بلکه د هغه متابعت د دارقطنی، بیهقی او ابن عدی په روایت کښې موجود دې او په هغه متابعاتو باندې کوم چه د هغوی د طرف نه کلام دې، ددې ټولو جواب امانی الاحبار کښې تفصیل سره مذکور دې، دلته د هغې ټولو د ذکر کولو ګنجائش نشته، دا نیم درځن اشکالات او د هغې جوابات مونږ پوره په احتیاط او تحقیق سره ذکر کړل، یو اعتراض بل باقی پاتې شو کوم چه ددې قابل خو نه دې چه هغې ته تعرض اوکړې شی خو په کتابونو کښې مذکور دې په دې وجه به ئې ذکر کړو.

النقد السابع :

امام بیهقی د بعض علماء کرامو نه نقل کړې دی ﴿ لعل ابن مسعود نی رفع الیدین کما نسی نسخ التطبیق وغیره ﴾ جواب ظاهر دې چه کوم کار روزانه بلکه هر وخت وی په هغې کښې نسیان څنګه کیدې شی، هلته خو چه څه هم کیږی هغه به عمدا وی، امام بخاری رحمه الله خو د هغه معروف اثر کوم چه د ابن عمر نه په عدم رفع کښې روایت شوې دې هم دا جواب کړې دې چه ابن عمر نه څه وخت کښې رفع الیدین هیر شوې وی، دواړه خبرې داسې دی، د ابن عمر رضی الله عنه خو دا حال وو چه رسول الله ﷺ که په یوځائې کښې د سفر دوران کوزیدو سره اودس مات کړې وی نو هغه به ئې هم نه هیرولو بیا یو سنت څنګه هیرولې شی، حضرت سهارنپوری رحمه الله لیکلې دی چه د ابن عمر نسیان والا خبره نو هغه هم داسې ده لکه چه څوک زمونږ د طرف نه د رفع الیدین په سلسله کښې داسې اوائی چه هغه به کله کله د مچ پاسولو دپاره لاس اوچتولو.

[۷۴۹]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ، وَخَالِدُ بْنُ عَمْرٍو، وَأَبُو حُذَيْفَةَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا، قَالَ: فَرَفَعَ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: مَرَّةً وَاحِدَةً.

ترجمه: حسن بن علی وایی مونږ ته حدیث بیان کړې دې معاویة او خالد بن عمرو او حذیفه ټولو ویلی دي: مونږ ته حدیث بیان کړې دې سفیان په خپل اسناد سره د دې، هغه وئیلی دي: اوچت به ئې کړل لاسونه خپل په اول ځل کښې او وئیلی دی بعضو: یو ځل.

[۷۵۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ الْبَرَاءِ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَى قَرِيبٍ مِنْ أُذُنَيْهِ ثُمَّ لَا يَعُودُ".

ترجمه: د براء نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ ویلی دي: وو چې کله به ئې شروع د مانځه کوله نو لاسونه به ئې اوچت کړل نزدې د غوږونو ته، بیا به نه واپس کیدلو.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۲/٤، ۳۰۱، ۳۰۲، ۳۰۳) (ضعيف)
[۲]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۵) (ضعيف)

[۷۵۱] () حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ، نَحْوَ حَدِيثِ شَرِيكٍ، لَمْ يَقُلْ: ثُمَّ لَا يَعُودُ. قَالَ سُفْيَانُ، قَالَ لَنَا بِالْكُوفَةِ بَعْدُ: ثُمَّ لَا يَعُودُ، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ هُشَيْمٌ، وَخَالِدٌ، وَابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ يَزِيدَ لَمْ يَذْكُرُوا: ثُمَّ لَا يَعُودُ.

ترجمه: د یزید نه روایت دې پشان د حدیث د شریک، هغه پکې نه دی (ثم لا یعود) سفیان فرمائی چه بیا ئې مونږ ته په کوفه کښې روایت بیان کړو نو ﴿ ثم لا یعود ﴾ لفظ ئې بیان کړو. امام ابوداودرحمه الله فرمائی چه دا حدیث هشیم، خالد او ابن ادریس د یزید نه روایت کړې دې خو هغه حضرات د ﴿ ثم لا یعود ﴾ لفظ نه دې ذکر کړې.

د عدم رفع حدیث ثانی، حدیث البراءرضی الله عنه

قوله: ﴿ عن البراء ان رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾ دا د دې باب دریم حدیث دې چه د هغې راوی براء بن عازب رضی الله عنه په دې کښې صرف یو ځل رفع یدین مذکور دی، د ابوداود نه علاوه دا حدیث طحاوی، دارقطنی، بیهقی، مصنف ابن ابی شیبه کښې موجود دې. مصنف حدیث البراء په درې طریق سره ذکر کړې دې. ۱: یزید بن ابی زیاد عن عبدالرحمن بن ابی لیلی عن البراء. ۲: عیسی بن عبدالرحمن بن ابی لیلی عن ابیه عن البراء. ۳: حکم بن عتیبة عن عبدالرحمن بن ابی لیلی عن البراء... په طریق اول کښې د یزید نه روایت کونکې متعدد دی بعض د یزید نه ﴿ ثم لا یعود ﴾ روایت کړې دې او بعض نه دې کړې.

په حدیث البراء باندې د محدثینو کلام او د هغې جواب

پس شریک د یزید نه دا زیادت روایت کړې دې او ابن عیینه د هغوی نه دا زیادت نه ې نقل کړې بلکه دا ئې وئیلې دی چه یزید به په شروع کښې خو ﴿ ثم لا یعود ﴾ نه وئیل بیا چه کله په کوفه کښې هغه دیره شو او هلته ئې حدیث روایت کړو نو د اهل کوفه په تلقین ئې ﴿ ثم لا یعود ﴾ وئیل شروع کړل، امام ابوداودرحمه الله فرمائی هم دغه شان هشیم، خالد او ابن ادریس هم د یزید نه دا زیادت نه دې نقل کړې،

(دوه اشکالات)

خلاصه دا چه دلته دوه اشکاله دی اول خو تفرد او دویم دا یزید یزید،

(د ږومبي اشکال نه جواب)

زمونږ د طرف نه ددې جواب دا کړې شوې دې (کما فی البذل عن الجوهر النقی) چه شریک متفرد نه دې، پس ابن عدی په الکامل کښې لیکی : رواه هشیم وشریک وجماعة معهما عن یزید باسناده وقالوا فیه ثم لا یعود... هم دغه شان اسماعیل بن زکریا او ابو اسحاق متابعت کړې دې د شریک لکه چه د بیهقی او دارقطنی په روایت کښې دی،

[۱]: انظر حدیث رقم: (۷۴۸)، (تحفة الأشراف: ۹۴۶۸) (صحیح)

(د دويم اشکال نه جواب)

او دويم اشکال يعنی د تلقين يزيد جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه دا حديث د عبدالرحمن بن ابی ليلی نه د يزيد نه علاوه دوه روايت کونکی نور دی خپله هم په دې کتاب (ابوداود) کښې اول "عيسی بن عبدالرحمن بن ابی ليلی" او دويم الحکم بن عتيبه او دا دواړه ثقه راويان دی، د حکم په ترجمه کښې په تقريب کښې دی ﴿ ثقة ثبت فقيه من الخامسة ﴾ او د عيسی په ترجمه کښې ئې ليکلې دی ﴿ ثقة من السادسة ﴾ لهذا د تلقين يزيد اشکال هم صحيح نه دې، يو اعتراض دا هم کولې شی چه يزيد راوی ضعيف دې، جواب دا دې چه يزيد اگرچه ضعيف دې خو بهرحال متروک نه دې "ففی التهذيب قال ابوداود لا اعلم احدا ترک حديثه"

البته په دويم او دريم طريق کښې محمد بن عبدالرحمن بن ابی ليلی دې چه د هغه په باره کښې مشهوره دا ده چه هغه سئ الحفظ دې خو د هغه په صداقت، فقاهت او ديانت کښې د چا هم کلام نشته، صرف په ضبط او حفظ کښې ئې نقص دې، د هغه په باره کښې حافظ په تقريب کښې ليکلې دی ﴿ صدوق سئ الحفظ جدا ﴾ او حافظ ذهبی رحمه الله په ميزان الاعتدال کښې ليکی: صدوق امام سئ الحفظ وقد وثق... او امام ابو حاتم رازی د هغه په باره کښې د بعض ائمه کرامو نه نقل کړې دی ﴿ حسنه الترمذی وضعفه عبدالحق وابن القطان من جهة ابن ابی ليلی ثم قال وقول الترمذی اولی ﴾ اوگورئ د حافظ ذهبی او ترمذی په نزد د هغه حديث د حسن درجه لری. (كذا في الاماني ١٩٦/٣) لهذا زمونږ دا حديث البراء هم حسن دې.

[٧٥٢]()حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ، عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَخِيهِ عِيسَى، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ ثُمَّ لَمْ يَرْفَعْهُمَا حَتَّى انْصَرَفَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِصَحِيحٍ.

ترجمه: د براء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی ما وليدلو رسول الله ﷺ چې لاسونه ئې اوچت کړل کله چې ئې د مونځ شروع کوله، بيا ئې اوچت نه کړل تردې چې فارغ شو. وئيلی دی ابوداود: دا حديث صحيح نه دی.

په سند کښې يو غلطی او د هغې اصلاح

قوله:﴿ عن ابی ليلی عن اخيه عيسی عن الحکم ﴾ دلته يو ضروری او قابل تنبيه امر دا دې کوم چه حضرت په بذل کښې ليکلې دې چه د ابوداود په موجوده نسخو کښې هم دغه شان دی ﴿ عن اخيه عيسی عن الحکم ﴾ خو دا غلط دې صحيح وعن الحکم دې، حرف عطف سره لکه چه په طحاوی او د مصنف ابن ابی شيبه په روايت کښې دی، او الجوهر النقی کښې چه کوم د ابوداؤد د روايت حواله ورکړې ده، دهغې تقاضه هم دا ده چه دلته واو پکار دې، په واو نه کيدو سره خو به دا لازم شی چه عيسی د حکم نه روايت کوی او حکم د عبدالرحمن

(١): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٧٨٦) (ضعيف)

بن ابی ليلی نه، حال دا چه داسې نه ده بلکه ابن ابی ليلی روايت کوی د عيسی او حکم دواړو نه، لهذا د عبد الرحمن بن ابی ليلی نه روايت کونکی دوه کسان شو يو عيسی او بل حکم.

قوله:(قال ابوداود : هذا الحديث ليس بصحيح) د مصنف دعوی د عدم صحت په ظاهر کښې ددې نه سوا هيڅ نه ده چه ددې په سند کښې ابن ابی ليلی دې، او ددې جواب مونږ پورته کړې دې، هم دغه شان مونږ مخکښې وئيلې دی چه احاديث الاحکام او د سنن په کتابونو کښې د (ليس بصحيح) نه د صحت اصطلاحيه نفی مراد وی، صحيح ورته مونږ هم نه وايو خو حسن ئې ضرور منو.

په حديث البراء باندې د حاکم يو نقد او د هغې جواب

په دې حديث باندې يو اعتراض دا کولې شی چه حاکم صاحب مستدرک د براء ددې حديث معارضه کړې ده، د هغوی په نزد دويم حديث چه په هغې کښې رفع يدين فی المواضع الثلاثه مذکور دې، ددې جواب دا دې چه دا حديث دغه شان د سفيان بن عيينه نه روايت کونکې د ابراهيم بن بشار مادی نه علاوه بل څوک نشته، لکه چه حاکم هم ددې اعتراف کړې دې، او ابراهيم بن بشار راوی ضعيف دې "قال ابن معين ليس بشئ لم يكن يكتب عنه سفيان وما رايت فی يده قلما قط" هم دغه شان امام احمد او نسائی هم د هغه تضعيف کړې دې.

[٧٥٣]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ سَمْعَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ مَدًّا".

ترجمه: د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی: وو رسول الله ﷺ چې کله به داخل شو په مانځه کښې نو لاسونه به ئې اوچت کړل ډير.

د عدم رفع د سلسلې مزيد نور روايات

د عدم رفع په سلسله کښې حضرت په بذل المجهود کښې ددې دواړو احاديثو نه علاوه کوم چه پورته په متن کښې راغلې دی نور هم ډير احاديث مرفوعه او اثار ذکر فرمائيلې دی، هم دغه شان علامه شوق نيموی د عمر رضی الله عنه عمل ترک رفع په صحيح سند سره ثابت کړې دې کوم چه امام طحاوی او امام ابوبکر بن ابی شيبه روايت کړې دې او ابن الترکمانی په الجوهر النقی کښې فرمائی چه دا سند د مسلم په شرط باندې دې، حافظ ابن حجر رحمه الله هم په درايه کښې ليکلې دی چه (رجاله ثقات) او حاکم چه ددې کومه معارضه کړې ده د طاؤس په روايت سره چه په هغې کښې دا دی چه عمر رضی الله عنه به په مواضع ثلاثه کښې رفع يدين کول، ددې جواب علامه شوق نيموی په اثار السنن کښې ډير په تحقيق سره ورکړې دې او دا ئې ثابت کړې دی چه د طاؤس دا روايت د عمر رضی الله عنه په باره کښې نه دې بلکه د ابن عمر په باره کښې دې.

[١]: سنن الترمذي/الصلاة ٦٣ (٢٤٠)، سنن النسائي/الافتتاح ٦ (٨٨٤)، (تحفة الأشراف: ١٣٠٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٧٥، ٤٣٤، ٥٠٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٢ (١٢٧٣) (صحيح)

هم دغه شان علامه نیموی د سیدنا علی ﷺ عمل عدم رفع د طحاوی، بیهقی او ابوبکر بن ابی شیبه په روایت سره نقل کړې دې، او وئیلې ئې دی چه ددې حدیث سند صحیح دې، حافظ ابن حجر په درایه کښې لیکی چه ﴿ رجاله ثقات ﴾، علامه زیلعی لیکی ﴿ وهو اثر صحیح ﴾ او علامه عینی په شرح بخاری کښې لیکلې دی چه ﴿ صحیح علی شرط مسلم ﴾ او دارمی چه په دې باندې کوم اشکال کړې دې چه ددې په سند کښې ابوبکر بن عبدالله النهشلی دې، وهو ممن لا یحتج به... ددې جواب علامه نیموی د ابن الترکمانی نه دا نقل کړې دې چه د نهشلی روایت امام مسلم او امام نسائی وغیره اخستلې دې، او امام احمد بن حنبل او یحیی بن معین ئې توثیق کړې دې.

هم دغه شان دارمی ﷺ دا خبره کړې ده چه زمونږ په علی ﷺ باندې دا حسن ظن دې چه هغه به خپل فعل ته د رسول الله ﷺ په فعل باندې ترجیح نه ورکوی، ددې جواب ابن دقیق العید مالکی دا ورکړې دې چه زمونږ په علی ﷺ باندې دا حسن ظن دې چه هغه به د عدم رفع ارتکاب بغیر د علم بالنسخ نه نه کوی.

د عدم رفع په باره کښې احادیث قولیه

ددې روایات فعلیه نه علاوه احنافو سره دوه احادیث قولیه هم دی او د فریق مخالف سره ددې سلسلې هیڅ قسم قولی حدیث نشته، اول حدیث ابن عباس کوم چه طبرانی مرفوعا نقل کړې دې : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لا تُرْفَعُ الأَيْدِي إِلا فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ حِينَ يَفْتَتِحُ الصَّلاةَ وَحِينَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ فَيَنْظُرُ إِلَى الْبَيْتِ، وَحِينَ يَقُومُ عَلَى الصَّفَا، وَحِينَ يَقُومُ عَلَى الْمَرْوَةِ، وَحِينَ يَقِفُ مَعَ النَّاسِ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ وبِجَمْعٍ، وَالْمَقَامَيْنِ حِينَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ... او امام طحاوی دا د ابن عباس ﷺ نه مرفوعا په مذکوره سند سره او د ابن عمر نه موقوفا، په طریق د ابن ابی لیلی عن نافع عن ابن عمر روایت کړې دې، خو د طحاوی په روایت کښې په ځائې د ﴿ لا ترفع الایدی ﴾ .. ﴿ ترفع الایدی ﴾ دې.

په حدیث لا ترفع الایدی الا فی سبع مواطن باندې بحث

زمونږ د طرف نه دا حدیث په استدلال کښې صاحب هدایه هم پیش کړې دې، په دې وجه زمونږ په نزد دا حدیث ډیر اهم دې، په دې حدیث باندې د فریق ثانی نه څه اعتراضات هم دی، دا اعتراضات او جوابات ډیر تفصیل غواړی، اجمالا به مونږ د اشکالاتو او جواباتو طرف ته اشاره اوکړو.

(ومبې اشکال)

اول اشکال دا دې چه په دې باندې ابن ابی لیلی متفرد دې کوم چه ضعیف دې، ددې جواب دا دې چه ابن ابی لیلی متروک راوی نه دې، بعض اهل رجال د هغوی په باره کښې ډیر اوچت کلمات وئیلی دی لکه چه د حدیث البراء د کلام د لاندې تیر شوې دې، هم دغه شان د هغې متابع هم موجود دې، ورقاء د هغه متابعت کړې دې عند الطبرانی ورقاء عن عطاء بن السائب عن سعید بن جبیر عن ابن عباس... او دا ورقاء راوی صدوق دې، امام احمد او یحیی

بن معين د هغه توثيق کړې دې، البته د هغه چه کوم روايت د منصور نه وی، په هغه کښې ضعف دې، کما فی التقريب.

(دويم اشکال)

بل اشکال پرې دا کړې شوې دې چه وکيع دا د ابن ابی ليلی نه موقوفا روايت کوی، جواب دا دې وکيع دا د ابن ابی ليلی نه مرفوعا هم روايت کوی، کما رواه البخاری فی جزء رفع اليدين، لهذا کيدې شی چه حديث دواړو طريقو سره نقل وی لکه چه خپله د ابن عمر د روايت هم دغه حال دې چه سالم ئې مرفوعا روايت کوی او نافع موقوفا، او ددې حديث خو وقف هم د رفع په حکم کښې دې ځکه چه دا خبره چه په مونځ کښې رفع يدين دومره ځايونو کښې دې يو راوی هم په خپل اجتهاد سره نه شی کولې، دا څيز غير مدرک بالرائې دې.

(دريم اشکال)

يو اشکال په دې کښې دا کړې شوې دې چه د شعبه نه نقل دی چه حکم د مقسم نه صرف څلور احاديث اوريدلې دی او دا حديث د هغه څلورو نه نه دې، لهذا حديث منقطع دې، جواب دا دې چه د شعبه په کلام کښې حصر استقرائی دې، شعبه کله دا وائی چه (لم يسمع الحکم عن مقسم الا خمسة احاديث) لکه چه په ترمذی کښې يوځائې کښې دی، او ددې باوجود ډير زيات احاديث دی کوم چه امام ترمذیؒ عن الحکم عن مقسم روايت کړې دې او په هغې کښې په اکثر کښې لفظ د سماع او تحديث موجود دې، او بيا د هغې نه علاوه دا ده چه مرسل د ثقات مقبول دې.

(څلورم اشکال)

يو اشکال دا کړې شوې دې چه په دې حديث کښې په مواضع سبعه کښې انحصار مراد نه دې، او مراد کيدې هم نه شی ځکه چه د مواضع سبعه نه علاوه هم په نورو بعض ځايونو کښې رفع اليدين کيږی لکه په قنوت او عيدين وغيره کښې، او هم دغه شان په بعض رواياتو کښې د (لا ترفع) په ځائې (ترفع الايدی) راغلې دې، بغير د حصر نه، ددې جواب دا کړې شوې دې چه که دا حديث مونږ موقوف منو نو بيا خو کيدې شی چه صحابی ته د قنوت او عيدين د رفع اليدين علم نه وی، د عام مونځونو کوم چه په هره ورځ کښې بار بار کولې شی هم د هغې په اعتبار سره حصر مراد وی، او که دا حديث مرفوع اومنلې شی نو بيا به دا وئيلې شی چه بعض مواضع کوم چه په دې حديث کښې د بيان نه پاتې شو د هغې ثبوت به د نورو مستقل دلائلو نه وی.

(پنځم اشکال)

يو اشکال دا کړې شوې دې چه د ابن عباس عمل ددې خلاف منقول دې چه هغه به رفع اليدين کول، او د راوی عمل د خپل مروی خلاف مضر دې، جواب دا دې چه مضر هله دې چه کله دا معلومه شی چه هغه عمل د هغه بعد الرواية وی، او که د هغه دا عمل قبل الرواية

وي يا ئې د تقدم يا تاخر علم نه وي نو بيا مضر نه دی، او دلته هم دغه شان ده.

ما لى اراكم رافعى ايديكم الحديث باندې بحث

او دويم قولی حديث د مسلم او ابوداود په روايت مرفوعه کښې دی کوم چه هغه د جابر بن سمره ﷺ نه روايت کوی ﴿ عَنْ تَمِيمٍ الطَّائِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَالنَّاسُ رَافِعُو أَيْدِيهِمْ - قَالَ زُهَيْرٌ أُرَاهُ قَالَ - فِى الصَّلاَةِ فَقَالَ « مَا لِى أَرَاكُمْ رَافِعِى أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمُسٍ اسْكُنُوا فِى الصَّلاَةِ ﴾ په دې حديث کښې د بار بار رفع اليدين نه صراحتا منع کړې شوې ده او دا چه په مونځ کښې د سکون حالت اختيار کړئ.

(د احنافو په دليل باندې د امام بخاری ﷺ اشکال)

په دې استدلال باندې د امام بخاری وغيره محدثينو د طرف نه دا اشکال دې چه دا حديث د رفع عند السلام په سلسله کښې دې، صحابه کرامو به د سلام په وخت په لاس سره اشاره کوله نو رسول الله ﷺ ددې رفع نه منع اوفرمائيله د رفع يدين عند الرکوع سره ددې تعلق نشته، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه په دې سلسله کښې دوه احاديث په مختلف سياق او سباق سره روايت شوې دی، يو هغه کوم چه تاسو بيانوئ چه د هغې راوی عبيد الله بن القبطيه دې چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَكُنَّا إِذَا سَلَّمْنَا قُلْنَا بِأَيْدِينَا السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ فَنَظَرَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ مَا شَأْنُكُمْ تُشِيرُونَ بِأَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمُسٍ ﴾ د دې حديث تعلق بيشکه د رفع عند السلام سره دې او دومبې حديث ددې نه بالکل مختلف دې، په هغې کښې د سلام هيڅ قسم ذکر نشته بلکه دا دی چه خلقو په مونځ کښې رفع اليدين کول چه په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ اسکنوا فى الصلاة ﴾... ظاهره ده چه دا رفع يدين د مونځ د مينځ والا دی هم په دې وجه رسول الله ﷺ ﴿ اسکنوا فى الصلاة ﴾ اوفرمائيلو، او د دويم روايت تعلق چونکه د سلام سره دې هم په دې وجه باندې رسول الله ﷺ هلته ﴿ اسکنوا فى الصلاة ﴾ او نه فرمائيلو ځکه چه د سلام حالت د مونځ نه د بهر راتلو دې عين د مونځ حالت نه دې.

دا خبره قابل غور ده چه بار بار په مونځ کښې اودريدو او ښکته کيدو کښې رفع يدين کول خو دې د خيل شمس د فعل مشابه نه وی، او د سلام په وخت دې په ناسته ناسته صرف د لاس په اشارې سره د خيل شمس د فعل مشابه شی، حال دا چه خيل شمس خو هميشه په ولاړه ولاړه باندې لکئ خوزوی، بلکه مشهوره خو دا ده چه اس بالکل کينی نه، دويمه خبره دا ده چه قاعده ده چه العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب، پس که اومنلې شی چه ددې حديث تعلق د رفع عند السلام سره دې نو بيا هم د سکون حکم خو عام دې او په دې باندې به دا نه شی وئيلې چه بيا خو رفع اليدين عند التحريمه هم نه دی پکار او دا په دې وجه صرف په يو ځل حرکت باندې تشبيه مذکور نه صادق کيږی، د مطلق حرکت نه منع مقصود نه ده صرف يو ځل رفع يدين کوم چه فعل تعظمی دې د هغې مثالونه موجود دی عند رؤية

البيت وغيره هلته هم بار بار رفع يدين نه كيږي، پاتې شوه مسئله د صلاة العيد پس هغه حکم په مصالح باندې مبنی دې او نه هلته اختلاف روايات دې.

ختام مسك

په اخر کښې د ختام مسلک په طور دوه روايتونه ذکر کوو چه د هغې تخريج امام بيهقي رحمه الله په خلافيات کښې کړې دې او علامه زيلعی دا په نصب الرايه کښې هم په دې حوالې سره نقل کړې دې.

١: چه د هغې الفاظ دا دی، پوره سند په نصب الرايه کښې موجود دې ﴿عن عباد بن الزبير أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، كان إذا افتتح الصلاة رفع يديه في أول الصلاة، ثم لم يرفعها في شيء حتى يفرغ﴾ ابن دقيق العيد فرمائی ﴿وعباد هذا تابعي فهو مرسل﴾، علامه عينى رحمه الله فرمائی ﴿مرسل الثقات مقبول محتج به﴾.

٢: ﴿عن عبدالله بن عون الحراز عن مالك عن الزهري عن سالم عن ابن عمر ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة ثم لا يعود﴾.

الله پاک دې امام بيهقي رحمه الله ته جزاء خير ورکړي، واقعي دې حضراتو هر چه د روايت د نقل کولو تعلق دې نو په هغې کښې ئې د ديانت حق ادا کړې دې اوس چه وړاندې هغه په دې باندې کوم نقد کوی او چه څه هم کوی هغه جدا خبره ده، هغه د دويم لاتن څيزونه دی چه په هغې کښې عام طور خلق مجبوره کيږي يعنی د مدد نصرت او په دې کښې ضروری نه ده چه هغه د حد اعتدال او انصاف نه خارج نه شی پس هغه ددې حديث په باره کښې وئيلې دی، ﴿قال الحاكم هذا باطل موضوع ولا يجوز ان يذكر الا على سبيل القدح﴾ او بيا وړاندې فرمايي چه مونږ ته چه د امام مالک نه کوم روايات په صحيح سندونو سره رارسيدلې دی هغه ددې خلاف دی، او که دا روايت د امام مالک نه نقل وې نو امام دارقطني به ضرور دا په غرائب مالک کښې ذکر کړې وې، په دې باندې علامه عينى د طحاوی په شرح نخب الافكار کښې فرمائی، وهذا مجرد دعوى عن الحاكم لانه لم يبين وجه البطلان ما هو، ولا يلزم من عدم ذكر الدارقطني هذا في غرائب حديث مالك ان يكون هذا باطلا.

زه وائم چه امام طحاوی رحمه الله د ابن عمر رضی الله عنه چه کوم عمل رفع اليدين د مجاهد نه نقل کړې دې، د ابن عمر حديث مرفوع ددې عمل منشاء کيدې شی او ددې اثر د مجاهد نه انکار څه اسان کار نه دې كما تقدم في محله. هم دغه شان د امام مالک رحمه الله نه مشهوره ده چه هغه د رفع اليدين قائل نه دې ددې وجه هم دا روايت کيدې شی ﴿وقد تقدم في بيان المذاهب ما قال مالك في المدونة الكبرى رفع اليدين في غير التحريمة ضعيف والله تعالى اعلم بالصواب، وهذا اخر ما اردت ايراده في هذا المبحث﴾

بَابُ وَضْعِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د کېښودلو د ښي لاس په چپ لاس

مصنف د مونځ کيفيت د اول نه واخله تر اخره پورې بيانوی په ابتداء صلاة کښې د رفع

يدين او تكبير تحريمه بيان خو اوشو اوس ددې خاني نه دا بيانوي چه د رفع يدين كولو نه پس به لاسونو سره څه كوى هسې به پريخودلې شي يا كه هغه به ترلې شي.

مسائل الباب

دلته درې بحثونه دى اول دا چه په مونځ كښې به د قيام په حالت كښې وضع اليدين وى يا ارسال، او دويم بحث دا دې چه كه وضع وى نو محل د وضع څه دې، او دريم بحث دا چه حكمت د وضع څه دې؟

[۷۵۴]([1])حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ زُرْعَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُ: "صَفُّ الْقَدَمَيْنِ وَوَضْعُ الْيَدِ عَلَى الْيَدِ مِنَ السُّنَّةِ".

ترجمه: زرعة بن عبد الرحمن وئيلى دى ما اوريدلى دى دا بن الزبير نه هغه به وئيل برابرول د قدمونو او كيخودل د لاس په لاس باندې سنت دې.

[۷۵۵]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكَّارِ بْنِ الرَّيَّانِ، عَنْ هُشَيْمِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ أَبِي زَيْنَبَ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، "أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي فَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى الْيُمْنَى، فَرَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى".

ترجمه: د ابن مسعود نه روايت دې بيشكه وو هغه چې مونځ به ئې كولو نو كيخودلو به ئې چپ لاس په ښي لاس، نو وليدلو هغه لره نبى ﷺ نو كيخودلو دهغه ښي لاس په چپ لاس.

البحث الاول: (وضع يا ارسال؟)

جمهور صحابه، تابعين او ائمه ثلاثه رحمهم الله په حالت قيام كښې د وضع اليمنى على اليسرى د سنت كيدو قائل دى او د امام مالك نه په دې كښې درې روايتونه دى، اول د وضع اليدين مستحسن كيدل په فرضو او نفلو كښې رواه ابن الماجشون عنه. دويم دا چه انه لا باس فى الوضع مطلقا فى الفرض والنفل رواه اشهب عن مالك، او دريم روايت كراهة الوضع فى الفرض دون النفل رواه ابن القاسم عن مالك. ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى ﴿ ليس فيه عن النبى صلى الله عليه وسلم خلاف وهو الذى ذكره مالك فى الموطاء ﴾ يعنى په دې سلسله كښې په روايت حديثيه كښې هيڅ اختلاف نشته، يعنى ددې په مسنون كيدو كښې او هم دا حديث ذكر كړې دې امام مالك په موطاء كښې، او د حسن بصرى، ابراهيم نخعى او ليث بن سعد نه ارسال منقول دې او د امام اوزاعى رحمه الله نه التخير فى الوضع والارسال، او د فرقه هادويه په نزد وضع غير مشروع بلكه مفسد صلاة ده ﴿ لكونه عملا كثيرا ﴾

[۷۵۶]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "مِنَ السُّنَّةِ وَضْعُ الْكَفِّ عَلَى الْكَفِّ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ".

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٢٦٠) (ضعيف)

[2]: سنن النسائي/الافتتاح ١٠ (٨٨٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٣ (٨١١)، (تحفة الأشراف: ٩٣٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٧/١) (حسن)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٣١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٠/١) (ضعيف)

ترجمه: د ابو جحيفة نه روايت دې بيشکه علي ﷺ ويلی دي: د سنت نه دا خبره ده چې کيخودل د ورغوی دی په ورغوی باندې په مانځه کښې لاندې د نامه نه.

[۷۵۷]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ يَعْنِي ابْنَ أَعْيَنَ، عَنْ أَبِي بَدْرٍ، عَنْ أَبِي طَالُوتَ عَبْدِ السَّلَامِ، عَنِ ابْنِ جَرِيرٍ الضَّبِّيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُمْسِكُ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ عَلَى الرُّسْغِ فَوْقَ السُّرَّةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَوْقَ السُّرَّةِ، قَالَ أَبُو مِجْلَزٍ: تَحْتَ السُّرَّةِ، وَرُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَيْسَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه: د ابن جرير الضبی نه روايت دې هغه روايت کوی د خپل پلار نه هغه وئيلی دي: ما وليدلو علي ﷺ چې نيولی ئې وو چپ لاس په ښي لاس د مروند نه بره د نامه نه. وئيلی دی ابوداود: او روايت شوی دی د سعيد بن جُبير نه د نامه دپاسه، وئيلی دی ابو مجلز: لاندې د نامه نه، او روايت شوی دی د ابوهريره نه هم، او دا قوی نه دی.

[۷۵۸]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ الْكُوفِيِّ، عَنْ سَيَّارٍ أَبِي الْحَكَمِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: "أَخْذُ الْأَكُفِّ عَلَى الْأَكُفِّ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يُضَعِّفُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ إِسْحَاقَ الْكُوفِيَّ.

ترجمه: د ابو وايل نه روايت دې، هغه وايي چې ابو هريرة ويلی دي: نو نيول د ورغوو په ورغوو سره په مانځه کښې لاندې د نامه نه. وئيلی دی ابوداود: ما اوريدلی دی د احمد بن حنبل نه چې ضعيف کولو به ئې عبد الرحمن بن اسحاق الکوفی.

[۷۵۹]([3])حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ يَعْنِي ابْنَ حُمَيْدٍ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى ثُمَّ يَشُدُّ بَيْنَهُمَا عَلَى صَدْرِهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ".

ترجمه: د طاوس نه روايت دې هغه وئيلی دي: وو رسول الله ﷺ چې کيخودلو به ئې خپل ښي لاس په چپ لاس، بيا به ئې دواړه ترل په سينه او هغه به په مانځه کښې وو.

البحث الثاني : محل الوضع

فعند الحنفية تحت السرة وعند الشافعية فوق السرة وتحت الصدر، وعن الحنابلة روايتان وعن المالكية اما الارسال واما مثل الشافعية يعني فوق السرة.

البحث الثالث : (حکمت وضع)

قوله:﴿ قالوا هو هيئة السائل الذليل ﴾ يعنی دا د سائل او فقير هيئت دې هم دغه شان ﴿ امنع من العبث واقرب الى الخشوع ﴾ او هم دې طرف ته ئې اشاره کړې ده، امام بخاری ﷫ په دې وجه ددې نه روستو متصلا په صحيح بخاری کښې ﴿ باب الخشوع فی الصلاة ﴾ قائم کړې دې.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۳۰) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۴۹۴) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۸۲۹) (صحيح)

په وضع تحت السرة او الصدر کښې دلائل الفريقين

مسئله ثانيه يعنې محل وضع مشهور اختلافي مسئله ده په دې سلسله کښې مختصرا د فريقين دلائل ذکر کوو په دې مسئله کښې شوافعو د وائل بن حجر د حديث نه استدلال کړې دې چه په هغې کښې ﴿ ثم وضعهما على صدره ﴾ لفظ راغلې دې، دا روايت په صحيح ابن خزيمه کښې دې، حافظ ابن حجر په بلوغ المرام کښې او امام نووي رحمه الله په خلاصه کښې او علامه شوکاني اهل حديث په نيل الاوطار کښې او ابن دقيق العيد په الامام کښې هم ددې حديث نه استدلال کړې دې خو ددې په سند کښې مؤمل بن اسماعيل دې کوم چه مکمل ضعيف دې او هم هغه په لفظ د ﴿ على صدره ﴾ سره متفرد دې، د هغه نه سوا بل چا دا حديث نه دې نقل کړې لکه چه اعتراف کړې دې ددې خبرې ابن القيم په اعلام الموقعين کښې، امام بخاري د هغه په باره کښې فرمائي ﴿ منکر الحديث ﴾، او ابن سعد فرمائي ثقة کثير الغلط، دارقطني فرمائي ثقة کثير الخطاء. حافظ په تقريب کښې ليکي : صدوق سيء الحفظ، نقل دي چه هغه خپل کتابونه دفن کړې وو او د خپل حفظ نه به ئې بيان کولو په دې وجه ترې خطاء ډيره شوې ده.

اصل استدلال ددې حضراتو هم ددې روايت نه دې چه د هغې حال تاسو ته معلوم شو، ددې حضراتو سره يو بل روايت مرفوع دې چه د هغې راوي والد قبيصه هلب طائي دې، دا په حديث په مسند احمد کښې دې بهذا السند ﴿ يحيى بن سعيد عن سفيان عن سماک عن قبيصة بن هلب عن ابيه ﴾ په دې روايت کښې هم د على صدر لفظ موجود دې، علامه شوق نيموي فرمائي چه دا زيادت محفوظ نه دې، يحيى بن سعيد په دې سره متفرد دې د هغه نه علاوه د سفيان په شاګردانو کښې چا هم دا زيادت نه دې نقل کړې، پس عبدالرحمن بن مهدي او وکيع دا د سفيان نه روايت کوي بدون ددې زيادت نه، هم دغه شان امام ترمذي او ابن ماجه دا حديث په طريق د ابو الاحوص عن سماک روايت کړې دې، په هغې کښې هم د على صدر لفظ نشته، هم دغه شان امام احمد دا په طريق د شريک عن سماک روايت کوي په هغې کښې هم على صدر لفظ نشته، هم دغه شان سماک راوي ضعيف دې، صاحب د تحفة الاحوذي (مشهور اهل حديث عالم) باندې تعجب دې چه هغه په خپلو مستدلاتو کښې دا حديث پيش کولو سره ددې حديث هر هر راوي ثقاهت او عدالت د کتب رجال نه ثابتولو سره د خپلې شرح څلورمه حصه صفحه توره کړې ده او په دې کښې ټول اختلاف او اضطراب کوم چه پورته بيان شو، ددې ئې هيڅ معقول جواب نه دې ورکړې.

دا حضرات په دې سلسله کښې (مرسل طاؤس) هم پيش کوي کوم چه د ابوداود په بعض نسخو کښې دی چه په هغې کښې ﴿ على صدره ﴾ لفظ موجود دې خو هغه د مرسل کيدو نه علاوه ضعيف دې دهغې په سند کښې ابن الهيثمه بن حميد دې کوم چه ضعيف دی، هم دغه شان سلمان بن موسى هغه هم متکلم فيه دی.

....

د احنافو دلائل

او د احنافو د طرف نه د ټولو نه اهم كوم چه حديث مرفوع پيش كولې شي هغه د وائل بن حجر ﷺ حديث دې كوم چه ابن ابى شيبه بسنده روايت كړې دې ﴿ رايت النبى صلى الله عليه وسلم يضع يمينه على شماله فى الصلاة تحت السرة ﴾ په دې باندې دا اشكال كولې شى چه دمصنف ابن ابى شيبه په صحيح نسخو كښې د تحت السرة زيادت موجود نه دې او صحيح صورت حال دا دې چه مصنف ابن ابى شيبة كښې ددې حديث نه روستو اثر نخغى ذكر دې چه د هغې په اخر كښې د ﴿ فى الصلاة ﴾ لفظ دې، نو داسې معلوميږى چه د كاتب نظر خطاء شوې دې، ددې اثر نخغى لفظ ﴿ تحت السرة ﴾ د دې برابر كښې چه كوم حديث وائل مذكور وو په هغې كښې ئې لفظ اوليكلو، ددې نه علاوه ددې نور قرائن هم پيش كوى، مثلا دا چه دا حديث هم په دې سند سره په مسند احمد كښې هم دې، هلته هم دا لفظ نه دې مذكور، زمونږ د طرف نه علامه شوق نيموى په اثار السنن كښې د بعض علماء كرامو نه نقل كړې دى چه هغه خپله په بعض صحيح نسخو كښې دا زيادت په خپلو سترگو باندې ليدلې دې، هم دغه شان قاسم بن ابن قطلوبغا هم ددې حديث دې زيادت سره حواله وركړې ده، هسې ددې حديث سند صحت لره فريق مخالف هم تسليم كوى په خلاف د على الصدر والا روايت چه په هغې باندې سخت ترين كلام دې، ددې نه علاوه بعض نور اثار صحيحه دى "اثر ابراهيم النخغى" مصنف ابن ابى شيبة كښې په حسن سند سره، او هم دغه شان اثر ابى مجلز بسند صحيح كوم چه ابن ابى شيبه موصولا او امام ابوداود تعليقا ذكر كړې دې، او هم دغه شان حديث على كوم چه د ابوداود په بعض نسخو كښې دې ﴿ من السنة وضع الكف على الكف فى الصلاة تحت السرة وسنده ضعيف ﴾

صحيح خبره دا ده چه په دې سلسله كښې د هر دواړو فريقو په دلائلو باندې كلام دې چا سره هم يو حديث مرفوع صحيح كوم ته چه واجب العمل اووئيلې شى موجود نه دې كما قال ابن الهمام. البته د فقهاء كرامو د رواياتو په ترجيح كښې اختلاف دې، احناف د تحت السرة او شوافع د تحت الصدر رواياتو ته ترجيح وركوى، زمونږ د طرف نه وئيلې شوې دى چه مونځ مظهر تعظيم دې او قيام تعظيمى كښې معهود وضع تحت السرة دې، او د اظهار عشق په صورت كښې وضع على الصدر وى ﴿ قال المتنبى حاولن تفديتى وخفن مراقبا، فوضعن ايديهن فوق ترائب﴾ دحضرت مولانا اعزاز على صاحب ﷫ په درس كښې د وضع على الصدر په تائيد كښې يو طالب علم دا شعر پيش كړو، په دې باندې ورته مولانا موصوف فوراجواب وركړوچه د نبى په مقابله كښې د متنبى قول پيش كوې؟ لا حول ولا قوة الا بالله.

بَابُ مَا يُسْتَفْتَحُ بِهِ الصَّلاَةُ مِنَ الدُّعَاءِ

باب دې په بيان د هغه دعا ګانو چې مونځ ورپاندې شروع ګولې شي

په دعاء استفتاح کښې اختلاف علماء

رومبې اختلاف: د تکبير تحريمه نه روستو د قرأت نه مخکښې په مينځ کښې څه دعاء شته يا نه، مسئله مختلف فيه دې، جمهور علماء کرام ائمه ثلاث د دعا استفتاح قائل دی او امام مالک په مشهور قول کښې ددې قائل نه دې، شروح بخاری، فتح الباری، عينی وغيره هم دا ليکلې دي، او صاحب منهل په يو روايت کښې د امام مالکرحمه الله نه هم استحباب نقل کړې دې په حواله د علامه زرقانی ﴿ فی شرحه علی مختصر الخليل ﴾، دويم اختلاف دا دې چه کومه دعا اولی مختار ده، ځکه چه په کتب حديث کښې ددې سلسلې مختلف دعاګانې منقول دی، مصنف هم په دې باب کښې ډيرې دعاګانې ذکر کړې دی چه په هغې کښې د بعض محل متعين دې يعنی د تکبير تحريمه نه پس او بعض روايات مصنف داسې ذکر کړې دی چه په هغې کښې د محل دعا تعيين صراحة په روايت کښې نشته (١) لکه د جبير بن مطعم حديث چه په هغې کښې تکبيرات مذکور دی، الله اکبر کبيرا (درې کرته) الحمد لله کثيرا (درې کرته) ﴿ سبحان الله بکرة واصيلا الی اخره ﴾ په دې روايت کښې راوی د دعا محل نه دې ذکر کړې، په دې کښې چه د ټولو نه اول مصنف کوم روايت ذکر کړې دې هغه دعاء التوجه ده کوم ته چه دعا التوجيه هم وئيلې شی ﴿ وجهت وجهی للذی فطر السماوات والارض حنيفا وما انا من المشرکين الی اخره ﴾ د دې باب نه روستو مصنف يو بل باب قائم کړې دې چه په هغې کښې ﴿ سبحانک اللهم وبحمدک الی اخره ﴾ ذکر کړې دې، ګويا خاص ددې دعا دپاره ئې مستقل ترجمه قائم کړې ده، ددې دعاء نه بعض شارحينو په دعاء تسبيح سره تعبير کړې دې، ددې دوارو نه علاوه يوه بله دعاء استفتاح هم ده کومه چه د بخاری او مسلم متفق عليه روايت دې ﴿ اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اللَّهُمَّ نَقِّنِيْ مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ ﴾ (٢)، دا حديث مونږ سره په ابوداود کښې په باب السکتة عند الافتتاح کښې هم راروان دې.

د کوم امام په نزد کومه دعاء استفتاح مختار ده

په دې دعاګانو کښې د احناف او حنابله په نزد مختار او اولی ﴿ سبحانک اللهم الخ ﴾ ده، حافظ ابن القيمرحمه الله په زاد المعاد کښې ليکی ﴿ اختاره احمد لعشرة وجوه ﴾ چه امام احمد دا د لسو وجو نه اختيار کړې ده، او د امام شافعیرحمه الله په نزد مختار دعا دعاء التوجه ده لکه

(١) بلکه احتمال دې چه د افتتاح صلاة نه پس به قبل القرأت لوستل مراد وی يا قبل التحريمه يا درميان صلاة د قومې په حالت کښې.

(٢) دا په حديث د ابوهريرهرضی الله عنه کښې نقل ده، حافظ ابن حجررحمه الله ليکی "حديث ابي هريرة اصح ما ورد في ذلك" خو په بذل المجهود کښې ليکی دا روايت اگر چه متفق عليه دې خو په خصوصيت سره يو امام هم دا نه دې اختيار کړې.

چه په متن د ابی شجاع وغیره کتب شافعیه کښې مذکور دې، امام شافعی رحمه الله په کتاب الام کښې هم دغه شان ذکر فرمائیلي دې، په بذل کښې لیکی چه مزنی د امام شافعی نه هم دا نقل کړې دې، او دويم روايت د امام شافعی نه دا دې ﴿ ان المصلی یاتی بالاذکار کلها فی الفريضة والنافلة ﴾ د دې دعاء توجه په احنافو کښې امام ابويوسف رحمه الله هم قائل دې چه د ﴿سبحانک اللهم ﴾ سره دې دا هم شامل کړی، او هم دا يو روايت د امام شافعی رحمه الله نه دی، پس په فتح الباری کښې دی﴿ ونقل الساجی عن الشافعی استحباب الجمع بين التوجه والتسبيح﴾

[٧٦٠]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَمِّهِ الْمَاجِشُونِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ كَبَّرَ، ثُمَّ قَالَ: وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلَهَ لِي إِلَّا أَنْتَ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لَا يَصْرِفُ سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، وَإِذَا رَكَعَ، قَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ، خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعِظَامِي وَعَصَبِي، وَإِذَا رَفَعَ، قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، وَإِذَا سَجَدَ، قَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ فَأَحْسَنَ صُورَتَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ وَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ، وَإِذَا سَلَّمَ مِنَ الصَّلَاةِ، قَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَالْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ".

ترجمه: د علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه روايت هغه وئيلی دی، وو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله به پاڅیدلو مانځه ته، نو هغه به وئیل: ﴿وجهت.......﴾ ما مخامخ کړی دی مخ خپل هغه ذات ته چې اسمانونه او ځمکه ئې پيدا کړې ده په داسې حال چې مائل يم توحيد ته، مسلمان يم او زه نه يم د مشرکانو نه، بیشکه زما مونځ او قربانی او ژوند او مرګ خاص الله لره دی چې رب د مخلوقاتو دی، شريک ورسره نشته او په دې باندې ماته امر شوی دی او زه د مسلمانانو نه يم، ای الله ته بادشاه ئې نشته لائق د عبادت مګر ته ئې، ته زما رب ئې زه ستا بنده يم، ما ظلم کړی دی په خپل نفس باندې، او اعتراف مې کړی دی په خپله ګناه ماته وبخښې ګناهونه زما ټول، بیشکه نه بخښې ګناهونه مګر ته، او هدايت وکړی ماته ښائسته اخلاقو ته چې هدايت نشي کولی ښائسته اخلاقو ته مګر ته، او لرې کړی زمانه بد د هغې نشي اړولی بد د هغې مګر ته، ربه زه حاضر يم تاته او خير ټول ستا په لاسونو کښې دی، او د شر نسبت تاته نه کېږي، زما اعتماد په تا باندې او تاته دی، ته برکت والا ئې او اوچت ئې، تانه بخښنه غواړم تاته توبه اوکاږم، او چې کله به ئې رکوع وکړه نو وئيل به يې: اې الله

[1]: صحیح مسلم/المسافرین ٢٦ (٧٧١)، سنن الترمذي/الدعوات ٣٢ (٣٤٢١، ٣٤٢٢)، سنن النسائي/الافتتاح ١٧ (٨٩٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٥، (٨٦٤)، ٧٠ (١٠٥٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٣، ٩٥، ١٠٢، ١٠٣، ١١٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٣ (١٢٧٤)، ويأتي هذا الحديث برقم: (١٥٠٩) (صحيح)

ما تاته رکوع وکړه او په تا باندې مې ايمان دی او تاته تسليم يم، تابعدار دی تاته غوږونه زما او سترګې زما او دماغ زما او هډوکي زما او پلې زما، او چې کله به ئې سر اوچت کړو نو وئيل به يې: واوريدلو الله د هغه چا چې د هغه حمديې وويلو، ای ربه زمونږ ستا لپاره حمد په اندازه د ډکوالی د اسمانونو او د ځمکې او په اندازه د ډاکوالی د مابين ددې دواړو،او ډاکوالی دهغې چې ستا خوښه وی دڅه شی نه وروسته.اوچې کله بی سجده وکړه نو وئيل به يې: اې الله ما تاته سجده وکړه او په تا مې ايمان دی او تاته مې غاړه ايخې ده، سجده وکړه مخ زماهغه ذات ته چې هغه پيدا کړی دی او شکل ئې ورکړی دی ښائسته کړی ئې دی شکل د هغه او چولی ئې دی غوږونه او سترګې د هغه، او برکتونو والا دی الله چې بهترين پيدا کونکی دی. او چې کله به ئې سلام وګرځولو د مانځه نه هغه به وئيل: اې الله ماته وبخښې زماهغه (ګناهونه) چې ما مخکښې لېږلی دی او هغه (ګناهونه) چې ما وروسته کړی دي، او هغه چې ما پټ کړی دی او هغه چې ما ښکاره کړی دي، او هغه چې ته پرې زمانه ښه عالم ئې، ته مخکې کونکی او وروسته کونکی ئې نشته لائق د عبادت مګر ته يې.

(اشکال): د ﴿ وانا من المسلمين ﴾ په بعض رواياتو کښې په ځائې ددې ﴿ وانا اول المسلمين ﴾ هم راځی، رسول الله ﷺ به کله داسې لوستل او کله هغه شان، د هغه په حق کښې خو هيڅ اشکال نشته چه دا دواړه خبرې صادق راځی خو د هغه نه علاوه نورو ته څه وئيل پکار دی؟

(جواب): جمهور دا وائی چه نورو ته ﴿ وانا من المسلمين ﴾ وئيل پکار دی، زمونږ د بعض مشائخو په نزد ﴿ وانا اول المسلمين ﴾ وئيلو سره مونځ فاسديږی خو صحيح دا ده چه نه فاسد کيږی، خو په دې صورت کښې مقصود تلاوت يا حکايت وی او اخبار عن نفسه مقصود نه وی ګينې يقينا به فاسد شی، او بعض علماء فرمائی چه په ﴿ انا اول المسلمين ﴾ وئيلو سره به مونځ نه فاسد کيږی ځکه چه ددې دا مطلب نه دې چه زه د ټولو نه اول مسلمان يم، بلکه دا عبارت کنايه ده د مبادرت او مسارعت نه يعنی زه په عجلت، په شوق او رغبت سره په اسلام کښې داخليدونکې يم لکه چه په دې آيت کريمه کښې دی. ﴿ قل ان کان للرحمن ولد فانا اول العابدين ﴾.

يو اشکال او د هغې جواب

قوله:﴿ والشر ليس اليک ﴾ په دې باندې ډير اشکال دې چه د ټولو اهل سنت عقيده ده چه خير او شر دواړه د الله پاک د طرف نه دی، او دا خبره چه خير د الله پاک د طرف نه او شر د غير الله دطرف نه دې،د اهل اعتزال مسلک دا دې، ددې مختلف توجيهات کړې شوې دی.

۱: مراد دا دې ﴿ والشر ليس شرا بالنسبة اليک ﴾ چه د الله پاک په اعتبار سره هيڅ شر نشته، دا د خير او شر تقسيم د مخلوق په اعتبار سره دې د خالق په اعتبار سره نه، د خالق په اعتبار سره خو ځنګه چه دخير په تخليق کښې مصلحت دې هم دغه شان په شر کښې هم دې، دواړه څيزونه د حکمت نه خالی نه دی.[۱]

[۱] علامه شمس الحق افغانی رحمه الله په دې باندې په درس فاتحه کښې د امام غزالی رحمه الله ۵۶

۲: ﴿ الشر ليس مما يقترب به اليک ﴾ يعنې اې الله! د شر په ذريعه ستا قرب نه شي حاصليدې.

۳: مراد دا دې ﴿ الشر المحض ليس ينبغي ان ينسب اليک ﴾ يعنې د الله پاک طرف ته خالص د شر نسبت کول لکه څوک اوائې چه يا خالق الخنزير يا خالق الشر... دا مناسب نه ده بلکه دا خلاف ادب ده بلکه خير او شر لره مجموعی طور هغه طرف ته منسوب کړې شي. مثلا خالق الخير والشر.

[٧٦١]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْهَاشِمِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَيَصْنَعُ مِثْلَ ذَلِكَ إِذَا قَضَى قِرَاءَتَهُ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ، وَيَصْنَعُهُ إِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ، وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ صَلَاتِهِ وَهُوَ قَاعِدٌ، وَإِذَا قَامَ مِنَ السَّجْدَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ كَذَلِكَ وَكَبَّرَ، وَدَعَا نَحْوَ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فِي الدُّعَاءِ يَزِيدُ وَيَنْقُصُ الشَّيْءَ وَلَمْ يَذْكُرْ: وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، وَزَادَ فِيهِ: وَيَقُولُ عِنْدَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَأَعْلَنْتُ، أَنْتَ إِلَهِي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ.

ترجمه: علی بن ابی طالب ﷛ روايت کوی د رسول الله ﷺ نه، بيشکه هغه وو چې کله به پاځيدلو فرض مونځ ته نو تکبير به ئې ووېلو او لاسونه به ئې اوچت کړل برابر د اوږو خپلو، او کول به ئې داسې چې کله بې ئې قرأت پوره کړو او اراده د رکوع به ئې وکړه، نو داسې به ئې بيا هم کول چې کله به اوچت شو د رکوع او نه به ئې اوچتول لاسونه په هيڅ ځائې کښې د مانځه نه چې کله به هغه ناست وو، او چې کله به پورته شو د دوه سجدو نه لاسونه به ئې اوچت کړل همدغسې او تکبير به ئې ويلو او دعا به ئې وکړه، پشان د حديث د عبد العزيز په دعاء کښې بعضې زياتوالې او کموالې به ئې پکې کولو، او ذکر کړې ئې نه دی (وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ) او زيادت ئې کړی دی په هغې کښې او وئيل به ئې په وخت د فارغيدلو کښې د مانځه نه: اې الله وبخښې ماته هغه (ګناهونه) کوم چې ما مخکښې لېږلی دی او هغه چې روسته به ئې کوم، او هغه چې ما پټ کړی دی او هغه چې ما ښکاره کړی دي، ته زما الله ئې نشته لائق د عبادت مګر هم دا ته يې.

ـــه......په حوالې سره يو عجيبه مثال ذکرکړې دې (خو مختصر دهغې لږ وضاحت راقم په خپلو الفاظو کښې داسې ذکرکوی.) مثلا دغلا تصور چه دا الله تعالى پيدا کړې دې نوبه دې کښې يقينا د انسانانو دپاره ټول خيردې، ځکه چه دا وخت به زرګونو نه بلکه په لکهونوخلق د څوکيدارئ پيشې سره متعلق دی او حلاله روزی ګټی. که د غلا تصور نه وې نو د څوکيدار ساتلو ضرورت به چاته وو؟. دغسې ډير خلق د تالو (قفل) په فيکټريانو (کارخانو) کښې کار کوی او حلال روزی ګټی، که د غلا تصورنه وې نو د تالو ضرورت به هم نه وې. دغسې کوم خلق چه د دوکان او کور جوړولو دپاره غټې او مضبوطې دروازې جوړوی او لګوی چه ددې کار کونکې جوړونکی د لکهونو په تعداد کښې دی دغسې کومې الماري وغيره چه جوړولې شی وغيره، پس دغلا تصور (چه دا الله تعالى پيدا کړی دې) په وجه په کروړونو خلقو ته حلال رزق ملاويږی خوکه هم دا غلا بنده اختيار کړی نو اوس به دا شر جوړيږی چه ددې نه شريعت منع فرمائيلې ده.

(١) انظر حديث رقم: (٧٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٨) (حسن صحيح)

[٧٦٢]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، قَالَ: قَالَ لِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، وَابْنُ أَبِي فَرْوَةَ وغيرهما من فقهاء أهل المدينة فإذا قلت أنت ذاك، فقل: وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَعْنِي قَوْلَهُ: وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ.

ترجمه: فقهاو د مدينې وئيلي دي كله چې تا وويل دغه نو ته ووايه (و انا من المسلمين) زه د مسلمانانو نه يم يعني قول د هغه (وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ) زه اول د مسلمانانو نه يم

[٧٦٣]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادٌ عَنْ قَتَادَةَ، وَثَابِتٍ، وَحُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى الصَّلَاةِ وَقَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ، فَقَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ، قَالَ: أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ بَأْسًا، فَقَالَ الرَّجُلُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُ وَقَدْ حَفَزَنِيَ النَّفَسُ فَقُلْتُهَا، فَقَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا"، وَزَادَ حُمَيْدٌ فِيهِ: وَإِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ فَلْيَمْشِ نَحْوَ مَا كَانَ يَمْشِي فَلْيُصَلِّ مَا أَدْرَكَهُ وَلْيَقْضِ مَا سَبَقَهُ.

ترجمه: د انس بن مالک ﷺ نه روايت دی، بيشكه يو سړی راغي مانځه ته او په مشقت كښې اچولی وو هغه لره سا، هغه وويل اَللّٰه اكبر حمد دی الله لره ډير او پاک او د بركت والا، هركله چې رسول الله ﷺ پوره كړو مونځ خپل، ويې وئيل په تاسو كښې دغه كلمات چا وويل؟ هغه څه بده وينا ونه كړه. نو هغه سړی وويل ما ای د الله رسوله، زه راغلم او سا مې ستړی شوی وه ما وويل، نو هغه وفرمائيل: ما وليدل دولس فرښتې چې جلتې ئې كوله چې كوم يو به ئې پورته كوي. او زيادت كړی دی حميد په دې كښې: كله چې يو د تاسو نه راشي نو څی دې پشان د هغې چې هغه وو چې تلو به، ودې كړی مونځ كوم چې بيامونځی او قضايي دې راوړی د هغې چې تربنه فوت شوی دی.

[٧٦٤]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَاصِمٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ ابْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاةً، قَالَ عَمْرٌو: لَا أَدْرِي أَيَّ صَلَاةٍ هِيَ، فَقَالَ: "اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللَّهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ثَلَاثًا، أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ مِنْ نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ وَهَمْزِهِ، قَالَ: نَفْثُهُ الشِّعْرُ، وَنَفْخُهُ الْكِبْرُ، وَهَمْزُهُ الْمُوتَةُ".

ترجمه: د ابن جبير نه روايت دې هغه روايت كوی د خپل پلار نه، بيشكه هغه رسول الله ﷺ وليدلو چې مونځ ئې كولو . وئيلي دی عمرو زه نه پوهيږم چې هغه كوم مونځ وو . نو هغه وويل الله اكبر كبيرًا .... ترجمه: الله لوی دی په لويې سره، الله لوی دی په لويې سره، الله لوی دی په لوی سره، او حمد دی الله لره زيات، او حمد دی الله لره زيات، او حمد دی الله لره زيات، او پاكې ده الله لره صبا بيگاه، درې خله پناه نيسم زه په الله پورې د شيطان نه د پوكې د هغه نه او د توک د هغه نه او د تونگې د هغه نه هغه وايي چې نفث ئې شعر دی، او

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٩٤٢٣) (صحيح)

(): صحيح مسلم/المساجد ٢٧ (٦٠٠)، سنن النسائي/الافتتاح ١٩ (٩٠٢)، (تحفة الأشراف: ٣١٣، ١١٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٧/٣، ١٦٨، ١٨٨، ٢٥٢) (صحيح)

(): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢ (٨٠٧)، (تحفة الأشراف: ٣١٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٠/٤، ٨١، ٨٢، ٨٣، ٨٥) (ضعيف)

نفخ ئې کبر دی، او همزيې مشقت دی.

[٧٦٥]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ فِي التَّطَوُّعِ ذَكَرَ نَحْوَهُ.

ترجمه: نافع بن جبير د خپل پلار نه روايت کوی هغه وئيلی دي: ما اوريدلی دی د نبی ﷺ نه چې هغه به وئيل په نفلو کښې، ذکر ئې کړو پشان د هغې دعا.

[٧٦٦]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، أَخْبَرَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، أَخْبَرَنِي أَزْهَرُ بْنُ سَعِيدٍ الْحَرَازِيُّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ حُمَيْدٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَفْتَتِحُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيَامَ اللَّيْلِ؟ فَقَالَتْ: لَقَدْ سَأَلْتَنِي عَنْ شَيْءٍ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَحَدٌ قَبْلَكَ، "كَانَ إِذَا قَامَ كَبَّرَ عَشْرًا وَحَمِدَ اللَّهَ عَشْرًا وَسَبَّحَ عَشْرًا وَهَلَّلَ عَشْرًا وَاسْتَغْفَرَ عَشْرًا، وَقَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي، وَيَتَعَوَّذُ مِنْ ضِيقِ الْمَقَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ خَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ، عَنْ رَبِيعَةَ الْجُرَشِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، نَحْوَهُ.

ترجمه: د عاصم بن حميد نه روايت دې هغه وئيلی دي: ما تپوس وکړو د عائشې نه په کوم شی به رسول الله ﷺ قيام الليل شروع کولو، هغې وويل: تا مانه د داسې شی تپوس وکړو چې مانه ددې هېڅا تپوس نه دی کړی مخکې ستا نه، وو هغه چې کله به پاڅيدلو نو تکبير به ئې ويلو لس ځله، او حمد د الله به ئې ويلو لس ځله، او تسبيح به ئې وئيله لس ځله، او تهليل به ئې ويلو لس ځله، او استغفار به ئې ويلو لس ځله، او هغه به وويل: اې الله ما وبخښې او هدايت وکړې ماته، او رزق راکړې ماته او عافيت راکړې ماته. او پناه به ئې غوښتله د ځائې د تنګوالی نه په ورځ د قيامت کښې. وئيلی دی ابوداود: او ددې روايت خالد بن معدان کړی دی د ربيعة بن الجرشي نه او هغه د عائشې نه په شان د هغې.

[٧٦٧]()حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ؟ قَالَتْ: "كَانَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ: اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ أَنْتَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ".

ترجمه: د عبد الرحمن عوف نه روايت دې هغه وئيلی دی ما تپوس وکړو د عائشې نه په کوم شی باندې به د الله نبی ﷺ شروع کولو مونځ خپل چې کله به د شپې بيدار شو؟ هغې وويل: وو چې کله به بيدار شو د خوب نه نو شروع کولو به ئې مونځ خپل: اې الله رب د جبريل او ميکائيل او د اسرافيل دی، ای پيدا کونکی دا سمانونو او د ځمکې پوهه په غيبو او په ښکارو ته فيصله کونکی ئې په مابين د بندګانو خپلو کښې په هغه څه کښې چې د دوی

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣١٩٩) (ضعيف)

(٢): سنن النسائي/قيام الليل ٩ (١٦١٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٠ (١٣٥٦)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٢، ١٦١٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٣/٦)، ويأتي عند المؤلف برقم: (٥٠٨٥) (حسن صحيح)

(٣): صحيح مسلم/صلاة المسافرين ٢٦ (٧٧٠)، سنن الترمذي/الدعوات ٣١ (٣٤٢٠)، سنن النسائي/قيام الليل ١١ (١٦٢٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٠ (١٣٥٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٦/٦) (حسن)

ﭙﻜﯥ اختلاف دی، هدایت وکړی ماته هغه څه ته چې په هغې کښې اختلاف شوی دی د حق نه په اذن ستا سره، بیشکه ته هدایت کوی هغه چاته چې ته ئې وغواړی سمې لارې.

[٧٦٨](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُوحٍ قُرَادٌ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، بِإِسْنَادِهِ بِلَا إِخْبَارٍ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: كَانَ إِذَا قَامَ بِاللَّيْلِ كَبَّرَ، وَيَقُولُ:

ترجمه: د عکرمه نه روایت دې د هغه په اسناد سره بغیر د اخبار نه او په معنی د هغې سره، هغه وئیلی دي: وو کله چې به پاڅیدلو د شپې نو تکبیر ئې ویلو او وئیل به یې

[٧٦٩](٢)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، قَالَ: لَا بَأْسَ بِالدُّعَاءِ فِي الصَّلَاةِ فِي أَوَّلِهِ وَأَوْسَطِهِ وَفِي آخِرِهِ فِي الْفَرِيضَةِ وَغَيْرِهَا.

ترجمه: د مالک نه روایت دې هغه وئیلی دي: پروا نشته په دعاء باندې په مونځ کښې په اول کښې او په مینځ کښې او په اخیر کښې په فرضو کښې او په نفلو کښې.

دعاء في الصلاة کښې د امام مالك مسلك

قوله: ﴿ حدثنا القعنبي عن مالك قال : لا باس بالدعاء في الصلاة ﴾ د امام مالك رحمه الله په نزد د مونځ په هر حالت کښې او ددې په هر رکن کښې که هغه مونځ فرض وی یا نفل، د دعا غوښتلو اجازت دې ﴿ سواء تعلق بحوائج الدنيا او الاخرة ولو بالتعيين ﴾، د امام مالک دا مذهب په مدونه کښې هم مذکور دی خو په دې کښې ئې د رکوع استثناء کړې ده چه د رکوع نه علاوه باقی ټولو ځایونو کښې دعا غوښتلې شی، د هغوی په نزد د چا نوم اخستلو سره هم په مونځ کښې دعا غوښتل جائز دی، په منهل کښې د هغوی مذهب ډیر په تفصیل سره لیکلې دې، زه وایم چه د رکوع استثناء هغه غالبا ددې حدیث په بناء فرمائیلې ده کوم چه هغه به زمونږ په نزد وړاندې راشی چه په هغې کښې دی ﴿ فاما الركوع فعظموا الرب فيه واما السجود فاجتهدوا في الدعاء فقمن ان يستجاب لكم ﴾ د دې نه معلومیږی چه رکوع محل دعا نه ده، په خلاف د سجدو والله تعالى اعلم. دا قول شو د امام مالک او وړاندې هم په دې کتاب کښې څو پاڼې پس د ﴿ باب الدعاء في الصلاة ﴾ په اخر کښې دا راځی، ﴿ قال احمد : يعجبني في الفريضة ان يدعو بما في القران ﴾ یعنی په فرض مونځ کښې به هم هغه دعاګانې غوښتلې شی کوم چه ماثور دی په دې کښې نور اختلاف او بیان مذاهب ﴿ باب التشهد : ثم ليتخير احدكم من الدعاء اعجبه اليه ﴾ د لاندې راشی

[٧٧٠](٣)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُجْمِرِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَحْيَى الزُّرَقِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيِّ، قَالَ: "كُنَّا يَوْمًا نُصَلِّي وَرَاءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، قَالَ رَجُلٌ وَرَاءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٧٧٩) (حسن)

(٢): موطا امام مالك/كتاب القرآن ٩، عقيب حديث (٣٩) (صحيح)

(٣): صحيح البخاري/الأذان ١٢٦ (٧٩٩)، سنن النسائي/الافتتاح ٣٦ (٩٣٢)، التطبيق ٢٢ (١٠٦٣)، (تحفة الأشراف: ٣٦٠٥)، موطا امام مالك/القرآن ٧ (٢٥)، مسند احمد (٣٤٠/٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٨٤ (٤٠٤) (صحيح)

اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنِ الْمُتَكَلِّمُ بِهَا آنِفًا؟ فَقَالَ الرَّجُلُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقَدْ رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلَاثِينَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ".

ترجمه: د رفاعة بن رافع الزرقی نه روایت دې هغه وئیلی دي: وو مونږ یوه ورځ چې مونځ کولو مونځ وروسته د رسول الله ﷺ نه، هرکله چې رسول الله ﷺ خپل سر اوچت کړو د رکوع نه نو ویې وئیل: (سمع الله لمن حمده) وویل یو سړی وروسته د رسول الله ﷺ نه: (ای الله تا لره حمد دی حمد ډیر پاک او د برکت والا) هرکله چې فارغ شو رسول الله ﷺ هغه وویل: څوک وو خبرې کونکی لګ مخکې؟ وویل سړی زه یم ای د الله رسوله! نو وویل رسول الله ﷺ: بیشکه ما ولیدل څه دپاسه دېرش ملائک چې جلتی ئې کوله چې کوم یو ئې اول ولیکي.

تشریح: قوله: ﴿ حدثنا القعنبي... لقد رایت بضعة وثلاثین ملکا یبتدرونها ﴾ کوم سړی چه په هغه پسې شاته په مونځ کښې د رکوع نه د پاسیدو نه پس کلمات مذکوره فی الحدیث لوستلي وو د هغه په باره کښې هغه فرمائی چه ما هغه وخت د دیرشو نه زیاتې فرشتې اولیدې چه د هغه کلماتو اعداد او حروف هم دومره دی، ددې نه مخکښې په یو روایت کښې په ځائې د درې دیرش اثنی عشر ملکا راغلي دي، او دې کښې حکمت علامه عینی ﷫ دا بیان فرمائیلي دې چه کلمات مذکوره فی الحدیث شپږ دی ګویا د هرې کلمې د اخستلو دپاره دوه ملائکو منډه کړې،

(تعارض مع تطبیق)

خو ددې دوارو احادیثو د عدد په اعتبار سره تعارض دې، حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکی چه حافظ ابن حجر او علامه عینی دواړه اګرچه د اتحاد واقعه قائل دی خو د اختلاف عدد ئې هیڅ توجیه نه ده فرمائیلې، البته صاحب د فیض الباری ددې په جواب کښې تعدد واقعه اختیار کړې ده، او زما دا خیال دې چه که دا دواړه واقعات جدا جدا دی نو اوس ئې هیڅ اشکال نشته، او که یوه واقعه وی نو بیا به دا وئیلې شی چه احدی الروایتین وهم دې، دا معلومه نه ده چه کوم یو، والله اعلم، ځکه چه د سند په اعتبار سره دواړه احادیث صحیح دی.

[۷۷۱] (١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ، يَقُولُ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيَّامُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، أَنْتَ الْحَقُّ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَأَخَّرْتُ وَأَسْرَرْتُ وَأَعْلَنْتُ، أَنْتَ إِلَهِي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ".

---

[١]: صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٦٩)، سنن الترمذي/الدعوات ٢٩ (٣٤١٨)، سنن النسائي/قيام الليل ٩ (١٦٢٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٠ (١٣٥٥)، (تحفة الأشراف: ٥٧٥١)، موطا امام مالك/القرآن ٨ (٣٤)، مسند احمد (١/٢٩٨، ٣٥٨، ٣٦٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١٦٩ (١٥٢٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التهجد ١ (١١٢٠)، والدعوات ١٠ (٦٣١٧)، والتوحيد ٨ (٧٣٨٥)، ٢٤ (٧٤٤٢)، ٣٥ (٧٤٩٩) (صحيح)

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ وو چې کله به پاڅیدلو مانځه ته په څه حصه د شپه کښې نو وئیل به یې اې الله تالره حمد دی، ته نور د اسمانونو او د ځمکې ئې، او تالره حمد دی، ته ټینګونکې د اسمانونو او د ځمکې ئې، او تالره حمد دی، ته رب د اسمانونو او د ځمکې ئې او د هغه څه چې په دې کښې دي، ته حق ئې او ستا قول حق دی او ستا وعده حقه ده او تاسره ملاقات حق دی او جنت حق دی او جهنم حق دی او قیامت حق دی، ای الله ما تاته غاړه ایخې ده او په تا ایمان لرم او په تا باندې توکل کوم او تاته رجوع کوم، او جګړه کوم ستا دپاره، او تاته فیصله راوړم، ماته بخښنه وکړې د هغې چې ما مخکې کړې دی او وروسته مې کړې دی او پټ مې کړې دی او ښکاره مې کړې دي، ته زما اله ئې، نشته لائق د عبادت مګر ته یې.

[٧٧٢]()حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ،حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ،حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مُسْلِمٍ، أَنَّ قَيْسَ بْنَ سَعْدٍ حَدَّثَهُ، قَالَ: حَدَّثَنَا طَاوُسٌ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي التَّهَجُّدِ يَقُولُ بَعْدَ مَا يَقُولُ اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ ذَكَرَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ وو چې وئیل ئې په تهجدو کښې پس د هغې نه چې الله اکبر به ئې وویلو، بیا ذکر کړه معنی د هغې.

[٧٧٣]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ، نَحْوَهُ، قَالَ قُتَيْبَةُ: حَدَّثَنَا رِفَاعَةُ بْنُ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ عَمِّ أَبِيهِ مُعَاذِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَطَسَ رِفَاعَةُ لَمْ يَقُلْ قُتَيْبَةُ رِفَاعَةُ، فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ، فَقَالَ: مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟" ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ وَأَتَمَّ مِنْهُ.

ترجمه: معاذ بن رفاعة بن رافع د خپل پلار نه روایت کوی هغه وایي: ما مونځ وکړو وروسته د رسول الله ﷺ نه نو انتوشي وکړو رفاعة. قتیبة نه دی ویلي چې رفاعه وو. نو ما وویل: حمد دی الله لره حمد ډیر پاک او د برکت والا او چې برکت وریاندې ایخودی شوی وی لکه څنګه چې ئې خوښوی رب زمونږ او هغه پرې راضی کیږي. هرکله چې مونځ وکړو رسول الله ﷺ نو راوګرځیدلو، ویې وئیل: مانځه کښې چا خبرې وکړې؟ بیا ئې ذکر کړو پشان د حدیث د مالک او ډیر پوره د هغې نه.

تشریح: قوله:﴿ حدثنا قتيبة بن سعيد...... فعطس رفاعة فقلت : الحمد لله حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه مباركا عليه الخ ﴾ د دې حدیث راوی رفاعه بن رافع دې، هغه د خپل ځان نه په غائب سره تعبیر کوی، مباركا فيه، مباركا عليه... د دواړو په مفهوم کښې فرق دا لیکلې شوې دې چه د اول نه مراد زیادت دې او د ثانی نه مراد بقاء ده یعنی داسې حمد چه په هغې کښې زیادت کیږی او همیشه باقی پاتې کیدونکې وی.

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٧٠٢، ٥٧٤٤) (صحيح)

(): سنن الترمذي/الصلاة ١٨٠ (٤٠٤)، سنن النسائي/الافتتاح ٣٦ (٩٣٢)، (تحفة الأشراف: ٣٦٠٦، ٩٨٠) (حسن)

د مونځ په حالت کښې حمد عاطس

په دې حديث کښې دا دی چه دې صحابی باندې په مونځ کښې پرنجې راغلو چه په هغې باندې هغه په خپلې ژبې سره حمد ادا کړو، سوال دا دې چه مسئله څه ده، عاطس لره په مونځ کښې الحمد لله وئيل پکار دی يا نه، نو د احنافو يو قول دا دې چه په ﴿ الحمد لله ﴾ وئيلو سره به مونځ فاسد شی خو اصح قول د عدم فساد دې بيا وئيلې شوې دی څکه چه مناسب دا ده چه خاموش دې پاتې شی، او وئيلې شوې دی چه په زړه کښې دې حمد کوی ﴿قيل يسکت وقيل يحمد فی نفسه ﴾، او امام ترمذی په دې حديث باندې دا ليکلې دی چه د اکثر علماء کرامو په نزد دا حديث په تطوع باندې محمول دې څکه چه د هغوی په نزد په فرض مونځ کښې د حمد فی نفسه نه د زائد گنجائش نشته، يعنی په ژبې سره د ادا کولو گنجائش نشته خو وړاندې په روايت کښې راځی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿من القائل الکلمة فانه لم يقل باسا ﴾ د دې نه خو په ظاهره معلوميږی چه په فرضو کښې هيڅ حرج نشته، د صاحب منهل رائې هم دا ده، او هغوی د حافظ په حوالې سره نقل کړې دی چه په يو روايت کښې تصريح ده ددې خبرې چه دا د مابنام د مونځ واقعه ده، او د جمهورو مذهب هم هغه دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله فرمائيلې دې لهذا ﴿ لم يقل باسا ﴾ تاويل ته محتاج دې، مثلا دا چه د معصيت نفی ده يا دا چه د عدم علم د وجې نه هغه معذور اوګڼلې شو.

[٧٧٤](١)حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "عَطَسَ شَابٌّ مِنَ الْأَنْصَارِ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ، فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ حَتَّى يَرْضَى رَبُّنَا وَبَعْدَ مَا يَرْضَى مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنِ الْقَائِلُ الْكَلِمَةَ؟ قَالَ: فَسَكَتَ الشَّابُّ، ثُمَّ قَالَ: مَنِ الْقَائِلُ الْكَلِمَةَ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ بَأْسًا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَا قُلْتُهَا لَمْ أُرِدْ بِهَا إِلَّا خَيْرًا، قَالَ: مَا تَنَاهَتْ دُونَ عَرْشِ الرَّحْمَنِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى".

ترجمه: د عبد الله بن عامر بن ربيعة نه روايت دې هغه د خپل پلار نه روايت کوی هغه وئيلی دي: انبوشی وکړو يو ځوان د انصارو نه وروسته د رسول الله ﷺ نه او هغه په مونځ کښې وو، نو هغه ووئيل: حمد دی الله لره حمد ډير پاک او د برکت والا او چې برکت ورباندې ايخودی شوی وی لکه څنګه چې ئې خوښوی رب زمونږ او هغه پرې راضی کيږی د کار د دنيا او د اخرت نه. هرکله چې فارغ شو رسول الله ﷺ ويې وئيل: څوک دی ويونکی کلمو لره؟ هغه ووئيل: چوپ شو ځوان، بيا ئې ووئيل: څوک دی ويونکی کلمو لره؟ هغه بده خبره نده کړې. نو هغه ووئيل ای د الله رسوله! ما ووئيلې زما اراده نه وه مګر د خير، هغه وفرمائيل: بندې نه شوې ديخوا د الله د عرش نه چې برکت والا دی او لوی دی.

(١): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٥٠٣٨) (ضعيف)

بَابُ مَنْ رَأَى الاسْتِفْتَاحَ بِسُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ

باب دې په بيان د هغه چا کې کښې استفتاح په سبحانک اللهم وبحمدک سره

[٧٧٥](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَلِيٍّ الرِّفَاعِيِّ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ النَّاجِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ، ثُمَّ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ، ثُمَّ يَقُولُ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، ثَلَاثًا، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، ثَلَاثًا، أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ، ثُمَّ يَقْرَأُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا الْحَدِيثُ يَقُولُونَ هُوَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَلِيٍّ، عَنِ الْحَسَنِ، مُرْسَلًا الْوَهْمُ مِنْ جَعْفَرٍ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدری رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دي: وو رسول الله ﷺ چې کله به پاڅيدلو دشپې الله اکبر به ئې ووېلو، بيا به ئې وئيله (پاکي ده تالره ای الله او ثنا ده تالره ای الله او برکت والا دی نوم ستا، او لوی دی شان ستا، او نشته لائق د عبادت بغير د تانه. بيابه ئې وئيل: لا اله الا الله درې ديرش ځل، بيا به ئې وئيل: الله اکبر درې ديرش ځله (زه پناه غواړم په الله باندې چې سميع او عليم دی د شيطان رټلی شوی نه د وسوسې د هغه نه او د پوکې د ه غه نه او توک د هغه نه. بيا به ئې قرأت لوستلو. وئيلی دی ابوداود: او دې حديث باره کښې وايی دوی: هغه د علی بن علی نه نقل دی او هغه د حسن نه مرسل نقل دی، وهم د جعفر دطرف نه دی.

تخريج حديث او په دې باندې کلام

په دې باب کښې مصنف دې دعا ته کومو ته چه بعض علماء د دعاء تسبيح په نوم سره موسوم کړې ده، ابو سعيد خدری رضی الله عنه او عائشه رضی الله عنها په روايت باندې مرفوعا نقل دی، په دې دواړو کښې اولنې حديث خو په سنن اربعه کښې موجود دې، او حديث عائشه د سنن ثلاثه روايت دې، امام نسائی ددې تخريج نه دې کړې البته حاکم دا مرفوعا روايت کړې دې، وقال صحيح الاسناد. امام ترمذی رحمه الله په دعا استفتاح کښې صرف هم دا يوه دعا ذکر فرمائيلې ده، د ابوسعيد خدری او عائشه رضی الله عنها دواړو د روايت نه، ددې دواړو د روايتونو په الفاظو کښې چه کوم فرق دې هغه هم دوی نه دې بيان کړې، هغه فرق دا دې چه د ابو سعيد خدری رضی الله عنه په روايت کښې ﴿ ولا اله غيرک ﴾ نه پس نور هم زيات دې لکه چه په سنن ابی داود کښې هم دی، او هغه زيادت دا دې ﴿ ثم يقول : الله اکبر کبيرا ثلاثا اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم من همزه ونفخه ونفثه ﴾ امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه بعض اهل علم دا پوره دعا اختيار کړې ده، خو اکثر اهل علم صرف دومره حصه اختيار کړې ده کوم چه په حديث عائشه کښې ده، يعنی ﴿ ولا اله غيرک ﴾ پورې، خو بعض محدثينو چه په هغې کښې امام ابوداود او امام ترمذی هم دې په دې دواړو روايتونو باندې کلام کړې دې، صاحب منهل فرمائی حق دا دې چه دا حديث په متعدد طرق سره مرفوعا روايت شوې دې، اگر چه

(١): سنن الترمذي/الصلاة ٦٥ (٢٤٢)، سنن النسائي/الافتتاح ١٨ (٩٠١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١ (٨٠٤)، (تحفة الأشراف: ٤٢٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٥٠، ٦٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٣ (١٢٧٥) (صحيح)

په بعض طرق کښې دهغه کلام هم دې خو په کثرت طرق سره دضعف انجبار راځي هم دغه شان حضرت په بذل کښې لیکي چه دا دعا د ډیروصحابه کرامونه نقل ده چه د هغې روایات د دارقطني، بیهقي، سنن سعید بن منصور نه نقل دی، بعض موقوفا او بعض مرفوعا، هم دغه شان دا دعا په صحیح مسلم کښې هم موجود ده چه د هغې الفاظ دا دی (أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ يَجْهَرُ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ يَقُولُ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ) او دا مخکښې ذکر شوې چه ابن القیم ددې د ترجیح لس وجوه ذکر کړې دی.

د باب په اول حدیث د مصنف نقد

قوله: (قال ابوداود: وهذا الحديث الخ) یعنی پورته ذکر شوې سند صحیح نه دې، (عن علي بن علي عن ابي المتوكل الناجي عن ابي سعيد الخدري) بلکه صحیح دا ده چه علي بن علي دا د حسن بصری نه مرسلا روایت کوی بغیر د صحابی د ذکر کولو نه، خو حضرت په بذل کښې دجعفر بن سلیمان چه د هغه طرف ته مصنف د وهم نسبت کړې دې د کتب رجال نه د هغه ثقاهت ثابت کړې دې.

[۷۷۶]()حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ الْمُلَائِيُّ، عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ، قَالَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِالْمَشْهُورِ عَنْ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ، لَمْ يَرْوِهِ إِلَّا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، وَقَدْ رَوَى قِصَّةَ الصَّلَاةِ عَنْ بُدَيْلٍ جَمَاعَةٌ لَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ شَيْئًا مِنْ هَذَا.

ترجمه: د عائشې ﷺ نه روایت دې هغې ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چې کله به ئې مونځ شروع کولو وئیل به یي: (پاکي ده تالره ای الله او ثنا ده تالره ای الله او برکت والا دی نوم ستا، او لوی دی شان ستا، او نشته لائق د عبادت بغیر د تانه. وئیلی دی ابوداود: او دا حدیث مشهور نه دی د عبد السلام بن حرب نه، نه دی نقل کړی مګر طلق بن غنام او په تحقیق سره نقل کړې ده قصه د مونځ د بدیل نه یو جماعت هغوی هیڅ شی نه دی ذکر کړی په هغې کښې ددې نه.

په حدیث ثانی باندې د مصنف نقد او د هغې جواب

قوله: (قال ابوداود : وهذا الحديث ليس بالمشهور عن عبدالسلام بن حرب) امام ابوداود ﷺ په دې حدیث باندې کلام کولو سره فرمائی چه دا حدیث شاذ او غریب دې، دا حدیث دغه شان د بدیل بن میسره نه روایت کولو کښې عبدالسلام متفرد دې، او خپله د عبدالسلام نه ددې په روایت کولو کښې طلق بن غنام متفرد دې، خو شارحین حدیث لکه چه په بذل المجهود کښې دی، فرمائی چه دا دواړه راویان ثقه دی، عبدالرحمن بن حرب د رجال صحیحین نه دې او طلق بن غنام د بخاری او سنن اربعه د راویانو نه دې، او د ثقه زیادت معتبر وی، حافظ فرمائی (رجال اسناده ثقات ولكن فيه انقطاع) او دلیل د انقطاع دا دې چه

():سنن الترمذي/الصلاة ۶۷ (۲۶۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱ (۸۰۴)، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۴۱) (صحيح)

جعفر فريابى دا حديث په كتاب الصلاة كښې روايت كړى دې چه په هغې كښې داسې دى (عن ابى الجوزاء قال ارسلت رسولا الى عائشة يسالها الخ) د دې نه معلوميږى چه د ابو الجوزاء او عائشې ﷺ ترمينځه واسطه ده خو په دې حديث كښې د امام بخارى ﷺ د مذهب مطابق خو د انقطاع خبره كولې شو د امام مسلم او جمهورو د مذهب مطابق نه شو كولې، ځكه چه كيدې شى ابو الجوزاء عائشې ﷺ ته تلو سره د هغې نه بالمشافهه دا حديث اوريدلې وى لاجل امكان اللقاء بسبب وجود المعاصرة بينهما.

بَابُ السَّكْتَةِ عِنْدَ الافْتِتَاحِ

باب دې په بيان د سکتې کې په وخت د افتتاح کې

[٧٧٧](1)حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ الْحَسَنِ، قَالَ: قَالَ سَمُرَةُ "حَفِظْتُ سَكْتَتَيْنِ فِي الصَّلَاةِ: سَكْتَةً إِذَا كَبَّرَ الْإِمَامُ حَتَّى يَقْرَأَ، وَسَكْتَةً إِذَا فَرَغَ مِنْ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ عِنْدَ الرُّكُوعِ"، قَالَ: فَأَنْكَرَ ذَلِكَ عَلَيْهِ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ، قَالَ: فَكَتَبُوا فِي ذَلِكَ إِلَى الْمَدِينَةِ إِلَى أُبَيٍّ، فَصَدَّقَ سَمُرَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا قَالَ حُمَيْدٌ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: وَسَكْتَةً إِذَا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ.

ترجمه: وئيلى دى سمرة: ما يادې كړى دى د رسول الله ﷺ نه په مانځه كښې دوه سکتې، يوه سكته داده چې كله به تكبير ووېلو امام تر قرأت شروع كولو پورې، او بله سكته چې كله فارغ به شو د فاتحة الكتاب نه او د سورت نه د ركوع په وخت كښې. هغه وئيلى دي: نو ددې خبرې انكار وكړو عمران بن حصين، هغه وئيلى دي: دوى وليكل په دې كښې مدينې كښې ابى ته نو هغه د سمرة تصديق وكړو. وئيلى دى ابوداود: دارنګه وئيلى دى حماد په دى حديث كښې: او يوه سكته دا وه چې كله به فارغ شو د قرأت نه.

[٧٧٨](2)حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ خَلَّادٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ يَسْكُتُ سَكْتَتَيْنِ إِذَا اسْتَفْتَحَ وَإِذَا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ كُلِّهَا، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ يُونُسَ.

ترجمه: د سمرة بن جندب نه روايت دې هغه روايت كوى د نبى ﷺ نه بيشكه هغه وو چې دوه سكتې به ئې كولې: چې كله به ئې شروع د مانځه كوله او چې كله به فارغ شو د ټول قرأت نه. نو ذكريې كړه معنى د حديث د يونس.

[٧٧٩](3)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، أَنَّ سَمُرَةَ بْنَ جُنْدُبٍ، وَعِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ تَذَاكَرَا، فَحَدَّثَ سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ "أَنَّهُ حَفِظَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَكْتَتَيْنِ: سَكْتَةً إِذَا كَبَّرَ وَسَكْتَةً إِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ سورة الفاتحة آية ٧"، فَحَفِظَ ذَلِكَ سَمُرَةُ وَأَنْكَرَ عَلَيْهِ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ، فَكَتَبَا فِي ذَلِكَ إِلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَكَانَ فِي كِتَابِهِ إِلَيْهِمَا أَوْ فِي رَدِّهِ عَلَيْهِمَا: أَنَّ سَمُرَةَ قَدْ حَفِظَ.

---

(1): سنن الترمذي/الصلاة ٧٤ (٢٥١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢ (٨٤٥)، (تحفة الأشراف: ٤٦٠٩)، مسند احمد (١١/٥، ٢١، ٢٣) (ضعيف)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٥٧٦)، مسند احمد (١٥/٥، ٢٠، ٢١، ٢٢) (ضعيف)

(3): انظر حديث رقم: (٧٧٧)، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٩، ٤٦٠٩) (ضعيف)

ترجمه: بیشکه سمرة بن جندب او عمران بن حصین دواړو مذاکره وکړه، حدیث بیان کړو سمرة بن جندب، چې بیشکه هغه یادې کړې دی د رسو ل الله ﷺ نه دوه سکتې: یوه دا وه چې کله به ئې تکبیر وویلو، او بله سکته دا وه چې کله به فارغ شو د لوستلو د غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ نه، دا خبره سمرة ته یاده وه او عمران انکار وکړو، نو دواړو لیکل وکړه أبی بن کعب ته نو په خط د هغه کښې هغو دواړو ته او یا په جواب د هغه کښې په دواړو باندې، بیشکه سمرة خبره یاده کړې ده.

[٧٨٠]()حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ بِهَذَا، قَالَ: عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ قَالَ: "سَكْتَتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ فِيهِ: قَالَ سَعِيدٌ: قُلْنَا لِقَتَادَةَ: مَا هَاتَانِ السَّكْتَتَانِ؟ قَالَ: إِذَا دَخَلَ فِي صَلَاتِهِ وَإِذَا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ، ثُمَّ قَالَ بَعْدُ: وَإِذَا قَالَ: غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ سورة الفاتحة آية ٧".

ترجمه: د سمرة نه روایت دې هغه وئیلی دي: دوه سکتې دی چې ما یادې کړې دی د رسول الله ﷺ نه، هغه وئیلی دی په هغې کې: چې وئیلی دی سعید: مونږ ووېل قتادة ته: دا دواړه سکتې کومې دي؟ هغه ووېل: کله چې به داخل شو مانځه کښې او چې کله به فارغ شو د قرآت نه، بیا هغه وروسته ووېل: اوچې کله به ئې ووئیله غیر المغضوب علیهم ولا الضالین.

د مونځ په سکتات کښې روایات او د فقهاء کرامو اختلاف

په روایاتو کښې د څو سکتاتو ذکر راځی چه په هغې کښې سکته عند الافتتاح دصحیحین په روایاتو کښې ثابت ده، او د سنن روایت کوم چه مصنف هم ذکر کړې دې، د سکتتین ثبوت د هغې نه کیږی یعنی یوه سکته عند الافتتاح او یوه بعد الفراغ من القراءة، او بیا ددې دویمې سکتې په روایاتو کښې هم اضطراب دې د بعض نه معلومیږی بعد الفراغ من الفاتحة، او د بعض نه معلومیږی بعد الفراغ من القراءة، یعنی مطلق قرآت چه د هغې مطلب دا دې بعد الفراغ من السورة،او یو احتمال دا هم دې چه دوه سکتات مستقل وی یعنی ﴿ بعد الفراغ من الفاتحة وبعد الفراغ من السورة ﴾ په دې صورت کښې به کل سکتات درې شی، دوه دا او یو عند الافتتاح.

دا خو شو اختلاف من حیث الروایات واما الفقهاء الکرام فهم ایضا مختلفون فی ذلک... پس امام مالک خو مطلقا د سکتې انکار فرمائی د هغه په نزد سکتة الافتتاح هم نشته په دې وجه هغه د دعا استفتاح هم قائل نه دې، کما تقدم فی الباب السابق، او امام شافعی او امام احمد د سکتتین قائل دې چه په هغې کښې سکته اولی د دعاء افتتاح دپاره ده او سکته ثانیه بعد الفاتحه، خو د سکته ثانیه چه په کوم نوع سره شوافع قائل دی په هغې سره د هغوی مقصد نه حل کیږی ځکه چه هغوی خو دا وائی چه دا دویمه د امام سکته ددې دپاره ده چه مقتدی د فاتحې قرآت اوکړې شی خو ددې دپاره سکته طویله پکار ده چه د هغې ثبوت د روایاتو نه نشته د روایاتو نه صرف د سکته لطیفه ثبوت دې، او د احنافو په نزد دا سکته د امام د امین دپاره ده ځکه چه زمونږ په نزد امین په پټه دې، او د حنابله په نزد دا

(١): انظر حدیث رقم: (٧٧٧)، (تحفة الأشراف: ٤٥٨٩، ٤٦٠٩) (ضعیف)

سکته د قرأت فاتحه دپاره خو کیدې نه شي ځکه چه هغوی د قرأت خلف الامام في الجهرية قائل نه دی صرف په سریه کښې قائل دی او ددې سکتې تعلق دې د جهري مونځونو سره، او نه دا سکته د هغوی په نزد د امین دپاره ده ځکه چه د هغوی په نزد امین بالجهر دې (فيمكن ان تكون للفصل بين الفاتحة والسورة) په سکتات باندې کلام په فتح الملهم شرح مسلم کښې هم تفصيلا موجود دې.

ځان پوهه کړه چه ددې بحث ضرورت په قرأت خلف الامام کښې راپيښيږی لهذا دا دې محفوظ اوساتلې شی.

[٧٨١]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عُمَارَةَ. ح وحَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، عَنْ عُمَارَةَ، الْمَعْنَى عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ فِي الصَّلَاةِ سَكَتَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ، فَقُلْتُ لَهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، أَرَأَيْتَ سُكُوتَكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ، أَخْبِرْنِي مَا تَقُولُ، قَالَ: اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ أَنْقِنِي مِنْ خَطَايَايَ كَالثَّوْبِ الْأَبْيَضِ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ".

ترجمه: د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دي: وو رسول الله ﷺ چې کله به ئې تکبير ويلو په مانځه کښې سکته ئې وکړه په مينځ د تکبير او قرأت کښې. ما ورېل هغه ته زما مور او او پلار دې د تانه قربان شي، ما خبر کړه په چپ کيدلو ستا په مابين د تکبير او قرأت کښې خبر راکړه ماته چې ته څه وايې؟ هغه وفرمائيل اې الله لرې والی راولی په مابين زما او زما د ګناهونو کښې کې لکه څرنګه چې تا لرې والی راوستی دی په مابين د مشرق او مغرب کښې، اې الله ما پاک کړې د ګناهونو زما نه پشان د سپينې جامې د خبرې نه، اې الله ما وينځې په واوره او اوبو او په ګلئ سره.

تشریح: قوله:(حدثنا احمد بن ابي شعيب... اذا كبر في الصلاة سكت بين التكبير والقراءة.... قال اللهم باعد بيني وبين خطاياي الخ) دا ده دعاء استفتاح چه د هغې حواله زمونږ په نزد په تير باب کښې ورکړې شوې ده.

قوله:(اللهم اغسلني بالثلج والماء والبرد) (برد) د راء په فتحې سره په معنی د ګلئ

شرح حديث

دلته يو طالب علمانه سوال دا دې هغه دا چه په کپړه يا بدن صفا کولو کښې چه څومره ګرمې اوبه مفيد او مددګارې وی دومره يخې نه وی لکه چه ظاهره ده، نو بيا دلته واوره او ګلئ ولې خاص طور سره اختيار کړې شوې ده، جواب دا دې چه دلته په حديث کښې د بدن ظاهری خيرو صفائی خو مراد نه ده دلته خو مقصود د ګناهونو او خطايانو ازاله ده چه دا موجب نار دی نو معاصی ته عين د نار درجه ورکولو سره د هغې د ازالې دپاره دا مبردات ذکر کړې شوې دی، کوم چه د ازاله نار دپاره عين مناسب دی، كذا قالوا.

[1]: صحيح البخاري/الأذان ٨٩ (٧٤٤)، صحيح مسلم/المساجد ٢٧ (٥٩٨)، سنن النسائي/الافتتاح ١٥ (٨٩٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١ (٨٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٩٦)، مسند احمد (٢/٢٣١، ٤٤٨، ٤٩٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٦ (١٢٨٠) (صحيح)

باب مَنْ لَمْ يَرَ الْجَهْرَ بِـ {بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ}

باب دې په بیان د هغه چا کې نه وینې جهر په بسم الله الرحمن الرحیم با ندې

دلته دوه مسئلې دی په مونځ کښې د سورة فاتحه په شروع کښې به ﴿ بسم الله ﴾ لوستلې شی یا نه، او که لوستلې شی نو پټه یا ښکاره؟

المسئلة الاولى : د فاتحې په اول کښې بسم الله وئیل

د فاتحې په شروع کښې بسمله د امام شافعی رحمه الله په نزد واجب ده بلکه داسې اوایئ چه فرض ده ځکه چه بسم الله د هغه په نزد د فاتحې جزء دې او قرأت فاتحه د هغوی په نزد فرض دې، لهذا ﴿ بسم الله ﴾ لوستل به فرض وی، او د احناف او حنابله په نزد ددې لوستل مستحب دی، او د امام مالک رحمه الله په نزد ددې لوستل مکروه دی. "یعنی فی الفریضة ورخص فی النافلة"

اصل کښې په دې کښې اختلاف دې چه ﴿ بسم الله ﴾ د قران کریم یا د یو سورة جزء دې یا نه؟ د حضرت امام شافعی رحمه الله په دې کښې دوه اقوال دی یو دا چه د هر یو سورت جزء دې، دویم قول دا دې چه صرف د سورة فاتحه جزء دې او د احنافو او حنابله په نزد دا مستقل یو آیت دې د یو سورت جزء نه دې او دا اختلاف ددې بسم الله نه په علاوه کښې دې کوم چه په سورة النمل کښې دې دې باره کښې د ټولو اتفاق دې چه هغه ددې سورة جزء دې.

المسئله الثانیه : بسم الله په جهر سره وئیل

یعنی جهر بالبسملة د جمهور صحابه کرامو او خلفاء راشدینو (کما قال الترمذی) هم دغه شان جمهور علماء احناف وحنابله او اسحاق بن راهویه د عدم الجهر بالبسملة قائل دی، او هم دې طرف ته دې میلان د امام بخاری، او د یو مختصر شان جماعت لکه عطاء، طاؤس، مجاهد د جهر بالبسمله د استحباب قائل دی او هم د هغوی نه یو امام شافعی رحمه الله هم دې، علامه زیلعی رحمه الله په نصب الرایه کښې دریم مذهب د تخییر بین الجهر والسر لیکلې دې، او دا چه دا د اسحاق بن راهویه او ابن حزم قول دې او دا خبره خو ظاهره ده چه ددې اختلاف تعلق صلاة جهریه سره دې، په سری مونځونو کښې بسمله بالاتفاق سرا ده.

په دې موضوع باندې بعض محدثینو مستقل تصنیفات هم لیکلې دی لکه امام بیهقی رحمه الله او دارقطنی وغیره کما فی نصب الرایة، وقد بسط هو الکلام علیه اشد البسط بما لا مزید علیه.

الکلام علی دلائل الباب

اوس پاتې شوه مسئله د دلائلو پس هغه په کتاب کښې راروان دی پس د باب اولنې روایت کوم چه راروان دې هغه د جمهورو مستدل دې.

[٧٨٢]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الْقِرَاءَةَ بِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ سورة الفاتحة آية ٢".

ترجمه: د انس ﷺ نه روايت دي، بيشکه نبي ﷺ او ابوبکر او عمر او عثمان وو چي افتتاح د قرأت به ئي کوله په (الحمد لله رب العالمين) باندي.

تشريح: قوله: ﴿ عن انس رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم واباٻکر وعمر وعثمان ﴾ دا حديث په صحيحين کښې هم دغه شان راغلي دي او د مسلم په روايت کښې دا زيادت دي ﴿ فلم اسمع احدا منهم يقراء بسم الله الرحمن الرحيم ﴾ د مسلم دا روايت په عدم الجهر بالبسمله کښې صريح دي، او د بخاري په حديث کښې چونکه دا زيادت نشته په دې وجه په دې کښې د عدم الجهر ثبوت په طريق د استنباط دې چه هر کله راوي دا وائي چه رسول الله ﷺ د قرأت ابتداء د ﴿ الحمد لله رب العالمين ﴾ نه کوله نو ددې نه خپله معلومه شوه چه بسم الله به ئي بالجهر نه لوستله وړاندې په کتاب کښې دويم حديث د عائشي ﷺ راروان دې چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ کان رسول الله صلى الله عليه وسلم يفتح الصلاة بالتکبير والقراءة ب الحمد لله رب العالمين ﴾ ددې نه علاوه د جمهورو سره د عبدالله بن مغفل ﷺ حديث دې کوم چه د سنن ثلاثه روايت دې ﴿ عن عبدالله بن مغفل قال سمعني ابي وانا في الصلاة اقول بسم الله الرحمن الرحيم فقال لي يا بني محدث ﴾ د ابن عبدالله نوم دلته په روايت کښې مذکور نه دې د هغه نوم يزيد دې. کما في الطبراني ومسند ابي حنيفة.

او امام ابوداود د جهر بالبسمله په باره کښې هيڅ صريح حديث نه دې ذکر کړې، البته امام ترمذي د جهر او عدم جهر دواړو دپاره جدا جدا ابواب قائم کړي دي، د جهر په سلسله کښې هغه د ابن عباس ﷺ حديث ذکر کړې دې ﴿ قال کان النبي صلى الله عليه وسلم يفتتح صلاته ببسم الله الرحمن الرحيم ﴾ دا حديث اول خو صراحة په جهر باندې دلالت نه کوي، بله دا چه دا روايت ضعيف دې په دې کښې اسماعيل بن حماد راوي ضعيف دې او ابو خالد مجهول دې، او يو بل حديث دې د شوافعو سره، د نعيم بن عبدالله المجمر چه د هغې تخريج امام نسائي او ابن خزيمه او ابن حبان کړې دې ﴿ صليت وراء ابي هريرة فقراء بسم الله الرحمن الرحيم ﴾ دا حديث هم اول خو صراحة په جهر باندې دلالت نه کوي پس علامه سندهي ليکي: ﴿ لا يدل على الجهر بل على نفس القراءة ﴾ او علامه زيلعي فرمائي: الحديث معلل بثلاثة علل... د علل ثلاثه تفصيل په اماني الاحبار کښې کتلې کيدې شي.

او امام دارقطني خو په يو موقع باندې ددې خبرې اعتراف کړې دې، پس په بذل المجهود کښې (ج ٢ ص ٥٣) کښې دی، علامه عيني فرمائي چه بعض حضراتو د دارقطني سره په دې خبره باندې استحلاف کړې دې چه ددې باره کښې يو حديث شته يا نه نو په دې باندې باندې هغه اوفرمائيل: ليس فيه حديث صحيح.

(): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٣٨٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ٨٩ (٧٤٣)، صحيح مسلم/الصلاة ١٣ (٣٩٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٦٨ (٢٤٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٠ (٩٠٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤ (٨١٣)، موطا امام مالك/الصلاة ٦ (٣٠)، مسند احمد (١٠١/٣، ١١١، ١١٤، ١٨٣، ٢٧٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٤(١٢٧٦) (صحيح)

[٧٨٣]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ بِـ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ سورة الفاتحة آية ٢، وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ وَلَكِنْ بَيْنَ ذَلِكَ، وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَائِمًا، وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا، وَكَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّاتُ، وَكَانَ إِذَا جَلَسَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنَى، وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عَقِبِ الشَّيْطَانِ وَعَنْ فَرْشَةِ السَّبُعِ، وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې ويلي دي: وو رسول الله ﷺ چې افتتاح د مونځ به ئې کوله په تکبير سره، او افتتاح د قرأت به ئې کوله په (الحمد لله رب العالمين) سره. او وو چې کله به ئې رکوع کوله سر به ئې نه خکته کولو او نه به ئې نيغ نبولو لکن درميانه به وو، او وو چې کله به ئې سر د رکوع نه اوچت کړو نو سجده به ئې نه کوله تردې چې برابر شي په ولاړه، او وو چې وئيل به ئې په هر دوه رکعاتونو کښې: التحيات، او وو چې کله به کيناستلو نو خوروله به ئې خپله چپه خپه او ودروله به ئې ښي خپه، او وو چې منع به ئې کوله پشان د کيناستلو د شيطان نه، او د لاسونو د خوړولو پشان د درنده ځناور نه، او وو چې مونځ ئې ختمولو په سلام سره.

تشريح: **قوله**:﴿ وكان ينهى عن عقب الشيطان وعن فرشه السبع ﴾... د عقب الشيطان نه مراد اقعاء ده چه دهغې باب دځو ابوابو نه روسته مستقل راروان دي ﴿باب الاقعاء بين السجدتين﴾ په دې باندې به کلام هم هلته راشي.

[٧٨٤]()حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ، فَقَرَأَ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ سورة الكوثر آية ١ حَتَّى خَتَمَهَا، قَالَ: هَلْ تَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ؟ قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي فِي الْجَنَّةِ".

ترجمه: مختار بن فلفل وايي چې ما اوريدلی دی انس بن مالک نه چې هغه به وئيل: وئيلی دی رسول الله ﷺ: نازل شو په ما باندې اوس يو سورت نو ويې لوستلو. بسم الله الرحمن الرحيم انا اعطيناکَ الکوثر تردې چې ختم ئې کړو هغه ووېل: ايا تاسو پوهېږئ چې کوثر څه شی دی؟ هغوی ووېل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي، هغه ووېل: بيشکه هغه يو نهر دی چې ماسره زما رب د هغې وعده کړې ده په جنت کښې.

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت

قوله:﴿ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انزلت على انفا سورة الخ ﴾ دا حديث په ظاهره د ترجمة الباب سره مناسبت نشته، په دې کښې په جهر يا عدم جهر باندې هيڅ قسم دلالت نه

[١]: صحيح مسلم/الصلاة ٤٦ (٤٩٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤ (٨١٢)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١/٦، ١١٠، ١٧١، ١٩٤، ٢٨١)، سنن الدارمي/الصلاة ٣١ (١٢٧٢) (صحيح)

[٢]: صحيح مسلم/الصلاة ١٤ (٤٠٠)، الفضائل ٩ (٢٣٠٤)، سنن النسائي/الافتتاح ٢١ (٩٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٥)، مسند احمد (١٠٢/٣، ٢٨١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/تفسير الكوثر (٣٣٥٩)، ويأتي عند المؤلف في السنة برقم: (٤٧٤٧) (حسن)

شي بيا موندلي، البته په تکلف سره په دې کښې دلالت راوتلي شي هغه دا چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په ما باندې يو سورت نازل شوې دې او بيا د هغې په تشريح کښې رسول الله ﷺ د بسم الله سره سورة ﴿ انا اعطيناک الکوثر ﴾ اولوستلو، نو ګويا وئيلې کيدې شي چه کله د سورة په مصداق کښې بسم الله شامل کړې شي نو بسم الله د سورة جزء شو او دا مسئله د جهر او عدم جهر په دې باندې متفرع ده، خو په دې صورت کښې به ددې مقتضى دا وى چه ﴿ بسم الله ﴾ جهرا پکار ده کوم چه د ترجمة الباب خلاف دې، نو ددې توجيه دا ده ﴿ باب من لم ير الجهر ببسم الله الرحمن الرحيم ومن راى الجهر بها ﴾ ځکه چه بعض وخت د احد الضدين په ذکر باندې اکتفاء کوى.

[٧٨٥]([1])حَدَّثَنَا قَطَنُ بْنُ نُسَيْرٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ الْأَعْرَجُ الْمَكِّيُّ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَذَكَرَ الْإِفْكَ، قَالَتْ: جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهِ، وَقَالَ: "أَعُوذُ بِالسَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ سورة النور آية ١١ الْآيَةَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ، قَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ جَمَاعَةٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، لَمْ يَذْكُرُوا هَذَا الْكَلَامَ عَلَى هَذَا الشَّرْحِ، وَأَخَافُ أَنْ يَكُونَ أَمْرُ الِاسْتِعَاذَةِ مِنْ كَلَامِ حُمَيْدٍ.

ترجمه: ابن شهاب د عروة نه روايت دې کړى دى هغه د عائشى نه، او ذکر ئي کړو افک، هغې ووېل: کيناستلو رسول الله ﷺ او خپل مخ ئې ښکاره کړو، او ويې وئيل: (أَعُوذُ بِالسَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ) الآية، وئيلى دى ابوداود: او دا منکر حديث دى، يو جماعت دا حديث د زهرى نه ذکر کړى دى او دا کلام ئي نه دى ذکر کړى په دې طريقې سره، او زه ويريږم چې وې به امر د استعاذې د کلام د حميد.

تشريح: **قوله**:﴿ وقال : اعوذ بالسميع العليم من الشيطان الرجيم ان الذين جاؤوا بالافک عصبة منکم﴾ (الاية) دا د حديث الافک يوه ټکړه ده چه د هغې تفصيل د حديث په نورو کتابونو صحيحين او ترمذى وغيره کښې دې، قصه ډيره مشهوره ده، د واقعې د راپيښيدو نه پس چه د رسول الله ﷺ د کورنۍ دپاره کوم زبردست امتحان وو، د تهمت صفائى او د عائشې ﷺ د برامت په باره کښې چه کوم آيتونه نازل شوى دى په دې حديث کښې د هغې ذکر دې، هغه دا چه د برامت په سلسله کښې چه کله په رسول الله ﷺ باندې وحى نازله شوه او رسول الله ﷺ د خپل مخ مبارک نه نقاب لرې کړو کوم چه به هغه د وحى د نزول په وخت په مخ مبارک باندې اچولو، نو رسول الله ﷺ دغه آيتونه د تعوذ نه روستو اولوستل، پس مصنف صرف دومره ذکر کړو.

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت

د دې حديث د ترجمة الباب سره مطابقت په ظاهره هيڅ نه دې، يو مطابقت د دقيق استنباط په طور کيدې شي هغه دا چه په دې موقع باندې رسول الله ﷺ د آيتونو په شروع کښې بسم الله او نه لوستله، که د بسم الله لوستل د سورتونو په ابتداء کښې صرف د تبرک دپاره وې نو رسول الله ﷺ به دلته هم هغه لوستلې وې، معلومه شوه چه د سورتونو په شروع کښې د

[1]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٦٤٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٧/٦) (ضعيف شاذ)

بسم الله د جزء کيدو په حيثيت سره لوستلې شي او جر بالبسمله والاختلاف هم په دې باندې متفرع دې (كذا فى البذل) دا مناسبت په رابنکلو دې گينې دا هم وئيلې شي چه د سورتونو په شروع کښې بسم الله د فصل دپاره ده، او دلته د فصل حاجت نه وو، بهرحال يو لحاظ سره د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت پيدا شو.

د مصنف د کلام شرح

قوله:﴿ قال ابوداود وهذا حديث منكر ﴾ د مصنف غرض د احاديث الافک په تولو احاديثو باندې نقد کول نه دی هغه خو مشهور او متفق عليه حديث دې، صرف هغه تکړه چه کومه دلته مذکور ده په هغې باندې اشکال ذکر کوی ځکه چه په روايت مشهوره کښې داسې نه ده چه هغه اولا تعوذ اولوستلو د هغې نه روستو ئې آيتونه اولوستل بلکه صرف دومره دی ﴿ وانزل الله تعالى ان الذين جائوا بالافک الاية ﴾

بَابُ مَنْ جَهَرَ بِهَا

باب دې په بيان د هغه چاکې چې جهرئې کړې دی په هغې سره

دا د جهر بالبسمله باب دې په دې کښې مصنف څه صريح حديث نه دې ذکر کړې، مثلا د ابن عباس هغه حديث دکوم چه امام ترمذیؒ تخريج کړې دې چه د هغې حواله مونږ سره په تير باب کښې راغلې دې، چونکه هغه حديث ډير ضعيف دې، د مصنف د شرط مطابق په ظاهره کښې نه وو په دې وجه ئې هغه دلته نه دې راوړې.

[٧٨٦]()[1] أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ عَوْفٍ، عَنْ يَزِيدَ الْفَارِسِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: قُلْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ مَا حَمَلَكُمْ أَنْ عَمَدْتُمْ إِلَى بَرَاءَةَ وَهِيَ مِنَ الْمِئِينَ وَإِلَى الْأَنْفَالِ وَهِيَ مِنَ الْمَثَانِي، فَجَعَلْتُمُوهُمَا فِي السَّبْعِ الطِّوَالِ وَلَمْ تَكْتُبُوا بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ؟ قَالَ عُثْمَانُ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا تَنَزَّلُ عَلَيْهِ الْآيَاتُ فَيَدْعُو بَعْضَ مَنْ كَانَ يَكْتُبُ لَهُ، وَيَقُولُ لَهُ: ضَعْ هَذِهِ الْآيَةَ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا، وَتَنْزِلُ عَلَيْهِ الْآيَةُ وَالْآيَتَانِ، فَيَقُولُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَكَانَتِ الْأَنْفَالُ مِنْ أَوَّلِ مَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ بِالْمَدِينَةِ، وَكَانَتْ بَرَاءَةُ مِنْ آخِرِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ، وَكَانَتْ قِصَّتُهَا شَبِيهَةً بِقِصَّتِهَا فَظَنَنْتُ أَنَّهَا مِنْهَا، فَمِنْ هُنَاكَ وَضَعْتُهَا فِي السَّبْعِ الطِّوَالِ وَلَمْ أَكْتُبْ بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ".

ترجمه: يزيد الفارسي وئيلي دی، چې ما اوريدلی دی د ابن عباس نه، هغه وايې چې ما ووئيل عثمان بن عفان ته. تاسو باندې څه باعث وو چې قصد مو وکړو سورة براءة ته او هغه د مئينی نه دی، او انفال ته او هغه د مثانيو نه دی تاسو هغه دواړه وګرځول سبع طوالو نه او تاسو ونه ليکه د دواړو په مينځ کښې کرخه د بسم الله الرحمن الرحيم، عثمان ووئيل وو نبی ﷺ د هغې نه چې نازليدل به په هغه باندې ايتونه نو راغوښتلو به ئې بعضې هغه کسان چې ليکل به ئې کول، او فرمائيل به ئې هغه ته. دا ايت کيده په هغه سورت کښې چې داسې داسې پکښې ذکر دې. او نازليدل به په هغه باندې يو ايت او دوه ايتونه نو هغه به فرمائيل په مثل د هغې، او وو انفال د اولنو هغه سورتونو نه چې په هغه نازل شوی وو په

[1] سنن الترمذي/تفسير القرآن ١٠ (٣٠٨٦)، (تحفة الأشراف: ٩٨١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٥٧، ٦٩) (ضعيف)

مدينه كښې او وو سورة براءة د اخيرنو هغه نو چې نازل شوې دی د قرآن نه، او وه قصه د هغې مشابه د قصې د هغې سره نو ما گمان وكړو چې دا د هغې نه جزء دی، ددې وجې نه ما هغه كيخودله په سبع طوالو كښې او ما ونه ليكله كرخه د بسم الله الرحمن الرحيم.

په حديث كښې مذكور سوال او جواب او د هر دواړو تشريح

قوله: ﴿ سمعت ابن عباس قال: قلت لعثمان بن عفان الخ ﴾ تاسو ته معلومه ده چه د سورة براءة په شروع كښې ﴿ بسم الله ﴾ ليكلې شوې نه ده او د هر سورة په شروع كښې ﴿ بسم الله ﴾ ليكلې شوې ده لهذا يو اشكال خو دا شو او دا خبره معلومه ده چه د سورتونو ترتيب داسې دې خصوصا په اوائل قران كښې لوئې سورتونه مقدم او واړه مؤخر دی، پس د ټولو نه لوئې سورة سورة البقره دې، هغه په ترتيب كښې د ټولو نه اول دې د هغې نه روستو آل عمران وهكذا، په سورة الانفال او براءة كښې دا اشكال دې چه په دې كښې وړوكې سورة سره د وړوكوالی نه مقدم دې او دوېم يعنی سورة براءة سره د لوئې والی نه مؤخر دې، اولنې او دوېم اشكال دواړه ترجمان القران سيدنا ابن عباس ﷛ د جامع القران عثمان ﷛ مخې ته كيخودلو چه ددې څه وجه ده؟

په سوال او د هغې په جواب دواړو باندې د پوهيدلو دپاره ضروری ده چه اول په دې باندې ځان پوهه كړې شی چه علماء او قاريانو د قران كريم د سورتونو د وړوكوالی او لوئې والی په اعتبار سره درې حصې كړې دی پس د شروع حصه چه په هغې كښې اته سورتونه دی، د سورة البقرة نه تر سورة البراءة پورې دې ته سبع طوال[۱] بيا ددې نه روستو يولس سورتونه داسې دی كوم چه په سلو آيتونو يا ددې نه په زيات باندې مشتمل دی هغې ته ذوات المئين وئيلې شی، د هغې نه روستو شل سورتونه داسې دی چه د هغې آيتونه د سلو نه كم دی هغې ته مثانی وئيلې شی، او د هغې نه پس اخری شپږ اويا سورتونو ته مفصل وئيلې شی، ددې تمهيد نه روستو اوس په اشكال باندې ځان پوهه كړئ، هغه دا چه ددې ترتيب تقاضه دا وه چه په سبع طوال كښې په ځائې د انفال صرف سورة براءة كيخودلې شوې وې ځكه چه د سورة براءة نه پس بلكه وړاندې ټلو سره د مئين د سلسله ختميدو نه پس د كوم ځائې نه چه مثانی شروع كيږی هلته كيخودلې شی ځكه چه د سورة براءة آيتونه يو سل او ديرش او د سورة انفال آيتونه صرف پنځه اويا دی، ددې شمار خو په مئين كښې هم كيدل نه دی پكار پاتې لا دا چه په سبع طوال كښې، د جواب حاصل دا دې چه ستا اشكال مبنی دې په دې باندې چه ستا دا خيال دې چه انفال او براءة دوه مستقل سورتونه دی، حال دا چه دا يقينی نه ده ځكه چه نه خو رسول الله ﷺ مونږ ته د براءة په شروع كښې د ﴿ بسم الله ﴾ ليكلو حكم فرمائيلې وو چه د هغې نه مونږ په دې باندې پوهه شوې وې چه دا مستقل سورة دې، او دا ئې ارشاد اوفرمائيلو چه براءة د انفال جزء دې، او چونكه مضمون د دواړو

---

[۱] سره ددې چه اته دی خو سبع طوال ورته په دې وجه وائی د اخری دوه سورتونو يعنی انفال او براءة دوه كيدل متيقن نه دی، ۱۲

سورتونو يو شان دي په دې وجه مونږ دواړه متصلا يوځائې كښې بغير د بسم الله نه اوليكلو، اوس دا چه ددې برعكس ئې ولې اونكړل انفال به ئې د وړوكوالى د وجې نه مؤخر كړې وې او براءة به ئې د لوئې والى د وجې نه مقدم كړې وې نو هغه په دې وجه چه انفال په نزول كښې په براءة باندې مقدم وو په دې وجه په وضع كښې هم هغه مقدم كړې شو، ددې تقرير نه د دواړو اشكالاتو جواب راوتلو، د ﴿ بسم الله ﴾ نه ليكلو جواب دا چه زمونږ ددې خبرې يقين هم نه وو چه د براءة نه مستقل سورة شروع كيږي، او احتمال ثانى يعنى د دوه سوتونو د مستقل كيدو تقاضه اگر چه دا وه چه براءة مقدم كړې شوې وې په انفال باندې، خو د ترتيب نزول رعايت مانع شو د داسې كولو نه، والله تعالى اعلم، شارحين حديث او مفسرينو د خپل خپل ذوق مطابق اشكال او جوابات ليكلې دى، حضرت اقدس تهانوى رحمه الله هم په بيان القران كښې داسې ليكلې دى، مونږ په هغې كښې د مختصر نه مختصر تقرير لره اختيار كړو.

قوله: ﴿ ضع هذه الاية في السورة التي يذكر فيها كذا وكذا الخ ﴾ يعنى كوم آيتونه چه به په رسول الله ﷺ باندې نازليدل، رسول الله ﷺ به خپل كاتبين وحي ته فرمائيل چه دا آيت په دې سورة كښې اوليكه چه په هغې كښې دا مضمون دې، او دا آيت په دې سورة كښې اوليكه چه په هغې كښې دا مضمون دې، ددې نه علماء كرامو دا ثابته كړې ده چه د آيتونو ترتيب توقيفى دې يعنى د شارع د طرف نه متعين دې په خلاف د ترتيب سور چه هغه د صحابه كرامو اجتهادى عمل دې.

[۷۸۷]([1]) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ مُعَاوِيَةَ، أَخْبَرَنَا عَوْفٌ الْأَعْرَابِيُّ، عَنْ يَزِيدَ الْفَارِسِيِّ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ فِيهِ: فَقُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُبَيِّنْ لَنَا أَنَّهَا مِنْهَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ الشَّعْبِيُّ، وَأَبُو مَالِكٍ، وَقَتَادَةُ، وَثَابِتُ بْنُ عُمَارَةَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكْتُبْ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ حَتَّى نَزَلَتْ سُورَةُ النَّمْلِ هَذَا مَعْنَاهُ.

ترجمه: حديث بيان كړې دې مونږ ته ابن عباس په معنى د هغې سره، هغه پكې ويلى دي: وفات شو رسول الله ﷺ او بيان ئې نه كړو مونږ ته چې دا د هغې نه دى. وئيلى دى ابوداود وئيلى دى شعبى او ابو مالک او قتادة او ثابت بن عمارة: بيشكه نبى ﷺ نه وه ليكلى بسم الله الرحمن الرحيم تردې چې نازل شو سورة النمل، دا معنى د دې ده.

شرح حديث مع اشكال او جواب

قوله: ﴿ ان النبى صلى الله عليه وسلم لم يكتب بسم الله الرحمن الرحيم حتى نزلت سورة النمل ﴾ يعنى رسول الله ﷺ به د سورتونو په شروع كښې ﴿ بسم الله ﴾ نه ليكله تردې چه سورة نمل پرې نازل شو د هغې نه روستو ئې د سورتونو په شروع كښې بسم الله ليكل شروع كړل، په سورة نمل كښې د سليمان عليه السلام د هغه خط ذكر دې كوم چه هغه د بلقيس په نوم باندې ليكلې وو چه د هغې په شروع ﴿ بسم الله الرحمن الرحيم ﴾ وو.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۶۸۱۹) (ضعيف)

دا خو ددې حديث معنى شوه خو په دې باندې دا اشكال دې چه د دې نه روستو راتلونكى حديث ابن عباس رضي الله عنهما كښې دى. ﴿ كان النبي صلى الله عليه وسلم لا يعرف فصل السورة حتى تنزل عليه بسم الله الرحمن الرحيم ﴾ څكه چه ددې نه معلوميږى چه په رسول الله ﷺ باندې به د هر سورة په شروع كښې ﴿ بسم الله ﴾ نازليده، او هغه ته به د يو سورة د شروع كيدو علم د بسم الله د نزول نه كيدو چه اوس ددې ځائې نه سورة شروع كيږى.

جواب د دې اشكال جواب دا دې چه په دې اول حديث كښې د كتابت بسمله نفى ده، د نزول نفى پكښې نشته، كيدې شى چه بسم الله خو به نازليده خو رسول الله ﷺ به ئې په شروع كښې د ليكلو حكم نه كولو، او د سورة نمل د نزول نه روستو به ئې د ليكلو حكم كولو، او يو بل جواب دا دې چه د ﴿ لم يكتب ﴾ نه مراد ﴿ في اوائل السور ﴾ نه دې، ﴿ بل في الكتب والرسائل ﴾ يعنى د خطونو او ليک په شروع كښې به هغه د سورة النمل د نزول نه مخكښې بسم الله نه ليكله، او ددې سورة د نازليدو نه پس به رسول الله ﷺ د خطونو په شروع كښې بسم الله ليكله.

[۷۸۸]([1])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَابْنُ السَّرْحِ، وَأَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ قُتَيْبَةُ فِيهِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّورَةِ حَتَّى تَنَزَّلَ عَلَيْهِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ "وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ السَّرْحِ.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې هغه وئيلى دي: وو نبى ﷺ چې نه ئې پيژندلو فصل د سورة تردې چې نازل شو په هغه باندې بسم الله الرحمن الرحيم. اودا الفاظ د ابن السرح دى.

بَاب تَخْفِيفِ الصَّلَاةِ لِلْأَمْرِ يَحْدُثُ

باب دې په بيان د تخفيف د مانځه كې د وجې د يو كار نه چې پيښ شي

يعنى د يو عارض د راپيښيدو په وجه باندې مونځ مختصر كول

[۷۸۹]([2])حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ، وَبِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا، فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ كَرَاهِيَةَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمِّهِ".

ترجمه: د عبد الله بن ابى قتادة نه روايت دې هغه روايت كوى د خپل پلار نه هغه وئيلى دى چې فرمائيلى دى رسول الله ﷺ: بيشكه زه پاڅيږم مانځه ته او زما اراده دا وى چې اوږديى وكړم نو زه واورم ژړا د ماشوم نو زه تخفيف وكړم په هغې كښې، د وجې د بد ګڼړلو نه چې په امت باندې سختى وكړم.

تشريح: **قوله**:﴿ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لانى لاقوم الى الصلاة وانا اريد ان اطول فيها فاسمع بكاء الصبى فاتجوز الخ ﴾ رسول الله ﷺ فرمائى چه ډير كرته زه د مونځ دپاره اودريږم

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۵۸٤، ۱۸٦۷۸) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأذان ٦۵ (۷۰۷)، ۱٦۳ (۸٦۸)، سنن النسائي/الإمامة ۳۵ (۸۲٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤۹ (۹۹۱)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۱۰)، وقد أخرجه: (حم ۵/۳۰۵) (صحيح)

او د مخکښې نه مې اراده د مونځ د اوږدولو وی خو د يو ماشوم د ژړا اواز واورم (چه د هغه مور په مونځ کښې شريکه وی) په دې وجه مونځ مختصر کړم چه د ماشوم مور ته به تکليف وی.

(د اطالة الركوع للجائي مسئله)

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ظاهر دې، ددې حديث نه بعض علماء کرامو په يوه بله مسئله باندې استدلال کړې دې يعنی اطالة الركوع للجائي، پس خطابی فرمائی چه ددې نه معلومه شوه چه امام ته که د رکوع په حالت کښې دا محسوس شی چه يو سړې مونځ ته د شرکت دپاره راروان دې نو امام د هغه د ادراک رکعت دپاره رکوع اوږدولې شی، ځکه چه د يو دنيوی مصلحت دپاره مونځ مختصر کيدې شی نو د دينی مصلحت دپاره هغه ولې نه شی اوږدولې، مسئله مختلف فيه ده، علامه عينی رحمه الله فرمائی چه بعض علماء لکه شعبی، حسن بصری او عبدالرحمن بن ابی ليلی دې ته جائز وئيلې دی او هم دا رائې د امام احمد، اسحاق او ابوثور هم ده، خو د يو قيد سره چه ﴿ ما لم يشق على اصحابه ﴾ او د جمهور علماء ثلاثه په نزد داسې کول جائز نه دی،[1] د شوافعو په دې کښې دوه اقوال دی ﴿ قال الحافظ عند الشافعية فيه اختلاف وتفصيل ﴾ د جمهورو د طرف نه د خطابی د استدلال جواب دا دې چه دا استدلال بې محل او قياس مع الفارق دې يعنی تطويل لره په تخفيف باندې قياس کول، د تخفيف اثمه د مخکښې نه مامور او مکلف دی، نو بيا تطويل په دې باندې څنګه قياس کيدې شی.

بَابُ مَا جَاءَ فِي نُقْصَانِ الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د هغې کې چې راغلی دی په بيان د نقصان د مانځه کې

[٧٩٦] (٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ بَكْرٍ يَعْنِي ابْنَ مُضَرَ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَنَمَةَ الْمُزَنِيِّ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ الرَّجُلَ لَيَنْصَرِفُ وَمَا كُتِبَ لَهُ إِلَّا عُشْرُ صَلَاتِهِ تُسْعُهَا ثُمُنُهَا سُبُعُهَا سُدُسُهَا خُمُسُهَا رُبُعُهَا ثُلُثُهَا نِصْفُهَا".

ترجمه: د عمار بن ياسر نه روايت دې هغه وئيلی دی چې ما اوريدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هغه به وئيل: بيشکه سړی فارغيږی او نه وې ليکل شوی د هغه لپاره مګر لسمه حصه د مونځ، نهمه حصه، اتمه حصه، اومه حصه، شپږمه حصه، پنځمه حصه، څلورمه حصه، دريمه حصه، نيم د هغې.

---

[1] په بذل کښې ليکی چه زمونږ په نزد د امام اطالة الركوع کول که صرف د ادراک رکعت دپاره وی نه د الله د الله پاک د تقرب دپاره نو دا مکروه تحريمی دی او ډير د خطری څيز دې خو ددې په وجه باندې به کافر نه وی ځکه چه ددې اطالة د هغه غرض د غير الله عبادت نه دی، او يو قول دا دې چه که د راتلونکی سره د امام پيژنګلو نه وی نو بيا هيڅ باک نشته، خو اصح دا ده چه په دې صورت کښې هم ددې ترک اولی دې او هغه چه وراندې د عبدالله بن اوفی په روايت کښې راځی ﴿ ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يقوم في الركعة الاولى من صلاة الظهر حتى لا يسمع وقع قدم ﴾ د دې جواب دا دې چه ددې په سند کښې يو راوی مجهول دې او يا مؤول دې چه دلته تطويل صلاة مراد نه دې بلکه د مونځ په شروع کولو کښې انتظار مراد دې ١٢.

[2] سنن النسائي الكبرى: كتاب السهو ١٣٠ (٦١٢)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢١/٤) (حسن)

تشریح: قوله: ﴿ عن عمار بن یاسر قال ﴾ د حدیث مطلب واضح دې چه د خشوع او خضوع د کمی او زیادت په اعتبار سره د مونځ په ثواب کښې کمې او زیاتې کیږی، په خشوع او خضوع کښې چه څومره کمال وی په ثواب کښې به هم دومره اضافه وی، او په دې کښې چه څومره نقصان وی دومره به په ثواب کښې هم کمې راځی، پس د بعض دپاره عشر ثواب لیکلې شی او د بعض دپاره د ثواب نهمه حصه او د چا دپاره د ثواب اتمه حصه او د چا دپاره اوومه حصه. وهکذا.

د خشوع فی الصلاة په حکم کښې اختلاف علماء

زه وائم چه ددې حدیث نه معلومیږی چه په مونځ کښې خشوع فرض نه ده او د کمال سبب ضرور دې، او که فرض وې نو بیا مونځ صحیح کیدل هم نه وو پکار، امام بخاری رحمه الله هم باب الخشوع فی الصلاة ترجمه قائم کړې ده، حافظ فرمائی چه امام نووی رحمه الله په دې باندې اجماع نقل کړې ده، او محب طبری ددې توجیه دا کړې ده چه د هغه مراد دا دې چه فی الجمله په مونځ کښې د خشوع کیدل ضروری دی نه په ټول مونځ کښې، او ابن بطال فرمائی چه خشوع فی الصلاة فرض ده خو هغه ورسره دا هم وئیلې دی چه د خشوع نه مراد دا دې چه مونځ صرف د الله پاک د رضا د حاصلولو دپاره اوکړی یعنی د خیالاتو نه راتلل او د حضور قلب حاصلیدل د خشوع نه مراد نه دې ځکه چه دا څیز غیر اختیاری دې. (اه ملخصا من الفتح) خلاصه دا شوه چه د خشوع نه مراد که د نیت برابر والې وی یعنی صرف د الله پاک دپاره مونځ کول نو بیا خو دا بالاجماع فرض دې او که ددې نه مراد سکون او حضور قلب او انتفاء خواطر وی نو هغه د جمهورو په نزد صرف موجب فضل وکمال دې نه واجب، البته بعض علماء لکه قاضی حسین او ابو زید مروزی نه ددې وجوب منقول دې.

بَابٌ فِي تَخْفِيفِ الصَّلَاةِ

باب دې په بیان د تخفیف د مونځ کښې

په دې باب کښې مصنف د معاذ بن جبل رضی الله عنه د مونځ واقعه ذکر کړې ده دا حدیث په ابواب الامامة کښې د ﴿ امامة من صلی بقوم وقد صلی تلک الصلاة ﴾ د لاندې تیر شوې دې، په دې باندې دې کلام هم هلته اوکتلې شی.

[٧٩٠] ([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، وَسَمِعَهُ مِنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ يَرْجِعُ فَيَؤُمُّنَا، قَالَ مَرَّةً: ثُمَّ يَرْجِعُ فَيُصَلِّي بِقَوْمِهِ، فَأَخَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً الصَّلَاةَ، وَقَالَ مَرَّةً: الْعِشَاءَ، فَصَلَّى مُعَاذٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ جَاءَ يَؤُمُّ قَوْمَهُ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ، فَاعْتَزَلَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَصَلَّى، فَقِيلَ: نَافَقْتَ يَا فُلَانُ، فَقَالَ: مَا نَافَقْتُ، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ مُعَاذًا يُصَلِّي مَعَكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ فَيَؤُمُّنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَإِنَّمَا نَحْنُ أَصْحَابُ نَوَاضِحَ وَنَعْمَلُ بِأَيْدِينَا، وَإِنَّهُ جَاءَ يَؤُمُّنَا فَقَرَأَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ، فَقَالَ: يَا مُعَاذُ، أَفَتَّانٌ أَنْتَ، أَفَتَّانٌ أَنْتَ، اقْرَأْ بِكَذَا، اقْرَأْ بِكَذَا، قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ: بِ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى". فَذَكَرْنَا لِعَمْرٍو، فَقَالَ: أُرَاهُ قَدْ ذَكَرَهُ.

[1]: انظر حدیث رقم: (٦٠٠)، (تحفة الأشراف: ٢٥٣٣) (صحیح)

ترجمه: وو معاذ چې مونځ ئې کولو د نبی ﷺ سره، بیا به واپس شو امامتی به ئې کوله مونږ ته. کله به ئې وئیل: بیا به واپس شو مونځ به ئې کولو خپل قوم. ورروسته کړو نبی ﷺ مونځ یوه شپه. او کله به ئې وئیل: د ماسخوتن. نو مونځ وکړو معاذ د رسول الله ﷺ سره، بیا راغلو چې امامت ئې کولو خپل قوم ته نو ویې لوستله بقره نو جدا شو یو سړی د قوم نه او مونځ ئې خانله وکړو، نو هغه ته وویل شول: ته منافق شوی ای فلانی! هغه وویل: منافق شوی نه یم، نو راغې رسول الله ﷺ ته هغه وویل: بیشکه معاذ مونځ کوی تاسره بیا واپس کېږی او امامت کوی مونږ ته ای د الله رسوله! او بیشکه مونږ خاوندان د اوښو یو او کارونه کوو په لاسونو باندې، او بیشکه دا راغې امامت ئې کولو مونږ ته نو ویې لوستله سورة البقرة، نو هغه ورته وفرمائیل: ای معاذ ایا فتنه اچونکی ته؟ ایا فتنه اچونکی ئې ته؟ ولوله فلانی، ولوله فلانی. وئیلی دی ابو الزبیر: سبح اسم ربک الاعلی، واللیل اذا یغشی. نو مونږ ذکر وکړو عمرو ته هغه وویل: زما ګمان دی چې هغه ذکر کړی دی هغه.

تشریح: **قوله**:﴿ حدثنا احمد بن حنبل حدثنا سفیان عن عمرو بن دینار ﴾ په دې حدیث کښې د سفیان استاذ عمرو بن دینار دې او د عمرو بن دینار په روایت کښې د سورتونو تعیین نشته خو سفیان ته دا روایت د ابو الزبیر نه هم رسیدلې دې او د هغه په روایت کښې د سورتونو تعیین وو، په دې وجه سفیان عمرو بن دینار ته عرض اوکړو چه زمونږ دویم استاذ یعنی ابو الزبیر د سورتونو تعیین کړې دې او تا نه دې کړې نو په دې باندې هغه اوفرمائیل چه او ماته هم یادیږی چه سیدنا جابر رضي الله عنه (چه د عمرو بن دینار استاذ دې) ددې سورتونو نومونه اخستلې وو.

[٧٩١]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا طَالِبُ بْنُ حَبِيبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جَابِرٍ، يُحَدِّثُ، عَنْ حَزْمِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّهُ أَتَى مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ وَهُوَ يُصَلِّي بِقَوْمٍ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا مُعَاذُ لَا تَكُنْ فَتَّانًا، فَإِنَّهُ يُصَلِّي وَرَاءَكَ الْكَبِيرُ وَالضَّعِيفُ وَذُو الْحَاجَةِ وَالْمُسَافِرُ".

ترجمه: د حزم بن ابی بن کعب نه روایت دې بیشکه هغه راغې معاذ بن جبل ته او هغه مونځ کولو قوم ته د ماښام په دې خبر کښې، هغه وئیلی دي: چې وفرمائیل رسول الله ﷺ: ای معاذ ته مه کېږه فتنه اچونکی، بیشکه مونځ کوی وروسته ستا نه بوډا او کمزوری او د حاجت والا او مسافر هم.

[٧٩٢]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ: "كَيْفَ تَقُولُ فِي الصَّلَاةِ؟" قَالَ: أَتَشَهَّدُ، وَأَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ، أَمَا إِنِّي لَا أُحْسِنُ دَنْدَنَتَكَ وَلَا دَنْدَنَةَ مُعَاذٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "حَوْلَهَا نُدَنْدِنُ".

ترجمه: ابو صالح روایت کوي د بعضو ملګرو د رسول الله ﷺ نه، هغه وایي: چې وویل نبی ﷺ یو سړی ته: ته په مانځه کښې څه وایې؟ هغه وویل: زه تشهد وایم او بیا دا وایم: (ای

---

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٣٩٩) (منكر)

[٢]: تفرد به أبو داود، مسند احمد ٣/٤٧٤ (تحفة الأشراف: ١٥٥٦٥)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٦ (٩١٠) (صحيح)

الله زه سوال کوم تا نه د جنت، او پناه غوارم تا پورې د اور نه، هر چې زه يم ښه مې ياده نه ده لهجه او اواز ستا او نه لهجه د معاذ (چه زمونږ امامتي کوي)، نو وويل نبي ﷺ: د دېنه گير چاپيره مونږ اواز کوو (يعني د جنت دعاګاني غوارو).

تشريح: **قوله**: ﴿ اما انى لا احسن دندنتک ولا دندنة معاذ فقال النبى صلى الله عليه وسلم حولها ندندن ﴾ [1] د حديث مضمون دا دې چه يو سړي د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه ته په مونځ کښې څه لولې هغه اووې چه زه تشهد لولم او بيا دا دعا کوم ﴿ اللهم انى اسئلک الجنة واعوذبک من النار ﴾ بيا هغه د معذرت په طور عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ ماته صحيح معلوم نه دی چه تاسو څه لولئ بس زه خو دا مختصر شان دعا لولم، مطلب دا وو چه اصل خو هغه دې کوم چه تاسو لولئ خو زه دا لولم، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه بس صحيح ده مونږ هم دا لولو او داسې دعا کوو، ﴿ دندنة ﴾ هغه کلام ته وئيلې شي چه اوريدلې خو شي خو څوک پرې پوهيږي نه چه هغې ته ګنګوسې وئيلې شي (خو چه کله مونږ په اردو کښې وايو چه "فلاں گنگنا رہا ہے یا دہرا رہا ہے" نو معنی دا وی چه ډير زوردار تقرير کوي) ددې حديث د ترجمة الباب سره مناسبت يعني تخفيف صلاة واضح دې څکه چه په دې کښې ډيره مختصر دعا کړې شوې ده.

[٧٩٣] (٢) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مِقْسَمٍ، عَنْ جَابِرٍ، ذَكَرَ قِصَّةَ مُعَاذٍ، قَالَ: وَقَالَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْفَتَى: "كَيْفَ تَصْنَعُ يَا ابْنَ أَخِي إِذَا صَلَّيْتَ؟ قَالَ: أَقْرَأُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَأَسْأَلُ اللَّهَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِهِ مِنَ النَّارِ، وَإِنِّي لَا أَدْرِي مَا دَنْدَنَتُكَ وَلَا دَنْدَنَةُ مُعَاذٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي وَمُعَاذٌ حَوْلَ هَاتَيْنِ، أَوْ نَحْوَ هَذَا".

ترجمه: د جابر ؓ نه روايت دې. ذکر ئې کړه قصه د معاذ. هغه وئيلي دي وفرمائيل هغه: يعني نبي ﷺ خوان ته. څنګه کوي ته اې وراره کله چې ته مونځ کوې؟ هغه ووېل: زه لولم سورة فاتحه او د الله نه سوال کوم د جنت، او پناه ترېنه غوارم د اور نه او زه نه پوهېږم ستا په لهجه او نه په لهجه د معاذ، نو ووېل رسول الله ﷺ: زه او معاذ ددې دواړه نه چاپېره يو. او يا په مثل د دې ئې اووئيل.

[٧٩٤] (٣) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالسَّقِيمَ وَالْكَبِيرَ، وَإِذَا صَلَّى لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ".

---

[1]) او ددې نه په وړاندې روايت کښې حولها هاتين مذکور دي، د هاتين نه مراد خو ﴿ کلمتين ﴾ دی کوم چه پورته په دعا کښې ذکر شو په يو کښې د جنت طلب او په دويم کښې د جهنم نه پناه او يا د هاتين نه مراد خپله جنت او جهنم دی يعنی مونږ هم ددې دواړو کلماتو يعنی جنت او جهنم نه تاوېږو او دا يادوو د يو طلب او د بل نه پناه غواړو)

[2]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٣٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٢/٣) (صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الأذان ٦٢ (٧٠٣)، سنن النسائي/الإمامة ٣٥ (٨٢٤)، (تحفة الأشراف: ١٣٨١٥)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ٣٧ (٤٦٧)، سنن الترمذي/الصلاة ٦٣ (٢٣٦)، موطا امام مالك/صلاة الجماعة ٤ (١٣)، مسند احمد (٢/ ٢٥٦، ٢٧١، ٣١٧، ٣٩٣، ٤٨٦، ٥٠٢، ٥٣٧) (صحيح)

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ روايت دي بيشکه نبي ﷺ ويلي دي: کله چي مونځ کوی يو کس ستاسو نه خلقو ته نو تخفيف دې وکړی بيشکه په هغوی کښې ضعيف او مريض او بوډا وي، او چې کله ځانله مونځ کوی نو اوږد دی کړی څومره چې ئې خوښه وي.

[٧٩٥]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ، فَإِنَّ فِيهِمُ السَّقِيمَ وَالشَّيْخَ الْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ".

ترجمه: د ابو هريرة ﷛ نه روايت دي، بيشکه نبي ﷺ وويل: کله چې مونځ کوی يو کس ستاسونه نوتخفيف دی وکړی ځکه چې په هغوی کښې مريض او بوډا او د حاجت والا وي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ فِي الظُّهْرِ

باب دې په بيان د هغې کې چې راغلی دی د ماسپښين د قراءت باره کې

د دې ځائې نه ابواب القراءة فی الصلاة شروع کيږی.

د قراءت فی الصلاة په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف

ځان پوهه کړه چه قراءة فی الصلاة عند الجمهور والائمة الاربعة رکن او فرض دې بيا وړاندې تفصيل دې، فعند الشافعي واحمد فی جميع الرکعات وعند مالک فی الاکثر، او عند الحنفية فی رکعتين وعند زفر والحسن البصری فی رکعة واحدة. او د ابوبکر بن الاصم او سفيان بن عيينه او ابن عليه په نزد قراءة فی الصلاة فرض نه دې بلکه سنت دې، او يو قول په دې کښې هغه دې کوم چه د ابن عباس او عمر ﷛ نه نقل دې چه په سری مونځونو کښې قرأت نشته، خو د ابن عباس ﷛ نه چه رجوع ثابت ده د هغې تفصيل په دريم باب کښې راځی.

محل قراءت کوم رکعتونه دی

زمونږ د فقهاء کرامو ترمينځه اختلاف دې چه محل د قرأت کوم دوه رکعتونه دی، راجح قول دا دې چه رکعتين اولين دويم قول دې مطلقا رکعتين که اولين وی يا اخريين، په دې باندې بحث او دلائل په بذل المجهود کښې په حديث د السهو فی الصلاة د لاندې مذکور دی.

[٧٩٧]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ، وَعُمَارَةَ بْنِ مَيْمُونٍ، وَحَبِيبٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: "فِي كُلِّ صَلَاةٍ يُقْرَأُ، فَمَا أَسْمَعَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْمَعْنَاكُمْ، وَمَا أَخْفَى عَلَيْنَا أَخْفَيْنَا عَلَيْكُمْ".

ترجمه: د عطاء بن ابی رباح نه روايت دې، بيشکه ابو هريرة ويلي دي: په هر مانځه کښې قرأت دی کوم ئې چې مونږ ته اورولی دی مونږ ئې تاسو ته اوروو او کوم ئې چې مونږ نه پټ کړی دی مونږيې پټوو په تاسو.

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٣٠٤، ١٥٢٨٨) (صحيح)

[٢]: صحيح مسلم/الصلاة ١١ (٣٩٦)، (تحفة الأشراف: ١٤١٧٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ١٠٤ (٧٧٢)، سنن النسائي/الافتتاح ٥٤ (٩٧٠)، مسند احمد (٢/٢٥٨، ٢٧٣، ٢٨٥، ٣٠١، ٣٤٣، ٣٤٨، ٤١١، ٤١٦، ٤٣٥، ٤٨٧) (صحيح)

تشريح: قوله: ﴿ ان ابا هريرة قال في كل صلاة يقراء الخ ﴾ سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه په هر يو مونځ کښې قرأت وی (په بعض کښې سرا او په بعض کښې جهرا) بس په کوم مونځونو کښې چه رسول الله ﷺ مونږ ته قرأت اوروليې دې هغه به تاسو ته هم جهرا کوو او په کوم کښې چه ئې قرأت پټ کړې دې په هغې کښې به مونږ هم اخفاء کوو ﴿ في كل صلاة يقراء ﴾ دوه مطلبه کيدې شي، يو دا چه په هر يو مونځ کښې که ورځ وی يا شپه وی يا داسې اوايه چه سری وی يا جهری وی قرأت فرض دې، او دويم مطلب دا کيدې شي چه په پوره مونځ کښې قرأت دې يعنی په هر هر رکعت کښې، متبادر معنی اوله ده، مسئله اختلافی ده، اختلاف مخکښې تير شو.

[٧٩٨](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ هِشَامِ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ الْحَجَّاجِ، وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى وَأَبِي سَلَمَةَ: ثُمَّ اتَّفَقَا عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي بِنَا، فَيَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَسُورَتَيْنِ، وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ أَحْيَانًا، وَكَانَ يُطَوِّلُ الرَّكْعَةَ الْأُولَى مِنَ الظُّهْرِ، وَيُقَصِّرُ الثَّانِيَةَ، وَكَذَلِكَ فِي الصُّبْحِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرْ مُسَدَّدٌ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً.

ترجمه: د ابو قتادة نه روايت دې، هغه وئيلی دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو مونږ ته نو لوستلو به ئې په ماسپخين او مازيګر کښې په دوه اولنو رکعاتونو کښې سورة فاتحه او دوه نور سورتونه، او کله به ئې مونږ يو ايت اورولو، او وو چې اوږدولو به ئې اولنی رکعات د ماسپخين نه او کمولو به ئې دويم، او همدارنګه په سحر کښې وو. وئيلی دی ابوداود: نه دی ذکر کړی مسدد: فاتحة الکتاب او سورت.

تشريح: قوله: ﴿ ويسمعنا الاية احيانا ﴾ يعنی په سری مونځونو کښې به رسول الله ﷺ کله کله يو نيم آيت جهرا هم اولوستلو، په دې باندې شيخ ابن حجر مکی شافعی ليکی چه يا خو د غلبه استغراق فی التدبر د وجې نه داسې کيدلې شو يا قصدا لبيان الجواز. او يا ددې وينا دپاره چه په سری مونځونو کښې هم قرأت شته، او يا ددې وينا دپاره چه کوم سورت تلاوت کوی، په دې باندې ملا علی قاری حنفی رحمه الله فرمائي چه د احنافو په نزد به د بيان جواز توجيه صحيح نه وی ځکه چه د هغوی په نزد په جهری کښې جهرا او په سری کښې سرا لوستل واجب دی مګر دا چه اووئيلې شی چه مراد دا دې چه په قرأت سريه کښې د يو يا دوه آيتونو جهر کيدل هغه د سر منافی نه دی ﴿ لا يخرجها عن السر ﴾ او د امام نووی رحمه الله د کلام نه معلوميږی لکه چه په منهل کښې دی چه د شوافعو په نزد په سری مونځونو کښې سرا او په جهری کښې جهرا لوستل د سنت د قبيل نه دی واجب نه دی.

(١): صحيح البخاري/الأذان ٩٦ (٧٥٩)، ٩٧ (٧٦٢)، ١٠٧ (٧٧٦)، ١٠٩ (٨٨٧)، ١١٠ (٧٧٩)، صحيح مسلم/الصلاة ٣٤ (٤٥١)، سنن النسائي/الافتتاح ٥٦(٩٧٥)، ٥٧(٩٧٦)، ٥٨ (٩٧٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٨ (٨٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٢١٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٣/٤، ٢٩٥/٥، ٢٩٧، ٣٠٠، ٣٠١، ٣٠٥، ٣٠٧، ٣٠٨، ٣١٠، ٣١١، ٣٨٣) (صحيح)

[٧٩٩]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ وَأَبَانُ بْنُ يَزِيدَ الْعَطَّارُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، بِبَعْضِ هَذَا، وَزَادَ فِي الأُخْرَيَيْنِ: بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَزَادَ. عَنْ هَمَّامٍ، قَالَ: "وَكَانَ يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى مَا لَا يُطَوِّلُ فِي الثَّانِيَةِ، وَهَكَذَا فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ، وَهَكَذَا فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ".

ترجمه: عبد الله بن ابی قتادة د خپل پلار نه روایت کوي، په بعضې حصې ددې سره، او هغه زیادت کړی دی په وروستنو دوو کښې فاتحة الکتاب، او زیادت ئې کړی دی د همام نه، هغه وئیلی دي: او وو چې اوږدوالی به ئې کولو په اولنی رکعات کښې هغومره چې په دویم کښې به ئې نه کولو، او همداسې د مازیګر په مونځ کښې، او همدارنګه د سحر په مونځ کښې.

تطویل القراءة فی الرکعة الاولی کښې اختلاف علماء

قوله:﴿ وکان یطول فی الرکعة الاولی ما لا یطول فی الثانیة ﴾ امام محمد او هم دغه شان مالکیان او د شوافعو په یو قول کښې اطالة الاولی په ټولو مونځونو کښې مستحب دې، امام نووی رحمه الله فرمائي چه د تطویل اولی والا قول صحیح او مختار دې، او بعض علماء کرام چه په هغوی کښې امام ابوحنیفه او ابویوسف هم دی فرمائي چه اولی او مستحب په قرأت کښې تسویه بین الاولیین ده لکه چه د ډیرو روایاتو نه معلومیږي مثلا په راتلونکی باب کښې د ابوسعید خدری رضی الله عنه په حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ به د قراءت ظهر په رکعتین اولیین کښې د دیرشو آیتونو په اندازه وو، البته شیخین صرف په صلاة فجر کښې د اطالة الاولی قائل دی ځکه چه هغه د نوم او غفلت وخت دې.

د حدیث الباب نه جواب

او د فریق ثاني په نزد د حدیث الباب جواب دا دې چه دا اطالت د قرأت د وجې نه نه وو بلکه د دعاء استفتاح او تعوذ د وجې نه، او امام بیهقی د احادیث تطویل والتسویة ترمینځه جمع داسې کړې ده چه تطویل په هغه صورت کښې دې په داسې حال کښې چه امام ته د چا انتظار وی ګینې تسویه اولی ده، بعض توجیه دا کړې ده چه اطالة اولی د ترتیل فی القراءة د وجې نه معلومیږي نه د مقدار مقروّ د زیادت د وجې نه.

[٨٠٠]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: فَظَنَنَّا أَنَّهُ يُرِيدُ بِذَلِكَ أَنْ يُدْرِكَ النَّاسُ الرَّكْعَةَ الأُولَى.

ترجمه: عبد الله بن قتادة د خپل پلار نه روایت کوي، هغه وئیلی دي: زمونږ دا ګمان وو چې د هغه دا اراده وه په دې سره چې خلک اولنی رکعت راګیر کړي.

په تطویل اولی کښې حکمت

تشریح: **قوله**: ﴿ فظننا انه یرید بذلک ان یدرک الناس الرکعة الاولی ﴾ د دې نه د بیهقی والا توجیه فی الجمله تائید کیږي کوم چه اوس نزدې تیر شو، دغه شان د اطالة اولی والا حکمت یو خو دا شو کوم چه صحابی ذکر کوی چه راتلونکې مسبوق نه شی او یو حکمت بعض علماء

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢١٠٨) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: ٧٩٨، (تحفة الأشراف: ١٢١٠٨) (صحيح)

کرامو دا بیان کړې دې چه ددې وجه دا ده چه د مونځ په شروع کښې تازګي زیاته وی نو نو په دې کښې خشوع او خضوع هم زیاته وی او هم دا مقصود هم دې، په خلاف د روستو رکعتونو، الغرض د ملل د ویرې د وجې نه روستو رکعتونو کښې ترک اطالة مشروع ده، مصنف ابن ابی شیبة (کما فی الفتح ص ١٦٩ ج ٢) کښې یو روایت دې ﴿ کانوا یتمون ویوجزون ویبادرون الوسوسة ﴾ یعنی صحابه کرامو به مونځ کامل کولو او ورسره به ئې د ایجاز او اختصار لحاظ ساتلو چه په مونځ کښې وسوسه رانشي، ما د خپل والد مرحوم نه واوریدل چه حضرت مولانا الیاس صاحب رحمه الله به فرمائیل چه په مختصر مونځ کښې توجه زیاته وی.

[٨٠١]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ، قَالَ: قُلْنَا لِخَبَّابٍ "هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قُلْنَا: بِمَ كُنْتُمْ تَعْرِفُونَ ذَاكَ؟ قَالَ: بِاضْطِرَابِ لِحْيَتِهِ".

ترجمه: د ابو معمر نه روایت دې هغه وایي: چې مونږ وویل خباب ته، ایا وو رسول الله ﷺ چې قرأت ئې کولو په ماسپخین او مازیګر کې؟ هغه وویل: آو، مونږ وویل تاسو دا په څه شی معلوموله؟ هغه وویل: په خوزیدلو د ګیرې د هغه سره.

تشریح: قوله: ﴿ قلنا لخباب هل کان رسول الله صلی الله علیه وسلم : یقراء فی الظهر والعصر ﴾ سیدنا خباب رضی الله عنه فرمائي چه د رسول الله ﷺ ګیره مبارکه به په حالت قیام کښې خوزیدله، د استدلال دپاره به د اضطراب لحیه سره یوه بله مقدمه هم شاملول وی هغه دا چه قیام محل قرأت دې، ځکه چه رکوع او سجود محل اذکار، ګینې نفس اضطراب نه د مطلق لوستلو ثبوت کیږی برابره خبره ده که تسبیح وی یا تلاوت قران.

[٨٠٢]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ عَنْ رَجُلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَقُومُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ حَتَّى لَا يُسْمَعَ وَقْعُ قَدَمٍ".

ترجمه: د عبد الله بن ابی اوفی نه روایت دې، بیشکه نبی ﷺ وو چې ودریدلو به د ماسپخین په مانځه کښې تردې چې د چا د خپې اواز به ئې وانه وریده.

تشریح: قوله: ﴿ حتی لا یسمع وقع قدم ﴾ په دې باندې کلام زمونږ په نزد ﴿ انی لا قوم الی الصلاة وانا ارید ان اطول فیها فاسمع بکاء الصبی ﴾ د لاندې تیر شوې دې.

بَابُ تَخْفِيفِ الْأُخْرَيَيْنِ

باب دې په بیان د تخفیف د وروستنو رکعاتونو کې

په اخریین کښې تخفیف په دې وجه وی چه په دې کښې د سورتونو ضم نه دې پس د جمهور علماء او ائمه ثلاثه مذهب هم دا دې، د امام شافعی رحمه الله قول قدیم هم دا دې د هغوی په قول جدید کښې ضم سورت فی الاخریین هم مستحب دې.

[1]: صحیح البخاري/الأذان ٩١ (٧٤٦)، ٩٦ (٧٦٠)، ٩٧، ١٠٨ (٧٧٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧ (٨٢٦)، (تحفة الأشراف: ٣٥١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٩/٥، ١١٠، ١١٢، ٣٩٥/٦) (صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥١٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٦/٤) (ضعيف)

په مونځ کښې د فاتحې سره د سورة په ضم کولو کښې اختلاف

اوس پاتې شوه دا مسئله چه په اولیین کښې د سورة ضم کول واجب دی یا سنت نو په دې کښې اختلاف دې د احناف او بعض مالکیانو په نزد لکه ابن کنانه په نزد ضم سورة فی الاولیین واجب دې، او د باقی ائمه ثلاثه په نزد مستحب دې.

[۸۰۳]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ أَبِي عَوْنٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ لِسَعْدٍ: قَدْ شَكَاكَ النَّاسُ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: "أَمَّا أَنَا فَأَمُدُّ فِي الْأُولَيَيْنِ، وَأَحْذِفُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ، وَلَا آلُو مَا اقْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ".

ترجمه: د جابر بن سمرة نه روایت دې هغه وئیلی دي: وویل عمر سعد ته: یقیناً شکایت کړی دی د تانه خلقو په هر شی کښې تردې چې په مانځه کښې هم، هغه وویل: هر چې زه یم: زه اوږدوالی کوم په دوه اولنو کښې، او اختصار کوم په وروستنو دوو کښې، او زما هیڅ پروا نشته تر کومه چې زه اقتداء کوم د رسول الله د مانځه پسې. هغه وایي: چې زما هم دا گمان وو په تا.

شرح حدیث

قوله:﴿ قد شکاک الناس فی کل شئ حتی فی الصلاة ﴾ د سیدنا عمر رضی الله عنه په زمانه کښې سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د کوفې والي وو د هغه ځائې د بعض خلقو د هغه نه شکایت پیدا شو، کوم چه عمر رضی الله عنه ته رارسیدلو، په دې ورته عمر رضی الله عنه فرمائی چه دا څه خبره ده چه خلق یعنی اهل کوفه ستا نه په هر یو څیز کښې شکایت کوی تردې چه د مونځ په باره کښې هم (چه ښه طریقې سره ئې نه ادا کوې) نو په دې باندې ورته هغه عرض اوکړو چه زه مونځ داسې ورکوم چه په اولیین کښې قرأت اوږد کوم او په اخریین کښې مختصر ﴿ ولا الو ما اقتدیت به الخ ﴾ دا د مضارع منفی واحد متکلم صیغه ده ﴿ الا یالوا الوا ﴾ نه چه د هغې معنی د تقصیر او کوتاهی ده. کما فی قوله تعالی ﴿ یالونکم خبالا ﴾ یعنی زه کوتاهی نه کوم، زه په داسې مونځ ورکولو کښې څنګه چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اقتداء کښې مونځ کړې دې بلکه څنګه چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ورکولو په هغه طریقه زه هم مونځ ورکوم، او هغه طریقه هم هغه ده کومه چه پورته ذکر کړې شوه. تطویل الاولین وتخفیف الاخرین وغیره، په ظاهره کښې داسې معلومیږی چه معترضین د تسویه بین الاولیین قائل وی، عمر رضی الله عنه د هغه جواب اوریدلو سره اوفرمائیل چه زمونږ په تا هم دغه شان ښه ګمان وو، دا حدیث دلته مختصر دې، په صحیحین کښې تفصیل سره دې، د بخاری شریف په روایت کښې دی چه سیدنا عمر رضی الله عنه د شکایت د تحقیق کولو دپاره د سیدنا سعد رضی الله عنه سره څو کسان کوفې ته اولیږل، پس هغوی هلته تلو سره په هر هر مسجد کښې د هغه په باره کښې تحقیق او تفتیش اوکړو او په جواب کښې ئې هر چا تعریف اوکړو او دا چه دا ټول شکایات غلط دی، تردې چه هغه

---

(۱): صحیح البخاري/الأذان ٩٥ (٧٥٥)، ١٠٣ (٧٧٠)، صحیح مسلم/الصلاة ٣٤ (٤٥٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٧٤ (١٠٠٣)، (تحفة الأشراف: ٣٨٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٧٥، ١٧٦، ١٧٩، ١٨٠) (صحیح)

د قبيله بنو عبس قبيلې ته راغلل نو په هغوی کښې يو سړی چه د هغه نوم اسامه بن قتاده وو هغه اودريدو او هغه د هغه شکايتونه اوکړل او وې وئيل چه ﴿ لا يسير بالسرية ولا يقسم بالسوية ولا يعدل في القضية ﴾ چه دې خپله يوې سريه ته نه اوځي، او په مال غنيمت وغيره تقسيمولو کښې عدل نه کوی او دغه شان په فيصلو کښې هم انصاف نه کوی، په دې اوريدلو سره سيدنا سعد رضي الله عنه هغه ته خو خيرې اوکړې چه اې الله! که دا شکايات غلط وی نو ﴿ فاطل عمره واطل فقره فعرضه بالفتن ﴾ شکايات چونکه غلط وو په دې وجه د سيدنا سعد رضي الله عنه دا خيرې په هغه او لګيدې، پس راوی وائی چه ما خپله اوليدل هغه سړی چه د هغه عمر ډير اوږد شو او تردې چه روځې ئې سپينې شوې، په فقر کښې اخته شو او په لارو او کوڅو کښې به ئې خير غوښتلو او جينکۍ به ئې چيړلې او ذليل او رسوا به ګرځيدو، الله پاک دې مونږ د اهل الله د خيرو نه اوساتي.

[٨٠٤]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ يَعْنِي النُّفَيْلِيَّ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا مَنْصُورٌ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ مُسْلِمٍ الْهُجَيْمِيِّ، عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ النَّاجِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "حَزَرْنَا قِيَامَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ ثَلَاثِينَ آيَةً قَدْرَ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ، وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذَلِكَ، وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى قَدْرِ الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ، وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذَلِكَ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدری رضي الله عنه نه روايت هغه وئيلی دي: مونږ د رسول الله ﷺ قيام اټکل اوکړو، نو مونږ اټکل ولګوه د قيام د هغه په اولنو دوه رکعاتونو کښې د ماسپخين په اندازه د ديرشو رکعاتو د الم تنزيل السجدة هومره، او د هغه قيام مونږه اټکل کړو په وروستنو دوه رکعاتونو کښې په نيم د هغې، او مونږ اټکل اوکړو قيام د هغه په اولنو دوه د مازيګر کښې په اندازه د وروستنو دوه رکعاتونو د ماسپخين، او مونږ اټکل ولګوه په وروستنو دوه رکعاتونو کښې د مازيګر کښې په نصف د هغې باندې.

تشريح: قوله: ﴿ حزرنا قيام رسول الله صلى الله عليه وسلم في الظهر والعصر ﴾ د دې حديث نه درې خبرې معلومې شوې.

١: عدم اطالة الاولى، اى لتسويه بين الركعتين في القراءة كما هو مسلک الشيخين واحد قولی الشافعی کما تقدم.

٢: د ماسپخين په اولنو دوه رکعتونو کښې په هر يو کښې د ديرشو آيتونو په اندازه لوستل لکه چه د مسلم په روايت کښې ددې تصريح ده.

ضم سورة في الاخريين

٣: ضم سورت في الاخريين، ځکه چه د ديرشو نصف پنځلس وی ددې نه معلومه شوه چه د ماسپخين په هر دوه رکعتونو کښې پنځلس آيتونه تلاوت فرمائيل او په سورة فاتحه کښې

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ٣٤ (٤٥٢)، سنن النسائي/الصلاة ١٦ (٤١٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧ (٨٢٨)، (تحفة الأشراف: ٣٩٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٢ (١٣٢٥) (صحيح)

صرف اووه آيتونه دی، خو دا د جمهورو د مسلک خلاف ده ځکه چه عند الجمهور والائمة الثلاثة ضم سورة في الاخرين... غير مستحب دي او قول قديم د امام شافعي هم دا دي، خو د هغه په قول جديد کښې مستحب دې،

(د ضم سورت في الاخرين د فائدې نه جواب)

په بذل کښې ددې دوه جوابونه ليکلي دی اول احتمال دا دې چه رسول الله ﷺ به په اخريين کښې فاتحه په ترسيل سره لوستله لهذا دا د راوی ګمان دې،

او دويم جواب ئې دا ليکلي دې چه ممکنه ده د بيان جواز دپاره ئې داسې کړې وی ځکه چه د احنافو په نزد دا صرف مکروه تنزيهي دی.(١)

في الاخرين من العصر على النصف من ذلک... د دې نه معلوميږی چه د مازيګر په اخريين کښې هغه سورة ضم نه کړو.

باب قَدْرِ الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ

باب دې په بيان د مقدار د قراءت کې په ماسپخين او ماښام کې

د دې ځائې نه مصنف په صلوات خمسه کښې د قرأت مستحبه مقدار بيان فرمائيل غواړی، په دې سلسله کښې روايات مرفوعه هم دی او موقوفه هم، پورته د ابو سعيد خدری ﷺ روايت تير شوې دې چه ماسپخين او مازيګر کښې رسول الله ﷺ د ﴿الم تنزيل السجدة﴾ برابر قرأت کولو، دا روايت په مسلم شريف کښې هم دې، او بل روايت د جابر بن سمرة ﷺ دې کوم چه د سنن ثلاثه روايت دې، امام ابوداود، ترمذی او نسائی دا روايت کړې دی چه رسول الله ﷺ به په ماسپخين او مازيګر کښې د سورة بروج او سورة طارق برابر سورتونه لوستل.

د قراءت مستحبه په باره کښې د عمر ﷺ اثر

او په احاديث موقوفه کښې مشهور په دې سلسله کښې هغه د عمر ﷺ اثر دې کوم چه په مصنف عبدالرزاق کښې دې، او امام ترمذی ﷺ هم په هر يو باب کښې جدا جدا ددې ټکرې تعليقا ذکر کړې دی پس هغه ليکی: ﴿ورُوی عن عمر انه کتب الى ابي موسى ان اقرأ في الظهر باوساط المفصل﴾ دا د عمر ﷺ اثر صاحب هدايه هم ذکر کړې دې، په نصب الرايه کښې ددې تفصيل دې.

اوس دلته دوه څيزونه قابل تحقيق دی اول د طوال، اوساط او قصار مصداق او د هغې تعيين او دويم په صلوات خمسه کښې قرأت مستحبه د ائمه اربعه په نزد.

---

١) او د بذل په حاشيه باندې د حافظ ابن القيم ﷺ د کتاب الصلاة نه ددې جواب دا نقل کړې شوې دې، هغه فرمائی چه اګر چه حديث ضم سورة في الاخرين باندې صريح الدلالة دې خو حديث د ابو قتاده ﷺ کوم چه متفق عليه دې هغه ددې معارض دې ﴿انه عليه السلام کان يقراء في الاولين بفاتحة الکتاب وسورتين وفي الاخريين بفاتحة الکتاب فذکر السورتين في الاولين والاقتصار على الفاتحة في الاخريين تدل على الاختصاص وحديث الباب ليس صريحا حرز وتخمين.١٢)

په صلوات خمسه کښې قراءت مستحبه عند الائمة الاربعة

د احنافو په نزد د طوال مفصل ابتداء د سورة حجرات نه د سورة بروج د اخره پورې دې، او د اوساط مفصل د سورة طارق نه تر د ﴿لم يكن﴾ د اخره پورې، او قصار د ﴿اذا زلزلت﴾ نه د قران كريم د اخره پورې، او د مالكيانو او شوافعو په نزد د طوال ابتداء د حجرات نه ده او د حنابله په نزد د سورة ق نه، بيا د شوافع او حنابله په نزد ﴿عم يتساءلون﴾ پورې، او د مالكيانو په نزد تر د والنازعات پورې، بيا د هغې نه وړاندې د ﴿والليل﴾ پورې د درې واړو ائمه كرامو په نزد اوساط مفصل دى او د ﴿والضحى﴾ نه اخر پورې قصار، او په مسئله ثانيه كښې اختلاف داسې دې[1] په دې خو د ټولو اتفاق دې چه په مونځونو كښې په يو مونځ كښې د يو سورت تخصيص واجب نه دې، البته استحبابا د تخصيص اكثر علماء قائل دى، په دې باندې خو اتفاق دې چه د سحر په مونځ كښې به طوال مفصل او مابنام كښې قصار لوستل مستحب دى او په ماسپخين كښې دوه اقوال دى، طوال مفصل، يا اوساط، او مازيګر او ماسخوتن كښې د جمهورو په نزد اوساط مفصل او د مالكيانو په نزد په مازيګر كښې هم د مابنام په شان د قصار لوستل اولى دى.

[٨٠٥]([2])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِـ وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ، وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ وَنَحْوِهِمَا مِنَ السُّوَرِ".

ترجمه: د جابر بن سمرة نه روايت دې بيشكه رسول الله ﷺ وو چې لوستلويې په ماسپخين او مازيګر كښې په والسماء و الطارق او والسماء ذات البروج او په مثل د هغو دواړو د سورتونو نه.

[٨٠٦]([3])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكٍ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا دَحَضَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الظُّهْرَ، وَقَرَأَ بِنَحْوٍ مِنْ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى، وَالْعَصْرَ كَذَلِكَ، وَالصَّلَوَاتِ كَذَلِكَ إِلَّا الصُّبْحَ فَإِنَّهُ كَانَ يُطِيلُهَا".

ترجمه: د سمرة نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو رسول الله ﷺ چې كله به مائل شو نمر نو مونځ د ماسپخين به ئې وكړو او لوستلو به ئې په اندازه د و الليل اذا يغشى باندې، او د مازيګر هم دغسې، او نور مونځونه هم دغسې، مګر د سحر مونځ بيشكه هغه به اوږدولو.

---

[1]) د ائمه ثلاثه د مذهب تفصيل داسې دې د مالكيانو په نزد چه په ماسپخين كښې د سحر د مونځ نه لږ شان كم، اوپه ماسخوتن كښې اوساط مفصل او په مازيګر اومابنام كښې قصار مفصل اود حنابله په نزد (كما في الرض المربع) د سحر په مونځ كښې طوال مفصل او مغرب كښې قصار او باقى درې مونځونه، ماسپخين، مازيګر او ماسخوتن كښې اوساط مفصل، ا ود شوافعو په نزد دا دې چه په ماسپخين كښې قرات سحر ته نزدې نزدې او مازيګر او ماسخوتن كښې اوساط او په مابنام كښې قصار. ١٢)

[2]): سنن الترمذي/الصلاة ١١٧ (٣٠٧)، سنن النسائي/الافتتاح ٦٠ (٩٨٠)، (تحفة الأشراف: ٢١٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠١/٥، ١٠٣، ١٠٦، ١٠٨) (حسن صحيح)

[3]): صحيح مسلم/المساجد ٣٣ (٦١٨)، سنن النسائي/الافتتاح ٦٠ (٩٨١)، سنن ابن ماجه/الصلاة ٣(٦٧٣)، (تحفة الأشراف: ٢١٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٦/٥، ٨٨، ١٠١، ١٠٦، ١٠٨) (صحيح)

[٨٠٧]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَهُشَيْمٌ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "سَجَدَ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ، ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ، فَرَأَيْنَا أَنَّهُ قَرَأَ تَنْزِيلَ السَّجْدَةِ". قَالَ ابْنُ عِيسَى: لَمْ يَذْكُرْ أُمَيَّةَ أَحَدٌ إِلَّا مُعْتَمِرٌ.

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې، بيشکه نبي ﷺ سجده وکړه په د ماسپخين په مونځ کښې، بيا پاڅيدلو نو رکوع ئې وکړه نو مونږ ته ښکاره شوه چې هغه تنزيل السجده ولوستلو. وئيلي دي ابن عيسى: اميه چا نه دې ذکر کړې مګر معتمر.

[٨٠٨]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ مُوسَى بْنِ سَالِمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فِي شَبَابٍ مِنْ بَنِي هَاشِمٍ، فَقُلْنَا لِشَابٍّ مِنَّا: سَلِ ابْنَ عَبَّاسٍ "أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ؟ فَقَالَ: لَا، لَا. فَقِيلَ لَهُ: فَلَعَلَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي نَفْسِهِ، فَقَالَ: خَمْشًا هَذِهِ شَرٌّ مِنَ الْأُولَى كَانَ عَبْدًا مَأْمُورًا، بَلَّغَ مَا أُرْسِلَ بِهِ، وَمَا اخْتَصَّنَا دُونَ النَّاسِ بِشَيْءٍ إِلَّا بِثَلَاثِ خِصَالٍ: "أَمَرَنَا أَنْ نُسْبِغَ الْوُضُوءَ، وَأَنْ لَا نَأْكُلَ الصَّدَقَةَ، وَأَنْ لَا نُنْزِيَ الْحِمَارَ عَلَى الْفَرَسِ".

ترجمه: عبد الله بن عبيد الله وايي چې زه راغلم ابن عباس ته او هغه د څه ځوانانو د بني هاشمو سره وو، ما وويل يو ځوان ته زمونږ نه، تپوس وکړه د ابن عباس نه، ايا وو رسول الله ﷺ چې لوستلويې په ماسپخين او مازيګر کې؟ هغه وويل نه، نه، هغه ته وويل شول کيدی شي چې هغه به په خپل نفس کښې قرأت کولو، هغه وويل: مخ دې زخمي شه دا خو د اول نه ډيره بده ده، هغه يو بنده مامور وو، ويې رسولو هغه چې په څه شي رالېږلي شوی وو، او هغه مونږ نه يو خاص کړي په څه شي سره بغير د نورو خلقو نه مګر په درې کارونو سره: هغه مونږ ته امر کړی دی چې اودس پوره په ښه طريقه وکړو، او صدقه ونه خورو، او خر په اس باندې سور نه کړو.

شرح حديث

قوله:﴿ حدثنا مسدد... حدثنا عبدالله بن عبيدالله قال: دخلت على ابن عباس في شباب من بني هاشم ﴾ د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نمسي چه د هغه نوم عبدالله دې هغه فرمائي چه زه د بنو هاشم د ځو ځوانانو سره، د ابن عباس رضي الله عنه په خدمت کښې راورسيدو او د هغه نه ئې سوال اوکړو چه ايا رسول الله ﷺ به د ماسپخين او مازيګر په سرې مونځونو کښې قرأت فرمائيلو هغه اوفرمائيل نه، نه! هغه ته اوونيلې شو چه کيدې شي سرا ئې لوستلو نو هغه په دې باندې ناراضه شو. ﴿ فقال : خمشا هذه شر من الاولى ﴾ ستا خوله دې ماته شي، په اصل کښې وو ﴿ تخمش خمشا ﴾ او وې فرمائيل چه دا خبره يعنى قرأت سر، اوله خبره يعنى د عدم قرأت نه بد دې ځکه چه هغه د الله پاک بنده وو کوم چه د تبليغ احکام مامور او مکلف وو، په ظاهره کښې مطلب دا دې چه که په دې دواړو مونځونو کښې قرأت وې نو

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٥٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٣/٢) (ضعيف)

²): سنن الترمذي/الجهاد ٢٣ (١٧٠١)، سنن النسائي/الطهارة ١٠٦ (١٤١)، والخيل ٩ (٣٦١١)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٤٩ (٤٢٦)، (تحفة الأشراف: ٥٧٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٢/١، ٢٣٥، ٢٤٩) (صحيح)

هغه به مونږ ته دا خبره ضرور بيان کړې وې او مونږ ته به ئې څه وئيلي وې بلکه ټولو ته به ئې بيان کړې وې ځکه چه احکام شرع عام دی د چا سره خاص نه دی او البته بعض احکام دی کوم چه د بنو هاشم سره خاص دی، او بيا وړاندې هغوی درې احکامات بيان کړې دی.
﴿ امرنا ان نسبغ الوضوء وان لا ناکل الصدقة وان لا ننزی الحمار علی الفرس ﴾ په دې درې ځيزونو کښې درمياني ځيز خو واقعی د بنو هاشم سره خاص دې او اول او دريم يعنی اسباغ وضوء او انزاء الحمار علی الخيل د چا سره خاص نه دې، اوس به يا خو دا وئيلې شی چه هغه دا دوه د خپل علم په اعتبار سره خاص منی، يا ممکنه ده ددې دواړو سره هغه بنو هاشم لره تاکيد سره مخاطب فرمائيلي وی.

د دې نه پس ځان پوهه کول ښکار دی چه د رسول الله ﷺ په حق کښې خو صدقه نافله او فرض دواړه حرام وو، او په آل د بنو هاشم په حق کښې د صدقه مفروضه په باره کښې خو اتفاق دې چه هغه د هغه دپاره جائز نه وو، البته د صدقه نافله په جواز او عدم جواز کښې اختلاف دې هم دا زمونږ مذهب دې او هم دا د شافعيه.

انزاء الحمار علی الخيل چه هغې سره بغل يعنی خچر په وجود کښې راځی، د ټولو علماء کرامو په نزد جائز دې سوا د عمر بن عبدالعزيز، چه د هغوی نه کراهت منقول دې، لهذا دا حديث به صرف په خلاف اولی باندې محمول کولې شی ځکه چه دا د استبدال الادنی بالخير د قبيل نه دې، غوره ځيز په کمزوری سره بدلول، ځکه چه ظاهره ده چه بغل د خيل نه ادنی دې اوګورئ آس په جهاد کښې چه څومره په کار راتلې شی دومره خچر نه شی راتلې هم په دې وجه د هغه مال غنيمت کښې مستقل حصه هم وی، هم دغه شان د بعض رواياتو نه معلوميږی چه په جنت کښې به د فرس وجود وی، امام ترمذی رحمه الله مستقل باب ترلې دې، باب ما جاء فی صفة خيل الجنة.

[٨٠٩] (١) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لاَ أَدْرِي أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ أَمْ لاَ".

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې هغه وئيلی دی: زه نه پوهيږم ايا وو رسول الله ﷺ چې ماسپخين او مازيګر کښې ئې قرأت کولو او که نه؟

په سرې مونځونو کښې د قرأت ثبوت

قوله: ﴿ حدثنا زياد بن ايوب الخ ﴾ ددې روايت نه معلومه شوه چه اولا ابن عباس په ظهرين کښې د قرأت انکار کولو او څو ورځې پس په هغې کښې تردد راغلو چه کله د نورو صحابه کرامو نه به ددې خلاف په اوريدلو کښې راغلې وی او بيا څو ورځې پس په دې دواړو مونځونو کښې د قرأت قائل شوې وو کما حققه الطحاوی فی شرح معانی الاثار.

(١): تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ٦٠٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٤٩، ٢٥٧) (صحيح)

بَابُ قَدْرِ الْقِرَاءَةِ فِي الْمَغْرِبِ

باب دې په بيان د اندازه د قراءت کې په ماښام کې

[٨١٠]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ "أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ سَمِعَتْهُ وَهُوَ يَقْرَأُ وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا، فَقَالَتْ: يَا بُنَيَّ، لَقَدْ ذَكَّرْتَنِي بِقِرَاءَتِكَ هَذِهِ السُّورَةَ، إِنَّهَا لَآخِرُ مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فِي الْمَغْرِبِ".

ترجمه: د ابن عباس ﷺ نه روايت دې، بيشکه ام الفضل چې لور د حارث ده، هغې اوريدلی وو د هغه نه او هغه لوستلو و المرسلات عُرفًا، هغې ووېل: اې زويه يقينا تا ماته راياد کړو په لوستلو ددې سورت سره، بيشکه دا اخرنی سورت وو چې ما اوريدلی وو د رسول الله ﷺ نه چې لوستلو ئې په ماښام کښې.

قوله:﴿ عن ابن عباس ان ام الفضل بنت الحارث الخ ﴾ ام الفضل د ابن عباس ﷺ مور او د سيده ميمونه ﷺ خور ده، هغې يوه ورځ د ابن عباس ﷺ قرأت واوريدو او حال دا چې هغه سورة المرسلات تلاوت کولو، په دې اوريدلو سره هغې اوفرمائيل چې بچيه! تا په دې سورت لوستلو سره ماته يوه خاص واقعه رایاده کړه، هغه دا چې ما د رسول الله ﷺ د ټولو نه اخری قرأت واوريدو هغه د رسول الله ﷺ دې سورة لره لوستل وو کوم چې هغه د ماښام په مونځ کښې لوستلې وو. د بخاری په يو روايت کښې تصريح ده هغې به فرمائيل چې دا د رسول الله ﷺ اخری مونځ وو، د هغې نه روستو رسول الله ﷺ باندې د مونځ موقع رانغله.

د آخر ما صلى په باره کښې اختلاف روايات

خان پوهه کړه چې دا روايت هم دغه شان په بخاری کښې موجود دې او د بخاری په يو بل روايت کښې چې د عائشې ﷺ نه روايت دې چې د رسول الله ﷺ اخری مونځ د ماسپخين دې، اوس په دې دوارو روايتونو کښې په ظاهره تعارض دې، جواب دا دې چې د عائشې ﷺ مراد دا دې چې د هغه اخری هغه مونځ کوم چې ئې اخری په مسجد کښې د جماعت سره ادا کړې دې هغه ماسپخين دې (٢) او د ام الفضل مراد صلاة المغرب فی البيت دې نو ګويا د هر يو اخر کيدل په دوه مختلف اعتبارو سره دی او د رسول الله ﷺ اخری مونځ کوم چې هر اعتبار سره اخری وو هغه ظاهره ده چې د ګل په ورځ د سحر مونځ دې کوم چې رسول الله ﷺ په کور کښې منفردا ادا کړې وو لکه چې دا خبره ثابته کړې ده امام ابن کثير رحمه الله په البدايه والنهايه کښې، د بخاری او مسلم رواياتو ته کتلو سره، په دې کښې د امام بيهقی رحمه الله رائې بالکل جدا ده، د بعض رواياتو ظاهر ته کتلو سره هغه فرمائی چې د هغه اخری مونځ د ګل د ورځې د سحر مونځ وو کوم چې ئې په ابوبکر صديق ﷺ پسې کړې وو، حافظ ابن کثير ددې رائې سخت ترديد کړې دې، دا ټول بحث په الفيض السمائی

(١): صحيح البخاري/الأذان ٩٨ (٧٦٣)، والمغازي ٨٣ (٤٤٢٩)، صحيح مسلم/الصلاة ٣٥ (٤٦٢)، سنن الترمذي/الصلاة ١١٨ (٣٠٨)، سنن النسائي/الافتتاح ٦٤ (٩٨٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٩ (٨٣١)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٥٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٥ (٢٤)، مسند احمد (٦/٣٣٨، ٣٤٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٤ (١٣٣١) (صحيح)

(٢) اودا واقعه ديوم الخميس ده يعنی د وفات نه څلورورځې مخکښې کما ثبته الحافظ ابن كثير برواية البخاري ١٢)

کښې ډیر په تفصیل کښې مذکور دي.

[٨١١]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ بِالطُّورِ فِي الْمَغْرِبِ".

ترجمه: د محمد بن جبير بن نه روايت دي هغه د خپل پلار نه روايت کړي دی، بيشکه هغه وئيلي دي: ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چې لوستلو سورة الطور په ماښام کښې.

تشريح: **قوله**:﴿ يقرا بالطور فى المغرب ﴾ د دې حديث په باره کښې د امام دارقطنی رائې دا ده لکه چه ابن رسلان ليکلي دی ﴿ وهم فيه بعض الرواة وانما هو فى الركعتين بعد المغرب وقال الترمذى كره مالک الطوال فى المغرب ﴾ (حاشية البذل)

د کومو رواياتو نه د ماښام په مونځ کښې کښې تطويل قرأت ثابتيږی، علماء کرامو ددې مختلف جوابات کړي دی. ١: لبيان الجواز، ٢: لعدم المشقة على القوم، ٣: منسوخ، ۴: لعله يقراء بعض السورة الطويلة، قاله الطحاوى وابن الجوزى، او خاص طور سره د جبير بن مطعم د حديث جواب د دارقطنی د طرف نه تير شو.

ايا د ماښام په مونځ کښې د تطويل قراءة ثبوت شته

دا خبره مخکښې تيره شوې ده چه د سحر په مونځ کښې تطويل او د ماښام په مونځ کښې تقصير فى القرأت متفق عليه دې خو په ماښام کښې د بعض علماء کرامو اختلاف منقول دي، او امام ترمذی د امام شافعی نه نقل کړې دی چه امام مالک رحمه الله به تطويل فى المغرب مکروه گنړلو، امام شافعی رحمه الله فرمائی خو زه دا مکروه نه گنړم بلکه مستحب ئې گنړم چه دا سورتونه دې هم په ماښام کښې اولوستلې شی، په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی چه علامه بغوی هم په شرح السنة کښې د امام شافعی نه داسې استحباب نقل کړې دې، خو معروف د شوافعو په نزد چه ددې اوږدو سورتونو په لوستلو کښې نه کراهت شته او نه استحباب. حافظ فرمائی چه په مغرب کښې د قصار مفصل تنصيص، ماته په يو مرفوع حديث کښې نه دې ملاؤ شوې سوا د ابن ماجه د يو حديث نه کوم چه په روايت د ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ به د ماښام په مونځ کښې ﴿ قل يا ايها الكافرون ﴾ او ﴿ قل هو الله احد ﴾ لوستلو، او يو هغه حديث د ابوهريره رضی الله عنه چه د هغې تخريج نسائی او ابن خزيمه وغيره کړې دې ﴿ ما صليت وراء احد اشبه صلاة برسول الله صلى الله عليه وسلم من فلان قال سليمان (الراوى) يقراء فى المغرب بقصار المفصل... ويقراء فى الصبح بطول المفصل ﴾ او هم دغه شان حديث رافع ﴿ انهم كانوا ينتضلون بعد صلاة المغرب ﴾ دا هم په مغرب کښې په تخفيف قرأت باندې دلالت کوی.

[1]: صحيح البخاري/الأذان ٩٩ (٧٦٥)، والجهاد ١٧٢ (٣٠٥٠)، والمغازي ١٢ (٤٠٢٣)، وتفسير الطور ١ (٤٨٥٤)، صحيح مسلم/الصلاة ٣٥ (٤٦٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٦٥ (٩٨٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٩ (٨٣٢)، (تحفة الأشراف: ٣١٨٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٥(٢٣)، مسند احمد (٤/٨٠، ٨٣، ٨٤، ٨٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٤ (١٣٣٢) (صحيح)

[٨١٢]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، قَالَ: قَالَ لِي زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ: مَا لَكَ تَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِطُولَى الطُّولَيَيْنِ؟ قَالَ: قُلْتُ: مَا طُولَى الطُّولَيَيْنِ؟ قَالَ: الْأَعْرَافُ، وَالْأُخْرَى الْأَنْعَامُ". قَالَ: وَسَأَلْتُ أَنَا ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ، فَقَالَ لِي مِنْ قِبَلِ نَفْسِهِ: الْمَائِدَةُ، وَالْأَعْرَافُ.

ترجمه: د مروان بن الحکم نه روایت دې هغه وئیلی دی ما ته زید بن ثابت وویل: څه دې تالره چې ته لولې په ماښام کښې قصار مفصل او بیشکه ما لیدلی وو رسول الله ﷺ چې لوستلو ئې په ماښام کښې دوه اوږده سورتونه. هغه وایی چې ما وویل: دوه اوږده سورتونه کوم یو دې؟ هغه وویل: سورة الأعراف او بل سورة الانعام، هغه وویل: ما تپوس وکړو د ابن ابی ملیکه نه هغه ماته وویل: د خپل ځان نه سورة المائدة او اعراف.

تشریح: **قوله**:(عن مروان بن الحکم قال : قال لی زید بن ثابت الخ) زید بن ثابت رضی الله عنه مروان ته اوفرمائیل چه څه خبره ده چه ته د ماښام په مونځ کښې همیشه قصار مفصل لولې، حال دا چه ما رسول الله ﷺ لیدلې دې چه په مغرب کښې به ئې په دوه اوږدو سورتونو کښې چه کوم زیات اوږد سورت دې هغه لوستلو، په دې باندې د عروه نه تپوس اوکړې شو چه ددې دواړو سورتونو نه څه مراد دې نو هغه اوفرمائیل سورة اعراف او سورة انعام، او په هغې کښې زیات اوږد اعراف دې، په اعراف کښې څلیرشت رکوع ګانې دی او په انعام کښې شل، او ددې په باره کښې د ابن ابی ملیکه نه تپوس اوکړې شو نو هغه اوفرمائیل چه مراد سورة المائده والاعراف دې، په مائده کښې صرف شپاړس رکوع ګانې دی نو ګویا د زیات اوږد مصداق په دواړو اقوالو باندې اعراف شو، او د ثانی په مصداق کښې اختلاف شو چه هغه مائده دې یا انعام.

په مقدار قراءت فی الصلاة کښې د صاحب بدائع رائې

ځان پوهه کړه چه د قرأت مستحبه په باره کښې چه کوم تفصیل په شروع کښې لیکلې شوې دې هغه د جمهور فقهاء کرامو رائې ده، او په فقهاء احناف کښې د صاحب بدائع رائې په دې کښې مختلف ده هغه په قرأت کښې د عدم تقدیر قائل دې، او فرمائی چه ددې مدار د وخت په ګنجائش او د قوم په رعایت باندې دې، یعنی د مونځ کونکو رعایت زیات اهم او مقدم دې ځکه چه په حدیث شریف کښې (من ام قوما فلیخفف) راغلې دې، لهذا د امام دپاره مناسب دا ده چه دومره قرأت اوکړی چه په قوم باندې ګران نه شی، حضرت شیخ فرمائی چه زما والد صاحب مولانا محمد یحیی به هم دا رائې خوښوله، او هم دغه شان په در مختار وغیره کښې تصریح ده چه د مفصل په سورتونو کښې چه کوم تقسیم د مونځونو په حق کښې کړې شوې دې په فلانی مونځ کښې فلانې سورت او په فلانی کښې فلانې دا په حالت د حضر کښې دې په سفر کښې نه هم په دې کښې اختیار دې چه څنګه د وخت تقاضه وی.

---

[1]: صحیح البخاري/الأذان ٩٨ (٧٦٤)، سنن النسائي/الافتتاح ٦٧ (٩٩٠)، (تحفة الأشراف: ٣٧٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٥/٥، ١٨٧، ١٨٨، ١٨٩) (صحيح)

بَابُ مَنْ رَأَى التَّخْفِيفَ فِيهَا

باب دې په دليل د هغه چا کښې چه په مغرب کښې د تخفيف قائل دی

[٨١٣]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، أَنَّ أَبَاهُ كَانَ "يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ بِنَحْوِ مَا تَقْرَءُونَ وَالْعَادِيَاتِ وَنَحْوِهَا مِنَ السُّوَرِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ ذَاكَ مَنْسُوخٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا أَصَحُّ.

ترجمه: د هشام بن عروة نه روايت دې بيشکه د هغه پلار به لوستلو د ماښام په مونځ کښې په اندازه د هغې چې تاسويې لولئ د والعاديات نه او ددې په اندازه نور سورتونه. وئيلی دی ابوداود: دا دلالت کوی چې هغه منسوخ دی، وئيلی دی ابوداود: او دا اصح دی.

تشريح: **قوله**:﴿ قال ابوداود: هذا يدل على ان ذاک منسوخ ﴾ يعنی دا د عروه فعل په دې باندې دلالت کوی چه هغه چه په اول باب کښې د ماښام په مونځ کښې د اوږدو سورتونو لوستل ثابت دی هغه منسوخ دی، نسخ په ظاهره دې اعتبار سره ده چه د تير شوی روايت راوی عروه وو او د هغه دا عمل د هغه د بيان کړی روايت خلاف دې او مشهوره ده چه د راوی عمل د خپل روايت خلاف د نسخ دليل وی، د امام ابوداود په رائې باندې حافظ ابن حجر دا اشکال کړې دې چه د ام الفضل روايت چه په هغې کښې د ماښام په مونځ کښې ﴿والمرسلات ﴾ د رسول الله ﷺ نه لوستل مذکور دی کوم چه د رسول الله ﷺ د اخری عمر مونځ وو هغې ته منسوخ څنګه وئيلې کيدې شی، خو زه وائم چه که د امام طحاوی او ابن الجوزی توجيه واخستلې شی نو بيا به د حافظ اشکال صحيح نه وی.

[٨١٤]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ السَّرْخَسِيُّ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَاقَ، يُحَدِّثُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ قَالَ: "مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ سُورَةٌ صَغِيرَةٌ وَلَا كَبِيرَةٌ إِلَّا وَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ النَّاسَ بِهَا فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ".

ترجمه: عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه پلار ئې د خپل پلار نه روايت کوی بيشکه هغه وئيلی دې: نشته په مفصلو کښې وړکوټی يا غټ سورت مګر ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چې خلکو ته به ئې امامتی کوله په هغې سره په فرض مانځه کښې.

تشريح: **قوله**:﴿ حدثنا احمد بن سعيد ﴾ په بذل کښې ليکی چه دا حديث په ترجمة الباب کښې يعنی د تخفيف فی المغرب سره څه مناسبت قريبه نه لری.

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت

زه وايم چه خبره خو هم دا ده خو دا هم وئيلې کيدې شی چه ددې حديث نه مطلقا په ټولو مونځونو کښې تخفيف فی القرأت مستفاد کيږی او چه هر کله په ټولو مونځونو کښې تخفيف ثابت شو نو په مغرب کښې هم دغه شان راغلو، او دا په دې وجه چه تخفيف او تطويل د امور اضافيه نه دې، د مفصل ټول سورتونه قصار دی د مئين او مثانی په مقابله کښې، دا جدا خبره ده چه خپله په مفصل کښې بعض لوئې او بعض واړه دی. والله تعالی اعلم

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٠٣٤) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٧٨٨) (ضعيف)

[۸۱۵] (۱) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا قُرَّةُ، عَنِ النَّزَّالِ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، أَنَّهُ "صَلَّى خَلْفَ ابْنِ مَسْعُودٍ الْمَغْرِبَ، فَقَرَأَ: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ".

ترجمه: د ابو عثمان النهدی نه روایت دي بیشکه هغه مونځ وکړو وروسته د ابن مسعود نه د ماښام نو ويې لوستلو قل هو الله احد

بَابُ الرَّجُلِ يُعِيدُ سُورَةً وَاحِدَةً فِي الرَّكْعَتَيْنِ

باب دې په بیان د سړي کې چې تکراروي یو سورت په دوه رکعاتونو کې

: یو سورت تکرار په دوه رکعتونو کښې داحنافو او حنابله په نزد بغیر د کراهت نه جائز دي، مالکیان او بعض احناف د کراهت طرف ته تلي دی او د شوافع په نزد خلاف اولی دي. (منهل)

[۸۱۶] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنِ ابْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ جُهَيْنَةَ، أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ فِي الصُّبْحِ: إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا". فَلَا أَدْرِي أَنَسِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْ قَرَأَ ذَلِكَ عَمْدًا.

ترجمه. د معاذ بن عبد الله الجهنی نه روایت دي، بیشکه یو سړی د جهینه خبر ورکړی دی هغه ته، چې هغه اوریدلی دی د نبی ﷺ نه، چې لوستلو ئې د سحر په مونځ کښې اذا زلزلت الارض په دواړو رکعاتونو کښې، زه نه پوهېږم چې د رسول الله ﷺ نه هېر شو او که دایی قصداً ولوستلو.

بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الْفَجْرِ

باب دې په بیان د قرات کې د سحر په مونځ کې

حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْفَجْرَ وَيَعْرِفُ أَحَدُنَا جَلِيسَهُ الَّذِي كَانَ يَعْرِفُهُ وَيَقْرَأُ فِيهَا مِنَ السِّتِّينَ إِلَى الْمِئَةِ.

): تفرد به أبوداؤد (تحفة الأشراف: ۱۳۶۱۹)، وقد أخرجه مسند احمد ۴۲۸/۲)

ترجمه: حضرت ابو برزه رضی الله عنه فرمائی چه نبی اکرم ﷺ به د سحر مونځ کولو نو مونږ به دځان سره نزدې هغه کس پیژندلو چه مونږ به د مخکښې نه پیژندلو، او نبی کریم ﷺ به په دې مونځ کښې د شپیتو نه واخله تر سلو پورې آیاتونه لوستل.

قوله: ﴿ عن ابی برزة وقال ﴾ د ابوبرزه اسلمی ﷺ دا حدیث متفق علیه دي او د بخاری په روایت کښې داسې دی ﴿ فی الرکعتین او احدهما ﴾ یعنی په دواړو رکعتونو کښې یا په یو رکعت کښې سل یا شپیته آیتونه لوستل، او د مسلم په یو روایت کښې په روایت د جابر بن سمرة ﷺ فی الصبح بق راغلي دي، او هم ددې په دویم روایت کښې بالصفت او په مستدرک حاکم کښې په یو روایت کښې سورة واقعه راغلي دي قاله الحافظ.

هم دغه شان د مسلم په یو روایت کښې دی او په ابوداود کښې هم باب الصلاة فی النعل هم تیر شوي دي، انه صلی الله علیه وسلم بمکة فاستفتح سورة المومنین، الحدیث

---

[۱]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۹۳۸۰) (ضعيف)

[۲]: تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۵۶۷۳) (حسن)

[٨١٧]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَصْبَغَ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، قَالَ: كَأَنِّي أَسْمَعُ صَوْتَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ: فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ۞ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ۞ سورة التكوير آية ١٥-١٦".

ترجمه: د عمرو بن حريث نه روايت دې هغه وئيلى دي: گويا كښې زه اورم اواز د نبي ﷺ چې لوستلويى د سحر په مونځ كښې فلا أقسم بالخنس الجوار الكنس.

تشريح: **قوله**:﴿ عن عمرو بن حريث قال: ﴾ صحابى د خپل قوت حافظه طرف ته اشاره كوى چه گويا زه دې وخت كښې اورم د رسول اللهﷺ د سحر په مونځ كښې دا آيت كريمه لوستل يعنى هغه سورة چه په هغې كښې دا آيت كريمه ذكر دې ﴿ اذا الشمس كورت ﴾ (٢) د احنافو په نزد په طوال مفصل كښې دې او د جمهورو په نزد په اوساط كښې.

باب مَنْ تَرَكَ الْقِرَاءَةَ فِي صَلَاتِهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

باب دې په بيان د هغه چاكې چې په مانځه كې قراءت د سورة فاتحې پريږدى

د قرأت په ركنيت كښې چه كوم اختلاف دې هغه مونږ سره د ابواب القرات په شروع كښې تير شوې دې، په اصل كښې دلته درې مسائل دى د قرات حكم چه فرض دې يا سنت، او مسئله ثانيه چه ركن قرأت مطلق قرأت دې يا خاص سورة فاتحه، او دريمه مسئله قرأت خلف الامام، اوله مسئله خو تيره شوه.

په ركنيت د فاتحه كښې د ائمه ؤ اختلاف

دلته په حديث الباب كښې مسئله ثانيه مذكور ده پس دا مسئله مختلف فيه ده د احنافو په نزد نفس قرأت فرض دې او د فاتحې تعيين واجب، او د جمهور علماء ائمه ثلاث په نزد د ركن قرأت مصداق نفس قرأت نه دې بلكه سورة فاتحه ده، كه څوك ټول قران اولولي او فاتحه او نه لولي نو فرض به نه ادا كيږى، احناف وائى چه د نفس قرأت ثبوت د نص قطعى نه دې لهذا هغه به فرض وى او د فاتحه تعيين د اخبار احاد نه دې لهذا د فاتحې لوستل به واجب وى نه فرض، بغير د فاتحې نه به فرض ادا شي خو مونځ به ناقص او واجب الاعاده وى، الغرض احناف ما ثبت بالقران ته فرض او ما ثبت بالسنة ته واجب وائى.

---

(١): سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ٥ (٨١٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٧١٥)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ٣٥ (٤٥٦)، مسند احمد (٣٠٦/٤، ٣٠٧)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٦ (١٣٣٦) (صحيح)

(٢) زما په خيال خاص طور سره چه دا آيت كريمه ذكر كوى كيدې شي چه ددې وجه دا وى چه ددې آيت كريمه د اوريدلو په وخت په هغه صحابي باندې څه خاص كيفيت راغلي وى، په دې وجه دا آيت كريمه خاص طور سره ياد پاتې شو او په دې كښې څه شك دې چه دا حضرات د زړونو خاوندان وو، او دا هم ممكنه ده چه كوم وخت كښې دوى د مانځه دپاره مسجد ته داخل شو هغه وخت رسول اللهﷺ دا آيت كريمه تلاوت كولو، د حضرت سهارنپورى په حالاتو كښې ليكلي دى چه هر كله زما د تولو نه اول گنگوه ته حاضرى اوشوه نو.... نو هغه وخت حضرت اقدس گنگوهى په تراويح كښې قران كريم اورولو... كوم آيت كريمه چه ئې د تولو نه اول په غوږونو كښې پريوتلو هغه د سورة احزاب دا آيت كريمه وو ﴿ اشحة على الخير ﴾ ١٢)

[٨١٨]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: "أُمِرْنَا أَنْ نَقْرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَمَا تَيَسَّرَ".

ترجمه: د ابو سعید الخدری ﷺ نه روایت دې، هغه وئیلی دي: مونږ ته امر شوی دی چې لولو سورة الفاتحه او هغه چې اسان وي.

[٨١٩]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مَيْمُونٍ الْبَصْرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اخْرُجْ فَنَادِ فِي الْمَدِينَةِ أَنَّهُ لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقُرْآنٍ وَلَوْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَمَا زَادَ".

ترجمه: ابو عثمان النهدی حدیث بیان کړې دې د ابو هریره ﷺ نه هغه وئیلي دي: چې ماته رسول الله ﷺ ووېل: لاړ شه اواز وکړه په مدینه کښې بیشکه مونځ نشته مګر په قرآن سره اګر چه سورت فاتحه ولې نه وي. او یا زیات د دې نه.

تشریح: **قوله**:﴿ امرنا ان نقرأ بفاتحة الکتاب وما تیسر ﴾ او ددې نه وړاندې حدیث مرفوع دې چه د هغې راوی ابوهریره ﷺ دې. ﴿ لا صلاة الا بقراءة فاتحة الکتاب فما زاد ﴾

حدیث د احنافو موافق دې

دا دواړه احادیث د جمهورو خلاف دی، اول په دې وجه چه په دې کښې د فاتحې نه علاوه ﴿ ما تیسر ﴾ مذکور دې یعنی د سورة ضم کول ځکه چه جمهور د سورة د ضم کولو د استحباب قائل دی، په خلاف د احنافو چه هغه فاتحه او د سورة ضم کولو دواړه واجب مني، او دویم حدیث د دواړو حیثیتو نه د هغوی خلاف دې یو خو په دې وجه چه په دې کښې ﴿ ما زاد علی الفاتحة ﴾ مذکور دې، او دویم په دې وجه چه په دې کښې د فاتحې تعیین نشته بلکه دا دی ﴿ الا بقران ﴾، هغه حضرات فرمائی چه دا حدیث ضعیف دې په دې کښې جعفر بن میمون دې، ددې جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه د جعفر بن میمون ډیرو حضراتو توثیق کړې دې، غرض دا چه متروک بالاتفاق نه دې.

[٨٢٠]()حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُنَادِيَ أَنَّهُ لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقِرَاءَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَمَا زَادَ".

ترجمه: د ابوهریره ﷺ نه روایت دې، هغه وئیلي دي: ماته امر وکړو رسول الله ﷺ چې زه اعلان وکړم، بیشکه مونځ نشته مګر په قرأت د فاتحې، او هغه چې زیات وي.

[٨٢١]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا السَّائِبِ مَوْلَى هِشَامِ بْنِ زُهْرَةَ،

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٣٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٥،٩٧) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٦١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٢٨) (منكر)

[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٣٦١٩) (صحيح)

[4]: صحيح مسلم/الصلاة ١١ (٣٩٥)، سنن الترمذي/تفسير الفاتحة ٢ (٢٩٥٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٣ (٩١٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١ (٨٣٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٣٥، ١٤٠٤٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٩ (٣٩)، مسند احمد (٢/٢٤١، ٢٥٠، ٢٨٥، ٢٩٠، ٤٥٧، ٤٨٧) (صحيح)

يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ، فَهِيَ خِدَاجٌ، فَهِيَ خِدَاجٌ، فَهِيَ خِدَاجٌ، غَيْرُ تَمَامٍ". قَالَ: فَقُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، إِنِّي أَكُونُ أَحْيَانًا وَرَاءَ الْإِمَامِ قَالَ: فَغَمَزَ ذِرَاعِي، وَقَالَ: اقْرَأْ بِهَا يَا فَارِسِيُّ فِي نَفْسِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ: فَنِصْفُهَا لِي، وَنِصْفُهَا لِعَبْدِي، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ" قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْرَءُوا يَقُولُ الْعَبْدُ {الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} [الفاتحة: ٢] يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: حَمِدَنِي عَبْدِي، يَقُولُ: {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} [الفاتحة: ١]، يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي، يَقُولُ الْعَبْدُ {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ}، يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: مَجَّدَنِي عَبْدِي، يَقُولُ الْعَبْدُ {إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ} [الفاتحة: ٥]، يَقُولُ اللَّهُ: هَذِهِ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، يَقُولُ الْعَبْدُ {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة: ٧]، يَقُولُ اللَّهُ: فَهَؤُلَاءِ لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ"

ترجمه: علاء بن عبد الرحمن نه روايت دې، بيشكه هغه اوريدلى دى د ابو السائب نه چې مولى د هشام بن زهره دى هغه وئيل: ما اوريدلى دى د ابو هريره نه هغه به وئيل. وئيلى دى رسول الله ﷺ چا چې مونځ وكړو او سورة فاتحه ئې پكې ونه وئيله نو دا ناقص دى، دا ناقص دى، دا ناقص دى، پوره نه دى. هغه وايي. ما ووئيل اى ابو هريره! زه كله د امام نه وروسته يم، هغه وايي: زه ئې وسكوندلم په څنګل خپلې سره او ويې وئيل: لوله دا په خپل نفس كښې اى فارسي، بيشكه ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه هغه وئيل: وئيلى دى الله تعالى ما تقسيم كړې دى مونځ په مابين زما او مابين د بنده زما كښې دوه حصې: نيم زما دى او نيم زما د بنده ديو او زما د بنده لپاره هغه څه دې چې د كوم ئې سوال كړى دى، ووئيل رسول الله ﷺ ولولئ، وايي بنده (الحمد لله رب العالمين) وايي الله تعالى بنده زما حمد ووئيلو، هغه وايي: (الرحمن الرحيم) وايي الله تعالى ثناء ووئيله زما بنده زما، وايي بنده (مالک يوم الدين) وايي الله تعالى لويى بيان كړه مالره بنده زما، وايي بنده (اياک نعبد و اياک نستعين) وايي الله تعالى دا زما او زما د بنده په مينځ دى، او زما د بنده لپاره هغه شى دى چې د كوم ئې سوال كړى دى، وايي بنده (اهدنا الصراط المستقيم، صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم و لا الضالين) وايي الله تعالى دا زما د بنده لپاره دى، او زما د بنده لپاره هغه څه دې چې د څه ئې سوال كړى دى.

تشريح: قوله: ﴿ من صلى صلاة لم يقرأ بها بام القران فهي خداج فهي خداج فهي خداج غير تمام ﴾ خداج اى ذات خداج، خداج په معنى د نقصان، چه بغير د فاتحې د قرأت نه مونځ ناقص دې، او هم دا خبره احناف كوى چه دا لفظ اخستلې شوې دې د ﴿ خدجت الناقة ولدها ﴾ ته او دا هغه وخت وئيلې شى چه كله د اوښې بچې پيدا شى د مودې د پوره كيدو نه مخكښې ﴿ وان كمل خلقه ﴾ اګر چه هغه بچې كامل الخلقة او تام الاعضاء وى، لهذا كوم مونځ چه بغير د فاتحې نه اوكړې شى هغه د اركان او فرائض په اعتبار سره پوره دې، اګر چه د صفت نقصان سره متصف دې.

قوله: ﴿ فقلت يا ابا هريرة انى اكون احيانا وراء الامام ﴾ دې د ابوهريره ﷺ اثر كښې د فاتحه خلف الامام مسئله ذكر ده، اول په دې كښې د ائمه كرامو اختلاف واورئ:

په فاتحه خلف الامام کښې مذاهب ائمه

فاتحه خلف الامام د ائمه ثلاث احناف، مالکيانو او حنابله په نزد غير واجب دې د امام شافعي قول قديم هم دا دې او د هغه په قول جديد کښې قرأت فاتحه خلف الامام مطلقا في الجهرية والسرية فرض ده بغير ددې نه مونځ نه صحيح کيږي، غرض دا چه په دې باندې خو جمهور د شوافعو نه علاوه متفق دی چه واجب نه ده، بيا وراندې په استحباب او کراهت کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد مکروه تحريمی دې او د مالکيانو او حنابله په نزد په صلاة سريه کښې مستحب او په جهريه کښې مکروه ده، البته امام احمد فرمائی چه په جهری مونځ کښې که مقتدی د امام قرأت نه اوری او هغه ته اواز نه رسيږی بيا هم مستحب دې، هم دغه شان په احنافو کښې امام محمد رحمه الله هم په سری مونځ کښې د استحباب قرأت قائل دې (کما في البذل ج ٢ ص ٥٧)

امام بخاری رحمه الله باب قائم فرمائيلې دې "باب وجوب القراءة على الامام والماموم" علامه قسطلانی ددې باب په شرح کښې ليکی "وهو قول الجمهور خلافا للحنفية" په دې باندې په حاشيه د لامع کښې حضرت شيخ ليکلې دی چه د تعجب خبره ده چه وجوب القراءة على المقتدی ته قسطلانی د جمهورو قول څنګه اووې حال دا چه ائمه ثلاث د عدم وجوب قائل دی.

زمونږ علماء کرام فرمائی چه د شوافعو سره يو حديث هم داسې صحيح او صريح نشته چه د هغې نه د قرأت خلف الامام وجوب ثابتيږی، ځکه چه د کومو رواياتو نه د فاتحې وجوب ثابتيږی هغه د خلف الامام سره متعلق نه دی، او کوم چه د خلف الامام سره متعلق دی د هغې نه وجوب نه ثابتيږی بلکه زيات نه زيات اباحت ثابتيږی.

بيا خان پوهه کړئ چه د شوافعو سره په دې سلسله کښې بس يو صحيح او زور دار دليل دې يعنی د عبادة بن الصامت رضي الله عنه کوم چه متفق عليه دې، د هغې نه علاوه چه کوم نور احاديث دی په هغې کښې چونکه ﴿ الا بفاتحة فما زاد ﴾ الفاظو زيادت دې او ددې زيادت د وجوب شوافع قائل نه دی په دې وجه هغوی دا قسم روايات صرف په منفرد باندې محمول کوی، يعنی په غير مقتدی باندې، پس امير يمانی په سبل السلام شرح بلوغ المرام کښې ددې تصريح کړې ده او هغه د فاتحه خلف الامام قائل دی، دا حديث د عباده په ابوداود کښې هم وراندې راروان دې ددې جوابات به هم هلته ورکولې شی.

اوس تاسو د ابوهريره رضي الله عنه د اثر چه په متن کښې مذکور دې د هغې په باره کښې واورئ هغه فرمائی ﴿ اقرأ بها يا فارسي في نفسک ﴾ قرأت في النفس يعنی په زړه زړه کښې لوستل استحضار مضمون ته وئيلې شی او ددې مونږ هم منکر نه يو.

د اقرأ بها في نفسک تشريح

قوله:﴿ فاني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: قال الله تعالى ﴾ ابوهريره رضي الله عنه په خپله مدعا يعنی قرأت فاتحه في النفس باندې دليل پيش کوی چه د هغې حاصل دا دې چه سورة فاتحه ډير مبارک او په دعاګانو باندې مشتمل سورت دې، نو په تولو خير دې زه په دې

باندې وايم چه ددې نه معلوميږي چه خپله د ابوهريره ﷛ په نزد ﴿ لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب ﴾ عام نه دی، مقتدی په دې كښې داخل نه دې ځكه چه كه دا عام وې نو بيا ابوهريره ﷛ لره د سائل په جواب كښې داسې وئيل پكار وو چه هر كله رسول الله ﷺ صفا فرمائي چه ﴿ لا صلاة الا بفاتحة الكتاب ﴾ نو بيا تاته په خلف الامام لوستلو كښې څه تردد دې؟ بيا خو د هغه بيان كړې شوې روايت د دليل دپاره كافي وو، د مزيد دليل او استدلال حاجت نه وو، معلومه شوه چه هغه خپله هم په دې پوهه وو چه دا حديث د مقتدي په حق كښې نه دی، هم دغه شان ابوهريره ﷛ چه ددې په استدلال كښې كوم دليل پيش كړې دې هغه د فضائلو د قبيلې نه دې نه د فرائض د قبيل نه، نو كه بالفرض اومنلې شي چه د ابوهريره ﷛ مراد دا دې چه په امام پسې حقيقة قرأت نه دی كيدل پكار نو بيا په دې دويم دليل سره صرف فضيلت ثابتيږي نه فرضيت، او صرف د فضيلت په ثبوت سره د شوافعو مقصد نه حاصليږي هغوی خو د فرضيت فاتحه قائل دی، زه وائم زمونږ خبرې په مسائلو كښې دی نه په فضائلو كښې او هغه حديث پيش كوی د فضيلت والا او د حديث مرفوع نه وجوب ثابتيدلې شي هغه دوی نه پيش كوی څه وجه ده؟ هم دا وجه ده چه د هغوی په نزد هم ددې محمل مقتدی نه دې.

دلته يوه خبره دا هم كتل پكار دی چه ابوهريره ﷛ غمز ذراع ولې كړې دې يعنی په ځنګل سره ئې ولې متوجه كوی؛ شاګرد ته اشاره كوی چه خاموش اوسه شور مه كوه، سورة فاتحه ډير د فضيلت والا سورت دې ددې قرأت نه دی هيرول پكار، حضرت شيخ به فرمائيل بلكه په اوجز كښې ئې هم ليكلې دی چه ابوهريره ﷛ به بعض وخت د رسول الله ﷺ د محبت د وجې نه ظاهره ده په حديث باندې عمل كولو پس په مسلم شريف كښې دی چه ابوهريره ﷛ يو ځل اودس كولو چه په هغې كښې هغه خپل لاسونه د خپلو ترخونو پورې وينځل شاته ئې يو عجمي شاګرد ولاړ وو هغه ترې تپوس اوكړو ﴿ ما هذا يا ابا هريرة ﴾ هغه ته معلومه نه وه چه دلته څوک ولاړ دې او ما داسې په اودس كولو باندې وينی، فورا متوجه شو او وې فرمائيل ﴿ يا بنی فروخ انتم ههنا لو علمت انكم ههنا ما توضات هذا الوضوء ﴾ اې عجميانو؛ تاسو دلته يئ؛ كه ماته معلومه وی چه تاسو دلته يئ نو ما به داسې اودس نه كولو، ولې؟ ځكه چه دا طرز عمل د جمهور صحابه كرامو د مسلک خلاف وو خو هغه ظاهر حديث كوم چه د اثار فضيلت په باره كښې په دې باندې عمل كولو سره داسې كول، او چونكه د هغه دا طرز عمل د جمهورو د مسلک خلاف وو ددې په اظهار كښې د انتشار ويره وه په دې وجه ئې هغه د چا په وړاندې هم ذكر نه كړو، دغه شان خبره دلته هم موندلې شوې ده چه هغه شاګرد په ځنګل باندې اوهلو او ورته ئې اووې چه خاموش شه، چه هرځنګه وی دا سورت لوله، او كه مراد دا واخستلې شی چه ددې سورت د مضمون استحضار ساته نو بيا هيڅ قسم اشكال نشته.

قوله:﴿ فنصفها لی ونصفها لعبدی ﴾ د دې حديث نه معلوميږي چه د سورة فاتحه اووه آيتونه دی چه په هغې كښې د شروع درې آيتونه د الله پاک په لوئې والی او د هغه په حمد وثناء

کښې دی او په اخری درې ایتونو کښې د بنده د خپل ځان دپاره دعا ده او درمیانی څلورم آیت ﴿ ایاک نعبد وایاک نستعین ﴾ د الله پاک او بنده ترمینځه مشترک دې د حمدوثناء او د دعا ترمینځه، او د بسم الله په دې کښې چرته هم ذکر نشته ددې نه معلومه شوه چه بسم الله د فاتحې جزء نه دې، امام نووی رحمه الله د شوافعو د طرف نه کوم چه د بسم الله د جزئیت قائل دی ډیر جوابات ورکړې دی، علامه شوکانی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې بعض جوابات خو د هغوی په حق کښې فائده نه لری او بعض د تعسف نه خالی نه دی

[٨٢٢]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَابْنُ السَّرْحِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَصَاعِدًا". قَالَ سُفْيَانُ: لِمَنْ يُصَلِّي وَحْدَهُ.

ترجمه: د عبادة بن الصامت رضی الله عنه روایت هغه ئې نبی ﷺ ته رسوی (نشته دی مونځ لپاره د هغه چا چې قرأت د فاتحې نه دی کړی یا زیات. وئیلی دی سفیان: د هغه چا لپاره چې یواځې مونځ کوي.

(حدیث الباب د جمهورو دلیل دې)

قوله:﴿ حدثنا قتیبة بن سعید ﴾ دا حدیث متفق علیه دې بلکه په صحاح سته کښې دې ددې نه جمهور علماء ثلاث د فاتحې په رکنیت باندې استدلا ل کړې دې او په مذاهب اربعه کښې صرف شوافعو ددې حدیث د عموم پیش نظر مقتدی لره په دې کښې شامل منلو سره د فاتحه خلف الامام په فرضیت باندې هم دغه شان استدلال کړې دې، په رکنیت فاتحه باندې کلام تیر شو، په مسئله ثانیه یعنی فاتحه خلف الامام باندې بحث باقی دې، د شوافعو دپاره د ټولو نه لوئې او قوی دلیل هم دا دې ځکه چه دا متفق علیه حدیث دې،([2])

(الجواب الاول)

زمونږ د طرف نه ددې ډیر جوابات کړې شوې دی:

١: دا حدیث په منفرد باندې محمول دې چه د هغې ډیر قرائن دی، نور روایات مرفوعه او اثار صحابه مثلاً ﴿ اذا قرأ فانصتوا ﴾، ﴿ من کان له امام فقراءة الامام قراءة له ﴾ خپله وړاندې هم په دې روایت کښې سفیان بن عیینه د حدیث راوی فرمائی ﴿ لمن یصلی وحده ﴾

(د سفیان بن عیینه په قول باندې اعتراض)

په دې باندې خطابی شارح حدیث دا اعتراض کړې دې چه دا تخصیص بغیر د دلیل نه صحیح نه دې، زمونږ د طرف نه جواب کړې شوې دې چه دا تخصیص بالدلیل دې بغیر د

---

[1]): صحیح مسلم/الصلاة ١١ (٣٩٤)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٤ (٩١١) (وقد ورد بدون قوله :«فصاعداً» عند : صحیح البخاري/الأذان ٩٥ (٧٥٦)، سنن الترمذي/ الصلاة ٦٩ (٢٤٧)، ١١٦ (٣١٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١ (٨٣٧)، (تحفة الأشراف: ٥١١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣١٤، ٣٢١، ٣٢٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٣٦ (١٢٧٨) (صحیح)

[2]) خو دهغوی استدلال دبخاری شریف د روایت د الفاظو نه دې چه په هغې کښې د فصاعدا «زیاتوالې دې، د فصاعداً» لفظ سره خو مسئله نازکه جوړیږی.

دليل نه نه دې، لکه چه اوس تير شو، او که دا عام ساتئ نو بيا دا هم کيدې شي خو که تاسو په دې کښې تعميم کوئ نو بيا به مونږ هم په دې کښې تعميم کوو. ﴿ لو عممتم لعمنا ﴾ (کما في تقرير الجنجوهي) يعنې که تاسو په دې حديث کښې عموم منئ د مقتدى او منفرد دواړو نو بيا به زمونږ عموم به هم منل وى، هغه دا چه قرأت عام دې که حقيقة وى يا حکميه او مقتدى هم حکما قارى دې. بقراءة الامام.

الجواب الثاني :

دا حديث په بخارى او مسلم دواړو کښې دې په صحيح بخارى کښې خو لفظ ﴿فصاعدا ﴾ موجود نه دې خو د مسلم او ابوداود وغيره په رواياتو کښې دا زيادت ثابت دې، او ددې زيادت د موجود کيدو نه پس بيا دا حديث د شوافع دپاره مفيد نه دې بلکه د هغوى خلاف کيږى ځکه چه هغه حضرات د مقتدى په حق کښې صرف د فاتحې قائل دى، ددې نه د زائد نه وجوبا قائل دى او نه استحبابا،

(په حديث کښې د فصاعدا په اضافه باندې د امام بخاري اعتراضات او دهغې جوابات)

امام بخارى رحمه الله د ﴿ فصاعدا ﴾ زيادت ثابت نه منى او حال دا چه دا لفظ په صحيح مسلم او باقى د سنن په کتابونو کښې موجود دې، امام بخارى ددې لفظ دوه جوابات ورکړې دى.

(الجواب الاول) اول دا چه په دې زيادت کښې معمر بن راشد يمنى د زهرى نه په روايت کولو کښې متفرد دې، نورو حضرات محدثين جواب کړې دې چه اوګورئ دا زيادت په سنن ابى داود کښې د زهرى نه روايت کولو والا سفيان بن عيينه دې، بيا معمر متفرد ځنګه شو، اول خو معمر بالکل ثقه او د صحاح سته راوى دې او زيادت د ثقه معتبر وى، او بيا چه هر کله هغه متفرد هم نه دې، هم دغه شان د هغه متابعت نورو راويانو هم کړې دې، پس په بذل المجهود (ج ۲ ص ۵۴) کښې ليکى : وکذلک تابعه فيها صالح والاوزاعى وعبدالرحمن بن اسحاق وغيرهم کلهم عن الزهرى.

(الجواب الثاني دويم جواب امام بخارى رحمه الله ددې دا ورکړې دې چه دا ﴿ فصاعدا، تقطع اليد في ربع دينار فصاعدا ﴾ د قبيل نه دې، اوګورئ نصاب سرقه د جمهورو په نزد ربع دينار دې او په هغې باندې زيادت کيدل ضرورى نه دى بلکه د ربع دينار په غلا باندې هم قطع يد کيدلې شي، لهذا معلومه شوه چه ﴿ فصاعدا ﴾ موندلې کيدل ضرورى نه دى، او دا ضرورى نه دى چه کوم حکم ددې د ماقبل دې هم هغه ددې ګم وى.

مونږ وايو صحيح ده چه ضرورى خو نه دى خو کيدل ئې مضر هم نه دى او تاسو خو دلته د ما زاد على الفاتحه بالکل قائل نه يئ، لهذا دا جواب ځنګه صحيح شو، اول خو مونږ وايو چه په حديث کښې بعض داسې مواضع هم شته چرته چه فصاعدا د ماقبل په حکم کښې دې لکه په حديث د اضحيه کښې ﴿ امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان نستشرف

العين والاذن فصاعدا ﴾ (١) ځکه چه د قربانۍ په ځاروی کښې صرف د عين او اذن سالم کيدل کافي نه دی بلکه د نورو اندامونو هم صحيح او سالم کيدل ضروری دی، کوم چه ئې په فصاعدا سره بيان کړې دې، او امام بخاري رحمه الله چه کوم مثال پيش کړې دې هلته بيشکه ﴿فصاعدا ﴾ د ماقبل په حکم کښې نه دی يعنی د هغې موندلې کيدل ضروری نه دی.

د فصاعدا د مواضع استعمال اختلاف

نتيجه دا راووتله چه د ﴿ فصاعدا ﴾ مواضع استعمال مختلف دی، کله دا د ماقبل په حکم کښې وی او چرته نه، د قرائن وغيره نه ددې تعيين کيدې شی، د مشائخ او استاذانو کلام ته کتلو سره معلوميږی چه که د متکلم مقصود اقل ما واجب لره بيانول وی، نو بيا خو د ﴿فصاعدا ﴾ موندلې کيدل ضروری نه دی، او که مقصود جميع ما وجب بيانول وی نو بيا خو د فصاعدا کيدل هم ضروری دی، پس په حديث الاضحيه کښې جمع ما وجب بيانول مقصود دی بعض لره صراحة او بعض د فصاعدا په ذريعه مجملا، او نصاب سرقه والا حديث کښې اقل مقدار لره بيانول مقصود دی، لهذا هلته د ﴿ فصاعدا ﴾ کيدل ضروری نه دی.

اوس په متنازع حديث کښې کتل دی چه دا د چا د قبيل نه دې، ظاهره ده چه دلته مقصود اقل ما وجب لره بيانول نه دی بلکه جميع ما وجب لره بيانول دی، لهذا د فاتحه والا حديث، حديث الاضحيه د قبيل نه شو، ممکنه ده د يو صاحب په ذهن کښې ددې نه غوره توجيه هم وی نو بيا به هغه مقدم وی.

الجواب الثالث: سيدنا عباده رضي الله عنه دا حديث کوم چه په بخاری او مسلم کښې دی، مختصر دې د حديث طويل نه، پوره حديث ابوداود او ترمذی وغيره کښې دی، پس د باب حديث نمبر ۲ اوګورئ.

[٨٢٣](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: كُنَّا خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ، فَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: "لَعَلَّكُمْ تَقْرَءُونَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ" قُلْنَا: نَعَمْ هَذًّا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "لَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا".

ترجمه: د عبادة بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دې: وو مونږ وروسته د نبی ﷺ نه د سحر په مونځ کښې نو قرآت وکړو رسول الله ﷺ، نو قرآت ورباندې دروند شو، هرکله چې فارغ شو ويې وئيل: کيدی شی چې تاسو د امام نه وروسته قرآت کوئ. مونږ وويل: آو، همدا ده اې د الله رسوله! هغه وفرمائيل: تاسو داسې مه کوئ مګر په سورت فاتحې باندې، بيشکه مونځ نشته د هغه چا چې سورت فاتحه نه لولي.

تشريح: قوله:﴿ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كُنَّا خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ فَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم..الخ﴾ د دې حديث نه معلوميږی چه صحابه کرام به

(١) د قربانۍ د ځاروی سترګې او غوږونه دې ښه اوکتلې شی ١٢

(٢): سنن الترمذي الصلاة ١١٥ (٣١١)، (تحفة الأشراف: ٥١١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٣/٥، ٣١٦، ٣٢٢)، (حسن)

په شروع کښې په خپل اختیار او اجتهاد سره قراءة خلف الامام کولو چه د هغې خبر رسول الله ﷺ ته نه وو، د رسول الله ﷺ په تپوسلو باندې هغوی اقرار اوکړو چه مونږ ئې زر زر وایو نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه داسې مه کوئ سوا د سورة فاتحې نه ځکه چه ددې نه بغیر خو مونځ نه کیږي.

دلته رسول الله ﷺ مقتدی د مطلق قرأت نه منع کړو او د فاتحې استثناء ئې اوفرمائیله او قاعده دا ده چه ﴿ الاستثناء بعد الحظر یفید الاباحة کما فی قوله تعالی : ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة ﴾ لهذا ددې حدیث نه ثابته شوه چه د مقتدی دپاره قراءة فاتحه جائز او مباح دې نه فرض، فلا یصح استدلالهم بهذا الحدیث علی فرضیة الفاتحة. اوس دلته دوه خبرې پاتې کیږی اول دا چه احناف خو د اباحت هم قائل نه دی، دویم دا چه رسول الله ﷺ خو خپله په دې حدیث کښې فرمائی چه ﴿ فانه لا صلاة لمن لم یقرأ بها ﴾ د امر ثانی جواب خو دا دې چه د رسول الله ﷺ مقصود نفی کمال دې چه یو مونځ هم د فاتحې نه بغیر نه کاملیږی او د اولنۍ خبرې جواب دا دې چه مونږ په دې مسئله کښې د نسخ قائل یو چه د هغې دلیل به وړاندې راشي، دلته خو مونږ له دا وئیل ؤو چه د صحیحین حدیث مختصر دې او اصل حدیث داسې دې چه په هغې کښې د فاتحه استثناء، بعد الحظر موندلې شی، ددې امر ثانی جواب حضرت گنگوهی رحمه الله په کلام کښې دا دی ﴿ فانه لا صلاة لمن لم یقرا بها ﴾ سره د وجود حکمی او شرعی نفی مقصود نه ده چه بغیر ددې نه مونځ صحیح نه دې بلکه ددې نه مقصود وجود حسی او خارجی نفی کول دی چه یو مونځ هم حسا یعنی په خارج کښې د فاتحې نه بغیر نه شی موندلې، په ټولو مونځونو کښې سورة فاتحه لوستلې شی، ځکه چه امکان دې چه ددې نه مخالجت او منازعت نه وی خو چه کله روستو تجربې دا اووې چه په دې قرأت سره هم مخالجت کیږی نو بیا هغه ﷺ ددې نه هم منع کړه لکه چه په راروانو ابواب او احادیثو کښې راروان دې.

الجواب الرابع : صاحب جوهر النقی او هم دغه شان علامه شوق نیموی وائی چه ددې حدیث په سند کښې اضطراب دې ځکه چه دا روایت مکحول کله داسې روایت کوی ﴿عن محمود بن الربیع ﴾ او کله ﴿ عن نافع بن محمود بن الربیع ﴾، او کله ﴿ عن عبادة بن الصامت﴾ هم دغه شان مکحول مدلس دې او دا ئې په لفظ د ﴿ عن ﴾ سره روایت کړې دې، بهرحال په سند کښې اضطراب دې کوم چه د ضعف موجب دې. دا خو د حدیث عباده زمونږ د طرف نه جواب شو، کوم چه د شوافعو اهم مستدل دې.

د فاتحه خلف الامام په باره کښې حضرت گنگوهی تقریر

اوس زمونږ د مسلک ترجیح واورئ! حضرت اقدس گنگوهی رحمه الله فرمائی لکه په الکوکب الدری کښې دی چه چونکه د مونځ ابتداء د صلاة اللیل نه شوې وه، په شروع کښې صرف هم هغه مونځ فرض وو چه په هغې کښې صحابه کرام د قرأت سره عادت شوې وو، ددې نه پس چه کله د صلوات خمسه فرضیت اوشو نو دا د استصحاب حال په طور په فرائض کښې خلف الامام هغه هم قرأت کولو هم په دې وخت کښې آیت کریمه ﴿ واذا قرئ القران فاستمعوا له

وانصتوا ﴾ نازل شو هغه وخت د صحابه کرامو طرز عمل مختلف شو، بعض حضراتو خو قرأت خلف الامام مطلقا ترک کړو خو بعض حضرات د ثواب په حرص کښې ﴿ لاحراز الفضيلتين ﴾ په سکتات امام کښې په خپلې رائې او اجتهاد سره قرأت کولو او دا چه مونږ اووې چه هغوی په خپل اجتهاد سره داسې کول نو ددې دليل په رواياتو کښې موجود دې ﴿ مثل قوله هل قرأ معي احد منکم ﴾ اوس د صحابه کرامو ددې قرأت د وجې نه د رسول الله ﷺ په قرأت کښې پريشانی واقع شوه او رسول الله ﷺ صحابه کرام ددې قرأت نه منع کړل. ورسره رسول الله ﷺ دا خيال فرمائيلو سره چه سورة فاتحه په ټولو مونځونو کښې ده کيدې شی چه په دې کښې منازعت او التباس نه وی صرف ددې د قرأت اجازت ئې ورکړو او د څو ورځو پورې دا سلسله روانه وه خو چه کله رسول الله ﷺ اوليدل چه چه په دې قرأت سره هم منازعت پيدا کيږی نو بيا ئې ددې نه هم منع اوفرمائيله، خو صرف په جهری مونځونو کښې لکه چه په حديث د ابوهريره رضي الله عنه کښې دی کوم چه د صلاة صبح په قصه کښې دی ﴿ فانتهى الناس عن القراءة فيما جهر به رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ او اوس صرف په سری مونځونو کښې قرأت پاتې شو خو اخر دا هم منع کړې شو، لکه چه د عمران بن حصين رضي الله عنه د حديث نه معلوميږی کوم چه د صلاة ظهر په باره کښې دې، پس مصنف وړاندې تلو سره دوه بابونه هم په دې ترتيب سره قائم فرمائيلې دی حاصل دا چه په دې سلسله کښې په تدريج سره نسخ واقع شوې ده، او اخر الامر رسول الله ﷺ دا فيصله اوفرمائيله ﴿ من کان له امام فقراءة الامام له قراءة ﴾ او په بل حديث کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿ واذا قرأ فانصتوا ﴾ حضرات شوافعو په دې احاديثو باندې څه نقد کړې دې.

من كان له امام فقراءة الامام له قراءة باندې كلام

حضرت په بذل کښې د علامه عينی نه نقل کولو سره په دې باندې تفصيلی کلام فرمائيلې دې په هغې کښې ليکی چه دا حديث ﴿ من کان له امام فقراءة الامام له قراءة ﴾ د ډيرو صحابه کرامو نه نقل دې، جابر بن عبدالله، ابن عمر، ابو سعيد خدری، ابوهريره، ابن عباس، انس بن مالک. دا روايات په ابن ماجه دارقطنی او معجم طبرانی وغيره کتب کښې مذکور دی، امام دارقطنی وغيره ناقدين فرمائی چه د حديث جابر په سند کښې جابر جعفی دې کوم چه مجروح دې خپله امام ابوحنيفه صاحب د هغه تکذيب کړې دې، او د ابو سعيد خدری رضي الله عنه په حديث کښې اسماعيل بن عمرو بن نجيح ضعيف دې، هم دغه شان په حديث ابوهريره رضي الله عنه سره عباد متفرد دې کوم چه ضعيف دې زمونږ د طرف نه وئيلې شوې دی چه د حديث جابر نور طرق هم شته، بعض د هغې نه هغه دی.

د امام صاحب په سند سره حديث او د دارقطنی په دې باندې رد

کوم چه په مؤطا د امام محمد رحمه الله کښې دې ﴿ اخبرنا الامام ابوحنيفة حدثنا ابو الحسن موسى بن ابي عائشة عن عبدالله بن شداد عن جابر عن النبي صلى الله عليه وسلم ﴾ په دې باندې دارقطنی اعتراض کړې دې چه دا حديث مسندا صرف ابو حنيفه او کله د هغه سره حسن بن عماره

روايت کړې دي : وهما ضعيفان... او ددې دواړو نه علاوه متعدد راويان لکه سفيان ثورى، شعبه، ابن عيينه وغيره دا مرسلا نقل کړې دي. ﴿ عن ابى الحسن عن عبدالله بن شداد عن النبى صلى الله عليه وسلم ﴾ اصل روايت داسې دې مرسلا (بغير د صحابى د ذکر کولو نه) زمونږ د طرف نه ئې جواب دا کړې شوې دې چه اسناد د ارسال په مقابله کښې زيادت دې او زيادت ثقه مقبول وى. ﴿ ولو سلم ارساله فالمرسل حجة عندنا والجمهور ﴾ پاتې شوه مسئله ددې دواړو د توثيق او تضعيف نو علامه عينى فرمائى چه د حسن بن عماره يو لوئې جماعت توثيق کړې دې هغه ته ضعيف وئيل غلط دى، او هم دغه شان امام ابوحنيفه رحمه الله چه د هغه علم شرقا او غربا خور دې هغه ته ضعيف وئيل انتهائى غلط او د تعصب نه ډک اعتراض دې، علامه عينى رحمه الله فرمائى چه که امام دارقطنى د ادب او احترام نه کار اخستلې وې نو هرګز به ئې امام الائمه سيد الحفاظ طرف ته د ضعف نسبت نه کولې، او د هغه په تضعيف سره خپله مستحق تضعيف شو، هغه فرمائى چه خپله د هغه دا حال دې چه ضعيف او منکر روايات په خپل کتاب کښې ذکر کوى د جهر بالبسمله په ثبوت کښې ئې موضوع احاديث پورې راوړې دى، ګويا قصدا ئې داسې کړې دى، پس بعض خلقو چه د هغه نه استحلاف اوکړو چه په دې کښې څومره احاديث صحيح دى نو هغه اعتراف اوکړو چه دلته يو حديث هم صحيح نه دې راوړلې شوې.

هم دغه شان د حديث ابوهريره رضي الله عنه په سند کښې دارقطنى وغيره دا فرمائيلې دى چه ددې په سند کښې محمد بن عباد الرازى ضعيف دې، صاحب تنسيق النظام فرمائى چه که د محمد بن عباد جرح تسليم کړې شى نو ﴿ ان الضعاف يقوى بعضها بعضا وههنا صحاح وضعاف فكيف لا يتقوى بها الضعاف وقد ثبت عن ابى هريرة بطريق صحيح واذا قرأ فانصتوا ﴾ حاصل دا چه دا حديث ﴿ من كان له امام الخ ﴾ د ډيرو صحابه کرامو نه په ډيرو طرق سره روايت شوې دې ددې په بعض طرق باندې به اګر چه فردا فردا کلام وى خو د مجموعه طرق په اعتبار سره حديث ثابت دې.

په حديث (واذا قرأ فانصتوا) باندې بحث

او حديث ثانى يعنى ﴿ واذا قرأ فانصتوا ﴾ دا په صحيح مسلم کښې د ابو موسى اشعرى رضي الله عنه نه روايت دې او په سنن ابى داود کښې ابو موسى اشعرى او ابوهريره دواړو نه روايت دې، د ابو موسى والا روايت باندې امام بخارى وغيره حضراتو دا اعتراض کړې دې چه په دې سره سليمان التيمى متفرد دې، حضرت سهارنپورى رحمه الله په بذل (ج ١ ص ٣٣٩) کښې فرمائى چه ادعاء د تفرد باطل ده ځکه چه په سنن دارقطنى کښې د سليمان تيمى متابعت کړې دې، عمر بن عامر او سعيد بن ابى عروبه، هم دغه شان په صحيح مسلم کښې موجود دى چه د امام مسلم نه يو سړى ددې حديث په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه اوفرمائيل (اتريد الحفظ من سليمان) د دې نه روستو هم هغه سائل تپوس اوکړو چه د حديث ابوهريره رضي الله عنه په باره کښې ته څه وائې هغه اوفرمائيل ﴿ هو عندى صحيح ﴾ په دې باندې سائل عرض اوکړو چه بيا تاسو ددې تخريج دلته په صحيح مسلم کښې ولې اونکړو نو په

دې باندې امام مسلم اوفرمائیل (لیس کل شئ عندی صحیح وضعته ههنا وانما وضعت ههنا ما اجمعوا علیه) یعنی زه په دې خپل صحیح کښې هر هغه حدیث نه راوړم کوم چه زما په نزد صحیح وی بلکه په دې کښې خو صرف داسې احادیث اخلم چه د هغې په صحت باندې د محدثینو اجماع وی دا ټول مضمون د صحیح مسلم په متن کښې موجود دې، اوګورئ امام مسلم رحمه الله ددې حدیث په صحت باندې جزم فرمائیلې دې، دغه شان د هغه د کلام نه دا هم معلومه شوه چه د ابو موسی اشعری رضی الله عنه د حدیث په صحت باندې د محدثینو اجماع ده، او د ابوهریره رضی الله عنه حدیث ئې په دې وجه نه دې راوړې چه د هغې صحت مختلف فیه وو، دا دې هم واضحه وی چه امام ابوداود دا دواړه روایات په خپل سنن کښې اخستلې دی، د ابوهریره رضی الله عنه حدیث خو په بذل المجهود (ج ١ ص ٣٣٨) "باب الامام یصلی من قعود" د لاندې تیر شوې دې، او د ابو موسی اشعری رضی الله عنه حدیث په وړاندې تلو سره په باب التشهد کښې راروان دې (بذل ص ١٢١ ج ٢) امام ابوداود په دې باندې هم کلام فرمائیلې دې، دا ټول تفصیل په باب سابق (باب الامام یصلی من قعود) کښې مونږ سره تیر شوې دې، د احنافو په دلائلو کښې یو دلیل آیت کریمه دې

په (واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا) باندې کلام

قوله:(واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا) هم مشهور دې ددې په باره کښې حضرات شوافع فرمائی چه ددې آیت کریمه نزول د خطبې په باره کښې دې، په کوکب کښې لیکی چه دا خبره صحیح نه ده ځکه چه سورة اعراف مکی دې او د جمعې فرضیت په مدینه منوره کښې شوې دې او که اومنلې شی چه ددې فرضیت په مکه کښې شوې دې خو دا خبره خو منلې شوې ده چه هلته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جمعې د مانځه موقع نه ده ملاؤ شوې.

حضرت شیخ په حاشیه د کوکب باندې لیکی چه په در منثور کښې ډیر روایات دی چه د هغې نه معلومیږی چه ددې آیت کریمه نزول د قراءة فی الصلاة په باره کښې دې التعلیق الصبیح (ج١ ص ٣٢٤) کښې د الشرح الکبیر په حوالې سره لیکلې دی (قال احمد اجمع الناس ان هذه الاية نزلت فی الصلاة) قرطبی فرمائی چه دا قول چه ددې نزول د خطبې په پاره کښې دې ضعیف دې ځکه چه په خطبه کښې د قران کریم مقدار ډیر قلیل وی حال دا چه انصات په ټولو خطباتو کښې واجب دې بله دا چه دا آیت کریمه مکی دې او په مکه کښې نه خطبه وه او نه د جمعې مونځ.

په دې سلسله کښې اثار صحابه

او متعدد اثار صحابه د ترک قرأت خلف الامام په باره کښې دی چه د هغې تخریج په شرح معانی الاثار او مصنف ابن ابی شیبه او مصنف عبدالرزاق معجم طبرانی وغیره کتب کښې موجود دی (فقد اخرج الطحاوی بسنده عن علی من قراء خلف الامام فلیس علی الفطرة واخرجه ابن ابی شیبة بلفظ من قرأ خلف الامام فقد اخطاء الفطرة) او په مصنف عبدالرزاق کښې دی (قال ابن مسعود من قرأ خلف الامام ملئ فوه ترابا) ځوک چه قرأت خلف الامام کوی د هغه

خوله دې د خاورو نه ډکه کړې شي ‹د دې دپاره چه هغه قرات اونکړې شي› او د عمر ﷺ نه منقول دي ﴿ وددت ان الذى يقرأ خلف الامام فى فيه حجر ﴾ چه ماته دا ښه معلوميږي چه کوم سړي قرأت خلف الامام کوي چه د هغه په خوله کښې کاڼړې کېخودلې شي.

[۸۲۴]()حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنِي زَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ نَافِعٌ: أَبْطَأَ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ، فَأَقَامَ أَبُو نُعَيْمٍ الْمُؤَذِّنُ الصَّلَاةَ، فَصَلَّى أَبُو نُعَيْمٍ بِالنَّاسِ، وَأَقْبَلَ عُبَادَةُ وَأَنَا مَعَهُ حَتَّى صَفَفْنَا خَلْفَ أَبِي نُعَيْمٍ، وَأَبُو نُعَيْمٍ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ، فَجَعَلَ عُبَادَةُ يَقْرَأُ أُمَّ الْقُرْآنِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قُلْتُ لِعُبَادَةَ: سَمِعْتُكَ تَقْرَأُ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَأَبُو نُعَيْمٍ يَجْهَرُ، قَالَ: أَجَلْ، صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضَ الصَّلَوَاتِ الَّتِي يَجْهَرُ فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ، قَالَ: فَالْتَبَسَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، وَقَالَ: "هَلْ تَقْرَءُونَ إِذَا جَهَرْتُ بِالْقِرَاءَةِ؟ فَقَالَ بَعْضُنَا: إِنَّا نَصْنَعُ ذَلِكَ، قَالَ: فَلَا، وَأَنَا أَقُولُ مَا لِي يُنَازِعُنِي الْقُرْآنُ، فَلَا تَقْرَءُوا بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ إِذَا جَهَرْتُ إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ".

ترجمه: نافع وئيلي دي چې عبادة بن الصامت وروسته شو د سحر د مونځ نه، نو ودرولو ابو نعيم مانځه لره چې هغه مؤذن دی، نو مونځ وکړو ابو نعيم خلقو ته، او رامخامخ شو عبادة او زه د هغه سره وم، تردې چې مونږ صف جوړ کړو وروسته د ابو نعيم نه، او ابو نعيم جهر کولو په قرأت سره نو شروع شو عبادة چې لوستله ئې سورت فاتحه، هرکله چې فارغ شو، ما وويل عبادة ما د تانه واوريدل چې سورت فاتحه دې لوستله، او ابو نعيم جهر کولو، هغه وويل: آو، مونځ وکړو مونږ ته رسول الله ﷺ بعضې مونځونه هغه چې په هغې کښې ئې جهر کولو، هغه وويل: ګډوډ شو په هغه (ﷺ) باندې قرأت هرکله چې فارغ شو نو مونږ ته مخاخ شو په خپل مخ سره او ويې وئيل: ايا تاسو قرأت کوئ کله چې زه قرأت کوم په جهر سره؟ نو ووئيلي بعضو زمونږ نه: مونږ کوو دغه، هغه (ﷺ) وائي: پس مه کوئ، او زه وايم: څه دې مالره چې جګړه کوي ماسره په قرآن، تاسو مه لولئ هيڅ شی د قرآن نه کله چې زه جهر کوم مګر سورت فاتحه.

[۸۲۵]()حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ ابْنِ جَابِرٍ، وَسَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْعَلَاءِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ عُبَادَةَ، نَحْوَ حَدِيثِ الرَّبِيعِ بْنِ سُلَيْمَانَ، قَالُوا: فَكَانَ مَكْحُولٌ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ سِرًّا. قَالَ مَكْحُولٌ: اقْرَأْ بِهَا فِيمَا جَهَرَ بِهِ الْإِمَامُ إِذَا قَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسَكَتَ سِرًّا، فَإِنْ لَمْ يَسْكُتِ اقْرَأْ بِهَا قَبْلَهُ وَمَعَهُ وَبَعْدَهُ لَا تَتْرُكْهَا عَلَى كُلِّ حَالٍ.

ترجمه: روايت دې د مکحول نه هغه روايت کوي دعبادة نه پشان د حديث د ربيع بن سليمان، هغوی ويلي دي: وو مکحول چې لوستله ئې په ماښام او ماسخوتن او سحر کښې سورة فاتحه په هر رکعت کښې په پټه، وئيلی دی مکحول: لوله په هغه مانځه کښې په کوم کښې چې امام جهر کوی کله چې سورت فاتحه لولي، او چپ شو نو پټه وايه که چپ نه شو نو لوله مخکې د هغه او هغه سره يو ځاې او وروسته د هغه نه، په هيڅ حال ئې مه پرېږده.

تشريح: قوله:﴿ قال مكحول : اقرأ بها فيما جهر به الامام اذا قرأ بفاتحة الكتاب وسكت ﴾ مکحول

(۱): سنن النسائي/الافتتاح ۲۹ (۹۲۱)، (تحفة الأشراف: ۵۱۱۶) (صحيح)
(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۵۱۱۴) (ضعيف)

فرمائي چه مقتدي له پکار دي چه په جهري مونځ کښې چه کله امام سکوت اوکړي نو هغه دې فاتحه لولي او که امام سکته نه کوي نو بيا دې د هغه نه مخکښې فاتحه اولولي د امام نه مخکښې يا د هغه سره او يا د هغه نه روستو.
غرض دا چه هر څنګه ممکن وي نو فاتحه دې اولولي په يو حال کښې دې هم هغه نه پريږدي، په حاشيه د کوکب کښې دي ابن العربي فرمائي چه مونږ د امام شافعي رحمه الله نه تپوس کوو چه مقتدي به فاتحه خلف الامام کوم وخت کښې وائي؟ که هغه ئې عين د امام د قرأت په وخت لولي نو په دې صورت کښې منازعت امام او اعراض عن استماع القران لازميږي او که دا وائې چه کله امام سکته کوي نو هغه وخت دې اولولي نو بيا مونږ تپوس کوو چه که امام سکته نه کوي نو بيا به ئې څه وخت لولي ځکه چه د امت په دې باندې اتفاق دې چه په امام باندې سکته واجب نه ده، بله دا چه هغه فرمائي چه ايا د امام د قرأت استماع دې ته د مقتدي قرأت نه شي وئيلې کيدې؟ دا خبره د هر پوهه او انصاف کونکي دپاره کافي ده، اوګورئ ابن عمر رضي الله عنه به خلف الامام قرأت نه کولو او هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنت د تولو نه زياته تابعداري کوله. (انتهى كلام ابن العربي)

د شوافعو په نزد به مقتدي قراءت خلف الامام کوم وخت کوي

هسې خو په کتب شافعيه کښې ليکلې دي چه د امام دپاره مستحب ده چه سکته کوي ددې دپاره چه مقتدي پکښې فاتحه اولوستلې شي، او که د مقتدي دا ګمان وي چه هغه به د امام په سکته کښې فاتحه پوره نه کړې شي نو هغه له پکار دي چه د امام سره سره ئې لولي.

باب من كره القراءة بفاتحة الكتاب اذا جهر الامام

د کومو حضراتو په نزد چه په جهري مونځ کښې قراءت خلف الامام مکروه دې

د باب اول نه مصنف په ظاهره کښې دا ثابته کړه چه قرأت فاتحه فى الصلاة مطلقا واجب دې که امام وي يا مقتدي وي يا منفرد.

د ترجمة الباب نه د مصنف غرض

اوس په دې باب کښې مصنف د مقتدي استثناء يا داسې اوايئ چه نسخ بيانوي په دې باب کښې دا فرمائي چه مقتدي لره په جهري مونځونو کښې فاتحه خلف الامام نه دي لوستل پکار او ددې نه روستو راتلونکي باب کښې فرمائي چه په سري مونځونو کښې هم ورله نه دي لوستل پکار، دا مخکښې هم مونږ سره تير شو چه په دې باب کښې مصنف د ابوهريره رضي الله عنه حديث ذکر کړې دي چه د هغې تعلق د جهري يعنى د سحر د مونځ سره دې.

[۸۲۶] (۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ ابْنِ أُكَيْمَةَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ، فَقَالَ: "هَلْ قَرَأَ مَعِي أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا؟ فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: إِنِّي أَقُولُ مَالِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ، قَالَ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا جَهَرَ فِيهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ حِينَ سَمِعُوا ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ

(۱): سنن الترمذي بالصلاة ۱۱۷ (۳۱۲)، سنن النسائي بالافتتاح ۲۸ (۹۲۰)، سنن ابن ماجه باقامة الصلاة ۱۳ (۸۴۸، ۸۴۹)، (تحفة الأشراف: ۱۴۲۶۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك بالصلاة ۱۰ (۴۴)، مسند احمد (۲/۲۴۰، ۲۸۴، ۲۸۵، ۳۰۲، ۴۸۷) (صحيح)

أَبُودَاوُد: رَوَى حَدِيثَ ابْنِ أُكَيْمَةَ هَذَا مَعْمَرٌ وَيُونُسُ، وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَلَى مَعْنَى مَالِكٍ.

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ فارغ شو د يو مونځ نه چې جهر ئې کړی وو په هغې کښې هغه ووېل: ايا تاسو ماسره چا لګ مخکښې قرأت وکړو؟ نو يو سړی ووېل: او ای د الله رسوله! هغه وفرمائيل: زه وايم څه دې ماله چې جګړه کيدی شي ماسره په قرآن کې؟ هغه ووېل: خلق د قرأت نه بند شول د رسول الله ﷺ سره په هغه مانځه کښې چې هغه به پکې جهر کولو په قرأت سره کله چې هغوی دا خبره واوريده د رسول الله صی الله عليه وسلم نه. وئيلی دی ابوداود: روايت کړی دی د ابن اکيمة ددې حديث معمر او يونس او اسامة بن زيد د زهري نه په معنی د مالک سره.

تشريح: **قوله:**(فانتهى الناس عن القراءة مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فيما جهر فيه) د دې نه صفا معلوميږی چه د رسول الله ﷺ د نکير د وجې نه صحابه کرامو په جهری مونځ کښې فاتحه خلف الامام ترک کړه پس دا د شوافعو بالکل خلاف دې.

د شوافعو د طرف نه د حديث جواب

په دې وجه امام نووی رحمه الله ددې دوه جوابونه کړې دی يو دا چه دا جمله مدرج ده، د زهری کلام دې، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه په دې کښې روايات مختلف دی د بعض رواياتو نه خو معلوميږی چه دا د زهری کلام دې يا د يو بل راوی، او د بعض نه معلوميږی چه دا د ابوهريره رضي الله عنه کلام دې، او اصل عدم ادراج دې، او که اومنلې شی چه دا د زهری کلام دې نو بيا هم څه اشکال دې ايا امام زهری غلطه خبره کوی؟

او دويم جواب امام نووی رحمه الله دا کړې دې چه د محدثينو ددې حديث په ضعف باندې اتفاق دې ځکه چه په دې کښې يو راوی ابن اکيمه چه مجهول دې، زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه امام ترمذی رحمه الله ددې حديث تحسين او ابن حبان ئې تصحيح کړې ده، بيا دا وئيل څنګه صحيح کيدې شی چه دا حديث بالاتفاق ضعيف دې، بله دا چه امام ترمذی رحمه الله فرمائی (وابن اكيمه الليثي اسمه عمارة ويقال عمرو بن اكيمة) او حافظ ابن حجر په تقريب کښې د هغه په نوم کښې مختلف اقوال يعنی عمارة، عمار، عمرو، عامر ليکلو نه پس فرمائی: (ثقة من الثالثة) او هغه ددې په باره کښې هيڅ قسم جرح نه ده نقل کړې، دا د سنن اربعه راوی دې.

[٨٢٧] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي خَلَفٍ، وَابْنُ السَّرْحِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، سَمِعْتُ ابْنَ أُكَيْمَةَ، يُحَدِّثُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً نَظُنُّ أَنَّهَا الصُّبْحُ بِمَعْنَاهُ إِلَى قَوْلِهِ مَا لِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ. قَالَ أَبُودَاوُد: قَالَ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ مَعْمَرٌ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ فِيمَا جَهَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وقَالَ ابْنُ السَّرْحِ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ مَعْمَرٌ: عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَانْتَهَى النَّاسُ، وقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ مِنْ بَيْنِهِمْ: قَالَ سُفْيَانُ: وَتَكَلَّمَ الزُّهْرِيُّ بِكَلِمَةٍ لَمْ أَسْمَعْهَا، فَقَالَ مَعْمَرٌ: إِنَّهُ قَالَ: فَانْتَهَى النَّاسُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَانْتَهَى حَدِيثُهُ إِلَى قَوْلِهِ: مَا لِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ، وَرَوَاهُ

(١): انظر ما قبله. (تحفة الأشراف: ١٤٢٦٤) (صحيح)

الْأَوْزَاعِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ فِيهِ: قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَاتَّعَظَ الْمُسْلِمُونَ بِذَلِكَ فَلَمْ يَكُونُوا يَقْرَءُونَ مَعَهُ فِيمَا يَجْهَرُ بِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، قَالَ قَوْلُهُ: فَانْتَهَى النَّاسُ مِنْ كَلَامِ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه: سعید بن مسیب وئیلی دی ما اوریدلی دی د ابو هریرة ﷺ نه هغه به وئیل: مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ وکړو مونږ دا ګمان کوو چي د هغه به سحر مونځ وو په معنی د هغي سره تردي قول پوري: څه دي مالره چي جګړه کیدی شي ماسره په قرآن کښي. وئیلی دی مسدد په خپل حدیث کښي: وئیلی دی معمر: منع شول خلک د قرأت نه په هغي کښي چي جهر به کولو رسول الله ﷺ او وئیلی دی ابن السرح په خپل حدیث کښي: وئیلی دی معمر د زهری نه، وئیلی دی ابو هریره: منع شول خلک، او وئیلی دی عبد الله بن محمد الزهري: د مینځ د هغوی نه، وئیلی دی سفیان: او خبره وکړه زهری په یوې کلمي سره ما وانه اوریده، وویل معمر: هغه وویل: منع شول خلک. وئیلی دی ابوداود: او نقل کړی دی دې لره عبد الرحمن بن اسحاق د زهری نه، او ختم شو حدیث د هغه تردې قول پورې (څه دي مالره چي جګړه کولی شي ماسره په قرآن کې) او روایت کړې دې ددې اوزاعی هم د زهری نه هغه وئیلی دی په هغي کښي. وئیلی دی زهري، مسلمانانو په دې سره نصیحت واخستلو نه وو چي قرأت ئې لوستلو د هغه سره په هغي کښي چي رسول الله ﷺ به جهر کولو په هغي کښي. وئیلی دی ابوداود: ما اوریدلی دی د محمد بن یحیی بن فارس نه، هغه به وئیل: (فَانْتَهَى النَّاسُ مِنْ كَلَامِ الزُّهْرِيِّ) کلام د زهری دې.

باب من رأى القراءة اذا لم يجهر الامام بقرائته

باب د هغه حضراتو دلائل کوم چه په سری مونځونو کښې د قراءت قائل دی

دا ترجمه په اکثر نسخو کښي هم دغه شان ده او په بعض نسخو کښي داسي ده ﴿ باب من لم یر القراءة اذا لم یجهر ﴾ او دا دویمه نسخه صحیح ده ځکه چه د اولنۍ نسخې حاصل دا وو چه په صلاة سریه کښي د قرأت ثبوت چه د هغې معنی شوه په جهریه کښي عدم ثبوت او دا خبره په باب سابق کښي تیره شوې ده، په دې صورت کښي به دا باب تکرار محض وی لهذا نسخه ثانیه صحیح ده، چه د هغې حاصل دا دې ﴿ ترک القراءة خلف الامام فی السریة ﴾ لهذا د دواړو بابونو د مجموعي نه د قرأت خلف الامام مطلقا ترک ثابت شو.

[۸۲۸](١)حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح. وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ الْمَعْنَى، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الظُّهْرَ، فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَرَأَ خَلْفَهُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: أَيُّكُمْ قَرَأَ؟ قَالُوا: رَجُلٌ، قَالَ: قَدْ عَرَفْتُ أَنَّ بَعْضَكُمْ خَالَجَنِيهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ أَبُو الْوَلِيدِ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ شُعْبَةُ: فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ: أَلَيْسَ قَوْلُ سَعِيدٍ أَنْصِتْ لِلْقُرْآنِ؟ قَالَ: ذَاكَ إِذَا جَهَرَ بِهِ. قَالَ ابْنُ كَثِيرٍ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ: قُلْتُ لِقَتَادَةَ: كَأَنَّهُ كَرِهَهُ، قَالَ: لَوْ كَرِهَهُ نَهَى عَنْهُ.

ترجمه: د عمران بن حصین ﷺ نه روایت دې بیشکه مونځ ورکړو رسول الله ﷺ د

---

(١): صحيح مسلم/الصلاة ١٢ (٣٩٨)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٧ (٩١٦،٩١٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٢٦، ٤٣١، ٤٣٣، ٤٤١) (صحيح)

ماسپخين نو راغي يو سړی نو ويې لوستلو وروسته د هغه نه سبح اسم ربک الأعلی، هرکله چې هغه فارغ شو نو ويې فرمائيل: کوم يو په تاسو کښې قرأت کولو؟ خلقو ووېل: فلانی سړی، هغه وفرمائيل: زه پوهه شوم چه بعضې په تاسو کښې ګډ وډې راوسته په ما باندې په قرأت کښې. وئيلی دی ابوداود په حديث خپل کښې: وئيلی دی شعبة: ما ووېل قتادة ته: ايا نه دی قول د سعيد أنصت للقرآن؟ هغه ووېل: دغه هله دی چې کله جهر کوی په هغې، وئيلی دی ابن کثير په حديث د هغه کښې: هغه وايي: ما ووېل قتادة ته: ګويا کښې هغه بد وګڼړلو، هغه ووېل: که چېرې ئې بد ګڼړلی وی نو منع به ئې کړې وه د هغې نه.

[۸۲۹]()حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى بِهِمُ الظُّهْرَ فَلَمَّا انْفَتَلَ، قَالَ: أَيُّكُمْ قَرَأَ بِ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، فَقَالَ رَجُلٌ: أَنَا، فَقَالَ: عَلِمْتُ أَنَّ بَعْضَكُمْ خَالَجَنِيهَا".

ترجمه: د عمران بن حصين نه روايت دې، بيشکه د الله نبی ﷺ مونځ وکړو دوی ته د ماسپخين هرکله چې فارغ شو، هغه ووېل: کوم يو په تاسو کښې سبح اسم ربکَ الاعلی ولوستلو؟ نو ووېل يو سړي: ما، هغه (ﷺ) وفرمائيل: زه پوهه شوم چې بعضې په تاسو کښې خلط راوستلو په ما باندې.

تشريح: قوله: ﴿ صلى الظهر فجاء رجل فقراء خلفه سبح اسم ربک الاعلى الخ ﴾ د دې حديث نه ترک القراءة فی السرية ثابتيږی.

د شوافعو د طرف نه د دې حديث جواب

امام بيهقی ددې جواب دا کړې دې چه په دې واقعه کښې د رسول الله ﷺ نکير په نفس قرأت باندې نه دې بلکه په جهر بالقراءة باندې دې، هغه صحابی په رسول الله ﷺ پسې جهر کړې وو نو په هغې ئې نکير اوفرمائيلو، او قرينه په دې باندې دا ده ﴿ ايكم قرأ بسبح اسم ربک الاعلى ﴾ نو که دې صحابی جهرا قرأت نه وې کړې نو رسول الله ﷺ ته به د متعين سورت علم څنګه وې؟ زمونږ د طرف نه ددې جواب دا دې چه دا خبره بعيده معلوميږی چه رسول الله ﷺ خو دې قرأت سرا فرمائی او په هغه پسې دې شاته يو صحابی جهرا قرأت کوی، او پاتې شوه خبره د سورة د نوم اخستلو نو په دې حديث کښې د سورة تسميه د رسول الله ﷺ نه ثابته نه ده لکه چه د باب په اول حديث کښې معلومه شوه.

اوس دا سوال پاتې شو چه که جهرا ئې قرأت نه وو کړې نو هغه سره په قرأت کښې منازعت څنګه شو؟ جواب دا دې چه کيدې شی د شدت همس د وجې نه وی يا د ارتکاب مکروه د وجې نه (وهی القراءة خلف الامام) لکه چه د نسائی شريف په يو روايت کښې دی چه يو ځل رسول الله ﷺ د سحر په مونځ کښې سورة روم تلاوت کولو د روايت الفاظ دا دی ﴿ عن النبي صلى الله عليه وسلم انه صلى صلاة الصبح فقرأ الروم فالتبس عليه فلما صلى قال : ما بال اقوام يصلون معنا لا يحسنون الطهور فانما يلبس علينا القران اولئک ﴾ اوګورئ رسول الله ﷺ ته

(): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۲۵) (صحيح)

خو په قرأت کښې منازعت راپيښ شو ځکه چه بعض په هغه پسې شاته مونځ کونکو اودس او طهارت په ښه طريقه نه وو کړې، هم په دې وجه مونږ اووې چه د مخالجت وجه ارتکاب مکروه هم کيدې شي.

د قرأت خلف الامام بحث پوره شو الحمد لله.

بَابُ مَا يُجْزِءُ الْأُمِّيَّ وَالْأَعْجَمِيَّ مِنَ الْقِرَاءَةِ

باب دې په بيان د هغې کې چې کافي کيږي د امي او د عجمي لپاره د قراءت نه

د باب د ماقبل سره مناسبت

دا باب د مقام مناسب دې په تيرو شوو بابونو کښې د قرأت فرضيت بيان کړې شوې وو، اوس ددې ځائې نه داسې فرمائي چه که يو سړې ناخبره وي او هغه ته د قران کريم مقدار مفروض هم ياد نه وي نو داسې سړې به څه لولي؟ د مسئلې حکم به وړاندې د حديث د لاندې راشي.

[۸۳۰] ( ) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ حُمَيْدٍ الْأَعْرَجِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَفِينَا الْأَعْرَابِيُّ وَالْأَعْجَمِيُّ، فَقَالَ: "اقْرَءُوا فَكُلٌّ حَسَنٌ، وَسَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يُقِيمُونَهُ كَمَا يُقَامُ الْقِدْحُ يَتَعَجَّلُونَهُ وَلَا يَتَأَجَّلُونَهُ".

ترجمه: د جابر بن عبد الله نه روايت دې هغه وئيلي دي: راغې مونږ ته رسو ل الله ﷺ او مونږ لوستلو قرآن او په مونږ کښې اعرابی او عجمی هم وو، هغه وفرمائيل: لولئ ټول ښه دی، او زر دی چې رابه شي قومونه نيغوی به هغې (قرآن) لره لکه څرنګه چې نيغولی شی غشی (په تجويد کښې به مبالغه کوی)، تلوار به کوي په فائدی د هغې (دنياوی مقاصد به حاصلوی) او وروستنئ فائدې ته به انتظار نه کوي (د آخرت ثوابونه).

مضمون حديث

تشريح: قوله:﴿خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نقرأالقران وفينا الاعرابي والاعجمي﴾ سيدنا جابر ﷺ فرمائي چه يو ځل مونږ څو صحابه کرام چه په هغې کښې بعض اعرابی او بعض عجمي وو چا چه په خپلو خپلو لهجو کښې د قران کريم تلاوت کولو نو رسول الله ﷺ زمونږ قرأت اوريدلو سره د ټولو لوستونکو تحسين اوفرمائيلو چه د ټولو قرأت صحيح دې (ځکه چه په اخلاص سره دې) او وې فرمائيل چه څه زمانه پس به داسې خلق راشي چه د قران کريم د الفاظو ادائيګۍ به ډير عمده او قاعدې سره کوی الفاظ به صحيح او برابر ادا کوی څنګه چه د غشی دسته انتهائی صفا او نيغه تراشلې شی، کوم چه به د خپل قرأت بدله عاجلا (هم په دې دنيا کښې اخلی) او اجلا يعنی په اخرت کښې به ورته نه ملاويږي.

د دې نه د وړاندې حديث مضمون هم داسې دې ﴿ وفيکم الاحمر وفيکم الابيض وفيکم الاسود﴾ په بذل کښې ليکی چه د اول نه مراد عرب دی او د ثانی نه روم او د دريم نه مراد اهل حبشه دی او په منهل کښې ليکی چه د احمرنه مراد عجم اود ابيض نه اهل فارس اود اسود نه عرب.

( ): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۰۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۷/۳، ۳۹۷) (صحيح)

[۸۳۱]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، وَابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ بَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ وَفَاءِ بْنِ شُرَيْحٍ الصَّدَفِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَنَحْنُ نَقْتَرِئُ، فَقَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ، كِتَابُ اللَّهِ وَاحِدٌ، وَفِيكُمُ الْأَحْمَرُ وَفِيكُمُ الْأَبْيَضُ وَفِيكُمُ الْأَسْوَدُ، اقْرَءُوهُ قَبْلَ أَنْ يَقْرَأَهُ أَقْوَامٌ يُقِيمُونَهُ كَمَا يُقَوَّمُ السَّهْمُ يُتَعَجَّلُ أَجْرُهُ وَلَا يُتَأَجَّلُهُ".

ترجمه: د سهل بن ساعدی نه روایت دې هغه وېلي: راغې مونږ ته رسول الله ﷺ يوه ورځ مونږ قرأت کولو، هغه وفرمائيل: الْحَمْدُ لِلَّهِ (حمدونه الله لره دی) د الله کتاب يو دی، او تاسو سره دې او په تاسو کښې سپين هم دی او په تاسو دواړو کښې تور هم دی، او لولی مخکښې د هغې نه چې لولی به هغې لره قومونه، نيغوی به هغې لره لکه ځرنګه چې غشی نيغولی شي، د هغې اجر به په تلوار سره غوښتلی شي او نه به شي وروسته کولی هغې لره.

[۸۳۲]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي خَالِدٍ الدَّالَانِيِّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ السَّكْسَكِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْئًا، فَعَلِّمْنِي مَا يُجْزِئُنِي مِنْهُ؟ قَالَ: قُلْ: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذَا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَمَا لِي؟ قَالَ: قُلْ: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي، وَارْزُقْنِي، وَعَافِنِي، وَاهْدِنِي، فَلَمَّا قَامَ، قَالَ هَكَذَا بِيَدِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَّا هَذَا فَقَدْ مَلَأَ يَدَهُ مِنَ الْخَيْرِ".

ترجمه: د عبد الله بن ابی اوفی نه روايت دې هغه وئيلی دې: نبی ﷺ ته يو سړی راغې هغه وويل: زه طاقت نه لرم چې څه شی زده کړم د قرآن نه ماته اوښايه هغه څه چې زما دپاره کافی کېږی، هغه وفرمائيل: وايه (سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ) هغه وويل: اې د الله رسوله! دا د الله لپاره شو نو زما لپاره څه شی دی؟ هغه وويل: وايه (اې ما باندې رحم وکړې او رزق راکړې او عافيت راکړې او هدايت راته وکړې) هرکله چې پاځېدلو هغه وويل: داسې په لاس، وويل رسول ﷺ: هر چې دا سړې دې بيشکه هغه ډک کړو خپل لاس د خير نه.

تشريح: قوله:﴿ عن عبدالله بن ابی اوفی قال : جاء رجل الی النبی صلی الله عليه وسلم فقال ﴾ يعنی يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه ماته د قران کريم نه څه هم ياد نه دی، چه هغه اولولم نو تاسو ماته داسې تعليم راکړئ چه د قران کريم د قرأت بدل وی، په دې باندې رسول الله ﷺ هغه سړی ته چه کوم اذکار خمسه په وړاندې په حديث کښې مذکور دی تعليم اوفرمائيل.

د حديث د محمل په تعيين کښې د شارحينو اختلاف

د شارحين حديث د دې حديث په محمل کښې اختلاف دې، د حضرت گنگوهی رائې هغه ده کومه چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې اختيار کړې ده چه دلته په حديث کښې قرأت فی الصلاة مراد نه دې، بلکه د قران کريم تلاوت د ورد په طريقه مراد دې ځکه چه د

(۱): تفرد به أبو داود: ٥(٣٣٨)، (تحفة الأشراف: ٤٨٠٧) (حسن صحيح)

(۲): سنن النسائي/ الافتتاح ٣٢(٩٢٥) (تحفة الأشراف: ٥١٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٥٣، ٣٥٦، ٣٨٢) (حسن)

قران كريم مقدار مفروض فى الصلاة حاصلول او زده كول په انسان باندې فرض عين دى، او په دې حديث كښې د امر بالتعلم چرته وجود هم نشته، لهذا ددې نه خارج الصلاة قران كريم لوستل مراد دى. د علامه طيبى ميلان هم دې طرف ته دې، او نورو شارحينو چه په هغوى كښې ملا على قاري رحمه الله هم دې دا حديث په قرأت فى الصلاة باندې محمول كړې دې لكه چه د محدثينو د ظاهر صنيع نه هم دا معلومېږى، ځكه چه هغوى دا حديث په ابواب القراءة فى الصلاة كښې ذكر كوى، اوس پاتې شوه دا خبره چه د مقدار مفروض زده كول خو فرض دى نو ددې جواب ئې دا ليكلې دې چه كيدې شى په ابتداء امر كښې په دې مسئله كښې د مساهلت او تيسير معامله وى او دا هم وئيلې كيدې شى چه د رسول الله ﷺ مراد هم دا دې چه ترڅو پورې د قران كريم مقدار مفروض ياد نه وى نو تر هغه وخته پورې دا كلمات لولئ، او كيدې شى چه امر بالتعلم رسول الله ﷺ هغه ته كړې وى خو راوى اختصارا نه وى ذكر كړې. والله تعالى اعلم

د امى په باره كښې مذاهب ائمه

د دې نه پس ځان پوهه كړئ چه مذكوره سړى ته رسول الله ﷺ د پنځو كلماتو د لوستلو دپاره حكم اوفرمائيلو كوم چه په حديث كښې مذكور دې، مسئله مختلف فيه ده، د حنابله او شوافعو مذهب دا دې چه كوم سړى ته سورة فاتحه ياد نه وى نو په هغه باندې واجب ده چه د فاتحه نه علاوه د فاتحه په اندازه يعنى اووه آيتونه د يو بل سورت نه اولولى او كه هغه هم ياد نه وى نو بيا د حنابله په نزد دا كلمات لوستل كوم چه په حديث كښې ذكر دى واجب دى، د شوافعو نه هم دا يو روايت دې خو صحيح د شوافعو په نزد دا ده چه اووه قسم ذكر كول واجب دى په ظاهره كښې به دې وجه باندې چه په سورة فاتحه كښې اووه آيتونه دى (خو په حديث كښې صرف پنځه قسمه ذكرمذكور دې) او د مالكيانو مذهب دا دې چه كوم سړې امى وى په هغه باندې واجب دې چه د يو سړى په اقتداء كښې مونځ اوكړى ددې دپاره چه د امام قرأت د هغه قرأت شى لكه چه په حديث كښې دى ﴿ من كان له امام فقراة الامام له قرائة ﴾ پس دا سړې قرائت حقيقيه باندې خو قادر نه دې خو په قرأت حكميه باندې خو قادر دې او د احنافو مسلک دا دې چه داسې سړى لره نود يو امام د لتون ضرورت دې او نه د هغه كلمات مذكوره لوستل ضرورى دى، د هغوى په نزد دا اذكار د قرأت قائم مقام نه شى كيدې بلكه داسې سړې به د اخرس په شان د قيام په حالت كښې خاموش وى.

قوله: ﴿ فلما قام قال : هكذا بيده ﴾ ﴿ قال ﴾ دلته په معنى د ﴿ فعل واشار ﴾ دې، په دې كښې د شارحينو اختلاف دې چه د قال ضمير چا طرف ته راجع دې، د مسند احمد د روايت نه معلومېږى چه د ضمير مرجع ﴿ رجل ﴾ دې لهذا راجحه هم دا ده، بعض يو بل احتمال دا ليكلې دې چه ضمير د رسول الله ﷺ طرف ته راجع دې.

بيا ددې جملې مطلب دوه اقوال دى يو دا چه ددې نه مراد په ګوتو باندې شمار كول دى، يعنى هغه سړى هر كلمه په دې كلماتو كښې په خپلو ګوتو باندې شمار كول په خپلې ژبې سره ادا كړل د يادولو دپاره، او بل مطلب ئې دا ليكلې دې چه په دې سره اشاره د شمار

کولو طرف ته نه ده بلکه اظهار د سرور او خوشحالئ طرف ته دې، لکه چه د يو سړی په لاس کښې يو قيمتي څيز راشي او هغه ئې د خپل لاس په موټې کښې ښه طريقې سره پټ کړی، د حضرت گنگوهي هم دا رائې ده او که د قال ضمير د رسول اللهﷺ د طرف نه اومنلې شي نو مطلب دا شو چه کله هغه سړی ته رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿قال اللهم ارحمني وارزقني الخ﴾ نو رسول اللهﷺ هغه ته د خپل لاس مبارک په موټې جوړولو سره اشاره اوفرمائيله چه دا خبره ښه په مضبوطيا سره اونيسه

[۸۳۳]()حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ يَعْنِي الْفَزَارِيَّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كُنَّا نُصَلِّي التَّطَوُّعَ نَدْعُو قِيَامًا وَقُعُودًا، وَنُسَبِّحُ رُكُوعًا وَسُجُودًا".

ترجمه: جابر بن عبد الله نه روايت دې هغه وئيلي دي: وو مونږ چې نفلي مونځ مو کولو مونږ به دعا کوله په ولاړه او په ناسته، او مونږ به تسبيح وئيلې په رکوع او په سجده کښې.

تشريح: **قوله**:﴿ كنا نصلي التطوع ندعو قياما وقعودا ونسبح ركوعا وسجودا ﴾ که مراد دا وی چه مونږ به په نفل مونځ کښې په حالت قيام کښې کښې قرأت سره دعا هم کوله نو بيا خو هيڅ اشکال نشته، او که صرف په دعا کولو باندې اکتفاء مراد وی نو په دې صورت کښې به ئې مطلب دا اخستلې شی چه په مونږ کښې بعض داسې کوی او د بعض نه مراد به نوی مسلمان شوی صحابه کرام وی کوم چه اميان دی او په دې صورت کښې به دا حديث د ترجمة الباب هم موافق شي.

[۸۳۴]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، مِثْلَهُ لَمْ يَذْكُرِ التَّطَوُّعَ. قَالَ: كَانَ الْحَسَنُ "يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ إِمَامًا أَوْ خَلْفَ إِمَامٍ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَيُسَبِّحُ وَيُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ قَدْرَ ق، وَالذَّارِيَاتِ".

ترجمه: د حميد نه روايت دې په مثل د هغې، هغه نه دی ذکر کړی لفظ د التطوع، هغه وئيلي دي: وو حسن چې لوستله به ئې فاتحه په ماسپخين او مازيگر کښې، چې کله به امام وو او وروسته د امام نه سورة فاتحه، او تسبيح به ئې وئيله او تکبير به ئې ويلو او تهليل به ئې ويلو، په اندازه د ق او ذاريات باندې

قوله:﴿ كان الحسن يقرأ في الظهر والعصر ﴾ د دې اثر حسن د ترجمة الباب سره په ظاهره هيڅ مطابقت نشته لهذا ددې توجيه دا ده چه مصنف دا دلته په دې وجه راوړې دې چه پورته ذکر شوې حديث جابر چه د هغې راوی خپله حسن بصریؒ دې هغه به په مونځ کښې د قيام په حالت کښې صرف په دعا باندې اکتفاء نه کوله بلکه قرأت به ئې کولو لهذا په پورته حديث کښې هم په دعا باندې اکتفاء کول مراد نه دی بلکه دعاء مع القراءة مراد ده. (كذا في البذل)

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۲۲۰) (ضعيف)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۲۲۰، ۱۸۵۱۳) (ضعيف مقطوع ولكن لعله صحيح وثابت)

باب تَمَامِ التَّكْبِيرِ

باب دې په بيان د پوره والي د تکبير کې

د مصنف غرض په دې باب سره دا دې چه په مونځ کښې مصلی لره ټول تکبیرات انتقالات لوستل پکار دی، په دې مسئله کښې لږ شان اختلاف دې. ځان پوهه کړه چه دلته دوه مسئلې دی اول دا چه تکبیرات انتقال مشروع دي یا نه، دویم دا چه که مشروع دې نو بیا واجب دی یا سنت دې.

په مونځ کښې د تکبیرات انتقال مشروعیت او په دې کښې اختلاف علماء

۱: په بذل المجهود کښې دی چه بعض صحابه او تابعین لکه عمر، عمر بن عبدالعزیز او حسن بصری وغیره نه منقول دی ﴿ لا يسن الا تكبير التحريمة ﴾ د تکبیر تحریمه نه علاوه نور یو تکبیر هم مشروع نه دې،(۱) او د بعض سلف نه منقول دی ﴿ لا يسن التكبير الا في الجماعة ﴾ یعنی د امام دپاره مشروع دې د منفرد دپاره نه.

خو جمهور علماء کرام سلفاً وخلفاً چه په هغوی کښې خلفاء راشدین هم شامل دی (كما في الترمذي) او ائمه اربعه هم دی، مسلک دا دې چه تکبیرات انتقال مطلقا مشروع دی که نفل مونځ وی یا فرض که جماعةً وی یا منفرداً، خو د امام احمد یو روایت دا دې ﴿ يكبر في الفرض ولو منفردا لا في النفل ﴾

۲: او مسئله ثانیه دا ده چه تکبیرات انتقال د جمهور او ائمه اربعه په نزد سنت دی او د ظاهریه په نزد فرض دی، تبطل الصلاة بتركها مطلقا سهوا كان او عمدا. او د امام احمد رحمه الله هم یو روایت د وجوب دې خو "عند الذكر لا مطلقا" د دې مقام مناسب یوه مسئله بله ده یعنی د تسبیحات رکوع او سجود حکم، خو چونکه ددې باب وړاندې مستقل راروان دې په دې وجه به هغه هم هلته ذکر کوو.

[۸۳۵](۲) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ مُطَرِّفٍ، قَالَ: صَلَّيْتُ أَنَا وَعِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ خَلْفَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَكَانَ "إِذَا سَجَدَ كَبَّرَ، وَإِذَا رَكَعَ كَبَّرَ، وَإِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ، فَلَمَّا انْصَرَفْنَا أَخَذَ عِمْرَانُ بِيَدِي، وَقَالَ: لَقَدْ صَلَّى هَذَا قَبْلُ، أَوْ قَالَ: لَقَدْ صَلَّى بِنَا هَذَا قَبْلُ صَلَاةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: دمطرف نه روایت دې هغه وئیلی دي: مونځ وکړو ما او عمران بن حصین وروسته د

---

(۱) او د بعض امراء بنو امیه په باره کښې منقول دی چه هغوی به تکبیرات خفض پریخودل، یعنی په رکوع او سجود کښې د تلو په وخت به ئې نه کول او د سر د اوچتولو په وخت به ئې کول، امام طحاوی د ګلې په طور فرمائی ﴿ وما هي باول سنة تركوها ﴾ یعنی دا خلق خو د ډیرو سنتو ترک کونکی دی. ددې څه تخصیص دې ﴿ وقيل اول من ترك التكبير زياد وقيل معاوية وقيل عثمان ﴾ خو د سیدنا عثمان رضي الله عنه په باره کښې چه منقول دی د هغې توجیه دا کوی چه هغه به مطلقا نه ترک کول بلکه په رو اواز به ئې لوستل ۱۲)

(۲): صحيح البخاري/الأذان ۱۱۶ (۷۸٦)، ۱٤٤ (۸۳٦)، صحيح مسلم/الصلاة ۱۰ (۳۹۳)، سنن النسائي/الافتتاح ۱۲٤ (۱۰۸۳)، والسهو ۱ (۱۱۸۱)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸٤۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۲۹، ٤۳۲، ٤۰۰، ٤٤٤) (صحيح)

علی بن ابی طالب نه هغه وو: چې کله به ئې سجده وکړه تکبير به ئې ويلو او چې کله به ئې رکوع وکړه نو تکبيربه ئې ويلو، اوچې کله به اوچت شو د دوه رکعاتونو نه تکبير به ئې ويلو، هرکله چې مونږفارغ شو ونيولو عمران زما لاس او هغه وويل: بيشکه ده داسې مونځ اوکړو. اويا هغه وويل: بيشکه ده مونږ ته مخکې مونځ راکړو. دمونځ د محمد ﷺ پشان.

تشريح: قوله: (صليت انا وعمران بن حصين) مطلب دا دې چه سيدنا علی رضي الله عنه مونځ ورکړو نو د رکوع او سجود وغيره ټول تکبيرات انتقالات ئې ادا کړل، د مونځ نه چه کله فارغ شو د سيدنا عمران بن حصين رضي الله عنه د مطرف لاس اونيولو او هغې ته ئې اوفرمائيل چه دا اوس هغه مونږ ته مونځ راکړو هغه د رسول الله ﷺ د مونځ مطابق دې.

ځان پوهه کړئ چه تکبيرات انتقالات په ثنائی مونځ کښې يولس دی او په ثلاثی کښې اولس دی، يو تکبير تحريمه او پنځه په هر رکعت کښې د رکوع او سجدې، او يو تکبير عند القيام من الرکعتين، او په رباعی مونځ کښې تکبيرات دويشت دی. ذکره النووی فی شرح مسلم... هم دغه شان هغه فرمائی چه په دې مسئله کښې اختلاف د صحابه کرامو د زمانې پورې پاتې شوې دې د هغې نه روستو هيڅ اختلاف نشته. فالمسئلة اجماعية الان.

[٨٣٦] ()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبِي، وَبَقِيَّةُ، عَنْ شُعَيْبٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَأَبُو سَلَمَةَ، أن أبا هريرة كان "يُكَبِّرُ فِي كُلِّ صَلَاةٍ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ وَغَيْرِهَا، يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُولُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، ثُمَّ يَقُولُ: رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ قَبْلَ أَنْ يَسْجُدَ، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ حِينَ يَهْوِي سَاجِدًا، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنَ الْجُلُوسِ فِي اثْنَتَيْنِ، فَيَفْعَلُ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ حَتَّى يَفْرُغَ مِنَ الصَّلَاةِ، ثُمَّ يَقُولُ حِينَ يَنْصَرِفُ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنِّي لَأَقْرَبُكُمْ شَبَهًا بِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنْ كَانَتْ هَذِهِ لَصَلَاتَهُ حَتَّى فَارَقَ الدُّنْيَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْكَلَامُ الْأَخِيرُ يَجْعَلُهُ مَالِكٌ، وَالزُّبَيْدِيُّ، وَغَيْرُهُمَا. عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، وَوَافَقَ عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ مَعْمَرٍ شُعَيْبَ بْنَ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه: زهری وايی خبر راکړی دی ماته عبد الرحمن او ابو سلمة بيشکه ابو هريرة وو چې تکبير به ئې ويلو په هر مانځه کښې د فرضو نه او په غير د فرضو نه کله چې به پاڅيدلو، بيا به ئې تکبير ويلو کله چې به ئې رکوع وکړه، بيا به ئې وئيل: سمع الله لمن حمده، بيا به ئې وئيل: ربنا ولک الحمد مخکې د سجدی نه، بيا به ئې وئيل: الله اکبر چې کله به سجدی ته خکته کيدو بيا به ئې تکبير ويلو چې کله به ئې سر اوچتولو، بيا به ئې تکبير ويلو چې کله به ئې سجده کوله، بيا ئې به ئې تکبير ويلو چې کله به ئې سر اوچتولو، بيا به ئې تکبير ويلو چې کله به اوچتيدو د دوه رکعاتو نه، نو داسې به ئې کول په هر رکعت چې کله به فارغ شو د مانځه نه، بيا ئې وئيل کله به چې فارغ شو: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کښې دی بيشکه زه ډير نزدې يم د تاسو نه په مشابهت کښې مانځه د رسول الله

[1]: صحيح البخاري/الأذان ١١٥ (٧٨٥)، ١٢٨ (٨٠٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٨٤ (١٠٢٤)، والتطبيق ٩٤ (١١٥٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٦٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٤ (١٩)، مسند احمد (٢/٢٣٦، ٢٧٠، ٣٠٠، ٣١٩، ٤٥٢، ٤٩٧، ٥٠٢، ٥٢٧، ٥٣٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٤٠ (١٢٨٣) (صحيح)

ﷺ ته، بيشکه دا د هغه مونځ وو ترڅو چې د دنيا نه جدا شو. وئيلی دی ابوداود: دا اخيرنی کلام مالک او زبيدی په طريق سره او په غير ددې دواړو نه د علی بن حسين نه، او موافقت کړی دی عبد الاعلی د معمر نه شعيب بن ابی حمزه د زهری نه.

تشريح: قوله: ﴿ والذى نفسى بيده انى لاقربکم شبها ﴾ زما مونځ د رسول الله ﷺ د مونځ سره ستاسو د مونځ سره زيات مشابه دې، يعنی د تکبيرات انتقال د پوره کولو په اعتبار سره.

د مصنف د قول تشريح

قوله:﴿ ان کانت هذه لصلاته حتى فارق الدنيا قال ابوداود: هذا الكلام الاخير ﴾ مصنف دا فرمائی چه ددې حديث دا اخری ټکړه په دوه طريقو باندې روايت شوې دې، د زهری شاګردان ددې په روايت کولو کښې مختلف دی، پس شعيب دا د زهری نه موصولا او مرفوعا ذکر کړې دې، د موصولا مطلب دا دې چه پوره سند ئې د ابوهريره ﷺ پورې بيان کړو او معمر د شعيب په دې کښې موافقت کړې دې، او د زهری بعض نور شاګردان لکه مالک او زبيدی وغيره هغه مرسلا نقل کړې دې يعنی سند لره د علی بن حسين تابعی پورې منع کړو ﴿ عن على بن حسين عن النبى صلى الله عليه وسلم ﴾ او تابعی چه کله د رسول الله ﷺ نه روايت کوی نو ظاهره ده چه هغه روايت مرسل وی دا علی بن حسين د سيدنا علی ﷺ نمسې دې کوم چه د امام زين العابدين په نوم مشهور دې دهغوی په باره کښې ليکی ﴿ کان يصلی کل يوم الف رکعة ﴾ رحمه الله تعالى

[٨٣٧]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَابْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عِمْرَانَ، قَالَ ابْنُ بَشَّارٍ الشَّامِيِّ، وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْعَسْقَلَانِيُّ، عَنِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "وَكَانَ لَا يُتِمُّ التَّكْبِيرَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: مَعْنَاهُ: إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَأَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ لَمْ يُكَبِّرْ، وَإِذَا قَامَ مِنَ السُّجُودِ لَمْ يُكَبِّرْ.

ترجمه: د ابن عبد الرحمن بن ابزی نه روايت دې هغه روايت کوی د خپل پلار نه: بيشکه هغه مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره او وو چې نه ئې پوره کولو تکبير. وئيلی دی ابوداود: معنی ئې داده چې کله به ئې سر اوچت کړو د رکوع نه او اراده به ئې وکړه چې سجده وکړی تکبير به ئې نه وئيله او چې کله به پاځيدلو د سجدی نه نو تکبير به ئې نه ويله.

د سند شرح

قوله:﴿ عن الحسن بن عمران قال ابن بشار: الشامى ﴾ دا لفظ تشريح ته محتاج دې چه الشامی د ابن بشار صفت نه دې بلکه د حسن بن عمران صفت دې، په دې سند کښې د مصنف دوه استاذان دی محمد بن بشار او ابن المثنی، مصنف فرمائی چه د شعبه استاذ د حسن بن عمران صفت الشامی زما يو استاذ يعنی ابن بشار ذکر کړې دې او بل استاذ يعنی ابن المثنی ذکر کړې نه دې.

(): تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ٩٦٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٠٧) (ضعيف)

قوله:﴿ وقال ابوداود: ابو عبد الله العسقلاني ﴾ د راوی مذکور حسن بن عمران په باره کښې مصنف فرمائی چه د هغه کنیت ابو عبدالله دې او دا عسقلانی، زه وایم چه عسقلان د ملک شام یو ښهر دې، لهذا د هغه صفت الشامی راوړل صحیح شو.

قوله:﴿ انه صلى مع رسول الله صلى الله عليه وسلم وكان لا يتم التكبير قال ابودود : معناه الخ ﴾ عبدالرحمن بن ابزی وائی چه ما د رسول اللهﷺ سره مونځ اوکړو نو هغه د تکبیراتو اهتمام نه کولو، مصنف فرمائی، مطلب دا دې چه په سجده کښې د تلو په وخت او پاسیدو په وخت به هغه تکبیر نه کولو

د حدیث تاویل

دا حدیث د تیرو شوو احادیثو خلاف دې چه د هغې نه معلومیږی چه رسول اللهﷺ به تکبیرات پوره کول، جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې حسن بن عمران په دې سره متفرد دې، کوم چه مجهول دې، امام بخاریؒ یو باب قائم کړې دې ﴿ باب اتمام التكبير ﴾ په دې باندې شارحین لیکی، په ظاهره کښې د امام بخاریؒ غرض ددې حدیث د تضعیف طرف ته اشاره ده کوم چه په ابوداود کښې دې یعنی هم دا حدیث الباب، او یا به په دې حدیث کښې تاویل کولې شی هغه دا چه عدم اتمام نه مراد من حيث العدد نه دې بلکه من حيث الجهر او من حيث المد والاطالة. یعنی زیات زور سره به ئې نه وئیلو، یا زیات مد او راښکلو سره به ئې نه وئیلې.

باب كَيْفَ يَضَعُ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ

باب دی، څنګه به ږدی زنګونان مخکښې د لاسو لو نه

یعنی د رکوع نه فارغ کیدو نه پس اودریدو سره سجده کښې څنګه تلل پکار دی، وضع الركبتين قبل اليدين پکار دی یا ددې برعکس یعنی اول په زمکه باندې لاس کیږدی د هغې نه روستو کونډې، د جمهور مسلک اولنې دې او دا دویم شکل د امام مالک په نزد دې په دې مسئله باندې تفصیلی کلام د رفع الیدین والا باب کښې د وائل بن حجر د حدیث د لاندې تیر شوې دې، په دې باب کښې مصنف اولا د وائل بن حجرؓ حدیث کوم چه د جمهورو موافق دې ذکر فرمائیلې دې دا حدیث په سنن اربعه او صحيح ابن خزيمه د صحیح ابن السکن روایت دې، ثانیا حدیث ابوهریرهؓ کوم چه د مالکیانو دلیل دې هغه ئې راوړلې دې دا صرف د سنن روایت دې (۱)

[۸۳۸]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَحُسَيْنُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ،

---

(۱) خو د حافظ ابن حجر میلان په بلوغ المرام کښې د ابوهریرهؓ د حدیث ترجیح ده په دې باندې صاحب سبل السلام (ص ۱۸۸) لیکی چه دا خبره د حافظ ابن حجر د امام یعنی د امام شافعیؒ خلاف دې، وقال النووي لا يظهر ترجيح احد المذهبين علي الاخر)

(۲): سنن الترمذي/ الصلاة ۸۴(۲۶۸)، سنن النسائي/الإفتتاح ۱۲۸ (۱۰۹۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹(۸۸۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۸۰) (ضعيف)

وَإِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ".

ترجمه: د وائل بن حجر نه روايت دې، هغه وئيلي دي: ما وليده نبی ﷺ چې کله ئې سجده کوله نو کيخودل به ئې زنګونان مخکې د لاسونو نه، او چې کله به پاڅيدلو اوچت به ئې کړل دواړه لاسونه مخکې د زنګونانو نه.

[٨٣٩]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ، عَنْ عَبْدِ الْجَبَّارِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ حَدِيثَ الصَّلَاةِ، قَالَ: "فَلَمَّا سَجَدَ وَقَعَتَا رُكْبَتَاهُ إِلَى الْأَرْضِ قَبْلَ أَنْ تَقَعَ كَفَّاهُ". قَالَ هَمَّامٌ: وَحَدَّثَنِي شَقِيقٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَاصِمُ بْنُ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمِثْلِ هَذَا، وَفِي حَدِيثِ أَحَدِهِمَا، وَأَكْبَرُ عِلْمِي أَنَّهُ فِي حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، "وَإِذَا نَهَضَ نَهَضَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَاعْتَمَدَ عَلَى فَخِذِهِ".

ترجمه: د عبد الجبار بن وائل نه روايت دې، هغه روايت کوی د خپل پلار نه، بيشکه نبی ﷺ، ذکر ئې کړو حديث د مونځ، هغه وايي: چې هرکله به ئې سجده وکړه نو واقع به شو زنګونان د هغه ځمکې ته مخکې د دېنه چې د هغه ورغوي لاړ شي وئيلي دی همام: او حديث بيان کړې دې ماته شقيق، هغه وايي ماته حديث بيان کړې دې عاصم بن کليب د خپل پلار نه، او هغه د نبی ﷺ نه په مثل د دې، او په حديث د يو د دواړو کښې: او غالب ګمان مې دادی بيشکه په حديث د محمد بن جحادة کښې دا دی چې کله به پاڅيدلو نو پاڅيدلو به په زنګونانو او تکيه به ئې کوله په ورنونو باندې.

[٨٤٠]()حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَسَنٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې بيشکه هغه وئيلي دي: وئيلي دی رسول الله ﷺ: چې کله سجده کوی يو کس ستاسو نه نو نه دې کيني څرنګه چې اوښ کيني، او ږدې دې دواړه لاسونه خپل مخکې د زنګونانو نه.

د مالکيانو دليل

قوله:﴿ اذا سجد احدکم فلا يبرک کما يبرک البعير وليضع يديه قبل رکبتيه ﴾ د دې حديث نه مالکيان استدلال کوی ځکه چه په دې کښې تصريح ده چه په سجده کښې د تلو په وخت وضع يدين د رکبتين نه مخکښې پکار ده او هم دا د مالکيانو مسلک دې، د جمهورو د طرف نه ددې ډير جوابونه ورکړې شوې دی.

١: حديث وائل البت واقوی دې په نسبت ددې حديث پس ابن القيم رحمه الله ددې حديث لس وجوه ترجيح ذکر کړې دی.

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٧٦٢) (ضعيف) قد تقدم هذا الحديث برقم (٧٣٦)

(): سنن الترمذي/الصلاة ٨٨ (٢٦٩)، سنن النسائي/التطبيق ٣٨ (١٠٩١)، (تحفة الأشراف: ١٣٨٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٨١)، سنن الدارمي/الصلاة ٧٤ (١٣٦٠) (صحيح)

۲: دا حدیث منسوخ دې د سعد بن وقاص په حدیث سره چه په هغې کښې داسې دی ﴿كنا نضع اليدين قبل الركبتين فامرنا بوضع الركبتين قبل اليدين ﴾ (رواه ابن خزيمة)
۳: حدیث الباب مقلوب دې ځکه چه د مصنف ابن ابی شیبه په روایت کښې د ابوهریره ﷺ ددې حدیث الفاظ ددې خلاف دی﴿ اذا سجد احدكم فليبدا بركبتيه قبل يديه ولا يبرک كبروک. الفحل﴾
۴: ددې حدیث اخر د اول معارض دې ځکه چه په شروع کښې د بروک ابل نه منع کوی او اوښ په زمکه باندې د کیناستلو په وخت اول لاسونه ږدی، نو ددې باوجود د منع کولو وراندې هم ددې امر کوی چه هغه له پکار دی چه د رکبتین نه مخکښې دې یدین په زمکه باندې کیږدی دا ښکاره تعارض دې، مالکیه شارحینو ددې جواب دا کړې دې چه د انسان رکبتین خو د رجلین یعنی د خپو طرف ته وی او د دابه رکبتین په یدین کښې وی، لهذا اوښ چه کله کینی نو هغه اگر چه اول یدین په زمکه باندې ږدی لکه چه مشهوره او ښکاره خبره ده خو چونکه د هغه رکبتین هم په یدین کښې دی لهذا هغه رکبتین هم په زمکه باندې اول ږدی او په حدیث کښې د رسول الله ﷺ مراد رکبتین لره مخکښې د ږدلو نه منع کول دی لهذا تعارض رفع شو.
زمونږ د طرف نه جواب دا ورکړې شوې دې چه د هغه په دې منطق باندې مونږ پوهه نه شو، اهل لغت هم په دې باندې نه پوهیږی، لهذا په حدیث کښې به تعارض منلې شی او د حدیث صحیح الفاظ هغه دی کوم چه د مصنف ابن ابی شیبة په روایت کښې راغلې دی. والله تعالی اعلم بالصواب.

[۸۴۱]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَسَنٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَيَبْرُكُ كَمَا يَبْرُكُ الْجَمَلُ".

ترجمه: د ابو هریره، ﷺ نه روایت دې هغه وئیلی دی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: تکیه کوی یو کس ستاسونه په خپل مونځ کښې، نو داسې کینی لکه څنگه چې اوښ کینی.

بَابُ النُّهُوضِ فِي الْفَرْدِ

باب دې په بیان د قیام کې داول نه رکعات نه

د فرد نه مراد اول رکعت او رکعت ثالثه دې یعنی په اول رکعت کښې د سجود نه فارغ کیدو نه پس به د رکعت ثانیه دپاره څنگه اودریږی([2]) او دغه شان دریم رکعت پوره کولو نه پس به څلورم رکعت ته څنگه اودریږی، یعنی په دې دواړو ځایونو کښې د سجدې نه فارغ کیدو نه فورا بعد به اودریږی یا د جلسه خفیفه کولو نه پس به اودریږی کوم ته چه جلسه استراحت وئیلې شی.

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۳۸٦٦) (صحيح)
[2]) وههنا مسئلة اخري يناسب هذه المسئلة تقدمت ص ۲۳۳)

[۸۴۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، قَالَ: جَاءَنَا أَبُو سُلَيْمَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ إِلَى مَسْجِدِنَا، فَقَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأُصَلِّي بِكُمْ، وَمَا أُرِيدُ الصَّلَاةَ، وَلَكِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُرِيَكُمْ كَيْفَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي قِلَابَةَ: كَيْفَ صَلَّى؟ قَالَ: مِثْلَ صَلَاةِ شَيْخِنَا هَذَا، يَعْنِي عَمْرَو بْنَ سَلِمَةَ إِمَامَهُمْ، وَذَكَرَ أَنَّهُ كَانَ "إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الْآخِرَةِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى قَعَدَ، ثُمَّ قَامَ".

ترجمه: د ابو قلابة نه روايت دې هغه وئيلي دي: راغي مونږ ته ابو سليمان مالک بن الحويرث زمونږ دې مسجد ته، قسم په الله زه به مونځ کوم تاسو ته او زه اراده د مانځه نه لرم، لکن زه غوارم چې وښايم تاسو ته څنګه وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو، هغه وئيلي دي: ما ووئيل ابو قلابه ته: هغه څنګه مونځ کولو؟ هغه وئيلي دي: په شان د مونځ د شيخ زمونږ. يعنی عمرو بن سلمة چې د هغوی امام وو. او هغه ذکر کړو چې بيشکه هغه وو: چې کله به ئې سر اوچت کړو د اخرنۍ سجدې داول رکعات نه، لږ به کيناستلو، بيابه پاڅيدلو.

[۸۴۳]()حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، قَالَ: جَاءَنَا أَبُو سُلَيْمَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ إِلَى مَسْجِدِنَا، فَقَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأُصَلِّي، وَمَا أُرِيدُ الصَّلَاةَ، وَلَكِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُرِيَكُمْ كَيْفَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، قَالَ: "فَقَعَدَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى حِينَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الْآخِرَةِ".

ترجمه: د ابو قلابه نه روايت دې هغه وئيلي دي: راغي مونږ ابو سليمان مالک بن الحويرث زمونږ دې مسجد ته، هغه ووېل: بيشکه زه به خامخا مونځ کوم تاسو ته او زما اراده د مانځه نشته، لکن زه غوارم چې تاسو ته وښايم چه ما څنګه ليدلی وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو، هغه وئيلي دي: کيناستلو په اولنې رکعات کښې چې کله هغه پورته کړو خپل سر د دويمې سجدې نه.

[۸۴۴]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا".

ترجمه: د مالک بن الحويرث نه روايت دې، بيشکه هغه نبی ﷺ وليدلو چې کله به هغه د خپل مونځ د طاق په حصه کښې وو نه به پاڅيدلو تردې چې برابر به شو په ناسته.

د جلسه استراحت بحث

مسئله مختلف فيه ده، شوافع د جلسه استراحت قائل دی او احناف او مالکيان نه دی قائل. وعن احمد روايتان

قوله: ﴿ حدثنا مسدد الخ ﴾ په دې باب کښې مصنف د مالک بن الحويرث رضي الله عنه حديث ذکر کړې دې چه د هغې نه جلسه استراحت ثابتيږي، دا حديث په بخاری شريف کښې هم شته، او جمهور علماء کرام کوم چه د جلسه استراحت قائل نه دی د هغوی استدلال د وائل بن

[۱]: صحيح البخاري/الأذان ۱۲۷ (۸۰۲)، ۱۴۲ (۸۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۸۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۱۰۱ (۲۸۷)، سنن النسائي/الافتتاح ۱۸۱ (۱۱۵۲)، مسند احمد (۳/۴۳۶، ۵/۵۳) (صحيح)

[۲]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۸۵) (صحيح)

[۳]: انظر حديث رقم: ۸۴۲، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۸۳) (صحيح)

حجر او ابوهریره رضي الله عنه د هغه روایاتو نه دي چه په هغې کښې راځی ﴿ کان رسول الله صلی الله علیه وسلم ینهض فی الصلاة علی صدور قدمیه ﴾ امام احمد فرمائی چه د اکثر احادیثو نه هم دا معلومیږی، په زاد المعاد کښې حافظ ابن القیم رحمه الله هم دا خبره لیکلې ده چه د رسول الله ﷺ عادت مبارکه دا وو ﴿ انه کان ینهض علی صدور قدمیه ورکبتیه ﴾ او د اکثر صحابه کرامو روایات د جلسه استراحت نه خالي دي صرف د مالک بن الحویرث او د ابو حمید ساعدی د حدیث په بعض طرق کښې ددې جلسې ذکر دې، پس که دا د هغه دائمی معمول وې نو جمله واصفین صلاة د رسول الله ﷺ به دا بیان کړې وې، هم دغه شان جمهور وائی چه مونځ د استراحت دپاره موضوع نه دی، یو څیز بل هم دې هغه دا چه که جلسه فی حد ذاتها مقصود وې نو ددې حالت دپاره به یو ذکر هم مشروع وی، حال دا چه ددې حالت دپاره یو ذکر هم مشروع نه دی.

بَابُ الإِقْعَاءِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

باب دې په د کیناستلو کې په طریقه د اقعاء سره د دوه سجدو په مینځ کې

[٨٤٥]( )حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ طَاوُسًا، يَقُولُ: قُلْنَا لِابْنِ عَبَّاسٍ فِي "الْإِقْعَاءِ عَلَى الْقَدَمَيْنِ فِي السُّجُودِ، فَقَالَ: هِيَ السُّنَّةُ، قَالَ: قُلْنَا: إِنَّا لَنَرَاهُ جُفَاءً بِالرَّجُلِ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: هِيَ سُنَّةُ نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: ابو الزبیر د طاوس نه اوریدلی دي، هغه به وئیل: مونږ وویل ابن عباس ته په باره د کیناستلو کښې په خپو باندې په سجدو کښې، هغه وویل: دا سنت دی. هغه وایي: مونږ وویل: مونږ دا وینو د خپی جفاء، وویل ابن عباس: دا ستا د نبی ﷺ سنت دي.

تشریح: قوله: ﴿ قلنا لابن عباس: فی الاقعاء علی القدمین فی السجود فقال: هی السنة ﴾ د ابن عباس دا حدیث هم په صحیح مسلم کښې هم دې، او په دې باندې چه امام نووی رحمه الله کوم باب قائم کړې دی ﴿ جواز الاقعاء علی العقبین ﴾ په دې سلسله کښې روایات حدیثیه او فقهاء کرام کښې اختلاف دې، روایات دواړه قسم دي جواز او عدم جواز، پس مونږ سره دلته په باب من لم یر الجهر بسم الله الرحمن الرحیم د لاندې د عائشې رضي الله عنها حدیث مرفوع تیر شوې دې چه د هغې په اخیر کښې دې ﴿ وکان ینهی عن عقب الشیطان ﴾ زما په علم کښې امام بخاری په دې سلسله کښې یو باب یا صریح حدیث نه دې ذکر فرمائیلې، او امام ترمذی جدا جدا دوه بابونه کراهیت الاقعاء، دویم الرخصة فی الاقعاء قائم کړې دې، په دویم باب کښې ئې هم دا حدیث د ابن عباس ذکر فرمائیلې دې او په باب اول کښې د سیدنا علی رضي الله عنه حدیث مرفوع چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ لا تقع بین السجدتین ﴾ خو امام ترمذی ددې حدیث د ضعف طرف ته اشاره فرمائیلې ده او فرمائیلې ئې دی ﴿ واکثر اهل العلم یکرهون الاقعاء بین السجدتین ﴾، او د جواز قول هغه بعض اهل مکه طرف ته منسوب کړې دې.

( ): صحیح مسلم/المساجد ٦ (٥٣٦)، سنن الترمذي/الصلاة ٩٨ (٢٨٣)، (تحفة الأشراف: ٥٧٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٣/١) (صحیح)

امام نووي رحمه الله فرمائي چه د منع د رواياتو اسانيد تول ضعيف نه دي، او د رواياتو ددې تعارض په باره کښې هغه فرمائي چه اصل کښې د اقعاء دوه تفسيرونه کړې شوي دي يو دا چه اليتين (کوناټي) په زمکه باندې کيږدي او هم دغه شان دواړه لاسونه په زمکه باندې کيږدي او دواړه ساقين اودروي او دويم تفسير ئې دې ﴿ جلوس على العقبين بين السجدتين ﴾، يعنې په جلسه بين السجدتين کښې دواړه خپې اودروي او په پوندو باندې کيناستل، د منع روايات د قسم اول سره متعلق دي او د جواز روايات د قسم ثاني سره، پس امام شافعي رحمه الله ددې قسم ثاني د استحباب قائل دې خو بل قول د هغه کوم چه ددې نه هم زيات مشهور دې هغه دا دې چه طريق سنت افتراش دې او هم دا د جمهور علماء ثلاث مذهب دې، امام نووي رحمه الله فرمائي چه امام بيهقي او قاضي عياض هم جمع بين الروايتين داسې کړې ده، په الکوکب الدري کښې ليکلې دي چه قسم اول زمونږ په نزد مکروه تحريمي او قسم ثاني مکروه تنزيهي دې، صاحب الکوکب د حديث ابن عباس يو بل لطيف جواب دا ليکلې دې چه دا د﴿ خلده بالموت حتى يرضى بالحمى ﴾ د قبيل نه دې، يعنې ممکنه ده چه سائل په دې مسئله کښې متشدد وي او دې ته حرام وائي په دې وجه ابن عباس ددې په رد کښې دا فرمائيلي وي چه دا خو سنت دې.

قوله:﴿ انا لنراه جفاء بالرجل ﴾ لفظ رجل د جمهورو په نزد په فتح د راء او جيم سره دې د انثى مقابل او د ابن عبدالبر په نزد دا لفظ په کسرې د راء او سکون د جيم سره دې په معنى د قدم، ابن عبدالبر د جمهورو د ضبط ترديد کړې دې او جمهورو د هغه ترديد کړې دې، که د جمهورو قول واخستلې شي نو د جفاء نه مراد به جهالت وي چه داسې کول د انسان جهالت دې او که دويم قول واخستلې شي نو جفاء به په معنى د مشقت اخلو يعنې په داسې کيناستلو کښې قدمين ته مشقت لاحق کيږي.

باب مَا يَقُولُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ

باب دې په بيان د هغې کې چې وايې چې کله اوچت کړي سر خپل د رکوع نه

باب: يعنې د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت به څه وئيلې شي؟

د باب په ترتيب باندې اشکال او جواب

دلته دا سوال وارديږي چه مصنف د ترتيب خلاف ولې باب ترلې دې، اول ما يقول في الركوع پکار وو د هغې نه روستو به ئې دا باب راوړلې وې په ظاهره ددې وجه دا کيدې شي چه مصنف ته د رکوع او سجدې دواړو دعا يوځائې بيانول وو ځکه چه په حديث کښې دواړه يوځائې ذکر دي او سجده په ترتيب کښې چونکه د رکوع او قومې نه روستو ده په دې وجه مصنف د قومې دعا په هغې باندې مقدم کړې ده، گينې بيا به د قومې دعا ډيره موخر شوې وې. هذا ما خطر ببالي.

[۸٤٦]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ، وَوَكِيعٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، كُلُّهُمْ عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ الْحَسَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، يَقُولُ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَشُعْبَةُ بْنُ الْحَجَّاجِ، عَنْ عُبَيْدٍ أَبِي الْحَسَنِ، هَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ فِيهِ بَعْدَ الرُّكُوعِ، قَالَ سُفْيَانُ: لَقِينَا الشَّيْخَ عُبَيْدًا أَبَا الْحَسَنِ بَعْدُ فَلَمْ يَقُلْ فِيهِ بَعْدَ الرُّكُوعِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي عِصْمَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عُبَيْدٍ، قَالَ: بَعْدَ الرُّكُوعِ.

ترجمه: د عبيد بن الحسن نه روايت دې هغه وئيلى دى ما اوريدلى دى د عبد الله بن ابى اوفى نه، هغه وئيل: وو رسول الله ﷺ چې كله به ئې سر د ركوع نه اوچت كړو نو «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ، وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»

ترجمه: واوريده الله د هغه چا چې د هغه حمد ئې ووېله، اى الله تالره حمد دى په اندازه د ډكوالى د اسمانونو او په اندازه د ډكوالى د ځمكې، او په اندازه د ډكوالى د هغه څه چې ستا خوښه وى وروسته د دېنه. وئيلى دى ابوداود: وئيلى دى سفيان الثورى او شعبة بن الحجاج د عبيد ابى الحسن: دې حديث كښې بعد الركوع نشته دى، وئيلى دى سفيان: مونږ مخامخ شو د شيخ عبيد ابو الحسن سره وروسته هغه په هغې كښې ونه وېله: بَعْدَ الرُّكُوعِ لفظ. وئيلى دى ابوداود: او روايت كړى دى شعبة د ابى عصمة نه او هغه د اعمش نه او هغه د عبيد نه هغه وئيلى دي: بعدَ الركوع.

قوله:(اذا رفع راسه من الركوع يقول الخ) يعنى اې الله! مونږ ستا دومره حمد په ژبې سره ادا كوو چه د هغې نه زمكې او اسمان ډک شى او د زمكې او اسمان نه علاوه هم چه كوم ځيزونه دى لكه عرش او كرسى دا ټول په دې كلماتو سره ډک شى ددې نه مراد تكثير عدد دې ځكه چه كلام خو جسم او كيلى يا وزنى ځيز نه دې چه د هغې په ذريعه باندې اسمان او زمكه ډک شى يعنى كه كلمات حمد اجسام فرض كړې شى نو هغه به دومره كثير شى چه هغې سره به دا ټول ځيزونه ډک شى داسې خبره د ذوق او شوق او ولولې په وخت باندې كولې شى زمونږ په شان خلق خو داسې دعاګانې صرف د نقل په طور باندې لولى، د كوم ذوق او شوق چه دا مقتضى دى ددې نه مونږ خالى يو.

قوله:(قال ابو داود قال سفيان الثورى وشعبة بن الحجاج عن عبيد ابى الحسن) عبيد كوم چه په سند كښې د اعمش استاد دې د هغه كنيت ابو الحسن دې او دهغه د پلار نوم حسن دې بعض راويانو عن عبيد بن الحسن اوبعض عن عبيد بن ابى الحسن وئيلې دې، په دې صورت كښې به ابو الحسن بدل وى د عبيد نه، دا اختلاف صرف لفظى دې او دواړو طريقو سره ئې لوستل صحيح دى.

قوله:(قال سفيان لقينا الشيخ عبيدا) دا پورته دعا به رسول الله ﷺ كوم وخت لوستله نو د محل دعا تعيين د اعمش په روايت كښې موجود دې يعنى اذا رفع راسه من الركوع، سفيان

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ٤٠ (٤٧٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨ (٨٧٨)، (تحفة الأشراف: ٥١٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٣/٤، ٣٥٤، ٣٥٦، ٣٨١) (صحيح)

دا وائي چه دا حديث ماته عبيد نه اولا بالواسطه رارسيدلې وو په دې روايت كښې خو لفظ بعد الركوع موجود وو، خو روستو چه كله ما د عبيد نه براه راست واوريدو نو په هغې كښې بعد الركوع نشته.

[٨٤٧](١)حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ. ح وحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ بَكْرٍ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُصْعَبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، كُلُّهُمْ عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ عَطِيَّةَ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ قَزَعَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقُولُ حِينَ يَقُولُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاءِ، قَالَ مُؤَمَّلٌ: مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ". زَادَ مَحْمُودٌ: وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. وَقَالَ بِشْرٌ: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. لَمْ يَقُلْ: اللَّهُمَّ، لَمْ يَقُلْ مَحْمُودٌ: اللَّهُمَّ، قَالَ: رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دې بيشكه رسول الله ﷺ وو چې وئيل به ئې چې كله به ئې سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وويله نو وئيل به ئې اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاءِ (اى الله ته زمونږ ئې تالره حمد دې په اندازه د ډكوالى د اسمان) وئيلى دى مؤمل: مِلْءَ السَّمٰوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ..الخ، (په اندازه د ډكوالى د اسمان او زمكې، او په اندازه د ډكوالى د هغې چې ستا خوښ وى د څه شى نه وروسته د دېنه، اى اهل د ثناء او د لويى. ته ډېر حقدارېى د هغې چې بنده وئيلى دى او مونږ ټول ستا بندګان يو، نشته منع كونكى د هغې چې ته ئې وركوى) زيادت كړى دى محمود: او نشته دى وركونكى د هغې چې ته ئې منع كوى، بيا دوى اتفاق كړى دى.او نفع نشى وركولى خاوند د كوشش ته ستا په مقابل كښې كوشش د هغه. او وئيلى دى بشر: (رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ) هغه نه دى ويلي: (اللَّهُمَّ)، نه دى وئيلى محمود: (اللَّهُمَّ)، هغه وئيلى دى (رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ).

شرح حديث

تشريح: **قوله**:﴿ اهل الثناء والمجد ﴾ دا مرفوع هم لوستلې شى يعنى ﴿ انت اهل الثناء والمجد ﴾ او منصوب هم په تقدير د حرف نداء ﴿ يا اهل الثناء والمجد ﴾...

قوله:﴿ احق ما قال العبد ﴾ په دې كښې هم دوه احتمالات دى د مبتدا محذوف خبر دې يعنى ﴿ انت احق ما قال العبد ﴾ يعنى بنده چه ستا هر څنګه تعريف كوى ته واقعى د هغې لائق ئې، او د عبد نه مراد يا خو جنس دې يا رسول الله ﷺ او ﴿ كلنا لك عبد ﴾ دا جمله معترضه ده چه مونږ ټول ستا بندګان يو، دويم احتمال د عبارت په تركيب كښې دې چه ﴿احق ما قال العبد ﴾ مبتدا او ﴿ لا مانع لما اعطيت ﴾ الى اخره د دې خبر، په دې صورت كښې به مطلب دا وى چه د ټولو نه زيات رشتينې او پخه خبره ده ﴿ لا مانع لما اعطيت الخ ﴾ چه ستا نه سوا څوک هم وركړه كونكې نشته او چاته چه ئې ته وركړې نو هغې لره څوک هم

(١): صحيح مسلم/الصلاة ٤٠ (٤٧٧)، سنن النسائي/الافتتاح ١١٥ (١٠٦٩)، (تحفة الأشراف: ٤٢٨١)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨ (٨٧٧)، مسند احمد (٨٧/٣)، سنن الدارمي/الصلاة ٧١ (١٣٥٢) (صحيح)

منع کولو والا نشته او ﴿ لا ینفع ذا الجد منک الجد ﴾

د جد په تفسير کښې دوه اقوال:

۱: نيکه يعنى لوئې خاندان او نسب والا ته ستا په مقابله کښې د هغه خاندان هيڅ نفع نه شي ورکولې.

۲: غنا او دولت،دولت والا ته ستا په مقابله کښې دهغه دولت هيڅ فائده نه شي ورکولې.

د ابن ماجه شريف روايت دې ﴿ ذکرت الجدود عند رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ يعنى د رسول الله ﷺ په مجلس کښې يوه ورځ د مختلف خاندانونو او دولتونو ذکر راغلو نو په دې ئې اوفرمائيل ﴿ لا ينفع ذا الجد منک الجد ﴾ او وئيلې شوې دى چه دا لفظ د ﴿ جد ﴾ بکسر الجيم دې يعنى کوشش کونکى ته د هغه کوشش الخ.

قوله: ﴿ اللهم ربنا لک الحمد ﴾ په دې کښې درې روايتونه دى يو خو هم دا چه صرف ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ او دريم ﴿ ربنا ولک الحمد ﴾، امام احمد نه نقل دى چه ﴿ ربنا ﴾ سره ﴿ ولک الحمد ﴾ (واو سره) دې او د ﴿ اللهم ربنا ﴾ سره ﴿ لک الحمد ﴾ (بغير د واو نه دې) حافظ ابن القيم رحمه الله ددې په تائيد کښې فرمائى ځکه چه په هيڅ صحيح حديث کښې لفظ ﴿ اللهم ﴾ او واو سره نه دې راغلې، په دې باندې صاحب عون المعبود ليکى چه داسې نه ده بلکه د دوارو ترمينځه جمع راغلې ده کما فى صحيح البخارى فى باب صلاة القائد من حديث انس.

قوله: ﴿ ربنا ولک الحمد ﴾ کښې واو عاطفه دې د عبارت تقدير به داسې وى، ﴿ ربنا استجب ولک الحمد ﴾ يا ﴿ حمدناک ولک الحمد ﴾ او کيدې شى چه واو زائد وى.

[٨٤٨] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَالَ الْإِمَامُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ".

ترجمه: د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ ويلى دي: چې کله ووايى امام: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ، نو تاسو وايې: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، بيشکه د چا چې موافق شى وينا د هغه د وينا دملائکوسره، نووبه بخښل شى هغه ته هغه چې ده مخکې کړى وى د گناهونو نه.

په مسئله ثابته بالحديث کښې اختلاف

قوله: ﴿ حدثنا عبدالله بن مسلمة ﴾ په دې حديث کښې يوه اختلافى مسئله ده چه په هغې کښې درې مذاهب دى، د امام ابوحنيفه او مالک مذهب دا دې لکه چه ظاهر د حديث نه معلوميږى چه درکوع نه د پاسيدو په وخت د امام دپاره صرف تسميع (سمع الله لمن حمده) دې او د مقتدى دپاره صرف تحميد (٢) ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ دې دوارو امامانو هم ددې حديث

(١): صحيح البخاري/الأذان ١٢٤ (٧٩٥)، ١٢٥ (٧٩٦)، صحيح مسلم/الصلاة ١٨ (٤٠٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٨٦ (٢٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٦٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الافتتاح ١١٣ (١٠٦٤) سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨ (٨٧٦)، مسند احمد (٢/٢٣٦، ٢٧٠، ٣٠٠، ٣١٩، ٤٥٢، ٤٩٧، ٥٠٢، ٥٢٧، ٥٣٣) (صحيح)

(٢) که مصلى منفرد وى نو په دې صورت کښې ائمه ثلاثه د جمع بين الذکرين قائل دى او د احنافو په نزد دلته په دې کښې درې روايتونه دى. ....باقى په راروانه صفحه.....

نه استدلال کړې دې ځکه چه په دې حديث کښې تسميع او تحميد د امام او مقتدي ترمينځه تقسيم کړې دې، صاحب هدايه فرمائي ﴿ القسمة تنافي الشرکة ﴾ بل مذهب د امام شافعي دې د هغوی په نزد په دې دواړو کښې شرکت دې ﴿ کلاهما يکليهما ﴾ د هغه دليل د ابوهريره ﷺ هغه متفق عليه حديث دې چه په کوم کښې دی ﴿ ثم يقول: سمع الله لمن حمده حين يرفع صلبه من الرکعة ثم يقول وهو قائم ربنا لک الحمد ﴾ او دا حديث اګر چه صرف د امام په باره کښې دې ځکه چه هم هغه (ﷺ) به امام وو خو د رسول الله ﷺ ارشاد په يوه بله موقع باندې ﴿ صلوا کما رايتموني اصلي ﴾ سره د امام خصوصيت ختميږي. دريم مذهب د امام احمد او صاحبين دې، ﴿ للامام کلاهما والمقتدی احدهما ﴾ د امام دپاره جمع بين التحميد والتسميع او د مقتدی دپاره صرف تحميد، د هغوی دليل د مقتدی په حق کښې خو حديث الباب دې او د امام په حق کښې د ابوهريره ﷺ هغه حديث دې کوم چه امام بخاری ﷺ روايت کړې دې ﴿ کان النبی صلی الله عليه وسلم اذا قال سمع الله لمن حمده قال اللهم ربنا ولک الحمد ﴾

تنبيه : امام خطابی نه دلته د صاحبين په مذهب نقل کولو کښې خطا واقع شوې ده هغه د صاحبين مذهب د امام شافعی د مذهب موافق ليکلې دې حال دا چه دا سې نه ده.

قوله: ﴿ فانه من وافق قوله قول الملائکة ﴾

شرح حديث: (د موافقت نه څه مراد دې؟)

(**رومبی قول**) د راجح قول په بنياد د موافقت نه مراد موافقت فی القول والزمان دې، يعنی کوم سړي چه عين هغه وخت امين اوائی چه کوم وخت فرشتې امين وائی د هغه به تير ګناهونه معاف شی، د صحيحين د رواياتو نه معلوميږی چه د تامين امام په وخت په اسمان کښې ملائک هم امين وائی ﴿ وقالت الملائکة فی السماء امين ﴾ د بخاری په روايت کښې دی علماء کرامو ليکلې دی چه په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه مقتدی لره په مونځ کښې خوب بيدار او سيدل پکار دی، غفلت او سستی نه ده پکار د هر موقع دعا او ذکر عين دهغې په متعينه وخت کښې پکار دی.

(**دويم قول**) او دويم قول د موافقت په تفسير کښې دا دې کوم چه ابن حبان اختيار کړې دې ددې نه مراد موافقت فی الاخلاص والخشوع دې،

(**دريم قول**) مونږ د خپلو بعض مشائخو نه اوريدلې دی چه په دې کښې درې احتمالات دی.

۱: موافقة فی القول، ۲: موافقت فی الزمان، ۳: موافقت فی القول والزمان.

باقی پاتې د تيرمخ: ۱: صرف ربنالك الحمد، قال في المبسوط وهو الاصح،
۲: جمع بين الذکرين صاحب هدايه هم دې ته اصح وئيلې دې.
۳: صرف تسميع دې قاله ابوبکر الرازي (کذا في المنهل عن الزيلعي)

(آمین ویونکې فرښتې)

بیا په دې کښې هم اختلاف دې، ابن بزیزه وائي چه د ملائکو نه ټول ملائک مراد دي، او ونیلې شوې دی چه صرف حفاظت کونکی ملائک مراد دی، او وئیلې شوې دی چه ظاهره دا ده چه ددې نه هغه ملائک مراد دی کوم چه په دې مونځ شریک وی که هغه په اسمان باندې وی یا په زمکه باندې، په یو روایت موقوفه کښې دی ﴿ صفوف اهل الارض علی صفوف اهل السماء ﴾

فائده : ددې حدیث بعض طرق کښې د ﴿ ما تقدم من ذنبه ﴾ سره وما تاخر هم راغلې دې، حافظ دې ته شاذ ونیلې دی.

[۸۴۹]()حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطٌ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَامِرٍ، قَالَ: "لَا يَقُولُ الْقَوْمُ خَلْفَ الْإِمَامِ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، وَلَكِنْ يَقُولُونَ: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ".

ترجمه: د عامر نه روایت دې هغه ونیلی دي. نه دې وایی قوم وروسته د امام نه سمع الله لمن حمده، لکن وایی دی هغوی: ربنا لک الحمد.

بَابُ الدُّعَاءِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

باب دې په بیان د دعاء کښې په مینځ د دوه سجدو کښې

[۸۵۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْعُودٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا كَامِلٌ أَبُو الْعَلَاءِ، حَدَّثَنِي حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَعَافِنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي".

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې، بیشکه نبی ﷺ وو چې وئیل به ئې په مابین د دوه سجدو کښې: اې الله ماته بخښنه وکړې، په ما رحم وکړې، ماته عافیت راکړې، ماته هدایت وکړې او ماته رزق راکړې.

تشریح: **قوله**:﴿ یقول بین السجدتین ﴾ او د ترمذی کښې روایت کښې ﴿ واجبرنی ﴾ هم موجود دې، او د نسائی او ابن ماجه په یو بل روایت مرفوعه کښې داسې دی ﴿ کان یقول بین السجدتین : رب اغفرلی رب اغفرلی ﴾ او د ابن ماجه په روایت کښې د ﴿ فی صلاة اللیل ﴾ قید هم مذکور دې.

په دعاء بین السجدتین کښې مذاهب ائمه

پس د احنافو په نزد دا دعا په تطوع باندې محمول ده [۳] امام ترمذی رحمه الله فرمائی وبه یقول الشافعی، واحمد واسحاق یرون هذا جائزا فی المکتوبة والتطوع، او د امام احمد رحمه الله په نزد خو صرف جائز نه بلکه ښکه چه په مغنی کښې دی چه د هغه په مشهور قول کښې بین

---

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۵٦۸) (حسن)

[۲]: سنن الترمذي/الصلاة ۹۵ (۲۸٤، ۲۸۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲٤ (۸۹۸)، (تحفة الأشراف: ۵٤۷۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۵/۱، ۳۷۱) (حسن)

[۳]: خو که یو سړې دا په فرض مونځ کښې هم اولولی نو مکروه نه ده. کما في الكوكب الدري ۱۲)

السجدتین رب اغفرلی رب اغفرلی یو خل لوستل واجب دی (او دری کرته مستحب) او هم دا قول د اسحاق بن راهویه او داود ظاهری دی، او بل روایت د امام احمد نه د عدم وجوب او استحباب دی، ابن قدامه لیکی ﴿ وهو قول اکثر الفقهاء لان النبی صلی الله علیه وسلم لم یعمله المسیء فی صلاته ﴾ هم دغه شان مخکښې تیر شو چه د امام احمد په یو روایت کښې تکبیرات انتقال او تسبیحات په رکوع او سجود کښې هم واجب دی، او د امام مالک په مذهب کښې خو ډیره زیاته توسع ده لکه چه په اول باب ﴿ ما یستفتح به الصلاة من الدعاء ﴾ کښې د هغوی مذهب تیر شوی دی چه د هغوی په نزد هم د نفل قید نشته.

بَابُ رَفْعِ النِّسَاءِ إِذَا كُنَّ مَعَ الرِّجَالِ رُءُوسَهُنَّ مِنَ السَّجْدَةِ

باب دی په بیان دا وچتولو د ښځو کښې سرونو لره د سجدې نه کله چې د سړو سره وي

ددې باب د حدیث مطلب دا دی چه کومو زنانو به په مسجد کښې د جماعت سره مونځ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې کولو د هغوی په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه هغوی له پکار دی چه هغه د سجدې نه لږ روستو سر اوچت کړی په هغې کښې دې تندی نه کوی داسې نه وی چه د سړو صف کوم چه مخامخ دې د هغوی په ستر باندې د زنانو نظر پریوځی.

[۸۵۱]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَنْبَأَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ أَخِي الزُّهْرِيِّ، عَنْ مَوْلًى لِأَسْمَاءَ ابْنَةِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ كَانَ مِنْكُنَّ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا تَرْفَعْ رَأْسَهَا حَتَّى يَرْفَعَ الرِّجَالُ رُءُوسَهُمْ كَرَاهَةَ أَنْ يَرَيْنَ مِنْ عَوْرَاتِ الرِّجَالِ".

ترجمه: د اسماء بنت ابی بکر نه روایت دی، هغې وئیلی دی ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغه وئیل: څوک چې په تاسو کښې په الله او د قیامت په ورځ ایمان لری نو نه دې اوچتوی سر خپل تردې چې اوچت کړی سړی سرونه خپل، د وجې د کراهیت نه چې وویني دوی عورتونه د سړو.

بَابُ طُولِ الْقِيَامِ مِنَ الرُّكُوعِ وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

باب دی په بیان د ډیر وږدیدو کښې د رکوع نه او په مابین د دوه سجدو کښې

د ترجمة الباب تشریح

لفظ ﴿ من الرکوع القیام ﴾ سره متعلق دی نه په طول سره یعنی قیام من الرکوع اوږدیدل او هم دغه شان جلسه بین السجدتین طویل کیدل، او که من الرکوع لره د طول سره متعلق کړی نو مطلب به غلط شی یعنی د قیام د رکوع نه طویل کیدل، حال دا چه دا مراد نه دی بلکه مراد دا دی چه قیام من الرکوع یعنی قومه اوږدیدل.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۳۴۸، ۳۴۹) (صحیح)

[۸۵۲]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ سُجُودُهُ، وَرُكُوعُهُ، وَقُعُودُهُ، وَمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ".

ترجمه: د براء ﷛ نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ وه سجده او رکوع او کيناستل د هغوی په مابين د دوه سجدوکې، (دا ټول) تقريبا برابر وو.

اختلاف نسخ او نسخه صحيحه تحقيق او تنقيح

قوله:﴿ وما بين السجدتين قريبا من السواء ﴾ بذل المجهود کښې ليکلی چه د ابوداود په اکثر نسخو کښې هم دغه شان دې ﴿ وما بين السجدتين ﴾ او په بعض نسخو کښې ﴿ما بين السجدين﴾ بغير د واو نه دې هم دا صحيح ده، او د اکثر کتب حديث د روايت مطابق دې، او په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه د رسول الله ﷺ سجده او رکوع او جلسه بين السجدتين به تقريبا برابر وو.

خو په دې نسخه باندې اشکال دې هغه دا چه ددې يو مطلب خو دا دې چه د قعده او جلسه بين السجدتين مقدار برابر وو او اول خو داسې په يو روايت کښې شته نه. دويم دا چه د بخاری په يو روايت کښې ﴿ ما خلا القيام والقعود ﴾ روايت شوې دې چه د هغې نه معلوميږی چه صرف رکوع او سجود او ما بين السجود مساوات بيانولې شی، د قعود نه مستثنی دې او هم دغه شان قيام هم، هم په دې وجه مونږ وئيلې دی چه دويمه نسخه صحيح ده، حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه ددې عبارت اصلاح يا خو په داسې طريقه کيدې شی چه دلته په روايت کښې لفظ قعود نه وی او کلام داسې وی ﴿ کان سجوده ورکوعه وما بين السجدتين ﴾، او يوه توجيه ئې دا ليکلې ده چه د قعود نه مراد د تشهد والا قعود مراد نه کړې شی، بلکه ددې نه جلسه بين ا لتسليم والانصراف مراد واخستلې شی چه د هغې ذکر په بعض رواياتو کښې راځی، پس ددې متعلق په ابوداود کښې ابواب سجود السهو نه لږ وړاندې يو مستقل باب راروان دې، باب انصراف النساء قبل الرجال من الصلاة. په دې صورت کښې به دا روايت د بخاری د روايت ﴿ ما خلا القيام والقعود ﴾ خلاف نه وی، او د حضرت گنگوهی په تقرير کښې ددې توجيه دا فرمائيلې شوې ده چه د قعود نه مراد د اول تشهد قعود دې او د پوره حديث مطلب به دا وی چه د رسول الله ﷺ سجود او رکوع او قعده اولی او جلسه بين السجدتين دا څلور واړه متقارب وو، نو گويا د حضرت گنگوهی په نزد د بخاری په روايت کښې چه د کوم قعود استثناء ده د هغې نه مراد قعده اخيره ده، لهذا په دې صورت کښې به هم تعارض نه پيدا کيږی. دا ټول بحث په بذل المجهود کښې حضرت ډير په تفصيل سره ليکلې دې چه د هغې تسهيل مونږ دلته په خپلو الفاظو کښې کړې دې.

قوله:﴿ قريبا من السواء ﴾ ددې په مفهوم کښې دوه بلکه درې اقوال دی:

---

[1] : صحيح البخاري/الأذان ۱۲۱ (۷۹۲)، ۱۲۷ (۸۰۱)، ۱۴۰ (۸۲۰)، صحيح مسلم/الصلاة ۳۸ (۴۷۱)، سنن الترمذي/الصلاة ۹۲ (۲۷۹)، سنن النسائي/الافتتاح ۱۱۴ (۱۰۶۶)، ۴۹ (۱۱۴۹)، والسهو ۷۷ (۱۳۳۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۰/۴، ۲۸۵، ۲۸۸، سنن الدارمي/الصلاة ۸۰ (۱۳۷۲) (صحيح)

١. مساواة احدهما للاخر يعنى ركوع او سجود هم دغه شان قومه (كومه چه په بعض رواياتو كښې ده) او جلسه بين السجدتين ددې ټولو مقدار به خپل مينځ كښې تقريبا برابر وو.
٢ مساواة الجنس للجنس يعنى خپل مينځ كښې برابرى مراد نه ده بلكه د ركوع مساوات ركوع سره او د سجدې مساوات د سجدې سره مراد دې.
٣: المراد اثبات التناسب والتوازن بين الكل. يعنى د مونځ په اركانو كښې به تناسب او توازن وو مساوات مراد نه دې، مثلا كه قيام طويل دې نو هم ددې مناسب ركوع او سجود هم طويل وى، او كه قيام قصير وى نو ركوع او سجود به هم مختصر، خو د دويمې معنى په مراد اخستلو كښې اشكال دې څكه چه د ډيرو رواياتو نه ثابت ده، د ركعت اولى د قيام طويل كيدل د ركعت ثانيه د قيام نه، كذا قال السندى فى حاشية النسائى (ص ١٩٦) هغه وائى لهذا ظاهر معنى اول ده، زه وايم چه د معنى اول تائيد د بعض رواياتو نه كيږى پس وړاندې په باب ما يقول الرجل فى ركوعه وسجوده په اخرى حديث كښې داسې راغلې دى ﴿فكان قيامه نحوا من ركوعه فكان سجوده نحوا من قيامه وكان يقعد فيما بين السجدتين نحوا من سجوده﴾ خو په دې روايت باندې اشكال دا دې چه د بخارى په روايت كښې (چه د هغې حواله هم تيره شوه) ما خلا القيام والقعود ذكر شوې دې چه د هغې نه معلوميږى چه ركوع او سجود وغيره خو خپل مينځ كښې برابر وى خو قيام د ركوع او سجود سره برابر نه وو، فتامل. ([1])

تنبيه: ددې باب په اول حديث كښې چه په كوم باندې كلام شروع دې د ترجمة الباب جزء ثانى مذكوردې، يعنى جلسه بين السجدتين اوږديدل، او د ترجمې جزء اول يعنى قومه دراز كيدل هغه په دې حديث كښې نشته البته د باب په بل حديث كښې راروان دې.

[٨٥٣]([2])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، وَحُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "مَا صَلَّيْتُ خَلْفَ رَجُلٍ أَوْجَزَ صَلَاةً مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تَمَامٍ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، قَامَ حَتَّى نَقُولَ: قَدْ أَوْهَمَ، ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَسْجُدُ، وَكَانَ يَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى نَقُولَ: قَدْ أَوْهَمَ".

ترجمه: انس بن مالک ﷛ وئيلى دى هغه وئيلى دې: ما مونځ نه دى كړى وروسته د يو سړى نه چې مختصر په مانځه كښې د رسول الله ﷺ نه سره د پوره والى نه، او وو رسول الله ﷺ چې كله به ئې وويل: سمع الله لمن حمده، نو وبه دريدلو تردې چې مونږ به وويل بيشكه هغه ته هيره وشوه، بيا به ئې تكبير ويلو او سجده به ئې كوله. او وو چې كيناستلو به په مابين د دوه سجدو كښې تردې چې مونږ به وئيل: بيشكه هغه ته هيره وشوه.

تشريح: **قوله**:﴿ ما صليت خلف رجل اوجز صلاة الخ ﴾ سيدنا انس ﷛ فرمائى چه ما په يو امام پسې هم شاته مونځ نه دې كړې كوم چه د مختصر كيدو سره سره كامل او تام وى د رسول

[1]) ددې جواب دا كيدې شى چه دا اختلاف په اختلاف اوقات وزمان باندې محمول كړې شى، يوځاني كښې هم دوام او استمرار مراد نه كړې شى. ١٢ منه)
[2]): صحيح مسلم/الصلاة ٣٧ (٤٧٣)، (تحفة الأشراف: ٣٢٢، ٦٢١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ٦٤ (٧٠٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٤٨ (٩٨٥)، مسند احمد (٣/٢٠٣، ٢٤٧)، سنن الدارمي/ الصلاة ٤٦ (١٢٩٥) (صحيح)

اللهﷺ په مقابله کښې، يعني د رسول اللهﷺ مونځ به سره د اختصار د رعايت نه کامل او مکمل وو، چه د هغې صورت دا دې چه د قيام مقدار کم وی او رکوع او سجود په اطميان سره وی.

قوله:﴿ وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قال: سمع الله لمن حمده قام حتى نقول : قد اوهم﴾ يعني رسول اللهﷺ به بعض وخت په مونځ کښې قومه دومره اوږده کړه چه مونږ به دا سوچ کولو چه هغه رکوع او قومه ترک کړه يعني دوباره د قيام طرف ته واپس شو ځکه چه قومه دومره اوږده نه وی دا مطلب په هغه صورت کښې دې چه کله ﴿ اوهم ﴾ بصيغه معروف بروزن اکرم اولوستلې شی او که دا په صيغه مجهول ﴿ اوهم ﴾ وی نو په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه په وهم کښې واقع کيدل، يعني مونږ به سوچ کولو چه رسول اللهﷺ ته څه وهم يا سهو خو نه ده پيدا شوې.

قوله:﴿ وكان يقعد بين السجدتين الخ ﴾ د حديث د اول جزء نه تطويل قومه او د دويم جزء نه د جلسه بين السجدتين تطويل ثابتيږی.

قومه او جلسه بين السجدتين رکن قصير دی يا رکن طويل

اوس دلته دا څيز قابل تحقيق دې چه د قومې او جلسې تطويل مستحب دې يا نه، جمهور علماء کرام ددې قائل نه دی، د جمهورو په نزد اعتدال يعني قومه او هم دغه شان جلسه بين السجدتين هر يو رکن قصير دې د هغې تطويل جائز نه دې، البته امام احمد او ظاهريه ددې قائل دی د هغوی په نزد د قومې او جلسې تطويل مستحب دې لکه چه ابن قدامه په مغنی کښې ددې تفصيل بيان کړې دې او د مصنف تبويب هم دې طرف ته اشاره کوی، زمونږ د حضرت شيخ په نزد خو مصنف حنبلی دې، په کتب شافعيه کښې خو ئې ليکلې دی چه ددې دواړو تطويل مفسد صلاة دې.

جمهور وائی چه د قومې او جلسې تطويل د مشهور روايتونو نه ثابت نه دې صرف ددې حديث انسؓ نه ثابت دې په دې وجه دا شاذ دې، او دا هم وئيلې شوی دی چه کيدې شی دا تطويل د امر بالتخفيف نه مخکښې وی خو ددې باوجود بعض فقهاء شافعيه ومالکيه لکه امام نووی او ابن دقيق العيد ددې د جواز قائل دی ځکه چه ددې ثبوت اگر چه په شهرت سره خو نه دې خو بهرحال د بعض رواياتو نه ثابت خو دې.

[٨٥٤]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ وَأَبُو كَامِلٍ، دخل حديث أحدهما في الآخر، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي حُمَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: رَمَقْتُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ أَبُو كَامِلٍ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ فَوَجَدْتُ "قِيَامَهُ كَرَكْعَتِهِ، وَسَجْدَتِهِ، وَاعْتِدَالَهُ فِي الرَّكْعَةِ كَسَجْدَتِهِ، وَجِلْسَتَهُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ، وَسَجْدَتَهُ مَا بَيْنَ التَّسْلِيمِ وَالِانْصِرَافِ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ مُسَدَّدٌ: "فَرَكْعَتَهُ وَاعْتِدَالَهُ بَيْنَ الرَّكْعَتَيْنِ، فَسَجْدَتَهُ فَجِلْسَتَهُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ، فَسَجْدَتَهُ فَجِلْسَتَهُ بَيْنَ التَّسْلِيمِ وَالِانْصِرَافِ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ.

[1]: انظر حديث رقم: ٨٥٢ (تحفة الأشراف: ١٧٨١) (صحيح)

ترجمه: د براء بن عازب نه روايت دې هغه وئيلي دي: ما وکتل مونځ د محمد ﷺ ته. وئيلي دی ابو کامل: رسول الله ﷺ. په مانځه کښې، نو ما وموندلو قيام د هغه پشان د رکوع او د سجدې د هغه، او ما بياموندله قومه د هغه په رکوع کښې پشان د سجدې د هغه، او جلسه د هغه په مابين د دوه سجدو کښې او سجده د هغه مابين دسلام او انصراف کښې دا تقريبًا يو برابر وو. ابوداود وئيلي دی چه مسدد بيان کوی چه د حضور ﷺ رکوع او په دواړو رکعتونو کښې دهغوی ﷺ اعتدال او دغسې د حضور ﷺ سجده او د دواړو سجدو په مينځ کښې جلسه او بيا دويمه سجده، بيا د حضور ﷺ جلسه اود سلام نه پس دخلقو په طرف راګرځيدو پورې به دا ټول تقريبا برابر وو، يعنی حضور ﷺ به ټول ارکان په اعتدال او اطمينان سره ادا کول.

(تشريح الحديث)

قوله: ﴿ فوجدت قيامه كركعته وسجدته ﴾ يعنی د رسول الله ﷺ د قيام او رکوع او سجود مقدار يو شان وو، ﴿ واعتداله [1] في الركعة كسجدته ﴾ د ﴿ في الركعة ﴾ نه مراد بعد الركوع دی لهذا يعني اوموندله ما قومه د رکوع نه روستو د سجدې برابر ﴿ وجلسته بين السجدتين وسجدته [2] ما بين التسليم والانصراف ﴾ يعنی اوموندله ما د هغه جلسه بين السجدتين لره او سجده بين التسليم والانصراف لره بالکل برابر.

ځان پوهه کړه چه ددې حديث په سند کښې د مصنف دوه استاذان دی چه د مصنف په سند کښې دوه استاذان دی يو مسدد او بل ابو کامل دا پورته الفاظ د ابو کامل دی او د مسدد الفاظ اګر چه مصنف وړاندې بيانوی، خو د ابو کامل د روايت په الفاظو کښې ګډوډ والې دې، صحيح الفاظ هم هغه دی کوم چه د مسدد په روايت کښې راروان دی.

د مسدد د روايت مضمون دا دې چه د رسول الله ﷺ د قيام او رکوع او سجده اولی او بيا د جلسه بين السجدتين او بيا د سجده ثانيه او بيا د جلسه بين التسليم والانصراف دا ټول ما تقريبا برابر موندلې دی، د مسدد په روايت کښې ټول الفاظ رايوځائې کيدو سره يوه جمله شوه په خلاف د ابو کامل د روايت چه کوم الفاظ دی هغه جدا جدا مستقل درې جملې دی، ددې روايت نه معلوميږی چه د قيام مقدار ئې د رکوع او سجود برابر وو په خلاف د مسدد د روايت چه په هغې کښې داسې نه ده، هغه خو د مجموعه په باره کښې داسې وائی چه دا به تقريبا برابر وو، او د برابر کيدو به هم هغه درې مطلبونه وی کوم چه مخکښې تير شو په خلاف د ابو کامل د روايت چه په هغې کښې يوه معنی متعين ده.

تنبيه : دا د ابو کامل او د مسدد د رواياتو اختلاف د ابوداود په اعتبار سره دې ګينې په صحيح مسلم کښې د دواړو په الفاظ او سياق کښې هيڅ اختلاف نشته، څنګه چه د مسدد

[1] ددې عطف په قيامه باندې دې.
[2] په دې روايت کښې دا لفظ غلط دې ددې په ځائې ﴿ وجلسته ﴾ پکار دی لکه چه وړاندې د مسدد په روايت کښې راځی، الغرض د ابو کامل په روايت کښې تحريف واقع شوې دې او صحيح د مسدد روايت دې کوم چه د نورو باقی روايات حديثيه موافق دې.

د روایت الفاظ دی هم هغه شان د ابو کامل د روایت الفاظ هم دی، پس کیدی شی چه مصنف ته دا روایت داسې رارسیدلې وی او امام مسلم ته هغه شان، او دا هم ممکنه ده چه ابو کامل روستو د خپلو الفاظو اصلاح کړې وی یا اول هغه صحیح روایت کولو او روستو
31 ترې نه خلط شوې وی. والله تعالی اعلم

بَابُ صَلَاةِ مَنْ لَا يُقِيمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

باب دې په بیان د هغه چې کې چې نه برابروي خپله شا په رکوع او سجده کې

یعنی کوم سړې چه په رکوع او سجود کښې خپله ملا د زیات وخته پورې نه ښکته کوی بلکه زر سر اوچت کړی یا دا چه په رکوع کښې ملا برابر او نیغه نه کړی، بهر صورت مراد ترې ترک تعدیل او ترک طمانیت دې، مسئله مختلف فیه ده.

په تعدیل ارکان کښې مذاهب ائمه

مشهوره دا ده چه تعدیل ارکان یعنی رکوع او سجود په اطمینان سره ادا کول، د جمهور علماء ائمه ثلاث او د داود ظاهری او امام ابویوسف په نزد فرض دې بغیر ددې نه رکوع او سجود صحیح نه دی، او د طرفین په نزد د مشهور قول په بناء واجب دی او ونیلې شوې دی چه سنت دی، خو دا قول غیر اصح دې البته په جلسه بین السجدتین او قومه او په دې کښې طمانیت د طرفین په نزد سنت دې واجب نه دې. (زیلعی عن الکنز) علامه سندهی د نسائی په حاشیه (۱۵۸) کښې لیکی چه مشهوره خو هم دا ده چه د طرفین په نزد تعدیل ارکان فرض نه دې خو امام طحاوی په شرح معانی الاثار کښې تصریح کړې ده ددې خبرې چه د ابوحنیفه او صاحبین مذهب په رکوع او سجده کښې افتراض طمانیت دې او هم دغه شان علامه شامی [1] هم د امام طحاوی رحمه الله نه د احنافو مذهب د فرضیت تعدیل نقل کړې دې.

په تعدیل او طمانیت کښې فرق

اوس دا چه د تعدیل او طمانیت نه څه مراد دې، جواب دا دې چه دې طرف ته اشاره خپله په حدیث کښې موجود ده، ﴿ثم یرکع حتی تطمئن مفاصله، ثم یسجد حتی تطمئن مفاصله﴾ او هم دا خبره فقهاء کرامو لیکلې ده، او ددې زیاته تشریح هغوی دا کړې ده ﴿ویستقر کل عضو فی محله بقدر تسبیحة﴾ او په مغنی کښې ددې تفسیر دا کړې شوې دې ﴿ان یمکث اذا بلغ حد الرکوع قلیلا﴾ طرفین فرمائی چه نفس رکن، لکه د رکوع او سجدې ادا کول خو فرض دی او اکمال رکن لره علی وجه الکمال ادا کول واجب دی، والطمانیة من قبیل الثانی لا الاول.

[1] په در مختار کښې دی : وتعدیل الارکان اي تسکین الجوارح قدر تسبیحة في الرکوع والسجود وکذا في الرفع منهما علي ما اختاره الکمال.. علامه شامی لیکی چه قومه او جلسه بین السجدتین او ددې دواړو تعدیل کښې مشهور فی المذهب دا ده چه سنت دې او بل روایت ئې د وجوب دې، وهو الموافق للادلة (وعلیه الکمال ابن الهمام) وقال ابویوسف بفرضیة الکل واختاره في المجمع ورواه الطحاوي عن ائمتنا الثلاثة وهو مذهب مالك والشافعي واحمد. ۱۲ منه)

د جمهور علماء کرامو استدلال او د احنافو د طرف نه جواب

او د جمهورو استدلال د حديث المسئ فى الصلاة نه دې چه په هغې کښې د تعديل ارکان د فوت کيدو د وجې نه په صلاة باندې د عدم صلاة اطلاق کړې شوې دې ﴿ صل فانک لم تصل﴾ او احناف دا وائی چه خپله دا حديث او قصه په عدم فرضيت تعديل باندې دلالت کوی څکه چه په دې کښې رسول الله ﷺ فرمائی ﴿ وما انقصت من هذا شيئا فانما انقصته من صلاتک ﴾ د دې نه معلوميږي چه په ترک تعديل سره په مانځه کښې نقصان پيدا کيږي. (١) او هغه مونځ ناقص دې نه فاسد او باطل او هم دا خبره طرفين کوی، او يوه بله وجه هم ده هغه دا چه د مونځ د فاسد کيدو نه پس که هغه په هر څه وجې سره فاسد شوی وی ﴿ مضى فى الصلاة ﴾ يعنى مونځ کول حرام او ناجائز دی او ظاهره ده چه په ترک د فرض سره مونځ فاسد کيږي، نو هر کله چه دې شخص مذکور په اول رکعت کښې تعديل ارکان ترک کړو نو د هغه مونځ فاسد شو ستاسو په نزد او هغه د رسول الله ﷺ په مخکښې هم هغه شان ادا کولو، دا څنګه کيدې شي؟

[٨٥٥](٢)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُجْزِءُ صَلَاةُ الرَّجُلِ حَتَّى يُقِيمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدرى رضی الله عنه نه روايت دې هغه وئيلى دی چې وئيلى دی رسول الله ﷺ: نه روا کيږي مونځ د سړی تردې چې برابره کړی شا خپله په رکوع او سجده کښې.

[٨٥٦](٣)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا أَنَسٌ يَعْنِي ابْنَ عِيَاضٍ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَدَّ رَسُولُ

---

(١) پس د ترمذی په روايت کښې دی چه کله رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل ﴿ صل فانك لم تصل فخاف الناس وكبر عليهم ان يكون من اخف صلاته لم يصل ﴾ يعنى په صحابه کرامو باندې دا خبره ډيره ګرانه پريوتله چه څوک تعديل ارکان نه کوی د هغه مونځ نه کيږي، بيا هم ددې روايت په اخر کښې دی چه کله رسول الله ﷺ هغه صحابى ته اوفرمائيل ﴿ وان انتقصت منه شيئا انتقصت من صلاتك ﴾ نو په دې باندې راوی وائی ﴿ قال وكان هذا اهون عليهم من الاول انه من انتقص الخ ﴾ يعنى کله چه صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه نور الفاظ واوريدل چه په هغې کښې د نقصان صلاة ذکر دې نو د هغوی بوجه سپک شو څکه چه ددې الفاظو نه معلومه شوه چه د هغه مونځ صرف ناقص شو فاسد شوې نه دې، دا ټول مضمون په ترمذی ص ٤٠ کښې د حديث په متن کښې موجود دې، اوګورئ احناف هم هغه خبره کړې ده کومه چه صحابه کرامو فهم کړې ده. والله تعالى اعلم بالصواب،

(٢): سنن الترمذي/الصلاة ٨٤(٢٦٥)، سنن النسائي/الافتتاح ٨٨(١٠٢٨) والتطبيق ١٤٤ (١١١٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٦ (٨٧٠)، (تحفة الأشراف: ٩٩٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٩/٤، ١٢٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٧٨ (١٣٦٠) (صحيح)

(٣): صحيح البخاري/الأذان ٩٥ (٧٥٧)، ١٢٢ (٧٩٣)، والأيمان والنذور ١٥ (٦٢٥١)، صحيح مسلم/الصلاة ١١ (٣٩٧)، سنن الترمذي/الصلاة ١١٤ (٣٠٢)، سنن النسائي/الافتتاح ٧ (٨٨٥)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧٢ (١٠٦٠)، (تحفة الأشراف: ١٢٩٨٣، ١٤٣٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣٧/٢) (صحيح)

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ السَّلَامَ، وَقَالَ: ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ، فَرَجَعَ الرَّجُلُ فَصَلَّى كَمَا كَانَ صَلَّى، ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ، ثُمَّ قَالَ: ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ، حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مِرَارٍ، فَقَالَ الرَّجُلُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، مَا أُحْسِنُ غَيْرَ هَذَا فَعَلِّمْنِي، قَالَ: "إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ اجْلِسْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا". قَالَ الْقَعْنَبِيُّ: عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَالَ فِي آخِرِهِ: "فَإِذَا فَعَلْتَ هَذَا، فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُكَ وَمَا انْتَقَصْتَ مِنْ هَذَا شَيْئًا، فَإِنَّمَا انْتَقَصْتَهُ مِنْ صَلَاتِكَ، وَقَالَ فِيهِ: إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ".

ترجمه: د ابوهريره ﷺ نه روايت دې بيشكه رسول الله ﷺ داخل شو مسجد ته، نو داخل شو يو سړى مونځ ئې وكړو بيا راغلو سلام ئې وكړو رسول الله ﷺ ته، نو جواب وركړو پيغمبر ﷺ د هغه د سلام، او ويې وئيل: واپس شه مونځ وكړه بيشكه تا مونځ ن ه دى كړى. نو واپس شو سړى، نو مونځ ئې وكړو لكه څنګه ئې چې مونځ كړى وو، بيا راغلو نبى ﷺ ته او سلام ئې وكړو هغه ته، نو هغه ته رسول الله ﷺ وويل: (وعليك السلام) بيا ئې وفرمائيل: لاړ شه مونځ وكړه يقينًا تا مونځ نه دى كړى. تردې چې دا كاريې درې ځله وكړو، نو ووئيله سړي: قسم په هغه ذات چې ته ئې رالېږلى په حق باندې، ماته ياد نه دى غير د دېنه ماته ئې راوښايه، هغه ووېل: كله چې ته پاځېږې مانځه ته نو تكبير وكړه بيا ولوله هغه چې تاته اسان وى د قرآن نه، بيا ركوع وكړه تردې چې ته مطمئن شې په ركوع كښې، بيا اوچت شه تردې چې معتدل شى په ولاړه، بيا سجده وكړه تردې چې ته مطمئن شى په سجده كښې، بيا كېنه تردې چې ته مطمئن شى په ناسته، بيا داسې په ټول مونځ كښې كوه. وئيلى دى قعنبى د سعيد بن ابى سعيد المقبرى نه او هغه د ابو هريره نه، هغه وئيلى دى په اخير د هغې كې: كله چې ته دا وكړل نو ستا مونځ پوره شو، او هغه چې د كم كړل د دېنه بيشكه تا كم كړل هغې لره د مانځه ستانه. او هغه وئيلى دى په هغې كښې: كله چې ته مانځه ته ودرېږې نو پوره وكړه اودس.

تشريح: قوله:﴿ عن ابى هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم دخل المسجد فدخل رجل فصلى ثم جاء فسلم الخ ﴾ دا هم هغه حديث المسئ فى الصلاة دې، كوم چه مصنف د ابوهريره او رفاعه بن رافع په روايت سره په ډيرو طرق باندې ذكر كړې دې، د رفاعه بن رافع روايت وړاندې په كتاب كښې راروان دې.

د رجل تعيين:

د دې قصې راوى خو رفاعه بن رافع دې او صاحب قصه يعنى مسى فى الصلاة د هغه رور خلاد بن رافع دې په دې حديث كښې خو د هغه نه په رجل سره تعبير كړې شوې دې، د نوم تصريح ئې د مسند احمد او ابن ابى شيبه په روايت كښې ده (كما فى البذل)

اشكال: دلته دا هم په شرح كښې ليكلې شوې دى چه د خلاد بن رافع په باره كښې دا راځى چه هغه په جنګ بدر كښې شهيد شوې وو نو بيا به په دې باندې دا اشكال وى چه ابوهريره ﷺ دا څنګه روايت كوى او حال دا چه د هغه اسلام قبلول ډير روستو په ۷ هجرى

کېنې شوې دی.

جواب: د دې جواب به دا وی چه د ابوهریره ﷜ روایت مرسل د صحابی دې هغه به دا قصه د یو قدم الاسلام صحابی نه اوریدلې وی، بیا په وخت د روایت هغه واسطه حذف کړلو سره حدیث مرسلا روایت کړې دې، هم دغه شان اشکال نور هم په ډیرو ځایونو کېنې پیښ شوې دې هلته هم دا جواب ورکړې شوې دې، هم په دې وجه محدثین لیکی چه د ابوهریره ﷜ عادت د ارسال وو.

[۸۵۷]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَحْيَى بْنِ خَلَّادٍ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ فِيهِ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهُ لَا تَتِمُّ صَلَاةٌ لِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ حَتَّى يَتَوَضَّأَ فَيَضَعَ الْوُضُوءَ يَعْنِي مَوَاضِعَهُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ اللَّهَ جَلَّ وَعَزَّ وَيُثْنِي عَلَيْهِ وَيَقْرَأُ بِمَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَرْكَعُ حَتَّى تَطْمَئِنَّ مَفَاصِلُهُ، ثُمَّ يَقُولُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَائِمًا، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَسْجُدُ حَتَّى تَطْمَئِنَّ مَفَاصِلُهُ، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ وَيَرْفَعُ رَأْسَهُ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَسْجُدُ حَتَّى تَطْمَئِنَّ مَفَاصِلُهُ، ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَيُكَبِّرُ، فَإِذَا فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ".

ترجمه: د علی بن یحیی بن خلاد نه روایت دې هغه روایت کوی د خپل تره نه، بیشکه یو سړی داخل شو مسجد ته، ذکر ئې کړو پشان د هغه هغه ویل پکې: وویل نبی ﷺ بیشکه نه پوره کیږی مونځ د هېچا د خلقو نه تردې چې اودس وکړي، پوره وکړی اودس ـ یعنی ځایونه د اودس. بیا تکبیر ووایی او د الله حمد ووایي، او ثناء ووایی په هغه، او ولولی هغه چې اسان وی د قرآن نه، بیا ووایي: الله اکبر، بیا رکوع وکړی تردې چې په آرام شي جوړونه د هغه، بیا ووایي: سمع الله لمن حمده تردې چې برابر شی په ولاړه، بیا ووایي: الله اکبر، بیا سجده وکړی تردې چې مطمئن شی جوړونه د هغه، بیا ووایی الله اکبر، او اوچت کړی سر خپل تردې چې ښه برابر شی په ناسته، بیا ووایی الله اکبر، بیا سجده وکړی تردې چې په ارام شی جوړونه د هغه، بیا اوچت کړی سر خپل او تکبیر وکړي، کله چې دغه وکړی نو مونځ ئې اوشو.

[۸۵۸]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، وَالْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَحْيَى بْنِ خَلَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمِّهِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهَا لَا تَتِمُّ صَلَاةُ أَحَدِكُمْ حَتَّى يُسْبِغَ الْوُضُوءَ كَمَا أَمَرَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَيَغْسِلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، وَيَمْسَحَ بِرَأْسِهِ وَرِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، ثُمَّ يُكَبِّرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَيَحْمَدُهُ، ثُمَّ يَقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا أُذِنَ لَهُ فِيهِ وَتَيَسَّرَ"، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ حَمَّادٍ، قَالَ: "ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَسْجُدُ فَيُمَكِّنُ وَجْهَهُ"، قَالَ هَمَّامٌ: وَرُبَّمَا قَالَ: "جَبْهَتَهُ مِنَ الْأَرْضِ، حَتَّى تَطْمَئِنَّ مَفَاصِلُهُ وَتَسْتَرْخِيَ، ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَسْتَوِيَ قَاعِدًا عَلَى مَقْعَدِهِ وَيُقِيمُ صُلْبَهُ"، فَوَصَفَ الصَّلَاةَ هَكَذَا أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ حَتَّى فَرَغَ، لَا تَتِمُّ صَلَاةُ أَحَدِكُمْ حَتَّى يَفْعَلَ ذَلِكَ.

---

[۱]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۱٤ (۳۰۲)، سنن النسائي/الأذان ۲۸ (٦٦٨)، الافتتاح ١٦٧ (۱۱۳۷)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٥٧ (٤٦٠)، (تحفة الأشراف: ٣٦٠٤ مسند رفاعة بن رافع الأنصاري)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/ ١٠٠، ١٠٢، ٤/ ٣٤٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٧٨ (١٣٦٨) (صحيح)

[۲]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٦٠٤) (صحيح)

ترجمه: علي بن يحيى بن خلاد د خپل پلار نه روايت کوي، او هغه ئې د تره نه کوي رفاعة بن رافع نه، په معنی د هغې سره، هغه وايي: وويل رسول الله ﷺ بيشکه نه پوره کېږی مونځ د يو کس د ستاسو تردې چې پوره کړی اودس لکه څنګه چې امر ورته الله کړی دی، وويځی خپل مخ او دواړه لاسونه ترڅنګلو پورې، او مسح وکړی په خپل سر او دواړه خپې تر ګيټو پورې، بيا لويی بيان کړی د الله او د هغه حمد ووايي، بيا ولولی د قرآن نه هغه چې ده ته پکې اجازت دی او اسان دی ورته. ذکريې کړو پشان د حديث د حماد، هغه وويل: بيا تکبير وائی او سجده کوی ړدې مخ خپل په زمکه. ونيلی دی همام: او کله به ئې وئيل: تندی خپل په ځمکه. تردې چې مطمئن شی جوړونه د هغه او سست شي، بيا تکبير وائی، برابر شی په ناسته په خپل مقعد باندې او برابروی شا خپله. طريقه د مانځه ئې داسې بيان کړه څلور رکعاته تردې چې ته فارغ شي، نه پوره کېږی مونځ د يو کس ستاسو تردې چې داسې وکړي.

[۸۵۹]([1]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَحْيَى بْنِ خَلَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "إِذَا قُمْتَ فَتَوَجَّهْتَ إِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَبِمَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَقْرَأَ، وَإِذَا رَكَعْتَ فَضَعْ رَاحَتَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ، وَقَالَ: إِذَا سَجَدْتَ فَمَكِّنْ لِسُجُودِكَ، فَإِذَا رَفَعْتَ فَاقْعُدْ عَلَى فَخِذِكَ الْيُسْرَى".

ترجمه: علي بن يحيى بن خلاد. روايت کوی د خپل پلار نه او هغه د رفاة بن رافع نه. ددې قصی. هغه وايي: کله چې ته ودريدی مانځه ته او مخ دې قبلی ته کړو نو تکبير ووايه، بيا ولوله سورة فاتحه، او هغه چې د الله خوښه شي چې ته ئې ولولې، او کله چې ته رکوع کوی نو کيده خپل ورغوی په دواړو زنګونانو، او اوږده کړه خپله شا. او هغه وئيلی دي: چې کله ته سجده کوی نو ځائې ورکړه خپلې سجدی ته، کله چې ته اوچت شی نو کينه په خپل چپ ورون باندې.

[۸۶۰]([2]) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ يَحْيَى بْنِ خَلَّادِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمِّهِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "إِذَا أَنْتَ قُمْتَ فِي صَلَاتِكَ فَكَبِّرِ اللَّهَ تَعَالَى ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ عَلَيْكَ مِنَ الْقُرْآنِ، وَقَالَ فِيهِ: فَإِذَا جَلَسْتَ فِي وَسَطِ الصَّلَاةِ فَاطْمَئِنَّ وَافْتَرِشْ فَخِذَكَ الْيُسْرَى ثُمَّ تَشَهَّدْ، ثُمَّ إِذَا قُمْتَ فَمِثْلَ ذَلِكَ حَتَّى تَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِكَ".

ترجمه: رفاعة بن رافع د نبی ﷺ نه روايت کوی. ددې قصی. هغه وئيلی دي: کله چې ته ودرېږی مانځه ته، نو تکبير وايه، بيا ولوله ما هغه چې تاته اسان وی د قرآن نه. او هغه وئيلی دی په هغې کښې: کله چې ته کينی په مينځ د مانځه کښې نو مطمئن شه، او خور کړه خپل چپ ورون بيا تشهد ووايه، بيا چې ته کله پاڅېږی نو شه په مثل د هغې تردې چې ته فارغ شی د خپل مونځ نه.

[1]: انظر حديث رقم: ۸۵۷ (تحفة الأشراف: ۳۶۰٤) (حسن)
[2]: انظر حديث رقم: ۸۵۷ (تحفة الأشراف: ۳۶۰٤) (حسن)

[۸۶۱]([1])حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى الْخُتَّلِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ عَلِيِّ بْنِ يَحْيَى بْنِ خَلَّادِ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَصَّ هَذَا الْحَدِيثَ، قَالَ فِيهِ: "فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللَّهُ جَلَّ وَعَزَّ، ثُمَّ تَشَهَّدْ فَأَقِمْ، ثُمَّ كَبِّرْ، فَإِنْ كَانَ مَعَكَ قُرْآنٌ فَاقْرَأْ بِهِ، وَإِلَّا فَاحْمَدِ اللَّهَ وَكَبِّرْهُ وَهَلِّلْهُ، وَقَالَ فِيهِ: وَإِنِ انْتَقَصْتَ مِنْهُ شَيْئًا انْتَقَصْتَ مِنْ صَلَاتِكَ".

ترجمه: د رفاعة بن رافع روايت کوي، بيشکه رسول الله ﷺ: نو بيان ئې کړو دا حديث هغه ووېل پکې: اودس وکړه څرنګه چې امر کړې دی تاته الله، بيا تشهد وايه، نو اقامت اوکړه بيا تکبير اووايه، که چرې وي ياد تاسره قران نو لوله هغه، او که نه وی نو د الله حمدووايه او لويي او تهليل ووايه. او هغه ووېل په هغې کښې: که چرې تا د دېنه څه شی کم کړو نو تا کم کړو خپل مونځ.

تشريح: قوله:﴿ حدثنا عباد بن موسى الختلي... ثم تشهد فاقم ﴾ په دې روايت کښې دا زيادت دې هغه دا چه رسول الله ﷺ هغه صحابی ته د اذان او اقامت حکم فرمائيلې دې، د تشهد نه مراد اذان دی.

[۸۶۲]([2])حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ الْحَكَمِ، ح وَحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ تَمِيمِ بْنِ مَحْمُودٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَقْرَةِ الْغُرَابِ، وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ، وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ". هَذَا لَفْظُ قُتَيْبَةَ.

ترجمه: د عبد الرحمن بن شبل نه روايت دې هغه وئيلی دي: منع کړې ده رسول الله ﷺ د ټونګې د کارغه نه، او د کيناستلو د لېوه نه، او دا چې ونيسي (مقرر) کړی سړی يو ځائې لره په مسجد کښې لکه څنګه چې ځائې نيسي اوښ. دا لفظ د قتيبة دی.

شرح حديث

قوله:﴿ حدثنا ابو الوليد الطيالسي... نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن نقرة الغراب ﴾ يعنی څنګه چه يو مارغه زر زر ټونګې وهی او د زمکې نه دانه اوچتوی دغه شان رسول الله ﷺ په مونځ کښې د رکوع او سجدې کولو نه منع فرمائيلې ده يعنی دا چه بغير د تعديل ارکان نه دې ځوک هم مونځ نه کوی، هم دغه شان رسول الله ﷺ په سجده کښې د افتراش ذراعين نه منع فرمائيلې ده څنګه چه يو درنده په زمکه باندې خپلې څنګلې خورې کړی او په ارام کينی ځکه چه مونځ د ارام د حصول دپاره نه دې بلکه يو قسم محنت او مجاهده ده، په دې وجه د سجدې چه کومه مسنون طريقه ده په هغې کښې انسان مشقت اوچتوی، او دغه شان رسول الله ﷺ ددې خبرې نه هم منع کړې ده چه يو سړې په مسجد کښې د خپل مونځ کولو دپاره ځائې متعين کړی چه هميشه هم هلته مونځ کوی څنګه چه اوښ د ځان دپاره د ترلو ځائې متعين کوی.

[1]: انظر حديث رقم: ۸۵۷، (تحفة الأشراف: ٣٦٠٤) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/الافتتاح ١٤٥ (١١١٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٠٤ (١٤٢٩)، (تحفة الأشراف: ٩٧٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٢٨، ٤٤٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٧٥ (١٣٦٢) (حسن)

بعض ددې حکمت دا بیان کړې دې چه په دې صورت کښې به عبادت د عادت په طور شي، حال دا چه عبادت د عادت په طور نه دی پکار بلکه په هغې کښې د نفس او عادت مخالف معنی کیدل پکار دی، بله دا چه داسې کولو سره د شهرت او ریاء خطره ده، د خلقو په ژبه باندې به دا راځي چه فلانې سړې چه کله هم وینې نو په مسجد کښې په فلانې ځائې کښې مونځ کونکې راځي او یو حکمت دا هم بیان کړې شوې دې چه که یو سړې په مسجد کښې خپل ځائې متعین کړې نو که اتفاقي هلته بل څوک کینې نو هغه به هغه ځائې خپل حق او حصه ګنړلو سره مزاحمت کوي، بله دا چه په ځائې نه متعین کولو کښې د استکثار شهود فائده ده چه هر ځائې به د قیامت په ورځ باندې ګواهي ورکوي، په هغې باندې د مونځ کولو.

[۸۶۳]()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ سَالِمٍ الْبَرَّادِ، قَالَ: أَتَيْنَا عُقْبَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيَّ أَبَا مَسْعُودٍ، فَقُلْنَا لَهُ حَدِّثْنَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ بَيْنَ أَيْدِينَا فِي الْمَسْجِدِ "فَكَبَّرَ، فَلَمَّا رَكَعَ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَجَعَلَ أَصَابِعَهُ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ وَجَافَى بَيْنَ مِرْفَقَيْهِ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقَامَ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى الْأَرْضِ، ثُمَّ جَافَى بَيْنَ مِرْفَقَيْهِ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَجَلَسَ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ، فَفَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ أَيْضًا، ثُمَّ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ مِثْلَ هَذِهِ الرَّكْعَةِ فَصَلَّى صَلَاتَهُ". ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا رَأَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي.

ترجمه: د سالم البراد نه روایت دې، هغه وئیلی دي: مونږ راغلو ابو مسعود عقبة بن عمرو الانصاری ته، مونږ وویل هغه ته: مونږ ته بیان وکړه د مانځه د رسول الله ﷺ، هغه ودریدو مونږ ته په جمات کښې، تکبیریې وویلو، هرکله چې هغه رکوع وکړه کیخودل هغه لاسونه خپل په زنګونانو، او کیخودلې ګوتې لاندې د هغې نه، او لرې ئې وساتلې مابین د څنګلو نه تردې چې په آرام شو هر یو شی د هغې نه، بیا ئې وویل: سمع الله لمن حمده، ودریدو تردې چې په آرام شو هر یو شی د هغې نه، بیا ئې تکبیر ووئیلو او سجده ئې وکړه، او کیخوده ورغوی خپل په ځمکه، بیا ئې لرې والی راوستلو په مابین د څنګلو کښې تردې چې په آرام شو هر یو شی خپل د هغه نه، بیا ئې اوچت کړو سر خپل نو کیناستلو تردې چې په آرام شو هر یو ځائې د هغه نه، نو ویې کړو ددې پشان همدا رنګه، بیا ئې وکړل څلور رکعاته پشان ددې رکعات نو پوره ئې کړو خپل مونځ، بیا ئې وویل: همداسې مونږ لیدلی وو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو.

بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم "كُلُّ صَلَاةٍ لَا يُتِمُّهَا صَاحِبُهَا تُتَمُّ مِنْ تَطَوُّعِهِ

باب د قول د نبی صلی الله علیه وسلم: هر مونځ چې د هغې خاوند یې پوره نه کړي د هغه د نفلو نه به پوره کولی شي

[۸۶۴]()حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ حَكِيمٍ الضَّبِّيِّ، قَالَ: خَافَ مِنْ زِيَادٍ، أَوِ ابْنِ زِيَادٍ، فَأَتَى الْمَدِينَةَ فَلَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: فَنَسَبَنِي، فَانْتَسَبْتُ لَهُ، فَقَالَ: يَا فَتَى، أَلَا

[1]: سنن النسائي/الافتتاح ۹۳ (۱۰۳۷)، (تحفة الأشراف: ۹۹۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۹/٤، ۱۲۰، ۲٤۷/۵)، سنن الدارمي/الصلاة ۶۸(۱۳٤۳) (صحیح)

[2]: سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۲۰۲ (۱٤۲۶)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۰۰،۱۵۵۰۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۱۸۹ (٤۱۳)، سنن النسائي/الصلاة ۹ (٤۶٤)، مسند احمد (۲/۲٥٤، ۲/۹۰، ٤/۱۰۳) (صحیح)

أُحَدِّثُكَ حَدِيثًا؟ قَالَ: قُلْتُ: بَلَى رَحِمَكَ اللهُ، قَالَ يُونُسُ: وَأَحْسِبُهُ ذَكَرَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ النَّاسُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ أَعْمَالِهِمُ الصَّلَاةُ، قَالَ: يَقُولُ رَبُّنَا جَلَّ وَعَزَّ لِمَلَائِكَتِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ: انْظُرُوا فِي صَلَاةِ عَبْدِي أَتَمَّهَا أَمْ نَقَصَهَا، فَإِنْ كَانَتْ تَامَّةً كُتِبَتْ لَهُ تَامَّةً وَإِنْ كَانَ انْتَقَصَ مِنْهَا شَيْئًا، قَالَ: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ، فَإِنْ كَانَ لَهُ تَطَوُّعٌ، قَالَ: أَتِمُّوا لِعَبْدِي فَرِيضَتَهُ مِنْ تَطَوُّعِهِ، ثُمَّ تُؤْخَذُ الْأَعْمَالُ عَلَى ذَاكُمْ".

ترجمه: د انس بن حكيم الضبي نه روايت دې هغه وئيلي دي: وويريدو د زياد نه او يا د ابن زياد نه، نو راغې مدينې ته، نو هغه مخامخ شو د ابو هريره رضي الله عنه سره، هغه وئيلي دي: د مانه ئې تپوس وكړو د نسب، نو ما ورته نسب بيان كړو، هغه ووئيل: اې ځوانه! ايا زه تاته حديث بيان نه كړم؟ هغه وايي: ما ووئيل: ولې نه، الله دې په تا رحم وكړي. وئيلي دي يونس: او زما گمان دی چې هغه د نبي ﷺ نه ذكر كړی دی. هغه وئيلي دي: بيشكه اول هغه څه چې د خلقو سره به ئې حساب كيږي د اعمالو د هغوی نه هغه مونځ دی. هغه وفرمائيل: وايي رب زمونږ خپلو ملائكو ته او هغه ښه ډېر پوهه دی: اوگورئ په مانځه د بنده زما كښې چې هغه پوره كړی دی او كه كمی ئې كړی دی؟ كه چرې پوره وو نو پوره به ليكلی شي، او كه چېرې ئې د هغې نه څه شی كم كړی وو، نو وايي: اوگورئ ايا زما د بنده لپاره نفل شته؟ كه چرې د هغه نفل وو، هغه وفرمايي: پوره كړئ زما د بنده لپاره فرض د هغه د نفلو نه، بيا ټولو اعمالوسره به دغه شان كولې شي.

شرح حديث او د زياد او عبيدالله بن زياد مختصر حال

قوله: ﴿ عن انس بن حكيم الضبي قال : خاف من زياد او ابن زياد ﴾ د ﴿ قال ﴾ ضمير د حسن او د ﴿ خاف ﴾ ضمير د انس طرف ته راجع دی، امام حسن بصري رحمه الله فرمائي چه يو ځل انس بن حكيم ته په څه وجه باندې (چه دلته كتاب كښې ذكر ده) د زياد بن عبيد يا د هغه ځوئی عبيدالله بن زياد نه څه ويره پيدا شوه، په ظاهره كښې به دا د بصرې واقعه وی چه د هغه خانې اوسيدونكې دا حسن دی او دا ابن زياد هم د بصرې امير وو، نو غرض دا چه دې د هغه نه بچ كيدو سره مدينې ته راغلو، په دې روايت كښې د راوی شک دې چه انس بن حكيم ته چه كومه خطره پيدا شوې وه هغه د زياد نه وه يا د هغه د ځوئی عبيدالله نه. اصل كښې دا دواړه گډوډ شان سړی وو ظالمان او متشدد، زياد خو د امير معاويه رضي الله عنه په زمانه كښې د هغه د طرف نه د عراق امير وو او د هغه ځوئې د بصرې امير وو، د زياد ذكر د حديث په نورو كتابونو كښې هم راغی، پس په مسلم كتاب الايمان ص ٥٧ باندې دی ﴿ عن عثمان قال: لما ادعى زياد لقيت ابا بكرة الخ ﴾ دې زياد ته زياد بن عبيد الثقفي او زياد بن ابيه او زياد بن سميه او زياد بن ابي سفيان هم وئيلې شي، په تقرير مسلم (الحل المفهم) كښې ليكي چه دا په شروع كښې د اصحاب علی نه وو بلكه د هغه د فوج مشر او جرنيل وو، امير معاويه رضي الله عنه هغه خپل طرف ته مائل كړې وو په داسې طريقه چه كه ته ما سره شوې نو زه به ستا استلحاق اوكړم يعنې تابه خپل رور جوړ كړم او په قريشو كښې به دې داخل كړم، پس هغه علي رضي الله عنه

پريخودلو او د معاويه رضي الله عنه سره شو او ځان ته به ئې زياد بن ابى سفيان وئيلو.
اصل کښې د هغه مور سميه نومې يوه وينځه وه کومه چه د عبيد په نکاح کښې وه، ابو سفيان د معاويه پلار په زمانه جاهليت کښې د سميه سره زنا کړې وه چه د هغې نه زياد پيدا شو (الولد للفراش) د لاندې د هغه نسبت د عبيد طرف ته پکار وو او د جاهليت د دستور مطابق د زانى يعنى ابو سفيان طرف ته، د هغه په حالاتو کښې ليکلي دى چه امير معاويه رضي الله عنه هغه لره د عراق والي جوړ کړې وو ځکه چه دا ډير مدبر او منتظم قسم انسان وو، په عراق باندې هغه قابو بيا موندلو او معاويه رضي الله عنه ته ئې اوليکل چه ما عراق په خپل ګس لاس کښې اخستلې دې او زما ښى لاس خالي دې مقصد د هغه دا وو چه حجاز دې هم زما د ولايت لاندې کړې شى، چه کله اهل حجاز ته خبر اوشو نو هغوى عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته حاضر شو او هغوى ته ئې صورت حال بيان کړو او ددې خبرې خطره ئې ظاهر کړه چه چرته هغه په دوى باندې مسلط نه کړې شى او بيا هغه په اهل حجاز باندې هم ظلم او زيادت اوکړى کوم چه په اهل عراق باندې کوى، نو په دې باندې ابن عمر رضي الله عنه قبلې طرف ته مخ کولو سره د زياد په حق کښې بد دعا کړې وه چه د هغې په وجه باندې هغه په سخت مهلک مرض باندې اخته شوي وو، دا تاريخى خبرې دى، د تاريخ په کتابونو کښې د کتلو دى، د هغه خوئي عبيدالله وو کوم چه د سيدنا حسين رضي الله عنه د قتل په سازش کښې شريک وو او د هغه سر غوڅولو نه پس هغه ته راوړلې شوې وو، بيا يو وخت هغه هم راغلې وو چه خپله عبيدالله هلاک کړې شو او د کوفې په مسجد کښې د هغه د ملګرو سرونه کيخودلې شوي وو لکه چه د ترمذى شريف په کتاب المناقب کښې د مناقب حسن وحسين د لاندې دا روايت ليکلي شوې دې.

قوله: (فنسبنى فانتسبت له) يعنى ابوهريره رضي الله عنه زما نوم او نسب غيره اوتپوسلو، چه څوک ئې د کوم ځائې نه راروان ئې.

قوله: (ان اول ما يحاسب الناس به يوم القيامة من اعمالهم الصلاة) يعنى په اعمال عباد کښې به د ټولو نه اول د مونځ حساب اخستلې شى، دا حديث د سنن اربعه روايت دې، په ترمذى وغيره کښې هم شته.

په دوه متعارض احاديثو کښې تطبيق

او په ظاهره کښې دا د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث خلاف دې کوم چه بخارى روايت کړې دې، باب القصاص يوم القيامة ص ۹۶۷ د لاندې، اول ما يقضى بين الناس يوم القيامة بالدماء د دې نه معلوميږى چه د ټولو نه اول به د وينې او قصاص فيصله کيږى، ددې ډير جوابونه ورکړې شوې دى.

۱: حافظ عراقى فرمائى چه ددې حديث تعلق د حقوق الله سره دې او د دويم روايت تعلق د حقوق العباد سره، په حقوق الله کښې به د ټولو نه اول د مونځ حساب کولې شى او په حقوق العباد کښې به د ټولو نه اول د وينې او قصاص، اوس پاتې شوه دا خبره چه فى نفسه به د حقوق الله حساب مخکښې کولې شى يا د حقوق العباد، پس دا جدا خبره ده هغه فرمايى

چه د ظواهر الحدیث نه معلومیږي چه د حقوق الله محاسبه به اولا وي او د حقوق العباد به روستو وي.

۲: حدیث الباب ضعیف دې ددې په سند کښې انس بن حکیم ضبی دې هغه ته مجهول وئیلې شوې دې او دویم حدیث د بخاري قوي دې.

۳: په یو حدیث کښې محاسبه ذکر ده او په دویم کښې قضاء او په دواړو کښې فرق ظاهر دې، نو کیدې شي چه حساب خو اول د مونځ وي او د فیصلې په وخت کښې اول فیصله د قصاص اوکړې شي او د مونځ فیصله روستو وي.

قوله: ﴿ وان كان انتقص منها شيئا قال : انظروا هل لعبدی من تطوع الخ ﴾ یعنی که د چا په مونځ کښې نقص وي نو هغه به په نوافلو سره پوره کولې شي، په دې کښې اختلاف دې چه په مونځ کښې د نقصان نه څه مراد دې، صرف د خشوع او خضوع او ادابو کمې یا مطلقا فرض نه کول هم په دې کښې داخل دي، په دې کښې دواړه اقوال دی قاضی ابوبکر بن العربي په دې کښې عموم اختیار کړې دې چه دواړو صورتونو ته شامل دې. د الله تعالی د فضل او وسیع رحمت نه دا څه لرې نه ده.

ددې حدیث نه د نوافل او سنتو اهمیت ثابتیږي چه ددې په ذریعه په فرض مونځونو کښې کوم نقصان واقع کیږي دهغې تلافي (پوره والې) کیږي.

[۸۶۵](١)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سَلِيطٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِنَحْوِهِ.

ترجمه: د حسن نه روایت دې، د یو سړي نه چې د بني سلیط نه دی، هغه روایت کوي د ابو هریره ﷺ نه او هغه د نبي ﷺ نه د هغې پشان.

[۸۶۶](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْمَعْنَى قَالَ: "ثُمَّ الزَّكَاةُ مِثْلُ ذَلِكَ، ثُمَّ تُؤْخَذُ الْأَعْمَالُ عَلَى حَسَبِ ذَلِكَ".

ترجمه: د تمیم الداري ﷺ نه روایت دې، هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه په دې معنی سره، هغه وئیلي دي: بیا زکات مثل د دغې، بیا به د نورو اعمالو حساب کولې شي په دغې حساب باندې.

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٢٢٠٠) (صحيح)

(٢): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٠٢ (١٤٢٦)، (تحفة الأشراف: ٢٠٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٠٣) (صحيح)

تفريع ابواب الركوع والسجود
باب د رکوع او سجدو والا بابونو تفريع

بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ
باب د لاسونو کېښودل په زنګونانو باندې

[۸٦٧]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَاسْمُهُ وَقْدَانُ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: "صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ أَبِي فَجَعَلْتُ يَدَيَّ بَيْنَ رُكْبَتَيَّ، فَنَهَانِي عَنْ ذَلِكَ فَعُدْتُ، فَقَالَ: لَا تَصْنَعْ هَذَا، فَإِنَّا كُنَّا نَفْعَلُهُ فَنُهِينَا عَنْ ذَلِكَ، وَأُمِرْنَا أَنْ نَضَعَ أَيْدِيَنَا عَلَى الرُّكَبِ".

ترجمه: د مصعب بن سعد نه روایت دې هغه وئیلي دي: ما مونځ وکړو و خوا د خپل پلار سره، ما کیخول خپل لاسونه په مابین د زنګونانو کښې، نو زه ئې منع کړم د هغې نه، نو زه واپس شوم، هغه ووئیل: داسې مه کوه، مونږ به کوه داسې، نو مونږ منع شو د هغې نه، او مونږ ته امر وشو چې کیدو خپل لاسونه په زنګونانو.

[۸٦٨]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَلْيَفْرِشْ ذِرَاعَيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَلْيُطَبِّقْ بَيْنَ كَفَّيْهِ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى اخْتِلَافِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د عبد الله نه روایت دې، هغه وئیلي دي: کله چې رکوع کوی یو کس ستاسو نه نو خورې دې کړی خپلې څنګلې په ورنونو باندې، او جوخت دې کړی دواړه ورغوی خپل، ګویا چې زه ګورم اختلاف د ګوتو د رسول الله ﷺ ته.

تشریح: په دې باب کښې مصنف په شروع کښې د سعد بن ابی وقاص حدیث ذکر کړې دې په کوم کښې چه دا دی چه په ابتداء کښې به د رکوع په حالت کښې تطبیق کیدلو بیا هغه منسوخ شو او ددې په ځائې باندې وضع الیدین علی الرکبتین حکم اوشو.
تطبیق دا دې چه ددواړو لاسونو ورغوی یو ځائې کړی او د یولاس ګوتې په بل کښې داخل کړی څنګه چه په تشبیك کښې کیږی او بیا دواړه لاسونه د زنګونو په مینځ کښې اوتوبلې شی ددې نه پس مصنف د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث ذکر کړې دې په کوم کښې چه د تطبیق ذکر دې.

د تطبيق في الركوع حکم

د جمهورو مسلك د ړومبی حدیث مطابق دې چه تطبیق منسوخ دې، خو د عبد الله بن مسعود او د ده ځنې اصحاب علقمه او اسود د تطبیق قائل دی، کیدې شی دوئ ته د نسخې علم نه

[۱]: صحيح البخاري/الأذان ١١٨ (٧٩٠)، صحيح مسلم/المساجد ٥ (٥٣٥)، سنن الترمذي/الصلاة ٨٠ (٢٥٩)، سنن النسائي/الافتتاح ٩١ (١٠٣٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧ (٨٧٣)، تحفة الأشراف (٣٩٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٨١، ١٨٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٨ (١٣٤١) (صحيح)

[۲]: صحيح مسلم/المساجد ٥ (٥٣٤)، سنن النسائي/المساجد ٢٧ (٧٢٠)، والإمامة ١٨ (٨٠٠)، والتطبيق ١ (١٠٣٠، ١٠٣١)، (تحفة الأشراف: ٩١٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤١٤) (صحيح)

وي شوې يا هغوی د تخيير قائل وو لکه چه د مصنف ابن ابی شيبه په روايت کښې د حضرت علي رضی الله عنه نه منقول دی، سړی لره اختيار دې چه که په رکوع کښې لاسونه په رکتبين باندې ايږدی او که تطبيق کوې، په نسائی شريف، ص: ۵۹ کښې د حضرت عمر رضی الله عنه روايت دې، عن عمر قال سُنّت لك الركب فامسكوا بالركب، يعنی په رکوع کښې امساك بالركب، يعنی په خپلو دوارو لاسونو سره زنګونونه مضبوط نيول سنت دی.

باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ

باب دې په بيان د هغې څکې چې سړی يې وايي په رکوع او سجده خپله کې

[۸۶۹]([1])حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُوسَى، قَالَ أَبُو سَلَمَةَ مُوسَى بْنِ أَيُّوبَ: عَنْ عَمِّهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ سورة الواقعة آية ۷۴، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ، فَلَمَّا نَزَلَتْ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى سورة الأعلى آية ۱، قَالَ: اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ".

ترجمه: د عقبة بن عامر نه روايت دې هغه وئيلی دي: هر کله چې نازل شو (فسبح باسم ربک العظيم) وويل رسول الله ﷺ وګرځوئ دې لره په رکوع ستاسو کښې. هرکله چې نازل شو (سبح اسمَ ربک الاعلی) هغه وفرمائيل وګرځوئ دې لره په سجده ستاسو کښې.

قوله: عن موسٰی قال ابوسلمة موسٰی بن ايوب : د دې حديث په سند کښې د مصنف دوه استاذان دی، ربيع بن نافع او موسی بن اسماعيل ددې دواړه استاذ دې ابن المبارك او د هغهٔ استاذ دې موسی بن ايوب، ابوسلمه د مصنف د استاذ موسٰی بن اسماعيل کنيت دې.

ددې عبارت مطلب دا دې چه د مصنف استاذ ربيع د عبد الله بن المبارك د استاذ صرف نوم بيان کړې دې او صرف عن موسٰی ئې وئيلې دی او د مصنف بل استاذ د موسی بن اسماعيل د چا کنيت چه ابو سلمه دې هغوی عن موسٰی ابن ايوب وئيلې دی، (عن عمه) د موسی بن اسماعيل د ترهٔ نوم د چا نه چه هغوی روايت کوی اياس بن عامر دې.

قوله: اجعلوها فی رکوعکم : يعنی ددې آيت مضمون په رکوع کښې لولئ او هم دا مراد په وړاندې جمله کښې دې، د رکوع او د سجدو د تسبيحاتو حکم وړاندې تير شوې دې د جمهورو په نزد باندې سنت دی او هم دا يو روايت د امام احمد نه دې، د داؤد ظاهری او امام احمد دويم روايت د وجوب دې.

[۸۷۰]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى أَوْ مُوسَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ قَوْمِهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، بِمَعْنَاهُ زَادَ، قَالَ: "فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَكَعَ، قَالَ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ ثَلَاثًا، وَإِذَا سَجَدَ، قَالَ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى وَبِحَمْدِهِ ثَلَاثًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذِهِ الزِّيَادَةُ نَخَافُ أَنْ لَا تَكُونَ مَحْفُوظَةً، قَالَ أَبُو دَاوُد: انْفَرَدَ أَهْلُ مِصْرَ بِإِسْنَادِ هَذَيْنِ الْحَدِيثَيْنِ: حَدِيثِ الرَّبِيعِ وَحَدِيثِ أَحْمَدَ بْنِ يُونُسَ.

[1]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲۰ (۸۸۷)، (تحفة الأشراف: ۹۹۰۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵۵/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۶۹ (۱۳٤٤) (ضعيف)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۹۰۹) (ضعيف)

ترجمه: د ایوب بن موسی نه او یا د موسی بن ایوب نه روایت دې، هغه روایت کوی د یو سړی نه خپل قوم نه او هغه روایت کوی د عقبة بن عامر نه، په معنی د هغې سره، هغه زیادت کړی دی، هغه ووېل: وو رسول الله ﷺ چې کله به ئې رکوع کوله نو وئیل به یې: سبحان ربی العظیم و بحمده. درې ځل، او چې کله ئې سجده کوله نو وئیل یې: سبحان الاعلی و بحمده، درې ځل وئیلی دی ابوداود: او مونږ وېرېږو چې دا زیادت محفوظ نه وي. وئیلی دی ابوداود: منفرد شو د مصر والا په اسناد ددې دواړو حدیثونو، چې یو حدیث د ربیع دی او بل حدیث د احمد بن یونس دی.

د مصنف د کلام تشریح:

قوله: قال ابوداؤد و هذه الزیادة نخاف ان لا تکون محفوظة:
په رومبی روایت کښې د موسی بن ایوب شاګرد ابن المبارك وو او په دې دویم روایت کښې لیث بن سعد دې، د ابن المبارك په روایت کښې صرف دا وو چه کوم وخت فسبح باسم ربك العظیم او سبح اسم ربك الاعلی، دا دواړه آیتونه نازل شو نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه، اجعلوها فی رکوعکم و سجودکم، او په دې دویم روایت کښې زیاتی دا هم دی چه حضور ﷺ به په رکوع کښې سبحان رب العظیم و بحمده او په سجدو کښې سبحان رب الاعلی و بحمده لوستل هم دغه مصنف فرمائی خو ددې د زیادت په باره کښې کوم چه په دویم روایت کښې دې مصنف دا فرمائی چه دا زیادت زمونږ په خیال کښې ثابت نۀ دې او دا هم احتمال دې چه د مصنف ددې کلام تعلق صرف د لفظ وبحمده سره وی یعنی سبحان رب العظیم او سبحان رب الاعلی سره د وبحمده زیادت ثابت نۀ دې اوس خو یا دا وئیل غواړی چه خاص په دې حدیث کښې ثابت نۀ دې اګر که فی نفسه د دویم روایت نه ثابت دې او ممکن ده چه مراد دا وی چه په یو روایت کښې هم ثابت نۀ دی، والله تعالی اعلم

د رکوع او سجدو په تسبیح کښې د وبحمده زیادت:

او دا د وبحمده زیادت عند الشافعیه مستحب دې کما فی روضة المحتاجین او هم داسې عند المالکیه کما فی الانوار الساطعه او ابن قدامه په مغنی کښې د امام احمد نه نقل کړې دی که کوم سړې د رکوع او سجدو په تسبیح کښې د وبحمده زیادت اوکړی نو امید دې چه په دې کښې به څۀ حرج نۀ وی، امام احمد فرمائی، اما انا فلا اقول و بحمده، ابن قدامه لیکی چه ابن المنذر د امام شافعی او د اصحاب رائې نه هم دا نقل کړې دی او وجه ددې دا ده چه کوم روایات اشهر او اکثر دی په هغې کښې زیادت نشته دې او امام ابوداؤد هم ددې په ثبوت کښې تردد ښکاره کړې دې.

[۸۷۱]([1])حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: قُلْتُ لِسُلَيْمَانَ: أَدْعُو فِي الصَّلَاةِ إِذَا مَرَرْتُ بِآيَةِ تَخَوُّفٍ، فَحَدَّثَنِي عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ مُسْتَوْرِدٍ، عَنْ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ، عَنْ حُذَيْفَةَ، أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

[1]: صحیح مسلم/المسافرین ۲۷ (۷۷۲)، سنن الترمذی/الصلاة ۸۲ (۲۶۲)، سنن النسائی/الافتتاح ۷۷ (۱۰۰۷)، والتطبیق ۷٤ (۱۱۳٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲۰ (۸۹۷)، ۱۷۹ (۱۳۵۱)، (تحفة الأشراف: ۳۳۵۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸۲/۵، ۳۸٤، ۳۹٤، ۳۹۷)، سنن الدارمی/الصلاة ۶۹ (۱۳٤۵) (صحیح)

وَسَلَّمَ "فَكَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، وَفِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، وَمَا مَرَّ بِآيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ عِنْدَهَا فَسَأَلَ، وَلَا بِآيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ عِنْدَهَا فَتَعَوَّذَ".

ترجمه: شعبه وايي: ما وويل سليمان ته: دعاء کوه کله چې ته تېرېږې په ايت د خوف باندې، نو ماته ئې حديث بيان کړو د سعد بن عبيدة نه هغه د مستورد نه، هغه د صلة بن زُفر نه، هغه د حذيفه نه، بيشکه هغه مونځ وکړو د نبي ﷺ سره، نو وو هغه چې ونيل ئې په خپله رکوع کښې: سبحان ربى العظيم او په سجده کښې: سبحان ربى الاعلى، او نه تېريدو په ايت د رحمت باندې مگر هغه به ودريدو د هغې سره سوال به ئې کولو، او نه په ايت د عذاب باندې مگر ودريدو به هغه د هغې سره نو پناه به ئې غوښتله

[٨٧٢]([1])حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ".

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ وو چې وئيل به ئې په خپله رکوع او سجده کښې: پاک دی او اوچت دی رب د ملائکو او د جبريل.

[٨٧٣]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، قَالَ: قُمْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً "فَقَامَ فَقَرَأَ سُورَةَ الْبَقَرَةِ لَا يَمُرُّ بِآيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ فَسَأَلَ، وَلَا يَمُرُّ بِآيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ فَتَعَوَّذَ، قَالَ: ثُمَّ رَكَعَ بِقَدْرِ قِيَامِهِ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ، ثُمَّ سَجَدَ بِقَدْرِ قِيَامِهِ، ثُمَّ قَالَ فِي سُجُودِهِ مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ قَامَ فَقَرَأَ بِآلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَرَأَ سُورَةً سُورَةً".

ترجمه: عوف بن مالک الاشجعي وايي زه ودريدم د رسول الله ﷺ سره يوه شپه، هغه پاڅيدلو ويې لوستله سورة البقرة، نه به تېريدلو په ايت د رحمت باندې مگر ودريدلو به سوال به ئې کوه، او نه به تېريدو په ايت د عذاب باندې مگر ودريدو به نو تعوذ به ئې ويلو، هغه وايي: بيا ئې رکوع وکړه په اندازه د قيام د هغه، هغه به وئيل په رکوع خپله کښې: پاک دی خاوند د لويي او د عجائبو دی او د لويي او د عظمت يې. بيا ئې به ئې سجده وکړه په اندازه د قيام د هغه، بيا ئې وويل په سجده خپله کښې په مثل د هغې، بيا پاڅيدلو ويې لوستلو آل عمران، بيا ئې ولوستلو يو يو سورت.

[٨٧٤]([3])حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ مَوْلَى الْأَنْصَارِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عَبْسٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ، فَكَانَ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ، ثُمَّ اسْتَفْتَحَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ، ثُمَّ رَكَعَ فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ، وَكَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ

---

[1]: صحيح مسلم/الصلاة ٤٢ (٤٨٧)، سنن النسائي/التطبيق ١١ (١٠٤٩)، ٧٥ (١١٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٥، ٩٤، ١١٥، ١٤٨، ١٤٩، ١٧٦، ١٩٢، ٢٠٠، ٢٤٤، ٢٦٦) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/التطبيق ٧٣ (١١٣٨)، سنن الترمذي/الشمائل (٣١٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٩١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٤) (صحيح)

[3]: سنن الترمذي/الشمائل ٣٩ (٢٧٥)، سنن النسائي/التطبيق ٢٥ (١٠٧٠)، ٨٦ (١١٤٦)، (تحفة الأشراف: ٣٣٩٥) (صحيح)

فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا مِنْ رُكُوعِهِ، يَقُولُ: لِرَبِّيَ الْحَمْدُ، ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُودُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ، فَكَانَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ، وَكَانَ يَقْعُدُ فِيمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنْ سُجُودِهِ، وَكَانَ يَقُولُ: رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي، فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فَقَرَأَ فِيهِنَّ الْبَقَرَةَ، وَآلَ عِمْرَانَ، وَالنِّسَاءَ، وَالْمَائِدَةَ، أَوِ الْأَنْعَامَ"، شَكَّ شُعْبَةُ".

ترجمه: د بنو عبس د يو سړي نه روايت دې هغه روايت کوي د حذيفه نه، بيشکه هغه وليدلو رسول الله ﷺ د شپې، هغه وو چې وئيل يې: الله اکبر - درې ځل - چې خاوند د عجائبو او خاوند قهر دی او د لويې دی او د عظمت دی. بيا ئې اوچت کړو سر خپل د رکوع نه، نو وه رکوع د هغه نزدې قيام ته، او وو چې وئيل ئې په رکوع کښې: پاکې ده رب زمالره چې لوی دی، پاک دی رب زما چې لوی دی. بيا ئې اوچت کړو سر خپل د رکوع نه، نو وو قيام د هغ ه نزدې رکوع ته، هغه به وئيل: زما رب لره حمد دی، بيا ئې سجده وکړه نزدې نو وه سجده د هغه نزدې قيام ته، وو چې وئيل به ئې په سجده کښې: پاکې ده رب زمالره چې اوچت دی. بيا ئې اوچت کړو سر خپل د سجدې نه، او وو چې کيناستلو مابين د دوه سجدو کښې په اندازه د سجده باندې، او وو چې هغه به وئيل: اې زما ربه ماته بخښنه وکړې ماته بخښنه وکړې. مونځ ئې وکړو څلور رکعاته، ويې لوستلو په هغې کښې سورة بقرة او آل عمران او نساء او مائده او يا انعام، شک کړی دی شعبه.

بَابٌ فِي الدُّعَاءِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

باب دی په بيان د دعاء کې په رکوع او سجده کې

[۸۷۵] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنَا عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا صَالِحٍ ذَكْوَانَ يُحَدِّثُهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ".

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ ويلي دي: د هر بنده چې د هر نزدې وی خپل رب ته نو سجدې په حالت کښې وي، نو زياته کړئ دعاء.

تشريح: **قوله:** اقرب ما يكون العبد من ربه و هو ساجد فاكثروا الدعاء: يعنی بنده ته زيات قرب (نزديکت) الله تعالی ته په هغه حالت کښې حاصليږی کله چه هغه په سجده کښې وی لهذا په سجده کښې کثرت سره دعا کوئ دې دپاره چه هغه دعا زر قبوله شي، د دينه په وړېسې حديث کښې راروان دی چه په سجده کښې په کوشش سره دعا کوئ، فَقَمِنٌ ان يُستجاب لكم، ځکه چه ددې حالت دعا ددې لائق ده چه هغه قبوله کړې شي.

دا د دعا في السجود حکم د احنافو په نزد باندې په نوافلو باندې محمول دې او په ظاهر کښې د شوافعو په نزد باندې دا عام دې ځنګه چه په باب الدعاء بين السجدتين کښې دا اختلاف تير شوې دې.

¹): صحيح مسلم/الصلاة ۴۲ (۴۸۲)، سنن النسائي/التطبيق ۷۸ (۱۱۳۸)، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۶۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۱/۲) (صحيح)

د قیام اوږدوالی افضل دې یا د رکوع او سجدو زیاتوالی:

په دې حدیث کښې یو بله مسئله اختلافی ده او هغه دا چه په ارکانو د صلاة کښې کوم رکن زیات افضل دې، قیام،یا سجدې، امام ترمذی په دې دواړو باندې مستقل باب تړلې دې، باب ما جاء فی طول القیام فی الصلاة، باب ما جاء فی کثرة الرکوع و السجود، په اصل کښې په دې سلسله کښې دوه حدیثونه دی او دواړه صحیح دی، په صحیح مسلم او مسند احمد وغیره کښې دی یو خو هم دا حدیث الباب، او د بل حدیث الفاظ دا دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل، افضل الصلاة طول القنوت دا حدیث په ابوداؤد کښې هم دکتاب الصلاة په اخر کښې په باب افتتاح صلوٰة اللیل برکعتین کښې راروان دې.

ان النبی ﷺ سئل ای الاعمال افضل قال طول القیام، دا حدیث خو په افضلیت د قیام کښې صریح دې نو ځکه خو جمهور و منهم الحنفیه والشافعیه ددې قائل دی او دویم قول دا دې چه درکوع او سجدو زیاتوالې او اوږدوالې افضل دې دا رائې د حضرت ابن عمر او په حنفیه کښې د امام محمد ده، دریم قول دا دې، الفرق بین صلوٰة اللیل و صلوٰة النهار، په ورځ کښې تکثیر د رکوع او سجدو او په شپه کښې تطویل د قیام افضل دې او هم دې لره اسحاق بن راهویه اختیار کړې دې،(١)

او امام محمد په دې مسئله کښې توقف کړې دې او هیڅ فیصله ئې نۀ ده فرمائیلې.

(د حدیث الباب نه جواب)

جمهور د حدیث الباب دا جواب ورکوی چه دا حدیث په دې باب کښې نص نۀ دې، د سجدې په حالت کښې اقرب الی الله کیدو سره دا نۀ لازمیږی چه سجدې دی د قیام نه افضل وی ځکه چه دا قرب په اعتبار د اجابت د دعاء سره دې ځکه چه د سجدې حالت د انتهائی تذلل او عاجزئ وې ځکه په دې حالت کښې قبولیت د دعاء زیات متوقع دې، او دغه شان د رکوع او سجدې وظیفه ذکر او تسبیح ده او د قیام د حالت وظیفه تلاوت د قرآن دې کوم چه د ټولو ذکرونو نه افضل دې، صاحب د منهل لیکی چه د مالکیه په دې مسئله کښې دوه قوله دی خو دا اختلاف د دوئ په نزد باندې په هغه صورت کښې دې کله چه دکثرت د سجدو او دقیام دواړو زمانه یوه وی او که متفاوت وی نو د کوم زمانه چه اوږده وی هم هغه به افضل وی.

---

(١) د امام ابویوسف او اسحاق بن راهویه مسلک: خو دا هم وائی که یو سړی لره د قرآن یو متعین مقدار وئیل وی مثلاً یوه سپاره نو بیا په دې صورت کښې تکثیر د سجودو افضل دې ځکه چه ددې سړی د قیام مقدار خو په هر حال کښې هم یو به وی په دې کښې کمې یا زیاتې به نۀ وی ځکه چه د یوې سپارې په اندازه اودریدل دی اوس په تکثیر د سجودو کښې د سجدو دزیاتوالی ثواب به علاوه وی په دې باندې او که څوك دوخت په معین مقدار کښې مونځ کوی مثلاً پنځلس منټه نو په دې صورت کښې طول د قیام غوره دې نو په ځائې ددې چه په دې وخت کښې متعدد رکعاتونه اوکړی او تکثیر د سجدو اوکړی ددې نه دا غوره چه قیام دې اوږد کړی او صرف دوه رکعاته دې اوکړی، د اسحاق بن راهویه د مذهب دا تفصیل امام ترمذی په جامع ترمذی کښې لیکلې دې، او زۀ وایم چه هم دا تفصیل د امام ابویوسف نه هم منقول دې یعنی د مقدار معین من الزمان او مقدار معین من القرآن فرق.

[۸۷۶](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ سُحَيْمٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَشَفَ السِّتَارَةَ وَالنَّاسُ صُفُوفٌ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ، فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنْ مُبَشِّرَاتِ النُّبُوَّةِ إِلَّا الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ، وَإِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَقْرَأَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا، فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا الرَّبَّ فِيهِ، وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ".

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي، بيشکه نبی ﷺ لرى ني کړه پرده او خلک په صفونو کښي وو وروسته د ابوبکر نه، هغه وفرمائيل: بيشکه نه دی پاتي شوی د زيرو د نبوت نه مگر رښتني خوب چي ويني هغې لره مسلمان او يا ليدلی شی د هغه دپاره، او زه منع کړی شوی يم چي قرأت وکړم په رکوع کښي او په سجده کښي، هر چي رکوع ده نو تعظيم د رب وکړئ په هغې کښي، او هر چي سجده ده نو کوشش د دعاء وکړئ، نو لائقه ده چي ستاسو دعا قبوله شي.

تشريح: قوله: ان النبی ﷺ کشف الستارة والناس صفوف خلف ابی بکر :

دا د حضور ﷺ د مرض وفات قصه ده په کوم کښي چه حضور ﷺ د خپل فرض مونځونو امامت صديق اکبر رضی الله عنه ته سپارلي وو غالباً دا د دوشنبې (گل) په ورځ کومه چه د وفات ورځ ده په دې کښي د سحر د مانځه قصه ده چه صديق اکبر رضی الله عنه په مسجد نبوی کښي مونځ ورکولو نو حضور ﷺ د حجرې شريفې دروازې ته چه کومه پرده زوړنده وه هغه ئې لرې کړه او د خلقو صديق اکبر رضی الله عنه پسې دمونځ کولو آخری نظاره ئې اوفرمائيله.

قوله: لم يق من مبشرات النبوة الا الرؤيا الصالحة :

د حديث شرحه :

مبشرات په کسرې د شين سره زيرې يعنی نبی ته په حالت د نبوت کښي د دې په ژوند کښي کوم زيرې (د دينه مراد مطلق پيښيدونکي کارونه او خبرې دی) په کومو ذريعو سره چه معلوميږی په هغه ذريعو کښي اوس څه ذريعه به پاتي نه وی سوا د رښتونې خوبونو نه، (۲) هغه ذرائع درې دی، وحی، الهام، روياء صادقه، دلته مقصود صرف د وحی د انقطاع بيانول دی چه زما د مرگ نه پس اوس وحی د کومې په ذريعې سره چه به د پټو کارونو علم کيدو پريکيدونکي دي البته خوبونو نه به پاتي وی، الهام اگر که اوس هم پاتي دي خو هغه د هر چا دپاره نه دي بلکه د خواصو او اولياء دپاره دي نو څکه دي لره نظر انداز کړې شو، (سندهی علی النسائی، ص ۱۴۰) ددې حديث نه معلومه شوه چه د خوبونو په ذريعې سره دغني کارونو انکشاف (ښکاره والي) کيږی په څه سره چه يقيناً يوه نوع تسلی او راهنمائی حاصليږی، باقی په احکام شرعيه کښي خوب معتبر نه دې چه هغه شرعی حجت نه دې.

(۱): صحيح مسلم/الصلاة ۴۱ (۴۷۹)، سنن النسائي/التطبيق ۸ (۱۰۴۶)، ۶۲ (۱۱۲۱)، سنن ابن ماجه/تعبير الرؤيا ۱ (۳۸۹۹)، (تحفة الأشراف: ۵۸۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۹/۱)، (۱۹۰۰)، سنن الدارمي/الصلاة ۷۷ (۱۳۶۴) (صحيح)

(۲) د مبشراتو اطلاق خو په خوبونو باندې کيږی خو دلته په ظاهر کښي لازمی معنی مراده ده (ذرائع دعلم) گينی د مستثنی او مستثنی منه اتحاد به لازم شی، کما هو ظاهر، ۱۲ منه.

قوله يراها المسلم او ترى له : كله سړي په خوب كښې د خپل ځان په باره كښې وينې او كله د دهٔ په باره كښې بل څوك خودلې كيږي، و الى نهيت ان اقرا راكعًا او ساجدًا، په ركوع او سجدو كښې انتهائى دذلت او ښكته والى اظهار وى نو تسبيح خو دې حال سره مناسب ده چه سړي خپل ذلت او ښكته والى اقرار او اظهار سره د الله تعالى د دهٔ نه منزه كيدل ظاهر كړي، باقى قرآن كريم خو د الله كلام دې او د هغه صفت دې او د قرآن قاري گويا د الله تعالى سره هم كلام كيدل دى، نو دا هيئت د ذلت او ښكته والى دې هم كلامئى سره مناسب نهٔ دى نو ځكه په دې حالت كښې د تلاوت نه منع كړې شوې ده.

قوله، يتاؤل القرآن : تاؤل په معنى د عمل يعنى تفسير بالعمل او دقرآن نه مراد د سوره نصر آيت شريفه فسبح بحمد ربك واستغفره، دا دعا د حنفيه په نزد باندې په نوافلو باندې محمول ده اويا د حضور ﷺ خصوصيت دې.

[۸۷۷](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ".

ترجمه: د عائشې ؓ نه روايت دې هغې ويلې دي: وو رسول الله ﷺ چې زيات به ئې وئيله په خپله ركوع او سجده كښې: پاكي ده تالره اى الله ربه زمونږ او تالره ثنا ده، اى الله ماته بخښنه وكړې، عمل به ئې كولو په قرآن باندې.

[۸۷۸](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ". زَادَ ابْنُ السَّرْحِ: "عَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ".

ترجمه: د ابو هريره ؓ نه روايت دې، بيشكه نبى ﷺ وو چې وئيل به ئې په خپله سجده كښې: اې الله وبخښې ماته زما ټوله گناه، وړه او غټه، اولنۍ او اخيرنۍ. زيادت كړې دى ابن السرح: (علانيته و سره) ښكاره او پټه.

[۸۷۹](٣)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَلَمَسْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا هُوَ "سَاجِدٌ وَقَدَمَاهُ مَنْصُوبَتَانِ، وَهُوَ يَقُولُ: أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَأَعُوذُ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ".

---

١): صحيح البخاري/الأذان ١٢٣ (٧٩٤)، ١٣٩ (٨١٧) والمغازي ٥١ (٤٢٩٣)، وتفسير سورة النصر ١ (٤٩٦٧)، ٢ (٤٩٦٨)، صحيح مسلم/الصلاة ٤٢ (٤٨٤)، سنن النسائي/التطبيق ١٠ (١٠٤٨)، ٦٤ (١١٢٣)، ٦٥ (١١٢٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٠ (٨٨٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣/٦، ٤٩، ١٩٠) (صحيح)

٢): صحيح مسلم/الصلاة ٤٢ (٤٨٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٦٦) (صحيح)

٣): صحيح مسلم/الصلاة ٤٢ (٤٨٦)، سنن النسائي/الطهارة ١١٩، باب ١٢٠ (١٦٩)، والتطبيق ٤٧ (١١٠١)، ٧١ (١١٣١)، والاستعاذة ٦٢ (٥٥٣٦)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٣ (٣٨٤١)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٠٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القرآن ٨ (٣١)، مسند احمد (٥٨/٦، ٢٠١) (صحيح)

ترجمه: د عائشي ﷺ نه روايت دې هغې ويلي دي: ما بيانه موندلو رسول الله ﷺ يوه شپه، ما د کور مسجد ولټولو ناڅاپه هغه ولاړ وو او خپې ئې ولاړې وې، او هغه به وئيل: زه پناه نيسم ستا په رضا سره ستا د غوسې نه، او زه پناه نيسم ستا په معافاة سره سره د عذاب نه، او زه پناه نيسم په تاسره ستانه، زه نشم شمارلی ثنا په تا باندې لکه څنګه چې تا په خپل ځان باندې ثنا ويلي ده.

باب الدعاء في الصلاة

باب دې په بيان د دعاء کې په مانځه کې

[۸۸۰]([1])حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَدْعُو فِي صَلَاتِهِ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ" فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ: مَا أَكْثَرَ مَا تَسْتَعِيذُ مِنَ الْمَغْرَمِ، فَقَالَ: "إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ".

ترجمه: د عروة نه روايت دې بيشکه عائشي ورته خبر ورکړی دی، بيشکه رسول الله ﷺ وو چې دعاء ئې کوله په خپل مانځه کښې: اې الله زه پناه غوارم په تاسره د عذاب د قبر نه، او زه پناه نيسم په تاسره د فتنې د مسيح الدجال نه، او زه پناه نيسم په تاسره د فتنې د ژوند او د مرګ نه، اې الله زه پناه نيسم په تا پورې د ګناه نه او قرض نه، نو هغه ته يو ويونکې وويل: څه ډيره پناه غوارې د قرض نه؟ نو هغه وويل: بيشکه سړی چې کله قرضداری شي خبرو کښې دروغ وائي، او وعده کوي او خلاف ترېنه کوي.

[۸۸۱]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ تَطَوُّعٍ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ النَّارِ، وَيْلٌ لِأَهْلِ النَّارِ".

ترجمه: عبد الرحمن بن ابی ليلی د خپل پلار نه روايت کوي، هغه وايي: ما مونځ وکړو وروسته د رسول الله ﷺ نه په نفل مونځ کښې، ما د هغه نه واوريدل چې وئيل يې: زه پناه غوارم د الله پورې د اور نه، تباهي ده د اور والاو دپاره.

[۸۸۲]([3])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ وَقُمْنَا مَعَهُ، فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ فِي الصَّلَاةِ: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي، وَمُحَمَّدًا، وَلَا تَرْحَمْ مَعَنَا أَحَدًا، فَلَمَّا سَلَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِلْأَعْرَابِيِّ: "لَقَدْ تَحَجَّرْتَ وَاسِعًا يُرِيدُ رَحْمَةَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې هغه وئيلي دي: ودريدلو رسول الله ﷺ مانځه ته او

[1]: صحيح البخاري/الأذان ١٤٩ (٨٣٢)، الاستقراض ١٠ (٢٣٩٧)، صحيح مسلم/المساجد ٢٥ (٥٨٩)، سنن النسائي/السهو ٦٤ (١٣١٠)، الاستعاذة ٩ (٥٤٥٦)، (تحفة الأشراف: ١٦٤٦٣)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الدعوات ٧٧ (٣٤٩٥)، مسند احمد (٨٨/٦، ٨٩، ٢٤٤) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ١٧٩ (١٣٥٢)، (تحفة الأشراف: ١٢١٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٧/٤) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم (٣٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٣٤٣) (صحيح)

مونږ و۔ ېدلو د هغه سره، نو وويل يو باندې چې په مانځه کښې اې الله په ما رحم وکړې او په محمد باندې او رحم مه زمونږ سره په بل چا باندې. هرکله چې رسول الله ﷺ سلام وګرځولو ويې وئيل باندې چې ته يقيناً تا کم کړو پراخه اراده ئې د الله رحمت وو

تشريح: قوله:حدثنا احمد بن صالح، قوله، فقال اعرابي في الصلوة اللهم ارحمني و محمدا و لا ترحم معنا احدا : دا حديث په کتاب الطهارت کښې په باب الارض يصيبها البول د لاندې تير شوې دې دا هم هغهٔ اعرابي دې کوم چه په جومات کښې متيازې کړې وې، ددې اعرابي په تعين کښې د علماء کرامو اقوال په تقرير ابوداؤد، ص ۴۶۵ ج ۱، کښې تير شوي دي

[۸۸۳](١)حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا قَرَأَ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى سورة الأعلى آية ١ قَالَ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى". قَالَ أَبُو دَاوُد: خُولِفَ وَكِيعٌ فِي هَذَا الْحَدِيثِ. وَرَوَاهُ أَبُو وَكِيعٍ، وَشُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَوْقُوفًا.

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ وو چې کله به ئې ولوستلو سبح اسم ربکَ الاعلى، نو هغه به وئيل سبحان ربى الاعلى. وئيلى دى ابوداود د وکيع مخالفت شوى دى په دې حديث کښې او روايت کړى دى ددې ابو وکيع او شعبه د ابو اسحاق نه او هغوى د سعيد بن جبير نه او هغه د ابن عباس نه په طريقه د وقف سره، يعنې (موقوف) دى

تشريح: قوله: كان اذا قراء سبح اسم ربك الاعلى قال سبحان ربي الاعلى : يعنى د سورت په ختميدو باندې به ئې دا وئيل يا دا چه سمدستى به ئې ددې آيت نه پس هغه وخت وئيل، اوس ظاهره خو دا ده چه دا لوستل عام دى په صلوة او خارج صلاة دواړو ته، په عون المعبود کښې دخنى شراحو (مظهر) نه نقل کړى دى چه د امام شافعي رحمه الله په نزد دا قسم څيزونه په مانځ کښې دننه هم جائز دى او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په مانځه کښې دننه هم جائز نهٔ دى او توريشتي رحمه الله وائى چه هم دغه شان د امام مالك رحمه الله په نزد هم په نوافلو کښې جائز دې او حضرت رحمه الله په بذل کښې ليکلي دى، لعل هذا كان خارج الصلوة او في النوافل

دلته دا سوال دې چه ددې حديث د باب سره څهٔ مناسبت دې يعنى دعاء في الصلاة سره، په دې کښې خوڅه دعاء نهٔ ده ذکر، جواب دا کيدې چه په دې کښې تسبيح خو ذکر ده، والثناء على الكريم دعاءٌ، وفي الحديث افضل الدعاء الحمد لله

[۸۸۴](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ يُصَلِّي فَوْقَ بَيْتِهِ، وَكَانَ إِذَا قَرَأَ أَلَيْسَ ذَلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى سورة القيامة آية ٤٠ قَالَ: "سُبْحَانَكَ فَبَلَى". فَسَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ أَحْمَدُ: يُعْجِبُنِي فِي الْفَرِيضَةِ أَنْ يَدْعُوَ بِمَا فِي الْقُرْآنِ.

ترجمه: د موسى بن ابى عائشه نه روايت دې هغه وئيلى دې. وو يو سړى چې مونځ ئې کولو دپاسه د کور خپل نه او وو چې کله به ئې ولوستلو (اليس ذلک بقادرٍ على ان يحيِيَ الموتى) هغه به

(١): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٥٦١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٢، ٣٧١) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٥٦٨٠) (صحيح)

ونیل سبحانک قبلی، نو هغوی تپوس وکړو د هغه نه د دغې په باره کښې، هغه وویل ما اوریدلی دی هغې لره د رسول الله ﷺ نه. ونیلی دی ابوداود: ونیلی دی احمد زه خوښوم په فرضو کښې چې دعاء وکړی شی په هغه څه سره چې څه په قرآن کښې دي.

تشریح: قوله:قال ابوداؤد و قال احمد (١) یعجبنی فی الفریضة ان یدعوَ بما فی القرآن.

د امام احمد رحمه الله د کلام تشریح

حضرت ددې شرح دا فرمائیلې ده چه ما ته دا خبره زیاته خوښه ده چه په فرض مونځونو کښې د قرآن دعاګانې اولولم اګر چه دا هم جائز ده چه هغه دعاګانې دې اولوستلې شی کومې چه په حدیث کښې راغلې دی او په عون المعبود کښې ئې لیکلې دی چه د امام احمد رحمه الله په کلام کښې دوه احتماله دی یو دا چه ددې نه مراد دعاء بعد التشهد قبل التسلیم ده، دویم احتمال دا دې چه مونځ کونکې کله په مانځه کښې قرأت کوی خواه که فرض مونځ وی یا نفل نو چه کله د رحمت آیاتونو ته اورسی نو هغه وخت دې دعاء د رحمت او چه کله آیاتونو د تسبیح ته اورسی نو تسبیح او چه کله آیاتونو د عذاب ته اورسی نو د هغې نه دې پناه غوښتل مراد دی، هغهٔ وائی چه هم دا د امام احمد او امام شافعی مسلك دې، امام بیهقی په دې باندې په معرفة السنن کښې مستقل باب قائم کړې دې، باب الوقوف عندآیة الرحمة و آیة العذاب، لکه چه په حدیث د حذیفه کښې وارد دی کوم چه په صحیح مسلم کښې دی د امام شافعی په نزد ددې استحباب عام دې تر دې چه د جماعت په مانځه کښې د امام او مقتدی دپاره هم.(٢)

باب مِقْدَارِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

باب دې په بیان د مقدار د رکوع او د سجده کښې

[٨٨٥](٣)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْجُرَيْرِيُّ، عَنِ السَّعْدِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَوْ عَنْ عَمِّهِ، قَالَ: رَمَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاتِهِ "فَكَانَ يَتَمَكَّنُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ قَدْرَ مَا يَقُولُ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ثَلَاثًا".

ترجمه: سعدی د خپل پلار او یا د خپل تره نه روایت کوي، هغه ونیلی دي ما وکتل نبی ﷺ ته د هغه په مونځ کښې، نو هغه به کوله رکوع او سجده په اندازه د هغې چې سړی وایي: سبحان الله و بحمده درې ځل.

١) زه وایم چه دا خو د امام احمد رحمه الله قول دې او د امام مالك رحمه الله قول د باب مایستفتح به الصلاة من الدعاء په ذیل کښې داسې تیر شوی دې، قال مالك لا باس بالدعاء فی الصلاة فی اوله و اوسطه و فی آخره فی الفریضة و غیرها، په دې باندې کلام هلته تیر شوی دې ١٢ منه

٢) قلت قال النووی (ص ٢٦٤) تحت حدیث اذا مر بآیة فیها تسبیح سبح و اذا مر بسوال سال. الخ، فیه استحباب هذه الامور لکل قاریٔ فی الصلاة او غیرها و مذهبنا استحبابه للامام والماموم والمنفرد.اهـ

٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٨/٥، ١٦١، ١٧٦، ٢٥٣، ٢٧١، ٧٥) (صحیح)

[٨٨٦]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَرْوَانَ الْأَهْوَازِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، وَأَبُو دَاوُدَ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ يَزِيدَ الْهُذَلِيِّ، عَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ وَذَلِكَ أَدْنَاهُ، وَإِذَا سَجَدَ فَلْيَقُلْ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثًا وَذَلِكَ أَدْنَاهُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا مُرْسَلٌ، عَوْنٌ لَمْ يُدْرِكْ عَبْدَ اللَّهِ.

ترجمه: د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې هغه وئیلی دی، چې فرمائیلی دی رسول الله ﷺ کله چې رکوع کوی یو کس ستاسو نه نو وایی دې درې ځل: سبحان ربی العظیم، او دایی کمه مرتبه ده، او چې کله سجده کوی نو ودې وایی سبحان ربی الاعلی درې ځل، او دایی کمه مرتبه ده. وئیلی دی ابوداود: دا مرسل دی، عون عبد الله نه دی موندلی.

تشریح: قوله: حدثنا عبد الملك بن مروان........ و ذالك ادناه:

د تسبیح په عدد کښې د علماؤ اقوال

فقهاء لیکی چه د تسبیح د عدد مسنون درجات دی، دری کرته د سنت ادنی درجه ده او پنځه کرته اوسط او اووۀ کرته اکمل، لهذا د دریو کرتو نه کمې کول مکروه تنزیهی دی (طحطاوی،ص : ۲۱۴ ، شامی، ص : ۴۷۶) او قاضی ابوالحسن ماوردی فرمائی چه د کمال درجه نهۀ کرته یا یولس کرته دی او اوسط پنځه کرته، او امام ترمذی د ابن المبارك او اسحاق بن راهویه نه نقل کړې دی، انه یستحب خمس تسبیحات للامام، او صاحب منهل د ابن القیم نه نقل کړې دی چه د حضور ﷺ معتاد رکوع به په اندازه د لسو تسبیحاتو وه هغوی فرمائی چه د دریو تسبیحاتو روایت ثابت نۀ دې د صحیح احادیثو نه خلاف دې، چنانچه د حدیث الباب په سند کښې سعدی راوی مجهول دې او د حضرت انس رضی الله عنه نه منقول دی چه د عمر بن عبدالعزیز مونځ به د حضور ﷺ مونځ سره ډیر مشابه وو، و کان مقدار رکوعه و سجوده عشر تسبیحات.

[٨٨٧]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ، سَمِعْتُ أَعْرَابِيًّا، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَرَأَ مِنْكُمْ وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ فَانْتَهَى إِلَى آخِرِهَا أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ سورة التين آية ٨ فَلْيَقُلْ: بَلَى، وَأَنَا عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ، وَمَنْ قَرَأَ لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَانْتَهَى إِلَى أَلَيْسَ ذَلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى سورة القيامة آية ٤٠ فَلْيَقُلْ: بَلَى، وَمَنْ قَرَأَ وَالْمُرْسَلَاتِ فَبَلَغَ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ سورة المرسلات آية ٥٠ فَلْيَقُلْ: آمَنَّا بِاللَّهِ". قَالَ إِسْمَاعِيلُ: ذَهَبْتُ أُعِيدُ عَلَى الرَّجُلِ الْأَعْرَابِيِّ وَأَنْظُرُ لَعَلَّهُ، فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، أَتَظُنُّ أَنِّي لَمْ أَحْفَظْهُ، لَقَدْ حَجَجْتُ سِتِّينَ حَجَّةً مَا مِنْهَا حَجَّةٌ إِلَّا وَأَنَا أَعْرِفُ الْبَعِيرَ الَّذِي حَجَجْتُ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابو هریره رضی الله عنه وئیلی دی، چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دي: چا چې ولوستلو ستاسو نه و التین و الزیتون، نو ورسیدلو اخیر د هغې ته (الیس الله بأحکم الحاکمین) نو ودې وایي: بلَی و انا علی ذلک من الشاهدین، او چا چې ولوسته: لا اقسم بیوم القیامة، او ورسیدو (الیس ذلک بقادرٍ علی ان یحییَ الموتی) ته، نو ودې وائی، بلی، او چا چې ولوستلو و المرسلات او ورسیدو

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ٨٢ (٢٦١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٠ (٨٩٠)، (تحفة الأشراف: ٩٥٣٠) (ضعيف)
[2]: سنن الترمذي/التفسير ٨٣ (٣٣٤٧)، مسند احمد ٢/٢٤٩، (تحفة الأشراف: ١٥٥٠٠) (ضعيف)

(فبأي حديث بعده يؤمنون) ته نو ودې وايي آمنّا بالله. وئيلي دی اسماعيل زه شروع شوم اعاده مې کوله په هغه اعرابی سرې باندې، او ما کتل کيدی شی چې هغه خطا شوی وي، نو هغه ووېل: اې واوره ته گمان کوی په ما باندې چې ما نه دی ياد کړی، بيشکه ما شپيته حجونه کړی دي، نشته هېڅ يو حج مگر زه پيژنم هغه اوښ چې ما وړباندې حج کړی دی.

تشريح: قوله: قال اسماعيل ذهبت اعيد على الرجل الاعرابي و انظر لعله فقال يا ابن اخي اتظن اني لم احفظه لقد حججت ستين حجة، الخ،

د قوت حافظې يو عجيب مثال

اسماعيل بن اميه دا حديث د يو اعرابی نه اوريدلی وو څۀ ورځې روستو هغوی ددې اعرابی امتحان اغستلو په غرض سره چه اوگورم چه دۀ ته دا حديث اوس هم ياد دې او که نۀ په دويم ځلې دوئ د دۀ دا حديث اوريدل اوغوغتل نو هغه اعرابی پوهه شو چه زما امتحان اغستل غواړی نو هغۀ ورته اووئيل، اې زما گرانه وراره ستا خيال دې چه ما به دا حديث هير کړې وی، گوره، تراوسه پورې ما په خپل عمر کښې شپيتۀ حجونه کړې دی هر کال په کوم اوښ باندې چه ما حج کړې دې هغه چه اووينم نو اوبه ئې پيژنم چه ما په دۀ باندې په فلانکی کال باندې حج کړې وو او په دې بل باندې مې په فلانکی کال باندې او په دې دريم باندې په فلانکی کال باندې الی اخره، سبحان الله چه د يو اعرابی غير مشهور محدث دا حال دې نو د مشاهير او اکابرين محدثينو به څۀ حال وی، ليکې چه حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله ته لس لاکهه حديثونه ياد وو او امام ابوذرعه رازی رحمه الله ته اووۀ لاکهه، الله پاك د خپل رسول د کلام د حفاظت دپاره څنگه محدثين او لوئې عالمان فقهاء پيدا کړې دی.

[۸۸۸]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَابْنُ رَافِعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُمَرَ بْنِ كَيْسَانَ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ وَهْبِ بْنِ مَانُوسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْبَهَ صَلَاةً بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هَذَا الْفَتَى، يَعْنِي عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ: "فَحَزَرْنَا فِي رُكُوعِهِ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ، وَفِي سُجُودِهِ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ: قُلْتُ لَهُ: مَانُوسٌ أَوْ مَابُوسٌ، قَالَ: أَمَّا عَبْدُ الرَّزَّاقِ فَيَقُولُ: مَابُوسٌ، وَأَمَّا حِفْظِي: فَمَانُوسٌ، وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ رَافِعٍ. قَالَ أَحْمَدُ: عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ.

ترجمه: سعيد بن جبير وايی ما اوريدلی دی د انس بن مالک نه هغه به وئيل ما مونځ نه دی کړی وروسته د هېچا نه بعد د رسول الله ﷺ نه چې هغه مشابه وی په مونځ کښې د رسول الله ﷺ سره ددې ځوان نه. يعنی عمر بن عبد العزيز. هغه وايي مونږ اټکل وکړو د هغه په رکوع کښې د لسو تسبيحاتو، او په سجده د هغه کښې د لسو تسبيحاتو. وئيلي دی ابوداود: وئيلی دی احمد بن صالح ما ووېل هغه ته مانوس او که مابوس، هغه ووېل: عبد الرزاق مابوس وائی، او زما حفظ مانوس دی، او دا لفظ د ابن رافع دی، وئيلی دی احمد د سعيد بن جبير نه او هغه د انس بن مالک نه.

---

[1]: سنن النسائي/التطبيق ٧٦(١١٣٦)، (تحفة الأشراف: ٨٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٦٢-١٦٣) (ضعيف)

تشريح: قوله: فحزرنا في ركوعه عشر تسبيحات و في سجوده عشر تسبيحات : دا هم هغه روايت دې د کوم حواله چه زمونږ په نزد وړاندې تيره شوې ده د کومې په بناء باندې چه حافظ ابن قيم رحمه الله فرمائي چه د حضور ﷺ عادت شريفه په رکوع او سجدو کښې لس تسبيحات وو. علامه شوکاني هم د تسبيح په مقدار کښې د يو معين عدد قائل نه دې او وائي، بل ينبغي الاستکثار من التسبيح على مقدار تطويل الصلوة من غير تقييد بعدد، دغه شان هغوی ليکي چه د تسبيح په طاق کيدو باندې څۀ دليل نشته دې.
خو زۀ وايم چه عام طور باندې فقهاؤ د عدد په وتر باندې استحباب ذکر کړې دې او ددې حديث جواب دا کيدې شي چه دا خو د باب د تخمين (اندازې) نه دې نۀ د تحديد نه، بله دا چه ډيرو وختونو کښې کسر حذف کولې هم شي.

باب في الرجل يدرك الإمام ساجدا كيف يصنع

باب دې په بيان د سړي کښې چې امام په سجده کښې بياموځي نو څه به کوي؟

يعنې د روستو راتلونکې سړی امام لره په حالت د سجدې کښې اومومي نو آيا نيت دې اوتړی او هغه سره دې په سجده کښې شريك شي يا د هغه د اودريدو انتظار دې اوکړی.

[٨٩٣]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْحَكَمِ حَدَّثَهُمْ، أَخْبَرَنَا نَافِعُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي الْعَتَّابِ، وَابْنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جِئْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ وَنَحْنُ سُجُودٌ فَاسْجُدُوا وَلَا تَعُدُّوهَا شَيْئًا، وَمَنْ أَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلي دی، وئيلي دی رسول الله ﷺ: کله چې تاسو مانځه ته راشئ او مونږ په سجده کښې يو نو تاسو هم سجده وکړئ، او تاسو هغې لره هيڅ مه شمارئ، او چا چې رکوع بيامونده نو هغه مونځ بياموندلو.

تشريح: قوله: اذا جئتم الى الصلاة و نحن سجود فاسجدوا.. الخ :
د حديث نه معلوميږي چه راتلونکې سړې دې د امام د قيام انتظار نۀ کوی بلکه په سجده کښې دې شريك شي دې دپاره چه د سجدې فضيلت ورته حاصل شي اگر که په سجدې موندلو سره د رکعت موندل نۀ کيږی.

د يوې سجدې فضيلت

خو که د الله په نزد باندې دا سجده قبوله شوه نو بيا به ئې څۀ وائي، چنانچه په جامع ترمذی، ص ٧٦ کښې دی، اختار عبدالله بن المبارك ان يسجد مع الامام و ذكر عن بعضهم فقال لعله لا يرفع راسه من تلك السجدة حتى يغفر له، هم دا يوه سجده د مغفرت سبب کيدې شي.

قوله: و من ادرك الركعة فقد ادرك الصلوة،

[1]: تفرد به أبو اود، (تحفة الأشراف: ١٢٩٠٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المواقيت ٢٩ (٥٨٠)، صحيح مسلم/المساجد ٣٠ (٦٠٧)، سنن النسائي/المواقيت ٢٩ (٥٥٤)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٩١ (١١٢٢)، موطا امام مالك/وقوت الصلاة ٣(١٥)، مسند احمد (٢/٢٤١، ٢٦٥، ٢٧١، ٢٨٠، ٢٧٥، ٣٧٦)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٢ (١٢٥٦) (حسن)

ادراك د ركوع مع الامام سره په ادراك د ركعت كېدو د علماؤ اختلاف

يعنى امام په ركوع كښې موندلو سره ركعت موندلې كيږي د جمهورو علماؤ او د ائمه اربعه مذهب هم دا دې،[1] ظاهريه او څنې شوافع لره په دې كښې اختلاف دې د دوئ په نزد باندې ادراك دركوع مع الامام سره ادراك د ركعت نۀ كيږي، په منهل كښې ئې ليكلې دى چه هم دې لره اختيار كړې دې ابن خزيمه او طيبى وغيره محدثين د شوافع او امام بخارى فرمائى چه هم دا د هغه صحابه كرامو مذهب دې كوم چه د فاتحه خلف الامام د فرضيت قائل وو، لكه ابوهريره رضى الله عنه او ددې بالمقابل دابن ابى ليلى او سفيان ثورى نه منقول دى كه روستو راتلونكې د امام د ركوع نه سر پورته كولو نه وړاندې د امام په اقتداء كښې تكبير تحريمه اووائى اګركه د امام سره په ركوع كښې شريك نۀ شى بلكه روستو ركوع اوكړى نو دې سره هم ادراك د ركعت كيږي.

د جمهورو دليل حديث الباب دې دا شان نور هم د دينه علاوه څنې روايات په صحيح ابن حبان او ابن خزيمه كښې دى كوم چه صاحب منهل ذكر كړې دى.

بَابُ أَعْضَاءِ السُّجُودِ

باب دې په بيان د اندامونو د سجده كې

[۸۸۹]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أُمِرْتُ". قَالَ حَمَّادٌ: أُمِرَ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنْ يَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةٍ، وَلَا يَكُفَّ شَعْرًا وَلَا ثَوْبًا".

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت كوى هغه د نبى ﷺ نه روايت كوي، هغه ونيلى دي: ماته امر شوى دى، ونيلى دى حماد: امر شوى دى ستاسو نبى ﷺ ته، چې سجده وكړى په اوو باندې، او نه بندوى څپل ويخته او جامه.

تشريح: **قوله**:ان سجد على سبعة... احناف وائى چه د سجدو حقيقت وضع الوجه على الارض دى بيا په وجه كښې دوه جزء دى جبهه (تندې) او انف خو په دې دوارو كښې اصل تندې دې نو ځكه اقتصار على الجبهه خو جائز دې خو بلا عذره مكروه دې، خو اقتصار على الانف جائز نۀ دې د جمهورو او صاحبينو هم دا مذهب دې، خو د امام صاحب په نزد باندې اقتصار على الانف هم مع الكراهية جائز دې، د دينه علاوه شپږ اعضاء كوم چه په حديث

---

[1]) خو په دې كښې اختلاف كيږي چه امام سره په ركوع كښې د شركت څومره مقدار معتبر دې، داكثر علماء او ائمه ثلاثه په نيز د نفس شركت تحقق بس دې حقيقت د ركوع يعنى په زنګونو پورې لاسونه رسول د امام د سر پورته كولو نه وړاندې، او د امام شافعى رحمه الله په نيز باندې د اطميان حاصليدل ضرورى دى.) ۱۲ منه

[2]): صحيح البخاري/الأذان ۱۳۳ (۸۰۹)، ۱۳٤ (۸۱۰)، ۱۳۷ (۸۱٦)، ۱۳۸ (۸۱٦)، صحيح مسلم/الصلاة ٤٤ (٤۹۰)، سنن الترمذي/الصلاة ۹۱ (۲۷۳)، سنن النسائي/التطبيق ٤۰ (۱۰۹٤)، ٤۳ (۱۰۹۷)، ٤٥ (۱۰۹۹)، ٥٦ (۱۱۱٦)، ٥۸ (۱۱۱٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹ (۸۸۳)، (تحفة الأشراف: ٥۷۳٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۲۱، ۲۲۲، ۲٥٥، ۲۷۰، ۲۷۹، ۲۸۰، ۲۸٥، ۲۸٦، ۲۹۰، ۳۰٥، ۳۲٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۷۳ (۱۳٥۷) (صحيح)

کښې مذکور دی، یدین، رکبتین، قدمین، په سجده کښې ددې ایښودل په طریقې د سنت دی، [1] هم دا د حنفیانو او مالکیو او یو قول د شافعیه دې خو د امام شافعي رحمه الله اظهر د قولینو نه او د امام احمد رحمه الله مذهب دا دې چه په دا اووهٔ اعضاء کوم چه په حدیث کښې مذکور دی په زمکه باندې ایښودل فرض دی او هم دا د امام زفر رحمه الله مذهب دې، په بدائع کښې لیکلي دی چه په کتاب الله کښې د مطلق سجدو حکم وارد دې چه دهغې حقیقت وضع الوجه علی الارض دې لهذا ددې مطلق حکم تقید به د خبر واحد په ذریعې سره جائز نهٔ وی بلکه دا باقی اعضاء کوم چه په حدیث کښې مذکور دی بیان د سنت به ورته وئیلې شي.

اشکال او جواب

دې ځائې کښې یو سوال کیږی چه د احنافو فقهاء لیکی چه که یو سړې د سجدې په حالت کښې دواړه پښې په زمکه باندې کینږدی نو دهٔ سجده باطله ده نو د دینه معلومه شوه چه وضع القدمین هم په حقیقت د سجدو کښې داخل دې، ددې جواب دا دې چه په حقیقت کښې خو داخل نهٔ دې خو چونکه رفع د قدمینو سره سجده کولو که سخریه او د استهزاء معنی پیدا کیږی نو ځکه د مونځ د بطلان حکم لګولې کیږی.

[۸۹۰]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أُمِرْتُ" وَرُبَّمَا قَالَ: "أُمِرَ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ آرَابٍ".

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې هغه روایت کوی د نبی صلی الله علیه وسلم نه، هغه فرمائیلی دي: ماته امر شوی دی، او کله به ئې وئیل: امر شوی دی ستاسو نبی صلی الله علیه وسلم ته چې سجده وکړی په اوه اندامونو باندې.

[۸۹۱]([3])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَكْرٌ يَعْنِي ابْنَ مُضَرَ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا سَجَدَ الْعَبْدُ سَجَدَ مَعَهُ سَبْعَةُ آرَابٍ: وَجْهُهُ وَكَفَّاهُ وَرُكْبَتَاهُ وَقَدَمَاهُ".

ترجمه: د عباس بن عبد المطلب نه روایت دې بیشکه هغه اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چې هغه به وئیل: کله چې سجده کوی بنده نو سجده کوی د هغه سره اوه اندامونه، مخ د هغه، دوه ورغوی د هغه، او دوه زنګونان د هغه، او دوه خپې د هغه.

[1]) قول فقهاء خو هم دا لیکی چه د باقی شپږو اعضاؤ په زمکه باندې ایښودل فرض نهٔ دی خو سوال دا دې که رکبتین او قدمین دا دواړه په زمکه باندې کینښودلې شي نو بیا خو حقیقت دسجدو یعنی وضع علی الجبهة علی الارض په ظاهر کښې ممکن نهٔ ده نو ځکه په کوکب الدری کښې په یو ځائې کښې لیکلي دي چه اګر که حقیقت د سجدو وضع الجبهة علی الارض دې خو د کومو اعضاؤ نه بغیر چه ددې تحقق نهٔ شي کیدې نو د هغې ایښودل به هم دې سره فرض منلې کیږی. ۱۲ منه

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۷۳٤) (صحيح)

[3]): صحيح مسلم/الصلاة ٤٤ (٤٩١)، سنن الترمذي/الصلاة ٩١ (٢٧٢)، سنن النسائي/التطبيق ٤١ (١٠٩٥)، ٤٦ (١١٠٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩ (٨٨٥)، (تحفة الأشراف: ٥١٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٠٦٧١) (صحيح)

[۸۹۳] ([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَفَعَهُ، قَالَ: "إِنَّ الْيَدَيْنِ تَسْجُدَانِ كَمَا يَسْجُدُ الْوَجْهُ، فَإِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ وَجْهَهُ فَلْيَضَعْ يَدَيْهِ، وَإِذَا رَفَعَهُ فَلْيَرْفَعْهُمَا".

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه روايت دې، هغه مرفوع کړی دی، هغه وئيلی دي: بيشکه دواړه لاسونه سجده کوی لکه څنګه چې مخ سجده کوي، کله چې يو کس ستاسو نه ږدي خپل مخ نو ږدې دی دواړه لاسونه، او چې کله اوچت کړی هغې لره نو دواړه دې اوچت کړي.

بَابُ السُّجُودِ عَلَى الْأَنْفِ وَالْجَبْهَةِ

باب دې په بيان د سجده کې په پوزه او په تندې

دا وړاندې تيرشو چه اصل په سجده کښې تندې دې د سجدې د صحت مدار په دې باندې دې خو سنت په هر حال کښې دا دې چه تندی سره پوزه هم په زمکه باندې کيږدی دا د جمهورو په نزد دی او د امام احمد او اسحاق بن راهويه او اوزاعی په نزد په دواړه باندې سجده کول واجب دی، مصنف چونکه حنبلی دی نو غالباً ځکه ئې دا ترجمه قائمه کړې ده.

[۸۹٤] ([2]) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رُئِيَ عَلَى جَبْهَتِهِ وَعَلَى أَرْنَبَتِهِ أَثَرُ طِينٍ مِنْ صَلَاةٍ صَلَّاهَا بِالنَّاسِ".

ترجمه: د ابو سعيد الخدری ﷺ نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ، وليدلی شو په تندې د هغه باندې او په پوزه د هغه باندې اثر د ختې د وجې د هغې مونځ نه چې هغه کړی وو خلقو ته.

تشريح: قوله: ان رسول الله ﷺ رؤی و علی وجبهته و علی ارنبته الر طين من صلوة صلاها بالناس:

يعنی د يو ځل قصه ده چه حضور ﷺ ديو مونځ کولو نه فارغ شو نو د هغوی په تندی او پوزه دواړو باندې د سجدې کولو د وجه نه خاوره لګيدلې اوليدلې شوه، ددې حديث نه معلومه شوه چه حضور ﷺ به سجده په تندی او پوزې دواړو سره کوله، خو ددې نه په وجوب باندې استدلال کول صحيح نه دی ځکه چه مجرد فعل د وجوب مقتضی نهٔ دې.

په حديث الباب کښې اختصار دې

دلته دا روايت مختصر دې روايت مفصله به په ابواب ليلة القدر کښې راشی چه د هغې مضمون دا دې چه په شروع کښې به د حضور ﷺ عادت د مبارکې مياشتې په عشره وسطیٰ کښې د اعتکاف کولو وو يو ځل داسې اوشو چه حضور ﷺ په دې عشره کښې اعتکاف اوفرمائيلو او آخری ورځ يعنی په شلمه نيته دوئ اوفرمائيل چه په دريمه عشره کښې هم د اعتکاف اراده ده ځکه چه دې ځل تر اوسه پورې شب قدر نهٔ دې موندلې شوې

[1]: سنن النسائي/التطبيق ۳۹ (۱۰۹۳)، (تحفة الأشراف: ۷۵٤۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٦) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الأذان ٤۱ (٦٦۹)، ۱۳۵ (۸۱۳)، ۱۵۱ (۸۳٦)، وليلة القدر ۲ (۲۰۱٦)، ۳ (۲۰۱۸)، والاعتكاف ۱ (۲۰۲۷)، ۹ (۲۰۳٦)، ۱۳ (۲۰٤)، صحيح مسلم/الصوم ٤۰ (۱۱٦۷)، سنن النسائي/التطبيق ٤۲ (۱۰۹٦)، والسهو ۹۸ (۱۳۵۷)، (تحفة الأشراف: ٤٤۱۹)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاعتكاف ٦ (۹)، مسند احمد (۳/۹٤)، ويأتي برقم: (۱۳۸۲) (صحيح)

لهذا ددې حاصلولو دپاره د آخرې عشرې اعتکاف هم کول دی.
حضور ﷺ اوفرمائيل چه ما ته دې کال د ليلة القدر دا علامت ښودلې شوی دی چه ددې په صبا به زۀ په اوبو او خاوره يعنې ختو کښې به سجده کوم چنانچه بيا دا اوشو چه د آخرې عشرې په رومبۍ شپه په مدينه منوره کښې باران اوشو او د مسجد نبوی د چهت نه اوبۀ د دوئ د سجدې په ځائې کښې اوڅڅيدلې دغه ځائې کښې ختې جوړې شوې بيا حضور ﷺ چه کله هغه ځائې کښې د صبا مونځ اوکړو نو په سجدې کولو سره د دوئ په تندی او پوزه باندې خاوره اولګيدله.

[٨٩٥]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، نَحْوَهُ.

ترجمه: مونږ. ته حديث بيان کړې دې محمد بن يحيى، هغه وايي مونږ. ته حديث بيان کړې دې عبد الرزاق د معمر نه پشان د هغې.

بَابُ صِفَةِ السُّجُودِ

باب دې په بيان د کيفيت د سجده کې

صفة په معنی د کيفيت او طريقه:

[٨٩٦]([2])حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: وَصَفَ لَنَا الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ "فَوَضَعَ يَدَيْهِ، وَاعْتَمَدَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، وَرَفَعَ عَجِيزَتَهُ، وَقَالَ: هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ".

ترجمه: د ابو اسحاق نه روايت دې، هغه وئيلی دې: طريقه بيان کړه مونږ. ته براء بن عازب، نو کيخوده هغه دواړه لاسونه او تکيا ئې وکړه په زنګونانو او اوچت ئې کړل خپل کوناټې. او هغه وويل: رسول الله ﷺ به داسې سجده کوله.

تشريح: **قوله**: وصف لنا البراء بن عازب فوضع يديه و اعتمد على رکبتيه و رفع عجيزته.. :
يعنې براء بن عازب رضی الله عنه د حضور ﷺ د سجدې طريقه په کولو سره اوښودله، پس لاسونه او زنګونونه ئې په زمکه باندې داسې کيخودل چه کوناټي او شا ئې لږ غوندې راوچت کړل او پورته ئې کړل د دينه معلومه شوه چه د سجدې مسنون طريقه دا ده چه ټول اعضاء جدا جدا وی ملا او کوناټي اوچت وی، دا د سرو دپاره او د ښځو په باره کښې خو دا ليکی چه هغوی لره په راغونديدلو سره سجده کول پکار دی پورته کيدل نۀ دې پکار د تستر د مصلحت نه.

[٨٩٧]([3])حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلَا يَفْتَرِشْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ الْكَلْبِ".

---

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٤١٩)
[2]): سنن النسائي/التطبيق ٥١ (١١٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٤١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٠٣) (ضعيف)
[3]): صحيح البخاري/المواقيت ٨ (٥٣٢)، والأذان ١٤١ (٨٢٢)، صحيح مسلم/الصلاة ٤٥ (٤٩٣)، سنن الترمذي/الصلاة ٩٣ (٢٧٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٨٩ (١٠٢٩)، والتطبيق ٥٠ (١١٠٤)، ٥٣ (١١١١)، (تحفة الأشراف: ١٢٣٧)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢١ (٨٩٢)، مسند احمد (٣/١٠٩، ١١٥، ١٧٧، ١٧٩، ١٩١، ٢٠٢، ٢١٤، ٢٣١، ٢٧٤، ٢٧٩، ٢٩١)، سنن الدارمي/الصلاة ٧٥ (١٣٦١) (صحيح)

ترجمه: د انس ﷛ نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ ويلي دي: تاسو برابر شئ په سجده کښې او نه دې خوروي يو کس ستاسو نه څنګلې خپلې په پشان د خورولو د سپي.

تشريح: **قوله**: ان النبي ﷺ قال اعتدلوا في السجود:

يعني په سجده کښې توسط اختيار کړئ نه خو دا چه د کفينو سره مرفقين هم په زمکه باندې خواره کړې او نۀ دا وي چه دا بيخي راغونډ کړې، حاصل دا چه نۀ خو دې ټول لاسونه خوارۀ وي او نۀ دا چه پوره قبض د يدينو اوکړې بلکه ذراعين مبسوط او مرتفع عن الارض وي او کفين مفترش على الارض وي او د ځنې حواشي نه معلوميږي چه د اعتدال د کوم چه اصلي معنى ميانه روي او توسط ده دلته مراد نۀ ده بلکه دا مراد ده چه سجده په صحيح طريقې سره کوئ او صحيح طريقه هم هغه ده کومه چه پورته اوليکلې شوه.

[۸۹۸]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَمِّهِ يَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ، عَنْ مَيْمُونَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا سَجَدَ جَافَى بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى لَوْ أَنَّ بَهْمَةً أَرَادَتْ أَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ".

ترجمه: د ميموني ﷝ نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ وو چې کله به ئې سجده کوله نو لرې والي به ئې راوستلو په مابين د لاسونو کښې، تردې چې که چيرې يو ځناور به اراده وکړه چې تېر شي لاندې د لاسونو د هغه نه نو هغه به تيريدې شو.

[۸۹۹]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنِ التَّمِيمِيِّ الَّذِي يُحَدِّثُ بِالتَّفْسِيرِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَلْفِهِ فَرَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ وَهُوَ مُجَخٍّ قَدْ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ".

ترجمه: د ابن عباس ﷠ نه روايت دې هغه وئيلي دي: زه راغلم نبي ﷺ د وروسته طرف نه، نو ما وليدلو سپينوالي د تخرګونو د هغه او هغه لرې ساتلي وو لاسونه خپل د اړخونو نه.

تشريح: **قوله**: عن ابن عباس رضي الله عنه قال اتيت النبي ﷺ من خلفه فرايت بياض ابطيه و هو مُجَخٍّ: د دېنه مقصود د سجدو د کيفيت بيان دې، د بياض ابطين په نظر راتلل هغه وخت کيدې شي کله چه لاس د اړخونو نه جدا وي، او په يو روايت کښې دي، کان اذا سجد جَخَّى، وړاندې په روايت کښې چه کوم راځي يعني، قد فرج يديه، دا د ماقبل تفسير دې، د رؤية ابطين په باره کښې په شرح کښې ليکي چه کيدې شي هغه وخت د حضور ﷺ د بدن په پورتنۍ حصه باندې څادر نۀ وو يا وو خو وړکوټي وو په هغه زمانه کښې د سړو لباس عام طور سره ازار (لنګ) او رداء (څادر) وو د قميص هغۀ خلق عادت نۀ وو ګينې ظاهره ده چه د قميص اغوستلو په صورت کښې د ابطين بياض ښکاره کيدل مشکل دي، او دا هم وئيلې شوې دي چه کيدې شي هغه قميص واسع الکمين (فراخه لستوڼي) واله وو، او يو قول دا هم دې چه کيدې شي د راوي مراد دا وو چه حضور ﷺ سجده داسې اوکړه چه که بالفرض د

(١): صحيح مسلم/الصلاة ٤٦ (٢٣٨)، سنن النسائي/التطبيق ٥٢ (١١١٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩ (٨٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣١، ٣٣٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٧٩ (١٣٧٠) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٣٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد ١/٢٩٢، ٣٠٢، ٣٠٥، ٣١٦، ٣١٧، ٣٣٩، ٣٤٣، ٣٥٤، ٣٦٢، ٣٦٥) (صحيح)

حضور ﷺ په بدن مبارك باندې دغه وخت جامه نۀ وې نو بياض د ابطينو به په نظر راغلې وو.

آيا د حضور ﷺ ترخونه د ويښتونه خالي وو

د دې حديث نه قرطبي رحمه الله دا استنباط کړې دې چه د حضور ﷺ په ترخونو کښې ويښتۀ نۀ وو په دې باندې حافظ عراقي دا اشکال کړې دې چه، بانه لم يثبت والخصائص لا تثبت بالاحتمال او بياض د ابطينو نه دا نۀ لازميږي چه هلته به ويښتۀ نۀ وی زرغون شوې ځکه چه کله ويښتۀ اووستلې شی لکه چه څنګه سنت دی نو صرف سپنوالې به پاتې شی ځکه چه په څنو روايتونو راځی چه، کنت انظر الى عفرة ابطيه اذا سجد، او عفرة هغه سپينوالى ته وائي کوم چه خالص نۀ وی د دينه معلوميږی چه دا رنګ هم د ويښتو اثر وو، آو ددې خبرې مونږ معتقد يو چه د حضور ﷺ ترخونه د بدبوئي نه بيخي محفوظ وو.

ملا علي قاري ليکي چه د ويښتو کيدو باوجود د بدبوئي نۀ کيدل، ابلغ فى الکرامة (ډيره اوچته خبره) ده ددې په نسبت چه ويښتۀ نۀ وی.

[۹۰۰]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ رَاشِدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ، حَدَّثَنَا أَحْمَرُ بْنُ جَزْءٍ صَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا سَجَدَ جَافَى عَضُدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ حَتَّى نَأْوِيَ لَهُ".

ترجمه: مونږ ته حديث بيان کړې دې احمر بن جَزء، ملګرى د رسول الله ﷺ: بيشکه رسول الله ﷺ وو چې کله به ئې سجده کوله لرې به ئې ساتل خپل بازوګان د اړخونو نه، تردې چې زمونږ به شفقت راغلو په هغه باندې.

تشريح: **قوله**:كان اذا سجد جافى عضديه عن جنبيه حتى ناوى له :

ناوى د جمع متکلم صيغه ده اوى، ياوى از ضرب ددې معنى د رقت او ترحم ده، اى حتى نترحم له، د سجدې مسنون طريقه دا ده چه دواړه سنګلې د اړخونو نه جدا وی سنګلې د زمکې نه پورته وی ټول اعضاء جدا جدا وی د بدن روستو حصه يعنى کوناټي دې اوچت اوساتي دې دپاره چه په تندی او پوزه باندې بوج راشی او په ښۀ شان سره متمکن شی، په دې کښې سړی ته مشقت ضرور لاحق وی خصوصا کله چه سجده اوږده او ډير په اطمينان سره وی لکه څنګه چه به حضور ﷺ کوله ځکه صحابى راوى د حديث فرمائي چه مونږ ته به په حضور ﷺ باندې رحم راغلو.

[۹۰۱]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنِ ابْنِ حُجَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَفْتَرِشْ يَدَيْهِ افْتِرَاشَ الْكَلْبِ وَلْيَضُمَّ فَخِذَيْهِ".

---

[۱]): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩ (٨٨٠)، (تحفة الأشراف: ٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠/٥، ٣٤٢/٤، ٣١/٥) (حسن صحيح)

[۲]): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٣٥٩٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ٨٥ (٢٦٩)، سنن النسائي/التطبيق ٣٨ (١٠٩٢)، مسند احمد (٣٨١/٢) (حسن) (ملاحظه هو: صحيح ابي داود: ٨٣٧/٢)

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې بيشکه نبي ﷺ ويلي دي: کله چې سجده کوی يو کس ستاسو نه نو نه دې خوروی خپل لاسونه په شان د خوړولو د سپي، او يو ځائې دې کړی خپل ورنونه.

تشريح: **قوله:** اذا سجد احدکم فلا يفترش يديه افتراش الکلب و ليضم فخذيه :

په دوو متعارض حديثونو کښې تطبيق

په دې روايت کښې د سجدې په حالت کښې دضم د فخذينو امر راغلې دې حال دا دې چه د دې نه وړاندې په ابواب رفع اليدين کښې د ابوحميد ساعدی حديث تير شوې دې، و اذا سجد فرج بين فخذيه، په ظاهر کښې په دواړو کښې منافات دې، و هکذا قال صاحب عون المعبود، خو حضرت ﷺ په بذل کښې ليکی چه ددې دواړو مفهوم جدا جدا دې لهذا هيڅ منافات نشته دې ځکه چه په کوم روايت کښې د تفريج ذکر دې د هغې نه مراد تفريج بين الفخذين والبطن دې، لکه چه څنګه په خپله هم ددې روايت په آخر کښې دې طرف ته اشاره ده چه دهغې الفاظ دا دی، اذا سجد فرج بين فخذيه غير حامل بطنه على شيء من فخذيه، دا جمله هم د تفريج بين الفخذين تفسير دې او دلته په حديث الباب کښې د فخذينو په خپلو کښې يو ځائې کول مراد دی لهذا هيڅ تعارض نشته ، او صاحب منهل دويمه توجيه اختيار کړې ده هغه دا چه د تفريج واله روايت په جواز باندې او دويم حديث په استحباب باندې محمول کړو،

(په فخذين کښې به تفريج کيږی يا ضم؟)

اوس پاتې شوه دا مسئله چه فقهاء حضرات په دې کښې څهٔ فرمائی د فخذينو په خپل مينځ کښې تفريج پکار دې يا يوځائې کول، په دې باره کښې حضرت ﷺ ليکی چه اګر چه علامه شوکانی دا ليکلي دی چه دا حديث د تفريج بين الفخذينو په مشروعيت باندې دلالت کوی او په دې کښې د هيڅا اختلاف نشته ، حضرت فرمائی چه دا مسئله څه اجتماعی نهٔ ده او نهٔ ما ته په کتابونو د احنافو يا مالکيو کښې ددې تصريح ملاؤ شوې ده.

احقر وائی چه په دې کښې معتاد بين العلماء خو عملا هم تفريج دې لکه چه هغه په مشاهد دې خو تفريج او ضم د امورو اضافيه نه دی، فالظاهر ترکهما على حالهما لا يقصد الضم و لا التفريج، پس په کوم حديث کښې چه تفريج مذکور دې د هغې نه مراد عدم الضم دې او کوم ځائې کښې چه ضم مذکور دې د هغې نه مراد ترک تفريج دې نهٔ ضم حقيقی، والله تعالى اعلم بالصواب.

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي ذَٰلِكَ لِلضَّرُورَةِ

باب دې په بيان د رخصت کښې په دغې کښې د وجې د ضرورت نه

د ذالك اشاره صفت سجود يعنی د سجدې مسنون کيفيت طرف ته ده، يعنی بعضې د رواياتونه په دې کښې ګنجائش معلوميږی ددې بيان دې.

[٩٠٢]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: اشْتَكَى أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَشَقَّةَ السُّجُودِ عَلَيْهِمْ إِذَا انْفَرَجُوا، فَقَالَ: "اسْتَعِينُوا بِالرُّكَبِ".

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دې، هغه وايي: شكايت وكړو ملګرو د نبي ﷺ د تكليف د سجدو نه په دوی كله چې كولاوېږي، نو هغه ووېل: مدد وغواړئ په زنګونانو باندې.

تشريح: **قوله**:اشتكى اصحاب النبي ﷺ الى النبي ﷺ مشقة السجود عليهم اذا انفجروا فقال استعينوا بالركب:

يعني بعضي صحابه كرام رضوان الله عليهم حضور ﷺ ته دا عرض اوكړو چه كله مونږ په مسنون طريقې سره سجده كوو اوسنګلې د فخذينو نه جدا ساتو او ټول اعضاء جدا جدا ساتو نو په دې كښې مشقت وی نو حضور ﷺ هغوی ته د استعانت بالركب اجازت وركړو چه د سنګلو سرونه په سجده كښې په زنګونونو باندې ايږدئ دې دپاره چه اسانتيا وی، خو ظاهر دا ده چه د سجدې دا هيئت د مسنون هيئت نه خلاف او مكروه دې.

حديث الباب د تيرشوی احاديثو خلاف دې

نو دا حديث د تيرشوی احاديثو خلاف شو په كوم كښې چه د تفريج حكم مذكور دې، ددې يو جواب خو دا كيدې شی چه هغې طرف ته په الكوكب الدری كښې اشاره ده چه دا رخصت د ترك تفريج بالعموم نۀ دې بلكه د هغه بعضو صحابه كرامو دپاره دې كومو چه حضور ﷺ ته د مشقت شكايت كړې وو، او يا به دا اووئيلې شی چه ددې حديث په سند باندې امام ترمذی كلام فرمائيلې دې، هغه دا چه ددې په سند كښې اضطراب دې، ليث دا حديث موصولا او د هغوی نه علاوه نورو ګڼرو رواتو سفيان وغيره دې لره مرسلا روايت كړې دې لهذا دا روايت موصوله شاذ او غير معروف دې، اګر چه حضرت سهارنپوری په بذل كښې د امام ترمذی دې نقد لره نۀ دې تسليم كړې او د طحاوی شريف د يو روايت نه ئې د ليث متابعت ثابت كړې دې والله اعلم.

بَابٌ فِي التَّخَصُّرِ وَالْإِقْعَاءِ

باب دې په بيان د تخصر او اقعاء كښې

په ترجمة الباب كښې دوه جزء مذكور دی خو په حديث الباب كښې صرف تخصر مذكور دې د اقعاء هيڅ ذكر په دې كښې نشته دی د دېنه وړاندې باب الاقعاء بين السجدتين كښې تير شوې دې لهذا دا جزء ثانی په ترجمة الباب كښې كيدل نۀ دی پكار.

[٩٠٣]()حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ صُبَيْحٍ الْحَنَفِيِّ، قَالَ: صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ "فَوَضَعْتُ يَدَيَّ عَلَى خَاصِرَتَيَّ، فَلَمَّا صَلَّى، قَالَ: هَذَا الصَّلْبُ فِي الصَّلَاةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُ".

(): سنن الترمذي/الصلاة ١٠٠ (٢٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٣٩، ٤١٧) (ضعيف)

(): سنن النسائي/الافتتاح ١٢ (٨٩٠)، (تحفة الأشراف: ٦٧٢٤)، وقد أخرجه: حم(٢/٣٠، ١٠٦) (صحيح)

ترجمه: د زياد بن صبيح الحنفي نه روايت دې هغه وئيلي دي ما مونځ وکړو خوا د ابن عمر کښې، ما دواړه لاسونه په خپلو تشو باندې کيخودل، هرکله چې هغه مونځ وکړو ويې وئيل: دا صليب دی په مانځه کښې، او وو رسول الله ﷺ چې منع ئې کوله د دېنه.

تشريح: **قوله**:الي جنب ابن عمر فوضعت يدی علی خاصرتی فلما صلی قال هذا الصلب في الصلاة:

د حديث شرح

زياد بن صبيح وائي چا ما يوه ورځ د ابن عمر رضي الله عنه په خوا کښې مونځ اوکړو او دواړه لاسونو مې د ترلو په ځائې په خپلو تشو باندې کيخودل کله چه هغه د مونځ نه فارغ شو نو هغوی ما ته اوفرمائيل چه داخو صلب يعني د سولئ هيئت دې کوم چه تا په مونځ کښې اختيار کړې دې ځکه چه مصلوب لره (څوک چه په سولئ باندې اوځيزولي شي) د هغه دواړه لاسونه خوارهٔ کړې شي او زوړندولي شي، او دلته کښې هم په تشو باندې لاس ايخودلو په صورت کښې پوره نهٔ نو نيم لاسو خوارهٔ وي

په دې حديث کښې د مونځ په قيام کښې په تشو باندې لاسونه ايخودلو نه منع کړې شوې ده او ددې نه د صلب سره تشبيه ورکړې شوې ده هم دې ته تخصر هم وائي کوم چه په ترجمة الباب کښې مذکور دې، وړاندې په کتاب کښې يو باب بل راروان دې، باب الرجل يصلي مختصرًا، چه دهغې لاندې مصنف دا حديث ذکر کړې دې، نهی رسول الله ﷺ عن الاختصار في الصلاة، هلته مصنف د اختصار تفسير هم دا کړې دې يعني په تشو باندې لاسونه ايخودل.

(د اختصار په تفسير کښې نور اقوال)

تخصر او د اختصار په تفسير کښې د دېنه علاوه نور اقوال هم دی

١: وضع اليد على الخاصرة كما تقدم و هو الراجح عند المصنف،
٢: اخذ المخضرة باليد، د کونتئ په سهاره باندې په مانځه کښې اودرېدل،
٣: اختصار السورة، پوره سورت نهٔ لوستل بلکه د هغې څهٔ حصه لوستل،
٤: اختصار الصلاة، مونځ مختصر غوندې کول بغير د طمانيت نه،
٥: ترک آية السجدة.

(د ترک اختصار حکمتونه)

روميئ معنی کومه چه مصنف اختيار کړې ده د دېنه د منع په حکمت کښې مختلف اقوال دی، ١: التشبه بابليس، چه ابليس کله د آسمانونونه راکوز کړې شو نو په دې شکل سره کوز شوې وو، ٢: التشبه باليهود، ٣ راحة اهل النار، په جهنم کښې چه کله جهنميان ستړې شي نو د سهارې دپاره به داسې کوی، ٤ شکل اهل المصيبة، چه مصيبت زده خلق به په ماتم کښې ولاړ وو او هم داسې په تشو باندې به ئې لاسونه ايخودل.

دا تخصر د جمهورو په نزد باندې مکروه او د ظاهريه په نزد باندې حرام دې.

تنبيه: د سنن ابوداؤد په ابوابو يا په احاديثو کښې تکرار نشته دې، شاذ او نادر په پوره کتاب کښې په دوه يا درې ځائينو کښې چرته وی دا ځائې هم د هغه ځايونو نه دې لکه چه څنګه مونږ پورته ليکلی دی.

بَابُ الْبُكَاءِ فِي الصَّلَاةِ

باب: په مانځه کښې ژړل

[٩٠٤]([1])حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ سَلَّامٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي وَفِي صَدْرِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الرَّحَى مِنَ الْبُكَاءِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: مطرف د خپل پلار نه روایت کوی هغه وئیلی دي. ما ولیده رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کوه او په سینه د هغه کښې اواز وو پشان د اواز د ژرندې د وجې د ژړا نه، ﷺ.

تشریح: **قوله**:رایت رسول الله ﷺ یصلی و فی صدره ازیزٌ کازیز الرحٰی من البکاء :

یعنی د حضور ﷺ په مونځ کښې به څنې وخت مسلسل د نرئ نرئ ژړا آواز د سینې مبارکې نه اوریدې شو لکه څنګه چه د جرندې د چلیدو آواز وی او په نسائی کښې روایت دې، کازیز المرجل، لکه د کټوئ د پخیدو او د خوټکیدو آواز

په دې مسئله کښې د فقهاؤ اختلاف دې، جمهور علماء ائمه ثلاثه فرمائی که بکاء فی الصلوة د الله د ویرې، د آخرت د ذکر او د جنت او د دوزخ نه وجه نه وی نو هیڅ باك نشته دې او که د یو څه دنیاوی عوارضو مرض وغیره د وجه نه وی نو بیا په دې آواز سره ژړل مفسد د صلوة دی، او د شافعیه په نزد باندې مطلقا که د آخرت د ویرې نه وی یا د څه تکلیف د وجه نه وی مفسد دې په دې شرط چه د ژړا په آواز کښې کم نه کم دوه حرفه پیدا شی، بشرط ان صدر منه حرفان، او د شعبی، نخعی او ثوری په نزد باندې هم بکاء او انین مفسد د صلوة دی.

ائمه ثلاثه کوم چه د تفصیل قائل دی هغوی په دلیل کښې دا فرمائی چه آه او بکاء دا هم ذکر دې لکه چه الله تعالی په دې سره د ابراهیم علیه السلام مدح فرمائیلې ده، ان ابراهیم لاواه حلیم، په یو بل آیت کښې دی، خروا سجدا و بکیا، او هم داسې حدیث الباب هم د دوئ دلیل دې.

بَابُ كَرَاهِيَةِ الْوَسْوَسَةِ وَحَدِيثِ النَّفْسِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بیان د کراهیت د وسوسه کې او د ځان سره خبرو کولو کې

[٩٠٥]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا هِشَامٌ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يَسْهُو فِيهِمَا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ".

ترجمه: د زید الجهنی نه روایت دې بیشکه نبی ﷺ ویلی دي: چا چې اودس وکړو ښه ئې وکړو اودس، بیا ئې دوه رکعاته وکړل چې غفلت نه کوی په هغې کښې، وبه بخښلی شی ورته مخکنئ ګناه.

تشریح: **قوله**:ثم صلی رکعتین لا یسهو فیهما غفر له ما تقدم من ذنبه :

---

[1]: سنن الترمذي/الشمائل ٤٤ (٣٠٥)، سنن النسائي/السهو ١٨ (١٢١٥)، (تحفة الأشراف: ٥٣٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥/٤، ٢٦) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٧٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٧/٤) (حسن)

په بذل کښې ددې په شرح کښې داسې ليکې. اى لا يغفل عن الصلاة لاشتغاله باحاديث النفس والوساوس.

وساوس او خيالات په دوه قسمه وى، اختيارى او اضطرارى دغه شان ما يتعلق بالدنيا و ما يتعلق بالدين، ددې تفصيل په ابواب الوضوء کښې په باب صفة وضوء النبى ﷺ کښې، دلا يحدث فيهما نفسه په شرح کښې تير شوې دې، (الدر المنضود ۲۴۹/۱)

[۹۰۶]([1])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ يُقْبِلُ بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ عَلَيْهِمَا إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ".

ترجمه: د عقبة بن عامر الجهنى نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ ويلى دي: نشه هيڅ يو کس چې بنائسته اودس وکړي، او وکړى دوه رکعاته چې مخامخ شى هغې په باطن او ظاهر سره، مګر واجبيږى د هغه لپاره جنت.

بَابُ الْفَتْحِ عَلَى الْإِمَامِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د فتح ورکولو کې امام ته

يعنى که امام ته په قرأت کښې د وړاندې لوستلو نه کوم مانع راپيښ شى نو مقتدى د دهٔ لاره پرانستلې شى کوم ته چه زمونږ په محاوره کښې لقمه وائى

[۹۰۷]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ، قَالَا: أَخْبَرَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ يَحْيَى الْكَاهِلِيِّ، عَنِ الْمُسَوَّرِ بْنِ يَزِيدَ الْأَسَدِيِّ الْمَالِكِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يَحْيَى، وَرُبَّمَا قَالَ: شَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ، فَتَرَكَ شَيْئًا لَمْ يَقْرَأْهُ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تَرَكْتَ آيَةَ كَذَا وَكَذَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلَّا أَذْكَرْتَنِيهَا". قَالَ سُلَيْمَانُ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ: كُنْتُ أُرَاهَا نُسِخَتْ. وَقَالَ سُلَيْمَانُ: قَالَ: حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ الْأَزْدِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْمُسَوَّرُ بْنُ يَزِيدَ الْأَسَدِيُّ الْمَالِكِيُّ.

ترجمه: د مسور بن يزيد الاسدى المالکى نه روايت دې، بيشکه رسول الله ﷺ. وئيلى دى يحيى کله به ئې وئيل: زه حاضر شوم رسول الله ﷺ ته. قرأت ئې کولو په مانځه کښې نو څه شى ئې پريخودو ويې نه لوستلو، نو يو سړى ورته وويل اى د الله رسوله! فلانى ايت دې پريخوده، نو رسول الله ﷺ ووېل ولې نه وو چې ته ماته هغه راياد کړى وى. وئيلى دى سليمان په خپل حديث کښې: هغه وفرمائيل زما دا خيال وو چې هغه منسوخ شوى دى.

تشريح: **قوله**: فقال له رجل يا رسول الله تركت آية كذا و كذا فقال له رسول الله ﷺ هلا اذكرتنيها: د رجل نه مراد أبى بن كعب رضى الله عنه دې د حضور ﷺ نه په مانځه کښې څنې آياتونه سهوا پاتې شوې وو حضرت ابى رضى الله عنه د مونځ نه پس عرض اوکړو په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائيل چه تا په مانځه کښې هغهٔ آياتونه ولى ياد نهٔ کړل.

[1]: صحيح مسلم/الطهارة ٦ (٢٣٤)، سنن النسائي/الطهارة ١١١ (١٥١)، (تحفة الأشراف: ٩٩١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٦/٤، ١٥١، ١٥٣)، سنن الدارمي/الطهارة ٤٣ (٧٤٣) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٢٨٠، ٦٧٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٤/٤) (حسن)

د ائمه مذاهب

د فتح علی الامام په باره کښې په منهل کښې درې مذهبه ليکلې دی:

۱: د منصور بالله په نزد واجب دہ،

۲: د فرقه زيديه د امام زيد بن علی په نزد مکروه دہ،

۳: د جمهور او ادائمه الاربعة په نزد جائز بلکه عند الضرورة مستحب دہ، بيا وراندې په تفصيل کښې اختلاف دې چنانچه يو قول دا دې چه که امام د قرأت مفروض مقدار لوستلې وی نو بيا دې فتح علی الامام نۀ کوی (يعنی فی الفرض) دغه شان د لقمې ورکولو حق په هغه صورت کښې دې کله چه امام د قرأت نه بند پاتې شی او که هغۀ بل آيت ته منتقل شی نو بيا دې لقمه نۀ ورکوی او که ورکړی نو د فاتح مونځ به فاسد شی او که امام لقمه واغستله نو د امام مونځ هم فاسديږی، دا کلام په هغه لقمه کښې دې کوم چه د خپل امام دپاره وی او که يو مونځ کونکی د خپل امام نه علاوه بل چا لره لقمه ورکړی خواه که هغه سړې مصلی وی يا غير مصلی نو په دې صورت کښې د حنفيه او مالکيه په نزد به مونځ فاسد شی او د حنابله په نزد مکروه (من المنهل)

قَالَ سُلَيْمَانُ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ: «كُنْتُ أُرَاهَا نُسِخَتْ»، وَقَالَ سُلَيْمَانُ: قَالَ: حَدَّثَنِي [ص:٣٣٩] (١) يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ الْأَزْدِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْمُسَوَّرُ بْنُ يَزِيدَ الْأَسَدِيُّ الْمَالِكِيُّ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ بْنِ زَبْرٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " صَلَّى صَلَاةً، فَقَرَأَ فِيهَا فَلُبِسَ عَلَيْهِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لِأُبَيٍّ: «أَصَلَّيْتَ مَعَنَا؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَمَا مَنَعَكَ»

ترجمه: او وئيلی دی سليمان: ماته حديث بيان کړې دې يحيی بن کثير الازدې، هغه وئيلی دي مونږ ته حديث بيان کړې دې مسور بن يزيد الاسدی المالکی مونږ ته حديث بيان کړې دې يزيد بن محمد الدمشقي، مونږ ته حديث بيان کړې دې هشام بن اسماعيل، مونږ ته حديث بيان کړې دې محمد بن شعيب، مونږ ته خبر راکړی دی عبد الله بن العلاء بن زبر، د سالم بن عبد الله نه او هغه د عبد الله بن عمر نه، بيشکه نبی ﷺ وکړو يو مونځ، نو قرأت ئې وکړو په هغې کښې تلبيس ورباندې راغی، هرکله چې فارغ شو ويې وئيل أبی ته. ايا تا مونږ سره مونځ وکړو؟ هغه وويل آو، هغه وفرمائيل ته څه شی منع کړې (چه اودې نه وئيل)

بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّلْقِينِ

باب دې په بيان د منع کې د تلقين له

دتلقين نه مراد هم هغه فتح علی الامام دہ دې ته اطعام الامام هم وئيلې شی لکه چه د حضرت علی رضی الله عنه د هغه اثر نه معلوميږی کوم چه وراندې راروان دې.

(١): مسند احمد: ٢٥٠١/٣.

[۹۰۸]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ الْفِرْيَابِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَلِيُّ، لَا تَفْتَحْ عَلَى الْإِمَامِ فِي الصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو إِسْحَاقَ لَمْ يَسْمَعْ مِنَ الْحَارِثِ إِلَّا أَرْبَعَةَ أَحَادِيثَ لَيْسَ هَذَا مِنْهَا.

ترجمه: د علی ﷛ نه روایت دې هغه وئیلي دی، وویل رسول الله ﷺ: اې علي! ته فتحه مه ورکوه امام ته په مانځه کښې. وئیلي دی ابوداود: ابو اسحاق د حارث نه نه دې اوریدلی مگر څلور احادیث، او دا د هغې نه نه دی.

تشريح: **قوله**:عن علی رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یا علی لا تفتح علی الامام فی الصلوة :
دا حدیث د وړاندینی حدیث خلاف دې په دې کښې امام لره د لقمې ورکولو ممانعت دې څنګه چه د زید بن علی مذهب دې او دا د ائمه اربعه خلاف دی جواب دا دې څنګه چه مصنف په خپله فرمائی چه دا حدیث منقطع دې ددې دپاره چه دا حدیث ابو اسحاق د حارث نه نۀ دې اوریدلې، دویم جواب دا دې چه په دې حدیث کښې حارث اعور دې چا ته چه کذاب وئیلې شوې دې، قال ابن حبان کان غالیًا فی التشیع، دغه شان دا حدیث د حضرت علی رضی الله عنه د موقوف حدیث خلاف دې کوم چه ابن ابی شیبه روایت کړې دې، اذا استطعمك الامام فاطعمه، چه کله تاسو نه امام لقمه طلب کړی نو هغه لره لقمه ورکوئ.

بَابُ الْاِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بیان د کتلو کې په مانځه کې

په مونځ کښې د التفات دری صورتونه دی، ۱: بتحويل الوجه، ۲: بتحويل الصدر، ۳: بصرف العين، اول قسم مکروه دې، او دویم قسم مفسد صلوة دې د استقبال قبلې د فوت کیدو د وجه نه، دحنفیه او شافعیه دواړو په نزد باندې او قسم ثالث صرف خلاف اولی دې د خشوع دمنافی کیدو د وجه نه.

[۹۰۹]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْأَحْوَصِ يُحَدِّثُنَا فِي مَجْلِسِ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ: قَالَ أَبُو ذَرٍّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَزَالُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ، فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ".

ترجمه: ابو ذر ﷛ وئیلي دي چې رسول الله ﷺ وئیلي دي: الله پاک همیشه بنده ته متوجې وی چې کله هغه په مانځه کښې وی تر کومه ئې چې التفات نه وی کړی، کله چې اوګوری بل طرف ته نو الله ترېنه خپله توجه واړوي

تشريح: **قوله**:لا يزال الله عزوجل مقبلا على العبد.. الخ :
یعنی الله تعالی د بنده طرف ته کله چه هغۀ مونځ کوی په رحمت سره متوجه کیږی تر څو پورې چه بنده په مانځه کښې اخوا دیخوا التفات او نۀ کړی او کله چه التفات اوکړی نو الله تعالی خپله توجه د هغه د طرف ته لرې کړی

۱): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۰۰۴۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۷۱) (ضعيف)
۲): سنن النسائي/السهو ۱۰ (۱۱۹۶)، (تحفة الأشراف: ۱۱۹۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۷۲/۵)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۳۴ (۱۴۶۳) (حسن)

[۹۱۰]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنِ الْأَشْعَثِ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْتِفَاتِ الرَّجُلِ فِي الصَّلَاةِ، فَقَالَ: "إِنَّمَا هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ".

ترجمه: د عائشې ﷞ نه روايت دې هغه وايي: ما تپوس وکړو د رسول الله ﷺ نه په باره د کتلو کښې په مانځه کې؟ هغه وفرمائيل: بيشکه دا تختول د شيطان دی چې تختوی هغې لره شيطان د مانځه د بنده نه.

تشريح: **قوله**:هو اختلاس يختلسه الشيطان من صلوة العبد.. الخ :

اختلاس يعنی پورته کول او د چا نه څۀ څيز په تيزئ سره تختودل، دلته د خشوع اغستل مراد دی يعنی کوم سړې چه په مانځه کښې بل يو څيز ته التفات اوکړی نو ګويا داسې پوهه شه چه شيطان د دې سړی خشوع اوتختوله،

باب السُّجُودِ عَلَى الْأَنْفِ

باب دې په بيان دسجده کې په پوزه باندې

په دې باب کښې چه کوم حديث مذکور دې هغه نزدې څو باب وړاندې تير شوې دې نو ځکه وړاندې په کتاب کښې راځی.

قال ابو علی هذا الحديث لم يقراء ابوداؤد فی العرضة الرابعة، د ابو علی مصنف شاګرد صاحب النسخه فرمائی چه امام ابوداؤد کله څپل دا کتاب تلامذه ته په څلورم ځل باندې وړاندې کړو نو دا حديث ئې او نۀ لوستلو بلکه ترک ئې کړو.

[۹۱۱]()حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا عِيسَى، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رُئِيَ عَلَى جَبْهَتِهِ وَعَلَى أَرْنَبَتِهِ أَثَرُ طِينٍ مِنْ صَلَاةٍ صَلَّاهَا بِالنَّاسِ". قَالَ أَبُو عَلِيٍّ: هَذَا الْحَدِيثُ لَمْ يَقْرَأْهُ أَبُو دَاوُدَ فِي الْعَرْضَةِ الرَّابِعَةِ.

ترجمه: د ابو سعيد الخدری ﷛ نه روايت دې بيشکه د رسول الله ﷺ په تندې باندې وليدل شو، او د هغه په پوزه باندې اثر د ختې د وجې د هغه مونځ نه چې هغه کړی وو خلقو ته. وئيلی دی ابو علي: دا حديث ابوداود نه دی لوستلی په څلورمه پيشئ کښې.

باب النَّظَرِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د کتلو کې په مانځه کې

الفرق بين الترجمتين

په دې ترجمة الباب او په تيرشوی باب کښې فرق په بذل کښې خو حضرت دا ليکلې دې چه د التفات نه مراد، نظر بگوشه چشم، د سترګو په ګوټ کښې کتل او نظر عام دې، زۀ وايم يا دی دا اووئيلې شی چه د التفات متبادر معنی ښی او ګس طرف ته کتل دی، نظر الی

[۱]: صحيح البخاري/الأذان ۹۳ (۷۵۱)، وبدء الخلق ۱۱ (۳۲۹۱)، سنن النسائي/السهو ۱۰ (۱۱۹۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۶۶۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۶۱ (۵۹۰)، مسند احمد (۶/۷، ۱۰۶) (صحيح)

[۲]: انظر حديث رقم: ۸۹۴ (تحفة الأشراف: ۴۴۱۹) (صحيح)

اليمين و اليسار، او په دې دويمه ترجمه کښې د نظر نه مراد نظر الى الفوق دې په قرينې د حديث الباب سره.

[۹۱۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ وَهَذَا حَدِيثُهُ، وَهُوَ أَتَمُّ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ تَمِيمِ بْنِ طَرَفَةَ الطَّائِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ عُثْمَانُ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ فَرَأَى فِيهِ نَاسًا يُصَلُّونَ رَافِعِي أَيْدِيهِمْ إِلَى السَّمَاءِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، فَقَالَ: "لَيَنْتَهِيَنَّ رِجَالٌ يَشْخَصُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ". قَالَ مُسَدَّدٌ فِي الصَّلَاةِ: "أَوْ لَا تَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبْصَارُهُمْ".

ترجمه: د جابر بن سمرة ﷺ نه روايت دې. عثمان وئيلى دى. هغه وايي. داخل شو رسول الله ﷺ مسجد ته، په هغې کښې ئې خلق وليدل چې مونځ ئې کولو لاسونه ئې اسمان ته اوچت کړى وو، بيا دواړه متفق شوى دي: خامخا منع دې شى سړى چې نيغې کړى ئې دى سترګې خپلې اسمان ته. وئيلى دى مسدد په مانځه کښې. او يا به واپس نه شى دوى ته نظرونه د دوى.

تشريح: قوله: قال عثمان قال دخل رسول الله ﷺ المسجد فراى فيه ناسا يصلون رافعي ايديهم الى السماء ثم اتفقا : په دې حديث کښې د مصنف دوه استاذان دى مسدد او عثمان، لينتهين، نه تر آخره پورې الفاظ د دواړو استاذانو مشترک دى او د حديث د شروع حصه صرف د عثمان د روايت الفاظ دى او په شروع کښې مسدد څه وئيلې دى، وئيلې دى او که نۀ دى وئيلى، دا دلته نۀ دى مذکور.

د حديث په مضمون کښې د عدم ربط قوى اشکال او هغې جواب

د حديث مضمون دا دې چه يو ځل حضور ﷺ جومات ته داخل شو دوئ ځنې خلق اوليدل چه هغوى د مانځه په حالت کښې رفع يدين الى السماء کونکې وو نو په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائيل، يا خو دې منع شى هغه خلق څوک چه خپل مخونه آسمان طرف ته پورته کوى ګينى د دوئ نظرونه به واپس دوئ ته رانۀ شى يعنى سلب به کړې شى (۲)

(اشکال) دلته دا اشکال دې چه ددې حديث په دواړو جملو يعنى شرط او جزاء کښې مناسبت او مطابقت څۀ دې ځکه چه د صحابه کرام رضى الله عنهم چه کوم فعل مذکور دې هغه رفع ايدى الى السماء دې او حضور ﷺ وعيد فرمائى په رفع بصر الى السماء باندې نو دې سره ددې څۀ جوړ دې؟

د دې دوه جوابونه کيدې شى

(اول جواب) اول خو دا چه په دې حديث کښې يو راوى نه اختصار اوشو اختصار مُخل. او هغه دا چه غالبًا په روايت کښې به داسې وو، فراى فيه ناسا يصلون رافعي ايديهم و

---

(۱): صحيح مسلم/الصلاة ۲٦ (٤٣٠)، سنن النسائي/ السهو ٥ (١١٨٥)، (تحفة الأشراف: ٢١٢٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٨ (١٠٤٥)، مسند احمد (١٠٨/٥) (صحيح)

(۲) او بعضې شراحو ددې حديث مطلب دا بيان کړې دې چه مونځ د مؤمن معراج او د الله تعالى د تجلى محل دې په مونځګذار باندې په مانځه کښې د آسمان د طرف نه د انوارو نزول کيږى نو په داسې حالت کښې پورته طرف ته کتلو سره نظر ته د نقصان رسيدلو او د نظر د خرابيدلو ويره ده لکه ځنګه چه نمر طرف ته کتل مضر دى.

ابصارهم الى السماء، لکه چه د دينه په وړاندې روايت کښې راروان دی، راوی اختصار اوکړو او صرف يو جزء ئې ذکر کړو او د حضور ﷺ د طرف نه وعيد په دې دويم جزء باندې دې کوم چه دهٔ حذف کړې دې،

(دويم جواب) او يا به دا اووئيلې شی چه دلته خلط بين الحديثين شوې دې روای يوه حصه ددې حديث اغستې ده او دويم حصه ئې د بل حديث نه اغستې ده.

(په مونځ کښې آسمان ته د نظر اوچتولو حکم)

د دينه پس دا ايزده کول پکار دی چه د مانځه په حالت کښې پورته کتل د جمهورو علماء په نزد مکروه دی حرام نهٔ دی ګو وعيد په دې باره کښې شديد دې او ابن حزم ظاهری په دې کښې مبالغه کړې ده هغه وائی چه داسې کولو سره مونځ فاسديږی

[٩١٣]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ فِي صَلَاتِهِمْ" فَاشْتَدَّ قَوْلُهُ فِي ذَلِكَ، فَقَالَ: "لَيَنْتَهُنَّ عَنْ ذَلِكَ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ".

ترجمه: د قتادة نه روايت دې بيشکه انس بن مالک دوی ته حديث بيان کړې دې. هغه وئيلی دی چې رسول الله ﷺ ويلی دي: څه حال دی د داسې قومونو چې اوچتوی سترګې خپلې په مونځ خپل کښې. نو سخته شوه وينا د هغه په دی کښې ويی وئيل: خامخا منع دې شی دوی د دغې نه او يا به وتختول شی نظرونه د دوی.

تشريح: **قوله**: لينتهينّ عن ذالك او لتخطفن ابصارهم :

دا دواړه دمضارع مجهول بانون تاکيد ثقيله صيغې دی يعنی يا خو دی بالضرور بچ شی ددې حرکت نه ګينی نظرونونه به ئې واغستلې شی.

[٩١٤]([2])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلَامٌ، فَقَالَ: "شَغَلَتْنِي أَعْلَامُ هَذِهِ، اذْهَبُوا بِهَا إِلَى أَبِي جَهْمٍ وَأْتُونِي".

ترجمه: د عائشې ﵂ نه روايت دې، هغې ويلی دي مونځ وکړو رسول الله ﷺ په يو څادر کښې چې هغې نقشې وې، هغه وفرمائيل زه ددې نقشو مشغوله کړم. دا ويسئ ابو جهم ته، او راوړئ څادر د هغه انبجاني

تشريح: **قوله**: فقال شغلتنى اعلام هذه اذهبوا بها الى ابى جهم وايتونى بانبجانيه :

ابوجهم يو صحابی دی د چا نوم بعضې وائی چه عبيد دې يا عامر بن حذيفه، هغوی د حضور ﷺ په خدمت کښې يو ګلدار څادر هديه کړې وو حضور ﷺ هغه غوستلو او مونځ

[1]: صحيح البخاري/الأذان ٩٢ (٧٥٠)، سنن النسائي/السهو ٩ (١١٩٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٨ (١٠٤٤)، (تحفة الأشراف: ١١٧١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٩/٣، ١١٢، ١١٥، ١١٦، ١٤٠، ٢٥٨)، سنن الدارمي/الصلاة ٦٧ (١٣٣٩) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصلاة ١٤ (٣٧٣)، والأذان ٩٣ (٧٥٢)، واللباس ١٩ (٥٨١٧)، صحيح مسلم/المساجد ١٥ (٥٥٦)، سنن النسائي/القبلة ٢٠ (٧٧٢)، سنن ابن ماجه/اللباس ١ (٣٥٥٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ١٨(٦٧)، مسند احمد (٣٧/٦، ٤٦، ١٧٧، ١٩٩، ٢٠٨)، ويأتي هذا الحديث في اللباس (٤٠٥٣) (صحيح)

ئې اوکړو او چه د مونځ نه فارغ شو نو سمدستی ئې کوز کړو او ونې فرمائيل چه دا مې ګل کارئ زۀ خپل ځان طرف ته مشغول کړم او وئې فرمائيل دا ابوجهم نه يوسئى او د هغۀ نه انبجانيه يعنى ساده څادر راوړئ دويم څادر حضور ﷺ دې دپاره راغوښتلې وو چه د هديه کونکی زړۀ مات نۀ شی.
انبجانيه کښې همزه باندې فتحه او کسره دواړه جائز دی انبجان يو موضع دې دا هغې طرف ته نسبت دې، امام بخاری رحمه الله هم دې حديث لره په باب الالتفات فی الصلوة کښې ذکر کړې دې.

يو اشکال او جواب

دلته دا سوال کيږی چه ډير واقعات د صحابه کرامو او اولياء د سيرت په کتابونو کښې داسې ملاويږی چه دوئ ته د مانځه په حالت کښې داسې مشغولتيا شوې وه چه د بل کوم څيز طرف ته ئې قطعا التفات نۀ کيدو تر دې چه د هغوی د بدن نه شئى اوخکلې شوې دې او هغوی ته ددې احساس نۀ دې شوې نو د حضور ﷺ په مانځه کښې دا اعلام خميصه څرنګه مؤثر شو.
ددې جواب دا دې چه دا اشکال بظاهر د ابوداؤد دروايت په الفاظو بندې کيدې شی ځکه چه په دې کښې شغلتنی مذکور دې، په نورو کتابونو د حديث کښې الفاظ په بل شان سره دی په هغې باندې دا اشکال نۀ واقع کيږې چنانچه د بخاری الفاظ دی. اخاف ان تفتنی، د دېنه معلومه شوه چه حضور ﷺ لره دې اعلام نۀ وو مشغول کړې بلکه حضور ﷺ صرف ددې ويره محسوس کړې وه، دغه شان د مؤطا امام مالك لفظ دی، فکاد يفتنی،
او يو جواب زما په پوهه کښې دا راځی چه ددې حديث د تاويل څه حاجت نشته دې بلکه حديث په خپل ظاهر باندې دې او ددې منشاء نقص نۀ دې بلکه کمال دې هغه دا چه د حضور ﷺ باطن او قلب انور د اغيارو او د غير حق نه دومره پاك صفا او شفاف وو چه په هغې کښې معمولی نه معمولی تغير هم محسوس کيدو لکه چه يو کاغذ ډير صفا او سپين وی نو په هغې باندې لږ خيرې هم محسوس کيږی په خلاف د رنګدار کاغذ نه چه په هغې باندې د معمولی نښې معلومات هم نۀ کيږی، زۀ په دې باندې ډير زيات خوشحاله شوم چه روستو ما ته دا مضمون د علامه سندهی (۱) په کلام د نسائی په حاشيه کښې هم ملاؤ شو او هغوی هم دغه شان خبره ددې حديث په ضمن کښې ليکلې ده، په کوم کښې چه دا دی چه يو ځل حضور ﷺ د صبا په مانځه کښې سورة روم لوستلو او حضور ﷺ په تلاوت کولو کولو کښې بنديدلو نو چه حضور ﷺ د مانځه نه فارغ شو نو وئې فرمائيل، مابال اقوام يصلون معنا لا يحسنون الطهور فانما يلبس علينا القرآن اولئك.. (۲)

---

(۱) حيث کتب قوله شغلتنی اعام هذه، هذا مبني علي ان القلب قد بلغ من الصفا من الاغيار الغاية حتي يظهر فيه ادني شئ يظهر لك ذلك اذا انظرت الي ثوب بلغ في البياض الغاية..الخ.
(۲) يعنی کوم خلق چه په ښۀ طريقې سره اودس نۀ کوی او راځی د داسې خلقو د وجه نه زمونږ په مونځونو کښې خلل واقع کيږی)

[۹۱۵]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ أَبِي الزِّنَادِ، قَالَ: سَمِعْتُ هِشَامًا يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: وَأَخَذَ كُرْدِيًّا كَانَ لِأَبِي جَهْمٍ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، الْخَمِيصَةُ كَانَتْ خَيْرًا مِنَ الْكُرْدِيِّ.

ترجمه: د ابن ابی الزناد نه روایت دې هغه وئیلی دي: ما اوریدلی دی د هشام نه هغه حدیث بیان کړې دې د خپل پلار نه، او هغه د عائشې نه، په دې خبر سره، هغه وویل: او وایی خستلو کردي څادر چې د ابو جهم وو، هغه ته وویل شول: اې د الله رسوله! هغه کېږه غوره وه ددې کردي څادر نه.

باب الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب دې په بیان د رخصت په دې کې

یعنی د نظر فی الصلاة اجازت او ګنجائش،

[۹۱۶]()حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، عَنْ زَيْدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَّامٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي السَّلُولِيُّ هُوَ أَبُو كَبْشَةَ، عَنْ سَهْلِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ، قَالَ: ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ، يَعْنِي صَلَاةَ الصُّبْحِ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي وَهُوَ يَلْتَفِتُ إِلَى الشِّعْبِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَانَ أَرْسَلَ فَارِسًا إِلَى الشِّعْبِ مِنَ اللَّيْلِ يَحْرُسُ.

ترجمه: د زید نه روایت دې، بیشکه هغه اوریدلی دی د سلام نه، هغه وئیلی دي: ماته حدیث بیان کړې دې سلولی چې هغه ابو کبشه دی د سهل بن حنظله نه، هغه وئیلی دي: تثویب وکړی شو د مانځه لپاره. یعنی د سحر مانځه له. شروع شو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو او هغه کتل درې ته. وئیلی دی ابوداود: او وو رسول الله ﷺ چې لیږلی ئې وو یو سور درې ته د شپې نه چې څوکیداری کوله.

تشریح: **قوله**: عن سهل بن الحنظلية قال ثوب بالصلوة يعنى صلوة الصبح فجعل رسول الله ﷺ يصلى و هو يلتفت الى الشعب –

د حدیث مضمون

د یو ځل خبره ده چه د صبا د مانځه دپاره اقامت وئیلې کیدو بلکه حضور ﷺ مونځ هم شروع کړې وو د دې باوجود هم حضور ﷺ مخامخ غر طرف ته بیا بیا کتل، امام ابوداؤد په خپله ددې حدیث په شرح کښې وراندې فرمائی چه حضور ﷺ په یو سفر کښې څوک اس باندې سور یو غر طرف ته لیږلې وو د شپې د قافلې د څوکیدارئ او پهره ورکولو دپاره، دا روایت به مفصلا په کتاب الجهاد باب فضل الحرس په ذیل کښې راشی

حضور ﷺ په سفر کښې د هغه منزل نه کوم ځائې کښې چه قافله ایساره وه د شپې څوکیداری کونکې یو صحابی د چا نوم چه انس بن مرثد الغنوی دې، مخامخ غر باندې د شپې تیرولو دپاره لیږلې وو په صبا کیدو باندې حضور ﷺ د هغه د واپسئ په انتظار وو حضور ﷺ د صحابه کرامو نه به هم پوښتنه کوله او په خپله به ئې هم بیا بیا هغه غر طرف

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٦٤٠۳، ۱۷۰۲۳)، وياتي هذا الحديث في اللباس (٤٠٥٢)، (حسن)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٥١) (صحيح)

ته نظر پورته کولو او کتل به ئې تر دې چه په مانځه کښې هم دوئ يو خل نيم هغه طرف ته اوکتل، نو ځکه مصنف په دې حديث باندې باب الرخصة فى ذالك قائم کړو چه دينى مصلحت او د خپل مسلمان ورور په خيال او فکر کښې که په مانځه کښې هم د التفات نوبت راشي نو څه باك نشته دې بلکه عين مصلحت دې.

په اصل کښې حضور ﷺ خو ددې جهادونو په سفر کښې صحابه کرامو سره د سپه سالار او کمانډر په حيثيت سره وو اوس د فوج په مصالحو باندې نظر او د هغوى خيال او فکر د کمانډر دفرائضې منصبى نه دى، دغه شان د دېنه دا هم معلومه شوه چه دا کمال دې چه د کوم وخت او محل کوم مقتضى او حق دې هغه ادا کړې شى نۀ دا چه سړې هر وخت بس په خپله بزرګۍ کښې مشغول وى.

بَابُ الْعَمَلِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د کارکې په مانځه کې

يعنى کوم عمل چه د اعمالو د مانځه د جنس نه نۀ وى، ظاهره ده چه هغه په مانځه کښې جائز کيدل نۀ دى پکار، اوس دا چه په دې کښې څۀ ګنجائش شته او که نۀ نو ددې ضابطه فقهاؤ دا ليکلې ده که هغه عمل قليل دې نو جائز دې او کثير دې نو جائز نۀ دې او مفسد د مانځه دې.

په عمل قليل او کثير کښې فرق

اوس دا چه د قلت او کثرت معيار څۀ دې په يو قول کښې دا دې چه په کوم کار کښې د دواړو لاسونو د استعمال ضرورت پيښ شى هغه کثير دې او کوم چه په يو لاس سره کيدې شى هغه ته قليل دې دپاره ونيلې شوې دې که په مانځه کښې يو سړې په خپل قميص کښې غوټه اولګوى نو دا کار چونکه په دواړو لاسونو سره د کولو دې نو ځکه مونځ به فاسد شى او که غوټه پرانيځى نو فاسد به نۀ وى، او دويم قول دا دې چه کوم عمل داسې وى چه د هغې کونکى طرف ته اوکتلې شى او ددې خبرې يقين اوشى چه دا سړې په مانځه کښې نۀ دې نو هغه کثير دې او کوم چه داسې نۀ وى هغه قليل دې او هم دا قول اصح دې، دغه شان ددې مسئلې په تفريع کښې ليکلې دى که کومه ښځه په مانځه کښې خپل بچې پورته کړى او پئى ورله ورکړى نو مونځ به فاسد شى د عمل کثير د وجه نه او که صرف په غيږ کښې ئې پورته کړى نو فاسد به نۀ وى.

[٩١٧] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ حَامِلٌ أُمَامَةَ بِنْتَ زَيْنَبَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَهَا، وَإِذَا قَامَ حَمَلَهَا".

ترجمه: د ابو قتادة نه روايت دې بيشکه رسول الله ﷺ وو چې مونځ ئې کولو او هغه

¹): صحيح البخاري/الصلاة ١٠٦ (٥١٦)، والأدب ١٨ (٥٩٩٦)، صحيح مسلم/المساجد ٩ (٥٤٣)، سنن النسائي/المساجد ١٩ (٧١٢)، والإمامة ٣٧ (٨٢٨)، والسهو ١٣ (١٢٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٢١٢٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ٢٤ (٨١)، مسند احمد (٥/٢٩٥، ٢٩٦، ٣٠٣، ٣٠٤، ٣١٠، ٣١١)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٣ (١٣٩٣) (صحيح)

باروونکی وو د امامة چې لور د زينب وه چې هغه لور د رسول الله ﷺ ده، چې کله به ئې سجده وکړه نو کينوله به ئې، او چې کله به اوچت شو نو وابه ئې خسته.

تشريح: قوله: خرج علينا رسول الله ﷺ يحمل أمامة بنت ابى العاص بن الربيع.. :

د حديث شرح

دا يو مشهور حديث دې کوم چه په صحيحينو او سنن تولو کښې مذکور دې هغه دا چه د حضور ﷺ د تولو نه لويه لور حضرت زينب رضى الله عنها د چا خاوند ابوالعاص بن الربيع دې د دوئ وړه لور د چا نوم چه امامه وو هغهٔ به بعض اوقات حضور ﷺ په خپلو اوږو باندې کينوله او مونځ به ئې کولو کله به چه رکوع او سجدې ته تلو نو هغه به ئې کوزه کړه او کله به چه اودريدلو نو بيا به ئې پورته کوله ددې ماشومې دمور يعنى حضرت زينب رضى الله عنها وفات د حضور ﷺ په ژوند په اتمه هجرئ کښې شوې وو غالبًا دا په غير کښې د اغستلو قصه د هغه وخت ده چه حضور ﷺ به ددې ماشومې د دلدارئ او ساتنې په طور باندې داسې کول، يا د بيان د جواز دپاره چه خلقو ته دا مسئله معلومه شى چه دا مفسد د صلوة نهٔ دې.

[۹۱۸]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا قَتَادَةَ، يَقُولُ: بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ جُلُوسٌ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُ أُمَامَةَ بِنْتَ أَبِي الْعَاصِ بْنِ الرَّبِيعِ وَأُمُّهَا زَيْنَبُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ صَبِيَّةٌ يَحْمِلُهَا عَلَى عَاتِقِهِ، "فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ عَلَى عَاتِقِهِ يَضَعُهَا إِذَا رَكَعَ، وَيُعِيدُهَا إِذَا قَامَ حَتَّى قَضَى صَلَاتَهُ يَفْعَلُ ذَلِكَ بِهَا".

د عمرو بن سليم الزرقى نه روايت دې، بيشکه هغه اوريدلى دى د ابو قتادة نه، هغه به وئيل: مونږ په مسجد کښې ناست وو، راووتلو مونږ ته رسول الله ﷺ چې اوچته کړې ئې وه امامة لور د ابو العاص بن الربيع، او مور د هغه زينب وه لور د رسول الله ﷺ وه، او هغه ماشومه وه چې هغه ئې بار کړې وه په خپل ځټ باندې، نو مونځ وکړو رسول الله ﷺ او هغه د هغه په ځټ باندې وه، کينوله به ئې چې کله به ئې رکوع کوله، او واپس به ئې اوچتوله چې کله به اوچت شو، تردې چې مونځ ئې پوره کړو او داسې ئې کول د هغې سره.

حمل الصبى فى الصلوة

اوس دا چه فقهاء په دې کښې څهٔ فرمائى نو د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه په نزد باندې خو داسې ده چه ضرورة داسې کولې شى مفسد د صلوة نهٔ دې خو مالکيه علماء په دې کښې ډير متردد دى ځکه چه هغوى دا عمل کثير ګڼړى بيا د هغوى نه په دې کښې مختلف توجيهات منقول دى، يوه توجيه خو دا شوې ده چه دا د نفل مونځ قصه ده خو ځنى نورو علماؤ ددې ترديد کړې دې ځکه چه د مسلم په يو روايت کښې ددې تصريح ده چه په دغه وخت کښې حضور ﷺ امامت فرمائيلو نو ظاهره ده چه فرض مونځ به وى په نفل مونځ کښې د حضور ﷺ امامت معهود نهٔ دې، او يو توجيه دا کړې شوې ده چه دوئ ضرورة د

^{١}: انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٢١٢٤) (صحيح)

مجبورئ په درجه کښې داسې کړې دی په دغه وخت کښې دديې ماشومې څوك خيال ساتلو واله نهٔ وو، او يو توجيه د امام مالك رحمه الله نه دا منقول ده چه دا حديث منسوخ دې د، تحريم العمل فی الصلوة نه وړاندې قصه ده.

امام نووي رحمه الله دا ټول توجيهات باطل ګرزولی دی هغه فرمائی چه حديث ددې په جواز کښې صريح او صحيح دې او دا د قواعد شرعيه نه خلاف هم نهٔ دې ځکه چه انسان پاك دی او کوم نجاست چه د دهٔ په ګيډه کښې دننه دی هغه په خپل معدن کښې د کيدو د وجه نه معفو عنه دې هغه فرمائی چه ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چه د ماشومانو جامې او د دویٔ بدنونه ټول په طهارت باندې محمول دی ترهغه وخته پورې چه ددې نجاست ثابت نهٔ شی، وفی الدر المختار حمل الصبی فی الصلوة مکروه، او هغوی ددې حديث دا جواب ورکړې دې چه دا منسوخ دې،د ان فی الصلوة لشغلا، حديث په بناء باندې، صاحب بدائع دې حديث لره په عذر او حاجت باندې محمول کړې دې چه د مجبورئ په حالت کښې داسې کولې شی.

د أمامه په باره کښې ليکلې شوې دی چه حضرت فاطمه رضی الله عنها چه د دی تور وه د هغې د وصيت مطابق د هغې د وفات نه پس حضرت علی رضی الله عنه د أمامه رضی الله عنها سره وادهٔ کړې وو خو د دينه د حضرت علی رضی الله عنه څه اولاد نشته.

تنبيه: د حضور ﷺ بيا بيا د أمامه په مانځه کښې په غيږ کښې اغستلو او بيا کوزولو کښې چه کوم عمل کثير مونده لو اشکال کيږی د هغې جواب زمونږ مشائخ دا ورکوی چه په اصل کښې أمامه د حضور ﷺ سره ډير عادت وه حضور ﷺ به چه معمولی اشاره او فرمائيله نو هغه به فورا غيږ نه کوزيدله او هم دغه شان بيا به روستو په معمولی اشارې باندې غيږ ته ختله.

[۹۱۹]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ مَخْرَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيَّ، يَقُولُ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي لِلنَّاسِ، وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عُنُقِهِ، فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَسْمَعْ مَخْرَمَةُ مِنْ أَبِيهِ إِلَّا حَدِيثًا وَاحِدًا.

ترجمه: د عمرو بن سليم الزرقی نه روايت دې هغه وئيلی دي: ما اوريدلی دی د ابو قتادة الانصاری نه هغه وئيل: ما وليدلو رسول الله ﷺ چې مونځ ئې کولو خلقو ته او امامة لور د ابو العاص د هغه په څټ وه، چې کله به ئې سجده وکړه نو کينوله به يې وئيلی دی ابوداود نه دی اوريدلی مخرمه د خپل پلار نه مګر يو حديث

[۹۲۰]([2])حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ صَاحِبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ نَنْتَظِرُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلَاةِ فِي الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ وَقَدْ دَعَاهُ بِلَالٌ لِلصَّلَاةِ إِذْ خَرَجَ إِلَيْنَا وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ بِنْتُ ابْنَتِهِ عَلَى عُنُقِهِ، "فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مُصَلَّاهُ وَقُمْنَا خَلْفَهُ وَهِيَ فِي مَكَانِهَا

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۲٤) (صحيح)
[2]: تفرد أبو داود بهذا السياق، وانظر أصله في رقم (۹۱۸)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۲٤) (ضعيف)

الَّذِي هِيَ فِيهِ، قَالَ: فَكَبَّرَ، فَكَبَّرْنَا، قَالَ: حَتَّى إِذَا أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْكَعَ أَخَذَهَا فَوَضَعَهَا، ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ حَتَّى إِذَا فَرَغَ مِنْ سُجُودِهِ، ثُمَّ قَامَ أَخَذَهَا فَرَدَّهَا فِي مَكَانِهَا، فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ بِهَا ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ حَتَّى فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د ابو قتادة نه روايت دي، چي صاحب د رسول الله ﷺ دی هغه وئيلی دي: مونږ د رسول الله ﷺ انتظار کولو د ماسپخين د مانځه دپاره، او يا د مازيګر دپاره، او بلال ورته د مانځه دعوت ورکړی وو، کله چي راووتلو مونږ ته امامة لور د ابو العاص لور د لور د هغه د هغه په څټ وه، ودريدلو رسول الله ﷺ خپل مانځه ځائي کښي او مونږ د هغه نه وروسته ودريدلو، او هغه په خپل هغه ځائي باندې وه چي هغه پکې وه. هغه وايي: چي تکبير وويلو نو مونږ هم تکبير وويلو. هغه وايي: تردې چي رسول الله ﷺ اراده وکړه چي رکوع وکړي، هغه ئې واخسته او کينوله، بيا رکوع او سجده وکړه، تردې چي د سجدې نه فارغ شو، بيا پاڅيدلو هغه ئې راوخسته او خپل ځائي ته ئې واپس کړه، هميشه وو رسول الله ﷺ چي دغسې ئې کول د هغې سره په هر رکعت کښې تردې چي فارغ شو د خپل مونځ نه.

[۹۲۱] ([1]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ ضَمْضَمِ بْنِ جَوْسٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ: الْحَيَّةَ وَالْعَقْرَبَ".

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې هغه وئيلی دی، فرمائيلی دی رسول الله ﷺ: دوه تور وژنئ په مانځه کښې: مار، او لړم.

تشريح: **قوله**:اقتلوا الاسودين فی الصلوة..:

اسودين يعنی مار او لړم او هم داسې بل موذی ځناور لره په مانځه کښې په يو کرت وهلو يا په دوو ځلو وهلو سره جائز دی مفسد د مانځه نۀ دی او نۀ مکروه دی ځکه چه شارع ﷺ ددې اجازت ورکوی بلکه د حضور ﷺ نه په دې باندې عملا هم دا ثابت دی، يو ځل کله چه حضور ﷺ مونځ کولو يو لړم دوئ لره اوچيچل نو حضور ﷺ هغه په خپلې پڼې سره مړ کړو او د مانځه نه فارغيدو نه پس ئې اوفرمائيل، لعن الله العقرب لا تبالی نبيا و لا غيره.

مذاهب ائمه

اوس که په دې وژلو کښې عمل کثير اومونډلې شو نو په دې صورت کښې دحنفيه شافعيه په نزد باندې به مونځ فاسد شي او په منهل کښې ليکلي دی چه د حنابله د ظاهر کلام نه دا معلوميږی چه د دوئ په نزد باندې عمل قليل او کثير کښې فرق نشته دې بلکه مطلقا جائز دې، هم داسې په احنافو کښې دصاحب مبسوط علامه سرخسی رحمه الله هم دا رائې ده، او دريم مذهب په دې کښې د ابراهيم نخعی وغيره دې د دوئ په نزد باندې د اسودينو وژل په مانځه کښې مکروه دی

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۷۰ (۳۹۰)، سنن النسائي/السهو ۱۲ (۱۲۰۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱٤٦ (۱۲٤٥)، (تحفة الأشراف: ۱۳٥۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۳۳، ۲٥٥، ۲۷۳، ۲۷٥، ۲۸٤، ٤۹۰)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۸ (۱٥٤٥) (صحيح)

[۹۲۲]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، وَهَذَا لَفْظُهُ، قَالَ: حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا بُرْدٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَحْمَدُ: يُصَلِّي وَالْبَابُ عَلَيْهِ مُغْلَقٌ فَجِئْتُ فَاسْتَفْتَحْتُ، قَالَ أَحْمَدُ: فَمَشَى، فَفَتَحَ لِي، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مُصَلَّاهُ". وَذَكَرَ أَنَّ الْبَابَ كَانَ فِي الْقِبْلَةِ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې هغې ويلي دي: وو رسول الله ﷺ - وئيلي دي احمد - مونځ ئې کولو او دروازه ورپسې بنده وه، زه راغلم طلب د کولاوولو مې وکړو - وئيلي دي احمد - لاړلو او ماته ئې کولاو کړه، بيا خپل د مانځه ځائې ته راواپس شو، او هغه ذکر کړې دې چې دروازه د قبلې په طرف کښې وه.

تشريح: **قوله** – كان رسول الله ﷺ يصلي والباب عليه مغلق فجئت فاستفتحت:

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه د يو ځل واقعه ده چه حضور ﷺ په حجره شريفه کښې مونځ کولو او د حجرې شريفې دروازه دغه وخت د دننه نه بند وه نو په داسې وخت کښې چه حضور ﷺ په مانځه کښې مشغول وو زهٔ د بهر طرف نه راغلم او ما استفتاح يعنی دروازه پرانستلو دپاره اوټکوله نو حضور ﷺ يو دوه قدمه واغستل او دروازه ئې پرانستله او بيا د خپل مونځ کولو ځائې ته راغلو، فقهاؤ ليکلې دی چه يو دوه قدمه عمل کثير نهٔ دې خو پرله پسې اقدام يعنی په يو رکن کښې مسلسل درې قدمونه تلل دا عمل کثير او مفسد د صلوة دې صرف يو قدم دوه وړاندې تللو سره مونځ نهٔ فاسد يږی.

يو قوی اشکال او د هغې تشريح

تر دې ځائې پورې خو په حديث کښې څه خبره د اشکال قابله نهٔ ده وړاندې يوه جمله راځی، و ذكر ان الباب كان فی القبلة، يعنی عروه دا هم نقل کړې دی چه د حجرې شريفې دروازه د قبلې په جانب وه په دې جمله باندې غټ اشکال کيږی د اشکال توضيح دا دې چه د اهل مدينه قبله د جنوب په جانب ده ځکه چه مدينه د مکې نه د شمال په جانب ده او د حضرت عائشه رضی الله عنها حجره د کومې چه په حديث کښې ذکر دې هغه د جومات سره بالکل متصل د جومات ګس طرف د مشرق په جانب کښې واقع ده او د حجرې دروازه د جومات په طرف باندې مغرب طرف کښې واقع ده د حجرې شريفې دپاره د غربی دروازې کيدل مشهور او معروف دی او يو قول دا هم دې چه په دې کښې يو دروازه بله هم وه د شمال په جانب باندې کوم طرف ته چه ملك شام دې نو ځکه دې ته باب شامی هم وائی نو ګويا دروازې دوه شوې، غربی او شمالی، دا غربی دروازه خو نبی طرف ته واقع شوه او شمالی شا طرف ته نو په دې کښې يوه دروازه هم د قبلې په جانب يعنی جنوبی نشته دې حال دا دې چه دلته په روايت کښې دا دی، ان الباب كان فی القبلة.

په هر حال کښې دا خبره د، ماهو المشهور فی الروايات و ما ثبت فی كتب التاريخ و السير، خلاف ده، دا روايت چونکه په ترمذی کښې هم دې.

---

[۱]): سنن الترمذي/الصلاة ٣٠٤ (الجمعة ٦٨)، (٦٠١) سنن النسائي/السهو ١٤ (١٢٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٤١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣١،١٨٣، ٢٣٤) (حسن)

د حضرت ګنګوهي رحمه الله توجیه

نو څکه د حضرت ګنګوهي رحمه الله نه ددې جواب په الکوکب الدري کښې دا منقول دې چه د فی القبلة مطلب دا نۀ دې چه د حجرې شریفې چه کوم دیوال د قبلې په جانب دې په هغې کښې دا دروازه وه چه دا اشکال واقع شي بلکه د فی القبلة مطلب دې وړاندې طرف ته، یعنې دروازه خو د حجرې شریفې نبې طرف ته په غربی دیوال کښې وه لکه څنګه چه مشهور ده خو هغه د حضور ﷺ د مونځ کولو د ځائې نه وړاندې طرف ته وه د کومې د پرانستلو دپاره چه حضور ﷺ ته وړاندې تلل راغلل او کله چه د دروازې محاذات ته اورسیدلو نو لاس ئې وړاندې کړو او دروازه ئې پرانستله، فالحمد لله اشکال رفع شو.

د حضرت سهارنپوري رحمه الله توجیه

او دلته په بذل کښې حضرت سهانپوري رحمه الله ددې اشکال یو بله توجیه فرمائیلې ده هغه دا چه مشهوره خو دا ده چه دروازه غربی یا شمالي وه یا دواړه وې خو د بعضې روایاتونه معلومیږي چه د حضرت عائشه رضی الله عنها د حجرې نه وړاندې د قبلې په جانب کښې متصلا د حضرت حفصه رضی الله عنها حجره وه او دوئ دواړه عائشه او حفصه رضی الله عنهما په خپلو خپلو حجرو کښې ناستې وې او د یو بل سره ئې کلام اوخبرې اترې به ئې کولې نو په دې باندې حضرت فرمائي چه داسې خبرې خو هله کیدې شي کله چه د دواړو حجرو په مینځنی دیوال کښې یو دروازه یا کهړکئ کهلاؤ وی په کومې سره چه ددې ځائې خبرې هغه ځائې ته اورسئ نو کیدې شي چه حضرت عائشه رضی الله عنها د هغې کهړکئ د طرف نه راغلې وی کومه چه دغه وخته بند وه حضور ﷺ په مانځه کښې وړاندې شو (قبلې طرف ته په تللو سره) او دا ئې پرانستله، دا توجیه (د قبلې په دیوال کښې کهړکئ تسلیمول) صراحة چرته منقول نۀ دی بلکه د حضرت خپل استنباط دې د کوم دپاره چه د ډیرو کتابونو تتبع کول راغلل. (کما فی البذل).

فائده : د نسائي او مسند احمد د روایت الفاظ داسې دی، فحشی فی القبلة اما عن یمینه او اما عن یساره، ددې لفظونو نه د الکوکب الدری واله توجیه تائید کیدې شي چه دوازه پرانستلو دپاره حضور ﷺ وړاندې لاړو او کله چه د دروازې په محاذات کښې راغلو نو نبې طرف ته ئې لاس وړاندې کړو کوم طرف ته چه دروازه وه او حضور ﷺ هغه پرانستله، په دې روایت کښې اګر که د راوی شک دې، اما عن یمینه و اما عن یساره، خو صحیح په دې کښې اول (عن یمینه) دې.

بَابُ رَدِّ السَّلَامِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بیان د جواب ورکولو د سلام کې په مانځه کې

یعنی که یو سړې هغه سړی ته سلام اوکړی کوم چه په مانځه کښې وی نو آیا هغه مونځ کونکې دې د سلام جواب ورکړی؟ په دې کښې اولاً خو دا پوهه شئ چه مونځ کونکی ته سلام کول مکروه دی د حنفیه دا مذهب دې او د ائمه ثلاثه په نزد جائز بلا کراهت دې، کما فی المنهل.

مذاهب ائمه

پاتې شوه مسئله د سلام د جواب کولو کومه چه په ترجمة الباب کښې مذکور ده نو په دې کښې ناقلين د مذاهب مختلف دی. دعلامه عينی رحمه الله، حنفيه، شافعيه او حنابله دريواړو په نزد د سلام جواب ورکول په اشارې سره مکروه ليکلي دی او د امام مالک رحمه الله نه دوئ دوه روايتونه نقل کړې دی. کراهت او عدم کراهت. (کذا فی البذل) او صاحب منهل ددې په خلاف دا ليکلي دی چه د سلام رد کول د ائمه ثلاثه په نزد جائز دی[1] او د حنفيه په نزد باندې مکروه دی. او مولانا عبد الحئ صاحب په التعليق الممجد کښې د امام شافعی مذهب استحباب د ردليکلي دې او د امام احمد نې دا ليکلي دې چه د دوئ په نزد باندې په فرض او نفل کښې فرق دې يعنی په فرض کښې مکروه او په نفل کښې جائز. او د حنفيه مذهب نې دا ليکلي دې چه ځنې د دوئ نه د کراهت قائل دی امام طحاوی رحمه الله د دوئ نه دې او هغوی د حضور ﷺ اشاره کومه چه هغوی په مانځه کښې کړې وه په منع عن السلام باندې محمول کړې ده نه په رد السلام باندې. او ځنې حنفيه وائې چه لاباس به.

دغه شان پوهيدل پکار دی چه رد السلام باللسان د ټولو په نزد هم جائز نۀ دې د ائمه اربعه په نزد مفسد صلوة دې البته د ابن المسيب او حسن بصری په نزد دا هم جائز دې

[٩٢٣]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ "فَيَرُدُّ عَلَيْنَا"، فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا، وَقَالَ: إِنَّ فِي الصَّلَاةِ لَشُغْلًا.

ترجمه: علقمه روايت کوی د عبد الله نه، هغه وايي: وو مونږ چې سلام به مو اچولو په رسول الله ﷺ باندې او هغه به په مانځه کښې وو. هغه به مونږ ته جواب راکولو، هرکله چې مونږ د نجاشی د خوا نه راغلو. مونږ سلام وکړو هغه ته مونږ ته ئې جواب رانه کړو، او هغه ووئيل بيشکه مونځ يو کار دی.

تشريح: قوله:فلما رجعنا من عند النجاشی سلمنا عليه.. الخ :

عبد الله بن مسعود د اصحاب هجرتينو نه دې يعنی هجرة الی الحبشه بيا هجرة الی المدينه. دغه شان دا هم مشهوره ده چه کومو صحابؤ هجرت الی الحبشه فرمائيلې وو هغوی په دې غلطه اطلاع باندې چه کفار مکه اسلام راوړلو دحبشې واپس راغلې وو کله چه دلته راغلل نو وئې کتل چه داسې نۀ ده خبر غلط وو بيا دويم کرت حبشه ته واپس لاړل ددې نه پس دی حضرآتو د حضور ﷺ د هجرة الی المدينه نه پس هجرة الی المدينه اوکړو، نو ګويا د حبشه نه دوه واپسی شوی. رجوع اول الی مکه او رجوع ثانی الی المدينه.

---

[1]) او قرين د قياس هم دا ده څکه چه په قول د صاحب منهل کله چه د ائمه ثلاثه په نيز سلام کول جائز دی نو د سلام جواب ورکول هم کيدل پکار دی)

[2]): صحيح البخاري/العمل في الصلاة ٣ (١٢٠١)، ١٥ (١٢١٦)، مناقب الأنصار ٣٧ (٣٨٧٥)، صحيح مسلم/المساجد ٧ (٥٣٨)، ن الكبري / السهو ٩٩ (٥٤٠)، (تحفة الأشراف: ٩٤١٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥٩ (١٠١٩)، مسند احمد (١/١٧٦، ١٧٧، ٤٠٩، ٤١٥، ٤٣٥، ٤٦٢) (صحيح)

د حديث په شرح كښې دوه قوله او د هغې منشاء

په دې حديث كښې د رجوع نه كومه رجوع مراد ده رجوع الى مكه يا رجوع الى المدينه په دې كښې د شراحو اختلاف دې، دشراح احناف په نزد رجوع الى المدينه مراد دې او د شراح شافعيه وغيره په نزد رجوع الى مكه مراد ده په اصل كښې دا اختلاف په يو بل اختلاف باندې متفرع دې هغه دا چه نسخ الكلام فى الصلاة په مكه كښې شوې وو يا د حضور ﷺ د هجرت الى المدينه نه پس مدينه كښې په قيام كښې شوې وو، شافعيه د اول قائل دى او حنفيه د دويم قول قائل دى.

په دې مضمون باندې تفصيلى كلام اوبحث په ابواب سجود السهو كښې به حديث ذو اليدين د لاندې راشى ځكه چه په حديث ذواليدين كښې كلام فى الصلوة موندلې شوې وو او ددې باوجود مونځ صحيح گرځولې شوې وو، نو چونكه كلام فى الصلوة د تحقيق هم دا حديث خاص محل دې نو ځكه حضرت سهانپورى رحمه الله هم په بذل المجهود كښې په دې باندې بحث په دې ځائې كښې فرمائيلې دې، مونږ به هم انشاء الله هم هغه ځائې كښې بيان كړو.

[۹۲۴]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا نُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ، وَنَأْمُرُ بِحَاجَتِنَا، فَقَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ، فَأَخَذَنِي مَا قَدُمَ وَمَا حَدُثَ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهِ مَا يَشَاءُ، وَإِنَّ اللَّهَ جَلَّ وَعَزَّ قَدْ أَحْدَثَ مِنْ أَمْرِهِ أَنْ لَا تَكَلَّمُوا فِي الصَّلَاةِ". فَرَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ.

ترجمه: د عبد الله نه روايت دې هغه وئيلى دې: مونږ به سلام اچولو په مانځه كښې او مونږ به امر كولو په خپلو ضرورتونو، نو زه راغلم رسول الله ﷺ ته او هغه مونځ كولو، ما هغه باندې سلام واچولو ماته ئې د سلام جواب رانه كړو، نو زه مصروف كړم هغه خبرو چې مخكې تېرې شوې وى او كومې چې نوې وې، هركله چې رسول الله ﷺ مونځ پوره كړو ويې وئيل: الله نوى پيدا كوى د خپل كار نه څه چې وغواړي، او بيشكه الله تعالى نوى ئې پيدا كړى دى د خپل كار نه دا خبره چې تاسو په مانځه كښې خبرې مه كوئ. پس واپس ئې كړو ماته جواب د سلام.

تشريح: قوله:فاخذنى ما قدم و ما حدث: يعنى د حضور ﷺ زما د سلام جواب نۀ وركولو د وجه نه زما په زړۀ كښې كله كله زاړۀ او كله نوى هر شان خيالات راتلل يعنى سوچ مې كولو چه كيدې شى دوئ دفلانكئ خبرې د وجه نه ناراضه وى يا د فلانكئ خبرې دو جه نه ناراضه شوې وى.

[۹۲۵]()حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنَّ اللَّيْثَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ نَابِلٍ صَاحِبِ الْعَبَاءِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ صُهَيْبٍ، أَنَّهُ قَالَ: مَرَرْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ "فَرَدَّ إِشَارَةً"، قَالَ: وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ: إِشَارَةً بِإِصْبَعِهِ. وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِ قُتَيْبَةَ.

ترجمه: د صهيب رضي الله عنه نه روايت دې بيشكه هغه وئيلى دي: زه تېر شوم په رسول الله ﷺ باندې او هغه مونځ كولو، ما سلام وكړو هغه ته، ماته جواب راكړو په اشارې سره. هغه وايي: ماته علم نشته مگر دا چې هغه اشاره وكړه په خپله گوته باندې او دا لفظ د حديث د قتيبه دى.

[۱]: ن /الكبري/السهو ۱۱۳ (۵۵۹)، (تحفة الأشراف: ۹۲۷۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۷۷، ۴۳۵، ۴۶۳) (حسن صحيح)

[۲]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۵۹ (۳۶۷)، سنن النسائي/السهو ۶ (۱۱۸۷)، (تحفة الأشراف: ۴۹۶۶)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۵۹ (۱۰۱۹)، مسند احمد (۴/۳۳۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۹۴ (۱۴۰۱) (صحيح)

[٩٢٦]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: أَرْسَلَنِي نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ "يُصَلِّي عَلَى بَعِيرِهِ، فَكَلَّمْتُهُ، فَقَالَ لِي بِيَدِهِ هَكَذَا، ثُمَّ كَلَّمْتُهُ، فَقَالَ لِي بِيَدِهِ هَكَذَا، وَأَنَا أَسْمَعُهُ يَقْرَأُ وَيُومِئُ بِرَأْسِهِ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: مَا فَعَلْتَ فِي الَّذِي أَرْسَلْتُكَ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أُكَلِّمَكَ إِلَّا أَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي".

ترجمه: د جابر ﷜ نه روايت دې هغه وايي: زه د الله نبي ﷺ ولېږم بني المصطلق ته، زه راغلم او هغه مونځ كولو په خپل اوښ باندې ما ورسره خبرې وكړې، هغه ماته اشاره وكړه په لاس باندې داسې، بيا مې ورسره خبرې وكړې، هغه ماته اشاره وكړې په لاس باندې داسې، او ما اوريده هغې لره چې قرأت ئې كولو او اشاره ئې كوله په سر باندې، هركله چې فارغ شو، ويې وئيل: تا څه وكړل د هغې په باره كښې چې ما لېږلې وې؟ بيشكه زه منع كړې نه وم مګر دې چې زه په مانځه كښې وم.

[٩٢٧]()حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عِيسَى الْخُرَاسَانِيُّ الدَّامِغَانِيُّ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا نَافِعٌ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى قُبَاءَ يُصَلِّي فِيهِ، قَالَ: فَجَاءَتْهُ الْأَنْصَارُ، فَسَلَّمُوا عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي، قَالَ: فَقُلْتُ لِبِلَالٍ: كَيْفَ رَأَيْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِينَ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي؟ قَالَ: "يَقُولُ هَكَذَا: وَبَسَطَ كَفَّهُ، وَبَسَطَ جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ كَفَّهُ، وَجَعَلَ بَطْنَهُ أَسْفَلَ، وَجَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَى فَوْقٍ".

ترجمه: نافع وايي د عبد الله بن عمر نه اوريدلي دي هغه به وئيل: راووتلو رسول الله ﷺ قباء ته چې مونځ ئې كولو په هغې كښې. هغه وايي: هغه ته انصار راغله سلام ئې وكړو هغه ته او هغه مونځ كولو. هغه وايي: ما ووېل بلال ته: رسول الله ﷺ هغوی ته څنګه جواب وركولو كله چې هغوی په هغه باندې سلام اچولو او هغه په مانځه كښې وو؟ هغه وايي: داسې به اشاره كوله او كولاو به ئې كړو خپل ورغوی. او خور كړو جعفر بن عون خپل ورغوی، او ويې ګرځوله خيټه د هغه لاندې، او شايي بره وه.

تشريح: **قوله**: فقلت لبلال كيف رايت رسول الله ﷺ يَرُدُّ عليهم... الخ : دا وراندې راغلې دی چه په احاديثو كښې كومه اشاره مذكور ده د هغې په باره كښې يو قول خو دا دې چه دا اشاره درد سلام يعنی د سلام جواب دپاره وه او بعضې دا وائي په كومو كښې چه امام طحاوی هم دې چه دا اشاره دمنع عن السلام دپاره وه چه په مونځ كښې سلام مه كوئ.

[٩٢٨]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا غِرَارَ فِي صَلَاةٍ وَلَا تَسْلِيمٍ". قَالَ أَحْمَدُ: يَعْنِي فِيمَا أُرَى أَنْ لَا تُسَلِّمَ وَلَا يُسَلَّمَ عَلَيْكَ، وَيُغَرِّرُ الرَّجُلُ بِصَلَاتِهِ فَيَنْصَرِفُ وَهُوَ فِيهَا شَاكٌّ.

ترجمه: د ابو هريره ﷜ نه روايت دې، هغه روايت كوی د نبي ﷺ نه هغه وئيلی دي: نشته

---

[١]: صحيح مسلم/المساجد ٧ (٥٤٠)، (تحفة الأشراف: ٢٧١٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/السهو ٦ (١١٩٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٥٩ (١٠١٨)، مسند احمد (٣/٣١٢، ٣٣٤، ٣٣٨، ٣٨٠، ٢٩٦)، ويأتي برقم: (١٢٢٧) (صحيح)

[٢]: سنن الترمذي/الصلاة ١٥٥ (٣٦٨)، (تحفة الأشراف: ٢٠٣٨، ٨٥١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٢) (حسن صحيح)

[٣]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٤٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٦١) (صحيح)

نقصان په مانځه او سلام کښې ونيلی دی احمد زما خيال دادی چې ته به سلام نه اچوی او په تا باندې به بل څوک سلام نه اچوي، او نقصان کوی سړی په مانځه کښې د مانځه نه فارغ شی او د هغه پکې شک وي

شرح حديث او مطابقة الحديث للترجمة

تشريح: قوله: لا غرار فی صلوة. يعنی په مانځه کښې نقص نۀ دی کيدل پکار، يا خو په اعتبار د کيف مراد دې يعنی خشوع و خضوع، يا په اعتبار د کمية او مقدار سره مثلا چا ته په مانځه کښې شك پيدا شی چه څلور رکعاته شوې دی يا درې نو بس هغۀ دې بغير د تحری او سوچ نه په دريو رکعاتو باندې سلام اوګرځوی. او بعضو ونيلې دی چه د غرار نه مراد خوب دې.

قوله: ولا تسليم.. الخ : دا په دوو طريقو سره لوستلې شئ په نصب سره په دې صورت کښې به عطف وی لا غرار باندې، تقدير د عبارت به داسې وی، لا تسليم فی صلوة. يعنی په مانځه کښې تسليم نۀ دې پکار نۀ دې مونځ ګذار چا ته سلام کوی او نۀ دې بل څوك سړې مونځ ګذار ته سلام کوی په دې صورت کښې دا حديث به ترجمة الباب سره مناسب وی او دويم احتمال دا دې چه ولا تسليم لره مجرور اولوستلې شی په دې صورت کښې ددې عطف به په صلوة باندې وی او تقدير د عبارت به دا وی، لا غرار فی تسليم. يعنی سلام يا ددې په جواب کښې نقص نۀ دې پکار سلام پوره کول پکار دی او ددې جواب هم پوره ورکول پکار دی سلام او جواب دواړه کامل پکار دی.

په دې صورت کښې به ددی حديث ترجمة الباب سره مناسبت نۀ وی، ددې حديث چه امام احمد رحمه الله کومه معنی بيان فرمائيلې ده هغه به اول احتمال لره اخلی او وړاندې چه کوم حديث راروان دې، قال لاغرار فی تسليم و لا صلوة. د دينه د احتمال ثانی تائيد کيږی.

[٩٢٩]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أُرَاهُ رَفَعَهُ، قَالَ: "لَا غِرَارَ فِي تَسْلِيمٍ وَلَا صَلَاةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ ابْنُ فُضَيْلٍ عَلَى لَفْظِ ابْنِ مَهْدِيٍّ وَلَمْ يَرْفَعْهُ.

ترجمه: د ابو حازم نه روايت دې هغه روايت کوی د ابو هريره رضي. هغه وايي زما دا ګمان دی چې هغه مرفوع کړی دی، هغه وايي نشته نقصان په سلام او مونځ کښې. ونيلی دی ابوداود. او ددې روايت کړی دی ابن فضيل په لفظ د ابن مهدی سره، او هغه نه دی مرفوع کړی دی.

بَابُ تَشْمِيتِ الْعَاطِسِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بيان د جواب ورکولو کې فرنجي کونکي ته په مانځه کې

مذاهب علماء

يعنی د پرنجی کونکی د حمد جواب، که دا جواب په مانځه کښې اوموندلې شی نو د جمهورو په نزد مفسد د صلوة دې ځکه چه په دې کښې تخاطب دې په يرحمك الله کښې کاف د خطاب دې او په مونځ کښې خطاب او کلام ناجائز دې په دې مسئله کښې دمالکيه او امام ابويوسف اختلاف دې د دوئ په نزد مفسد صلوة نۀ دې.

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٤٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٦١) (صحيح)

يو مسئله دلته کښې دا ده چه د مونځ په حالت کښې عاطس لره الحمدلله وئيل پکار دی او که نه، دا مسئله د استفتاح صلوة د دعا په باب کښې تيره شوې ده.

د لفظ تشميت تحقيق

د تشميت لغوی تحقيق دا دې چه بعضې وائی چه د شوامت نه مشتق دې چه معنی ئې قوائم دې يعنی، ستنۀ، ګويا عاطس لره دعا کولې کيږی د، ثبات علی الطاعة، او بعضې وائی چه دا ماخوذ دې د شماتت نه يعنی الله تعالی دې تا د شماتت د أعداء نه اوساتی، او بعضې وائی چه دا لفظ تسميت د سين مهمله نه دې او ماخوذ دې دسمت نه چه معنی ئې الهيئة الحسنه ده، يعنی الله تعالی دې ستا هيئت ښائسته جوړ کړی دا دعا هغه وخت ورکولې کيږی چه د پرنجې په وخت د سړی هيئت خراب شي.

[٩٣٠]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، عَنْ حَجَّاجٍ الصَّوَّافِ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَعَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَقُلْتُ: يَرْحَمُكَ اللَّهُ، فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ، فَقُلْتُ: وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ، مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ؟ فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُمْ يُصَمِّتُونِي، فَقَالَ عُثْمَانُ: فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُسَكِّتُونِي لَكِنِّي سَكَتُّ، قَالَ: فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَبِي وَأُمِّي مَا ضَرَبَنِي وَلَا كَهَرَنِي وَلَا سَبَّنِي، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ هَذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَحِلُّ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ هَذَا إِنَّمَا هُوَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ"، أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا قَوْمٌ حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ، وَقَدْ جَاءَنَا اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ، وَمِنَّا رِجَالٌ يَأْتُونَ الْكُهَّانَ، قَالَ: "فَلَا تَأْتِهِمْ"، قَالَ: قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ، قَالَ: "ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلَا يَصُدُّهُمْ"، قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ، قَالَ: "كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ، فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ"، قَالَ: قُلْتُ جَارِيَةٌ لِي كَانَتْ تَرْعَى غُنَيْمَاتٍ قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ، إِذِ اطَّلَعْتُ عَلَيْهَا اطِّلَاعَةً فَإِذَا الذِّئْبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْهَا، وَأَنَا مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا يَأْسَفُونَ، لَكِنِّي صَكَكْتُهَا صَكَّةً، فَعَظُمَ ذَاكَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: أَفَلَا أُعْتِقُهَا؟ قَالَ: "ائْتِنِي بِهَا"، قَالَ: فَجِئْتُهُ بِهَا، فَقَالَ: "أَيْنَ اللَّهُ؟" قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ، قَالَ: "مَنْ أَنَا؟" قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: "أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ".

ترجمه: د معاوية بن الحکم السلمی نه روايت دې هغه وئيلی دي: ما مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره نو فرنجې وکړو يو سړی د قوم نه، ما ووېل: يرحمک الله، نو خلقو ماته بد بد وکتل، ما ووېل: ميندې مو بورې شه ولې ماته ګورئ؟ هغوی شروع شول چې وهل ئې خپل ورنونه په لاسونو خپلو، زه پوهه شوم چې هغوی ما چوپ کوی- وئيلی دی عثمان: هرلکه چې ما هغوی وليدل چې ما چوپ کوی لکن زه چوپ شوم- هغه وايې هرکله چې رسول الله ﷺ مونځ وکړو زما مور او پلار دې ترېنه قربان شی، زه ئې ونه وهلم او نه ئې ورټلم او نه ئې راته کنځلې وکړې، بيا هغه ووېل: بيشکه دې مونځ کښې روا نه دی هيڅ شی د خبرو د خلقو نه، بيشکه دا خو تسبيح او تکبير او لوستل د قرآن دی. څنګه چې رسول الله ﷺ وفرمائيل، ما ووېل: اې د الله رسوله! مونږ داسې قوم يو چې لږ وخت کيږی چې د جاهليت نه راوتې يو، الله مونږ ته اسلام راوستلو، زمونږ داسې کسان دی چې کاهنانو ته ځی- هغه ووېل: تاسو هغوی ته مه ځئ هغه وايې ما ووېل او زمونږ نه کسان دي چې فالونه نيسې، هغه ووېل: دا يو شی دی چې دوی ئې بيامومې په خپلو سينو کښې منع دې نه کړی دوی لره- ما ووېل: زمونږ نه سړی دی چې خطونه اوکاږي، هغه ووېل وو يو نبی د انبياو نه چې

[1]: صحيح مسلم/المساجد ٧ (٥٣٧)، والسلام ٣٥ (٥٣٧)، سنن النسائي/السهو ٢٠ (١٢١٩)، (تحفة الأشراف: ١١٣٧٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العتق ٦ (٨) مسند احمد (٥/٤٤٧، ٤٤٨، ٤٤٩)، سنن الدارمي/الصلاة ١٧٧ (١٥٤٣) ويأتي هذا الحديث في الأيمان (٣٢٨٢)، وفي الطب (٣٩٠٩) (صحيح)

خط ئې وهستلو د چا خط چې موافق شو نو دغه خبره ده. هغه وايي ما وويل: زما يوه وينزه وه زما ګډې ئې څرولې په طرف د أحد، او جوانيه کښې، زه ورغلم هغې ته يو ځل، ناڅاپه شرمخ يوه ګډه د هغې نه وتختوله، او زه بنی آدم يو، خفه کېږم لکه څنګه چې هغوی خفه کيږي، ما هغه په څپېړه ووهله، نو دا خبره رسول الله ﷺ ته غټه شوه، ما وويل: ايا زه هغه ازاده نه کړم؟ هغه وويل: راوړئ ماته هغه. هغه وايي: ما هغه راوستله هغه ته، هغه وفرمائيل: الله چېرته دی؟ هغې وويل: په اسمان کښې، هغه وفرمائيل: زه څوک يم؟ هغې وويل: ته د الله رسول ئې، هغه وفرمائيل: ازاده ئې کړه بيشکه هغه مؤمنه ده.

تشريح: قوله:صليت مع رسول الله ﷺ فعطس رجل من القوم :

معاوية بن الحکم السلمي وائی چه چا ته په مانځه کښې پرنجې راغلو نو په دې باندې ماسره د دينه چه په مانځه کښې ووم (په زوره سره) اووئيل يرحمك الله، زما په دې وينا سره ټولو خلقو د نظرونو غشي ئې په ما باندې راويشتل يعنی هغوی ما ته برند برند کتل، فقلت واثکل امياه، د ثکل معنی ده د ښځې بچې مړ کيدل چه په هغې افسوس کيدل ظاهر دی او لفظ د وا د ندا يعنی آواز دپاره دی، او امياه کښې أم د اضافت يا د متکلم طرف ته کيږي او دا الف د ندا دپاره دي او، ه، د سکته دپاره ده نو ددې ترجمه داسې کوی چه، هائې افسوس زما د مور زما په ورکولو باندې، ګويا ددې سرې مرګ راغلو، او په مانځه کښې دې صحابی دا هم اووئيل چه څه چل شوې دې چه تاسو ما ته برند برند ګورئ.

قوله: فلما رايتهم يسکتوني لکنی سکت :

دلته جزاء د شرط محذوف ده او په دې جزاء محذوف باندې دا استدراك کوم چه په لکنی سره بيانوی مرتب دې او هغه جزاء محذوف غضبت دي، يعنی ما دوئ ته اوکتل چه ما چپ کول غواړی نو ما له ډيره غصه راغله څکه چه يو خو ما ته برند دی او په ما باندې زياتې کوی او بله دا چه زما د افسوس په اظهار باندې ما چپ کول غواړی خو زۀ چپ شوم (د خپل غضب په متقضی مې عمل اونۀ کړو).

قوله: ان هذه الصلوة لا يحل فيها شئ من کلام الناس :

د دينه د حنفيه او حنابله تائيد کيږي، په اصل کښې د کلام فی الصلوة مسئله مختلف فيه ده هغه دا چه د حنفيه په نزد او هم دا قول راجح دې د امام احمد . چه کلام فی الصلوة مطلقا مفسد دې، او د امام مالك مشهور قول دا دې چه کلام قليل عمداً کوم چه د اصلاح د صلوة دپاره وی مفسد نۀ دې، او د امام شافعی په نزد کلام يسير که په هيره سره وی نو ګنجائش ئې شته دې او کوم چه عمدا وی خو د اصلاح د صلوة دپاره وی جائز نۀ دې، ددې حديث نه هم دا بظاهر معلوميږی کوم چه د حنفيه مسلك دې چه مطلقا جائز نۀ دې. انا قوم حديث عهد بجاهلية. مونږ نوي مسلمانان يو اوس نژدې وخت کښې جاهليت او کفر مو پريخودلو او اسلام کښې داخل شو.

شرح حديث

قوله: و منا رجال ياتون الکهان، په مونږ کښې بعضې خلق داسې دی څوك به چه کاهنانو ته ورتلل او د هغوی نه به ئې آئينده خبرې معلومولې او بعضې خلق داسې دی څوك چه د مارغانو په ذريعې سره بدشګونی اخلې هغه خلق د بدشګونئ چونکه عادت شوی وو نو څکه حضور ﷺ اوفرمائيل که دوئ دا په خپل خانونو کښې اوموموی نو په دې باندې به مواخذه نۀ وی د غير اختياری کيدو د وجه نه. فلا يصدهم، خو دا بدشګونی دې دوئ لره د عمل نه منع نۀ کړی، يعنی که د بدشګونئ خبره ذهن ته بلا اختياره راشی نو راځی دې خو

دا ضروري ده چه ددې په مقتضی باندې عمل او نۀ کړې شی او د کوم کار چه اراده وی هغه دې اوکړی بدشګونی ورسره مانع کیدل نۀ دی پکار.

په دې حدیث کښې کاهنانو له تلل او د هغوی د خبرې دتصدیق کولو ممانعت مذکور دې، په یو حدیث کښې دی چه کوم سړې عراف یا کاهن ته لاړ شي فصدقه بما یقول فقد کفر بما أنزل علی محمد ﷺ، کاهن هغه سړې دې کوم چه د راتلونکو کارونو د علم دعوی اوکړی او د معرفت سرائر (دپټو رازونو) مدعی وی، او یو عراف هغه وی کوم چه د غلا شوی مال او ورك شوې مال نشاندهي کوی، کاهنانو ته تلل د دوئ د تصدیق په نیت باندې حرام دی دغه شان دوئ له اجرت ورکول هم حرام دی، نهی رسول الله ﷺ عن حلوان الکاهن، امام نووی وغیره حضراتو ددې دحرمت په اجماع باندې نقل کړې ده.

قلت و منا رجال یخطون قال کان نبی من الانبیاء یخط.. الخ،

(علم رمل) خط نه مراد علم رمل دې په دې کښې په زمکه باندې څۀ ننبې او کربښې راښکلې کیږی دا مشهور او معروف علم دې په دې باندې مستقل تصانیف هم لیکلې شوې دی، ددې مخصوص اصطلاحات وغیره هم دی ددې په ذریعې سره د مخفی امورو استخراج کوی او کله کله هغه خبره صحیح رااوځی ددې علم رمل تعلیم او تعلم په تصریح د علماؤ سره حرام دې، خو چونکه بعضې انبیاؤ سره دا علم وو لکه څنګه چه په حدیث کښې دی هغوی به دا کولو، بعضو وئیلې دی چه حضرت ادریس ﷺ وو یا دانیال ﷺ نو څکه حضور ﷺ د هغې رعایت اوکړو او ددې مطلقا ابطال ئې نۀ دې فرمائیلې بلکه دا ئې اوفرمائیل چه د چا علم رمل د هغه نبي د علم رمل سره موافق وی بس هم هغه معتبر دې ګینی نۀ دې، او ظاهره ده چه دا خبره نۀ شی معلومیدې چه د چا رمل د هغوی د علم رمل سره موافق دې او دچا نۀ دې نو څکه خلاصه هم د منع رااوتله.

شرح حدیث

قوله: قلت ان جاریة لی کانت ترعی غنیمات:

دې صحابی هم دا سوال اوکړو چه یا رسول الله زما یوه وینځه ده کومه چه زما بیزې څروی په احد غر یا جوانیه طرف ته ، زۀ یوه ورځ ناڅاپه هلته اورسیدلم ما اوکتل چه د رمې په بیزو کښې یوه بیزه کمه ده کومه چه شرمخ تختولې وه زۀ آخر د بنو آدم نه یو انسان یم څنګه چه نورو خلقو ته (په خپل نقصان باندې) تاسف او افسوس وې ما ته هم اوشو نو څکه ما هغه په مخ باندې یوه سپیړه اوهله، فعظم ذالك علی رسول الله ﷺ، نو حضور ﷺ زما دا کار ډیر غټ اوګرځولو یعنې زما دا وهل ئې یوه لویه خبره او ګناه اوګنړله (په کوم باندې چه دوئ اوبریدل) او اوئې وئیل یا رسول الله آیا زۀ دا آزاده نۀ کړم (چه زما ددې کار تلافی اوشی) په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائیل دا وینځه ما ته راوله (چه زۀ ددې امتحان واخلم او اوګورم چه مسلمانه ده یا کافره) هغه وائي چه ما دا د حضور ﷺ په خدمت کښې بوتله حضور ﷺ د دېنه پوښتنه اوکړله چه اوښایه ! الله کوم ځائې دې هغې اووئیل په آسمان کښې، (مطلب دا وو چه په زمکه باندې کوم دا باطل خدایان وغیره دی هغه معبود نۀ دی) حضور ﷺ دویم سوال اوفرمائیلو چه نبۀ اوښایه زۀ څوك یم هغې اووئیل تاسو رسول الله ئې په دې اوریدلو سره حضور ﷺ صحابی ته اوفرمائیل ددې امتحان اوشو دا آزاده کړه دامؤمنه ده.

(ایمان مقلد هم معتبر دې)

ددې حدیث نه بعضې علماؤ دا استدلال کړې دې چه ایمان مقلد په معتبر کیدو باندې

يعنى كوم سړي چه د الله تعالى په وحدانيت او د رسول الله په رسالت باندې دليل قائم نه كړې شي د خپلې لاعلمئ يا د كم علمئ د وجه نه بلكه د نورو اهل ايمان تقليد كنبې د وحدانيت او رسالت قائل وى نو د هغهٔ ايمان معتبر دې لكه څنګه چه ددې وينځې حال وو چه هغې دليل وغيره هيڅ بيان نهٔ كړې شو صرف سيدهه ساده جواب ئې وركړو.

[٩٣١]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُونُسَ النَّسَائِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ، عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: لَمَّا قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِمْتُ أُمُورًا مِنْ أُمُورِ الْإِسْلَامِ، فَكَانَ فِيمَا عَلِمْتُ أَنْ قَالَ لِي: "إِذَا عَطَسْتَ فَاحْمَدِ اللَّهَ، وَإِذَا عَطَسَ الْعَاطِسُ فَحَمِدَ اللَّهَ فَقُلْ: يَرْحَمُكَ اللَّهُ"، قَالَ: فَبَيْنَمَا أَنَا قَائِمٌ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ فَحَمِدَ اللَّهَ، فَقُلْتُ: يَرْحَمُكَ اللَّهُ رَافِعًا بِهَا صَوْتِي، فَرَمَانِي النَّاسُ بِأَبْصَارِهِمْ حَتَّى احْتَمَلَنِي ذَلِكَ، فَقُلْتُ: مَا لَكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ بِأَعْيُنٍ شُزْرٍ؟ قَالَ: فَسَبَّحُوا، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ؟" قِيلَ: هَذَا الْأَعْرَابِيُّ، فَدَعَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي: "إِنَّمَا الصَّلَاةُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللَّهِ جَلَّ وَعَزَّ، فَإِذَا كُنْتَ فِيهَا فَلْيَكُنْ ذَلِكَ شَأْنَكَ". فَمَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَطُّ أَرْفَقَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د معاوية بن الحكم السلمى نه روايت دې هغه وئيلى دي. كله چې زه راغلم رسول الله ﷺ ته، ما به ياد ول څه كارونه د اسلام. په هغه كارونو كنبې چې ما د هغه نه ياد كړى وو دا وو چې هغه ماته وئيلى وو كله چې ته فرنجى كوې نو د الله حمد كوه. او كله چې يو كس فرنجى وكړو او د الله حمد ئې ووئيلو نو ته ورته وايه. يرحمك الله. هغه وايي: يو ځل زه د رسول الله ﷺ سره ولاړ وم په مانځه كنبې. يو سړى فرنجى وكړو، نو د الله حمد ئې وكړو، ما ووئيل: يرحمک الله، په اوچت اواز سره. خلقو ماته بد بد وكتل ترديې چې دا كار باعث شو په ما، نو ما ووئيل: څه دې تاسو لره چې ماته ګورئ په بدو سترګو؟ هغه وايي: هغوى تسبيح ووئيله، هركله چې رسول الله ﷺ مونځ خلاص كړو هغه ووئيل: چا خبرې وكړې؟ هغه ته ووئيل شول، دى اعرابى، نو رسول الله ﷺ زه راوغوښتلم، ماته ئې ووئيل: بيشكه مونځ د لوستلو د قرآن لپاره دى، او د الله د ذكر لپاره دى. كله چې ته په هغې كنبې ئې نو ستا دې دغه كار وي. ما هيڅ معلم نه دى ليدلى چې هغه د رسول الله ﷺ نه ډېر نرم وي

تشريح: **قوله**: لما قدمت على رسول الله صلى الله عليه وسلم عُلّمتُ اموراً من امور الاسلام فكان فيما علمت، فرمائى چه كله زهٔ د حضور ﷺ په خدمت كنبې حاضر شوم مدينې منورې ته نو ما ته اسلامى خبرې اوښودلې شوې. رومبى لفظ علمت د باب تفعيل نه د مجهول صيغه ده او دويم علمت كنبې دوه احتماله دى يو خو هغه كومه چه د باب تفعيل نه د مجهول صيغه ده يا د ثلاثى مجرد نه د ماضى معروف صيغه عَلمت ده

قوله، فقلت ما لكم تنظرون الى باعين شزر.. الخ، په تاسو څهٔ شوي دي چه ما ته په كړو سترګو ګورئ چه هغې ته برند برند كتل وائى يعنى د خفګان كتل. شزر د شزراء جمع ده،

قال فسبحوا، يعنى ددې صحابى په مانځه كنبې يرحمك الله وئيلو باندې په شروع كنبې خو صحابه كرامو دهٔ ته صرف برند برند اوكتل او كله چه روستو دې صحابى په مانځه كنبې خبرې كول شروع كړې او صفا صفا ئې اووئيل چه تاسو ما ته ولې برند برند ګورئ نو په دې باندې صحابه وُ ته ډير تعجب اوشو او په تعجب كنبې بيا بيا هغوى سبحان الله اووئيل

[الحمد لله ! جلد دوم ختم شو]

()، تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٣٧٩) (ضعيف)